وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْآنَ لِلذِّكْرِ

# تفسیر
# جواهر القرآن
پښتو

مع ترمیم و اضافه

شیخ القرآن حضرت مولانا غلام الله خان صاحب رحمة الله علیه

وحیدی کتبخانه
پښاور

# القرآن الحکیم

مع

# تفسیر جواهر القرآن پښتو

ازافادات شیخ التفسیر حضرت مولانا حُسین علی صاحب رحمة الله علیه

ترجمه شیخ الهند حضرت مولانا محمود الحسن صاحب دیوبندی رحمة الله علیه

مع

ترمیم واضافه

شیخ القرآن حضرت مولانا غلام الله خان صاحب رحمة الله علیه

فوائد موضح قرآن:۔ ازمولانا شاه عبدالقادر صاحب محدث دهلوی رحمة الله علیه

فوائد فتح الرحمن:۔ ازمولانا شاه ولی الله صاحب محدث دهلوی رحمة الله علیه

یوولسمه (۱۱) - دولسمه (۱۲) - دیارلسمه (۱۳) - څوارلسمه (۱۴) - پنځلسمه (۱۵)


## وحیدی کتب خانه

قصه خوانی بازار پشاور ـــ فون نمبر ۲۵۶۴۹۹۱

موبائیل نمبر ـــ ۰۳۰۰-۹۵۹۶۱۵۰

دریم جلد



دکتاب نوم ——— تفسیر جَوَاهِرُ الْقُرْآن

مع ترمیم و اضافه ——— شیخ القرآن حضرت مولانا غلام الله خان صاحب

پښتو مترجم ——— مولانا عبد المالک صیب

د قرآن مصحح ——— قاری عبد الله

د تفسیر او ترجمې مصحح ——— مولانا عبد اللطیف سکندر فاضل جامعه بوریه ټاون کراچي

د کاتب نوم ——— ارقم جان (چارسده روډ) بخشي پُل کلے خدو خیل

ناشر

وحیدی کُتب خانه

قصه خوانی پیښور ښار

فون نمبر ——— ۲۵۶۴۹۹۱

موبائیل نمبر ——— ۹۵۹۶۱۵۰ ——— ۰۳۰۰

يَعْتَذِرُوْنَ اِلَيْكُمْ اِذَا رَجَعْتُمْ اِلَيْهِمْ ۭ

بهانې به راوړي تاسو ته کله چه واپس راشئ تاسو دوئ ته

قُلْ لَّا تَعْتَذِرُوْا لَنْ نُّؤْمِنَ لَكُمْ قَدْ

ته اُوايه مه جوړوئ بهانې هرګز نه منو موږ ستاسو خبره بیشکه

نَبَّاَنَا اللّٰهُ مِنْ اَخْبَارِكُمْ ۭ وَسَيَرَى اللّٰهُ

ښودلي دي موږ ته الله تعالیٰ ستاسو احوال او اُوس به ګوري الله

عَمَلَكُمْ وَرَسُوْلُهٗ ثُمَّ تُرَدُّوْنَ اِلٰى عٰلِمِ

کارونه ستاسو او رسول د هغهٔ بیا به تاسو واپس کړئ طرف ته د هغه پېژندونکي

الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ

په پټ او ښکاره نو هغه به خبردار کړي تاسو ته کوم چه تاسو

تَعْمَلُوْنَ ﴿۹۴﴾ سَيَحْلِفُوْنَ بِاللّٰهِ لَكُمْ اِذَا

کول . اُوس به قسمونه خوري دوئ په الله ستاسو په مخکښ کله چه

انْقَلَبْتُمْ اِلَيْهِمْ لِتُعْرِضُوْا عَنْهُمْ ۭ فَاَعْرِضُوْا

واپس لاړشئ تاسو د هغوئ طرفته د دې د پاره چه مخ واړوئ تاسو د هغوئ نه نو مخ واړوئ تاسو

عَنْهُمْ ۭ اِنَّهُمْ رِجْسٌ ۡ وَّمَاْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ ۚ

د دوئ نه بیشکه هغه (خلق) پلیت دي او د اُوسېدو ځائے د هغوئ جهنم دے

جَزَاۗءًۢ بِمَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴿۹۵﴾ يَحْلِفُوْنَ

بدله ده د کارونو د دوئ . (هغه خلق به) قسمونه خوري

لَكُمْ لِتَرْضَوْا عَنْهُمْ ۚ فَاِنْ تَرْضَوْا عَنْهُمْ

ستاسو په مخکښ د دې د پاره چه راضي شئ تاسو د هغوئ نه نو که چرې راضي شئ تاسو د دوئ نه

فَاِنَّ اللّٰهَ لَا يَرْضٰى عَنِ الْقَوْمِ الْفٰسِقِيْنَ ﴿۹۶﴾

نو الله تعالیٰ نه راضي کیږي د خلقو نافرمانو نه ف

اَلۡاَعۡرَابُ اَشَدُّ كُفۡرًا وَّنِفَاقًا وَّاَجۡدَرُ

څنې د صحرا اُوسیدونکونه ډیر سخت دي په کفر کښې ننه او په نفاق کښې او ډیر دے لائق دي

اَلَّا یَعۡلَمُوۡا حُدُوۡدَ مَاۤ اَنۡزَلَ اللّٰهُ عَلٰی

چه زده نه کړي هغه قاعدے کومے چه نازلے کړي دي الله تعالیٰ په

رَسُوۡلِهٖ ؕ وَاللّٰهُ عَلِیۡمٌ حَکِیۡمٌ ﴿۹۷﴾

رسول خپل باندے او الله هر څه پیژندونکے حکمت والا دے ۲

نکات: ۱ واپسۍ سره د دوئ په جواب کښ دا اُوائې ۱۲. ۲ د نبي علیه السلام په ژوند کښ د موجود منافقانو اعمال مراد دی نه د ټول اُمت اعمال مراد دی او نه د نبي علیه السلام د وفات نه روستو. د دے ایت اعمالو سره څه تعلق دے. ۳ د باندہ چیانو منافقانو ذکر ۱۲-

**موضح قرآن** ف۱ یعني د کوم سړي احوال چه معلوم وي چه هغه منافق دے هغه نه تغافل (ځنګ کول) روا دے لیکن دوستي او محبت خپلوي اتحاد روا نه دے ۱۲. ف۲ یعني د دوئ په طبع کښ بے حکمي او غرض خوښول او سخت جہالت وي نو الله تعالیٰ حکمت والا دے هغوئ نه هغه مشکل کار هم نه اخلي او اُوچتے مرتبے هم نه ورکوي ۱۲-

**فتح الرحمٰن** ف۱ یعني په نسبت د ښارونو ۱۲-

**تفسیر:** ۸۸ یَعۡتَذِرُوۡنَ اِلَیۡکُمۡ الخ خطاب نبي کریم صلی الله علیه وسلم او اصحاب کرام سره دے یعني چه کله تاسو خلق غزوۂ تبوک نه واپس مدینے ته اُورسیږئ نو منافقان به تاسو ته راځي او جهاد کښ د نه شریکیدلو بارہ کښ به بهانے پیش کوي. قُلۡ لَّا تَعۡتَذِرُوۡا، یعني واپسۍ سره چه کله هغوئ عذر پیش کړي نو تاسو اُوفرمایئ چه بهانے مه جوړوئ مونږ ستاسو خبرو باندے یقین نه کوو ځکه چه الله تعالیٰ مونږ د اصل حقیقت نه خبر کړي یو او ستاسو د زړونو په پټ رازونوئے خبر کړي یو لان الله تعالیٰ قد انبانا بالوحي بما في ضمائرکم من الشر والفساد (روح ج ۱۱ ص ۲).

۸۹ وَسَیَرَی اللّٰهُ عَمَلَکُمۡ الخ دلته د اعمالونه مراد هغه عملونه دي کوم چه د نبي کریم صلی الله علیه وسلم په ژوند کښ منافقانو کول مطلب دا دے چه ستاسو تیر شوي عملونه خو ظاهر شوي دي او نزدے ده چه ستاسو راتلونکي عملونه هم الله تعالیٰ خپل پیغمبر او ټولو مؤمنانو ته ظاهر کړي

اوتولو ته به معلومه شي چه تاسو خپله رویه بدله کړې ده یا نه - ای اتنیبون عمّا انتم علیه ام تثبتون علیه (روح)۔

**فائده:** څني خلق دِ دې ایت سره استدلال کوي چه په نبي علیه السلام باندې هر صبا او بیګاه دَ اُمت اعمال پیش کولے شي دا شان هغوئ دَ هر اُمتي دَ حالاتو نه خبریږي او دَ دې په تائید کښ هغوئ دَ مسند بزاریو روایت پیش کوي کوم کښ چه راغلي دي. تعرض علی اعمالکم حسنها و سئیها الخ لیکن دا استدلال بالکل غلط او باطل دے اول خو ځکه چه دَ دینه تولو مفسرینو دَ نبي علیه السلام دَ زمانے دَ منافقانو عملونه مراد اخستي دي او چاهم دینه دَ اعمالو پیش کیدل نهٔ دي ثابت کړي دَ روح المعاني حواله مخکښ تیره شویده امام بغوي او علامه خازن ج ۳ ص ۱۱۳ کښ لیکي یعني في المستانف اتتوبون من نفاقکم ام تقیمون علیه. حافظ ابن کثیر لیکي ای سیظهر اعمالکم في الدنیا (ج ۲ ص ۳۸۲) نو معلومه شوه چه دِ دې ایت کښ خطاب صرف دَ نبي علیه السلام دَ زمانے منافقانو سره دے ټول اُمت مراد نهٔ دے. دا شان دَ منافقانو صرف هغه عملونه مراد دي کوم چه هغوئ دَ حضرت پیغمبر صلی الله علیه وسلم او دَ صحابه کرامو موجودګۍ کښ کول دَ هغوئ ټول اعمال مراد نهٔ دي او کوم حدیث چه پیش کولے شي حقیقت کښ هغه روایت بالمعنی دے اصل حدیث هغه دے کوم چه په صحیح مسلم ج ۱ ص ۲۰۷ کښ صحیح سند سره دَ حضرت ابوذرؓ نه روایت شویدے دَ کوم الفاظ چه دا دي عرضت علی اعمال اُمتي حسنها وسیئها فوجدت في محاسن اعمالها الاذی یماط عن الطریق ووجدت في مساوے اعمالها النخاعة تکون في المسجد ولا تدفن یعني ما ته په وړاندې ما ته دَ اُمت اعمال پیش کړے شول او دِ دې نه په اتفاق سره اجمالي عرض مراد دے یعني دَ نبي علیه السلام په وړاندې دَ اعمالو فهرستونه پیش کړے شول چه دَ نیکۍ اعمال کوم دي او دَ ګناه کارونه کوم دي څني خلق عرضت علی اجور اُمتي الخ سره په عرض اعمال باندې استدلال کوي. دا حدیث ابو داؤد ص ۶۶ او ترمذي ج ۲ ص ۱۱۵ کښ دَ حضرت انس روایت سره نقل شویدے لیکن دا استدلال هم صحیح نهٔ دے اول خو ځکه چه دَ دینه هم عرض اجمالي مراد دے، دویم دا روایت منقطع دے امام ترمذي فرمائي مطلب دَ راوي چه دَ حضرت انسؓ نه روایت کوي دَ هغوئ نه دَ دهٔ سماع ثابت نهٔ ده قال محمد (بن اسمٰعیل البخاري) ولا اعرف للمطلب بن عبد الله بن حنطب سماعًا من احد من اصحاب النبي صلی الله علیه وسلم الخ علاوه دَ دینه کهٔ چرے دَ مضارع مجهول صیغه اُو منلے شي نو هم دَ دینه دَ هغوئ مدعا نهٔ ثابتیږي ځکه چه عرض مستلزم علم لره نهٔ دے لکه چه حضرت علامه شاه انور شاه صاحب فرمائي:۔ الا تری الی قوله تعالٰی

(ثم عرضهم علی الملٰئکة) فکان عرضا وقال تعالٰی (وعلم اٰدم الاسمآء کلها) فکان هذا تعلیما فالعرض اٰخر والتعلیم اٰخر (فیض الباری ج ۳ ص ۳۵۱). لیکن که چرې دا هم اُومنلے شي چه عرض مستلزم د علم سره نو دې سره به د ډیرو اٰیتونو وصحیح احادیثو رد کول لازم شي. مثلاً د قیامت په ورځ به انبیاء و اولیاء د دې خبرې نه د لاعلمئ اظهار کوي چه مشرکانو د هغوئ د وفات نه روستو د هغوئ عبادت کولو فکفٰی بالله شهیدا بیننا وبینکم ان کنا عن عبادتکم لغٰفلین (پ ۱۱ سورۃ یونس ع ۳). دا شان صحیح بخاري کښ ج ۲ ص ۹۶۵ کښ دی نبی علیه السلام اُوفرمائیل چه د قیامت په ورځ به ځنې خلق حوض کوثر نه اُوشړلے شي زۀ به اُوایم دا خو زما اُمتیان دي ماته سره به ماته جواب راکړے شي چه دې خلقو کوم بد عملونه کړي دي تا سو ته هغه معلوم نۀ دي هغه وخت به زۀ هغه څه اُوایم کوم چه به عبد صالح حضرت عیسٰی علیه السلام فرمائي کنت علیهم شهیدا ما دمت فیهم الخ نو که چرې د اعمالو پیش کیدل واقعي صحیح وي نو نبي علیه السلام ته د دې کارونو علم کیدل پکار دے حال دا دے چه داسې نۀ ده ځکه چه د قیامت په ورځ به هغوئ د دینه انکار اوکړي. دوئیم د عرض اعمال عقیده د شیعه ګانو ده، نۀ عقیده ده د اهل سنت په نزد د دې هیڅ اصل نیشته لکه چه اصول کافي کښ د دې یو مستقل باب دے د کوم چه عنوان دا دے باب عرض الاعمال علی النبی والائمة علیهم السلام. د دې باب د لاندې مؤلف د کتاب علامه یعقوب کیني د امام جعفر صادق، د امام رضا او نورو اٰئمو نه ډیر روایتونه نقل کړي دي چه د هغې مضمون دا دے چه د ټولو نیکانو او ګناه ګارانو اعمال هره ورځ صبا بیګا حضرت نبي کریم صلی الله علیه وسلم او اماموته پاندې پیش کولے شي. د دینه معلومه شوه چه عرض اعمال د شیعه ګانو مذهب دے یو داسې حدیث چه د هغې صحت هم مشتبه او په مدعٰی باندې نص صریح هم نۀ دے که چرې هغې سره د عرض اعمال فرضي عقیده ثابت کړے شي او د هغې په مقابله کښ قرآني اٰیتونه او صحیح احادیث پریښودے شي نو دا کوم انصاف دے.

۹۰ سَیَحۡلِفُوۡنَ بِاللّٰهِ الخ دې کښ د هغه منافقانو ذکر دے څوک چه بغیر د څه عذر نه جهاد کښ نۀ وو شریک شوي یعنې چه کله تاسو واپس اُورسیږئ هغوئ ته نو هغوئ به قسمونه خوري خپل رشتیا والے او معذوري به بیانوي دې د پاره چه تاسو د هغوئ نه درګذر اوکړئ فاعرضوا عنهم تاسو د دوئ نه مخ واړوئ ځکه چه هغوئ ډیر زیات پلیت خلق دي او ستاسو د مجلس او صحبت لائق نۀ دي د هغوئ استوګنه دوزخ دے او دا به د هغوئ د خپلو عملونو سزا وي

۹۱ یَحۡلِفُوۡنَ لَکُمۡ الخ هغوئ قسمونه ځکه خوري چه تاسو د هغوئ نه راضي شئ

لیکن یاد ساتئ دا خلق د خدائے سخت نافرمان او باغیان دی. که چرے تاسو د دوئ نه راضی هم شئ نو الله تعالی په هرگز د دوئ نه راضی نه شی او صرف ستاسو رضا مندئ سره به هغوئ ته هیڅ فائده اُونه رسیږی ای رضاکم لا ینتج لهم نفعا لان الله تعالی ساخط علیهم ولا اثر لرضا احد مع سخطه تعالی (روح ج ۱۱ ص۵) ۹۲ الْاَعْرَابُ اَشَدُّ الخ دلته د ځنګل او کلوکښ د اُوسیدونکو د احوالو ذکر شوے دے، دے کښ چه کوم کافران او منافقان دی. هغوئ په کفر او نفاق کښ د ښار ئیے اُوسیدونکو په نسبت زیات سخت دی او د خدائے احکامو او حدودو نه بالکل ناواقف او جاهل دی۔

وَمِنَ الْاَعْرَابِ مَنْ يَّتَّخِذُ مَا يُنْفِقُ

او ځنی ۹۳ د باندیو اُوسیدونکی داسے دی چه شمار کوی خپل خرچ کول

مَغْرَمًا وَّيَتَرَبَّصُ بِكُمُ الدَّوَآئِرَ ؕ

تاوان او انتظار کوی تاسو باندے د زمانے د گردشونو ۹۴

عَلَيْهِمْ دَآئِرَةُ السَّوْءِ ؕ وَاللّٰهُ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿۹۸﴾

هم دوئ باندے راځی گردشونه بد او الله اوریدونکے خبردار دے۔

وَمِنَ الْاَعْرَابِ مَنْ يُّؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ

او ځنی ۹۵ باندیچیان هغه دی چه ایمان راوړی په الله باندے او په ورځ

الْاٰخِرِ وَيَتَّخِذُ مَا يُنْفِقُ قُرُبٰتٍ عِنْدَ اللّٰهِ

د قیامت باندے او شماری خپل خرچ کول نزدیکیدل الله تعالی ته

وَصَلَوٰتِ الرَّسُوْلِ ؕ اَلَآ اِنَّهَا قُرْبَةٌ لَّهُمْ ؕ

او دعا اخستل د رسول خبردار شئ هغه د دوئ په حق کښ نزدے والے دے

سَيُدْخِلُهُمُ اللّٰهُ فِيْ رَحْمَتِهٖ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

داخل به کړی هغوئ الله تعالی په رحمت خپل کښ بیشکه الله تعالی

ع ۱۲ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۹۹﴾ وَالسّٰبِقُوْنَ الْاَوَّلُوْنَ

بښونکے مهربان دے او کوم خلق چه وړاندینی ۹۶ اولنی دی

مِنَ الْمُهٰجِرِيْنَ وَالْاَنْصَارِ وَالَّذِيْنَ

(دَ ټولونه مخکښې) هجرت کوونکي او امداد کوونکي او کوم چه

اتَّبَعُوْهُمْ بِاِحْسَانٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ

تابعدار شول دَ دوئي په نيکئي سره راضي شو الله تعالىٰ دَ هغوئي نه

وَرَضُوْا عَنْهُ وَاَعَدَّ لَهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ

او هغوئي راضي شول دَ هغهٔ نه او تيار کړے دے هغوئي دَپاره باغ چه بهيږي

تَحْتَهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ؕ

لاندے دَ هغے نه نهرونه او سيږي به په هغے کښې هميشه

ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ۝۱۰۰ وَمِمَّنْ حَوْلَكُمْ

هم داده کاميابي لويه ف. او ځني ستاسو نه کير چاپيره کله

مِّنَ الْاَعْرَابِ مُنٰفِقُوْنَ ؕ وَمِنْ اَهْلِ الْمَدِيْنَةِ ؔ

باندېه چيان منافقان دي او ځني خلق دَ مدينے والا

مَرَدُوْا عَلَى النِّفَاقِ ۫ لَا تَعْلَمُهُمْ ؕ نَحْنُ

هميشه والے کوي په نفاق باندے ته ئهٔ پيژنے هغوئي مونږ ته

نَعْلَمُهُمْ ؕ سَنُعَذِّبُهُمْ مَّرَّتَيْنِ ثُمَّ يُرَدُّوْنَ

معلوم دي هغوئي مونږ به عذاب ورکړو هغوئي ته دوه ځله ف بيا به واپس کولے شي

اِلٰى عَذَابٍ عَظِيْمٍ ۝۱۰۱

عذاب لوئے ته ف

**نکات:** ف۱ مقابله کښې دَ مؤمنانو باندېه چيانو ذکر او بشارت اُخروی ۱۲۔

ف۲ دَ مهاجرينو او انصار شان او بشارت. ف۳ دَ صحابه کرامو مقابله کښې دَ منافقانو دَ شدّ نفاق بيان ۱۲۔

ف۴ معلومه شوه چه پيغمبر په غيب عالم نهٔ دے او دَ پيغمبر په اختيار کښې هم نهٔ دے چه کله اُوغواړي او معلوم ئے کړي.

**موضح قرآن** ف جنګ بدر پورې چه کوم مسلمانان شوی دی هغه قدیم دی او باقی د دوئ تابع دی ۱۲ منه رح. ف یعنی دنیا کښ یه هم تکلیف د پاسه تکلیف بیا موهی. بیا په اخرت کښ به او نیولے شی هغه منافقان څوک چه ډیر بد شول او څنی په ابرص (برګی) باندے ګرفتار شول د چا په بدن کښ وینے زوے او شوے ۱۲.

**فتح الرحمٰن** ف یعنی د مسلمانانو مینځ کښ به ذلیل شی او په مال اولاد کښ به افتونه اوبنی ۱۲.

**تفسیر:** ۹۳ وَمِنَ الْأَعْرَابِ الخ د بانړه چیانو منافقانو نه څنی داسے دی چه جهاد یا صدقات او خیرات کښ خرچ کړے شوے رقم محض تاوان ګنړی څکه چه هغوئ کوم خرچ کوی د ثواب او رضاء الٰهی نیت په کښ نه کوی بلکه د مسلمانانو د ویرے یا ریا کارئ د پاره خرچ کوی. والمعنی ان من الاعراب من یعتقد ان الذی ینفقه فی سبیل الله غرامة لانه لا ینفق ذلك الا خوفا من المسلمین او مراءة لهم ولم یرد بذلك الانفاق وجه الله وثوابه (خازن ص ۲۴۳ ج ۳)

۹۴ وَيَتَرَبَّصُ بِكُمُ الخ او هغه منافقان په دے انتظار کښ او سیږی چه تاسو د زمانے په حوادثو او د زمانے په مصیبتونو کښ مبتلا او سیږئ او په تکلیف کښ هغوئ پخپله مبتلاء دی. پیغمبر محمد صلی الله علیه وسلم او صحابه کرامو باندے چه کوم مه یوه د فتح او کامیابئ او ارام او راحت موقع راځی هغه د دے بدخواهانو د پاره د مصیبت نه کمه نه وی.

۹۵ وَمِنَ الْأَعْرَابِ مَنْ يُؤْمِنُ الخ دلته ئے د هغه بانړچیانو تعریف اوکړو څوک چه مخلص مؤمنان وو د هغوئ حال داوو چه کوم څه د الله تعالیٰ په لار کښ خرچ کوی هغه د الله تعالیٰ د تقرب د هغه د رضا او د الله تعالیٰ د رسول د دُعا نتیجه ګنړی اَلَا إِنَّهَا قُرْبَةٌ لَهُمْ، بیشکه هغه د دوئ د پاره د قرب ځلا وندئ ذریعه ده دا د الله د طرفه د دوئ د اعتقاد تصدیق دے. سَيُدْخِلُهُمُ اللهُ الخ دا بشارت اخروی دے. ۹۶ وَالسّٰبِقُوْنَ الْأَوَّلُوْنَ الخ دا د مهاجرینو او انصارو د دوئ په نقش قدم باندے تلونکو د پاره بشارت دے.

۹۷ وَمِمَّنْ حَوْلَكُمْ الخ دا مدینه منوره او د هغے په خواؤ شا کښ د منافقانو ذکر دے لَا تَعْلَمُهُمْ نَحْنُ نَعْلَمُهُمْ دے کښ خطاب نبی علیه السلام سره دے. هغوئ منافقت او رازپټ ساتلو کښ دومره ماهر وو او چالاک وو چه نبی علیه السلام ته به د هغوئ د نفاق علم هم نه وو ولیکن الله هغوئ ښه پیژنی دے ایت نه معلومه شوه چه نبی علیه السلام ته کلی علم غیب نه وو یعنی انهم بلغوا من المهارة فی النفاق والتنوق فی مراعاة التقیة والتحامی عن مواقع التهمة الی حیث یخفی علیك مع كمال فطنتك وصدق فراستك حالهم (روح ج ۱۱ ص ۱۲)

۹۸ سَنُعَذِّبُهُمْ الخ دا مؤمنانو د پاره تخویف دنیوی او اخروی دے د دوه ځله عذاب نه دنیا کښ قتل یا قید کیدل. یا د نفاق ظاهر ېدلو سره ذلت او رسوائی او مرګ نه روستو د قبر عذاب مراد دے او عذاب عظیم د اخرت عذاب دے (خازن معالم وغیره)

وَاٰخَرُوْنَ اعْتَرَفُوْا بِذُنُوْبِهِمْ خَلَطُوْا عَمَلًا
او ځینې خلق دي چه اقرار اوکړو هغوئي د ګناهونو خپلو ۹۹ ګډ کړے ئے دے یو کار
صَالِحًا وَّاٰخَرَ سَيِّئًا ۭ عَسَى اللّٰهُ اَنْ يَّتُوْبَ
نیک او بل بد نزدے ده چه الله تعالیٰ معاف کړي
عَلَيْهِمْ ۭ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿١٠٢﴾ خُذْ مِنْ
هغوئي بیشکه الله تعالیٰ ښونکے مهربان دے واخله د
اَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيْهِمْ بِهَا
مالونو د دوئي نه زکوٰة چه پاک کړے ته دوئي لره او با برکت کړے ته دوئي د دے په وجه
وَصَلِّ عَلَيْهِمْ ۭ اِنَّ صَلٰوتَكَ سَكَنٌ لَّهُمْ ۭ
او دُعا اوکړه دوئي ته بیشکه دُعا ستا تسکین دے د دوئي د پاره
وَاللّٰهُ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿١٠٣﴾ اَلَمْ يَعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ هُوَ
او الله تعالیٰ ټول هر څه اوري خبردار دے. ایا نه پوهیږي هغوئي چه الله تعالیٰ
يَقْبَلُ التَّوْبَةَ عَنْ عِبَادِهٖ وَيَاْخُذُ الصَّدَقٰتِ
قبلوي توبه د بندګانو خپلو نه او اخلي زکوٰتونه
وَاَنَّ اللّٰهَ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيْمُ ﴿١٠٤﴾ وَقُلِ اعْمَلُوْا
او دا چه هم الله دے قبلوونکے د توبے او مهربان دے ۱۰۰ او اُوایه چه عمل کوئي ۱۰۱
فَسَيَرَى اللّٰهُ عَمَلَكُمْ وَرَسُوْلُهٗ وَالْمُؤْمِنُوْنَ ۭ
بیا ځکښ به ګوري الله تعالیٰ کار ستاسو او رسول د هغه او مسلمانان

وَسَتُرَدُّوْنَ اِلٰى عٰلِمِ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ فَيُنَبِّئُكُمْ

او تاسو به ورګرځولے شئ واپس کړے شئ هغه خدائے ته چه پوهه دے په پټو او ښکاره خبرو نو تاسو له به واقف دے

بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۰۵﴾ وَاٰخَرُوْنَ مُرْجَوْنَ

کوم څه چه تاسو کول ف۳ . او څنی نور خلق دی چه د هغوئی کار روستو کړے شوے دے

لِاَمْرِ اللّٰهِ اِمَّا يُعَذِّبُهُمْ وَاِمَّا يَتُوْبُ عَلَيْهِمْ

حکم د الله تعالیٰ ته لله یا خو به عذاب ورکړی هغوئی ته او یا به معاف کړی هغوئی

وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ﴿۱۰۶﴾

او الله هر څهٔ باندے خبردار حکمت والا دے

نکات: ۱ د هغه مسلمانانو ذکر دے چه د عام اعلان باوجود په جنګ تبوک کښ شریک نهٔ شول او د خپلے ګناه اقرار ئے اوکړو او خپل ځانونه ئے ستنو پورے اوتړل توبه ئے اوویستله او د هغوئی توبه هغه وخت قبوله شوه. ۲ دینه مراد صحابه دی یعنی کوم اعمال چه منافقانو د پیغمبر او صحابو مخکښ اوکړل دینه د ټول امت اعمال مراد نهٔ دی او نهٔ المؤمنون نه دولس امامان مراد دی او نهٔ اولیاء الله ۱۲. ۳ دینه هغه درے صحابه مراد دی څوک چه جنګ ته نهٔ وو تللی او توبه ئے اوویستله لیکن پنځه ورځے روستو توبه قبوله شوه

موضح قرآن ف۱ یعنی څنګه چه په بعضو باندے عتاب او عذاب اوشو چه همیشه د هغوئی نه زکوٰة وانهٔ خستلے شو په هغوئی عتاب اونهٔ شو. ف۲ یعنی رسول بے اختیار دے د چا په حق کښ چه الله تعالیٰ څهٔ اوفرمائیل هغه اداکوی ۱۲ منه رح ف۳ یعنی دِے جهاد کښ قصور اوشو نو درانه دے به بل جهاد وی د رسول په وړاندے او د خلیفه ګانو په مخکښ هغه وخت کار اوکړئ ۱۲. ف۴ بره څو فرقے (ډلے) ذکر شوے یو منافقان چه د دروغو بهانے ئے کولے بله ډله د بانړه چیانو د غرض وخت به ئے د نظر لاندے ساتلو. یو هغه صفا زړهٔ والا بانړه چیان چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم ملګرتیا ئے اوکړه. او یو هغه ډله چه خپله ګناه ئے منلے وه او معاف ئے کړل لیکن چه په زړو یارانو کښ چه کومو دریو کسانو خپله ګناه منلے وه هغوئی ته ئے د ادب ورکولو د پاره پنځوس ورځو په انتظار کښ اوساتل شو، دِے دوران کښ نبي علیه السلام او ټولو مسلمانانو هغوئی سره خبرے نهٔ کولے او د هغوئی ښځے د هغوئی نه جُدا شوے کله چه د هغوئی زړهٔ ښهٔ پښیمانه شو

تو هغه وخت معافي نازله شوه هغه ایت وړاندې دے دا ئے د هغوئ ذکر اُوکړو۔ منه

**تفسیر: ۹۹** وَاٰخَرُوْنَ اعْتَرَفُوْا الخ دا د هغه پنځو صحابه کرامو باره کښې نازل شو څوک چه مخلص مؤمنان وو لیکن په غزوهٔ تبوک کښې شریک نهٔ شول روستو سخت پښېمان وو او ځانونه ئے په ستنو پورې اُوتړل او ډیر په عاجزئ سره ئے توبه کړه نو الله تعالیٰ د هغوئ توبه قبوله کړه۔

خُذْ مِنْ اَمْوَالِهِمْ الخ نبی کریم صلی الله علیه وسلم د دوئ د صدقاتو قبلولو نه منع کړے شوے وو اوس د توبه قبلیدو نه روستو نبی علیه السلام ته حکم ملاؤ شو چه تاسو د دوئ صدقات قبول کړئ او د دوئ په حق کښې دُعا اُوغواړئ ځکه چه ستاسو دُعا د دوئ د پاره د تسکین او ارام باعث ده ځینې مفسرینو د دوئ شمار لس، اته او شپږ ذکر کړی دی (قرطبی)

**تله** وَقُلِ اعْمَلُوْا الخ د دینه مراد هغه اعمال دی کوم چه هغوئ د نبی علیه السلام په ژوند کښې کول یعنی تاسو کار کوئ د الله رسول او مؤمنان به ستاسو اعمال ګوری فیصله به کوی چه تاسو رښتونے توبه کړے ده یا دروغ۔

**اله** وَاٰخَرُوْنَ مُرْجَوْنَ الخ دے کښې د هغه درېو مخلصو صحابو ذکر دے چه د قدرت باوجود محض د سستئ په وجے سره په جنګ تبوک کښې نهٔ وو شریک شوی او د نبی علیه السلام واپسئ سره ئے هیڅ عذر پیش نهٔ کړو بلکه لږ تاخیر سره ئے د خپل قصور معافي اُوغوښتله او په رښتونے ئے توبه کړه د هغوئ توبه څو ورځے روستو قبوله شوه۔ مخکښې ذکر شوو پنځو صحابو بغیر د څهٔ تاخیر نه توبه کړه لیکن دا درے کسان په توبه کښې روستو پاتے شول د دے وجے په توبه کښې هم تاخیر راغے۔ والفرق بین القسم الثانی وبین هذا الثالث، ان اولئك سارعوا الی التوبة وهؤلاء لم یسارعوا الیها قال ابن عباس رضی الله عنهما نزلت هٰذه الایة فی کعب بن مالك ومرارة بن ربیع وهلال بن أمیه (کبیر ص ۱۳۵ ج ۴)

وَالَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا مَسْجِدًا ضِرَارًا وَّكُفْرًا

او چا چه جوړ کړے دے یو جومات ماته په ضد باندے او کفر باندے

وَّتَفْرِيْقًا بَيْنَ الْمُؤْمِنِيْنَ وَاِرْصَادًا لِّمَنْ

او د اختلاف اچولو د پاره مسلمانانو کښې او مورچه ګرځول د هغه چا چه

حَارَبَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ مِنْ قَبْلُ ۭ وَلَيَحْلِفُنَّ

جنګ کوی د الله تعالیٰ سره او د رسول د هغهٔ سره د شروع نه او قسمونه خوری هغوئ

إِنْ أَرَدْنَا إِلَّا الْحُسْنَىٰ ۖ وَاللَّهُ يَشْهَدُ إِنَّهُمْ

چه غو ښتلی وه موبږ خو صرف خیرخواهی او الله تعالیٰ گواه دے چه هغوئی

لَكَاذِبُونَ ﴿١٠٧﴾ لَا تَقُمْ فِيهِ أَبَدًا ۚ لَمَسْجِدٌ

دروغژن دی . مهٔ اودریږه ته په هغې کښې هیڅکله ۲۰۴ خامخا هغه جمات

أُسِّسَ عَلَى التَّقْوَىٰ مِنْ أَوَّلِ يَوْمٍ أَحَقُّ

د کوم بنیاد چه کیښودلے شوے په پرهیزگارئ باندے د اولے ورځے نه هغه لائق دے

أَنْ تَقُومَ فِيهِ ۚ فِيهِ رِجَالٌ يُحِبُّونَ أَنْ

چه ته اودریږے په هغے کښې، په دے کښې داسے خلق دی چه خوښوی

يَتَطَهَّرُوا ۚ وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُطَّهِّرِينَ ﴿١٠٨﴾ أَفَمَنْ

پاک والے او الله تعالیٰ خوښوی پاک اوسیدونکی ۲۰۵ نو آیا چا چه

أَسَّسَ بُنْيَانَهُ عَلَىٰ تَقْوَىٰ مِنَ اللَّهِ

بنیاد کیښودو د آبادئ خپلے ۲۰۶ په ویرے سره د الله تعالیٰ نه

وَرِضْوَانٍ خَيْرٌ أَمْ مَنْ أَسَّسَ بُنْيَانَهُ

او د رضا کولو د هغهٔ سره بهتر دے هغه، یا چا چه بنیاد ایښے دے د خپل عمارت (ودانئ)

عَلَىٰ شَفَا جُرُفٍ هَارٍ فَانْهَارَ بِهِ فِي نَارِ

په غاړه باندے د یوے کندے نړیدونکے بیا اوغورځوی هغه لره په اور د

جَهَنَّمَ ۗ وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ ﴿١٠٩﴾ لَا

د دوزخ کښې او الله تعالیٰ نهٔ ښائی لار خلقو ظالمانو ته ۲۰۷ .

يَزَالُ بُنْيَانُهُمُ الَّذِي بَنَوْا رِيبَةً فِي قُلُوبِهِمْ

همیشه به پاتے وی عمارت د دوئ کوم چه دوئ جوړ کړے وو الله شبه ۲۰۸ په زړونو د دوئ کښې

إِلَّا أَنْ تَقَطَّعَ قُلُوبُهُمْ ۗ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿١١٠﴾ ع ۱۳

لیکن چه ټکړے شي زړونه د دوئ او الله تعالیٰ په هرڅهٔ خبر او حکمت والا دے ۲۰۹ .

**نکات:** سلے دَ ابو عامر خزرجی په اشارہ منافقانو جومات جوړکړو دَ هغهٔ حکم ذکر شو ۱۲۔ سلے دیته مسجد قبا مراد دے او دَ عامو او صافو اعتبار سره مسجد نبوی هم دے کښ داخل دے۔ سلے ای بِنَاءُ مَنْ۔ سلے ای بناء من مضاف محذوف دے۔ ځکه چه مقصود دَ بیان نه دَ جومات بناء ده ۱۲۔

**موضح قرآن** ف نبی علیه السلام چه دَ مکے نه هجرت اُوکړو نو دَ مدینے نه بهر کوز شو یو محله وه دَ بنی عمر بن عوف څو ورځے روستو مدینے ته تشریف یوړو او مسجد نبوی ئے تعمیر کړو هغه محله کومه کښ چه هغوئ اول دیره شوی وو او مونځ ئے کولو دهغے خلقو یو جومات جوړکړو او جماعت به په کښ کیدلو مسجد قباء سره مشهور دے نبی علیه السلام به اکثر دَ خیالی په ورځ هلته تللو او مونځ به ئے کولو دغه محله کښ ځنی منافقانو غوښتل چه بل یو جومات جوړکړی دَ اولتو په ضد بانده او خپل ځانله جُدا جماعت (دَ جمع مونځ) اُوکړی او یو راهب ابو عامر چه دَ اسلام په ضد دَ اسلام نه وتلے وو هغه ئے رااُوبللو او هغه ئے مشر او امام اُوګرځولو نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه ئے غوښتل چه یو ځل هغوئ اول مونځ هلته اُوکړی نو بیا به هغوئ جماعت قائم کړی نبی علیه السلام ته دَ هغوئ دهوکه معلومه نهٔ وه وعده ئے اُوکړه چه دَ جنګ تبوک نه واپس مونږ راشو نو اول به مونځ هلته کوو بیا به ښار (مدینے) ته داخلیږو الله تعالیٰ دَ مخکښ نه خبر ورکړو او دَ مسجد قباء دَ خلقو تعریف ئے اُوکړو۔ انسان دِ خبردار شی چه په ظاهره ځنی عبادت دے او نیت کښ دَ نفس خواهش دے (نفسانیت دے) دَ هغهٔ حال دا دے۔ ف۲ یعنی دَ بے انصافئی له شامته نیک عمل هم که اُوکړی نو فائده نهٔ ورکوی ۱۲۔ ف۳ یعنی دَ دے بد عمل اثر دا شو چه همیشه به دَ دوئ په زړونو کښ نفاق پاتے وی۔

**فتح الرحمٰن** ف یو ډلے دَ منافقانو جومات جوړکړے وو په فاسد نیت سره چه دَ مسلمانانو مینځ کښ جُدائی راولی او دَ کافرانو بوه مورچه اُوګرځی الله تعالیٰ دَ هغے په وړانولو حکم ورکړو۔ ف۲ عمارت جوړوُل دَ تقوی په بنیاد کنایه ده دَ اخلاص نه په اعمالو کښ او عمارت جوړوُل په غاړه دَ نړیدونکی کندے په غاړه دَ سیند کنایه ده دَ ریاء او فخر نه په اعمالو بانده۔ ف۳ یعنی مسجد ضرار ۱۲۔

**تفسیر:** ۱۱۰ وَالَّذِیْنَ اتَّخَذُوْا الخ دلته دَ هغه منافقانو ذکر دے چا چه مسلمانانو ته دَ نقصان رسولو او کفر ته تقویت ورکولو او دَ مسلمانانو مینځ کښ دَ تفریق اچولو او دشمنانِ اسلام ته دَ پناه ورکولو په خاطر دَ جومات په نوم یو ابادی جوړه کړه۔ ضِرَارًا، کُفْرًا، تَفْرِیْقًا او اِرْصَادًا ټول واړه اتَّخَذُوْا دَ پاره

مفعول لهٔ دی. ۱۰۳ لِمَنْ حَارَبَ اللّٰهَ الخ جنګ حنین کښ مشرکانو شکست اُوخوړ نو دَ هغوئ یو مشر ابو عامر دَ شام طرف ته اُوتښتیدو او دَ مدینے منافقانوته ئے اُولیکل چه هغهٔ دَ مسلمانانو خلاف دَ قیصر روم نه دَ فوجی امداد حاصلولو کوشش کوی دَ دے وجے نه تاسو دَ جومات په نوم بانډے یو عمارت جوړکړئ دِے دَ پاره چه په هغے کښ اطمینان سره کینئ دَ اسلام خلاف جنګی منصوبه بندی اُوکړئ دا شان دَ هغوئ دَ طرفه چه کوم قاصد راشی نو هغه به په دِے عمارت کښ پاتے کیږی. نو هغوئ دَ ابو عامر په اشاره بانډے جومات جوړکړو او نبی علیه السلام ته ئے په هغے کښ دَ مونځ کولو درخواست اُوکړو دِے دَ پاره چه دَ نبی علیه السلام تشریف راوړلو سره دَ هغوئ په نفاق بانډے پرده واچولے شی. دغه وخت نبی علیه السلام غزوهٔ تبوک ته تللو دَ دے وجے نه هغوئ واپسئ سره دَ دوئ په جومات کښ دَ مونځ کولو وعده اُوکړه واپسئ سره هغوئ ته وعده یاده شوه نو الله تعالیٰ دَ وحی په ذریعه دَ اصل حقیقت نه خبرکړل دغه جومات ته دَ تللو نه ئے منع کړل (روح وغیره)
۱۰۴ لَا تَقُمْ فِيهِ الخ یعنی دا جومات دَ خدائے کور نهٔ دے، دِے کښ تاسو مونځ مهٔ کوئ بلکه دا وران کړئ ځکه چه دَ دے بنیاد دَ خدائے او دَ رسول او دَ اسلام په مخالفت بانډے کیښودلے شویدے. لَمَسْجِدٌ أُسِّسَ الخ بلکه هغه جومات دَ کوم بنیاد چه دَ خدائے په ویره کیښودلے شویدے هغه دَ دے خبرے زیات مستحق دے چه تاسو په هغے کښ مونځ اداکړئ دینه مسجد قباء مراد دے.
۱۰۵ أَفَمَنْ أَسَّسَ الخ دِے کښ دَ مسجد قباء دَ بانیانو تعریف او هغوئ دَ پاره بشارت دے او دَ مسجد ضرار دَ بانیانو مذمت او هغوئ دَ پاره تخویف دے فَانْهَارَ بِهِ کښ باء تعدیه دَ پاره دهٔ مسجد قباء والؤ چونکه دَ دهٔ بنیاد دَ الله په ویره او رضا طلب کولو بانډے کیښودلے وو دَ دے وجے نه هغه دَ دوئ دَ پاره دَ جنت داخلیدلو باعث اُوګرځیدو دَ دے په عکس دَ مسجد ضرار والؤ دَ هغے بنیاد دَ جهنم په غاړه بانډے یعنی کفر او نفاق، شر او فساد بانډے کیښودلے وو دَ دے وجے نه هغهٔ دوئ جهنم ته اُوغورځول. ای من اسّس بنیانه علی الاسلام خیر ام من اسّس بنیانه علی الشرك والنفاق (قرطبی ج ۸ ص ۲۶۵).
۱۰۶ لَا يَزَالُ بُنْيَانُهُمُ الخ رِيبَةً نه شک او نفاق مراد دے لکه چه حضرت ابن عباس رض نه منقول دی (روح قرطبی) مسجد ضرار جوړولو سره منافقان ډیر خوشحاله شول لیکن چه کله نبی علیه السلام دَ هغے دَ ورانولو حکم ورکړو نو دِے سره دَ هغوئ کفر او نفاق نور هم ډیر زیات شو دا شان مسجد ضرار دَ دینی فائدے باعث کیدلو په ځائے دَ هغوئ په زړونو کښ دَ نفاق دَ زیاتیدلو سبب جوړ شو او اُوس به دَ هغوئ زړونو ته دَ نفاق دَ بیمارئ نه

هيڅکله هم نجات نه ملاويږي. مګر داچه د هغوئي زړونه ټکړے ټکړے شي بے حس او بے شعوره اوګرځي - لايزال هدمه سبب شك و نفاق زائدا على شكهم و نفاقهم لما غاظهم من ذلك وعظم عليهم (مدارك ج ۲ صلا).

إِنَّ اللَّهَ اشْتَرَىٰ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ أَنفُسَهُمْ

بيشكه الله تعالى واخستو ځله د مسلمانانو نه ځان د هغوئي

وَأَمْوَالَهُم بِأَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ ۚ يُقَاتِلُونَ فِي

او مال د هغوئي په دے قيمت باندے چه هغوئي دپاره جنت دے جنګ به کوی په

سَبِيلِ اللَّهِ فَيَقْتُلُونَ وَيُقْتَلُونَ ۖ وَعْدًا

لاره د الله تعالى کښ بيا وژنی (کافران) او وژلے شی (مؤمنان) وعده شويده

عَلَيْهِ حَقًّا فِي التَّوْرَاةِ وَالْإِنجِيلِ وَالْقُرْآنِ ۚ

د هغه په ذمه رښتونے په تورات کښ او انجيل کښ او قرآن کښ

وَمَنْ أَوْفَىٰ بِعَهْدِهِ مِنَ اللَّهِ ۚ فَاسْتَبْشِرُوا

او څوک دے وعده پوره کوونکے زيات د الله تعالى نه نو خوشحاله شئ

بِبَيْعِكُمُ الَّذِي بَايَعْتُم بِهِ ۚ وَذَٰلِكَ هُوَ

په دے معامله باندے کومه چه تاسو کړيده هغه د الله سره او هم داده

الْفَوْزُ الْعَظِيمُ ﴿١١١﴾ التَّائِبُونَ الْعَابِدُونَ

کاميابي لويه . هغوئي توبه ويستونکي دی، بندګي کوونکي دی

الْحَامِدُونَ السَّائِحُونَ الرَّاكِعُونَ السَّاجِدُونَ

شکر کوونکي دی، بے تعلق پاتے کيدونکي دی، رکوع کوونکي، سجده کوونکي

الْآمِرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَالنَّاهُونَ عَنِ الْمُنكَرِ

حکم کوونکي د نيکے خبرے او منع کوونکي د بدے خبرے نه

وَالْحٰفِظُوْنَ لِحُدُوْدِ اللّٰهِ ؕ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِیْنَ ﴿۱۱۲﴾

او حفاظت کوونکی د هغه حدودو کوم چه مقرر کړی دی الله او خوشخبری واوروه ایمان والو ته ف

مَا كَانَ لِلنَّبِیِّ وَالَّذِیْنَ اٰمَنُوْۤا اَنْ

نه دی لائق نبی د پاره ﷺ او ایمان والو د پاره چه

یَّسْتَغْفِرُوْا لِلْمُشْرِكِیْنَ وَلَوْ كَانُوْۤا اُولِیْ

بخشش اوغواړی مشرکانو د پاره اګر چه هغه

قُرْبٰى مِنْۢ بَعْدِ مَا تَبَیَّنَ لَهُمْ اَنَّهُمْ

رشته دار وی کله چه ښکاره شی په هغوی باندے چه هغوی

اَصْحٰبُ الْجَحِیْمِ ﴿۱۱۳﴾ وَمَا كَانَ اسْتِغْفَارُ

دوزخ والا دی او نه وو هغه بخشش غوښتل ﷺ

اِبْرٰهِیْمَ لِاَبِیْهِ اِلَّا عَنْ مَّوْعِدَةٍ وَّعَدَهَاۤ اِیَّاهُ ۚ

د ابراهیم خپل پلار لپاره لیکن د وعدے په سبب وعده ئے کړے وه د هغه سره

فَلَمَّا تَبَیَّنَ لَهٗۤ اَنَّهٗ عَدُوٌّ لِّلّٰهِ تَبَرَّاَ مِنْهُ ؕ

بیا چه کله ښکاره شوه ابراهیم علیه السلام ته چه هغه دشمن د الله دے نو بیزار شو د هغه نه

اِنَّ اِبْرٰهِیْمَ لَاَوَّاهٌ حَلِیْمٌ ﴿۱۱۴﴾

بیشکه ابراهیم علیه السلام ډیر نرم دل او صبر کوونکے وو ف۲

**نکات:** ۱ د منافقانو په مقابله کښ د صحابو د اوصافو بیان ۱۲۔ ۲ سبب د نفاق ۱۲۔ ۳ مشرکانو سره جهاد کوئی او که چرے هغوی په شرک باندے مړه شی یا د مهر جباریت د لاندے راشی نو هغوی د پاره استغفار مه غواړئ۔ لیکن د مهر جباریت علم صرف پیغمبر ته کیدے شی د وحی په ذریعه بل هیچا ته نه شی کیدے۔ ۴ جواب د سوال مقدر ۱۲۔

**موضح قرآن** ف۱ بے تعلق اوسیدلو ته مراد روژه ده، یا هجرت: یا زړه نه لګول د دُنیا په ژوند او مزو پورے او حدود تینګ نیول دا دی چه د شرعے د حکم نه بغیر کوم څه کار اونکړی ۱۲۔

ف۱ قرآن کښ چه کوم ذکر اُوشو چه ابراهیم علیه السلام د خپل پلار د پاره بخشش
اُوغوښتلو شائد چه د نبی علیه السلام په زړهٔ کښ دا هم راغلی وو چه د خپل
رشته دارانو په حق کښ دُعا اُوغواړی دا منع راغله چه مشرک ته ئې شی بښلے ۱۲۔

**تفسیر:** ۱۱۱ اِنَّ اللّٰهَ اشْتَرٰی الخ دلته نه واخله تر وبشر المؤمنین پورے
د الله تعالیٰ په لاره کښ مال او ځان سره جهاد کوونکو، د الله تعالیٰ د احکامو پابندی
کوونکو او امر بالمعروف او نهی عن المنکر فریضه سرته رسوونکو د پاره بشارت
اُخروی دے.
۱۱۳ مَا کَانَ لِلنَّبِیِّ الخ یعنی که چرے پیغمبر خُدا صلی الله علیه وسلم
او د مؤمنانو څنې رشته دار، هم د شرک په حالت کښ مړهٔ شوے وی یا ژوندی
وی لیکن د هغوئ په زړونو باندے مهر جبّاریت لګیدلے وی نو هغوئ د پاره
دُعا او استغفار غوښتل منع دی او د مهر جبّاریت لګیدلو نه مخکښ هغوئ د پاره
د هدایت د دُعا کولو اجازت دے. د مهر جبّاریت علم انبیاء علیهم السلام ته
د وحی په ذریعه کیدلو لیکن د وحی انقطاع نه روستو دا حکم دے چه مشرک
ترڅو ژوندے وی هغهٔ د پاره د هدایت دُعا غوښتل پکار دہ او که چرے د کفر
په حالت کښ مړشو نو هغهٔ د پاره د مغفرت دُعا جائز نهٔ دہ۔
۱۱۴ وَمَا کَانَ اسْتِغْفَارُ اِبْرٰهِیْمَ الخ دا د سوال مقدر جواب دے چه د ماقبل نه
پیدا شوے دے سوال دا دے چه کله پیغمبر د پاره او مؤمنانو د پاره دا جائز
نهٔ ده چه هغوئ د مشرکانو د پاره استغفار اُوغواړی نو ابراهیم علیه السلام
خپل پلار د پاره ولے استغفار غوښتلے وو لکه چه په قرآن مجید کښ دی
واغفر لابی انه کان من الضّالین (شعراء ع ۵) نو د دے جواب ئې اُوفرمائیلو چه
د ابراهیم علیه السلام استغفار د هغه وعدے په بناء باندے وو کومه چه هغهٔ
د رخصت په وخت پلار سره کړے وه لکه چه په سورهٔ مریم رکوع ۳ کښ دی
قَالَ سَلٰمٌ عَلَیْکَ سَاَسْتَغْفِرُ لَکَ رَبِّیْ اِنَّهٗ کَانَ بِیْ حَفِیًّا۔ لیکن چه کله په هغوئ
دا خبره واضحه شوه چه د هغهٔ پلار د الله تعالیٰ دُشمن دے او د هغهٔ په زړهٔ
باندے مهر جبّاریت وهلے شوے دے او اوس هغه هیڅکله ایمان نهٔ راوړی
نو هغهٔ د پاره ئې استغفار پریښودو او هغهٔ نه ئې د براءت او بیزارئ اعلان
اُوکړو. یعنی د ابراهیم علیه السلام دُعا قبل العلم وه کله چه هغهٔ ته اصل
حقیقت معلوم شو نو بیائې هغهٔ د پاره دُعا اُو نهٔ غوښتله. یا مطلب دا دے چه
کله هغه ژوندے وو نو د هغهٔ د پاره به ئې د هدایت دُعا غوښتله او کله چه
هغه په شرک باندے مړشو نو هغهٔ ته معلومه شوه چه هغه د الله دُشمن وو
د دے وجے نه ئې بیا دُعا اُو نهٔ غوښتله ای مستمر علی عداوته تعالیٰ وعدم
الایمان به وذلک بان اوحی الیه علیه السلام انه مصرّ علی الکفر واخرج ابن
جریر وابن المنذر وجماعة عن ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنهما ان ذلک التبین

كان بموته كافرا واليه ذهب قتادة قيل والا نسب بوصف العداوة هو الاول
(روح ج ١١ ص٣٥)

وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُضِلَّ قَوْمًا بَعْدَ اِذْ
او نهٔ دے داسے الله تعالىٰ چه ګمراه کړی يو قوم ملا کله چه هغه
هَدٰىهُمْ حَتّٰى يُبَيِّنَ لَهُمْ مَّا يَتَّقُوْنَ ؕ
په سمه لاره روان کړی تر څو چه ظاهر نهٔ کړی هغوئی ته هغه چه د کوم نه بچ کيدل پکار دی
اِنَّ اللّٰهَ بِكُلِّ شَیْءٍ عَلِيْمٌ ﴿۱۱۵﴾ اِنَّ اللّٰهَ لَهٗ
بیشکه الله تعالىٰ په هر څیز خبر دے وا. بے شکه د الله
مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ يُحْیٖ وَيُمِيْتُ ؕ
بادشاهی ده په آسمانونو او زمکه کښ ژوندی کوی او مړهٔ کوی
وَمَا لَكُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ مِنْ وَّلِیٍّ وَّلَا
او نیشته ستاسو د پاره سیوا د الله تعالىٰ نه هیڅوک دوست او نهٔ
نَصِيْرٍ ﴿۱۱۶﴾ لَقَدْ تَّابَ اللّٰهُ عَلَى النَّبِیِّ وَ
مدد ګار بیشکه مهربان شو الله تعالىٰ په نبی علیه السلام او
الْمُهٰجِرِيْنَ وَالْاَنْصَارِ الَّذِيْنَ اتَّبَعُوْهُ
او مهاجرینو باندے او په انصار څوک چه ملګری شول د نبی
فِیْ سَاعَةِ الْعُسْرَةِ مِنْۢ بَعْدِ مَا كَادَ
په سخت وخت کښ روستو د هغے نه چه تږدے وه چه
يَزِيْغُ قُلُوْبُ فَرِيْقٍ مِّنْهُمْ ثُمَّ تَابَ
کاږهٔ شی زړونه د یو ډلے د دوئی نه بیا مهربان شو
عَلَيْهِمْ ؕ اِنَّهٗ بِهِمْ رَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۱۷﴾
په دوئی باندے بیشکه هغه په دوئی مهربان دے رحم کوونکے دے وا.

وَّعَلَى الثَّلٰثَةِ الَّذِيْنَ خُلِّفُوْا ۭ حَتّٰٓى اِذَا

او هغه دریو سړو باندے ۳ الله کوم چه روستو کړے شوی وو تر دے چه کله

ضَاقَتْ عَلَيْهِمُ الْاَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ

تنګه شوه په هغوئ باندے زمکه سره د فراخئ نه

وَضَاقَتْ عَلَيْهِمْ اَنْفُسُهُمْ وَظَنُّوْٓا اَنْ لَّا

او تنګ شول دوئ باندے ځانونه د هغوئ او پوهه شول چه چرته نیشته

مَلْجَاَ مِنَ اللّٰهِ اِلَّآ اِلَيْهِ ۭ ثُمَّ تَابَ

پناه د الله تعالیٰ نه لیکن د هغهٔ طرف ته بیا مهربان شو

عَلَيْهِمْ لِيَتُوْبُوْا ۭ اِنَّ اللّٰهَ هُوَ التَّوَّابُ

په هغوئ باندے دے د پاره چه هغوئ بیا راشی ۳ بیشکه الله دے مهربان

ع ۱۴ الرَّحِيْمُ ﴿۱۱۸﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ

رحم کوونکے ۳ اے ایمان والو ویریږئ د الله نه

وَكُوْنُوْا مَعَ الصّٰدِقِيْنَ ﴿۱۱۹﴾

او اوسئ سره د صادقانو ۴.

**نکات:** ۱ د ټولو صحابوٴ د شان بیان ۱۲. ۲ یعنی په زړونو کښ وسوسے را تللے ۱۲. ۳ دا هغه درے کسان دی د چا توبه چه پنځوس ورځے روستو قبوله شوه.

**موضح قرآن** ف۱ یعنی د دے وجے نه ئے تاسو منع کړئ ۱۲ منه. ف۲ مهاجرین او انصار ئے معاف کړل د هغوئ لاسونه ئے اونیول چه د سره ئے په وسوسو عمل اونکړو او دوه ځله ئے اوفرمائیل مهربان شو بیا مهربان شو ۱۲ منه رح. ف۳ مهاجرینو او انصارو سره هغه درے تنه سړی هم داخل شول پنځوس ورځوکښ هغوئ باندے سخت حالت تیر شو چه د مرګ نه هم ډیر زیات سخت وو ۱۲. ف۴ دا درے سړی رښتیا وئیلو سره اوبښلے شو کنی نو منافقانو سره به ملاؤ شوے وے ۱۲ منه رحمه الله.

**فتح الرحمن** ف۱ یعنی د گمراهانو په حساب کښ نۀ شماریږی یو قوم لره ۱۲۔ ف۲ یعنی تر څو چه پیغمبر نۀ وی راغلے او تبلیغ اونۀ کړی نو هغوئی معذور دی ۱۲۔ ف۳ یعنی د قرب په مقام کښ ۱۲۔

**تفسیر** ۱۱۵ وَمَا كَانَ اللّٰهُ الخ الله تعالیٰ د منکرینو په زړونو باندے صرف هغه صورت کښ مهرِ جباریت لګوی او هغوئی په عذاب کښ صرف هغه وخت مبتلاء کوی کله چه د هدایت لاره بشۀ واضحه کړی او نیکی بدی ورته صفا بیان کړی. او منکرین قصداً او عناداً انکار اُوکړی. وما کان الله لیوقع الضلالة فی قلوبهم بعد الهدی حتی یکون منهم الامر الذی به یستحق العذاب (کبیر ج۴ ص۵۵۵) اِنَّ اللّٰهَ لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ الخ د زمکے او اسمان مالک او دے کښ مختار او متصرف صرف الله تعالیٰ دے بل څوک نۀ دے او نۀ د هغۀ نه سیوا بل څوک ناصر او مددګار شته دے. ۱۱۷ لَقَدْ تَّابَ اللّٰهُ الخ د توبے نه دلته د الله خصوصی مهربانی او د هغۀ خاص عنایت او توفیق مراد دے چه د هغے په سبب نبی علیه السلام د جهاد د سفر سختئ او تکلیفونه برداشت کړل او کامل درجے د اطاعت ته اُورسیدل. وقد یکون (التوبة من الله علی عبده) رجوعاً من حالة طاعة الی اکمل منها وهذه توبته فی هذه الایة علی النبی صلی الله علیه وسلم لانه رجع به من حالة قبل تحصیل الغزوة وتحمل مشاقها الی حالة بعد ذلك اکمل منها الخ (بحر ج۵ ص۱۰۸) او په مهاجرینو او انصارو باندے د الله تعالیٰ د توبے نه مراد دا دے چه په سخته ګرمئ او ډیره تکلیف پیش نظر ځنی مسلمانانو په زړونو کښ غزوهٔ تبوک کښ د نۀ شریکیدلو د وسوسے راتللو خطره وه لیکن الله تعالیٰ د هغوئی لاس اُونیولو امداد ئے اُوکړو زړونو ته سکون او اطمینان حاصل شو او د صبر او استقلال دولت سره مالامال شول او هغوئی په خوشحالئ سره جهاد کښ شریک شول. سَاعَةِ الْعُسْرَةِ نه غزوهٔ تبوک مراد ده ځکه چه په دے کښ مسلمانانو ته د سختے ګرمئ او د کم توښه او سورلئ او د نورو تکلیفونو د وجے نه مشقتونه او سختئ مخے ته راغلل. کانوا فی شدة من الظهر وفی شدة من الزاد وفی شدة من الماء وفی شدة زمان من حمارة القیظ ومن الجدب والقحط ومن هنا قیل لتلك الغزوة غزوة العسرة ولجیشها جیش العسرة (روح باختصار ج۱۱ ص۳۱) ۱۱۸ كَادَ يَزِيْغُ الخ یعنی نزدے وه چه د یو ډلے په زړونو کښ وسوسے پیدا شوے وے. دے تعبیر نه معلومه شوه چه وسوسه نۀ وه پیدا شوے بلکه د وسوسے نه مخکښ الله تعالیٰ دستګیری اُوکړه او هغوئی ته ئے استطاعت ورکړو توبته علیهم ان تدارك قلوبهم حتی لم تزغ (قرطبی ص۲۸۱ ج۸) ۱۱۹ وَعَلَى الثَّلٰثَةِ الخ دینه هغه دریواړه صحابه مراد دی د کوم ذکر چه په وَاٰخَرُوْنَ مُرْجَوْنَ لِاَمْرِ اللّٰهِ الخ (ع ۱۳) کښ شوے دے هغوئی فوری طور باندے

معنی ورته نهٔ وو کړے دَ دے وجے نه دَ توبے قبلیدو کښې تاخیر اُوشو دَ توبے دَ تاخیر
په وجے سره هغوئی دومره بے ارام او پریشان شول چه زمکه سره دَ دے فراخئی
په هغوئی تنګه شوه لیکن دَ هغوئی ایمان وو چه دَ الله تعالیٰ نه سیوا دَ هغوئی هیڅ
چاره ساز او پناه ورکوونکے نیشته دَ دے وجے نه الله تعالیٰ دَ هغوئی توبه قبوله کړه

مَا كَانَ لِأَهْلِ الْمَدِينَةِ وَمَنْ حَوْلَهُم
نهٔ ده پکار ګلله مدینے والو دَ پاره او دَ هغې ګیرچاپیره
مِّنَ الْأَعْرَابِ أَن يَتَخَلَّفُوا عَن رَّسُولِ
بانډه چیانو لره چه روستو پاتے شي دَ رسول الله (دَ ملګرتیا) نه
اللَّهِ وَلَا يَرْغَبُوا بِأَنفُسِهِمْ عَن نَّفْسِهِ ۚ
او نهٔ داچه مینه به کوي دَ خپل نفسونو سره (زیاته) دَ رسول دَ نفس نه
ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ لَا يُصِيبُهُمْ ظَمَأٌ وَلَا
دا په دے وجه ګلله چه جهاد کوونکو ته نهٔ رسیږي تنده او نهٔ
نَصَبٌ وَلَا مَخْمَصَةٌ فِي سَبِيلِ اللَّهِ
تکلیف او نهٔ لوږه په لاره دَ الله تعالیٰ کښې
وَلَا يَطَئُونَ مَوْطِئًا يَغِيظُ الْكُفَّارَ وَلَا
او نهٔ ګډي قدم په یو ځائے چه په هغے کښې خفه کیږي کافران او نهٔ
يَنَالُونَ مِنْ عَدُوٍّ نَّيْلًا إِلَّا كُتِبَ لَهُم
اخلي دَ دُشمن نه څهٔ څیز لیکن لیکلے شي هغوئی دَ پاره
بِهِ عَمَلٌ صَالِحٌ ۚ إِنَّ اللَّهَ لَا يُضِيعُ
په بدله دَ هغے کښې عمل نیک بیشکه الله تعالیٰ نهٔ ضائع کوي
أَجْرَ الْمُحْسِنِينَ ﴿١٢٠﴾ وَلَا يُنفِقُونَ نَفَقَةً
حق دَ نیکي کوونکو او نهٔ خرچ کوي څهٔ خرچ

صَغِيرَةً وَّلَا كَبِيرَةً وَّلَا يَقْطَعُوْنَ وَادِيًا

وړوکے او نهٔ لوئے او نهٔ قطع کوی یو میدان

اِلَّا كُتِبَ لَهُمْ لِيَجْزِيَهُمُ اللّٰهُ اَحْسَنَ مَا

لیکن لیکلے شی هغوئ دَ پاره چه بدله ورکړی هغوئ ته الله تعالی بهتره هغے کار نه

كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۲۱﴾ وَمَا كَانَ الْمُؤْمِنُوْنَ

کوم چه هغوئ کول - او داسے خو نهٔ دی مسلمانان ټول

لِيَنْفِرُوْا كَآفَّةً ۚ فَلَوْلَا نَفَرَ مِنْ كُلِّ

چه لاړ شی تول ملا نو ولے اُونهٔ وتل دَ هرے

فِرْقَةٍ مِّنْهُمْ طَآئِفَةٌ لِّيَتَفَقَّهُوْا فِي

ډلے نه دَ هغوئ یوه حصّه دِ دے دَ پاره چه پوهه حاصل کړی په

الدِّيْنِ وَلِيُنْذِرُوْا قَوْمَهُمْ اِذَا رَجَعُوْٓا

دین کښ او دے دَ پاره چه خبر اُورسوی قوم خپل ته چه کله واپس راشی

اِلَيْهِمْ لَعَلَّهُمْ يَحْذَرُوْنَ ﴿۱۲۲﴾ ع ۱۵

طرفته دَ هغوئ دِ دے دَ پاره چه هغوئ بچ پاتے شی ول ول

**نکات:** سله دَ صحابو شان سره دَ بشارت او ترغیب دَ اتباع رسول ﷺ فرمائیل تاسو له مال او اولاد دَ پیغمبر ته مقدم کړل نهٔ دے پکار ځکه چه پیغمبر نه تاسو ته توحید او دین ملاؤ شوے دے ۱۲۔

سلہ جمله معترضه دَ توحید او مسئله جهاد زده کړے دَ پاره ۱۲۔

**موضح قرآن** ول یعنی هر قوم ته پکار دہ چه ځنی خلق دَ پیغمبر صحبت کښ پاتے شی دِ دے دَ پاره چه علم دین زده کړی او روستو پا توته ئے زده کړی اُوس پیغمبر موجود نهٔ دے لیکن علم دین موجود دے دَ علم طلب فرض کفایه دے او جهاد هم فرض کفایه دے منه رحمه الله ۱۲۔

**فتح الرحمٰن** فلہ یعنی دَ علم په طلب ۱۲۔
فلہ یعنی دَ علم دین طلب فرض کفایه دے ۱۲۔

**تفسیر:** سلله مَا كَانَ لِاَهْلِ الْمَدِيْنَةِ الخ دا زجر او تنبیه ده یعنی مسلمانانو

دَ پاره دا روانه ده چه هغوئ په جهاد کښ دَ نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه روستو پاتے شی او خپل مال او ځان او اولاد په هغوئ مقدم اُوګڼړی ځکه چه دَ توحید دولت هغوئ ته دَ نبی علیه السلام په وجه ملاؤ شوے دے دا سے هرګز نهٔ ده پکار، چه هغوئ پخپله په ارام او راحت کښ اُوسیږی او پیغمبر اسلام په تکلیفونو او مشقتونو کښ وی. ای لا یرضوا لا نفسهم بالخفض والدعة ورسول الله صلی الله علیه وسلم فی المشقة (قرطبی ج ۸ ص۲۹).

۱۱۵ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ الخ تا اَحْسَنَ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ. دا دَ ما قبل علت دے او دے کښ ډیر زیات بلیغ انداز کښ دَ جهاد فی سبیل الله ترغیب دے. ظَمَاٌ، تنده. نَصَبٌ، تکلیف او مشقت. مَخْمَصَةٌ، لوږه. وَلَا يَنَالُوْنَ مِنْ عَدُوٍّ نَّيْلًا. دَ ‌‌ښمن نه ورته قتل او شکست رسیږی. یعنی دَ الله تعالیٰ په لاره کښ جهاد په سفر کښ او عین میدانِ جنګ کښ هغوئ ته چه هر و روکے او لوئے تکلیف رسیږی او په جهاد کښ لږ او ډیر مال خرچ کوی او څومره سفر چه کوی هغه ټول دَ دوئ په اعمال نامه کښ لیکلے شی دَ اعمال صالحه په عنوان سره او هغوئ ته الله تعالیٰ ډیر زیات اجر او ثواب ورکوی.

۱۱۶ وَمَا كَانَ الْمُؤْمِنُوْنَ الخ جمله معترضه ده او دے سره دَ توحید دَ مسئلے او دَ جهاد دَ تعلیم ترغیب ورکول مقصود دے. یعنی په مسلمانانو کښ یو داسے جماعت پکار دے چه دَ نبی علیه السلام په خدمت کښ حاضر شی دَ توحید مسئله او دَ جهاد مسئله زده کړی او بیا خپل قوم ته واپس لاړ شی هغوئ ته دَ دے مسائلو تعلیم ورکړی. دے ایت نه معلومه شوه چه دومره اندازه علم دین حاصلول چه دَ قوم معلم او پیشوا اُوګرځی هر مسلمان باندے فرض عین نهٔ دے بلکه فرض کفایه دے. لیکن دَ کومو احکامو په ځائے راوړل چه په هر سړی فرض دی دَ هغے علم زده کول هم په هر فرد باندے فرض عین دی.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا قَاتِلُوا الَّذِيْنَ
اے کله ایمان والئ جنګ کوئ

يَلُوْنَكُمْ مِّنَ الْكُفَّارِ وَلْيَجِدُوْا فِيْكُمْ
کافرانو سره او پکار ده چه معلوم وی هغوئ ته په تاسو کښ خیل نږدے

غِلْظَةً ۭ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ مَعَ الْمُتَّقِيْنَ ۱۲۳
دَ سختی. او پوهه شئ چه الله تعالیٰ ملګرے دے دَ پرهیزګارانو.

وَإِذَا مَا أُنْزِلَتْ سُورَةٌ فَمِنْهُمْ مَنْ يَقُولُ
او کله چه نازلیږی شی یو سورت نو ځني دوئ کښ وائي

أَيُّكُمْ زَادَتْهُ هَٰذِهِ إِيمَانًا ۚ فَأَمَّا الَّذِينَ
کوم کا مکښ زیاتوالے اوکړو دے سورت ایمان . نو چه کوم خلق

آمَنُوا فَزَادَتْهُمْ إِيمَانًا وَهُمْ يَسْتَبْشِرُونَ ﴿١٢٤﴾
ایمان لری زیات کړو دغوئ ایمان دے سورت او هغوئ خوشحالیږی

وَأَمَّا الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ مَرَضٌ فَزَادَتْهُمْ
او دچا په زړونو کښ چه مرض دے نو زیاته ئے کړ هغوئ لره

رِجْسًا إِلَىٰ رِجْسِهِمْ وَمَاتُوا وَهُمْ كَافِرُونَ ﴿١٢٥﴾
پلیتي په پلیتئ باندے او ترمړګه هغوئ پاتے شول کافران ف۳.

أَوَلَا يَرَوْنَ أَنَّهُمْ يُفْتَنُونَ فِي كُلِّ عَامٍ مَرَّةً
آیا نه ګوری دوئ چه هغوئ ازمائیلے شي په هر کال کښ یو ځل

أَوْ مَرَّتَيْنِ ثُمَّ لَا يَتُوبُونَ وَلَا هُمْ
یا دوه ځل ف۱ بیا هم نه اوباسی توبه او نه هغوئ

يَذَّكَّرُونَ ﴿١٢٦﴾ وَإِذَا مَا أُنْزِلَتْ سُورَةٌ نَظَرَ
نصیحت اخلی ف۳ . او کله چه نازلیږی یو سورت ګوری ف۲

بَعْضُهُمْ إِلَىٰ بَعْضٍ هَلْ يَرَاكُمْ مِنْ
دوئ ډیو بل طرف ته چه آیا وینی تاسو لره

أَحَدٍ ثُمَّ انْصَرَفُوا ۚ صَرَفَ اللَّهُ قُلُوبَهُمْ
څوک (مسلمان) بیا دوئ ځي اړولی دی الله تعالیٰ زړونه د دوئ

بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَا يَفْقَهُونَ ﴿١٢٧﴾ لَقَدْ جَاءَكُمْ
ځکه چه هغه داسے خلق دی چه نه پوهیږی ف۵. راغلے دے تاسو ته ع۱۲۱

رَسُوْلٌ مِّنْ اَنْفُسِكُمْ عَزِيْزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ

رسول ستاسو نه دروند دے په هغهٔ باندے کوم چه تاسو تکلیف اورسیږئ

حَرِيْصٌ عَلَيْكُمْ بِالْمُؤْمِنِيْنَ رَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ (۱۲۸)

حریص دے ستاسو په فائدہ باندے ایمان والؤ باندے ډیر زیات شفیق مهربان دے

فَاِنْ تَوَلَّوْا فَقُلْ حَسْبِيَ اللّٰهُ ۖ لَآ اِلٰهَ اِلَّا

بیا هم که چرے مخ واړوی دوی نو ته اووایه چه کافی دے ما لره الله نیشته دے هیڅ بندګی ښیوا

هُوَ ۚ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَهُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ (۱۲۹)

دَ هغهٔ نه په هغه باندے ما بهروسه کړیدۀ او هغه مالک دے دَ عرش عظیم ف۳ ف۴

**نکات:** ۱ دَ سورت دَ مضامینو دویاره ذکر علی سبیل الاجمال ۱۲۔ ۲ اعاده دَ دعوے دَ سورت ۱۲۔ ۳ دَ بشارت اعاده صحابؤ دَ پاره ۱۲۔ ۴ دَ زجر اعاده منافقانو دَ پاره ۱۲۔ ۵ یعنی ضد دے اثابت نهٔ دے ۱۲۔ ۶ دَ ترغیب اعاده اتباع رسول دَ پاره او دَ مسئله توحید ۱۲۔ ۷ ما مصدریه ده ۱۲۔ ۸ جار مجرور متعلق دے رَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ پورے۔ رَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ نه مراد ما فوق الاسباب مراد نهٔ دے بلکه ما تحت الاسباب مراد دے ځکه چه ما فوق الاسباب رَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ الله تعالی دے دا دَ هغهٔ صفت دے۔ ۹ په اخر کښ دَ مسئله توحید بیان دَ کوم دَ پاره چه دَ جهاد حکم ورکړے شوے دے ۱۲۔

**موضح قرآن** ف۱ سختی معلومه کړی یعنی دَ جنګ قوت. یا سختی یعنی په معاملاتو کښ بے رُخی نو دَ کافرانو سره اُلفت او نرمی مهٔ کوئ لیکن چه کله اُوینئ چه دین ته مائل دے ۱۲ منه رحمه الله.

ف۲ دَ الله کلام چه به دَ کوم مسلمان دَ زړهٔ دَ خطرے سره موافق واقع شو هغهٔ به وئیل چه دِے سره ځما ایمان زیات شو هم دا لفظ به وئیلو منافقانو چه کله به ئے دَ هغوئ عیبونه بیان کړل لیکن مسلمانانو به دا لفظ دَ خوشحالئ نه وئیلو او منافقانو به وئیل دَ شرمندګئ نه او دَ خپل عیب پټولو دَ پاره خو بیا به ئے صدق سره ایمان نهٔ راوړو اول ته به ئے زیات خپل عیب پټولو هم دا ګنداګی ده ګندګئ دَ پاسه. عیب لرونکی لره لازم ده چه نصیحت واوری او ګناه پریږدی عیب لرے کړی، نهٔ دا چه هغه دَ ناصح نه خپل ځان پټ کړی ۱۲۔

ف۳ اکثر به دَ جنګ او جهاد په وخت منافقان معلومیدل ۱۲۔

ف۴ یعنی کلام الله کښ چه چرته دَ منافقانو عیب ذکر شی نو منافقان خپل

مینځ کښې یو بل ته کوری چه په مجلس کښې څوک په مونږ ګورې نه دي نو بیا په تلوار سره پاڅي او روان شي ۱۲ منه رح.

ف۵ تلاش کوی ستاسو یعنی غواړی چه محمد امت دِ زیات شي ۱۲ منه رح.

فتح الرحمٰن ف۱ یعنی په مرضونو او مصیبتونو ۱۲۔ ف۲ یعنی هغه سورت په کوم کښې چه دَ منافقانو دَ نفاق بیان دے ۱۲۔

ف۳ یعنی څنګه چه قادر دے عرش بانده نظر لری داشان مالره هم دَ شر دَ کافرانو او منافقانو نه بچ ساتے ۱۲۔

تفسیر: ۱۲۳ یٰٓاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا الخ دا دَ سورت دَ دعوے یعنی دَ حکم قتال اعاده ده. اَلَّذِیْنَ یَلُوْنَکُمْ، کوم چه ستاسو خواؤ شا کښې اوسیږی. غِلْظَةً، سختی یعنی مشرکانو سره دَ جرأت او شجاعت، صبر او استقلال داسے مظاهره اوکړئ چه ستاسو رُعب او جلال دَ هغوئ په زړونو بانده خورشي. مقصد دادے چه مسلمانان دِ داصفتونه په خپل ځان کښې پیدا کړی.

۱۲۴ وَاِذَا مَآ اُنْزِلَتْ الخ، منافقانو به دَ استهزاء (ټوقو) په طور بانده داخبرے کولے. فَاَمَّا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا الخ بشارت مؤمنانو دَپاره. وَاَمَّا الَّذِیْنَ فِیْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ الخ، زجر منافقانو دَپاره. مرض نه مراد ضد او عناد دے یعنی دَ هغوئ په زړونو کښې انابت اِلی الله (دَ الله تعالیٰ طرف ته رجوع) نشته. رِجْسًا، ګندګی مراد نفاق دے دَ قرآن دَ ایتونو دَ نزول سره سره دَ هغوئ کفر او نفاق کښې زیاتے کیږی ځکه چه هغوئ هر نازلیدونکے ایت دروغژن ګڼړو. ۱۲۶ اَوَلَا یَرَوْنَ اَنَّهُمْ یُفْتَنُوْنَ الخ، دا زجر دے. دوئ دَ دینه هم عبرت نهٔ حاصلوی چه هرکال هغوئ یوځل یا دوه ځل په مصیبتونو کښې ضرور مبتلا کیږی دِ دَپاره چه هغوئ دَ خپلو ګناهونو نه توبه اُوباسی. معافی اُوغواړی او په راتلونکی وخت کښې دَ شر او فساد نه منع شی. لیکن هغوئ عبرت نهٔ حاصلوی هرکال دَ جهاد په موقع بانده یوځل یا دوه ځل هغوئ ته ضرور ابتلاء مخے ته راځی چه په هغے کښې دَ دوئ شرارتونه ښکاره شی او په قرآن کښې دَ هغے ذکر وضاحت سره کولے شی. چه هغے سره دوئ سره ډیر زیات ذلیل او رسوا کرځی. والمعنی اولا یرون انهم یختبرون بالجهاد مع رسول الله صلی الله تعالیٰ علیه وسلم فیعاینون ما ینزل علیه من الایات لا سیما الایات الناعیة علیهم قبائحهم (روح ج ۱۱ ص۵۰).

۱۲۷ وَاِذَا مَآ اُنْزِلَتْ الخ، دَ تبلیغ وحی په وخت دَ منافقانو دَ حال بیان دے. کله چه هغوئ ته دَ قرآن ایتونه لوستلے او اورولے شی نو هغوئ یو بل ته په یومقصدی نظر سره کتل کوی چه دَ هغوئ غرض دَ دینه داوی چه موقع بیا مومی او دِ دے مجلس نبوی نه اُوتښتی نو چه کله هم ورته موقع ملاؤ شی نو لاړشی

یعنې د دوئ مقصد هرنازلیدونکې ایت پورې ټوقې او استهزاء کول دي د دې وجې نه هغوئ د دې مجلس نه زړ تر زړه د تښتیدو کوشش کوي.

۱۲۱ لَقَدْ جَآءَکُمْ الخ، دا د رسول الله صلی الله علیه وسلم د اتباع ترغیب دے مَا عَنِتُّمْ. کښې ما مصدریه دے. یعنې ستاسو مشقت کښې پریوتل پیغمبر صلی الله علیه وسلم باندې ډیرګران تیریږي. بِالْمُؤْمِنِیْنَ ــــ رَءُوْفٌ رَّحِیْمٌ روستوني سره متعلق دے.

۱۲۲ فَإِنْ تَوَلَّوْا الخ، اخرکښې د مسئله توحید اعاده ده چه د هغې په خاطر د جهاد حکم ورکړې شو ۱۲.

# سورۂ توبه کښې د توحید آیتونه او د هغې خصوصیات

برآءة من الله ورسوله الی الذین عاهدتم من المشرکین ○ (۱۶) د مشرکانو نه د بیزارۍ اعلان. ما کان للمشرکین ان یعمروا مسٰجد الله ــــ نه تر ــــ فعسی اولئك ان یکونوا من المهتدین ○ (۲۶) جوماتونه جوړول او د دینه علاوه هیڅ یو عمل د مشرکانو نه قبول نه دے.

اجعلتم سقایة الحاج وعمارة المسجد الحرام ــــ نه تر ــــ والله لا یهدی القوم الظٰلمین ○ (۳۶) د مشرکانو نیک عملونه د مؤمنانو د نیک عملونو په مقابله کښې بالکل بې قدره او بې اجره دي.

اذ اعجبتکم کثرتکم فلم تغن عنکم شیئًا وّضاقت علیکم الارض بما رحبت ثم ولیتم مدبرین ○ (۴۶) مؤمنانو له هروخت په الله بهروسه اعتماد پکار دے او په زیات شمیر باندې اعتماد کول نۀ دے پکار.

ولا یحرمون ما حرم الله ورسوله ولا یدینون دین الحق. یعنې د غیرالله منتې حرام نه ګڼړي.

وقالت الیهود عزیر ابن الله وقالت النصٰری المسیح ابن الله ــــ نه تر ــــ قٰتلهم الله انّٰی یؤفکون ○ (۵۶) یهودیانو او نصارٰی ؤ به پیغمبران د الله جزؤ ګڼړل او هغوئ به ئې حاضرناظر ګڼړل په حاجتونو کښې به ئې رابلل.

اتخذوا احبارهم ورهبانهم اربابًا من دون الله ــــ نه تر ــــ سبحٰنه عما یشرکون ○ (۶۵) هغوئ به د پیغمبرانو نه علاوه خپل ملیان او پیران هم د الله نه سوا حاجت روا

کښې نزل.
یا ایها الذین امنوا ان کثیرا من الاحبار والرهبان لیاکلون اموال الناس بالباطل ویصدون عن سبیل الله ط اکثر ملایان او پیران د غیر الله نذرونه منښتې خوری او د الله د توحید نه منع کوی.
انما النسیئ زیادة فی الکفر ـــــ نه تر ـــــ والله لا یهدی القوم الکفرین ○ (۵۶) د خپل ځان نه ئې څو قسمه تحریمات مقرر کړې وو.
ولو انهم رضوا ما اتهم الله ورسوله ـــــ نه تر ـــــ انا الی الله راغبون ○ (۶۷) یعنی کوم څه چه د الله مهربانۍ او د پیغمبر علیه السلام د مال غنیمت تقسیم سره دوی ته ملاؤ شول چه په هغې راضی شوې وې نو دا د دوی د پاره بهتره وه.
وما نقموا الا ان اغنهم الله ورسوله من فضله (۶-۱۰) یعنی الله تعالی د خپلې مهربانۍ او پیغمبر د مال غنیمت سره.
وسیری الله عملکم ورسوله ـــــ نه تر ـــــ فینبئکم بما کنتم تعملون ○ (۶۱۲) منافقانو چه په کوم عملونه د پیغمبر علیه السلام په مخکښ کول نو نبی علیه السلام په هغې نه کتل.
ومن اهل المدینة مردوا علی النفاق قف لا تعلمهم نحن نعلمهم ط (۱۳۶) معلومه شوه چه پیغمبر علیه السلام په غیب خبر نه وو.
وقل اعملوا فسیری الله عملکم ورسوله والمؤمنون ط هغه اعمال مراد دی کوم چه په منافقانو د نبی علیه السلام او مؤمنانو په مخکښ کول.
ما کان للنبی والذین امنوا ان یستغفروا للمشرکین ولو کانوا اولی قربی من بعد ما تبین لهم انهم اصحب الجحیم ○ (۱۳۶) شرک باندې د مرګ نه روستو هغوئ د پاره استغفار جائز نه دے، منع دے.
فان تولوا فقل حسبی الله ـــــ نه تر ـــــ وهو رب العرش العظیم ○ (۱۶۶) دا هغه د توحید مسئله ده د کوم په خاطر چه د جهاد حکم ورکړې شوید ے او صحابوته فضیلت اوشان ملاؤ شو او په منافقانو باندې زجرونه او زورنې نازل شوې ۲۰.

---

د خیالی په ورځ ۲۱ محرم الحرام ۱۴۲۴ھ مطابق ۱۳ مارچ ۲۰۰۳ء پاؤکم شپږ بجې د سحر وخت کښې نماز فجر نه مخکښې د سورة توبه پښتو ترجمه او تفسیر ختم شو فالحمد لله اولا واخرا والصلوة والسلام علی رسوله دائما ابدا وعلی جمیع عباده الصالحین لیلا ونهارا.

# سورة یونس علیه السلام ۱ؗ

ربط دَ باقي سورتونو په شان دَ سورۀ یونس ما قبل سره دوه قسمه ربط دے اول اسمي ربط. توبه کښ ئے اوفرمائيل فَإِنْ تَابُوْا وَأَقَامُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتَوُا الزَّكٰوةَ فَخَلُّوْا سَبِيْلَهُمْ (توبه ع ۱) او په سورۀ یونس کښ اوفرمائيل فَلَوْلَا كَانَتْ قَرْيَةٌ اٰمَنَتْ فَنَفَعَهَا إِيْمَانُهَا إِلَّا قَوْمَ يُوْنُسَ (ع ۱۰) یعني اوس دَ توبه کولو، ایمان راوړلو او دَ اعمالِ صالحه په ځائے راوړلو وخت دے ځکه چه که ایمان راوړی کنی چه کله څمونږ عذاب راغے نو بیا به دَ ایمان راوړلو هیڅ فائده نه وی. دا صرف دَ یونس علیه السلام قوم وُ چه هغوئ دَ خدائے عذاب اولیدو او ایمان ئے قبول کړو او هغه وخت ایمان راوړلو سره هغوئ ته فائده اورسیدله. دویم ربط معنوی. دَ دے دوه تقریرونه دی.

① قرآن مجید کښ دَ شرک نفي په سلسله کښ دوه خبرو باندے زور ورکړے شوے دے. اول دا چه دَ الله نه سِوا څوک کارساز او متصرّف نشته. دویم دا چه الله په مخکښ څوک شفیع غالب نشته. دَ دینه مخکښ سورتونو کښ دَ مسئله توحید هر اړخ تفصیل سره بیان کړے شو او دلائل عقلیه او نقلیه او وحی سره ثابته کړے شوه چه دَ الله نه سِوا څوک کارساز، متصرّف، مختار او مستحق دَ نذر او نیاز نشته اوس په سورۀ یونس کښ دَ مشرکانو دَ دے باطل خیال رد اوکړے شو چه دَ الله په وړاندے به څوک شفیع غالب وی چه دَ هغه دَ مرضئ خلاف خبره په هغۀ اومنی.

② سورۀ بقره کښ لاندینی مضامین خصوصیت سره ذکر شوی دی. ۱: توحید ۲: رسالت، ۳: جهاد، ۴: انفاق، او ۵: امور انتظامیه او امور مصلحه دَ دینه روستو په اٰل عمران کښ دَ دے مضامینو نه دَ توحید یو اړخ یعنی دَ شرک اعتقادی نفي رسالت، جهاد فی سبیل الله او انفاق فی سبیل الله ذکر اوکړے شو بیا په سورۀ نساء کښ دَ سورۀ بقره یو مضمون (امور انتظامیه سره دَ امور مصلحه) تفصیل سره بیان اوکړے شو. څوارلس احکام رعیت او نهه احکام سلطانیه. دینه روستو سورۀ مائده او سورۀ انعام کښ په عقلی دلائل باندے زیات زور ورکړے شو او هغے نه روستو په سورۀ اعراف کښ په نفي دَ شرک فعلي او نفي دَ شرک اعتقادی باندے زیات دلائل نقلیه ذکر کړے شول. تر دے ځائے دَ سورۀ بقره ټول مضامین تفصیل او دلائلو سره ذکر شول. لیکن دَ مسئله توحید صرف یو اړخ باقی پاتے شو یعني نفي دَ شفاعت قهری اوس په سورۀ یونس کښ دَ شفاعت قهری په نفي باندے عقلی دلائل پیش کړے شول او ثابت کړے شویدے چه الله تعالیٰ مالک الملک او مختار مطلق دے او دَ هغۀ په مخکښ څوک شفیع غالب نشته

او دَ هغهٔ دَ فیصلے په وړاندے هیڅ یو مقرب فرشته او هیڅ یو نبی مرسل او هیڅ یو ولی مکرم هیڅ نه شی وئیلے دَ شفاعت قهری دَ نفی مضمون دَ سورۂ یونس نه واخله تر سورۂ کهف پورے چلیدلے دے.

**خلاصه** سورۂ یونس کښې دړے ځائے دَ سورت دعوی ذکر شوے ده اول اجمالاً. مَا مِنْ شَفِيْعٍ اِلَّا مِنْۢ بَعْدِ اِذْنِهٖ الخ (ع ۱) یعنی دَ الله په نزد هیڅوک شفیع غالب نشته. او په آخر کښې کوم انبیاء علیهم السلام او صلحاء کرام ته چه اجازت ملاویګی صرف هغه به شفاعت کوی. دَ الله دَ اذن نه بغیر به هیچا ته دَ خبرو اجازت او جرات نهٔ وی. دویم ضمناً. وَيَقُوْلُوْنَ هٰۤؤُلَآءِ شُفَعَآؤُنَا عِنْدَ اللّٰهِ (ع ۲) دریم تفصیلاً قُلْ يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ اِنْ كُنْتُمْ فِيْ شَكٍّ مِّنْ دِيْنِيْ فَلَاۤ اَعْبُدُ الَّذِيْنَ تَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ـــــ تا ـــــ وَهُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ (ع ۱۱) دے دعوی باندے یوولس دلائل پیش کړے شوی دی. لس دلائل عقلیه کښې یو دَ شرک فی العلم په نفی باندے. یو دَ شرک فعلی په نفی باندے او اته دَ شرک فی التصرف په نفی باندے دلالت کوونکی دی او دے کښې یو دلیل علی سبیل الاعتراف مِنَ الْخَصْم دے دَ دلائلو میخ کښې دړے ځائے دَ دلائلو ثمره ذکر شوی ده. او ورسره ورسره دَ موقع مناسبت سره زجرونه، بشارتونه، تخویفات، او شکوے ذکر شوی دی.

# دلائل عقلیه

**اولنے دلیل عقلی** اِنَّ رَبَّكُمُ اللّٰهُ الَّذِيْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ ـــ تا ـــ اَفَلَا تَذَكَّرُوْنَ (ع ۱) دَ ټول کائنات خالق او مالک او مدبّر او مختار صرف الله تعالی دے. دَ دے وجے نه په هغهٔ باندے دَ هیچا زور او دباؤ نهٔ چلیږی دَ دے دلیل په ضمن کښې دَ سورت دعوی هم اجمالاً ذکر شوی او په اخر کښې ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ فَاعْبُدُوْهُ دَ دلیل ثمره ده یعنی هغه الله چه په مذکوره صفات سره متصف دے هغه ستاسو معبود او کارساز دے دَ دے وجے نه صرف هغهٔ ته او از کوئی. لِيَجْزِيَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا الخ بشارت اخروی او وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَهُمْ شَرَابٌ مِّنْ حَمِيْمٍ الخ تخویف اخروی دے.

**دویم دلیل عقلی** هُوَ الَّذِيْ جَعَلَ الشَّمْسَ ضِيَآءً وَّالْقَمَرَ نُوْرًا ـــ تا ـــ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّتَّقُوْنَ دَ ټول جهان خالق الله تعالی دے ټول نظام شمسی (دَ نمر نظام) دَ هغهٔ په اختیار کښې دے او تصرف کښې او صرف هغه دَ عالم په نظام کښې مدبّر او متصرف دے لهذا صرف هغهٔ ته او از کوئی. اِنَّ الَّذِيْنَ لَا يَرْجُوْنَ لِقَآءَنَا الخ تخویف اخروی دے. اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ الخ بشارت اخروی دے. وَلَوْ يُعَجِّلُ اللّٰهُ لِلنَّاسِ الشَّرَّ اسْتِعْجَالَهُمْ بِالْخَيْرِ الخ (ع ۲) زجر دے

وَلَقَدْ اَهْلَكْنَا الْقُرُوْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ الخ تخویف دُنیوی دے ځنګه چه مخکنو قومونو ځمونږ دَ پیغمبرانو تکذیب اوکړو او دَ هغے په سزاء کښې په عذاب ګرفتار شول داشان که چرے تاسو ځما اخری پیغمبر دروغژن اوګنړئ او دَ توحید دَ دعوی نه انکار اوکړئ نو ستاسو حشر به هم هغه وی. وَاِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِمْ اٰيَاتُنَا الخ شکوه ده مشرکانو اووئیل دا قرآن خو ځمونږ دَ منلو نه پاتے شو ځکه چه په دے کښې ځمونږ دَ معبودانو سپکاوے دے لیکن تاسو بل کوم قرآن راوړئ یا په دے کښې بدلون راولئ نو مونږ به ئے اومنو. قُلْ مَا يَكُوْنُ لِيْٓ اَنْ اُبَدِّلَهٗ مِنْ تِلْقَآئِ نَفْسِيْ. دَ شکوے جواب دے. قرآن کښې ردّ و بدل کول ځما په اختیار کښې نهٔ دے زهٔ هغه څهٔ وئیلے شم کوم چه دَ الله دَ طرفه وحی کیږی. فَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا. زجر دے.

## درېیم عقلی دلیل

وَيَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا لَا يَضُرُّهُمْ وَلَا يَنْفَعُهُمْ تا ــــ سُبْحٰنَهٗ عَمَّا يُشْرِكُوْنَ په اصل کښې دا زجر دے په صورت دَ شکوی. لیکن دَ سورت په دعوی باندے عقلی دلیل هم دے او دَ دے په ضمن کښې دَ سورت دعوی هم ذکر شویده مشرکانو داسے دَ عقل راندهٔ دی چه هغوئ دَ الله نه سِوا داسے معبودانو ته اوازکوی چه دَ هغوئ په اختیار کښې نهٔ خو نقصان رسول دی او نهٔ نفع ورکول او بیا ورسره داهم وائی چه دوئ به دَ الله په نزد دَ هغوئ سفارشیان وی. حال دا دے چه الله تعالیٰ هغوئ ته دَ سفارش کولو یا دَ نفع نقصان رسولو هیڅ اختیار نهٔ دے ورکړے وَيَقُوْلُوْنَ لَوْلَآ اُنْزِلَ عَلَيْهِ اٰيَةٌ مِّنْ رَّبِّهٖ شکوی ده فَقُلْ اِنَّمَا الْغَيْبُ لِلّٰهِ الخ جواب شکوی ده.

## څلورم دلیل عقلی

هُوَ الَّذِيْ يُسَيِّرُكُمْ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ ــــ تا ــــ لَتَكُوْنَنَّ مِنَ الشّٰكِرِيْنَ (ع ۳) کله چه په لوندو او وچه کښې هغه کارساز دے او په دریابونو او سمندرونو کښې چه کله دَ هغوئ کشتئ په ویره ونکو چپو کښې غوټے خوری نو هغوئ خپل ټول خیالی کارسازان او سفارشیان هیروی او صرف یو خدائے ته اوازکوی کله چه په دریابونو او سمندرونو کښې الله تعالیٰ په غیر دَ بل چا دَ شرکت نه دَ دوئ مدد کوی نو په نورو موقعو باندے هغه دَ دوئ امداد ولے نهٔ شی کولے؟ وَاللّٰهُ يَدْعُوْٓا اِلٰى دَارِ السَّلٰمِ الخ بشارت اخروی دے. وَالَّذِيْنَ كَسَبُوا السَّيِّاٰتِ الخ تخویف اُخروی دے وَيَوْمَ نَحْشُرُهُمْ جَمِيْعًا الخ دا تخویف اخروی دے او دَ ماقبل دلائلو ثمره هم یعنی په دنیا کښې تاسو چه کوم دَ خدائے سره سفارشیان ګنړئ او هغوئ ته اوازکوئ دَ قیامت په ورځ به هغوئ پخپله اووائی. مَا كُنْتُمْ اِيَّانَا تَعْبُدُوْنَ اوراِنْ كُنَّا عَنْ عِبَادَتِكُمْ لَغٰفِلِيْنَ. یعنی مونږ خو ستاسو دَ رابللو او اوازکولو نه بالکل ناخبره وو سفارش

خو یو طرفته مونږ ته خو ستاسو ذ را بللو علم هم نهٔ وو.

## پنځم دلیل عقلی علی سبیل الاعتراف من الخصم

قُلْ مَنْ يَّرْزُقُكُمْ مِّنَ السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ ـــ تا ـــ فَسَيَقُوْلُوْنَ اللّٰهُ ۚ اَفَلَا تَتَّقُوْنَ (ع ۴) کله چه تاسو پخپله منئ چه خالق او رازق ذ ټول کائنات مالک او مختار او مدبر ذ عالَم صرف الله تعالیٰ دے نو بیا الله تعالیٰ نه ولے نهٔ ویریږئ او شرک ولے نهٔ پریږدئ فَذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمُ الْحَقُّ. دا دلیل ثمره ده یعنی الله تعالیٰ چه دے مذکوره صفتونو سره متصف دے هم هغه ستاسو معبود برحق او حقیقی کارساز دے لهٰذا په حاجتونو کښ او مشکلات کښ صرف هغه ته اواز کوئ.

اَمْ يَقُوْلُوْنَ افْتَرٰىهُ شکوی ده. قُلْ فَاْتُوْا بِسُوْرَةٍ مِّثْلِهٖ. جواب شکوی دے. مشرکانو به وئیل چه محمد (صلی الله علیه وسلم) ذخپل ځان نه قرآن جوړ کړے دے او ذ الله په ذمه ئے لګوی. الله تعالیٰ نبی علیه السلام ته ذ دے جواب ذ ورکولو حکم ورکړو. که چرے زهٔ داسے قرآن ذ ځان نه جوړولے شم نو تاسو هم کم از کم دا شان یو سورت جوړ کړئ او رائے وړئ ځکه چه تاسو هم اهل زبان ئے او ذ خپل امداد ذ پاره خپل ټول حامیان هم را اوبلئ. وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّسْتَمِعُوْنَ اِلَيْكَ (ع ۵) زجر دے وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ كَاَنْ لَّمْ يَلْبَثُوْٓا تخویف اخروی دے وَاِمَّا نُرِيَنَّكَ بَعْضَ الَّذِيْ نَعِدُهُمْ. تخویف دنیوی وَيَقُوْلُوْنَ مَتٰى هٰذَا الْوَعْدُ شکوی ده. تاسو ځما نه تپوس کوئ چه عذاب به کله راځی حال دا دے چه ما ته خو ذ خپل ځان ذ نفع او نقصان هم علم نشته لیکن دا خبره ضروری ده چه په علم الٰهی کښ ذ عذاب یو وخت مقرر دے او هغه به په خپل مقرره وخت باندے ضرور راځی. قُلْ اَرَءَيْتُمْ اِنْ اَتٰىكُمْ عَذَابُ اللّٰهِ. زجر سره ذ تخویف دنیوی نه. وَيَسْتَنْۢبِـُٔوْنَكَ اَحَقٌّ هُوَ. شکوی قُلْ اِيْ وَرَبِّيْٓ اِنَّهٗ لَحَقٌّ جواب شکوی دے وَلَوْ اَنَّ لِكُلِّ نَفْسٍ ظَلَمَتْ الخ (ع ۶) تخویف دنیوی دے.

## شپږم دلیل عقلی

اَلَآ اِنَّ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ـــ تا ـــ هُوَ يُحْيٖ وَيُمِيْتُ وَاِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ (ع ۶) ذ زمکے او اسمان او ذ ټول کائنات مالک او مختار صرف الله تعالیٰ دے او مرګ او ژوند هم ذ هغهٔ په اختیار کښ دے بیا ذ هغهٔ سره نور ولے رابلئ. يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَآءَتْكُمْ مَّوْعِظَةٌ الخ دا ترغیب الی القرآن دے

## اووم دلیل عقلی

قُلْ اَرَءَيْتُمْ مَّآ اَنْزَلَ اللّٰهُ لَكُمْ ـــ تا ـــ اَمْ عَلَى اللّٰهِ تَفْتَرُوْنَ. دے دلیل سره ذ شرک فعلی نفی کول مقصود ده کله چه ذ هر څیز مالک او خالق الله تعالیٰ دے او هغه ذ زمکے او اسمان نه ستاسو ذ پاره ذ روزئ انتظام کوی دا غلے، میوے او چارپایان ستاسو ذ پاره هغهٔ پیدا کړی دی

بیا تاسو خپلے خوښے سره په هغے کښې حلال او حرام گرځول شروع کړل حال دا دے چه الله تعالیٰ تاسو ته د دے هیڅ اجازت نهٔ دے درکړے.

**اتم دلیل عقلی** وَمَا تَكُونُ فِي شَأْنٍ وَّمَا تَتْلُوا مِنْهُ ـــ تا ـــ فِي كِتٰبٍ مُّبِينٍ (ع ۷) دا دلیل شرك فی العلم نفی کولو بارہ قائم کړے شوے دے أَلَآ إِنَّ أَوْلِيَآءَ اللّٰهِ لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ الخ بشارت اخروی دے وَلَا يَحْزُنْكَ قَوْلُهُمْ تسلی ده نبی علیهم السلام ته.

**نهم دلیل عقلی** أَلَآ إِنَّ لِلّٰهِ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَمَنْ فِي الْأَرْضِ. ټول انبیاء او اولیاء او ملائکه کرام علیهم السلام د الله تعالیٰ په ملک او تصرف کښې دی او ټول هغهٔ ته محتاج او نیازمند دی بیا تاسو هغوئ ته ولے اواز کوئ. وَمَا يَتَّبِعُ الَّذِينَ يَدْعُونَ الخ زجر مؤمنانو د پاره

**لسم دلیل عقلی** وَهُوَ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الَّيْلَ لِتَسْكُنُوا فِيهِ وَالنَّهَارَ مُبْصِرًا الخ (ع ۷) د دے ماحصل د تیر شوو دلائلو په ضمن کښې تیر شوے دے وَقَالُوا اتَّخَذَ اللّٰهُ وَلَدًا. شکوی. مشرکانو به وئیل چه الله تعالیٰ خپل نیک بندګان په دُنیا کښې نائبان گرځولی دی او هغوئ ته ئے ځنے اختیارات سپارلی دی الله تعالیٰ د مشرکانو د دے قول دلته رد او فرمائیلو قرآن شریف کښې چه چرته هم د شفاعت قهری نفی کړے شوے هلته د مشرکانو د دے قول رد هم شوے دے لکه چه په سورۂ بقره کښې ئے اُوفرمائیل وَقَالُوا اتَّخَذَ اللّٰهُ وَلَدًا سُبْحٰنَهٗ ط بَلْ لَّهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ ط كُلٌّ لَّهٗ قٰنِتُونَ (ع ۱۴) سُبْحٰنَهٗ ط هُوَ الْغَنِيُّ الخ پنځه وجوه سره د شکوی جواب دے قُلْ إِنَّ الَّذِينَ يَفْتَرُونَ الخ زجر سره د تخویف اخروی نه. وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَأَ نُوحٍ الخ (ع ۸) د تخویف دنیوی یو تفصیلی نمونه ثُمَّ بَعَثْنَا مِنْ بَعْدِهٖ رُسُلًا الخ د تخویف دنیوی یو اجمالی نمونه ثُمَّ بَعَثْنَا مِنْ بَعْدِهِمْ مُّوسٰى وَهٰرُونَ ـــ تا ـــ وَإِنَّ كَثِيرًا مِّنَ النَّاسِ عَنْ اٰيٰتِنَا لَغٰفِلُونَ (ع ۹) د تخویف دنیوی دویمه تفصیلی نمونه. فَإِنْ كُنْتَ فِي شَكٍّ مِّمَّا أَنْزَلْنَا إِلَيْكَ الخ زجر دے. قُلْ يٰٓأَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَآءَكُمُ الْحَقُّ الخ (ع ۱۱) د توحید مسئله منلو او د حق قبلولو ترغیب.

# دلیل وحی

وَاتَّبِعْ مَا يُوحٰٓى إِلَيْكَ الخ د سورة په اختتام بارہ دلیل وحی راؤړل شواو نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته د دے اعلان کولو حکم ورکړے شو چه د دعوٰی ئے توحید او د هغے دلائل چه د وحی په ذریعه الله تعالیٰ په ما نازل کړی دی زهٔ صرف د هغے تابعداری کوم او الله تعالیٰ د شرك په بارہ کښې

هیڅ دلیل نهٔ دے نازل کړے. دَ دے وجے نه دَ شرک ټول اقسام باطل دی
وَاصْبِرْ حَتّٰى يَحْكُمَ اللّٰهُ وَهُوَ خَيْرُ الْحٰكِمِيْنَ. نبی کریم صلی الله علیه وسلم دپاره
تسلی ده یعنی تاسو بانــدے چه کومه وحی نازله کړے شوے ده تاسو دَ هغے
تابعداری اوکړئ او دَ توحید دَ مسئلے ښکاره تبلیغ اوکړئ او دَ مشرکانو دَ
طرفه راتلونکی ټول تکلیفونو او مصیبتونو بانــدے دَ صبر او استقلال لمن
ټینګه اونیسه او ستاسو په نیت او ثابت قدمئ کښں او پایهٔ استقلال کښں حرکت
رانشی. آخرکار فیصله به هم ستاسو په حق کښں وی مشرکان به خوار ذلیل
او مغضوب او مقهور وی او ستاسو جماعت به په خپل مؤقف کښں کامیاب او
دنیا او آخرت کښں به سُرخ رُویه وی.

# مختصر خلاصه

## دَ سورت دعوی

نفی دَ شفاعت قهری. دا دعوی په سورت کښں درے
ځایه ذکر شویٔ اول اجمالاً (مَامِنْ شَفِيْعٍ اِلَّا مِنْۢ
بَعْدِ اِذْنِهٖ) بیا دَ دلیل په ضمن کښں (وَيَقُوْلُوْنَ هٰۤؤُلَآءِ شُفَعَآؤُنَا عِنْدَ اللّٰهِ) او دریم
ځل تفصیلاً (قُلْ يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ اِنْ كُنْتُمْ فِيْ شَكٍّ مِّنْ دِيْنِيْ الاية) دَ دے دعوی په
ثبوت کښں یوولس دلائل پیش کړے شوی دی. لس دلائل عقلیه او یو دلیل
وحی. دلس دَ دلائلو عقلیه نه اُوم دلیل دَ شرک فعلی په نفی او اتم دَ شرک
فی العلم په نفی او باقی دَ شرک فی التصرف په نفی بانــدے دی. دے کښں
پنځم دلیل علی سبیل الاعتراف من الخصم دے درے وارو ځایونو کښں
دَ دلائلو ثمره هم ذکر شوی ده. دَ دینه علاوه په سورت کښں موقع په موقع
خصوصی زجرونه، شکوے. تخویفونه او بشارتونه هم ذکر شوی دی.

---

سُورَةُ يُونُسَ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ مِائَةٌ وَّتِسْعُ اٰيَاتٍ وَّاَحَدَ عَشَرَ رُكُوْعًا

دا سورة یونس په مکه کښې نازل شو او د دهٔ یو سل نهه ایتونه دی او یوولس رکوعات دی

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○

شروع د الله په نوم چه بے حده مهربان نهایت رحم کونکے دے

الٓرٰ قف تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ الْحَكِيْمِ ① اَكَانَ لِلنَّاسِ

دا ایتونه دی د مضبوط کتاب ایا خلق لره

عَجَبًا اَنْ اَوْحَيْنَآ اِلٰى رَجُلٍ مِّنْهُمْ اَنْ اَنْذِرِ

تعجب کښې پریوتل چه وحی اولیږله مونږ په یو سړی باندے د دوی نه دا چه اُویږوه

النَّاسَ وَبَشِّرِ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَنَّ لَهُمْ قَدَمَ

خلق او زیرے واوره وه ایمان والو ته چه هغوئ د پاره مرتبه

صِدْقٍ عِنْدَ رَبِّهِمْ ؔ قَالَ الْكٰفِرُوْنَ اِنَّ هٰذَا

لویه رښتنی ده د خپل رب خواته او ووئیل انکار کونکو بیشکه دا خو

لَسٰحِرٌ مُّبِيْنٌ ② اِنَّ رَبَّكُمُ اللّٰهُ الَّذِيْ خَلَقَ

جادوګر دے ښکاره - بیشکه ستاسو رب الله دے چه چا چه پیدا کړو

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ فِيْ سِتَّةِ اَيَّامٍ ثُمَّ

اسمان او زمکه په شپږو ورځو کښې ښه بیا

اسْتَوٰى عَلَى الْعَرْشِ يُدَبِّرُ الْاَمْرَ ؕ مَا مِنْ

قائم شو ښه په عرش باندے - تدبیر کوی د کار - هیڅوک

شَفِيْعٍ اِلَّا مِنْۢ بَعْدِ اِذْنِهٖ ؕ ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ

سفارش نشی کولے ښه لیکن د هغهٔ د اجازت نه روستو هغه الله دے رب ستاسو

فَاعْبُدُوْهُ ؕ اَفَلَا تَذَكَّرُوْنَ ③ اِلَيْهِ مَرْجِعُكُمْ

نو د هغهٔ بندګی کوئ ایا تاسو پند نه اخلئ - ف د هغهٔ طرفته واپس ورتلل دی

جَمِيعًا ۚ وَعْدَ اللّٰهِ حَقًّا ۚ اِنَّهٗ يَبْدَؤُا الْخَلْقَ

ستاسو د ټولو. ئله وعده ده د الله رښتونې هغه پیدا کوي اول ځل مخلوق

ثُمَّ يُعِيْدُهٗ لِيَجْزِيَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا

بیا به دوباره کړي هغوئ لره. دے د پاره چه بدله ورکړي هغوته چه ایمان ئے راوړے وو او

الصّٰلِحٰتِ بِالْقِسْطِ ۚ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَهُمْ

کړے وو نیک کارونه انصاف سره او څوک چه کافران شول هغوئ د پاره

شَرَابٌ مِّنْ حَمِيْمٍ وَّعَذَابٌ اَلِيْمٌۢ بِمَا

څکل دي د جوش وهونکو اوبو او عذاب دردناک ځکه

كَانُوْا يَكْفُرُوْنَ ④

چه کفرئے کولو.

**نکات:** ۱ تمهید سره د ترغیب الی القرآن ۲ زجر، استفهام انکاری دے. ۳ تخویف اخروی. ۴ بشارت اخروی. ۵ شکوی ۶ توحید باندے اول دلیل عقلی. ۷ د سورت دعوی ۸ د سورة دعوی یعنی د شفاعت قهری د نفی اجمالاً ذکر. ۱۰ د مذکوره دلیل ثمره ۱۱ د ما بعد د پاره تمهید دے ۱۲.

**موضح قرآن** ف: څو مره وخت چه اولګیدهٔ په شپږو ورځو په هغو مره وخت کښ اسمان او زمکه پیدا کړل او د دغے ملک دربارئے عرش اوګرځولو د ټولو کارونو تدبیر د هغے ځائے نه اوشو.

**تفسیر:** ۱ الٓرٰ: دا د حروف مقطعات نه دی د دے صحیح مراد صرف الله تعالیٰ ته معلوم دے. ۲ تِلْكَ الخ دا تمهید دے سره د ترغیب نه دے سورت کښ د توحید په مسئله باندے ډیر زیات دلائل عقلی ذکر کړے شوي دي. د دے وجے نه د سورت په شروع کښ د تمهید په طور ئے تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ الْحَكِيْمِ سره دے طرف ته اشاره اوکړه د قرآن مجید د کومو سورتونو په شروع کښ چه د کتاب صفت حکیم راغلے دے په هغه سورتونو کښ زیات زور د دلائل عقلیه په بیان ورکړے شوے دے او د کوم په شروع کښ چه د کتاب صفت مبین راغلے دے په هغه سورتونو کښ زیات دلائل نقلیه ذکر شوي دي د سورۀ لقمان په شروع کښ ئے اوفرمائیل الٓمّٓ تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ الْحَكِيْمِ. په سورۀ لقمان کښ اګر چه

یو نقلي دلیل هم ذکر شوی دے. لیکن زیات زور په دلائیل عقلیه باندې ورکړے شوی دے. د دے وجې نه د کتاب صفت حکیم راوړے شوی دے د سورۂ زخرف په ابتداء کښې ئے اوفرمائیل حٰمٓ وَالْكِتٰبِ الْمُبِيْنِ. یعنې د کتاب صفت ئے مبین اوفرمائیلو ځکه چه دے سورت کښې زیات نقلي دلائیل ذکر شوی دی. په سورۂ شعراء کښې هم د الْكِتٰبِ صفت مُبِيْن راغلے دے ځکه چه په دۀ کښې دلائیل نقلیه ذکر شوی دی. صرف رکوع ۱۰ کښې د عقلي دلیل طرف ته اشاره شوې ده. دے کښې د ترغیب اړخ دا دے چه دا آیتونه د داسے کتاب دی چه د هر څیز صحیح صحیح حقیقت بیانوي او د دۀ ټولے خبرے په حکمت باندے مبني دي د دے وجې نه هغه ته په توجه سره واوره ئې او په هغے عمل اوکړئ. ۲ اَكَانَ لِلنَّاسِ الخ دا زجر دے او همزه استفهام انکاري د پاره ده. د حضرت ابن عباس رض قول دے چه کله الله تعالیٰ حضرت محمد صلی الله علیه وسلم ته رسالت او نبوت ورکړو نو د عربو مشرکانو په دے تعجب اوکړو چه الله تعالیٰ خو ډیر اوچت شان والا دے د دے وجې نه د هغۀ رسول بشر څنګه کیدے شي دے باندے دا آیت نازل شو قَالُوا الله اعظم من ان یکون رسوله بشرًا فانزل الله تعالیٰ (اَكَانَ للنَّاس عَجَبًا) استفهام انکار للتعجب (خازن ومعالم ج ۳ ص۱۶۱، ومظهري ج ۵ ص۷) دے آیت کښې الله تعالیٰ د کافرانو دے تعجب باندے انکار اوکړو، ځکه چه تیر شوي انبیاء هم بشر وو، د دے وجې نه د آخري رسول بشر کیدل هم څه نوے او د تعجب خبره نۀ ده. وَكل واحد من هذه الامور ليس بعجب لان الرسل المبعوثين الى الامم لم يكونوا الا بشرًا مثلهم (مدارك ج ۲ ص۱۱۱) ۵ اَنْ اَنْذِرِ النَّاسَ. دا تخویف اخروي دے او وَبَشِّرِ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا الخ بشارت اخروي دے. اَنَّ لَهُمْ اى بِاَنَّ لهم. حرف جار مقدر دے. قَدَمَ صِدْقٍ. هغه نیک اعمال کوم چه هغوئي مخکښ لیږلي دي. یا د دینه مراد ډیره اوچته مرتبه او لوړ مقام مراد دے کوم چه به هغوئي ته ورکړے شي قال مُجاهد الاعمال الصالحة اللّتي قدموها (ابن کثیر ج ۲ ص۴۰۸) (وخازن ج ۳ ص۱۶۳) وَقالَ عطاء اى مقام صدق لا زوال له ولا بؤس فيه يعني منزلة رفيعة يسبقون اليها ويقيمون فيها (مظهري ج ۵ ص۸) ۶ قَالَ الْكٰفِرُوْنَ. دا شکوی ده. هٰذَا سره نبي علیه الصلوٰة والسلام ته اشاره ده. د مکے مشرکانو چه کله نبي صلی الله علیه وسلم نه خارق عادت (د عادت نه خلاف) کارونه اولیدل او د نبي علیه السلام د ژبے مبارک نه ئے کلام مجید واوریدو نو نبي علیه السلام ته ئے جادوګر وئیل شروع کړل. حال دا دے چه هغوئي ته ښۀ معلوم وه چه نبي صلی الله علیه وسلم هرګز جادوګر نۀ دے لیکن د دے باوجود هغوئي په نبي علیه السلام باندے د دروغو الزام لګولو دا د هغوئي د عجز واضح دلیل دے کله چه یو سړے د خپل مدّ مقابل د خبرو څۀ معقول جواب ورکولو نه

عاجز شي نو خپل ملامتیا ختمولو او رسوایئ پټولو دپاره دا الزام اسلحه استعمالوي هم دا حال دَ مکے دَ مشرکانو وو چه هغوئ دَ قرآن دَ مثل پیش کولو نه خو عاجز شول. لیکن نبی علیه السلام ته ئے (عیاذاً بالله) جادوګر وئیل شروع کړل وَ هُوَ دَلِیْلُ عجزهم وَاعترافهم به وان کانوا کاذبین فی تسمیته سحرًا (مدارک ۲ ص۱۱۱) یعني دا کلام خو جادو دے دَ دے وجے نه موږ دَ دهٔ دَ مقابلے نه عاجز یُو.

سے اِنَّ رَبَّکُمُ الخ دَ پیغمبر خدا صلی الله علیه وسلم بشر رسول کیدلو باندے هغوئ دومره اندازه حیران او متعجب دی اخر هغه واړئ څهٔ او دَ الله ج دَ طرفه ئے کوم پیغام راوړیدے دَ هغهٔ خبره خو تاسو په غور سره واورئ هغه چه کوم څهٔ وائی دَ عقل او فطرت سره بالکل مطابق او په حکمت او دانائی باندے مبنی ده. دا په توحید (دَ شرک فی التصرّف په نفی) باندے اول دلیل عقلي دے یعني ستاسو کار ساز خو هغه الله تعالیٰ دے چا چه په شپږو ورځو کښ زمکه او اسمان پیدا کړل او بیا ئے دَ ټول عالَم نظام کار په خپل لاس کښ واخستو. دَ زمکے او اسمان حکومت یوازے دَ هغهٔ په قبضه کښ دے او صرف هغه په ټول عالَم کښ متصرف او مختار دے هغهٔ دَ نظام عالَم هیڅ یوه شعبه دَ چا په اختیار او تصرّف کښ نهٔ ده ورکړے. ۵ه فِیْ سِتَّةِ اَیَّامٍ زمکه او اسمان شپږو ورځو کښ دَ پیدا کولو تفصیل په سورۂ حمٓ سجده ع ۲ کښ ذکر شوید ے خَلَقَ الْاَرْضَ فِیْ یَوْمَیْنِ دوه ورځو کښ ئے زمکه پیدا کړه وَجَعَلَ فِیْهَا رَوَاسِیَ مِنْ فَوْقِهَا وَ بٰرَکَ فِیْهَا وَ قَدَّرَ فِیْهَآ اَقْوَاتَهَا فِیْٓ اَرْبَعَةِ اَیَّامٍ او په دوه ورځو کښ ئے غرونه پیدا کړل او په زمکه کښ ئے مختلف خاصیتونه او قوتونه امانت کړل دا شان دَ زمکے پیدائش په هر لحاظ سره څلورو ورځو کښ اختتام ته اورسیدو. فَقَضٰهُنَّ سَبْعَ سَمٰوٰتٍ فِیْ یَوْمَیْنِ اوه اسمانونه او دَ ټول نظام شمسي پیدا کول په دوه ورځو کښ مکمل شو دا شان ئے زمکه او اسمان په شپږو ورځو کښ پیدا کړل الله تعالیٰ ټول عالم په یو ساعت کښ پیدا کولے شو لیکن هغهٔ دا سے اُونهٔ کړل بلکه په مزه مزه ئے پیدا کړل دے دَ پاره چه دَ هر څیز پیدا کولو کښ دَ هغهٔ دَ قدرت کامله او بے مثال کاریګرئ اظهار اُوشي.

ؒ۶ه ثُمَّ اسْتَوٰی الخ حضرت شیخ قدّس سرهٔ اُوفرمائیل چه استواء علی العرش دَ حکومت او سلطنت نه کنایه ده یعني زمکه او اسمان الله تعالیٰ پیدا کړل او دَ دے حکومت او سلطنت او ټول نظام عالَم ئے په خپل لاس کښ واخستو او هغهٔ دَ نظام عالَم څهٔ اختیار چا ته حواله نهٔ کړو تفصیل سورۂ اعراف کښ تیر شوے دے هلته ئے اوګورئ ( ص ) ۷ه مَا مِنْ شَفِیْعٍ الخ دا دَ سورت دعوی یعني دَ شفاعت قهري بالاجمال صراحت دے کله چه دَ زمکے او اسمان خالق او مالک الله تعالیٰ دے او ټول هر څهٔ دَ هغهٔ په تصرّف او اختیار کښ دی نو بیا څوک دے چه

دَ هغهٔ په مخکښې ساه واخلی او په هغهٔ خپله خبره اُومنی دلته په دُنیا او اخرت کښې دَ شفاعت قهری نفی ده او په اخرت کښې دَ شفاعت بالاذن اثبات دے. دَ مشرکانو خیال وو چه هغوئ کوم دَ خدائے بزرګان رابلی هغوئ به په الله پاک دَ دوئ تول کارونه کوی نو الله تعالیٰ دلته دَ دے شفاعت نفی اوکړه. لیکن په اخرت کښې دَ الله په اذن سره به شفاعت وی او هغهٔ به صرف هغه ګنهګارانو دَ پاره وی چه دَ دنیا نه ایمان سره رخصت شی دَ مشرکانو په حق کښې به هیڅ قسم شفاعت نهٔ وی دَ مسئله شفاعت زیات تحقیق په سورهٔ بقره کښې تیر شوین دے صفحه نمبر ۳۸۶

لله ذٰلِكُمُ اللّٰهُ الخ دا دَ مذکوره دلیل ثمره او نتیجه ده یعنی الله تعالیٰ چه په ذکر شوو صفتونو سره صفت کړے شوین دے صرف هغه ستاسو کارساز دے دَ دے دَ وجې صرف دَ هغهٔ عبادت کوئ او صرف هغهٔ ته اواز کوئ دَ هغهٔ په رابللو او عبادت کښې هیڅوک مهٔ شریکوئ. ذالکم العظیم الموصوف بما وصف به ...... (فاعبدوٰ) وحدهٔ ولا تشرکوا به بعض خلقه من انسان او ملك فضلاً عن جماد لا یضر ولا ینفع (مدارک ج ۲ ص۱۱) ۲لله اِلَيْهِ مَرْجِعُكُمْ الخ دا دَ ما بعد دَ پارهٔ تمهید دے. مشرکان کهٔ چرے دَ توحید مسئله اُومنی نو دَ هغوئ فائده ده ځکه چه منلو والا او نهٔ منلو والا ټول به په اخرت کښې دَ الله تعالیٰ په عدالت کښې حاضروی. لِيَجْزِيَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا الخ لام دَ پارهٔ دَ عاقبت دے او منونکو دَ پارهٔ بشارت اُخروی دے. بِالْقِسْطِ یعنی انصاف سره حرف جار لِيَجْزِيَ سره متعلق دے. وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا الخ نهٔ منونکو دَ پاره تخویف دے.

هُوَ الَّذِيْ جَعَلَ الشَّمْسَ ضِيَآءً وَّالْقَمَرَ نُوْرًا

(الله) هغه دے چه ئے اوګرځولو ۳لله نمر رڼا کوونکے او سپوږمئ روښانه

وَّقَدَّرَهٗ مَنَازِلَ لِتَعْلَمُوْا عَدَدَ السِّنِيْنَ وَالْحِسَابَ

او مقرر ئے کړهٔ هغے دَ پارهٔ منزلونه دے دَ پارهٔ چه اُوپیژنئ شمار دَ کلونو او حساب

مَا خَلَقَ اللّٰهُ ذٰلِكَ اِلَّا بِالْحَقِّ يُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ

نهٔ دی پیدا کړی الله دا ټول هر څهٔ لیکن تدبیر سره ۴لله ظاهروی نښے

لِقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ ۝ اِنَّ فِي اخْتِلَافِ الَّيْلِ

هغه خلقو دَ پارهٔ چه څوک پوهیږی. بیشکه بدلیدلو کښې ۵لله دَ شپے

وَالنَّهَارِ وَمَا خَلَقَ اللّٰهُ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ

او د ورځے او کوم څه چه پیدا کړی دی الله په آسمانونو او زمکه کښں

لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّتَّقُوْنَ ۝۶ اِنَّ الَّذِيْنَ لَا يَرْجُوْنَ

نښے دی هغه خلقو دپاره چه څوک وېرېږی. بیشکه کوم خلق دی چه امید نه لری

لِقَآءَنَا وَرَضُوْا بِالْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَاطْمَاَنُّوْا بِهَا

څمونږ د ملاقات او خوشحال شول د دُنیا په ژوند باندے او په دے مطمئن شول

وَالَّذِيْنَ هُمْ عَنْ اٰيٰتِنَا غٰفِلُوْنَ ۝۷ اُولٰٓئِكَ

او کوم خلق چه څمونږ د نښانو نه ناخبره دی. دا سے خلقو

مَاْوٰىهُمُ النَّارُ بِمَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ۝۸

ځائے د ورتلو اور دے بدله د هغے چه کولو به ئے.

اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ يَهْدِيْهِمْ

لیکن کوم خلقو چه ایمان راوړو او کارونه ئے اوکړو نیک کله هدایت به اوکړی

رَبُّهُمْ بِاِيْمَانِهِمْ ۚ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهِمُ الْاَنْهٰرُ

الله هغوئی ته د هغوئی ایمان سره بهیږی د هغوئی نه بشکته نهرونه

فِيْ جَنّٰتِ النَّعِيْمِ ۝۹

په باغونو کښں د آرام.

**نکات:** ۱ توحید باندے دویم دلیل عقلی ۱۲ ۲ د دویم دلیل تتمه. ۳ تخویف أخروی ۱۲. ۴ بشارت اخروی ۱۲.

۳ هُوَ الَّذِيْ جَعَلَ الخ دا د شرك فی التصرف په نفی دویم دلیل عقلی دے. د خبر معرفه کیدلو په وجه د حصر مفید دے یعنی په صله کښں چه د کوم کارونو ذکر شوید ے د هغے تولو فاعل صرف الله تعالیٰ دے بل څوك نشته. نظامِ شمسی د نظامِ عالم د تولو نه اهمه حصه ده. د دے وجے نه دلته خصوصیت سره د هغے ذکر اوکړے شو الله تعالیٰ نمر او سپوږمئ پیدا کړل او هغے ته ئے رنړا ورکړه او د سپوږمئ د دوړے د پاره ئے منزلونه مقرر کړل د دے د پاره چه د دے دوړو سره د میاشتو او کلونو

شمار معلوم شي. دَ رمضان دَ میاشتې او ذي الحجة او نورو میاشتو او ورځو تعین اُوشي چه دَ کوم سره اسلامي احکام متعلق دي دا شان دنیوي کاروبار او دَ معاملاتو دَ وختو اندازه اُوشي. نمر ته ئې ضِیَاء او سپوږمۍ ته ئې نور اُوئیل ځکه چه دَ نور لفظ عام دے او ضیاء خاص دے یعنی دَ نور دَ ټولونه قوي فرد په نورځ الفاظو کښې دَ رڼا کامل او تام کیفیت نوم ضوء دے ځنو وئیلي دي ذاتي رڼا ته ضوء او مستفاد (دَ بل نه حاصل شوے) ته نور اووئیل شو. وَالنور اعم من الضوء فانه اقوی افراد النور وقیل ما بالذات ضوء وما بالعرض نور (مظهري ج ۵ ص ۰) فالنور اسم لاصل هذه الکیفیة والضوء اسم لهذه الکیفیة اذا کانت کاملة تامة قویة فلهذا اخص الشمس بالضیاء لانها اقوی واکمل من النور وخص القمر بالنور لانه اضعف من الضیاء (خازن ج ۳ ص ۱۷۰) ۳ لفظ اَلْحَقِّ مختلف معانیو دَ پاره راځي ۱: په معنی دَ رښتیا او دَ صداقت په مقابله دَ باطل کښې لکه چه ئې اُوفرمائیل بَلْ نَقْذِفُ بِالْحَقِّ عَلَى الْبَاطِلِ (انبیاء ع ۲) ۲: کله دَ لهو او لعب عبث مقابله کښې راځي. وَمَا خَلَقْنَا السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَمَا بَیْنَهُمَا لٰعِبِیْنَ مَا خَلَقْنٰهُمَاۤ اِلَّا بِالْحَقِّ الایة (دخان ۲۶) دلته دَ دواړو معنو احتمال شته یعنی الله تعالیٰ زمکه او اسمان، نمر او سپوږمۍ او ټول نظام دَ کائنات دَ ټولونه لوئې رښتیا او صداقت سره (توحید) سره پیدا کړي دي او دا ټول کائنات دَ الله تعالیٰ وحدانیت باندې دَ عدل ګواهان دي. که چرې باء په معنی دَ لام وي نو مطلب به دا وي چه دا ټول هر څۀ دَ حق او صداقت دَ اظهار او بیان دَ پاره پیدا کړې شوي دي ای لبیان الحق والباطل (ابن عباس ص۱۳۱) دویم احتمال باندې به مطلب دا وي چه دا ټول کائنات ئې محض عبث او بې فائدې پیدا نکړل بلکه دَ دې په پیدا کولو کښې ډیر حکمتونه دي او فائدې دَ ټولونه اهم او اعظم فائده او حکمت دا دے چه دَ خدائې بندګان دَ دې کارخانهٔ عالم په هر څیز کښې غور او فکر اوکړي او دې سره دَ الله تعالیٰ په قدرت کامله او حکمت تامه باندې استدلال اُوکړي یعنی للحق وَاظهار قدرته ودلائل وحدانیته ولم یخلق ذالك باطلاً وَلاعبثاً (خازن ج ۳ ص ۱۷۰) ۵ دا دَ دویم دلیل تتمه ده یعنی دَ شپې او ورځې تلل راتلل او دَ زمکې او اسمان په ټولو مخلوقاتو کښې دَ الله تعالیٰ توحید باندې ډیر لوئې دلیل دے لیکن دَ هغه خلقو دَ پاره څوك چه دَ انصاف په نظر دیکښې سوچ فکر کوي او دَ هغوئ په زړونو کښې دَ انابت او اطاعت جذبه وي او دَ ضد او عناد نه لرې وي (لَاٰیٰتٍ) لَعَلَامَاتٍ لوحدانیة الرّب (لِقَوْمٍ یَّتَّقُوْنَ) یطیعون (ابن عباس ص۱۳۱) ۶ تخویف اُخروي منکرینِ قیامت دَ پاره اودَ توحید مسئله. اودَ قیامت او مسئله توحید واضح دلائیلو سره ثابتولو نه روستو ئې نه منونکو ته دَ عذاب اخرت تخویف ورکړو. اِنَّ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا الخ بشارت اُخروي دے مؤمنانو دَ پاره. ۷ دے باندې په ظاهر کښې اعتراض واردیږي چه کله

هغوئی ایمان راوړو او نیک کارونه ئے هم اوکړل نو هدایت مونږ ورنکی خوشول بیا
دَیَهْدِیْهِمْ څهٔ مطلب دے؟ د دے وجے نه دَیَهْدِیْهِمْ نه ایمان او عمل صالح
بانډے ثابت قدم لرل او استقامت ورکول مراد دے یعنی الله تعالی به هغوئی
د مخلصانه ایمان په وجه په صراط مستقیم او ایمان بانډے ثابت قدم اولری
ای یسدد هم بسبب ایمانهم للاستقامة علی سلوک الطریق السدید المؤدی
الی الثواب (مدارک ج ۲ ص۱۱) یا مطلب دا دے چه الله تعالی به د ایمان په وجه
هغوئی ته په اخرت کښ د جنت لاره اوښائی او هغوئی به نیغ جنت ته داخل شی.
قال مجاهد یهدیهم علی الصراط الی الجنة یجعل لهم نورا یمشون به
(خازن ج ۳ ص۱۷۰ و مظهری ج ۵ ص۱۱)

دَعْوٰىهُمْ فِيْهَا سُبْحٰنَكَ اللّٰهُمَّ وَتَحِيَّتُهُمْ فِيْهَا

د هغوئی دُعا به دغه ځائے دا وی چه ته پاک ذات دے ستا یا الله او ملاقات به د هغوئی

سَلٰمٌ وَاٰخِرُ دَعْوٰىهُمْ اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ

سلام وی او خاتمه به د هغوئی د دُعا به دے وی، چه ټول ښه صفتونه الله لره دی چه پروردګار دے

الْعٰلَمِيْنَ ۝١٠ وَلَوْ يُعَجِّلُ اللّٰهُ لِلنَّاسِ الشَّرَّ ع

د ټول جهان ف او که چرے جلتی سره اورسوی الله خلقوته بدی

اسْتِعْجَالَهُمْ بِالْخَيْرِ لَقُضِيَ اِلَيْهِمْ

څنګه چه جلتی سره غواړی هغوئی نیکی ف نو ختم به کړی د هغوئی

اَجَلُهُمْ ؕ فَنَذَرُ الَّذِيْنَ لَا يَرْجُوْنَ لِقَآءَنَا

عمر نو مونږ پریږدو هغه کوم چه اُمید نهٔ لری څوک زمونږ د ملاقات

فِيْ طُغْيَانِهِمْ يَعْمَهُوْنَ ۝١١ وَاِذَا مَسَّ

په شرارت د هغوئی کښ سرګردان. ف او کله چه ته اورسیږی

الْاِنْسَانَ الضُّرُّ دَعَانَا لِجَنْۢبِهٖٓ اَوْ قَاعِدًا

انسان ته تکلیف اواز کوی مونږ ته په ډډه پروت وی یا ناست

اَوْ قَآئِمًا ۚ فَلَمَّا كَشَفْنَا عَنْهُ ضُرَّهٗ

یا ولاړ. بیا چه کله مونږ لرے کړو ﷺ دَ هغهٔ نه تکلیف

مَرَّ كَاَنْ لَّمْ يَدْعُنَآ اِلٰى ضُرٍّ مَّسَّهٗ ؕ

لاړ شي لکه چه مونږ ته ئے هیڅکله هم آواز نهٔ وُو کړے په څهٔ تکلیف رسیدلو باندې

كَذٰلِكَ زُيِّنَ لِلْمُسْرِفِيْنَ مَا كَانُوْا

داشان ﷺ غوره ښکاره شویدی بے باک خلقو ته کوم څهٔ

يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۲﴾ وَلَقَدْ اَهْلَكْنَا الْقُرُوْنَ

چه هغوئ کوی. او بیشکه ﷺ مونږ هلاک کړی دی ډلے

مِنْ قَبْلِكُمْ لَمَّا ظَلَمُوْا ۙ وَجَآءَتْهُمْ

ستاسو نه مخکښې کله چه ظالمان شول حال دا دے چه راغلی وو هغوئ ته

رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ وَمَا كَانُوْا

رسولان دَ هغوئ په ښکاره معجزاتو سره او هرګز نهٔ وُو

لِيُؤْمِنُوْا ؕ كَذٰلِكَ نَجْزِى الْقَوْمَ

ایمان راوړونکی هم داشان سزا ورکوؤ مونږ قوم

الْمُجْرِمِيْنَ ﴿۱۳﴾

ګنهګارو ته.

نکات:- ۱ یعنی ټول دَ ربوبیت صفتونه ۱۲ ۲ زجر دے ۱۲ ۳ شکوی ده ۱۲ ۴ یعنی المشرکین ۱۲ ۵ تخویف دنیوی ۱۲.

موضح قرآن ف اول چه عجیبه نعمتونه اووینی وائی پاک ذات دے یعنی سبحان الله. بیا چه دَ هغے خوند لذت بیا مومی نو وائی به الحَمْدُ لِلّٰهِ. او په جنت کښې دَ ملاقات طریقه داده السلام علیك کوم چه مسلمانان په دُنیا کښې کوی ۱۲ ف۲ یعنی انسان غواړی چه دَ نیکئ بدله په جلتی جلتی اوکړی نو دَ خپلو بندګانو به فرصت بیا نهٔ مومی لیکن په دواړو کښې تحمّل دَ الله تعالی له

دے دپاره چه نیک خلق تربیت بیا مومی. او بد کار خلق په غفلت کښې پاتے شی.

فتح الرحمٰن | ۵ یعنی او نعمت ورکوی ۱۲.

تفسیر: ۱۸ دَ دعوٰی معنیٰ قول او کلام دے یعنی په جنت کښې به دَ اهلِ جنت کلام دَ الله تعالیٰ تسبیح او تقدیس وی ای قولهم وکلامهم (خازن ج ۳ ص ۲۰۷) یا دعوٰی په معنیٰ دَ دعاء ده. سُبْحٰنَكَ اللّٰهُمَّ یعنی اے الله ته پاک یې دَ هغې نه چه ستا په مخکښې څوک غالب شفیع وی. وَتَحِیَّتُهُمْ فِیْهَا سَلٰمٌ. په جنت کښې به دَ الله تعالیٰ دَ طرفه او فرښتو دَ طرفه دَ سلام تحفه ملاویږی. دَ مسئله توحید منلو په وجه سره نن دَ اخرت دَ عذاب نه دَ امن او سلامتیا خوشخبری تاسو ته درکولے شی. یا مطلب دا دے چه په خپل مینځ کښې یو بل ته دَ امن او سلامتیٰ تحیه پیش کوی. اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ یعنی دَ کارسازئ صفات او دَ الوهیت صفات الله تعالیٰ پورے خاص کړے شوی دی او دَ عبادت او رابللو لائق صرف هغه دے اهلِ جنت چه کله جنت ته داخل شی او دَ الله تعالیٰ دَ عظمتِ شان کتنه اوکړی او دَ جنت قِسم قِسم نعمتونه اووینی نو دَ الله تعالیٰ تسبیح او تقدیس او تعظیم او تمجید به په ځائے راوړی. هغې نه روستو به دَ الله تعالیٰ او فرښتو له طرفه ته دَ سلام تحفه ملاویږی په دے باندے به هغوئ دَ الله تعالیٰ حمد او ثناء وائی (مظهری ملخصًا) اول کلامهم التسبیح واخره التحمید فیبتدؤن بتعظیم الله وتنزیهه ویختمون بالشکر والثناء علیه الخ (مدارك ج ۲ ص ۱۲۱) ۱۹ دا زجر دے اِسْتِعْجَالَهُمْ منصوب دے په نزع دَ خافض دَ دې نه مخکښې کاف تشبیه مقدر دے ای کاستعجالهم مخکښې وخت به مشرکانو دَ الله تعالیٰ نه دَ عذاب دُعاګانے غوښتل شروع کړل چه اے الله که چرے محمد صلی الله علیه وسلم او دَ هغهٔ دین رښتونی وی نو په مونږ باندے دَ اسمان نه کاڼی اووروه یا په بل کوم عذاب مونږ هلاک کړه. اَللّٰهُمَّ اِنْ كَانَ هٰذَا هُوَ الْحَقَّ مِنْ عِنْدِكَ فَاَمْطِرْ عَلَیْنَا حِجَارَةً مِّنَ السَّمَآءِ اَوِ ائْتِنَا بِعَذَابٍ اَلِیْمٍ (انفال ۳۲) نو الله تعالیٰ اوفرمائیل څنګه چه الله تعالیٰ خیر او نیکئ غوښتلو کښې تلوار کوی او هغوئ ته نیکی ورکولے شی داشان که چرے الله تعالیٰ دَ دوئ دَ شر او عذاب مطالبه هم پوره کولے نو بیخوا به فیصله شوے وه او هغوئ به په تاخاپی عذاب تباه او برباد شوی وُو لیکن الله تعالیٰ دَ استدراج په طور هغوئ ته مهلت ورکوی دے دپاره چه هغوئ زیات نه زیات نافرمانی اوکړی او دَ هغهٔ دَ احکامو نه سرکشی اوکړی او اخرکار هغوئ په ډیر زیات سخت عذاب کښې مبتلا کړے شی. یَعْمَهُوْنَ ای یلعبون ویتحیرون. دا دَ هغه خلقو حال دے دَ چا په زړونو چه مهرجباریت لګیدلے دے او دَ هغوئ په نیغه لاره دَ راتللو امکان نشته. ۲۰ دا شکوی ده انسان څومره احسان هیره وونکے دے دَ الله تعالیٰ

دَ قدرت واضحه نښې ئې اولیدې او دَ هغهٔ بې حساب نعمتونه ئې ملاحظه کړل بیا هم دَ عقل او فکر نه کار نهٔ اخلي شرك کوي. حال دا دے چه کله په هغهٔ باندے څهٔ ډیر لوئے مصیبت راځي نو خپل ټول دَ لا سونو جوړ شوي معبودان هیر کړي په هر حالت کښ صرف الله تعالٰی ته آواز کوي. دَ عربو مشرکانو دَ خپلو معمولي حاجتونو او مشکلاتو دَ پاره خو خپل باطل معبودانو ته آواز کولو. لیکن چه کله به په ډیر سخت مشکلاتو کښ او مصیبتونو کښ راګیر شول نو ټول به ئې پریښودل صرف یو دَ محمد صلی الله علیه وسلم رب جلّ جلاله ته به ئې آواز کولو. او دَ هغهٔ منښتې به ئې کولے حضرت شیخ فرمائي هغوئ دَ پیغمبر خُدا صلی الله علیه وسلم نه اوریدل چه که چرے دَ توحید مسئله اُونهٔ منئ نو الله تعالٰی به تاسو دردناك عذاب سره هلاك کړي دَ دے وجے نه هغوئ چه به کله په دریابونو او سمندرونو کښ په کشتو کښ سفر کولو او تیز او تُند هواګانو سره به خوف ناك چپو کشتۍ غرقوله نو سمدستي به ورته دَ پیغمبر صلی الله علیه وسلم خبره یاد شوله او هغوئ به پوهه شول چه شاید دَ کوم عذاب نه چه پیغمبر صلی الله علیه وسلم ویره وُلو هغه راغے. دَ دے وجے نه به ئې الله پاك ته آواز کولو. لکه چه په سورهٔ یونس کښ دی. جَآءَتۡهَا رِيۡحٌ عَاصِفٌ وَّجَآءَهُمُ الۡمَوۡجُ مِنۡ كُلِّ مَكَانٍ وَّظَنُّوۡۤا اَنَّهُمۡ اُحِيۡطَ بِهِمۡ دَعَوُا اللّٰهَ مُخۡلِصِيۡنَ لَهُ الدِّيۡنَ الخ (ع ۳) او په سورهٔ انعام رکوع ۴ کښ ارشاد دے قُلۡ اَرَءَيۡتَكُمۡ اِنۡ اَتٰٮكُمۡ عَذَابُ اللّٰهِ اَوۡ اَتَتۡكُمُ السَّاعَةُ اَغَيۡرَ اللّٰهِ تَدۡعُوۡنَ‌ۚ اِنۡ كُنۡتُمۡ صٰدِقِيۡنَ ○ بَلۡ اِيَّاهُ تَدۡعُوۡنَ فَيَكۡشِفُ مَا تَدۡعُوۡنَ اِلَيۡهِ اِنۡ شَآءَ وَتَنۡسَوۡنَ مَا تُشۡرِكُوۡنَ او په سورهٔ انعام کښ دی. قُلۡ مَنۡ يُّنَجِّيۡكُمۡ مِّنۡ ظُلُمٰتِ الۡبَرِّ وَالۡبَحۡرِ تَدۡعُوۡنَهٗ تَضَرُّعًا وَّخُفۡيَةً‌ ۚ لَٮِٕنۡ اَنۡجٰٮنَا مِنۡ هٰذِهٖ لَنَكُوۡنَنَّ مِنَ الشّٰكِرِيۡنَ (ع ۸) دَ مشرکانو عقیده وه چه دَ ټول عالم نظام تدبیر او لوئے لوئے کارونه او سخت حوادث دَ الله تعالٰی په اختیار کښ دی. حضرت شاه ولی الله رح فرمائي وعقیده اثبات خدائی تعالٰی وانکه خدا خالق آسمان وزمین است ومدبر حوادث عظام وقادر برارسال رسل ومجازاة عباد براعمال ایشاں ومقدر حوادث عظام است وقادر قبل ازوقوع آن...... درمیانِ ایشاں (مشرکین) ثابت بود (الفوز الکبیر باب اول فصل اوّل).

۲۱ لیکن چه کله مونږ دَ هغوئ نه مصیبت لرے کړو نو بیا هغوئ دوباره خپل دَ شرك مخکنۍ لاره باندے روان شول او خپل تکلیف او مصیبت ئې داسے هیر کړو لکه چه هغوئ ته څهٔ تکلیف بالکل نهٔ وُ رسیدلے دَ کوم تکلیف لرے کولو دَ پاره چه هغوئ الله رابللے وُ. ای مضی واستمر علی ما کان علیه قبل ونسی حالة الجهد والبلاء (روح ج ۱۱ ص ۸۰) والمعنی انه استمر علی حالته الاولٰی قبل ان یمسه الضرونسی ما کان فیه من الجهد والبلاء والضیق والفقر (خازن ج ۳ ص ۱۲۵)

۲۲ الۡمُسۡرِفِيۡنَ یعني مشرکان هغه څوك چه مشرکانه اعمال او افعال کوي

شیطان د هغوئ په زړونوکښ د هغ د بنهٔ والی خیال کینوی د الله تعالیٰ د خالص عبادت او را بللو سره د اعراض کولو د مصیبت لرے کولو نه روستو بیا خپل باطل معبودان را بلل هغوئ یو بنهٔ تصور کوی ۔ (مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ) من الاعراض عن الذکر والدعاء والانهماك فی الشهوات (روح) ۲۳ تخویف دنیوی تخوف بذلك کفار مکه (خازن) کوم خلق چه ایمان نهٔ راوړی د توحید نه انکار کوی او د رسالت او قیامت تکذیب کوی هغوئ د دے دنیا په ژوند او د دے ځائے په عیش عشرت باندے نهٔ مطمئن کیږی او داخیال دِ نهٔ کوی چه هغوئ ته به هیڅ نقصان نهٔ رسیږی د دوئ نه مخکښ قوم نوح او عاد او ثمود وغیره حشر هغوئ ته بنهٔ معلوم دے ۔ هغوئ ته د الله پیغمبر د توحید پیغام راوړلو سره راغے او واضحه او روښانه دلائیلو سره ئے د توحید مسئله بیان کړه لیکن هغوئ د دینه انکار اوکړو او منلو ته تیار نهٔ شول نو مونږ هغوئ په ډیر سخت عذابونو سره نیست او نابود کړل ۔ لَمَّا ظَلَمُوْا یعنی چه کله هغوئ د توحید نه انکار اوکړو او د هغهٔ پیغمبران ئے دروغژن اوګنړل او شرک کول ئے شروع کړل ۔ لَمَّا ظَلَمُوْا یعنی لما اشرکوا (خازن ومدارك ج ۳ ص۱۱) ای کفروا واشرکوا (قرطبی ج ۸ ص۳۱) كَذٰلِكَ نَجْزِي الْقَوْمَ الْمُجْرِمِيْنَ ۔ مجرمانو سره داقسم سلوک څمونږ سنت جاریه (همیشه طریقه) ده لهذا که چرے د مکے مشرکان هم د عادیانو او ثمودیانو پشان تکذیب اوکړو او په شر او کفر باندے قائم پاتے شول نو د هغوئ حشر به هم دا شان وی یعنی کما اهلکنا الامم الخالیة لما کذبوا رسلهم کذلك نهلککم ایها المشرکون بتکذیبکم محمدا صلی الله علیه وسلم (خازن ج ۳ ص۱۲۶)

ثُمَّ جَعَلْنٰكُمْ خَلٰٓئِفَ فِي الْاَرْضِ مِنْ

بیا مونږ تاسو ناثبان جوړ کړئ ۲۴ په زمکه کښ د هغوئ نه

بَعْدِهِمْ لِنَنْظُرَ كَيْفَ تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۴﴾

روستو د دے د پاره چه اوګورو تاسو څهٔ کوئ ۔

وَاِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِمْ اٰيَاتُنَا بَيِّنٰتٍ ۙ

او کله چه اولوستلے شی د هغوئ په مخکښ ایتونه څمونږ واضح ۲۵

قَالَ الَّذِيْنَ لَا يَرْجُوْنَ لِقَآءَنَا ائْتِ

وائی هغه خلق د چاچه اُمید نشته څمونږ د ملاقات راوړه

بِقُرْاٰنٍ غَيْرِ هٰذَآ اَوْ بَدِّلْهُ ؕ قُلْ مَا
يو قرآن د دې نه سوا يا دا بدل کړه ته او وايه نشي
يَكُوْنُ لِيْٓ اَنْ اُبَدِّلَهٗ مِنْ تِلْقَآئِ نَفْسِيْ ۚ
کار نه دے ؎ چه دا بدل کړم د خپل طرف نه
اِنْ اَتَّبِعُ اِلَّا مَا يُوْحٰٓى اِلَيَّ ۚ اِنِّيْٓ اَخَافُ اِنْ
زه تابعداري کوم د هغې چه د کوم ما ته حکم اوشي زه ويريږم که چرې
عَصَيْتُ رَبِّيْ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيْمٍ ﴿۱۵﴾
نافرماني اوکړم د خپل رب د عذاب د ورځې لوئې نه وا
قُلْ لَّوْ شَآءَ اللّٰهُ مَا تَلَوْتُهٗ عَلَيْكُمْ
او وايه که چرې الله غوښتلے وے ؎ نو ما به نه لوستلو هغه ستاسو په مخکښې
وَلَآ اَدْرٰىكُمْ بِهٖ ۖ فَقَدْ لَبِثْتُ فِيْكُمْ
او نه به هغه تاسو ته خبر درکولو د هغې ځکه چه زه پاتې شوې يم تاسو سره
عُمُرًا مِّنْ قَبْلِهٖ ؕ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿۱۶﴾ فَمَنْ
يو عمر د دې نه مخکښې ؎ آيا بيا تاسو سوچ نه کوئ ؎ بيا د هغه نه
اَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا اَوْ
لوئې ظالم څوک دے ؎ چه جوړ کړي په الله تعالىٰ باندې دروغ يا
كَذَّبَ بِاٰيٰتِهٖ ؕ اِنَّهٗ لَا يُفْلِحُ الْمُجْرِمُوْنَ ﴿۱۷﴾
دروغ اوګڼړي د هغه آيتونه بې شکه خلاصې نۀ مومي ګنهګاران ؎

نکات: ؎ شکوی ده ۱۲ ؎ جواب د شکوی ۱۲ ؎ دا د ماقبل دليل دے ۱۲ ؎ فاء تفريعيه ده. او زجر دے ۱۲.

موضح قرآن: ف د دے قرآن وعظ نصيحت خو به ئې خوښولو او د بتانو باطل والے به ئې نۀ منلو نو وئيل به ئې دومره خو بدل کړې نو مونږ به دا ټول کلام قبول کړو ۱۲ ف۲ يعني د خپل ځان نه م چه جوړه وے نو به

څلویښت کاله عمر کښې به مې جوړ کړې وې یا به مې دا قسم خیال کړې وې ۱۲
ف ۳ یعنی که چرې زهٔ (دروغ) جوړه وم نو څما پشان ظالم نشته او چه زهٔ ریښتونی یم نو په دروغژنو باندې داخبره (ثابته) ده ۱۲.
تفسیر ۲۳ ډ تیر شوو قومونو نه روستو اوس ستاسو نمبر دے الله تعالیٰ تاسو ته خپل اخری پیغمبر د توحید پیغام سره لیږلے دے، دِ دے د پاره چه ستاسو امتحان اوشی چه تاسو څنګه کار کوئ ستاسو سره به هم ډ مخکښې پشان معامله کیږی منونکی به د جزاء خیر مستحق ګرځی او منکرین به د سخت عذاب لائق وی.
۲۵ قَالَ الَّذِيْنَ لَا يَرْجُوْنَ . دا شکوی ده یعنی چه کله مشرکانو ته څمونږ پیغمبر ښکاره او واضح ایتونه اوروی او لولی په کوم کښې چه د توحید دلائیل او د شرک د رد بیان وی او په کوم کښې چه د دوئ د باطل معبودانو د بے وسئ او عاجزئ ذکر وی نو هغوئ وائی دا قرآن کریم خو مونږ نهٔ منو لیکن که چرې بل کوم یو قرآن راوړئ یا په دے کښې بدلون اوکړئ مقصد دا دے چه قرآن کښې څمونږ د معبودانو د توهین او سپکاوی مضمون نهٔ وی او نهٔ په دے کښې د حشر او نشر ذکر وی نو مونږ به د دے په سر سترګو قبلولو ته تیار شو. (وَاِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِمْ اٰيٰتُنَا) الدالة علی حقیة التوحید وبطلان الشرک ...... ای ائت بکتاب اخر نقرءه لیس فیه ما نستبعده من البعث والحساب والجزاء وما نکرهه من ذم الهتنا ومعایبها والوعید علی عبادتها (ابوالسعود ج ۴ ص ۳۸) اَوْ بَدِّلْهُ بان تجعل مکان ایة عذاب ایة رحمة وتسقط ذکر الالهة وذم عبادتها (مدارک ج ۲ ص ۱۲۰)
۲۶ د ضمیر په ځائے موصول کیښودلو سره د دوئ د قول علت بیانول مقصود دے داشان دے طرف ته اشاره ده چه هغوئ دومره بد خبره ځکه اوکړه چه د دوئ په زړونو کښې د قیامت د عذاب نه هیڅ ویره نشته. وضع الموصول موضع الضمیر اشعارا بعالیه فی حیز الصلة للعظیمه المحکیة عنهم وانهم انما اجترءوا علیها لعدم خوفهم من عقابه تعالیٰ یوم اللقاء (ابوالسعود ج ۴ ص ۴۹)
۲۷ دا د شکوی جواب دے یو بل قرآن راوړلو یا دے قرآن کښې د ترمیم (نقصان) کولو مطالبه داشان کوی چه د قرآن نازول څما په اختیار کښې دی یا څه په خپله خوښه قرآن راوړلے شم. که چرې زهٔ د دے د احکامو خلاف وړزی اوکړم او د دے کتاب احکامو کښې بدلون راولم نو څما سره ویره ده چه هغه مالره په عذاب کښې مبتلا کړی. انی اخشی من الله ان خالفت امره اوغیرت احکام کتابه او بدلته فعصیته بذلک ان یعذبنی بعذاب عظیم فی یوم تذهل کل مرضعة عما ارضعت (خازن ج ۳ ص ۱۸۱) ۲۸ یعنی نزول هرڅهٔ د الله په اختیار او مرضئ سره دی زهٔ خپلے خوښے سره هیڅ نشم کولے. که چرې الله تعالیٰ غوښتلے وے نو زهٔ به ئے نو مے رالیږلے او نه به تاسو ته د قرآن ایتونه

نهٔ اورولے او ځما په وساطت سره به الله تعالیٰ تاسو ته دَ قرآن خبر نهٔ درکولے
والمعنی ان الامر کله منوط بمشیته تعالیٰ ولیس لی منه شئ قط (ابوالسعود ج۴ ص۵۰)
یعنی لو شاء الله لم ینزل علی هذا القرآن ولم یأمرنی بقراءته علیکم (خازن).
۲۹ دا دَ ما قبل دلیل دے. دَ نزول قرآن نه مخکښې زهٔ یو اوږد زمانه یعنی
څلویښت کاله پاتے شوے یم. ځما امانت او دیانت تاسو ته ښهٔ معلوم دے او
تاسو ته دا هم معلومه ده چه ما دَ چا نه لیکل لوستل هم نهٔ دی زده کړی
نو معلومه شوه چه اوس زهٔ کوم قرآن ستاسو په مخکښې پیش کوم دا ما ځان
ځان نه نهٔ دے جوړ کړے بلکه دَ الله تعالیٰ کلام دے او دَ الله په حکم سره ئے پیش
کوم. ای من قبل القرآن تعرفوننی بالصدق والامانة لا اقرأ ولا اکتب ثم جئتکم
بالمعجزات (قرطبی ج ۸ ص ۳۲۲) اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ نو آیا اوس هم تاسو سوچ نهٔ کوئ
او نهٔ پوهیږئ چه دا قرآن او دے کښې دَ توحید ذکر شوے مسئله دَ ځان نه
نهٔ ده جوړه شوے بلکه ټول هر څهٔ من جانب الله دی. ۳۰ دا زجر دے فا
تفریعیه ده یعنی چه کله دلائل عقلیه قاهره سره دَ شرک نفی او منع ثابت شو
نو دینه روستو هم چه څوک شرک نهٔ پریږدی دَ هغهٔ نه لوئے ظالم څوک
کیدے شی کوم سړے چه په الله باندے افتراء کوی یعنی یو طرف ته خو هغه
شرک کوی او دے سره دا هم وائی چه الله دے سره خوشحال دے او الله خپل
غوږ کړے شو بند کانو ته دَ آواز کولو اجازت ورکړے دے دا سے سړے یا هغه
څوک چه قرآن من جانب الله کیدل او دَ توحید دلائل دروغ ګنړی. دَ هغوی
نه دنیا کښې لوئے ظالم څوک کیدے شی. یعنی فزعم ان له شریکًا وولدًا......
کذب بآیاته یعنی جحد بکون القرآن من عند الله وانکر دلائل التوحید (معالم
وخازن ج ۳ ص ۱۸۱) استفهام انکاری دے مطلب دا دے چه دَ دهٔ نه لوئے ظالم
بل څوک نهٔ دے استفهام بمعنی الجحد ای لا احد اظلم ممن افتری الخ (قرطبی)

وَيَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا لَا يَضُرُّهُمْ
او عبادت کوی دَ الله نه سِوا الله دَ هغه څیز چه نهٔ نقصان رسوی هغوی ته
وَلَا يَنْفَعُهُمْ وَيَقُوْلُوْنَ هٰٓؤُلَآءِ شُفَعَآؤُنَا
او نهٔ نفع او وائی ۳۱ دا خو ځمونږ سفارشیان دی
عِنْدَ اللّٰهِ ؕ قُلْ اَتُنَبِّـُٔوْنَ اللّٰهَ بِمَا لَا يَعْلَمُ
الله سره نهٔ او وایه آیا الله ته خبر ورکوی ۳۲ چه کوم هغهٔ ته معلوم نهٔ دی

فِي السَّمٰوٰتِ وَلَا فِي الْاَرْضِ ۭ سُبْحٰنَهٗ

په آسمانونو کښې او نه په زمکه کښې هغه پاک دے

وَتَعٰلٰى عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ﴿۱۸﴾ وَمَا كَانَ النَّاسُ

او پورته دے د هغې نه کوم چه شریکوی ئې ف او خلق

اِلَّآ اُمَّةً وَّاحِدَةً فَاخْتَلَفُوْا ۭ وَلَوْلَا كَلِمَةٌ

یو ټولے وو ف۱۹ روستو جدا جدا شول او که چرے نه وے یوه خبره

سَبَقَتْ مِنْ رَّبِّكَ لَقُضِيَ بَيْنَهُمْ فِيْمَا فِيْهِ

ثابت شوے مخکښې ستا د رب نو فیصله به شوے وه په دوئی کښې په کومه خبره کښې چه هغوئی

يَخْتَلِفُوْنَ ﴿۱۹﴾ وَيَقُوْلُوْنَ لَوْلَآ اُنْزِلَ عَلَيْهِ

اختلاف کوی. او وائی ف۲۰ ولے نازل نه شوه په هغهٔ باندے

اٰيَةٌ مِّنْ رَّبِّهٖ ۚ فَقُلْ اِنَّمَا الْغَيْبُ لِلّٰهِ

یوه معجزه د هغهٔ د رب د طرفه نو او وایه چه ف۲۱ چه د غیب خبره الله پیژنی

فَانْتَظِرُوْا ۚ اِنِّيْ مَعَكُمْ مِّنَ الْمُنْتَظِرِيْنَ ﴿۲۰﴾ ع

نو انتظار کوئی زه هم ستاسو سره انتظار کوم - ف۲۲

وَاِذَآ اَذَقْنَا النَّاسَ رَحْمَةً مِّنْۢ بَعْدِ ضَرَّاۗءَ

او کله چه اوڅکوو مونږ خلقو ته خوند د خپل رحمت ف۲۳ روستو د یو تکلیف نه

مَسَّتْهُمْ اِذَا لَهُمْ مَّكْرٌ فِيْٓ اٰيَاتِنَا ۭ قُلِ اللّٰهُ

کوم چه هغوئی ته رسیدلے وو هغه وخت حیلے جوړول شروع کړی ئې څمونږ په قدرتونو کښې ف او وایه چه الله

اَسْرَعُ مَكْرًا ۭ اِنَّ رُسُلَنَا يَكْتُبُوْنَ مَا تَمْكُرُوْنَ ﴿۲۱﴾

زر جوړولے شی حیلے بیشکه څمونږ فرشتے لیکی ستاسو حیلے جوړول ف۲۴ ف۲۵

**نکات:** ف۱ زجر په طور د شکوی او په توحید باندے دریم دلیل عقلی دے ۱۲ ف۲ د مشرکانو عذر د شرک کولو د پاره ۱۲ ف۳ د مشرکانو د عذر جواب ۱۲

ــــ شکوی ده ۱۲ ــــ دَشکوی جواب دے ۱۲ ــــ زجر ۱۲-

**موضح قرآن** | **ف۱** څوک چه مشرکان دی نو هم دا وائی چه الله بیو دے الله یو دے او دا شریکان دَ هغه دَ طرفه په موږ مختار دی نو وے فرمائیل چه که چرے هغه مختار کړ څوك وے نو تاسو به ئے وے دَ هغې نه منع کولے او څوک چه وائی چه څمونږ په دین کښې ئے منع نه ده کړې تاسو به ئے منع کړے ئے نو په مخکښې راتلونکی ایت کښې دَ هغې جواب دے چه دَ الله دین یو دے کله چه خلق گمراه شوی دی هغوئی نه ئے بیان کړی دی چه په اعتقاد کښې فرق نشته او څوك چه وائی چه که چرے تاسو ریښتونی ئے نو موږ باندے به دنیا کښې عذاب راغلے وے. دَ دے جواب هم مخکښې راتلونکی ایت کښې دے چه دَ فیصلے ورځ راځی ۱۲ **ف۲** یعنی که چرے او وائی چه موږ څخه پوهه شو چه ستا خبره ریښتونی ده. وے فرمائیل چه مخکښې کوم نبی الله به دین روښانه کړی او مخالف به ذلیل او گرځی نو هم دا شان او شول دَ ریښتیا نښه یو ځل کافی ده او چه هر ځل مخالف ذلیل شی نو فیصله به او شی دَ فیصلے ورځ په دنیا کښې نهٔ ده ۱۲-

**ف۳** یعنی دَ سختئ په وخت دَ انسان دَ نظر دَ اسباب نه پورته شی په الله پریوځی کله چه کار برابر شو نو په اسباب پریوتل شروع شو نو نهٔ ویریږی چه بیا الله یو سبب را پیدا کړی دَ هغه تکلیف. دَ هغهٔ په لاس کښې ټول اسباب تیار دی دَ هغې صورت ئے مخکښې (راتلونکی ایت کښې) بیان کړو-

**فتح الرحمٰن** | **ف۱** دَ نعمت ناشکرئ سره ۱۲
**ف۲** هغې نه روستو الله تعالیٰ بیا کوی دَ مکر او کفران نعمت دَ کیفیت.

**تفسیر:** **۱۳** دا زجر دے په طور دَ شکوی او په توحید باندے دریم دلیل عقلی دے دَ عقل سلیم تقاضا دا ده چه عبادت او آواز صرف هغه ذات ته جائز دے دَ چا په اختیار او تصرف کښې چه دَ مخلوق نفع او نقصان وی او دا سے ذات نه سِوا بل څوك نشته. مشرکان چه څوك نفع رسونکی او ضرر رسونکی گڼړی او آوازوَ ته کوی هغوئی بالکل عاجز او بے وسه دی نفع او ضرر دَ هغوئی په اختیار کښې نشته لِهذا دَ هغوئی عبادت او را بلل هم جائز نهٔ دی دلته دَ سورت دعوی هم ضمناً ذکر شوی ده. یعنی مشرکان خپل باطل معبودان دَ الله سره شفیع غالب گڼړی حال دا دے چه الله تعالیٰ هغوئی ته دا اختیار نهٔ دے ورکړے. **۱۳** دا دَ مشرکانو دَ طرفه دَ خپل شرکی فعل دَ ارتکاب په باره کښې معذرت دے یعنی موږ چه دَ الله کوم نیک او غوره بندگان را بلو هغوئی مستقل بالذات نفع رسونکی او ضرر رسونکی یا متصرّف او مختار نهٔ گڼړو بلکه دَ هغوئی په باره کښې څمونږ عقیده دا ده چه چونکه هغوئی دَ الله محبوب او خوښ دی او الله

بانېږ ے څمونږ کار روانه کوی ذدے وجه نه مونږ هغوئی رابلو ای تشفع لنا عند الله فی اصلاح معاشنا فی الدنیا (قرطبی ج ۸ ص ۳۲۲) یعنی په دنیا کښې څوشحالي او معاشی اصلاح مونږ ته ذ دے معبودانو ذ سفارش په وجه حاصلیږی. ذ سفارش نه دنیوی سفارش مراد دے ځکه چه مشرکان ذ آخرت قائل نهٔ وو. ذ ځنو په نزد په آخرت کښې شفاعت مراد دے او مطلب دا دے چه بفرض محال که چرے قیامت راشی نو څمونږ معبودان به مونږ ذ الله ذ عذاب نه خلاص کړی لکه چه نضر بن حارث وئیلے وو ذ قیامت په ورځ به څما معبود څما سفارش کوی عن النضر بن الحارث اذا کان یوم القیامة یشفع لی اللات (ابو سعود ج ۴ ص ۵۵) ذ عربو مشرکانو چه ذ الله ذ کوم نیک او غوره بندګانو عبادت کولو او را بلل به ئے په هغوئی کښې څنې ذ الله جلیل القدر پیغمبران وو او څنې اولیاء کرام هغوئی ذ دے بزرګانو بتان جوړ کړے وو په عبادتخانو کښې ئے اودرولی وو او په ظاهره به ئے معامله ذ عبادت ذ هغه بتانو سره کوله ذ هغوئی په مخکښې به ئے سجدے کولے. ذ هغوئی ذ وړاندے به ئے نذرونه او منتے کیښودلے. او ذ هغوئی مخامخ به اودریدل او زاری او عاجزی به ئے کوله ذ حاجت پوره کولو او مشکل آسانولو دپاره به ئے دعاګانے کولے. لیکن دے سره ذ هغوئی مقصد ذ دے بے بس (کمزور) او بے روح مجسمو معبودان او کارساز ګڼړل نهٔ وو بلکه دا بتان خو محض ذ توجه او یکسوئی دپاره ذ قبلے په طور وو ذ هغوئی مقصد دا وو چه کله هغوئی ذ دے انبیاؤ او اولیاؤ علیهم السلام ذ بتانو تعظیم او عبادت اوکړی نو هغه مشران به ذ دوئی نه خوشحال شی ذ خدائے سره به ذ دوئی دپاره سفارش کوی.

انهم وضعوا هذه الاصنام علی صور انبیاءهم واکابرهم وزعموا انهم متی اشتغلوا بعبادة هذه التماثیل فان اولئک الاکابر یشفعون لهم عند الله تعالی (ابو سعود ج ۴ ص ۵۵)

ذ مشرکانو بتانو سره معامله داشان وه لکه چه نن سبا ذ قبر پرستو ذ قبرونو سره ده. نن سبا ډیر خلق ذ قبرونو عبادت او تعظیم کوی قبرونو ته سجدے کوی او په هغے نذرونه او منتے اچوی دے سره ذ هغوئی ذ قبرونو عبادت او تعظیم مقصود نهٔ وی بلکه مقصود ئے دا وی چه داشان به څمونږ نه ذ قبرونو والا خوشحاله شی او ذ الله په نزد به څمونږ سفارش کوی امام رازیؒ ذ مشرکین عرب او ذ خپل زمانے (اووم صدئ) ذ مشرکانو ذ فعل موازنه کړے ده او فرمائیلی دی انهم وضعوا هذه الاصنام والاوثان علی صور انبیاءهم واکابرهم وزعموا انهم متی اشتغلوا بعبادة هذه التماثیل فان اولئک الاکابر تکون شفعاء لهم ونظیره فی هذا الزمان اشتغال کثیر من الخلق بتعظیم قبور الاکابر علی اعتقاد انهم اذا عظموا قبورهم فانهم یکونون شفعاء لهم عند الله (کبیر ج ۴ ص ۹۱) امام ابو السعودؒ حنفی او امام رازی شافعیؒ ذ قول نه معلومه شوه چه دا آیت ذ کانړو

بے روح معبودانو پارہ کښې نهٔ دے بلکه دَ انبیاؤ او اولیاؤ او ملائکه علیهم السلام
پارہ کښې دے. ۳۳ دا دَ مشرکانو دَ ذکر شوے دعوی جواب دے یعنی په زمکه
او اسمان کښې دَ الله په نزد څوک شفیع غالب نشته که چرے وے نو دَ الله
تعالی په علم کښې به وے او په تیر شوو کتابونو کښې به دَ هغې ذکر وے لیکن
تاسو (اے دَ عربو مشرکانو) الله تعالی ته یوه داسے خبره ښئ ودل غواړئ کوم
چه هغهٔ ته معلومه نهٔ ده ځکه چه دَ هغې وجود بالکل نشته. اتخبرون الله
ان له شریکا فی ملکه او شفیعا بغیر اذنه والله لا یعلم لنفسه شفیعا فی السموٰت
ولا فی الارض لانه لا شریك له فلذلك لا یعلمه (قرطبی ج ۸ ص ۳۲۳) سُبْحٰنَهٗ وَتَعٰلٰی
عَمَّا یُشْرِكُوْنَ. دَ هغه شریکانو او سفارشیانو نه پاك دے کوم چه هغوئ دَ الله
شریکان او دَ هغهٔ سره سفارشیان گرځوی.
۳۴ دَ فَاخْتَلَفُوْا نه روستو مضمون مقدر دے ای بعث الله النبیین الخ په
قرینه دَ سورۂ بقره كَانَ النَّاسُ اُمَّةً وَّاحِدَةً فَبَعَثَ اللّٰهُ النَّبِیّٖنَ الخ او په سورۂ
بقره کښې فَبَعَثَ نه مخکښې فَاخْتَلَفُوْا مقدر دے په قرینه دَ هغه ایت چه دَ کوم
تفسیر کولے شي لاندے. لکه چه دَ سورۂ بقره په تفسیر کښې تیر شوی دی
صفحه نمبر ۲۲۶. دَ خلقو اُمت واحده کیدلو او بیا په مختلف ډلو کښې تقسیمیدو
مضمون قرآن مجید کښې څو ځایونو کښې ذکر شوے دے. دنیا کښې دَ ټولو مخکښې
توحید او ټول خلق په توحید باندے متفق وو. توحید دین فطرت دۓ
دینه روستو بد عمله او بے دینه خلقو په توحید کښې اختلاف اوکړو او محض
دَ ضد په وجه سره دَ مسئله توحید حقانیت پیژندلو سره ئے دَ دیته انکار اوکړو
دَ دے اختلاف ختمولو او دَ توحید دَ مسئلے واضح کولو دَ پارہ الله تعالی انبیاء
علیهم السلام را اولیږل. دَ قرآن مجید دے موضوع باندے دَ متعدد ایتونو
یو ځائے کولو سره حسب ذیل امور واضحه طریقے سره معلومیږی.
(۱) اختلاف کوم خلقو اوکړو؟ غلط کارو او باغی عالمانو (۲) اختلاف کله
اوکړے شو؟ کله چه ایت بیّنات سره توحید واضح کړے شو او اختلاف کوونکو
دَ مسئله توحید دَ رښتنوالی پوره پوره علم اوشو. یعنی علماء سوء قصداً سره
دَ علم نه په توحید کښې اختلاف اوکړو. (۳) اختلاف ولے پیدا کړے شو؟
علماء سوء خالص دَ ضد او عناد او دنیاوی ریاست دَ وجے نه دَ توحید
دَ مسئلے په مقابله کښې دَ شرك محاذ پرانسته او توحید سره ئے اختلاف اوکړو
اوله خبره په سورۂ بقره کښې ذکر شوې ده وَمَا اخْتَلَفَ فِیْهِ اِلَّا الَّذِیْنَ اُوْتُوْهُ
مِنْۢ بَعْدِ مَا جَآءَتْهُمُ الْبَیِّنٰتُ بَغْیًۢا بَیْنَهُمْ (بقره ع ۲۶) دلته اختلاف دَ اهل علم
په جماعت کښې منحصر کړے شو. دویمه خبره په سورۂ ال عمران او شوری
کښې ذکر کړے شوه. وَمَا اخْتَلَفَ الَّذِیْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ اِلَّا مِنْۢ بَعْدِ مَا جَآءَهُمُ الْعِلْمُ

بَغۡیًا بَیۡنَهُمۡ (ال عمران ۲۶) وَمَا تَفَرَّقُوۡۤا اِلَّا مِنۡۢ بَعۡدِ مَا جَآءَهُمُ الۡعِلۡمُ بَغۡیًا بَیۡنَهُمۡ (شوری ۲ع)
دے دواړو اٰیتونو کښې د اهلِ کتابو اختلاف او تفرق د مسئلهٔ توحید نه علم حاصلولو نه
روستو حالت کښې منحصر کړے شو او واضحه کړے شوه چه اختلاف د جهالت
او ناپوهئ د وجے نه نهٔ وو بلکه سره د علم نه خالص د ضد او عناد او د حق د
لاړے نه د بغاوت په وجه سره وو. دریمه خبره دے دریواړو اٰیتونو کښې لفظ
بَغۡیًا، اِخۡتَلَفَ او تَفَرَّقُوۡا مفعول لهٔ دے چه د هغوئ د اختلاف او تفرق علت
بیانوی. زیات تفصیل د پارهٔ ۳ تفسیر سورهٔ اٰل عمران ص۵۳۱، حاشیه ۲۵ اوګورئ.
۳۵ داشکوی ده اٰیة. یعنی د هغوئ غوښتلے شوے معجزه. مشرکانو اګرچه لوئے
لوئے معجزے اولیدلے او د توحید واضحه دلائیل او براهین ئے اوریدلی وو
لیکن د ضد او عناد او انتهائی سرکشئ په وجه سره ئے په هغے کښې سوچ او فکر
اونکړو او د زیاتو معجزو راوړلو مطالبه ئے اوکړه. ارادوا اٰیة من الاٰیات التی
اقترحوها کانهم لفرط العتو والفساد ونهایة التمادی فی المکابرة والعناد لم یعدوا
البینات النازلة علیه علیه السلام من جنس الاٰیات واقترحوا غیرها مع انه قد
انزل علیه من الاٰیات الباهرة والمعجزات المتکاثرة الخ (ابوالسعود ج۴ ص۴۰۸)
مشرکانو به وئیل د مکے غرونه څمونږ د پاره سرهٔ زر اوګرځوه یا کم از کم ستا
کور خو د سرو زرو وی یا څمونږ فلانکے فلانکے پلار نیکهٔ ژوندی کړه
وغیره وغیره. ای معجزة غیر هذه المعجزة فیجعل لنا الجبال ذهبًا ویکون له
بیت من زخرف ویحیی لنا من مات من اٰبائنا (قرطبی ج۸ ص۳۲۳).
۳۶ داجواب شکوه دے یعنی معجزه راوړل خو یو طرف ته ما ته خو دا هم معلومه
نهٔ ده چه کله چرے الله تعالیٰ ته یوه معجزه څما په لاس ظاهرول منظور وی
نو هغه به کله ظاهریږی. داخو د غیب خبره ده او علم غیب د الله تعالیٰ ذات
پورے خاص دے ما ته د دے هیڅ علم نشته او نهٔ هغه څما د طاقت خبره ده
او نهٔ معجزه خپل اختیار سره ظاهرول لکه چه تاسو غواړئ د نبوت او رسالت
دلوازم نه ده. والمعنی انّ ما اقترحتموه وزعمتم انه من لوازم النبوة وعلقتم
ایمانکم بنزوله من الغیوب المختصة بالله تعالیٰ لا وقوف لی علیه (ابوالسعود ج۴ ص۴۰۹)
لهٰذا تاسو د خپل مطلوبه معجزے انتظار کوئ او زهٔ انتظار کوونکے یم چه د
اٰیات بینات نه د انکار په وجه او بے ځایه مطالبے سره الله تعالیٰ تاسو ته
څهٔ سزا درکوی.
۳۷ دا زجر دے د انسان د ناشکرئ او احسان فراموشئ دا عالم دے چه الله تعالیٰ
تکلیف او مصیبت لرے کړی هغهٔ ته خوشحالی او راحت ورکړی نو هغه د شکر
اداکولو په ځائے د الله په اٰیتونو کښې حیلے او حجتونه شروع کړی او وائی چه
داخو د الله تعالیٰ کلام نهٔ دے ای مکروا باٰیاتنا بدفعها وانکارها (مدارک ج۲ ص۱۲۱)

قُلِ اللّٰهُ اَسْرَعُ مَكْرًا (یعنی الله تعالیٰ ذ دوئ په جحود او انکار باندے دوئ ته ډیر زر عذاب ورکولے شي. مشرکانو د الله تعالیٰ د نعمتونو په مقابله کښ د هغهٔ د ایتونو نه د انکار تر بیرونه سوچ کړل نو الله تعالیٰ هغوئ ته د دے سزا ورکولو ډیر باریک او لطیف تر بیر رااوویستلو چه کراماً کاتبین ئے د دوئ د بد او بدهٔ اعمالو ډائرئ لیکلو باندے مامور کړل او د هغے موافق به دوئ ته پوره پوره سزا ورکولے شي او دا شان به هغوئ د محشر په ورځ ذلیل اورسوا کولے شي. ان رسل الله یکتبون مکرهم ویحفظونه وتعرض علیهم ما فی بواطنهم الخبیثة یوم القیٰمة ویکون ذلك سببًا للفضیحة التامة والخزی والنکال نعوذ بالله تعالیٰ منه (کبیر ج ۴ ص۲۲)

هُوَ الَّذِیْ یُسَیِّرُكُمْ فِی الْبَرِّ وَالْبَحْرِ ؕ حَتّٰۤی

الله هغه دے چه ګرځوی تاسو لره په ځنګل او دریاب کښ ترد ے چه

اِذَا كُنْتُمْ فِی الْفُلْكِ ۚ وَجَرَیْنَ بِهِمْ بِرِیْحٍ

تاسو کیني په کشتئ کښ او روان کړی هغه خلق په هوا

طَیِّبَةٍ وَّفَرِحُوْا بِهَا جَآءَتْهَا رِیْحٌ عَاصِفٌ وَّ

ښهٔ سره او خوشحاله شي په هغے سره نو راشي په کشتو باندے هوا تیزه او

جَآءَهُمُ الْمَوْجُ مِنْ كُلِّ مَكَانٍ وَّظَنُّوْۤا

راشي په هغوئ چپے د هره ځایه او پوهه شول

اَنَّهُمْ اُحِیْطَ بِهِمْ ۙ دَعَوُا اللّٰهَ مُخْلِصِیْنَ لَهُ

چه هغوئ راګیر کړے شول. راوے بللو الله او خالص ئے کړه د هغهٔ

الدِّیْنَ ۚ لَىِٕنْ اَنْجَیْتَنَا مِنْ هٰذِهٖ لَنَكُوْنَنَّ

بندګی - که چرے تا مونږ ته خلاصے راکړو د دینه نو بیشکه مونږ به

مِنَ الشّٰكِرِیْنَ ﴿۲۲﴾ فَلَمَّاۤ اَنْجٰىهُمْ اِذَا هُمْ

شکر ویستونکی شو. بیا چه کله هغوئ ته خلاصے ورکړو الله نو شروع ئے کړ

يَبْغُوْنَ فِي الْأَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ ۗ يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ

فساد هغه وخت په زمکه کښې ناحق واورئ خلقو ۳۹

اِنَّمَا بَغْيُكُمْ عَلٰٓى اَنْفُسِكُمْ ۙ مَّتَاعَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۡ

ستاسو فساد دے په تاسو بان دے نفع واخلئ د دُنیا د ژوند نه

ثُمَّ اِلَيْنَا مَرْجِعُكُمْ فَنُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ

بیا زموږ خواته ستاسو واپس راتلل دي موږ به درته اوښایو څه چه

تَعْمَلُوْنَ ﴿۲۳﴾ اِنَّمَا مَثَلُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا كَمَآءٍ

تاسو کول. ۴۰ د دُنیا د ژوند مثال داشان دے لکه چه موږ اوبه

اَنْزَلْنٰهُ مِنَ السَّمَآءِ فَاخْتَلَطَ بِهٖ نَبَاتُ

نازل کړے د اسمان نه نوګډ وډ راوټې هغې سره شینکے

الْاَرْضِ مِمَّا يَاْكُلُ النَّاسُ وَالْاَنْعَامُ ۭ حَتّٰٓى

د زمکے چه خوري ئے انسان اوچارپایان تر دے چه

اِذَآ اَخَذَتِ الْاَرْضُ زُخْرُفَهَا وَازَّيَّنَتْ

کله اونیولو زمکے خپل خائست او خائسته شوله

وَظَنَّ اَهْلُهَآ اَنَّهُمْ قٰدِرُوْنَ عَلَيْهَآ ۙ اَتٰىهَآ

او خیال اوکړو زمکے والا چه داځموږ لاس ته راغله ناڅاپه اورسیدو په هغې بانده

اَمْرُنَا لَيْلًا اَوْ نَهَارًا فَجَعَلْنٰهَا حَصِيْدًا كَاَنْ لَّمْ تَغْنَ

ځموږ حکم د شپے یا د ورځے بیا موږ اوګرځوله هغه ریبلے شوے لکه چه پروُ دلته نهٔ وه

بِالْاَمْسِ ۭ كَذٰلِكَ نُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ يَّتَفَكَّرُوْنَ ﴿۲۴﴾

اَبادي داشان موږ بیانوؤ دلائیل هغه خلقو د پاره ځوک چه غور کوي ف۱

نکات ۱ توحید بان دے شلورم دلیل عقلی ۲ د دُنیا د حقارت او بے ثباتئ بیان ۳ د دنیا د حقارت مثال ۱۲

## موضح قرآن

ف یعنی روح د اسمان نه راغلے په بدن کښې ملاؤ شو قوتونه اونیولو بیائے انسانی او حیوانی کار اوکړو چه کله په هر هرڅکښې او د هغه متعلقینو ته په هغهٔ باندے اعتماد پیدا شو ناڅاپه مرګ راغے څمونږ حکم را اورسیدو یعنی پوخ شو او زیړ شو بیا اوریبل شو یا کوم فوج ورباندے راغے چه په کچه ئے اوریبلو یعنی مرګ ناڅاپه راځي.

تفسیر: ۳۸ دا په توحید باندے شخلورم دلیل عقلي دے. جَرَیْنَ بِهِمْ، دلته د خطاب نه غیبت طرف ته التفات دے یعنی مخکښې ئے مشرکانو ته ضمیر خطاب سره مخاطبه اوکړه هغ نه روستوئے د ضمیر خطاب په ځائے ضمیر غائب استعمال کړو کله چه به مشرکانو په دریابونو او سمندرونو کښې سفر کولو او د هواګانې به موافق وونو ډیر به خوشحالیدل لیکن که چرے د هغوئ کشتۍ به په باد باران او طوفان کښې راګیرے شوے نو ډیر په خلوص سره به ئے الله ته اوازونه شروع کول او باطل معبودان به ئے هیرول او دا وعده به ئے کوله چه اے الله! که چرے تا مونږ ته د دے مصیبت نه خلاصے راکړو نو مونږ به ستا شکر ګذار بندګان جوړ شو او صرف ستا عبادت به کوؤ او په هر کار کښې به تا ته اواز کوؤ. لیکن چه کله به الله تعالیٰ د هغوئ کشتۍ صحیح او سلامت غاړے ته اورسولے نو بیا به ئے شرک شروع کړو. دَعَوُا اللّٰهَ مُخْلِصِيْنَ ای دعوه وحده وترکوا ما کانوا یعبدون (قرطبی ج ۸ ص ۳۲۵) مشرکانو به د حضرت پیغمبر خدا صلی الله علیه وسلم نه اوریدل چه که چرے د الله توحید اونهٔ منئ نو د الله تعالیٰ عذاب به راشي چه تاسو به هلاک کړي کله چه به هغوئ د دریاب په غضبناکو چپو کښې راګیر شول نو د هغوئ به دا خیال شو چه د کوم عذاب نه پیغمبر ویرولو هغه عذاب راغے د دے وجے نه به ئے خالص الله ته اواز کولو.

۳۹ دا تنبیه ده او دے سره د دُنیا د تحقیر او خساست بیان مقصود دے. مَتَاعَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا. منصوب دے په نزع د خافض ای فی متاع الحیٰوة الخ په کومه دُنیا باندے چه تاسو مغرور شوئ او حق نهٔ منئ هغه ډیره حقیره او بالکل بے وفاده دے د دُنیا د څو ورځو کښې تاسو د الله نافرمانی اوکړئ په خپلو ځانونو باندے ظلم او زیاتے اوکړئ اخر به د قیامت په ورځ ځما مخکښې راشئ چه هلته به د خپلو کړو سزا بیا مومئ.

۴۰ دا د دُنیا د حقارت او د دے د بے ثباتۍ مثال بیانول دی. اِخْتَلَطَ. زیات اوګنړ شول. زُخْرُفَهَا. کالے یعنی د تروتازه او شنو فصلونو او د ښائسته ګلونو د وجے نه زمکه د ناوے په شان ښائسته شوه. وَازَّيَّنَتْ. دا د ماقبل تفسیر دے کَاَنْ لَّمْ تَغْنَ بِالْاَمْسِ. لکه چه پرون د دے نوم او نښان هم نهٔ وو. څنګه چه د باران وریدلو نه روستو زمکه تروتازه او شنه او رنګ په رنګ ګلونو سره ښائسته او با رونقه اوګرځي لیکن چه کله څهٔ مرض یا افت راغے نو شنهٔ فصلونه او باغونه تباه شول او دا سے

تباه شول چه نوم او نشان ئے پاتے نهٔ شو لکه چه بالکل هلته هیڅ هم نهٔ وو. بالکل هم
داحال د دے دنیا دعالم دے د دے تروتازګی او خائست او رونق بالکل فانی او
ختمیدونکے دے. د دے وجے نه د دُنیا په عیش او عشرت کښ ورننوتلو او مشغولیدلو
سره د الله د توحید او د اخرت نه غافل کیدل نهٔ دی پکار.

وَاللّٰهُ يَدْعُوْٓا اِلٰى دَارِ السَّلٰمِ ؕ وَيَهْدِيْ مَنْ يَّشَآءُ

او الله تعالیٰ رابلی د سلامتیا کور ته الله او ښائی چا ته چه او غواړی

اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿۲۵﴾ لِلَّذِيْنَ اَحْسَنُوا الْحُسْنٰى

لار نیغه - چا چه او کړه نیکی هغوئ د پاره ده نیکه بدله

وَزِيَادَةٌ ؕ وَلَا يَرْهَقُ وُجُوْهَهُمْ قَتَرٌ وَّلَا ذِلَّةٌ ؕ

او زیات هم او نهٔ به پټوی د هغوئ مخونه تیاره او نهٔ رسوائی

اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ ۚ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿۲۶﴾

هغوئ به په جنت کښ وی هغوئ به دے کښ همیشه اوسیږی.

وَالَّذِيْنَ كَسَبُوا السَّيِّاٰتِ جَزَآءُ سَيِّئَةٍ ۢ بِمِثْلِهَا ۙ

او چا چه کړے وی بدی بدله به ملاوشی د بدئ د هغے برابر

وَتَرْهَقُهُمْ ذِلَّةٌ ؕ مَا لَهُمْ مِّنَ اللّٰهِ مِنْ عَاصِمٍ ۚ

او پټ به کړی هغوئ لره رسوائی هیڅوک نشته هغوئ لره د الله نه بچ کولو والا

كَاَنَّمَآ اُغْشِيَتْ وُجُوْهُهُمْ قِطَعًا مِّنَ

لکه چه پټ کړے شوی دی د هغوئ مخونه د توره شپے

الَّيْلِ مُظْلِمًا ؕ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ ۚ هُمْ

په ټوټو سره هغوئ دوزخ والا دی او هم دوئ به

فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿۲۷﴾

په هغے کښ همیشه اوسیدونکی وی.

نکات :۔ ۱ بشارت اُخروی ۱۲ ۲ یعنی جنت ۱۲ ۳ تخویف اُخروی ۱۲۔

فتح الرحمٰن | ۱ یعنی دَ خدائے لیدل۔

تفسیر :۔ ۱ بشارت اُخروی دے دَ دارالسلام نه مراد جنت دے لِلَّذِيْنَ اَحْسَنُوْا خبر مقدم۔ اَلْحُسْنٰى وَزِيَادَةٌ معطوف سره دَ معطوف علیه نه مبتداء مؤخر زِيَادَةٌ نه مراد دیدار الٰهی دے۔ قَتَرٌ تور والے او بد رنګی یعنی کومو خلقوچه دَ دُنیا دے ځو ورځے ژوند ون باندے دین ته ترجیح ورکړے ده او پوره اخلاص سره ئے توحید او رسالت او منلو او دَ شعائر اسلام پیروی ئے اوکړه هغوئ دَ پاره په اخرت کښ دَ جنت لازمی وعده ده هغوئ ته به دَ هغوئ دَ اعمالو جزاء ملاویږی دَ ټولو نه لوئے انعام چه به هغوئ ته ملاویږی هغه به دَ الله دیدار وی لکه چه دَ ډیرو صحابه کرامو نه نقل شوی دی۔ (وَزِيَادَةٌ) رؤية الربّ عزوجل كذا عن ابى بكر وحذيفة وابن عباس وابى موسى الاشعرى وعبادة ابن الصامت رضى الله تعالى عنهم (مدارک ج ۲ ص۱۲۲) دَ قیامت په ورځ به دَ بدعملو پشان دَ هغوئ مخونه تور او بد رنګ نه وی اونه به ذلت او رسوایئ سره هغوئ مخامخ وی۔ بلکه هغوئ به په جنت کښ همیشه اُوسیږی۔ شاهانه شان او شوکت او خسروانه شان سره به اُوسیږی۔ ۲ تخویف اُخروی دے مشرکانو دَ پاره کومو خلقوچه دَ دُنیا په لذتونو کښ مشغولیدلو سره دَ حق نه انکار کړے دے او نه ئے دے منلے په بدعملونو او مشرکانه افعال کښ ئے خپل ژوند تیر کړیدے په اخرت کښ به دَ هغوئ ډیر بد حال وی په میدان دَ حشر کښ به ذلیل او خوار وی او دَ هغوئ مخونه به دومره تور وی لکه چه دَ هغوئ په مخونو باندے دَ تورے شپے پردے اچولے شویدی هغوئ به دَ جهنم خشاک وی او همیشه دَ جهنم په عذاب کښ مبتلا وی۔ كَاَنَّمَآ اُغْشِيَتْ الخ يعنى كانما البست وجوهم سوادا من الليل المظلم (خازن ج ۳ ص۱۸۷)

وَيَوْمَ نَحْشُرُهُمْ جَمِيْعًا ثُمَّ نَقُوْلُ لِلَّذِيْنَ

او کومه ورځ چه جمع کړو موږ هغه ټول ۱ بیا به اووایو

اَشْرَكُوْا مَكَانَكُمْ اَنْتُمْ وَشُرَكَآؤُكُمْ فَزَيَّلْنَا

شرک کونکوته اُودریږئ په خپل خپل ځائے تاسو او ستاسو شریکان بیا به جدائی اوکړو

بَيْنَهُمْ وَقَالَ شُرَكَآؤُهُمْ مَّا كُنْتُمْ إِيَّانَا

مونږ. دَ هغوئ مینځ کښ او وائی به دَ هغوئ شریکان ؏ تاسو خو نه ګوله ځمونږ.

تَعْبُدُوْنَ ﴿٢٨﴾ فَكَفٰى بِاللّٰهِ شَهِيْدًا بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ

بندګی. نو الله کافی دے ګواه ځمونږ او ستاسو مینځ کښ

اِنْ كُنَّا عَنْ عِبَادَتِكُمْ لَغٰفِلِيْنَ ﴿٢٩﴾ هُنَالِكَ تَبْلُوْا

مونږ نه خو ستاسو دَ بندګئ خبر نهٔ وو ؋. دغه ځائے کښ نه ښکاره بیا موئ ؏

كُلُّ نَفْسٍ مَّآ اَسْلَفَتْ وَرُدُّوْٓا اِلَى اللّٰهِ مَوْلٰىهُمُ

هر څوک کوم چه هغهٔ مخکښ کړی وو او رجوع به او کړی الله طرفته چه مالک دے

اَلْحَقِّ وَضَلَّ عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ ﴿٣٠﴾

رښتونی دَ دوئ او ورک به شی له هغوئ نه هغه دروغ کوم چه به ئے جوړول.

قُلْ مَنْ يَّرْزُقُكُمْ مِّنَ السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ

ته تپوس اوکړه څوک رزق درکوی تاسو ته ؏ دَ اسمان نه او زمکے نه

اَمَّنْ يَّمْلِكُ السَّمْعَ وَالْاَبْصَارَ وَمَنْ

یا څوک مالک دے دَ غوږونو ؏ او دَ سترګو ؋ او څوک

يُّخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ وَيُخْرِجُ الْمَيِّتَ مِنَ

راؤباسی ژوندے دَ مړی نه او راؤباسی مړے دَ

الْحَيِّ وَمَنْ يُّدَبِّرُ الْاَمْرَ فَسَيَقُوْلُوْنَ اللّٰهُ

ژوندی نه ؋ او څوک تدبیر کوی دَ کارونو، نو وائی به چه الله

فَقُلْ اَفَلَا تَتَّقُوْنَ ﴿٣١﴾

ته اُووایه بیا نهٔ ویریږئ ؟

**نکات :-** ؏ تخویف اُخروی سره دَ بیان ثمره دَ دلیل سابق ؋ په توحید باندے پنځم دلیل عقلی ١٢ -

**موضح قرآن** ف خو مره مشرکان چه دی دَ خپل خیال عبادت کوی یا دَ شیطان او توم اخلی دَ نیکانو هغوئی دَ دے کار نه بیزار دی په اخرت کښ به معلومه شی ۱۲۔

**فتح الرحمٰن** ف یعنی خالق دَ غوږونو او سترګو به وی ۱۲۔ ف۲ یعنی حیوان دَ نطفے نه او نطفه دَ حیوان نه ۱۲۔

**تفسیر ۳۳** تخویف اخروی سره دَ بیان دَ ثمرهٔ دلیل نه۔ دَ مَکَانَکُمْ دَ نه مخکښ فعل ناصب محذوف دے ای الزموا دَ پورتنو ذکر شوؤ دلائیلونه دَ دغه ورځ پشان ظاهره شوه چه مشرکانو دَ کومو باطل معبودانو عبادت کولو او څوك چه ئے دَ الله په نزد شفیع غالب خیال کولو هغوئی خالص عاجز او بے طاقت دی او دَ هغوئی په اختیار کښ دَ چا نفع او نقصان نشته دلته په طور دَ نتیجے او دَ آخرت منظر پیش کړے شو چه اوګورئ تاسو چه څوك متصرف او کارساز ګنړئ دَ قیامت په ورځ به هغوئی ستاسو څۀ په کار را شی او ستاسو به څۀ سفارش اوکړی بلکه هغوئی خو به بالکل ستاسو دَ عبادت او رابللو نه انکار اوکړی او دَ حشر په میدان کښ به علی رؤس الاشهاد (چه ټول خلق به حاضر وی) په خدائے قسمونه اوکړی چه هغوئی خو ستاسو دَ عبادت او اوازکونو بالکل ناخبره وو هغوئی ته دَ دے خبرے قطعاً علم نشته چه څوك دَ هغوئی قبرونو ته راغلی او چا دَ هغوئی قبرونو ته سجدے کړی دی چا دَ هغوئی نذرونه او منښتے ورکړیدی او چا هغوئی ته حاجت روایئی دَ پاره اوازونه کړی دی۔ دَ دینه دَ سماع موتی نفی مفهوم کیږی کما لا یخفی علی من له ادنیٰ فهم وتدبر۔

**۳۴** دَ شریکانو نه دلته فرشتے، پیغمبران، او اولیاء الله، مراد دی دَ کوم چه مشرکانو مجسمے جوړے کړے وے او دَ هغے عبادت به ئے کولو یا چه دَ کومو حق پرستو قبرونو ته وړتلل او هغوئی ته به ئے اوازونه کول، دَ قیامت په ورځ چه کله دَ الله تعالیٰ دَ طرفه جواب طلبی وی چه ایا دے خلقو په دُنیا کښ تاسو ته آوازونه کول او ایا تاسو هغوئی ته دَ دے خبرے تعلیم ورکړے وو یا دَ دے مشرکانو افعالو حکم تاسو ورکړے وو نو هغوئی به صفا انکار اوکړی۔ اے الله مونږ خو دوئی ته دَ شرك تعلیم هرګز نۀ وو ورکړے او نۀ په دے راضی وو بلکه مونږ ته خو دَ دوئی دَ مشرکانه اعمالو علم هم نۀ وُو۔ قیل المراد بالشرکاء الملئکة والمسیح فانهم ما امروا بها ولا رضوا بها (مظهری ج ۵ ص ۲۲) والمراد بالشرکاء قیل الملئکة وعزیز والمسیح وغیرهم ممن عبدوه من اولی العلم الخ (ابوالسعود ج ۳ ص ۲۲) دا مضمون په قرآن کښ په نورو ډیرو ځایونو کښ زیات وضاحت سره موجود دے۔ سورة الفرقان ع ۲ کښ دی چه دَ قیامت په ورځ به الله نیك بندګانو ته اوفرمائی دَ چا چه په دنیا کښ عبادت شوے دے ءَاَنْتُمْ اَضْلَلْتُمْ عِبَادِیْ هٰؤُلَاءِ اَمْ هُمْ

ضَلُّوا السَّبِيلَ. ایا تاسو دا بندګان تاسو ګمراه کړي وو او دوئ ته مو د شرک تعلیم ورکړے وو یا دوئ پخپله ګمراه شول. نو نیکان خلق به په جواب کښ اووائی سُبْحٰنَكَ مَا كَانَ يَنْبَغِي لَنَا أَنْ نَتَّخِذَ مِنْ دُونِكَ مِنْ أَوْلِيَاءَ اے الله ته د هر شرک نه پاک ئے مونږ په دنیا کښ د خپل ذات د پاره ستا نه سِوا بل څوک کارساز نه وو جوړ کړے نو دوئ ته به مونږ څنګه د شرک لاره ښودله. دا شان بل ځائے کښ د فرښتو باره کښ ارشاد دے وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ جَمِيعًا ثُمَّ يَقُولُ لِلْمَلٰئِكَةِ أَهٰؤُلَاءِ إِيَّاكُمْ كَانُوا يَعْبُدُونَ ○ قَالُوا سُبْحٰنَكَ أَنْتَ وَلِيُّنَا مِنْ دُونِهِمْ كَانُوا يَعْبُدُونَ الْجِنَّ أَكْثَرُهُمْ بِهِمْ مُؤْمِنُونَ (سباع ۵)

۴۵ دا ظرف زمان یا مکان دے تَبْلُوا. بیا به مومی، پوهه به شی، یا به اُوځکی، مَا كَانُوا يَفْتَرُونَ کوم باطل معبودانِ باطله چه هغوئ سفارشیان او کارساز ګرځولی وو هغهٔ به ټول غائب وی او بیا به هم د دوئ په کار رانشی. (مَا كَانُوا يَفْتَرُونَ) من ان الهتهم تشفع لهم او ما كانوا يدعون انها الهة (ابو السعود ج۴ ص۲۲۰) انهم كانوا يدعون فيما يعبدونه انهم شفعاء وان عبادتهم مقربة الى الله تعالٰى فنبه تعالٰى على ان ذلك يزول فى الآخرة ويعلمون ان كل ذلك باطل وافتراء واختلاق (کبیر ج۴ ص۵۳۵)

۴۶ دا په توحید باندے پنځم دلیل عقلی دے لیکن على سبيل الاعتراف من الخصم یعنی دا سے عقلی اُمور د دلیل په طور پیش کړے شوی دی چه مخالف فریق هم یعنی مشرکان ئے منی دا دلیل په دا سے شپږو اُمورو باندے مشتمل دے چه مشرکان هم هغه منی دا دلیل د تیرشوو دلیلونو نه په طور د ترقئ دے یعنی دا دا سے کار ونه دی چه مخالف هم د دے اقرار کوی. کما قیل اصح الشهادات ما يشهد به الاعداء کله چه کافران دا خبرے منی او د الله تعالٰی د ذکرشوو صفاتو اقرار کوی نو بیا هغوئ له د الله تعالٰی نور د کارسازئ صفات هم منل پکار دی چه هغه مالک او مختار او متصرف او کارساز دے. اول د زمکے او اسمان نه د ټولو ښیا دمو بلکه د ټولو حیواناتو او مخلوق د روزئ انتظام صرف الله تعالٰی کوی. دویم د اوریدلو طاقت هم الله تعالٰی ورکړیدے دریم دا شان د لیدلو طاقت هم د الله تعالٰی ورکړه ده او هغه د دے دواړو قوتونو د اخستلو طاقت هم لری. څلورم بے روح هګئ او نطفے نه روح والا بچی پیدا کول او پنځم. حیوان یعنی انسان او مارغهٔ نه بے روح نطفه او هګئ پیدا کول د هغهٔ کار دے یا د مړی نه مراد کافر دے ځکه چه هغه د ایمان نه د محروم کیدلو په وجه مړ دے او حیٌ نه مراد مؤمن دے چه د ایمان دولت او برکت سره همیشه ژوندے دے. یا حیٌ نه مراد فصل او میت نه مراد زمکه ده ای النبات من الارض والانسان من النطفة والسنبلة من الحبة والطير من البيضة

والمؤمن من الکافر (قرطبی ج ۸ ص۳۳۵) حق خبره دا ده چه جمله دَ خپل جامعیت په اعتبار دے ټولو څیزونو ته شامل ده. شپږم دَ زمکے او اسمان ټول کاروبار او دَ عالَم نظام دَ هغهٔ تر بیر سره چلیږی په تدبیر عالم کښې هغه یواځ الله دے او دے کښ دَ هغهٔ سره څوک شریک نشته فَقُلْ اَفَلَا تَتَّقُوْنَ. یعنی کله چه تاسو دا ټول خبرے منئ او پرے پوهیږئ او دَ الله تعالیٰ دَ ربوبیت اقرار کوئ نو بیا شرک ولے کوئ او صرف الله تعالیٰ کارساز او متصرّف علی الاطلاق ولے نهٔ منئ. افلا تتقون الشرک فی العبودیة اذا اعترفهم بالربوبیة (مدارک ج ۲ ص۱۲۷) دَ مشرکین عرب عقیده خو دا وه چه پورته ذکر شوی اُمور صرف دَ الله تعالیٰ په قدرت کښ دی او دَ دوئ دَ مزعومه (خیالی) معبودانو په طاقت کښ ندی یعنی انهم یعترفون ان فاعل هٰذه الاشیاء هوالله تعالیٰ (خازن ج ۳ ص۱۸۵) یعنی لا یقدرون علی اسناد هٰذه الامور الی ما یدعونه اٰلهة لظهور بطلانه (مظهری ج ۵ ص۲۵) لیکن دَ دن سبا مشرکان دَ هغوئ نه هم مخکښ لاړل. دَ مکے مشرکانو دا اعتراف کړے وو چه دَ الله تعالیٰ نه سیوا څوک دَ عالم مدبّر نشته لیکن دَ څوار لسمے صدئ یو مدعی دَ اسلام شیخ عبد القادر جیلانی رحمة الله علیه ته په ښکاره دَ مدبّرِ عالم خطاب ورکړیدے ؎

ذی تصرف بھی ہے ماذون بھی ہے مختار بھی ہے ÷ کار عالم کا مدبر بھی ہے عبد القادر

(حدائق بخشش حصّہ اول)

کله ښهٔ ده نو اَوښایئ چه رازق څوک دے او دَ سَمع او بَصَر مالک څوک دے؟ هغوئ به جواب درکړی چه الله نو بیا هغهٔ ته او از کوئ نور وته ولے او از کوئ. اَمَّن کښ اَمْ منقطعه دے (رضی) او دَ دے مطلب دانهٔ دے چه اوله خبره غلطه ده او دَ هغے نه اعراض کړے شوے بلکه دَ یو امر نه دَ بل امر طرف ته انتقال مراد دے یعنی اَوښایئ تاسو ته روزی څوک درکوی. ښه دا خو پریږدئ یوه بله خبره اَوښایئ چه دَ سَمع او بَصَر مالک څوک دے

فَذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمُ الْحَقُّ ۚ فَمَاذَا بَعْدَ الْحَقِّ

نو دا الله دے چه رب ستاسو ریښتونے بیا څهٔ شے پاتے شو دَ ریښتیا نه روستو

اِلَّا الضَّلٰلُ ۚ فَاَنّٰى تُصْرَفُوْنَ ﴿۳۲﴾ كَذٰلِكَ حَقَّتْ

لیکن گمراهی نو کوم خواته گرځولی شوئ. دا شان صحیح شوه

كَلِمَتُ رَبِّكَ عَلَى الَّذِيْنَ فَسَقُوْٓا اَنَّهُمْ

خبره ستا دَ رب دَ هغه په نافرمانو باندے چه دوئ

لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿۳۳﴾ قُلْ هَلْ مِنْ شُرَكَآئِكُمْ مَّنْ

ایمان نه راوړي. ف۱ تپوس اوکړه څوک شته ستاسو شریکانو نه څوک چه

يَّبْدَؤُا الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيْدُهٗ ؕ قُلِ اللّٰهُ يَبْدَؤُا

پیدا اکړي خلق بیا ئې دوباره ژوندي کړي، ته اووایه الله اول

الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيْدُهٗ فَاَنّٰى تُؤْفَكُوْنَ ﴿۳۴﴾ قُلْ هَلْ

پیدا اکول کوي بیا به هغوئ دوباره کړي نو کوم خواته اړولی شئ. تپوس اوکړه څوک شته

مِنْ شُرَكَآئِكُمْ مَّنْ يَّهْدِيْٓ اِلَى الْحَقِّ ؕ قُلِ

ستاسو شریکانو کښې چه لاره اوښائي ته صحیح . ته اووایه

اللّٰهُ يَهْدِيْ لِلْحَقِّ ؕ اَفَمَنْ يَّهْدِيْٓ اِلَى الْحَقِّ

الله لاره ښائي صحیح نو اوس چه څوک لاره اوښائي صحیح

اَحَقُّ اَنْ يُّتَّبَعَ اَمَّنْ لَّا يَهِدِّيْٓ اِلَّآ اَنْ

د هغه خبره منل پکار ده یا د هغه چاچه ځپله لاره نه بیا مومي لیکن چه څوک

يُّهْدٰى ۚ فَمَا لَكُمْ ۟ كَيْفَ تَحْكُمُوْنَ ﴿۳۵﴾

هغه ته لاره اوښائي نو په تاسو څه اوشو څنګه انصاف کوئ.

نکات: ۔ ۱ د من کوره دلیل ثمره. ۔۲ زجر ۱۲۔

موضح قرآن: ف۱ یعني الله د ازل نه د هغوئ په قسمت کښې یقین اونه لیکلو او د هغې سبب د هغوئ بے حکمي وه ۱۲۔

تفسیر: ۔ ۴۵ دا دلیل من کوره ثمره ده یعني الله تعالیٰ چه په پوره تنو صفاتو سره متصف دے هغه ستاسو کار ساز دے نه هغه څوک چه کوم تاسو جوړ کړي دي. ای هذا الذي یفعل هذه الاشیاء هو ربکم الحق لا ما اشرکتم معه (قرطبي ج ۸ ص ۳۴۳) فَاَنّٰى تُصْرَفُوْنَ یعني د مسئله توحید واضح کیدلو نه روستو بیا په څه وجه سره د حق نه ګرځولی شوئ الَّذِيْنَ فَسَقُوْٓا د فسق نه کامله درجه یعني کفر مراد دے او جمله لَا يُؤْمِنُوْنَ د حَقَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ بیان دے کوم خلق چه د مسئله توحید د دومره کافي وضاحت نه روستو هم دا نه مني او ضد او عناد سره په کفر همیش والے کوي د داسے خلقو باره کښې د

الله تعالیٰ فیصله ده چه دَ مهرجباریت په وجے سره هغوئ دَ ایمان دَ توفیق نه محروم کولے شی ف ۴۹ دے سورت کښ دَ زجرونو په بیان باندے خاص طور سره زور ورکړے شوے دے دَ دے ځائے نه دَ خصوصی زجرونو شروع کیږی دَ الله تعالیٰ باره کښ خو مشرکانو دَ ذکر شوو صفتونو اعتراف اوکړو اوس ئے اوفرمائیل دوئ نه تپوس اوکړه ښهٔ ده نو اوس ستاسو دَ مزعومه معبودانو نه څوک داسے شته چه مخلوق پیدا کړی او بیا دَ مرګ نه روستو هغه دوباره ژوندے کړی قُلْ هَلْ مِنْ شُرَكَآئِكُمْ مَّنْ يَّهْدِيْٓ اِلَى الْحَقِّ الخ یا څوک داسے شته چه هدایت الی الحق دَ هغهٔ په اختیار کښ وی. هل من شرکاءکم الذین جعلتم انداداً لله احد یهدی الی الحق مثل هدایة الله تعالیٰ (مدارک ج ۲ ص ۱۳۵) وے فرمائیل دَ ضد او عناد او سرکشئ په وجه که هغوئ جواب نهٔ درکوی نو تاسو پخپله اعلان اوکړئ چه الله تعالیٰ ټول پیدا کړل او هغه به ئے دوباره ژوندے کوی او هدایت صرف دَ الله تعالیٰ په قبضه او اختیار کښ دے.

ف ۵۰ اوس تاسو راته اووایئ کوم الله چه قادر مطلق دے او هدایت او ضلالت دَ هغهٔ په اختیار کښ دے دَ هغهٔ پیروی او عبادت بهتر دے یا دَ هغو کوم چه هدایت ورکول خو پریږده پخپله هم هدایت نشی موندلے. فَمَا لَكُمْ كَيْفَ تَحْكُمُوْنَ، دَ دے عاجز معبودانو عبادت او را بللو نه تاسو ته څهٔ ملاویږی او تاسو ځان دَ پاره څنګه باطله فیصله کوئ چه دَ الله تعالیٰ سره شرک کوئ.

وَمَا يَتَّبِعُ اَكْثَرُهُمْ اِلَّا ظَنًّا ۭ اِنَّ الظَّنَّ لَا يُغْنِيْ

او هغوئ اکثر په اټکل روان وی ف ۵۱ نو اټکل کار نهٔ ورکوی

مِنَ الْحَقِّ شَيْـًٔا ۭ اِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌۢ بِمَا

دَ حق خبرے نه هیڅ هم. الله ته ښهٔ معلوم دی کوم څهٔ چه

يَفْعَلُوْنَ ﴿۳۶﴾ وَمَا كَانَ هٰذَا الْقُرْاٰنُ اَنْ يُّفْتَرٰى

او دا قرآن ف ۵۲ هغه نهٔ دے چه څوک ئے جوړ کړی

هغوئ کوی.

مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلٰكِنْ تَصْدِيْقَ الَّذِيْ

سیوا دَ الله تعالیٰ نه او لیکن تصدیق کوی دَ مخکنی کلام

بَيْنَ يَدَيْهِ وَتَفْصِيْلَ الْكِتٰبِ لَا رَيْبَ فِيْهِ

او بیان کوی د هغه څیزونو چه کوم په تاسو اولیکلے شو چه په هغے کښې هیڅ شک نشته

مِنْ رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٣٧﴾ اَمْ يَقُوْلُوْنَ افْتَرٰىهُ

د پروردګار عالم د طرف نه. آیا خلق وائی چه دا ئے د ځان نه جوړ کړے دے

قُلْ فَاْتُوْا بِسُوْرَةٍ مِّثْلِهٖ وَادْعُوْا مَنِ

ته اووایه تاسو راوړئ صرف یو سورت د دے پشان او را اوبلئ کوم چه

اسْتَطَعْتُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ اِنْ كُنْتُمْ

رابلئ د الله نه سیوا که چرے تاسو

صٰدِقِيْنَ ﴿٣٨﴾ بَلْ كَذَّبُوْا بِمَا لَمْ يُحِيْطُوْا

رښتونی یئ. خبره داده چه دروغ ئے اوګڼل د کوم پوهیں لو باندے چه ئے قابو

بِعِلْمِهٖ وَلَمَّا يَاْتِهِمْ تَاْوِيْلُهٗ كَذٰلِكَ

اونه موند له او اوس هم نه دے راغلے د هغے حقیقت داشان

كَذَّبَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ فَانْظُرْ كَيْفَ

دروغ ګڼلو د دوئ نه مخکنو هم نو اوګوره څنګه

كَانَ عَاقِبَةُ الظّٰلِمِيْنَ ﴿٣٩﴾ وَمِنْهُمْ مَّنْ يُّؤْمِنُ

شو انجام د ګناهګارانو او څوک به د دوئ کښې یقین کوی

بِهٖ وَمِنْهُمْ مَّنْ لَّا يُؤْمِنُ بِهٖ وَرَبُّكَ

د قرآن او څوک به یقین نه کوی او ستا رب

اَعْلَمُ بِالْمُفْسِدِيْنَ ﴿٤٠﴾ ع

ښه پیژنی شرارت کوونکی

نکات: ١ تمهید شکوی د یا ١٢ ٢ شکوی ١٢ ٣ جواب شکوی ١٢.

**موضح قرآن** ف د هغه حقیقت را نغلی یعنی کوم وعده چه ده دے قرآن کښ هغه لا تر اوسه ظاهره نهٔ شوه.

**تفسیر:** ۵۱ مشرکانو کښ اکثریت د هغه خلقو دے څوك چه خالص ظن او اټکل پیروی کوی او د رسم او د رواج په طور نورو خلقو ته کتلو سره په غلطه لاره روان وی. ۵۲ دا د شکوی د پاره تمهید دے دا قرآن د الله تعالیٰ کلام دے د بل چا جوړ کړے شوے نهٔ دے. تَصْدِیْقَ الَّذِیْ بَیْنَ یَدَیْهِ دا د قرآن د افتراء نهٔ کیدو اول وجه ده یعنی دا قرآن د تیر شوؤ کتابونو د مضامینو تصدیق کوی وَ تَفْصِیْلَ الْکِتٰبِ. دا دویمه وجه ده. دا قرآن د شرائع اسلام او د فرائضو او احکامو تفصیل کوی. کوم چه الله تعالیٰ د خپلو بندګانو د پاره مقرر کړی دی. تبیین ما کتب و فرض من الاحکام والشرائع من قوله کتاب الله علیکم (مدارك ج ۲ ص ۱۲۵)

۵۳ دا شکوی ده مشرکانو وئیلی وو چه دا قرآن محمد ﷺ د ځان نه جوړ کړے دے او د خدائے په ذمه ئے لګوی. یقول هؤلاء المشرکون افتری محمد هذا القرآن واختلقه من قبل نفسه (خازن ج ۳ ص ۱۹۰)

۵۴ دا جواب شکوی دے که چرے دا قرآن د محمد صلی الله علیه وسلم کلام دے نو تاسو هم اهلِ زبان یئ خپل ټول هم مسلك فصحاء او بلغا جمع کړئ او د خپل مرغومه (خیالی) معبودانو نه هم امداد حاصل کړئ او د قرآن پشان بلیغ او فصیح صرف یو سورت جوړ کړئ او راوړئ اکثرو مفسرینو د آیت په تفسیر کښ دا تقریر کړے دے چه د هغ حاصل دا دے چه تاسو په فصاحت او بلاغت بارے مشتمل دا شان کلام جوړ کړئ او راوړئ دا شان د داسے بلیغ کلام راوړلو سره د هغوئ د عجز اظهار مقصود دے لیکن دے بارے شبه کیږی چه مقابله همیشه د بلغاء او فصحاء سره نهٔ کیدله د دے وجے نه مناسب داده چه د آیت مطلب داوی چه تاسو دا شان سورت جوړ کړئ راوړئ چه د قرآن پشان عقلی، نقلی، وحی دلائیل بارے مشتمل وی. د دے وجے نه د اعجاز په یو اړخ پورے منحصر کول پکار نهٔ دے بلکه قرآن مجید هر اړخ سره معجز دے. لکه چه علامه تفتازانی په تلویح (چه شرح ده د توضیح) کښ مختلف اقوال نقل کړی دی اختلفوا فی جهة اعجاز القرآن مع الاتفاق علی کونه معجزا فقیل انه ببلاغته و قیل باخباره عن المغیبات وقیل باسلوبه وقیل بصرف الله تعالیٰ العقول عن المعارضة الخ (تلویح ص ۵۱)

۵۵ هغوئ د قرآن په مضامینو غور او فکر اونکړو نه ئے د هغ حقیقت ته د رسیدلو کوشش کړے دے د دے وجے دا سوال نهٔ پیدا کیږی چه د هغوئ تکذیب په یو معقول سبب بارے مبنی وی او هغوئ په قرآنی مضامینو کښ

څۀ شُبه موند لې دی بلکه هغوئ محض دَ ضد او عناد په بناء تکذیب کوی. یعنی ان کلامهم وانکارهم للقرآن لیس مبتنیاً علی التحقیق والتفکر (مظهری ج ۵ ص ۲۵).
۵۵ داجمله حالیه ده یعنی تراوسه پورې هغوئ ته دَ وعید (عذاب) مصداق نۀ دے راغلے. حاصل دا چه دَ قرآن په مقابله کښې دَ سورت جوړول او راوړل خو پریږده دوئ کښې دومره عقل او پوهه چرته ده هغوئ خو دَیو دا سے خبرے تکذیب کوی چه دَ هغې دَ بطلان دوئ سره هیڅ دلیل نشته اولا تراوسه هغوئ ته دَ هغوئ دَ تکذیب سزا نۀ ده ملاؤ شوے. هغوئ مخکنو خلقو ته نۀ گوری چه تکذیب ئے اوکړو نو هغوئ ته څۀ سزا ملاؤ شوه. كَذٰلِكَ كَذَّبَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ الخ دَ تیرشوو اُمتونو مشرکانو هم داوئیلی وو دَ فکر او تدبُرنه بغیر ئے محض عناداً دَ پیغام خداوندی تکذیب اوکړو. كذبوا رسلهم قبل النظر فی معجزاتهم وقبل تدبرها عناداً وتقليدًا للاباء (مدارك ج ۲ ص ۱۳۶) بیا چه دَ هغوئ څۀ انجام شو هغه تاسو ته ښۀ معلوم دے. ۵۶ دوئ کښې ځنے خلق خو داسے دی چه دَ زړۀ نه قرآن یا پیغمبر خُدا صلی الله علیه وسلم منی لیکن دَ عناد په وجه دَ دے اقرار او اظهار نۀ کوی او ځنے داسے دی چه دَ زړۀ نه هم نۀ منی ای یصدق به فی نفسه ویعلم انه حق ولکن یعاند بالتكذيب (وَمِنْهُمْ مَّنْ لَّا يُؤْمِنُ بِهٖ) لايصدق به ویشك فیه (مدارك)

وَاِنْ كَذَّبُوْكَ فَقُلْ لِّیْ عَمَلِیْ وَلَكُمْ عَمَلُكُمْ ۚ

او کۀ چرے تا دروغ اوگنړی ۵۷ نو او وایه چه ځما دَ پاره ځما کار دے او ستاسو دَ پاره ستاسو کار دے

اَنْتُمْ بَرِیْٓـُٔوْنَ مِمَّآ اَعْمَلُ وَاَنَا بَرِیْٓءٌ مِّمَّا

تاسو باندې ذمه نشته ځما دَ کار او په ما ذمه نشته کوم چه

تَعْمَلُوْنَ ﴿۴۱﴾ وَمِنْهُمْ مَّنْ یَّسْتَمِعُوْنَ اِلَیْكَ ؕ

تاسو کوئ ئې او ځنے دوئ کښې ۵۸ غوږ کیږدی ستا طرف ته

اَفَاَنْتَ تُسْمِعُ الصُّمَّ وَلَوْ كَانُوْا لَا یَعْقِلُوْنَ ﴿۴۲﴾

ایا تۀ به واؤروے کڼړو ته اگر چه هغوئ نۀ پوهیږی.

وَمِنْهُمْ مَّنْ یَّنْظُرُ اِلَیْكَ ؕ اَفَاَنْتَ تَهْدِی الْعُمْیَ

او ځنے دوئ کښې ۵۹ گوری ستا طرف ته ایا تۀ به لاره اوښائے ړندو ته

وَلَوْ كَانُوْا لَا يُبْصِرُوْنَ ﴿۴۳﴾ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَظْلِمُ

اګر چه هغوئ سوچ نهٔ لری ف۲ الله ظلم نهٔ کوی

النَّاسَ شَيْـًٔا وَّلٰكِنَّ النَّاسَ اَنْفُسَهُمْ

په خلقو باندے هیڅ هم لیکن خلق په خپلو ځانونو باندے

يَظْلِمُوْنَ ﴿۴۴﴾ وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ كَاَنْ لَّمْ يَلْبَثُوْٓا

ظلم کوی ف۳ او په کومه ورځ چه جمع کړو دوئ لکه چه نهٔ وو اوسیدلی

اِلَّا سَاعَةً مِّنَ النَّهَارِ يَتَعَارَفُوْنَ بَيْنَهُمْ

لیکن په یو ساعت د ورځے ف۳ یو بل به پیژنی

قَدْ خَسِرَ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِلِقَآءِ اللّٰهِ وَمَا كَانُوْا

بیشکه په تاوان کښ پریوتل چا چه دروغ اوګڼلو د الله سره ملاقات او رانغلهٔ هغوئ

مُهْتَدِيْنَ ﴿۴۵﴾ وَاِمَّا نُرِيَنَّكَ بَعْضَ الَّذِيْ

په لاره ف۴ او که چرے مونږ اوښایو ستا ته ځنے څیز د هغه وعدو چه کړی

نَعِدُهُمْ اَوْ نَتَوَفَّيَنَّكَ فَاِلَيْنَا مَرْجِعُهُمْ ثُمَّ

مونږ هغوئ سره یا وفات کړو تا لره نو څمونږ طرف ته دی د هغوئ واپس کیدل بیا

اللّٰهُ شَهِيْدٌ عَلٰى مَا يَفْعَلُوْنَ ﴿۴۶﴾

الله ګواه دے په هغه کارونو باندے کوم چه هغوی کوی. ف۵

**نکات:** ۱ زجر ۱۲. ۲ زجر ۱۲. ۳ علت د ما قبل د پاره ۱۲. ۴ تخویف اخروی ۱۲
۵ تخویف دنیوی ۱۲.

**موضح قرآن**

ف۱ یعنی که چرے په دروغه زهٔ د الله حکم تاسو ته رسوم نو زهٔ به ګنهګار یم تاسو نهٔ یئ او که چرے زهٔ رښتونے یم او تاسوئے اونهٔ منئ نو تاسو ګناهګار یئ. نو په منلو کښ ستاسو هیڅ نقصان نشته په هیڅ ډول ۱۲ ف۲ یعنی غوږ کدی یا نظر کوی دے اُمیدن سره چه څمونږ په زړه کښ تصرف اوکړی لکه چه بعضو باندے اوکړے شو نو داخبره د الله په قدرت کښ ده ف۳ یعنی د ځنو په زړونو کښ اثر نهٔ کوی نو دا د دوئ تقصیر دے چه صفا زړهٔ سره

اوریدل نه کوی ١٢. ف یعنی په قبر کښې او سیدل به دغه ورځ یو ساعت معلومیږی
ف یعنی د اسلام غلبه څه خو د نبی علیه السلام مخامخ اوشوه او باقی د هغه د
خلیفه گانو په خلافت کښې اوشوه ١٢.
تفسیر ف دا زجر دے یعنی د حجت قائمولو باوجود مشرکان ستا په دروغژن
گڼړلو اصرار او همیشوالے کوی او نه منلو باندے ټینګ ولاړ وی تر دے چه تاسو
د هغوئ د ایمان نه نا امیده شئ نو تاسو هغوئ ته صفا اووایئ زه تاسو په
منلو باندے نه مجبوروم تاسو په خپله لاره باندے ځئ زه په خپله لاره
روان یم تاسو به د خپل عمل تکذیب او اشراک سزاء بیا مومئ هر یو سره به
د هغه د اعمالو مطابق معامله کیږی. لی ثواب عملی فی التبلیغ والانذار والطاعة
لله تعالیٰ (وَلَكُمْ عَمَلُكُمْ) ای جزاءه من الشرک (قرطبی ج ٨ ص ٣٤٦). ف دا هم زجر دے د منکرینو
ځنے داسے هم دی چه ظاهری غوږونو سره خو ستا سو خبرے او ستا سو تلاوت خو آوری خو د دوئ په زړونو
اثر نشته او دا خبرے د دوئ زړونو ته نه کوز یږی. اَفَاَنْتَ تُسْمِعُ الصُّمَّ الخ دا استفهام
انکاری دے او الصُّمَّ (کڼړو) نه مراد هغه خلق دی د کوم زړونو نه چه د مهر
جباریت په وجه د منلو استعداد اخستلے شوے دے او دے سره هغوئ د عقل او
فکر نه هم محروم دی یعنی د کوم خلقو په زړونو چه مهر لګیدلے دے هغوئ
په سمه لاره راوستل ستا سو په اختیار کښې نه دی. وجعلهم کالصم للختم علی
قلوبهم والطبع علیها ای لا تقدر علی هدایة من اصمه الله عن سماع الهدی
(قرطبی ج ص) ف او ځنے دوئ کښې داسے دی چه په ظاهری سترګو تا ته گوری
لیکن د زړه نه ستا تصدیق نه کوی ځکه چه د مهر جباریت په وجه سره د هغوئ
بصیرت معطل شوے دے او د هغوئ مثال د ړندو پشان دے چه د ظاهری
سترګو باوجود د باطنی بصیرت یعنی د عقل او فراست نه هم محروم دی دے
وجے نه د هغوئ په سمه لاره باندے د راوستلو اوس هیڅ امید نشته. یعنی انهم
فی الیأس من ان یقبلوا ویصدقوا کالصم والعمی الذین لا عقول لهم ولا بصائر
(مدارک ج ٢ ص ١٢٦) ف دا جمله د ما قبل علت دے یعنی الله تعالیٰ هغوئ د عقل
او بصیرت او هدایت نه محروم کړل او په دوئ باندے ئے ظلم اونکړو بلکه هغوئ
پخپله په خپلو ځانونو باندے ظلم کړیدے ځکه چه کله دلائل او براهین سره
په دوئ حق واضحه شو نو هغوئ دا او نه منلو د الله تعالیٰ د ورکړے شوی
عقل او پوهے نه ئے کار وانه خستو او سره د پوهے نه ئے عمداً قصداً د ضد
او عناد په وجه د هغے نه انکار اوکړو. د دے وجے نه دا د هغوئ د اعمالو نتیجه ده
چه هغوئ د هدایت قبلولو نه محروم کړے شول. ای لعدم استعمال مشاعرهم
فیما خلقت له واعراضهم عن قبول الحق وتکذیبهم للرسل وترک النظر فی الادلة
(روح ج ١١ ص ١٢٦) ف دا تخویف اخروی دے کوم خلق چه د حق خبرے اوریدلو

او پوهيږي لو کوشش نه کوي هغوئ له د آخرت د عذاب نه خبردار او سيدل پکار دي يَوْمَ کښې عامل يَتَعَارَفُوْنَ دے وقوله (يَتَعَارَفُوْنَ) يجوزان يكون متعلقا بيوم نحشرهم (کبير ج ۷ ص۱۰۳ طبع جديد) كَاَنْ لَّمْ يَلْبَثُوْا نه مخکښې يَقُوْلُوْنَ محذوف دے يعني کله چه هغوئ د قبرونو نه راپاخوو نو هغوئ به وائي چه گويا په عالم برزخ کښې مونږ صرف يوه ګنټه او سيدلي يو او په ميدان محشر کښې به هغه خلق او پيژني کوم چه به ئے دنيا کښې پيژندل کافران او مشرکان چه کله د آخرت د ډير زيات سخت او دردناک عذاب مشاهده اوکړي نو د عالم برزخ عذاب به هغوئ ته آرام او راحت معلوم شي او هغوئ به د برزخي قيام زمانے ته د راحت د وختونو پشان ډير لږ اوګڼي. محنو مفسرينو په دنيا کښې د قيام قلت مراد کړے دے قال ابن عباس في قبورهم وقال ضحاك في الدنيا...... يستقصرون مدة لبثهم في الدنيا والقبور لهول مايرون الخ (مظهري ج ۵ ص۳۱)

۵۳ تخويف دنيوي دے د منکرينو او معاندينو د ذليل او رسوا کولو چه مونږ تا سره کوم وعده کړے ده د هغې محنے صورتونه که چرے مونږ تا سو ته په دنيا کښې ظاهر کړو او تا سو ته ئے اوښايو نو مونږ په دے هم قادر يو. او که چرے په دنيا کښې د هغوئ د سزا او رسوايئ د ټولو صورتونو ظاهرولو نه مخکښې مونږ تا سو وفات کړو نو د هغوئ زيات ذلت او رسوائي به تاسو په ميدان د حشر کښې اووينئ. اى واما نرينك بعض الذى نعدهم في الدنيا فذلك او نتوفينك قبل ان نريكه فنحن نريكه في الأخرة (مدارك ج ۲ ص۱۲۷) ثُمَّ اللّٰهُ الخ ثُمَّ د تراخي د پاره نه دے بلکه محض تعقيب ذکري د پاره دے محکه چه الله تعالىٰ په هره زمانه کښې حاضر او ناظر دے د قيامت څه خصوصيت دے يا ثُمَّ په معنىٰ د واؤ دے يا د شهادت نه مراد د هغه لازم دے يعني جزاء او سزا ورکول دے صورت کښې به ثُمَّ تعقيب زماني د پاره وي هي على الاول للتراخي الرتبي وعلى الثاني على الظاهر (روح ج ۱۱ ص۱۲۹)

وَلِكُلِّ اُمَّةٍ رَّسُوْلٌ فَاِذَا جَآءَ رَسُوْلُهُمْ قُضِيَ

او د هر يو ډلے يو رسول دے ۵۴ بيا چه کله راغے هغوئ ته رسول د هغوئ فيصله اوشوه

بَيْنَهُمْ بِالْقِسْطِ وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ﴿۴۷﴾ وَيَقُوْلُوْنَ

په هغوئ کښې انصاف سره او په هغوئ ظلم نه کيږي ۵۵ او وائي ۵۶

مَتٰى هٰذَا الْوَعْدُ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۴۸﴾ قُلْ
کله ده دا وعده که چرته تاسو رښتونی یئ ته اووایه ځکه

لَآ اَمْلِكُ لِنَفْسِىْ ضَرًّا وَّلَا نَفْعًا اِلَّا مَا شَآءَ اللّٰهُ ؕ
زۀ مالک نۀ یم د خپل ځان د پاره د بد او نۀ د ښو لیکن څۀ چه اوغواړی الله

لِكُلِّ اُمَّةٍ اَجَلٌ ؕ اِذَا جَآءَ اَجَلُهُمْ فَلَا يَسْتَاْخِرُوْنَ
د هر یو ډلے یوه وعده ده کله چه راورسیږی هغوئی وعدۀ بیا به نۀ روستو کیږی

سَاعَةً وَّلَا يَسْتَقْدِمُوْنَ ﴿۴۹﴾ قُلْ اَرَءَيْتُمْ اِنْ
یو ساعت او نۀ به مخکښ کیږی۔ ته اووایه ښۀ ده نو کورئ تاسو که چرے

اَتٰىكُمْ عَذَابُهٗ بَيَاتًا اَوْ نَهَارًا مَّاذَا يَسْتَعْجِلُ
تاسو ته راشی عذاب د هغۀ د شپے یا د ورځے نو څۀ به اوکړی د هغے نه

مِنْهُ الْمُجْرِمُوْنَ ﴿۵۰﴾ اَثُمَّ اِذَا مَا وَقَعَ اٰمَنْتُمْ بِهٖ ؕ
مخکښ ګناهګاران ف۲۔ آیا بیا نو چه کله عذاب واقع شی هغه وخت به یقین کوئ

آٰلْئٰنَ وَقَدْ كُنْتُمْ بِهٖ تَسْتَعْجِلُوْنَ ﴿۵۱﴾ ثُمَّ
اوس منونکی شوئ او تاسو خو داغوښتل ف۳ ف۲ بیا به

قِيْلَ لِلَّذِيْنَ ظَلَمُوْا ذُوْقُوْا عَذَابَ الْخُلْدِ ۚ
اووئیلے شی ګناهګارانو ته اوڅکئ عذاب همیشه

هَلْ تُجْزَوْنَ اِلَّا بِمَا كُنْتُمْ تَكْسِبُوْنَ ﴿۵۲﴾
هم د هغے بدله ملاویږی کوم چه موکول۔

نکات:۔ سلا تخویف دنیوی ۱۲ سلا تخویف دنیوی ۱۲۔ سلا شکوی ۱۲۔ سلا جواب شکوی ۱۲۔

موضح قرآن

ف۱ بد عمل مخکښ کیږی لیکن د رسول راتللو سره سزا ملاویږی ۱۲ ف۲ یعنی ځان به خلاص نکړئ بیا د تپوس کولو څۀ فائده ده۔ ف۳ یعنی عذاب راشی بیا ایمان راوړول کله قبول وی

دَ دے وجے نه تپوس هم عبث دے۔

**فتح الرحمٰن** ف۱ یعنی رسولان او دَ هغوئی تابعداران به خلاصے بیا موندی او کافران به هلاک شی۔ ف۲ یعنی په استهزاء او دروغ گڼلو سره

تفسیر: ۶۴ تخویف دنیوی دے دَ ټولو تیر شوو امتونو بالاجمال ذکر او کړے شو چه موږ په هر قوم کښ خپل پیغمبر اُولیږهٔ چه هغه دوئی ته دَ حق پیغام اُورسولو او دَ توحید دعوت ئے ورکړو۔ لیکن چه کله هغوئی انکار اوکړو نو عین دَ عدل او انصاف مطابق هغوئی هلاک کړے شول۔ اے دَ مکے مشرکانو! تاسو هم واورئ که نه منئ نو دَ تیر شوو قومو پشان به ستاسو حشر هم وی ۱۲

۶۵ دا شکوی ده۔ دَ مکے مشرکانو دَ ډیر انکار او ضد عناد په وجه سره دَ نبی علیه السلام نه مطالبه کوله چه دَ کوم عذاب یا قیامت نه تاسو موږ ویروئ هغه چرته دے او کله به راځی هغه زر راوله۔ یرید کفار مکه لفرط انکار هم واستعجالهم العذاب ای متی العقاب او متی الساعة التی یعدنا محمد (قرطبی ج ۸ ص ۳۴۹)۔ ۶۶ دا جواب شکوی دے په طریقه دَ ترقئ یعنی تاسو څما نه دَ عذاب یا قیامت راوړلو مطالبه کوئ دا خو ډیره لویه خبره ده زهٔ خو دَ خپل نفع او نقصان هم اختیار نهٔ لرمهٔ هر څیز مالک او مختار خو صرف الله تعالیٰ دے دَ دے وجے نه عذاب راوړل څما دَ وَس (طاقت) خبره نهٔ ده لما استعجلوا النبی صلی الله علیه وسلم بالعذاب قال الله له قل لهم یا محمد لا املک لنفسی ضراً ولا نفعاً ای لیس ذٰلک لی ولا لغیری (قرطبی) ای لا اقدر علی شیٔ منهما بوجه من الوجوه (روح ج ۱۱ ص ۱۳۱) او اِلّا ما شاء استثناء منقطع ده یعنی زهٔ خو دَ خپل نفع او نقصان هم مختار نهٔ یم۔ لیکن چه څهٔ او غواړی الله تعالیٰ هغه کیږی ای ولکن ما شاء الله من ذلک کائن فکیف املک لکم الضر وجلب العذاب (مدارک ج ۲)

۶۷ لیکن دا به ضرور او وایم چه دَ کوم عذاب او قیامت ستاسو سره وعده کړے شوې ده دَ هغے دَ پاره یو وخت مقرر دے او هغهٔ به په مقرره وخت باندے خامخوا راځی په هغے کښ تخلف محال دے او نهٔ په هغے کښ تقدم او تأخر ممکن کیدل او روستو کیدل ممکن دی چه کله عذاب دَ خپل مقرر وخت نه نهٔ مخکښ راتللے شی نهٔ روستو کیدے شی نو بیا ستاسو په مطالبه باندے ئے زهٔ دَ وخت نه مخکښ څنګه راوړے شم لَا یَسْتَقْدِمُوْنَ جمله استینا فیه ده یا اِذَا جَآءَ باندے معطوف ده لیکن لَا یَسْتَاْخِرُوْنَ باندے معطوف نهٔ ده ځکه چه کله معین وخت راشی نو بیا په هغے تقدم ممکن نهٔ دے دَ دے وجے نه دَ تقدم دَ نفی څهٔ فائده باقی نهٔ پاتے کیږی (روح ج ۳) حضرت شیخ فرمائی چه دَ اِذَا جزاء محذوف ده فاذا جاء اجلهم یعذبون کله چه دَ هغوئی دَ عذاب نیټه راشی نو هغه وخت به هغوئی په عذاب کښ مبتلاء کیږی او په هغے کښ به مخکښ والے روستو والے نهٔ وی یعنی عذاب دَ خپل معین وخت نه مخکښ راځی او نهٔ دَ هغے نه روستو۔ ۶۸ زجر سره دَ تخویف دُنیوی۔ بَیَاتًا اَوْ نَهَارًا

منصوب دی علی الظرفیة ای فی وقت بیات او فی نهار۔ مَاذَا يَسْتَعْجِلُ مِنْهُ الْمُجْرِمُوْنَ مَاذَا په معنیٰ دَ ای شیءٍ دے مشرکانو به ډیره جلتي کوله او دَعذاب دَ زر راتللو مطالبه به ئے کوله که چرے شپه په شپه یا دَ ورځے چه کله هغوئ په خپل کاروبار کښ مشغول وی ناځاپه دَ الله عذاب راشی نو دا مجرم او بدعمله خلق چه تلوار کوی دَ هغے نه دَ بچ کیدلو دَپاره به کومه حیله یا تدبیر په عمل کښ راولی؟ استفهام انکاری دے یعنی دَ هغے نه به دَ بچ کیدلو هیڅ حیله او نکړے شی نو بیا دَ هغے دَ وخت دَ تپوس کولو نه څهٔ فائده. یا مطلب دا دے چه عذاب کوم دَ خوشحالئ څیز دے چه دَ هغے دَ راتللو مطالبه مشرکان په جلتئ سره کوی دے صورت کښ به استفهام تعجب دَپاره وی چه دے مجرمانو باندے تعجب دے چه هغوئ دَ خومره خوفناك او هلاکونکی څیز تلوار سره مطالبه کوی (روح و موضح قرآن) لـ۶۶ـه دلته تقدیم او تاخیر دے په اصل کښ دا شان وو ءَاِذَا مَا وَقَعَ ثُمَّ اٰمَنْتُمْ بِهٖ او ثُمَّ استبعاد دَپاره دے یعنی تاسو عذاب دا سے په تلوار سره غواړئ لکه چه کله عذاب راشی نو بیا به تاسو ایمان راؤړئ دا خبره خو دَ مخکښ نه هم زیاته تعجب پیدا کونکے ده او دَ عقل نه لرے ده ءَاِذَا ما وقع العذاب وحل بکم حقیقة اٰمنتم به ...... وجیٔ بثم دلالة علی زیادة الاستبعاد (روح ج ۱۱ ص ۱۲۴)

لـ۶۷ـه دَ دینه مخکښ یُقال مقدر دے او دَ دینه روستو اٰمَنْتُمْ یعنی چه کله عذاب راشی او منکرین عذاب اووینی ایمان راؤړی نو هغوئ ته به او وئیلے شی او س چه عذاب مو اولیدو نو ایمان راؤړئ او دَ داسے ایمان نه دَ نفع امید ساتئ حال دا دے چه تاسو دا عذاب په طور دَ استهزاء او مسخرو په تُوندئ سره غوښتلو. دا به دَ توبیخ او دَ ویره ولو په طور باندے وئیلے شی. اٰلْـٰٔنَ تؤمنون ترجون الانتفاع بالایمان مع انکم کنتم قبل ذلك به یستعجلون علی سبیل السخریة والاستهزاء (کبیر ج ۱۷ ص ۱۰۶)

وَيَسْتَنْبِـُٔوْنَكَ اَحَقٌّ هُوَ ؕ قُلْ اِیْ وَرَبِّیْۤ اِنَّهٗ

او ستا نه دَ خبر پوښتنه کوی آیا رښتونی ده دا خبره لکه ته او وایه ضرور قسم ځما په رب چه

لَحَقٌّ ؕ وَمَاۤ اَنْتُمْ بِمُعْجِزِيْنَ ﴿۵۳﴾ وَلَوْ اَنَّ

دا رښتونی ده او تاسو به ستړے نهٔ کړئ هغه ف او که چرے وی

لِكُلِّ نَفْسٍ ظَلَمَتْ مَا فِی الْاَرْضِ لَافْتَدَتْ

دَ هر گناهګار سړی سره لکه څومره څه چه دی په زمکه کښ خامخا ورکړی خپله

بِهٖ ۚ وَ اَسَرُّوا النَّدَامَةَ لَمَّا رَاَوُا الْعَذَابَ ۚ
بدله کښې او پټ پټ به پښیمانه کیږي کله چه عذاب اووینی
وَقُضِيَ بَيْنَهُمْ بِالْقِسْطِ وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ﴿۵۴﴾
او د دوئ فیصله به کیږي انصاف سره او دوئ بان‌دے به ظلم نه کیږي.
اَلَآ اِنَّ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۗ اَلَآ
واورئ د الله دی ټول هغه چه په اسمان کښې دی او زمکه کښې [۱] واورئ
اِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ وَّلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا
وعده د الله رښتونی ده بیا ډیر خلق نه
يَعْلَمُوْنَ ﴿۵۵﴾ هُوَ يُحْيٖ وَيُمِيْتُ وَاِلَيْهِ
پوهیږي. هغه ژوندی کول کوي او مړه کول کوي او د هغه طرفته به
تُرْجَعُوْنَ ﴿۵۶﴾ يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَآءَتْكُمْ
بوتللے شئ. اے خلقو [۲] تاسو ته راغلے دے
مَّوْعِظَةٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَشِفَآءٌ لِّمَا فِي الصُّدُوْرِ ۙ
نصیحت ستاسو د رب د طرفه او شفاء د زړونو د بیمارو
وَهُدًى وَّرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۵۷﴾ قُلْ بِفَضْلِ
او هدایت او رحمت د مسلمانانو د پاره. او وایه په فضل
اللّٰهِ وَبِرَحْمَتِهٖ فَبِذٰلِكَ فَلْيَفْرَحُوْا ۗ هُوَ
د الله او د هغه په مهربانئ [۳] سره نو په دے خوشحالی پکار ده دا
خَيْرٌ مِّمَّا يَجْمَعُوْنَ ﴿۵۸﴾
بهتر دے د هغه څیزونو نه کوم چه جمع کوئ

نکات: [۱] شکوی ۱۲ [۲] توحید بان‌دے شپږم عقلی دلیل ۱۲ [۳] ترغیب الی القرآن ۱۲.

**موضحِ قرآن** ف۱ یعنی چه اُوتښتئ هغه به عاجز نکړئ ۱۲۔

**تفسیر:** ۴۱ دا شکوی ده منکرین ستا نه تپوس کوی چه واقعی عذاب یا قیامت راتلل حق دی۔ قُلْ اِیْ وَرَبِّیْٓ الخ دا جواب شکوی دے تهٔ پیغمبره تا سو دَ دوئ په جواب کښ اوواېئ ولے نهٔ دے تهٔ په خپل رب قسم! هغه حق دے او دَ هغهٔ واقع کیدل خامخا دی او تاسو دَ هغے راوستو نکے او راوړونکے نشئ عاجز کولے او نهٔ به پخپله دَ هغے نه بچ شئ۔

۴۲ تخویف اخروی دے دَ قیامت په ورځ به مشرکان دَ الله دَ عذاب نه دَ بچکیدو آرزو کوی تر دے چه په دغه ورځ کهٔ چرے دَ دُنیا دَ ټول دولت او زرو او جواهرو خزانے دَ هغوئ په قبضه کښ وی نو دَ عذاب نه دَ بچکیدو دَ پاره به هغه ټولے په فدیه کښ ورکولو ته به تیار روی۔ وَاَسَرُّوْا او دَ قیامت په ورځ به هغوئ عذاب اووینی دَ دُنیا په بد عملونو به پښیمانه شی او سخت پښیمانه او تکلیف کښ به وی او دَ خپلے پښیمانتیا پټولو کوشش به کوی لیکن هغه به پټه نشی پاتے کیدے۔ یا اَسَرُّوْا په معنیٰ دَ اَظْهَرُوْا دے ځکه چه دا لفظ دَ اضداد نه دے وفی القاموس ایضًا اسره کتمه واظهره (روح ج ۱۱ ص۱۳۷) یعنی دَ قیامت په ورځ چه عذاب اووینی نو ډیر زیات به پښیمانه شی او په خپلو بد عملونو باندے به دَ ندامت او پښیمانتیا اظهار کوی ۱۲۔ ۴۳ دا په توحید باندے شپږم عقلی دلیل دے او دا دَ شرک فعلی دَ نفی دَ پاره تمهید دے کوم چه په مخکنی دلیل کښ ذکر شوید دے دَ زمکے او آسمان هرڅیز دَ الله دے هرڅیز دَ هغهٔ دَ تصرّف او ملک او دَ هغهٔ دَ قدرت دَ لاندے دے۔ هُوَیُحْیٖ وَیُمِیْتُ الخ هغه دا سے قادر دے متصرّف دے چه مرګ او ژوند هم دَ هغهٔ په لاس کښ دے کله چه هغه مالک او مختار او متصرّف دے نو بیا دَ هغهٔ پیدا کړے شوی مملوک څیزونو کښ دَ نورو دَ پاره حصّے ولے مقرّروئ؟ او دَ غیرالله دَ پاره تحریمات ولے کوئ؟ لهٰذا ستا سو دَ ځان نه جوړ شوے تحلیل او تحریم بے ځایه دے اَلَآ اِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ الخ کله چه هغه مالک او مختار دے نو هغه پخپله وعده پوره کولو باندے هم قادر دے دَ دے وجے نه کومه وعده چه هغهٔ کړیده خواه منکرینو دَ پاره دَ عذاب یا مؤمنانو دَ پاره دَ ثواب هغهٔ به لامحاله پوره کړے شی۔ ۴۴ دا ترغیب الی القرآن دے دَ الله پاک دَ طرفه تاسو ته یو داسے کتاب راغلے دے ټول هدایت او رحمت دَ نصیحت او حکمت نه ډک دے او دَ ټولو روحانی بیمارو دَ پاره دَ شفاء پیغام دے هغه توحید او نور عقائد حقه او احکام شرعیه بیانوی او شرک بدعت او دَ جاهلیت دَ اعمالو نه منع کوی دَ دے وجے نه دَ هغے نه فائده واخلئ او دَ هغهٔ په هدایت باندے عمل اوکړئ دے دَ پاره چه دَ شرک او بدعت رذیل اخلاقو نه پاک شئ

۵۸ فَضل نه مراد قرآن او رحمت نه توفیق دَ ایمان او اسلام مراد دے یا دواړو نه
مراد قرآن دے دے ایت کښ ډیر زیات تاکید او اهتمام سره دَ قرآن سره چه
دَ الله تعالیٰ فضل او رحمت دے دَ خوشحالیدلو حکم ورکړے شوے دے دَ دے
ایت دَ فصاحت او بلاغت کمال دا دے چه دَ لفظی تکرار نه بغیر دهٔ کښ معنوی
تکرار او تاکید موجود دے نو دلته درے ځله دَ دے تاکید دے ① بفضل الله
دَ پاره متعلق محذوف دے په اصل کښ وو بِفَضْلِ اللّٰهِ وَ بِرَحْمَتِهٖ فَلْيَفْرَحُوْا.
② فَبِذٰلِكَ فاء په دے دلالت کوی چه دَ بِذٰلِكَ متعلق محذوف دے چه په
قرینه دَ مابعد لیفرحو دے۔ ③ فَلْيَفْرَحُوْا جمله ده چه دَ دے متعلق بِذٰلِكَ مقدم
دے. دا شان به فَبِذٰلِكَ فَلْيَفْرَحُوْا دوه مستقل جملے وی او اصل کلام به داشان
وی فَبِذٰلِكَ لِيَفْرَحُوْا فَبِذٰلِكَ لِيَفْرَحُوْا دَ اول جملے نه فَلْيَفْرَحُوْا او دَ دویمے جملے نه
به بِذٰلِكَ محذوف وی فَبِذٰلِكَ فَلْيَفْرَحُوْا کښ دَ ظرف په فعل مقدم کیدل دَ
حصر فائده ورکوی هم دے سره هغوئی له خوشحالیدل پکار دی نهٔ په بل
کوم کتاب یا دنیوی مال او متاع سره قاله الشیخ رحمه الله تعالیٰ - نورو مفسرینو
صرف دوه جملے جوړے کړی دی یوه بفضل الله وبرحمته فلیفرحوا دویم فبذلك
فلیفرحوا امام رازی فرمائی وتقدیره بفضل الله وبرحمته فلیفرحوا ثم یقول مرة
أخری (فبذلك فلیفرحوا) والتکرار للتاکید (کبیر ج ۱۷ ص ۱۱۸ کذا فی الروح والمدارک).

قُلْ اَرَءَيْتُمْ مَّآ اَنْزَلَ اللّٰهُ لَكُمْ مِّنْ رِّزْقٍ

ته اووایه بنهٔ ده نو اوګورئ تاسو ۵۹ . الله چه کوم څهٔ نازل کړل ستاسو دَ پاره روزی

فَجَعَلْتُمْ مِّنْهُ حَرَامًا وَّحَلٰلًا ؕ قُلْ آٰللّٰهُ

بیا تاسو اوګرځول څهٔ حرام او څهٔ حلال اووایه آیا الله

اَذِنَ لَكُمْ اَمْ عَلَى اللّٰهِ تَفْتَرُوْنَ ۵۹ وَمَا ظَنُّ

حکم درکړو تاسو ته یا په الله باندے دروغ جوړوئ ف او څهٔ خیال دے

الَّذِيْنَ يَفْتَرُوْنَ عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ يَوْمَ

دَ هغے کسانو چه جوړوی په الله باندے دروغ په ورځ

الْقِيٰمَةِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَذُوْ فَضْلٍ عَلَى النَّاسِ

دَ قیامت الله تعالیٰ خو فضل کوی په خلقو باندے

وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا يَشْكُرُوْنَ ﴿۶۰﴾ وَمَا تَكُوْنُ

او لیکن ډیر خلق حق نهٔ مني او نهٔ ئے ته

فِيْ شَاْنٍ وَّمَا تَتْلُوْا مِنْهُ مِنْ قُرْاٰنٍ وَّلَا

په هیڅ حال کښ او نهٔ لولې ډ هغه نه څهٔ قرآن او نهٔ کوئ

تَعْمَلُوْنَ مِنْ عَمَلٍ اِلَّا كُنَّا عَلَيْكُمْ شُهُوْدًا

تاسو خلق څهٔ کار چه مونږ حاضر نهٔ یو ستاسو سره

اِذْ تُفِيْضُوْنَ فِيْهِ ۭ وَمَا يَعْزُبُ عَنْ رَّبِّكَ

کله چه تاسو مشغول کیږئ په هغې کښ او غائب نهٔ وی ستا ډ رب نه

مِنْ مِّثْقَالِ ذَرَّةٍ فِي الْاَرْضِ وَلَا فِي السَّمَاۗءِ

په مقدار ډ یو ذرے په زمکه کښ او نهٔ په اسمان کښ

وَلَآ اَصْغَرَ مِنْ ذٰلِكَ وَلَآ اَكْبَرَ اِلَّا فِيْ كِتٰبٍ

او نهٔ ورکوټے ډ هغې نه او نهٔ ډ هغې نه غټ مګر په کتاب

مُّبِيْنٍ ﴿۶۱﴾ اَلَآ اِنَّ اَوْلِيَاۗءَ اللّٰهِ لَا خَوْفٌ

واضحه کښ۔ یاد ساتئ کوم خلق چه ډ الله دوستان دی نهٔ ویره شته

عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴿۶۲﴾

په هغوئ باندے او نهٔ به هغوئ غمژن وی۔ ۳

**نکات:** ۱ توحید باندے اُوم دلیل عقلی ۱۲۔ ۲ تخویف دنیوی ۱۲۔ ۳ توحید باندے اتم دلیل عقلی ۱۲۔ ۴ بشارت اُخروی۔

**موضح قرآن** | ف سورۂ مائده او سورۂ انعام کښ ډ هغې ذکر اُوشو۔

**تفسیر:** ۵۹ دا په توحید باندے اُوم دلیل عقلی دے او دے سره هم ډ شرک فعلی نفی مقصود ده او دا ډ شپږم دلیل سره متعلق دے کله چه دا خبره ثابته شوه چه ډ زمکے او اسمان ډ هر څیز مالک الله تعالی دے او په دے کښ صرف هغه متصرف دے او مختار دے نو اوس راته او وایئ الله چه ډ رزق کوم انواع

او اقسام تاسو ته درکړی دی په هغې کښې تاسو خپله مرضئ سره تحلیل او تحریم ولے کړیں ے؟ آیا الله تاسو ته دَ دے اجازت درکړ یں ے یا تاسو خپل فعل دَ الله طرف ته منسوب کوئ په هغهٔ باندے بهتان جوړوئ. مشرکانو به ځنے وخت خپل مشرکانه افعال دَ الله طرف ته منسوب کول او وئیل به ئے چه الله مونږ ته دَ دے حکم راکړیں ے اِنَّ اللهَ اَمَرَنَا بِهَا حال دا دے چه دا په الله تعالیٰ تهول افتراء ده مشرکانو به دَ خپلو معبودانو دَ رضا کولو دَپارهٔ مختلف قسم څاروی دَ هغوئ په نوم کول او پریښودل به ئے او دَ فصلونو او غلونه به ئے هم دَخپلو معبودانو دَپارهٔ حصے مقرر ولے دَ دغه چارپایانو (سائبه، بحیره، وغیره) او دَغلو دَحصو استعمال به ئے حرام ګرځولو دَځنو ښځو حیوانا تو باره کښې به هغوئ اعلان کولو چه دَ دوئ نه ژوندے بچے پیدا شي نو هغهٔ به دَ سړو دَپاره حلال وی او دَ ښځو دَپارهٔ حرام او که چرے مړ پیدا شي نو دَ ټولو دَپارهٔ به حلال وی لکه چه دَ دے تفصیل په سورهٔ مائده (ع ۱۴) کښې تیر شویں ے دلته ئے مشرکانو ته دے خود ساخته تحلیل او تحریم باندے زور نه ورکړه. فَجَعَلْتُمْ مِّنْهُ حَلٰلًا وَّحَرَامًا وقال مجاهد هو ما حکموا به من تحریم البحیرة والسائبة والوصیلة والحام وقال الضحاك هو قول الله تعالیٰ وَجَعَلُوْا لِلّٰهِ مِمَّا ذَرَاَ مِنَ الْحَرْثِ وَالْاَنْعَامِ نَصِیْبًا (قرطبی ج ۸ ص ۳۵۵، معالم ج ۳ ص ۱۹۵) ای فبعضتموه وقسمتموه الی حرام وحلال وقلتم (هٰذِهٖۤ اَنْعَامٌ وَّحَرْثٌ حِجْرٌ) و (مَا فِیْ بُطُوْنِ هٰذِهِ الْاَنْعَامِ خَالِصَةٌ لِّذُكُوْرِنَا وَمُحَرَّمٌ عَلٰۤى اَزْوَاجِنَا) الی غیر ذٰلك (روح ج ۱۱ ص ۱۴۷) ۸۶ دا تخویف دے او تهدید یں یَوْمَ الْقِیٰمَةِ مفعول فیه دے ظَنُّ دَپارهٔ یعنی دَ قیامت دَ ورځے باره کښې دَ دے افتراء کوونکو مشرکانو څهٔ ګمان دے چه زهٔ دَ دوئ سره څهٔ کار کوونکے یم ولے زهٔ به هغوئ پریږدم او هغوئ په عذاب نکړم؟ ایحسبون انه لایؤاخذهم ولا یجازیهم علی اعمالهم فهو استفهام بمعنی التوبیخ والتقریع والوعید العظیم لمن یفتری علی الله الکذب (خازن ج ۳ ص ۱۹۵) استفهام توبیخ دَپارهٔ دے او تهدید دَپارهٔ.

۸۷ دا په توحید باندے اتم دلیل دے او دے سره دَ شرك فی العلم نفی مقصود ده مِنْ قُرْاٰنٍ کښې مِنْ بیانیه دے، قرآن، دَ منه ضمیر مجرور بیان دے وَلَا تَعْمَلُوْنَ الخ دا دَ خاص نه عام طرف ته ترقی ده اعلم انه تعالیٰ خصص الرسول فی اول هذه الاٰیة بالخطاب فی امرین ثم اتبع ذٰلك بتعمیم الخطاب مع کل المکلفین (کبیر ج ۱۷ ص ۱۲۱) اِذْ تُفِیْضُوْنَ فِیْهِ یعنی کله چه تاسو په خپلو کارونو کښې مصروف کیږئ حاصل دا چه اے پیغمبر تاسو چه هر څهٔ کار هم کوئ مثلاً قوم ته دَ الله قرآن اوروئ ستاسو او ستاسو دَ تلاوت څهٔ خصوصیت دے تاسو ټول خلق چه هر څهٔ کار کوئ کله چه تاسو په هغې کښې پورهٔ طور باندے مصروف یئ مونږ ستاسو هر فعل ته هر وخت او هر ځائے خبردار یو. او دَ علم او قدرت په اعتبار سره

هر څائے حاضر او ناظر او سیرو. وَمَا یَعْزُبُ داد تخصیص نه دوستو بل تعمیم دے یعنی صرف د بندګانو په اعمالو او افعالو باندے منحصر نه دے بلکه د زمکے او اسمان یوه ذره بلکه د دینه هم که چړے ټخه لر او حقیر مقدار وی نو هغه هم په الله تعالی باندے پټ نه دے. د ټول کائنات ذره ذره د هغهٔ په محیط علم کښ موجود دے کِتٰبٍ مُّبِیْنٍ نه لوح محفوظ یعنی علم الٰهی مراد دے یعنی اللوح المحفوظ مع علم الله تعالی به (قرطبی ج ۸ ص۳۵۵) کله چه علمِ محیط او تول په الله پورے خاص کړیشو نو د نبی صلی الله علیه وسلم او نور ټول غیر الله نه د علم غیب نفی متحقق شوله لهٰذا د الله تعالی نه سیوا کار ساز او متصرف هم بل څوک نشته. ځکه چه کار ساز او متصرف هغه کیدے شی څوک چه عالم الغیب وی. ۷۶ دا بشارت اخروی دے اولیاء الله یعنی د الله د دوستانو به په اخرت کښ دا شان وی چه په میدان حشر کښ د قیامت د سختو نه چه کله نور خلق په ویره کښ وی هغوی به د ویرے او دهشت نه محفوظ پاتے وی- او کله چه نور خلق د دنیا کښ په عملی کوتاهئ باندے حسرت او افسوس کوی هغه وخت به دوئی سره هیڅ غم او افسوس نه وی ځکه چه هغوئی خپل ژوند عبث او په غیر مقصودی کارونو کښ صرف نکړو بلکه د دنیا ژوند ئے د الله تعالی په عبادت او طاعت او د هغهٔ په رضا طلب کولو کښ صرف کړو. لاخوف علیهم فی الاخرة من عقاب الله لان الله تعالی رضی عنهم فامنهم من عقابه وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ علی ما فاتهم من الدنیا (ابن جریر ج ۱۱ ص۱۳۱)

اَلَّذِیْنَ اٰمَنُوْا وَكَانُوْا یَتَّقُوْنَ ﴿۶۳﴾ لَهُمُ

کوم خلقو چه ایمان راوړو او ویریږی نه هغوئی د پاره

الْبُشْرٰی فِی الْحَیٰوةِ الدُّنْیَا وَفِی الْاٰخِرَةِ ؕ

خوشخبری ده ۷۸ په ژوند د دنیا کښ ۷۹ او په اخرت کښ

لَا تَبْدِیْلَ لِكَلِمٰتِ اللّٰهِ ؕ ذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ

نه بدلیږی خبرے د الله ۸۲ هم دا کامیابی ده

الْعَظِیْمُ ﴿۶۴﴾ وَلَا یَحْزُنْكَ قَوْلُهُمْ ۘ اِنَّ الْعِزَّةَ

لویه. او خفه کیږه مه ۸۳ د دوئی په خبرو ۸۴ په اصل کښ طاقت

لِلّٰهِ جَمِیْعًا ؕ هُوَ السَّمِیْعُ الْعَلِیْمُ ﴿۶۵﴾ اَلَآ اِنَّ

الله د پاره دے ټول. هغه اوریدونکے او خبردار دے یاد ساتئ

وقف لازم

لِلّٰهِ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَمَنْ فِي الْاَرْضِ ؕ

الله د پاره دي څهٔ چه دي په اسمانونو کښې او څهٔ چه دي په زمکه کښې ﷺ

وَمَا يَتَّبِعُ الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ

او دا کوم چه د روستو لګیږي دي ﷺ اوازکوونکي سيوا د الله تعالی نه

شُرَكَآءَ ؕ اِنْ يَّتَّبِعُوْنَ اِلَّا الظَّنَّ وَاِنْ هُمْ

شریکانو ته نو دوئ هیڅ نهٔ دي لیکن تابع شوي ي د خپل خیال ﷺ او هیڅ نهٔ دي

اِلَّا يَخْرُصُوْنَ ﴿۶۶﴾ هُوَ الَّذِيْ جَعَلَ لَكُمُ

لیکن اټکل زغلوي۔ (الله) هغه دے چا چه اوګرځوله ستاسو د پاره

الَّيْلَ لِتَسْكُنُوْا فِيْهِ وَالنَّهَارَ مُبْصِرًا ؕ اِنَّ فِيْ

شپه د آرام حاصلولو د پاره په دے کښې او ورځ ئې کړه ښودلو والا ﷺ بیشکه په

ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّسْمَعُوْنَ ﴿۶۷﴾ قَالُوا

دے کښې نښے دي د خلقو د پاره څوک چه اوري۔ وائي

اتَّخَذَ اللّٰهُ وَلَدًا سُبْحٰنَهٗ ؕ هُوَ الْغَنِيُّ ؕ

نیولے دے الله ځوئے ﷺ هغه پاک دے ﷺ هغه بے پرواه دے

لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ؕ

هغهٔ د پاره دي کوم څهٔ چه دي په اسمانونو کښې او کوم څهٔ چه دي په زمکه کښې

اِنْ عِنْدَكُمْ مِّنْ سُلْطٰنٍ بِهٰذَا ؕ اَتَقُوْلُوْنَ

نشته ستاسو سره څهٔ سند د دے ولے دروغ وایئ

عَلَى اللّٰهِ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۶۸﴾

په الله باندے د کومے خبرے چه تاسو ته خبر نشته۔

**نکات:** ۱ تسلّی نبی علیه السلام د پاره ۱۲ ۲ توحید باندے نهم دلیل عقلی ۱۲ ۳ زجر ۱۲ ۴ توحید باندے لسم دلیل عقلی ۱۲۔ ۵ شکوٰی ۱۲ ۶ جواب شکوٰی

پنځو عنوانا تاتو نه دا اولنے عنوان دے ۱۲. ے دویم عنوان دے ۱۲. ے دریم عنوان ۱۲. ے څلورم عنوان ۱۲. ے پنځم عنوان ۱۲.

فتح الرحمٰن | ف۱ یعنی نیک خوبونو سره ۱۲.

تفسیر: ۸۰ داد اولیاء الله نښانات دی چه دے سره هغه په آسانئ سره پیژندلے شی دلته الله تعالیٰ دَ اولیاء الله دوه صفتونه بیان کړی دی چه دَ ولایت دَ ټولو دَ پاره جمع کونکی دی. ① اَلَّذِیْنَ اٰمَنُوْا دے سره دَ صحیح اعتقاد طرف ته اشاره ده یعنی دَ هغوئ ټول عقائد دَ کتاب او سنت سره مطابق وی او په هغوئ کښ دَ شریعت نه دَ سر دَ ویښته برابر هم مخالفت نه وی. ② وَكَانُوْا يَتَّقُوْنَ او هغه متقی وی یعنی دَ هغوئ ټول اعمال او اخلاق دَ شریعت اسلامی سره بالکل مطابق وی. دَ عقائد و په کتابونو کښ دَ دے تفصیل موجود دے چه خلاصه ئے دا ده ولی الله من یکون اتیا بالاعتقاد الصحیح المبنی علی الدلیل ویکون اتیا بالاعمال الصالحة علی وفق ما وردت به الشریعة (کبیر ج ۱۷ ص ۱۲۶) ۸۱ اولیاء الله دَ پاره دنیا او آخرت کښ جنت خوشخبری ده او دَ الله تعالیٰ دَ طرفه نه پخه وعده ده دنیا کښ دَ خوشخبرئ نه مراد زیری دی کوم چه الله تعالیٰ په قرآن مجید کښ نازل کړی دی. مثلاً يُبَشِّرُهُمْ رَبُّهُمْ بِرَحْمَةٍ مِّنْهُ وَرِضْوَانٍ (توبه ع ۳) او وَبَشِّرِ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ اَنَّ لَهُمْ جَنّٰتٍ الخ (بقره ع ۳) قال الحسن هی ما یبشرهم الله تعالیٰ فی کتابه من جنته وکریم ثوابه بقوله يُبَشِّرُهُمْ رَبُّهُمْ الخ (قرطبی ج ۸ ص ۳۵۵) یا په دنیا کښ دَ خوشخبرئ نه مراد نیک خوبونه دی لکه چه په حدیث مرفوع کښ واقع دی. هی الرؤیا الصالحة یراها المسلم او یری له (مدارک ج ۲ ص ۱۲۹) او په آخرت کښ دَ خوشخبرئ نه مراد دا دے چه دَ مرګ نه روستو یا دَ قبرونو نه راوتلو سره فرشتے هغوئ ته دَ جنت زیرے ورکوی. ۸۲ دَ الله تعالیٰ په ارشاداتو کښ بدلون نشی راتلے. کلمات نه اقوال مراد دی خواه احکام او اخبار وی یا وعد یا وعید یعنی دَ الله تعالیٰ احکام قطعی دی دے کښ ترمیم او تبدیل نشی کیدے مثلاً توحید دے چه ناقابل تبدیل دے دا شان دَ الله تعالیٰ په وعد وکښ تخلف ناممکن دے. ای لا تغییر لاقواله التی من جملتها مواعیده الخ (روح ج ۱۱ ص ۱۵۲)

۸۳ دا نبی علیه السلام دَ پاره تسلی ده. اِنَّ الْعِزَّةَ الخ دا دَ ما قبل دَ پاره علت دے یعنی اے ځما پیغمبره تا سو دَ مشرکانو دَ ضرر رسولو او دَ هغوئ دَ توهین نه ډک سلوک سره خفه او غمژن نشئ دے سره هغوئ ستاسو هیڅ نشی کولے ځکه چه عزت او ذلت خو دَ الله په اختیار کښ دے او الله تعالیٰ دنیا او آخرت کښ ستاسو دَ عزت فیصله کړیده. هُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ صرف هغه دَ هرے خبرے

اورېن ونګے او پوهېن ونګے دے بل څوک نۀ دے، دِے سره دَ شرک فی العلم نفی مقصود ده ګویا چه دا دَ نهم دلیل مقدمه ده چه دے سره دَ شرک فی التصرف نفی مقصود ده. ۸۴ دا په توحید بانې نهم عقلی دلیل دے سره دَ شرک فی التصرف نفی مقصود ده. شپږم دلیل کښې ئے فرمائیلی وو چه دَ هر څیز مالک الله تعالیٰ دے لهٰذا تاسو دَ خپل طرف نه تحریم او تحلیل مه کوئ دلته ئے اوفرمائیل دَ زمکے او اسمان ټول ذوی العقول مخلوق پیریان او انسانان او فرښتے ټول دَ الله تعالیٰ مملوک او محکوم او دَ هغۀ عاجز بندګان دی او دَ دوئ نه هیڅوک هم دَ هرے خبرے اورېن ونګے او په هره خبره پوهېن ونګے نشته. دَ دے وجے نه په دوئ کښې څوک هم دَ دُعا او را بللو لائق نۀ دی کوم خلق چه دَ الله نیک بندګان په حاجتونو او مشکلاتو کښې رابلی دَ هغوئ باره کښې دَ دوئ عقیده داوی چه هغوئ په غیب عالمان دی او دَ دوئ ټولے خبرے اوری او په هر څۀ خبردار دی دَ دے وجے نه اول اعلان اوکړے شو چه دَ هرے خبرے اورېن ونګے او په هر څۀ خبردار صرف الله تعالیٰ دے بل څوک نۀ دے.

۸۵ دا زجر دے الَّذِیْنَ سره دَ صله دَ یَتَّبِعُ فاعل دے او یَدْعُوْنَ مفعول محذوف دے ای شُرَکَاءُ او شُرَکَاءُ چه کوم ذکر دے هغه دَ یَتَّبِعُ مفعول دے یعنی کوم خلق چه دَ الله نه سیوا نورو شریکانو ته آواز کوی په حقیقت کښې هغوئ دَ الله شریکانو ته آواز نۀ کوی ځکه چه دَ الله تعالیٰ دَ شرک فی الربوبیة خو بالکل وجود محال دے وَمَا یَتَّبِعُوْنَ حقیقةً الشرکاء وان کانوا یسمونها شرکاء لان شرکة الله فی الربوبیة محال (مدارک ج ۲ ص ۱۳۰) ۸۶ اصل خبره دا ده چه مشرکان خپل ظن او اټکل سره دَ خدائے بندګان دَ خدائے شریکان ګنړی او بیا دَ خپل باطل خیال او فاسد ظن پیروی کوی او په حاجتونو کښې هغوئ ته آواز کوی حال دا دے چه فی الواقع دَ الله تعالیٰ شریک موجود نۀ دے او نۀ دَ هغۀ وجود ممکن دے. ۸۷ توحید بانې لسم دلیل عقلی. دا دَ الله تعالیٰ دَ قدرت کامله یوه ادنیٰ کارنامه ده چه هغه ستاسو دَ آرام دَ پاره شپه اوکاروبار دَ پاره ورځ اوګرځوله بیا دَ هغۀ نه سیوا بل کوم کارساز یا متصرف او مختار کیدے شی؟ په معطوف علیه کښې دَ جَعَلَ مفعول ثانی محذوف دے په اصل کښې وجعل لکم اللیل مظلماً لتسکنوا فیه. یعنی هغۀ شپه تورۀ اوګرځوله دے دَ پاره چه تاسو په هغے کښې آرام او سکون حاصل کړئ او په معطوف کښې دَ مفعول ثانی متعلق محذوف دے. ای والنهار مبصراً لتبصروا فیه. او ورځ ئے روښانه اوګرځوله چه تاسو پکښې لیدل اوکړئ او دَ معاش وغیره انتظام اوکړئ (مدارک وروح) په معطوف علیه کښې دَ متعلق ذکر په معطوف کښې دَ هغۀ دَ حذف قرینه ده علیٰ هٰذا په معطوف کښې دَ مفعول ثانی ذکر معطوف علیه کښې دَ هغۀ مقدر

کیږی لو بانې مے قرینه ده دا ایجاز او بلاغت هم دَ قرآن اعجاز دے۔
۹۸ دا شکوی ده۔ وَلَدًا نه مراد حقیقی ځوئے نهٔ دے بلکه دَ دهٔ نه مراد نائب او متصرف دے لکه دَ اِتَّخَذَ اللّٰهُ وَلَدًا تعبیر نه ظاهر دے یعنی الله تعالیٰ ځوئے اوکرځولو والاتخاذ صریح فی التبنی (روح ج ۱۱ ص ۱۵۵) یهودیانو او نصاراؤ حضرت مسیح او عزیر علیهما السلام ته دَ خدائے ځوئے او مشرکانو فرشتو ته دَ خدائے لونړه دے معنی سره نهٔ ویلے چه هغه دَ الله تعالیٰ صُلبی او نسبی اولاد دے بلکه دَ هغوئی مقصد دا وو چه الله تعالیٰ دا سے محبوب دے لکه چه ځوئے پلار ته محبوب وی څنګه چه پلار دَ خپل محبوب ځامنو او دَ خپلو خورو لونړو هره خبره منی دا شان دَ الله تعالیٰ هم دَ خپلو غوږ کړے شوو او محبوب بندګانو هیڅ خبره نهٔ رد کوی۔ دا شان نیک بندګان دَ الله نائبان دی الله تعالیٰ دَ ځنی ما فوق الاسباب امورو اختیارات هغوئی ته ورکړی دی۔ ۹۹ جواب شکوی ده دَ مشرکانو دَ پورتنو ذکر شوو باطل اقوال پنځو عنوانا تو سره رد کړے شوی دے۔ ① سُبْحٰنَهٗ یعنی الله تعالیٰ پاک دے او دَ دے عیب نه مبرّاء دے چه دَ هغهٔ ځوئے ته ضرورت وی۔
② هُوَ الْغَنِیُّ هغه بے پرواه دے او دَ ځوئے حاجت دَ احتیاج دلیل دے۔
③ لَهٗ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَمَا فِی الْاَرْضِ هغه دَ ټول کائنات مالک او مختار دے دَ دے وجے نه دَ هغهٔ ځوئے او نائب ته حاجت نشته ④ دے باطل قول بانې مے ستاسو سره هیڅ دلیل نشته کَ دے وجے نه دا دعوی بلا دلیل باطل او نا قابل دَ تسلیم ده ⑤ اَتَقُوْلُوْنَ عَلَی اللّٰهِ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ۔ تاسو دَ الله طرفته دا سے بے دلیله خبرے منسوب کوئی چه ټوله ستاسو ناپوهئی او جهالت بانې مے مبنی ده۔ لِهٰذا ثابته شوه چه الله تعالیٰ دَ خپل مخلوق نه هیڅوک هم خپل نائب او متصرف نهٔ دے ګرځولے۔

قُلْ اِنَّ الَّذِیْنَ یَفْتَرُوْنَ عَلَی اللّٰهِ الْكَذِبَ
اووایه کوم خلق چه جوړوی نه په الله بانې مے دروغ
لَا یُفْلِحُوْنَ ﴿۶۹﴾ مَتَاعٌ فِی الدُّنْیَا ثُمَّ اِلَیْنَا
خلاصے به نهٔ مومی۔ لږه شان نفع اخستل دی په دنیا کښې بیا ځمونږ طرفته دی
مَرْجِعُهُمْ ثُمَّ نُذِیْقُهُمُ الْعَذَابَ الشَّدِیْدَ
دَ هغوئی واپس کیدل۔ بیا به ور اوڅکوو مونږ هغوئی ته عذاب سخت

بِمَا كَانُوْا يَكْفُرُوْنَ ﴿٧٠﴾ وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَاَ نُوْحٍ ۘ اِذْ

بدله د هغوئی د کفر او واوروه هغوئی ته حال د نوح کله چه ئے

قَالَ لِقَوْمِهٖ يٰقَوْمِ اِنْ كَانَ كَبُرَ عَلَيْكُمْ مَّقَامِيْ

او وئیل لره خپل قوم ته اے قومه! که چرے سخت شوی دی په تاسو باندے زما اودریدل

وَتَذْكِيْرِيْ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ فَعَلَى اللّٰهِ تَوَكَّلْتُ

او نصیحت کول په ایتونو د الله سره نو ما په الله باندے بهروسه اوکړه

فَاَجْمِعُوْٓا اَمْرَكُمْ وَشُرَكَآءَكُمْ ثُمَّ لَا يَكُنْ

اوس تاسو ټول یو ځائے شئ مقرر کړئ خپل کار او جمع کړئ خپل شریکان بیا دِ پاتے نشی

اَمْرُكُمْ عَلَيْكُمْ غُمَّةً ثُمَّ اقْضُوْٓا اِلَيَّ وَلَا تُنْظِرُوْنِ ﴿٧١﴾

په خپل کار کښ تاسو ته شبه بیا را اورسوئ ما ته هر قسم ضرر او مهلت مه راکوئ ما ته

فَاِنْ تَوَلَّيْتُمْ فَمَا سَاَلْتُكُمْ مِّنْ اَجْرٍ ؕ اِنْ اَجْرِيَ

بیا که چرے مخ واړوئ نو ما نه دے غوښتلے ستاسو نه مزدوری نشته زما مزدوری د

اِلَّا عَلَى اللّٰهِ ۙ وَاُمِرْتُ اَنْ اَكُوْنَ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ ﴿٧٢﴾

په الله باندے او ما ته حکم دے چه شم د حکم منونکو نه

فَكَذَّبُوْهُ فَنَجَّيْنٰهُ وَمَنْ مَّعَهٗ فِي الْفُلْكِ وَ

بیا ئے هغه دروغژن اوګڼلو نو مونږ خلاصے ورکړو او څوک چه د هغهٔ سره وو په کشتئ کښ او

جَعَلْنٰهُمْ خَلٰٓئِفَ وَاَغْرَقْنَا الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا ۚ

هغوئی اوګرځول مونږ خلیفګان او ډوب موکړل هغه چا چه دروغ ګڼړلے څمونږ خبرے

فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُنْذَرِيْنَ ﴿٧٣﴾

نو اوګوره څنګه شو د هغو انجام کوم چه ویرول شوی وو۔

نکات :- ۱ زجر سره د تخویف اخروی نه ۱۲ - ۲ د تخویف دنیوی اولنئ تفصیلی نمونه ۱۲۔

موضح قرآن ف یعنی نصیحت کول بد منئ تو چه ما سره څهٔ کولے شی هغه اوکرئ

تفسیر: ۵۹ زجر سره دَ تخویف اُخروی دا سے خلق چه دَ الله طرفته دا سے دَ ځان نه جوړ شوے خبرے منسوب کوی هغوئ هیڅکله هم خلاصے نهٔ مومی نهٔ به دَ الله دَ عذاب نه خلاص شی. ای لا یفوزون ولا یأمنون (قرطبی ج۸ ص۳۶۷)
مَتَاعٌ فِي الدُّنْيَا الخ دا هم تخویف اُخروی دے. ۶۰ دا دَ تخویف اُخروی اولنئ تفصیلی نمونه ده دَ نوح علیه السلام دَ قوم حال اوکوړئ هغوئ ځمونږ دَ پیغمبر دَ حکم تعمیل اونکړو او دَ هغهٔ دَ طرفه وړکړے شوے دعوت توحید ئے قبول نکړو نو مونږ هغوئ نیست نابود کړل کهٔ چرے تاسو هم اونهٔ منلو نو ستاسو سره به هم دا شان کیږے شی. امره علیه السلام ان یذکرهم اقاصیص المتقدمین ویخوفهم العذاب الالیم علی کفرهم (قرطبی).
۶۱ فَاجْمِعُوْا جمله انشائیه ده ان شرطیه جزاء ده او دَ شُرَكَاءَكُمْ ناصب محذوف دے ای ادعوا شرکاءکم ځکه چه شرکاءکم دَ اجمعوا دَ لاندے نهٔ شی داخلیدلے دَ دے وجے نه لفظ دَ اجماع په وزن دَ افعال دَ رائے جمع کولو او خپل مینځ کښ اتفاق رائے کولو دَپاره مستعمل دے لیکن دَ افراد جمع کولو دَپاره نهٔ دے مستعمل. غُمَّةً پټ حضرت نوح علیه السلام خپل قوم سره خطاب اوکړو وے فرمائیل کهٔ چرے تاسو کښ ځما ډیره موده او دَ الله توحید بیانول تاسو ته ناخوښه وی نو ځما دَ دینه ذره برابر پرواه هم نشته ځما اعتماد او توکل په الله دے کهٔ چرے تاسو ما ته څهٔ نقصان رسول غواړئ نو تول یو بل سره مشوره اوکړئ او خپل خود ساخته معبودان هم راوبلئ او بیا یو واضحه فیصله اوکړئ او بیا یو لمحه مهلت ورکولو نه بغیر چه ځما سره څهٔ کول غواړئ هغه اوکړئ دَ الله مهربانئ سره به تاسو ما ته هیڅ نقصان هم اونهٔ رسوئ. ۶۲ کهٔ چرے تاسو نهٔ منئ نو ځما په دے کښ څهٔ نقصان دے زهٔ خو دَ توحید په تبلیغ باندے ستاسو نه څهٔ اُجرت نهٔ غواړم چه ستاسو نهٔ منلو سره ما ته دَ مالی نقصان خطره وی زهٔ خو محض دَ الله دَ حکم تعمیل او دَ هغهٔ دَ رضا حاصلولو دَپاره تاسو ته تبلیغ کوم. فَكَذَّبُوْهُ لیکن هغه خلق په تکذیب باندے کلک پاتے شول اخر مونږ هغوئ غرق کړل او حضرت نوح علیه السلام او دَ هغهٔ متبعین مونږ دَ طوفان نه بچ کړل اوس اُوګوړئ دَ نهٔ منونکو انجام څنګه وی.

ثُمَّ بَعَثْنَا مِنْۢ بَعْدِهٖ رُسُلًا اِلٰى قَوْمِهِمْ

بیا مونږ اولیږلو دَ نوح نه روستو ګڼ شو مره پیغمبران دَ هغوئ قوم طرف ته

فَجَآءُوهُم بِالْبَيِّنَٰتِ فَمَا كَانُوا لِيُؤْمِنُوا
بیا ئے راوړل هغوئی ته ښکاره دلیلونه نو د هغوئی نه دا اونه شوه چه ایمان راوړی
بِمَا كَذَّبُوا بِهِۦ مِن قَبْلُ ۚ كَذَٰلِكَ نَطْبَعُ عَلَىٰ
په هغه خبره باندې کوم چه هغوئی دروغ ګڼله د مخکښ نه ۔ دا شان مونږ مهر لګوو په
قُلُوبِ الْمُعْتَدِينَ ﴿٧٤﴾ ثُمَّ بَعَثْنَا مِن بَعْدِهِم
زړونو د زیاتی کوونکو ۔ بیا اولیږل مونږ د هغوئی نه روستو
مُّوسَىٰ وَهَٰرُونَ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ وَمَلَإِيْهِۦ بِـَٔايَٰتِنَا
موسیٰ او هارون فرعون او د هغه سردارانو ته خپلو نښانو ورکولو سره
فَاسْتَكْبَرُوا وَكَانُوا قَوْمًا مُّجْرِمِينَ ﴿٧٥﴾ فَلَمَّا
بیا هغوئی تکبر اوکړو او هغه وو قوم ګناهګار ۔ بیا چه اورسیده
جَآءَهُمُ الْحَقُّ مِنْ عِندِنَا قَالُوٓا إِنَّ هَٰذَا
هغوئی ته رښتونے خبره زمونږ د طرفه وے وئیل داخو
لَسِحْرٌ مُّبِينٌ ﴿٧٦﴾ قَالَ مُوسَىٰٓ أَتَقُولُونَ لِلْحَقِّ
جادو دے ښکاره ۔ اووئیل موسیٰ ایا تاسو دا وایئ حق خبرے ته
لَمَّا جَآءَكُمْ ۖ أَسِحْرٌ هَٰذَا وَلَا يُفْلِحُ السَّٰحِرُونَ ﴿٧٧﴾
چه کله هغه را اورسیده تاسو ته ایا جادو دا او نجات نه مومی جادو کوونکي ۔
قَالُوٓا أَجِئْتَنَا لِتَلْفِتَنَا عَمَّا وَجَدْنَا
وے وئیل څه ایا ته راغلے چه ته مونږ واړوے د هغے لارے نه چه بیا مونده مونږ
عَلَيْهِ ءَابَآءَنَا وَتَكُونَ لَكُمَا الْكِبْرِيَآءُ
په کوم خپل پلاران اونیکونه او ملاوشي تاسو دواړو ته سرداری
فِي الْأَرْضِ وَمَا نَحْنُ لَكُمَا بِمُؤْمِنِينَ ﴿٧٨﴾
په دے ملک کښې او نه یو مونږ تاسو له منونکي ۔

**نکات**:- ۱ دَ تخویف دنیوی اجمالی نمونه ۱۲ ۲ دَ تخویف دنیوی دویمه تفصیلی نمونه ۱۲۔

**تفسیر**:- ۹۴ دا دَ تخویف دنیوی اجمالی نمونه ده۔ حضرت نوح علیه السلام نه روستو مونږ نور ډیر رسولان اولیږل چه دَ توحید واضح دلائیل ئے خپلو قومونو ته راوړل لیکن هغوئ دَ ضد او عناد نه کار واخستو او په انکار او جحود باندے قائم پاتے شول۔ کَذَّبُوْا بِهٖ کښ دَ ضمیر مجرور مرجع مَا دے او مَا نه دَ شریعت هغه ټول عقائد او اعمال او اصول او فروع مراد دی چه هر پیغمبر خپل اُمت ته ځان سره راوړل وما موصولة والمراد بها جمیع الشرائع التی جاء بها کل رسول اصولها وفروعها (روح ج ۱۱ ص۱۶۲) یعنی هغوئ ته دَ الله پیغمبر راغے او هغوئ اول ځل دَ پیغام توحید او نورو شرائعو نه انکار اوکړو نو بیا په انکار باندے ټینګ پاتے شول دَ پیغمبرانو بیا بیا پوهولو سره او دَ واضح دلائیلو پیش کولو سره په هغوئ باندے هیڅ اثر اونهٔ شو۔ یا دَ کَذَّبُوْا ضمیر ته دَ نوح علیه السلام قوم مراد دے مطلب دا دے چه دَ توحید کوم پیغام دَ نوح قوم دَ هغهٔ نه مخکښ دروغ ګڼړلے وو اُوس دوئ دَ هغے منلو ته تیار نهٔ وو التقدیر بما کذب به قوم نوح من قبل (قرطبی ج ۸ ص۳۶۵) کَذٰلِكَ ای لذلك یعنی کوم خلق چه په انکار او تکذیب او تردید کښ دَ حد نه تیر شی او په ضد او عناد باندے راشی دَ هغوئ په زړونو باندے مونږ دَ ضد او عناد دَ وجے نه مهر دَ جبارِیت لګوُو او دَ هغوئ نه توفیق ایمان سلب کړو۔ ۹۵ دا دَ تخویف دنیوی دویمه تفصیلی نمونه ده حضرت موسیٰ او هارون علیهما السلام فرعون او دَ هغهٔ قوم ته واضح اٰیتونو او دلائیلو او معجزاتو سره اولیږلے شو لیکن فرعون او دَ هغهٔ قوم چه دَ حکومت او دولت په نشه کښ بے هوش وو دَ حق پیغام او توحید ئے اونهٔ منلو او دَ الله دَ پیغمبرانو سره ئے مجادله او مکابره اوکړه کله چه الله دَ هغوئ دَ مطالبے موافق په هغوئ حجت قائم کړو نو بیا ئے هم ایمان رانوړو او په تکذیب او انکار ټینګ ولاړ وو چه دَ هغے انجام هغوئ دَ خپل عبرتناک تباهئ په صورت کښ په خپلو سترګو اُولیدو۔ ۹۶ کله چه دَ فرعون قوم ته څمونږ پیغمبر معجزاتو سره اُورسیدو و نو هغوئ معجزاتو ته جادو اووئیل او دَ هغے مِنْ جَانِبِ الله کیدلو نه ئے انکار اوکړو وَقَالَ مُوْسٰی الخ دَ هغوئ دَ دے باطل قول په جواب کښ حضرت موسیٰ علیه السلام اُوفرمائیل تاسو دَ الله ورکړے شوو معجزو ته چه ټول حق دی جادو وایئ آیا دا معجزے جادو دے چه په پوره تحدی او چیلنج (دَ مقابلے اعلان) سره ستا په مخکښ پیش کولے شی حال دا دے چه په جادوګرو کښ دومره زړهٔ ورتیا او بهادری چرته وی چه هغوئ داشان چیلنج ورکړی او بیا کامیاب هم شی ځکه چه جادو یو فریب دے چه

نشي چلیدے. یعني حاصل السحر تمویه وتخییل وصاحب ذلك لا یفلح (خازن ج ۳ ص ۲۲۶) برسر اقتدار خلقو سره همیشه دَ خپل وقار او اقتدار بحال ساتلو فکر او خیال وی او هغوئ په خپل ملک کښې دَ پورته کیدو وتلو هر یو تنظیم دَ نقطه نظر سره جائزه اخلی چه دا تنظیم دَ هغهٔ دَ اقتدار دَ پاره څومره مفید یا نقصان ده دے فرعون هم محسوس کړه چه که چرے دَ موسیٰ علیه السلام دعوت قبول کړے شو نو دَ هغهٔ خدائی او ربوبیت به ختم شي څکه دَ اقتدار دَ تحفظ وه لیکن فرعون او قوم ئے دَ من هب په رنګ کښې مخالفت اوکړو او وے وئیل ایا ته مونږ لره څمونږ دَ پلارانو او نیکونو دَ دین نه اړولو دَ پاره راغلے ئے او څمونږ په ملک باندے قبضه کول غواړئ. عَمَّا. ما موصوله ته مراد دین دے الکِبْرِیَآءُ مشری او سرداری او حکومت.

وَقَالَ فِرْعَوْنُ ائْتُوْنِیْ بِکُلِّ سٰحِرٍ عَلِیْمٍ ﴿۷۹﴾

او وئیل فرعون څه راولئ ماته هر څوک جادوګر چه پوهه وی.

فَلَمَّا جَآءَ السَّحَرَةُ قَالَ لَهُمْ مُّوْسٰٓی اَلْقُوْا

بیا چه کله راغلل جادوګر او وئیل هغوئ ته موسیٰ اوغورځوئ

مَآ اَنْتُمْ مُّلْقُوْنَ ﴿۸۰﴾ فَلَمَّآ اَلْقَوْا قَالَ مُوْسٰی

څهٔ چه تاسو غورځوئ کله چه هغوئ اوغورځول نو موسیٰ اووئیل

مَا جِئْتُمْ بِهِ ۙ السِّحْرُ ؕ اِنَّ اللّٰهَ سَیُبْطِلُهٗ ؕ

څهٔ چه تاسو راوړلی دی نو جادو دے اوس به الله دا وران کړی

اِنَّ اللّٰهَ لَا یُصْلِحُ عَمَلَ الْمُفْسِدِیْنَ ﴿۸۱﴾

بیشکه الله نهٔ جوړوی دَ شریرانو کار لره.

وَیُحِقُّ اللّٰهُ الْحَقَّ بِکَلِمٰتِهٖ وَلَوْ کَرِهَ

او الله رښتیا کوی حق خبرے لره په خپل حکم سره او که بد ئے ګڼړی

الْمُجْرِمُوْنَ ﴿۸۲﴾ ع فَمَآ اٰمَنَ لِمُوْسٰٓی اِلَّا ذُرِّیَّةٌ

ګنهګاران. بیا چا هم ایمان رانهٔ وړو په موسیٰ باندے څه لیکن څوانانو

مِّنْ قَوْمِهٖ عَلٰى خَوْفٍ مِّنْ فِرْعَوْنَ

دَ هغه قوم نه چه ویریدل دَ فرعون نه

وَمَلَا۟ىِٕهِمْ اَنْ يَّفْتِنَهُمْ ؕ وَاِنَّ فِرْعَوْنَ

او دَ هغهٔ دَ سردارانو نه چه چرته اُونهٔ خوبوی هغوئی او بیشکه چه فرعون

لَعَالٍ فِى الْاَرْضِ ۚ وَاِنَّهٗ لَمِنَ الْمُسْرِفِيْنَ ﴿۸۳﴾

تکبر کونکے وو په زمکه کښ او بیشکه دَ حد نه تیریدونکے وو.

وَقَالَ مُوْسٰى يٰقَوْمِ اِنْ كُنْتُمْ اٰمَنْتُمْ

او اُووئیل موسیٰ ته اے ځما قومه که چرے تاسو ایمان راوړے وی

بِاللّٰهِ فَعَلَيْهِ تَوَكَّلُوْۤا اِنْ كُنْتُمْ مُّسْلِمِيْنَ ﴿۸۴﴾

په الله باندے نو په هغهٔ باندے بهروسه اُوکړئ که چرے تاسو یئ فرمانبردار.

تفسیر: ۹۸ اخر فرعون موسیٰ علیه السلام سره دَ مقابلے قصد اوکړو او دَ ملک ټول ماهر جادوګر ئے راُوبلل فَلَمَّا جَآءَ السَّحَرَةُ الخ ـ دَ ملک مشهور جادوګر جمع شول کله چه دَ مقابلے دَ پاره یو بل سره مخامخ شول نو حضرت موسیٰ علیه السلام اُوفرمائیل کوم مکر او فریب چه تاسو راوړے دے هغه پیش کړئ. فَلَمَّآ اَلْقَوْا الخ کله چه هغوئ خپل دَ جادو همسا ګانے او رسئ په زمکه باندے اُوغورځولے نو حضرت موسیٰ علیه السلام اُوفرمائیل دا خو خالص جادو او مکر فریب دے چه اوس به باطل کړئ تاسو خلق ځما مقابله کولو سره او دَ توحید دعوت منع کول او شرک خورولو ته موقع ورکول غواړئ چه ټول فساد فی الارض دے او الله تعالیٰ دَ فسادیانو منصوبے ناکام کړځوی.
يُحِقُّ الْحَقَّ او واضح دلائیلو او براهین سره توحید غالب او اوچت ګرځوی دَ دینه روسنو انس ماج دے. یعنی بیا موسیٰ علیه السلام خپله همسا اوغورځوله چه دَ هغوئ ټولے همسا ګانے او رسئ ئے تیرے کړے دے کتلو سره ټول جادوګر په سجده پریوتل الخ ۹۹ مِنْ قَوْمِهٖ کښ ضمیر حضرت موسیٰ علیه السلام طرف ته راجع دے. فرعون او دَ هغهٔ قوم بنی اسرائیلو ته تکلیف رسولو حضرت موسیٰ علیه السلام دعوت بنی اسرائیلو دَ پاره دَ فرعون دَ غلامئ نه دَ نجات پیغام هم ځان کښ دننه لرلو دَ دے وجے نه هغوئ دَ زړهٔ نه دَ دهٔ حمایت کونکی وو. لیکن دَ فرعون او دَ هغهٔ دَ قوم دَ ویرے نه هغوئ په ښکاره دَ دهٔ

حمایت نهٔ شو کولے لیکن د دے با وجود ځینو ځوانانو همت اوکړو د ایمان اظهار
اوکړو او په ښکاره د حضرت موسیٰ علیه السلام په دین راغلل۔
ښله کله چه بنی اسرائیل د فرعون او فرعونیانو د ظلمونو او تکلیفونو نه تنګ
شول او د هغوئ د صبر پیمانه ډکه شوه نو حضرت موسیٰ علیه السلام ته ئے
شکایت اوکړو چه ستا سو د راتللو نه مخکښ او د هغے نه روستو مونږ یو شان د
فرعون د طرفه د مصیبتونو او تکلیفونو سره مخامخ یو مونږ به همیشه په دے
حال کښ پاتے یو اُوذِينَا مِنْ قَبْلِ اَنْ تَأْتِيَنَا وَمِنْ بَعْدِ مَا جِئْتَنَا (اعراف ع ۱۵)
دے با ندے حضرت موسیٰ علیه السلام هغوئ ته تسلی ورکړه چه کله تا سو
په الله باندے ایمان راوړے دے نو په الله باندے اعتماد اوکړئ او د تسلیم
او رضا نه کار واخلئ الله تعالیٰ به ستا سو امداد کوی ستا سو دشمن به هلاک
کړی د هغهٔ ټول مقبوضات به ستا سو په قبضه کښ درکړی بیا به ستاسو
پته هم اونګی چه تاسو په کومه لار ځئ۔

فَقَالُوْا عَلَى اللّٰهِ تَوَكَّلْنَا ۚ رَبَّنَا لَا تَجْعَلْنَا
نو هغوئ اووئیل مونږ په الله اعتماد اوکړو ئله اے ربه ځمونږه مه آزمایه مونږ یانئ

فِتْنَةً لِّلْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۸۵﴾ وَنَجِّنَا بِرَحْمَتِكَ
زور د دے قوم ظالم او خلاصے راکړه مونږ ته مهربانی اوکړه

مِنَ الْقَوْمِ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۸۶﴾ وَاَوْحَيْنَآ اِلٰى مُوْسٰى
د دے خلقو کافرو نه او حکم اولیږلو مونږ موسیٰ ته ئله

وَاَخِيْهِ اَنْ تَبَوَّاٰ لِقَوْمِكُمَا بِمِصْرَ بُيُوْتًا وَّ
او د هغهٔ ورور ته چه مقرر کړه د خپل قوم د پاره په مصر کښ کورونه او

اجْعَلُوْا بُيُوْتَكُمْ قِبْلَةً وَّاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ ؕ
جوړ کړئ خپل کورونه مخ په قبله ئله او قائم کړئ مونځ

وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۸۷﴾ وَقَالَ مُوْسٰى رَبَّنَآ
او زیرے ورکړه مؤمنانو ته ئله او اووئیل موسیٰ ئله اے ربه ځمونږه

إِنَّكَ آتَيْتَ فِرْعَوْنَ وَمَلَأَهُ زِينَةً وَأَمْوَالًا

تا ورکړې دې فرعون ته او د هغهٔ سردارانو ته رونق او مال

فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا رَبَّنَا لِيُضِلُّوا عَنْ سَبِيلِكَ

په ژوند د دنیا کښې اے ربه د دے د پاره چه اوښویوي ستا د لارې نه

رَبَّنَا اطْمِسْ عَلَىٰ أَمْوَالِهِمْ وَاشْدُدْ عَلَىٰ

اے ربه هلاک کړه د هغوئ مال او سخت کړه د هغوئ

قُلُوبِهِمْ فَلَا يُؤْمِنُوا حَتَّىٰ يَرَوُا الْعَذَابَ

زړونه چه نهٔ راوړي ایمان ترڅو چه اووینې عذاب

الْأَلِيمَ ﴿۸۸﴾ قَالَ قَدْ أُجِيبَتْ دَعْوَتُكُمَا فَاسْتَقِيمَا

دردناک ف ۲ وے وئیل قبوله شوه ستاسو دُعا ستاسو دواړو ثابت اوسیږئ

وَلَا تَتَّبِعَانِّ سَبِيلَ الَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ ﴿۸۹﴾

او مه ځئ په لاره د هغه چا چه نهٔ پوهیږي ف ۳

وَجَاوَزْنَا بِبَنِي إِسْرَائِيلَ الْبَحْرَ فَأَتْبَعَهُمْ

او مونږ پورے ویستل بنی اسرائیل د دریاب نه بیا هغوئ پسے روستو روان شو

فِرْعَوْنُ وَجُنُودُهُ بَغْيًا وَعَدْوًا ۖ حَتَّىٰ إِذَا

فرعون او د هغهٔ لښکر شرارت او ظلم سره تر دے چه کله

أَدْرَكَهُ الْغَرَقُ قَالَ آمَنتُ أَنَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا

اونیولو دے ډوبیدلو وے وئیل یقین اوکړو ما چه څوک معبود نشته مګر

الَّذِي آمَنَتْ بِهِ بَنُو إِسْرَائِيلَ وَأَنَا

هغه چه ایمان راوړو په کوم چه بنی اسرائیلو او زهٔ یم

مِنَ الْمُسْلِمِينَ ﴿۹۰﴾ آلْآنَ وَقَدْ عَصَيْتَ قَبْلُ

د حکم منونکو نه. اوس داوائے تا نافرمانی کوله د دینه مخکښې

وَكُنْتَ مِنَ الْمُفْسِدِيْنَ ﴿٩١﴾ فَالْيَوْمَ نُنَجِّيْكَ
او وې د گمراهانو نه ف نو نن نجات درکوو مونږ
بِبَدَنِكَ لِتَكُوْنَ لِمَنْ خَلْفَكَ اٰيَةً ؕ وَاِنَّ
مونږ ستا بدن ته دې د پاره چه شې ته ستا نه روستو راتلونکو د پاره علامه او بیشکه
كَثِيْرًا مِّنَ النَّاسِ عَنْ اٰيٰتِنَا لَغٰفِلُوْنَ ﴿٩٢﴾
ډیر خلق ځمونږ قدرتونو نه توجه نه ورکوي ف

**موضح قرآن** ف۱ کله چه د فرعون هلاکیدل نزدې را اورسیدل نو حکم اوشو چه تاسو خپل قوم د دوئ سره یو ځائې مه شاملوئ خپله محله جدا کړئ ځکه چه په ائنده کښ به په هغوئ افتونه راځي چه دا قوم په افت کښ شریک نه وي. ف۲ د رښتونې ایمان د هغوئ نه اُمید نه وو لیکن چه کله به افت راغے نو په دروغه به ئے وئیل چه اوس به مونږ منو دے کښ به عذاب لرې کړے شو کار به فیصله نه شو دعائې دے د پاره اوغوښتله چه دوئ په دروغه ایمان راته وړي د دوئ زړونه سخت پاتے شي دے د پاره چه راشي او کار فیصله شي.
ف۳ یعني تلوار مه کوئ د حکم انتظار کوئ ۱۲ ف۴ دا الله فرمائي یعني تول عمر مخالف وو اوس چه ئے عذاب اُولیدو یقین ئے اوکړو دغه وخت یقین کول څه اعتبار لري. ف۵ هغه چه څنګه بے وخته ایمان راوړو بے فائدې هم دا شان الله د مرګ نه روستو د هغه بدن د دریاب نه اوویستلو په اوچت ځائے باندے ئے اوغورځولو چه بني اسرائیل د هغه په لیدو سره شکر ادا کړي او عبرت اُونیسي د هغه بدن بچ کولو سره فائده.

**فتح الرحمٰن** ف۱ یعني د کوړ جوما تو نه جوړ کړئ ۱۲ ف۲ یعني د اُو بو سرته به تا را ولم ۱۲ ف۳ یعني د تغیر نه بغیر ۱۲

تفسیر:- ۸۱ قوم د حضرت موسیٰ علیه السلام په تلقین باندے د صبر او استقامت او توکل علی الله عهد اُوکړو او د الله تعالیٰ نه ئے دُعا اُوغوښتله چه اے الله مونږ ته د دے فاسق، فاجر قوم نه خلاصے راکړه او مونږ د دوئ په لاس د ذلت او رسوائۍ نه بچ کړه. ۸۲ د حضرت موسیٰ علیه السلام د بعثت نه مخکښ به بني اسرائیلو په خپلو جوماتونو کښ عبادت کولو کله چه حضرت موسیٰ علیه السلام پیغمبر اُولیږلے شو او د توحید دعوت ئے ورکړو نو فرعون ته په بني اسرائیلو باندے غصه شو او د هغوئ ټولے عبادت ځانے ئے اُوغورځو

دے سره الله تعالیٰ حضرت موسیٰ او هارون علیهما السلام ته وحی را اُولیږله چه خپل قوم ته حکم ورکړه چه هغوئی په بنارکښ ځنی کورونه عبادت د پاره خاص کړی او په هغےکښ عبادت کوی او مونځ قائم کړی او دے سره ئے هغوئی ته خوشخبری هم واؤروله چه د فرعون نه به نجات درکړم. (قرطبی ومظهری)

۱۰۳ حضرت موسیٰ علیه السلام ظاهرو معجزاتو او غالب دلائیلو سره د توحید دعوت واضح او اَلَمْ نَشْرَحْ کړو قوم په ضد او عناد، جحود او انکار باندے قائم پاتے شو او هغه د دوئی د ایمان نه نا اُمید شو نو اوس ئے د هغوئی د پاره بد دُعائی اوکړه او د بد دُعا یئی وجوهات ئے هم بیان کړل چه اے الله تا دوئی ته د دُنیا مال او متاع او رعب داب ورکړے دے او هغوئی د حُبّ مال او جاه په وجه ستا توحید نۀ منی. اے الله د کوم مال په وجه چه هغوئی مغرور دی هغه هلاک کړه او د دوئی په زړونو باندے مُهر اُولګوه چه هغوئی د ایمان طرفته مائیل نۀ شی ځکه چه اوس ستا د سُنّت جاری به مطابق هغوئی دے حد ته رسیدلی دی چه د هغوئی په زړونو مهر جباریت اولګولے شی او د هغوئی نه د ایمان توفیق واخستلے شی. ای اجعلها قاسیة واطبع علیها حتی لا تنشرح للایمان کما هو قضیة شأنهم (روح ج ۱۱ ص ۱۷۱) رَبَّنَا لِيُضِلُّوا کښ د رَبَّنَا اعاده د بعد عهد په وجه ده.

۱۰۴ د الله تعالیٰ د طرفه د دُعا د قبلید لو خوشخبری واؤرولے شوه چه ستاسو دُعا قبوله شوید ه لیکن اُوس څو ورځے به د صبر او استقامت نه کار اخستل وی. وَلَا تَتَّبِعٰنِّ الخ په الله اعتماد سا تئ الله به خپله وعده خامخا پوره کوی کوم خلق چه د الله تعالیٰ د اُمورو احکامو د حکمتونو او مصلحتونو نه ناخبروی هغوئی د الله تعالیٰ د وعد و بارهٔ کښ قِسم قِسم کمانونه کوی او د صبر او استقامت په ځائے د تُندئی او بے صبرئی اظهار کوی. اے موسیٰ او هارون د داسے ناخبره خلقو پشان د بے صبرئی کوم حرکت ستاسو نه هرګز موجود نۀ شی. وَجَاوَزْنَا بِبَنِيٓ إِسْرَآءِيلَ الْبَحْرَ کله چه د الله د وعدے مطابق د بنی اسرائیلو د نجات او د فرعون او د هغهٔ د قوم د هلاکت وخت راغے نو حضرت موسیٰ علیه السلام د الله د حکم مطابق بنی اسرائیل ځان سره روان کړل شپه په شپه د بنار نه لارهٔ کله چه فرعون ته پته اُولګیده نو هغه د خپل لوئے لښکر سره د هغوئی نه روستو روان شو او ونیل، نن اسرائیل ، چه کله د دریاب غاړے ته اُورسیدل نو د الله په حکم سره حضرت موسیٰ علیه السلام په دریاب کښ خپله همسا اوغورځوله نو په هغهٔ کښ دولس[۱۲] لارے جوړے شوے اسرائیلیان خیریت سره پورے وتل هغوئی پسے روستو فرعون هم سره د خپل لوئے لښکر نه په دریاب کښ داخل شو الله اُوبو ته د روانید لو حکم ورکړو او فرعون سره د قوم نه غرق شو او هلاک شول. قَالَ آمَنتُ الخ کله چه فرعون ډوبید لو

نو هغه د خپل ایمان اعلان اوکړو چه ما په هغه الله ایمان راوړو چه د
هغه نه سیوا څوک د عبادت او رابللو لائق نشته. په کوم چه بنی اسرائیلو
ایمان راوړے دے. د فرعون ایمان په عذاب کښ د مبتلا کیدو لو نه
روستو وو د دے وجے نه قبول نه شو. آلئن وقد عصیت الآیة چه د ایمان
راوړو او د الله د طاعت او عبادت وخت وو هغه وخت تا انکار اوکړو
او د الله نافرمانیانے دِ کولے او شرک دِ خور کړو ګنیا دِ د شر او فساد نه ډکه
کړه د دے وجے نه اوس د ایمان راوړلو نه څه فائده. فَالْيَوْمَ نُنَجِّيكَ دا
د نجوة (اوچت ځائے) نه ماخوذ دے یعنی نن مونږ ستا لاش به اوچت
ځائے باندے غورځوو د دے د پاره چه ته د باقی پاتے خلقو د پاره د عبرت
او نصیحت نشانه اوګرځے نلقیك بنجوة من الارض (مدارك ج۲ ص۱۳۳) دا مطلب
نه دے چه ستا لاش به تر قیامته پورے محفوظ ساتم

وَلَقَدْ بَوَّاْنَا بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ مُبَوَّاَ صِدْقٍ وَّ
او بیشکه ځائے ورکړے وو مونږ بنی اسرائیلو ته ښه ځائے غوره او
رَزَقْنٰهُمْ مِّنَ الطَّيِّبٰتِ ۚ فَمَا اخْتَلَفُوْا حَتّٰى
او خوراک د پاره مونږ ورکړه صفا څیزونه نو په هغوئی کښ اختلاف را نغے تر د پورے
جَآءَهُمُ الْعِلْمُ ؕ اِنَّ رَبَّكَ يَقْضِيْ بَيْنَهُمْ
چه او رسیدو هغوئی ته خبر. بیشکه ستا رب به فیصله اوکړی په مینځ د هغوئی کښ
يَوْمَ الْقِيٰمَةِ فِيْمَا كَانُوْا فِيْهِ يَخْتَلِفُوْنَ ﴿۹۳﴾
په ورځ د قیامت په کومه خبره کښ چه هغوئی کښ اختلاف پیدا شوے
فَاِنْ كُنْتَ فِيْ شَكٍّ مِّمَّآ اَنْزَلْنَآ اِلَيْكَ
نو که ئے ته په شک کښ د هغه څیزونه چه نازل کړو مونږ ستا طرفته
فَسْئَلِ الَّذِيْنَ يَقْرَءُوْنَ الْكِتٰبَ مِنْ
نو تپوس اوکړه د هغه خلقو نه چه لولی کتاب ستا نه
قَبْلِكَ ۚ لَقَدْ جَآءَكَ الْحَقُّ مِنْ رَّبِّكَ
مخکښ نه بیشکه راغلے ده تا ته حقه خبره د طرفه د رب ستا نه

فَلَا تَكُونَنَّ مِنَ الْمُمْتَرِينَ ﴿۹۴﴾ وَلَا تَكُونَنَّ
نو ته هرگز مه کیږه د شک کوونکو نه . او مه کیږه
مِنَ الَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِ اللَّهِ فَتَكُونَ مِنَ
د هغو نه چاچه دروغ اوویل خبرو د الله ته نو ته به هم بیا شې د
الْخَاسِرِينَ ﴿۹۵﴾ إِنَّ الَّذِينَ حَقَّتْ عَلَيْهِمْ
نقصان پربوتونکے بیشکه هغه خلق چه ثابته شوې ده هغوئ باندې
كَلِمَتُ رَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿۹۶﴾ وَلَوْ جَاءَتْهُمْ
خبره ستا د رب ایمان نهٔ راوړی لله اگرچه راشي هغوئ ته
كُلُّ آيَةٍ حَتَّىٰ يَرَوُا الْعَذَابَ الْأَلِيمَ ﴿۹۷﴾
ټولے نشانے ترڅو چه اونهٔ وینی عذاب دردناک ۲

نکته :- لله زجر دے ۱۲-

موضح قرآن ۱ یعنی د شام ملک ئې ورته جوړکړوچه هیڅوک د هغوئ مخالف پاتے نهٔ شو. ۲ صحیح شوه خبره یعنی ابلیس ته ئې چه څهٔ وئیلی وُوچه دوزخ به ستا نه او ستا د ملګرو نه ډک کړم.

فتح الرحمٰن لله یعنی چه ظاهره شي چه تیر شوو انبیاؤ ته هم وحی نازلیده.

تفسیر :- ۹۵ له بنی اسرائیلو باندے الله د هغوئ د صبر او استقامت په سبب ډیر لوئے لوئے انعامات اوکړل هغوئ ته ئې د فرعون د غلامئ نه نجات ورکړو او د شام او مصر ملک ئې د هغوئ په قبضه کښې ورکړو او هر قسم د عیش فراخئ سره ئې هغوئ نفع مند کړل لیکن هغوئ د انعاماتِ الٰهی قدر اونکړو د هغهٔ شکرئې ادا نکړو او د کوم دینِ توحید په خاطر چه هغوئ ته دا ټول هر څهٔ ملاؤ شوی وو د هغے حفاظت ئې اونکړو بلکه هغه ئې بدل کړل. فَمَا اخْتَلَفُوا الخ دے سره به د بَغْيًا قید ملحوظ وی په قرینه د وَمَا تَفَرَّقُوا إِلَّا مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَهُمُ الْعِلْمُ بَغْيًا بَيْنَهُمْ (شوریٰ ۲۶) یعنی هغوئ د مسئلهٔ توحید د لائیلو او براهینو سره واضح کیدو نه پس محض عناد او بغاوت او کوږ والی سره په هغے کښې اختلاف اوکړو. زیات تفصیل مخکښې تیر شویدے

تفسیر دَ سورۀ بقره ص۴۲ حاشیه ۷۸ (اُوګورئ) . فَإِن كُنتَ الخ دا زجر دے خطاب په ظاهر نبی علیه السلام سره دے لیکن مراد غیر دَ رسول ته دے ځکه چه دَ هغوئ خو بالکل شک نۀ وو امام ثعلبی او امام مبرد فرمائی فَإِن كُنتَ فِي شَكٍّ ته مطلب دے چه اے محمد (صلی الله علیه وسلم) ته هر بوتن ته اووایه که چرے تا ته څۀ شک وی الخ الخطاب للنبی صلی الله علیه وسلم والمراد غیره ای لست فی شك ولکن غیرك شَكَّ قال ابو عمر محمد بن عبد الواحد الزاهد سمعت الامامین ثعلبًا والمبرد يَقُولَانِ معنی (فَإِن كُنتَ فِي شَكٍّ) ای قل یا محمدؐ للکافر فَإِن كُنتَ فِي شَكٍّ مِّمَّا أَنزَلْنَا إِلَيْكَ (قرطبی ج۸ ص۳۸۲) قرآن مجید کښ دَ توحید مسئله داسے دلائیلو او بینا تو سره بیان کړے شوے ده چه اوس په دے کښ دَ شک څۀ ګنجائش باقی نۀ دے پاتے لیکن چه کوم سړے دَ قرآن دے دلائیلو او براهینو نه روستو او دَ اهل کتاب دَ علماء ربانیین دَ ایمان راوړلو نه روستو هم په دے کښ شک اوکړی او دا نۀ مني نو دَ هغۀ انکار په انصاف او عقل باندے مبنی نۀ دے بلکه محض دَ ضد او عناد دَ وجے نه دے ځکه دَ کومو خلقو په زړونو چه مهر جباریت لګیدلے دے هغوئ به هیڅکله هم ایمان نۀ راوړی اګرچه ټول دلائیل دَ هغوئ په وړاندے پیش کړے شی او هغوئ ته دَ معجزاتو مشاهده اوکړے شی. حَتَّىٰ يَرَوُا الخ دَ دے خلقو دَ ایمان راوړلو صرف یو صورت دے چه هغوی دردناك عذاب کښ راګیر کړے شی لیکن دَ هغه وخت ایمان بے فائدے دی. ای عند الیأس فیؤمنون ولا ینفعهم او عند القیامة ولا یقبل منهم (مدارك ج ۲ ص۱۳۵).

فَلَوْلَا كَانَتْ قَرْيَةٌ آمَنَتْ فَنَفَعَهَا إِيمَانُهَا

نو ولے نۀ وو یو کلے ځکه چه ایمان راوړی ملے بیا پکار راشی دَ هغوئ ایمان راوړل

إِلَّا قَوْمَ يُونُسَ لَمَّا آمَنُوا كَشَفْنَا عَنْهُمْ

لیکن قوم دَ یونس ع کله چه هغوئ ایمان راوړو پورته کړو مونږ دَ هغوئ نه

عَذَابَ الْخِزْيِ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَمَتَّعْنَاهُمْ

عذاب دَ ذلت په ژوند دَ دُنیا کښ او فائده اُورسوله مونږ هغوئ ته

إِلَىٰ حِينٍ ﴿٩٨﴾ وَلَوْ شَاءَ رَبُّكَ لَآمَنَ مَن

تر یو وخته فل او که چرے غوښتلے رب ستا الله بیشکه ایمان به راوړے وے هر څوک

فِی الْاَرْضِ كُلُّهُمْ جَمِيْعًا ؕ اَفَاَنْتَ تُكْرِهُ
چه په زمکه کښې دی ټولو په جمع سره اوس آیا ته به مجبوره کوے

النَّاسَ حَتّٰى يَكُوْنُوْا مُؤْمِنِيْنَ ﴿۹۹﴾ وَمَا كَانَ
خلق دے د پاره چه شی ایمان راوړونکی او نشی کولے

لِنَفْسٍ اَنْ تُؤْمِنَ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ ؕ وَيَجْعَلُ
هیڅوک څوک چه ایمان راوړی لیکن په حکم د الله او اچوی الله تعالیٰ

الرِّجْسَ عَلَى الَّذِيْنَ لَا يَعْقِلُوْنَ ﴿۱۰۰﴾ قُلِ
پلیتی په هغه خلقو کښې څوک چه فکر نه کوی. ته او وایه

انْظُرُوْا مَاذَا فِی السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ وَمَا
نو اوګورئ چه څه دی په آسمانونو کښې او زمکه کښې او هیڅ

تُغْنِی الْاٰيٰتُ وَالنُّذُرُ عَنْ قَوْمٍ لَّا يُؤْمِنُوْنَ ﴿۱۰۱﴾
په کار نه راځی نښانے او ویره ورکونکی هغه خلقو ته چه نه منی (الله).

فَهَلْ يَنْتَظِرُوْنَ اِلَّا مِثْلَ اَيَّامِ الَّذِيْنَ
نو اوس هیڅ نشته چه د هغے انتظار او کړی لیکن پشان د ورځو د هغه

خَلَوْا مِنْ قَبْلِهِمْ ؕ قُلْ فَانْتَظِرُوْا اِنِّیْ
چه تیرے شوی دی د دوئ نه مخکښې ته او وایه اوس انتظار کوئ زه هم

مَعَكُمْ مِّنَ الْمُنْتَظِرِيْنَ ﴿۱۰۲﴾
ستاسو سره انتظار کوونکے یم.

**نکات:** ۔ ۱ تسلّی ده نبی صلی الله علیه وسلم ته ۱۲۔ ۲ تخویف دنیوی دے ۱۲

**موضح قرآن** ف یعنی په دُنیا کښې د عذاب لیدلو سره یقین کول د چا په فائده نه دے راغلے لیکن د یونس علیه السلام قوم ته په دے وجه چه هغوئ ته د عذاب حکم نه وو رسیدلے د حضرت یونس (علیه السلام) تلو سره د عذاب صورت ظاهر شوے وو هغوئ

ایمان راؤړلو او بیخ شول داشان دَ مکے خلق په فتح مکه کښ په هغوئی باندے دَ اسلام فوجې قتل اولوټ دَ پاره تللی وو لیکن دَ هغوئی ایمان قبول شو او امان ئے ورکړو.

فتح الرحمٰن

فتله یعنی دَ عذاب نازلیدلو په وخت.

تفسیر:- ۸۲ له دیر کلی دَ تکذیب انبیاء او رُسل علیهم السلام دَ وجے نه دَ عذاب لائق اوګرځیدل او په معین نیټه باندے عذاب سره هغوئی هلاک کړے شول که چرے هغوئی دَ عذاب علامات لیدلو سره ایمان راؤړے وے نو هغوئی نجات موندلے وے او ایمان سره به هغوئی ته فائده ملاؤ شوے وے. لیکن هیڅ یو قوم ته دا خیره حاصل نه شوه لیکن دَ یونس علیه السلام قوم خوش قسمتئ سره داسے اوکړل کله چه هغوئی دَ عذاب اثار اولیدل نو او ویریدل او ایمان ئے راؤړو نو مونږ عذاب پورته کړو هغوئی مو دَ دُنیا دَ ذلت او رسوائی نه بچ کړل - والمعنی هلا کانت قریة واحدة من القری التی اهلکنا ها تابت عن الکفر واخصلت فی الایمان قبل معاینة العذاب الا قوم یونس ۔۔۔۔۔۔ ولکن قوم یونس لما امنوا فعلنا بهم کذا وکذا (کبیر ج ۱۷ ص ۱۶۵)

۸۳ له دا نبی علیه السلام ته تسلی ده دَ نبی علیه السلام خواهش وو چه ټول خلق ایمان راؤړی او دَ مشرکانو مسلسل انکار سره به دَ هغوئی زړه خفه کیدو نو الله تعالیٰ اُوفرمائیل ستاسو دَ خوشحالولو دَ پاره که چرے ما ټول خلق په ایمان راؤړلو مجبور کولے نو کولے م شول لیکن دا څما دَ حکمتِ بالغه نه خلاف ده داشان به دَ ابتلاء او امتحان حکمت فوت کیدلے. دلیته دَ جمیعًا نه روستو ولٰکِن لِیَبْلُوَکُمْ مقدر دے په قرینه دَ وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ لَجَعَلَکُمْ اُمَّةً وَّاحِدَةً وَّلٰکِنْ لِّیَبْلُوَکُمْ فِیْمَآ اٰتٰکُمْ (مائده ۴۸)

۸۴ له دَ الله تعالیٰ دَ تکوینی حکم او دَ هغهٔ دَ مشیت او توفیق نه بغیر هیڅوک ایمان نشی راؤړلے او توفیق صرف هغه خلقو ته ملاویږی څوک چه دَ الله په ایتونو کښ دَ عقل او فکر نه کار اخلی او دَ هغوئی په زړونو کښ ضد نهٔ وی دَ انابت او حق تلاش کولو جذبه وی. الرِّجْسُ دَ شرک پلیتی کوم خلق چه دَ خُدا داد عقل نه کار نهٔ اخلی هغوئی همیشه دَ شرک په نجاست کښ ککړ وی ۱۲. ۸۵ له تاسو دوئی ته دَ زمکے او آسمانونو عجائب المخلوقات کښ دَ غور او فکر دعوت ورکړئی لیکن دا تکوینی دلائیل او دَ انبیاؤ او رسولانو علیهم السلام اسمانی تعلیم داسے خلقو ته هیڅ فائده نهٔ ورکوی چا نه چه دَ مهر جبارِیت په وجه سره دَ ایمان توفیق سلب شوے وی.

الله دا تخویف دنیوی دے ضد ی او معاندینو خلقو با ندے د دلائلو او ایتونو هیڅ اثر نه کیږی بس د هغوئ د پاره هم دا یوه لاره باقی ده چه د تیرشوو معاندینو قومونو کوم حشر اوشو دوئ د هم د هغے انجام انتظار کوی. لهذا تاسو هم تر هغه وخته انتظار کوئ او زه هم د هغے انتظار کوم دے د پاره چه حق او باطل او صادق او کاذب فیصله اوشی.

ثُمَّ نُنَجِّيْ رُسُلَنَا وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كَذٰلِكَ ۚ

بیا مونږ بچ کوو خپل رسولان او هغه خوک چه ایمان راوړی دا شان لله

حَقًّا عَلَيْنَا نُنْجِ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۱۰۳﴾ قُلْ يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ

ع ۱۵

په ذمه دی زمونږ چه بچ به کړو ایمان راوړونکی. او وایه اے خلقو لله

اِنْ كُنْتُمْ فِيْ شَكٍّ مِّنْ دِيْنِيْ فَلَآ اَعْبُدُ

که چرے یئ تاسو په شک کښ زما د دین نه نو زه نه کوم عبادت

الَّذِيْنَ تَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلٰكِنْ

د کوم چه تاسو عبادت کوئ سیوا د الله نه او لیکن زه

اَعْبُدُ اللّٰهَ الَّذِيْ يَتَوَفّٰىكُمْ ۖ وَاُمِرْتُ

عبادت کوم د الله د هغه الله چه وفات کوی تاسو او حکم شوے دے

اَنْ اَكُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۱۰۴﴾ وَاَنْ اَقِمْ

ما ته چه شم د ایمان راوړونکو نه او دا چه مخامخ کړه

وَجْهَكَ لِلدِّيْنِ حَنِيْفًا ۚ وَلَا تَكُوْنَنَّ مِنَ

خپل ذات دین ته حنیف کیدو سره لله او مه کیږه د

الْمُشْرِكِيْنَ ﴿۱۰۵﴾ وَلَا تَدْعُ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا لَا

شرک کوونکو نه لله او مه رابله سیوا د الله نه هغه خوک چه نه تا ته

يَنْفَعُكَ وَلَا يَضُرُّكَ ۚ فَاِنْ فَعَلْتَ فَاِنَّكَ

فائده رسوی او نه نقصان بیا که چرے نه دا سے اوکړے نو ته به هم

إِذًا مِّنَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿١٠٦﴾ وَإِنْ يَّمْسَسْكَ اللّٰهُ بِضُرٍّ

دغه وخت د ظالمانو نه ئے . او که چرے اورسوی تا ته الله څه تکلیف

فَلَا كَاشِفَ لَهٗٓ إِلَّا هُوَ ۚ وَإِنْ يُّرِدْكَ بِخَيْرٍ

نو څوك نشته د هغے لرے کوونکے د هغه نه سیوا او که چرے رسول او غواړی تا ته څه خیر

فَلَا رَآدَّ لِفَضْلِهٖ ۚ يُصِيْبُ بِهٖ مَنْ يَّشَآءُ

نو څوك واپس کولو والا نشته د فضل د هغهٔ . رسوی خپل فضل چا ته چه اوغواړی

مِنْ عِبَادِهٖ ۚ وَهُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ ﴿١٠٧﴾

د خپلو بندګانو نه او صرف هغه دے ښښونکے مهربان .

**نکات**

ك د سورت د دعوی تفصیلی ذکر ١٢

ك ما قبل د پاره په منزله د دلیل دے ١٢

**موضح قرآن**

ف وفات کوی یعنی وژنی . دا صفت د الله هر څوك پیژنی د دے وجے نه ئے دا بیان کړو. ف٢ حنیف نوم دے د ابراهیم ؑ د دین والو او عرب و به شرك کولو او هغوئ ته به ئے حنیف ویلو.

تفسیر : ١٠٢ تراخی د پاره نهٔ دے بلکه د تعقیب ذکری د پاره دے او دا منونکو د پاره بشارت اُخروی دے . ١٠٣ دا د سورت د دعوی په طریقه د تفصیل سره بیان دے کله چه هر څهٔ کولو والا او د ټول کائنات مالك او مختار الله تعالیٰ دے او هغهٔ هره خبره اوری او په هر څیز خبردار دے او د هغهٔ په مخکښ څوك شفیع غالب نهٔ شته نو بیا په حاجتونو او مشکلاتو کښ ما فوق الاسباب غائبانه او از صرف هغهٔ ته کوئ بل هیچا ته او از مهٔ کوئ . فَلَآ اَعْبُدُ الخ د معبودانو باطلو د استحقاق عبادت او د هغوئ د الوهیت نفی ده یعنی د کلمهٔ توحید د اول جزء لَآ اِلٰهَ مضمون دے کښ بیان شوے دے . وَلٰكِنْ اَعْبُدُ الخ دا د اِلَّا الله مضمون دے یعنی د الله تعالیٰ د اُلوهیت اثبات ترڅو چه د ټولو معبودانو باطلو نفی او د یو الله د الوهیت اثبات اونکړے شی تر هغه وخته پورے توحید نهٔ شی کامل کیدے .

١٠٤ دا په اَنْ اَكُوْنَ باندے معطوف دے ما ته حکم راکړے شوے دے چه خالصهٔ دین حنیف یعنی هغه دین چه د هر قسم شرك نه پاك دے د هغے طرف ته خپل مخ برابر او سا تم او د شرك طرف ته ادنیٰ میلان هم اونکړم . وَلَا تَدْعُ الخ او دا فَلَآ اَعْبُدُ کښ د غیر الله د عبادت نفی او کړے شوه د عبادت لوئے جزء

چونکه دُعا او اواز دے ذ دے وجے نه ئے دلته بالاستقلال دَ غیرالله دَ رابللو نه منع او کړه یعنی ستا نفع او نقصان چه دَ چا په قبضه او اختیار کښ نشته هغوئی په حاجتونو کښ هرګز مه رابله دَ رابللو لائق صرف الله تعالیٰ دے چه هر څیز دَ هغهٔ په اختیار او تصرف کښ دے. فلا حکم الا الله ولا رجوع فی الدارین اِلّا الی الله (کبیر ج ۱۷ ص۱۶۳) داخطاب هم هر انسان ته دے اګرچه په ظاهره نبی کریم صلی الله علیه وسلم مخاطب دے ځکه چه دَ هغوئیؐ دَ ذات نه خو دَ غیرالله رابللو ادنیٰ امکان هم نشته. والمعنی ولا تدع ایها الانسان من دون الله مالا ینفعك الخ (خازن ج ۳ ص۲۱۵) ۱۰۷ داما قبل دَ پاره په منزله دَ دلیل دے یعنی نفع او نقصان خو دَ الله تعالیٰ په اختیار کښ دی که چرے تهٔ په تکلیف او مصیبت کښ ګرفتار ئے نو هغے لره دَ الله تعالیٰ نه سیوا بل څوک لرے کوُنکے نشته او کهٔ چرے الله تعالیٰ تا ته دَ څهٔ خیر او نفع رسولو اراده او کړی نو دَ هغے دَ منع کولو دَ چا څهٔ طاقت نشته هغه چه چا ته اُوغواړی تکلیف ورکوی او چه چا ته او غواړی نو آرام او راحت ورکړی کله چه نفع او ضرر دَ هغهٔ په اختیار کښ دی او په تصرف کښ نو بیا دَ هغهٔ نه سیوا بل کوم چا ته اوازمهٔ کوه (وَاِنْ یَّمْسَسْكَ اللّٰهُ بِضُرٍّ) تقریر لما اورد فی حیز الصلة من السلب النفع من المعبودات الباطلة وتصویر لاختصاصه به سبحانه الخ (روح ج ۱۱ ص۱۹۹).

قُلْ یٰۤاَیُّهَا النَّاسُ قَدْ جَآءَكُمُ الْحَقُّ

او وایه اے خلقو ! اُو رسیدو تاسو ته حق

مِنْ رَّبِّكُمْ ۚ فَمَنِ اهْتَدٰی فَاِنَّمَا یَهْتَدِیْ

دَ طرفه دَ رب ستاسو او س چه څوک لاره بیا موُمی نو هغه لاره موُمی

لِنَفْسِهٖ ۚ وَمَنْ ضَلَّ فَاِنَّمَا یَضِلُّ عَلَیْهَا

دَ خپلے فائدے دَ پاره او څوک چه اُو بنوئیږی نو هغه اُو بنوئیږی خپلے بدئی ته

وَمَاۤ اَنَا عَلَیْكُمْ بِوَكِیْلٍ (۱۰۸) وَاتَّبِعْ مَا

او زهٔ نهٔ یم په تاسو اختیار لرونکے. او تهٔ څه په هغے کوم

یُوْحٰۤی اِلَیْكَ وَاصْبِرْ حَتّٰی یَحْكُمَ اللّٰهُ ۚ

حکم چه راشی تا ته ۱۰۸ او صبر کوه ترهغے چه فیصله او کړی الله تعالیٰ

# وَهُوَ خَيْرُ الْحٰكِمِيْنَ ﴿۱۰۹﴾

او هغهٔ بنهٔ فیصله کوونکے دے۔

نکات:۔ ۱ دَ مسئله توحید منلو ترغیب ۱۲ ۲ توحید با ندے دلیل وحی دے۔ ۱۲ ۳ تسلی ده نبی علیه السلام د پاره ۱۲۔

تفسیر:۔ ۱ دا دَ مسئله توحید منلو ترغیب دے خلقو دَ الله تعالیٰ دَ طرفه حق تاسو ته راغلے دے او دَ دلائیلو نه واضحه شوے ده دَ دے وجے نه دا قبول کړئ دے کښې ستاسو فائده ده کوم سړے چه توحید او دین حق قبلوی هغه دَ خپلے فائدے کار کوی او څوک چه انکار کوی هغه به دَ انکار او جحود نتیجه او دَ هغے ضرر نقصان هم پخپله بیا مومی۔ وما انا علیکم بوکیل۔ ځما کار خو دَ حق تبلیغ دے زهٔ خپله دَ تبلیغ فریضه ادا کوم باقی یاتے شو په تاسو منل هغه خو ځما کار نهٔ دے۔

۲ دا په توحید با ندے دلیل وحی دے یعنی ما ته دَ الله تعالیٰ دَ طرفه دا حکم راکړے شوے دے چه زهٔ دَ هغهٔ څیز تابعداری اوکړم دَ کوم چه ما ته وحی شوے ده او دَ توحید مسئله څنګه چه ما دلائیلو سره بیان کړے ده بالکل بعینه دَ وحی په ذریعه چه په ما نازله شوے ده ۳ وَاصْبِرْ الخ دا نبی علیه السلام ته تسلی ده یعنی دَ وحی دَ اتباع په وجه سره که چرے تا ته څه تکلیف یا نقصان اورسیږی نو تاسو په هغے صبر کوئ او ثابت قدم اوسیږئ تر دے چه الله تعالیٰ ستاسو او ستاسو دَ دشمنانو مینځ کښې ستاسو دَ کامیابئ او کامرانئ او دَ هغوئ دَ ناکامئ او ذلیل او خوارولو آخری فیصله اوکړی۔ والمعنی انه تعالی امره باتباع الوحی والتنزیل فان وصل الیه بسبب ذلك الاتباع مکروه فلیصبر علیه الی ان یحکم الله فیه وَهُوَ خَيْرُ الْحٰكِمِيْنَ (کبیر ج ۱۷ ص ۱۷۶) وهو لا یخفی ما فی هٰذه الایات من الموعظة الحسنة وتسلیة النبی صلی الله علیه وسلم ووعد للمؤمنین والوعید للکافرین (روح ج ۱۱ ص ۲۰۲)

---

یا الله تعالیٰ دَ دے تفسیر لیکونکی سره دَ مور او پلار اُو بښے

# دَ سوره یونس خصوصیات او په یکښې دَ توحید آیتونه

① إِنَّ رَبَّكُمُ اللَّهُ الَّذِي خَلَقَ السَّمٰوٰتِ ـــــ نه تر ـــــ ذٰلِكُمُ اللَّهُ رَبُّكُمْ فَاعْبُدُوهُ ۚ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ○(ع۱) نفی شرک اعتقادی او نفی دَ شفاعت قهری. مَا مِنْ شَفِيعٍ إِلَّا مِنْ بَعْدِ إِذْنِهِ. دا دَ دے سورت خصوصیت دے.

② هُوَ الَّذِي جَعَلَ الشَّمْسَ ضِيَاءً ـــــ نه تر ـــــ لَآيَاتٍ لِقَوْمٍ يَتَّقُونَ ○(ع۱) نفی دَ شرک فی التصرف.

③ وَيَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ ـــــ نه تر ـــــ سُبْحَانَهُ عَمَّا يُشْرِكُونَ ○(ع۲) نفی دَ شرک فی التصرف او نفی دَ شفاعت قهری چه دَ دے سورت خصوصیت دے.

④ وَيَوْمَ نَحْشُرُهُمْ جَمِيعًا ـــــ نه تر ـــــ مَا كَانُوا يَفْتَرُونَ ○(ع۱) دنیا کښې چه ئے کوم کارساز گنړلی دی په آخرت کښې به هغوئ دَ خپلو عبادت کونکو دَ رابللو او آواز کولو نه دَ لا علمئ اظهار کوی.

⑤ هُوَ الَّذِي يُسَيِّرُكُمْ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ ـــــ نه تر ـــــ فَنُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ ○(ع۳) نفی دَ شرک فی التصرف مشرکانو به په ډیر سخت کارونو کښې صرف الله تعالیٰ ته آواز کولو دا هم دَ دے سورت خصوصیت دے.

⑥ قُلْ هَلْ مِنْ شُرَكَائِكُمْ ـــــ نه تر ـــــ فَمَا لَكُمْ كَيْفَ تَحْكُمُونَ ○(ع۴) ځوک چه تاسو دَ خدای شریکان جوړ کړیدی هغه بالکل عاجز او کمزوری دی دَ دے وجے نه هغوئ دَ الوهیت لائق نهٔ دی.

⑦ أَلَا إِنَّ لِلَّهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ ـــــ نه تر ـــــ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ○(ع۶) نفی دَ شرک فی التصرف.

⑧ قُلْ أَرَأَيْتُمْ مَا أَنْزَلَ اللَّهُ ـــــ نه تر ـــــ أَمْ عَلَى اللَّهِ تَفْتَرُونَ ○(ع۶) نفی دَ شرک فعلی، تحریمات دَ غیر الله او نذر لغیر الله. دا دَ سورت خصوصیت دے.

⑨ وَمَا تَكُونُ فِي شَأْنٍ وَمَا تَتْلُوا مِنْهُ مِنْ قُرْآنٍ ـــــ نه تر ـــــ إِلَّا فِي كِتَابٍ مُبِينٍ ○(ع۶) نفی دَ شرک فی العلم.

⑩ هُوَ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ اللَّيْلَ ـــــ نه تر ـــــ لِقَوْمٍ يَسْمَعُونَ ○(ع۷) نفی دَ شرک فی التصرف.

⑪ قُلْ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنْ كُنْتُمْ ـــــ نه تر ـــــ وَهُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ ○(ع۱۱) نفی دَ شرک فی التصرف.

نن په تاریخ اولئ ورځ دَ ربیع الاوّل ۱۴۲۵ھ مطابق ۲۰ مارچ ۲۰۰۴ء ورځ دَ زیارت وخت شپږ بجے روستو دَ ما نځه دَ ماخیگر نه دَ سورهٔ یونس دَ تفسیر پښتو ترجمه ختمه شوه. فالحمد لله الذی بنعمته تتم الصالحات والصلوٰة والسلام علی رسوله محمد وآله وصحبه اجمعین.

# سورة هود علیه السلام [۱]

ربط | دَ سورۀ هود دَ سورۀ یونس سره دوه قسمه ربط دے اول ربط اسمی. په سورۀ یونس کښې چه څنګه دَ توحید مسئله بیان شوے ده او شرک اعتقادی، شرک فی التصرف، شرک فی العلم. او دَ شرک فعلی چه کوم انواز سره رد شوی دے کله چه تا سو هغه هم په هغه انداز سره بیان کړی نو تا سو ته به دَ مشرکانو له طرفه دَ طعن او ملامتیا نشانه او ګرځئ څنګه چه حضرت هود علیه السلام ته دَ هغهٔ قوم دَ مسئله توحید بیانولو بانړے قسم قسم طعنے ورکړے لکه چه دَ دے سورت څلورمه رکوع کښې دی قَالُوْا یٰهُوْدُ مَا جِئْتَنَا بِبَیِّنَةٍ الخ او اِنْ نَّقُوْلُ اِلَّا اعْتَرٰىكَ بَعْضُ اٰلِهَتِنَا بِسُوْٓءٍ دوهم معنوی ربط چه دَ هغے دړے تقریرونه دی.

① دَ سورۀ یونس په آخر کښې ئے اُوفرمائیل اِتَّبِعْ مَا یُوْحٰٓى اِلَیْكَ. او س دَ سورۀ هود په شروع کښې ئے اوفرمائیل كِتٰبٌ اُحْكِمَتْ اٰیٰتُهٗ ثُمَّ فُصِّلَتْ. یعنی هغه مَا یُوْحٰى دا کتاب محکم دے دَ ده پیروی اوکړه.

② سورۀ یونس کښې دلائیل عقلیه سره ثابته کړے شوه چه دَ الله تعالیٰ سره څوک شفیع غالب نشته او اوس به په سورۀ هود کښې وئیلے شی کله چه دَ الله سره څوک شفیع غالب نشته نو په حاجات کښې ما فوق الاسباب دَ الله ته او ازکوئ هغهٔ رابلئ ځکه چه دَ هغهٔ نه سیوا څوک عالم الغیب او کارساز نشته. دَ غیرالله دَ رابللو مسئله اګرچه په سورۀ یونس کښې هم ذکر شوی لیکن هغے کښې زیات زور په دلائیلو بانړے دے او په سورۀ هود کښې زیات زور دَ غیرالله رابللو ته په منع کولو باندے دے دَ دے قسم رابللو نفی دَ سورۀ هود موضوع ده.

③ په سورۀ یونس کښې په دعوۀ توحید بانړے صرف عقلی دلائیل پیش کړے شول او س به په سورۀ هود کښې دلائیل نقلیه ذکر کولے شی. کله چه دے سورت کښې دَ توحید دعوی دلائیل عقلیه او نقلیه سره مدلل کړے شی نو وئیلے به شی چه دعوی خو بالکل واضحه او ثابته ده لیکن مشرکان ئے دَ ضد او عناد دَ وجے نه نهٔ منی.

خلاصه | دَ سورت په شروع کښې څلور دعوے ذکر شوی دی

اوله دعوی —— صرف الله ته اوازکوئ

اَلَّا تَعْبُدُوْٓا اِلَّا اللّٰهَ. خالصةً صرف الله ته اوازکوئ او دَ هغهٔ نه دَ خپلو

کنا هونو معاف غواړئ. اِنَّنِیْ لَکُمْ مِّنْهُ نَذِیْرٌ وَّ بَشِیْرٌ. دعوی دَ نبوت ده دا جمله معترضه ده. یعنی زهٔ دَ دے مسئلے (اَلَّا تَعْبُدُوْٓا اِلَّا اللّٰهَ) دَ پاره نذیر او بشیر رالیږلے شوے یم. یُمَتِّعْکُمْ مَّتَاعًا حَسَنًا الخ بشارت دنیوی او اُخروی دے. وَاِنْ تَوَلَّوْا فَاِنِّیْٓ اَخَافُ ـــــ تا ـــــ وَ هُوَ عَلٰی کُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ تخویف اُخروی دے.

## دویمه دعوی ـــــ دَ الله نه سیوا څوک عالم الغیب نهٔ دے

اَلَآ اِنَّهُمْ یَثْنُوْنَ صُدُوْرَهُمْ ـــــ تا ـــــ کُلٌّ فِیْ کِتٰبٍ مُّبِیْنٍ. صرف الله تعالیٰ عالم الغیب دے دَ ټول کائنات ذره ذره پیژنی او دَ زمکے او آسمان هیڅ څیز دَ هغهٔ نه پټ نهٔ دے. وَ هُوَ الَّذِیْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ الخ کله چه دَ ټول کائنات خالق او مالک صرف هغه دے نو بیا به دَ هغهٔ نه کوم څیز پټ وی ؟ لَیَقُوْلَنَّ الَّذِیْنَ کَفَرُوْٓا او لَیَقُوْلُنَّ مَا یَحْبِسُهٗ شکوی ده اَلَا یَوْمَ یَاْتِیْهِمْ الخ جواب شکوی ده. وَلَئِنْ اَذَقْنَا الْاِنْسَانَ ـــــ تا ـــــ اِنَّهٗ لَفَرِحٌ فَخُوْرٌ زجر دے اِلَّا الَّذِیْنَ صَبَرُوْا الخ بشارت اخروی دے.

## دریمه دعوی ـــــ دَ مَا یُوْحٰی په تبلیغ کښ در نه کوتاهی رانشی

فَلَعَلَّكَ تَارِكٌۢ بَعْضَ مَا یُوْحٰٓی ـــــ تا ـــــ وَاللّٰهُ عَلٰی کُلِّ شَیْءٍ وَّکِیْلٌ (ع ۲) کله چه تاسو دَ توحید مسئله وضاحت سره بیان کړئ نو دَ مشرکینو دَ طرفه به تاسو ته ډیرے تکلیفونه رائحی او دَ ملامتیا زور به وی چرته داسے اُونهٔ شی چه دَ مشرکانو خبرو اوریدلو سره ستاسو زړهٔ تنګ شی او دَ مسئله توحید دَ کوم اړخ یا حصے تبلیغ اُونکړئ مشرکان به دَ خپل باطنی پلیتئ اظهار په خپلو ژبو سره کوی تاسو دَ هغے پروا مکوئ او پوره استقامت او بهادرئ سره دَ مسئله توحید کما حقهٔ تبلیغ کوئ که چرے مشرکان ئے نهٔ منی او دَ ضد او عناد نه انکار کوی نو تاسو غم مهٔ کوئ ستاسو کار صرف تبلیغ دے تاسو هغه کوئ په خلقو منل ستاسو فرائضو کښ شامل نهٔ دی اَمْ یَقُوْلُوْنَ افْتَرٰىهُ (ع ۲) دا شکوی ده او قُلْ فَاْتُوْا بِعَشْرِ سُوَرٍ الخ جواب شکوی دے په قول دَ منکرینو که چرے دا قرآن ستاسو دَ ځان نه جوړ کړے شوے وی نو هغوئ ته دَ مقابلے کولو دعوت ورکړه چه که چرے زهٔ داسے قرآن جوړولے شم نو تاسو هم اهلِ زبان یئ خپل پوره طاقت او خپلے ټولے ذریعے او وسائیل په استعمال کښ راولئ دَ دے قرآن پشان لس سورتونه جوړ کړئ او راوړئ او دَ خپلے دعوے صداقت ثابت کړئ. فَاِنْ لَّمْ یَسْتَجِیْبُوْا لَکُمْ الخ متعلق دَ جواب شکوی پورے مَنْ کَانَ یُرِیْدُ الْحَیٰوةَ الدُّنْیَا ـــــ تا ـــــ وَبٰطِلٌ مَّا کَانُوْا یَعْمَلُوْنَ (ع ۲) زجر سره دَ تخویف اخروی.

خلورمه دعوی - د توحید مسئله بالکل واضح ده معاندین ئې د عناد په وجې سره نه منی

اَفَمَنْ كَانَ عَلٰى بَيِّنَةٍ مِّنْ رَّبِّهٖ وَيَتْلُوْهُ ـــــ تا ـــــ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يُؤْمِنُوْنَ (ع ۲)، د توحید مسئله بالکل واضح ده عقلِ سلیم لرونکو د پاره د دے کښې د شک او شبهې گنجائش نشته وو ځکه چه دلائیل عقلی د دے په تائید کښې دی د الله تعالٰی کتاب قرآن د دے په حق کښې بیان کوی او د دهٔ نه مخکښې د حضرت موسٰی علیه السلام کتاب تورات چه د بنی اسرائیلو د ټولو انبیاؤ د پاره دستور العمل وو په هغې کښې هم دا مسئله واضح او روښانه کړے شوې ده. لهٰذا د توحید مسئله بالکل ده لیکن د دے باوجود اکثر خلق محض د ضد او عناد د وجې نه دا نه منی. وَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرٰى ـــــ تا ـــــ فِى الْاٰخِرَةِ هُمُ الْاَخْسَرُوْنَ. زجر دے او منکرینو او معاندینو د پاره سخت وعید دے او سخت تخویف اُخروی دے. اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ الخ عاجزی کوونکو او رغبت سره منونکو د پاره خوشخبری ده د دینه روستو د تیرشوو انبیاؤ علیهم السلام اووه قصے ذکر شوې دی چه د مخکښو درے دعوو سره په طریقه د لف نشر مرتب متعلق دی او د هغې نه روستو بو آیت د څلورمے دعوے سره متعلق دے.

## اوله قصه ـــــ متعلق ده د اولے دعوے سره

وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا نُوْحًا اِلٰى قَوْمِهٖ (ع ۳) ـــــ تا ـــــ ثُمَّ يَمَسُّهُمْ مِّنَّا عَذَابٌ اَلِيْمٌ دا د حضرت نوح علیه السلام قصه ده چه د اول دعوے سره متعلق ده یعنی ستاسو کارساز صرف الله تعالٰی دے د دے وجې نه صرف الله تعالٰی ته او از کوئ. اَلَّا تَعْبُدُوْٓا اِلَّا اللّٰهَ. د قصے په ضمن کښې نورے ډیرے خبرے هم ذکر شوې دی د حضرت نوح علیه السلام تبلیغ د قوم طعنے ورکول او اعتراضات، مَا نَرٰىكَ اِلَّا بَشَرًا مِّثْلَنَا الخ د حضرت نوح علیه السلام د طرفه د طعنو معقول جواب. يٰقَوْمِ اَرَءَيْتُمْ اِنْ كُنْتُ عَلٰى بَيِّنَةٍ مِّنْ رَّبِّىْ الخ او د ځنو ضمنی سوالونو جوابونه وَلَآ اَقُوْلُ لَكُمْ عِنْدِىْ خَزَآئِنُ اللّٰهِ (ع ۳) شکوی او جواب شکوی په طور د جمله معترضه. اَمْ يَقُوْلُوْنَ افْتَرٰىهُ بیا وَاصْنَعِ الْفُلْكَ بِاَعْيُنِنَا (ع ۴) نه تر د قصے اخر پورے حضرت نوح علیه السلام د کشتۍ جوړولو او د ایمان والا په کشتۍ کښې د کینولو حکم ورکول، مشرکان سره د نوح علیه السلام د ځوئے نه په اوبو کښې غرقول او د نوح علیه السلام کشتۍ صحیح سلامت جودی غر باندے کینول او بیا د حضرت نوح علیه السلام د الله تعالٰی سره د خپل ځوئے بارهٔ کښې د سوال او جواب وغیره ذکر دے. د قصے په اخر کښې د جمله معترضه په طور. تِلْكَ مِنْ اَنْۢبَآءِ الْغَيْبِ نُوْحِيْهَآ اِلَيْكَ الخ (ع ۴) سره د نبی علیه السلام په صداقت دلیل پیش کړے شو.

## دویمه قصه ——— هم دا شان د اولے سره متعلق ده

وَاِلٰى عَادٍ اَخَاهُمْ هُوْدًا (ع ۵) ——— تا ——— اَلَا بُعْدًا لِّعَادٍ قَوْمِ هُوْدٍ (ع ۵) دا د حضرت هود علیه السلام واقعه ده او د اول دعوے سره متعلق ده هغوئ چه خپل قوم ته کوم پیغام ورکړے وو هغه دا دے يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ الخ او يٰقَوْمِ اسْتَغْفِرُوْا رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوْبُوْٓا اِلَيْهِ (ع ۵) اے ځما قومه! صرف د یو الله عبادت کوئ او صرف هغهٔ رابلئ ځکه چه د الله نه سیوا ستا سو بل څوک کارساز نشته او د الله نه د خپلو ګنا هونو معافي اوغواړئ او د شرک او کفر نه رښتونے توبه اوباسئ. قوم مختلف قِسم طعنے ورکړے کله ئے اوئیل يٰهُوْدُ مَا جِئْتَنَا بِبَيِّنَةٍ الخ او کله ئے دا سے او وئیل اِنْ نَّقُوْلُ اِلَّا اعْتَرٰىكَ بَعْضُ اٰلِهَتِنَا بِسُوْٓءٍ په اخر کښ د هود علیه السلام د معاننینو او منکرینو د تباهئ او بربادئ ذکر دے.

## دریمه قصه ——— دا هم د اولے دعوے سره متعلق ده

وَاِلٰى ثَمُوْدَ اَخَاهُمْ صٰلِحًا ——— تا ——— اَلَا بُعْدًا لِّثَمُوْدَ (ع ۶) د حضرت صالح علیه السلام د قوم دا قصه ده او د اول دعوے سره متعلق ده لکه چه ئے اوفرمائیل يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ....... فَاسْتَغْفِرُوْهُ ثُمَّ تُوْبُوْٓا اِلَيْهِ ۭ اِنَّ رَبِّيْ قَرِيْبٌ مُّجِيْبٌ. اے ځما قومه! صرف یو الله ته او از کوئ د هغهٔ نه سیوا ستا سو څوک کارساز نشته....... د الله نه د خپلو ګنا هونو معافي اوغواړئ او د ګنا هونو نه رښتونے توبه اوکړئ ځما رب د ژړونو د رګ نه زیات نزدے دے او د اوازونو او د فریادونو اوریدونکے دے. د دینه روستو حضرت صالح علیه السلام او د قوم مینځ کښ د څه سوال او جواب سلسله ده او په اخر کښ د قوم د مکذبین د بد انجام ذکر دے

## څلورمه قصه ——— متعلق ده د دویمے دعوے سره

وَلَقَدْ جَآءَتْ رُسُلُنَآ اِبْرٰهِيْمَ بِالْبُشْرٰى ——— تا ——— اٰتِيْهِمْ عَذَابٌ غَيْرُ مَرْدُوْدٍ (۲۲) دا د حضرت ابراهیم علیه السلام واقعه ده او د دویمے دعوے سره متعلق ده یعنی د الله تعالیٰ نه سیوا څوک عالم الغیب نشته الله تعالیٰ فرشتے د انسانانو په شکل کښ حضرت ابراهیم علیه السلام ته نه د ځوئے د زیری ورکولو د پاره راولیږلے. حضرت ابراهیم علیه السلام چه هغه اولیدلے انسانان ئے اوګڼل او د هغوئ سره د علیک سلیک نه روستوئے فوراً د هغوئ د خوراک انتظام کولو د پاره کور ته تشریف یوړو ډیر زر ئے خوراک تیار کړو او راوړے وړلو او فرشتو بیان اوکړو چه مونږ خو فرشتے یو او د الله د طرفه تا سو ته د ځوئے خوشخبرئ درکولو او په قوم لوط باندے د عذاب الٰهی نازلولو د پاره راغلی یو دے واقعے نه

دَ حضرت ابراهیم علیه السلام او دَ هغهٔ دَ بی بی حضرت سارهؓ او دَ فرشتو نه دَ علم غیب نفی کیږی. حضرت ابراهیم علیه السلام فرشتے په انسانی شکل کښې اولیدل لے پیژندل کړلوئے او نکرے شوه او چه کله هغهٔ دَ نوؤ راتلونکو میلمنو (فرشتو) دَ پارهٔ دَ خوراک تیار ولو په غرض کور ته تشریف یوړو نو فرشتو ته هم پته اونهٔ لګیده ځکنی نو هغوئ به فوراً هغه منع کړے وے او هغهٔ ته به ئے حقیقتِ حال واضح کړے وے. علیٰ هٰذا کله چه حضرت کور ته اورسیدلو حضرت سارهؓ ته ئے دَ خوراک تیار ولو بارهٔ کښې او فرمائیل نو هغې هم دا اونهٔ وئیل چه دَ کومو میلمنو دَ پارهٔ چه تاسو خوراک تیار وئ هغه خو فرشتے دی او روټئ به نهٔ خوری.

## پنځمه قصه ــــ دا هم متعلق ده دَ دویمے دعوے سره

وَلَمَّا جَآءَتْ رُسُلُنَا لُوطًا سِيٓءَ بِهِمْ ــــ تا ــــ وَمَا هِيَ مِنَ الظّٰلِمِيْنَ بِبَعِيْدٍ (۸۳)

دا دَ لوط علیه السلام واقعه ده کله چه دَ حضرت ابراهیم علیه السلام فرشتے رخصت شوے دَ خائسته ځوانانو په شکلونو کښې حضرت لوط علیه السلام ته اُورسیدلے نو دَ هغهٔ قوم چونکه ډیر بد عمله وو او دَ خلافِ فطرت فعل او خوئے عادتیان وو دَ دے وجے نه هغه اوویریدو او غمژن شو چه چرته دَ قوم بد عمله خلق دَ دے عزتمند و میلمنو بے عزتئ کولو ته تیار نهٔ شی او هغه دَ دے میلمنو دَ وجے نه دَ رسوایئ سره مخامخ نهٔ شی نو هم هغه شان اُشوه چه کله دَ حضرت لوط علیه السلام قوم ته دَ دے میلمنو پته اُولګیده نو په منډو راغلل او دَ شرارت اراده ئے اوکړه دلته حضرت لوط علیه السلام دَ هغوئ دَ پوهولو کوشش کوی کله چه هغه دَ قوم نه تا اُمیده شو او معامله دَ هغهٔ دَ لاسِ او اختیار نه بهر وتل شروع شول نو اوس فرشتو دَ حقیقتِ حال نه پرده اُوچته کړه او حضرت لوط علیه السلام ته ئے اووئیل تاسو ځمونږ غم مه کوئ مونږ خو دَ الله فرشتے یو دوئ ځمونږ او ستاسو هیڅ نقصان نشی کولے مونږ دوئ بانده دَ عذاب راؤړلو دَ پارهٔ راغلی یو او ترصبا پورے به دوئ تباه او برباد کړے شی. حضرت لوط علیه السلام دَ فرشتو خبره واوریده لو سره مطمئن شو او دَ هغهٔ ویره ختمه شوه دا واقعه دَ حضرت لوط علیه السلام نه دَ علمِ غیب په نفی بانده دلالت کوی. هغوئ ته دا معلومه نهٔ شوه چه دَ هغهٔ میلمانهٔ انسانان نهٔ دی بلکه فرشتے دی که چرے هغهٔ ته دَ مخکښې نه معلومه وے چه هغه فرشتے دی نو هغهٔ ته دَ غم او ویرے څهٔ ضرورت وو.

## شپږمه قصه ــــ دا هم متعلق ده دَ اولے دعوے سره

وَاِلٰی مَدْیَنَ اَخَاهُمْ شُعَیْبًا ــــ تا ــــ اَلَا بُعْدًا لِّمَدْیَنَ كَمَا بَعِدَتْ ثَمُوْدُ (ع ۸)
دا د حضرت شعیب علیه السلام واقعه ده او د اولے دعوے سره متعلق ده خپل
قوم ته د هغهٔ رومبے خطاب دا وو. یٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَیْرُهٗ. اے
زما قومه! صرف الله ته او از کوئی او د هغهٔ نه سیوا ستا سو څوک کار ساز نشته.
وَاسْتَغْفِرُوْا رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوْبُوْٓا اِلَیْهِ. او د خپلو ګناهونو معافی د الله نه اوغواړئ ۱۲
و کفر شرك او د خلقو د حق تلفئ نه ربښتونے توبه اوباسی لیکن قوم د ضد او
عناد د وجے نه په کفر او انکار بانديے ټینګ ولاړ وو آخر د خدائے عذاب سره هلاك
شول.

## اُومه قصه ــــ دا هم متعلق ده د دریمے دعوے سره

وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا مُوْسٰی بِاٰیٰتِنَا وَسُلْطٰنٍ مُّبِیْنٍ ــــ تا ــــ بِئْسَ الرِّفْدُ الْمَرْفُوْدُ (۹۶)
دا د حضرت موسٰی علیه السلام واقعه ده او دریمے دعوے سره متعلق ده څنګه
چه د مسئله توحید د وجے نه حضرت موسٰی علیه السلام باندے مصیبتونه او تکلیفونه
راغلل دا شان به په تاسو باندے هم راځی د دے وجے نه مه ویریږئ بلکه
همت او استقلال سره خپل د تبلیغ فریضه ادا کوئی د دے تفصیل په سورهٔ
اعراف ص تفسیر ع کښ تیر شوے دے، دیته روستو ذٰلِكَ مِنْ اَنْۢبَآءِ الْقُرٰی الخ
سره د ټولو ذکر شوو قصو طرف ته ئے اشاره اوکړه وے فرمائیل دا باغی قومونه
مونږ هلاك کړل په دوئ مونږ ظلم اونکړو بلکه هغوئ ته د خپلو کړو سزا
ورکړے شوه او بیا د کوم باطل معبودانو په امداد چه د هغوئ اعتماد وو هغوئ
نه یو هم د دوئ په کار رانغے.

وَكَذٰلِكَ اَخْذُ رَبِّكَ ــــ تا ــــ اِنَّ رَبَّكَ فَعَّالٌ لِّمَا یُرِیْدُ (ع ۹) معاندینو او بدبختانو
د پارهٔ وعید دے او تخویف اُخروی دے. وَاَمَّا الَّذِیْنَ سُعِدُوْا الخ مومنانو د پارهٔ
بشارت اُخروی دے فَلَا تَكُ فِیْ مِرْیَةٍ مِّمَّا یَعْبُدُ هٰٓؤُلَآءِ. دا د ټولو نه دعوے
سره متعلق دے شرك ټول باطل او توحید ټول حق دے او دا خبره دومره
زیاته واضحه او روښانه ده چه په دے کښ د شك او شبهے هیڅ ګنجائش
نشته. وَلَقَدْ اٰتَیْنَا مُوْسَی الْكِتٰبَ فَاخْتُلِفَ فِیْهِ (ع ۱۰) دا د سوال مقدر جواب
دے سوال دا وو چه که چرے قرآن د الله کتاب وے نو ټولو خلقو به هغه منلے وے
او هیچا به هم دے کښ اختلاف نهٔ کولے. جواب ورکړے شو چه د کتاب بارهٔ کښ
د خلقو اختلاف د دے د باطل کیدو دلیل نهٔ دے. ولے موسٰی علیه السلام ته
مونږ کتاب نهٔ وو ورکړے په هغے (تورات) کښ اختلاف نهٔ وو کړے شوے.
وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِنْ رَّبِّكَ. دا هم د مقدر سوال جواب دے، مشرکانو به
وئیل چه که چرے مونږ نهٔ منو او په کتاب کښ اختلاف کوو نو په مونږ
عذاب ولے نهٔ راځی. حال دا دے چه په نهٔ منلو باندے مونږ ته بیا بیا

ویره راکولے شي. جواب ورکړے شوچه دَ عذاب دَ پاره دَ الله سره یو وخت مقرر دے دَ دے وجے نه هغه به په خپل مقرر وخت باندے راځي او خامخا به راځي که چرے دَ عذاب دَ پاره وخت مقرر نهٔ وے نو دوئی به ټکښې هلاک شوے وُو.

وَإِنَّ كُلًّا لَّمَّا لَيُوَفِّيَنَّهُمْ رَبُّكَ أَعْمَالَهُمْ الخ تخويف اُخروی دے ټخلور وارو دعوے او دَ هغې سره متعلق اووه قصّے بیان شوے او سوال اوجواب اوتخويف وغیره هم ذکر شوناوس دَ سورت دَ ټولو مضامینونه روستو په هغې پنځه اُمور متفرّع کړے شو ① فَاسْتَقِمْ، یعنې په خپله مسئله قائم اُوسیږه ② وَلَا تَطْغَوْا، دَ دے نه سرمهٔ اړوه ③ وَلَا تَرْكَنُوْا، او دَ مشرکانو طرف ته میلان مهٔ کوئ ④ وَأَقِمِ الصَّلٰوةَ الخ امر مصلح پنځه وخته مونځ قائم کړه ⑤ واصْبِرُوْا او په مصیبتونو او مشکلاتوکښې صبر او استقلال سره مقابله اوکړئ.

وَمَا كَانَ رَبُّكَ لِيُهْلِكَ الْقُرٰى الخ تخويف دُنیوی دے وَقُلْ لِّلَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ الخ زجر سره دَ تخويف اُخروی ته په آخرکښې په طور دَ لف نشر غیر مرتب دَ سورت دَ څلورو وارو دعوؤ په اختصار سره اعاده ده وَلِلّٰهِ غَيْبُ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ الخ کښې دَ دویمے دعوے اعاده ده، فَاعْبُدْهُ کښې دَ اول دعوے، وَتَوَكَّلْ عَلَيْهِ کښې دَ دریمے دعوے وَمَا رَبُّكَ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُوْنَ کښې دَ څلورمے دعوے اعاده ده.

## مختصر خلاصه

دَ سورت په ابتدائی حصه کښې څلور دعوے ذکر شوے دی. اوله دعوی أَلَّا تَعْبُدُوْا إِلَّا اللّٰهَ الخ صرف الله تعالیٰ رابلئ او دَ هغهٔ نه دَ خپلو ګناهونو معافی غواړئ او رښتونے توبه اُوباسئ. دویمه دعوی أَلَا إِنَّهُمْ يَثْنُوْنَ صُدُوْرَهُمْ الخ (ع۱) صرف الله تعالیٰ عالم الغیب دے دَ ټول کائنات ذرّه ذرّه په هغهٔ ښکاره ده. دریمه دعوی فَلَعَلَّكَ تَارِكٌۢ بَعْضَ مَا يُوْحٰى الخ (ع۲) دَ مشرکانو ملامتیا او بدو ویلو سره تاسوخفه او زړهٔ تنګ نکړئ دَ توحید په تبلیغ کښې کوتاهی اُونکړئ څلورمه دعوی، أَفَمَنْ كَانَ عَلٰى بَيِّنَةٍ مِّنْ رَّبِّهٖ الخ (ع۲) دَ توحید مسئله بالکل واضحه او روښانه ده په دے کښې دَ شک شبهے ګنجائش نشته. لیکن معاندینے دَ ضد دَ وجے نه نهٔ منی دَ مذکوره څلورو دعوو مینځ کښې زجرونه، شکوے تخويفونه او بشارتونه هم دَ موقعے مناسب ذکر شوی دی. دَ دے نه روستو دَ تیرشوو اووؤ انبیاؤ علیهم السلام قصے ذکر شوی دی چه په طور دَ لف اونشر مرتب سره دَ ذکر شوو دعوو سره متعلق دی. اوله قصه دَ حضرت نوح علیه السلام ده وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوْحًا إِلٰى قَوْمِهٖ (ع۳ تاع۴) دا دَ اول دعوے سره متعلق ده یعنې صرف الله تعالیٰ ته اوازکوئ دَ هغهٔ نه سیوا څوک کارساز نشته. أَنْ لَّا تَعْبُدُوْا إِلَّا اللّٰهَ. دویمه قصه دَ حضرت هود علیه السلام ده وَإِلٰى عَادٍ

اَخَاهُمْ هُوْدًا (ع ۵) دا قصه هم دَ اول دعوے سره متعلق ده یٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا لَکُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَیْرُهٗ. دریمه قصه دَ حضرت صالح علیه السلام ده وَ اِلٰی ثَمُوْدَ اَخَاهُمْ صٰلِحًا (ع ۶) دا قصه هم دَ اول دعوے سره متعلق ده. یٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا لَکُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَیْرُهٗ. څلورمه قصه دَ حضرت ابراهیم علیه السلام ده وَلَقَدْ جَآءَتْ رُسُلُنَآ اِبْرٰهِیْمَ بِالْبُشْرٰی الخ (ع ۷) دا واقعه دَ دویمې دعوے سره متعلق ده یعنی دَ الله نه سیوا څوک عالم الغیب نشته نهٔ فرښتے نهٔ انبیاء علیهم السلام او نهٔ اولیاء کرام. حضرت ابراهیم علیه السلام فرښتے اُونهٔ پیژندلے او فرښتو نه هم علم نهٔ وو چه حضرت ابراهیم علیه السلام مغوئ دَ پاره روټئ پخولو دَ پاره تللو او دَ هغهٔ پاکے بی بی نه هم پته اُونهٔ لګیده چه هغه فرښتو دَ پاره روټئ پخوی. پنځمه قصه دَ حضرت لوط علیه السلام ده وَلَمَّا جَآءَتْ رُسُلُنَا لُوْطًا سِیْٓءَ بِهِمْ الخ (ع ۷) دا واقعه هم دَ دویمې دعوے سره متعلق ده حضرت لوط علیه السلام هم فرښتے اُونهٔ پیژندلے او دَ هغوئ په وجه غمژن شو. شپږمه واقعه دَ حضرت شعیب علیه السلام ده وَ اِلٰی مَدْیَنَ اَخَاهُمْ شُعَیْبًا (ع ۸) دا قصه هم دَ اولے دعوے سره متعلق ده یٰقَوْمِ اعبدوا اللّٰهَ مَا لَکُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَیْرُهٗ اُومه قصه دَ حضرت موسٰی علیه السلام ده وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا مُوْسٰی بِاٰیٰتِنَا الخ (ع ۹) دا قصه دَ دریمے دعوے سره متعلق ده دَ توحید دَ تبلیغ په لاره کښ چه کوم تکلیفونه راشي دَ حضرت موسٰی علیه السلام په شان هغه برداشت کړئ په فریضهٔ تبلیغ کښ چه کوتاهی اونکړئ.

فَلَا تَكُ فِیْ مِرْیَةٍ مِّمَّا یَعْبُدُ هٰٓؤُلَآءِ (ع ۹) دا دَ څلورمے دعوے سره متعلق ده یعنی دَ توحید په مسئله کښ دَ شک هیڅ ګنجائش نشته او مشرکانو سره دَ پلار نیکهٔ دَ رسم او رواج نه سیوا بل هیڅ دلیل نشته. وَلَقَدْ اٰتَیْنَا مُوْسَی الْکِتٰبَ فَاخْتُلِفَ فِیْهِ او وَلَوْلَا کَلِمَةٌ سَبَقَتْ الخ (ع ۱۰) دواړه دَ مقدرو سوالونو جوابونه دی وَاِنَّ کُلًّا لَّمَّا لَیُوَفِّیَنَّهُمْ الخ تخویف اُخروی دے. فَاسْتَقِمْ اول امر متفرع. وَلَا تَطْغَوْا، دویم امر متفرع. وَلَا تَرْکَنُوْٓا، دریم امر متفرع. وَاَقِمِ الصَّلٰوةَ، څلورم امر متفرع. یعنی امر مصلح موږهٔ قائم کړئ. وَاصْبِرْ، پنځم امر متفرع. وَمَا کَانَ رَبُّكَ لِیُهْلِكَ الْقُرٰی الخ تخویف دنیوی دے وَقُلْ لِّلَّذِیْنَ لَا یُؤْمِنُوْنَ الخ زجر سره دَ تخویف دنیوی. په اخری ایت کښ دَ څلورو واړو دعوو اعاده ده. وَلِلّٰهِ غَیْبُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ الخ دویمه دعوی. فَاعْبُدْهُ اوله دعوی. وَتَوَکَّلْ عَلَیْهِ، دریمه دعوی. او وَمَا رَبُّكَ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُوْنَ څلورمه دعوی.

سُوْرَةُ هُوْدٍ مَكِّيَّةٌ وَهُوَ مِائَةٌ وَّثَلٰثٌ وَّعِشْرُوْنَ اٰيَةً عَشْرُ رُكُوْعَاتٍ

سورة هود په مکه کښ نازل شوېده او دا دے یو سل درې ويشت (۱۲۳) آيتونه او لس رکوعات دي

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○

شروع د الله په نوم چه بے حد مهربان نهایت رحم والا دے

الٓرٰ قف كِتٰبٌ اُحْكِمَتْ اٰيٰتُهٗ ثُمَّ فُصِّلَتْ مِنْ

دا کتاب دے چه محکم کړے شوي دي خبرے د دهٔ بيا واضح کړے شوي دي د

لَّدُنْ حَكِيْمٍ خَبِيْرٍ ﴿۱﴾ اَلَّا تَعْبُدُوْٓا اِلَّا اللّٰهَ ط

طرف حکمت والا خبردار نه دا چه مه کوئ عبادت څه مګر د الله

اِنَّنِيْ لَكُمْ مِّنْهُ نَذِيْرٌ وَّبَشِيْرٌ ﴿۲﴾ وَّاَنِ اسْتَغْفِرُوْا

زهٔ تاسو له د طرف د هغهٔ نه ويروونکے او خوشخبري اوروونکے يم - دا چه بښنه اوغواړئ څه

رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوْبُوْٓا اِلَيْهِ يُمَتِّعْكُمْ مَّتَاعًا حَسَنًا

د رب خپل نه بيا رجوع اوکړئ د هغهٔ طرفته چه فائده اورسيږي تاسو ته ښهٔ فائده

اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى وَّيُؤْتِ كُلَّ ذِيْ فَضْلٍ

تر يو وخت مقرر پورے او ورکړي هر يو زياتي کوونکو ته

فَضْلَهٗ ط وَاِنْ تَوَلَّوْا فَاِنِّيْٓ اَخَافُ عَلَيْكُمْ

خپل زياتے او که چرے تاسو اوګرځيدئ نو زهٔ ويريږم که په تاسو

عَذَابَ يَوْمٍ كَبِيْرٍ ﴿۳﴾ اِلَى اللّٰهِ مَرْجِعُكُمْ ج وَهُوَ

د عذاب د ورځے لوئے نه د الله طرفته ستاسو واپس ورتلل دي او هغه

عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۴﴾ اَلَآ اِنَّهُمْ يَثْنُوْنَ

په هر څيز قادر دے. خبردار هغوئ څه تاووي

صُدُوْرَهُمْ لِيَسْتَخْفُوْا مِنْهُ ط اَلَا حِيْنَ يَسْتَغْشُوْنَ

سينے خپلے مطلب دے د پاره چه پټ کړي د هغهٔ نه خبردار کوم وخت چه اغوندي

ثِيَابَهُمْ يَعْلَمُ مَا يُسِرُّونَ وَمَا يُعْلِنُونَ ج
خپلې کپړې پیژنی کوم چه پټوی او کوم چه ظاهروی
إِنَّهُ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ ۝
یقیناً الله خوخبردار دے په خبرو د زړونو ۲

نکات: ۱ تمهید د اصل مضمون د پاره ۱۲ ۲ تعقیب ذکری د پاره دے ۱۲ ۳ د سورت اوله دعوی د الله نه سیوا هیچا ته او ازمه کوئ ۱۲ ۴ د سورت دویمه دعوی څوک عالم الغیب نشته ۱۲۔

فتح الرحمٰن ۱ مترجم وائی وټیلے شی چه سیئے تاوول عبارت د دینه دی چه په ناحق سوچونو او باطلو شبها تو خپلو زړونو ته اطمینان ورکوی او حق عقائید هیروی ځکه چه صدور دے ځائے کښ په معنیٰ د سینو د علوم سره راغلے دے۔

## دویمه دعوی ــــ صرف الله رابلئ

تفسیر ۱ دا د اصل مضمون د پاره په منزله د تمهید دے. کِتٰبٌ مبتداء محذوف خبر دے ای هذا کتاب او په کتاب کښ تنوین د تعظیم د پاره دے داعظیم الشان او جلیل القدر کتاب دے والتنوین فیه للتعظیم ای کتاب عظیم الشان جلیل القدر (روح ج ۱۱ ص۲۰۳). اُحْكِمَتْ اٰيٰتُهٗ د کِتٰبٌ او لنے صفت دے د ایتونو د مضبوطیا او محکم والی نه مراد دا دے چه هغه په خپل مینځ کښ د تناقض نه محفوظ دی د حکمت او نفس الامر نه خلاف په هغ کښ هیڅ خبره نشته او د فصاحت او بلاغت په اعتبار سره هغه د ټولو لفظی او معنوی خوبیا نو سره ځائسته دے (روح) حضرت ابن عباس فرمائی. د محکم کیدلو مطلب دا دے چه د تورات او انجیل پشان کرده نه روستو به کوم ناسخ کتاب نه راځی قال ابن عباس ای لم ینسخها کتاب بخلاف التوراة والانجیل (قرطبی ج۹ ص۲)
۲ ثُمَّ تعقیب ذکری د پاره دے تراخی د پاره نه دے. فُصِّلَتْ جدا جدا بیان کړے شوی دی څنګه چه د جواهرات یاره کښ خاص قسم آب دار ملغلرے او پټیل شی د هغ حصے جدا کولے شی. دا شان په قرآن مجید کښ د توحید دلائیل، احکام نصائح او واقعات ذکر کړے شوی دی. کلعقد المفصل بالفرائد التی تجعل بین اللالی ووجه جعلها کذلک اشتمالها علی دلائیل التوحید والاحکام والمواعظ والقصص (روح ج ۱۱ ص۲۰۴ ومدارک ج ۲ ص۱۴۳) امام زجاج، ابن جریر، فراء، او کسائی فرمائی مطلب دا دے چه په دے کښ د توحید د مسئلے او د شرک د

اَلَّا تَعۡبُدُوۡٓا اِلَّا اللّٰهَ ۔ دَ فُصِّلَتۡ سره متعلق دے
اؤ اَلَّا تَعۡبُدُوۡٓا اِلَّا اللّٰهَ ۔ دَ فُصِّلَتۡ سره متعلق دے
نفی کولو تفصیل کړے شوید ے ۔ ۷ دا هم دَ کتاب صفت دے یعنی دا عظیم الشان کتاب
حوالے مخکښې راغئی ۔ ۴ دا هم دَ کتاب صفت دے یعنی دا عظیم الشان کتاب
چه محکم او مفصّل دے دَ حکیم او خبیر دَ طرفه نه راغلے دے دَ کوم انسان
جوړ شوے نهٔ دے ۔ دَ کتاب دا دواړه صفتونه دَ الله تعالیٰ دَ دے دواړو صفتونو
المعنی احکمها حکیم و فصلها ای بیّنها و شرحها خبیر عالم بکیفیات
الامور، ففی الاٰیة اللفّ والنشر المرتب (روح ج ۱۱ صـ۲۰۵) وکذا فی الکبیر۔
۵ دا اوله دعوٰی ده یعنی دا سورت چه دَ کومے مسئلے تفصیل کوی هغه دا ده
چه دَ الله نه سیوا دَ بل چا عبادت مهٔ کوئی او غیر الله ته آوازمهٔ کوئی دَ اَنۡ نه
مخکښې حرف جار محذوف دے دَ امام ابن جریر، کسائی، فراء په نزد باندے
په اصل کښې بِاَلَّا وو او جار مجرور دَ فُصِّلَتۡ سره متعلق دے او مطلب دا دے
چه دا کتاب دَ توحید دَ مسئلے او دَ شرک دَ نفی تفصیل دے ۔ ثم فصلت
بالا تعبدوا الا الله وحده لا شریك له و تخلعوا الاٰلهة والانداد (ابن جریر ج ۱۱ صـ۱۸۱)
قال الکسائی والفراء ای بالا۔ ای احکمت ثم فصلت بالا تعبدوا الا الله اِنَّنِیۡ لَکُمۡ
مِّنۡهُ الخ (قرطبی ج ۹ صـ۳) امام زجاج فرمائی دَ اَنۡ نه مخکښې لام تعلیلیه مقدر
دے ای حکمت ثم فصلت لئلا تعبدوا الا الله (قرطبی) یعنی قرآن ته محکم
او مفصّل دَ دے وجے نه اوو ئیلے شو چه تاسو دَ غیر الله عبادت او رابلل پریږدئ۔
دینه معلومه شوه چه دَ کتاب الله اصل مقصود بالذات مضمون دَ توحید مسئله
او دَ شرک نفی ده۔ والتقدیر کتاب احکمت اٰیاته ثم فصلت لاجل الا تعبدوا الا الله
واقول هذا التاویل یدل علی انه لا مقصود من هذا الکتاب الشریف الا هذا
الحرف الواحد فکل من صرف عمره الی سائر المطالب فقد خاب و خسر
(کبیر ج ۱۷ صـ۱۷۸) انّنی لکم منه الخ ای قل یا محمّدؐ للنّاس (ابن جریر)۔
۶ دا او ثُمَّ تُوۡبُوۡٓا دواړه اَلَّا تَعۡبُدُوۡٓا باندے عطف دے دَ خپلو تیر شوو گناهونو
معافی اُوغواړئ او ائنده دَ پاره دِ دے گناهونو (دَ غیر الله عبادت او رابلل وغیره)
ته دَ نزدے نهٔ ورتللو دَ صدق دل نه عزم اوکړئ۔ یُمَتِّعۡکُمۡ مَّتَاعًا الخ دَ امر جواب
دے یعنی کهٔ چرے تاسو دَ شرک نه بچ شئ او دَ الله نه دَ خپلو گناهونو معافی
غواړئ نو په ژوندانه کښې به دَ الله دَ عذاب نه بچ پاتے شئ قال الزجاج یبقیکم
ولا یستأصلکم بالعذاب کما استأصل اهل القری الذین کفروا (روح ج ۱۱ صـ۲۰۸)
وَیُؤۡتِ الخ دا په یُمَتِّعۡکُمۡ باندے معطوف دے او صالح او زیات نیک اعمال کوُنکو ته به دَ هغه
دَ اعمال صالحه جزاء په دنیا او اخرت کښې ورکړی۔ ۷ دا دَ جمع مذکر حاضر
فعل مضارع صیغه ده او یوه تاء تخفیفًا حذف شوید ه په اصل کښې اَنۡ تَتَوَلَّوۡا
وو (مدارک ج ۲ صـ۱۳۸ و روح) یا دا دَ ماضی صیغه ده۔ لیکن دے صورت کښې
به فاء جزائیه نه روستو لفظ قل محذوف وی ای فقل یا محمد انی

اخاف علیکم الخ (خازن ج ۳ ص۲۱۷) اِلَی اللّٰہِ مَرْجِعُکُمْ الخ تخویف أخروی دے.

## دوئمه دعوٰی (دَ الله نه ما سوٰی څوک عالم الغیب نشته)

ځه دا دَ سورت دویمه دعوٰی ده چه دَ اولنۍ دعوے دَ پاره په منزله دَعلت ده یعنې چونکه په ټول هرڅهٔ خبر دار، او دَ ټول کائنات خالق او مالک او دَ ټولو رازق صرف الله تعالٰی دے دَ دے وجے نه په حاجتونو او مشکلاتو کښې غائبانه صرف هغهٔ ته او از کوئ مشرکانو چه به کله قرآنی ایتونه او دَ توحید دلائیل اوریدل نو په هغوئ بانډے به هیڅ اثر نهٔ کیدو او دَ هغوئ په سینوکښې به هم هغه دَکفر او شرک پلیتی باقی پاتے وه دَ هغے نه به ئے دَ نفاق په طور څهٔ ایمان ظاهرولو. او دَ هغوئ زړونه به دَکفر او شرک او دَ اسلام دُشمنئ نه ډک وو او دَ هغوئ خیال وو چه دُشمنی خو دَ هغوئ په سینوکښې پټه ده هغه څوک چرته معلومولے شی. داشان دَ هغوئ ګمان وو چه کله هغوئ دروازه بندے کړی او پرده زورنه کړی او خپلے سینے په کپړوکښې پټے کړی او په پټه دَ اسلام خلاف دُشمنی اُوسازشونه جوړکړی نو دَ هغے علم به هیچا ته نهٔ وی. روی ان طائفة من المشرکین قالوا اذا اغلقنا ابوابنا وارسلنا ستورنا واستغشینا ثیابنا وثنینا صدورنا علی عداوة محمد فکیف یعلم بنا (کبیر ج ۷ ص۱۸۵) او خپلے سینے دوه قته کړی او په خپله په کپړوکښې ځان اونغاړی دَخپل کفر او دُشمنئ پټول غواړی. لیکن دَ دے تر بیرونو هیڅ فائده نشته. ځکه چه الله تعالٰی څنګه چه دَ دوئ دَ ښکاره اعمال نه خبر دے. داشان هغه دَ دوئ دَ پټو عملو نه هم خبردار دے. تر دے چه دَ هغوئ دَ زړونو دَ پټو رازونو نه هم خبر دے. لیکن ډیره زیاته صحیح خبره هغه ده کومه چه حضرت ابن عباسؓ فرمائیلے ده چه دا ایت دَ ځنو مسلمانانو دَ پاره کښې نازل شو چه په هغوئ بانډے دَ حیا دومره ډیره زیاته غلبه وه چه هغوئ به دَ استنجاء او جماع (کور والے) او دَ نور ضروریاتو په وخت دَ بدن بربنډولو نه شرم کولو چه دَ اسمان والا موږه وینی دے بانډے الله تعالٰی اُوفرمائیل چه دَ بدن ښکاره کولو په وخت هغوئ دَ خدائے نه دَ شرم په وجه سره پټیږی نو ایا چه کله هغوئ کپړے اغوستے وی هغه وخت الله دوئ نهٔ وینی؟ (صحیح بخاری)

---

وَمَا مِن دَآبَّةٍ فِي الْأَرْضِ إِلَّا عَلَى اللَّهِ رِزْقُهَا
او هیڅ تلونکے نشته څه په زمکه باندې لیکن په الله ده ذ هغه روزي
وَيَعْلَمُ مُسْتَقَرَّهَا وَمُسْتَوْدَعَهَا ۚ كُلٌّ
او عالم دے په ځائے ذ اوسیدلو ذ هغه او په کوم ځائے کښ چه هغه سپارلے شی ټول هر یو
فِي كِتَابٍ مُّبِينٍ ﴿٦﴾ وَهُوَ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ
په کتاب واضحه کښ دے. او (خدائے) هغه دے چاچه جوړ کړل اسمانونه
وَالْأَرْضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ وَكَانَ عَرْشُهُ
او زمکه په شپږو ورځو کښې نو او وو ذ هغه تخت
عَلَى الْمَاءِ لِيَبْلُوَكُمْ أَيُّكُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا
په اوبو باندې دے د پاره چه وو ازمائی تاسو چه څوک تاسو کښې نیک کار کوی
وَلَئِن قُلْتَ إِنَّكُم مَّبْعُوثُونَ مِن بَعْدِ الْمَوْتِ
او که چرے ته اووائے لـه چه تاسو به پاڅولے شئ روستو ذ مرګ نه
لَيَقُولَنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا إِنْ هَٰذَا إِلَّا سِحْرٌ
خامخا وائی به هغه کسان چه کافران دی دا څو هیڅ نه دے لیکن جادو
مُّبِينٌ ﴿٧﴾ وَلَئِنْ أَخَّرْنَا عَنْهُمُ الْعَذَابَ إِلَىٰ
ښکاره. او که چرے لـه مونږ روستو کړو ذ دوئ نه عذاب تر یوې
أُمَّةٍ مَّعْدُودَةٍ لَّيَقُولُنَّ مَا يَحْبِسُهُ ۗ أَلَا
موده لږې پورې نو وائی به دوئ څه شی روستو کړو عذاب. خبردار
يَوْمَ يَأْتِيهِمْ لَيْسَ مَصْرُوفًا عَنْهُمْ وَحَاقَ
چه په کومه ورځ راشی په دوئ باندې بیا به نشی واپس کولے ذ دوئ نه او چاپیره به شی
بِهِم مَّا كَانُوا بِهِ يَسْتَهْزِئُونَ ﴿٨﴾ وَلَئِنْ
ذ دوئ نه هغه څیز کوم پورې چه دوئ توقے کولے. او که چرے

أَذَقْنَا الْإِنْسَانَ مِنَّا رَحْمَةً ثُمَّ نَزَعْنٰهَا مِنْهُ ۚ

څکو مونږ انسان ته د خپل طرف نه رحمت بیا څخه واخلو د هغه نه

إِنَّهُ لَيَـُٔوسٌ كَفُورٌ ⑨ وَلَئِنْ أَذَقْنٰهُ نَعْمَآءَ بَعْدَ

نو هغه نا اُمید او ناشکری. او که چرته اُڅکو مونږ هغه ته آرام روستو

ضَرَّآءَ مَسَّتْهُ لَيَقُولَنَّ ذَهَبَ السَّيِّاٰتُ عَنِّيْ ؕ

د تکلیف نه چه رسیدلے وو هغه ته نو هغه به وائی لرے شوه سختی ځما نه

إِنَّهُ لَفَرِحٌ فَخُورٌ ⑩

نو خوشحالیږی ونکے کبر کونکے دے.

نکات: سلے شکوی ۲ ست دا هم شکوی ده ۲ ست زجر دے ۱۲.

موضح قرآن — ف۱ چرته چه هغه اُوسیږی، دوزخ او جنت او چرته چه سپارلے شی هغه قبر دے او روزی ده نو هغه په دُنیا کښ.

فتح الرحمٰن — ف۲ یعنی په لوح محفوظ کښ لیکلی دی. مترجم وائی مستودع هغه ځائے دے چه بغیر د اختیار نه هلته سا تلے شوے وی لکه رحم او مستقر هغه ځائے دے چه په خپل اختیار سره پاتے کیږی لکه کور.

تفسیر: ف۳ او په زمکه باندے د اُوسیدونکی د هر ساه والا مخلوق روزی هم د الله په ذمه ده او صرف هغه د ټولو رازق دے الله تعالیٰ محض تفضلًا د ټولو د روزئی ذمه اخستے ده ګنی په الله تعالیٰ باندے هیڅ څیز واجب نه دے وَيَعْلَمُ مُسْتَقَرَّهَا وَمُسْتَوْدَعَهَا. او د هر یو مستقر او مستودع هم هغه ته معلوم دے د دے دوارو لفظونو په تفسیر کښ مختلف اقوال نقل شوی دی. حضرت ابن عباس رض فرمائی د مستقر نه په ژوند کښ د شپے یا د ورځے د اُوسیدو ځائے او مستودع نه د مرګ نه روستو د دفن کیدلو ځائے مراد دے د حضرت ابن مسعود رض قول دے د مستقر نه د مور رحم او مستودع نه د بنبنیدلو ځائے مراد دے (خازن)، كُلٌّ فِي كِتٰبٍ مُّبِيْنٍ. هر څیز په کتاب مبین کښ موجود دے د کتاب مبین نه مراد لوح محفوظ دے یا علمِ الٰہی. قال الزجاج المعنی ان ذلك ثابت فی علم الله تعالیٰ ومنهم من قال فی اللوح المحفوظ (کبیر ج ۷، ص ۱۸۲)

ف۴ زمکه او اسمان الله پاك صرف په شپږو ورځو کښ پیدا کړل چه د هغه د کمالِ قدرت دلیل دے. وَكَانَ عَرْشُهُ عَلَى الْمَآءِ. ماضی په معنی د حال ده

د کامل قدرت او د پوره استغناء نه کنایه ده
او د عرش په اوبو باندې کیدل د دې نه کنایه ده چه هغه قادر او غني وو او اوس نه دې بلکه مطلب دا
دا مطلب نهٔ دې چه هغه مخکښې قادر او غني وو او اوس نهٔ دې بلکه مطلب دا دې
چه هغه اوس هم دِ دې صفتونو سره موصوف دې د ماضي استعمال د حال په
معنیٰ کښې عام دې یا د عرش په اوبو د پاسه کیدل په حقیقي معانیو باندې
محمول دې. او دا هم د الله تعالیٰ د کمالِ قدرت ډیر لوئې دلیل دې. فیه
دلالة علی کمال القدرة من وجوه الاول ان العرش مع کونه اعظم من السموٰت
والارض کان علی الماء فلولا انه تعالیٰ قادر علی امساك الثقیل بغیر عمد لما صح
ذٰلك (کبیر ج ۱۷ ص ۱۸۷) ۱۱ دا شکوٰی ده د دې مشرکانو د ضد هم څهٔ انتهاء
نشته دا هم منې چه د ټول کائنات خالق او مالک الله دې او هغهٔ په هر څیز
قادر دې بیا هم د مرګ نه روستو د دوباره ژوندي پاڅیدلو نه صفا انکار
کوي او د دې حقیقت باطل او دروغ ګڼړي. سِحْرٌ مُّبِيْنٌ دلته د سحر متبادر
معنیٰ جادو مراد نهٔ دې بلکه دلته هغه په معنیٰ د باطل او دروغ دې. ای
غرور باطل لبطلان السحر عندهم (قرطبي ج ۹ ص ۹) ای باطل مبین (کبیر ج ۱۷ ص ۱۸۹)
۱۲ دا هم شکوٰی ده. منکرین معاندین باندې د عذاب راتللو وخت مقرر
دې. لیکن هغوئ وائي کله چه مونږ په انکار د پاسه انکار کوو نو په مونږ
باندې عذاب ولې نهٔ راځي کوم څیز هغه منع کړیدې. اَلَا يَوْمَ يَاْتِيْهِمْ الخ
جواب شکوٰی دې دِ دې معاندینو باندې به عذاب ضرور راځي د الله وعده
نشي دروغ کیدلې. لیکن په خپل وخت به راځي او کله چه راشي نو هغوئ
به پرې ننګ دي او هغوئ به د خپل بد عملونو او د دین اسلام پیغمبر خدا
صلی الله علیه وسلم او مسلمانانو پورې د ټوقو مسخرو بدهٔ مزه اُوڅکي.
۱۳ دا زجر دې او د اَلْاِنْسَانَ نه مراد مشرک انسان دې. وې فرمائیل چه
کله مونږ مشرکانو باندې رحمت اوکړو او د دُنیوي آرام او راحت دروازې
په هغوئ باندې پرانزو نو هغوئ خیال کوي چه دا ټول د هغوئ د خودساخته
(د لاسو نو جوړ شوي) معبودانو مهرباني ده. بیا چه کله مونږ د هغوئ آرام او
عیش په تکلیف تنګسیا سره بدل کړو نو هغوئ د خپلو معبودانو نه نا اُمید
ګرځي او د هغوئ عقیده بدله شي او داسې وائي چه دا څمونږ معبودان خو
هیڅ نشي کولې د دې وجې نه هغوئ الله تعالیٰ ته آوازونه شروع کړي.
وَلَئِنْ اَذَقْنٰهُ نَعْمَآءَ الخ لیکن بیا چه کله مونږ د هغوئ تکلیف، تنګدستي
او مصیبت وغیره لرې کړو هغوئ ته دوباره راحت او مال دولت ورکړو
نو هغوئ څمونږ ناشکري اوکړي دا انعام او اکرام د خپلو معبودانو طرفته
منسوب کړي او وائي چه د دوئ په مهربانئ سره مصیبتونه ختم شول
لکه چه په سورة زمر کښې ئې اُوفرمائیل وَاِذَا مَسَّ الْاِنْسَانَ ضُرٌّ دَعَا رَبَّهٗ

مُنِيبًا اِلَيْهِ ثُمَّ اِذَا خَوَّلَهٗ نِعْمَةً مِّنْهُ نَسِيَ مَا كَانَ يَدْعُوْٓا اِلَيْهِ مِنْ قَبْلُ وَجَعَلَ لِلّٰهِ اَنْدَادًا الاية (زمرع ۱) دا شان سورة حم السجده (ع ۶) کښې ئے او فرمائیل لَا يَسْئَمُ الْاِنْسَانُ مِنْ دُعَآءِ الْخَيْرِ وَاِنْ مَّسَّهُ الشَّرُّ فَيَئُوْسٌ قَنُوْطٌ ○ وَلَئِنْ اَذَقْنٰهُ رَحْمَةً مِّنَّا مِنْ بَعْدِ ضَرَّآءَ مَسَّتْهُ لَيَقُوْلَنَّ هٰذَا الی الآية. یعنی مشرک انسان دَخپل معبودانِ باطله ته حاجتونو غوښتلو سره نهٔ ستړی کیږی او که چرے دِے دوران کښې په هغهٔ باندے څهٔ مصیبت راشی نو دَخپلو معبودانو نه نا اُمیدہ شی دَ هغے نه روستو که چرے مونږ دَ هغهٔ نه مصیبتونه لرے کړو دَ راحت ژوندہ هغوئ ته نصیب کړو نو ځمونږ دَ شکر ادا کولو ځائے وائی ما ته معلومه وه چه که چرے زهٔ دَ دے معبودانو نه روزنه وړ کړم نو ځما مشکلات به آسان شی او په ما باندے به بنهٔ ورځ راشی نو هم هغه شان اُو شوه۔

اِلَّا الَّذِيْنَ صَبَرُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ ؕ اُولٰٓئِكَ
لیکن کوم خلق ګله چه صبر کوونکی دی او کوی نیکئ هغوئ

لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّاَجْرٌ كَبِيْرٌ ﴿۱۱﴾ فَلَعَلَّكَ تَارِكٌۢ
دَ پاره بښنه ده او ثواب لوئے. نو چرته به ګله پرېږدې

بَعْضَ مَا يُوْحٰٓى اِلَيْكَ وَضَآئِقٌۢ بِهٖ صَدْرُكَ
څهٔ څیز دَ هغے نه چه دَ کوم وحی کیږی تا ته او تنګ به وے دَ هغے نه ستا زړهٔ په دے خبره

اَنْ يَّقُوْلُوْا لَوْلَآ اُنْزِلَ عَلَيْهِ كَنْزٌ اَوْ جَآءَ مَعَهٗ
چه ګله هغوئ وائی ولے نازل نهٔ شوه په هغهٔ باندے خزانه یا ولے رانغلهٔ هغهٔ سره

مَلَكٌ ؕ اِنَّمَآ اَنْتَ نَذِيْرٌ ؕ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ
فرشته تو تهٔ خو ویروونکے ئے او الله تعالی دَ هر څیز

وَّكِيْلٌ ﴿۱۲﴾ اَمْ يَقُوْلُوْنَ افْتَرٰىهُ ؕ قُلْ فَاْتُوْا
ذمه وار دے. آیا وائی چه قرآن ئے جوړ کړیدے ګله ورته او وایه چه تاسو هم راوړئ

بِعَشْرِ سُوَرٍ مِّثْلِهٖ مُفْتَرَيٰتٍ وَّادْعُوْا
لس سورتونه دا سے چه جوړ کړے شوے وی او راؤبلئ

مَنِ اسْتَطَعْتُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ اِنْ كُنْتُمْ
تحوک چه رابلئ سیوا دَ الله نه که چرے تاسو

صٰدِقِيْنَ ۝١٣ فَاِلَّمْ يَسْتَجِيْبُوْا لَكُمْ فَاعْلَمُوْٓا
رېښتونی یئ ۝ بیا که چرے پوره نکړی ستا ویناګانے نو پوهه شئ

اَنَّمَآ اُنْزِلَ بِعِلْمِ اللّٰهِ وَاَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا
چه یقیناً قرآن خو نازل شوے په وحی دَ الله سره او دا چه حاکم نشته سیوا

هُوَ ۚ فَهَلْ اَنْتُمْ مُّسْلِمُوْنَ ۝١٤
دَ هغهٔ نه بیا اوس تاسو حکم منئ۔

نکات:۔ ۱ بشارت اُخروی ۱۲ ۲ دَ سورت دریمه دعوی مَا يُوحٰی یعنی چه دَ توحیین مسئله کښ کوتاهی اُونکړئ ۱۲۔ ۳ شکوی ۱۲۔ ۴ جواب شکوی ۵ متعلق دے جواب شکوی سره ۱۲۔

فتح الرحمٰن ف او لس سوره تو تو سره دَ مقابلے دَ پاره دعوت ورکړے شو چه کله عاجز شول نو په یو سورت سره دَ مقابلے دَ پاره را اُوبلل ۱۲۔

تفسیر:۔ ۱۱ دا دَ مؤمنانو دَ پاره بشارت اُخروی دے اِلَّا په معنی دَ لٰکن دے یعنی هغه ایمان والا چه الله کارساز او متصرف او مختار ګنړی او په مصائب او مشکلاتو کښ هغهٔ ته اواز کوی او په هرحال کښ صبر کوی او دَ الله په عبادت او رابللو کښ مشغول وی یعنی المؤمنين من حهم بالصبر على الشدائد ..... ای لكن الذين صبروا وعملوا الصلحت فى حالتى النعمة والمحنة والبلاء (وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ) وشكروا فى النعمة والرخاء (مدارك ص ۲۲ ج ۲)

دریمه دعوی
چه دَ مایوحیٰ په تبلیغ کښ درته کوتاهی اُونشی

۱۲ دا دریمے دعوے بیان دے که چرے دَ توحیین مسئله بیانولو باندے قسم قسم طعن او اعتراض اوکړی مثلاً هغوئ او وائی چه که چرے دَ خدائے پیغمبر دے نو دَ دهٔ سره دَ دُنیا دَ دولت خزانے ولے نشته یا دَ دهٔ سره فرشته ولے نازل نهٔ شوه چه په خلقو کښ دَ دهٔ دَ صداقت اعلان کولو اُوکړی۔ چرته داسے اُونهٔ شی چه دَ دوئ دَ خبرو ته تاسو زړهٔ تنګی شئ او زړهٔ مو خفه شی دَ مَا يُوحٰى اِلَيْكَ (دَ توحیین مسئله) څخنی اړخ و نه بیان نهٔ کړئ

تاسو دَ دوئی طعن او اعتراضونو پرواه مهٔ کوئی او مسئله صفا صفا بیان کړئی اِنَّمَآ اَنۡتَ نَذِیۡرٌ. ستاسو ذمه واری او ډیوټی صرف تبلیغ او ویرول دی کهٔ چرے هغوئی ئے نهٔ مني نو هغوئی ته سزا ورکول دَ الله کار دے وَاللّٰهُ عَلٰی کُلِّ شَیۡءٍ وَّکِیۡلٌ. ځکه چه الله تعالیٰ دَ دوئی دَ ټول اعمالو نه خبر دے. یعنی لیس علیك الا الانذار بما یوحی الیك ولا علیك شیء ان ردوا واقترحوا وقالوا ائت بقرآن غیر هذا فما بالك تتزك بقولهم (وکیل) یحفظ ما یقولون فیجازیهم (مظهری ج ۵ ص ۲۳) ۱۶ ان مصدریه دے او دَ دۀ نه مخکښ حرف جر مقدر دے او هغه دَ ضَآئِقٌ سره متعلق دے. ای من ان یقولوا او لان یقول یا دَ دۀ نه مخکښ مضاف محذوف دے ای کَرَاهِیَةَ اَنۡ یَّقُوۡلُوۡا (قرطبی ج ۹ ص ۱۲) دے صورت کښ به هغه دَ ضَآئِقٌ مفعول له وی ۱۲. ۱۷ دا شکوٰی دو مشرکانو به دَ نبی علیه السلام پیش کړے شوے دعوی (چه دَ الله په نزد څوک شفیع غالب نشته) خو نهٔ منله اکثر به ئے اَلبته الزام دا لګولو چه محمد (صلی الله علیه وسلم) دا قرآن دَ خپل ځان نه جوړ کړے دے او دَ خدائے طرف ته ئے نسبت کوی او دا دَ الله کلام نهٔ دے. قُلۡ فَاۡتُوۡا الخ دا جواب شکوٰی دے وے فرمائیل تاسو په جواب کښ اووایئ چه کهٔ چرے زۀ داسے قرآن جوړولے شم نو تاسو هم داشان لس سورتونه جوړ کړئی او راوړئی ځکه چه تاسو هم اهل لسان یئی او په دنیا کښ خو ستاسو فصاحت او بلاغت منلے شوے دے او بیا په دے کار کښ دَ خپل مددګارو دَ الله نه سیوا چه دَ چانه کار اخستلے شئ هغه هم راوبلئی او خپل اجتماعی طاقت سره دَ دے کار سرته دَ رسولو کوشش اوکړئی.

۱۸ دا هم جواب شکوٰی سره متعلق دے دَ لَکُمۡ ضمیر مؤمنانو دپاره دے او دَ فَاعۡلَمُوۡا مشرکانو دپاره او قل مقدر دے ای فَقُلۡ اعلموا یعنی کهٔ چرے مشرکان دا معارضه او چیلنج قبول نکړی او دَ قرآن مثل پیش نکړے شی نو تاسو هغوئی ته اووایئ چه اوس خو یقین اوکړئی چه دا قرآن محمد جوړ کړے شوے نهٔ دے بلکه الله خپل علم سره نازل کړو. لِهٰذا دا دَ توحید مسئله اومنئ هغه دَ الله دَ طرفه نازل کړے شوے ده آیا اوس ئے هم نهٔ منئ؟ وَاَنۡ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ اِنَّمَآ اُنۡزِلَ باندے معطوف دے یا دَ لَکُمۡ ضمیر هم مشرکانو ته راجع دے یعنی اے مشرکانو ستاسو خیالی مددګاران کهٔ چرے ستاسو امداد دپاره رانغلهٔ نو یقین اوکړئی چه دا قرآن واقعی دَ الله کلام دے فَاِنۡ لَّمۡ یَسۡتَجِیۡبُوۡا لَکُمۡ ایها الکفار ولم یعینوکم فاعلموا اَنَّمَآ اُنۡزِلَ بِعِلۡمِ اللّٰهِ وانه لیس مفتری علی الله بل هو انزل علی رسوله صلی الله علیه وسلم (خازن ج ۳ ص ۲۳۲)

مَنْ كَانَ يُرِيدُ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا وَزِينَتَهَا
څوک چه غوښتی زوند د دُنیا ئے او ښائست ئے نو

نُوَفِّ إِلَيْهِمْ أَعْمَالَهُمْ فِيهَا وَهُمْ فِيهَا
ورېه کړو هغوئی ته د هغوئی د عملونو بدله په دُنیا کښ او هغوئی به په دے کښ

لَا يُبْخَسُونَ ۝ أُولٰٓئِكَ الَّذِينَ لَيْسَ لَهُمْ
نه کمے ورکړے شی هغه کسان دی چه نشته د دوی

فِي الْاٰخِرَةِ إِلَّا النَّارُ وَحَبِطَ مَا صَنَعُوا فِيهَا
په آخرت کښ سیوا د اُور نه او برباد شول کوم څه چه هغوئی کړی وو په دُنیا

وَبٰطِلٌ مَّا كَانُوا يَعْمَلُونَ ۝ أَفَمَنْ كَانَ
او خراب دی کوم چه دوی کړی وو نو چه کوم څوک دی

عَلٰى بَيِّنَةٍ مِّنْ رَّبِّهٖ وَيَتْلُوهُ شَاهِدٌ
په صفا دلائل باندے د خپل رب او د هغه سره دے یو ګواه

مِّنْهُ وَمِنْ قَبْلِهٖ كِتٰبُ مُوسٰىٓ إِمَامًا وَّ
د طرف د الله نه او د د نه مخکښ ګواه دے کتاب د موسی لارښونکے او

رَحْمَةً ۚ أُولٰٓئِكَ يُؤْمِنُونَ بِهٖ ۚ وَمَنْ يَّكْفُرْ
رحمت دغه خلق منی قرآن او څوک چه منکر وی

بِهٖ مِنَ الْأَحْزَابِ فَالنَّارُ مَوْعِدُهٗ ۚ فَلَا تَكُ
د دغه ټولو نه نو دوزخ ځائے دے د هغه نو مه کیږه

فِي مِرْيَةٍ مِّنْهُ ۚ إِنَّهُ الْحَقُّ مِنْ رَّبِّكَ
په شک کښ د دے نه بیشکه هغه حق دے د طرف د رب ستا نه

وَلٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يُؤْمِنُونَ ۝ وَمَنْ
او لیکن ډیر خلق یقین نه کوی او څوک دے

أَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرَىٰ عَلَى اللَّهِ كَذِبًا ۚ

ډېر ظالم د هغه نه چه جوړ کړي په الله دروغ

أُولَٰئِكَ يُعْرَضُونَ عَلَىٰ رَبِّهِمْ وَيَقُولُ

هغه خلق به مخامخ راتلي شي خپل رب ته او وائي به

الْأَشْهَادُ هَٰؤُلَاءِ الَّذِينَ كَذَبُوا عَلَىٰ

ګواهي کونکي دا هغه خلق دي چه دروغ ئې وئيلي وو په

رَبِّهِمْ ۚ أَلَا لَعْنَةُ اللَّهِ عَلَى الظَّالِمِينَ ﴿١٨﴾

رب خپل باندې خبردار اوسئ لعنت د الله تعالى دې په بې انصافو خلقو باندې.

الَّذِينَ يَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ اللَّهِ

هغه کسان دي چه منع کوي د لارې د الله تعالى نه

وَيَبْغُونَهَا عِوَجًا وَهُم بِالْآخِرَةِ هُمْ كَافِرُونَ ﴿١٩﴾

لټون کوي په هغې کښې کوږوالی او هم هغوئي دي د اخرت نه منکر

**نکات:** سلا زجر سره د تخويف اُخروي. سلا د سورت ټولو ملا دعوى مسئله واضحه ده منکرين ئې خالص د عناد او د ضد د وجې نه نه مني. سلا قرآن مجيد. سلا اى من التوحيد. سلا زجر سره د تخويف اُخروي نه سلا ملائيکه او انبياء عليهم السلام.

**موضح قرآن** ف ګواهي رسيدلې ده يعني په زړه کښې د دې دين رڼا او مزه بيا مومي او د قرآن حلاوت او خوند. ف ګواهي کونکي به په آخرت کښې فرشتې وي کوم چه عمل ليکي او نيک بخت انسانان چا ته چه علم دې. خدائې باندې دروغ وئيل په څو قسم دي په علم کښې غلط نقل يا خوب جوړول يا عقل سره حکم کول د دين په خبره کښې يا دعوى کول چه ما ته کشف کيږي يا د الله مقرب يم.

**فتح الرحمن** فلا يعني د صدقې او صله رحمئ ثواب چه د کافرانو نه په دنيا کښې وجود ته راځي نو هغه په دنيا کښې ورکړې د رزق د فراخئ او د بدن په صورت کښې. فلا يعني کراماً کاتبين.

تفسير: فلا زجر سره د تخويف اخروي نه يعني دنيا کښې د هغوئي به

رزق کښې کمے نۀ شي کولے لکه چه سورۀ بني اسرائيل ع ۲ کښې راغلي دي مَنْ كَانَ يُرِيْدُ الْعَاجِلَةَ عَجَّلْنَا لَهٗ الآية ليکن په آخرت کښې هغوئي دَ پاره دَ جهنم نه سيوا هيڅ نشته. مَا صَنَعُوْا کښې دَ مَا نه مشرکانه اعمال مراد دي دَ غير الله نذرونه او منتونه رابلل او نور مشرکانه اعمال به بيکاره او ضائعه ثابت شي هغه في نفسه هم باطل دي ځکه چه دَ هغې بنياد په باطله عقيدہ دے. يا دَ مَا نه مراد اعمال صالحه دي چه دَ دُنياوي اعراضو په بناء کړے شوے وي. چونکه مقصود غيرالله دے دَ دے وجې نه دا سے اعمال به باطل او بے نتيجه وي يعني وبطل ما عملوا في الدنيا من اعمال البر (وَبٰطِلٌ مَّا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ) لانه لغير الله (خازن ج ۳ ص ۲۲۳)

ف ۲۰ دا تخلوِر مه دعوٰی ده بَيِّنَةٍ نه عقلِ سليم مراد دے يعني کوم سړے چه عقل سليم لري او دَ دين اسلام او دَ توحيد رښتينوالے په هغه دلائل عقليه سره واضحه او روښانه شو اي علي برهان من الله و بيان ان دين الاسلام حق و هو دليل العقل (مدارک ج ۲ ص ۱۴۱) وَيَتْلُوْهُ اي ويلحقه ويتبعه او دَ شَاهِدٌ نه مراد قرآن دے او مِنْهُ ضمير دَ لفظ جلالت نه کنايه ده اي من الله. يعني عقل سليم سره بيا قرآن هم دَ توحيد په مسئله باندے گواه دے (مدارک) وَمِنْ قَبْلِهٖ او بيا دَ دے قرآن نه مخکښې دَ موسیٰ عليه السلام کتاب (تورات) موجود دے چه بني اسرائيلو دَ پاره دَ دين راهنما او په خپله زمانه کښې دَ الله تعالیٰ ډيرلوئے نعمت وو هغه هم دے مسئله کښې دَ قرآن سره متفق دے. دلته دَ من جواب محذوف دے اي ايبقي له موضع شبهة يعني دَ کوم سړي سره چه عقل سليم هم وي او دَ قرآن او تورات شهادت هم نوايا هغۀ دَ پاره به دَ توحيد په مسئله کښې دَ شک او شبهے نخه گنجائش باقي پاتے شي. اُولٰٓئِكَ سره مَنْ كَانَ عَلٰى بَيِّنَةٍ طرف ته اشاره ده يعني دا دَ توحيد مسئله دومره واضحه ده چه چا ته الله تعالیٰ عقل سليم ورکړے دے هغه عقل سره دَ دے صداقت معلومولے شي ځکه چه دا مسئله عقل سره عين مطابق ده او بيا قرآن او تورات هم دَ دے مسئلے په حق کښې شاهد دي دَ دے وجې نه دَ شک او شبهے هيڅ گنجائش نشته. ليکن چه کوم دَ دے باوجود هغه اُونۀ مني او دَ هغې په صداقت کښې شک کوي دَ هغۀ انکار محض په ضد او عناد مبني وي. ف ۲۱ دا دَ معاندينو دَ پاره تخويف اُخروي دے. فَلَا تَكُ فِيْ مِرْيَةٍ دے کښې خطاب نبي صلی الله عليه وسلم ته دے ليکن مقصود دَ نورو تعليم او تفهيم دے ځکه چه دَ نبي عليه السلام نه دَ شک او ريب صادرېدل محال دے يعني چه کله عقلي او نقلي دلائيلو سره ثابته شوه چه دين اسلام او توحيد مسئله حق ده په دے کښې دَ شک او شبهے هيڅ گنجائش نشته نو چه

ستاسو په زړونوکښې ده دې بارهکښې د شک نیربیدل هم او نه شی اگر
چه معاندین په ضد او انکار باندې ټینګ ولاړ وی.

۲۲ زجر سره د تخویف اخروی لَا جَرَمَ اَنَّهُمْ فِي الْاٰخِرَةِ هُمُ الْاَخْسَرُوْنَ پوره هغه سړے د
ټولونه لوئے ظالم دے چه بغیر د دلیل عقلی او نقلی نه د الله طرف ته
داسے خبرے منصوب کړی چه هغې نه د هغه ذات گرامی پاک او منزه دے
مثلاً خپل خود ساخته معبودانو ته عند الله شفیع غالب وغیره ویل.
بان نسب الیه مالا یلیق به کقولهم الملائکة بنات الله تعالی الله عن
ذلك علوا کبیرا وقولهم لالهتهم هؤلاء شفعاؤنا عند الله (روح ج ۱۲ ص ۳۰)
۲۳ داکافران او مشرکان چه کله د قیامت په ورځ د الله په عدالت کښې
پیش کولے شی۔ اَلْاَشْهَادُ نه فرښتې (مطلقاً یا حفظه، یا کراماً کاتبین)
انبیاء علیهم السلام او مؤمنان مراد دی۔ هغوئی به دخدائے په وړاندې د دے
افتراء کونکو په بارهکښې شهادت ورکوی چه دوئی په دنیاکښې په الله باندې
افتراء کوله۔ اَلَا لَعْنَةُ اللّٰهِ عَلَى الظّٰلِمِيْنَ الخ، دا ادخال الہی دے او د اشهاد
(گواهانو) کلام نه دے بلکه الله تعالی د خپل جانب نه یو اصول بیان کړیدی
چه په دے مشرکانو باندے د الله لعنت دے او هغوئی د رحمت الہی نه
لرې دی چه نورو خلقولره د خدائے د لارے توحید نه د بے لارے کولو
کوشش کوی۔ وَيَبْغُوْنَهَا عِوَجًا، او د دوئی په زړونوکښې شبهات پیدا کوی
او د ایمان او توحید نه او اطاعت او عبادت نه منع کوی د شرک او معاصی
طرف ته ترغیب ورکوی۔ یعنی انهم کما ظلموا انفسهم بالتزام الکفر والضلال
فقد اضافوا الیه المنع من الدین الحق والقاء الشبهات وتعویج الدلائل
المستقیمة (کبیر ج ۱۷ ص ۲۰۳) ای یعدلون بالناس عنها الی الشرك (قرطبی ج ۹ ص ۱۹)

اُولٰٓئِكَ لَمْ يَكُوْنُوْا مُعْجِزِيْنَ فِي الْاَرْضِ وَمَا كَانَ

دغه خلق نه دی ستړی کوونکی په زمکه کښې په تختیدو سره

لَهُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ مِنْ اَوْلِيَآءَ ۘ يُضٰعَفُ لَهُمُ

هغوئی د پاره سیوا د الله نه نیشته هیڅوک حمایتی دوچند دے هغوئی د پاره

الْعَذَابُ ؕ مَا كَانُوْا يَسْتَطِيْعُوْنَ السَّمْعَ وَمَا

عذاب نه لری طاقت د اوریدلو او نه

وقف لازم

كَانُوا يُبْصِرُونَ ﴿٢٠﴾ أُولَٰئِكَ الَّذِينَ خَسِرُوا

دَ لیدلو ف۱ ف۲ هم دوئ دی چه نقصان کښې ئې واچولو

أَنفُسَهُمْ وَضَلَّ عَنْهُم مَّا كَانُوا يَفْتَرُونَ ﴿٢١﴾

خپل ځانونه او ورک شول دوئ نه کوم دروغ چه ئې جوړ کړی وو ف۱ ف۲

لَا جَرَمَ أَنَّهُمْ فِي الْآخِرَةِ هُمُ الْأَخْسَرُونَ ﴿٢٢﴾

دیکښې شک نشته چه داخلق په آخرت کښې هم دغه دی دَ ټولونه زیات په نقصان کښې

إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَأَخْبَتُوا

لیکن چاچه ایمان راوړو او کارونه ئې اوکړل نیک ۲۳ او عاجزی ئې اوکړه

إِلَىٰ رَبِّهِمْ أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ الْجَنَّةِ ۖ هُمْ فِيهَا

دَ خپل رب په مخکښې هغوئ دی اوسیدونکی دَ جنت او هغوئ به په دے کښې

خَالِدُونَ ﴿٢٣﴾ مَثَلُ الْفَرِيقَيْنِ كَالْأَعْمَىٰ وَ

همیشه اوسیږی. مثال ۲۴ دَ دے دواړو ډلو لکه دَ ړوند دے او

الْأَصَمِّ وَالْبَصِيرِ وَالسَّمِيعِ ۚ هَلْ يَسْتَوِيَانِ

دَ کوڼ دے او دَ لیدونکی دے او دَ اوریدونکی دے آیا برابر دے دَ دواړو

مَثَلًا ۚ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴿٢٤﴾ ع

حال بیا تاسو غور نهٔ کوئ.

**نکات:** ۲۱ معبودان باطله ۱۲ ۲۳ بشارت اُخروی ۱۲ ۲۴ دَ مشرك او مؤمن مثال ۱۲

**موضح قرآن** ف۱ یعنی په الله ئې دروغ او وئیل دَ کوم ځائے نه ئې راوړل؟ نهٔ خوئے دَ غیب نه آوریدلی دی او نهٔ ئې دَ غیب لیدلی دی

ف۲ یعنی هغه دعوے په آخرت کښې دروغ شوے.

**فتح الرحمن** ف۱ مترجم وائی داهم وئیلے شو چه حمزه انکاری محذوف دہ یعنی آیا طاقت ئې نهٔ لرلو دَ اوریدلو او آیا نهٔ ئې لیدل؟ والله اعلم ۱۲

**تفسیر:** ۲۰ په دُنیا کښې ئې هغوئ قوټ ځکه اُو نهٔ نیول چه هغوئ دَ الله تعالیٰ دَ قبضے نه بهر وو یا دَ الله نه سیوا دَ هغوئ څوک کارساز او نګهبان وو

بلکه دا تاخیر د الله په حکمتِ بالغه باندې مبنی وو. يُضٰعَفُ لَهُمُ الْعَذَابُ په آخرت کښ به هغوئ ته دوچند عذاب ورکولې شي دنیا کښ هغوئ دحق خبرې اوریدلو ته تیار نهٔ وو او نهٔ په زمکه او اسمان کښ د الله د قدرت کامله واضحه نشانانوکښ ئې غور کولو. مَا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ کوم معبودان باطله چه هغوئ دخدائې سره سفارشیان گنړلي وو د قیامت په ورځ به هغه ټول غائب وي او څوک به هم د هغوئ په کار نهٔ راځي (وَضَلَّ عَنْهُمْ مَا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ) من الالهة وشفاعتها (روح ج ۱۲ ص ۲۳) ۳۵ په دُنیا کښ ئې څهٔ نیک عمل اونکړو او په گمانونوکښ مبتلاء وو او په خیالي معبودانو چه ئې اعتماد وو هغه هم بیکاره ثابت شو دا نهٔ وجې نه به هغه د ټولونه لوئې خسران او نقصان کښ وي. ۳۶ دا د مؤمنانو او اعمالِ صالحه په ځائې راوړونکو او عاجزي کونکو مخلصینو د پارهٔ بشارت اُخروي دے.

۳۷ دا د دواړو ډلو یعني مشرکانو او مؤمنانو تمثیل دے د مشرک مثال د یو ړوند او کوڼ پشان دے څنگه چه ړوند اوکوڼ سړے اشارت او عبارت سره څهٔ فائده نهٔ شي پورته کولې هم دا حال د مشرکانو دے چه د الله د ایتونو ته راتلونکی او کاتړهٔ دی نهٔ خو هغوئ د الله ایتونه اوري او نهٔ د اطراف عالم او د نفسونو په دلائیلوکښ په ژوره تفکرکولو سره عبرت حاصلول غواړي د دے برعکس د مؤمن مثال د هغه چا پشان دے چه گوري او اوري او د اشارت او عبارت دواړو نه فائده مند کیږي. دا شان مؤمن غوږونو سره ایتونه اوري او سترګو سره د قدرت دلائیل ویني په ایمان او عمل کښ نور هم زیات مضبوط او کلک کیږي. دینه روستو اووه قصې ذکر شوي دي چه د مخکنو درې دعوو سره په طریقه د لف او نشر مرتب سره متعلق دي.

وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا نُوْحًا اِلٰى قَوْمِهٖٓ ۡ اِنِّیْ لَكُمْ

او مونږ اولیږلو ۳۸ نوح د هغهٔ قوم ته چه زهٔ تاسو ته

نَذِیْرٌ مُّبِیْنٌ ﴿۲۵﴾ اَنْ لَّا تَعْبُدُوْٓا اِلَّا اللّٰهَ

ډیر بے صفا صفا خبره اورؤم. چه مهٔ کوئ عبادت سیوا د الله نه

اِنِّیْٓ اَخَافُ عَلَیْكُمْ عَذَابَ یَوْمٍ اَلِیْمٍ ﴿۲۶﴾

زهٔ ویریږم په تاسو باندې د عذاب د ورځې دردناکې نه.

فَقَالَ الْمَلَاُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ قَوْمِهٖ
بیا اووئیل سردارانو ځوک چه کافران وو د هغه په قوم کښ
مَا نَرٰىكَ اِلَّا بَشَرًا مِّثْلَنَا وَمَا نَرٰىكَ
ته خو په نظر نه راځے موږ ته مګر یو انسان ځمونږ پشان او نه وینو چه ځوك
اتَّبَعَكَ اِلَّا الَّذِيْنَ هُمْ اَرَاذِلُنَا بَادِيَ
تابع شوي ستا لیکن هغه ځوك چه ځمونږ په قوم کښ سپک دي بے
الرَّاْيِ ۚ وَمَا نَرٰى لَكُمْ عَلَيْنَا مِنْ فَضْلٍ
سوچه او نه وینو موږ تاسو لره په موږ د لویئ
بَلْ نَظُنُّكُمْ كٰذِبِيْنَ ﴿۲۷﴾ قَالَ يٰقَوْمِ اَرَءَيْتُمْ
بلکه ځمونږ خیال دے چه تاسو ټول دروغژن یئ ف وے وئیل اے قومه څه خبر کړئ
اِنْ كُنْتُ عَلٰى بَيِّنَةٍ مِّنْ رَّبِّيْ وَاٰتٰىنِيْ
که چرے زه یم په صفا لار باندے د طرف د رب خپل نه او هغه ورکړے وي ما ته
رَحْمَةً مِّنْ عِنْدِهٖ فَعُمِّيَتْ عَلَيْكُمْ
رحمت د جانب خپل نه بیا ئے هغه پټ او ساتلو د سترګو ستاسو نه
اَنُلْزِمُكُمُوْهَا وَاَنْتُمْ لَهَا كٰرِهُوْنَ ﴿۲۸﴾ وَيٰقَوْمِ
نو ایا موږ تاسو مجبوره کولے شو او تاسو د هغے نه بیزاریئ ف نه او اے قومه ځما
لَآ اَسْئَلُكُمْ عَلَيْهِ مَالًا ۭ اِنْ اَجْرِيَ اِلَّا عَلَى اللّٰهِ
نه غواړم زه ستاسو نه په دے باندے څه مال ف نه ځما مزدوري نه ده مګر په الله باندے
وَمَآ اَنَا بِطَارِدِ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ۭ اِنَّهُمْ
او نه یم زه شړونکے د هغه خلقو چه ایمان ئے راوړے دے هغوئ
مُّلٰقُوْا رَبِّهِمْ وَلٰكِنِّيْٓ اَرٰىكُمْ قَوْمًا تَجْهَلُوْنَ ﴿۲۹﴾
میلاویدونکي دي رب خپل لره لیکن زه تاسو وینم تاسو خلق جاهلان.

وَيٰقَوْمِ مَنْ يَّنْصُرُنِيْ مِنَ اللّٰهِ اِنْ طَرَدْتُّهُمْ
او اے قومه ځوک به خلاص کړی ما لره د الله نه که چرے زه اُوشړم هغوئ لره

اَفَلَا تَذَكَّرُوْنَ ﴿۳۰﴾
آیا تاسو فکر نۀ کوئ ف۲

نکات: سله اوله قصه متعلق د اولے دعوے ۱۲. سله په دلائیلو کښ سوچ او عقل سلیم ۱۲. سله نبوت ۱۲.

موضح قرآن ف۱ د سرسری عقل نه یعنی په رومبی نظر کښ
ف۲ کافرانو مسلمانان رزیلان اوګرځول او غوښتل ئے چه دا اُوشړه نو مونږ به ستاسو سره کینو خبره به واورو نو وے فرمائیل چه د زړۀ د خبرو تحقیق خو به الله کوی کله چه د هغۀ سره ملاؤشی زه که چرے مسلمانان اُوشړم نو د الله نه به ما لره ځوک خلاص کړی او رزیلان ورته په دے وجه اووئیل چه هغوئ به کسب کولو او د کسب نه خو بهتره کپه نشته د دے وجے نه ئے اُوفرمائیل چه تاسو جاهلان یئ.

## رومبئ قصه

تفسیر: ۵۳۸ دا اوله قصه ده چه د اولے دعوے سره متعلق ده حضرت نوح علیه السلام د ټولونه مخکښ دے الفاظو سره د خپل قوم په مخکښ دعوتِ الٰهی پیش کړو. اِنِّیْ لَكُمْ نَذِیْرٌ مُّبِیْنٌ اَنْ لَّا تَعْبُدُوْٓا اِلَّا اللّٰهَ کښ د الله د طرفه ویرؤونکے یم ظاهر او ځما پیغام دا دے چه د الله نه سیوا هیڅ ته آوازمۀ کوئ د الله نه سیوا ځوک معبود او کارساز نشته. اَنْ لَّا تَعْبُدُوْٓا کښ ان مفسره دے او اَرْسَلْنَا یا نَذِیْرٌ سره متعلق دے یا اَنْ مصدریه دے او حرف جار مقدّر دے ای بان لا تعبدوا (روح) د دے په جواب کښ قوم ځلور خبرے د طنز او اعتراض په طور اوکړے اول مَا نَرٰىكَ اِلَّا بَشَرًا مِّثْلَنَا تاسو ځمونږ پشان بشر او انسان یئ د دے وجے نه مونږ د خپل ځان په شان (انسان) تابعداری ولے اوکړو. دویم وَمَا نَرٰىكَ اتَّبَعَكَ او بیا چه کومو خلقو ستا تابعداری کړیده هغوئ په معاشره کښ د پریوتی پوزیشن والا دی او کم عقل او رزیل خلق دی. (قرطبی ج ۹ ص ۲۳)
ځمونږ پشان شریف او هوښیاران تاسو او نۀ منلئ او کومو خلقو چه تاسو منلی یئ هغوئ هم بغیر د سوچ فکر نه او بغیر د تدبرا و تفکر نه محض اول نظر سره ئے منلی یئ د دے وجے نه د هغوئ ایمان هم بے حقیقته او همیشه

پاتے کیږي وَنکے نهٔ دے. ای اتبعك فی بادی الرای ای بلا فکر او فی الظاهر لا
فی الحقیقة قال الشیخ رحمه الله تعالی. درېیم وَمَا نَرٰی لَكُمْ عَلَیْنَا الخ او تاسو
کښې مونږ ته کوم یو داسے فضیلت هم په نظر نهٔ راځی چه دَ هغے په وجے سره
مونږ تاسو خپل پیشوا او راهنما تسلیم کړو. حضرت نوح علیه السلام دَ الله تعالیٰ
پیغمبر وو او دَ هغوئی دَ تابعدارانو سینے دَ توحید په رڼا سره روښانه شوے
دَ دینه بل کوم لوئے فضیلت کیدے شی لیکن دے باطنی رڼا وته دا فضیلت
په نظر رانغے. څلورم بَلْ نَظُنُّكُمْ كٰذِبِیْنَ بلکه تاسو ټول دروغژن ګنړو
اے نوح تا لره په دعوٰی د نبوت کښې او ستا تابعدارانو لره په تصدیق کښې
۲۹ حضرت نوح علیه السلام دَ مشرکانو دَ بے ځایه سوالونو ډیر معقول او
مضبوط جواب ورکړو: که چرے ځما سره دَ الله دَ جانبه دَ خپلے دعوے دَ
صداقت دَ پاره واضح دلیلونه موجود وی او الله تعالیٰ خپل خاص رحمت
سره ما ته نبوت هم راکړے وی او زهٔ دَ الله تعالیٰ دَ حکم او دَ هغهٔ دَ وحی مطابق
تاسو ته دَ توحید دعوت درکوم. لیکن دَ بد قسمتیٔ نه دغه دلائیلو او براهینو کښې
تاسو غور فکر نهٔ کوئی او ځما دَ دعوے صداقت په عقل کښې رانغے نو اوس
تاسو راته او وایئ دے کښې دَ چا قصور دے. ۳۰ هاضمیر کلمهٔ توحید یا
البینة یا رحمة طرف ته راجع دے او دَ دهٔ نه مخکښې مضاف محذوف دے.
شهادة ان لا اله الا الله وقیل الهاء ترجع الی الرحمة وقیل الی البینة ای تلزمکم
قبولها الخ (قرطبی ج ۹ ص۲۵) یعنی دا خو ناممکن ده چه ستا سو زړهٔ دَ کلمهٔ توحید
او دلائیل توحید منلو ته تیار نهٔ وی بلکه متنفر وی او مونږ ئے جبرًا په تاسو
اُومنو دا خبره ځمونږ دَ طاقت او استطاعت نه بهر ده. استفهام انکاری دے
یعنی مونږ داسے نهٔ شو کولے. هٰذا استفهام معناه الانکار ای لا اقدر علی
ذلك والذی اقدر علیه ان ادعوکم الی الله ولیس لی ان اضطرکم الی ذلك
قال قتادة والله لو استطاع نبی الله لالزمها قومه ولکنه لم یملك ذالك
(خازن ج ۳ ص۲۲۵) دینه معلومه شوه چه هدایت دَ الله په اختیار کښې دے دَ
انبیاء علیهم السلام اختیار کښې نهٔ دے او نهٔ صرف هغوئی متصرف او مختار
دی. که چرے حضرت نوح علیه السلام مختار او متصرف وے نو خپل ټول
قوم ته به ئے هدایت کړے وے.
۳۱ ځما قومه دِ دے تبلیغ دعوت بدلے زهٔ ستاسو نه تنخوا یا معاوضه نهٔ
طلب کوم. دے دَ پارهٔ چه تاسو بدلے دَ هغے بوج وی دَ دے معاوضه به
ما ته دَ الله نه ملاویږی ځکه چه زهٔ دَ هغهٔ ډیوټی اداکوم. باقی پاتے دا خبره
چه ستاسو په وجه زهٔ غریبانان دَ خپل ځان نه اُوشړم چا چه ایمان راوړے
دے نو دا هم نهٔ شی کیدے. اِنَّهُمْ مُّلٰقُوْا رَبِّهِمْ ځکه چه هغوئی خپل رب ته

ورتلو نکی دی کۀ چرے زۀ دا سے او کړم نو هغوئی به ذخپل اتے سره څما شکایت وکړی۔ فیشکوننی الیہ ان طردتہم (مدارک ج ۲ ص ۱۲۳) یا مطلب دا دے چه دا خلق ذبارګاه الهي مقربین دی ذدے وجے نه زۀ هغوئی ذخپل مجلس نه نۀ شړم۔ لا اطردهم ولا ابعدهم عن مجلسی لانهم من اهل الزلفی المقربون الفائزون عند الله تعالی (روح ج ۱۲ ص ۴۳) لیکن تاسو خلق دا سے او دېے وقوفئ خبرے کوئ۔ وَيٰقَوْمِ مَنْ يَّنْصُرُنِيْ۔ دا شان دا هم را نه اووایئ کۀ چرے زۀ ستاسو په خواهش باندے دا خلق ذخپل ځان نه اوشړم او ذهغوئی ذوجے نه الله څما نه خفه شی نو ذهغۀ ذ ناراضګئ نه به ما سره څوک بچ کړی یعنی څوک به م بچ نکړی۔ استفهام انکاری دے دا ستا سو معبودان ستاسو ذعبادت کونکو په کار نۀ شی را تللے نو څما به څۀ پکار راشی اَفَلَا تَذَكَّرُوْنَ ذعقل نه خوڅۀ کار واخلئ او نصیحت او عبرت حاصل کړئ۔

وَلَآ اَقُوْلُ لَكُمْ عِنْدِيْ خَزَآئِنُ اللّٰهِ وَلَآ
اوزۀ نۀ وایم تاسوته چه څما سره خزانے دی ذالله اونۀ زۀ
اَعْلَمُ الْغَيْبَ وَلَآ اَقُوْلُ اِنِّيْ مَلَكٌ وَّلَآ
خبر لرم ذغیب او نۀ وایم چه زۀ فرشته یم ۳۲ اونۀ
اَقُوْلُ لِلَّذِيْنَ تَزْدَرِيْٓ اَعْيُنُكُمْ لَنْ
وایم چه کوم خلق سپک دی ستاسو په نظر کښ چه وربه نکړی
يُّؤْتِيَهُمُ اللّٰهُ خَيْرًا ؕ اَللّٰهُ اَعْلَمُ بِمَا فِيْٓ
هغوئی نه الله تعالی هیڅ خیر الله تعالی ښۀ پوهیږی په هغۀ څۀ چه په
اَنْفُسِهِمْ ۚۖ اِنِّيْٓ اِذًا لَّمِنَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۳۱﴾
زړونو ذهغوئی کښ دی بیشکه زۀ به په دغه وخت کښ ذبے انصافو نه یم ۳۲
قَالُوْا يٰنُوْحُ قَدْ جٰدَلْتَنَا فَاَكْثَرْتَ
وئیل اے نوح ۳۳ تا څمونږ سره جګړه اوکړه او ډیره ډیره سره اوکړه
جِدَالَنَا فَاْتِنَا بِمَا تَعِدُنَآ اِنْ كُنْتَ
جګړه
اوس راوله کومه وعده چه کوے څمونږ سره کۀ چرے تۀ

مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ﴿۳۲﴾ قَالَ اِنَّمَا يَاْتِيْكُمْ بِهِ اللّٰهُ

د رښتینو نه ئے ۔ وے وئیل چه بے شکه هغه خو به راولی صرف الله

اِنْ شَآءَ وَمَآ اَنْتُمْ بِمُعْجِزِيْنَ ﴿۳۳﴾ وَلَا

که چرے اوغواړی او تاسو به الله عاجز نهٔ کړی په تیښتنه ۔ او نهٔ به

يَنْفَعُكُمْ نُصْحِيْٓ اِنْ اَرَدْتُّ اَنْ اَنْصَحَ لَكُمْ

فائده درکړی تاسو ته نصیحت زما ۳۳ که زهٔ اراده اوکړم چه نصیحت اوکړم تاسو ته

اِنْ كَانَ اللّٰهُ يُرِيْدُ اَنْ يُّغْوِيَكُمْ ۭ هُوَ رَبُّكُمْ

که چرے الله تعالی اراده کړے وی چه گمراه کړی تاسو هم هغه ستاسو رب دے

وَاِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿۳۴﴾ اَمْ يَقُوْلُوْنَ افْتَرٰىهُ ۭ قُلْ

او هم هغهٔ ته ستاسو واپس ورتلل دی ۔ آیا وائی چه جوړ کړے ئے دے قرآن د ځان نه او وایه

اِنِ افْتَرَيْتُهٗ فَعَلَيَّ اِجْرَامِيْ وَاَنَا بَرِيْۗءٌ

که چرے ما د ځان نه جوړ کړے وی نو په ما ده زما گناه او زه په ذمه نهٔ یم

مِّمَّا تُجْرِمُوْنَ ﴿۳۵﴾ ع ۳

کومه گناه چه تاسو کوئی ۳۵ ف

نکات: ۱ جواب د سوال مقدر ۱۲ ۲ نفی د تصرف او اختیار د نوح علیه السلام نه ۱۲ ۳ جمله معترضه په طور د شکوی ۱۲ ۴ جواب شکوی ۱۲

موضح قرآن

ف هغوئ چه کوم وئیل چه په تاسو کښ څه مونږ نه څه فضیلت او بهتری نشته. نو وے فرمائیل زهٔ څهٔ فرشته نهٔ یم د غیب خبر نهٔ لرم د الله خزانے زما په لاس کښ نشته کومه مهربانی چه الله په ما کړیده هغه ستاسو د سترګو نه پټه ده ۱۲

ف ۲ تر دے ځائے چه څومره سوالونه د دے قوم وو نو هغه د حضرت نوح علیه السلام د قوم باره کښ وو نو د هغه ټولو سوالونو جوابونه د هغوئ ورکړے شو د هغوئ یوه بله نوے دعوی وه نو مخکښ (راتلونکی آیتونو کښ) د هغے ذکر کوی۔ ف ۳ حضرت نوح علیه السلام کتاب نهٔ وو راوړے چه د هغوم داسے خبرے کړے وے ۱۲۔

فتح الرحمٰن

فٹ داجمله زیاته کړے شوه دَ نوح علیه السلام دَ قصے په مینځ کښ دِے دَ پاره چه تنبیه وی په تطبیق دَحال دَ مشرکانو دَ مکے دَ نوح علیه السلام دَ قوم سره ۱۲۔

تفسیر:۔ ۳۲ دا دَ دریو مقدّرو سوالونو جوابونه دی. مشرکانو به وئیل کهٔ چرے نوح (علیه السلام) ربښتونے پیغمبر دے نو دَ هغهٔ سره دَ دولت خزانے ولے نشته او هغه دَ غیب خبرے او پټ کارونه نه پوهیږی او هغه دَ خپلی خبرے او پټ کارونه موښ ته ولے نهٔ ښائی دا شان هغه بشر دے او خوراک څښاک کوی. جواب ئے ورکړو بے شکه دَ الله دَ خزانو زهٔ مالک نهٔ یم زهٔ دَ الله پیغمبر یم او څما کار تبلیغ او انذار دے او نهٔ زهٔ عالم الغیب یم چه کومه خبره اُوغواړم او کله اُوغواړم نو معلوم ئے کړم او نهٔ زهٔ فرشته او دَ ما فوق البشر کیدلو مدّعی یم بلکه زهٔ بشر یم او انسان یم. لیکن الله تعالیٰ زهٔ دَ کمال انسانیت په لوړ مقام (نبوت) باندے کامیاب کړے یم یا داجمله معترضه ده او سوالات نبی علیه السلام سره متعلق دی. ۳۳ دَ حضرت نوح علیه السلام دَ معقولو خبرو او دلیلونو نه چه قوم لاجواب شونو وے وئیل چه اے نوح تاسو خو څموږ سره جګړه شروع کړیده. بس دَ ده نو موږ تاسو ته نهٔ منو او کهٔ چرے ستاسو په دعوی کښ څهٔ صداقت وی نو چه دَ کوم عذاب نه موږ ویروئے هغه هم راوله یا به کتلے شی قَالَ اِنَّمَا یَاْتِیْكُمْ الخ حضرت نوح علیه السلام اُوفرمائیل عذاب راوړل خو څما په اختیار کښ نهٔ دی هغه خو دَ الله په اختیار کښ دی او په خپل وخت به ضرور راځی او چه کله راشی نو تاسو به دَ هغے نه هرگز نهٔ بچ کیږئ. ۳۴ زهٔ خو ستاسو خیرخواهی کوم لیکن کهٔ چرے ستاسو دَ ضد او عناد په وجے سره الله تعالیٰ ستاسو په زړونو باندے دَ جبّاریت مهر اولګوی او تاسو دَ هدایت دَ توفیق نه محروم کړی نو څما خیرخواهئ سره تاسو ته هیڅ فائده نهٔ رسیږی. اَمْ یَقُوْلُوْنَ افْتَرٰىهُ شکوی ده قُلْ اِنِ افْتَرَیْتُهٗ فَعَلَیَّ اِجْرَامِیْ، جواب شکوی ده کهٔ چرے ما په الله باندے دروغ جوړ کړی وی نو دَ هغے سزا به ما ته ملاویږی لیکن څما افتراء کول خو غلط دی دَ دے وجے نه څما طرف ته دَ افتراء علی الله نسبت کولو جرم په تاسو ثابت دے چه تاسو ته به دَ هغے سزا ضرور ملاویږی. (اِنِ افْتَرَیْتُهٗ) ای اختلقته. وافتعلته یعنی الوحی والرسالة (فعلی اجرامی) ای عقاب اجرامی وَان کنت محقًا فیما اقوله فعلیکم عقاب تکذیبی (قرطبی ج ۹ ص ۲۹)

وَأُوحِيَ إِلَىٰ نُوحٍ أَنَّهُ لَن يُؤْمِنَ مِن قَوْمِكَ
او حکم اوشو ۳۵ د نوح طرف ته چه بیشکه اوس به ایمان نه راوړی د قوم ستا نه
إِلَّا مَن قَدْ آمَنَ فَلَا تَبْتَئِسْ بِمَا كَانُوا
لیکن چا چه ایمان راوړے دے نو مه غمژن کیږه په هغه کارونو چه کوم
يَفْعَلُونَ ﴿٣٦﴾ وَاصْنَعِ الْفُلْكَ بِأَعْيُنِنَا وَوَحْيِنَا
کوی . او جوړه کړه ۳۶ کشتئ ځمونږ په حضور کښې او ځمونږ په حکم
وَلَا تُخَاطِبْنِي فِي الَّذِينَ ظَلَمُوا إِنَّهُم
او مه کوه ځما سره خبره په حق د ظالمانو کښې بیشکه دوئ به
مُّغْرَقُونَ ﴿٣٧﴾ وَيَصْنَعُ الْفُلْكَ وَكُلَّمَا مَرَّ
غرق وی . او هغهٔ جوړوله کشتئ ۳۷ او کله چه تیریدل به
عَلَيْهِ مَلَأٌ مِّن قَوْمِهِ سَخِرُوا مِنْهُ قَالَ
په هغهٔ باندے سرداران د قوم خندا به ئے کوله هغهٔ پورے وے وئیل
إِن تَسْخَرُوا مِنَّا فَإِنَّا نَسْخَرُ مِنكُمْ كَمَا
کهٔ چرے تاسو خندا کوئ مونږ پورے نو مونږ خاندو تاسو پورے څنګه چه تاسو
تَسْخَرُونَ ﴿٣٨﴾ فَسَوْفَ تَعْلَمُونَ مَن يَأْتِيهِ
خندا کوئ ف۱ . اوس نزدے ده چه تاسو به پوهه شئ چه په چا باندے راځی
عَذَابٌ يُخْزِيهِ وَيَحِلُّ عَلَيْهِ عَذَابٌ
عذاب چه رسوا به ئے کړی او نازلیږی به په هغه باندے عذاب
مُّقِيمٌ ﴿٣٩﴾ حَتَّىٰ إِذَا جَاءَ أَمْرُنَا وَفَارَ التَّنُّورُ
همیشه تر دے چه کله راغے حکم ځمونږ ۳۵ او جوش او وهلو تنور ۳۸
قُلْنَا احْمِلْ فِيهَا مِن كُلٍّ زَوْجَيْنِ
او وئیل مونږ او بسیږده کشتئ کښې د هر قسم جوړے نه

اثْنَيْنِ وَأَهْلَكَ إِلَّا مَنْ سَبَقَ عَلَيْهِ الْقَوْلُ

دوه او ذخپل کور خلق مګر چا باندے چه مخکښ شوے دے حکم ۲ۛ

وَمَنْ آمَنَ ۚ وَمَا آمَنَ مَعَهُ إِلَّا قَلِيلٌ ﴿۴۰﴾

او ټول ایمان والؤ لره او ایمان نهٔ وو راوړے هغهٔ سره مګر لږ وو ۲ۛ۔

**موضح قرآن** ف۱ هغوئ به په دے وجه خندا مسخرے کولے چه په اُوچه کښ ذغرق نه بچاؤ کوی۔ دوئ به په دے وجه خندا کوله چه مرګ ئے په سر ولاړ دے او دوئ مسخرے کوی۔

ف۲ ذهر حیوان جوړه ئے اُوساتله ځان سره په کشتئ کښ ذکوم چه پاتے کیدل مقدر وو او ذکور والؤ باندے چه خبره پریوتله یو ځوئے کنعان او ذهغهٔ مور نو هغه ډوب شول او دړے بچی ئے بچ شول چه ټول خلق ذ هغوئ اولاد دے او تنور ذنوح علیه السلام په کور کښ وو ذطوفان نښه ئے اوګرځوله هغه تنور کله چه ذدینه اُوبهٔ راُوخوټیږی نو په کشتئ کښ سوار شئ

**فتح الرحمٰن** ف۱ ذالله ذغضب تنور ۱۲۔

ف۲ یعنی ذنوح علیه السلام ښځه او کنعان ذنوح ع ځوئے.

تفسیر: ۳۵ دا ذقوم نوح علیه السلام ذتباهئ تمهید دے. حضرت نوح علیه السلام ته ذوحی په ذریعه خبر ورکړے شو چه ذچا په قسمت کښ ایمان مقدر وو هغوئ ایمان راؤړو او باقی پاتے هیڅوک ایمان نهٔ راوړی. ذدے وجے نه تاسو ذهغوئ ذاستهزاء او تمسخر او تکذیب او ایذاء باندے مهٔ خفه کیږئ اوس ذهغوئ ذهلاکت وخت را نزدے شو. مبتدعینو به ذحضرت نوح علیه السلام ذعلم غیب ثابتولو ذپاره وئیل چه هغهٔ ته ذخپل قوم ذائنده نسلونو ذانجام علم وو چه اوس به څوک هم داسے نهٔ پیدا کیږی چه په سمه لاره راشی او توحید قبول کړی ځکه چه هغهٔ ذدُعا غوښتلو په وخت وئیلی وو. اِنَّكَ اِنْ تَذَرْهُمْ يُضِلُّوا عِبَادَكَ وَلَا يَلِدُوا اِلَّا فَاجِرًا كَفَّارًا (نوح) اے الله که چرے ته دا قوم اوس نهٔ هلاکوے نو دوئ به ستا ذبندګانو ذګمراه کولو کوشش کوی. او ذدوئ په نسلونو کښ به ذکافرانو او فاجرانو نه سیوا څوک نهٔ پیدا کیږی. لیکن دا استدلال بالکل غلط دے او ذقرآن نه ذبے پرواهئ او بے خبرئ نتیجه ده حضرت نوح علیه السلام ذعالم الغیب کیدلو په وجه سره دا خبره نهٔ پیژندله بلکه الله تعالیٰ ذوحی په ذریعه هغهٔ ته دا خبر ورکړے وو لکه چه په زیر تفسیر ایت کښ یعنی ذکوم ایت چه تفسیر اُوس کیږی په هغے کښ

صراحت موجود دے. ٥٣٦ بِأَعْيُنِنَا وَوَحْيِنَا یعنی ځمونږ په حفاظت کښې
او ځمونږ د هدایت موافق کشتۍ جوړه کړه اوس د دے کافرانو او مشرکانو
باره کښې د عذاب د دفع کولو یا د مهلت ورکولو هرګز سفارش مه کوه ځکه
چه د هغوئ د غرقیدلو فیصله حتمی ده او قضاء مبرم ده.
٥٣٧ يَصْنَعُ د کان محذوف خبر دے حذف د کان سره د بقاء د خبر نه په
کلام د عربو کښې جائز دے. لکه اوران نه روستو د کان حذف مشهور او معروف
دے. یحذفونها ویبقون الخبر بعد لو وان کثیرًا اشتهر (الفیه ابن مالک)
مشرکانو چه به حضرت نوح علیه السلام کشتۍ جوړوونکے لیدلو نو په هغه پورے
به ئے استهزاء او ټوقے کولے چه دا کشتۍ به په اوچه زمکه څنګه چلوی دلته خو
کوم سمندر یا دریاب نشته. حضرت نوح علیه السلام اوفرمائیل استهزاء کوئ
ځمونږ وخت به هم راشی کله چه مونږ ګورو چه تاسو ذلیل او رسوا کونکی
عذاب کښې مبتلاء یئ او مونږ محض د الله په مهربانئ دے کشتۍ کښې
محفوظ یو. ٥٣٨ د تنور نه یا د ده حقیقی معنٰی مراد ده یعنی د روټئ پخولو
تنور لکه چه د جمهور و رائے ده والمراد من التنور تنور الخبز عند الجمهور
(روح ج ۱۲ ص ۵۲) د تنور نه اوبۀ راوتل د طوفان نښه وه. یا دا د غضب الٰهی
جوش کښې راتللو کنایه ده. وَأَهْلَكَ إِلَّا مَنْ سَبَقَ الخ مستثنٰی ئے مجمل
اوساتلو او دے کښې ئے د حضرت نوح علیه السلام د ځوئے صراحت اونکړو
دے د پاره چه د هغهٔ زړهٔ خفه نهٔ شی او تکلیف ورته اونهٔ رسیږی.

وَقَالَ ارْكَبُوا فِيهَا بِسْمِ اللَّهِ مَجْرِٰىهَا

او وے وئیل ٥٣٩ سواره شئ په دیکښې د الله نوم سره د دے روانیدل دی

وَمُرْسٰىهَا ۚ إِنَّ رَبِّي لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٤١﴾

او اودریدل دی بیشکه رب ځما دے بښونکے مهربان.

وَهِيَ تَجْرِي بِهِمْ فِي مَوْجٍ كَالْجِبَالِ

او هغې وړل دوئ په چپوکښې لکه د غرهٔ

وَنَادٰى نُوحٌ ابْنَهُ وَكَانَ فِي مَعْزِلٍ

او اواز اوکړو نوح خپل ځوئے ته او هغه په ډډه کیده

يٰبُنَيَّ ارْكَبْ مَّعَنَا وَلَا تَكُنْ مَّعَ

اے بچوړیه سور شه ځمونږ سره او مه کیږه ملګرے

الْكٰفِرِيْنَ ﴿۴۲﴾ قَالَ سَاٰوِيْٓ اِلٰى جَبَلٍ

دَ کافرانو سره . وے وئیل زه زرده چه ځائے به اونیسم په یو غر باندے

يَّعْصِمُنِيْ مِنَ الْمَآءِ ۭ قَالَ لَا عَاصِمَ الْيَوْمَ

چه بچ به کړی ما له ده دَ اوبو نه وے وئیل نشته بچ کولو والا نن

مِنْ اَمْرِ اللّٰهِ اِلَّا مَنْ رَّحِمَ ۚ وَحَالَ بَيْنَهُمَا

دَ حکم دَ الله نه لیکن په چا چه الله رحم اوکړی او پرده شوه دَ دواړو مینځ کښ

الْمَوْجُ فَكَانَ مِنَ الْمُغْرَقِيْنَ ﴿۴۳﴾ وَقِيْلَ

چپے بیا شو دَ ډوبیدونکو نه ف او حکم راغے

يٰٓاَرْضُ ابْلَعِيْ مَآءَكِ وَيٰسَمَآءُ اَقْلِعِيْ

اے زمکے ته تیر کړه اوبه خپلے او اے اسمانه بند کړه اوبه

وَغِيْضَ الْمَآءُ وَقُضِيَ الْاَمْرُ وَاسْتَوَتْ

او اوچے کړے شوے اوبه او پوره کړے شو کار او کشتئ اودریده

عَلَى الْجُوْدِيِّ وَقِيْلَ بُعْدًا لِّلْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۴۴﴾

په جودی غر باندے او حکم اوشو چه لرے دِ وی قوم ظالم ف

وَنَادٰى نُوْحٌ رَّبَّهٗ فَقَالَ رَبِّ اِنَّ ابْنِيْ

او اواز اوکړو نوح علیه السلام رب خپل ته وے وئیل اے رب ځما بیشکه ځما ځوئے دے

مِنْ اَهْلِيْ وَاِنَّ وَعْدَكَ الْحَقُّ وَاَنْتَ

ځما دَ کور والؤ نه او بیشکه ستا وعده رښتونے ده او ته

اَحْكَمُ الْحٰكِمِيْنَ ﴿۴۵﴾

دَ ټولو نه لوئے حاکم ئے ف

**نکات:** لـ باء استعانت دپاره ده ۱۲. لـ۲ استثنی منقطع ده ۱۲.

**موضح قرآن** ف۱ په دے وړځ د لویو غرونو اُوچتے وِنے هم ډوبے شوے د مارغانو ښه کیدل هم نهٔ وو ۱۲. ف۲ څلویښت ورځے اُوبهٔ د آسمان نه اُوورېدلے او د زمکے نه ئے څُلئی وهلے شپږ میاشتے روستو د غرونو سرونه خالی شول کشتئ د جودی غر په سر کیناسته دا غر د شام په ملک کښ دے. ف۳ یعنی بوه ښځه خوړم هلاکه شویده ستا خوښه ده چه څوئے دِم هلاکوے یا نجات ورکوے.

**تفسیر:** ۳۹ه بِسْمِ اللّٰهِ باء استعانت دپاره ده، دے کشتئ کښ سوارهٔ شئ دا کشتئ به محض د الله په اعانت او توفیق سره خپلو سورو سره صحیح او سالم منزل مقصود ته اُورسیږی لنګرانداز به شی. وَهِیَ تَجْرِیْ الخ د دینه مخکښ ان ماج دے. یعنی ټول مؤمنان او د حضرت نوح علیه السلام د اهلِ بیت ښځے او بو څوئے نه علاوه په کشتئ کښ سوارهٔ شول طوفان ډیر زیات راغے او د نوح (علیه السلام) کشتئ داسے لوړو او هیبتناکو چپو کښ د الله په حفاظت سره تیریدله چه د لرے نه د حضرت نوح علیه السلام نظر په خپل څوئے باندے پریوتلو دا څوئے کنعان مشرک وو او په کشتئ کښ نهٔ وو سور شوے حضرت نوح علیه السلام هغهٔ ته آواز اوکړو، څویه اوس هم وخت دے څمونږ سره کشتئ کښ سور شه او د کافرانو سره د طوفان تورئ مهٔ جوړیږه د څنو مفسرینو قول دے چه حضرت نوح علیه السلام ته د خپل څوئے مشرک کیدل معلوم وو. لیکن هغهٔ داخیال کولو چه خطرناک طوفان لیدلو سره شائید هغه ایمان راوړی د دے وجے نه ئے کشتئ طرف ته را اُوبللو. لیکن ډیرو محققینو او امام ترمذی وغیره وئیلی دی چه هغه منافق وو. او حضرت نوح علیه السلام ته د دے علم نهٔ وو. هغهٔ دے په دینِ توحید باندے خیال کولو د دے وجے نه ئے هغهٔ ته کشتئ کښ سوریدلو دپارهٔ آواز اُوکړو. قیل انما ناداه لانه کان ینافقه فظن انه مؤمن واختاره کثیرمن المحققین کالمانترید ی وغیره وقیل کان یعلم انه کافر الی ذلك الوقت لکنه علیه السلام ظن انه عند مشاهدة تلك الاهوال وبلوغ السیل الربی ینزجر عما کان علیه (روح ج ۱۲ ص۵۹) ۴۳ه کنعان او وئیل ما ته ستا د کشتئ ضرورت نشته اوس به زهٔ نزدے غر ته اُوخیژم ما به د دے طوفان نه بچ کړی. مشرکان خلق په هر مشکل وخت کښ غیر الله سره اُمید نړی او الله تعالیٰ هیروی. کنعان هم د خپل عادت مستمره (همیشه عادت) مطابق الله تعالیٰ یاد نهٔ کړو بلکه د غر د پناه نیولو کوشش ئے اوکړو چه کامیاب نهٔ شو.

۴۳ه حضرت نوح علیه السلام اُوفرمائیل نن د الله د طوفان نه د الله نه سیوا

هیڅوک بچ کولو والا نشته. دَ دے وجے نه دَ غر وغیره پناه نیول بے فائده دی مَنْ رَّحِمَ کښې دَ موصول نه دَ الله تعالیٰ ذات مراد دے لکه چه دا سے ئے اوویل لَا عَاصِمَ الْيَوْمَ مِنْ اَمْرِ اللّٰهِ اِلَّا هُوَ سُبْحَانَهٗ وَتَعَالیٰ او دَ ضمیر په ځائے جمله دَ شان رحمت دَ اضهار دَپاره راؤړے شو. یا عَاصِمَ صیغه دَ نسبت ده دَ لابن (پیئ ورکونکی) او تامرٌ (کهجور والا) پشان او موصول نه مرحوم مراد دے ای لا ذاعصمة ای معصوم الا من رحمه الله تعالیٰ (روح ج ۱۲ ص ۵۹ ومظهری ج ۵ ص ۹۴) یا مستثنیٰ منقطع ده یعنی نن څوک بچ کولو والا نشته. لیکن په چاچه دَ الله رحمت اوشو صرف هغه به بچ پاتے کیږی. استثناء منقطع والمعنیٰ لکن من رحم الله معصوم (کبیر ج ۱۷ ص ۲۳۳) وَحَالَ بَيْنَهُمَا الْمَوْجُ الخ دغه وخت دَ طوفان یو پرچے کنعان پخپله قبضه کښې واخستو او دَ هغهٔ کار ئے تمام کړو.

۲۲ کله چه ټول مشرکان غرق شول نو الله تعالیٰ زمکے ته حکم ورکړو چه اوس اُوبهٔ دَ بهر راویستلو په ځائے خپل دننه جذب کړه او آسمان ته ئے دَ باران بندولو حکم اوکړو دلته دَ نوح علیه السلام کشتئ دَ جودی غر په لمن کښې اُودریدله دا غر دَ موصل یا شام په علاقه کښې دے.

۲۳ دَ حضرت نوح علیه السلام دا آواز کول دَ طوفان اُودریدلو نه روستو وو یا چه کوم وخت هغهٔ خپل ځوئے غرقیدو نکے اُولیدو هغه وخت ئے آواز اوکړو یعنی اے الله ځما ځوئے خو ځما دَ اهل نه چه تا سو دَ هغهٔ دَ بچ کولو وعده ځما سره کړے وه او ستا وعده رښتونے ده په هغے کښې خلاف هم نهٔ شي کیدے او ته احکم الحاکمین ئے او مالک الملك هم ئے ستا په مخکښې دَ چا دَ ساه اخستلو څهٔ اختیار دے؟ حضرت نوح علیه السلام خپل ځوئے مؤمن گنړلو دَ دے وجے نه ئے دا سوال اوکړو گنی نو دا ممکن نهٔ ده چه هغه دَ نورو کافرانو هلاکت اُوغواړی او دَ خپل ځوئے دَ سلامتیا آرزو اوکړی لانه کان عنده مؤمنًا فی ظنه ولم یك نوح یقول لربه اِنَّ ابْنِیْ مِنْ اَهْلِیْ الا وذلك عنده کذلك اذ محال ان یسأل هلاك الکفار ثم یسأل فی انجاء بعضهم وکان ابنه یسر الکفر ویظهر الایمان الخ (قرطبی ج ۹ ص ۴۶)

قَالَ يٰنُوْحُ اِنَّهٗ لَيْسَ مِنْ اَهْلِكَ ۚ اِنَّهٗ

وے فرمائیل اے نوح ۲۴ بیشکه هغه نهٔ دے ستا دَ کور دَ خلقو نه بیشکه دَ هغهٔ

عَمَلٌ غَيْرُ صَالِحٍ ۖ فَلَا تَسْـَٔلْنِ مَا لَيْسَ لَكَ

عمل خراب دے نو ته تپوس مهٔ کوه ځما نه دَ کوم چه تا دَ

بِهٖ عِلْمٌ ؕ اِنِّیْۤ اَعِظُكَ اَنْ تَكُوْنَ مِنَ الْجٰهِلِیْنَ ﴿۴۶﴾

نشته علم زهٔ نصیحت کوم تا ته چه مهٔ کیږه د جاهلانو نه ف

قَالَ رَبِّ اِنِّیْۤ اَعُوْذُ بِكَ اَنْ اَسْـَٔلَكَ مَا

وے وئیل اے ځماربه زهٔ پناه غواړم تا سره د هغې نه چه تپوس اوکړم ستا نه کوم چه

لَیْسَ لِیْ بِهٖ عِلْمٌ ؕ وَاِلَّا تَغْفِرْ لِیْ وَتَرْحَمْنِیْۤ

نهٔ وی ما ته معلوم او کهٔ چرے ته اُونهٔ بښے ما لره او رحم اُونکړے په ما باندے

اَكُنْ مِّنَ الْخٰسِرِیْنَ ﴿۴۷﴾ قِیْلَ یٰنُوْحُ اهْبِطْ

نو زهٔ به د نقصان کوونکو نه شم ف۲ حکم اوشو اے نوحه ف۴۳ کوز شه

بِسَلٰمٍ مِّنَّا وَبَرَكٰتٍ عَلَیْكَ وَعَلٰۤی اُمَمٍ

سلامتیا سره ځمونږ د طرفه او برکتونو سره په تا باندے او په هغه ډلو باندے

مِّمَّنْ مَّعَكَ ؕ وَاُمَمٌ سَنُمَتِّعُهُمْ ثُمَّ

څوک چه تا سره دی او نورے ډلے دی چه مونږ به فائده ورکوو هغوئی ته بیا به

یَمَسُّهُمْ مِّنَّا عَذَابٌ اَلِیْمٌ ﴿۴۸﴾ تِلْكَ

اُورسیږی هغوئی ته ځمونږ د طرفه عذاب دردناک ف۳ دا خبرے

مِنْ اَنْۢبَآءِ الْغَیْبِ ۚ نُوْحِیْهَاۤ اِلَیْكَ ۚ مَا

د ځنے خبرو د غیب نه دی ف چه مونږ ئے لیږو ستا طرف ته نهٔ

كُنْتَ تَعْلَمُهَاۤ اَنْتَ وَلَا قَوْمُكَ مِنْ

تا ته خبر وو او نهٔ ستا قوم ته د دینه

قَبْلِ هٰذَا ۛ فَاصْبِرْ ۛ اِنَّ الْعَاقِبَةَ لِلْمُتَّقِیْنَ ﴿۴۹﴾

مخکښې نو ته صبر اوکړه ضرور نیک انجام دے د ویریدونکو

نکات: ۱ جمله معترضه د پاره د صداقت د نبی علیه السلام۔

**موضح قرآن** ف انسان دَ هغهٔ څهٔ تپوس کوی کوم چه هغهٔ ته معلوم نهٔ وی لیکن مرضی معلومول پکار دی. دا دَ جاهل کار دے اول مرضئ ته نهٔ گوری او بیا تپوس کوی. ف۲ حضرت نوح علیه السلام توبه او ویستله لیکن دائے او نهٔ وئیل چه بیا به دا سے نهٔ کوم ځکه چه دا دعوی ده. دَ بنده څهٔ قدرت دے. پکار ده چه دَ هغهٔ نه پناه اُوغواړی چه چرته بیا ځما نه اُونهٔ شي. ف۳ الله تعالیٰ تسلّی اُوفرمائیله چه بیا به هلاکت نهٔ راځی په ټول نوعِ انسانی باندے دَ قیامت نه مخکښ لیکن بعض فرقے به هلاکیږی ۱۲.

تفسیر: ۴۶ وے فرمائیل اے نوح دا ستا دَ هغه اهلِ بیت نه نهٔ دے دَ کوم دَ نجات ورکولو وعده چه ما کړیده ځکه چه دَ دهٔ اعمال نیک نهٔ دی بلکه هغه مشرک دے دَ دے وجے نه دَ کوم څیز چه تا ته علم نهٔ وی دَ هغے باره کښ ځما نه تپوس مهٔ کوه. دَ ړومبو راز الله ته معلوم دے حضرت نوح علیه السلام دَ خپل ځوئے دَ نفاق نه ناخبره وو دَ دے وجے نه ئے دے باره کښ سوال اوکړو. فاخبر الله تعالیٰ نوحًا بما هو منفرد به من العلم الغیوب ای علمت من حال ابنك مالم تعلمه انت الخ (قرطبی) دَ دے آیت نه دَ شفاعتِ قهری او دَ غیر الله دَ مختار او متصرف کیدلو نفی کیږی لکه چه حضرت نوح علیه السلام خپل ځوئے، نهٔ خو په هدایت راوستلو او نهٔ ئے دَ الله دَ عذاب نه بچ کړو. ۴۷ دَ حقیقت معلومیدلو نه روستو حضرت نوح علیه السلام دَ خپل بے ځایه سوال الله تعالیٰ نه استغفار اُوغوښتلو او دَ رحمت درخواست ئے اُوکړو. وَاِلَّا په اصل کښ وَاِنْ لَا وو نون په لام کښ مدغم کړے شو.

۴۸ حضرت نوح علیه السلام ته دَ سلامتیا او نزول برکات نه روستو خوشخبری ورکړے شوه دے دَ پاره چه هغوئ ته تسلّی حاصله شي. چه دَ هغوی استغفار او دَ رحمت طلب منظور شویدے. وے فرمائیل اوس کشتئ نه کوز شئ تاسو او کوم صالح اُمتیان چه ستاسو په شاگانو کښ دی ځمونږ دَ سلامتیا او برکاتو نازلیدلو مورد به وی او ستاسو دَ نسل نه چه کوم اُمتونه دَ توحید نه باغیان وی نو هغوئ ته به په دُنیا کښ عیش ملاویږی لیکن په آخرت کښ به هغوئ په دردناک عذاب کښ مبتلا وی

۴۹ جمله معترضه ده. نبی علیه السلام دَ حضرت نوح علیه السلام په واقعه کښ حاضر نهٔ وو لیکن دَ دے باوجود هغوئ دَ دے صحیح صحیح واقعات بیانوی دا دَ هغوئ دَ صداقت زبردست دلیل دے. نبی علیه السلام دَ الله ریښتونے نبی دے او دَ الله دَ طرفه دَ وحی په ذریعه دَ تیرشوو انبیاؤ علیهم السلام احوال او واقعات بیانوی. دَ دے آیت نه دَ نبی علیه السلام دَ حاضر او ناظر

او عالم الغیب کیں لو نقی کیږی. فَاصْبِرْ الخ دا نبی علیه السلام ته تسلّی ده. حضرت نوح علیه السلام نهه نیم سوه کاله قوم ته تبلیغ اوکړو او ډیر ډیر ئې تکلیفونه او زغمل آخرکار الله د هغه دشمنان هلاک کړل. داشان به ستا او ستا د تابعدارانو هم وی او ستا سو دشمنانان به خوار او ذلیل وی.

وَاِلٰی عَادٍ اَخَاهُمْ هُوْدًا ۚ قَالَ یٰقَوْمِ

او اُولیږلو موږ عادیانو ته ورور د هغوئی هود وئے وئیل اے قومه

اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَیْرُهٗ ۭ

بندګی کوئی د الله نشته ستاسو څوک حاکم سیوا د هغه نه

اِنْ اَنْتُمْ اِلَّا مُفْتَرُوْنَ ۞ یٰقَوْمِ لَآ

تاسو یئول دروغ وایئی اے قومه زهٔ

اَسْــَٔلُكُمْ عَلَیْهِ اَجْرًا ۭ اِنْ اَجْرِیَ اِلَّا عَلَی

نهٔ غواړم ستاسو نه په دے باندے مزدوری څما مزدوری په هغه

الَّذِیْ فَطَرَنِیْ ۭ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ۞ وَیٰقَوْمِ

ذات دی چه زهٔ ئے پیدا کړے یم ایا بیا تاسو نهٔ پوهیږئی او اے قومه

اسْتَغْفِرُوْا رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوْبُوْٓا اِلَیْهِ یُرْسِلِ

بښنه د ګناه اوغواړئی د رب خپل نه بیا رجوع اوکړئی د هغهٔ طرفته اوبه لیږی

السَّمَآءَ عَلَیْكُمْ مِّدْرَارًا وَّیَزِدْكُمْ قُوَّةً

د آسمان نه په تاسو باندے په شیبو شیبو باران او زیات به درکړی تاسو ته قوت

اِلٰی قُوَّتِكُمْ وَلَا تَتَوَلَّوْا مُجْرِمِیْنَ ۞

په قوت باندے او مخ مه ګرځوئی ګنهګار کیدو سره

قَالُوْا یٰهُوْدُ مَا جِئْتَنَا بِبَیِّنَةٍ وَّمَا نَحْنُ

وے وئیل اے هوده نهٔ دے راوړے څهٔ سند تا موږ ته او نهٔ یو موږ

بِتَارِكِيْۤ اٰلِهَتِنَا عَنْ قَوْلِكَ وَمَا نَحْنُ لَكَ

پریښودونکی خپلو ښاتو (معبودانو) لره ستا په وینا او نه یو موږ تا لره

بِمُؤْمِنِيْنَ ﴿۵۳﴾ اِنْ نَّقُوْلُ اِلَّا اعْتَرٰىكَ

منونکی موږ خو هم دا وایو چه تا ته رسولے دے ځمونږ

بَعْضُ اٰلِهَتِنَا بِسُوْٓءٍ ؕ قَالَ اِنِّيْۤ اُشْهِدُ اللّٰهَ

ځنو خدایانو ځمونږ لیونتوب وے وئیل زه ګواه کوم الله

وَاشْهَدُوْۤا اَنِّيْ بَرِيْٓءٌ مِّمَّا تُشْرِكُوْنَ ﴿۵۴﴾

او تاسو ګواه شئ چه زه بیزار یم د هغوئ نه کوم چه تاسو شریکوئ

مِنْ دُوْنِهٖ فَكِيْدُوْنِيْ جَمِيْعًا ثُمَّ لَا تُنْظِرُوْنِ ﴿۵۵﴾

د هغه نه. سیوا نو بد اوکړئ ځما په حق کښې تاسو ټول بیا ما ته مهلت مه راکوئ

اِنِّيْ تَوَكَّلْتُ عَلَى اللّٰهِ رَبِّيْ وَرَبِّكُمْ ؕ

بیشکه ما بهروسه اوکړه په الله باندے چه رب دے ځما او رب ستاسو دے

مَا مِنْ دَآبَّةٍ اِلَّا هُوَ اٰخِذٌ بِنَاصِيَتِهَا ؕ

نشته هیڅوک په زمکه باندے خپه کیښودونکی لیکن د الله په لاس کښې دے د هغه وچولے

اِنَّ رَبِّيْ عَلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿۵۶﴾

بیشکه رب ځما دے په سمه لار باندے ۳ف ۱ف ۲

نکات :- ۱ دویمه قصه هم متعلق ده دا ولے دعوے سره ۱۲ ۲ د معبودانِ باطلو د عبادت کولو په وجه سره او الله سره د شرك کولو په وجه ۱۲-

۳ مستثنیٰ متصله ۱۲- ۴ مراد توحید دے ۱۲-

| موضح قرآن | ف۱ یعنی څوک چه په سمه لار روان دے هغه د هغه سره ملاؤ شو ۱۲- |
|---|---|

| فتح الرحمٰن | ف۱ یعنی د هغه مالک دے ۱۲ ف۲ یعنی حکیم دے ۱۲- |
|---|---|

تفسیر :- ۴۸ دا دویمه قصه ده او د اولے دعوے سره متعلق ده

حضرت هود علیه السلام په واضح الفاظو کښې خپل قوم ته داپیغام ورکړو
یٰقَوۡمِ اعۡبُدُوا اللّٰهَ مَا لَكُمۡ مِّنۡ اِلٰهٍ غَیۡرُهٗ. خه قومه صرف د یو الله عبادت کوئ
او صرف هغه ته اوازکوئ د هغه نه سیوا ستاسو څوک معبود نشته یعنی
وحدوا الله ولا تشرکوا معه شیئًا فی العبادة (خازن ج ۳ ص۲۳۳) اِنۡ اَنۡتُمۡ اِلَّا
مُفۡتَرُوۡنَ تاسو خپل باطل معبودانو ته اوازکولو سره د الله شریکان ګرځوئ
دی په الله باندې افتراء کوئ۔
۴۹ شرک پرېږدئ او په الله ایمان راوړئ او د خپل تېر شوو مشرکانه
اعمالو او افعالو نه د الله نه معافی اوغواړئ د هغې نتیجه به دا وي چه په
دُنیا کښې به هم الله تعالیٰ تاسو ته د خوشحالئ او عیش او آرام ژوند په
همکنار کړي او ستاسو جمعیت او قوت به نور هم مضبوط کړي.
الی په معنیٰ د مع دے.
۵۰ قوم انتهائی ضد او عناد سره د پیغام توحید نه انکار اوکړو او اُلټه ئے
په حضرت هود علیه السلام باندې طعن لګول شروع کړل عَنۡ قَوۡلِكَ
کښې عَنۡ سببیه دے قوم اووئیل اے هود تاسو خو په خپله دعویٰ کښې
دلیل نه دے راوړے د دے وجې نه مونږ صرف ستا په خبره ایمان نه راوړو
او خپل معبودان نه شو پرېښودلے. قوم د ډېر زیات عناد او جهالت نه دا
جواب ورکړے وو ګنې نو د توحید واضح دلائیل او ښکاره آیتونه د هغوئ
په مخکښې پیش کړے شوي وو. انما قالوه لفرط عنادهم ولشدة عماهم
عن الحق وعدم نظرهم فی الآیات الخ (روح ج ۱۲ ص۸۱)
۵۱ دا د مشرکانو یو ډېر ذلیل طعن وو چونکه خپل باطل معبودان ئے
متصرف او مختار ګڼړل او د هغوئ خیال وو چه هغوئ به خپل عبادت
کوونکو نه خوشحال شي هغوئ ته به نفع رسوي او د خپلو مخالفینو نه به
ناراض شي هغوئ ته به تکلیف او نقصان رسوي. د دے وجې نه هغوئ حضرت
هود علیه السلام ته اووئیل چه تاسو ځمونږ د معبودانو توهین کوئ. د
دے وجې نه دا سے معلومیږي چه هغوئ خفه شوي دي او زعیاذًا بالله
تاسو ئے لیوني ګرځولي یئ او تاسو ته د هغوئ د طرفه نقصان رسیدلے
دے چه د لیوني په شان هر وخت د توحید خبره کوئ اعتراك
اصابك بعض الهتنا بسوء بجنون وخبل (مدارك ج ۲ ص۱۶۸) بسوء ای
بجنون لسبك ایاها عن ابن عباس وغیره (قرطبی ج ۹ ص۵۴) انك شتمت
الهتنا فجعلتك مجنونًا وافسدت عقلك (کبیر ج ۱۸ ص۱۳)۔
۵۲ د مشرکانو د مذکوره طعن په جواب کښې حضرت هود علیه السلام
اووئیل الله تعالیٰ ګواه دے او تاسو هم ځما خبره واورئ او ګواه اوسیږئ

چه زهٔ ستاسو د معبودانو متصرّف او کارساز گنړلو نه بری یم. او زهٔ دوئ عاجزاو کمزوری گنړم په دے وجه تاسو ځمونږ خلاف چه څهٔ غواړئ منصوبه جوړه کړئ د هغے پرواه نشته اِنِّیْ تَوَكَّلْتُ عَلَی اللّٰهِ رَبِّیْ ځکه چه ځما اعتماد په الله دے چه ځما او ستاسو د ټولو کارساز دے او ټول مخلوق د هغهٔ په قبضه او تصرف کښ دے او صرف هغه د ټولو مالک دے هُوَ اٰخِذٌۢ بِنَاصِيَتِهَا دا د قبضے او تصرف نه کنایه ده ای یصرفها کیف یشآء ویمنعها عما یشآء (قرطبی ج ۹ ص ۵۲) ۵۳ د دے ډیر ترکیبونه دی د علی متعلق فعل محذوف دے ای یَدُلُّ او د صراط مستقیم نه توحید مراد دے یعنی الله تعالیٰ دین توحید طرف ته راهنمائی کوی یا صراط مستقیم نه مطلقاً حق مراد دے یا عدل او انصاف او د علی متعلق کائنٌ وغیره محذوف دے یعنی الله تعالیٰ په حق او صداقت بانړے دے هغه هیڅکله د دینه عدول او تجاوز نهٔ کوی هغه اگر چه قادر مطلق دے لیکن بیا هم عدول یعنی ظلم نهٔ کوی بلکه هر یو ته د هغهٔ عمل جزاء او سزا ورکوی یا د رَبِّیْ نه مخکښ مضاف محذوف دے ای دِیْنُ رَبِّیْ یعنی ځما د رب دین مستقیم دے. ان ربی علی الحق لایعدل عنه وان ربی یدل علی صراط مستقیم (مدارک ج ۲ ص ۱۴۵) یعنی ان ربی وان کان قادرا وانتم فی قبضته کالعبد الذلیل فانه سبحانه وتعالیٰ لا یظلمکم ولا یعمل الا بالاحسان والانصاف والعدل ...... وقیل معناه ان دین ربی هو الصراط المستقیم (خازن ومعالم ج ۳ ص ۲۳۸)

فَاِنْ تَوَلَّوْا فَقَدْ اَبْلَغْتُكُمْ مَّآ اُرْسِلْتُ بِهٖٓ

بیا که چرے تاسو مخ اوگرځوئ نو ما درُورسولو تاسو ته څهٔ چه ځما په لاس لیږلے شوی وو

اِلَيْكُمْ ؕ وَيَسْتَخْلِفُ رَبِّیْ قَوْمًا غَيْرَكُمْ ۚ

ستاسو طرف ته او قائمقام به اوگرځوی رب ځما نور خلق بغیر ستاسو نه

وَلَا تَضُرُّوْنَهٗ شَيْـًٔا ؕ اِنَّ رَبِّیْ عَلٰی كُلِّ شَیْءٍ

او نقصان به اُونکری د الله هیڅ بیشکه ځما رب دے ۵۴ په هر څیز

حَفِيْظٌ ﴿۵۷﴾ وَلَمَّا جَآءَ اَمْرُنَا نَجَّيْنَا هُوْدًا

نگهبان ۵۵ او کله چه راغے ځمونږ حکم ۵۶ بچ کړو مونږ هود علیه السلام

وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗ بِرَحْمَةٍ مِّنَّا ۚ وَنَجَّيْنٰهُمْ
او کومو خلقو چه ایمان راوړے وو د هغهٔ سره پخپل رحمت سره او بچ مو کړل هغوی

مِّنْ عَذَابٍ غَلِيْظٍ ۝٥٨ وَتِلْكَ عَادٌ ۟ جَحَدُوْا
د یو دروند عذاب نه ف ۲ او دا عادیان وو چه منکر شول

بِاٰيٰتِ رَبِّهِمْ وَعَصَوْا رُسُلَهٗ وَاتَّبَعُوْٓا اَمْرَ
د خبرو د خپل رب نه او وے نهٔ منل هغه رسولان او وے متلولے حکم

كُلِّ جَبَّارٍ عَنِيْدٍ ۝٥٩ وَاُتْبِعُوْا فِيْ هٰذِهِ الدُّنْيَا
د هغه چاچه سرکش وو مخالف او وروستو نه راغے په هغوئ پسے دے دُنیا کښ

لَعْنَةً وَّيَوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ اَلَآ اِنَّ عَادًا كَفَرُوْا
لعنت او په ورځ د قیامت هم واورئ عادیان منکر شول

ع ۵ رَبَّهُمْ ؕ اَلَا بُعْدًا لِّعَادٍ قَوْمِ هُوْدٍ ۝٦٠ ع وَاِلٰى
د رب خپل نه واورئ لعنت دے په عادیانو چه قوم د هود وو ف ۳ او اولیږلو موبر

ثَمُوْدَ اَخَاهُمْ صٰلِحًا ۘ قَالَ يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ
ثمودیانو ته رور د هغوئ صالح علیه السلام وے وئیل اے قومه بندګی کوئ د الله

مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ؕ هُوَ اَنْشَاَكُمْ مِّنَ الْاَرْضِ
نشته ستاسو هیڅوک حاکم سیوا د هغهٔ نه، هغهٔ پیدا کړی یئ تاسو د زمکے نه

وَاسْتَعْمَرَكُمْ فِيْهَا فَاسْتَغْفِرُوْهُ ثُمَّ تُوْبُوْٓا
او عمرونه ئے درکړی دی تاسو ته پدے کښ نو د ګناه بښنه او غواړئ د هغهٔ نه او رجوع او کړئ

اِلَيْهِ ؕ اِنَّ رَبِّيْ قَرِيْبٌ مُّجِيْبٌ ۝٦١
د هغهٔ طرف ته بیشکه زما رب نزدے دے قبلولو والا۔

**نکات:** ف ۲ دا یمه قصه هم متعلق ده داولے دعوے سره ۱۲۔

**موضح قرآن**

ف۱ یعنی د الله رسول ته به هیڅ نقصان اُونهٔ رسوئې ځکه چه الله د هغهٔ سا تونکے دے ۱۲. ف۲ سخت عذاب کوم چه په دنیا کښې راغے یا د آخرت دعذاب نه ۱۲. ف۳ یعنی په قیامت کښې به دا آوازونه کوی ۱۲.

**تفسیر:** ۵۴ کهٔ چرے مشرکین په انکار اوضد باندے ټینګ پاتے شول اوخبره ئے اُونهٔ منله نو تاسو اوو وایئ ما خو د الله پیغام تاسو ته اُورسولو او حجت خداوندی مې قائم کړو اوس ستاسو د تباهئ وخت رانزدے شویدے الله تعالیٰ به تاسو هلاک کړی ستاسو په ځائے باندے به نور خلق راولی او تاسو به هغهٔ ته هیڅ نقصان اُونهٔ رسوئې او هغه ستاسو د ټولو کارونو نه خبردار دے د دے وجے نه هغه به تاسو ته د دے پوره سزا درکړی نی

۵۵ د هود علیه السلام په قوم باندے د الله عذاب راغے ټول قوم هلاک شو حضرت هود علیه السلام او کوم خلقو چه په هغهٔ باندے ایمان راوړے وو الله هغوئ د ایمان د دولت په وجه او خپل رحمت سره بچ کړل او د عذاب نه ئے محفوظ کړل. وَتِلْكَ عَادٌ الخ دے سره چونکه مشرکان پوهول مقصود دی او د قوم عاد واقعه د هغوئ په ذهنونو کښې راغلے ده. د دے وجے نه ئے تِلْكَ سره د دے قصے طرف ته اشاره کړے شوېده. د دینه معلومه شوه چه اسم اشاره همیشه د محسوس مُبصر د پاره نهٔ وی بلکه اکثر د معهود فی الذهن د پاره راځی لکه چه دلته ده ځکه چه د نبی صلی الله علیه وسلم نه په سوونه کاله مخکښې د عاد قوم هلاک او برباد شوے وو په خارج کښې د هغوئ هیڅ وجود نهٔ وو لیکن د دے باوجود تِلْكَ سره د هغوئ طرف ته اشاره اُوشوه. عَلٰی هٰذا په قبر کښې چه د مړی نه سوال کیږی مَا تقول فی هٰذا الرجل؟ دینه دا نهٔ لازمیږی چه دے وخت کښې نبی علیه السلام قبر کښې حاضروی بلکه دلته هم اشاره معهود فی الذهن طرف ته ده. وَعَصَوْا رُسُلَهٗ د یو رسول تکذیب او نافرمانی د ټولو رسولانو عصیان او نافرمانئ له مستلزم ده د دے وجے نه ئے د جمع صیغه راوړے ده.

۵۶ دا انبیاؤ علیهم السلام د تابعدارئ په ځائے هغوئ د خپل سرکش او معاندینو تابعداری اوکړه چا چه دوئ ته د شرک دعوت ورکولو او د پیغمبرانو د تکذیب ترغیب به ئے ورکولو. وَاُتْبِعُوْا فِیْ هٰذِهِ الدُّنْیَا لَعْنَةً الخ د هغے نتیجه دا شوه چه د هدایت نه محروم شول او په دُنیا او آخرت کښې ملعون او مقهور اُوګرځیدل.

۵۷ دا دریمه قصه ده او د اولے دعوے سره متعلق ده. حضرت صالح علیه السلام یٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَیْرُهٗ سره د توحید پیغام د قوم

مخکښې پیش کړو. هُوَ اَنْشَاَكُمْ مِّنَ الْاَرْضِ الخ خاص الله تاسو د خاورې ونه
پیدا کړئ او په زمکه کښې ئې تاسو آباد کړئ. د الله تعالیٰ د بنیادی انعاماتو
ذکر ئې اوکړو دې د پاره چه د قوم په زړونو کښې د شکر و بستلو او احسان منلو
جذبه پیدا شي او هغوئ توحید قبول کړي ۱۲۔

قَالُوْا يٰصٰلِحُ قَدْ كُنْتَ فِيْنَا مَرْجُوًّا قَبْلَ

وې وئیل اے صالح ﷺ ستا نه خو ځمونږ اُمیدونه وؤ د دینه مخکښې

هٰذَآ اَتَنْهٰىنَآ اَنْ نَّعْبُدَ مَا يَعْبُدُ اٰبَآؤُنَا

ایا ته مونږ منع کوې چه عبادت اُوکړو د کوم چه عبادت کولو ځمونږ پلار نیکه

وَاِنَّنَا لَفِيْ شَكٍّ مِّمَّا تَدْعُوْنَآ اِلَيْهِ

او ځمونږ په هغې کښې شک دې د کوم طرف ته چه ته بلل کوې داسې چه

مُرِيْبٍ ﴿٦٢﴾ قَالَ يٰقَوْمِ اَرَءَيْتُمْ اِنْ كُنْتُ

زړۂ ئې نه غواړي ف۔ وې وئیل اے قومه ایا تاسو وینئ که چرے ما ته

عَلٰى بَيِّنَةٍ مِّنْ رَّبِّيْ وَاٰتٰىنِيْ مِنْهُ رَحْمَةً

پوهه ملاؤ شوه د طرف د رب خپل نه او هغۂ ما ته راکړو د خپل طرف نه رحمت

فَمَنْ يَّنْصُرُنِيْ مِنَ اللّٰهِ اِنْ عَصَيْتُهٗ قف فَمَا

بیا به څوک بچ کړي ما لره د الله نه که چرے د هغۂ نافرمانی اوکړم نو تاسو

تَزِيْدُوْنَنِيْ غَيْرَ تَخْسِيْرٍ ﴿٦٣﴾ وَيٰقَوْمِ هٰذِهٖ

هیڅ نهٔ زیاتوئ ما لره سیوا د نقصان نه۔ او اے قومه دا

نَاقَةُ اللّٰهِ لَكُمْ اٰيَةً فَذَرُوْهَا تَاْكُلْ

اُوښه ده د الله ﷻ ستاسو د پاره نښه نو پرېږدئ ئې دا چه خوراک اُوکړي

فِيْٓ اَرْضِ اللّٰهِ وَلَا تَمَسُّوْهَا بِسُوْٓءٍ فَيَاْخُذَكُمْ

په زمکه د الله کښې او لاس مه وروړئ دې ته په بدئ سره گنې نو اُو به نیسي تاسو

عَذَابٌ قَرِيبٌ ﴿٦٤﴾ فَعَقَرُوهَا فَقَالَ تَمَتَّعُوا فِي

عذاب ډیر زر ^ف^. بیا ئے دَ هغې خپې پرېکړې دغه وخت اووئیل (صالح) فائده واخلئ په

دَارِكُمْ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ ذَٰلِكَ وَعْدٌ غَيْرُ مَكْذُوبٍ ﴿٦٥﴾

کورونو خپلو کښې درې ورځې دا وعده ده چه نهٔ به دروغ کیږی.

نکات: ۱ باطل معبودان ۱۲ ۲ مانه مراد دَ توحید مسئله ده ۱۲. ۳ ای غیر مکذوب فیه ۱۲.

**موضح قرآن** ف۱ ستا نه ځمونږ اُمید وو چه ته به یو فاضل او ښهٔ سړے جوړیږے چه دَ پلار نیکهٔ لار د به روښانه کړے نو تهٔ دَ هغوئ ختمول غواړے. ف۲ دَ حضرت صالح علیه السلام قوم معجزه اُوغوښتله الله تعالیٰ دَ هغهٔ په دُعا سره دَ کڼې نه اُوښه راُوویستله هغه وخت هغه لنګه شوه هغه وخت بچے دَ مور برابر شو حضرت صالح علیه السلام قوم ته اووئیل چه دَ دے تعظیم به کوئ تر هغې به دَ دُنیا عذاب نهٔ راځی. چرته چه به هغه تلله خوراک دَ پاڼو یا څښاک سره ټول حیوانات به تښتیدل او هیڅ یو انسان به هغه نهٔ شړله.

تفسیر: ۵۵ هر قوم خپل پیغمبر ته دَ نوی نه نوے طعن ورکړو. حضرت صالح علیه السلام چه کله دَ قوم په وړاندے دَ توحید مسئله پیش کړه چه دَ هغوئ دَ خراب مزاج خلاف وه نو هغوئ اووئیل چه اے صالح! مونږ خو تهٔ ډیر ښهٔ او لائق ګنړلے او ځمونږ خیال وو چه تا سو به خپل لیاقت او قابلیت سره قوم لوړ مقام ته اُورسوئ او مونږ خو تا سو پورے لوئے اُمیدونه تړلی وو، لیکن تا سو خلاف توقع خپل دین پریښودو او مونږ ته هم وایئ چه مونږ هم دَ خپل پلار نیکهٔ دین پریګدو. أَنْ نَعْبُدَ ای عن ان نعبد مَا يَعْبُدُ دَ موصوله نه مراد معبودان باطله دی مَا تَدْعُونَا موصوله نه دَ توحید مسئله مراد ده. ما تدعونا الیه من التوحید (مدارک ج ۲ ص۱۳۹). یعنی ایا تهٔ مونږ دَ دے خبرے نه منع کوے چه مونږ دَ خپلو معبودانو عبادت اُوکړو دَ کومو چه ځمونږ پلار نیکونو عبادت کولو. صفا خبره ده دَ توحید مسئله دَ کومے چه تهٔ مونږ ته دعوت راکوے دَ هغې بارهٔ کښې ځمونږ په زړونو کښې ډیر شکوک او شبهات دی. ۵۶ حضرت صالح علیه السلام خپل قوم ته جواب ورکړو. ځما قومه کهٔ چرے ځما سره دَ توحید په دعوٰی باندے خپل پروردګار دَ طرفه دلائیل موجود وی او دَ الله دَ جانبه په ما باندے مسلسل وحی هم نازلیږی (یعنی زهٔ دَ الله پیغمبر هم یم) او بیا زهٔ ستا سو

دَ خواهشاتو تابعدارې شروع کړم او دَ الله دَ توحید پیغام پرېږدم دَ هغهٔ نافرماني
اوکړم نو تاسو راته او وایئ ما لره به څوک دَ الله دَ نیولو نه بچ کړي. فَمَا
تَزِيْدُوْنَنِيْ غَيْرَ تَخْسِيْرٍ، تاسو خو ما لره دَ خپل ځان تابع کولو سره سراسر په
خساره کښې غورځول غواړئ. ۲۶ قوم حضرت صالح علیه السلام نه مطالبه
کړې وه چه هغه دَ یو مخصوص کاڼي نه اوښه راوباسي نو هغوئ به ئې
رښتونے نبي اُومني. حضرت صالح علیه السلام دَ الله نه سوال اُوکړو نو دَ الله
تعالیٰ په حکم سره دَ معجزې په طور باندې هغه وخت دَ کاڼي نه راؤوتله
هغه وخت حضرت صالح علیه السلام اُوفرمائیل چه دا اُوښه یوه معجزه ده
او ستاسو دَ پاره ځما دَ صداقت لوئے دلیل دے، دَ دے خوراک ستاسو په
ذمه نهٔ دے هغه به دَ الله په زمکه کرځي راګرځي خپله خېټه به مړوي تاسو په
دے هیڅ کار مهٔ لرئ ګنې نو فوراً به دَ الله په عذاب کښې مبتلاء شئ. فَعَقَرُوْهَا
لیکن هغوئ منع نهٔ شول او بیا سری ته ئې دَ هغې دَ قتل کولو حکم ورکړو هغهٔ
موقع بیا مونده دَ اُوښې خپې ئې پرېکړې او قتل ئې کړه حضرت صالح علیه السلام
اُوفرمائیل چه اوس دریو ورځو پورې په خپلو کورونو کښې خپل ژوند
نه فائده واخلئ. دینه روستو به تاسو هلاکیږئ دا دَ الله رښتونے وعده
دے کښې دَ ذرې برابر دروغ نشته غَيْرُ مَكْذُوْبٍ اي فيه (روح)

فَلَمَّا جَآءَ اَمْرُنَا نَجَّيْنَا صٰلِحًا وَّالَّذِيْنَ

بیا چه کله راغے دَ الله حکم ځموږ. بچ کړو موږ صالح علیه السلام او چا چه

اٰمَنُوْا مَعَهٗ بِرَحْمَةٍ مِّنَّا وَمِنْ خِزْيِ يَوْمِئِذٍ ؕ

ایمان راوړے وو دَ هغهٔ سره په خپل رحمت سره او دَ رسوایئ دَ دغې ورځې نه

اِنَّ رَبَّكَ هُوَ الْقَوِيُّ الْعَزِيْزُ ﴿٦٦﴾ وَاَخَذَ

بیشکه ستا رب دے زورور او غالب او اُونیول

الَّذِيْنَ ظَلَمُوا الصَّيْحَةُ فَاَصْبَحُوْا فِيْ

هغه ظالمان هیبتناک اواز بیا صباله پاتے شول په

دِيَارِهِمْ جٰثِمِيْنَ ﴿٦٧﴾ كَاَنْ لَّمْ يَغْنَوْا فِيْهَا ؕ

په خپلو کورونو کښې پړمخے پراته په ځنګنونو باندې. لکه چه کله هم دوئ نه وو اُوسیدلي هلته

أَلَآ إِنَّ ثَمُودَا۟ كَفَرُوا۟ رَبَّهُمْ ۗ أَلَا بُعْدًا
واوړئ ثموديان منكر شول د رب خپل نه واوړئ لعنت دے

لِّثَمُودَ ﴿٦٨﴾ وَلَقَدْ جَآءَتْ رُسُلُنَآ إِبْرَٰهِيمَ
ثموديانو باندے ف او بيشكه راغلي دي ف۱ ځمونږ ليږلے شوي ابراهيم ته

بِٱلْبُشْرَىٰ قَالُوا۟ سَلَٰمًا ۖ قَالَ سَلَٰمٌ ۖ فَمَا
په زيرے ورکولو سره وے وئيل سلام. هغهٔ او وئيل سلام دے بيائے

لَبِثَ أَن جَآءَ بِعِجْلٍ حَنِيذٍ ﴿٦٩﴾ فَلَمَّا رَءَآ
روستو والے اُونکړو چه رائے وړلو يو سخے وريت کړے شوے ف۲. بيا چه کله اوليدل (ابراهيم)

أَيْدِيَهُمْ لَا تَصِلُ إِلَيْهِ نَكِرَهُمْ وَأَوْجَسَ
لاسونه د هغوئ چه نهٔ رسيدل خوراک ته نو په شک کښې پريوتلو او په زړهٔ کښې

مِنْهُمْ خِيفَةً ۚ قَالُوا۟ لَا تَخَفْ إِنَّآ أُرْسِلْنَآ
د هغوئ نه اُويريدو. هغوئ او وئيل مهٔ ويريږه مونږ ليږلے شوي يو

إِلَىٰ قَوْمِ لُوطٍ ﴿٧٠﴾ وَٱمْرَأَتُهُۥ قَآئِمَةٌ فَضَحِكَتْ
طرف د قوم د لوط ع ته ف۳. او د هغهٔ ښځه ولاړه وه ف۴ نو هغے اُوخندل

فَبَشَّرْنَٰهَا بِإِسْحَٰقَ وَمِن وَرَآءِ إِسْحَٰقَ يَعْقُوبَ ﴿٧١﴾
بيا مونږ زيرے ورکړو هغے ته د اسحٰق په پيدا کيدلو او روستو د اسحاق نه د يعقوب ف۵

**نکات:** ۔ ف۱ داخلوړمه قصه ده او د دويمے دعوے سره متعلق ده۔

**موضح قرآن** ف۱ هغوئ باندے عذاب راغے په دا سے طريقه چه د شپے اُوده وو فرشتو ورباندے سخته چغه او ويستله د تولو زړونه اُوچودل ۱۲ منه رحمة الله تعالیٰ ۱۲ ف۲ هغه يوځو فرشتے وے چه د لوط عليه السلام قوم ته ئے عذاب راوړلو اول حضرت ابراهيم ته راغے او د خوئ خوشخبري ئے ورکړه د هغهٔ د بي بي نه ځوئے نهٔ وو حضرت ابراهيم عليه السلام اُونهٔ پيژندل چه فرشتے دي خوراک ئے ورله راوړو ۱۲ منه رحمه
ف۳ هغوئ سره چه کوم عذاب وو د هغهٔ په زړهٔ د هغے نه ډيره پريوتله ۱۲ منه

ف ک دَ دے ویرے پورَ ته کیدلو سره خوشحال شۀ وے خندل حق تعالیٰ دَ خوشحالئ دَ پاسه نورے خوشحالئ ورته واورولے ۱۲ منه رحمه الله تعالیٰ۔

**تفسیر:** ۶۱ کله چه څمونږ دَ عذاب مقررۀ وخت راغے نو مونږ صالح او دَ هغهٔ مؤمن ملګرو ته محض خپل رحمت سره نجات ورکړو او دَ هغے ورځے دَ ذلت او رسوایئ نه مونږ بچ اوساتل۔ وَاَخَذَ الَّذِیۡنَ ظَلَمُوا الخ او ظالمان (مشرکان) خلق په یوے آسمانی چغے سره پخپلو کورونو کښ داسې تباه شول لکه چه هغوئ دے کښ چرته هم نۀ وو اوسیدلی دا دے دَ الله دَ پیغمبرانو او دَ توحید نه دَ انکار کوونکو انجام۔

۶۲ دا دَ خلورمه قصه ده او دَ دویمے دعوے سره متعلق ده چه دَ الله نه سیوا څوک عالم الغیب نشته۔ حضرت ابراهیم علیه السلام ته فرښتے راغلے دَ څوئے خوشخبرئ ورکولو دَ پارۀ هغه انسانی شکل کښ وے دَ دے وجے نه حضرت ابراهیم علیه السلام اونۀ پیژندلے او دا خیال ئے اوکړو چه دَ دوئ سره څوک انسانان میلمانۀ شوی دی دَ دے وجے نه ئے فوراً تشریف یوړو او دَ سخی غوښه ئے وریته کړه او راؤئے وړله، دینه معلومه شوه چه حضرت خلیل الله صلوات الله علیه وسلامه سره دَ مقامِ خُلت نه غیب دان نۀ وو، که چرے غیب دان وے نو هغهٔ ته به معلومه وے چه دا فرښتے دی او فرښتے خوراک نۀ کوی۔ نَکِرَهُمۡ، یعنی هغهٔ ئے اونۀ پیژندلے دِ دے کښ دَ حضرت ابراهیم علیه السلام دَ فرښتو دَ نۀ پیژندلو صراحت دے دینه دا هم ثابته شوه چه فرښتے هم عالم الغیب نۀ دی ګنی نو هغوئ به حضرت ابراهیم علیه السلام دَ خوراک تیارولو نه منع کړے وے فرښتو ته هم دَ دے علم نۀ وو چه حضرت ابراهیم علیه السلام کوم ته څهٔ دَ پارۀ ځی۔ قال الطیبی لو عرفهم بانهم ملائکة لم یحضر بین ایدیهم الطعام (روح ص۹۶ ج۱۲)

۶۳ کله چه هغوئ وریته کړے غوښه دَ میلمنو مخے ته راوړه او کیښودله نو هغوئ خوراک دَ پارۀ دسترخوان طرف ته لاس ته یو نۀ وړل۔ دِ دے لیدلو سره دَ حضرت ابراهیم علیه السلام په زړۀ کښ ویره شان پیدا شوله چه چرته دا خلق په بده اراده نۀ وی راغلی ځکه چه دَ هغه وخت دستور دۀ چه کوم سړی ته به ئے دَ بد رسولو اراده وه نو دَ هغهٔ دَ کور نمک به ئے نۀ خوړلو۔ وکانوا اذا راوا الضیف لا یاکل ظنوا به شرًا (قرطبی ج ۹ ص۶۵) حضرت ابراهیم علیه السلام باندے دَ خوف آثار لیدلو سره فرښتو اوئیل چه تا سو ویریږئ مهٔ مونږ خو فرښتے یو او په قوم لوط مو عذاب راوړے دے دَ فرښتو دَ دے وضاحت نه حضرت ابراهیم علیه السلام ته دَ حقیقت حال علم اوشو۔

۶۴ فَضَحِکَتۡ فَبَشَّرۡنٰهَا، دواړو کښ فاء دَ تعقیب ذکری دَ پارۀ ده او دَ دے کښ

تقدیم او تاخیر دے په اصل کښې داسے وو فبشرناها فضحکت یعنی مونږ هغې ته دَ ځوئے زیږیدو زیرے ورکړو نو هغې اُوخندل. اِنَّ هٰذا علی التقدیم والتاخیر والتقدیر وامرأته قائمة فَبَشَّرْنٰهَا باسحٰق فضحکت سرورًا بسبب تلك البشارة فقدم الضحك ومعناه التاخیر (کبیر ج ١٨ ص ٢٦) دا واقعه په سورۃ ذاریات کښې واقعی ترتیب سره ذکر ده دلته دے کښې تقدیم او تاخیر دے. ذاریات کښې دَ بولونه مخکښې دَ فرشتو دَ راتللو ذکر دے هغې نه روستو دَ ځوئے دَ خوشخبرئی. بیا دَ ابراهیم علیه السلام دَ بی بی دَ اظهار تعجب ذکر دے. قَالُوْا لَا تَخَفْ وَبَشَّرُوْهُ بِغُلٰمٍ عَلِيْمٍ ○ فَاَقْبَلَتِ امْرَاَتُهٗ فِيْ صَرَّةٍ فَصَكَّتْ وَجْهَهَا الآیة. دینه روستو حضرت ابراهیم علیه السلام دَ فرشتو دَ راتللو دَ مقصد ذکر اُوکړو نو هغوئی اُووئیل مونږ قوم لوط باندے دَ عذاب راوړلو دَپاره راغلی یو. قَالَ فَمَا خَطْبُكُمْ اَيُّهَا الْمُرْسَلُوْنَ ○ قَالُوْٓا اِنَّآ اُرْسِلْنَآ اِلٰى قَوْمٍ مُّجْرِمِيْنَ الآیة (ذاریات ع ٢)

قَالَتْ يٰوَيْلَتٰٓى ءَاَلِدُ وَاَنَا عَجُوْزٌ وَّهٰذَا

وے وئیل ویلے اے تعجبه څما ایا څیږوم زه بچے او زه زړه یم او دا

بَعْلِىْ شَيْخًا ؕ اِنَّ هٰذَا لَشَىْءٌ عَجِيْبٌ ﴿٧٢﴾

خاوند څما زوړ دے بیشکه دا خو یوه خبره عجیبه ده

قَالُوْٓا اَتَعْجَبِيْنَ مِنْ اَمْرِ اللّٰهِ رَحْمَتُ اللّٰهِ

هغوئی اُووئیل ایا تعجب کوئی تاسو دَ حکم دَ الله تعالیٰ نه ﷲ رحمت دَ الله دے

وَبَرَكٰتُهٗ عَلَيْكُمْ اَهْلَ الْبَيْتِ ؕ اِنَّهٗ حَمِيْدٌ

او برکتونه په تاسو باندے اے دَ کور والو تحقیق الله تعریف کړے شوے

مَّجِيْدٌ ﴿٧٣﴾ فَلَمَّا ذَهَبَ عَنْ اِبْرٰهِيْمَ الرَّوْعُ

او دَ لوئی والا دے. بیا چه کله لاړه دَ ابراهیم نه ویره ﷲ

وَجَآءَتْهُ الْبُشْرٰى يُجَادِلُنَا فِىْ قَوْمِ لُوْطٍ ﴿٧٤﴾

او راغله هغه خوشخبری جهګړه ئے شروع کړو مونږ سره په حق دَ قوم لوط کښې

إِنَّ إِبْرَٰهِيمَ لَحَلِيمٌ أَوَّٰهٌ مُّنِيبٌ ﴿٧٥﴾

بیشکه ابراهیم علیه السلام ډیر تحمل والا نرم دل ته رجوع کوونکے ف

يَٰٓإِبْرَٰهِيمُ أَعْرِضْ عَنْ هَٰذَآ ۖ إِنَّهُۥ

اے ابراهیم پریږده دا خیال بیشکه

قَدْ جَآءَ أَمْرُ رَبِّكَ ۖ وَإِنَّهُمْ ءَاتِيهِمْ

راغے حکم د رب ستا او په دوئ راتلونکی

عَذَابٌ غَيْرُ مَرْدُودٍ ﴿٧٦﴾ وَلَمَّا جَآءَتْ رُسُلُنَا

عذاب چه نه شی واپس کولے. او کله چه راغلل رسولان زمونږ (الیږلے) شوی

لُوطًا سِىٓءَ بِهِمْ وَضَاقَ بِهِمْ ذَرْعًا وَقَالَ

لوط علیه السلام ته غمګین شو د هغوئ راتللو سره او تنګ شو زړه ګئی او وے وئیل

هَٰذَا يَوْمٌ عَصِيبٌ ﴿٧٧﴾ وَجَآءَهُۥ قَوْمُهُۥ يُهْرَعُونَ

نن ورځ ډیره سخته ده ف. او راغے هغه ته د هغه قوم که چه بے اختیاره منډے

إِلَيْهِ وَمِن قَبْلُ كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ٱلسَّيِّـَٔاتِ ۚ

وهلے د هغه طرفته او د مخکښ نه ئے کول بد کارونه

قَالَ يَٰقَوْمِ هَٰٓؤُلَآءِ بَنَاتِى هُنَّ أَطْهَرُ لَكُمْ ۖ

وے وئیل اے قومه حاضرے دی دا ځما لونړه دا پاکے دی ستاسو د پاره

فَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَلَا تُخْزُونِ فِى ضَيْفِىٓ ۖ

نو او وېرېږئ د الله نه او مه رسوا کوئ ما لره په میلمنو ځما کښ

أَلَيْسَ مِنكُمْ رَجُلٌ رَّشِيدٌ ﴿٧٨﴾

آیا نشته ستاسو کښ یو سړے هم نیک کردار ف ۳

نکات :- ۱ ای قلنا یا ابراهیم ۱۲. ۲ دا پنځمه قصه ده او د دویمے معنی سره متعلق ده ۱۲.

**موضح قرآن**

ف۱ حضرت لوط علیه السلام هم د دوئ نه لیږل شوے وو دے قوم کښې کله چه ئے واؤرېدل چه هغوئ بانډې عذاب راغے نو خفه شو وربانډے او سفارش ئے شروع کړو ۱۲ منه.

ف۲ دا فرښتے د هلکانو په شکل کښې لاړے او حضرت لوط علیه السلام ته د قوم خوئے معلوم وو په دے خفه شو چه اوس به جهګړه کول وی ۱۲

ف۳ فرښتے میلمانهٔ شول د هغهٔ په کور کښې او چه قوم اولیدل نو په منډه راغلل لوط علیه السلام د هغوئ د بچ کولو د پاره خپلے لونړه په نکاح ورکول قبول کړؤ لیکن هغوئ کله منل دغه وخت کا فرانو سره نکاح منع نهٔ وه ۱۲ منه

**فتح الرحمن**

ف۱ مترجم وائی یعنی په سبب د خوش وقتئ د لوط علیه السلام د قوم هلاکولو سره ۱۲ والله اعلم

ف۲ مترجم وائی یعنی هغوئ نوعمره ښائسته رنګی هلکان وو او د قوم عادت خو معلوم وو نو ویره ورسره پیدا شوه والله اعلم ۱۲.

ف۲۵ حضرت ساره رضی الله عنها د ځوئے خوشخبری واؤرېدله د ډیر حیرانتیا او تعجب اظهار ئے اوکړو ځکه چه د هغې په خیال کښې هغه سن یأس (د نا امیدئ کال) ته رسیدلے وه او دغه عمر کښې د هغې ځوئے پیدا کیدل خلافِ توقع وو بیا د دے سره د حضرت ابراهیم علیه السلام عُمر هم د دے متقاضی نهٔ وُو په قول د حضرت مجاهد د ساره عُمر یوکم سل کاله وو او د بعضو په قول نوی اتیا او د حضرت ابراهیم علیه السلام عمر شپږ شلے یا په قول د بعضو سل کاله وو (قرطبی) ف۲۶ فرښتو د حضرت ساره تعجب اُولید و وے فرمائیل چه تاسو د الله په قدرت تعجب کوئ او د هغهٔ په قضا او قدرت بانډے حیرانیږئ؟ د الله د پاره هیڅ ګرانه نهٔ ده اے د نبوت اهل بیت دا په تاسو د الله رحمت او برکت دے. اِنَّهٗ حَمِیْدٌ مَّجِیْدٌ، هغه د صفاتِ جمالیه او لغوت جلالیه مالک دے هغه رحمت او برکت هم ورکوی او سرکشو ته سزا هم ورکولے شی دا ایت وَهُوَ الْغَفُوْرُ الْوَدُوْدُ ذُو الْعَرْشِ الْمَجِیْدُ فَعَّالٌ لِّمَا یُرِیْدُ پشان د الله تعالیٰ صفتونو له جمع کوونکے دے.

ف۲۷ کله چه د حضرت ابراهیم علیه السلام ویره ختمه شوه او د ځوئے خوشخبری ملاؤ شوه نو اوس ئے د فرښتو نه د هغوئ د راتللو د مقصد تپوس اوکړو کله چه هغوئ ورته بیان اوکړو چه اِنَّآ اُرْسِلْنَآ اِلٰی قَوْمِ لُوْطٍ مونږ خو د لوط علیه السلام د قوم هلاکولو د پاره راغلی یو. نو یُجَادِلُنَا فِیْ قَوْمِ لُوْطٍ هغوئ مونږ ته د قوم لوط سفارش کول شروع کړل چه الله دوئ ته لږ شان مهلت ورکړئ شائد چه هغوئ پوهه شی د قصے واقعے ترتیب په سورهٔ ذاریات کښې دے کما مَرَّ اِنَّ اِبْرٰهِیْمَ لَحَلِیْمٌ اَوَّاهٌ مُّنِیْبٌ؛ ابراهیم علیه السلام ډیر حوصلے والا و نرم دل

او د الله طرف ته انابت او رجوع کولو وو د دے صفتونو په بناء بانديے ئے قوم
لوط ته د مهلت ورکولو سفارش اوکړو. ۶۸ دینه مخکښ قلنا محذوف دے
کله چه په یوه تیره شوے واقعه کښ د صیغه امر ذکروی نو د هغے نه مخکښ
قلنا محذوف وی. مونږ ابراهیم ته اووئیلے چه دا خبره پریږده او د دے سفارش
مه کوه ځکه چه د دوئ د هلاکت وخت راغلے دے اوس هغوئ څمونږ د عذاب نه
نهٔ شی بچ کیدے خامخا به تباه او برباد کړے شی دوئ نه څمونږ عذاب
هرګز نشی روستو کیدے ان العذاب الذی نزل بهم غیر مصروف عنهم ولا
من فوع عنهم (خازن ج ۲ ص ۲۴۳) دینه معلومه شوه چه الله سره هیڅوک شنیع
غالب نشته چه په هغهٔ باندے د خپلے مرضئ مطابق خبره اومنی.
۶۹ دا پنځمه واقعه ده او متعلق ده د دویمے دعوے سره :- کله چه فرشتے
حضرت ابراهیم علیه السلام نه رخصت شوے او حضرت لوط علیه السلام ته اورسیدے
نو هغهٔ د خپل قوم د بد عادت پیش نظر چه هغهٔ اولیدے ډیر زیات غمژن
شو او خپل ځان ئے عاجز او کمزورے محسوس کړو یائے په زړهٔ کښ د هغوئ
راتلل خوښ نهٔ کړل. د ذرع اصل معنیٰ فراخی ده. دلته د سینے یا طاقت نه
کنایه ده. ضاق بهم ذرعًا ای طاقة وجهدًا (روح ج ۱۲ ص ۱۰۵) وضاق بهم ذرعًا
ای ضاق صدره بمجیئهم وکرهه (قرطبی ج ۹ ص ۷۴) دے واقعے سره د حضرت
لوط علیه السلام د غیب کیدلو نفی کیږی. که چرے هغهٔ ته معلومه وے چه
دا فرشتے دی نو هغهٔ ته د غم کولو ضرورت نهٔ وو ځکه چه په فرشتو د قوم
دست درازی او هغوئ ته ورنزدے کیدل ممکن نهٔ وو.
۷۰ د حضرت لوط علیه السلام خه شه صحیح ثابت شوه کله چه د قوم بد معاشو
معلومه شوه چه هغهٔ ته خائسته ځوانان راغلی دی نو په بد نیت د هغهٔ طرفته
بے اختیاره په منډه منډه راغلل ځکه چه هغوئ د اول نه د خلافِ فطرت
عمل عادتیان وو قَالَ یٰقَوۡمِ هٰٓؤُلَآءِ بَنَاتِیۡ، حضرت لوط علیه السلام د هغوئ
معقول طریقے سره د پوهولو کوشش اوکړو او وے فرمائیل. کم عقلو! دا ښځے
کونړے چه تاسو سره موجود دی ستاسو د پاره حلال او پاکے دی. د الله نه اوویریږئ
او د هغهٔ حدود مهٔ ماتوئ او ما په میلمنو کښ مامهٔ رسوا کوئ ایا تاسو کښ
هیڅوک هم د عقل او پوهے والا انسان موجود نهٔ دے. څنګه چه د قوم یو مشر
انسان د خپل قوم بنځو ته خپلے لونړه وائی دا شان حضرت لوط علیه السلام هم
د خپل قوم بنځو ته خپلے لونړه اووئیل. دا شان هر پیغمبر د امت پلار وی.
عن السدی ان المراد بناتہ علیه السلام امته ..... لان کل نبی اب لامته وبه
قال مجاهد وسعید بن جبیر (روح، قرطبی) یا د حضرت لوط علیه السلام صلبی
لونړه مراد دی حضرت لوط علیه السلام د اسلام په شرط سره د خپلو لونړو

سره هغوئی ته د نکاح کولو پیش کش اوکړو. د امام زجاج او حسن بن فضل قول
دے. ځکه چې دا وئیلی دی چه د اسلام شرط هم نه وو ځکه چه د هغه وخت د کافرو
د مسلمانانو ښځے سره نکاح جائز وه. من الروح والقرطبی وغیرهما.

قَالُوا لَقَدْ عَلِمْتَ مَا لَنَا فِي بَنَاتِكَ مِنْ حَقٍّ

وے وئیل تا ته خو معلومه ده چه نشته ځمونږ ستا لونړو سره څه غرض

وَإِنَّكَ لَتَعْلَمُ مَا نُرِيدُ ﴿٧٩﴾ قَالَ لَوْ أَنَّ لِي بِكُمْ

او تا ته معلومه ده کوم څه چه مونږ کول غواړو. دے وئیل کاش! چه ما سره ستاسو مقابلے

قُوَّةً أَوْ آوِي إِلَىٰ رُكْنٍ شَدِيدٍ ﴿٨٠﴾ قَالُوا يَا لُوطُ

طاقت وے یا زه پناه اخستے وے په یو پناه ګاه مضبوطه کښ. او وئیل میلمنوانے لوط

إِنَّا رُسُلُ رَبِّكَ لَنْ يَصِلُوا إِلَيْكَ فَأَسْرِ

مونږ لیږلے شوی یو د رب ستا هرګز به اُونه رسیږی دوئی تا ته نو اُوباسه

بِأَهْلِكَ بِقِطْعٍ مِنَ اللَّيْلِ وَلَا يَلْتَفِتْ مِنْكُمْ

د خپل کور خلق څه حصه کښ د شپے او نه دِ ګوری شا ته ستا سو نه

أَحَدٌ إِلَّا امْرَأَتَكَ ۖ إِنَّهُ مُصِيبُهَا مَا أَصَابَهُمْ ۚ

هیڅوک لیکن ستا ښځه بیشکه چه هغے ته به رسیږی کوم چه دوئی ته رسیږی

إِنَّ مَوْعِدَهُمُ الصُّبْحُ ۚ أَلَيْسَ الصُّبْحُ بِقَرِيبٍ ﴿٨١﴾

بیشکه د دوئی د وعدے وخت صبا دے ایا نه دے صبا نږدے ول

فَلَمَّا جَاءَ أَمْرُنَا جَعَلْنَا عَالِيَهَا سَافِلَهَا

بیا چه کله راغے زمونږ حکم ځمونږ نو اوګرځولو مونږ هغه کلے لاندے باندے

وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهَا حِجَارَةً مِنْ سِجِّيلٍ

او اُووَرول مونږ په هغوئی باندے کانړی چه پاخهٔ شوی وو په اُور باندے

مَّنۡضُوۡدٍ ﴿۸۲﴾ مُّسَوَّمَةً عِنۡدَ رَبِّكَ ۚ وَمَا هِيَ

لاندې باندې. نښه کړې شوې وو په نزد د رب ستا او نه دې هغه کلې

مِنَ الظّٰلِمِيۡنَ بِبَعِيۡدٍ ﴿۸۳﴾

دَ ظالمانو نه لرې

**موضح قرآن** ف ځمونږ نبی علیه السلام مکه دَ صبا په وخت فتح کړه شائد دا هغې ته اشاره ده ۱۲ منه رحمة الله.

**تفسیر:** لـه هغوئ چونکه دَ خلاف فطرت عمل عادتیان جوړ شوی وو دَ دې وجې نه هغوئ اووئیل په جواب کښې چه دَ ښځو طرف ته هیڅ رغبت نشته تا ته معلومه ده چه مونږ څهٔ غواړو. قَالَ لَوۡ اَنَّ لِيۡ بِكُمۡ قُوَّةً، حضرت لوط علیه السلام چه کله اولیدل چه معامله دَ اختیار نه بهر کیږی نو دَ خپلې بے وسئ اظهار ئے اوکړو وے فرمائیل کاش چه په ما کښې ستاسو دَ مقابلے طاقت وے یا کوم یو داسے پناه ګاه وے چه په هغې کښې دَ خپلو میلمنو سره په حفاظت کښې وے. لـه کله چه فرشتو دَ حضرت لوط علیه السلام تکلیف او پریشانی اُولیده له نو وے وئیل اے لوط دوئ را پریږده مونږ دَ الله فرشتے یو او دَ دوئ دَ عذاب ورکولو دَ پاره راغلی یو، تاسو شپه په شپه خپل اهل او عیال ځان سره کړئ بهر ته لاړشئ او چه ستاسو نه څوک هم روستو اُو نهٔ ګوری. اِلَّا امۡرَاَتَكَ دا دَ اَسۡرِ بِاَهۡلِكَ نه استثناء ده یعنی خپله ښځه ځان سره مهٔ بوځه ځکه چه هغه به هم دَ قوم سره هلاکیږی او هلاکت دَ پاره دَ صبا وخت مقرر شوے دے. اَلَيۡسَ الصُّبۡحُ بِقَرِيۡبٍ، دا دَ سوال مقدر جواب دے اَيَبۡقُوۡنَ اِلَى الصُّبۡحِ ایا دوئ به تر صبا پورے ژوندی وی یعنی اُوس ولے نهٔ هلاکیږی؟ وے فرمائیل ولے صبا نزدے نهٔ دے؟ یعنی صبا هم لرے نهٔ دے بے فکره شه دوی به صباله ضرور هلاکیږی. لـه کله چه دَ عذاب مقرر وخت راُورسیدو نو حضرت جبرئیل علیه السلام دَ قوم کلے دَ زمکے نه اُوویستل او اسمان ته ئے نزدے یوړل په زمکه ئے راګوذار کړل او دَ پورته پرے دَ خټو نه دَ جوړ کړے شوو کاڼو باران اُوشو. سِجِّيۡلٍ، کومه خټه چه غونډاری ترے جوړ کړے شی او دَ سخت کاڼی پشان اُوګرځی. مَّنۡضُوۡدٍ، لاندے باندے. مُّسَوَّمَةً، په دغه کاڼو باندے نښے لګیدلے وے دے د پاره چه معلومه شی چه دا دَ اسمان نه راغلی دی. یا مطلب دا دے چه په هر کاڼی باندے دَ هغه چا نوم لیکلے شوی وو چه دَ چا هلاکت دَ هغهٔ نه وُو.

وَإِلَىٰ مَدْيَنَ أَخَاهُمْ شُعَيْبًا ۚ قَالَ يَٰقَوْمِ

او لیږلو موږ مدین طرفته رور د هغوئی شعیب ؑ وے وئیل اے قوم زما

اعْبُدُوا اللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُ ۖ وَلَا تَنقُصُوا

بندګی کوئی د الله هیڅوک نشته ستاسو معبود سیوا د هغه نه او مه کموئی

الْمِكْيَالَ وَالْمِيزَانَ ۚ إِنِّي أَرَاكُم بِخَيْرٍ وَإِنِّي

پیمانه او تول زه ویئم تاسو لره خوشحاله مایه او زه

أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ مُّحِيطٍ ﴿٨٤﴾ وَيَٰقَوْمِ

ویریږم په تاسو باندے د عذاب د یوے ورځے راګیر وونکے نه . او اے قومه

أَوْفُوا الْمِكْيَالَ وَالْمِيزَانَ بِالْقِسْطِ ۖ وَلَا تَبْخَسُوا

پوره کوئی پیمانه او تول په انصاف او مه کموئی

النَّاسَ أَشْيَاءَهُمْ وَلَا تَعْثَوْا فِي الْأَرْضِ

خلقوته د هغوئی څیزونه . او مه خورئی په زمکه کښ

مُفْسِدِينَ ﴿٨٥﴾ بَقِيَّتُ اللَّهِ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن

فساد ف کوم رزق چه الله باقی پاتے کړیے بهتر دے هغه ستاسو د پاره که چرے

كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ۚ وَمَا أَنَا عَلَيْكُم بِحَفِيظٍ ﴿٨٦﴾

تاسو یئ ایمان والا ف اونه یم زه په تاسو باندے نګهبان .

قَالُوا يَٰشُعَيْبُ أَصَلَاتُكَ تَأْمُرُكَ أَن نَّتْرُكَ

وے وئیل اے شعیب ؑ آیا ستا مونځ کولو تاته دا حکم کوی چه پریږدو موږ هغه

مَا يَعْبُدُ آبَاؤُنَا أَوْ أَن نَّفْعَلَ فِي أَمْوَالِنَا

د کوم چه عبادت کولو ځموږ پلارنیکه یا پریږدو هغه کوم چه کوو موږ په خپلو مالونو کښ

مَا نَشَاءُ ۖ إِنَّكَ لَأَنتَ الْحَلِيمُ الرَّشِيدُ ﴿٨٧﴾

څه چه کول غواړو بیشکه ته خو ډیر باوقار او نیک عمل ئے ف

نکات: سے دا شپږمه قصه ده او اولے دعوے سره متعلق ده ۱۲ منه رح
سے دَ ما ء نه باطل معبودان مراد دی ۱۲

موضح قرآن ف نقل شوی دی چه دَ امانت په مال کښ به ئے خیانت
ف ۲ دَ جاهلانو دستور دے چه دَ گولو ۱۲ منه رحمه الله۔

نیکانو کار په خپله نشی کولے نو دَ هغوئ صفتونه کوی هم دا دَ کفر خصلت دَے ۱۲ منه

تفسیر: ۸۴ دا شپږمه قصه ده او دَ اولے دعوے سره متعلق ده او له دعوی چونکه مقصودی ده دَ دے وجے دے بان دے دَ شاهد اعاده اوکړے شوه
حضرت شعیب علیه السلام خپل قوم ته دَ توحید بیانولو نه مخکښ دا پیغام ورکړو۔
یٰقَوۡمِ اعۡبُدُوا اللّٰهَ مَا لَکُمۡ مِّنۡ اِلٰهٍ غَیۡرُهٗ، اے زما قومه صرف دَ الله عبادت کوئ او صرف هغهٔ ته او از کوئ دَ هغهٔ نه سیوا ستاسو څوک معبود او کار ساز نشته۔ دینه روستوئے هغوئ دَ نور وکوتاهیانو نه منع کړل۔
۸۵ دے خلقو په پیمانه او تول کښ کمے زیاتے کولو او دَ خلقو حقونه به ئے وهل، دَ دے وجے نه ئے اُوفرمائیل تجارت سره چه کومه نفع وی او دَ خلقو دَ حقونو نه بچ پاتے شی هغه دَ دے قسم بد دیانتئ دَ گټے نه بهتر ده او زیاته بابرکت ده په دے شرط چه تاسو ایمان راوړئ ځکه چه دَ ایمان نه بغیر په څهٔ څیز کښ څهٔ خیر او برکت نشته۔ ای ما یبقیه الله لکم بعد ایفاء الحقوق بالقسط اکثر برکة واحمد عاقبة مما تبقونه انتم لا نفسکم من فضل التطفیف بالتجبر والظلم (قرطبی ج ۹ ص ۸۸) ای بشرط ان تؤمنوا اذ مع الکفر لا خیر فی شیء اصلا (روح ج ۱۲ ص ۱۱۷) ۸۷ مَا یَعۡبُدُ، معبودان باطله اَنۡ نَّفۡعَلَ فِیۡۤ اَمۡوَالِنَا، دا په مَا یَعۡبُدُ باندے معطوف دے یا دَ دے عطف په اَنۡ نَّتۡرُكَ باندے دے، دے صورت کښ به حرف نفی مقدر وی. ای اصلٰوتك تأمرك ان لا نفعل الخ اِنَّكَ لَاَنۡتَ الۡحَلِیۡمُ الرَّشِیۡدُ، دائے په طور دَ استهزاء اووئیل یا په حقیقت کښ هم هغوئ حضرت شعیب علیه السلام ته حلیم او رشید او بُردبار یا هوښیار او سوچ سمجھ والا گڼړلو یعنی ته خو ډیر هوښیار او سوچ سمجھ والائے او بیا مونږ دَ پلار نیکه دین نه منع کوے او په خپلو مالونو کښ دَ خپلے خوښے تصرف کولو نه مونږ منع کوے

قَالَ یٰقَوۡمِ اَرَءَیۡتُمۡ اِنۡ کُنۡتُ عَلٰی بَیِّنَةٍ مِّنۡ
وے وئیل اے قومه خبر راکړئ ځکه که زه یم په حجت راکړے شوی وی یو هغه دَ طرفه
رَّبِّیۡ وَرَزَقَنِیۡ مِنۡهُ رِزۡقًا حَسَنًا ؕ وَمَاۤ اُرِیۡدُ
دَ رب خپل نه او هغهٔ رزق راکړو ما ته مخے روزی نیکه او زهٔ دا نهٔ غواړم چه روستو

أَنْ أُخَالِفَكُمْ إِلَىٰ مَا أَنْهَاكُمْ عَنْهُ ۚ إِنْ أُرِيدُ

پخپله هغه کار اوکړم کوم نه چه تاسو منع کوم منه زه نه خوښوم

إِلَّا الْإِصْلَاحَ مَا اسْتَطَعْتُ ۚ وَمَا تَوْفِيقِي إِلَّا

اصلاح څومره چه کیدے شی او نه دے توفیق زما مګر

بِاللَّهِ ۚ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ أُنِيبُ ﴿٨٨﴾ وَيَا قَوْمِ

د الله په مدد سره په هغه ما بهروسه کړیږی او د هغه طرفته زما رجوع ده ف. او اے قومه

لَا يَجْرِمَنَّكُمْ شِقَاقِي أَنْ يُصِيبَكُمْ مِثْلُ مَا

نه مه حاصلوئ تاسو سره د دشمنی په وجه دا چه اورسیږی تاسو ته (عذاب) څنګه چه

أَصَابَ قَوْمَ نُوحٍ أَوْ قَوْمَ هُودٍ أَوْ قَوْمَ صَالِحٍ ۚ

رسیدلے دے قوم نوح ته یا قوم هود ته یا قوم صالح ته

وَمَا قَوْمُ لُوطٍ مِنْكُمْ بِبَعِيدٍ ﴿٨٩﴾ وَاسْتَغْفِرُوا

او نه دے قوم لوط خو ستاسو نه څه لرے . او ښښنه اوغواړئ

رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوبُوا إِلَيْهِ ۚ إِنَّ رَبِّي رَحِيمٌ

د رب خپل نه او رجوع اوکړئ د هغه طرفته بیشکه زما رب دے مهربان

وَدُودٌ ﴿٩٠﴾ قَالُوا يَا شُعَيْبُ مَا نَفْقَهُ كَثِيرًا مِمَّا

محبت والا وے وئیل اے شعیب نه پوهیږو مونږ په ډیرو خبرو کومے

تَقُولُ وَإِنَّا لَنَرَاكَ فِينَا ضَعِيفًا ۖ وَلَوْلَا

چه ته کوے او مونږ تا وینو چه ته په مونږ کښی کمزورے ئے . او که چرته نه وے

رَهْطُكَ لَرَجَمْنَاكَ ۖ وَمَا أَنْتَ عَلَيْنَا بِعَزِيزٍ ﴿٩١﴾

ستا خپلوان نو مونږ به ته په کا نړو ویشتے وے او نشته ستا څه مونږ په نقر کښی هیڅ عزت

موضح قرآن

ف دا د الله والا عادت دے چه د خلقو ضد او انکار بد نه ګنړی او خپل پوره کوشش سره خلق پوهوی ۱۲ منه رح

فتح الرحمٰن

ف۱ یعنی حلال ستا سو خبره څنګه وا ورم ۱۲.
ف۲ یعنی نه غواړم چه د نیک کار حکم ورکړم او پخپله نې ونکړم

تفسیر: ۱۷۷ رِزْقًا حَسَنًا، نه مراد حکمت او نبوت دے زه ارګ ورم، زه د شرک او بد دیا نتیٔ نه تا سو په خپله خوښه نهٔ منع کوم بلکه زه د الله نبی یم او د هغهٔ په حکم سره دا شان کوم او څما سره د توحید په حق کښ او بد دیا نتیٔ په ردکښ واضح دلائیل هم موجود دی، زهٔ هیڅ بیوده خبره بے دلیله نهٔ کوم او دګوموکار ونو نه چه تا سو منع کوم هغے سره څما مقصد دا نهٔ دے چه تا سو خو د هغے نه منع کړم لیکن پخپله هغه اوکړم. مفسرینو کرامو عام طور باندے هم دا مضمون بیان کړے دے لیکن دے صورت کښ به د دے تعلق د مسئله توحید سره پاتے نهٔ شی ځکه چه د حضرت شعیب علیه السلام نور خلق د شرک نه منع کول او عیاذا بالله پخپله د هغے ارتکاب کول محال امر دے چه د هغے د دوئی باره کښ وهم هم نهٔ شی کیدلے. لیکن پیړنه او تول سره د نورو د حق تلفئ سره به د دے تعلق وی یعنی څما ارادہ نهٔ ده چه زه تا سو د نورو د حق تلفئ او بد دیا نتیٔ نه د دولت ګټلو نه منع کړم. لیکن پخپله هغه کار اوکړم.

حضرت شیخ رحمة الله علیه فرمائی: اِلٰی مَاۤ اَنْهٰىكُمْ حال دے ای حال کوني داعیا اِلٰی مَاۤ اَنْهٰىكُمْ، یعنی د توحید مسئله بیانولو او د بد دیانتیٔ نه منع کولو سره څما مقصد ستا سو مخالفت نهٔ دے بلکه زهٔ خو حتی الوسع ستا سو اصلاح او خیرخواهی غواړم لیکن څما د دے خواهش پوره کیدل لو توفیق د الله تعالٰی په اختیار کښ دے او دا مقصد محض د الله په اراده سره او تائید سره پوره کیدے شی. په ټولو معاملاتو کښ څما اعتماد په الله تعالٰی دے او په ټولو مهماتو کښ زه د طرف ته رجوع کوم دا شان به د حضرت شیخ رحمة الله علیه په تفسیر باندے د دوا پرو منځ کوم مسئلو سره متعلق شی.

۸۹ څما قومه تا سو څما په مخالفت کښ دومره کوشش مه کوئی څما مخالفت به تا سو د قوم نوح یا قوم هود، قوم صالح او قوم لوط پشان د الله د عذاب او د هغهٔ د قهر او غضب مستحق اونهٔ ګرځوی. وَاسْتَغْفِرُوْا رَبَّكُمْ الخ سرکشی مه کوئی د خپلو تیرشوو ګناهونو معافی د الله نه اوغواړئی او د الله توحید قبول کړئی هغه به ستا سو ټول ګناهونه معاف کړی ځکه چه هغه مهربان دے او د توبه کوونکو سره محبت کوونکے دے.

۹۱ د حضرت شعیب علیه السلام دے حکیمانه او د خیرخواهئ نه ډک تبلیغ په قوم باندے هیڅ اثر اونهٔ کړو او د عناد نه ئے اوونئیل چه اے شعیب ستا خبرے بالکل بے معنے دی مونږ دے باندے د پوهیدلو نه

قامربوا ویا دلرئ چه تاسو مونږ کښ کمزورې بې اویواځې څمونږ دَ مقابلے طاقت نهٔ لرئ کهٔ چرے مونږ کښ ستاسو دَ قبیلے لحاظ نهٔ وے نو مونږ به تاسو پخوا وژلے وے. دَ حضرت شعیب علیه السلام دَ خاندان خلقو مشرکانو سره هم مسلك وو کَ دے وجے نهٔ ئے دَ هغوئ لحاظ اوکړو. وکان رهطه من اهل ملتهم فلذلك اظهروا المیل الیهم والاکرام لهم (مدارك ج ۲ صفحہ).

قَالَ يٰقَوْمِ اَرَهْطِيْٓ اَعَزُّ عَلَيْكُمْ مِّنَ اللّٰهِ ؕ

وے وئیل اے قومه څه ایا ځما دَ خپلوانو دباؤ زیات دے په تاسو دَ الله تعالیٰ نه

وَاتَّخَذْتُمُوْهُ وَرَآءَكُمْ ظِهْرِيًّا ؕ اِنَّ رَبِّيْ بِمَا

او اُو غورځولو تاسو هغه روستو دَ شا نه هیرولو سره بیشکه ځما درب کوم چه

تَعْمَلُوْنَ مُحِيْطٌ ﴿۹۲﴾ وَيٰقَوْمِ اعْمَلُوْا عَلٰى مَكَانَتِكُمْ

تاسو کوئ په قابو کښ دی. او اے ځما قومه کار کوئ په خپل ځائے

اِنِّيْ عَامِلٌ ؕ سَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ۙ مَنْ يَّاْتِيْهِ

زهٔ کار کوم وراندے به معلومه کړئ چه په چانډے راځي

عَذَابٌ يُّخْزِيْهِ وَمَنْ هُوَ كَاذِبٌ ؕ وَارْتَقِبُوْٓا

عذاب رسوا کوئ نکے او څوك دے دروغژن او انتظار کوئ

اِنِّيْ مَعَكُمْ رَقِيْبٌ ﴿۹۳﴾ وَلَمَّا جَآءَ اَمْرُنَا نَجَّيْنَا

زهٔ هم ستاسو سره انتظار کوم. او کله چه راغے شه حکم څمونږ بچ کړو مونږ

شُعَيْبًا وَّالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗ بِرَحْمَةٍ مِّنَّا

شعیب او چا چه ایمان راوړے وو دَ هغهٔ سره مهربانئ خپلے سره

وَاَخَذَتِ الَّذِيْنَ ظَلَمُوا الصَّيْحَةُ فَاَصْبَحُوْا

او اونیولو ظالمانو لره سخت آواز بیا صبا پاتے شول دے

فِيْ دِيَارِهِمْ جٰثِمِيْنَ ﴿٩٤﴾ كَاَنْ لَّمْ يَغْنَوْا

په خپلو کورونو کښې پړمخې پراته. لکه چه کله هم نه وو اوسیدلی

فِيْهَا ۭ اَلَا بُعْدًا لِّمَدْيَنَ كَمَا بَعِدَتْ

هلته واورئ لعنت دے په اهل د مدین لکه چه لعنت شو یو دے

ثَمُوْدُ ﴿٩٥﴾ وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا مُوْسٰى بِاٰيٰتِنَا وَسُلْطٰنٍ ع

په ثمودیانو باندې. او بیشکه لیږلے وو مونږ موسیٰ ۸۲ خپلو نښانو سره او په سند

مُّبِيْنٍ ﴿٩٦﴾ اِلٰى فِرْعَوْنَ وَمَلَا۟ئِهٖ فَاتَّبَعُوْٓا

واضح ورکولو سره. فرعون ته او د هغهٔ سردارانو ته بیا هغوئ لاړل

اَمْرَ فِرْعَوْنَ ۚ وَمَآ اَمْرُ فِرْعَوْنَ بِرَشِيْدٍ ﴿٩٧﴾

په حکم د فرعون باندې او نهٔ ده خبره د فرعون څهٔ د کار.

**نکات:** ۸۲ او ومه قصه ده او د دریمے دعوے سره متعلق ده.

**تفسیر:** ۸۰ حضرت شعیب علیه السلام د قوم په جواب کښې اُوفرمائیل
څما قومه دا خو مره د ناپوهئ خبره ده چه څما قبیله ستاسو په نزد د الله تعالیٰ
نه هم زیاته معززه او محترم ده تاسو څما د قبیلے لحاظ کوئ لیکن د الله تعالیٰ
لحاظ نهٔ کوئ چه زهٔ د هغهٔ پیغمبر یم او تاسو د الله تعالیٰ احکامات شا ته
غورځولی دی. اِنَّ رَبِّيْ بِمَا تَعْمَلُوْنَ مُحِيْطٌ، لیکن یاد لرئ چه ستاسو هېڅ یو
فعل د الله د علم نه بهر نهٔ دے د دے وجے نه هغه به تاسو ته ستاسو د هر
فعل پوره پوره سزا درکوي. وَيٰقَوْمِ اعْمَلُوْا عَلٰى مَكَانَتِكُمْ، بس تاسو په
خپل مؤقف باندے قائم اوسیږئ د دے نتیجه اُوګورئ زهٔ هم په خپل
مؤقف باندے قائم یم نزدے ده چه اُوبه ګورئ څوک دروغژن دے او څوک
رسواکوونکی عذاب سره هلاکیږي.

۸۱ آخر په مقرره وعده کړے شوی وخت باندے د الله عذاب راغے. حضرت
شعیب علیه السلام او د هغهٔ مؤمنانو ملګروته الله تعالیٰ نجات ورکړو او تمام
مشرکان یو آسمانی کړنګیدونکی عذاب سره هلاک کړے شول هغوئ په
خپلو کورونو کښې په ګونډو باندے پړمخې داسے مړهٔ پراته وو لکه چه
هغوئ چرته هم دے کورونو کښې نهٔ وو اباد شوی.

۸۲ دا او ومه قصه ده او د دریمے دعوے سره متعلق ده. د توحید

مسئله پیش کولو باندے به د کافرانو او مشرکانو د طرفه نه تکلیفونه راځی هغه په صبر او استقلال سره برداشت کړئ ځکه چه حضرت موسی علیه السلام د فرعون او د هغهٔ د قوم نه تکلیفونه برداشت کړل د حضرت موسی او هارون علیهم السلام او فرعون واقعه په سورهٔ اعراف کښ ع ۱۰ تا ۲۰ تفصیل سره تیره شوے ده ۱۲.

يَقْدُمُ قَوْمَهٗ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ فَاَوْرَدَهُمُ النَّارَ

مخکښ به ځی د خپل قوم نه په ورځ د قیامت بیا به ورسوی هغوی اور ته

وَبِئْسَ الْوِرْدُ الْمَوْرُوْدُ ﴿۹۸﴾ وَاُتْبِعُوْا فِیْ هٰذِهٖ

او بد ځائے دے دغه کوم ته چه ورسیدل. او د روستو نه لګیدلے دے پسے دنیا کښ

لَعْنَةً وَّيَوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ بِئْسَ الرِّفْدُ الْمَرْفُوْدُ ﴿۹۹﴾

لعنت او په ورځ د قیامت به هم وی ډیر بد دے انعام چه کوم هغوی ته ملاؤ شو

ذٰلِكَ مِنْ اَنْۢبَآءِ الْقُرٰى نَقُصُّهٗ عَلَيْكَ مِنْهَا

دا حالات لر شان دی کلی د کلو چه اورووئے مونږ تا ته بعضې د هغے نه تراوسه

قَآئِمٌ وَّحَصِيْدٌ ﴿۱۰۰﴾ وَمَا ظَلَمْنٰهُمْ وَلٰكِنْ ظَلَمُوْٓا

قائم دی او د ځنو بیخ پریکړے شوے دے. او مونږ په هغوی ظلم او نکړو لیکن ظلم اوکړو

اَنْفُسَهُمْ فَمَآ اَغْنَتْ عَنْهُمْ اٰلِهَتُهُمُ الَّتِىْ

هغوی په خپلو ځانونو باندے. بیا په کار رانغلل د دوئی معبودان کوم چه ئے

يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مِنْ شَیْءٍ لَّمَّا جَآءَ

رابلل سیوا د الله نه په هیڅ څیز کښ کوم وخت چه راغے

اَمْرُ رَبِّكَ ؕ وَمَا زَادُوْهُمْ غَيْرَ تَتْبِيْبٍ ﴿۱۰۱﴾

حکم ستا د رب او زیات ئے نکړو د هغوی په حق کښ سیوا د هلاکت نه.

وَكَذٰلِكَ اَخْذُ رَبِّكَ اِذَآ اَخَذَ الْقُرٰى وَ

او هم دا شان دی نیول د رب ستا کله چه نیسی کلی او

هِيَ ظَالِمَةٌ ۚ إِنَّ أَخْذَهُ أَلِيمٌ شَدِيدٌ ۝ إِنَّ فِي

هغوئ ظلم کونکي وي بیشکه د هغه نیول دردناک سخت دی بیشکه په

ذَٰلِكَ لَآيَةً لِّمَنْ خَافَ عَذَابَ الْآخِرَةِ ۚ ذَٰلِكَ

دے خبره کښ نښه ده هغه چا له چه ویریږي د آخرت د عذاب نه هغه یو

يَوْمٌ مَّجْمُوعٌ لَّهُ النَّاسُ وَذَٰلِكَ يَوْمٌ مَّشْهُودٌ ۝

ورځ ده چه په هغې کښ جمع وي ټول خلق او هغه ورځ ده د ټولو پیش کیدو.

**موضح قرآن** ف۱ قائم دے او پریکړے شوے دے یعنی اباد دے او روان شوے دے.

**تفسیر:** ۸۳ تخویف اُخروی دے. د قیامت په ورځ به فرعون د جهنم طرف ته قیادت کوی کوم ځائے چه هغوئ داخلیږي هغه ځومره بد دے یعنی د جهنم اور. وَأُتْبِعُوا فِي هَٰذِهِ الدُّنْيَا، دا دُنیاوی او اُخروی تخویف دے په دُنیا کښ هم په هغه ټولو باندے لعنت دے او په اخرت کښ به هم هغوئ د الله د رحمت نه محروم وي دا کومه تحفه چه ورکړے شوه ځومره بد ده. ۸۴ دا ټولو ذکر شوو قصو طرف ته اشاره ده یعنی مونږ دا ټول مشرک قومونه هلاک کړل لیکن د دوئ خیال کړے شوو معبودانو او دځان نه جوړکړے شوو کارسازانو د دوئ هیڅ امداد اُونکړو او په سخت وخت کښ د دوئ په کار رانغلل لکه چه په سورهٔ احقاف کښ دی فَلَوْلَا نَصَرَهُمُ الَّذِينَ اتَّخَذُوا مِن دُونِ اللَّهِ قُرْبَانًا آلِهَةً، دا شان دا جمله معترضه ده او د حضرت نبی کریم صلی الله علیه وسلم د صداقت دلیل دے.

۸۵ دا قومونه مونږ هلاک کړل مونږ په دوئ ظلم اُونکړو بلکه هغوئ شرک اوکړو په ځانونو ئے پخپله ظلم اوکړو او بیا چه کله عذاب راغے نو چه هغوئ کوم خپل کارسازی ګرځولی وو او رابلل به ئے هغوئ نه څوک هم د دوئ په کار رانغلل. وَكَذَٰلِكَ أَخْذُ رَبِّكَ الخ دا تخویف دنیوی دے إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً الخ د تیر شوو قومونو تباهئ کښ اخرت نه ویریدونکو د پاره عبرت دے په دغه ورځ به ټول خلق حساب کتاب د پاره جمع وي او ټول به موجود وي هیڅوک به غیر حاضر نهٔ وي.

وَمَا نُؤَخِّرُهٗۤ اِلَّا لِاَجَلٍ مَّعْدُوْدٍ ﴿۱۰۴﴾ يَوْمَ يَاْتِ

او دا کوم روستو والے چه مونږ کوو نو د یو وعدے دپاره چه مقرر ده. کومه ورځ چه راشي

لَا تَكَلَّمُ نَفْسٌ اِلَّا بِاِذْنِهٖ ۚ فَمِنْهُمْ شَقِيٌّ وَّ

خبرے به نۀ کوی هیڅ یو نفس مګر په حکم د الله سره نو د دوی نه ځنی بدبخت وی او ځنی

سَعِيْدٌ ﴿۱۰۵﴾ فَاَمَّا الَّذِيْنَ شَقُوْا فَفِي النَّارِ لَهُمْ

نیک بخت. نو چه کوم خلق بدبخت وی نو هغه به په اور کښې هغوئ به

فِيْهَا زَفِيْرٌ وَّشَهِيْقٌ ﴿۱۰۶﴾ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا مَا دَامَتِ

په هغے کښې چغے او سوری وهی (لکه د خرو). همیشه به وی په هغے کښې ترڅو پورے چه وی

السَّمٰوٰتُ وَالْاَرْضُ اِلَّا مَا شَآءَ رَبُّكَ ۚ اِنَّ

آسمان او زمکه لیکن کوم چه اوغواړی ستا رب څۀ بیشکه

رَبَّكَ فَعَّالٌ لِّمَا يُرِيْدُ ﴿۱۰۷﴾ وَاَمَّا الَّذِيْنَ سُعِدُوْا

ستا رب کوونکے دے څۀ چه اوغواړی ف او کوم خلق چه نیک بخت وی څه

فَفِي الْجَنَّةِ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا مَا دَامَتِ السَّمٰوٰتُ

نو په جنت کښې به همیشه اوسیږی ترڅو پورے چه آسمان وی

وَالْاَرْضُ اِلَّا مَا شَآءَ رَبُّكَ ۚ عَطَآءً غَيْرَ

او زمکه لیکن کوم چه اوغواړی ستا رب بخشش دے بے

مَجْذُوْذٍ ﴿۱۰۸﴾ فَلَا تَكُ فِيْ مِرْيَةٍ مِّمَّا يَعْبُدُ

انتهاء ف. نو ته مه ګیرږه شه په دهوکه کښې د هغے څیزونو نه د کوم چه عبادت کوی

هٰۤؤُلَآءِ ۚ مَا يَعْبُدُوْنَ اِلَّا كَمَا يَعْبُدُ اٰبَآؤُهُمْ

دا خلق هیڅ نۀ دی چه عبادت کوی لیکن داسے لکه چه عبادت به د دوی پلارانو نیکونو

مِّنْ قَبْلُ ۚ وَاِنَّا لَمُوَفُّوْهُمْ نَصِيْبَهُمْ غَيْرَ

د دینه مخکښې او مونږ ورکوونکی یو دوئ ته د دوئ حصه یعنی عذاب بغیر

ع مَنْقُوصٍ ﴿۱۰۹﴾ وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوسَى الْكِتٰبَ فَاخْتُلِفَ

دَ نقصان نه . او بیشکه مونږ ورکړے موسیٰ ته کتاب نو په بیا اختلاف او کړے شو

فِيهِ ۚ وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِنْ رَّبِّكَ

په هغې کښې او که چرے نه وے یو لفظ چه مخکښې فرمائیلی وو ستا رب ستا

لَقُضِيَ بَيْنَهُمْ ۚ وَإِنَّهُمْ لَفِي شَكٍّ مِّنْهُ مُرِيبٍ ﴿۱۱۰﴾

نو فیصله به شوې وه په دوئی کښې او دَ دوئی په دیکښې شبه ده چه زړونه ئے نه مطمئن کیږی

**نکات**: ۱ تخویف اُخروی ۱۲. ۲ بشارت اُخروی ۱۲ ۳ دا دَ ځلورمے دعوے سره متعلق ده ۱۲. ۴ دَ مقدر سوال جواب ۱۲. ۵ دا هم دَ مقدر سوال جواب دے ۱۲.

**موضح قرآن**

ف ۱ دے کښې دوه معنے کیدے شی یوه دا چه اُوسیږی به په اُور کښې څو مره زمانه چه پاتے شوی دی اسمانونه او زمکه په دُنیا کښې. لیکن څومره چه دَ دینه زیات نور اُوغواړی الله هغه بس هغه ته معلومه ده. دویمه دا چه اُوسیږی به په اُور کښې تر څو چه پاتے وی اسمان او زمکه دَ دے دُنیا یعنی همیشه لیکن کوم چه اُوغواړی ستا رب نو موقوف به ئے کړی لیکن وے غوښتل چه موقوف به نه وی

**فائده**: دے (اِلَّا مَا شَاۤءَ رَبُّكَ) وئیلو سره فرق ظاهر شو چه دَ الله همیشه پاتے کیدل لو کښې او دَ بنده همیشه پاتے کیدل لو سره دا خبره (قید) اُولګیدو چه کله الله تعالیٰ اُوغواړی نو هغه وخت ئے الله تعالیٰ فناء کولے شی ۱۲ منه رحمة الله.

ف ۲ یعنی کتاب مونږ ورکړے وو لاړ بنو ونے دَ پاره خلقو په هغې کښې اختلاف اُوکړو

**فتح الرحمٰن**

ف ۱ یعنی په جنت او دوزخ کښې دَ پاتے کیدو موده دَ اسمانونو او دَ زمکے دَ مودے پشان ده په دنیا کښې او زیاتوالے دَ الله په مشیت کښې دے او دَ چا په فهم کښې دَ هغې اعتبار نشی کیدلے. دَ بیان حاصل دوام دے په ابلغ طریقے سره ۱۲.

**تفسیر**: ۸۶ دَ قیامت یوه ورځ مقرر ده دَ هغې نه مخکښې نه راځی. يَوْمَ يَاْتِ لَا تَكَلَّمُ نَفْسٌ الخ او کله چه په خپل وخت باندے قیامت راځی هغه ورځ به هیڅ یو سړے دَ الله دَ حکم او اجازت نه بغیر هیڅ نه شی وئیلے. فَاَمَّا الَّذِيْنَ شَقُوْا تخویف اُخروی دے زَفِيْرٌ، دَ خر ابتدائی او بنکته آواز. شَهِيْقٌ، دَ خر اُوچت آواز مَا دَامَتِ السَّمٰوٰتُ وَالْاَرْضُ، دا دوام او عدم انقطاع عذاب نه کنایه ده ځکه چه دا زمکه او اسمان خو به هلته بالکل موجود نه وی واجری ذٰلك علیٰ

عادة العرب فی الاخبار عن دوام الشئ وتابیده (قرطبی ج ۹ ص۱۰۰).

۸۷ اِلَّا په معنیٰ دَ سِوِی دے لکه چه وئیلے شی لَکَ علیّ الفان الا الالف التی کانت یعنی سواها. دا قول دَ امام زجاج. فراء وسجاوندی نه منقول دے. او مطلب دا دے چه هغهٔ به په جهنم کښ همیشه وی او دا سزا دَ هغې نه علاوه ده کومه چه دَ دے نه زیاته دَ الله پاک سره دَ هغوئی دَ پاره مقرر ده. والمعنی سوی ما شاء ربك من الزیادة التی لا اخرلها (روح ج ۱۲ ص۱۴۰). دَ دے مثال دا دے چه یو سړے خالص دَ عمری قید سزا برداشت کوی او دویم سړے عمری قید سره دَ مشقت نه ۱۲.

۸۸ دا بشارت اُخروی دے دَ مَا دَامَتِ السَّمٰوٰتُ وَالْاَرْضُ او اِلَّا مَا شَآءَ رَبُّكَ تفسیر دَ مذکوره بالا پشان دے. ۸۹ دا دَ ټولو دعوے سره متعلق دے دَ توحید مسئله عقلی او نقلی دلائلو سره واضح کړے شوید ده او په هغې کښ دَ شک او شبهے گنجائش نهٔ دے پاتے شوے دَ دے وجے نه دَ توحید حق کیدو او دَ شرک باطل کیدو کښ څهٔ قسم شک کول نهٔ دے پکار. مَا یَعْبُدُوْنَ الخ دے مشرکانو سره هیڅ دلیل نشته هغوئی محض دَ خپل پلار نیکهٔ تابعدارئ په پټو سترګو کوی. څنګه چه هغوئی بغیر دَ دلیل نه معبودانِ باطله کارساز او کنټرول والا به ئے او دَ هغوئی عبادت به ئے کولو. داشان دوئی هم کوی نهٔ دَ هغوئی سره دلیل وو او نهٔ دَ دوئی سره دلیل شته. ۹۰ دا سوال مقدر جواب دے. سوال دا دے چه قرآن کهٔ واقعی دَ الله کلام دے نو په دے کښ اختلاف ولے اوکړے شو بعضو ولے اونهٔ منلو. جواب ورکړے شو چه دَ موسیٰ علیه السلام کتاب تورات خو واقعی دَ الله کلام متیٰ حال دا دے چه دَ هغهٔ باره کښ هم اختلاف اوکړے شو څنو ومنلو او څنو اونهٔ منلو دے کښ نبی علیه السلام ته تسلی ده. امن به قوم وکفر به قوم کما اختلف فی القرآن وهو تسلیة لرسول الله صلی الله تعالیٰ علیه وسلم (مدارک ج ۲ ص۱۵۱).

۹۱ دا دَ سوال مقدر جواب دے مشرکانو اووئیل چه کهٔ چرے مونږ ئے نهٔ منو نو څو مونږ نیول ولے نهٔ کیږی. جواب ورکړے شو مواخذه داوعذاب دَ پاره وخت مقرر دے هغهٔ به په خپل وخت باندے راځی کهٔ چرے هغه دَ پاره وخت مقرر نهٔ وے نو ډیر مخکښ به فیصله شوے وے او هغوئی به ډیر مخکښ تباه شوے وے ۱۲.

وَاِنَّ كُلًّا لَّمَّا لَيُوَفِّيَنَّهُمْ رَبُّكَ اَعْمَالَهُمْ ۭ اِنَّهٗ

او خامخا خلق چه دی ټول لکه چه وخت راځے پوره به ورکړی رب ستا هغوئی ته دَ هغوئی اعمال هغهٔ ته

بِمَا يَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ﴿١١١﴾ فَاسْتَقِمْ كَمَا أُمِرْتَ وَمَنْ
کوم چه هغوی کوی ټول هر څه معلوم دی. نه برابر لاړ شه لکه چه تا ته حکم او شو تا او هغه چه
تَابَ مَعَكَ وَلَا تَطْغَوْا إِنَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿١١٢﴾
توبه او کړه ستا سره او د حد نه مه تیرېږئ بیشکه هغه کوم څه چه تاسو کوئ وینی
وَلَا تَرْكَنُوا إِلَى الَّذِينَ ظَلَمُوا فَتَمَسَّكُمُ النَّارُ
او مه مائیل کیږئ د هغه چا طرفته څوک چه ظالمان دی بیا به تاسو ته اور رسیږی او
وَمَا لَكُمْ مِنْ دُونِ اللَّهِ مِنْ أَوْلِيَاءَ ثُمَّ
او نشته ستاسو د پاره سیوا د الله نه څوک مدد ګار بیا به چرته هم
لَا تُنْصَرُونَ ﴿١١٣﴾ وَأَقِمِ الصَّلَاةَ طَرَفَيِ النَّهَارِ
نه بیا مومئ امداد او قائم کړه لمونځ په دوه طرفونو د ورځې کښ
وَزُلَفًا مِنَ اللَّيْلِ إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ
او په څه حصو کښ د شپې. بیشکه نیکی لرې کوی
السَّيِّئَاتِ ذَلِكَ ذِكْرَى لِلذَّاكِرِينَ ﴿١١٤﴾ وَاصْبِرْ فَإِنَّ
بدئ دا یاداشت دے یادلرونکو د پاره او صبر کوه بیشکه
اللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجْرَ الْمُحْسِنِينَ ﴿١١٥﴾ فَلَوْلَا كَانَ
الله تعالی نه ضائع کوی ثواب د نیکئ کونکو ولے نه وو
مِنَ الْقُرُونِ مِنْ قَبْلِكُمْ أُولُو بَقِيَّةٍ
په هغه جماعتونو کښ کوم چه ستاسو نه مخکښ وو داسے خلق چه په هغوی کښ نیکئ اثر پاتے
يَنْهَوْنَ عَنِ الْفَسَادِ فِي الْأَرْضِ إِلَّا قَلِيلًا
شوے چه منع ئے کولے د فساد نه په ملک کښ لیکن لږ
مِمَّنْ أَنْجَيْنَا مِنْهُمْ وَاتَّبَعَ الَّذِينَ
کوم چه مونږ بچ کړل د هغوی نه او لاړل هغه خلق

ظَلَمُوْا مَآ اُتْرِفُوْا فِيْهِ وَكَانُوْا مُجْرِمِيْنَ ﴿١١٦﴾

چه ظالمان وو کوم کښې چه عیش کښې وو ځوئې په هغه لارې ملـا او وو ګناه ګار ملـ .

**نکات:** ملـ تخویف أخروی ١٢. ملـ په تیر شوؤ مضمونو باندے مرتب پنځه أمور، دا اول امر دے ١٢. ملـ دویم امر ١٢. ملـ دریم امر ١٢. ملـ څلورم امر ١٢. ملـ پنځم امر ١٢. ملـ لَوْلَا په معنٰی دَ هلّا دے ١٢.

**موضح قرآن** ف نیکئ لرے کوی بدئ دریو طریقو سره څوک چه نیکئ اوکړی دَ هغهٔ بدئ معاف شی او څوک چه نیکئ شروع کړی هغې سره بدئ پریږدی او کوم ملک کښې چه دَ نیکو رواج وی هلته هدایت زیات شی او ګمراهی ختم شی. لیکن دریوارو ځایونو کښې وزن غالب پکار دے چه څومره خیرے وی هغه هومره صابُن ١٢ منه رحمه الله.

ف٢ یعنی چه نیکان خلق غالب وے نو هغهٔ به نهٔ هلاکیدلے لرشان وو نو هغه بچ شول ١٢

**فتح الرحمٰن** ملـ یعنی دَ دنیا په لذاتو کښې مشغول شول ١٢.

**تفسیر:** ٨٦ دا تخویف أخروی دے دَ دے دوه ترکیبونه دی ① كُلًّا اسم دَ اِنَّ او لَمَّا دَ پارهٔ شرط محذوف دے. ای یبعثهم او لَيُوَفِّيَنَّهُمْ جزاء دے او شرط او جزاء مجموعه دَ اِنَّ خبر دے او مطلب دا دے چه بیشکه چه کله هر یو الله ته راپیسی نو پوره پوره جزاء به ورکوی ② لَيُوَفِّيَنَّهُمْ شرط او اِنَّهٗ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ دَ دے جزاء ده او مجموعه شرط او جزاء دَ اِنَّ خبر دے یعنی بیشکه چه هر یو ته الله جزاء ورکوی نو هغه به د دوئ دَ عمل نه خبردار وی.

٨٧ په سورت کښې دَ ابتداء نه تر دے ځایه دَ څلورو وارو دعوؤ ذکر کولو او دَ هغې سره متعلق أووه قصے بیانولو نه روستو په مذکوره بالا ټولو مضامینو باندے ئے پنځه أمور مرتب کړهٔ ① فَاسْتَقِمْ كَمَآ اُمِرْتَ، څنګه چه تاته او ایمان والا نه حکم ورکړے شوے دے په هغې باندے ته او ستا منګری عمل کوونکی أوسیږئ. ② وَلَا تَطْغَوْا. او دَ الله دَ حدودو نه چه دَ سرد وینتهٔ مقدار هم انحراف أونکړئ. ③ وَلَا تَرْكَنُوْٓا اِلَى الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا، دَ الله حدود ماتونکو او دَ الله دَ توحید باغیانو طرف ته چه ستاسو په زړونو کښې معمولی شان میلان هم پیدا نهٔ شی ګنی نو تاسو به هم دَ هغوئ سره په عذاب کښې شریک شئ. وَمَا لَكُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ مِنْ اَوْلِيَآءَ جمله دَ فَتَمَسَّكُمْ دَ ضمیر منصوب نه حال دے واو للحال من مفعول فتمسکم النار (مظهری ج ٥ ص١٢٣) ظالمانو ته دَ دئ میلان کولو په وجه به تاسو هم په عذاب کښې ګرفتار شئ. حال دا دے چه دغه وخت به ستاسو هیڅوک حامی او امدادی نهٔ وی.

٨٨ څلورم امر دے یعنی دَ پنځه وخته مونځ پابندی کول امام مجاهد فرمائی

طَرَفَیِ النَّهَارِ نه دَ صبا . ماسپښین او ماځیګر مونځونه مراد دی اَوْزُلَفًا مِّنَ الَّیْلِ
نه دَ ماښام او ماسخوتن رمظهری وروح) اِنَّ الْحَسَنٰتِ یُذْهِبْنَ السَّیِّاٰتِ الحسنات
اعمال حسنه، مونځونه وغیره دَ ګناهونو کفاره وی لکه چه په صحیح احادیثو
کښ راغلی دی چه دَ یو مانځه نه بل مانځه پورې مینځ کښ چه کوم وړه ګناهونه
کیږی هغه معاف کیږی . فی الحدیث ان الصلوات تکفر ما بینها ای فی یومها
اذا اجتنبت الکبائر فی ذٰلك الیوم (روح ج ۱۲ ص۱۵۱) حضرت شیخ قدس سره
فرمائی دَ سیئات نه سختئ او مصیبتونه مراد دی . داشان په سیئات کښ
دَ صغیره ګناهونو تاویل کولو ته ضرورت نهٔ پیښیږی . سیئات نه دَ ګناهو اخستو
په صورت کښ به دا صغیره ګناهونو پورې خاص کول وی ځکه چه ګناهِ
کبیره صرف توبه سره معاف کیږی . ⑤ وَاصْبِرْ الخ او دَ صبر او همت نه کار
اخله او محض دَ الله دَ رضا طلب کولو دَپاره اخلاص سره تبلیغ کوه الله تعالی
دَ مخصلینو اجر نهٔ ضائع کوی .

۹۵ لَوْلَا په معنیٰ دَ هَلَّا دے تحضیض دَپاره یعنی ستاسو نه مخکښ قرون
کښ چه کوم خلق دَ عقل او رائے والا وو او دَ دین رهنما وو هغوئی نورو خلق
دَ کفر او شرک نه ولے منع نهٔ کړل چه په زمکه کښ دَ شر او فسا دا صلی جرړه
ده . بقیة ای اصحاب طاعة ودین وعقل وبصر (قرطبی ج ۹ ص۱۱۳) اِلَّا قَلِیْلًا
استثناء منقطع ده یعنی بیشکه ډیرلږ خلق دا سے ضرور وو چه مونږ دَ عذاب
نه بچ کړل او باقی سرکش قوم مونږ هلاک کړل .

۹۶ مشرکان په دُنیاوی مال او متاع کښ مصروف او په نفسانی لذات او
خواهشاتو کښ ورننوتلی وو دَ دے وجے نه هغوئی په شمار دَ یو خو اصلاح
کوونکو یوه خبره هم نهٔ اوریدله .

وَمَا كَانَ رَبُّكَ لِيُهْلِكَ الْقُرٰى بِظُلْمٍ وَّ

او هرګز دا سے نهٔ دے ستا رب ﷺ چه هلاک کړی کلی ظلم سره او

اَهْلُهَا مُصْلِحُوْنَ ﴿۱۱۷﴾ وَلَوْ شَآءَ رَبُّكَ لَجَعَلَ

دَ هغے خلق نیک وی اوکهٔ چرے غوښتے وے ستا رب ګرځولی به ئے دَ

النَّاسَ اُمَّةً وَّاحِدَةً وَّلَا یَزَالُوْنَ مُخْتَلِفِیْنَ ﴿۱۱۸﴾

خلق ﷺ په یوه لار باندے او همیشه به وی په اختلاف کښ ۹۹

إِلَّا مَن رَّحِمَ رَبُّكَ ۚ وَلِذَٰلِكَ خَلَقَهُمْ ۗ وَتَمَّتْ

لیکن چا باندې چې رحم اوکړی ستا رب او دې دپاره ئې پیدا کړی دی او پوره شوه

كَلِمَةُ رَبِّكَ لَأَمْلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنَ الْجِنَّةِ

خبره ستا د رب چې ضرور به ډکوم دوزخ د پیریانو

وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ ﴿۱۱۹﴾ وَكُلًّا نَّقُصُّ عَلَيْكَ

او انسانانو ټولو نه او ټول خیزونه بیانوو مونږ تا ته

مِنْ أَنبَاءِ الرُّسُلِ مَا نُثَبِّتُ بِهِ فُؤَادَكَ ۚ

د احوالو د رسولانو نه چې هغې سره تسلي ورکړو ستا زړه ته

وَجَاءَكَ فِي هَٰذِهِ الْحَقُّ وَمَوْعِظَةٌ وَذِكْرَىٰ

او راغله تا ته په دې سورت کښې تحقیقي خبره او نصیحت او یادداشت

لِلْمُؤْمِنِينَ ﴿۱۲۰﴾ وَقُل لِّلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ اعْمَلُوا

ایمان والو دپاره - او اووایه هغو ته کله څوک چې ایمان نه راوړی کار کوئ

عَلَىٰ مَكَانَتِكُمْ إِنَّا عَامِلُونَ ﴿۱۲۱﴾ وَانتَظِرُوا إِنَّا

په خپل ځائے باندې مونږ هم کار کوو او انتظار کوئ مونږ هم

مُنتَظِرُونَ ﴿۱۲۲﴾ وَلِلَّهِ غَيْبُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ

انتظار کوونکي یو. او الله سره ده پټه خبره د اسمانونو او د زمکې

وَإِلَيْهِ يُرْجَعُ الْأَمْرُ كُلُّهُ فَاعْبُدْهُ وَتَوَكَّلْ

او د هغهٔ طرف ته رجوع ده د کارونو ټول د هغهٔ بندګي کوئ او اعتماد اوکړئ

عَلَيْهِ ۚ وَمَا رَبُّكَ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ ﴿۱۲۳﴾ ع

په هغهٔ باندې او نهٔ دې رب ستا ناخبره کوم کارونو چې تاسو کوئ.

نکات: ۱ تخویف دنیوی دے ۱۲. ۲ ای ولکن لیبلوکم ۱۲. ۳ دا د ټولو تیرشوو قصو سره متعلق دے ۱۲. ۴ زجر دے سره د تخویف اخروی نه ۱۲

ﻪ اعاده د دعوی ثانیه ۱۲. ﮏ د اولې دعوے اعاده ده ۱۲. ﮏ د دریمے دعوے اعاده ۱۲. ﮏ د څلورمے دعوے اعاده ۱۲-

**تفسیر.** ﮐ۹ ﻪ تخویف دنیوی دے، دُنیا کښ چه کوم قومونه عذاب سره تباه کړے شوی دی په هغوئ باندے ظلم نه دے کړے الله تعالیٰ دا نه دی کړی الله تعالیٰ داچه خلق په دُنیا کښ نیک کار کوی او اصلاح کوُنکی ئے او بیائے هم هلاک کړی وی بلکه چه کله هم په هغوئ باندے عذاب راغے نو د هغوئ د بدعملونو په وجه راغے.

۹۸ﻪ أُمَّةً وَّاحِدَةً نه روستو وَلٰکِنْ لِّيَبْلُوَكُمْ محذوف دے په قرینه د ایت سورة مائده کښ ع ۷، وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ لَجَعَلَكُمْ اُمَّةً وَّاحِدَةً وَّلٰكِنْ لِّيَبْلُوَكُمْ الاية، یعنی که چرے الله غوښتلے نو ټول خلق به ئے په یو دین (توحید) باندے متفق کړی وو لیکن دے صورت کښ به د ابتلاء او امتحان حکمت فوت شوے وے او دا شان به د ټولو ایمان جبری وے حال دا دے چه جبری ایمان مقبول نه دے د دے وجے نه الله تعالیٰ د حق او باطل واضح کولو نه روستو سوچ فکر سره د دواړو نه د یو قبلولو اختیار ورکړو. دے اختیار باندے جزاء او سزاء مبنی ده.

۹۹ﻪ خلق چونکه په یو دین قبلولو باندے مجبور نکړے شو د دے وجے نه به هغوئ همیشه په خپل مینځ کښ اختلاف کوی څوک به په حق باندے وی او څوک به په باطل باندے وی. لیکن په چا باندے چه د الله تعالیٰ رحمت وی او د الله توفیق د چا سره شامل حال شی هغوئ کښ به د عقائدو او اُصول دین هیڅ اختلاف نه وی. وَلِذٰلِكَ خَلَقَهُمْ ای للاختلاف والابتلاء، او الله تعالیٰ خو د اختلاف یا امتحان د پاره خلق پیدا کړی دی چه هغوئ خپل اختیار سره کومه لاره اختیار کړی د توحید یا د شرک بیا به د هغے مطابق جزا او سزا وی. وَتَمَّتْ كَلِمَةُ رَبِّكَ الخ، په قضاء او قدر کښ دا فیصله شوی ده چه جهنم به د مشرک پیریانو او انسانانو نه ډکولے شی. د دے وجے نه د خلقو یو دین باندے متفق کیدل ممکن نه دی او د دوئ مینځ کښ د اختلاف موجود وا ضروری دے.

ﺘﻠﻪ دا د ټولو مخکنو قصو سره متعلق دے. کلا مبدل منه مَا نُثَبِّتُ به بدل او مِنْ اَنْۢبَآءِ الرُّسُلِ مَا نُثَبِّتُ، دا قصے مونږ ځکه بیان کړی دی چه ستا په زړه کښ ثبات او استقلال زیات پیدا شی. او تا سو د تبلیغ په لاره کښ د سخت نه سخت وخت صبر او اثبات سره مقابله اوکړئ او د مشرکانو مسلسل رد او انکار د وجے نه ناامیده نه شئ او دے سورت کښ دریے اُمور بیان کړیدی. اَلْحَقُّ د توحید او رسالت

دلائيل. مَوۡعِظَةٌ، دَاقوامِ سابقه انجامِ بد نه عبرت اخستل.
ذِكۡرٰى، اعمالِ صالحه اودَ آخرت ترغيب (رازی او قرطبی).
۱۰۱ه زجرسره دَ تخويف دنيوی نه دَ دلائيل توحيد دَ
تير شوو اُمتونو عبرت اموز حالاتو او ترغيب ترهيب نه
روستو ئے اُوفرمائيل دِے مشركانو ته اووايه كۀ چرے دِے
شافی بيانونو نه روستو هم ستاسو زړونه متاثر نۀ شول
نو تاسو په خپله لاره باندے ځئ مونږ به هم په خپل
مسلك باندے قائم اُوسيږو. تاسو هم دَ خپل انجام
انتظار كوئ او مونږ به هم دَ خپل انجام انتظار كونكی يُو.
۱۰۲ه دِے اخر ايت كښ دَ سورت ټولے دعوے بالاجمال
دوباره ذكر كړے شوی دی.
وَلِلّٰهِ غَيۡبُ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ وَاِلَيۡهِ يُرۡجَعُ الۡاَمۡرُ كُلُّهٗ،
دا دَ دويمے دعوے اعاده ده عالم الغيب او قادر او متصرف
صرف الله تعالیٰ دے. فَاعۡبُدۡهُ دَ اولے دعوے اعاده ده.
عالم الغيب او قادر او متصرّف صرف هغه دے نو صرف دَ
هغۀ عبادت كوئ او صرف هغۀ ته اواز كوی. وَتَوَكَّلۡ عَلَيۡهِ
دَ دريمے دعوے اعاده ده په مصائب تكاليف كښ صرف په الله
تعالیٰ بهروسه كوئ او استقامت او صبر سره هغه برداشت
كوئ. وَمَا رَبُّكَ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعۡمَلُوۡنَ، دَ څلورمے دعوے اعاده
ده. اے مشركانو تاسو محض دَ ضد او عناد په وجے سره نۀ
منئ او اُلټه طعنے او ملامتيا ور كوئ. ياد ساتئ الله تعالیٰ
ستاسو ټولو عملونو ته خبر دے او تاسو ته به دَ هغے پوره
سزا دركوی.

---

كتابت ارقم جان كلے خدره خيل چارسده روډ بخشی پُل
پشاور

# سورۂ هود کښې دَ توحید آیتونه او دَ هغې خصوصیات

(۱) اَلَّا تَعْبُدُوْٓا اِلَّا اللّٰهَ ـــ نه تر ـــ عَذَابَ يَوْمٍ كَبِيْرٍ ۝ نفی دَ شرک فی التصرف.
(۲) اَلَآ اِنَّهُمْ يَثْنُوْنَ صُدُوْرَهُمْ ـــ نه تر ـــ كُلٌّ فِيْ كِتٰبٍ مُّبِيْنٍ ۝ نفی دَ شرک فی العلم.
(۳) اَلَّا تَعْبُدُوْٓا اِلَّا اللّٰهَ ؕ اِنِّيْٓ اَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ اَلِيْمٍ ۝ (ر ۳) دَ توحید اعلان دَ نوح علیه السلام.
(۴) وَلَآ اَقُوْلُ لَكُمْ ـــ نه تر ـــ وَلَآ اَقُوْلُ اِنِّيْ مَلَكٌ ۝ (ر ۳) نفی دَ شرک فی التصرف والعلم.
(۵) قَالُوْا يٰنُوْحُ قَدْ جٰدَلْتَنَا ـــ نه تر ـــ وَمَآ اَنْتُمْ بِمُعْجِزِيْنَ نفی دَ تصرف له نوح لطرفه.
(۶) وَنَادٰى نُوْحٌ رَّبَّهٗ ـــ نه تر ـــ اَكُنْ مِّنَ الْخٰسِرِيْنَ ۝ (ر ۴) نفی دَ اختیار او تصرف او نفی دَ شفاعت قهری دَ حضرت نوح علیه السلام نه.
(۷) تِلْكَ مِنْ اَنْۢبَآءِ الْغَيْبِ ـــ نه تر ـــ اِنَّ الْعَاقِبَةَ لِلْمُتَّقِيْنَ ۝ (ر ۴) نفی دَ علم غیب او حاضر، ناظر دَ نبی علیه السلام نه.
(۸) يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ (ر ۵) دَ توحید اعلان دَ حضرت هود علیه السلام نه.
(۹) قَالُوْا يٰهُوْدُ مَا جِئْتَنَا بِبَيِّنَةٍ ـــ نه تر ـــ بَعْضُ اٰلِهَتِنَا بِسُوْٓءٍ ۝ (ر ۵ ، ۶) حضرت هود علیه السلام باندې دَ قوم ملامتیا وئیل.
(۱۰) وَلَمَّا جَآءَ اَمْرُنَا نَجَّيْنَا هُوْدًا ـــ نه تر ـــ مِّنْ عَذَابٍ غَلِيْظٍ ۝ (ر ۶) حضرت هود علیه السلام هم بچ کیدو کښې الله ته محتاج دے.
(۱۱) قَالَ يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ۝ (ر ۶) دَ توحید اعلان دَ حضرت صالح لطرفه.
(۱۲) قَالُوْا يٰصٰلِحُ قَدْ كُنْتَ ـــ نه تر ـــ اِلَيْهِ مُرِيْبٍ حضرت صالح باندې دَ قوم نوے طعن.
(۱۳) نَكِرَهُمْ وَاَوْجَسَ مِنْهُمْ ۝ (ر ۷) نفی دَ علم غیب ابراهیم علیه السلام نه.
(۱۴) وَلَمَّا جَآءَتْ رُسُلُنَا لُوْطًا ـــ نه تر ـــ هٰذَا يَوْمٌ عَصِيْبٌ. نفی دَ علم غیب لوط علیه السلام نه.
(۱۵) يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ۝ (ر ۸) دَ توحید اعلان دَ حضرت شعیب علیه السلام نه.
(۱۶) قَالُوْا يٰشُعَيْبُ اَصَلٰوتُكَ ـــ نه تر ـــ الْحَلِيْمُ الرَّشِيْدُ حضرت شعیب باندې بے ځایه طعن.
(۱۷) ذٰلِكَ مِنْ اَنْۢبَآءِ الْقُرٰى نَقُصُّهٗ عَلَيْكَ مِنْهَا قَآئِمٌ وَّحَصِيْدٌ ۝ (ر ۹) دَ نبیؐ دَ صداقت دلیل.
(۱۸) فَمَآ اَغْنَتْ عَنْهُمْ اٰلِهَتُهُمُ ـــ نه تر ـــ غَيْرَ تَتْبِيْبٍ نفی دَ تصرف دَ معبودان باطله نه.
(۱۹) فَلَا تَكُ فِيْ مِرْيَةٍ ـــ نه تر ـــ غَيْرَ مَنْقُوْصٍ ۝ (ر ۹) دَ معبودان باطله دَ عبادت باطل کیدل یو ښکاره امر دے دیکښې دَ شک شبے هیڅ ګنجائش نشته.
(۲۰) وَلِلّٰهِ غَيْبُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ـــ نه تر ـــ عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ۝ (ر ۱۰) عالم الغیب او کارساز صرف الله تعالیٰ دے بل څوک نه دے.

نن په تاریخ ۱۵ دَ ربیع الاول ۱۴۲۵ھ دَ زیارت ورځ وخت پنځه بجے دَ صبا ما نځه نه روستو دَ سورۂ هود تفسیر په پښتو ژبه کښې ختم شو مطابق ۶ مئی ۲۰۰۴ء.
فالحمد لله علی ذلک اولاً آخراً.

# ۱ سُورة یُوسف

ربط | دَ سورۃ یوسف سورۃ هود سره اسمی ربط دا دے چه په سورۃ هود کښ دَ کومے مسئلے ذکر کړے شوے دے چه دَ الله نه سیوا څوک دَ عبادت او رابللو لائق نشته. دا مسئله دومره اهمه ده او ضروری ده چه حضرت یوسف علیه السلام په جیل کښ هم دَ دے تبلیغ او اشاعت هیر نکړو په جیلخانه کښ چه کله دوه قیدیانو دَ هغوئ په مخکښ خپل خوب بیان کړو نو هغوئ دَ تعبیر بیانولو نه مخکښ دَ توحید مسئله بانـدے هغوئ ښه پوهه کړل او ورته ئے اووئیل چه دَ غیر الله عبادت او رابللو باندے تا سو سره هیڅ دلیل نشته. شرک دَ عقل او نقل نه خلاف دے، دَ دے وجے نه الله حکم ورکړیدے چه دَ هغهٔ نه سیوا هیچا ته اواز مهٔ کوئ.

معنوی ربط دا دے چه دَ سورۃ هود دویمه دعوٰی وه چه دَ الله نه سیوا څوک عالم الغیب او متصرّف او مختار نهٔ دے اوس په سورۃ یوسف کښ دے دعوٰی باندے یو ډیر مفصل نقلی دلیل ذکر کړے شو دَ سورۃ هود مقصودی دعوٰی خو دَ اول نه ده یعنی دَ الله نه سیوا هیڅوک دَ عبادت او رابللو لائق نشته. لیکن دویمه دعوٰی چونکه دَ اول دعوے دَ پارہ په منزله دَ علت او دلیل ده او دَ علت او دلیل مضبوط او مستحکم کیدل دَ معلول او مدلول ثبوت او استحکام دَ پارہ مستلزم دے. دَ دے وجے نه دویمه دعوٰی مفصّل نقلی دلیل سره مضبوطه کړے شوه کله چه دا ثابته شوه چه دَ الله نه سیوا څوک عالم الغیب او متصرّف مختار نشته. نو لا محاله (ضرور) به دا منل وی چه دَ الله نه سیوا څوک دَ عبادت او رابللو لائق نشته.

په سورۃ هود کښ دَ کثیرو انبیاءٔ علیهم السلام په ژبه دا دعوٰی ذکر کړے شوه چه دَ الله نه سیوا څوک پیغمبر، فرشته، یا ولی دَ عبادت او رابللو لائق نشته او په سورۃ یوسف کښ یو جلیل الشان پیغمبر چه دَ هغهٔ پلار پیغمبر نیکهٔ پیغمبر او ځوئے پیغمبر علیهم السلام یعنی دَ حضرت یعقوب علیه السلام مُفصّل واقعه ذکر کړے شوه چه دَ هغې دَ یوے یوے کړئ نه دا حقیقت واضحه کیږی چه هغهٔ نهٔ په غیب عالم وو، نهٔ متصرف او نهٔ مختار وو دَ دے وجے نه دَ عبادت او رابللو لائق هم نهٔ وُو. دَ خپل قابل قدر ځوئے په جدائی کښ دَ ډیرے زمانے پورے غمژن او پریشان وو. لیکن دَ هغهٔ حال معلوم نهٔ شو او نهٔ دَ هغهٔ جدائی په وصال کښ بدله شوه.

خلاصه | سورۃ یوسف کښ څلور دعوے ذکر شویدی ① عالم الغیب

غائبانه امور پیژندل لوکښ هیڅ ته اختیار نهٔ دے بل څوک نهٔ دے صرف الله تعالی دے بل څوک نهٔ دے غائبانه امور پیژندل او کار ساز او متصرف او مختار صرف الله تعالی دے ورکړے شوے. (۲) مالک او کار ساز او متصرف او مختار صرف الله تعالی دے بل هیڅوک نهٔ دے ما فوق الاسباب امورو کښ هغه هیڅ ته اختیار نهٔ دے بل هیڅوک نهٔ دے ما فوق الاسباب امورو کښ هغه هیڅ ته اختیار نهٔ ورکړے. (۳) تاسو رښتونی رسول یئ او د الله د طرفه په تاسو باندے وحی نازلیږي (۴) د تیرشوو انبیاؤ علیهم السلام پشان به په تاسو باندے هم مصیبتونه راځي. لیکن آخرکار کامیابي او فتح ظفر به ستاسو قدم ښکلوي.

## اوله او دویمه دعوی — عالم الغیب او متصرف صرف الله دے

دا دواړه دعوے سره یوځائے چلیږي او د سورت د ابتداء نه واخله یوسفي رکوع کښ وَالْحِقْنِيْ بِالصّٰلِحِيْنَ پورے د دے بیان دے. د حضرت یعقوب علیه السلام او حضرت یوسف علیه السلام دا واقعه مختلف څلور حالو باندے مشتمل ده چه د هغې نه هره یوه کړۍ دا دواړه دعوے واضح او ثابتوي.

الٓرٰ تا لَمِنَ الْغٰفِلِيْنَ تمهید دے دیته روستو قصه شروع کیږي.

**اول حال:** اِذْ قَالَ يُوْسُفُ لِاَبِيْهِ — تا — اٰيٰتٌ لِّلسَّآئِلِيْنَ (ع ۲) حضرت یوسف علیه السلام خپل خوب حضرت یعقوب علیه السلام ته بیان کړو نو هغهٔ نصیحت اوفرمائیلو چه دا خپل خوب خپلو رونړو ته مهٔ بیانوئ.

**دویم حال:** اِذْ قَالُوْا لَيُوْسُفُ (ع ۲) — تا — وَاللّٰهُ الْمُسْتَعَانُ عَلٰى مَا تَصِفُوْنَ (۱۸) د حضرت یوسف علیه السلام رونړو هغه د خپل پلار د نظرنه د غائبولو منصوبه جوړه کړه. بیا ئے خپل محترم پلار ته د سیال (تفریح) په بهانه یوسف علیه السلام ځنګل ته د بوتللو درخواست اوکړو چه هغه د لبر شان سوچ کولو نه روستو قبول کړو. رونړو هغه ځنګل ته بوتللو په یو شاړ کوهی کښ ئے اوغورځولو او د ښکار په وینه ئے د هغهٔ قمیص رنګ کړو او د شپے ژړیږ ونکی کور ته راغلل او حضرت یعقوب علیه السلام ته ئے عرض اوکړو چه یوسف علیه السلام شرمخ اوخوړو او دا د هغهٔ په وینو رنګ قمیص دے. دا ټول هرڅهٔ اوشول لیکن د دے خبر و اصلی حقیقت حضرت یعقوب علیه السلام ته معلوم نهٔ شو.

**دریم حال:** وَجَآءَتْ سَيَّارَةٌ فَاَرْسَلُوْا وَارِدَهُمْ — تا — وَكَانُوْا فِيْهِ مِنَ الزّٰهِدِيْنَ (ع ۲) دلته نه یوه قافله تیریدله چه حضرت یوسف علیه السلام ئے کوهی نه اوویستلو ځان سره ئے بوتللو او چه مصر ته اورسیدل نو خرڅ ئے کړو لیکن د څوئے د دے نقل او حرکت نه حضرت یعقوب علیه السلام ته هیڅ علم نهٔ وو.

**څلورم حال:** وَقَالَ الَّذِي اشْتَرٰىهُ مِنْ مِّصْرَ — تا — وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ (ع ۳) عزیز مصر هغه واخستو خپل کور ته ئے راوستلو او ښځے ته ئے

دَ هغهٔ سره دَ حُسن سلوک او اعزاز او اکرام سره دَ پیش کیدلو هدایت اُوکړو.
**پنځم حال**:- وَلَمَّا بَلَغَ اَشُدَّهٗٓ اٰتَيْنٰهُ حُكْمًا وَّعِلْمًا ـــ تا ـــ اِنَّكِ كُنْتِ مِنَ الْخٰطِـِٕيْنَ (ع ۳) دَ عزیز مصر ښځه په حضرت یوسف علیه السلام عاشقه شوَه او دَ هغهٔ دَ خوښولو او دهوکه کولو کوشش ئے اُوکړو لیکن الله تعالیٰ محض خپل توفیق سره هغه بچ کړو. دے دوران کښې عزیز مصر هم کور ته راورسیدو او دَ حقیقتِ حال معلومولو نه روستو هغه خپله ښځه ملزمه کړه او حضرت یوسف علیه السلام ئے بَری کړو.
**شپږم حال**:- وَقَالَ نِسْوَةٌ فِى الْمَدِيْنَةِ ـــ تا ـــ لَيَسْجُنُنَّهٗ حَتّٰى حِيْنٍ (ع ۴) دا واقعه په ښار کښې مشهوره شوه چه دَ عزیز مصر ښځے دَ خپل غلام بد نیتیٔ سره دَ خوښولو کوشش کړیدے. دَ عزیز مصر ښځے چه کله دا خبره واوریده نو دَ حضرت یوسف علیه السلام راګیرولو دَپاره ئے دَ ښار ښځے خپل ځان سره میلمنے کړے یو نوے جال ئے خور کړو چه کله په هغے کښې هم ناکامه شوه نو دَ بد نامئ نه بچ کیدلو دَپاره ئے دَ کوم جرم نه بغیر حضرت یوسف علیه السلام جیل ته اُولیږلو.
**اُوم حال**:- وَدَخَلَ مَعَهُ السِّجْنَ فَتَيٰنِ ـــ تا ـــ فَلَبِثَ فِى السِّجْنِ بِضْعَ سِنِيْنَ (ع ۵) حضرت یوسف علیه السلام سره دوه نور ملزمان هم قیدخانے ته لاړل دا دواړه دَ بادشاه دربار یان وو هغوئ خوب اُولیدو او حضرت یوسف علیه السلام ته ئے بیان کړو تعبیر دَپاره. هغوئ تعبیرورکولو نه مخکښې دوئ په مسئله توحید باندے پوهه کړل او ورته ئے اُووئیل چه دَ الله نه سیوا څوک متصرّف او مختار او رابللو لائق نشته. دِے حصه کښې دَ سورهٔ هود دَ اولے دعوے تفصیل سره اعاده کړے شویده په اخر کښې حضرت یوسف علیه السلام دَ قیدخانے دواړو ملګرو ته دَ هغوئ دَ خوب تعبیر بیان کړو.
**اتم حال**:- وَقَالَ الْمَلِكُ اِنِّىْٓ اَرٰى سَبْعَ بَقَرٰتٍ ـــ تا ـــ وَفِيْهِ يَعْصِرُوْنَ (ع ۶) دَ مصر بادشاه یو خوب اُولیدو چه هغه ئے دَ خپل دربار ارکانو ته بیان کړو چه دَ دے تعبیر ئے اُوپوښتلو دَ حکومت ارکانو نه هیڅوک هم دَ خوب تعبیر باندے پوهه نهٔ شول دَ دے وجے نه ټولو دَ بادشاه خوب یو پریشانه کونګے خیال اُوګڼلو او خاموشي ئے اختیار کړه کوم دربارى چه دَ الزام نه بری شوے وو او دربار کښې په خپل کار لګیدلے وو هغهٔ ته حضرت یوسف علیه السلام یاد شو او هغهٔ دَ بادشاه په خدمت کښې عرض اُوکړو چه ما ته اجازت راکړئ دَ دے خوب تعبیر کښې به زهٔ تاسو ته راؤړم هغه سرے فوراً په خاص اجازت جیل خانے ته حضرت یوسف علیه السلام ته اُورسیدو

او د بادشاه خوب ئے بیان کړو. هغهٔ ورته تعبیر بیان کړو چه هغه د مصر د بادشاه په مخکښ حاضر شو او بیان ئے کړو.

**نهم حال**: وَقَالَ الْمَلِكُ ائْتُونِي بِهِ تا وَكَانُوا يَتَّقُونَ (ع ۷) د مصر بادشاه چه تعبیر واؤریدو نو د حضرت یوسف علیه السلام د علم او فضل او فهم فراست قائیل شو او هغهٔ ئے فوراً د جیل نه او ویستللو. کله چه هغهٔ ته د جیل نه د راوتلو حکم ملاؤ شو نو هغهٔ د پیغام راوړونکی په لاس بادشاه ته داخبر اولیږلو چه اول د دے ښځو د حال تحقیق اوکړه چا چه خپل لاسونه پریکړی وو. د حضرت یوسف علیه السلام مقصد داوو چه د جیل نه بهر تللو نه مخکښ د هغهٔ پاکدامنی او براءت په ټولو واضح شی. نو هغه ښځو اقرار اوکړو چه یوسف علیه السلام پاکدامن او بےګناه دے پخپله د عزیز مصر ښځے هم اقرار اوکړو چه یوسف علیه السلام رښتونی دے او هغے پخپله د دهوکه کولو کوشش کړے وو. د حضرت یوسف علیه السلام پاکی او پاکدامنی ثابته شوه او هغه د جیل نه بهر راغے. د مصر بادشاه هغه خپل خاص مشیر اوګرځولو او د هغهٔ پخپله خوښه ئے هغهٔ ته د زراعت محکمه اوسپارله. دا شان الله تعالیٰ هغه د جیل نه اوویستو د حکومت په دے اوچت منصب باندے ئے کامیاب اوګرځولو. لیکن د دے باوجود حضرت یعقوب علیه السلام د خپل لخت جګر د جدائی په غم کښ سخت انتظار کولو وخت ئے تیرولو اول دا معلومه نهٔ وه چه د هغهٔ ځوئے په جیل کښ دے او اوس دا هم معلومه نهٔ شوه چه د هغهٔ نیک بخته ځوئے د حکومت په یوه ډیره اوچته مرتبه باندے فائز دے.

**لسم حال**: وَجَاءَ إِخْوَةُ يُوسُفَ فَدَخَلُوا عَلَيْهِ تا وَعَلَيْهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُتَوَكِّلُونَ (ع ۸) کله چه په ملک کښ قحط راغے نو د حضرت یعقوب علیه السلام ځامنو د غلے حاصلولو د پاره د مصر طرف ته روان شول کله چه حضرت یوسف علیه السلام ته اورسیدل نو هغهٔ خپل رونړه اوپیژندل لیکن هغوئ دے اونهٔ پیژندو. حضرت یوسف علیه السلام رونړو ته تاکید اوکړو چه په آئنده کښ خپل کشر ورور هم د ځان سره راولئ او خپلو نوکرانو ته ئے حکم ورکړو چه د دوئ سرمایه (رقم) د دوئ په بوجو کښ کیدئ. کله چه دوئ غله واخستله او خپلو کورونو ته اورسیدل نو حضرت یعقوب علیه السلام ته ئے اوویل د کشر ورور حصه ځمونږ نه منع شویده د دے وجے نه اوس داځل بنیامین هم ځمونږ سره اولیږه مونږ به د دهٔ پوره حفاظت کوو اول خو حضرت یعقوب علیه السلام سوچ فکر اوکړو او ځامنو ته ئے د یوسف علیه السلام واقعه وریاده کړه چه تاسو څنګه د یوسف

حفاظت کړے وو هغه شان به د بنیامین کوئی روستو بیا هغهٔ د خامنو نه ک
له وعده واخستله چه تاسو به سیوا د اسمانی حادثے نه بنیامین ضرور
واپس راولئ.

یولسم حال :. وَلَمَّا دَخَلُوْا مِنْ حَيْثُ اَمَرَهُمْ اَبُوْهُمْ (ع ۸) ـــ تا ـــ اِنَّآ اِذًا لَّظٰلِمُوْنَ (ع ۹) اُوس داخل بنیامین هم ورسره وو او یولس رونړه
مصر ته اُورسیدل او د والد محترم د هدایت مطابق د ښار په مختلفو دروازو
داخل شول حضرت یوسف علیه السلام ته اُورسیدل حضرت یوسف علیه
السلام خپل ورور بنیامین د ځان سره د پاتے کولو انتظام اوکړو او د پروګرام
مطابق ئے د ستربو اړولو سره پیمانه د بنیامین په سامان کښې کیښودله
او ټول رونړه خپل وطن ته روان شول. دلته تلاش کونکو خیمتګار انو
کنډانی قافله د شک په بناء اُودروله د تلاشئ اخستلو سره د حضرت یوسف
علیه السلام پیمانه د بنیامین د سامان نه ملاؤ شوه رونړو د عزیز مصر
(حضرت یوسف علیه السلام) ډیر منت زارے اوکړه چه هغه په څهٔ طریقه
بنیامین پریکدی لیکن هغهٔ داسے اُونهٔ کړل.

دولسم حال :. فَلَمَّا اسْتَيْئَسُوْا مِنْهُ خَلَصُوْا نَجِيًّا ـــ تا ـــ اِلَّا الْقَوْمُ الْكٰفِرُوْنَ (۱۰۶)
اخر ټول نا اُمیده شول او مشوره ئے اوکړه او مشر رور ئے فیصله اُوکړه
چه هغهٔ به چونکه خپل پلار سره وعده کړیده او راغلے دے د دے وجے
نه هغه خو به په مصر کښې پاتے کیږی ترڅو پورے چه پلار اجازت
ورنهٔ کړی یا د الله د طرفه کوم یو صورت پیدا نهٔ شی نو ټهٔ رونړه واپس وطن
ته اُورسیدل او ټوله واقعه ئے حضرت یعقوب علیه السلام ته واورؤله
هغهٔ داهم د رونړو سازش اوګرځولو حال دا دے چه د بنیامین په معامله
کښې هغوئ بے قصوره وو. دینه معلومه شوه چه حضرت یعقوب علیه السلام
په غیب عالم نهٔ وو. اخر هغه ځامن دریم ځل بانده اُولیږل او وے
فرمائیل د حضرت یوسف علیه السلام او د هغهٔ د رور تلاش کوئ او د
الله د رحمت نه مهٔ نا اُمیده کیږئ.

دریارلسم حال :. فَلَمَّا دَخَلُوْا عَلَيْهِ قَالُوْا ـــ تا ـــ وَاْتُوْنِيْ بِاَهْلِكُمْ اَجْمَعِيْنَ (۱۰۶)
وس دریم ځل رونړه حضرت یوسف علیه السلام سره حاضر شول او ډیرے
مبالغے سره ئے درخواست اوکړو چه ځمونږ د معمولی سرمائے په بدله کښې
مهربانی اوکړئ مونږ ته پوره غله راکړئ اُوس داځل حضرت یوسف علیه
السلام هم د رونړو د درد نه ډکے خبرے واورېدلے نو زړهٔ ئے نرم شو او
خپل ځان ئے قابو نهٔ کړو او ځان ئے ښکاره کړو. ټولو رونړو د خپلو غلطو
قرار اوکړو او حضرت یوسف علیه السلام ته ئے عذر پیش کړو حضرت

یوسف علیه السلام پیغمبرانه شفقت او رحمت سره د عامې معافئ اعلان اوکړو او رونړو ئې واپس وطن ته اولیږل چه خپل اهل وعیال مصر ته راولي
**څوارلسم حال**:۔ وَلَمَّا فَصَلَتِ الْعِيرُ ـــ تا ـــ اِنَّهٗ هُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ (ع ۱۱)
کله چه د یعقوب علیه السلام د ځامنو قافلې د یوسف علیه السلام قمیص ځان سره واخستو مصر نه روانه شوه نو الله تعالیٰ د وحی په ذریعه هغهٔ ته اطلاع ورکړه او هغهٔ خپلو نوسوته اووئیل چه که چرې تاسو ما ته د کم عقلئ طعنه نهٔ راکوئ نو زهٔ به صفا اووایم چه ما ته د یوسف خوشبوئ راځي۔
**پنځلسم حال**:۔ فَلَمَّا دَخَلُوْا عَلٰى يُوْسُفَ ـــ تا ـــ وَاَلْحِقْنِيْ بِالصّٰلِحِيْنَ (ع ۱۱)
حضرت یعقوب علیه السلام سره د اهل او عیال نه مصر ته اورسید و حضرت یوسف علیه السلام هغوئ پوره اعزاز او اکرام سره خپل کورته راوستل او ټولو رونړو د حضرت یوسف علیه السلام تعظیم په ځائ راډړو دا شان د حضرت یوسف علیه السلام خوب رښتونے شو۔

## دریمه دعوی ـــ تاسو د الله تعالیٰ رښتونے رسول یئ

سورۂ هود کښ الله تعالیٰ اوفرمائیل چه تا ته کومه وحی نازله شویده د هغې تبلیغ کوه او د هغې په هیڅ هم پټ مهٔ ساته دلته سورۂ یوسف کښ ئې اوفرمائیل ذٰلِكَ مِنْ اَنْۢبَآءِ الْغَيْبِ نُوْحِيْهِ اِلَيْكَ (ع ۱۱) بیشکه ته د الله رسول ئې او تابانده د الله د طرفه وحی نازلولے شي د حضرت یوسف علیه السلام د رونړو قصه هم د غیب خبرونو نه ده کله چه هغوئ د یوسف علیه السلام د روکولو منصوبه جوړوله هغه وخت هم تاسو موجود نهٔ وئ دا ټول هرڅه الله د وحی په ذریعه تاسو نه بیان کړیدی۔
اَفَاَمِنُوْٓا اَنْ تَاْتِيَهُمْ الخ (ع ۱۲) تخویف دنیوی دے. قُلْ هٰذِهٖ سَبِيْلِيْٓ الخ د تبلیغ طریقه ده. وَمَآ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ الخ دا د مقدر سوال جواب دے. مشرکانو اووئیل دا ناممکن ده چه پیغمبر هم وی او بشر هم نو جواب ورکړے شو چه مخکښ څومره پیغمبران چه تیر شویدی بشر هم وو او انسانان هم. اَفَلَمْ يَسِيْرُوْا. تخویف دنیوی دے اول د مکذبینو حال اوګورئ د هغوئ حشر څهٔ شو او د هغوئ د بد انجام نه عبرت حاصل کړئ۔
**څلورمه دعوی**۔ د تبلیغ په لار کښ اګرچه مصائب دی لیکن کامیابی صرف ستاسو ده
حَتّٰٓى اِذَا اسْتَيْـَٔسَ الرُّسُلُ. تیر شوو انبیاء علیهم السلام ته د توحید په تبلیغ کښ ډیر لوی لوی مصیبتونو او تکلیفونو سره مخامخ کیدل او شو لیکن آخر کامیاب هم هغوئ شول او د هغوئ دشمنان ناکام او تاوانیان شول۔

سُورَةُ يُوسُفَ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ مِائَةٌ وَّاِحْدٰى عَشَرَةَ اٰيَةً وَّاثْنَا عَشَرَ رُكُوْعًا

سورة یوسف په مکه کښې نازل شوې او دده ایتونه یو سل یوولس دی او دولس رکوعات دی

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○

شروع د الله په نوم چه بے حده مهربان نهایت رحم والا دے

الٓرٰ قف تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ الْمُبِيْنِ ﴿۱﴾ قف اِنَّآ

دا ئے ایتونه دی د کتاب واضح بیشکه

اَنْزَلْنٰهُ قُرْءٰنًا عَرَبِيًّا لَّعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ ﴿۲﴾

مونږ نازل کړیدے دا قرآن په عربئ ژبه کښې دے د دپاره چه تاسو پوهه شئ

نَحْنُ نَقُصُّ عَلَيْكَ اَحْسَنَ الْقَصَصِ

مونږ بیانوو تا ته ډیره خائسته قصه

بِمَآ اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ هٰذَا الْقُرْاٰنَ ق وَاِنْ

دے دپاره چه را اولیږو تا ته دا قرآن او وے

كُنْتَ مِنْ قَبْلِهٖ لَمِنَ الْغٰفِلِيْنَ ﴿۳﴾ اِذْ قَالَ

ته د دینه مخکښې بیشکه نا خبره کله چه اووئیل

يُوْسُفُ لِاَبِيْهِ يٰٓاَبَتِ اِنِّيْ رَاَيْتُ اَحَدَ عَشَرَ

یوسف خپل پلار ته اے پلاره بیشکه ما اولیدل په خوب کښې یوولس

كَوْكَبًا وَّالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ رَاَيْتُهُمْ

ستوری او نمر او سپوږمئ ما اولیدل

لِيْ سٰجِدِيْنَ ﴿۴﴾ قَالَ يٰبُنَيَّ لَا تَقْصُصْ

هغه ما ته سجده کوونکي وے وئیل اے ځویه مه بیانوه

رُءْيَاكَ عَلٰٓى اِخْوَتِكَ فَيَكِيْدُوْا لَكَ كَيْدًا ۙ

خوب خپل د خپلو رونړو په مخکښې. بیا به هغوئ جوړ کړی ستا دپاره څه فریب

إِنَّ الشَّيْطٰنَ لِلْإِنْسَانِ عَدُوٌّ مُّبِينٌ ⑤

بیشکه شیطان دے دَ انسان دُشمن ښکاره ف

وَكَذٰلِكَ يَجْتَبِيكَ رَبُّكَ وَيُعَلِّمُكَ

او هم داشان به غوره کړی تا لره ستا رب او ښائی به تاته

مِنْ تَأْوِيلِ الْأَحَادِيثِ وَيُتِمُّ نِعْمَتَهُ

تعبیر دَ خوبونو او پوره به کړی خپل انعام

عَلَيْكَ وَعَلٰى آلِ يَعْقُوبَ كَمَا أَتَمَّهَا عَلٰى

په تا باندے او په کوره دَ یعقوب باندے څنګه چه ئے پوره کړے ؤ ستا په

أَبَوَيْكَ مِنْ قَبْلُ إِبْرٰهِيمَ وَإِسْحٰقَ إِنَّ

نیکونو باندے دَ دینه مخکښ ابراهیم او اسحاق باندے بیشکه

رَبَّكَ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ⑥ لَقَدْ كَانَ فِي

ستا رب خبر دار دے حکمت والا ف۔ بیشکه شته دے په قصه

يُوسُفَ وَإِخْوَتِهِ آيٰتٌ لِّلسَّائِلِينَ ⑦

دَ یوسف کښ او دَ هغهٔ دَ رونړو په قصه کښ نشانے تپوس کونکو دَ پاره ف

**نکات:** ۔ سلہ تمهید ۱۲۔ سلہ مخففه من المثقله ۱۲۔ سلہ دَ قصے شروع دهٔ او دَ پنځلسو احوالونه اول حال دے۔ دَ قصے پنځلس احوال دَ سورت اولنۍ دوه دعوے ثابتوی یعنی عالم الغیب او متصرف او مختار صرف الله تعالیٰ دے بل څوک نهٔ دے۔

**موضح قرآن** ف یعنی دَ دے تعبیر ظاهر دے او رپین لوسره به پرینه پوهه شی۔ یوولس رونړه او یو پلار او یوه مور به هغهٔ ته محتاج وی بیا به شیطان دَ هغوئ په زړونو کښ حسد واچوی۔ ف دَ الله انعام ئے دَ سجدے نه معلوم کړو او دَ پوره عاجزئ کولو نه یعنی دے کښ دَ خوبونو تعبیر داخل دے دَ هغهٔ رسیدو نکی ذهن اولیاقت سره چه داسے موزون خوب ئے په ماشوموالی کښ اُولیدو او دَ ابراهیم او اسحاق نوم ئے واخستو او خپل ئے وانخستو دَ عاجزئ په وجے سره ۱۲ ف۳ نقل

شوېږي چه قريشو يهودو ته اووئيل څهٔ رانه اووايئ چه موږ نے محمدؐ ته تپوس اوکړو دَ هغهٔ دَ رښتيا وُ دَ امتحان اخستلو دَ پاره. هغوئ ورته اووئيل تپوس اوکړئ چه دَ ابراهيم وطن شام وو دَ هغهٔ اولاد بني اسرائيل مصر ته ولے راغلل چه دَ موسیٰ فرعون سره مقابله راغله. دا سورت نازل شو وے فرمائيل چه تپوس کوونکو دَ پاره نشانے دي قريشو دَ پاره دوئ دَ يو روړ سره حسد اوکړو دَ هغهٔ خبره ئے اُونهٔ منله الله اخر هغهٔ ته محتاج کړل او دا شان يهوديانو حسد اوکړو خراب شول او قريشو روړ دَ وطن نه اوويستلو هغهٔ ته اُوچت مقام او اقتدار ملاؤ شو

تفسير: ؎ ۲ دلته لَمِنَ الْغٰفِلِيْنَ پورے تمهيد دے اَلْكِتَابُ نه مراد قرآن دے يا دا سورت لکه چه ارشاد دے صُحُفًا مُّكَرَّمَةً فِيْهَا كُتُبٌ قَيِّمَةٌ (البينة) دلته كُتُبٌ دَ صحيفو حصو ته وئيلے شوېږي. اَلْمُبِيْنِ. دا اشاره ده چه دے سورت کښ به دلائيل نقلي ذکر کيږي. قُرْءٰنًا حال موطئه دے عَرَبِيًّا دَ پاره دا حال دے او عَرَبِيًّا دَ دهٔ صفت دے (مظهري)

؎ ۳ دَ يهوديانو عالمانو مشرکانو ته اووئيل چه دَ محمدؐ نه تپوس اُوکړئ اٰلِ يعقوبؑ دَ شام نه مصر ته څنګه منتقل شول او دَ حضرت يوسفؑ قصه څهٔ ده؟ دے سره دا سورت نازل شو (بيضاوي) حضرت سعد بن ابي وقاص نه روايت دے چه صحابؤ دَ نبي کريم صلی الله عليه وسلم خدمت کښ عرض اوکړو چه تاسو موږ ته يو دَ عبرت نه ډکه قصه بيان کړئ ږے سره الله سورهٔ يوسف نازل کړو (خازن). اَحْسَنَ الْقَصَصِ. دے قصے ته احسن القصص ځکه وئيلے شوېږي چه دَ دے نه دوه اهم مسئلے واضحه کيږي چه دَ الله نه سيوا څوک عالم الغيب نشته او نهٔ دَ هغهٔ نه سيوا څوک متصرف او مختار شته او ټول مخلوق دَ هغهٔ دَ قضاء او قدر په مخکښ عاجز او بے اختيار دے وقد افادت انه لا دافع لقضاء الله تعالىٰ ولا مانع من قدره وَانه سبحانه اِذا قضٰى لا نسان بخير ومكرمة فلوان اهل العالم اجتمعوا على دفع ذٰلك لم يقدروا (روح ج ۱۲ ص ۱۷۶) يا ئے احسن القصص ځکه اُوفرمائيلو چه دا واقعه کوم فصاحت او بلاغت او حسن اداء سره بيان شوے ده دَ دے مثال دا پخپله دے. يا دا دَ عبرتونو او نصيحتونو نه دَ ډک والي په وجه سره اَحْسَنَ الْقَصَصُ ده. كونه احسن القصص لما فيه من العبر والنكت والحكم والعجائب التي ليست في غيرها (كبير ج ۱۸ ص ۸۵)

؎ ۴ دَ دے قصے دَ بيانولو نه مخکښ تا ته دَ دے دَ تفصيلاتو علم نهٔ وو. اِنْ كُنْتَ کښ اِنْ مُخَفَّفه من المثقلة دے او ضمير شان محذوف دے اِنْ مخففة من المثقلة واللام فارقة بينها وبين النافيه يعني وان الشان

دے ځائے نه دَ قصے شروع کیږی او داد پنځلسو ۵ (مدارک ج ۲ ص۱۶۱) دَ پاره متعلق کیدل ضروری احوالونه اولنئ حال دے۔ اِذْ ظرف دے چه دَ دهٔ دَ پاره متعلق کیدل ضروری دے تفسیر عباسی کښ دی چه اِذْ په معنیٰ دَ قَدْ دے دِے صورت کښ دَ دهٔ متعلق ته ضرورت نشته او ځنے مفسرینو دَ اذ عامل اذکر مقدر منلے دے اُذْکُرْ چونکه فعل متعدی دے او مفعول غواړی دے دَ پاره القصة مفعول به مقدر وی ای اذکر القصة اذ قال الخ لیکن دے باندے اعتراض دے چه کله دا قصه نبی علیه السلام ته معلومه نهٔ وه نو دَ قصے بیانولو حکم څنګه ورکړے شو دَ دے جواب دا دے چه دَ وحی په ذریعه هغوئ ته معلومه شوه دَ دے وجے نه دَ بیانولو حکم ورکول صحیح دے۔ دا شان رضی وئیلی دی چه دَ اذکر معنیٰ غور او فکر کول ده یعنی دِے قصه کښ غور او فکر اوکړئ او دینه عبرت حاصل کړئ ځنو ظرف الغٰفلین او ځنو نَقُصُّ سره متعلق ګرځولے دے (روح) حضرت شیخ رحمة الله علیه اُوفرمائیل دَ نحویانو مسلمه قاعده ده چه دَ ظروف متعلّقات دَ دوئ نه مؤخر کیدلے هم شی. دَ دے وجے نه بهتره دا ده چه دَ اذ متعلق قَالَ یٰبُنَیَّ مؤخر وی. معنیٰ به دا وی چه کله یوسف علیه السلام خپل خوب خپل پلار ته بیان کړو نو هغهٔ او وئیل الخ۔

۶ حضرت یوسف علیه السلام په ماشوموالی کښ خوب اُولیدو چه یولس ستوری، نمر او سپوږمئ دَ هغهٔ په مخکښ سجده کوی. ~~بشکته شویدی~~ هغهٔ دا خوب خپل محترم والد صاحب ته حضرت یعقوب علیه السلام سره ذکر اوکړو هغه دَ دے په تعبیر باندے پوهه شو او دَ دینه ئے دَ خپل ځوئے دَ ائنده فضل او کمال اندازه اولګوله۔ تعبیر کښ دَ یوولس ستورو نه یوولس رونړه نمر، والد او قمر (سپوږمئ) نه خاله (دَ مور خور) مراد ده ځکه چه دَ حضرت یوسف علیه السلام والده حضرت راحیل فوت شوے وه۔ عن السدی ان القمر خالته لان امه راحیل قد ماتت (روح ج ۱۲ ص۱۸۰)

۷ حضرت یعقوب علیه السلام دَ ځوئے دَ خوب نه اندازه اولګوله چه الله تعالیٰ به هغهٔ ته حکمت او نبوت ورکوی او دے دنیا کښ به شرف او دَ فضیلت مقام ورکوی۔ حضرت یعقوب علیه السلام ته دَ ځنو قرائن نه دا هم معلومه شوے وه چه دَ هغهٔ مشران ځامن یوسف علیه السلام او بنیامین سره حسد ساتی دَ دے وجے نه یوسف علیه السلام ئے دَ رونړو مخکښ دَ خوب بیانولو نه منع کړو چه دَ هغے تعبیر دا وو چه ټول رونړه به دَ هغه مخکښ ټیټیږی. ځکه چه هغوئ به دَ دے تعبیر باندے پوهه شی او هسے نه چه ستاسو دَ هلاکت منصوبه شروع کړی.ان یعقوب علیه السلام کان شدید الحب لیوسف واخیه فحسده اخوته لهٰذا السبب وظهر ذلك

المعنی لیعقوب علیه السلام بالامارات الکثیرة فلما ذکر یوسف علیه السلام هذه الرؤیا وکان تاویلها ان اخوته وابویه یخضعون له فقال لا تخبرهم برؤیاك فانهم یعرفون تاویلها فیکیدوا لك کیدا (کبیر ج ۱۸ ص۹۵) وانما قال له ذلك لما انه علیه السلام عرف من رؤیاه ان سیبلغه الله تعالی مبلغا جلیلا من الحکمة ویصطفیه للنبوة ویتم علیه بشرف الدارین فخاف علیه حسد الاخوة الخ (روح ج ۱۲ ص۱۸۱) ۸ کاف د بیان کمال د پاره دے وَيُعَلِّمُكَ او وَيُتِمُّ نِعْمَتَهُ الخ يَجْتَبِيكَ د پاره تفسیر دے. مِنْ تَأْوِيلِ الْأَحَادِيثِ کښې مِنْ بعضیه دے. تاویل الاحادیث نه د امام مجاهد او سدی په نزد د خوبونو تعبیر مراد دے د حسن بصری په نزد باندے د معاملاتو انجام او د امام زجاج په نزد باندے کُتُبِ سماویه او د انبیاء سابقین علیهم السلام د احادیث معانی بیانول مراد دی (خازن، مدارک، روح) علامه قرطبی لیکی دا د نبوت طرف ته اشاره ده او دینه تیر شوی کتابونه او د دلائل توحید بیانول مراد دی. ای احادیث الامم والکتب ودلائل التوحید فهو اشارة الی النُّبُوَّة (قرطبی ج ۹ ص۱۲۹) او د تمام نعمت نه دینی او دنیوی نعمتونه ورکول مقصود دی. بان وصل لهم نعمة الدنیا بنعمة الاخرة ای جعلهم انبیاء فی الدنیا وملوکا ونقلهم عنها الی الدرجات العلی فی الجنة (مدارک ج ۲ ص۱۶۲).

۹ د حضرت یوسف علیه السلام او د هغهٔ د رونړو په دے قصه کښې سوال کوونکو د پاره د عبرت او اطمینان نشانے دی. د سائلین نه خویا هغه خلق مراد دی چا چه د مدینے د یهودیانو په وینا باندے د نبی علیه السلام نه تپوس کړے وو چه حضرت یعقوب علیه السلام او د هغهٔ اولاد د شام په ملک کښې اوسیدل مصرته څنګه منتقل شول. دا شان دا د حضرت محمد صلی الله علیه السلام په صداقت باندے ډیرلوئے دلیل دے چه هغوئ د وحی په ذریعه دا قصه پوره پوره تفصیل سره بیان کړه. یا د سائلین نه اعتراض کوونکی مراد دی چه په توحید باندے به ئے اعتراض کولو. دے قصه کښې د هغوئ د پاره ډیرلوئے عبرت او نصیحت دے ځکه چه د قصے د هر یو کړئ نه واضحه کیږی چه د الله نه سوا هیڅ یو ولی، نبی یا فرشته عالم الغیب متصرف او مختار متصرف نشته.

إِذْ قَالُوا لَيُوسُفُ وَأَخُوهُ أَحَبُّ إِلَىٰ أَبِينَا

کله چه او وئیل هغوئ بیشکه یوسف ځله او د هغهٔ رور زیات خوښ دے ځموږ پلار ته

مِنَّا وَنَحْنُ عُصْبَةٌ ۭ اِنَّ اَبَانَا لَفِيْ ضَلٰلٍ

ځمونږ نه او مونږ ډهغهٔ زیات قوت والا خلق یو بیشکه ځمونږ پلار په غلطئ

مُّبِيْنِۨ ۝۸ ۚ اقْتُلُوْا يُوْسُفَ اَوِ اطْرَحُوْهُ اَرْضًا

ښکاره کښې دے ف۔ مړ کړئ یوسف یائے اُوغورځوئ په یوه زمکه کښې

يَّخْلُ لَكُمْ وَجْهُ اَبِيْكُمْ وَتَكُوْنُوْا مِنْۢ بَعْدِهٖ

چه خالص پاتے شي تاسو پاندے توجه ستاسو د پلار او شئ د دے نه روستو

قَوْمًا صٰلِحِيْنَ ۝۹ قَالَ قَاۗىِٕلٌ مِّنْهُمْ

خلق نیک او وئیل یو ویونکي په هغوئ کښې لے

لَا تَقْتُلُوْا يُوْسُفَ وَاَلْقُوْهُ فِيْ غَيٰبَتِ الْجُبِّ

مه وژنئ یوسف او وے غورځوئ په یو شاړ (گمنام) کوهي کښې

يَلْتَقِطْهُ بَعْضُ السَّيَّارَةِ اِنْ كُنْتُمْ فٰعِلِيْنَ ۝۱۰

چه ځان سره بوځي د ے لره څوک مسافر که چرے یئ تاسو کوونکي

قَالُوْا يٰٓاَبَانَا مَا لَكَ لَا تَاْمَنَّا عَلٰي يُوْسُفَ

وے وئیل اے پلاره ځمونږه څهٔ خبره ده تا له چه ته اعتبار نهٔ کوے په مونږ باندے د یوسف

وَاِنَّا لَهٗ لَنٰصِحُوْنَ ۝۱۱ اَرْسِلْهُ مَعَنَا غَدًا

او مونږ خو د هغهٔ خیر غوښتونکي یو۔ اُو لیږه هغه ځمونږ سره صباله

يَّرْتَعْ وَيَلْعَبْ وَاِنَّا لَهٗ لَحٰفِظُوْنَ ۝۱۲ قَالَ

چه خوراک اوکړي او لوبے اوکړي او مونږ خو د هٔ حفاظت کوونکي یو ف۲۔ وے وئیل

اِنِّيْ لَيَحْزُنُنِيْٓ اَنْ تَذْهَبُوْا بِهٖ وَاَخَافُ

زهٔ غمژن کیږم ځکه په دے چه تاسو دے بوځئ او ویریږم په دے

اَنْ يَّاْكُلَهُ الذِّئْبُ وَاَنْتُمْ عَنْهُ غٰفِلُوْنَ ۝۱۳

چه اُوخوري هغهٔ لره شرمښ او تاسو به د هغهٔ نه نا خبره یئ ف۳۔

قَالُوا لَئِنْ أَكَلَهُ الذِّئْبُ وَنَحْنُ عُصْبَةٌ

وائے وئیل که چرے اُوخوری هغهٔ لره شرمخ او مونږ یو طاقتور جماعت یو

إِنَّا إِذًا لَّخَاسِرُونَ ⑭

نو مونږ خو هرڅهٔ اُو بیلل۔

**نکات:** سلہ دویم حال۔

**موضح قرآن** ف۱ یعني مونږ دَ ضرورت په وخت په کار راتلونکی یو او داما شوم دے یو ورور دَ هغهٔ سکه وو نو میرنی وو۔ ف۲ چیلو څرلو دَ پاره په ځنګل ته تلل۔ ف۳ څنګه چه هغوئ دَ شرمخ بهانه جوړه وونکې وو روستنه نو هم دَ دے وجے نه ئے دَ یعقوب علیه السلام په زړهٔ کښ دَ شرمخ ویره اُولیده۔

**تفسیر:** ۔لله دا دَ قصے دویمه کړئ ده دَ یوسف علیه السلام د رونړو خپل مینځ کښ مشوره اوکړه چه یوسف او بنیامین ځمونږ محترم پلار ته ځمونږ نه زیات خوښ او محبوب دی حال دا دے چه مونږ یو ډله یُو لیکن دَ دے باوجود خوږ پلار مونږ ته دومره اهمیت نهٔ راکوی پته نهٔ لګی چه هغه په څهٔ غلطئ کښ دے۔ اُقْتُلُوا يُوسُفَ الخ دَ دے وجے نه یوسف دَ پلار دَ مخے نه لرے کولو دَ پاره یا خو هغه قتل کول پکار دی یا هغه چرته په یوه ډیره لرے علاقه کښ پریښودل پکار دی چه دَ هغهٔ نه هیڅ خبر هم نهٔ راځی دے دَ پاره چه مونږ دَ خپل پلار دَ محبت او شفقت مرکز اُوګرځو او روستو به توبه اُو باسو۔

لله دا دَ اِذْ قَالُوا سره متعلق دے۔ لِهٰذا دَ ده نه مخکښ اُذْکُرْ مقدر منلو ته ضرورت نشته یعنې چه کله رونړو مذکوره بالا مشوره اوکړه۔ هغه وخت دَ دوئ نه یو تن اووے یوسف مهٔ وژنئ بلکه په یوه دشته کښ دَ لارے په غاړه یو ژوره کوهی کښ ئے اُوغورځوئ څوک تیریدونکے قافله به ئے راُوباسی او بلے علاقے ته به ئے یوسی۔ دا شان به ځمونږ مقصد هم پوره شی او یوسف به دَ قتل نه هم بچ شی۔ دَ اکثرو مفسرینو په رائے دا ویونکے یهودا وو چه په ټولو کښ مشر وو اخر ټولو اتفاق اُوکړو چه یوسف دَ قتل په ځائے په یو ژوره کوهی کښ اُوغورځولے شی لکه چه دَ راتلونکو تفصیلا تو نه پته لګی۔ رونړو په شریکه داپروګرام برابر کړو لیکن حضرت یعقوب علیه السلام ته دَ دے هیڅ علم نهٔ وو، دینه دَ هغوئ دَ غیب دان کیدلو نفی کیږی۔ دینه دا هم معلومیږی چه دَ یعقوب علیه السلام

دَ ځامنو هم دا عقیده وه چه دَ هغوئي والد محترم په غیب عالم نهٔ وو ځکه چه دَ حضرت یعقوب علیه السلام دا تعلیم وو چه دَ الله تعالیٰ نه سیوا هیڅوک عالم الغیب نشته ګنی نو هغوئي به دا سې منصوبه نهٔ تیاروله ۱۲.

۱۲ دَ یوسف علیه السلام پلار نه دَ جُدا کولو پروګرام ئې جوړ کړو او دَ محترم پلار په خدمت کښې حاضر شول او وې وئیل چه دَ یوسف په باره کښې تاسو په مونږ اعتماد ولې نهٔ کوئې حال دا دے چه هغه ځمونږ عزیز رور دے او مونږ دَ هغهٔ خیرخواه یو تاسو ځمونږ سره دے اولیږئې بیګاه په سیل او تفریح سره زړهٔ خوشحال کړی او مونږ به دَ دهٔ حفاظت کوو.

۱۳ حضرت یعقوب علیه السلام اُوفرمائیل دَ دهٔ جُدائي ځما دَپاره دَ غم باعث ده دا شان ځما سره خطره ده چه هسې نه ستاسو غفلت سره هغه څوک شرمخ اُوخوری. دَ شرمخ تخصیص ئې دَ دے دَپاره اُوکړو چه دے علاقه کښې شرمخان ډیر وو. وخصه بالذکر لان الارض علی ما قیل کانت مذئبة (روح ج ۱۲ ص ۱۹۵) قَالُوْا لَئِنْ اَكَلَهُ الخ ځامنو جواب ورکړو مونږ دَ لسو ځوانانو یو طاقتور جماعت یو. دَ دے وجے نه داخنګه کیدے شی. که چرے ځمونږ په موجودګئ کښې دا سې اُوشوه نو بیا خو مونږ کمزوری او بزدل اُوګرځیدو.

فَلَمَّا ذَهَبُوْا بِهٖ وَاَجْمَعُوْٓا اَنْ يَّجْعَلُوْهُ فِیْ غَيٰبَتِ

بیا ئې چه ځان سره بوتلو هغه ۱۳ او اتفاق ئې اوکړو چه اُوغورځوئي په یوګمنام (شاړ)

الْجُبِّ ۚ وَاَوْحَيْنَآ اِلَيْهِ لَتُنَبِّئَنَّهُمْ بِاَمْرِهِمْ

کوهي کښې او مونږ اشاره اُوکړه هغهٔ ته چه تهٔ به بیا تو ے هغوئي ته دا کار

هٰذَا وَهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ ﴿۱۵﴾ وَجَآءُوْٓ اَبَاهُمْ

د هغوئي به تا نهٔ پیژنی ف او راغلل هغوئي خپل پلار ته

عِشَآءً يَّبْكُوْنَ ﴿۱۶﴾ قَالُوْا يٰٓاَبَانَآ اِنَّا ذَهَبْنَا

په تیاره کښې چه ژړل ئې. وې وئیل اے پلاره مونږ شروع شو چه منډې مو وهلې

نَسْتَبِقُ وَتَرَكْنَا يُوْسُفَ عِنْدَ مَتَاعِنَا فَاَكَلَهُ

یو بل نه مخکښې کیدلو او پریښودو مونږ یوسف خپل سامان سره بیا اُوخوړو هغهٔ لره

الذِّئْبُ ۚ وَمَا أَنْتَ بِمُؤْمِنٍ لَّنَا وَلَوْ كُنَّا

شرمخ　　　اوته به اونکړے باور　　　په مونږ　　　اګر چه مونږ

صٰدِقِيْنَ ﴿۱۷﴾ وَجَآءُوْ عَلٰى قَمِيْصِهٖ بِدَمٍ كَذِبٍ ؕ

رښتونی یو.　　　اوراٖئے وړلے د هغهٔ په قمیص وینے چه په دروغ لګیدلے وے

قَالَ بَلْ سَوَّلَتْ لَكُمْ أَنْفُسُكُمْ أَمْرًا ؕ فَصَبْرٌ

وویٖل هرګز دا نهٔ ده بلکه جوړه کړیٖ تاسو ته ستا سو زړونو یوه خبره ګټه اوس صبر

جَمِيْلٌ ؕ وَاللّٰهُ الْمُسْتَعَانُ عَلٰى مَا تَصِفُوْنَ ﴿۱۸﴾

بهتر دے　　اود الله نه امداد غواړم　　په دے خبره کومه چه تاسو ظاهروئ ف۲

وَجَآءَتْ سَيَّارَةٌ فَأَرْسَلُوْا وَارِدَهُمْ فَأَدْلٰى

اوراغله　　یوه　　قافله ګله　بیا اولیږلو هغوئ خپل اوبهٔ راوړونکے هغهٔ زوړنډ کړه

دَلْوَهٗ ؕ قَالَ يٰبُشْرٰى هٰذَا غُلٰمٌ ؕ وَأَسَرُّوْهُ

خپله بوکه وے وویٖل ښو مره د خوشحالئ خبره ده دا خو یو هلک دے او پټ ئے کړلو هغه

بِضَاعَةً ؕ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌۢ بِمَا يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۹﴾ وَ

د تجارت مال ئے اوګڼلو او الله بنهٔ پوهیږی په هغے چه کوم هغوئ کوی ف۳. او

شَرَوْهُ بِثَمَنٍ بَخْسٍ دَرَاهِمَ مَعْدُوْدَةٍ ۚ

خرڅ کړو هغه رونړو په قیمت ناقص (کم) قیمت یا ندے د شمار یو څو روپئ وے

۲ ع ۱۲
وَكَانُوْا فِيْهِ مِنَ الزّٰهِدِيْنَ ﴿۲۰﴾

او دوئ　　　د هغهٔ نه　　　بیزاره کیدل ف۴.

نکات: سٰ ای مکذوب فیه او ذی کذب ۱۲. سٰ دا د قصے دریم حال دے

موضح قرآن
ف۱ بیا ئے چه کله هغه بوتلو، دا ئے او فرمائیل وړاندے ئے دا اونهٔ فرمائیل چه څهٔ اوشول ځکه چه د بیان لائق نهٔ دی کوم سلوک چه رونړو په لاره کښ اوکړو بد وئیلو او وهلو سره ئے بوتللو نه ئے د هغهٔ په ژړا رحم کولو او نهٔ په فریاد یا ندے بیا ئے په کوهی کښ

اوغوږ څولو او هغوئ په غاړه ناست وو په رسئ کښ ئے اوتړلو زورتړ ئے کړو چه ډکوهی نیمے ته اورسیدو نو رسئ ئے پریښودله هغه وخت کوهی کښ پریوتلو دزخم نه بچ شو په کوټ کښ په یوه ګټه کیناستلو او رونړو ترینه قمیص اوویستلو بربنړ ئے اوغوږ څولو بیا د الله تعالیٰ زیرے راورسیدو چه یو وخت به ته دوئ ته د دوئ دا کار یادوے. **ف۲** یعنی په قمیص باندے چه کومه وینه وه هغه د دوئ دروغ وو که چرے شرمخ خوړلے وے نو قمیص به څنګه ثابت او روغ پریښودے شوے وے ۱۲. **ف۳** کوهی کښ حضرت یوسف علیه السلام په بوکه کښ کیناستو رابشکونکی چه د هغهٔ حُسن اولیدو د خوشحالئ نه ئے اواز اوکړو چه په ډیر قیمت به خرڅیږی او الله ښهٔ پوهیږی په هغے کوم چه کوی شائیں چه دا مراد وی چه یهودیان دلته دا قصه بدلوی، په تورات کښ ئے بدله کړیده دے د پارهٔ چه په خپلو پلرونو او نیکونو باندے عیب اونهٔ لګیږی. **ف۴** راتلونکے ورځ رونړه لاړل په کوهی کښ ئے اونهٔ موندو په قافله ئے دعوی اوکړه کله چه ثابته شوه په اتلسو اشرفوئے خرڅ کړو درم قریب دے پاؤلی ته نهٔ رونړو دوه دوه اشرفئ تقسیم کړے یو حصه وانخستله. بیا قافلے والو په مصر کښ خرڅ کړو. الله تعالیٰ صریحاً یو ځل خرڅول ذکر کړل د پردے اچولو د پارهٔ لیکن د اشارے نه معلومه شوه چه په ارزان قیمت دلته خرڅ شویدے.

**تفسیر:** **۱۳له** اَجْمَعُوْا، یعنی د یوسف علیه السلام کوهی کښ غورځولو باندے متفق شول. دا په ذهبوا باندے معطوف دے او د لَمَّا جزاء محذوف ده ای فعلوا به ما فعلوا من الاذی (مدارک ج ۲ ص۱۶۳) وَاَوْحَيْنَآ اِلَيْهِ الخ، د حسن، مجاهد، ضحاک او قتاده په نزد باندے د وحی نه نبوت مراد دے یعنی حضرت یوسف علیه السلام ته په کم عمرئ کښ نبوت ملاؤ شوے وو او امام مجاهد په یو قول کښ او نورو مفسرینو د وحی نه الهام مراد اخستے دے. یعنی مونږ د یوسف په زړهٔ کښ دا خبره واچوله لکه چه د شهد و مچئ باره کښ ئے اوفرمائیل وَاَوْحٰى رَبُّكَ اِلَى النَّحْلِ (قرطبی وروح)

**۱۵له** د شپے تول رونړه ژړیدونکی کورته اورسیدل او حضرت یعقوب علیه السلام ته ئے دا بهانه اوکړه چه مونږ منډے وهلے مخکښ لاړو او یوسف مو خپل سامان سره پریښودلو چه واپس راغلو هغه شرمخ خوړلے وؤ. وَجَآءُوْ عَلٰى قَمِيْصِهٖ الخ کذب ای مکذوب فیه او ذی کذب او په بِدَمٍ کښ باء تعدیة د پارهٔ ده یعنی هغوئ د یوسف علیه السلام په قمیص دا سے وینے اولګولے راوړلو چه د هغهٔ نهٔ وے هغوئ د چیلئ بچے یا هوسئ ذبح کړه د هغے په وینو کښ ئے د یوسف علیه السلام قمیص ګنده کړو راوړلو

لیکن هغوئ نه داغلطي اُوشوه چه قمیص شلول ئې هیر کړل. (مدارک، قرطبي)

۱۸ حضرت یعقوب علیه السلام قمیص اُولیده و وے فرمائیل یوسف شرمخ نهٔ دے خوړلے تاسو یوسف علیه السلام د یو سازش د لاندے چرته غائب کړیدے. چرته دا هم کیدے شي چه یوسف شرمخ اُوخوري او قمیص دِ ے صحیح سالم پاتے شي. قال سعید بن جبیر لما جاء وا علی قمیصه بدم کذب وما کان متخرقًا قال کذبتم لو اکله الذئب لخرق قمیصه الخ (کبیر ج ۱۸ ص ۱۰۳) مَا تَصِفُوْنَ ای علی احتمال ما تصفون. یعني کوم څهٔ چه تاسو بیانوئ د هغې په غم او خفگان برداشت کولو باندے د الله نه امداد غواړم. د واقع دِ ے حصے نه معلومیږي چه حضرت یعقوب علیه السلام په غیب عالم نهٔ وو. د زړهٔ ټوټه (خوږ ځوئے ئې) څو میله فاصله باندے په یوکوهي کښ پروت دے. لیکن د هغهٔ علم دهٔ ته نشته.

۱۹ دا د قصے دریم حال دے یٰبُشْرٰی په اصل کښ یا للبشری وو (رضی) لام ئې ځنے وخت غورځولے شي یعنی داسے معنٰی به وي. واه خوشحالي! د کوهي په خواه کښ د تاجرانو یوه قافله تیره شوه هغوئ اُوبو د پاره خپل سړے اُولیږلو هغه چه کله بوکه په کوهي کښ واچوله نو حضرت یوسف علیه السلام بُوکے پورے زوړند شو چه کله هغهٔ دیر خائسته او ښکلے هلک اُولیده چه په بوکه پورے اِنښتے دے نو خپلو ملګروته ئې د هغهٔ زیرے ورکړو. وَاَسَرُّوْهُ بِضَاعَةً، هغه د قافلے نورو خلقونه د یوسف علیه السلام معامله دے وئیلو سره پټه کړه چه د کوهي والئ دا غلام مونږ ته راکړے دے د دِے د پاره چه مونږ دے خرڅ کړو او رقم هغوئ ته واپس کړو. قال مجاهد اسره مالک بن دعر واصحابه عن التجار الذین معهم فی الرفقة وقالوا هو بضاعة استبضعناها بعض اهل الشام او اهل هذا الماء الی مصر وانما قالوا هذا خیفة الشرکة (قرطبي ج ۹ ص ۱۵۳) وَشَرَوْهُ بِثَمَنٍ الخ شروه ای باعوه چه مصر ته اُورسیدل هغوئ حضرت یوسف علیه السلام په معمولي شان قیمت خرڅ کړو او په هغهٔ کښ ئې د بے رغبتئ اظهار اُوکړو په اصل کښ هغوئ داغوښتل چه د دهٔ هر څومره قیمت وصول کړے شي غنیمت دے داسے نهٔ چه مالک یا وارث راشي او هغه د خرڅولو نه مخکښ دوئ نه واخلي

وَقَالَ الَّذِي اشْتَرٰىهُ مِنْ مِّصْرَ لِامْرَاَتِهٖٓ

او اُوئیل هغهٔ چاچه واخستو دهٔ په مصر کښ خپلے ښځے ته

أَكْرِمِي مَثْوَاهُ عَسَىٰ أَن يَنفَعَنَا أَوْ نَتَّخِذَهُ

عزت ساره د هغه ده ئې شاید چه ګټه ورکړي مونږ ته یا ئې اوګرځوو مونږ

وَلَدًا ۚ وَكَذَٰلِكَ مَكَّنَّا لِيُوسُفَ فِي الْأَرْضِ

زوئې او هم داشان مونږ ځائې ورکړو یوسف ته ؑ په ملک کښې

وَلِنُعَلِّمَهُ مِن تَأْوِيلِ الْأَحَادِيثِ ۚ وَاللَّهُ

او دې دپاره چه اوښايو هغه ته تعبیر د خوب د خبرو او الله تعالی

غَالِبٌ عَلَىٰ أَمْرِهِ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا

طاقتور دی په خپلو کارونو کښې لیکن ډیر خلق نه

يَعْلَمُونَ ﴿٢١﴾ وَلَمَّا بَلَغَ أَشُدَّهُ آتَيْنَاهُ حُكْمًا

پوهیږي ف۔ او کله چه اورسیدو هغه خپل قوت ته نو ورکړو مونږ هغه ته حکم

وَعِلْمًا ۚ وَكَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ ﴿٢٢﴾

او علم او هم داشان بدله ورکوو مونږ نیکي کونکو ته ف۲

وَرَاوَدَتْهُ الَّتِي هُوَ فِي بَيْتِهَا عَن نَّفْسِهِ

او طلب د فریب اوکړو ده نه هغه ښځې د چا په کور کښې چه وو دئ د هغه نفس نه

وَغَلَّقَتِ الْأَبْوَابَ وَقَالَتْ هَيْتَ لَكَ ۚ قَالَ

او بندې ئې کړې دروازې او وې وئیل تلوار اوکړه وې وئیل

مَعَاذَ اللَّهِ ۖ إِنَّهُ رَبِّي أَحْسَنَ مَثْوَايَ ۖ

پناه د الله ؑ بیشکه هغه عزیز مالک دے ف د ځما په ښه طریقه ئې ساتلے یم زه

إِنَّهُ لَا يُفْلِحُ الظَّالِمُونَ ﴿٢٣﴾ وَلَقَدْ هَمَّتْ بِهِ ۖ

بیشکه نه کامیابیږي ظالمان خلق ف۳ او بیشکه ښځې فکر اوکړو د هغه

وَهَمَّ بِهَا لَوْلَا أَن رَّأَىٰ بُرْهَانَ رَبِّهِ ۚ كَذَٰلِكَ

او هغه فکر اوکړو د ښځې که چرته ئې نه وو لیدلے او دیدي قدرت د خپل رب ؑ نو دا به ئې وو شوي

لِنَصْرِفَ عَنْهُ السُّوْٓءَ وَالْفَحْشَآءَ ؕ اِنَّهٗ

چه اوګرځوو مونږ د هغهٔ نه بدی ۞ او بے حیائی بیشکه هغه د

مِنْ عِبَادِنَا الْمُخْلَصِيْنَ ﴿۲۴﴾

د بندګانو ځمونږ نه غوره کړے شوے وو ۞

**نکات:** ۔ سلے تخلوم حال ۱۲۔ سلے کاف د کمال بیان د پاره دے ۱۲۔ سلے دا پنځم حال دے ۱۲۔ سلے شرط مؤخر دے او د دهٔ جزاء مقدم ده۔ یعنی هَمَّ بِهَا ۱۲۔

**موضح قرآن** ف۱ په مصر کښ عزیز واخستو۔ عزیز به ئے د بادشاه مختار ته وئیلو هغه هوښیار او عقلمند اُولیاو د غلامانو په شان ئے اُونهٔ ساتلو د ځوئے په شان ئے اُوساتلو چه په کار و بار کښ به د هغهٔ نائب وی۔ دا شان الله تعالیٰ دغه ملک کښ د هغهٔ قدم مضبوط کړو، بیائے د هغهٔ په سبب ټول بنی اسرائیل هلته اُوسول ایا دے کړل او داهم منظور وه چه د سردارانو صحبت او مجلسونه اووینی چه د سلطنت د رموز او اشاراتو پوهیدلو تجربه حاصله کړی او د الله پوره علوم حاصل کړی او الله غالب وی په خپل تدبیر کښ۔ یعنی رونړو غوښتل چه هغه ښکته اُوغورځوی لیکن الله هغه د عزت اسمان ته اُوخیژلو۔ ف۲ حکم مو ورته ورکړو یعنی عقل سره به ئے مشکل خبرے حل کولے، او علم د الله دین وو۔ ف۳ یعنی د هغهٔ په ناموس کښ ځنګه دخل اوکړم ۱۲۔ ف۴ نقل دے چه د حضرت یعقوب صورت هغهٔ ته په نظر راغے چه ګوتے ئے په خُله کښ نیولی وی۔ باقی د ګناه خیال ګناه نهٔ ده او که ګناه ده نو ډیره کمه د اصل ګناه نه الله پیغمبر بچ ساتلے دے

**فتح الرحمٰن** ف۱ یعنی د هغهٔ خیانت نهٔ شم کولے ۱۲۔
ف۲ یعنی د حضرت یعقوب صورت حاضر شو چه ګوتے ئے په غاښونو چیچلے

**تفسیر:** ۔ ۲۵ دا تخلوم حال دے قافلے والو یوسف علیه السلام په معمولی قیمت یاندے په مصر کښ خرڅ کړو لاړل چاچه د قافلے والو نه اخستے وو د هغهٔ نه د مصر د بادشاه ریان بن ولید وزیر قطفیر چه لقب ئے عزیز مصر وو هغهٔ واخستو۔ ځنو لیکلی دی چه عزیز قطفیر براه راست د قافلے والو نه واخستو۔ قال ابن عباس انما اشتراه قطفیر وزیر ملك مصر۔۔۔ وکان هذا العزیز الذی اشتری یوسف علی خزائن المُلك (قرطبی ج ۹ ص۱۵۸) عزیز مصر حضرت یوسف علیه السلام واخستو کور ته ئے راوستلو او ښځے ته ئے

اوویل ده دۀ سره ښهٔ سلوک او خوراک، څښاک، اغوستل ښهٔ ورکوه ممکن ده چه دے لوئے شی څمونږ په څۀ کار راشی یائے مونږ د خپل ځوئے په ځائے اوګرځوؤ ځکه چه د دوئ اولاد نهٔ وو.

۱۹ﻪ کاف د پارۀ د بیان کمال دے. وَلِنُعَلِّمَهٗ. د پارۀ علیه محذوف دے ای لنکرمه یعنی داشان مونږ حضرت یوسف علیه السلام ته د عزیز مصر په کور کښې د عزت او اکرام ځائے ورکړو دے د پارۀ چه مونږ هغهٔ ته عزت ورکړو او د دے د پارۀ چه هغهٔ ته د خوبونو د تعبیر علم ورکړو.

۲۰ﻪ دا پنځم حال دے د اَشُدَّهٗ تفسیر کښې مختلف اقوال دی حضرت ابن عباس رض د دی دیرشت کاله سره د دے تفسیر کړیدے. د امام رازی په نزد باندے هم دا راجح قول دے (کبیر ج ۱۸ ص۱۱۱). حُكْمًا وَّعِلْمًا، حکم نه نبوت او علم نه شریعت مراد دے دا د حضرت ابن عباس قول دے عن ابن عباس ان الحکم النبوة والعلم الشریعة (روح ج ۲ ص۲۰۹) وقال مجاهد العقل والفهم والنبوة.

۲۱ﻪ حضرت یوسف علیه السلام په حسن او جمال کښې زمانه کښې بے مثال وو، او یو وؤ. د عزیز مصر ښځه د چا په کور کښې چه هغه اوسیدو په هغه مئینه شوه او هغه ئے د ګناه طرف ته د رابللو په کوشش کښې شوه عَنْ نَّفْسِهٖ د رَاوَدَتْ سره متعلق دے یعنی دے ښځے د حضرت یوسف علیه السلام نه د هغهٔ د نفس مطالبه اوکړه. مراد د جماع مطالبه ئے اوکړه. ای طلبت یوسف ان یواقعها (مدارک ج ۲ ص۱۶۶) غَلَّقَتِ الْاَبْوَابَ، د کور ټولے دروازے ئے بندے کړے د قرآن نه د دروازو د تالهٔ کولو هیڅ ثبوت نهٔ ملاویږی. هَيْتَ لَكَ، دا اسم فعل دے په معنیٰ د تعال او اسرع، یعنی تلوار اوکړه.

۲۲ﻪ مفعول مطلق دے او د دۀ فعل محذوف دے ای اَعُوْذُ مَعَاذَ اللّٰهِ. رَبِّیْ نه عزیز مصر مراد دے چا چه د هغهٔ په ناز او نعمت کښې د ساتلو حکم ورکړے وو. یا حقیقی رب مراد دے چا چه دا اسباب برابر کړل حضرت یوسف علیه السلام د دے ښځے په جواب کښې اوفرمائیل د دے فعل نه په الله سره پناه غواړم. نهٔ خو ځما د اقا ښځه ئے چه هغهٔ په ما باندے ډیر زیات احسانات اوکړل. د دے وجے نه د هغهٔ په عزت ډاکه اچول ډیره لویه نمک حرامی ده زهٔ دا کار هرګز نهٔ کوم دے د ارام او راحت ځائے نه ئے را اورسولم نو زهٔ اوس څنګه د هغهٔ ناشکری اوکړم.

۲۳ﻪ چونکه د بدکار پخه اراده ئے کړے ده د دے وجے نه د هغے د ارادے بیان ئے لام او قد دوه تاکیدی حروفو سره اوکړو. لیکن حضرت یوسف علیه السلام د بد فعل بالکل اراده نهٔ وه کړے ځکه چه هغهٔ د عظمت

خُداوندی نښان لیدلے وو. ځکه دے وجے نه د هغهٔ اراده ئے په بُرهان پورے معلق اُوګرځوله. یعنی زلیخے خو اراده کړے وه او یوسف علیه السلام هم که چرے د خپل رب بُرهان نهٔ وے لیدلے نو اراده به ئے کړے وے. امام ابو عُبیده فرمائی دے کښ تقدیم تاخیر دے لَوْلَآ اَنْ رَّاٰ بُرْهَانَ رَبِّهٖ شرط مؤخر دے او هَمَّ بِهَا جزاء مقدم ده. قَالَ ابو عبیده هذا علی التقدیم والتاخیر کانه اراد وَلَقَدْ هَمَّتْ بِهٖ ولولا ان را برهان ربه لهم بها (قرطبی ج۹ ص۱۶۶)

۲۴ د برهان باره کښ مختلف اقوال دی حضرت علی کرم الله وجهه نه روایت دے چه زلیخے په کوټ کښ کیښودلے شوی یو بُت باندے پرده واچوله نو حضرت یوسف علیه السلام تپوس اوکړو هغے اووئیل دا زما معبود دے د بد فعل کولو نه ما ته شرم راځی نو حضرت یوسف علیه السلام اُوفرمائیل تهٔ د دے بے حِس او بے شعوره خدائے نه شرم کوے نو زهٔ د خپل علیم او خبیر خدائے نه ولے شرم اُونکړم د دے وجے نه هغهٔ د بد کار اراده هم اُونکړه (قرطبی) څنو لیکلی دی چه حضرت یعقوب علیه السلام متمثل شو او مخے ته راغلے وو دا خبره کمزورے او بے دلیله ده. حضرت شیخ قدس سرهٔ فرمائی چه د بُرهان نه استقامت او ربط القلب مراد دے الله تعالیٰ حضرت یوسف علیه السلام په صلاح او تقویٰ باندے دومره محکم او مستقیم اُولرلو چه د هغهٔ په زړهٔ کښ د ګناه اراده هم پیدا نهٔ شوه.

۲۵ لِنَصْرِفَ متعلق محذوف دے ای کذلک ثبتناه لنصرف، یعنی مونږ یوسف ع هم دا شان ثابت قدم اُولرلو دِ دے د پاره چه د خپل آقا او مولیٰ خیانت او د خپل خالق د معصیت نه هغه بچ اُوساتلو ځکه چه هغه ځمونږ د غوره کړے شوؤ بندګانو نه وو. السُّوْٓءَ، خیانت اَلْفَحْشَآءَ، زنا (مدارک)، اِنَّهٗ مِنْ عِبَادِنَا الْمُخْلَصِیْنَ، جمله تعلیل د ما قبل د پاره ده.

وَاسْتَبَقَا الْبَابَ وَقَدَّتْ قَمِیْصَهٗ مِنْ دُبُرٍ وَّ

او دواړو منډه کړه دروازے ته او بشځے اُوشلولو د هغهٔ قمیص د شا نه او

اَلْفَیَا سَیِّدَهَا لَدَا الْبَابِ ؕ قَالَتْ مَا جَزَآءُ

دواړه ملاؤ شول د بشځے د خاوند سره په دروازه کښ. وے وئیل او هیڅ سزا نهٔ ده

مَنْ اَرَادَ بِاَهْلِكَ سُوْٓءًا اِلَّآ اَنْ یُّسْجَنَ اَوْ

د داسے سړی چه څوک اُوغواړی ستا په کور کښ بدی لیکن دا چه په جیل کښ واچولے شی یا

عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿٢٥﴾ قَالَ هِيَ رَاوَدَتْنِيْ عَنْ نَّفْسِيْ

عذاب دردناک ف. یوسف اووئیل دے خواهش کړے وو ځما نه ځما د نفس

وَشَهِدَ شَاهِدٌ مِّنْ اَهْلِهَا ۚ اِنْ كَانَ قَمِيْصُهٗ

او ګواهي ورکړه یو ګواه د ښځې د خلقو نه ٢٦ که چرے وے قمیص

قُدَّ مِنْ قُبُلٍ فَصَدَقَتْ وَهُوَ مِنَ الْكٰذِبِيْنَ ﴿٢٦﴾

شلیدلے د مخکښ نه نو ښځه رښتونے ده او هغه دروغژن دے

وَاِنْ كَانَ قَمِيْصُهٗ قُدَّ مِنْ دُبُرٍ فَكَذَبَتْ

او که چرے وی د هغهٔ قمیص شلیدلے د شا نه نو دا دروغژنه ده

وَهُوَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ﴿٢٧﴾ فَلَمَّا رَاٰ قَمِيْصَهٗ قُدَّ

او هغه رښتونے دے ف۔ بیا چه کله اُولیدو عزیز قمیص د هغهٔ شلیدلے

مِنْ دُبُرٍ قَالَ اِنَّهٗ مِنْ كَيْدِكُنَّ ۖ اِنَّ

د شا نه وے وئیل بیشکه دا یو فریب دے ستاسو د ښځو بیشکه

كَيْدَكُنَّ عَظِيْمٌ ﴿٢٨﴾ يُوْسُفُ اَعْرِضْ عَنْ هٰذَا ٚ

ستاسو فریب لوئے دے یوسف پریګده دا ذکر

وَاسْتَغْفِرِيْ لِذَنْۢبِكِ ۖ اِنَّكِ كُنْتِ مِنَ الْخٰطِـِٕيْنَ ﴿٢٩﴾

او ښځے ته بښنه اُوغواړه د خپلے ګناه بیشکه ته ګناهګاره وے۔

موضح قرآن ف حضرت یوسفؑ منړه کړه وتلو د پاره هغے منډه کړه نیولو د پاره ف۲ د هغے ښځے یو رشته دار، یو بچے رودونکے داخبراوکړو

تفسیر: ۲۶ حضرت یوسف چه کله داحال اُولیدو نو د ګناه نه د بچ کیدو د پاره ئے دروازے طرف ته منړه کړه او زلیخے د هغهٔ د نیولو د پاره هغهٔ پسے د روستو نه منړه کړه او د هغهٔ قمیص ئے اُونیولو او هغه اُوشلیدلو اتفاقاً عزیز مصر هم د بهرنه دروازے ته را اُورسیدو او د دواړو منړه ئے اُولیده زلیخے د موقعے نزاکت (باریکی) معلوم کړو او د مکرِ زنان (د ښځو مکراوفریب) نه کار واخستو او د یوسف علیه السلام د خیرے نه مخکښ ئے خبره شروع کړه

چه ستا د ښځے سره څوک د بدئ اراده اوکړی د هغهٔ سزا قید دے یا د دینه هم بله کومه سخته سزا. قَالَ هِيَ رَاوَدَتْنِي: زلیخے نه روستو حضرت یوسف علیه السلام خپله صفائی پیش کړه چه ځما څهٔ قصور نشته دا تپوله د زلیخے بدنیتی ده ما خو د دینه د ځان د خلاصولو د پارهٔ منډه وهله بهرته تلل م غوښتل.
۲۷ دا شاهد ماشوم بچے نهٔ وو لکه چه مشهوره ده ځکه چه دا د یو صحیح روایت نه ثابته نهٔ ده د صحیحینو په روایت کښ چه د کومو دریو ماشومانو ځانګوکښ خبرے کول ثابت دی په هغوکښ د دے شاهد ذکر نشته. حضرت حسن، عکرمه، قتاده او مجاهد رضی الله عنهم قول دے چه شاهد د یوسف علیه السلام یئ رودونکے بچے نهٔ وو بلکه یو هوښیار انسان وو امام سُدّی فرمائی هغه د زلیخے د ترهٔ ځوئے وو. قال الحسن وعکرمة و قتادة ومجاهد لم یکن صبیًا ولکنه کان رجلًا حکیمًا ذا رأی وقال هو ابن عم المرأة فحکم (خازن ومعالم ج ۳ ص۲۷۰) دغه سړی دے معامله کښ غور فکر اُوکړو تو هغه په دے نتیجه باندے اُورسید و چه یوسف بے ګناه دے ځکه چه د هغهٔ قمیص د شا نه شلیدلے دے. کهٔ چرے هغه مجرم وے او زلیخے د هغهٔ نه د بچ کیدلو کوشش کولے نو په لاس اچولو کښ به د یوسف علیه السلام قمیص د مخکښ نه شلیدلے وے. نو دے بنیاد باندے هغهٔ خپله فیصله ورکړه. شَهِدَ دلته په معنیٰ د حَكَمَ دے وَحَكَمَ حَاكِمٌ (خازن ومعالم)
۲۸ عزیز مصر چه کله اُولیدل چه د دے هوښیار سړی د قول مطابق د حضرت یوسف علیه السلام قمیص د شا نه شلیدلے دے نو پوهه شو چه قصور ځما د ښځے دے او خپلے ښځے ته مخاطب شو صفائے او وئیل چه تاسو ښځے ډیرے مکارے یئ او د خپلے ګناه الزام په بل لګولو کښ څو مره تکلیف برداشت کوئ. حضرت یوسف علیه السلام ته ئے اووئیل چه بیشکه تاسو بے قصوره یئ لیکن اُوس دا ذکر پریګده او دے معاملے ته طول مهٔ ورکوه دا ځما د عزت سوال دے او خپلے ښځے ته ئے اووئیل چه تهٔ قصور واره ئے یو خو تا د بدکار اراده اوکړه او بیا دِ په یو پاکدامن باندے تهمت اُولګولو د دے وجے نه د دے ګناهونو معافی د الله نه اُوغواړه. الله تعالیٰ په خپله د عزیز مصر په ژبه د حضرت یوسف علیه السلام د براءت او پاکدامنئ اعلان اُوکړو.

وَقَالَ نِسْوَةٌ فِي الْمَدِينَةِ امْرَاَتُ الْعَزِيزِ

او اُووئیل ښځو دغه ښار کښ ۳۰ چه ښځه د عزیز

تُرَاوِدُ فَتٰىهَا عَنْ نَّفْسِهٖ ۚ قَدْ شَغَفَهَا حُبًّا ؕ

خواهش کوی د خپل غلام د هغهٔ د نفس عاشق شو د هغې زړهٔ د هغهٔ په محبت کښې

اِنَّا لَنَرٰىهَا فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿٣٠﴾ فَلَمَّا سَمِعَتْ

مونږ خو هغه وینو په غلطئ ښکاره کښې ف بیا چه کله واورېده هغې

بِمَكْرِهِنَّ اَرْسَلَتْ اِلَيْهِنَّ وَاَعْتَدَتْ لَهُنَّ

د دوئ فریب نو ورپسې لیږلو هغوئ ته (بوتن) او تیار ئې کړو هغوئ د پاره

مُتَّكَاً وَّاٰتَتْ كُلَّ وَاحِدَةٍ مِّنْهُنَّ سِكِّيْنًا

یو مجلس او ورکړو هغوئ نه هرې یوې ته په لاس کښې یو چاړهٔ

وَّقَالَتِ اخْرُجْ عَلَيْهِنَّ ۚ فَلَمَّا رَاَيْنَهٗۤ اَكْبَرْنَهٗ

او وې وئیل یوسف را اُوځه د دوئ په مخکښې. بیا ئې چه کله هغه اُولیده و تو حیرانتیا ته شوې

وَقَطَّعْنَ اَيْدِيَهُنَّ ز وَقُلْنَ حَاشَ لِلّٰهِ مَا هٰذَا

او پرې ئې کړل لاسونه خپل او وې وئیل حَاشَا لِلّٰه نهٔ دې دا سړې

بَشَرًا ؕ اِنْ هٰذَآ اِلَّا مَلَكٌ كَرِيْمٌ ﴿٣١﴾ قَالَتْ

انسان دا خو یوه فرشته ده عزتمنده ف وې وئیل

فَذٰلِكُنَّ الَّذِيْ لُمْتُنَّنِيْ فِيْهِ ؕ وَلَقَدْ

دا هغه دې ئلکه چه تاسو زهٔ ملامته کړې ووم د دهٔ په وجه او بې شکه

رَاوَدْتُّهٗ عَنْ نَّفْسِهٖ فَاسْتَعْصَمَ ؕ وَلَئِنْ لَّمْ

ما طلب کړې وو د دهٔ نفس نو ځان ئې اُوساتلو او بیشکه که چرې نهٔ کوی

يَفْعَلْ مَآ اٰمُرُهٗ لَيُسْجَنَنَّ وَلَيَكُوْنًا مِّنَ

کوم چه زهٔ دهٔ ته وایم نو په قید کښې به پریوځي او شي به د

الصّٰغِرِيْنَ ﴿٣٢﴾ قَالَ رَبِّ السِّجْنُ اَحَبُّ اِلَيَّ

بې عزتو نه ف۳۰ . یوسف اُووئیل ئلکه اې ربه قید ځما خوښ دې د دې خبرې نه

مِمَّا يَدْعُوْنَنِيْٓ اِلَيْهِ ۚ وَاِلَّا تَصْرِفْ عَنِّيْ كَيْدَهُنَّ

د کوم طرفته چه ما بلی او که چرے ته لرے نه کړے ځمانه د دوئ فریب

اَصْبُ اِلَيْهِنَّ وَاَكُنْ مِّنَ الْجٰهِلِيْنَ ﴿۳۳﴾ فَاسْتَجَابَ

نو مائیل به شم زه دوئ طرف ته او شم به بے عقل. نو قبوله کړه د هغهٔ دعا

لَهٗ رَبُّهٗ فَصَرَفَ عَنْهُ كَيْدَهُنَّ ۭ اِنَّهٗ هُوَ السَّمِيْعُ

د هغهٔ رب بیا ئے اوګرځولو د هغهٔ نه د هغوئ فریب بیشکه هغهٔ دے اوریدونکے

الْعَلِيْمُ ﴿۳۴﴾ ثُمَّ بَدَا لَهُمْ مِّنْۢ بَعْدِ مَا رَاَوُا الْاٰيٰتِ

خبر دار ف۳ بیا پوهه شول خلق روستو د لیدلو د دے نښانو

ع ۴ ۱۴ لَيَسْجُنُنَّهٗ حَتّٰى حِيْنٍ ﴿۳۵﴾ ع

چه قید کړو هغه تر یو وخته ف۵ ما

نکات: سا د پنځلسو احوالو ته شپږم حال ۱۲۔

موضح قرآن ف۱ یعنی غلام به د دے ځهٔ قابل وی ۱۲۔
ف۲ چرے ئے ورکړے وے د میوے خوړلو د پاره

د هغهٔ خائست ئے اُولیدو بے حواسه شوے په چړوئے لاسونه پریکړل ۱۲
ف۳ دا خبره ئے د هغوئ مخکښ اُوکړه چه هغوئ پوهه کړی او حضرت
یوسف علیه السلام اُو یریږی قبوله ئے کړی۔ ف۴ په ظاهره معلومیږی
چه خپلو غوښتلو سره په قید کښ پریوتلو لیکن الله تعالیٰ دومره قبوله
چه د هغوئ فریب ئے لرے کړو او قید کیدل د هغهٔ په قسمت کښ وو انسان
له پکار ده چه کله په ویره خطره کښ شی ځان د پارهٔ بد اُونهٔ غواړی پورهٔ
نیکی اُوغواړی اګرچه ځهٔ په قسمت کښ وی هغهٔ به کیږی ۱۲۔
ف۵ اګرچه یتولو اُولیدل چه ګناه د ښځے ده خو بیا ئے هم هغه قید کړو
دے د پارهٔ چه د خلقو بد نامی د زلیخے نه لرے شی یا د دے د پارهٔ چه د هغے
د نظرنه لرے شی. اُونهٔ وینی۔

فتح الرحمٰن ف۱ مترجم وائی یعنی مشورهٔ ئے اُوکړه چه یوسف ۱۴
جیل ته لیږل پکار دی د دے د پاره چه د خلقو
په نزد د زلیخے براءت ښکارهٔ شی والله اعلم ۱۲۔

تفسیر: ۲۹ دا د پنځلسو حالاتو نه شپږم حال دے. د زلیخے د دے

واقعې خبر د اُوړ ښار په ټول ښار کښې خوره شوه او د مصر د هرې یوې ښځې په ژبه دا الفاظ وو چه د عزیزِ مصر ښځه خپل غلام په بد کارۍ بانـدې پوره عاشقه ده۔ قَدْ شَغَفَهَا حُبًّا د مائیل کولو کوشش کوی او په هغه بانـدې پوره عاشقه ده۔ ... د یوسف محبت د زلیخې د زړهٔ پردې څیرې کړې دی د هغې د زړهٔ په پردو کښې ننوتلې دې۔ خَرَقَ حُبُّهُ شغاف قلبها حتی وصل الی الفؤاد (مدارک ص۲۲)

لَفِیْ ضَلٰلٍ مُّبِیْنٍ، هغه په عجیبه بې عقلۍ او ښکاره غلطۍ کښې ده۔

۳۰ زلیخې ته چه کله معلومه شوه چه ښځې دا بد نامی نو هغې د ښار توم لرونکې مشهورې ښځې دعوت ته راوبللې دې د پاره چه هغه د دوئي په مخکښې خپل عذر پیش کړي چې دا شان د هغوئ منصوبه داوه چه څهٔ تدابیر د هغوئ هم په یوسف علیه السلام بانـدې عاشقانې شی او د دې د ملامت کولو نه منع شی۔ انها لما سمعت انهن یلمنها علی تلک المحبة المفرطة ارادت ابداء عذرها فاتخذت مائدة ودعت جماعة من اکابرهن الخ (کبیر ص۱۲۷)

زلیخې په دعوت کښې څلویښت منتخب ښځې راوبللې او ډیرې اعلیٰ ځائسته کړې شوې کمره کښې ئې هغوئ د پاره ځائې جوړ کړو او تکیه لګانې ئې او لګولې او د هرې یوې په لاس کښې ئې میوه وغیره او د پریکولو د پاره یوه یوه چاړهٔ ورکړه او یوسف علیه السلام ته ئې ناڅاپه د هغوئ کمرې ته د داخلیدلو حکم ورکړو ښځو چه د هغهٔ ځائسته حسین او جمیل مخ ته اوکتل نو حواس ئې کار پریښودلو بې هوشه شوې او د میوؤ په ځائې ئې خپل لاسونه پرې کړل۔ اَكْبَرْنَهٗ اعظمنه وهبنه — ابن عباس (قرطبی) یعنی د هغهٔ لیدلو سره اوویریدلې۔ قُلْنَ حَاشَ لِلّٰهِ۔ او ټولو ښځو اُوئیل معاذالله دا خو بشر نهٔ دې دا خو کومه لویه فرشته ده او عزتمنده فرشته ده د داسې حُسن او جمال او محاسن مالک انسان نهٔ شی کیدې د دې وجې نه لامحاله دا خو د یو لوئې اُوچتې مرتبې فرشته ده۔ نفین منه البشریة لغرابة جماله واثبتن له الملکیة وتبتن بها الحکم لما رکز فی الطباع ان لا احسن من الملک الخ (مدارک ج ۲ ص۱۶۹) والمقصود من هذا اثبات الحسن العظیم المفرط لیوسف لانه قد رکز فی النفوس ان لا شیء احسن من الملک (خازن ج ۳ ص۲۵۲) حضرت شیخ قدس سرهٔ فرمائی، دینه د هغوئ مقصد د حضرت یوسف علیه السلام عصمت او براءت ظاهرول دی چه دا شان بې مثاله حسن او جمال او داسې پوره ځوانی او بې خطرې ځائنله والې داسې حالاتو کښې چه سړی د زنا نه بچ شی بلا شُبه هغه فرشته ده۔ لأن الجمع بین الجمال الرائق والکمال الفائق والعصمة البالغة من خواص الملائکة (مظهری ج ۵ ص۱۵۹)

۳۱ زلیخې چه کله د ښځو عاشق کیدل اوحیرانتیا اُولیده نو فوراً ئې اُوئیل
اُوم لیدل چه د یوسف لیدلو سره تاسو په خپله خاموش او بے هوشه
شوئ او هم دا ځما مقصد وو په کوم چه تاسو زۀ ملامته کولم. وَلَقَدۡ
رَٰوَدتُّهُۥ . دے کښ شک نشته چه زۀ د یوسف دے بے مثاله حسن اوجمال
باندے عاشقه یمه او د دۀ د مائیل کولو کوشش م کړیدے فَٱسۡتَعۡصَمَ لیکن
هغه صفا او بچ شویدے او د ګناه نه محفوظ او معصوم دے. د زلیخې په
ژبه د حضرت یوسف علیه السلام د عصمت او پاکدامنۍ شهادت دے.
وَلَئِن لَّمۡ يَفۡعَلۡ ؛ تر اُوسه پورے ځما په خبرو کښ رانغے لیکن یاد ساتی
که چرے هغۀ ځما خبره اُونۀ منی نو هغه به قید کړے شی او دا شان به
په جیل کښ د غلو ډاکوانو او نورو پیشورو مجرمانو پشان ذلت اورسوائی
برداشت کوی. دا د زلیخې طرف نه یوسف علیه السلام ته یوه دهمکی او
دباؤ وو چه کیدے شی هغه دے سره نرم شی لیکن د الله برګزیده او
غوره کړے شوے پیغمبر قید ته په ګناه ترجیح ورکړه.
۳۲ حضرت یوسف علیه السلام په زړه کښ د الله نه دُعا اُوکړه ځما اقا
د کومے ګناه دعوت چه دا ماته راکوی دینه ماته زیات قید کیدل خوښ
دی. ځما الله که چرے تاسو ما د دے مکارو ښځو د فریب نه بچ نکړې
نو ځما په زړه کښ به دوئ ته مینه پیدا شی او زۀ به د ناپوهانو نه اُوګرځم
حضرت یوسف علیه السلام قادر او متصرف نۀ وو. د دے وجے نه هغه
د ګناه نه د بچ کیدلو د پاره د الله تعالیٰ د توفیق اولاس نیولو ته محتاج وو.
فَٱسۡتَجَابَ لَهُۥ رَبُّهُۥ الخ الله تعالیٰ د هغۀ دُعا قبوله کړه او د ښځو د فریب نه ئے
بچ کړو. ثُمَّ بَدَا لَهُم الخ دا د فَصَرَفَ عَنۡهُ كَيۡدَهُنَّ بیان دے عزیز مصر
چه کله د ښارو هوا اُولیده نو هغۀ د خپلے بدنامئ نه د بچ کیدلو د پاره تخۀ
وخته پورے حضرت یوسف علیه السلام قید کول مصلحت اُوګڼړلو
ٱلۡأٓيَٰتِ د حضرت یوسف علیه السلام د براءت دلائیل او شواهد یا د ښار ئے
ماحول او حالات. د حضرت یوسف علیه السلام د زلیخې د ویناً مطابق
قید خوښ شو لیکن الله تعالیٰ قید خانه کښ د ذلت او رسوائی نه بچ
اُوساتلو هغۀ د خپل خداداد صلاحیت، محاسنِ اخلاق، ظاهری او باطنی
کمالاتو په وجے سره به جیل کښ هم د عزت او احترام په نظر سره کتلے
شو تردے چه د جیل نګران هغۀ ته اُوئیل چه زۀ ستا د خلاصولو اختیار
نۀ لرم د دینه علاوه چه ځما نه هرڅو مره کیدے شی زۀ به هغه کوم
او په جیل کښ په تاسو باندے هیڅ پابندی نشته تاسو هر ځائے ته
تلے راتلے شئ. قال له عامل السجن یا فتی لو استطعت خلیت سبیلك

ولکن ما احسن جوارك فلبث في ای بیوت السجن شئت (روح ج ۱۲ ص ۲۴۳)

وَدَخَلَ مَعَهُ السِّجْنَ فَتَيٰنِ قَالَ اَحَدُهُمَآ
او داخل شول دهغه سره قید خانے ته دوه ځوانان اوئیل د هغوئ نه یو
اِنِّيْٓ اَرٰىنِيْٓ اَعْصِرُ خَمْرًا وَقَالَ الْاٰخَرُ اِنِّيْٓ
زه وینم چه نچوړوم شراب او اوئیل دویم زه
اَرٰىنِيْٓ اَحْمِلُ فَوْقَ رَاْسِيْ خُبْزًا تَاْكُلُ
وینم چه پورته کوم په خپل سر باندے روټئ چه خوراک کوی
الطَّيْرُ مِنْهُ نَبِّئْنَا بِتَاْوِيْلِهٖ اِنَّا نَرٰىكَ
مارغان ترینه موږ ته د دے تعبیر راکړه بیشکه موږ تا وینو
مِنَ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۳۶﴾ قَالَ لَا يَاْتِيْكُمَا طَعَامٌ
د نیکی کونکو نه وے وئیل تاسو ته به نۀ وی راغلے طعام
تُرْزَقٰنِهٖٓ اِلَّا نَبَّاْتُكُمَا بِتَاْوِيْلِهٖ قَبْلَ
کوم چه ضرور تاسو ته ملاویږی لیکن اوبه ښایم تاسو ته د دے تعبیر مخکښ
اَنْ يَّاْتِيَكُمَا ذٰلِكُمَا مِمَّا عَلَّمَنِيْ رَبِّيْ اِنِّيْ
د هغے د راتلو نه ، دا علم دے چه ماته ښودلے دے زما رب ما
تَرَكْتُ مِلَّةَ قَوْمٍ لَّا يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَهُمْ
پریښودو دین د هغه قوم چه نۀ راوړی ایمان په الله باندے او د
بِالْاٰخِرَةِ هُمْ كٰفِرُوْنَ ﴿۳۷﴾ وَاتَّبَعْتُ مِلَّةَ
آخرت نه هغه خلق منکر دی ۳۷ او اونیولو ما دین
اٰبَآءِيْٓ اِبْرٰهِيْمَ وَاِسْحٰقَ وَيَعْقُوْبَ مَا كَانَ
د خپل پلار او نیکونو د ابراهیم او اسحاق او یعقوب نۀ دے کار

لَنَآ اَنۡ نُّشۡرِكَ بِاللّٰهِ مِنۡ شَیۡءٍ ؕ ذٰلِكَ مِنۡ

مونږ چه شرک اوکړو　الله سره　د هڅ څیز　دا

فَضۡلِ اللّٰهِ عَلَیۡنَا وَعَلَی النَّاسِ وَلٰكِنَّ

فضل　د الله دے په مونږ باندے او په ټولو خلقو باندے　لیکن

اَكۡثَرَ النَّاسِ لَا یَشۡكُرُوۡنَ ﴿۳۸﴾

ډیر　خلق　احسان نهٔ مني ف۳

**نکات:** ۳۰ دا اوم حال ۱۲۔

**موضح قرآن** ف۱ چاچه شراب اولیدل هغهٔ بادشاه د پارهٔ شراب جوړول او دویم نانبائی وو۔ لیکن خلافِ عادت ئے اولیدل چه د سر نه ئے مارغان روټئ راکاږی د زهرو په تهمت کښې دواړه قید وو اخر نانبائی باندے ثابت شول۔ ف۲ الله پاک په قید کښې دا حکمت کیښودو چه د هغوئ زړونه د کافرانو د محبت نه مات شی نو په زړهٔ باندے د الله علم ظاهر شی وے غوښتل چه اول هغوئ ته د دین خبره واوروی روستو د خوب تعبیر بیان کړی دے د پارهٔ ئے تسلی ورکړه چه اونهٔ ویرېږی ورته ئے اوئیل د خوراک په وخت به هغه هم درته اوښایم ۱۲۔

ف۳ یعنی مونږ په دین باندے کیدل د ټولو خلقو په حق کښې فضل دے چه مونږ ته لاره معلومه کړی ۱۲۔

ف۳۳ دا اوم حال دے۔ دے وخت کښې د مصر بادشاه ریان بن ولید د خپل نانبائی او ساقی نه ناراض شو وجه داوه چه د مصر د بادشاه دشمنانو هغه هلاکول غوښتل منصوبه ئے جوړه کړه د بادشاه نانبائی او ساقی ته ئے رشوت ورکړو په خوراک او څښکاک کښې ئے زهر ملاؤ کړل بادشاه ئے په څکلو باندے مائیل کړو روستو ساقی پښیمانه شو او هغهٔ د زهرو ورکولو نه انکار اوکړو لیکن نانبائی په خپله وعده ټینګ پاتے شو چه کله طعام او شراب د بادشاه په مخکښې حاضر کړے شو نو ساقی بادشاه ته اوئیل دا طعام مهٔ خوره ځکه چه په دے کښې زهر ملاؤ شوی دی او نانبائی د شرابو باره کښې هم دا الفاظ اوئیل بادشاه دواړه جیل ته اولیږل او د تحقیقاتو حکم ئے ورکړو۔ ساقی خوب اولیدو چه هغه انګور نچوړوی او شراب جوړوی او باورچی خوب اولیدو چه هغه په سر باندے روټئ اخستے دی او مارغان روټئ تښتوی۔ دواړو اولیدل چه د جیل قیدیان حضرت یوسف علیه السلام

ته خپل خوبونه بیانوی او هغه ډیره خائسته طریقه بانندے تعبیر بیانوی. دا وجے نه هغوئ هم خپل خوب دَ هغوئ په مخکښ بیان کړو او وے وئیل تاسو ته خپل خوبونه بیانوی او هغه ډیره خائسته طریقه بانندے تعبیر بیانوی. د ډیر نیک دل او صالح سړے معلومیږئ تاسو څموږ دَ خوبونو تعبیر هم بیان کړئ. (روح وقرطبی وغیره).

۳۷ حضرت یوسف علیه السلام دا موقع غنیمت او ګڼړله او خیال ئے راغے چه دَ خوبونو تعبیر بیا ئو لونه مخکښ هغوئ ته دَ توحید مسئله بیان کړی دے دَ پاره چه دَ تبلیغ حق هم اداشی او دَ هغوئ دَ صحبت حق هم اداشی نو دواړو ته ئے اوفرمائیل فکرمهٔ کوئ زهٔ به تاسو ته ستاسو دَ طعام راتللونه مخکښ دَ خوبونو تعبیر بیان کړم. ذٰلِكُمَا مِمَّا عَلَّمَنِىْ رَبِّىْ، دا دَ تعبیر علم دَ هغه علوم او معارف نه دے کوم چه الله ما ته راکړیدی. اِنِّىْ تَرَكْتُ مِلَّةَ قَوْمٍ الخ دا دَ ما قبل دَ پاره په منزله دَ علت دے. ان الله خصه بهٰذا العلم لانه ترك ملة قوم لا یؤمنون بالله الخ (قرطبی ج ۹ ص ۱۹۱)

۳۸ او ما دَ خپل عزتمند پلار انو حضرت ابراهیم، اسحٰق او یعقوب علیهم السلام دَ ملت حُنیفیه پیروی او تابعداری اوکړه چه دَ الله تعالیٰ غوره کړے شوی پیغمبران وو. چه په دُنیا کښ دَ الله دَ توحید خورولو او دُنیا ته دَ شرک ختمولو دَ پاره راغلی وو. دَ دے وجے نه څموږ سره دا مناسب نهٔ ده چه موږ دَ الله سره څوک شریک کړو. ذٰلِكَ مِنْ فَضْلِ اللّٰهِ الخ، دا توحید په موږ بانندے او په نورو خلقو بانندے دَ الله لوئے احسان دے لیکن اکثر خلق دَ هغهٔ شکر نهٔ اداکوی او شرک نه نهٔ منع کیږی یعنی ان اکثرهم لا یشکرون الله علی هٰذه النعم التی انعم بها علیهم لانهم ترکوا عبادته وعبدوا غیره (خازن ج ۳ ص ۲۸۴)

یٰصَاحِبَیِ السِّجْنِ ءَاَرْبَابٌ مُّتَفَرِّقُوْنَ خَيْرٌ

اے ملګرو ۳۹ دَ جیل خانے ایا معبودان جُدا جُدا بهتر دی

اَمِ اللّٰهُ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ ﴿۳۹﴾ مَا تَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖٓ

یا الله یواځے غالب عبادت نهٔ کوئ دَ هیڅ څیز سیوا دَ هغه نه

اِلَّآ اَسْمَآءً سَمَّيْتُمُوْهَآ اَنْتُمْ وَاٰبَآؤُكُمْ

لیکن نومونه دی چه ایښی دی تاسو او ستاسو پلارانو نیکونو

مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ بِهَا مِنْ سُلْطٰنٍ ؕ اِنِ الْحُكْمُ

نۀ دے نازل کړے الله دَ هغوئ څخهٔ سند نۀ دے حکومت دَ هیچا

اِلَّا لِلّٰهِ ؕ اَمَرَ اَلَّا تَعْبُدُوْٓا اِلَّآ اِيَّاهُ ؕ ذٰلِكَ

سیوا دَ الله نه هغهٔ حکم ورکړو چه عبادت مهٔ کوئ مګر دَ هغهٔ هم دا

الدِّيْنُ الْقَيِّمُ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا

صحیح لاره ده لیکن زیات خلق نۀ

يَعْلَمُوْنَ ﴿۴۰﴾ يٰصَاحِبَيِ السِّجْنِ اَمَّآ اَحَدُكُمَا

پوهیږی ۰ اے ملګرو دَ جیل خانے ګله یوتن به تاسو دواړو نه

فَيَسْقِيْ رَبَّهٗ خَمْرًا ۚ وَاَمَّا الْاٰخَرُ فَيُصْلَبُ

اُڅکوی په خپل مالک شراب او دویم به په دار شی (پهانسی به شی)

فَتَاْكُلُ الطَّيْرُ مِنْ رَّاْسِهٖ ؕ قُضِيَ الْاَمْرُ

بیا به خوری مارغان دَ هغهٔ دَ سرنه فیصله شو کار

الَّذِيْ فِيْهِ تَسْتَفْتِيٰنِ ﴿۴۱﴾

هغه دَ کوم چه تاسو تحقیق غوښتلو۔

**نکات:** ۔ سلہ ای علی عبادتها ۱۲۔

**تفسیر:** ۔ ۳۶ه اُوس ئے دَ جیل دواړو ملګرو ته په حکیمانه انداز کښې دَ اسلام دعوت ورکړو او وے فرمائیل تاسو پخپله دَ الله درکړے شوی عقل سره سُوچ اُوکړئ چه ډیر خدایان ښۀ دی چه دَ هغوئ په مختلف دَ عبادت دَ پاره تیټ شئ او دَ چا په وړاندے چه دَ عاجزئ سرونه تیټ کړئ چه دَ هغوئ نه خپل حاجتونه اُوغواړئ یا صرف یو خدائے بهتر دے چه په هرڅهٔ قادر دے، او په ټولو کائناتو غالب دے؟ په نورو الفاظو دَ ډیرے وسه او عاجز معبودان تو محتاجی ښۀ ده یا دَ یو قادر او طاقتور خدائے؟ مَا تَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖ الخ دَ الله نه سیوا چه تاسو کوم کارساز او مُتصرف او مختار ګڼړلی دی او دابلئ ئے دا ټول ستاسو او ستاسو دَ پلرونو او نیکونو دَ ځان نه جوړ شوی دی تاسو خلقو هغه بغیر دَ دلیل

اوحجت نه معبودان گرځولی دی ذ دوئی په معبودکیدلو بانـدے الله کـوم دلیل نهٔ دے نازل کړے. ای سمیتم مالا یستحق الالهیة الهة ثم طفقتم تَعۡبُدُوۡنَهَا (مدارک ج ۲ ص۱۷۱) اِنِ الۡحُكۡمُ اِلَّا لِلّٰهِ، او ذ دین په معامله کښې او ذ دے باره کښې چه څوک ذ عبادت اوراَبللو مستحق دے ذ فیصلے ورکولو حق صرف الله تعالیٰ ته حاصل دے. ای ما الحکم فی شان العبادة المتفرعة علی تلك التسمیة وفی صحتها الا لله (روح ج ۱۲ ص۲۴۵) چه کله دا فیصله ذ الله حق دے نو اَمَرَ اَنۡ لَّا تَعۡبُدُوۡۤا اِلَّاۤ اِیَّاهُ، هغهٔ حکم ورکړو او فیصله ئے اوکړه چه ذ هغهٔ نه سیوا ذ بل چا عبادت اُونکړے شی. او په حاجتونوکښې بل چاته آواز اُونکړے شي ځکه چه ذ هغهٔ نه سیوا څوک ذ عبادت اوراَبللو لائق نهٔ دے ذٰلِكَ الدِّیۡنُ الۡقَیِّمُ، یعنی صرف ذ الله عبادت اوراَبلل مضبوط دین او محکم ملّت دے چه ذ دلائیل عقلیه او براهین نقلیه نه ثابت دے. الثابت الذی دلت علیه البراهین العقلیة وَالنَّقۡلِیَّة (روح ج ۱۲ ص۲۴۵).

**۳۷ف** دوارو قیدیانو ته ذ دعوت اسلام ورکولو او په هغوئی بانـدے ذ توحید مسئله واضح کولو نه روستوئے ذ هغوئی ذ خوب تعبیر بیان کړو چه په هغوئی کښې یو یعنی ساقی دوباره په شاهی دربار کښې په خپل ملازمت بانـدے اولگیږی او خپل مالک بانـدے به ذ شراب څکلو خدمت سرته رسوی ځکه چه ذ هغهٔ جُرم به ثابت نهٔ شی. لیکن دویم ذ بادشاه نانبائی به مجرم ثابت شی ذ دے وجے نه هغهٔ به په پهانسئ اُوخیژولے شی او مارغان به ذ هغهٔ ذ سرمازغهٔ خوری. قُضِیَ الۡاَمۡرُ الخ ستاسو ذ خوبونو کوم تعبیر چه ما بیان کړو هغهٔ به خامخا واقع کیږی حضرت یوسف علیه السلام ذ مذکوره خوب تعبیر وحی سره بیان کړے وو یا ذ علمِ تعبیر په بناء بانـدے هغه چونکه نبی وو ذ دے وجے نه ذ هغهٔ تعبیر یقینی وو. انهما لما سألاه عن ذلك المنام صدقا فیه او کذبا فان الله تعالیٰ اوحی الیه ان عاقبة كل واحد منهما تكون علی الوجه المخصوص فلما نزل الـوحی بذلك الغیب عند ذلك السؤال وقع فی الظن انه ذكره علی سبیل التعبیر (کبیر ج ۱۸ ص۱۴۳).

وَقَالَ لِلَّذِیۡ ظَنَّ اَنَّهٗ نَاجٍ مِّنۡهُمَا اذۡكُرۡنِیۡ

او اُوئیل یوسف هغه یوته چه گمان ئے کړے وو ۳۸ف چه بچ به شی ذ دے دواړو نه ما ذکر اُوکړه

عِنۡدَ رَبِّكَ فَاَنۡسٰهُ الشَّیۡطٰنُ ذِكۡرَ رَبِّهٖ

خپل مالک سره نو هیر کړو هغهٔ نه شیطان ذکر کول خپل مالک ته

فَلَبِثَ فِي السِّجْنِ بِضْعَ سِنِينَ ﴿۴۲﴾ وَقَالَ الْمَلِكُ

بیا پاتے شو په قید کښې څو کاله ۔ف۱ او اوئیل بادشاه

إِنِّي أَرَىٰ سَبْعَ بَقَرَاتٍ سِمَانٍ يَأْكُلُهُنَّ

زهٔ خوب وینم اووه غواګانے څربے هغه خوری

سَبْعٌ عِجَافٌ وَسَبْعَ سُنبُلَاتٍ خُضْرٍ وَأُخَرَ

اووه غواګانے خوارے او اووه وږی شنه او نورے

يَابِسَاتٍ ۖ يَا أَيُّهَا الْمَلَأُ أَفْتُونِي فِي رُؤْيَايَ

اوچ ۔ اے درباریانو تعبیر اوباسئ ماته خما د خوب

إِن كُنتُمْ لِلرُّؤْيَا تَعْبُرُونَ ﴿۴۳﴾ قَالُوا

که چرے یئ تاسو د خوب تعبیر ورکونکی ۔ ورے وئیل

أَضْغَاثُ أَحْلَامٍ ۖ وَمَا نَحْنُ بِتَأْوِيلِ

دا خیالی خوب دے او نهٔ یو مونږ په تعبیر د داسے

الْأَحْلَامِ بِعَالِمِينَ ﴿۴۴﴾ وَقَالَ الَّذِي نَجَا

خوبونو پوهیدونکی ۔ او اوئیل هغه چا چه کوم نه بچ شوے وو

مِنْهُمَا وَادَّكَرَ بَعْدَ أُمَّةٍ أَنَا أُنَبِّئُكُم

د دغه دواړو نه او هغهٔ ته وریاد شو روستو د ډیره مودے نه زهٔ به اوښایم تاسو ته

بِتَأْوِيلِهِ فَأَرْسِلُونِ ﴿۴۵﴾

د دے تعبیر، نو تاسو ما اولیږئ ۔ف۱

نکات: ۔ف۱ دا اتم حال دے.

موضح قرآن ف۱ وے فرمائیل چه یو به وژلے شی هغهٔ ته ئے اونهٔ وئیل چه ته به ئے دا د تیک خوئی د وجے نه الله اوفرمائیل چه هغهٔ ته ئے اټکل اوکړ ما ن سره اوئیل چه بچ به شے معلومه شوه چه د خوب تعبیر یقین نهٔ دے ګمان دے چه پیغمبر

کوم ګمان اوکړی هغه صحیح دے. حضرت یوسف ذَ اسبابو کوشش اوکړو چه
څما ذکر اوکړه بادشاه ته هغهٔ نه هیرشول دِے دَ پاره چه دَ پیغمبر زړهٔ په
اسبابو باندے برقرار پاتے نهٔ شی څو کاله په قید کښ پاتے شو اکثرخلق
وائی چه اووهٔ کلونه پاتے شو.

**فتح الرحمٰن** | ف۱ نو یوسف علیه السلام ته ئے اُولیږلو او ملاقات ئے اوکړو

**تفسیر:** ۳۸ ظَنَّ په معنیٰ دَ یقین دے او دَ علم څکه چه تعبیر ئے دَ
وحی په ذریعه بیان کړے وو.

۳۹ دا اتم حال دے دَ مصر بادشاه خوب کښ اُولیدل چه اُووهٔ خوارے ټیټے
غواګانے نورے اُووهٔ څربے غواګانے خوری دا شان هغهٔ اُووهٔ تروتازه وږی
اُولیدل چه نور اُوچ اُووهٔ وږو پورے چاپیره تاؤشوی دی. دَ مصر بادشاه
دے خوب سره ګبراؤ شو او سحرئے دَ مصر عالمان، کاهنان او نجومیان
را اُوغوښتل دَ هغوئی په وړاندے ئے خپل خوب بیان کړو او هغوئی ته ئے
اُوئیل چه دَ دے تعبیر بیان کړئ. قَالُوْٓا اَضْغَاثُ اَحْلَامٍ، هغوئی نه دَ چا په
پوهه کښ هیڅ تعبیر رانغے. دَ دے وجے نه ئے دیته پریشان کونکے خوب
اُووئیلو او خبره ئے ختمه کړه او وے وئیل چه دا پریشان خیال دے دا هیڅ
خوب نهٔ دے دَ دے وجے نه دَ دے تعبیر نشته.

۴۰ اُمَّةٍ نه اُوګده موده مراد ده، بعد مدةٍ طویلةٍ الخ (مدارک ص۲۲۷)
کله چه ساقی دَ زهرو ورکولو دَ الزام نه بری شو او دَ جیل نه خلاص شو
نو هغهٔ ته خپل بادشاه سره ذکرکول یاد نهٔ شول او په هغے زمانه تیره
شوه تر دے چه دَ بادشاه دَ خوب لیدلو معامله را پیښه شوه او ټول دَ
علم او پوهے خاوندان دَ هغے دَ تعبیر نه عاجز شول نو ساقی ته حضرت
یوسف علیه السلام وریاد شو. هغهٔ اُوئیل صبر اُوکړئ دَ دے تعبیر زهٔ
تاسو ته اُوس راوړم. فَاَرْسِلُوْنِ، یعنی ما ته جیل خانے ته دَ داخلیدلو
خاص اجازت نامه راکړئ ما لره اُولیږئ.

**یُوْسُفُ اَیُّهَا الصِّدِّیْقُ اَفْتِنَا فِیْ سَبْعِ بَقَرٰتٍ**

لا ئے اُو وے وئیل اے یوسف اے رشتینیه حکم راکړه مونږ ته دَ خوب اُووهٔ غواګانے

**سِمَانٍ یَّاْکُلُهُنَّ سَبْعٌ عِجَافٌ وَّسَبْعِ**

څربے دی او هغئ اُوخوړے اُووهٔ خوارو او اُووهٔ

سُنۢبُلٰتٍ خُضْرٍ وَّاُخَرَ يٰبِسٰتٍ لَّعَلِّيْۤ اَرْجِعُ

وږی دی شنه او نورے اوچ دے دَ پاره چه لاړ شم

اِلَى النَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَعْلَمُوْنَ ﴿۴۶﴾ قَالَ

زهٔ خلقو ته شائید چه هغوئ ته معلومه شی ف وړے وئیل

تَزْرَعُوْنَ سَبْعَ سِنِيْنَ دَاَبًا ۚ فَمَا حَصَدْتُّمْ

تاسو فصل کرئ اوه کاله پرله پسے ۴۳ نو کوم چه اوریبئ

فَذَرُوْهُ فِيْ سُنۢبُلِهٖۤ اِلَّا قَلِيْلًا مِّمَّا

هغه پریږدئ په وږوکښ لیکن لږ شان کوم چه

تَاْكُلُوْنَ ﴿۴۷﴾ ثُمَّ يَاْتِيْ مِنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ

تاسو خورئ بیا به راشی روستو دَ دے نه

سَبْعٌ شِدَادٌ يَّاْكُلْنَ مَا قَدَّمْتُمْ لَهُنَّ

اوه کاله دَ سختئ اوبه خورئ کوم چه تاسو دَ هغے دَ پاره ساتلی وو

اِلَّا قَلِيْلًا مِّمَّا تُحْصِنُوْنَ ﴿۴۸﴾ ثُمَّ يَاْتِيْ مِنْۢ

لیکن لږ شان کوم چه تاسو ساتئ دَ تخم دَ پاره - بیا به راشی دَ

بَعْدِ ذٰلِكَ عَامٌ فِيْهِ يُغَاثُ النَّاسُ وَفِيْهِ

دے نه روستو یو کال چه په هغے کښ به باران وریږی په خلقو باندے او په هغے کښ به

يَعْصِرُوْنَ ﴿۴۹﴾ وَقَالَ الْمَلِكُ ائْتُوْنِيْ بِهٖ ۚ فَلَمَّا

دَ میوو رَس نچوړوئ ف ۴۵. او اُوئیل بادشاه راولئ هغه ما ته بیا چه کله

جَآءَهُ الرَّسُوْلُ قَالَ ارْجِعْ اِلٰى رَبِّكَ

اُورسیدو هغهٔ ته لیږلے شوے سړے وے وئیل ۴۶ واپس لاړ شه خپل مالک ته

فَسْئَلْهُ مَا بَالُ النِّسْوَةِ الّٰتِيْ قَطَّعْنَ

او تپوس اُوکړه دَ هغهٔ نه څهٔ حقیقت وو ۴۷ دَ هغه ښځو چا چه پریکړی وو

اَيۡدِيَهُنَّ ؕ اِنَّ رَبِّيۡ بِكَيۡدِهِنَّ عَلِيۡمٌ ﴿۵۰﴾ قَالَ

اوئیل بادشاه چه ... ځما رب د هغوئی په ټول فریب ښه خبر دے ف۳ .

لاسونه خپل

مَا خَطۡبُكُنَّ اِذۡ رَاوَدۡتُّنَّ يُوۡسُفَ عَنۡ نَّفۡسِهٖ ؕ

څهٔ حقیقت دے ستاسو کله چه تاسو مائیل کولو یوسف لره د هغه نفس .

قُلۡنَ حَاشَ لِلّٰهِ مَا عَلِمۡنَا عَلَيۡهِ مِنۡ سُوۡٓءٍ ؕ

وے وئیل حاش لله مونږ ته نهٔ ده معلومه د هغهٔ څهٔ بدی

قَالَتِ امۡرَاَتُ الۡعَزِيۡزِ الۡـٰٔنَ حَصۡحَصَ

اوئیل ښځے د عزیز اوس خبره ښکاره شوه

الۡحَقُّ اَنَا رَاوَدۡتُّهٗ عَنۡ نَّفۡسِهٖ وَاِنَّهٗ

رښتونے ما طلب کړے وو په فریب د پاره د تیرستلو د هغهٔ نفس و بے شکه

لَمِنَ الصّٰدِقِيۡنَ ﴿۵۱﴾ ذٰلِكَ لِيَعۡلَمَ

هغه رښتونو نے دے ف۱ . یوسف اوئیل دا د دے د پاره چه عزیز معلومه کړی

اَنِّيۡ لَمۡ اَخُنۡهُ بِالۡغَيۡبِ وَاَنَّ اللّٰهَ لَا

چه ما د هغهٔ نه غلا نهٔ ده کړے د هغهٔ پسے شا ته او دا چه الله تعالی نهٔ

يَهۡدِيۡ كَيۡدَ الۡخَآئِنِيۡنَ ﴿۵۲﴾

برابروی فریب د خیانت کوونکو .

**نکات:** ۱ دلته اندماج دے یعني بادشاه هغه یوسف علیه السلام ته اولیږلو نو هغهٔ د دهٔ سره ملاقات اوکړو او هغهٔ ته ئے عرض اوکړو ۲ دا تهم حال دے ۲.

**موضح قرآن**

ف۱ یعني ستا قدم به ورته معلوم شي ۲.
ف۲ رَس نچوړول ئے د شراب جوړولو د پاره او فرد ایل اود اوچ کالو ذخیره ئے ورباندے په وږو کښې اوساتله دِے د پاره چه په زمکه کښې سخاته شي او اوږد کاله قحط د پاره پوره شي. ف۳ هغه قصه ورپا د کړے ده چه هغه ښځے کواد دی بادشاه دِ تپوس اوکړی نو هغه

قصه به ښکاره شي چه ګناه د چا ده. ف۴۷ یوسف د ټولو فریب اُوفرمائیلو دِے
د پاره چه فریب د یوے وو او ټولے د هغې امداد کوونکے وے او د فریب والا
نوم ئې یاد نه کړو د پرورش حق ئې اداکړو او بادشاه تپوس اُوکړو تاسو
هغه نه مطالبه کړے وه چه هغوئ پوهه شي چه بادشاه خبر دے. بیا چرته
دروغ اُونه وایئ.

**فتح الرحمٰن** ف۱ بادشاه چه دا تعبیر واؤریدو نو د یوسف علیه
السلام د ملاقات شوق ئې پیدا شو او یوسف علیه السلام
څه موده توقف اُوکړو دِے د پاره چه د هغه د ذمے براءت ظاهر شي.
ف۲ یعنی شهادت په اقرار د زلیخے په پاکدامنۍ د یوسف پټ دے.

**تفسیر:** ۴۱ د دینه مخکښ اندماج دے یعنی بیا هغوئ ساقی حضرت
یوسف علیه السلام ته اُولیږلو او هغه لا ړو د مصر د بادشاه خوب ئې د هغه
په مخکښ بیان کړو فی الکلام حذف ای فارسلوه فاتاه فقال یا یوسف الخ
(روح ج ۱۲ ص۲۵۴) اَیُّهَا الصِّدِّیْقُ، اے ډیر رښتونیه. ساقی په قید خانه
کښ څو ورځے د حضرت یوسف علیه السلام سره پاتے شوے وو د خپل
په معامله کښ ئې د هغه د رښتیاؤ تجربه کړے وه. د دے وجے نه هغوئ
ته د صِدِّیق لقب ورکړو خطاب ئې ورسره اُوکړو.
۴۲ حضرت یوسف علیه السلام د مصر د بادشاه د خوب تعبیر داسے بیان
کړو چه اول اُوۀ کلونو پورے به تاسو حسب عادت کرکوئ او غلے به
زرغونوئ لیکن داسے اُوکړئ چه د وګوته دانے مۀ اُوباسئ بلکه په وګو
کښ ئې ذخیره کوئ دے د پاره چه غله خرابه نۀ شي او چینجي په کښ
پیدا نۀ شي. لیکن د خوراک د پاره چه څومره غله پکار وي هغه د وګوته
اُوباسئ. ثُمَّ یَاْتِیْ الخ بیا به د دینه روستو اُوۀ کلونه سخت راشي په
هغې کښ به تاسو د خپلو مخکنو اُوۀ کلونو ټوله ذخیره ختمه کړئ. د هغې نه
روستو به د خوشحالئ دور شروع شي. ښۀ بارانونه به کیږي او میوے
دانے او غلے به ډیرے پیداکیږي د خوب نه اُوۀ کلونه د خوشحالئ او
د غلے د ډیر والی او بیا اُوۀ کلونه د قحط معلومیږي د دے وجے نه د دواړو
مودونه روستو به بیا د خوشحالئ زمانه شروع کیدل ئې بیان کړل
دِے د پاره چه د دے نه روستو د قحط د ختمیدلو خلقو ته اطمینان حاصل شي
۴۳ دا د پنځلسو حالاتو نه نهم حال دے. ساقی چه کله د بادشاه په خدمت
کښ حاضر شو د حضرت یوسف علیه السلام ښودلے شوے تعبیر ئې بیان
کړو او دے سره ئې چه د غلے ذخیره کولو کومه طریقه ښودلے وه هغه
ته ئې ذکر کړه نو د مصر بادشاه محسوس کړه چه د هغه په قید خانه کښ

يو دا ئي صاحب بصيرت او علم والا انسان موجود دے چه هغه زړه ته پوهيږي خائنست ډېر په زړه پکار دے او د هغه د علم و پوهے و سوچ فکر نه په دګې معاملا تو کښې فائده اخستل پکار دي. د دے وجے نه نے فوراً د هغه د حاضرولو حکم ورکړو. وَأُشَوِّقُ به لما رأى من علمه وفضله و خبر علمه لا يعلمه الا اللطيف الخبير (روح ج ١٣ ص).

د بادشاه ليږلے شوے چه کله حضرت يوسف عليه السلام ته راسيد نو هغه پوهه شو چه تر څو د بادشاه په مجلس کښې د هغه براءت ثابت نه شي هغه وخته به هغه بهر قدم نه ګدي ځکه چه د دے نه بغير د عوام به زړونو کښې او د بادشاه په زړه کښې دا شبه باقي پاتے وي چه د هغه سړي د خپل مالک خيانت نے کړے وو. اګرچه په زبه به څوک د دے خبره نه کوي. خشي ان يخرج وينال من الملك مرتبة ويسكت عن امر ذنبه صفحا فيراه الناس بتلك العين ابدا ويقولون هذا الذي راود امرأة مولاه فاراد يوسف عليه الصلوٰة والسلام ان يبين براءته ويحقق منزلته من العفة والخير وحينئذ يخرج للاحظاء والمنزلة (قرطبي ج ٩ ص).

يعني د هغه ښځو حال څه وو چا چه ما لره په ګناه کښې د راګيرولو مکر او فريب کړے وو. اوس هغوي څه وائي. قَالَ مَا خَطْبُكُنَّ نو بادشاه هغه ښځے او د عزيز مصر ښځه راوبللے هغوي نه ئے تپوس اوکړو چه دا وويئ کله چه تاسو ټولو د يوسف عليه السلام د دهوکه کولو کوشش کړے وو نو تاسو د هغه څه ميلان موندلے وو خپل ځان طرف ته هل وجدتن فيه ميلا اليكن (روح) قُلْنَ حَاشَ لِلّٰهِ الخ. نو ټولو اوئيل حَاشَ لِلّٰهِ مونږ په يوسف کښې هيڅ بدي اونه موندله او هغه خپل ځان طرف ته د ئي ميلان ثبت هم اونکړو. قَالَتِ امْرَأَتُ الْعَزِيزِ الخ اوس زليخے هم اوئيل چه اوس خو حق خبره واضحه شويده د دے وجے نه اوس پټولو نه هيڅ نه جوړيږي حقيقت دا دے چه قصور زما وو ما يوسف عليه السلام ځان ته مائل کړے وو او هغه پخپله خبره کښې رښتونے او په خپل چال چلن کښې صحيح دے.

ديکښې د مفسرينو اختلاف دے چه دا د امرأة العزيز قول دے يا د حضرت يوسف عليه السلام د حضرت قتاده او حضرت حسن او حضرت ابن عباس په نزد دا د حضرت يوسف عليه السلام قول دے حضرت يوسف عليه السلام اوفرمائيل چه ما دا ځکه اوکړل چه بادشاه ته معلوم شي چه ما د عزيز مصر په عدم موجودګئ کښې د هغه خيانت نه دے کړے. لِيَعْلَمَ د پاره فاعل بادشاه دے نه چه عزيز مصر. ځکه چه هغه د غه وخت مړ شوے وو. قال ابن عباس فارسل الملك الى النسوة والى امرأة العزيز وكان قدمات العزيز (قرطبي ج ٩ ص) ليعلم الملك اني لم اخنه بالغيب (كبير ج ١٨ ص).

وَمَآ أُبَرِّئُ نَفْسِيٓ ۚ إِنَّ ٱلنَّفْسَ لَأَمَّارَةٌۢ بِٱلسُّوٓءِ

او زه پاک نه ګڼم خپل نفس ځکه چې بیشکه نفس خو امر کوونکی دی انسان ته په بدۍ

إِلَّا مَا رَحِمَ رَبِّيٓ ۚ إِنَّ رَبِّي غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٥٣﴾

مګر په چا چې رحم وکړي رب زما بیشکه رب زما بخښونکی مهربان دی.

وَقَالَ ٱلْمَلِكُ ٱئْتُونِي بِهِۦٓ أَسْتَخْلِصْهُ لِنَفْسِي ۖ

[illegible]

فَلَمَّا كَلَّمَهُۥ قَالَ إِنَّكَ ٱلْيَوْمَ لَدَيْنَا مَكِينٌ

[illegible]

أَمِينٌ ﴿٥٤﴾ قَالَ ٱجْعَلْنِي عَلَىٰ خَزَآئِنِ ٱلْأَرْضِ ۖ

[illegible]

إِنِّي حَفِيظٌ عَلِيمٌ ﴿٥٥﴾ وَكَذَٰلِكَ مَكَّنَّا لِيُوسُفَ

[illegible]

فِي ٱلْأَرْضِ يَتَبَوَّأُ مِنْهَا حَيْثُ يَشَآءُ ۚ نُصِيبُ

[illegible]

بِرَحْمَتِنَا مَن نَّشَآءُ ۖ وَلَا نُضِيعُ أَجْرَ ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿٥٦﴾

[illegible]

وَلَأَجْرُ ٱلْءَاخِرَةِ خَيْرٌ لِّلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَكَانُوا۟

[illegible]

يَتَّقُونَ ﴿٥٧﴾ وَجَآءَ إِخْوَةُ يُوسُفَ فَدَخَلُوا۟

[illegible]

عَلَيْهِ فَعَرَفَهُمْ وَهُمْ لَهُۥ مُنكِرُونَ ﴿٥٨﴾

[illegible]

**نکات:** ۱ دلنه هم انتها ماج دے یعنی چه کله د خبر و نه روستو په بادشاه باندے د حضرت یوسف علیه السلام قابلیت ظاهر شو نو الخ .
۲ دا لسم حال دے ۱۲

**موضح قرآن** ف اوس ئے د عزیز سره علاقه پریکړه او دے ئے خپل مصاحب اوګرځولو. ف ۲ هغهٔ پخپله دا خدمت طلب کړو دے د پاره چه د اهل دنیا د صحبت نه لرے پاتے شي او د خوب تعبیر باندے بل څوک پوهیدل هم نهٔ چه ائنده د پاره بسهٔ انتظام اوکړي ف ۳ دا جواب شو د هغه سوال او د ابراهیم علیه السلام اولاد د شام نه مصر ته راغلل او بیان اوشو چه رونړو حضرت یوسف علیه السلام د کوهٔ نه لرے اوغورځولو دے د پاره چه ذلیل شي الله زیات عزت ورکړو او په ملک باندے ئے اختیار ورکړو هم دا شان ځمونږ د نبی علیه السلام سره اوشول.
ف ۴ حضرت یوسف علیه السلام د مصر په ښار باندے مختار شو د خوب موافق اوه کاله بسهٔ ابادی اوشوه او ملک د غلو نه ډک شو بیا اوه کاله قحط ئے میانه روئ سره نرخ اوتړلو او د خپل ملک او بے وطنو د پاره ئے برابر یو شان د غلے دانے خرڅولو نرخ مقرر کړو. لیکن بے وطنو (بهرنه راتلونکو) ته به ئے د یو اوښ د بار نه زیات نهٔ ورکولو دے سره خلق د قحط نه بچ شول او د بادشاه خزانه ډکه شوه هر طرف ته خبر اورسیدو چه په مصر کښ غله ارزانه ده د هغهٔ رونړه هم د غلے اخستلو د پاره راغلل.

**فتح الرحمٰن** ف ۱ یعنی او د هغهٔ قابلیت ئے اوپیژندو.
ف ۲ مترجم وائی د هغے نه روستو قحط راغے او هر طرف ته د مصر او شام ته او د یعقوب علیه السلام اولاد ته سخت تکلیف اورسیدو او د یوسف علیه السلام طرف ته متوجه شول والله اعلم ۱۲

**تفسیر:** ۲۴ کله چه حضرت یوسف علیه السلام د خپل براءت اظهار اوکړو نو خیال کښ ئے راغلهٔ چه زهٔ خو د خپل ذات تزکیه (پاکی) پخپله کوم دا قول هرڅهٔ خو د الله توفیق سره شوی دی د دے وجے نه ئے د تواضع او خاکسار ئ په طور فوراً اووئیل وَمَآ اُبَرِّئُ نَفۡسِىۡ الخ زهٔ د خپل ذات پاکیزګی نهٔ کوم د انسان نفس ډیر سرکش دے د دهٔ د ګمراه کولو نه صرف هغه څوک بچ کیدے شي چه د چالاس تیوکه صرف د الله تعالیٰ مهربانی اوکړي وما ابرئ نفسی هضم للنفس وانکسار وتواضع لله عزوجل فان رویة النفس فی مقام العصمة والتزکیة ذنب عظیم فاراد ازالة ذلك عن نفسه الخ زخازن ج ۳ ص ۲۹) قال الحسن لما قال یوسف ذٰلِكَ لِيَعۡلَمَ اَنِّىۡ لَمۡ اَخُنۡهُ بِالۡغَيۡبِ کره نبی الله ان یکون قد زکی نفسه فقال وَمَآ اُبَرِّئُ نَفۡسِىۡ اِنَّ النَّفۡسَ لَاَمَّارَةٌ الخ

وتزکیة النفس من مومنة الخ (قرطبی ج ۹ ص۲۰۸ وخازن).

۴۸ کله چه په بادشاه باندے د حضرت یوسف علیه السلام پاک امنی او عصمت واضح شو نو اُوس هغهٔ حکم ورکړو چه هغهٔ فوراً ما ته راولئ زهٔ هغهٔ خپل مشیر خاص جوړؤم او د خپل حکومت اهم اُمور هغهٔ ته سپارم. ای اجعله خالصًا لنفسی، افوض الیه امر مملکتی (قرطبی ج ۹ ص۲۱۳)

۴۹ کله چه دوارد یو ځائے کیناستل او نبکاره خبرے اُوشوے نو په بادشاه باندے د حضرت یوسف علیه السلام داسے خوبیانے ظاهر شوے چه د هغهٔ په وهم او خیال کښ هم نهٔ راتللے نو هغهٔ اعلان اُوکړو چه د نن نه مونږ تا ته یواهمه او ډیره اُوچته مرتبه درکوؤ او د حکومت ټولو معاملاتو کښ په تا سو ځمونږ اعتماد دے او تا سو امین یئ. ذومکانة ومنزلة امین مؤتمن علی کل شیءٍ (مدارک ج ۲ ص۱۷۳)

۵۰ یوسف علیه السلام پوهه شو چه د مصر بادشاه لازمی طور باندے د حکومت یو محکمه ورسپاری. د دے وجے نه هغهٔ پخپله خپل ځان د یو داسے محکمے د پاره پیش کړو چه د هغے تعلق نیغ په نیغ د عوامو سره وو دے د پاره چه په متوقع قحط سالئ کښ د خدائے د مخلوق سره پوره پوره همدردی اُوکړے شی او هرچا ته د هغهٔ حق ملاؤ شی او د قحط په زمانه کښ د غلے حفاظت او د هغے د خرچ انتظام صحیح پاتے شی. انه علیه السلام علم بالوحی انه سیحصل القحط والضیق الشدید الذی ربما افضی الی هلاك الخلق العظیم فلعله تعالٰی امره بان یدبر فی ذلك ویاتی بطریق لاجله یقل ضرر ذلك القحط فی حق الخلق (کبیر ج ۱۸ ص۱۶۱)

۵۱ کاف د بیان کمال د پاره دے داشان مونږ یوسف علیه السلام ته قید خانے نه اُوویستو او په حکومت باندے مونږ کینولو او ټول د مصر ملک مونږ د هغهٔ په تصرف کښ ورکړو چه هغه چرته غواړی نو لاړ شی او چه چرته اُوغواړی پاتے شی اُوسیږی. مونږ خپل خالص بندګانو ته هم داشان بدله ورکوؤ او د هغوئ د صبر بدله نهٔ ضائع کوو. وَلَاَجْرُ الْاٰخِرَةِ الخ داخو د دُنیا بدله ده او د آخرت جزاء د دینه ډیره زیاته او اعلی او ارفع ده.

۵۲ دالسم حال دے د دے نه مخکښ اندماج دے حضرت یوسف علیه السلام د خزائن الارض وزیر مقرر شو او د اُوو کلونو پورے ئے د زمکے د پیداوار ذخیره کوله د اُوو کلونو نه روستو قحط راغے او د لرے لرے نه خلق د غلے اخستلو د پاره مصرته راتلل شروع شول د دے سلسله کښ د یوسف علیه السلام رونړه هم مصر ته د غلے د پاره هغهٔ ته راغلل حضرت یوسف علیه السلام هغوئ اُوپیژندل لیکن هغوئ دے اُونهٔ پیژندلو د هغوئ په وهم او

کنعان کښې هم نهٔ وو چه یوسف به دومره اوچتے مرتبے ته اورسیږی.

وَلَمَّا جَهَّزَهُمْ بِجَهَازِهِمْ قَالَ ائْتُونِي بِأَخٍ

وکله چه تیار کړو دوئی هغوئی سامان ئے وے وئیل راولئی ما ته یو ورور

لَّكُمْ مِّنْ أَبِيكُمْ ۚ أَلَا تَرَوْنَ أَنِّي أُوفِي الْكَيْلَ

ستاسو چه دے د پلار د طرف نه. تاسو نهٔ گورئ چه زهٔ پوره ورکوم پیمانه

وَأَنَا خَيْرُ الْمُنْزِلِينَ ﴿٥٩﴾ فَإِنْ لَّمْ تَأْتُونِي بِهِ

او زهٔ بهتر میلمستیا ورکوم. که بیا تاسو هغه رانهٔ وستو زما خوا ته

فَلَا كَيْلَ لَكُمْ عِنْدِي وَلَا تَقْرَبُونِ ﴿٦٠﴾ قَالُوا

نو نشته تاسو لره پیمانه نشته زما خوا ته او مهٔ راځئ زما خوا ته هم. وے وئیل

سَنُرَاوِدُ عَنْهُ أَبَاهُ وَإِنَّا لَفَاعِلُونَ ﴿٦١﴾ وَقَالَ

مونږ به خواهش کوو د هغهٔ د پلار نه او مونږ به دا کار ضرور کوو او وے وئیل

لِفِتْيَانِهِ اجْعَلُوا بِضَاعَتَهُمْ فِي رِحَالِهِمْ لَعَلَّهُمْ

خپلو خدمتګارو ته کیدئی د هغوئی سرمایه په سامان د هغوئی کښې د دے دپاره

يَعْرِفُونَهَا إِذَا انْقَلَبُوا إِلَىٰ أَهْلِهِمْ لَعَلَّهُمْ

چه هغه او پیژنی چه کله واپس لاړشی خپلو کورونو ته شائید چه هغوئی

يَرْجِعُونَ ﴿٦٢﴾ فَلَمَّا رَجَعُوا إِلَىٰ أَبِيهِمْ قَالُوا

بیا راشی. پس بیا چه کله اورسیدل دوئی پلار خپل ته نو وے وئیل

يَا أَبَانَا مُنِعَ مِنَّا الْكَيْلُ فَأَرْسِلْ مَعَنَا أَخَانَا

اے پلاره منع کړے شو د مونږ نه پیمانه نو اولیږه مونږ سره ورور

نَكْتَلْ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ ﴿٦٣﴾ قَالَ هَلْ آمَنُكُمْ

چه پیمانه راوړی او مونږ د دهٔ د حفاظت کوونکی یو. وے وئیل زهٔ څهٔ اعتبار او کړم په تاسو

عَلَيْهِ اِلَّا كَمَآ اَمِنْتُكُمْ عَلٰٓى اَخِيْهِ مِنْ

ذ دهٔ باره کښې لیکن هغه شان څنګه چه ما اعتبار کړے وو ددهٔ په ورور باندې ددهٔ نه

قَبْلُ فَاللّٰهُ خَيْرٌ حٰفِظًا وَّهُوَ اَرْحَمُ الرّٰحِمِيْنَ ﴿۶۴﴾

مخکښې نو الله تعالیٰ بهتر دے نګهبان او صرف هغه دے د ټولو نه زیات مهربان.

**موضح قرآن**

ف۱ د ټولو نه کشر ورور د حضرت یوسف علیه السلام سکه ورور وو۔ ۱۲ ف۲ کوم قیمت چه ئے راوړے وو هغهٔ ئے د غلے په بوجو کښې پټ کړو او احسان ئے ورباندې اُوکړو.

**فتح الرحمن**

ف۱ یعني په سبب د طعام ورکولو او د سرمایئے په نیولو به بل څل طمع کوي.

**تفسیر:** ۵۳ کله چه ئے ورونړو ته غله ورکړه نو وے فرمائیل خپل یو لسم ورور هم ځان سره راولئ تاسو اُولیدل چه زهٔ څومره ښهٔ معامله کوم پوره ناپ کوم او د میلمنو خدمت او میلمستیا هم کوم۔ فَاِنْ لَّمْ تَاْتُوْنِيْ الخ که چرے تاسو هغه د ځان سره نهٔ راولئ نو ما ته مهٔ راځئ زهٔ به تاسو ته غله نهٔ درکوم۔ قَالُوْا سَنُرَاوِدُ عَنْهُ الخ هغوئ اُوئیل مونږ به د هغهٔ د راوستلو د پاره د هغهٔ پلار ته څهٔ حیله بهانه کوُو او ضرور به ئے د ځان سره راولو.

۵۴ حضرت یوسف علیه السلام خپلو ملازمانو ته اُوئیل د امال د کوم په عوض کښې چه هغوئ غله اخستے ده د هغوئ په بورو کښې واپس کړئ ممکن ده چه کله هغوئ واپس کور ته اُورسیږي نو خپل مال به اُوپیژني او د امانتدارئ او دیانتدارئ په وجے سره به مونږ ته دوباره د واپس راکولو د پاره مصر ته راشي. ۵۵ کله چه هغوئ واپس د خپل والد محترم په خدمت کښې حاضر شول نو عرض ئے اوکړو چه د بنیامین حصه څمونږ نه منع کړے شوے ده ترڅو چه هغه څمونږ سره لاړ نهٔ شي تر هغه وخته پورے به مونږ ته د هغهٔ حصّه نهٔ ملاویږي. د دے وجے نه تاسو هغه څمونږ سره اُولیږئ مونږ به د هغهٔ پوره حفاظت کوو. قَالَ هَلْ اٰمَنُكُمْ عَلَيْهِ الخ حضرت یعقوب علیه السلام اُوفرمائیل څنګه چه ما د یوسف باره کښې په تاسو اعتماد کړے وو هغه شان د بنیامین باره کښې په تاسو اعتماد اوکړم یعني تاسو یو ځل څما اعتماد زخمي کړے دے لیکن ښهٔ دا ده چه خدا حافظ او هغه مهربان دے څما اُمید دے چه هغه به په ما باندے د خدائے دوه مصیبتونه نهٔ مسلط کوي. فارجوا ان ینعم علیَّ بحفظه ولا یجمع علی مصیبتین (مدارک ج ۲ ص ۱۷۱).

وَلَمَّا فَتَحُوْا مَتَاعَهُمْ وَجَدُوْا بِضَاعَتَهُمْ

اوکله چه ئے پرانستل خپل ترلی څیزونه بیا ئے موندله خپله سرمایه لاڅه

رُدَّتْ اِلَيْهِمْ ۭ قَالُوْا يٰٓاَبَانَا مَا نَبْغِيْ ۭ هٰذِهٖ

چه واپس کړے شوے وه هغوئی ته. وئیل اے پلاره موږ موندله نور څهٔ پکار دی دا

بِضَاعَتُنَا رُدَّتْ اِلَيْنَا ۚ وَنَمِيْرُ اَهْلَنَا وَنَحْفَظُ

څمونږ سرمایه ده موږ ته واپس کړے شویده نوغله به راوړو خپل کورته او حفاظت به کوؤ

اَخَانَا وَنَزْدَادُ كَيْلَ بَعِيْرٍ ۭ ذٰلِكَ كَيْلٌ

د ورور خپل او زیاته به واخلو یو پیمانه د اوښ دا پیمانه

يَّسِيْرٌ ﴿٦٥﴾ قَالَ لَنْ اُرْسِلَهٗ مَعَكُمْ حَتّٰى

اسانه ده. دے وئیل هرګز به اونهٔ لیږم هغه ستاسو سره ۵۵ تر دے چه

تُؤْتُوْنِ مَوْثِقًا مِّنَ اللّٰهِ لَتَاْتُنَّنِيْ بِهٖٓ اِلَّآ

را کړئ ماته وعده د الله تعالی چه خامخا به راسره ئی ماته هغه لیکن

اَنْ يُّحَاطَ بِكُمْ ۚ فَلَمَّآ اٰتَوْهُ مَوْثِقَهُمْ

داچه راګیر کړے شئ تاسو ټول بیا چه کله ورکړه هغهٔ ته پخوله وعده

قَالَ اللّٰهُ عَلٰي مَا نَقُوْلُ وَكِيْلٌ ﴿٦٦﴾ وَقَالَ

دے وئیل الله تعالی څمونږ په خبرو باندے ګواه دے اودے وئیل

يٰبَنِيَّ لَا تَدْخُلُوْا مِنْ بَابٍ وَّاحِدٍ وَّادْخُلُوْا

اے ځامنو مهٔ داخلیږئ په دروازه یوه باندے او داخل شئ

مِنْ اَبْوَابٍ مُّتَفَرِّقَةٍ ۭ وَمَآ اُغْنِيْ عَنْكُمْ

په دروازو جدا جدا او زهٔ نهٔ شم بچ کولے تاسو ۵۸

مِّنَ اللّٰهِ مِنْ شَيْءٍ ۭ اِنِ الْحُكْمُ اِلَّا لِلّٰهِ ۭ

د الله تعالی د ګوځے خبرے نه نهٔ دے حکم د هیچا لیکن د الله تعالی

# عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَعَلَيْهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُتَوَكِّلُونَ ﴿۶۷﴾

په هغهٔ ځما اعتماد دے او په هغهٔ بهروسه پکار دہ بهروسه کوونکو دپاره.

**موضح قرآن**

**ف۱** ظاهري اسباب ئے هم مضبوط کړل او بهروسه ئے په الله اُوکړه دا حکم هر چا ته دے ۱۲. **ف۲** دا ئے د نظر نه بچاؤ اُوښودو او بهروسه په الله اُوکړه بد نظر لګیدل حق دی او د هغے نه ځان ساتل روا دی.

**۵۶** کله چه هغوئ خپل سامان پرانستو نو وے کتل چه د هغوئ سرمایه (روپئ) هم واپس په هغے کښ موجود دی نو وے وئیل پلاره مونږ له نور څهٔ پکار دی مونږ ته غله هم ملاؤ شوه او سرمایه هم واپس راغله والمعنی ای شیء نطلب وراء هٰذا وفی لنا الکیل ورد علینا الثمن (قرطبی ج ۹ ص ۲۲۳) وَنَمِيرُ اَهْلَنَا وَنَحْفَظُ الخ مونږ به دوباره لاړشو بال بچ د پاره به غله راؤړو او د خپل ورور حفاظت به کوو او د یو اُوښ بار به زیاتے غله راؤړو دا غله به مونږ ته اسانئ سره ملاؤ شی صرف د کشر ورور ځان سره د بوتللو ضرورت دے

**۵۷** حضرت یعقوب علیه السلام اُوفرمائیل ترڅو چه تاسو د هغهٔ د واپس راوستلو د پاره د الله وعده ما سره اُونکړئ تر هغه وخته پورے زهٔ دے تاسو سره نهٔ لیږم نو چه کله هغوئ وعده اوکړه نو یعقوب علیه السلام هغوئ رخصت کړل او وے فرمائیل لَا تَدْخُلُوْا مِنْۢ بَابٍ وَّاحِدٍ الخ مصر ته تول په یوه دروازه مهٔ داخلیږئ بلکه مختلفو دروازو نه داخل شئ د دے د پاره چه په تاسو باندے د چا بد نظر اُونهٔ لګیږی ځکه چه الله تعالیٰ دوئ ټولو ته حُسن او جمال او د قوت او طاقت صفتونه ورکړی وو. وانما امرهم بذلک لانه خاف علیهم العین لانهم کانوا قد اعطو جمالا وقوة وامتداد قامة الخ (خازن ج ۳ ص ۲۹۵) **۵۸** زهٔ د الله تقدیر نهٔ شم منع کولے څهٔ چه کیدونکی دی هغه به کیږی. اِنِ الْحُكْمُ اِلَّا لِلّٰهِ. قضا او قدرت د الله په اختیار کښ دی زهٔ په الله باندے توکل (بهروسه) کوم او ټولو ته په الله باندے بهروسه کول پکار دہ ما خو دا صرف د حیلے په طور باندے وئیلی دی.

# وَلَمَّا دَخَلُوْا مِنْ حَيْثُ اَمَرَهُمْ اَبُوْهُمْ

او کله چه داخل شول د کوم ځائے نه چه ورته وئیل کړی وو هغوئ ته د هغوئ پلار

# مَا كَانَ يُغْنِيْ عَنْهُمْ مِّنَ اللّٰهِ مِنْ شَيْءٍ

هیڅ نهٔ شو بچ کولے هغوئ د الله د کومے خبرے نه

إِلَّا حَاجَةً فِي نَفْسِ يَعْقُوبَ قَضَاهَا ۚ وَإِنَّهُ

لیکن یو خواهش وو په زړه د یعقوب کښې نو پوره ئې کړو او بیشکه هغه

لَذُو عِلْمٍ لِّمَا عَلَّمْنَاهُ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ

خبردار وو د کوم څه چه مونږ اوښودل هغه ته لیکن ډیر خلق

لَا يَعْلَمُونَ ﴿٦٨﴾ وَلَمَّا دَخَلُوا عَلَىٰ يُوسُفَ آوَىٰ ع

نا خبره دي ف ۱ او کله چه داخل شول یوسف ته نو ئې ورسره ساتلو

إِلَيْهِ أَخَاهُ ۖ قَالَ إِنِّي أَنَا أَخُوكَ فَلَا تَبْتَئِسْ

خپل ځان سره ورور خپل وې وئیل بیشکه زه یم ستا ورور مه غمګین کیږه

بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿٦٩﴾ فَلَمَّا جَهَّزَهُم بِجَهَازِهِمْ

د هغه کارونو نه کوم چه هغوئي کړیدي ف ۲ بیا ئې چه کله تیار کړو هغوئي په اسباب

جَعَلَ السِّقَايَةَ فِي رَحْلِ أَخِيهِ ثُمَّ أَذَّنَ

د هغوئي کیښودله پیاله د څښلو په سامان د ورور خپل کښې بیا آواز اوکړو

مُؤَذِّنٌ أَيَّتُهَا الْعِيرُ إِنَّكُمْ لَسَارِقُونَ ﴿٧٠﴾ قَالُوا

یو آوازکونکي اے قافلے والو تاسو خو غله یئي وې وئیل

وَأَقْبَلُوا عَلَيْهِم مَّاذَا تَفْقِدُونَ ﴿٧١﴾ قَالُوا نَفْقِدُ

مخ ئې د هغوئي طرفته کړو تاسو څه څیز ورک کړے دے. وې وئیل مونږ نه پیا مومو

صُوَاعَ الْمَلِكِ وَلِمَن جَاءَ بِهِ حِمْلُ

پیمانه د بادشاه هر څوک چه هغه راوړي هغه د پاره دے یو بار

بَعِيرٍ وَأَنَا بِهِ زَعِيمٌ ﴿٧٢﴾

د اوښ او زه د هغه ضامن یم ف ۳

**موضح قرآن** ف ۱ یعني څنګه چه ئې وئیلي وو داخل شول نو اګر چه بد نظر اونه لګید ولیکن تقدیر د بل طرف نه راغے

تقدیر نهٔ دفع کیږی نو چا ته چه علم حاصل دے دَ هغهٔ یقین په تقدیر
باندے هم وی او دَ اسبابو بچاؤ باندے هم او چا سره چه علم نهٔ وی نو
هغه په یو یقین وی نهٔ په دویم. **ف۲** کوم ورور چه حضرت یوسف علیه
السلام آرزو او خواهش سره رابللے وو نورو ورسره حسد شروع کړو دغه
سفر کښې به ئے په هره خبره رټلو او ملامته کولو به ئے حضرت یوسف
علیه السلام هغهٔ ته تسلی ورکړه ۱۲. **ف۳** دَ بادشاه دَ اوبو څکلو دَ سپینو زرو،
یا دَ غلے پیمانه کولو، او اسو ته به ئے په کښې اوبهٔ هم ورکولے. حضرت
یوسف علیه السلام هغوئی ته غلهٔ اُوئیل دا دروغ نهٔ وو، حضرت یوسف
علیه السلام مخے دَ پلار نه غلا کړو او خرڅ ئے کړو ۱۲.

**تفسیر: ف۵۹** دا یو لسم حال دے دَ لَمَّا جواب محذوف دے. ای وقع ما
قضی الله. مختلفو دروازو نه دَ هغوئی داخلیدل فائده مند نهٔ وو دَ هغوئ،
دَ پاره دا خو صرف دَ یعقوب علیه السلام دَ زړهٔ یو خواهش وو چه هغهٔ ظاهر
کړو. اِلَّا حَاجَةً مستثنیٰ منقطع دے. اِلَّا په معنیٰ دَ لکن دے او حاجةً نه مخکښې
فعل اَظْهَرَ مقدر دے. قَضٰهَا چه دَ هغے تفسیر دے. قضها ای اظهرها فوصی بها
(مظهری ج ۵ ص ۲۲) **ف۶۰** کله چه ټول رونړه یوسف علیه السلام ته اُورسیدل
نو هغهٔ خپل ځان سره بنیامین کینولو او هغهٔ ته ئے اُوئیل زهٔ ستا ورور یم
یوسف یم دَ دے وجے نه چه مشرانو ورونړو ستا سره کوم ناروا سلوک کولو
اُوس دَ هغے غم مهٔ کوه دے سره بنیامین اُوئیل چه اوس ما دَ هغوئی سره
هرگز مهٔ لیږه او ما دَ خپل ځان سره حصار کړه هم دا سبب دے چه حضرت
یوسف علیه السلام دَ بنیامین دَ ځان سره دَ پاتے کولو دَ پاره حیله سوچ کړه.
**ف۶۱** کله چه ئے رونړو ته غله ورکړه او رخصت ئے کړل او دَ ټولو سامان ئے
تیار کړو نو حضرت یوسف علیه السلام په پټه سقایه (دَ اوبو څکلو ښے
چه دَ هغے نه به ئے دَ غلے تول کولو کار هم اخستلو) دَ بنیامین په سامان کښې
په خپله کیښودو یا ئے کوم نوکر ته دَ کیښودلو حکم ورکړو هغهٔ کیښودو. ثُمَّ
اَذَّنَ مُؤَذِّنٌ الخ کله چه هغوئی خپل سامان په اوښانو باندے بار کړو روان
شول نو دَ پیمانے ضرورت دَ غلے دَ تول کولو دَ پاره پیښ شو لیکن پیمانه نهٔ وه
ملازمانو (نوکرانو) خیال اوکړو چه اوس اوس کنعانی قافله روانه شویده
کیدے شی هغوئی غلا کړے وی نو هغوئی پسے دوئی په منډه لاړل او یو تن
په هغوئی کښې آواز اوکړو اے قافلے والؤ اُودریږئ تاسو غلهٔ معلومیږئ
قَالُوْا وَاَقْبَلُوْا الخ هغوئی را اُوګرځیدل تپوس ئے اوکړو چه ستاسو نه څهٔ شے
غلا شوے دے قَالُوْا نَفْقِدُ صُوَاعَ الْمَلِكِ، هغوئی اُوئیل چه دَ بادشاه صُوَاعَ
(پیمانه) ورکه شوے ده او آواز کوونکی اُوئیل کوم سړے چه دَ بادشاه پیمانه

واپس کړی زه به هغه ته د اوښ بوبار غله ورکوم او زه د هغه ضامن يم. سقايه او صواع د يو څيز دوه نومونه دی ځکه چه د دينه دوه کاروڼه اخستلے شی. والسقاية والصواع شیء واحد (قرطبی ج ٩ ص ٢٢٩)

قَالُوْا تَاللّٰهِ لَقَدْ عَلِمْتُمْ مَّا جِئْنَا لِنُفْسِدَ

دے وئيل قسم په الله ﷻ تاسو ته معلومه ده مونږ نه يو راغلی د شرارت د پاره

فِی الْاَرْضِ وَمَا كُنَّا سٰرِقِيْنَ ﴿٧٣﴾ قَالُوْا

د ے ملک ته او نه مونږ چرته غله يو . دے وئيل

فَمَا جَزَآؤُهٗۤ اِنْ كُنْتُمْ كٰذِبِيْنَ ﴿٧٤﴾ قَالُوْا

بيا څه سزا ده د هغه . که چرته تاسو دروغژن او ختلئ دے وئيل

جَزَآؤُهٗ مَنْ وُّجِدَ فِیْ رَحْلِهٖ فَهُوَ جَزَآؤُهٗ

د هغه سزا داده چه لاس راغے د چا په سامان کښ هغه دے په بدله کښ لاړ شی

كَذٰلِكَ نَجْزِی الظّٰلِمِيْنَ ﴿٧٥﴾ فَبَدَاَ بِاَوْعِيَتِهِمْ

دا مونږ سزا ورکوو ظالمانو ته ٠ بيائے شروع اوکړه ﷺ د دوی بارونو کتلو

قَبْلَ وِعَآءِ اَخِيْهِ ثُمَّ اسْتَخْرَجَهَا مِنْ وِّعَآءِ

مخکښ د بار کتلو د خپل ورور نه په آخر کښ ئے هغه لوښے راؤويستلو د بار

اَخِيْهِ ؕ كَذٰلِكَ كِدْنَا لِيُوْسُفَ ؕ مَا كَانَ

د ورور خپل نه دا تدبير اوښودلو مونږ يوسف ته هغه هرګز نه شو

لِيَاْخُذَ اَخَاهُ فِیْ دِيْنِ الْمَلِكِ اِلَّاۤ اَنْ يَّشَآءَ

نيولے ورور خپل په دين د دے بادشاه کښ ليکن څه چه اوغواړی

اللّٰهُ ؕ نَرْفَعُ دَرَجٰتٍ مَّنْ نَّشَآءُ ؕ وَفَوْقَ كُلِّ

الله اوچتوو مونږ درجے د چا چه اوغواړو او د پاسه د هر

ذِی عِلْمٍ عَلِیْمٌ ﴿۷۶﴾ قَالُوْۤا اِنْ یَّسْرِقْ فَقَدْ سَرَقَ

پوهه نه بل پوهه شته ف۱. وے وئیل که چرے هغهٔ غلا کړې ده نو غلا کړې وه دهغهٔ

اَخٌ لَّهٗ مِنْ قَبْلُ ۚ فَاَسَرَّهَا یُوْسُفُ فِیْ نَفْسِهٖ

یو ورور دے نه مخکښ بیا په مزه اوئیل یوسف علیه السلام په خپل زړهٔ کښ

وَلَمْ یُبْدِهَا لَهُمْ ۚ قَالَ اَنْتُمْ شَرٌّ مَّكَانًا ۚ

او هغوئی ته ئے ښکاره نهٔ کړه وے وئیل چه تاسو ډیر بد یئی په درجه کښ

وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِمَا تَصِفُوْنَ ﴿۷۷﴾ قَالُوْا یٰۤاَیُّهَا الْعَزِیْزُ

او الله ته ښهٔ معلومه ده دګوم چه تاسو بیان کوئی ف۲. وے وئیل اے عزیز علیه

اِنَّ لَهٗۤ اَبًا شَیْخًا كَبِیْرًا فَخُذْ اَحَدَنَا مَكَانَهٗ ۚ

د دهٔ پلار دے بوډا د ډیر عمر اونیسه یو څوک زمونږ نه د دهٔ په ځائے

اِنَّا نَرٰىكَ مِنَ الْمُحْسِنِیْنَ ﴿۷۸﴾

بیشکه مونږ وینو چه ته ئے احسان کونکے ف۳.

**نکات:** ف۱ الکاف لبیان الکمال ۱۲.

**موضح قرآن** ف۱ د حضرت یعقوب علیه السلام په دین کښ ووچه غل به غلام جوړیږی تر یو کاله پورے.

ف۲ یعنی د ورونړو د ځلے نه ئے په خپله اوتل چه غل څوک کړئ په هغے اونیولے شوګنی نو د بادشاه حکم دانهٔ وو. ف۳ یعنی تاسو داسے غلا کړیده چه ورور مو د پلار نه غلا کړو او خرڅ مو کړو او څما د غلا حکم الله ته معلوم دے هغهٔ ته ئے د غلا طعن او ملامتیا ورکړه هغه قصه داوه چه حضرت یوسف علیه السلام خپلے ترور پاللو د ترور ورسره ډیر محبت وو یو کمر بند ئے د هغهٔ په ملا پورے اوتړلو بیا ئے د هغے طلب شروع کړو خلقو کښ مشهوره شوه آخرکار د هغهٔ د ملا نه را او ویستلے شو د هغه دین موافق د یو کال پورے د ترور سره پاتے شو. ف۴ یعنی داخوئے د بوډا پلار لاس نیسی او ګرځوی ئے.

**فتح الرحمن** ف۱ یعنی هغهٔ غلام سره اونیسی ۱۲.
ف۲ حضرت یوسف علیه السلام یو بت د سرو زرو د مور د طرفه نیکهٔ نه پټ کړو او مات ئے کړو چه هغه د بت د عبادت نه

منع شي. یا دَ دے قصے مشابه یو ځیز چه دَ هغهٔ دَ تهمت سبب اُوګرځي غلا کړے شوے وو۔

**تفسیر**: ۶۲ دَ یعقوب علیه السلام ځامنو اُوئیل تاسو ته ښهٔ معلومه ده چه مونږ دلته دَ فساد کولو دَ پاره نهٔ یو راغلي او نهٔ غلا کول ځمونږ کار دَے دَ یعقوب علیه السلام ځامنو دَ خپلو اُوښانو ځلے تړلے وے دے دَ پاره چه هغه دَ خلقو دَ فصلونو نقصان نهٔ کوی. دا شان هغوئی هغه سرمایه هم واپس کړے وه کومه چه اول ځل دَ هغوئی په سامان کښ واپس تللے وه استشهدوا بعلمهم لما ثبت عندهم من دلائل دینهم وامانتهم حیث دخلوا وافواه رواحلهم مشدودة لئلا تتناول زرعًا او طعامًا لاحد من اهل السوق ولانهم ردوا بضاعتهم التی وجدوها فی رحالهم (مدارک ج ۲ ص ۱۷۱)۔

۶۳ هغوئی اُوئیل کهٔ چرے تاسو دروغژن ثابت شوئی او تاسو کښ څوک غل وی نو بیا به دَ هغهٔ سزا څهٔ وی. هغوئی جواب ورکړو دَ چا دَ سامان نه چه دَ پیمانه راؤځي هغهٔ دِ غلام اُوګرځولے شي او ځمونږ قانون هم دا دے دَ یعقوب علیه السلام دَ ال دادستور او قانون وو چه کوم سړے غلا اوکړي نو هغه به دَ صاحبِ مال تر یوکاله پورے غلامي کوی (مدارک)۔

۶۴ تپول دَ حضرت یوسف علیه السلام په مخکښ حاضر کړے شول هغوئی خو اول دَ مشرانو ورونړو تلاشي واخستله او په آخر کښ ئے دَ بنیامین دَ سامان نه پیمانه راؤویستله. کَذٰلِكَ كِدْنَا لِيُوسُفَ، کاف دَ پاره دَ بیان کمال دے یعني مونږ یوسف علیه السلام ته داشان تدبیر اُوښودلو ځکه نو دَ بادشاه دَ قانون مطابق هغهٔ خپل ورور دَ ځان سره نهٔ شو پاتے کولے ځکه چه دَ مصر دَ بادشاه قانون وو چه دَ غل نه به دَ غلا کړے شوی مال دوچند قیمت اخستلے شو او چه جُرمانه به ئے وصول کړه نو غل به ئے پریښودلو. (کبیر) ۶۵ دَ یعقوب علیه السلام ځامنو چه دا واقعه اُولیدله نو دَ شرم نه ئے سرونه ښکته کړل او وے وئیل چه کهٔ چرے بنیامین غلا کړے ده نو داڅهٔ دَ تعجب خبره نهٔ ده دَ دینه مخکښ دَ هغهٔ ورور هم غلا کړے وه، دَ بنیامین دَ ورور نه حضرت یوسف علیه السلام مراد دے او دَ هغهٔ دَ غلا قصه دا ده چه حضرت یوسف علیه السلام په ماشوموالی کښ پرورش دَ هغهٔ ترور کړے وو او هغه به دَ دے سره پاتے کیدلو کله چه لږ شان لوئے شو نو حضرت یعقوب علیه السلام دَ هغهٔ دَ واپسئ مطالبه اوکړه دَ هغهٔ ترور دَ هغهٔ سره ډیر محبت کولو او عاشقانه محبت ئے ورسره کولو هغه دَدهٔ واپس کولو باندے راضي نهٔ وه دَ دے وجے نه هغے یوسف دَ خپل ځان سره پاتے کولو دَ پاره یوه حیله جوړه کړه چه دَ حضرت اسحاق علیه السلام

يوكمربند چه هغې ته په ميراث كښ ملاؤ شوې وو دَ يوسف عليه السلام په ملا پورې دَ جامونه لاندې اُوتړلو او بيائې اُوئيل چه ځما كمربند ورك شويدې دَ هغې تلاش دِ اوكړې شي تلاش كولو سره هغه دَ حضرت يوسف عليه السلام په ملا پورې تړلے شوے بيا مونډے شو دَ هغې دستور مطابق بيا هغې ته واپس (يوسف عليه السلام) ملاؤ شو.

**٧٧** دَ ورونړو خبرو اوريدلو سره حضرت يوسف عليه السلام په زړهٔ كښ اُوئيل تاسو دَ دې نه هم دَ ډير خراب عمل مرتكب شوى يئ تاسو دهوكې سره يوسف دَ پلار نه جدا كړو او هغه ئې دَ ځنګل په يوكوهي كښ اُوغورځولو او دَ شپې كور ته لاړل دَ پلار مخكښ ئې غلط بيانى اوكړه چه يوسف شرمخ اُوخوړو تاسو چه كوم څهٔ وايئ الله تعالىٰ دَ هغې دَ حقيقت نه خبر دے.

**٧٨** اوس عزيز مصر حضرت يوسف عليه السلام ته ئې درخواست كول شروع كړل دَ بنيامين پلار ډير بوډا دے هغه به دَ ځوئې دَ جدائي صدمه برداشت نكړے شي دَ دې وجې نه تاسو هغه پريږدئ او دَ هغهٔ په ځائې بانډې زمونږ نه يو تن اُوساته، تاسو مونږ ته نيك په نظر راځئ دَ دې وجې نه اُميد دے چه تاسو به ځمونږ درخواست واپس نهٔ كړئ.

قَالَ مَعَاذَ اللّٰهِ اَنْ نَّاْخُذَ اِلَّا مَنْ وَّجَدْنَا

وے وئيل پناه دِ راكړى الله چه مونږ څوك اُونيسو ئله ليكن دَ چا سره چه مونږ بيا مونډلو

ع ٩ ١١ ٣ مَتَاعَنَا عِنْدَهٗۤ اِنَّاۤ اِذًا لَّظٰلِمُوْنَ ﴿٧٩﴾ فَلَمَّا

خپل څيز تو مونږ خو ډير بے انصاف يو. بيا چه كله

اسْتَايْـَٔسُوْا مِنْهُ خَلَصُوْا نَجِيًّا ۗ قَالَ كَبِيْرُهُمْ

نا اُميده شول دَ هغهٔ نه ئله ځانله شول مشوره كولو دپاره. اُوئيل دَ دوئ مشر

اَلَمْ تَعْلَمُوْۤا اَنَّ اَبَاكُمْ قَدْ اَخَذَ عَلَيْكُمْ مَّوْثِقًا

ايا تاسو ته معلومهٔ ده چه ستاسو پلار اخستے ده ستاسو نه وعده

مِّنَ اللّٰهِ وَمِنْ قَبْلُ مَا فَرَّطْتُّمْ فِىْ يُوْسُفَ ۚ

دَ الله او مخكښ چه تاسو كوم قصور كړيدے په حق دَ يوسف كښ

فَلَنْ اَبْرَحَ الْاَرْضَ حَتّٰى يَاْذَنَ لِىْٓ اَبِىْٓ

نو زه خو به هرګز اُونه ځوزیږم د دې ملک نه ترڅو چه حکم راکړی ما ته پلار زما

اَوْ يَحْكُمَ اللّٰهُ لِىْ ۚ وَهُوَ خَيْرُ الْحٰكِمِيْنَ ﴿۸۰﴾

یا فیصله اوکړی الله زما طرف ته او هغه دے د ټولو نه بهتر فیصله کوونکے ول.

اِرْجِعُوْٓا اِلٰٓى اَبِيْكُمْ فَقُوْلُوْا يٰٓاَبَانَآ اِنَّ ابْنَكَ

بیا لاړشئ خپل پلار ته او اووایئ اے پلاره بیشکه ستا ځوئ خو

سَرَقَ ۚ وَمَا شَهِدْنَآ اِلَّا بِمَا عَلِمْنَا وَمَا كُنَّا

غلا اُوکړه او مونږ هم هغه وئیلی دی کوم چه مونږ ته معلوم وو ول او مونږ ته خو

لِلْغَيْبِ حٰفِظِيْنَ ﴿۸۱﴾ وَسْــَٔلِ الْقَرْيَةَ الَّتِىْ كُنَّا

د غیب د خبرو علم نه وو ۲. او تپوس اوکړه د هغه کلی نه چه وو مونږ چه

فِيْهَا وَالْعِيْرَ الَّتِىْٓ اَقْبَلْنَا فِيْهَا ۭ وَاِنَّا لَصٰدِقُوْنَ ﴿۸۲﴾

په کوم کښې او د هغه قافلے نه چه مونږ راغلی یو په کومه کښې او بیشکه مونږ رښتیا وایو

قَالَ بَلْ سَوَّلَتْ لَكُمْ اَنْفُسُكُمْ اَمْرًا ۭ

دے وئیل هیڅ نه ده. بنائسته کړیده ستا سو زړونو یوه خبره

فَصَبْرٌ جَمِيْلٌ ۭ عَسَى اللّٰهُ اَنْ يَّاْتِيَنِىْ بِهِمْ

اوس صبر بهتر دے شائید چه الله تعالیٰ راولی ما ته هغه

جَمِيْعًا ۭ اِنَّهٗ هُوَ الْعَلِيْمُ الْحَكِيْمُ ﴿۸۳﴾

ټول بیشکه هغه دے خبردار حکمتونو والا وس

**نکات:** ول دولسم حال دے ۱۲.

**موضح قرآن** ول یعنی نور رونړه ئے رخصت کړل. مشر ورور ئے پاتے شو دے اُمید سره چه شائید هغه مهربانه شی او بنیامین پریږدی ۱۲.

**و۲** یعنی تا سو ته موقول درکړو په خپلے پوهے باندے او د غلا راته څه خبر نه وو چې

مونږه غل نیولی او ښودلی د خپل دین موافق معلوم راته نه وو چه ږوړ مو غل دے.

ف ۳ د اول ځل بے اعتبارئ په وجے سره دا ځل هم حضرت یعقوب علیه السلام په ځامنو اعتبار اُونهٔ کړو لیکن د پیغمبر خبره دروغ نهٔ وی د ځامنو جوړه کړے شوے خبره وه حضرت یوسف علیه السلام هم ځوئے وو.

**فتح الرحمٰن** ف۱ یعنی وئیل د جَزَآءُهٗ مَنۡ وُّجِدَ فِیۡ رَحۡلِهٖ ۱۲۔

**تفسیر:** ۶۸ حضرت یوسف علیه السلام اُوفرمائیل د ظلم نه په الله سره پناه مونږ به صرف هغه څوک حصار وو چا سره چه زمونږ مال راوتلے دے چه د هغهٔ په ځائے بل څوک حصار کړو نو بیا خو مونږ ظالمان یو. اِلَّا مَنۡ وَّجَدۡنَا کښ اِلَّا په معنیٰ د سوی دے.

۶۹ دا دولسم حال دے چه کله هغوئ د بنیامین د واپسئ نه نا اُمیده شول نو ځانله شول مشوره ئے اُوکړه. قَالَ کَبِیۡرُهُمۡ الخ، مشر ورور یهودا اُوئیل ایا تاسو ته معلومه نهٔ ده چه تاسو خپل پلار سره وعده کړیده د الله او راغلئ او د دینه مخکښ تاسو د یوسف ع باره کښ هم غلطی کړیده د دے وجے نه زهٔ خو به د دے ځائے نه اُونهٔ خوزیږم ترڅو پورے چه ما ته ځما پلار اجازت رانکړی یا ما ته الله د الهام په ذریعه د تللو حکم راکړی یا الله تعالیٰ ځما د واپس تللو د پاره بله کومه باعزته لاره اُوباسی. یعنی عزیز مصر بنیامین ما ته واپس راکړی او زهٔ هغه واپس ځان سره بوزم. اِرۡجِعُوۡۤا اِلٰۤی اَبِیۡکُمۡ الخ، تاسو ټول واپس لاړشئ او د عزت مند پلار خدمت کښ عرض اوکړئ چه بنیامین د غلا په جُرم کښ اُونیولے شو. کوم څهٔ چه مونږ په خپلو سترګو اُولیدل هغه بیانوو د اصل حقیقت مونږ ته علم نشته او نهٔ مونږ په غیب عالمان یو.

ف ۷ تاسو مصر ته سړے اُولیږئ تصدیق اُوکړئ او د هغه قافلے والو نه معلومات اوکړئ د کومے سره چه مونږ یو ځائے راغلی یو تاسو ته به معلومه شی چه مونږ ربښتیا وایو قَالَ بَلۡ سَوَّلَتۡ الخ، د دینه مخکښ ابن ماجه د کله نه وروڼه د مصر نه روان شول واپس وطن ته اُورسیدل او ټوله قصه ئے حضرت یعقوب علیه السلام ته بیان کړه نو هغوئ اوفرمائیل دے کښ هم ستاسو فریب دے تاسو د یوسف پشان بنیامین هم چرته غیب کړیدے بنهٔ ده نو ځما کار صبر دے دا تکلیف ځما په تقدیر لیکلے دے لیکن ځما اُمید دے چه الله تعالیٰ به دریواړه وروڼه صحیح سلامت واپس راولی. د دے نه معلومه شوه چه حضرت یعقوب علیه السلام غیب دان نهٔ وو ځکه چه هغهٔ د بنیامین په معامله کښ هم خپل ځامن ملزمان اُوګرځول حال دا دے چه

دے کښې د هغوئي څۀ قصور نۀ وُو۔

وَتَوَلّٰى عَنْهُمْ وَقَالَ يٰٓاَسَفٰى عَلٰى يُوْسُفَ
او واپس اوګرځید وَ د هغوئي نه لګ او وے وئیل اے افسوس په یوسف

وَابْيَضَّتْ عَيْنٰهُ مِنَ الْحُزْنِ فَهُوَ كَظِيْمٌ ﴿٨٤﴾
او سپینې شولے سترګے د هغۀ د غم نه نو هغۀ زغملو غم و۱.

قَالُوْا تَاللّٰهِ تَفْتَؤُا تَذْكُرُ يُوْسُفَ حَتّٰى
وے وئیل په الله قسم تۀ نۀ پریګدے یادول د یوسف (علیه السلام) ترهغے چه

تَكُوْنَ حَرَضًا اَوْ تَكُوْنَ مِنَ الْهٰلِكِيْنَ ﴿٨٥﴾ قَالَ
چه شے تۀ مرګ ته نزدے لګه یا شے مړ ف۲. وے وئیل

اِنَّمَآ اَشْكُوْا بَثِّيْ وَحُزْنِيْٓ اِلَى اللّٰهِ وَاَعْلَمُ
بیشکه زۀ شکایت کوم خپله پریشانی او غم د الله په مخکښې لګه او پوهیږم زۀ

مِنَ اللّٰهِ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿٨٦﴾ يٰبَنِيَّ اذْهَبُوْا
د الله د طرفه په هغه څۀ چه تاسو پرے نۀ پوهیږئ ف۳. اے ځامنو لاړ شئ

فَتَحَسَّسُوْا مِنْ يُّوْسُفَ وَاَخِيْهِ وَلَا تَايْئَسُوْا
او تلاش کوئ د یوسف لګه او د هغۀ د ورور او مۀ نا اُمیده کیږئ

مِنْ رَّوْحِ اللّٰهِ ۭ اِنَّهٗ لَا يَايْئَسُ مِنْ رَّوْحِ اللّٰهِ
د فیضه د الله بیشکه نۀ نا اُمیده کیږی د فیضه د الله

اِلَّا الْقَوْمُ الْكٰفِرُوْنَ ﴿٨٧﴾ فَلَمَّا دَخَلُوْا عَلَيْهِ
لیکن هغه خلق څوک چه کافران دی. بیا چه کله هغوئي داخل شول د هغۀ خواته ف۵

قَالُوْا يٰٓاَيُّهَا الْعَزِيْزُ مَسَّنَا وَاَهْلَنَا الضُّرُّ
وے وئیل اے عزیزه رسیدلے ده مونږ ته او څمونږ اهل او عیال ته سختی

وَجِئْنَا بِبِضَاعَةٍ مُّزْجٰىةٍ فَاَوْفِ لَنَا الْكَيْلَ وَ

او راوړې مونږ ده پنګه (سرمایه) ناقصه نو پوره راکړه مونږ ته پیمانه، او

تَصَدَّقْ عَلَيْنَا ۭ اِنَّ اللّٰهَ يَجْزِي الْمُتَصَدِّقِيْنَ ﴿۸۸﴾

خیرات اوکړه په مونږ باندې بیشکه الله تعالیٰ بدله ورکوی خیرات کوونکو ته ف۴.

**نکات:-** سلے دا دیار لسم حال دے ۱۲.

**موضح قرآن**

ف۱ خبره به ئے دَ ځلے نه نهٔ وتله لیکن دغه وخت ئے بے اختیاره دَ ځلے او وتل دا قسم غم ئے دومره ډیره زمانه پټ اوساتلو دا دَ پیغمبر نه سیوا دَ بل هیچا کار نهٔ دے ۱۲. ف۲ دَ دے ځوئے تللو سره بیا دَ یوسف غم تازه شو. ف۳ یعنی ایا تاسو به ما ته صبر اوښایئ لیکن بے صبره هغه دے څوک چه دَ خلقو مخکښ شکایت اوکړی دَ خالق نه زهٔ خو مناجات کوم چاچه ما ته درد راکړے دے او په دے هم پوهیږم چه په امتحان دِے کوم چه ترکومه حده دا رسیږی ۱۲. ف۴ په قحط کښ ئے دَ کور ټول سامان خرڅ کړو دا ځل ئے وړئی او پنیر او داسے څیزونه راوړی وو دَ غلے اخستلو دپاره دِے حال اوریدلو سره یوسف ته رحم راغے خپل ځان ئے ښکاره کړو او ټول دَ کور خلق ئے را اوغوښتل ۱۲.

**تفسیر:-** سلے دَ ځامنو راوړے شوی ناخوښه خبر باندے دَ ناخوښئ ظاهرولو په طور باندے ئے دَ هغوئ اعراض اوکړو او دَ بنیامین دَ جُدائیئ غم سره دَ یوسف علیه السلام غم تازه شو. وَابْيَضَّتْ عَيْنٰهُ دَ یوسف علیه السلام دَ فراق په غم کښ دَ زیات ژړلو په وجے سره دَ حضرت یعقوب علیه السلام سترګے سپینے شوے. فَهُوَ كَظِيْمٌ او هغه دَ ځامنو نه خفه وو لیکن دَ ناراضګئ اظهار ئے نهٔ کولو دَ حضرت یعقوب علیه السلام دَ یوسف علیه السلام په غم کښ دومره ډیر ژړل او دَ دومره ډیر تکلیف او غم اظهار دَ بشریت په تقاضا وو دَ انسان دَ فطرت دا تقاضا ده چه دَ غم او تکلیف په موقع باندے هغه په قابو کښ نهٔ شی پاتے کیدلے. هم دا وجه ده چه دَ انسان صبر قابل تعریف دے. ویجوز للنبی علیه السّلام ان یبلغ به الجزع ذلك المبلغ لان الانسان مجبول علی ان لا یملك نفسه عند الحزن فلذلك حمد صبره الخ (مدارك ج ۲ ص ۱۸۰)

سلے حَرَضًا، قریب الموت یا جسمانی او دماغی طور باندے بیکاره. ځامنو اوئیل تاسو اوس هم یوسف نهٔ هیروئ الله تعالیٰ ته معلومه چه هغه کله ختم شوے دے تاسو همیشه یوسف یادوئ تر هغے چه ستاسو ټول قوتونه ختم شی یا تاسو مړهٔ شئ لیکن یوسف به اوس بیا نهٔ مومئ.

۷۳ حضرت یعقوب علیه السلام اُوفرمائیل زهٔ خپل غم الله ته بیا نوم ځکه چه هغه دَ غمژن اُومصیبت رسیده وبکی خلقو یار او مددګار دے او دَ الله دَ طرفه چه ما ته کوم علم حاصل دے هغه تاسوته نهٔ دے حاصل. دَ دینه مراد دا دے چه ځما ځوئے یوسف ژوندے دے ځکه چه هغهٔ په ماشوموالی کښ خوب لیدلے وو هغه برحق دے دَ دے وجے نه هغهٔ به یقیناً ځمونږ سره ملاویږي اوزهٔ او تاسو ټول به دَ هغهٔ په مخکښ سجده کوُنکی یو. معناه والله اعلم ان رؤیا یوسف حق وصدق وانی وانتم سنسجد له (خازن ج۳ ص۲۱) یا مطلب دا دے چه زهٔ پوهیږم په انبیاء علیهم السلام باندے امتحانات کیږي لیکن په اخرکښ دَ ارام اوراحت وخت هم راځي دَ یوسف علیه السلام جُدائی یو امتحان دے دَ دے وجے نه ځما یقین دے چه دَ ابتلاء نه روستو به الله تعالیٰ دَ یوسف سره ځما ملاقات ضرور کوی.

۷۴ اوس حضرت یعقوب علیه السلام ځامنو ته اُوفرمائیل لاړشئ او دَ یوسف او دَ هغهٔ دَ ورور تلاش کوئ او دَ الله دَ رحمت نه مهٔ نا اُمیده کیږئ ځکه چه دَ الله تعالیٰ دَ رحمت نه نا اُمیده کیدل دَ کافرانو عادت او طریقه ده.

۷۵ دا دیارلسم حال دے دَ یعقوب علیه السلام ځامن په دریم ځل مصر ته راغلل او دَ حضرت یوسف علیه السلام په خدمت کښ حاضرشول عرض ئے اوکړو اے عزیزه مونږ ته او ځمونږ بال بچ ته دَ قحط سالئ په وجه سخت تکلیفونه رسیدلی دی او داځل مونږ ډیره لږه سرمایه راوړے ده تاسو مهربانی اُوکړئ مونږ ته پوره غله راکړئ او په مونږ احسان اوکړئ الله تعالیٰ به تاسو ته دَ احسان بدله درکړی. مُزْجَاةٍ، معمولی، ناقص، ډیرلږ، ای بضاعة ردیئة کاسدة لاتنفق فی الطعام الا بتجوز من البائع (خازن ج۳ ص۲۱)

قَالَ هَلْ عَلِمْتُمْ مَّا فَعَلْتُمْ بِيُوسُفَ وَ

وے وئیل تاسو ته څهٔ خبرشته لګه چه څهٔ کړی وو تاسو دَ یوسف او دَ هغهٔ

اَخِيهِ اِذْ اَنْتُمْ جَاهِلُوْنَ ﴿۸۹﴾ قَالُوْٓا ءَاِنَّكَ

دَ ورور سره کله چه تاسو نهٔ پوهیدلئ وے وئیل آیا

لَاَنْتَ يُوسُفُ ۖ قَالَ اَنَا يُوسُفُ وَهٰذَآ اَ

نهٔ ریښتیا یوسف ئے. یوسف اُوئیل زهٔ یوسف یم او دا ځما

أَخِي قَدْ مَنَّ اللَّهُ عَلَيْنَا إِنَّهُ مَنْ يَتَّقِ

ورور دے احسان او کړو الله تعالیٰ په مونږ. باندے بیشکه څوک چه ویریږی

وَيَصْبِرْ فَإِنَّ اللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجْرَ الْمُحْسِنِينَ ﴿٩٠﴾

او صبر کوی نو الله تعالیٰ نه ضائع کوی حق د نیکی کونکو ف

قَالُوا تَاللَّهِ لَقَدْ آثَرَكَ اللَّهُ عَلَيْنَا وَإِنْ

وے وئیل قسم په الله ښکه بیشکه غوره کړے ته الله څمونږ نه او بیشکه

كُنَّا لَخَاطِئِينَ ﴿٩١﴾ قَالَ لَا تَثْرِيبَ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ

مونږ وو خطا کونکی ف۲. وے وئیل هیڅ ملامتیا نشته په تاسو باندے نن

يَغْفِرُ اللَّهُ لَكُمْ وَهُوَ أَرْحَمُ الرَّاحِمِينَ ﴿٩٢﴾

او ښښی الله تاسو او هغه دے زیات مهربانی کونکے.

اذْهَبُوا بِقَمِيصِي هَٰذَا فَأَلْقُوهُ عَلَىٰ وَجْهِ

واخلئ دا قمیص څما ښه او واچوئ هغه په مخ

أَبِي يَأْتِ بَصِيرًا وَأْتُونِي بِأَهْلِكُمْ

څما د پلار، چه راشی په لیدونکو سترګو او راولئ ماته خپل کور

أَجْمَعِينَ ﴿٩٣﴾ وَلَمَّا فَصَلَتِ الْعِيرُ قَالَ أَبُوهُمْ

ټول ف۳. او کله چه جدا شوه قافله ښکه أوئیل د هغوئ پلار

إِنِّي لَأَجِدُ رِيحَ يُوسُفَ لَوْلَا أَنْ تُفَنِّدُونِ ﴿٩٤﴾

زه بیا موموم بوئے د یوسف که چرے نه وایئ تاسو چه بوډا بے عقله شو

قَالُوا تَاللَّهِ إِنَّكَ لَفِي ضَلَالِكَ الْقَدِيمِ ﴿٩٥﴾

خلقو أوئیل قسم په الله ته خو اوس هم په هغه غلطئ زړه کښ ئے

موضح قرآن | ف چا باندے چه تکلیف پریوځی او هغه د شرے نه بهر لاړ نه شی او اونه ویریږی نو آخرکښ مصیبت نه

وو اوځمونږ حسد غلط وو ښتونے وو اوځمونږ حسد غلط وو
زیات انعام ملا وېړی۔ ف۲ یعنی ستا خوب رښتونے وو اوځمونږ حسد غلط وو
ف۳ دَ هر مرض علاج الله سره شته دلے نظرئے ختم شوے وو دَ یوانسان په
فراق کښِ دَ هغهٔ دَ بدن تحیز ملا وید لو سره جوړ شو دا دَ یوسف کرامت وو۔
تفسیر: ۷۶ داخل چه ورونړو دَ خپل اهل وعیال دَ تکلیف لوړے ذکر
اُوکړو نو حضرت یوسف علیه السلام بے اختیاره شو او رازئے ښکاره کړو او
ورونړو ته ئے اُوئیل ایا تاسو ته معلومه ده کوم سلوک چه تاسو یوسف او
دَ هغهٔ ورور بنیامین سره کړلو کله چه تاسو ته پوهیدلئی۔ ولما قالوا
مَسَّنَا وَاَهْلَنَا الضُّرُّ وتضرعوا الیه وطلبوا منه ان یتصدق علیهم ارفضت
عیناه ولم یتمالك ان عرفهم نفسه (مدارک ج ۲ ص ۲۸) قَالُوْٓا ءَاِنَّكَ الخ
ورونړو دَ یوسف علیه السلام سره چه کوم سلوک کړے وو هغه یو راز وو
چه هغه دَ یوسف علیه السلام او دَ هغهٔ دَ ورونړو نه علاوه بل هیچا ته نهٔ وو
معلوم دَدے وجے نه هغوئی پوهه شول چه داخو یوسف دے او وے وئیل
ایا ته یوسف ئے؟ قَالَ اَنَا یُوْسُفُ الخ هغهٔ اُوئیل هَوْ! زهٔ یوسف یم او دا
ځما ورور دے الله تعالٰی په مونږ احسان اوکړو چه دَ اُوږدے جُدائیئی نه
روستو ئے مونږ دوباره ملاؤ کړو۔ حقیقت دا دے چه کوم سړے دَ تقوٰی لاره
اختیار کړی او په مصیبتونو صبر اوکړی الله تعالٰی دَ داسے نیکانو خلقو اجر
نهٔ ضائع کوی۔ ۷۷ اوس ورونړو دَ حضرت یوسف علیه السلام دَ برترئی
او فضیلت اقرار اوکړو او دَ خپلو غلطیانو اقرار ئے هم اوکړو۔ قَالَ لَا تَثْرِیْبَ الخ
لیکن حضرت یوسف علیه السلام ځهٔ سزا ورنکړه او صاف دَ معافئی اعلان ئے
اوکړو چه نن تاسو باندے هیڅ ملامتیا نشته زهٔ خپل حق معاف کوم
او ستاسو دَ پاره دَ الله نه دُعا غواړم چه هغه هم تاسو ته معاف اُوکړی۔
۷۸ حضرت یوسف علیه السلام خپل قمیص اُویستلو ورونړو ته ئے ورکړو او
وے فرمائیل دا یوسه او دَ محترم پلار په مخ باندے ئے واچوئی دے سره به
دَ هغهٔ نظر بیرته واپس راشی او چه کوم نقص په کښِ راغلے دے هغه به
صحیح شی او ټول اهل او عیال ځان سره ماته راولئی په قمیص کښِ شفا
کیدل حضرت یوسف علیه السلام ته دَ وحی په ذریعه معلومه شوے وه لکه
چه محققینو فرمائیلی دی قال المحققون ان علم یوسف بان القاء ذٰلك
القمیص علی وجه یعقوب یوجب رد البصر کان بوحی الله الیه ذٰلك (خازن ج ۳ ص ۳۱۲)
۷۹ دَ یعقوب علیه السلام دَ ځامنو قافله چه کله دَ مصر نه روانه شوه
نو حضرت یعقوب علیه السلام خپلو نوسوته او تورو اهلِ خانے ته اُوئیل چه
نن ماته دَ یوسف خوشبوئی راځی کهٔ چرے تاسو ماته بے عقله نهٔ وایئی
او ځما خبره اُومنئی تاسو ته به ځما دَ خبرے رښتینوالے ډیر زر معلوم شی

لَوْلَا دَپاره جواب محذوف ای لتعلمون ذٰلك دَحضرت یوسف علیه السلام خوشبو حضرت یعقوب علیه السلام ته په څهٔ طریقه اُورسیده دَ دے پاره کښ امام رازی فرمائی چه دا حضرت یعقوب علیه السلام ته الله تعالیٰ په طورِ دَ معجزے رسولے وه والتحقیق ان یقال انه تعالیٰ اوصل تلك الرائحة الیه علی سبیل اظهار المعجزات لان وصول الرائحة الیه من هٰذه المسافة البعیدة امر مناقض للعادة فیکون معجزة الخ (کبیر ج ۱۸ ص ۲۰۰) قَالُوْا تَاللّٰهِ الخ نوسو وغیره داخبره چه واؤریده نو وے وئیل نیکهٔ! تاسوخو په هغه پخوانئ غلطئ کښ یئ او تراُوسه پورے یوسف سره دَ دوباره ملاقات ارزو لرونکی یئ ولے یوسف اُوس هم تاسو ته دَکوم ځائے نه ملاویدے شی.

فَلَمَّآ اَنْ جَآءَ الْبَشِیْرُ اَلْقٰىهُ عَلٰى وَجْهِهٖ

بیا چه کله رااُورسید وشه زیرے راؤړونکے وا چولو هغهٔ قمیص دَ هغهٔ په مخ باندے

فَارْتَدَّ بَصِیْرًا ۚ قَالَ اَلَمْ اَقُلْ لَّكُمْ ۚ اِنِّیْۤ اَعْلَمُ

بیا واپس شولیده وړنکے. وے وئیل ما نهٔ وو وئیلی تاسو ته چه زۀ پوهیږم په هغے

مِنَ اللّٰهِ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۹۶﴾ قَالُوْا یٰۤاَبَانَا اسْتَغْفِرْ لَنَا

دَ الله تعالیٰ دَ طرفه چه تاسو پرے نهٔ پوهیږئ ف. وے وئیل اے پلاره ﷺ بښنه اُوغواړه

ذُنُوْبَنَاۤ اِنَّا كُنَّا خٰطِـِٕیْنَ ﴿۹۷﴾ قَالَ سَوْفَ اَسْتَغْفِرُ لَكُمْ

دَگنا هونو څمونږ. بیشکه مونږ خطاګرونکی وو. وے وئیل ساداخلئ بښنه به اُوغواړم ستاسو دَپاره

رَبِّیْ ؕ اِنَّهٗ هُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِیْمُ ﴿۹۸﴾ فَلَمَّا دَخَلُوْا

دَرب خپل نه بیشکه هم هغه دے بښونکے مهربان. بیا چه کله داخل شول ف۸۲

عَلٰى یُوْسُفَ اٰوٰۤى اِلَیْهِ اَبَوَیْهِ وَقَالَ ادْخُلُوْا

یوسف علیه السلام ته ځائے ورکړو خپل مور پلار ته ځان سره او وے وئیل داخل شئ

مِصْرَ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ اٰمِنِیْنَ ﴿۹۹﴾ وَرَفَعَ اَبَوَیْهِ

مصر ته که اُوغوښتل الله اطمینان سره ف. او اُوچت ئے کینول خپل مور پلار

عَلَى الْعَرْشِ وَخَرُّوا لَهٗ سُجَّدًا ۚ وَقَالَ

په تخت باندې او ټول پریوتل د هغهٔ په مخکښ په سجده او وې وئیل ۸۳

يَاَبَتِ هٰذَا تَاْوِيْلُ رُءْيَايَ مِنْ قَبْلُ ز

اے پلارهٔ دا بیان دے خما د هغه مخکنی خوب

قَدْ جَعَلَهَا رَبِّيْ حَقًّا ۖ وَقَدْ اَحْسَنَ

هغه خما رب ریښتونے کړو او بیشکه هغهٔ انعام اوکړو

بِيْۤ اِذْ اَخْرَجَنِيْ مِنَ السِّجْنِ وَجَآءَ بِكُمْ

په ما باندې کله چه ئے زهٔ را او ویستلم د جیل خانے نه ۸۴ او تاسو ئے را وستلئ

مِّنَ الْبَدْوِ مِنْۢ بَعْدِ اَنْ نَّزَغَ الشَّيْطٰنُ

د کلی نه روستو د هغے نه چه جهګړه اچولے وه شیطان

بَيْنِيْ وَبَيْنَ اِخْوَتِيْ ۖ اِنَّ رَبِّيْ لَطِيْفٌ

او په مینځ د ورونړو کښ بیشکه رب خما تدبیر سره کوی خما

لِّمَا يَشَآءُ ۖ اِنَّهٗ هُوَ الْعَلِيْمُ الْحَكِيْمُ ﴿١٠٠﴾

څهٔ چه غواړی بیشکه هغه دے خبردار حکمت والا ۳

**نکات:** ۔ سلے دا پنځلسم حال دے ۱۲۔

**موضح قرآن**

ف۱ حضرت یوسف علیه السلام قمیص، سورلی او خرچه اولیږله د خپل غلام په لاس هغهٔ قمیص راوړو او په مخ ئے ورته واچولو او زیرے ئے ورکړو سترګے ئے بینا شولے ۱۲۔

ف۲ د ښار نه بهر استقبال د پارهٔ او وتل هلته ئے دا اُوئیل۔ ف۳ کوم چه د الله احسان وو نو هغه ئے بیان کړو او کوم تکلیف چه د شیطان دخل کښ وو هغهٔ ئے په خُله راؤنړو اجمالاً ئے هغه واؤرولو۔ مخکښ زمانه کښ سجدهٔ کول تعظیم وو خپل مینځ کښ فرښتو حضرت آدمؑ ته کړیده دا وخت الله هغه رواج ختم کړو وَاَنَّ الْمَسَاجِدَ لِلّٰهِ الآیۃ۔ دا وخت مخکښ رواج باندے تلل داسے دی لکه چه څوک د خوږ سره نکاح اوکړی چه د حضرت آدم علیه السلام په وخت کښ شوے د ۱۲۔

تفسیر: ۸۰ اَلۡبَشِیۡرُ، خوشخبری ورکوونکی نه مراد یهودا دے ځکه چه د حضرت یوسف علیه السلام قمیص هغهٔ سره وو هغهٔ وئیلی وو د یوسف په وینو ککړ قمیص هم ما وړے وو پلار ته ورغلے ووم لهٰذا نن به د خوشخبری قمیص هم زهٔ وړم دے د پاره چه د وړومبۍ غلطۍ کمے پوره کړے شی.
قَالَ یَهُوۡدَا اَنَا اَحۡمِلُ قَمِیۡصَ الشِّفَاءِ کما ذهبت بقمیص الجفاء (مدارک ص ۲۲)
کله چه قمیص د هغوئ په مخ مبارک واچولے شو نو د هغوئ نظر بحال شو او هغوئ اُوفرمائیل تاسو اُولیدل ما تاسو ته نهٔ وُو وئیلی چه زهٔ د الله د طرف نه هغه څهٔ باندے پوهیږم په کوم چه تاسو نهٔ پوهیږئ. حضرت یعقوب علیه السلام زیری راوړونکی نه د ټولو نه مخکښ تپوس دا اُوکړو چه تا یوسف علیه السلام په کوم دین باندے پریښودو؟ هغهٔ جواب ورکړو اسلام باندے. وے فرمائیل اوس د الله رحمت پوره شو. عن سفیان لما جاء البشیر الی یعقوب قال له علی ای دین ترکت یوسف؟ قال علی الاسلام قال الان تمّت النعمة (قرطبی ج ۹ ص ۲۶۱).
۸۱ اُوس ځامنو حضرت یعقوب علیه السلام ته درخواست اُوکړو چه هغه د دوئ د پاره د الله تعالیٰ نه معافی اُوغواړی ځکه چه څمونږ نه ډیره لویه ګناه اُوشوه مونږ بغیر د څهٔ وجے نه تاسو په غم او دردکښ دومره ډیره زمانه مبتلا کړئ. قَالَ سَوۡفَ اَسۡتَغۡفِرُ. وے فرمائیل تنزدے ده چه ستاسو د پاره بښنه اُوغواړم. حضرت ابن عباس فرمائی د دے نه د سحر وخت پورے تاخیر (روستو والے) مراد دے ځکه چه هغه وخت د دُعا د قبولیت د پاره خاص اثرلری (قرطبی وغیره).
۸۲ دا پنځلسم حال دے کله چه حضرت یعقوب علیه السلام خپل ټول اهل او عیال سره مصر ته حضرت یوسف علیه السلام ته اُورسیدل نو هغهٔ خپل مور او پلار یعنی والد او ترور ډیر اعزاز او اکرام سره په خپل محل کښ کوز کړل ځکه چه د هغهٔ د خپلے حقیقی مور انتقال شوے وو.
قَالَ ادۡخُلُوا الخ دینه معلومیږی چه حضرت یوسف علیه السلام د مور پلار او د خاندان د نورو افرادو د استقبال د پاره د ښار نه بهر تشریف وړے وو. اٰمِنِیۡنَ، د تکلیف او مصیبت چه کوم دور په تاسو تیرشویدے او د ځامنو د جُدائیٔ او قحط سالئ د وجے نه چه تاسو کوم تکلیفونه برداشت کړل د هغے نه اُوس په امن کښ شوئ.
۸۳ حضرت یوسف علیه السلام تعظیمًا خپل مور پلار ځان سره په تخت باندے کینول او ټولو یعنی والدینو او وروڼو حضرت یوسف علیه السلام ته سجده اُوکړه دا سجده الله تعالیٰ ته وه او حضرت یوسف

علیه السلام په منزله دَ قبلې وو او دَلَهٗ ضمیر الله تعالیٰ ته راجع دے المعنی خروا شکرالله سجدا و یوسف کالقبلة التحقیق رؤیاه وروی عن الحسن رحمه الله (قرطبی ج ۹ ص ۲۶۴) یا سجده حضرت یوسف علیه السلام ته وه ځکه چه دَ دوئ په شریعت کښ غیر الله ته تعظیمی سجده جائز وه لیکن دَ عبادت سجده په هیڅ یو شریعت کښ نهٔ ده جائز شوے دوارو سجدو کښ فرق صرف دَ نیت دے کهٔ چرے مسجودلهٔ دَ نفعے او نقصان مالک او مختار او ما فوق الاسباب متصرف اوکارساز اُوګنړی سجده اُوکړی نو دا سجده دَ عبادت ده چه دَ الله نه سیوا هیچا دَپاره هم په هیڅ حالت کښ جائز نهٔ ده اوکه چرے مذکوره نیت سره نهٔ وی نو هغه سجده تعظیمی ده چه په تیرو شوو شریعتونو کښ جائز وه لیکن په شریعت محمدی صلی الله علیه وسلم کښ حرام کړے شوے ده دَ سجدهٔ تعظیمی حرمت په احادیث نبوی کښ صراحت سره مذکور دے امام احمد بن حنبل حضرت انس نه مرفوعًا روایت کړے دے لا یصلح لبشر ان یسجد لبشر یعنی دَ هیڅ یو بشر دَپاره جائز نهٔ ده چه هغه یو بشر ته سجده اُوکړی. داشان په صحیحینو کښ دَ حضرت عائشه رضی الله عنها نه روایت دے چه حضرت نبی کریم صلی الله علیه وسلم اُوفرمائیل لعن الله الیهود والنصٰری اتخذوا قبور انبیاءهم مساجداً (مشکوٰة ص ۶۹) ومسلم از ابوهریره آورده مرفوعًا ومسلم از ابن عباس مرفوعًا آورده. ابن ابی شیبه از عمر و علی وسلمان رضی الله عنهم مرفوعًا منع سجدهٔ تعظیم آورده وابن ابی شیبه از معاذ وعائشه وجابر رضی الله عنهم مرفوعًا آورده. درمسلم انی انهاکم عن ذٰلک (قال الشیخ رحمه الله تعالیٰ) امام احمد بن حنبل دَ حضرت معاذ بن جبل رض نه او ابوداؤد دَ حضرت قیس بن سعد رض نه روایت کړیدے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اُوفرمائیل کهٔ چرے غیر الله ته سجده کول جائز وے نو ما به ښځو ته حکم ورکړے وے چه خپلو خاوندانو ته سجده کوئی. لوکنت امراً احدا ان یسجد لاحد لامرت النساء ان یسجدن لازواجهن بما جعل الله لهم علیهن من حق (مشکوٰة شریف ص ۲۸۲) تفسیر خازن او معالم کښ دَ اَنَّ الْمَسٰجِدَ لِلّٰهِ تفسیر کښ دَ سعید بن جبیر نه نقل کړیدے لا تسجد والغیرالله (خازن ومعالم ج ۷ ص ـــ) یعنی غیر الله ته سجده مهٔ کوئی. وکذا فی الکبیر. حضرت شاه عبدالعزیز په تفسیر عزیزی کښ لیکی "باحادیث متواتره سجدهٔ تعظیم منع است" تفسیر عزیزی ص ۱۲۰) شیخ عبدالحق اشعة اللمعات ج ۱ ص ۳۸۱ کښ فرمائی "درشرح شیخ ابن حجر هیثمی مکی درشرح حدیث لعن الله الیهود والنصارٰی اتخذوا قبور انبیاءهم مساجد گفته است که بر تقدیری است که نمازگزار و بجانب قبر از جهت تعظیم دے که آن حرام است باتفاق"

داشان شاه عبدالعزیز په فتاوی عزیزی کښ دَ سجدهٔ تعظیم په حرمت باندے دَ اجماع ذکر کړے دے لکه چه حضرت شاه عبدالعزیز رح دَ سجدهٔ تعظیم دَ حامیانو دَ دلائیلو جواب ورکوی فرمائی "درین تقریر سراسر غفلت از اجماع قطعی است بر تحریم سجده" او په فتاوی عزیزی ج ۱ صـ کښ تولو فقهاؤ دَ سجدهٔ تعظیم حرمت او ځنو دَ کفر فتوی ورکړیده. فتاوی عالمگیری صـ کښ دی من سجد للسلطان علی وجه التحیة او قبل الارض بین یدیه لا یکفر ولکن یأثم لارتکاب الکبیرة هو المختار او البحرائق صـ کښ دی یفعل من السجود بین یدی السلطان فحرام والفاعل والراضی به یأثمان وقال شمس الائمة السرخسی السجود لغیر الله علی وجه التعظیم کفر کفر. فتاوی عالمگیری کښ دَ جواهر اخلاطی نه او ردّ المختار کښ دَ شمس الائمه نه دَ سجدهٔ تعظیم کفر کیدل نقل کړے شویدی. داشان جامع الرموز فتاوی ملا علی قاری تفسیر کبیر، فتاوی بزازیه وغیره کښ هم سجدهٔ تعظیم ته کفر وئیلے دے او په ملتقط کښ دی التواضع لغیر الله حرام (عالمگیری ج ۵ صـ) لهذا دَ ملتقط طرف ته دَ جواز نسبت غلط دے داشان دَ تفسیر یسیر طرف ته هم دَ جواز نسبت غلط دے ځکه چه تفسیر یسیر مطبوعه کښ چرته هم جواز نهٔ دے ذکر شوے. حضرت شیخ احمد سرهندی مجدّد الف ثانی قدس سرهٗ فرمائی. امر بمنع کردن سجده فرموده وجواز سجدهٔ تعظیم در هیچ کتاب فقه از مذاهب اربعه ودر هیچ کتاب حدیث نیامده (مکتوبات دفتر اول صـ)

۸۴ حضرت ابن عباس فرمائی چه کله مور، پلار او نورو ورونړو یوسف علیه السلام ته سجده اوکړه نو هغهٔ اُوریچیدو او غونے ئے زیک شو او فورًا ئے اُوئیل داځما دَ خوب تعبیر دے چه الله هغه رښتونے کړو یعنی دَ الله دَ جانب نه دَ سجدے کولو مکلّف وو کنی نو زهٔ دَ سجدے کولو لائق نهٔ ووم. قال ابن عباس رضی الله عنهما انه لما رای سجود ابویه واخوته هاله ذلك واقشعر جلده منه وقال لیعقوب هذا تاویل رؤیای من قبل... یا بت لا یلیق بمثلك علی جلالتك فی العلم والدین والنبوة ان تسجد لولدك الا ان هذا امر امرت به وتکلیف کلفلت به (کبیر ج ۱۸ صـ ۲۱۳)

۸۵ او الله تعالی په ما ډیر لوئے احسان اُوکړو چه کله ئے دَ قید خانے نه ما ته خلاصے راکړو دَ بادشاهئ تخت ئے راکړو کله چه ځما او ځما دَ ورونړو مینځ کښ شیطان اختلاف اچولے وو هغه ختم شو او الله تعالی تاسو ټول ما ته راوستلئ دَ جدائئ خاتمه ئے اوکړه او ټولو واقعاتو او حوادثو کښ چه کوم اسرار او حکمتونه پټ دی دَ هغے علم الله تعالی دے او هغه دَ هر څیز نه خبردار او هر حکمت نه خبردار دے.

رَبِّ قَدْ اٰتَيْتَنِيْ مِنَ الْمُلْكِ وَعَلَّمْتَنِيْ مِنْ

اے ربه ته تا راکړه ماته ځه بادشاهي اورا اوده ښودل ماته د

تَاْوِيْلِ الْاَحَادِيْثِ ۚ فَاطِرَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۟

تعبير د خوبونو نه اے پیدا کوونکیه د اسمان او د زمکے

اَنْتَ وَلِيّٖ فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ ۚ تَوَفَّنِيْ

ته ځما کارجوړوونکے یې په دنیا کښ او په اخرت کښ مرګ راکړه ماته

مُسْلِمًا وَّاَلْحِقْنِيْ بِالصّٰلِحِيْنَ ﴿١٠١﴾ ذٰلِكَ مِنْ

په اسلام باندے او یوځائے کړه ما د نیکبختانو سره ف۱ دا

اَنْۢبَآءِ الْغَيْبِ نُوْحِيْهِ اِلَيْكَ ۚ وَمَا كُنْتَ لَدَيْهِمْ

خبرے د غیب دی موږ هغه لیږو تا ته ﷺ او ته نه وے هغوئ سره

اِذْ اَجْمَعُوْۤا اَمْرَهُمْ وَهُمْ يَمْكُرُوْنَ ﴿١٠٢﴾ وَمَآ

کله چه هغوئ فیصله اوکړه د خپل کار ۱ او فریب ئے کولو ف۲ او نه دی

اَكْثَرُ النَّاسِ وَلَوْ حَرَصْتَ بِمُؤْمِنِيْنَ ﴿١٠٣﴾ وَمَا

اکثر خلق اګرچه ته هر څو مره اُوغواړے ﷺ یقین کوونکی او نه

تَسْـَٔلُهُمْ عَلَيْهِ مِنْ اَجْرٍ ۭ اِنْ هُوَ اِلَّا ذِكْرٌ

نه غواړے د دوئی نه په دے باندے ځه بدله داخو نو هیڅ نه دی لیکن نصیحت

لِّلْعٰلَمِيْنَ ﴿١٠٤﴾ وَكَاَيِّنْ مِّنْ اٰيَةٍ فِي السَّمٰوٰتِ

ټول عالم د پاره او ډیرے نشانے دی په اسمان

وَالْاَرْضِ يَمُرُّوْنَ عَلَيْهَا وَهُمْ عَنْهَا مُعْرِضُوْنَ ﴿١٠٥﴾

او زمکه کښ ف۳ چه تیریدل کیږی په هغے باندے د هغوئ او هغوئ په دیکښ فکر نه کوی.

وَمَا يُؤْمِنُ اَكْثَرُهُمْ بِاللّٰهِ اِلَّا وَهُمْ مُّشْرِكُوْنَ ﴿١٠٦﴾

او نه راوړی ایمان ډیر خلق په الله باندے لیکن شرک هم ورسره کوی ف۳

اَفَاَمِنُوْٓا اَنْ تَاْتِیَهُمْ غَاشِیَةٌ مِّنْ عَذَابِ اللّٰهِ

آیا بے ویرې شول دَ دینه چه راشي او پټ کړي هغوئ لوافت دَ عذاب دَ الله نه

اَوْ تَاْتِیَهُمُ السَّاعَةُ بَغْتَةً وَّهُمْ لَا یَشْعُرُوْنَ ﴿۱۰۷﴾

یا راشي هغوئ ته قیامت ناګهانه او هغوئ ته خبر هم نهٔ وی.

**نکات:** سے دا دریمه دعوی ده ۱۲. سے دا تخویف دُنیوی دے ۱۲.

**موضح قرآن** **ف۱** علم کامل ئے بیا موند و کامل دولت ئے بیا موند و اوس ئے شوق پیدا شو دَ خپلو پلرونو نیکونو دَ مرتبو دَ حضرت یعقوب علیه السلام دَ ژوندا پورے یوسف علیه السلام په ملکی انتظاما تو کښ مشغول وو دَ هغوئ دَ وفات نه روستوئے هغه په خپل واک اختیار پریښودو. **ف۲** یعني دا مذکوره واقعه تورات او نورو کتابونو کښ هم نشته. **ف۳** یعني په مُخله خو ټول وائي چه خالق او مالک دَ ټولو صرف هغه دے بیا نورو شریکان نیسي.

**تفسیر:** **۸۶** دَ دینه مخکښ حرف نداء محذوف دے ای یا ربّ دا شان فَاطِرَ السَّمٰوٰتِ الخ نه مخکښ هم حرف نداء محذوف دے. اَنْتَ وَلِیّٖ فِی الدُّنْیَا وَالْاٰخِرَةِ. دا مقصود بالنداء دے یعنی دنیا او اخرت کښ ته کارساز او یار او مددګار ئے غم او درد په خوشحالئ او راحت بدلول او مصیبت او تکلیف په آرام او راحت سره بدلول ستا کار دے. تَوَفَّنِیْ مُسْلِمًا دا هم مقصود بالنداء دے الصّٰلِحِیْنَ نه انبیاء علیهم السلام مراد دی یعني مالره هم په دے درجاتو، مرتبه او ثواب کښ دَ هغوئ سره ملا ؤ کړه. دا دَ والدینو او ورونړو مخکښ دَ حضرت یوسف علیه السلام تقریر دے چه په هغے کښ دوئ عجیب او غریب انداز کښ دَ خپل خوب رښتینوالے دَ ورونړو جګړه، اختلاف او دَ الله تعالی دَ لویو احسانا تو او انعاماتو ذکر کړیدے او په اخر کښ یئ ډیرے عاجزئ او خاکسارئ سره دَ حُسنِ خاتمه دُعا کړے ده. **۸۷** دا دریمه دعوی ده یعني تاسو رښتونے رسول یئ او الله تعالی دَ وحی په ذریعه تاسو ته غیبي کارونه ښائ او خبر درکوی نو دَ حضرت یوسف علیه السلام او دَ هغهٔ دَ ورونړو قصه هم یو غیبي امر وو چه مونږ تاته دَ وحی په ذریعه اطلاع درکړه او ټوله قصه مو په تفصیل سره بیان کړه حال دا دے چه کله دَ یوسف علیه السلام ورونړو خپل پروګرام جوړولو او کله چه ئے دَ یوسف علیه السلام په کوهي کښې غورځولو فیصله اوکړه هغه وخت تاسو هلته موجود نهٔ وئ. المعنی ان هٰذا النباء غیب

لم يحصل لك الا من جهة الوحي لانك لم تحضر بني يعقوب حين اتفقوا على القاء اخيهم في البئر. (مدارک ج ۲ ص ۱۸۴) رسول کید لوکبس هیڅ شک نشته
۸۸ سنا سو دَ رښتینوالی او دَ الله برحق رسول کیدلو کښ هیڅ شک نشته لیکن دَ دے باوجود اکثر خلق محض دَ ضد او عناد په وجے سره انکار کوی کۀ تاسو لاکهڅل هم اُوغواړئ لیکن هغوئ به ئے نۀ مني دا نبی علیه السلام ته تسلی ده دَ نبی علیه السلام خیال وو چه کله دَ مشرکانو په سوال باندے زۀ دا قصه تفصیل سره بیان کړم نو هغوئ به ایمان راؤړی لیکن هغه شان اُونۀ شو نو الله تعالیٰ په طور دَ تسلئ دا ایت نازل کړو. ظن ان العرب لما سألته عن هذه القصة واخبرهم يؤمنون فلم يؤمنوا فنزلت الأية تسلية للنبي صلى الله عليه وسلم (قرطبی ج ۹ ص ۲۷۱) دینه معلومه شوه چه چا ته هدایت ورکول دَ نبی علیه السلام په اختیار او تصرف کښ نۀ وو. اي ليس تقدر على هداية من اردت هدايته (قرطبی) وَمَا تَسْـَٔلُهُمْ الخ دا قرآن دَ ټول بنی آدم دَپاره یو نصیحت دے چه په دے کښ دَ توحید دلائیل رسالت، نبوت، معاد، دَ شریعت احکام وغیره ټول هرڅۀ ذکر دی او بیا دَ دے په تبلیغ باندے نبی علیه السلام څۀ اجرت او تنخواه هم نۀ غواړی لیکن دَ دے باوجود ئے هغوئ نۀ مني دا دَ هغوئ ضد او دَ زړونو ړوندوالے دے کۀ چرے په دوئ کښ دَ ذرے برابر عقل او انصاف هم وے نو هغوئ به ضرور ایمان راؤړلے او منلے به ئے وے. ان هذا القران يشتمل على هذه المنافع العظيمة ثم لا تطلب منه مالا ولا جعلا فلو كانوا عقلاء لقبلوا ولم يتمردوا (کبیر ج ۱۸ ص ۲۲۳)
۸۹ دَ دے تفصیلی عقلی دلیل نه علاوه دَ زمکے او اسمان په عجیبه مخلوق او نا اشنا احوالو کښ دَ توحید بے شماره دلائیل موجود دی چه هر وخت دَ دوئ په مخکښ وی لیکن هغوئ په دے کښ تدبر او تفکر نۀ کوی. وَمَا يُؤْمِنُ الخ او دوئ کښ اکثر خلق داسے دی چه دَ الله تعالیٰ ټول صفتونه مني لیکن دَ هغے باوجود دَ الله تعالیٰ سره شرک کوی. شرک دا نۀ دے چه دَ الله تعالیٰ یا دَ هغۀ څنے صفات اونۀ منلے شی بلکه شرک دا دے چه دَ الله تعالیٰ ټول صفات منلو سره غیر الله دَ هغۀ په صفتونو کښ شریک اُو منلے شی مثلاً الله تعالیٰ نه علاوه دَ الله تعالیٰ نیک بندګان (انبیاء علیهم السلام، ملائکه او اولیاء کرام) هم عالم الغیب، حاضر ناظر، کارساز، متصرف او مختار او مستحق دَ نذر او نیاز اُو منلے شی دے مرض کښ نن هم ډیر کلمه ویونکی مبتلاء دی الله تعالیٰ دے مخپله دَ شرک دَ ټولو قسمونو نه ځمونږ حفاظت اوکړی. يندرج فيهم كل من اقر بانه تعالى وخالقيته مثلا وكان مرتكبا ما يعد شركا كيفما كان ومن اولئك عبدة القبور

الناذرون لها المعتقدون للنفع والضر من الله تعالیٰ واعلمه بحاله فیها وهم الیوم اکثر من الدود (روح ج ۱۳ ص ۶۷)

ف۵۹ دا تخویف دنیوی دے دا مشرکان د الله تعالیٰ د توحید نه دومره غافل او اعراض کوونکی دی چه دوئی سره د دے خبرے هیڅ فکر او غم نشته چه چرته ناګهانه د الله عذاب هغوئی را ګیر نه کړی یا ناڅاپه ور باندے قیامت راشی۔

قُلْ هٰذِهٖ سَبِیْلِیْۤ اَدْعُوْۤا اِلَى اللّٰهِ ۚ وقف عَلٰی
او وایه دا لاره زما ده رابلم طرف ته د الله تعالیٰ په

بَصِیْرَةٍ اَنَا وَمَنِ اتَّبَعَنِیْ ؕ وَسُبْحٰنَ اللّٰهِ
ښکاره دلیل سره زه او هغوک چه زما سره دی او پاک دے الله تعالیٰ

وَمَاۤ اَنَا مِنَ الْمُشْرِكِیْنَ ﴿۱۰۸﴾ وَمَاۤ اَرْسَلْنَا مِنْ
او نه یم زه د شریک جوړوونکو نه. او هغه مرد چه لیږلی دی موږ ستا نه

قَبْلِكَ اِلَّا رِجَالًا نُّوْحِیْۤ اِلَیْهِمْ مِّنْ اَهْلِ
مخکښې هغه ټول سړی وو چه وحی به لیږله موږ هغوئی ته چه اوسیدونکی وو

الْقُرٰی ؕ اَفَلَمْ یَسِیْرُوْا فِی الْاَرْضِ فَیَنْظُرُوْا
د کلو ئی نو آیا دغه خلقو سیال (ګرځیدل) ونکړل په ملکونو کښې چه اوګوری

كَیْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِیْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ؕ
چه څنګه وو انجام د هغه خلقو کوم چه د دوئی نه مخکښې وو

وَلَدَارُ الْاٰخِرَةِ خَیْرٌ لِّلَّذِیْنَ اتَّقَوْا ؕ
او کور د آخرت خو بهتر دے د پاره د پرهیز ګوونکو

اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿۱۰۹﴾ حَتّٰۤی اِذَا اسْتَیْـَٔسَ الرُّسُلُ
آیا او س هم نه پوهیږئ. تر دے چه کله نا امیده شول رسولان ف۶۰

وَظَنُّوٓا اَنَّهُمۡ قَدۡ کُذِبُوۡا جَآءَهُمۡ نَصۡرُنَا

او خیال ئې چه هغوئ ته دروغ وئیلے شوی وو راورسیده وهغوئ ته څمونږ مدد

فَنُجِّیَ مَنۡ نَّشَآءُ وَلَا یُرَدُّ بَاۡسُنَا عَنِ

بیا بچ کړل څوک چه مونږ غوښتل ئې او نه ګرځی واپس عذاب څمونږ د

الۡقَوۡمِ الۡمُجۡرِمِیۡنَ ﴿۱۱۰﴾ لَقَدۡ کَانَ فِیۡ

قوم ګناهګارو نه ف . بیشکه د دے حالاتو نه په خپل

قَصَصِهِمۡ عِبۡرَةٌ لِّاُولِی الۡاَلۡبَابِ مَا کَانَ

حال کښې قیاس کول دی عقل والو د پاره نه دے

حَدِیۡثًا یُّفۡتَرٰی وَلٰکِنۡ تَصۡدِیۡقَ الَّذِیۡ

خبره جوړه شوے نه ده لیکن موافق ده د هغے کلام سره

بَیۡنَ یَدَیۡهِ وَتَفۡصِیۡلَ کُلِّ شَیۡءٍ وَّ

کوم چه د دے نه مخکښ دے او بیان د هر څیز او

هُدًی وَّرَحۡمَةً لِّقَوۡمٍ یُّؤۡمِنُوۡنَ ﴿۱۱۱﴾ ع

هدایت او رحمت د هغه خلقو د پاره دے څوک چه ایمان راوړی۔

**نکات:** ۱ دا تخویف دنیوی دے ۱۲۔ ۲ جواب د مقدر سوال دے ۱۲۔ ۳ داخلو مه دعوی ده ۱۲۔ ۴ کَانَ په معنی د ماضی نه دے بلکه محض د ربط کلمه ده ۱۲۔ ۵ کل د استغراق اضافی د پاره دے ۱۲۔

**موضح قرآن** ف یعنی د عذاب وعده کښې وخت اوګید وتر دے چه رسولان نا امیده شول چه شائید څمونږ په ژوند کښې رانغے روستو به راځی او د هغوئ یارانو به داخیال کول چه شائید وعده خلاف وه دومره خیال کولو سره انسان نه کافر کیږی ګنی چرے پوهیږی (اوګنږی) چه داخیال بد دے ۱۲۔

**تفسیر:** ۱۰۹ دا د تبلیغ طریقه ده هٰذِهٖ یعنی دعوت توحید۔ ادعوا الی الله د سَبِیۡلِیۡ بیان دے۔ بَصِیۡرَةٍ: دلیل او حجت یا یقین او اذعان یعنی دا د توحید دعوت څما اصلی لار ده او څما ټول متبعین، منونکی

پوره کولاؤ سینے سره او دَ دلا ئیلو او براهینو په رنړا کښې دَ الله توحید طرفته دعوت ورکوی. وَ سُبۡحٰنَ اللّٰهِ ای واقول الخ او زهٔ اعلان کوم چه الله تعالیٰ دَ هر قسم شرک نه پاک دے دَ دے وجے نه زهٔ دَ هغهٔ سره هرګز شرک کولو ته تیار نهٔ یم. هٰذِهٖ سَبِیۡلِیۡۤ هی توحید الله عزوجل و دین الاسلام ... (اِلَی اللّٰهِ) یعنی الی توحید الله والایمان به (عَلٰی بَصِیۡرَةٍ) یعنی علی یقین و معرفة (خازن ج ۳ ص۳۲) بَصِیۡرَةٍ ای بیان وحجة واضحة غیر عمیاء (روح)

۹۲ دَ مقدر سوال جواب دے یعنی څنګه کیدے شی چه دَ الله پیغمبر وی او بیا بشر وی؟ دے فرمائیل څمونږ دستور هم دا دے چه مونږ همیشه دَ انسانانو طرف ته پیغمبر انسان لیږلے دے او څمونږ انسانان پیغمبران چه کومو قومونو ته دی منلی مونږ په دنیا کښې په دردناک عذابونو سره هغه هلاک کړی دی دَ هغه هلاک شوو قومونو اثار قدیمه اُوګوری هغې سره به تاسو ته دَ هغوئی دَ انجام علم حاصل شی. اَفَلَمۡ یَسِیۡرُوۡا الخ دا تخویف دنیوی دے. وَلَدَارُ الۡاٰخِرَةِ الخ منونکو دَ پاره بشارت اُخروی دے

۹۳ دا تخلو مه دعوی ده یعنی دَ تیروشوو انبیاء علیهم السلام پشان تاسو با ندے به هم مصیبتونه راځی لیکن اخر کامیابی به هم ستاسو وی. حَتّٰی. وَمَاۤ اَرۡسَلۡنَا الخ سره متعلق دے او په کُذِّبُوۡا کښې دوه قراَتونه دی یو دَ تکذیب نه ماضی مجهول. دوئیم کُذِبُوۡا مجرد نه ماضی مجهول دَ اول قراءت مطابق به مطلب دا وی چه دَ الله پیغمبرانو خپلو قومونو ته دَ توحید پیغام ورکړو تر دے چه څنو خلقو ایمان راؤړو او په هغوئی باندے ډیر تکلیفونه راغلل او تر ډیرے مودے پورے وړاو دَ الله په امداد کښې روستو والے واقع شو تر دے چه رسولان دَ معاندینو دَ ایمان نه نا اُمیده شول او دَ هغوئی به ګمان شو چه کهٔ چرے دَ الله دَ امداد دَ تاخیر هم دا حال وی نو مؤمنان به هم څمونږ تکذیب شروع کړی دغه وخت به دَ الله تعالیٰ امداد را اُورسیدو. دے صورت کښې به دَ ظَنُّوۡا فاعل او دَ کُذِّبُوۡا نائب فاعل الرسل وی. او دَ تکذیب کوونکو نه به اتباع الرسل مراد وی دا تقریر دَ حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها نه منقول دے صحیح بخاری کښې دی. عن عروة بن الزبیر انه سأل عائشة عن قول الله تعالیٰ حَتّٰۤی اِذَا اسۡتَیۡئَسَ الرُّسُلُ وَظَنُّوۡۤا اَنَّهُمۡ قَدۡ کُذِّبُوۡا اوکذبوا قالت بل کذبهم قومهم فقلت والله لقد استیقنوا ان قومهم قد کذبهم وما هو بالظن فقالت یا عروة اجل لقد استیقنوا بذلک فقلت لعلها قد کذبوا فقالت معاذ الله لم تکن الرسل تظن ذلک بربها قلت فما هٰذه الاٰیة قالت هم اتباع الرسل الذین اٰمنوا بربهم وصدقوهم فطال علیهم البلاء واستأخر عنهم النصر

حتی اذا استیئس الرسل ممن کذبهم من قومهم وظنوا ان اتباعهم کذبوهم جاءهم النصر عند ذلک:

دویم قراءت کُذِبُوْا په تخفیف سره دے صورت کښې به دَ ظَنُّوْا فاعل او دَ کُذِبُوْا نائب فاعل رسل علیهم السلام نه وی بلکه دَ صفوفو امتونه دی یعنی رسولان علیهم السلام دَ معاندینو دَ ایمان نه نا اُمیده شو او دَ اُمتونو په زړونوکښې داوسوسه پیدا شروع شول چه رسولانو مونږ ته دَ نصرت الٰهی په باره کښې دروغ ویلی وو. وظن المرسل الیهم انهم کذبوا من جهة الرسل ای کذبتهم الرسل فی انهم ینصرون علیهم ولم یصدقوهم فیه (مدارك ج ۲ ص۱۹۵)

حضرت علامه انور شاه صاحب قدس سرهٗ به فرمائیل چه دلته دَ الزام المخاطب بما لا یلزم قاعده جاری کیږی. یعنی دَ مخاطب په ذمه یو داسے خبره لګول چه هغه پخپله ذمه باندے دَ هغې اخستلو ته تیار نه وی او داهسته کیږی چرته چه ډیر زیات محبت او تعلق وی لکه چه ئے اُوفرمائیل وَظَنَّ اَنْ لَّنْ نَّقْدِرَ عَلَيْهِ یعنی قوم ئے پریښودو او څمونږ دَ اجازت نه بغیر لاړو چه اوس څمونږ په قبضه کښې نه دے پاتے شوے باقی پاتے دَ حضرت یونس علیه السلام وهم او ګمان کښې هم دا خبره نه وه چه هغه دَ الله تعالیٰ دَ قبضے نه وتلے دے لیکن دَ تعلق او محبت په بناء باندے الله الزامًا اُوفرمائیل فظن ان لن نقدر علیه. داشان چه کله حضرت ابراهیم علیه السلام دَ مړو دَ ژوندی کولو دَ مشاهدے کولو درخواست اوکړو نو الله تعالیٰ الزامًا اُوفرمائیل اَوَلَمْ تُؤْمِنْ الخ اے ابراهیم ولے ته څمونږ په قدرت کامله باندے ایمان نه لرے؟ داشان ئے اُوفرمائیل دَ مصائبو او تکلیفونو پرله پسے ولے او دَ نصرت خداوندی دَ تاخیر دَ وجے نه پیغمبرانو علیهم السلام باندے دَ غم او تأسف کیفیت طاری شو. ایا مونږ دَ هغوئی سره دَ دروغو وعدے کړی وے؟

۹۴ مَنْ نَّشَآءُ نه مؤمنان او انبیاء علیهم السلام مراد دی. یعنی چه کله څمونږ عذاب راغے چه دَ منکرینو دَ پاره تباهی او دَ انبیاء علیهم السلام او مؤمنانو په حق کښې نصرت الٰهی وو نو مونږ انبیاء علیهم السلام او مؤمنان بچ کړل او مجرمان مو هلاک کړل او دَ هغوئی نه څمونږ عذاب هیڅ څیز نه شو منع کولے.

۹۵ کَانَ دَ پاره اسم قرآن دے تَفْصِيْلَ كُلِّ شَيْءٍ

اهل بدعت دے آیت سره نبی علیه السلام د پاره علم غیب کلی ثابتوی هغوئ وائی لفظ د استغراق حقیقی د پاره دے کله چه په قرآن مجید کښ ټول هر څه موجود دی او نبی صلی الله علیه وسلم د قرآن مجید د ټولو نه لوئے عالم دے نو معلومه شوه چه هغه ته علم غیب کلی حاصل دے لیکن دا استدلال باطل دے ځکه چه دے آیت کښ (ل) استغراق حقیقی د پاره نه دے بلکه اضافی د پاره دے او مطلب دا دے چه دے آیت کښ د دین متعلق ټول امور ذکر شویدی خواه صریحةً خواه په حواله د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ژبے ځکه چه د الله تعالی ارشاد دے. وَمَآ اٰتٰكُمُ الرَّسُوْلُ فَخُذُوْهُ وَمَا نَهٰكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوْا د دے په تفسیر کښ امام نسفی فرمائی. کل شیء یحتاج الیه فی الدین (مدارک ج ۲ ص ۱۸۵) علامه قرطبی لیکی مما یحتاج العباد الیه من الحلال والحرام والشرائع والاحکام (قرطبی ج ۹ ص ۲۷۸) امام بغوی فرمائی مما یحتاج العباد الیه من الحلال والحرام والامر والنهی (معالم ج ۳ ص ۳۲۳) او سید محمود الوسی حنفی فرمائی ای مما یحتاج الیه فی الدین (روح ج ۱۳ ص ۵۷) وَهُدًى وَّرَحْمَةً الخ، دا قرآن ان ابت کوونکی د ګمراهئ نه راوباسی او د هدایت طرف ته ئے بیائی. او په دے باندے عمل کول د رحمت الهی د استحقاق موجب دے. وآخر دعوانا ان الحمد لله رب العالمین.

---

یا الله تعالی ستا رحم خو ډیر لوئے دے
او بنده مو نړه پخپل رحم د موا او پلار سره

# سورة یوسف کښې د توحید آیتونه او د هغې خصوصیات

① وَاللّٰهُ الْمُسْتَعَانُ عَلٰى مَا تَصِفُوْنَ○ (۱۸) نفي د استعانت د غیر الله.

② فَاسْتَجَابَ لَهٗ رَبُّهٗ ـــــ نه تر ـــــ اِنَّهٗ هُوَ السَّمِیْعُ الْعَلِیْمُ د هر چا خبرې اوریدونکې او خبردار د ټولو حاجت روا الله تعالی دے بل څوک نه دے.

③ اِنِّیْ تَرَکْتُ مِلَّةَ قَوْمٍ لَّا یُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ ـــــ نه تر ـــــ وَلٰکِنَّ اَکْثَرَ النَّاسِ لَا یَعْلَمُوْنَ○ (۳۷) حضرت یوسف علیه السلام په جیل کښې هم د توحید تبلیغ اوکړو.

④ وَمَآ اُغْنِیْ عَنْکُمْ مِّنَ اللّٰهِ مِنْ شَیْءٍ ـــــ نه تر ـــــ وَعَلَیْهِ فَلْیَتَوَکَّلِ الْمُتَوَکِّلُوْنَ○ (۶۷) د شرک فی التصرف نفي. نفع و نقصان صرف د الله تعالی په اختیار کښې دی د بل چا په اختیار کښې نشته دے.

⑤ رَبِّ قَدْ اٰتَیْتَنِیْ مِنَ الْمُلْکِ ـــــ نه تر ـــــ وَهُمْ یَمْکُرُوْنَ○ (۱۰۲) هم الله تعالی کارساز او عالم الغیب دے د هغه نه سیوا بل څوک کارساز او عالم الغیب نشته دے.

⑥ وَمَا یُؤْمِنُ اَکْثَرُهُمْ بِاللّٰهِ اِلَّا وَهُمْ مُّشْرِکُوْنَ○ (۱۰۶) ډیر خلق د الله تعالی منلو او په ژبه باندې د هغه د توحید اقرار کولو باوجود مشرکان دی.

⑦ قُلْ هٰذِهٖ سَبِیْلِیْ ـــــ نه تر ـــــ وَمَآ اَنَا مِنَ الْمُشْرِکِیْنَ○ (۱۰۸) هم د الله تعالی توحید زما او زما د متبعینو په لار کښې دے او زما متبعین د هر قسم شرک نه بیزاره دی.

# سُوْرَةُ الرَّعْدِ

**ربط** دَسُورة رَعد سورة یوسف سره ربط اسمی دا دے چه د توحید مسئله دومره اهمه، ضروری او واضحه ده چه حضرت یوسف علیه السلام په قید خانه کښې هم د دے تبلیغ اوکړو او دَخوب تعبیر تپوس کونکو ته ئے اول د توحید مسئله بیان کړه او وروستو ئے د خوبونو تعبیر بیان کړو۔ او رَعد فرښته او نورے ټولے فرښتے د الله تعالیٰ دَ ویرے او هیبت نه په لړزان دی او هر وخت د هغهٔ تسبیح او پاکی بیانولو کښې مصروف او سپیڅلی او د هر قسم شرک نه د هغه پاکی بیانوی۔ د دے د واړو په مینځ کښې معنوی ربط دا دے چه په سورة یوسف کښې یو ډیر لوئی او مفصل نقلی دلیل سره ثابته کړے شوے ده چه دَ الله تعالیٰ نه سوا هیڅوک نبی، ولی، فرښته، پیرے او انسان عالم الغیب او کارساز نشته۔ سورة یوسف پورے دا دواړه دعوے دلائل عقلیه او نقلیه سره ثابت کړے شویدی تر دے چه اوس د توحید مسئله نظری نهٔ ده پاتے بلکه بدیهی ده۔ معاندین ئے اوس خالص د ضد او عناد په وجه نهٔ منی لیکن د دے باوجود احتمال وُو چه دا دعوی به اوس هم د چا نه پټه وی۔ په دے وجه د دے دواړو دعوُو د زیات وضاحت او پوهولو د پاره په سورة رعد کښې یُولس دلائل په طور د تنبیه ذکر شویدی۔

**خلاصه** سورة رعد کښې پورته ذکر شوے دواړو دَعوُو باندِ (یعنی غیب پیژندونکے او کارساز صرف الله تعالیٰ دے) په طور دَ تنبیه یوولس دلائل ذکر کړے شویدی۔ اَتهٔ دلائل عقلیه دوه وحی او یو دلیل نقلی د ورانده تیر شوو مؤمنانو نه۔

**اول دلیل عقلی** اَللّٰهُ الَّذِیْ رَفَعَ السَّمٰوٰتِ — تا — اِنَّ فِیْ ذٰلِکَ لَاٰیٰتٍ لِّقَوْمٍ یَّعْقِلُوْنَ ۝ (رکوع ۱) دا دلیل د الله تعالیٰ په کارساز، متصرف او مختار کیدلو باندِ قائم کړے شویدے۔ د دے دوه حصے دی۔ اوله حصه کښې علویات مثلاً آسمان، عرش، نمر او سپوږمۍ ذکر شویدی او په دویمه حصه کښې وَهُوَ الَّذِیْ مَدَّ الْاَرْضَ الخ کښې سفلیات مثلاً زمکه، غرونه، دریابونه، میوے ذکر شویدی، یعنی کوم الله تعالیٰ چه په ټول کائنات علوی او سفلی کښې متصرف دے هغه د ټولو حاجت روا او کارساز دے۔ وَاِنْ تَعْجَبْ فَعَجَبٌ قَوْلُهُمْ الخ سره د

بعث او نشر منکرینو بانډې شکوی ده - وَيَسْتَعْجِلُوْنَكَ بِالسَّيِّئَةِ زجر دے - وَيَقُوْلُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا داشکوی ده - دخبرے بالکل صفا او واضح کیدلو باوجود معجزه طلب کوی - اِنَّمَاۤ اَنْتَ مُنْذِرٌ الخ دشکوے جواب دے - ستا سو کار د هدایت پیغام رسول او نه منونکو ته دعذاب وعید اورول دی، معجزات راوړل ستا کار نه دے.

## دویم دلیل عقلی

دپاره د نفی د علم غیب د غیر الله نه - اَللّٰهُ يَعْلَمُ مَا تَحْمِلُ كُلُّ اُنْثٰى - تا - وَسَارِبٌۢ بِالنَّهَارِ (ع ۲)

دَ زنانه په خیټه کښ څه دی؟ نر یا ښځه، تور یا سپین، ناقص یا کامل دا صرف الله تعالیٰ ته معلومه ده - هغه په ظاهرا و باطن عالِم دے، که څوك په پټه خبره کوی یا په ښکاره هغه ته ټول هر څه معلوم دی - لَهٗ مُعَقِّبٰتٌ الخ تخویف اخروی دے.

## دریم دلیل عقلی

هُوَ الَّذِیْ یُرِیْكُمُ الْبَرْقَ - تا - وَهُوَ شَدِيْدُ الْمِحَالِ (ع ۲) د عالمِ علوی او عالمِ سفلی مینځ کښ جو (فضا آسمانی) کښ چه څه دی مثلاً وریځ، باران، بجلی او دے ځیزونو بانډې مقرری فرشتے ټول دا لله تعالیٰ په قبضه او تصرف کښ دی او صرف هغه د دے مالك او مختار دے نو د دے بے وسه او عاجز انسان او د نور مخلوق جوړونکے هم هغه دے - لَهٗ دَعْوَةُ الْحَقِّ - دا د اولنو درے دلیلونو ثمره ده یعنی هرکله چه د مذکوره دلائلونه ثابته شوه چه عالِم الغیب او کارساز صرف الله تعالیٰ دے بل څوك نه دے نو د دعا او رابللو مستحق هم صرف هغه دے - "وَالَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖ الخ" دا دمشرکانو د باطلو معبودانو د عجز او د هغوی د بے وسئ تمثیل دے څرنګه چه یو تږے انسان اوبو ته اواز اوکړی چه د هغه خلے ته راشی نو دا سے هیڅکله نشی کیدے ځکه چه په اوبو کښ نه خو د دے اواز شعور شته او نه په کښ د راتلو قدرت شته - د غه شان مشرکان خلق په حاجت او تکلیف کښ غیر الله ته اواز کوی لیکن هغه د دی اواز نه اوری او د دوی د امداد کولو نه عاجزه او بے وسه دی.

## څلورم عقلی دلیل

وَلِلّٰهِ يَسْجُدُ مَنْ فِی السَّمٰوٰتِ - تا - بِالْغُدُوِّ وَالْاٰصَالِ (ع ۲) دا الله تعالیٰ ټول مخلوق تکوینی طور بانډې د هغه تابعدار او فرمانبردار دے او د کائناتو هر څیز د هغه د تصرف او اقتدار لاندې دے په دے وجه د ټولو کارساز هم صرف هغه دے.

## پنځم عقلی دلیل

علیٰ سبیل الاعتراف من الخصم - قُلْ مَنْ رَّبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ الخ مشرکان هم مني چه د زمکے او آسمان خالق او مالك صرف الله تعالیٰ دے نو بیا د هغه نه سوا څوك کارساز هم نشی کیدے - قُلْ اَفَاتَّخَذْتُمْ مِّنْ دُوْنِهٖۤ الخ دا دویمه ثمره ده چه هرکله د مذکوره دلائلو نه ثابته شوه چه عالِم الغیب او کارساز صرف الله تعالیٰ دے نو بیا د الله تعالیٰ عاجز او کمزور

مخلوق کارساز گنړل چه د چا په قبضه کښې د هیڅ نفع او نقصان نه وی بالکل باطل او دکم عقلتوب فعل دے۔ اَمْ هَلْ تَسْتَوِی الظُّلُمٰتُ وَالنُّوْرُ۔ او۔ اَمْ جَعَلُوْا لِلّٰهِ شُرَکَآءَ زجرونه دی۔

## شپږم عقلی دلیل

د تمثیل په طور دے کښې د معبود برحق او معبود باطل بیان کړے شوے دے۔ باطل معبود د زګ په شان بے حقیقته او فنا کیدونکے او بے فائدے دے او حق معبود باقی پاتے کیدونکے او په هر د موقعه باندې په کار راتلونکے دے۔ لِلَّذِیْنَ اسْتَجَابُوْا لِرَبِّهِمُ الْحُسْنٰی بشارت اُخروی او وَالَّذِیْنَ لَمْ یَسْتَجِیْبُوْا لَهٗ الخ تخویف اُخروی دے۔ اَفَمَنْ یَّعْلَمُ اَنَّمَآ اُنْزِلَ اِلَیْکَ (رکوع ٣) دے بشارت او تخویف باندې په طور د لف او نشر مرتب سره متفرع دے۔ اَفَمَنْ یَّعْلَمُ الخ یعنی څوک چه بصیرت سره ایمان لری چه د الله له طرفه چه کوم څه نازل شوی دی هغه حق دی۔ دا بشارت متفرع دے۔ کَمَنْ هُوَ اَعْمٰی یعنی دے د هغه چا پشان کیدے شی چه د چا زړه روند وی او د ایمان نه محرومه وی دا په تخویف باندې متفرع دے۔ اَلَّذِیْنَ یُوْفُوْنَ الخ د عشرة مبشرة د صفاتو اعاده ده۔ اُولٰٓئِکَ لَهُمْ عُقْبَی الدَّارِ تا۔ فَنِعْمَ عُقْبَی الدَّارِ (رکوع ٣) دا د بشارت اعاده ده۔ وَالَّذِیْنَ یَنْقُضُوْنَ الخ د مستحق عذاب جماعت د ذکر اعاده ده۔ اُولٰٓئِکَ لَهُمُ اللَّعْنَةُ وَلَهُمْ سُوْٓءُ الدَّارِ د تخویف اخروی اعاده ده۔

## اووم عقلی دلیل

اَللّٰهُ یَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ یَّشَآءُ وَیَقْدِرُ د ټول مخلوق روزی رسان الله تعالیٰ دے۔ لهٰذا صرف هم هغه کارساز دے۔ وَیَقُوْلُ الَّذِیْنَ کَفَرُوْا (رکوع ٣) دلته د هغوی د غوښتلے شوے معجزے نه ورکولو وجه بیان شوے ده چه تاسو ضدیان او عنادیان یئ چه معجزه اووینئ بیا هم ایمان نه راوړئ۔ اَلَّذِیْنَ اٰمَنُوْا الخ بشارت دے مؤمنانو ته۔

## اول دلیل وحی

کَذٰلِکَ اَرْسَلْنٰکَ فِیْٓ اُمَّةٍ الخ موږ تاسو دے اُمت کښې څکه لیږلی یئ چه تاسو د توحید مسئله پوره وضاحت سره بیان کړئ کوم چه موږ تاسو ته د وحی په ذریعه درلیږلے ده۔ وَلَوْ اَنَّ قُرْاٰنًا سُیِّرَتْ الخ دا زجر دے د مشرکانو شکوے سره دا ضدی خلق چه دا غوښتلے معجزے هم اووینی نو ایمان نه راوړی۔ وَلَا یَزَالُ الَّذِیْنَ کَفَرُوْا الخ تخویف دنیوی دے۔ وَلَقَدِ اسْتُهْزِئَ الخ (رکوع ٥) تسلی ده نبی علیه السلام ته۔

## اتم عقلی دلیل

اَفَمَنْ هُوَ قَآئِمٌ عَلٰی کُلِّ نَفْسٍۭ بِمَا کَسَبَتْ — الله تعالیٰ د هر یو انسان سره دے او د ټولو اعمال وینی او هغه هر ځائے حاضر او ناظر دے۔ وَجَعَلُوْا لِلّٰهِ شُرَکَآءَ الخ د زجر دے مشرکانو ته۔ لَهُمْ عَذَابٌ فِی الْحَیٰوةِ الدُّنْیَا الخ تخویف دنیوی او اُخروی دے۔ مَثَلُ الْجَنَّةِ الَّتِیْ وُعِدَ الْمُتَّقُوْنَ۔ بشارت اُخروی دے ؁

## دلیل نقلی له طرفه د مؤمنانِ اهلِ کتاب نه :-

مونږ چه څنګه د توحید مسئله په تاسو باندې واضحه نازله کړې ده د اهل کتابو مؤمنان دے باندې ډیر خوشاله دی او هغوی د دے مسئلې تصدیق کوی۔ وَالَّذِیْنَ اٰتَیْنٰهُمُ الْكِتٰبَ یَفْرَحُوْنَ الخ۔

## دویم دلیل وحی

قُلْ اِنَّمَآ اُمِرْتُ الخ ما باندې د الله تعالیٰ وحی راغلې ده او ما ته الله تعالیٰ حکم راکړے دے چه څۀ صرف د الله عبادت اوکړم او صرف هغه کارساز اوګڼړم په مصیبتونو او حاجتونو کښې راؤبلم او په عبادت او رابللو کښې ورسره هیڅوک شریک نکړم۔ وَكَذٰلِكَ اَنْزَلْنٰهُ کاف د پاره د بیان کمال دے یعنی په قرآن مجید کښې د توحید مسئله دا رنګے هر قسم دلائلو سره مدلل او مبرهن کړل او مثالونو سره واضحه بیان نزول زمونږ کمال دے دا د ما قبل ټولو دلائلو سره متعلق دے۔ وَلَئِنِ اتَّبَعْتَ اَهْوَآءَهُمْ۔ دا زجر دے چه ټولو دلائلو مذکوره باندې متفرع دے یعنی د پوره تفصیل ذکرشوو دلائلِ عقلیه او نقلیه او دلائلِ وحی او تمثیلاتو په ذریعه د توحید مسئله واضح کیدلو نه پس هم که چرے تاسو د مشرکانو باطل خیالاتو طرفته میلان کوئی نو بیا به تاسو له زمونږ د عذاب نه هیڅوک بچ نکړی۔ وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا رُسُلًا مِّنْ قَبْلِكَ الخ د سوال مقدر جواب دے۔ مشرکانو به وئیل عجیبه پیغمبر دے چه ښځې او بچی ئے هم شته۔ وے فرمائیل وړاندے تیر شوی نبیان هم د ښځو او بچو والاؤ دا خوڅۀ د تعجب خبره نۀ ده۔ وَمَا كَانَ لِرَسُوْلٍ اَنْ یَّاْتِیَ بِاٰیَةٍ الخ دا د مقدر سوال ئے جواب دے۔

مشرکانو به وئیل چه مونږ به تاسو باندې ایمان راؤړو خو تاسو مونږ ته زمونږ د خوښې معجزه ښکاره کړئ۔ جواب ورکړے شو معجزه راوړل د پیغمبر کار نۀ دے معجزه د پیغمبر په لاس ظاهریږی کله چه د الله تعالیٰ اراده اوشی۔ لِكُلِّ اَجَلٍ كِتَابٌ۔ دا د دریم مقدر سوال جواب دے۔ معاندینو به د عناد په وجه وئیل چه هر کله مونږ تا نۀ منو نو په مونږ باندې عذاب ولے نۀ راځی؟ وے فرمائیل عذاب به خامخا راځی لیکن په خپل مقرر وخت باندې ځکه چه زمونږ هر کار با ضابطه او مقرر وخت باندې کیږی۔ یَمْحُوا اللّٰهُ مَا یَشَآءُ وَیُثْبِتُ۔ دا د څلورم مقدر سوال جواب دے یعنی عذاب چه خامخا راځی نو د منلو څۀ فائده؟ وے فرمائیل محو او اثبات زمونږ په اختیار کښې دی ځکه چه معاندینو د پاره عذاب مقدر دے د هغه شان منونکو د پاره د عذاب نه نجات مقدر دے۔ نو چه کوم خلق ئے منی هغوی به د عذاب نه بچ کړے شی۔ وَاِمَّا نُرِیَنَّكَ تخویف دنیوی دے۔ ستا سو کار تبلیغ دے چه هغه تاسو سرته اورسولو۔ معاندین چه خامخا شبهات اچوی۔

اوندے منی هغوی ته به مونږ سخت عذاب ورکړو ستاسو په ژوند کښې یا ستاسو د وفات نه پس۔" اَوَلَمْ يَرَوْا اَنَّا نَاْتِي الْاَرْضَ الخ تخویف دنیوی دے۔ وَيَقُوْلُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا شکوی ده۔ قُلْ كَفٰى بِاللّٰهِ شَهِيْدًا الخ جواب شکوی دے یعنی ځما په رسالت باندې خپله الله ګواه دے او د اهل کتابو علماء او فرښتې هم ځما د صداقت اقرار کوی۔

## مختصر خلاصه

سورهٔ رعد کښې د سورهٔ یوسف په دواړو دعوو باندې (د الله نه سوا هیڅوک غیب دان او کارساز نشته) په طور د تنبیه یوولس دلائل ذکر کړے شوی دی۔ اته دلائل عقلیه، دوه وحی او یو نقلی۔ د اته دلائل عقلیه نه دویم او اتم دلیلونه د غیر الله نه د حاضر او ناظر کیدلو او د علم غیب نفی کوی او باقی دلائل د غیر الله د کارساز، متصرف او مختار کیدلو نفی کوی۔ اول دلیل عقلی؛ اَللّٰهُ الَّذِيْ رَفَعَ السَّمٰوٰتِ .... تا .... لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّعْقِلُوْنَ (ع۱) دویم دلیل عقلی: اَللّٰهُ يَعْلَمُ مَا تَحْمِلُ .... تا .... وَسَارِبٌۢ بِالنَّهَارِ۔ دریم دلیل عقلی، هُوَ الَّذِيْ يُرِيْكُمُ الْبَرْقَ .... تا .... وَهُوَ شَدِيْدُ الْمِحَالِ۔ د دے دریو دلیلونو نه روستو: لَهٗ دَعْوَةُ الْحَقِّ سره د هغې نتیجه او ثمره بیان کړے شوې ده۔ د دے نه پس: وَالَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖ سره یو مثال ورکړے دے، د معبودان باطله بے وسی او عاجزی ښکاره کړے شوے ده۔ څلورم دلیل عقلی، وَلِلّٰهِ يَسْجُدُ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ الخ۔ پنځم دلیل علی سبیل الاعتراف من الخصم؛ قُلْ مَنْ رَّبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ الخ۔ هر کله چه تاسو الله پاک لره د ځمکے او آسمان خالق او مالک منئ نو کارساز هم هغه اوګڼرئ۔ قُلْ اَفَاتَّخَذْتُمْ سره دویم ځل د مذکوره دلائلو ثمره بیان کړے شوے ده۔ شپږم عقلی دلیل په طور د تمثیل: معبودان باطله فانی دی او معبود حق باقی او لایزال دے۔ د دے نه پس لِلَّذِيْنَ اسْتَجَابُوْا الخ سره منونکو ته بشارت اُخروی ورکړے شوے او وَالَّذِيْنَ لَمْ يَسْتَجِيْبُوْا سره نه منونکو ته تخویف اخروی اوروَلے شوے دے او بیا اَفَمَنْ يَّعْلَمُ د لف نشر مرتب په طور باندې بشارت اُخروی او تخویف اُخروی باندې متفرع کړے شوی دے او د دینه پس اَلَّذِيْنَ يُوْفُوْنَ الخ سره د مستحقین بشارت اوصاف او بشارت اُخروی دوباره ذکر کړے شوی دی۔ وَالَّذِيْنَ يَنْقُضُوْنَ سره د مستحقین عذاب اوصاف او تخویف اخروی دوباره ذکر کړے شوید ے۔ اووم دلیل عقلی اَللّٰهُ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَّشَآءُ الخ۔ د دے نه پس كَذٰلِكَ اَرْسَلْنٰكَ فِيْۤ اُمَّةٍ الخ سره اولنے دلیل وحی بیان شوید ے۔ اتم عقلی دلیل؛ اَفَمَنْ هُوَ قَآئِمٌ عَلٰى كُلِّ نَفْسٍ الخ د دے نه پس وَالَّذِيْنَ اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ يَفْرَحُوْنَ سره

مؤمنین اهل کتاب سره دلیل نقلی ذکر کړے شوے دے. بیا قُلْ اِنَّمَآ اُمِرْتُ اَنْ
اَعْبُدَ اللّٰهَ سره دویم دلیل وحی ذکر کړے شو. دوے نه پس وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا - تا - وَعِنْدَهٗٓ
اُمُّ الْكِتٰبِ کښې د ټولو مقدرو سوالونو جوابونه ورکړے شول. او په مینځ کښې
د موقع مناسب شکوے، زجرونه، بشارتونه او تخویفات مذکور دی ۞



## سُوْرَةُ الرَّعْدِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ ثَلٰثٌ وَّاَرْبَعُوْنَ اٰيَةً وَّسِتُّ رُكُوْعَاتٍ ۞

سورة رعد مکه کښې نازل شو او دیکښې دری څلویښت آیتونه او شپږ رکوعات دی ۞

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○

شروع کوم په نوم د الله بے حده مهربان نهایت رحم کوونکی.

الٓمّٓرٰ ۚ تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ ۗ وَالَّذِيْٓ اُنْزِلَ اِلَيْكَ

ﷺ دا آیتونه دی د کتاب او کوم څه چه نازل شو تا باندے

مِنْ رَّبِّكَ الْحَقُّ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يُؤْمِنُوْنَ ①

ستا د رب له طرفه، حق دی لیکن ډیر خلق یے نه مني.

اَللّٰهُ الَّذِيْ رَفَعَ السَّمٰوٰتِ بِغَيْرِ عَمَدٍ تَرَوْنَهَا ثُمَّ

الله هغه دے چه اوچت یے جوړ کړو اسمان بغیر د ستنو نه چه تاسو یے وینئ بیا

اسْتَوٰى عَلَى الْعَرْشِ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ ۗ كُلٌّ

قائم شو په عرش باندے او په کار یے لګیا کړل نمر او سپوږمئ، هر یو

يَّجْرِيْ لِاَجَلٍ مُّسَمًّى ۗ يُدَبِّرُ الْاَمْرَ يُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ

چلیږی په مقرر وخت باندے. تدبیر کوی د کار ظاهروی نښانے په

لَعَلَّكُمْ بِلِقَآءِ رَبِّكُمْ تُوْقِنُوْنَ ② وَهُوَ الَّذِيْ

شاید چه تاسو خپل رب سره د ملاقات یقین اوکړئ ف او (الله) هغه ذات دے چه

مَدَّ الْاَرْضَ وَ جَعَلَ فِيْهَا رَوَاسِيَ وَ اَنْهٰرًا ؕ وَ مِنْ
خورلے کړه زمکه او پیدا یې کړل په دے کښې بوجھ او نهرونه

كُلِّ الثَّمَرٰتِ جَعَلَ فِيْهَا زَوْجَيْنِ اثْنَيْنِ يُغْشِي
او هر قسمه میوے یې پکښې کیښودلے جوړے دوه دوه قسمه

الَّيْلَ النَّهَارَ ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّتَفَكَّرُوْنَ ﴿٣﴾
پټوی ورځ باندے شپه ـ دیکښې نښے دی هغه چا دپاره څوک چه سوچ کوی ف

**نکات :-** ١ـ تمهید سره د ترغیب. ٢ـ توحید باندے اولنے دلیل.

**موضح قرآن**

**ف ١** روان بوی د مقررے مودے پورے یعنی تر قیامته پورے یا د خپل خپل چکر پورے نمر تر یو کال او سپوږمۍ تر یوے میاشتے پورے بیا نوے چکر شروع کوی. **ف ٢** د هرے یوے میوے جوړے یعنی یو قسم کامل او بل ناقص او شپه او ورځ یو ه نیارګه بله رڼا او قسم قسم څیزونه ئے جوړ کړل دلیل دے په دے چه پخپله خوښه ئے جوړ کړل کچرے هر څیز خاصیت سره وے نو یو شان به وو.

**تفسیر ١ :-** حروف مقطعات د متشابهاتو نه دی. د دے په اصلی مراد صرف الله تعالیٰ پوهیږی. تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ الخ تمهید سره د ترغیب. تِلْكَ سره اشاره دلته دے سورت طرفته او د الْكِتٰبِ نه مراد قرآن دے. وَالَّذِيْٓ الخ موصول سره د صله نه مبتدا او اَلْحَقُّ د دۀ خبر دے. د خبر معرفه راوړل د حصر فائده ورکوی. ای هو الحق (معالم) دا سورت د قرآن کریم ایتونه دی او هغه د دے کتاب حکیم یوه حصه ده او کوم قرآن چه مونږ نازل کړے دے هغه حق دے او دیکښې بیان کړے شوی عقائد او احکام د ومره محکم او واضح او ظاهر دی چه د شك شبهے هیڅ ګنجائش پکښې نشته. هو الحق الذی لاشك فیه. (خازن ج ٣ ص ٢) لیکن د دے با وجود ضدی او عنادیان خلق ئے نه منی. ای مع هذا البیان والجلاء والوضع لایؤمن اکثرهم لما فیهم من الشقاق و العناد والنفاق. (ابن کثیر ج ٢ ص ٤٩٨)

**٣ـ** اولنے عقلی دلیل :- سورۀ یوسف کښې د مسئلۀ توحید هر اړخ واضح شو او سورۀ یوسف کښې دلیل نقلی سره په تفصیل سره ثابت کړے شوه چه کارساز او عالم الغیب صرف یو الله تعالیٰ دے. دا مسئله بالکل بدیهی ده. او س د مسئلے زیات واضح کولو دپاره په سورۀ رعد کښې زیاتی یوولس دلائل پیش کړے شوی دی. اته عقلی، دوه وحی او یو نقلی. دا ړومبے عقلی دلیل دے. د خبر تعریف مفید

دَ حصر دے - د الله تعالیٰ کائنات په دوه حصو کښې تقسیم دی - علویات سفلیات
دَ علویات نه هغه عالَم مُراد دے چه د کرات عناصر نه ماوراء (سوا) دی. اسمان
نمر او سپوږمئ وغیره - او د سفلیات نه دکره ارضی مخلوق مُراد دے. دَ لَعَلَّكُم
بِلِقَآءِ رَبِّكُمۡ تُوقِنُونَ ۝ پورے د علویاتو ذکر دے او د دینه پس لَاٰيٰتٍ لِّقَوۡمٍ
يَّعۡقِلُوۡنَ ۝ پورے د سفلیاتو ذکر دے - الله تعالیٰ په عالَم علوی او عالَم سفلی
باندې خپله پوره قبضه او اقتدار او مکمل تصرف او اختیار بیان کړو او واضح ئې
کړه چه د ټول مخلوق کارساز او د هر چا پناه ګاه هم زه یم څما نه سوا بل هیڅوک
کارساز نشته - بِغَيۡرِ عَمَدٍ - هغه خپل قدرت کامله سره اسمانونه دَ ستنونه بغیر
ټینګ کړی دی - ثُمَّ اسۡتَوٰى عَلَى الۡعَرۡشِ - محسوس طور سره په تخت باندې
ناسته مُراد نه ده بلکه ټول جهان باندې بغیر د بل چا دَ شرک نه اقتدار او سلطنت
مراد دے - استولیٰ بالاقتدار ونفوذ السلطان (مدارک ج ٢ ص ١٨٢) د دے
پوره تحقیق د سورهٔ اعراف په تفسیر حاشیه نمبر ٦٣ کښې اوګورئ -
وَ سَخَّرَ الشَّمۡسَ وَ الۡقَمَرَ - نمر او سپوږمئ چه هغه په کوم کار لګولی دی
هغوی د قانون موافق خپله ډیوټي ورکوی او تر د قیامت قائمیدلو پورے به هم
دے حالت کښې وی - يُدَبِّرُ الۡاَمۡرَ - د ټولو کائناتو نظام د هغه په تدبیر سره
چلیږی، په هغې کښې څوک شریک نشته -

**سـ٤ـه** دا هم د اول دلیل حصه ده او دیکښې دَ عالَم سفلی ذکر دے - د مبتداء
سره د خبر تعریف د حصر مفید دے - د کلام مخکښې اجزاء کښې چه حصر وی نو د کلام
باقی اجزاء هم په حصر محمول ليږی - زَوۡجَيۡنِ اثۡنَيۡنِ، بدل دے په میوو کښې
د زوجین نه ذائقه، رنګ او حجم (غټوالی وړوکوالی) په اعتبار سره مختلف انواع
او اقسام مراد دی - مثلاً سپین او تور، خواږه او تراخه، لوئے او واړه او یخ
او ګرم وغیره - ای جعل من کل نوع من الانواع الثمرات الموجودة
فی الدنیا ضربین وصنفین اما فی اللون کالابیض والاسود وفی الطعم کالحلو
والحامض اوفی القدر کالصغیر والکبیر اوفی الکیفیة کالحار والبارد وما
اشبه ذلک - (روح - ج ١٣ ص ١٠٠)

وَ فِی الۡاَرۡضِ قِطَعٌ مُّتَجٰوِرٰتٌ وَّ جَنّٰتٌ مِّنۡ اَعۡنَابٍ

او په زمکه کښې ٤ فصلونه دی مختلف یو بل سره او باغونه دی دَ انګورو

وَّ زَرۡعٌ وَّ نَخِيۡلٌ صِنۡوَانٌ وَّ غَيۡرُ صِنۡوَانٍ يُّسۡقٰى

او فصلونه دی او کجورې دی د یو جرړے نه بل سره ملاؤ شوی او ځینے بغیر ملاؤ شوی چه هغے ته اوبه ورکولے شی

بِمَآءٍ وَّاحِدٍ ۙ وَنُفَضِّلُ بَعْضَهَا عَلٰى بَعْضٍ فِى الْاُكُلِ ؕ

او به ورکولے شی ف او مونږ غوره کوو د دینه یو کا په بل باندے په خوراک کښی .

اِنَّ فِىْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّعْقِلُوْنَ ﴿۴﴾ وَاِنْ تَعْجَبْ

ډیرے نښے دی هغه چا دپاره چه فکر کوی - او که ته عجیبه خبره غواړے نه

فَعَجَبٌ قَوْلُهُمْ ءَاِذَا كُنَّا تُرٰبًا ءَاِنَّا لَفِىْ خَلْقٍ جَدِيْدٍ ؕ۬

نو عجیبه ده د دوی خبره چه ایا هر کله چه مونږ خاورے شوو ایا د سره دوباره به مونږ جوړولی شو ؟

اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِرَبِّهِمْ ۚ وَاُولٰٓئِكَ الْاَغْلٰلُ

هم دوی دی چه منکر شول د خپل رب نه او هم دوی دی چه د اُور طوقونه به ئے

فِىْٓ اَعْنَاقِهِمْ ۚ وَاُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ ۚ هُمْ فِيْهَا

په غاړو کښی وی او هم دوی دی دوزخیان او دوی به په دے اُور کښی

خٰلِدُوْنَ ﴿۵﴾ وَيَسْتَعْجِلُوْنَكَ بِالسَّيِّئَةِ قَبْلَ الْحَسَنَةِ

همیشه وی . او زر غواړی ستا نه بدی که د نیکئی نه وړاندے

وَقَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِمُ الْمَثُلٰتُ ؕ وَاِنَّ رَبَّكَ

او تیر شویدی د دوی نه وړاندے ډیر عذابونه او ستا رب شه

لَذُوْ مَغْفِرَةٍ لِّلنَّاسِ عَلٰى ظُلْمِهِمْ ۚ وَاِنَّ رَبَّكَ

معافی هم کوی خلقو ته سره د دوی د ظلم نه او ستا د رب

لَشَدِيْدُ الْعِقَابِ ﴿۶﴾ وَيَقُوْلُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَوْلَآ اُنْزِلَ

عذاب هم سخت دے ف او وائی کافران ولے نهٔ نازلیږی

عَلَيْهِ اٰيَةٌ مِّنْ رَّبِّهٖ ؕ اِنَّمَآ اَنْتَ مُنْذِرٌ وَّلِكُلِّ

په هغه باندے څه نښه د هغه د رب نه ، ستا کار خو ویرول دی او هر قوم دپاره

ع
قَوْمٍ هَادٍ ﴿۷﴾

راغلی دے لاره ښودونکے .

**نکات** ۱ تا ۵ شکوی ۶ تخویف اُخروی ۷ زجر سره د شکوی ۸ بشارت اُخروی ۹ تخویف اُخروی ۱۰ شکوی۔

**موضح قرآن** **ف ۱** دبل متر جم ترجمه دا ده او زمکه کښی ټکړے دی یو بل ته ملاؤ شوے او د انګورو باغونه دی او فصلونه دی او کهجورے چه ځنے د یو بیخ نه پورته شوے دی او ځنے جدا جدا بیخ لری، یو بیخ قسم اوبو سره اوبه کولے شی۔ **ف ۲** بدی غواړی مخکښ د نیکئ نه یعنی ایمان نه راوړی چه ټولے نیکئ بیا مومی۔ انکار کوی او وائی عذاب راولئه او مخکښ تیرے شویدی قصے یعنی عذابونه چه قصے ترے راچلیږی مثلاً عذابونه مثله، واحد د سزا او عذاب نه ویلے شی۔

**تفسیر:** **۵** دا هم د الله تعالیٰ د قدرت کامله یو بنکاره او واضح ثبوت دے چه د زمکے سره سره واقع ټکړو کښی د هغے مختلف خاصیتونه امانت کړے شوی دی۔ ځنے زرخیزه ده ځنے بنجر، ځنے سخته ده او ځنے نرمه۔ صِنْوَانٌ د صِنْوٌ جمع ده۔ د کهجورو ځنے وُنے بنا خونه لری او ځنے نه لری۔ بیا ټولو ته یو قسم اوبه ورکولے شی لیکن د هغے میوه زیاته او کمه وی او په بوی خوند وغیره کښی هم مختلف وی۔ او دلته عقلی دلیل ختم شو۔ د دلیل په ټولو اجزاؤ کښی حصر دے یعنی دا ټول څیزونه صرف د الله تعالیٰ په قبضه کښی دی لهٰذا کارساز هم صرف هغه دے۔

**۶** دا شکوی ده عَجَبٌ ای مُعْجِبٌ۔ یعنی اے پیغمبره! که چیرے تا سو د مشرکانو حرکت باندے تعجب کوئ چه هغوی د یو بدیهی حقیقت نه انکار کوی او د دا سے دلائل قاهره په موجودګئ کښی او دا هم منی چه د ټول کائناتو خالق او مالک هم الله تعالیٰ دے۔ بیا هم دوی د الله تعالیٰ عاجزه مخلوق کارساز او حاجت روا ګنړی نو د دوباره ژوندی کیدلو نه د دوی انکار کول هم څه ګهه قابل تعجب خبره نه ده۔ وان تعجب من اتخاذ المشرکین ما لا یضرهم ولا ینفعهم الهة یعبدونها مع اقرارهم بان الله تعالیٰ خالق السموت والارض وهو یضر وینفع وقد رأوا من قدرة الله وما ضرب لهم به الامثال ما رأوا فعجب قولهم (خازن ج ۳ ص ۵) اُولٰٓئِكَ الْاَغْلٰلُ الخ تخویف اُخروی دے د منکرین توحید او بعث د پاره۔

**۷** زجر سره د شکوی۔ د سَيِّئَةٌ نه مراد عذاب او د حَسَنَةٌ نه مراد صحت او عافیت دے او قَبْلَ الْحَسَنَةِ حال دے. ای حال کونهم جاعلیها قبل الحسنة یعنی دا خلق د عذاب مطالبه کوی او عافیت نه غواړی۔ مشرکانو به د عناد او استهزاء د وجے نه د عذاب مطالبه کوله۔ وے فرمائیل څما د عذاب او ویریدو هغه د غوښتلو څیز نه دے۔ ستاسو ته وړاندے ستاسو پشان دروغ ګنړونکی او معاند

قومونه ما په ډیر سخت عذاب هلاک کړی دی، ستاسو انجام به هم هغه شان وی. إن مشركى مكة كانوا يطلبون العقوبة بدلا من العافية استهزاء منهم الخ (مظهری ج ۵ ص ۲۱۶) وَقَدۡ خَلَتۡ الخ جمله حالیه ده. والحال انه مضت العقوبات الفاضحة النازلة على امثالهم من المكذبين المستهزءين (روح. ج ۱۳ ص ۱۰۲)

ف ۸ باوجود ددے چه خلق ګناه کوی او د الله تعالیٰ نا فرمانی کوی په خپلو ځانونو باندے ظلم کوی لیکن بیا هم الله تعالیٰ توبه کوونکوته معافی کوی خود هغه عذاب هم ډیر درد ناک دے او هغه د عذاب ورکولو قدرت هم لری. دا بشارت او تخویف اُخروی دے۔

ف ۹ دا شکوی ده. دا ضدیان او عنادیان خلق د دومره واضح کیدلو او ظاهریدلو باوجود هم خبره نه مني، او ستاسو نه معجزے طلب کوی. إِنَّمَآ أَنتَ مُنذِرٞ الخ دشکوے جواب دے. معجزه راوړل ستا په اختیار کښ نه دی، تاسو د الله تعالیٰ رښتونے پیغمبر یئ ستاسو کار هغوی ته د الله تعالیٰ پیغام رسول دی څنګ چه مخکنو پیغمبرانو به خپلو قومونوته د الله تعالیٰ پیغام ورکولو او هغوی به ئے د الله پاک توحید طرفته رابلل. (وَلِكُلِّ قَوۡمٍ هَادٍ) من الانبياء يهديهم الى الدين ويدعوهم الى الله الخ (مدارک ج ۲ ص ۱۸۷) او لنړے دلیل عقلی د اولنی دعوے (چه د الله تعالیٰ نه سوا هیڅوک کارساز نشته) د پاره وو او تردے ځائے پورے بشارتونه، تخویفونه، زجرونه او شکوے هم ددے دعوے سره متعلق وے.

| |
|---|
| ٱللَّهُ يَعۡلَمُ مَا تَحۡمِلُ كُلُّ أُنثَىٰ وَمَا تَغِيضُ ٱلۡأَرۡحَامُ |
| الله عالم دے نه په هغه څه چه په خیټه کښ ئے ساتی هره ښځه او کوم چه کموی خیټے |
| وَمَا تَزۡدَادُۚ وَكُلُّ شَيۡءٍ عِندَهُۥ بِمِقۡدَارٍ ۝٨ عَٰلِمُ |
| او زیاتوی او هر څیز د هغه په نزد په اندازه دے. عالم دے |
| ٱلۡغَيۡبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ ٱلۡكَبِيرُ ٱلۡمُتَعَالِ ۝٩ سَوَآءٞ مِّنكُم |
| په پټو او ښکاره ئے الله چه ډیر لوئے او برتر دے. برابر دی په تاسو کښ |
| مَّنۡ أَسَرَّ ٱلۡقَوۡلَ وَمَن جَهَرَ بِهِۦ وَمَنۡ هُوَ مُسۡتَخۡفِۭ |
| څوک چه پټوی خبره (په زړه کښ) او څوک چه ئے ښکاره کوی او څوک چه پټیږی ونګے دے |

بِالَّيۡلِ وَسَارِبٌۢ بِالنَّهَارِ ⑩ لَهٗ مُعَقِّبٰتٌ مِّنۡۢ بَيۡنِ

په شپه کښې او ځوک چه پټ کوځو کښې ګرځي ډوُرځے ول دهغهٔ دپاره نګرانی کونکے فرښتے دی د بندهٔ نه

يَدَيۡهِ وَمِنۡ خَلۡفِهٖ يَحۡفَظُوۡنَهٗ مِنۡ اَمۡرِ اللّٰهِ ؕ اِنَّ

مخکښې او روستو دهغهٔ نګرانی کوی د الله په حکم سره بیشکه

اللّٰهَ لَا يُغَيِّرُ مَا بِقَوۡمٍ حَتّٰى يُغَيِّرُوۡا مَا بِاَنۡفُسِهِمۡ ؕ وَاِذَاۤ

الله نه بدلوی د یو قوم حالت ترڅو چه هغه بدل نکړی کوم چه دهغوی په زړونو کښې دی او چه

اَرَادَ اللّٰهُ بِقَوۡمٍ سُوۡٓءًا فَلَا مَرَدَّ لَهٗ ۚ وَمَا لَهُمۡ مِّنۡ

وغواړی الله په یو قوم باندې آفت بیا هغه نه واپس کیږی او نیشته هغوی دپاره بیواړ د

دُوۡنِهٖ مِنۡ وَّالٍ ⑪ هُوَ الَّذِىۡ يُرِيۡكُمُ الۡبَرۡقَ خَوۡفًا

هغهٔ نه بل ځوک مدد ګار ول الله هغه ذات دے چه تاسو ته ښائی بریښنا د ویرے

وَّطَمَعًا وَّيُنۡشِئُ السَّحَابَ الثِّقَالَ ⑫

او اُمید دپاره او پیدا کوی وریځے درنے۔

**نکات** بسط دویم دلیل عقلی سره تخویف دنیوی۔

**موضح قرآن** ف۱ یعنی ځوک چه خپل کار د شپے پټ کړی یا ئے د وُرځے ښکاره کړی، د الله تعالیٰ په نزد برابر دی۔ ف۲ یعنی الله تعالیٰ د خپل حفاظت او مهربانئ نه نه محرومه کوی یو قوم کوم چه همیشه دهغهٔ په طرف وی ترڅو چه هغه خپله طریقه الله تعالیٰ سره بدله نکړی۔

**تفسیر:-** ۱۱ دا دویم عقلی دلیل دے او دویمه دعویٰ ثابتوی یعنی دالله تعالیٰ نه سوا هیڅوک عالم الغیب نشته، هغه په پټو رازونو عالم دے هغهٔ ته معلومه ده چه دوے ښځے په خیټه کښې څهٔ دی، نر یا ښځه، تور یا سپین، کامل یا ناقص، نیک بخت یا بد بخته وغیره وغیره۔ مَا تَغِيۡضُ الۡاَرۡحَامُ وَمَا تَزۡدَادُ۔ غاض او ازداد دواړه لازم هم دی او متعدی هم دلته دواړه جوړیدے شی۔ که دواړه لازم وی نو مَا لامحاله مصدریه دے او که متعدی وی نو مَا به مصدریه وی یا موصوله یا موصوفه (روح)۔ د رحمونو کمولو او زیاتولو نه یا خود بچو په شمیر کښې کمے زیاتے مراد دے یا د حمل په موده کښې کمے زیاتے۔ المراد عدد الولد فانها تشتمل علی واحد و

اثنین وثلاثة واربعة ..... وصدة الولادة فانها تکون اقل من تسعة اشهر وازید علیها۔ (مدارک ج ۲ ص ۱۸۷)

سلہ ۱ کوم څیزونه چه په انسانانو باندې بنکاره دی او کوم چه ترینه پټ دی الله تعالیٰ ته هغه ټول معلوم دی۔ اَلْکَبِیْرُ: داسې عظیم الشان چه ټول صفتونه د کمال په هغه کښې موجود دی۔ اَلْمُتَعَالِ: د هر څیز نه برتر او اوچت دے او د مخلوق د صفاتو نه پاک او منزه دے۔ سَوَآءٌ مِّنْکُمْ مَّنْ اَسَرَّ کهٔ څوک په رو او منزه خبره کوی او کهٔ څوک په اوچت آواز سره خبرې کوی، کهٔ څوک د شپې په تیاره کښې پټ ناست وی او کهٔ د ورځې په لاره کوڅه کښې روان وی دا ټول د الله پاک په نزد یو شان برابر دی او هغه یو شان په ټولو باندې عالم دے او هیڅ څیز ترینه پټ نشته۔

سلہ ۲ دا تخویف دنیوی دے۔ لَهٗ کښې د ضمیر مرجع مَنْ اَسَرَّ الخ دے یعنی د هر انسان د حفاظت د پاره محافظ فرښتې مقرر شوې دی۔ الضمیر راجع الی من تقدم ممن اسر بالقول وجهر به۔ (روح ج ۱۳ ص ۱۱۱) یا ضمیر الله تعالیٰ طرفته راجع دے یعنی د الله تعالیٰ دا فرښتې هم شته چه د انسانانو په حفاظت باندې مقرر شوې دی۔ ای لله ملائکة یتعاقبون باللیل والنهار (خازن ومعالم ج ۴ ص ۷، وقرطبی ج ۹ ص ۲۹۱) مُعَقِّبٰتٌ د مُعَقِّبَةٌ جمع دهٔ مراد ترینه د فرښتو ټولې دی چه الله تعالیٰ د انسان د حفاظت د پاره مقرر کړی دی۔ مِنْ اَمْرِ اللّٰهِ کښې مِنْ سببیه دے یعنی د الله تعالیٰ په حکم سره د انسان حفاظت کوی۔ ومن للسببیة ای یحفظونه من المضار بسبب امر الله تعالیٰ لهم بذلک۔ (روح ج ۱۳ ص ۱۱۳) یحفظونه من اجل امر الله تعالیٰ ای من اجل ان الله امرهم بحفظه۔ (مدارک ج ۲ ص ۱۸۷)

سلہ ۳ اول ئې بیان اوکړو چه الله تعالیٰ د بندګانو د ټولو عملونو نه خبردار دے۔ بیا ئې اوفرمائیل چه هغهٔ بندګانو باندې محافظ فرښتې مقرر کړې دی۔ بندګانو ته ئې لزوم اطاعت او د ګناه نه اجتناب کولو باندې تنبیه اوفرمائیله او ورسره ئې د ګناه د وبال او عذاب نه خبردار کړل (روح) مَا بِقَوْمٍ کښې مَا موصوله دے او مراد ترې نعمت او عافیت دے۔ مَا بِاَنْفُسِهِمْ کښې مَا موصوفه دے او مراد ترې صالح احوال دی یعنی الله تعالیٰ چه قوم باندې نعمت او برکت کړې وی تر هغې وخته ترینه هغه نهٔ اخلی ترڅو چه هغه خلق د خپلو ګناهونو او بدو عملونو په وجه پخپله خپل استحقاق ضائع نکړی۔ او هر کله چه د یو قوم د بدو عملونو د وجې نه الله تعالیٰ د هغوی د تباه او برباد کولو اراده اوکړی نو بیا هغه هیڅوک نشی منع کولے او نهٔ څوک د عذاب نه بچ کولے شی۔

وَيُسَبِّحُ الرَّعْدُ بِحَمْدِهٖ وَالْمَلٰٓئِكَةُ مِنْ خِيْفَتِهٖ ج وَ

او وائی رعد (فرښته) ثنا د هغه او ټولې فرښتې د هغهٔ د ویرې نه، او

يُرْسِلُ الصَّوَاعِقَ فَيُصِيبُ بِهَا مَنْ يَّشَآءُ وَهُمْ يُجَادِلُوْنَ

لیږي تندرونه بیا ئے غورزوي په چا چه اوغواړي او دا خلق جګړه کوي

فِي اللّٰهِ ۚ وَهُوَ شَدِيْدُ الْمِحَالِ ﴿۱۳﴾ لَهٗ دَعْوَةُ الْحَقِّ ؕ

د الله په خبره کښې او دغه سخت عذاب دے۔ دغه بلنه رښتیا د ده شاته دا

وَالَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖ لَا يَسْتَجِيْبُوْنَ لَهُمْ بِشَيْءٍ

او چا ته چه دوی آواز کوي د الله نه سوا هغوی په کار نه راځي د دوی لږ هم

إِلَّا كَبَاسِطِ كَفَّيْهِ إِلَى الْمَآءِ لِيَبْلُغَ فَاهُ وَمَا هُوَ

لیکن څنګه چه خوره کړل چا لاسونه د واړه اوبو طرف ته چه راشي د هغه خلے ته او هغه به هیڅکله

بِبَالِغِهٖ ؕ وَمَا دُعَآءُ الْكٰفِرِيْنَ إِلَّا فِيْ ضَلٰلٍ ﴿۱۴﴾ وَ

راشي، او څومره بلنه چه ده د کافرانو ټوله ګمراهي ده او

لِلّٰهِ يَسْجُدُ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ طَوْعًا وَّكَرْهًا

الله ته سجده کوي هغه څوک چه په آسمانونو او زمکه کښې دي په خوښه او په زور

وَّظِلٰلُهُمْ بِالْغُدُوِّ وَالْآصَالِ ﴿۱۵﴾ السجدة قُلْ مَنْ رَّبُّ السَّمٰوٰتِ

او د هغوی سورے صبا بیګاه ۔ تپوس اوکړه څوک دے رب د آسمانونو

وَالْأَرْضِ ؕ قُلِ اللّٰهُ ؕ قُلْ أَفَاتَّخَذْتُمْ مِّنْ دُوْنِهٖٓ

او د زمکے؟ اووایه الله دے اووایه آیا تاسو نیولي دي د هغه نه سوا داسے

أَوْلِيَآءَ لَا يَمْلِكُوْنَ لِأَنْفُسِهِمْ نَفْعًا وَّلَا ضَرًّا ؕ قُلْ

امدادیان چه مالکان نه دي د خپل فائدے او نه د نقصان، او وایه!

هَلْ يَسْتَوِي الْأَعْمٰى وَالْبَصِيْرُ ۙ أَمْ هَلْ تَسْتَوِي

آیا برابر دے ړوند او لیدونکے یا څرنګه برابر کیدے شي

الظُّلُمٰتُ وَالنُّوْرُ ۚ أَمْ جَعَلُوْا لِلّٰهِ شُرَكَآءَ خَلَقُوْا

تیارهٔ او رڼا، آیا مقرر کړي دي دوی الله پاک له شریکان چه هغوی پیدا کړي دي

كَخَلْقِهٖ فَتَشَابَهَ الْخَلْقُ عَلَيْهِمْ ۭ قُلِ اللّٰهُ خَالِقُ كُلِّ

شتون چه الله پیدا کړیږي بیا مشتبه شو پیدا ئښت ددوی په نظر کښې۲؟ او وایه الله پیدا کونکے دے د هر

شَيْءٍ وَّهُوَ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ (۱۶)

څیز او هغه دے یو اځے غالب ۔

**نکات** ۔ د مذکوره دلائلو حاصل ۔ د باطل معبودانو مثال۔ دریم عقلي دلیل دے على سبیل الاعتراف من الخصم ۔ دویم حاصل د پورته ذکر شوي دلائلو په طور د زجر او الزام ۱۲

**موضح قرآن** ف۱ کافران چه چا ته اوازکوي څنګ خوخیال دے، څنګ پیریان دي او څنګ داسے څیزونه دي چه په هغې کښې خاصیتونه شته لیکن د خپلو خاصیتونو مالکان نه دي بیا د هغوي د رابللو څه حاصل لګه او را وړاندې شاید چه ستوري هم دے قسم کښې داخل دي ۔ دا ئے د هغې مثال او فرمائیلو ۔ ف۲ چا چه ایمان راوړو په الله باندې نو په خوشالئ سره د هغه حکم ته غاړه ږدي او سر په سجده کښې ږدي او چا چه په الله تعالیٰ باندې ایمان او یقین را نه وړلو اخر په هغه باندې ئے هم حکم جاري دے او سورے ئے صبا بیګا په زمکه خوریږي، هم دا د هغوي سجده ده ۔

**فتح الرحمٰن** ف۱ یعنې هغه سره بنائي چه د هغه په حضور کښې عاجزي وکړي او حاجت ترے نه طلب کړے شي او قبول کړے شي ۔
ف۲ کافران او منافقان په ناخوښه سجده کوي د سختئ یا د تورے د ویرے نه او فرشتے او مسلمانان په خوښه ۔

**تفسیر** ۔ ۱۲ دا دریم عقلي دلیل دے ۔ د دیکښې الله تعالیٰ د زمکے او اسمان په مینځ کښې جو (فضا) باندې د خپل اقتدار اعلیٰ او کامل تسلط ذکر فرمائیلے دے ۔ د وریځو نه باران راوړول او د وریځو تنا، پریښنا ټول د هغه په اختیار کښې دي۔ خَوْفًا وَّطَمَعًا ۔ کله چه پریښنا رڼا کوي نو د خلقو په زړونو کښې ویره او امید یو شان پیدا وي ۔ ویره خو ځکه وي چه چرته تندر پریوتلو سره تباهي خوره نشي او د رحمت د باران نازلیدو امید هم وي۔ وَيُسَبِّحُ الرَّعْدُ رعد د هغه فرشتے نوم دے چه په وریځو مقرره ده ۔ رعد فرشته او د هغې نه علاوه نورے فرشتے دا الله پاک د هیبت نه د هغه تسبیح او تقدیس کښې مشغولے او سیزي او چالره چه او غواړي هغه هلاکوي۔ وَهُمْ يُجَادِلُوْنَ فِي اللّٰهِ الخ مشرکانو د پاره زجر دے ۔ الله تعالیٰ د دا سے جلال او لوئي او د داسے طاقت او غلبے مالک دے لیکن معاندین بیا هم هغه لره د الوهیت په صفاتو کښې یو اځے او بے مثله

نۀ منی.

**۱۵** دا دمذکوره درے دلائل عقلیه حاصل دے. د ظرف تقدیم د حصر د پاره مفید دے. دَعْوَةُ الْحَقِّ نه د الله تعالیٰ توحید او خالص د هغهٔ رابلل مراد دی قال علی رضی الله عنه دعوة الحق التوحید قال ابن عباس رضی الله عنه شهادة ان لا اله الا الله. (خازن و معالم ج ۴ ص ۱۱) یعنی دپورتنو دلائلو نه ثابته شوه چه ټول هرڅهٔ کونکے او هرڅهٔ بانږ پوهه صرف الله تعالیٰ دے بل څوک نه دے نو بیا به ویره او اُمید کښې صرف هغهٔ ته چغه وهئ. قیل دعوة الحق دعاؤه عند الخوف فانه لا یدعی فیه الا ایاه کما قال ضَلَّ مَنْ تَدْعُوْنَ اِلَّآ اِیَّاهُ قال الماوردی وهو اشبه بسیاق الآیة (قرطبی ج ۹ ص ۵۰۰)

**۱۶** دلته یو تمثیل سره پوهه کړل چه مشرکان کوم باطل معبودان رابلی هغوی ته آواز کول او د هغوی نه د حاجتونو غوښتنه بالکل بے فائدے او ضائع دی. دغیر الله د رابللو مثال بالکل همداسے دے چه لکه یو تږے اُوبو ته په لاس سره اشاره اوکړی او خپل ځان ته ئے راوبلی د پاره د دے چه اُوبهٔ بخپله د هغهٔ خُلے ته راورسیږی او د دهٔ تنده ختمه شی. همدا حال د مشرک دے. څنګه چه د اُوبو رابلل بے فائدے دی دارنګے غیر الله په حاجتونو او تکلیفونو کښ رابلل بے فائدے دی. څنګه چه په اُوبو کښ د رابلونکی د آواز شعور نشته او نهٔ پکښ د هغهٔ د ضرورت او حاجت احساس شته دغه شان باطل معبودان هم د خپل رابلونکی د آواز او حاجتونو او مصیبتونو نه ناخبره دی. وَمَا دُعَآءُ الْكٰفِرِيْنَ اِلَّا فِيْ ضَلٰلٍ. د کافرانو غیر الله ته آواز کول ټوله ګمراهی ده او بیخی بے فائدے او ضائع ده.

**۱۷** دا پنځم عقلی دلیل دے چه د اُولے دعوے سره متعلق دے. فرښتے، پیریان او انسانان ټول د الله تعالیٰ په وړاندې تېښېږی او ټول هغهٔ ته سجده کوی. فرښتے او مؤمنان په خوښه او رضا رغبت سره او کافران او مشرکان مجبوراً چه کله په مصیبتونو او تکلیفونو کښ اِنخلی. طوعاً یعنی الملائکة والمؤمنین و کرهاً یعنی المنافقین والکافرین حال الشدة والضیق. (مدارک ج ۲ ص ۱۸۹). او د هغوی سوری هم صبا بیګاه د هغهٔ په وړاندې سر په سجده لګوی کله چه هرڅیز د الله تعالیٰ مطیع او فرمان بردار دے او د ټولو کارساز هم الله تعالیٰ دے.

**۱۸** دا پنځم عقلی دلیل دے علیٰ سبیل الاعتراف من الخصم (چه مخالف هم دے اقرار کوی) او دا د ما قبل نه دپرتوی دے ځکه چه مشهوره ده احسن الشهادات ما یشهد به الاعداء. مشرکانو به منل چه د زمکے او د اسمانونو خالق او مالک الله تعالیٰ دے. قُلِ اللّٰهُ دلته همزه د استفهام تقریری محذوف ده قُلْ ءَ اللّٰهُ یعنی صرف الله دے بل څوک نه دے.

**١٩ له** دا په مذکوره دلائلو باندې دویمه ثمره ده - د زجر او الزام په طور د مذکوره دلائلونه واضحه او ثابته شوه چه د ټولو کائناتو خالق، مالك، متصرف او مختار الله تعالیٰ دے لیکن ددے باوجود تاسو د الله تعالیٰ عاجزه مخلوق او دهغه بے وسه بندګان کارساز او حاجت روا اوګرځول چه هغوی به تاسو ته نفع او نقصان څهٔ اورسوی چه هغوی خود خپل ځان د نفع او نقصان اختیار هم نلری تاسو خو بالکل د عقل ړانده یئ. تاسو ورته اووایئ چه ړوند او بینا برابر نهٔ دے او نهٔ تیاره او رڼا برابریدے شی - د اَعمیٰ (ړوند) نه مراد مشرك دے چه دَ دلائلو دَ وضوح نه روستو توحید نهٔ منی. او د بَصِیر (بینا) نه مراد مؤحد دے. دا رنګے دَ ظُلُمٰتُ نه دَ کفر او شِرك تیارے مراد دی او دَ نور نه دَ توحید رڼا مراد ده.

**٢٠ له** ایا هغوئ هغه څوك دَ الله تعالیٰ شریك جوړ کړل چا چه دَ الله تعالیٰ دَ مخلوق پشان هیڅ یو مخلوق نهٔ دے پیدا کړے نو ځکه هغوئ باندے معامله مشتبه شوه او هغوئ هغه دَ اُلوهیت مستحق اوګڼړلو حالانکه دا سے نهٔ ده ځکه چه دَ هر څیز خالق الله تعالیٰ دے او کوم چه دوئ الله سره شریك ګرځولی دی دَ هغوئ متعلق پخپله دوئ منی چه هغوئ هیڅ هم نهٔ دی پیدا کړی. نو په دے وجه هغوئ دَ معبود او اِله کیدلو حق هم نهٔ لری

أَنزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَسَالَتْ أَوْدِيَةٌۢ بِقَدَرِهَا

نازل کړے هغهٔ دَ اسمان نه اوبهٔ له بیا اوبهیدل خوړونه په اندازه خپله خپله

فَاحْتَمَلَ السَّيْلُ زَبَدًا رَّابِيًا ۚ وَمِمَّا يُوقِدُونَ

بیا پورته راوړلو هغه خوړ زګ اوچت شوے او کوم څیز چه بلوی ئے له

عَلَيْهِ فِى النَّارِ ابْتِغَآءَ حِلْيَةٍ أَوْ مَتَٰعٍ زَبَدٌ مِّثْلُهُۥ ۚ

په اور کښې د پاره د کالو جوړولو یا د اسبابو، د دیکښې هم زګ دے

كَذَٰلِكَ يَضْرِبُ ٱللَّهُ ٱلْحَقَّ وَٱلْبَٰطِلَ ۚ فَأَمَّا ٱلزَّبَدُ

همدا رنګے بیانوی الله تعالیٰ حق او باطل لره، نو هغه زګ

فَيَذْهَبُ جُفَآءً ۖ وَأَمَّا مَا يَنفَعُ ٱلنَّاسَ فَيَمْكُثُ

بلا رنګی غورځولے شوے او کوم چه بکار راځی دَ خلقو نو هغه باقی پاتے کیږی

فِى ٱلْأَرْضِ ۚ كَذَٰلِكَ يَضْرِبُ ٱللَّهُ ٱلْأَمْثَالَ ﴿١٧﴾

په زمکه کښې، همدا رنګے بیانوی الله تعالیٰ مثالونه ٢١ له

لِلَّذِيْنَ اسْتَجَابُوْا لِرَبِّهِمُ الْحُسْنٰىؕ وَالَّذِيْنَ

چا چه ۲۲ له او منلو حکم د خپل رب هغوی دپاره نیکی ده او چا چه

لَمْ يَسْتَجِيْبُوْا لَهٗ لَوْ اَنَّ لَهُمْ مَّا فِي الْاَرْضِ جَمِيْعًا وَّ

حکم او نه منلو د هغه که چیرې دوی سره وی هغه څه په زمکه کښې دی ټول او

مِثْلَهٗ مَعَهٗ لَافْتَدَوْا بِهٖؕ اُولٰٓئِكَ لَهُمْ سُوْٓءُ الْحِسَابِ ۙ۬

نور هم د هغې په مثل نو تول ورکړی خپله بدله کښې، دغه خلقو لره دے بد حساب

وَمَاْوٰىهُمْ جَهَنَّمُؕ وَبِئْسَ الْمِهَادُ ﴿١٨﴾ ع

او ټیکاونړه د هغوی دوزخ دے او هغه بد ځائے د آرام دے۔

**نکات:** ۲۱ دا شپږم عقلی دلیل دے او د معبود حق او معبود باطل مثال دے۔ ۲۲ بشارت اُخروی ۲۳ تخویف اُخروی۔

**موضح قرآن** ف۱ یعنی د آسمان نه حق دین نازلیږی نو هر یو د خپل استعداد موافق فیض اخلی۔ بیا حق او باطل دواړه سره اُونخلی نو خیرے راوچت شی لکه چه د باران اُوبه زمکے سره یو ځائے شی یا روپۍ او تانبه په اور کښې گرمه کړے شی خیرے او زلګے سر ته راشی اُوبرسیږی۔ د زلګے بنیاد نشته او د کار د خیز دپاره بنیاد شته۔ دلته د حق او باطل جنګیدو نه د دُنیا جنګ مراد دے۔ آخر حق غالب دے یا د هر چا په زړه کښې حق او باطل جنګیږی۔ آخر حق هغه باطل لرے کړی او صفا حق پاتے شی۔

**فتح الرحمٰن** ف۱ یعنی ضروری ده چه په هر جنس کښې خیر او شر وی — دغه شان ضروری ده چه په انسانانو کښې نیکوکار او بدکار هم وی لیکن نیکانو دپاره د آستوګنے ځائے سازوی او د هغوی کار مخ په وړاندې بوزی او بدکاران هلاکوی۔

## تفسیر

۲۱ دا شپږم عقلی دلیل دے۔ دیکښې د معبود برحق او معبود باطل مثال بیان شوے دے۔ یعنی باطل معبود د زلګے په شان وی چه فنا به شی او حق معبود به باقی پاتے شی۔ د معبود حق مثال د اُوبو او د سرو زرو دے او د معبود باطل مثال

ډېر ږې دے یعنې کله چه باران ورېږي او په خوړونو اوکنډو کښې سیلاب روان وي
نو د اوبو سره زلګ راښې نو اوبه زمکه کښې او درېږي چه زمکه ورسره زرخېزه
او ابادېږي او زلګ بیکاره اوګرځي - دغه شان چه کله سره زر په اور باندي ویلے
کیږي نو سره زر لاندې کیني او خیرے سرته خیژي چه غورځولے شي یا دا
د حق او باطل یعنې د اسلام او کفر او د توحید او شرك مثال دے - د باطل
تشبیه د بیکاره زلګ او د حق خالص اوبو او سروزرو سره ورکړے شویده چه
په کار راتونکے او همیشه دے - ان المثلین ضربهما الله للحق في ثباته
والباطل في اضمحلاله - (قرطبي ج ۹ ص ۳۰۵)

۲۲ وَمِمَّا يُوقِدُونَ خبر مقدم دے د زَبَدٌ مِّثْلُهُ مبتداء مؤخر دے -
جُفَاءً - بیکاره -

۲۳ بشارت اخروي دے هغه خلقو دپاره چا چه ایمان قبول کړو او توحید
او رسالت ئے اومنلو - اجاب الی ما دعاه الله تعالی من التوحید و النبوة -
(قرطبي) وَالَّذِينَ لَمْ يَسْتَجِيبُوا الخ منونکو دپاره تخویف اخروي دے -

أَفَمَنْ يَعْلَمُ أَنَّمَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ مِنْ رَّبِّكَ الْحَقُّ

ایا نو هغه چه پوهیږي چه کوم څه نازل شو تا باندې ستا د رب له طرفه حق دي،

كَمَنْ هُوَ أَعْمَىٰ ۚ إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ أُولُوا الْأَلْبَابِ ﴿١٩﴾

برابر کیدے شي هغه چا سره چه ړوند دے، پوهیږي هغه څوك چا سره چه عقل دے

الَّذِينَ يُوفُونَ بِعَهْدِ اللَّهِ وَلَا يَنْقُضُونَ الْمِيثَاقَ ﴿٢٠﴾

هغه خلق چه پوره کوي د الله وعده لره او نه ماتوي هغه وعده لره

وَالَّذِينَ يَصِلُونَ مَا أَمَرَ اللَّهُ بِهِ أَنْ يُوصَلَ وَ

او هغه خلق چه یو ځاے کوي هغه د کوم چه الله د یو ځاے کولو حکم کړے دے او

يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ وَيَخَافُونَ سُوءَ الْحِسَابِ ﴿٢١﴾ وَالَّذِينَ

وېرېږي د خپل رب نه او وېرېږي د بد حساب نه - او هغه خلق چه

صَبَرُوا ابْتِغَاءَ وَجْهِ رَبِّهِمْ وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَ

صبر ئے اوکړو د خوشنوالي د خپل رب دپاره او قائم ئے کړو مونځ او

أَنفَقُوا مِمَّا رَزَقْنَٰهُمْ سِرًّا وَعَلَانِيَةً وَيَدْرَءُونَ

خرچ نے کړو زمونږ د ورکړے شوے نه په پټه او ښکاره او کوی د بې ئې په

بِالْحَسَنَةِ السَّيِّئَةَ أُولَٰٓئِكَ لَهُمْ عُقْبَى الدَّارِ ﴿٢٢﴾ جَنَّٰتُ

مقابله کښې نیکی ، دغه خلقو دپاره دے دا خرت کور ۲۵ باغونه دی

عَدْنٍ يَدْخُلُونَهَا وَمَن صَلَحَ مِنْ ءَابَآئِهِمْ وَأَزْوَٰجِهِمْ

او سیدلو دپاره چه داخلیږی به هغے کښې او هغه څوک چه نیکان شویدی د هغوی پلرونو نیکونو او بیبیانو

وَذُرِّيَّٰتِهِمْ وَالْمَلَٰٓئِكَةُ يَدْخُلُونَ عَلَيْهِم مِّن كُلِّ بَابٍ ﴿٢٣﴾

او بچی د هغوی او فرښتے به راځی د وی ته له هرے دروازے نه .

سَلَٰمٌ عَلَيْكُم بِمَا صَبَرْتُمْ فَنِعْمَ عُقْبَى الدَّارِ ﴿٢٤﴾

وائی به سلامتیا دی وی په تاسو باندے په بدله د هغے کښې چه تاسو صبر او کړو نو ښه ملاؤ شو درته اخرت کور.

**نکات:-** ۱ داپه مذکوره بالا بشارت او تخویف باندې مرتب دے. ۲ کوم خلق چه د بشارت مستحق دی د هغوی صفتونه. ۳ د بشارت اعادہ.

**فتح الرحمن** | ف۱ یعنی د هغهٔ رضا طلب کولو دپاره.

**تفسیر:-** ۲۴ داپه بشارت او تخویف مذکوره باندې د لف او نشر مرتب متفرع دے یعنی هغه څوک چه یقین لری چه کوم څهٔ د الله پاک له طرف نه نازل شوی دی هغه ټول حق دی - داپه بشارت متفرع دے - ایا داکس د هغه چا پشان کیدے شی څوک چه په زړهٔ باندې پړوند وی او مشرک وی - داپه تخویف متفرع دے - استفهام انکاری دے یعنی دا دواړه کسان هیڅکله برابر نهٔ دی او د بصیرت والا خلق پوهیږی چه دوی لشی برابر کیدے.

۲۵ دا دَ اُولوا الالباب صفت دے او د یکښې د هغهٔ ټول صفتونه ذکر شویدی چه ورته بشارت او زیرے ورکړے شوے دے - عَهْدَ اللّٰه نه د الله تعالیٰ توحید او د هغهٔ احکام مُراد دی: ای بجمیع عهود الله وهی اوامرهٔ و نواهیه التی وصے بها عبیدهٔ .... (قرطبی ج ۹ ص ۳۰۷) یا د دینه د توحید او دین حق هغه دلائل مراد دی کوم چه د هغوی په فطرت سلیمه کښې امانت کړے شوے وُو - وعن القفال حمله علی ما فی جبلتهم وعقولهم من دلائل التوحید والنبوات الی غیر ذلك. (روح - ج ص ۱۳۹) اِبْتِغَاءَ مفعول دے هغوی په مصیبتونو او تکلیفونو کښې چه شوے

او ځان نه وهي۔ بلکه محض د الله تعالیٰ د رضا دپاره ئے صبر او استقامت خپل
شعار او طریقه جوړه کړے وي۔ وَيَدْرَءُوْنَ بِالْحَسَنَةِ السَّيِّئَةَ۔ هغوی د خپل
ذات دپاره د هیچا نه هم انتقام نه اخلي بلکه د بدئ بدله احسان سره
ورکوي ؎

وَالَّذِيْنَ يَنْقُضُوْنَ عَهْدَ اللّٰهِ مِنْۢ بَعْدِ مِيْثَاقِهٖ

او کوم خلق چه ماتوي شله د الله وعده د مضبوطوالي نه پس

وَيَقْطَعُوْنَ مَآ اَمَرَ اللّٰهُ بِهٖٓ اَنْ يُّوْصَلَ وَيُفْسِدُوْنَ

او پریکوي هغه څیز د کوم چه الله د یو ځائے کولو حکم ورکړے دے او فساد کوي

فِى الْاَرْضِ ۙ اُولٰٓئِكَ لَهُمُ اللَّعْنَةُ وَلَهُمْ سُوْٓءُ الدَّارِ ﴿۲۵﴾

په زمکه کښې دا سے خلقو دپاره لعنت دے او د وی دپاره دے بد کور شله

اَللّٰهُ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَّشَآءُ وَيَقْدِرُ ؕ وَفَرِحُوْا

الله فراخ کوي روزي چاته چه اوغواړي او تنګوي او خوشاله دي

بِالْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ؕ وَمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا فِى الْاٰخِرَةِ

په ژوند د دُنیا باندې او د دنیا ژوند هیڅ نه دے په مقابله د اخرت کښې

اِلَّا مَتَاعٌ ﴿۲۶﴾ وَيَقُوْلُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَوْلَآ اُنْزِلَ عَلَيْهِ

مګر لږ سامان د فائدے۔ او وائي کافران شله ولے نازله نشوه هغه باندې

اٰيَةٌ مِّنْ رَّبِّهٖ ؕ قُلْ اِنَّ اللّٰهَ يُضِلُّ مَنْ يَّشَآءُ وَ

یوه معجزه د هغه د رب له طرفه ئے او وایه الله ګمراه کوي چا له چه اوغواړي او

يَهْدِيْٓ اِلَيْهِ مَنْ اَنَابَ ﴿۲۷﴾ اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَتَطْمَئِنُّ

لار ښائي د خپل طرف ته هغه چاته چه رجوع او کړي ف دا هغه خلق دي چه ایمان ئے راوړو او آرام نیسي

قُلُوْبُهُمْ بِذِكْرِ اللّٰهِ ؕ اَلَا بِذِكْرِ اللّٰهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوْبُ ﴿۲۸﴾

زړونه د هغوی د الله یاد سره شله ۲۹ واورئ! صرف د الله یاد سره آرام نیسي زړونه شله

# الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ طُوْبٰى لَهُمْ وَحُسْنُ
چا چه ایمان راوړو او کارونه ئے اوکړل نیك خوشالي ده هغوی دپاره او ښه

# مَاٰبٍ ﴿۲۹﴾
ځائے د استوګنے۔

**نکات:** ۱۔ د سزا مستحق تولے او د هغوی صفتونه۔ ۲۔ اُووم دلیل عقلی ۳۔ د مذکوره شکوے اعاده کول۔

**موضح قرآن** **ف ۱** یعني په الله ضروري نه ده چه ټول په سمه لار راولي. یا معجزات راولیږي او هر قسمه هدایت ورکړي بلکه دا هم منظوره وه چه څوك ګمراه شي او څوك لار ته بیا مومي نو چه د چا په زړه کښ رجوع راغله دا د دے لپاره ده چه د هغه په هوښ لږ اوغوښتل۔

**فتح الرحمن** **ف ۱** مترجم وائي یعني د هغه قسم معجزے نه چه د هغه درخواست به ئے کولو۔ والله تعالیٰ اعلم۔

**تفسیر: ۲۶** دا د بشارت اُخروي اعاده ده۔ وَمَنْ صَلَحَ الخ د پورته ذکر شوو متقیانو چه کوم رشته داران دایمان په حالت کښ د دُنیا رخصت شول لیکن د تقوی هغه مقام ته اُونه رسیدل۔ د دوي په وجه به الله پاك هغوی ته هم اوچت درجے ورکوي۔ د صلاح نه مراد تصدیق او ایمان دے۔ قال ابن عباسؓ هذا الصلاح الایمان بالله والرسول۔ (قرطبي ج ۹ ص ۳۱۲) معنی صَلَحَ: صَدَّقَ وَ اٰمَنَ و وحّد (خازن ج ۴ ص ۱۹) سَلٰمٌ عَلَيْكُمْ نه وړاند يَقُوْلُوْنَ مقدر دے۔

**۲۷** دا د سزا د مستحق تولي صفتونه دي چه داول جماعت ضد دے۔ اُولٰٓئِكَ لَهُمُ اللَّعْنَةُ الخ دا د تخویف اُخروي اعاده ده۔

**۲۸** دا اُووم عقلي دلیل دے۔ ټولو کائناتو ته روزي ورکوونکے الله تعالیٰ دے د روزئ کمے زیاتے هم د هغه په اختیار کښ دے۔ که یو کس له ډیر مال او دولت راشي نو دا د هغه کمال نه دے بلکه محض دا الله ورکړه ده۔ پس ے مغرور کیدل پکار نه دي۔ وَفَرِحُوْا الخ د دُنیوي مال او دولت په وجه هغوی خوشاله دي او د دولت په غرور او دهوکه کښ د حق نه انکار کوي او د آخرت پرواه نکوي حال دا دے چه د دُنیا سامان او مال د آخرت په مقابله کښ ډیر حقیر او لږ دے۔ مَتَاعٌ کښ تنوین د تقلیل او تحقیر دپاره دے۔

**۲۹** دا د مخکښ ذکر شوے شکوے دوباره ذکر کول دي۔ یعني دے پیغمبر بانديزمونږ طلب کړے شوے مُعجزه ولے نازله نکړے شوه۔ دا د کافرانو انتهائی ضد او عناد وو چه لوئے لوئے معجزے به ورته راولیږلے شوے بیا به ئے هم

ایمان نه راوړلو او د نورو معجزو مطالبه یې کوله محض د عناد او تکبر په وجه.
قُلْ اِنَّ اللّٰهَ الخ جواب شکوه ده یعنې ناسوته زیاتې معجزې ښودلو سره هیڅ فائده
نشته تاسو ضد یان او عناد یان یئ. تاسو به یې بیا هم نه منئ. هدایت صرف
هغه خلق بیا مومي چا کښې چه انابت (رجوع) وي او څوک چه رښتینې جذبه لري.
۳۰ دا مَنْ اَنَابَ د پاره صفت دے. اَلَا بِذِكْرِ اللّٰهِ. ادخال الهي دے. اَلَّذِيْنَ
اٰمَنُوْا الخ بشارت اُخروي دے.

كَذٰلِكَ اَرْسَلْنٰكَ فِيْٓ اُمَّةٍ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهَآ

دا رنګې تا مونږ او لیږلے یې په یو امت کښې چه تیر شوي دي د هغې نه وړاندې ډیر

اُمَمٌ لِّتَتْلُوَا۟ عَلَيْهِمُ الَّذِيْٓ اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ وَهُمْ

امتونه د دې د پاره چه ته واوروې هغوی ته هغه حکم چه راولیږلو مونږ تا ته او هغوی

يَكْفُرُوْنَ بِالرَّحْمٰنِ ۭ قُلْ هُوَ رَبِّيْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ

منکریږي د رحمٰن نه - ته او وایه هغه رب زما دے چه د هیڅ بندګي لشته سوا د هغه نه

عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَاِلَيْهِ مَتَابِ ۝۳۰ وَلَوْ اَنَّ قُرْاٰنًا

په هغه م تکیه کړے ده او هغه طرفته راځم رجوع کوونکے او که چرې وے یو قرآن داسې چه د هغه

سُيِّرَتْ بِهِ الْجِبَالُ اَوْ قُطِّعَتْ بِهِ الْاَرْضُ اَوْ

بو تللې شوي هغه سره غرونه یا ټکړې کیدلے هغه سره زمکه یا خبرې

كُلِّمَ بِهِ الْمَوْتٰى ۭ بَلْ لِّلّٰهِ الْاَمْرُ جَمِيْعًا ۭ اَفَلَمْ يَايْـَٔسِ

کړے شوې هغه سره مړو بلکه اختیار ټول د الله په لاس کښې دے نو ایا خاطر جمع نه دي

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَنْ لَّوْ يَشَاۗءُ اللّٰهُ لَهَدَى النَّاسَ

ایمان والا په دے چه که اوغواړي الله نو به لاره به راولي ټول

جَمِيْعًا ۭ وَلَا يَزَالُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا تُصِيْبُهُمْ بِمَا صَنَعُوْا

خلق او همیشه به رسیږي ۳۲ منکرینو ته د هغوی د کړو عملونو په وجه تکلیف

قَارِعَةٌ اَوْ تَحُلُّ قَرِيْبًا مِّنْ دَارِهِمْ حَتّٰى يَاْتِيَ

یا به نازل شي د هغوی کورونو ته نزدے ف۱ کله چه راورسیږي

وَعْدُ اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُخْلِفُ الْمِيْعَادَ ﴿۳۱﴾ وَلَقَدِ اسْتُهْزِئَ

وعده د الله بیشکه الله خلاف نکوی د خپلے وعدے ۳۲ او یقیناً ټوکے کړے شویدي ف۲

بِرُسُلٍ مِّنْ قَبْلِكَ فَاَمْلَيْتُ لِلَّذِيْنَ كَفَرُوْا ثُمَّ

ټولو رسولانو پورے ستا نه وړاندے نو مهلت ورکړو ما منکرینو ته بیا م

اَخَذْتُهُمْ ۫ قف فَكَيْفَ كَانَ عِقَابِ ﴿۳۲﴾

هغوی اونیول نو څنګه وه زما بدله -

**نکات**:- ۱ اولنے دلیل وحي ۲ زجر متعلق د مخکني شبهے سره ۳ تخویف دنیوی ۴ تسلي دپاره د نبي علیه السّلام.

**موضح قرآن** ف۱ یعني هغوی دکنا هونو نه ازاد او د رحمٰن نه منکریږي. دَ عربو خلقو به د الله نوم رحمٰن نه منلو - هر کله چه به قران کښې دا نوم راوړیږو نو وے وئیل چه تا خپل معبود پریښودو او بل معبود دِ اونیولو - وے فرمائیل چه زما هم هغه یو رب دے په هر نوم چه ئے رابلئ.

ف۲ مسلمانانو به غوښتل چه یوه لویه شان معجزه راشي نو کافران به مسلمانان شي نو وے فرمائیل چه که چرے یو قران سره دا کارکیدے نو د دے نه مخکښې به ضرور کوم یو کتاب سره شوے وے لیکن اختیار د الله تعالیٰ دے او زړه ته اطمینان هم په دے پکار دے چه الله تعالیٰ دا سے نه غوښتل که چرے غوښتلے ئے وے نو حکم کافي وُو لیکن کافر او مسلمان به همدا رنګے وي چه په دوی بانډے افت راپریوځي یا په کلونډی بانډے تر دے چه ټول عرب ایمان راوړي هغه افت همدا وُو، جهاد د مسلمانانو په لاس.

**فتح الرحمٰن** ف۱ مترجم وائي او هغه کنایه ده د سختئ نه چه د هغے د وجے نه به دوی بانډے د هلاکت ویره غالبه شي او په اخرت کښې به نجات بیا مومي - والله اعلم.

**تفسیر**:- ۳۱ دا اولنے دلیل دے او کاف د بیان کمال دپاره دے یعني دا زمونږ کمال دے چه مونږ ستا په شان دا سے خلقو کښې لیږلے یے چه د هغوی نه مخکښې چیر امتونه تیر شویدي دے دپاره چه تاسو هغوی ته زمونږ هغه پیغام وا ورَوي کوم چه مونږ د وحي په ذریعه تاسو بانډے نازل کړیدے او هغه پیغام

دادے ؛ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ - د الله نه سوا هیڅوک دعبادت او د بللے لائق نشته - وَ هُمْ یَکْفُرُوْنَ بِالرَّحْمٰنِ - دکفر نه مراد کفران نعمت دے یعنی رحمٰن خدائی هغوی ته پیغمبر راولیږلو او قرآن ئے پرے نازل کړو چه په هغے کښې د دوی دنیوی او دینی سعادت وُو لیکن دوی د دے لوئے نعمت شکر ادا نکړو او هغه ئے او نه منلو - (روح) یا د کفر نه انکار مراد دے یعنی هغوی د الله تعالیٰ د صفت رحمٰن نه انکار کوی - حضرت ابن عباس رض فرمائی چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم مشرکانو ته او فرمایل رحمٰن ته سجده او کړئ - هغوی او وے رحمٰن څوک دے چه مونږ ورته سجده او کړو - قال لهم النبی صلی الله علیه وسلم اسجدوا للرحمٰن قالوا وما الرحمٰن فنزلت قل هو ربی لا اله الا هو - (قرطبی ج ۹ ص ۳۱۸)

**۳۲ھ** دا زجر دے او ذکر شوے شکوے سره متعلق دے. د لَوْ جواب کُلِّمَ بِهِ الْمَوْتٰی نه پس لَا یُؤْمِنُوْنَ محذوف دے - دا کافران د ضد او عناد او د نقصان لوئی حد ته رسیدلی دی چه هیڅ یوه معجزه دوی بانږ اثر نکوی تر دے چه د قرآن تاثیر سره که چرے غرونه روان شی یا په زمکه کښې څیرے وائے راشی یا مړی ژوندی شی او خبرے او کړی نو بیا هم دوی ایمان نه راوړی - د ضد او عناد د وجے نه د دوی په زړونو د جباریت مُهر لګیدلے دے او د هدایت توفیق ترینه اخستلے شوے دے - هذا متصل بقوله لَوْلَآ اُنْزِلَ عَلَیْهِ اٰیَةٌ مِّنْ رَّبِّهٖ (قرطبی) -

**۳۳ھ** یَایْئَسْ په معنیٰ د یَعْلَمْ دے - قشیری د حضرت ابن عباس رض، فراء او کلبی نه او جوهری په صحاح کښې نقل کړی دی ؛ ای افلم یعلموا (خازن و قرطبی وغیرهما) یعنی هدایت ورکول او نه ورکول خو د الله تعالیٰ په اختیار کښې دی لیکن هغه محل کوری - رجوع کوونکی زړه ته د هدایت توفیق ورکوی او د عناد کړو په زړونو باندے مُهر لګوی - که چرے هغه غوښتلے نو ټول خلق به ئے په هدایت قبلولو باندے مجبوره کړی وُو لیکن دا د هغه د حکمت بالغه نه خلاف دے - وغه شان د امتحان او ابتلاء موقع ختمیږی - لَهَدَی النَّاسَ جَمِیْعًا نه پس وَلٰکِنْ لِّیَبْلُوَکُمْ مقدر دے په قرینه د وَلٰکِنْ لِّیَبْلُوَکُمْ فِیْ مَآ اٰتٰکُمْ - (مائده - ع ۷)

**۳۴ھ** دا تخویف دنیوی دے - اَلَّذِیْنَ کَفَرُوْا نه مراد د مکے کافران دی - بِمَا صَنَعُوْا د کفر او عناد او انکار او سرکشئ د وجے نه قَارِعَةٌ زړه لړزوونکے مصیبت - الذین کفروا من اهل مکة علی ما روی عن مقاتل تصیبهم بما صنعوا بسبب ما صنعوا من الکفر والتمادی فیه ... قارعة الرزیة التی تقرع قلب صاحبها (روح ج ۱۳ ص ۱۵۸) مشرکانو باندے به د مرګئ نه مخکښې د هغوی د ضد او عناد په وجه ځل نه ځل مصیبت راځی یا به د هغوی په سرونو باندے راځوربند وی چه د هغے په وجه به هر وخت په ویره کښې وی مثلاً د مسلمانانو ویره یا به د بل کوم یو

دښمن د ویرے نه په خطره کښې اوسیږی. اَوْ تَحُلُّ قَرِیْبًا مِّنْھُمْ فیفزعون و
یتطایر علیهم شررها ویتعدی الیهم شرورها. (مدارک ج ۲ ص ۱۹۴)

**۳۵** دا نبی علیه السلام ته تسلی ده یعنی ستا سو نه مخکښې انبیاء علیهم السلام پورے هم استهزاء او ټوقے کړے شوې دی. څو د خپل حکمت بالغه د لانه کافرانو ته مهلت ورکړو او بیا مے نا څاپه نیسم تا سو بے فکره شئ ستا سو د دښمنانو انجام به ډیر زیات درد ناک وی.

اَفَمَنْ هُوَ قَآئِمٌ عَلٰی كُلِّ نَفْسٍۭ بِمَا كَسَبَتْ ۚ وَجَعَلُوْا

ایا هغه څوك چه ولاړ دے د هر چا په سر باندې کوم څه چه هغه کړیدی او مقرر ړی دوی

لِلّٰهِ شُرَكَآءَ ۭ قُلْ سَمُّوْهُمْ ۭ اَمْ تُنَبِّئُوْنَهٗ بِمَا لَا

الله لره شریکان. ته اُووایه د هغوی نومونه واخلئ یا الله ته ښائی هغه کوم چه هغه نه

یَعْلَمُ فِی الْاَرْضِ اَمْ بِظَاهِرٍ مِّنَ الْقَوْلِ ۭ بَلْ زُیِّنَ

معلوم نه دی په زمکه کښې یا کوئ او چتے او چتے خبرے هغه دا سے نه ده بلکه ښائسته کړے

لِلَّذِیْنَ كَفَرُوْا مَكْرُهُمْ وَصُدُّوْا عَنِ السَّبِیْلِ ۭ وَ

شوی دی کافرانو ته د هغوی دروغ او بند کړے شویدی د سمے لارے نه او

مَنْ یُّضْلِلِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنْ هَادٍ ﴿۳۳﴾ لَهُمْ عَذَابٌ

چا لره چه گمراه کړی الله نشته هغه ته لاره ښودونکے. هغوی ته عذاب ورکولے شی

فِی الْحَیٰوةِ الدُّنْیَا وَلَعَذَابُ الْاٰخِرَةِ اَشَقُّ ۚ وَمَا لَهُمْ

د دنیا په ژوند کښې او د آخرت عذاب ډیر سخت دے او هیڅوك نشته هغوی

مِّنَ اللّٰهِ مِنْ وَّاقٍ ﴿۳۴﴾ مَثَلُ الْجَنَّةِ الَّتِیْ وُعِدَ الْمُتَّقُوْنَ ۭ

د پاره د الله نه بچ کونکے. د جنت حال د کوم چه وعده کړے شویده پرهیزگارانو ته

تَجْرِیْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ۭ اُكُلُهَا دَآئِمٌ وَّظِلُّهَا ۭ

بهیږی د هغے لاندے نهرونه. میوه د هغے همیشه ده او سورے هم

تِلْكَ عُقْبَی الَّذِیْنَ اتَّقَوْا ۖ وَّعُقْبَی الْكٰفِرِیْنَ النَّارُ ﴿۳۵﴾

هم دا بدله ده د هغه چا چه ویریږی او د کافرانو بدله اور دے

وَالَّذِينَ آتَيْنَاهُمُ الْكِتَابَ يَفْرَحُونَ بِمَا أُنزِلَ إِلَيْكَ

او هغه خلق چه موږ ورته ورکړې ده کتاب خوشالیږي په هغې چه نازل شوې ده تا باندې

وَمِنَ الْأَحْزَابِ مَن يُنكِرُ بَعْضَهُ ۚ قُلْ إِنَّمَا أُمِرْتُ

او ځنې ډلې نه مني د هغې ځنې خبرې ته او وایه ما ته حکم شوې دې

أَنْ أَعْبُدَ اللَّهَ وَلَا أُشْرِكَ بِهِ ۚ إِلَيْهِ أَدْعُو وَإِلَيْهِ

چه بندګي او کړم د الله او شریک او نه کړم هغه سره، د هغه طرف ته بلنه کوم او هغه طرف ته ځما

مَآبِ ﴿٣٦﴾ وَكَذَٰلِكَ أَنزَلْنَاهُ حُكْمًا عَرَبِيًّا ۚ وَلَئِنِ

ورتلل دي او همدا رنګې نازل کړو موږ دا کلام حکم په عربي ژبه کښې ته او که چرې

اتَّبَعْتَ أَهْوَاءَهُم بَعْدَمَا جَاءَكَ مِنَ الْعِلْمِ ۙ مَا لَكَ

ته د دوی د خواهش تابعداري او کړې پس د هغه علم نه کوم چه تا ته راغلې دې، هیڅوک نشته تا

مِنَ اللَّهِ مِن وَلِيٍّ وَلَا وَاقٍ ﴿٣٧﴾

د پاره د الله نه څوک مددګار او نه ساتونکې.

ع ۱۱

**نکات:** ۳۶ دا اتم دلیل عقلي دې. ۳۷ دا تخویف دنیوي او اُخروي دې ۳۸ نقلي دلیل د اهل کتاب د مؤمنانو سره. ۳۹ دویم دلیل وحي ۴۰ دیتولو ذکر شوو دلیلونو سره متعلق دې. ۴۱ زجر چه په ټولو ذکر شوو دلیلونو باندې متفرع دې.

**موضح قرآن** ف۱ یعني هغه به دوی پریږدي په غیر د سزا ورکولو نه. دد ې ترجمه فتح الرحمٰن کښې دا رنګې لیکلې شوې ده 'آیا هغه څوک چه د هر چا د هر یو عمل نه خبر دې او د هغې بدله ورکوي هغه د دې بتانو په شان کیدې شي؟

**فتح الرحمٰن** ف۱ یعني د هغوی صفتونه ذکر کړي دې د پاره چه د الله تعالیٰ صفتونو سره مقابله کړې شي او د مماثلت نفي ظاهره شي.

ف۲ یعني د خپلو پلرونو تقلید کوي بې بنیاده خبره کښې.

**تفسیر:** ۳۶ دا اتم دلیل عقلي دې چه د دویمې دعوې سره متعلق دې په اخر کښې کَمَنْ لَيْسَ كَذَٰلِكَ خبر محذوف دې او استفهام انکاري دې (مدارک) یعني الله تعالیٰ چه د هر چا د ټولو عملونو نه خبردار دې د هر ځائې کښې حاضر ناظر دې

لکه چه وړ فرمائیلی: اَوَلَمْ یَکْفِ بِرَبِّكَ اَنَّهٗ عَلٰی كُلِّ شَیْءٍ شَهِیْدٌ ۝ (حٰمٓ السجدة ع۶)
هغه دوی باطل معبودانو پشان نشی کیدی چه نه خو عالم الغیب دی نه حاضر ناظر۔
وَجَعَلُوْا لِلّٰهِ شُرَكَآءَ زجر دی لیکن دوی باوجود مشرکین کارسازی د صفاتو نه خالی
او عاجز مخلوق الله پاك سره شریك گرځوی۔ قُلْ سَمُّوْهُمْ یعنی دا د ځان نه جوړ کړے
شوی معبودان د دوی هغه کمالات خو لږ بیان کړی د کوم په وجه چه تاسو دوی ته
د الوهیت درجه ورکوئ۔ قل اذکروا صفاتهم وانظروا هل فیها ما یستحقون به
العبادة ویستاهلون الشرکة (روح ۔ ج ص ۱۶۱)
۳۷ف ایا تاسو الله تعالی ته ډیو څیز خبر ورکوئ چه د هغې د وجود پخپله هغه ته علم
نشته یعنی تاسو الله ته ښایئ چه په زمکه کښې د الله شریك موجود دے حال دا دے
چه هغه سره هیڅوك شریك نشته۔ هرکله چه الله سره څوك شریك نشته نو د هغه
په علم کښې به څنګه وی ځکه چه د الله شریك معدوم محض دے۔ که چرے وے نو
د الله په علم کښې به وو۔ اَمْ بِظَاهِرٍ مِّنَ الْقَوْلِ یا هسے بے فائدے خبرے کوئ او
ظاهری طور باندے خپلو بتانو ته معبودان وائی اګر چه هغوی د معبودیت د صفاتو
نه خالی دی۔ بَلْ زُیِّنَ لِلَّذِیْنَ الخ بلکه په زړونو باندے د جباریت مُهر لګیدلے دے
په دے وجه ورته خپلے ټولے مشرکانه او معاندانه طریقے ښے معلومیږی، او د ارنګے
د هدایت د توفیق نه محرومه شویدی۔ او س د هغوی سمے لارے ته د راتللو
هیڅ امکان نشته۔
۳۸ف دا د پورته ذکر شو معاندینو دپاره دنیوی او اُخروی تخویف دے۔
مَثَلُ الْجَنَّةِ دا د مؤمنانو دپاره بشارت اُخروی دے۔
۳۹ف دا د اَهلِ کتابو مؤمنانو سره عقلی دلیل دے۔ د اَهلِ کتابو عُلماء چه د
مخکنو کتابونو عالمان دی هغوی د هر هغه څیز تصدیق کوی کوم چه په تا نازل
شوید ے۔ دا هم دے د ربینینوالی یو دلیل دے۔ د اَهلِ کتابو علماء د قرآن
تصدیق ځکه کوی چه د دې ټول بیانونه د مخکنو کتابونو سره موافق دی۔ مراد
د اَهلِ کتابو هغه عالمان دی چا چه اسلام قبول کړے وو او د اَحْزَابُ نه مراد یهود
او نصارٰی دی۔ په دوی کښې اکثرو خلقو نه منلو۔ (روح) یا د: اَلَّذِیْنَ اٰتَیْنٰهُمُ
الْکِتٰبَ نه صحابه کرام مُراد دی او د اَحْزَابُ نه د مکے مشرکان۔ د دے صورت کښې به
د الْکِتٰبَ نه قرآن مراد وی۔
۴۰ف دا دویم دلیل وحی دے یعنی ما ته الله تعالی د وحی په ذریعه حکم راکوی چه
زه صرف د الله تعالی عبادت اوکړم، صرف هغه ته آواز اوکړم او هغه سره هیڅوك
شریك نکړم۔ په دے وجه زه صرف د الله تعالی د توحید طرفته خلقو ته دعوت
ورکوم او آخر هم د هغه طرفته ورتلل دی ؞

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلًا مِّنْ قَبْلِكَ وَجَعَلْنَا لَهُمْ أَزْوَاجًا
او یقیناً لیږلی دی موږ مخکې رسولان ستا نه مخکې لره موږ ورکړي دي هغوی ته ښځې
وَذُرِّيَّةً ۚ وَمَا كَانَ لِرَسُولٍ أَنْ يَأْتِيَ بِآيَةٍ إِلَّا
او اولاد او نه دو هیڅ یو رسول چه هغه راوړي یو معجزه لیکن
بِإِذْنِ اللَّهِ ۗ لِكُلِّ أَجَلٍ كِتَابٌ ٣٨ يَمْحُو اللَّهُ مَا
د الله په حکم سره ، هر یو وعده دي لیکلی شوې ده محوه کوي الله څه چه
يَشَاءُ وَيُثْبِتُ ۖ وَعِنْدَهُ أُمُّ الْكِتَابِ ٣٩ وَإِنْ مَّا نُرِيَنَّكَ
غواړي او باقي لري ، او هغه سره دے اصل کتاب ۳۹ او که چرته اوښایو موږ تاته
بَعْضَ الَّذِي نَعِدُهُمْ أَوْ نَتَوَفَّيَنَّكَ فَإِنَّمَا عَلَيْكَ
وعده چه موږ کړے ده هغوی سره یا تا وفات کړو ستا نو ستا په ذمه
الْبَلَاغُ وَعَلَيْنَا الْحِسَابُ ٤٠ أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّا نَأْتِي
رسول دی او زموږ په ذمه حساب دے ۔ آیا دوی نه ګوري چه موږ زمکې ته
الْأَرْضَ نَنْقُصُهَا مِنْ أَطْرَافِهَا ۚ وَاللَّهُ يَحْكُمُ لَا مُعَقِّبَ
راځو په کمولو سره د هغې د غاړو نه او الله حکم کوي هیڅوک نشته چه روستو کړي
لِحُكْمِهِ ۚ وَهُوَ سَرِيعُ الْحِسَابِ ٤١ وَقَدْ مَكَرَ الَّذِينَ
د هغه حکم او هغه زر اخلي حساب ۴۱ ۔ او فریب کړیدے کومو خلقو چه
مِنْ قَبْلِهِمْ فَلِلَّهِ الْمَكْرُ جَمِيعًا ۖ يَعْلَمُ مَا تَكْسِبُ
د دوی نه مخکې وو نو د الله په لاس کښې دے ټول فریب ، پوهه دے په هغه څه چه کوي
كُلُّ نَفْسٍ ۗ وَسَيَعْلَمُ الْكُفَّارُ لِمَنْ عُقْبَى الدَّارِ ٤٢
هر نفس او اوس معلوموي کافران چه چا د پاره دے روستنے کور
وَيَقُولُ الَّذِينَ كَفَرُوا لَسْتَ مُرْسَلًا ۚ قُلْ كَفَىٰ
او وائي کافران ته نه یې لیږلے شوے ، او وایه ! الله

بِاللّٰهِ شَهِيدًۢا بَيۡنِي وَبَيۡنَكُمۡ وَمَنۡ عِنۡدَهٗ عِلۡمُ الۡكِتٰبِ ﴿۴۳﴾

کافی گواه دے خما او ستاسو په مینځ کښې او چا ته عِلم دے د کتاب ورته

**نکات** ب سے د اول مقدر سوال جواب ته دوییم مقدر سوال جواب ته دریم مقدر سوال جواب ته دڅلورم مقدر سوال جواب ته تخویف دنیوی ته شکوی۔

**موضح قرآن** ف۱ دُنیا کښې هر څیز اسبابو سره دے۔ څنې اسباب ظاهر دی څنې پټ دی۔ د اسبابو د تاثیرونو اندازه دا ده کله چه الله پاک اوغواړی د هغے تاثیر د اندازے نه کم یا زیات کړی کله چه اوغواړی هم هغه شان ئے اوساتی۔ انسان کله کانړی سره مرشی او ذکولو نه مرنشی او یوه اندازه د هر څیز د الله په عِلم کښې ده هغه هرګز نه بدلیږی هغے ته تقدیر وائی۔ دا دوه تقدیرونه دی یو بدلیږی او یو نه بدلیږی۔ کوم تقدیر چه بدلیږی هغے ته مُعلق وائی او کوم چه نه بدلیږی هغے ته مُبرم۔ ف۲ مونږ زمکے ته راتلل کوو کمولو سره یعنی اسلام خوریږی دعربو په ملک کښې او کفر کمیږی۔ ف۳ الله ګواه دا رنګے دے چه ریښتیا زیات کړی او دروغ ختم کړی او دغه کتاب والا عِلم هم ګواه دے چه په راتلونکی وخت کښې هم دا رنګے کتاب نازلیدونکے دے۔

**فتح الرحمٰن** ف۱ یعنی قضاء الٰهی په څه وجه متحقق شی هغه په عالم ملکوت کښې لیکی۔ ف۲ د حادثے صورت په عالم ملکوت کښې پیدا کوی دهغے نه روستو کچرے اوغواړی نو محو کلے ئے کړی او که اوغواړی نو ثابت ئے اولری او شاید چه دا معنیٰ وی۔ هرے یو زمانے دپاره شریعت او نسخ کوی الله تعالیٰ کوم څه چه اُوغواړی او ثابت لری کوم څه چه غواړی او دهغه په نزد لوح محفوظ دے۔ ف۳ یعنی ورځ په ورځ د اسلام غلبه دعربو په زمکه خوریږی، دارالحرب کمیږی او دهغے اطراف هم کمیږی۔ عام مفسرین دا ایت مدنی ګڼړی او دمترجم په نزد لازمه نه ده چه مدنی وی او نقصان د دارالحرب نه د اسلم، غفار، جهینیه، مزینه او دیمن قبائلو اسلام راوړل دی ورانه هجرت کولو نه۔ ف۴ یعنی دیهودو عالمان په دے پوهه دی چه د رسول الله ﷺ رسالت صحیح دے۔

**تفسیر** ب سے کاف بیان کمال دپاره دے۔ دا دما قبل ټولو دلیلونو سره متعلق دے۔ یعنی ذکر شوے براهین او دلائلو سره مونږ دا قرآن نازل کړے په عربی ژبه کښې۔ وَلَئِنِ اتَّبَعۡتَ اَهۡوَآئَهُمۡ۔ دا زجر دے چه په مذکوره دلیلونو باندے متفرع دے یعنی کله چه تا ته عقلی او نقلی او وحی دلیلونو سره د توحید د مسئلے د ریښتنوالی عِلم الیقین راغے اوس هم که چرے تا سو د مشرکانو طرفته مائل شوئ نو بیا به زمونږ دعذاب نه د دُنیا هیڅ یو طاقت تا سو لشی بچ کولے۔ خطاب

نبي علیه السلام سره دے او مقصود دَ اُمت تعلیم دے یا مطلب دا دے چه که بفرض محال تاسو د دے دلیلونو په موجودګئ کښې د مشرکانو خبره او منله نو تاسو به هم د الله د عذاب نه بچ نشئ۔

۴۲ف دلائلو او مثالونو سره د مسئلے واضح کولو نه پس د مشرکانو د شلورو سوالونو جوابونه ورکړے شویدی۔ دا دَ اول مقدر سوال جواب دے۔ مشرکانو به ویئیل دا خو عجیبه پیغمبر دے چه بی بی ئے هم شته او بچی هم۔ وے فرمائیل ستاسو نه وړاندے هم چه کوم پیغمبران راليږلی شویدی د هغوی هم بيبيانے او بچی وُو۔ نو دا دَ انکار هیڅ وجه نه ده۔ مَا کَانَ لِرَسُوْلٍ الخ دا دَ دویم مقدر سوال جواب دے یوه معجزه راوړه بیا به مونږ اُومنو۔ وے فرمائیل معجزه راوړل د پیغمبر په اختیار کښې نه وی۔ کله چه الله تعالیٰ اُوغواړی دَ خپل پیغمبر په لاس باندے ئے ښکاره کړی۔ لِکُلِّ اَجَلٍ کِتَابٌ ۝ دا دَ دریم مقدر سوال جواب دے۔ هر کله چه مونږ نه منو نو عذاب راباندے ولے نه راځی؟ وے فرمائیل زمونږ په نزد هر څیز د پاره وخت مقرر دے۔ نو که څه هم تاسو په انکار باندے ټینګ ولاړیئ نو خامخا به عذاب راځی لیکن په خپل وخت باندے۔ یَمْحُوا اللّٰهُ مَا یَشَآءُ وَیُثْبِتُ ۔ دا دَ څلورم مقدر سوال جواب دے۔ هر کله چه به عذاب خامخا راځی نو د بیا دَ منلو څه فائده؟ وے فرمائیل محوا او اثبات زمونږ په اختیار کښې دی که اُومنئ نو عذاب به لرے کړے شی۔

۴۳ف دا تخویف دنیوی دے۔ تاسو خپله دَ تبلیغ فریضه ادا کړه۔ که دوی ئے نه منی او خپل ضد او انکار باندے قائم وی نو هغوی ته به مونږ سخت عذاب ورکړو خواه ستاسو په ژوند کښې وی یا ستاسو دَ وفات نه پس۔ د نبی علیه السلام په ژوند کښې الله پاک په جنګ بدر کښې د مسلمانانو په لاس مشرکانو ته عبرتناکه سزا ورکړه۔ دا رنګے د نبی علیه السلام دَ وفات نه پس هم الله تعالیٰ باقی پاتے د اسلام دشمنان په سخت عذاب کښې مُبتلا کړل۔ ستاسو کار دے تبلیغ او زمونږ کار دے په دُنیا او اخرت کښې په تکذیب او انکار باندے د دوی محاسبه۔

۴۴ف تخویف دُنیوی دے۔ د اَلْاَرْضَ نه زمکه دکفر مراد ده یعنی ارض الشرک ..... قال اکثر المفسرین المراد منه فتح دار الشرک فان ما زاد فی دار الاسلام فقد نقص فی دار الشرک (خازن ج ۳ ص ۴۹) ایا مشرکان نه وینی چه په دنیا کښې توحید خوریږی او کفر او شرک ختمیږی د مشرکانو د قبضے لاندے علاقے فتح شوے او د مسلمانانو په قبضه کښې راغلے۔ دا رنګے د اهلِ اسلام سره مونږ وعدے کړے وے هغه ریښتونے ثابتیږی، ایا اُوس هم د انکار ځائے شته؟ د الله فیصله یقینی او محکمه ده هغه څوک نشی ردکولے۔ الله تعالیٰ دَ اسلام او اهلِ اسلام د اُوچتولو او د پیغمبر علیه السلام دَ دُشمنانو دَ مقهور او مغلوب کولو فیصله

کړے دی نو همدغسے به کیږی. وقد حکم اللہ لک ولاتباعک بالعز والاقبال و علی اعدائک و مخالفیک بالقہر والاذلال حسب ما یشاہدہ ذوو الابصار
(خازن ج ۳ ص ۲۷۳)

۴۵ د مخکنو امتونو کافرانو هم د انبیاء علیهم السلام سره ډیر مکرونه او فریبونه کړی وو لیکن الله تعالیٰ هغوی لره د دوی د مکرونو نه اوساتل. فَلِلّٰهِ الْمَكْرُ جَمِیْعًا د مکر او فریب د سزا ورکولو نه کنایه ده یا مطلب دا دے چه الله تعالیٰ ته د دوی ټول مکر معلوم وو. فللّٰه المکر جمیعا ثم فسّر ذلک بقوله یَعْلَمُ مَا تَكْسِبُ.
(مدارک ج ۲ ص ۱۹۰)۔

۴۶ دا شکوی ده. د مکے کافرانو به محض د عناد او تکبر د وجے نه وئیل چه تاسو د الله رسول نه یئ حال دا دے چه هغوی ستاسو د صداقت غالب دلیلونه او واضح معجزے لیدلے دی. قُلْ كَفٰى بِاللّٰهِ شَهِیْدًا الخ. وَمَنْ عِنْدَهٗ عِلْمُ الْكِتٰبِ. د یهودو او نصاریٰ عالمان ترے مراد دی چا چه اسلام راوړے وو، د هغوی ذکر د دے وجے نه اوشو چه د مکے مشرکانو به هغوی باندے اعتماد کولو. کانت شہادتہم قاطعۃ لقول الخصوم وهم مؤمنوا اهل الکتاب کعبد الله بن سلام وسلمان الفارسی وتمیم الداری والنجاشی واصحابہ، قالہ قتادۃ وسعید بن جبیر (قرطبی ج ۹ ص ۳۳۵)

یعنی که چرے د مکے مشرکان ستاسو د رسالت نه انکار کوی نو تاسو اووایئ: ستاسو انکار سره څه کیږی څکه په صداقت باندے زما خو الله تعالیٰ ګواه دے او د اهل کتابو هغه عالمان د چا په خبره چه تاسو اعتماد کوئ هغوی هم زما د رسالت او نبوت عادل ګواهان دی. د دے وجے نه اوس ستاسو د انکار ګنجائش نشته تاسو محض د ضد او عناد په وجه انکار کوئ. د الله تعالیٰ شهادت دا دے چه هغه په قرآن کښ ستاسو د صداقت واضح دلائل نازل کړیدی لکه ارشاد دے لٰكِنِ اللّٰهُ یَشْهَدُ بِمَاۤ اَنْزَلَ اِلَیْكَ اَنْزَلَهٗ بِعِلْمِهٖ الآیة (نساء ۲۳)

وَاٰخِرُ دَعْوٰىنَا اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ۝



ربط طه

# سُورة رَعد کښې دَ توحید ایتونه او دَ هغې خاصیتونه

① اَللّٰهُ یَعْلَمُ مَا تَحْمِلُ – تا – سَارِبٌۢ بِالنَّهَارِ نفی دعلم غیب دغیر الله نه۔

② وَیُسَبِّحُ الرَّعْدُ بِحَمْدِهٖ – تا – وَهُوَ شَدِیْدُ الْمِحَالِ (ع۲) نفی دشرك فی التصرف۔

③ لَهٗ دَعْوَةُ الْحَقِّ – تا – وَمَا دُعَآءُ الْکٰفِرِیْنَ اِلَّا فِیْ ضَلٰلٍ (ع۲) نفی د شرك اعتقادی (شرك فی التصرف او شرك فی الدعاء)

④ وَلِلّٰهِ یَسْجُدُ – تا – بِالْغُدُوِّ وَالْاٰصَالِ (ع۲) نفی دشرك فی التصرف

⑤ قُلْ مَنْ رَّبُّ السَّمٰوٰتِ – تا – وَهُوَ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ (ع۲) نفی دشرك فی التصرف۔

⑥ اَللّٰهُ یَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ یَّشَآءُ وَیَقْدِرُ (ع۳) نفی دشرك فی التصرف۔

⑦ قُلْ اِنَّمَآ اُمِرْتُ – تا – وَاِلَیْهِ مَاٰبِ (ع۵) نفی دشرك اعتقادی او شرك فی الدعاء۔


⑧ وَمَا کَانَ لِرَسُوْلٍ – تا – لِکُلِّ اَجَلٍ کِتَابٌ (ع۶) نفی دتصرف او اختیار د انبیاء علیهم السلام نه۔

⑨ دے سورت کښې په دے باندې تنبیهات ذکر شوی دی چه عالِمُ الغیب او کارساز صرف الله تعالیٰ دے، دے دپاره په حاجتونو او مشکلاتو کښې صرف هغه ته آواز کوئ۔

⑩ دالله تعالیٰ نه سوا چه مشرکان څوك کارساز گڼړی او رابلی ئې دهغوی رابلل بے فائدے دی لکه څرنګه چه اوبو ته خپل طرفته درابللو دپاره اوږد ئیلے شی۔

⑪ دمسئلۂ توحید هر اړخ واضح دلیلونو سره ثابت او روښانه شوے دے لیکن ضدیان او عنادیان خلق ئې هرګز نهٔ منی اګرچه غر دوی مخے ته راوستلو سره کیښودلے شی۔ دوی به اُلټه دعناد په وجه نامناسبه او بے طریقے سوالونه کوی۔

⑫ دتوحید مسئله به صرف هغه څوك منی چه په زړونو کښې ئې دَ اِنابت (رجوع) او دحق دتلاش جذبه موجوده وی ÷



# سُورۃُ ابراهیم علیه السلام مکیه

**ربط:-** د سورۃ ابراهیم د ماقبل سره اسمی ربط دا دے چه د یوسف علیه السلام د توحید په باره کښے بیان شوو آوریدلے وی کوم چه هغوی په جیل کښے د قیدیانو په مخکښے اوکړو. دا شان د رعد او د نورو فرشتو حال موهم واوریدلو چه هغوی هم هر وخت د شرک نه د الله پاکی بیانوی. اوس د ابراهیم علیه السلام حال هم اوګوریٔ چه هغهٔ خپل بال بچ د الله په حکم په یو بے اوبو او بے وښو بیابان کښے پریښودل او د الله د توحید اعلان کړی. چه د الله نه سوا هیڅوک عالم الغیب او کارساز نشته. او د الله تعالیٰ نه یے دُعا غوښتلے وه. رَبِّ اجْعَلْ هٰذَا الْبَلَدَ اٰمِنًا وَّاجْنُبْنِیْ وَ بَنِیَّ اَنْ نَّعْبُدَ الْاَصْنَامَ.... رَبَّنَآ اِنَّكَ تَعْلَمُ مَا نُخْفِیْ وَمَا نُعْلِنُ او اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ وَهَبَ لِیْ عَلَی الْكِبَرِ اِسْمٰعِیْلَ وَ اِسْحٰقَ (۶۴)

**ربط معنوی:-** تیر شوو سُورتونو کښے د توحید مسئله دلائل عقلیو سره واضح کړے شوه ترڅو چه د توحید مسئله بدیهی شوه. دے نه پس په سورۃ رعد کښے زیات دلائل په طور د تنبیه ذکر کړے شول دے دپاره چه د شک شبهے څهٔ ګنجائش پاتے نهٔ شی. لیکن معاندین بیا هم نهٔ منی. اوس په سُورۃ ابراهیم کښے د توحید دلائلو سره د دُنیوی او اُخروی واقعاتو بیان د حکم ورکړے شو څکه چه ځینے طبیعتونه زیرے یا ویرے اوریدو سره په سمه لاره راځی. د واقعاتو اوریدلو نه مراد دُنیوی او اُخروی تخویفات او انعامات دی.

**خُلاصه:-** په دے سُورۃ کښے په توحید باندے درے عقلی دلیلونه (دوه مختصر او یو مفصل)، یو نقلی دلیل اجمالی د ټولو نبیانو علیهم السلام او مؤمنانو نه او یو دلیل نقلی تفصیلی د ابراهیم علیه السلام نه او شپږ دُنیوی او اُخروی واقعات بیان شوی دی. كِتٰبٌ اَنْزَلْنٰهُ الخ تمهید سره د ترغیب. دا قرآن چه په واقعاتو او دلائلو باندے مشتمل دے مونږ په تا باندے نازل کړے دے دپاره چه تاسو د دے دلائل او واقعات بیان کړئ او خلق د کُفر او شرک او د جاهلیت د رسمونو د تیارو نه راوباسئ او د توحید او ایمان رنړا ته یے راولئ.

## عقلی دلیلونه

**رومبے عقلی دلیل:-** اَللّٰهُ الَّذِیْ لَهٗ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَمَا فِی الْاَرْضِ (۱۶) کارساز صرف الله تعالیٰ دے چه د ټولو کائناتو آسمانی او زمکی بغیر د چا د شرکت نه خالق او مالک او په دیکښے متصرف علی الاطلاق دے. وَوَیْلٌ لِّلْكٰفِرِیْنَ الخ تخویف اُخروی دے. وَمَآ اَرْسَلْنَا مِنْ رَّسُوْلٍ الخ دا د سورت د شروع سره متعلق دے. یعنی ستا نه مخکے

هم مونږ په قومونو کښې پیغمبران اُولیږل چه دهغوی په ژبو کښے یے هغوی ته لارښے ته رابلل. وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا مُوْسٰى الخ کوره مونږ موسٰی علیه السلام لیږلے وو او هغه ته مونږ حکم ورکړے وو چه خپل قوم د تیارو نه رڼړا طرفته راوباسه او هغوی ته د تیرشویو امتونو واقعات او زمونږ انعامات وریاد کړه.

دویم عقلی دلیل :- اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ بِالْحَقِّ (ع ۳) الله تعالٰی ټول کائنات د حق د ښکاره کولو د پاره پیدا کړیدی. او د عالم ذره ذره یے په توحید باندے شاهد او دلیل کرځولے ده.

دریم عقلی دلیل مفصل :- اَللّٰهُ الَّذِیْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ ... نه تر ... اِنَّ الْاِنْسَانَ لَظَلُوْمٌ كَفَّارٌ (ع ۵) زمکه او اسمان الله پیدا کړیدی، د اسمان نه یے باران اوورولو او زمونږ د پاره قسما قسم میوے هم هغه پیدا کوی. په دریابونو او سمندرونو کښے کشتئ او دریائی جهازونه هغه په حکم سره زمونږ په کارونو کښے لګیا کړیدی چه مونږ چرته غواړو هلته یے بوځو. لیکن د هغے حفاظت کوونکے او هغه د غرقولو نه بچ کوونکے صرف هغه دے. دریاب، نمر، سپوږمئ، شپه او ورځ هر څیز هغه زمونږ د فائدے د پاره په مختلفو کارونو کښے لګولی دی. او دا ټول نظام د هغه د حکم مطابق خپله ډیوټي اداکوی. مونږ چه هر څه د هغه نه غواړو د هغے ورکوونکے هم صرف هغه دے. غرض دا چه د الله تعالٰی انعامات بیحده او د حساب نه بهر دی. لیکن د دے باوجود مشرکان خلق د الله سره شرک کوی او د الله د نعمتونو شکر نه اداکوی بلکه د الله ډیر نعمتونه غیر الله طرفته منسوب کوی.

# نقلی دلیلونه

رومبے نقلی دلیل اجمالی :- د ټولو انبیا و علیهم السلام او ټولو مؤمنانو نه. اَلَمْ تَرَ كَيْفَ ضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا كَلِمَةً طَيِّبَةً ... نه تر ... يَتَذَكَّرُوْنَ (ع ۴) د کلمه طیبه نه د توحید کلمه مراد ده چه د هغے تبلیغ او اشاعت د ټولو نبیانو متفقه مشن وو.

دویم نقلی دلیل تفصیلی :- د ابراهیم علیه السلام نه وَاِذْ قَالَ اِبْرٰهِيْمُ رَبِّ اجْعَلْ ... نه تر ... اِنَّ رَبِّیْ لَسَمِيْعُ الدُّعَآءِ (ع ۶) ابراهیم علیه السلام چه کله خپله بی بی او ماشوم بچے په شاړ بیابان کښے پریښودل. هغه وخت یے د الله نه سوال اوکړو اے الله! ما او زما اولاد د شرک نه لرے اوساتے. او ورسره یے اعلان اوکړو چه الله تعالٰی نه سوا څوک عالم الغیب او کارساز نشته.

# دُنیوی او اُخروی واقعات

د دے سورت مقصد دُنیوی او اُخروی واقعات بیانولو سره خلق سمے لارے ته رواستل دی. په دے وجه په دیکښے اووه واقعات دُنیوی او اُخروی ذکر شویدی. دوه

دُنيوي او اووهٔ اُخروي. د واقعاتو نه تخويفات او انعامات مراد دي.

اَوَل :- اَلَمۡ يَاۡتِكُمۡ نَبَؤُا الَّذِيۡنَ مِنۡ قَبۡلِكُمۡ ... نه تر ... كُلِّ جَبَّارٍ عَنِيۡدٍ پورې دا تخويفِ دُنيوي او خطاب مكے والوته دے. وے فرمائيل ايا تاسوته د قوم نوح، قوم عاد او قوم ثمود او د هغوی نه روستو د سركش قومونو حالات معلوم نه دي چه ځنګه زمونږ پيغمبرانو د دليلونه او معجزے راوړے او هغوی ته راغلل او د توحيد مسئله يے ورته ښه واضحه كړه. ليكن د هغوی قومونو بے ځايه دليلونه پيش كړل او د هغوی سره يے جګړے شروع كړے. او د ضد او عناد د وجے نه يے د توحيد مسئله اُونه منله او نبيانو عليهم السلام يے د قسما قسم ملامتيا نښه اُوګرځول. آخر الله تعالیٰ نبيانو عليهم السلام او د هغوی ملګروته د صبر او استقلال ثمره وركړه. او معاندين يے تباه او برباد كړل. د مخكينو قومونو د دردناك انجام نه عبرت حاصل كړئ او د ضد او عناد نه منع شئ كني نو ستاسو انجام به هُم هغه شان وي.

دويم :- مِنۡ وَّرَآئِهٖ جَهَنَّمُ ... نه تر ... عَذَابٌ غَلِيۡظٌ (۱۷) دا تخويفِ اُخروي دے. د دُنيوي عذاب نه روستو په اخرت كښے به هغوی ته د دردناك عذاب سزا وركولے شي چه د هغے د هيبت او درد مندئ انسان تصور هُم نشي كولے. د دے نه روستو د مُشركانو د عملونو مثال بيان شويدے. مَثَلُ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا الخ د كافرانو او مُشركانو د عملونو مثال داسے دے لكه چه ايره پرته وي او د ډيرے تيزے هوا طوفان په هغے باندے راشي هغه والوزوي او هلته هيڅ هُم باقي پاتے نه شي. د غه شان مُشركان په خپل ګمان يا په دا قسم كښے چه كوم نيك كارونه كوي هغه د شرك په وجه سره باطل دي او د هغے به هيڅ فائده هغوی ته په لاس را نه شي.

دريم :- اِنۡ يَّشَاۡ يُذۡهِبۡكُمۡ الخ دا تخويفِ دُنيوي دے. كه چرے الله اُوغواړي نو تاسو به هلاك كړي او ستاسو په ځائے به نور خلق راولي. دا كار هغه ته ګران نه دے.

څلورم :- وَبَرَزُوۡا لِلّٰهِ جَمِيۡعًا (۲۱) ... نه تر ... اِنَّ الظّٰلِمِيۡنَ لَهُمۡ عَذَابٌ اَلِيۡمٌ (۲۲) دا تخويفِ اُخروي دے د قيامت په ورځ به تابعين او متبوعين (مُشركان او د هغوی رهنما) د الله په مخكښے حاضروي او يو بل به ملامته كوي آخر ټول به په جهنم كښے داخل كړے شي. وَاُدۡخِلَ الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا الخ بشارتِ اُخروي دے.

پنځم :- اَلَمۡ تَرَ اِلَى الَّذِيۡنَ ... نه تر ... بِئۡسَ الۡقَرَارُ (۲۹) تخويفِ اُخروي دے. كومو خلقو چه د الله تعالیٰ شرك اوكړو او د الله د نعمتونو ناشكري يے اوكړه. او خپل قومونه يے په جهنم كښے داخل كړل هغوی ته خپله هُم د جهنم خشاك وي. وَجَعَلُوۡا لِلّٰهِ اَنۡدَادًا دا زجر دے. په دے سُورت كښے چونكه تخويفات دي. د دے وجے نه د عذاب د دفع كولو د پاره د شرك نه د بچيدو او په پټه او ښكاره طور باندے د الله د مخلوق سره د احسان كولو حكم وركړے شويدے او د دے سره يے د امر مصلح مونځ قائمولو حكم وركړو. قُلۡ لِّعِبَادِيَ الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا يُقِيۡمُوا الصَّلٰوةَ الخ

شپږم :- فَلَا تَحْسَبَنَّ اللّٰهَ غَافِلًا ... نه تر ... وَاَفْـِٕدَتُهُمْ هَوَآءٌ (۴۳ ع ۷) تخویف اخروي دے . مشرکان چه کوم څه کوي . الله تعالیٰ د هغې نه ناخبره نه دے . هغه به دوی ته د دوی د ټولو مشرکانه عملونو او د مشرفانه کارونو پوره پوره سزا ورکړي . فَلَا تَحْسَبَنَّ اللّٰهَ مُخْلِفَ وَعْدِهٖ رُسُلَهٗ الخ دا تخویف اخروي دے . الله تعالیٰ د خپلو پیغمبرانو سره چه کومه وعده کړیده هغه به د هغې خلاف نه کوي . او د هغوی د دشمنان به آخرت کښے خوار او ذلیله کړي او د هغوی د بد عملونو دردناکه سزا به ورکړي به آخر کښے هٰذَا بَلٰغٌ لِّلنَّاسِ سره د ټولو پورته ذکرشوو دلیلونو طرفته اشاره کولو سره اوفرمائیل دے ټولو بیانونو غرض او مقصد خلق د توحید په مسئله پوهول دي .

**مختصر خلاصه** د سورۃ ابراهیم مقصد د مخکښنو امتونو واقعات او د ایام الله ( د الله د عذابونو ) یادګیرنے سره خلق صحیح لار ښه ته راوستل دي . په دے وجه دے سورت کښے اووه واقعات ذکرشویدي او دے سره درے عقلي دلیلونه او دوه نقلي دلیلونه هم پیش کړے شویدي .

## عقلي دلیلونه

رومبے عقلي دلیل :- اَللّٰهُ الَّذِيْ لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ (ع ۱) کله چه د ټولو کائناتو مالک او مختار الله تعالیٰ دے نو کارساز هم صرف هغه دے .

دویم عقلي دلیل :- اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ بِالْحَقِّ (۳۶) دا ټول کائنات الله تعالیٰ صرف د توحید مسئلے واضحه کولو د پاره پیدا کړیدي .

دریم عقلي دلیل :- اَللّٰهُ الَّذِيْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ ... نه تر ... اِنَّ الْاِنْسَانَ لَظَلُوْمٌ كَفَّارٌ (ع ۵) کوم الله چه د ټولو کائناتو خالق او مالک دے او ټول نظام عالم چه د چا په تصرف او اختیار کښے دے هغه ستاسو د ټولو کارساز دے .

## نقلي دلیلونه

رومبے نقلي دلیل اجمالي :- د ټولو نبیانو علیهم السلام نه ضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا كَلِمَةً طَيِّبَةً (ع ۴) دا د کلمهٔ توحید مثال دے چه د هغې تبلیغ او اشاعت د ټولو نبیانو علیهم السلام د ژوند مقصد وو .

دویم نقلي دلیل تفصیلي :- د ابراهیم علیه السلام نه وَاِذْ قَالَ اِبْرٰهِيْمُ رَبِّ اجْعَلْ ... نه تر ... اِنَّ رَبِّيْ لَسَمِيْعُ الدُّعَآءِ (ع ۶) ابراهیم علیه السلام د الله تعالیٰ نه دعا اوکړه چه هغه دے لره او د دے اولاد لره د شرک نه بچ کړي . دا شان اعلان ئے اوکړو چه صرف الله تعالیٰ عالم الغیب دے .

# دمخکینو اُمتونو واقعات

د واقعاتو نه دُنیوی او اُخروی تخویفات مراد دی دلته دوه دُنیوی تخویفونه ذکر شویدی او څلور اُخروی.

اول دُنیوی:۔ اَلَمۡ یَاۡتِکُمۡ نَبَؤُا الَّذِیۡنَ (۲۶) دمخکینو اُمتونو دمعاندینو د بربادئ نه عبرت حاصل کړئ۔

دویم اُخروی: مِنۡ وَّرَآئِهٖ جَهَنَّمُ الخ (۲۶) د دُنیوی عذاب نه علاوه به په اٰخرت کښې دردناک عذاب ورکولے شي۔

دریم دُنیوی:۔ اِنۡ یَّشَاۡ یُذۡهِبۡکُمۡ الخ (۲۶) که چرے هغه اُوغواړي نو تاسو به هلاک کړي۔ ستاسو په ځائ به نوے خلق راولي۔ دهغهٔ دپاره دائخهٔ مشکل نه دي۔

څلورم اُخروی:۔ وَبَرَزُوۡا لِلّٰهِ جَمِیۡعًا الخ (۲۶) په اٰخرت کښې به تبول مشرکان (تابعین او متبوعین) دجهنم خنڅاک جوړولے شي۔

پنځم اُخروی:۔ اَلَمۡ تَرَ اِلَی الَّذِیۡنَ بَدَّلُوۡا الخ (۵۶) دمشرکانو سزا دجهنم وریځې

شپږم اُخروی:۔ وَلَا تَحۡسَبَنَّ اللّٰهَ غَافِلًا الخ (۲۷) هرمُشرک ته به دهغهٔ د عملونو پوره پوره بدله ملاویږي۔

فَلَا تَحۡسَبَنَّ اللّٰهَ مُخۡلِفَ وَعۡدِهٖ رُسُلَهٗ (۲۷) الله تعالیٰ به دخپلے وعدے مطابق خپلو پیغمبرانو ته په اٰخرت کښې عزت ورکړي۔ او د هغوی مخالفینو ته به رسوا کوونکے عذاب ورکړي۔ په اٰخرکښې د سورت د مضمون طرفته اشاره اُوکړه۔ هٰذَا بَلٰغٌ لِّلنَّاسِ الخ دا دلائل او واقعات دے دپاره بیانولے شي چه خلق د توحید په مسئله باندے پوهشي۔

سُوۡرَةُ اِبۡرٰهِیۡمَ مَکِّیَّةٌ وَّهِیَ اِثۡنَتَانِ وَّخَمۡسُوۡنَ اٰیَةً وَّسَبۡعُ رُکُوۡعَاتٍ

سورة ابراهیم په مکه کښې نازل شویدے او دے دوه پنځوس (۵۲) اٰیتونه او اووه رکوع لرونکے دے

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ۝

شروع کوم د الله په نوم سره چه بے حده مهربانه نهایت رحم والا دے

الٓرٰ قف کِتٰبٌ اَنۡزَلۡنٰهُ اِلَیۡكَ لِتُخۡرِجَ النَّاسَ مِنَ

دا یو کتاب دے چه مونږ نازل کړیدے تاته چه ته اُوباسے خلقو لره د

الظُّلُمٰتِ اِلَی النُّوۡرِ ۙ بِاِذۡنِ رَبِّهِمۡ اِلٰی صِرَاطِ الۡعَزِیۡزِ

تیارو نه رڼا طرفته د دوی د رب په حکم سره لارے د زبردست

الْحَمِيدِ ﴿١﴾ اللَّهِ الَّذِي لَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ

ستائیلے شوی ته د الله چه هغهٔ لره دی ټول هغه څه چه په اسمانونو کښے دی او هغه څه چه په زمکه

وَوَيْلٌ لِلْكَافِرِينَ مِنْ عَذَابٍ شَدِيدٍ ﴿٢﴾ الَّذِينَ يَسْتَحِبُّونَ

کښے دی او مصیبت دے کافرانو لره د ډیر سخت عذاب نه څکه کوم چه خوښوی

الْحَيَاةَ الدُّنْيَا عَلَى الْآخِرَةِ وَيَصُدُّونَ عَنْ سَبِيلِ

ژوند د دُنیا د اخرت نه او منع کوی (خلق) د الله د

اللَّهِ وَيَبْغُونَهَا عِوَجًا أُولَٰئِكَ فِي ضَلَالٍ بَعِيدٍ ﴿٣﴾ وَمَا

لارے نه او لټوی په دیکښے کوږوالے ملا دغه په ډیره لرے ګمراهئ کښے پریوتی دی او نه دے

أَرْسَلْنَا مِنْ رَسُولٍ إِلَّا بِلِسَانِ قَوْمِهِ لِيُبَيِّنَ لَهُمْ

لیږلے مونږ یو رسول مګر په ژبه د خپل قوم باندے چه بیان اوکړی دوی ته

فَيُضِلُّ اللَّهُ مَنْ يَشَاءُ وَيَهْدِي مَنْ يَشَاءُ وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴿٤﴾

بیا بے لارے کوی الله چالره چه اوغواړی او لاره ښائی چاته چه اوغواړی او هغه دے زبردست حکمتونو والا

**نکات:** ۱ تمهید سره د ترغیب ۱۲ ۲ د توحید په دعوی باندے رومبے دلیل ۱۲ ۳ تخویف اُخروی ۱۲ ۴ متعلق دے په کِتَابٌ أَنْزَلْنَاهُ پورے ۱۲

**موضح قرآن** ف ۱ کافرانو به وئیل چه که چرے په بله ژبه کښے قرآن نازل شوے وے نو مونږ به پریقین کړے وے. دا خو دے سړی ژبه دَ کیدے شی چه د ځان نه یے جوړ کړے وی دا د هغے جواب دے۔

**فتح الرحمن:** ۱ یعنی په شبهاتو سره تابتوی چه کوږ دے ۱۲

**تفسیر** ۲ دا تمهید دے سره د ترغیب نه. په دیکښے د قرآن مقصد بیان شوید ے یعنی دا قرآن مونږ په تاسو ددے وجے نه نازل کړو چه تاسو د شرک او ګمراهئ د تیارو نه خلق راوُباسئ او د هدایت او توحید رنړا ته یے اوُرسوئ. لِتُخْرِجَ النَّاسَ نه پس به بِبَيَانِ الْوَقَائِعِ مقدر وی. یعنی دلائل بیان شول د تنبیهاتو ذکر اوُشو او د شبهاتو ازاله هم اوُشوه. اوس تاسو د دوی په وړاندے واقعات بیان کړئ دے دپاره چه هغوی په دے طریقه د تیارو نه رنړا طرفته راشی. څکه چه ددے نه روستو به دے رکوع کښے د موسیٰ علیه السلام په باره کښے الله تعالیٰ فرمائیلی دی. أَنْ أَخْرِجْ قَوْمَكَ مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ وَذَكِّرْهُمْ بِأَيَّامِ اللَّهِ. یعنی خپل قوم د تیارو نه

رڼړا طرفته راوباسه. او هغوی ته د تېرشویو قومونو واقعات وریاد کړه دغه د پاره چې د دې نه هغوی عبرت حاصل کړي. په دغه وجه دغه قرینے سره به دلته ببیان الوقائع یا بتذکیرا بامر الله مقدر وي. بِاِذْنِ رَبِّهِمْ یعنی د الله په توفیق او د هغه په مهربانئ سره. ای بتوفیقه ایاهم ولطفه بهم (قرطبي ص۳۳۹ ج ۹) اِلٰی صِرَاطِ الْعَزِیْزِ دا د النور نه په اعاده د حرف جر سره بدل دے.

۳ په قراءت د رفع سره دا د مبتداء محذوف خبر دے. ای هُوَ اللّٰهُ الَّذِیْ الخ او په قراءت د جر سره د اَلْعَزِیْزِ الْحَمِیْدِ د پاره عطف بیان دے. (مدارک) او دا اولنے عقلي دلیل دے. د تېرشویو امتونو واقعات بیانولو سره تاسو د هغه غالب او ټولو کمال د صفتونو مالک الله تعالیٰ لارے طرفته خلقو ته دعوت ورکړئ کوم چې د ټولو کائناتو د زمکے او آسمان مالک او په هغه کښے مختار او متصرف دے.

۴ دا د هغه منکرینو د پاره تخویف اُخروي دے چا چې د تېرشویو امتونو د بد انجام نه عبرت نه حاصلولو. او آخرت باندے یے دُنیا ته ترجیح ورکوله. او دینِ اسلام او د توحید په مسئله کښے یے قسما قسم شبهات راویستل او خلق به یے د هغے نه لارے کول. خلقو لره گمراه کوونکی مُلایان او پیران هم په دے سخت وعید کښے داخل دي. چې د خپلو فاسد و خواهشاتو او خبیثو غرضونو د پاره د شریعت د احکامو تعبیر د خپلے خوښے موافق کوي. علامه قرطبي د دے آیت د لاندے د نبي علیه السلام دا حدیث نقل کړیدے. انی اخوف ما اخاف علیٰ امتی الائمة المضلین یعنی څما سره د خپل اُمت د پاره د ټولو نه لویه خطره د گمراه کوونکو پیشوایانو ده. او د یَبْغُوْنَهَا عِوَجًا په تفسیر کښے لیکي. ای یطلبون لها زیغا ومیلا لموافقة اهوائهم وقضاء حاجتهم واغراضهم. (قرطبي ص۳۴۰ ج ۹)

۵ دا د سُورت د ابتداء سره یعنی کِتٰبٌ اَنْزَلْنٰهُ سره متعلق دے یعنی ستاسو نه مخکښے هم مونږ په قومونو کښے د هغوی په خپله ژبه کښے پیغمبران لیږل. دے د پاره چې هغوی د توحید مسئله ښه واضحه کړي. او هغوی پرے پوهه کړي. او د هغوی نه مخکښے د سرکش قومونو د تباهئ حال هغوی ته واوروي دے د پاره چې هغوی دا نصیحت زده کړي. فَیُضِلُّ اللّٰهُ الخ د الله پیغمبر بیان کوي لیکن هدایت صرف هغه خلق مومي د چا په زړونو کښے چې انابت وي. او عنادیانو او ضدیانو خلقو ته هدایت نه نصیب کیږي.

وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا مُوْسٰی بِاٰیٰتِنَآ اَنْ اَخْرِجْ قَوْمَكَ مِنَ

او یقیناً لیږلے وو مونږ ۶ لره موسیٰ د خپلو نښو سره چې وُباسه خپل قوم لره د

الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ ۙ وَذَكِّرْهُمْ بِاَيّٰىمِ اللّٰهِ ۭ اِنَّ فِیْ

تيارو نه رڼرا طرفته او ياد کړه دوی ته ورځے د الله ملا خا مخا

ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّكُلِّ صَبَّارٍ شَكُوْرٍ ﴿٥﴾ وَاِذْ قَالَ مُوْسٰى

ديکښے لبے دی هغه لره کوم چه صبر کوونکے شکرګزار دے ف او چه کله اووئيل موسیٰ

لِقَوْمِهِ اذْكُرُوْا نِعْمَةَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ اِذْ اَنْجٰىكُمْ

خپل قوم ته چه ياد کړئ د الله احسان په خپل ځان چه کله يے خلاص کړئ تاسو

مِّنْ اٰلِ فِرْعَوْنَ يَسُوْمُوْنَكُمْ سُوْٓءَ الْعَذَابِ وَ

د فرعون د قوم نه چه هغوی به رسولو تاسو ته بد عذاب او

يُذَبِّحُوْنَ اَبْنَآءَكُمْ وَيَسْتَحْيُوْنَ نِسَآءَكُمْ ۭ وَفِیْ

ذبحه کول به يے ستاسو ځامن او ژوندئ به يے پرېخودے ستاسو لونړه او په

ذٰلِكُمْ بَلَآءٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ عَظِيْمٌ ﴿٦﴾ وَاِذْ تَاَذَّنَ رَبُّكُمْ

ديکښے مدد اُوشو ستاسو د رب د طرفنه لوئ او هر کله چه وارووله ستاسو رب

لَىِٕنْ شَكَرْتُمْ لَاَزِيْدَنَّكُمْ وَلَىِٕنْ كَفَرْتُمْ اِنَّ عَذَابِیْ

که احسان اُومنئ نو زيات به در کړم تاسو ته او که ناشکری اُوکړئ نو خامخا عذاب

لَشَدِيْدٌ ﴿٧﴾ وَقَالَ مُوْسٰٓى اِنْ تَكْفُرُوْٓا اَنْتُمْ وَمَنْ

سخت دے او اووئيل موسیٰ که چرے کفر اوکړئ تاسو او کوم

فِی الْاَرْضِ جَمِيْعًا ۙ فَاِنَّ اللّٰهَ لَغَنِیٌّ حَمِيْدٌ ﴿٨﴾

خلق چه په زمکه کښے دی ټول نو الله تعالیٰ بے پرواه دے ستائيلے شوے

**نکات:** ـ ۱ تخصيص روستو د تعميم نه ۱۲

**موضح قرآن** ف يادکړه ورځے د الله يعني د الله تعالیٰ سختئ او عذابونه چه په هر قوم باندے تيرشويدی۔

**فتح الرحمٰن** ف۱ يعني هغه واقعات چه د الله تعالیٰ د طرف نه په دوی باندے وو ۱۲

سـ۸ـه دا تخصیص روسلنو د تعمیم نه دے. او دا هم د سورت د شروع سره متعلق دے
یعنې اُوکورئ موسیٰ علیه السلام هم خپل قوم ته د مخکینو قومونو واقعات او د الله پاک
انعامات وریاد کړل. او ورته وئیل که چرے تاسو شکر ادا کړئ نو الله به تاسو ته نور زیات
درکړی. او که چرے ناشکری اُوکړئ نو عذاب به درکړی. دا شان تاسو هم خپل
قوم ته د مخکینو اُمتونو واقعات یاد ولو سره او وېروئ.
سـ۹ـه دا په اصل کښې دوه واذکر بیان موسیٰ. إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِ الخ یعنې مُوسیٰ علیه السلام
د خپل قوم ته وړاندے واقعات بیان کړل او هغوی ته یې د الله انعامات وریاد
کړل. تاسو هم دا شان بیان اوکړئ. وَ إِذْ تَأَذَّنَ دا په نِعْمَةَ اللّٰهِ باندے معطوف
دے. او د موسیٰ علیه السلام مقوله ده. وَقَالَ مُوسیٰ دا ټول واقعات دي، چه
مُوسیٰ علیه السلام خپل قوم ته وریاد کړل.

أَلَمْ يَأْتِكُمْ نَبَؤُا الَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ قَوْمِ نُوحٍ وَ

آیا نه دے راغلے تاسو ته خبر د هغه خلقو چه وړاندے وُو تاسو نه شه قوم د نوح او

عَادٍ وَثَمُودَ ۛ وَالَّذِينَ مِن بَعْدِهِمْ ۛ لَا يَعْلَمُهُمْ

عادیانو او ثمودیانو او کوم چه د دوی نه روستو راغلل. هیڅوک نه د دوی خبر نشته

إِلَّا اللّٰهُ ۚ جَاءَتْهُمْ رُسُلُهُم بِالْبَيِّنَاتِ فَرَدُّوا أَيْدِيَهُمْ

مگر الله ته. راغلل دوی ته د دوی رسولان په نښو سره پس کیخودل دوی خپل لاسونه

فِي أَفْوَاهِهِمْ وَقَالُوا إِنَّا كَفَرْنَا بِمَا أُرْسِلْتُم بِهِ

په خپلو خُلو کښے ئے او وئے وئیل مونږه نه منو په کوم چه تاسو رالیږلے شوی یئ ئے

وَإِنَّا لَفِي شَكٍّ مِّمَّا تَدْعُونَنَا إِلَيْهِ مُرِيبٍ ⑨ قَالَتْ

او مونږه خو شک دے په دے لاره کښے کوم ته چه تاسو مونږ رابلئ په تردد کښے اچوونکے او وئیل

رُسُلُهُمْ أَفِي اللّٰهِ شَكٌّ فَاطِرِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۖ

د دوی رسولانو ئے آیا په الله کښے شک دے چا چه جوړ کړیدی اسمانونه او زمکه

يَدْعُوكُمْ لِيَغْفِرَ لَكُم مِّن ذُنُوبِكُمْ وَيُؤَخِّرَكُمْ إِلَىٰ

هغه تاسو رابلی چه وُبخښی تاسو لره ئے څه ګناهونه ستاسو او روستو کړی تاسو لره د یو

أَجَلٍ مُّسَمًّى ۚ قَالُوٓا إِنْ أَنتُمْ إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا تُرِيدُونَ

وخت مقرر پورې سره په مقرر شوي دی. وویل دوي چه نه یئ تاسو مګر بنیادمان پشان زموږ اراده کوئ تاسو

أَن تَصُدُّونَا عَمَّا كَانَ يَعْبُدُ ءَابَآؤُنَا فَأْتُونَا بِسُلْطَٰنٍ

چه منع کړئ موږ لره د هغه څیزونو نه د کوم چه عبادت کولو زموږ پلارانو. پس راوړئ موږ ته سند

مُّبِينٍ ﴿١٠﴾ قَالَتْ لَهُمْ رُسُلُهُمْ إِن نَّحْنُ إِلَّا بَشَرٌ

ښکاره. اووئیل دوي ته د دوي رسولانو دوي موږ. مګر هم د شان بنیادم یو

مِّثْلُكُمْ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يَمُنُّ عَلَىٰ مَن يَشَآءُ مِنْ عِبَادِهِۦ

ستاسو پشان. لیکن الله احسان کوي په خپلو بندګانو کښې په چاچه غواړي.

وَمَا كَانَ لَنَآ أَن نَّأْتِيَكُم بِسُلْطَٰنٍ إِلَّا بِإِذْنِ ٱللَّهِ ۚ

او زموږ کار نه دے چه راوړو تاسو ته سند مګر د الله حکم سره.

وَعَلَى ٱللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ ٱلْمُؤْمِنُونَ ﴿١١﴾ وَمَا لَنَآ أَلَّا

او په الله باندے بهروسه پکار ده ایماندارو لره. او موږ له څه شوي دي چه

نَتَوَكَّلَ عَلَى ٱللَّهِ وَقَدْ هَدَىٰنَا سُبُلَنَا ۚ وَلَنَصْبِرَنَّ

بهروسه نه کوو په الله باندے حال دا هغه ښودلي دي موږ ته زموږ لارے او موږ به صبر کوو

عَلَىٰ مَآ ءَاذَيْتُمُونَا ۚ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ ٱلْمُتَوَكِّلُونَ ﴿١٢﴾ ع

په تکلیف باندے چه کوم تاسو موږ ته راکوئ او په الله بهروسه پکار ده بهروسه کوونکو د پاره

**نکات:** ۔ ۱ د مخکینو اُمتونو د واقعاتو نه اولنۍ واقعه مشتمل په تخویفِ دُنیوی ۲ د ما نه د توحید مسئله مراد ده ۱۲

**موضح قرآن** ف یعني د معجزے او سند لیدلو سره ایمان نه راځي. د الله پاک په ورکړه سره راځي.

**فتح الرحمٰن** ف۱ یعني شمار او د هغوي صفتونه ۱۲ ف۲ یعني د ډیر تعجب او انکار نه یے ګوتے په غابښونو کښے چیچلے ۱۲

**تفسیر:**۔ ۵ دا اوله واقعه ده چه په تخویفِ دُنیوی باندے مشتمل ده. دا د قوم نوح، قوم عاد، او قوم ثمود او د دوي نه د روستو قومونو واقعات دي. د دوي نه د

الله پیغمبرانو د توحید پیغام راوړو لیکن دے قومونو دهغوی نه انکار اُوکړو د توحید پیغام یې اُونه منلو او په پیغمبرانو باندے یې بے ځایه اعتراضونه اُوکړل. او هغوی یې په مختلف قسمه عیبونو عیب ژن اُوګرځول. اخر دا قومونه د الله په عذاب سره تباه او برباد کړے شول. د مخکینو قومونو واقعاتو بیانولو نه مقصد موجوده مشرکانو ته عبرت ورکول دی. دے دپاره چه هغوی د مؤمن او کافر دُنیوی انجام نه عبرت حاصل کړی او په سمه لاره راوان شی. والمقصود منه انه علیه الصلوٰة والسلام یذکرهم بامر القرون الماضیة والامم الخالیة والمقصود منه حصول العبرة باحوال من تقدم و هلاکهم (خازن ص۳۲ ج۴)

۹ د رَدُّوٓا ضمیر مرفوع او ددے نه روستو دواړه مجرور ضمیرونه د کافرانو طرفته راجع دی. یعنی چه کله انبیاء علیهم السلام واضحه دلیلونو سره د توحید مسئله د هغوی په مخکښے پیش کړه. نو دا مسئله چونکه د هغوی د پلرونو د دین خلاف وه ددے وجے نه د هغوی طبیعتونو دا قبوله نهٔ کړه او ډیر په غُصّه شول. او د ډیرے غُصے نه یې خپلے ګوتے چیچل شروع کړل. دا د ابن مسعودؓ نه نقل شوے ده. عن ابن ابی الاحوص عن عبدالله فی قوله تعالیٰ فَرَدُّوٓا اَیۡدِیَهُمۡ فِیٓ اَفۡوَاهِهِمۡ قال عضوا علیها غیظا (قرطبی ص۳۴۵ ج۹) یا د رَدُّوٓا فاعل کافران دی. او د اَیۡدِیَهُمۡ ضمیر مجرور هُم کافرانو دپاره دے لیکن د اَفۡوَاهِهِمۡ ضمیر مجرور رسُولانو دپاره دے. یعنی کافرانو خپل لاسُونه د رسُولانو علیهم السلام په خُلو باندے کینښودل دے دپاره چه هغوی توحید بیان نهٔ کړی. انهم وضعوا ایدیهم علی افواه الرسل علیهم السلام منعًا لهم من الکلام (روح ص۱۹۳ ج۱۳)

۱۰ د مِمَّا نه د توحید مسئله مراد ده. یعنی د توحید کومے مسئلے په باره کښے ستاسو خیال دے چه د هغے د تبلیغ دپاره الله پاک تاسو را لیږلے یئ مونږ هغه نه منو. مِمَّا تَدۡعُوۡنَنَاۤ دلته هم د مَا نه د توحید مسئله مراد ده. من الایمان بالله والتوحید. (مدارک ص۱۹۰ ج۲)

۱۱ دا د پیغمبرانو جواب دے او استفهام انکاری دے. فِی اللّٰهِ کښے مضاف محذوف دے. ای فی توحید الله یعنی الله تعالیٰ چه د زمکے او اسمانونو او د ټولو کائناتو خالق دے. د هغهٔ په توحید کښے خو قطعًا د شک هیڅ ګنجائش نشته. ځکه چه د توحید مسئله دومره واضحه ده چه د کائناتو ذره ذره په دے ګواه ده. استفهام معناه الانکاری ای لا شك فی الله ای فی توحیده قاله قتادة (قرطبی ص۳۴۶ ج۹)

۱۲ او بیا د الله د رحمت شان اوګورئ چه هغه زمونږ په ذریعه تاسو ته د رښتینی دین دعوت درکوی دے دپاره چه تاسو هغه قبول کړئ او ستاسو ګناهونه معاف شی او الله پاک تاسو د دُنیا او اخرت د عذاب نه بچ کړی. ثم انه بعد ان اشیر الی الدلیل الدال علی تحقق ما هم فی شك منه نبه علی عظم کرمه و رحمته تعالیٰ فقیل یدعوکم الخ (روح ص۱۹۵ ج۱۳)

۱۳ مُشرکانو خالص د عناد او تکبر په وجه سره په نبیانو علیهم السلام باندے دا طعن

اولګولو چه تاسو خو زمونږ پشان انسانان یئ۔ په تاسو کښے کوم یو فضیلت دے چه تاسو نبوت ملاؤ شو۔ تاسو خو دا زمونږ د پلرونو نیکونو د معبودانو د عبادت نه د منع کولو دپاره صرف یوه بهانه جوړه کړیده چه الله پاک تاسو ته نبوت درکړیدے۔ او که چرے واقعی تاسو د الله پیغمبران یئ۔ او په حقیقت کښے الله تعالیٰ تاسو لره د دے معبودانو د عبادت نه د منع کولو دپاره رالیږلی یئ نو دخپل رښتینوالی ثابتولو دپاره چه مونږ کومه یوه معجزه هم اوغواړو هغه مونږ ته اوښایئ۔ د مشرکانو دا مطالبه خالص د ضد او عناد په وجه وه۔ ځکه چه هر څومره پیغمبران الله رالیږلی دی۔ هغوی ته یے د زمانے د حال مطابق معجزے هم ورکړیدی۔ لیکن منکرینو هغه معجزے اولیدے او ایمان یے رانه وړلو۔ او د زیاتی معجزے راوړلو مطالبه یے صرف د عناد په وجه اوکړه۔ وهذا الطلب کان بعد اتیانهم علیهم السلام لهم من الآيات الظاهرة والبينات الباهرة ما تخرله الجبال الصم، اقدمهم علیه العناد والمکابرة (روح ص۱۹۸ ج ۱۳) په عَمَّا کښے د ما موصوله نه باطل معبودان مراد دی۔

**۱۲** انبیاء علیهم السلام د خپلو قومونو د ذکر شوی طعن په جواب کښے اوفرمائیل چه دیکښے هیڅ شک نشته چه مونږ انسانان یو او په بشریت او د بشریت په لوازمو کښے ستاسو په شان یو۔ لیکن بشریت د رسالت او نبوت منافی نه دے۔ دا صرف د الله پاک فضل او احسان دے چه هغه په خپلو بندیګانو کښے چاته چه اوغواړی نو هغه ته د نبوت او رسالت شرف ورکړی۔ نبوت او رسالت خالص یوه وهبی ورکړه ده چه الله پاک مونږ ته راکړیده۔ پاتے شوه د معجزے ښودلو مطالبه نو د دے د پوره کولو نه مونږ عاجز یو۔ ځکه چه معجزه زمونږ په اختیار کښے نه ده۔ د الله د حکم او اجازت نه بغیر مونږ هیڅ معجزه نه شو راوړلے۔ والمعنیٰ ان الاتیان بالایة التی قد اقترحوها لیس الینا ولا فی استطاعتنا وانما هو امر یتعلق بمشیئة الله تعالیٰ (مدارک ص۱۶۸ ج ۲)

**۱۳** د الله پیغمبرانو د منکرینو په جواب کښے نور اوفرمائیل چه ستاسو د دشمنئ او ضد په مقابله کښے مونږ په الله باندے بهروسه کوو چه هغه مونږ ته صبر او استقامت راکړی۔ او مونږ به په الله باندے بهروسه ولے نه کوو او د هغهٔ نه سوا بل چاته اوانه ولے اوکړو۔ حالانکه مونږ ټولو ته هغهٔ د هدایت توفیق راکړو او صراطِ مُستقیم (توحید) طرفته یے زمونږ رهنمائی اوکړه او د ضد او عناد په وجه سره چه تاسو یے ځایه معجزو غوښتلو سره کوم تکلیف مونږ ته راکوئ په هغے باندے به مونږ د الله په توفیق سره صبر کوو۔ او زمونږ په ثابت قدمئ کښے به ستاسو په مکر و فریب سره څهٔ تزلزل نه راځی۔ او مونږ به د توحید تبلیغ او اشاعت کار بالکل نه پریږدو۔ وَعَلَى اللّٰهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُتَوَكِّلُوْنَ په دُنیا کښے د بهروسے او اعتماد او توکل لائق صرف د الله تعالیٰ ذات دے۔ په دے وجه ټولو ته په الله باندے بهروسه کول پکار دی۔ او په حاجتونو او مُشکلاتو کښے صرف هغه رابلل پکار دی۔ وَمَا لَنَآ اَلَّا نَتَوَكَّلَ عَلَى اللّٰهِ دا د توحید خلاصه ده او اسم اعظم دے۔

وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لِرُسُلِهِمْ لَنُخْرِجَنَّكُمْ مِّنْ

او وئیل کافرانو خپلو رسولانو ته چه مونږ به ضرور باسو تاسو لره د خپلې

اَرْضِنَآ اَوْ لَتَعُوْدُنَّ فِيْ مِلَّتِنَا ؕ فَاَوْحٰۤى اِلَيْهِمْ رَبُّهُمْ

زمکې نه یا به واپس شئ په دین زمونږ کښې پس حکم ولیږلو دوی ته د دوی رب

لَنُهْلِكَنَّ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۱۳﴾ وَلَنُسْكِنَنَّكُمُ الْاَرْضَ مِنْ

چه مونږ به هلاک کړو دې ظالمانو لره او آباد به کړو تاسو لره په دې زمکه کښې د دوی

بَعْدِهِمْ ؕ ذٰلِكَ لِمَنْ خَافَ مَقَامِيْ وَخَافَ وَعِيْدِ ﴿۱۴﴾

نه روستو، دا انعام دی هغه قوم ته چه ویریږی د اودریدو نه زما په وړاندې او ویریږی زما د عذاب د

وَاسْتَفْتَحُوْا وَخَابَ كُلُّ جَبَّارٍ عَنِيْدٍ ﴿۱۵﴾ مِّنْ وَّرَآئِهٖ

ویرې نه او فیصله اوغوښتله پیغمبرانو او نامراده شو هر یو سرکش ضدی، روستو د دې نه

جَهَنَّمُ وَيُسْقٰى مِنْ مَّآءٍ صَدِيْدٍ ﴿۱۶﴾ يَّتَجَرَّعُهٗ وَلَا

دوزخ دې او څښولې به شي دوی ته اوبه د وینو زوې به ګوټ ګوټ به یې څښنی او د

يَكَادُ يُسِيْغُهٗ وَيَاْتِيْهِ الْمَوْتُ مِنْ كُلِّ مَكَانٍ وَّمَا هُوَ

مرۍ نه به یې نشي تیرولې او راځی به په دوی مرګ هر طرفه او دوی به

بِمَيِّتٍ ؕ وَمِنْ وَّرَآئِهٖ عَذَابٌ غَلِيْظٌ ﴿۱۷﴾ مَثَلُ الَّذِيْنَ

نه مری او ودې نه روستو عذاب دې سخت حال د هغه خلقو دې چه

كَفَرُوْا بِرَبِّهِمْ اَعْمَالُهُمْ كَرَمَادِ ۨ اشْتَدَّتْ بِهِ الرِّيْحُ

منکر شول د خپل رب نه د دوی عملونه دی په شان د ایرو چه سخته راشي په دې باندې هوا

فِيْ يَوْمٍ عَاصِفٍ ؕ لَا يَقْدِرُوْنَ مِمَّا كَسَبُوْا عَلٰى شَيْءٍ ؕ

په ورځ د سیلۍ کښې هیڅ به د دوی په لاس را نشي د خپلې ګټې نه

ذٰلِكَ هُوَ الضَّلٰلُ الْبَعِيْدُ ﴿۱۸﴾ اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ خَلَقَ

هم دا ده ګمراهي ډیره لرې ورله ایا تا نه دی لیدلي چه الله جوړ کړل

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ بِالْحَقِّ ؕ اِنْ یَّشَاْ یُذْهِبْكُمْ وَیَاْتِ بِخَلْقٍ

اسمانونه او زمکه الله په حقه سره که اوغواړي نو لرے به کړي تاسو او رابه ولي نوې

جَدِیْدٍ ﴿۱۹﴾ وَّمَا ذٰلِكَ عَلَی اللّٰهِ بِعَزِیْزٍ ﴿۲۰﴾ وَبَرَزُوْا لِلّٰهِ جَمِیْعًا فَقَالَ

خلق او دا الله ته هیڅ مشکل نه دی او مخامخ به شي الله ته ټول بیا به اووائي

الضُّعَفٰٓؤُا لِلَّذِیْنَ اسْتَكْبَرُوْۤا اِنَّا كُنَّا لَكُمْ تَبَعًا فَهَلْ اَنْتُمْ مُّغْنُوْنَ

کمزوري لوئي کونکو ته چه مونږ خو ستاسو تابع وو نو ایا بچ به کړئ مونږ د الله

عَنَّا مِنْ عَذَابِ اللّٰهِ مِنْ شَیْءٍ ؕ قَالُوْا لَوْ هَدٰىنَا اللّٰهُ لَهَدَیْنٰكُمْ ؕ

د خه عذاب نه څه قدرے دوي به اووائي که هدایت کړے وے مونږ ته الله نو تاسو

ع ۳ سَوَآءٌ عَلَیْنَآ اَجَزِعْنَآ اَمْ صَبَرْنَا مَا لَنَا مِنْ مَّحِیْصٍ ﴿۲۱﴾

۱۵

ته به مونږ هدایت کړے وو اوس برابره ده زمونږ په حق کښے که فریاد کوو او که صبر کوو نشته مونږ لره خلاصے

**نکات:** ۱ تخویفِ دُنیوی ۱۲ ۲ بشارتِ دُنیوی ۱۲ ۳ دویم خل ذکر د واقعاتو ۱۲ ۴ دویم عقلی دلیل ۱۲ ۵ دریمه واقعه تخویفِ دُنیوی ۱۲ ۶ څلورمه واقعه تخویفِ اُخروی ۱۲

**فتح الرحمٰن** ف۱ یعني د مرګ اسباب به ورته راشي ۱۲ ف۱ د هغوي عملونه به ټول برباد شي او د هغے نه به نفع وا نه خلي ۱۲

**تفسیر:** ۱۶ انبیاء علیهم السلام خپلو قومونو ته د توحید دعوت پیش کړو لیکن هغوي دے طرفته توجه ورنه کړه او هغوي اُونه منلو. او اُلټه یے معاندانه سوالُونه شروع کړل چه کله د هغوي د سوالونو معقول او مضبوط جوابُونه ورکړے شُونو لاجوابه شُو او د خپلے شرمندګئ ختمولو د پاره یے د سختئ لاره غوره کړه څنګه چه د باطل پرستو دُنیادارو دستور دے چه هغوي په هرجائز او ناجائزے حربے سره د حق آواز خکتے کولو کوشش کوي. نو سرکشه کافرانو انبیاء علیهم السلام ته دهمکي ورکړه او وے وئیل چه تاسو زمونږ دین ته راشئ او زمونږ پشان تاسو هُم زمونږ د معبودانو عبادت کوئ. ا و هغوي په حاجتونو کښے را بللئ. او زمونږ په خبره بنه کوئ. که چرے تاسو داسے نه کوئ نو مونږ به تاسو د خپل کلي نه اُوباسو او بل ښار ته به مو اُولیږو.

ټول نو الله تعالیٰ د وحي په ذریعه رسولانو ته پیغام راولیږه چه فکرمه کوئ چه زۀ به دا ظالمان ضرور هلاک کوم. څوک چه تاسو ته په هره طریقه تکلیفونه رسوي او د هغوي د زمکو مالکان به تاسو کرځوم څکه چه زمونږ قانون دا دے چه مونږ انبیاء علیهم السلام لیږلو سره

په خلقو باندے خپل حجت تمام کړو. چه کله خلق په توحید نه منلو باندے ټینګ وی او زمونږ پیغمبرانو ته تکلیف رسول بند نه کړی نو مونږ هغوی په عذاب سره نیست نابود کړو ځکه چه مونږ فرمائیلی دی وَمَا كُنَّا مُعَذِّبِيْنَ حَتّٰى نَبْعَثَ رَسُوْلًا (بنی اسرائیل ع ۱)

۱۸ ظالمان به هلاك كړو او د هغوی په ځائ باندے به هغه خلق آباد کړو چه د قیامت د حساب او عذاب د ویرے نه د توحید مسئله منی.

۱۹ د دے فاعل انبیاء علیهم السلام دی یعنی هغوی د الله پاك نه دعا اوغوښتله چه اے الله! زمونږ او د مشرکانو په مینځ کښے آخری فیصله اوکړه. رَبَّنَا افْتَحْ بَيْنَنَا وَبَيْنَ قَوْمِنَا بِالْحَقِّ. یا د دے فاعل مشرکان دی. مشرکانو هم خپل دین حق ګڼړلو او پیغمبرانو ته یے ویلی وو. که چرے تاسو رښتونی یئ. نو مونږ باندے عذاب راولئ د دے د پاره چه زمونږ او ستاسو په مینځ کښے فیصله اوشی. یا به هغوی د الله نه غوښتے وی چه که چرے مونږ دروغژن یو نو مونږ هلاك كړه. قال الرسول انهم كذبونی فافتح بینی وبینهم فتحا وقالت الامم ان كان هؤلاء صادقین فعذبنا وعن ابن عباس ایضا نظیره ائْتِنَا بِعَذَابِ اللّٰهِ اِنْ كُنْتَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ (قرطبی ص ۳۴۹ ج ۹) او چه کله د الله تعالے عذاب راغے نو هر معاند او سرکشه ډیر ذلیله شو او مونږ کی د ذلت او رسوائی نه نیم شول.

۲۰ دا د اُخروی واقعاتو نه دی یعنی په دنیا کښے د هلاکت او ذلت او رسوائی نه علاوه په آخرت کښے هغوی د پاره د جهنم عذاب دے. چه هلته به هغوی ته ډیر زیات سخت بدبویه اوبه څکلو د پاره ورکولے شی. چه د هغے به د مرئ نه ښکته تیرول هم مشکل وی. وَيَاْتِيْهِ الْمَوْتُ. د موت نه مراد اسباب د موت دی یعنی قسما قسم عذابونه مراد دی. یعنی په جهنم کښے به د هر طرف نه عذاب وی او هر عذاب به دومره سخت او دردناك وی چه د انسان مرګ هغے سره واقع شی. لیکن کافران به په جهنم کښے د دے عذاب سره نه مری. بلکه همیشه به ژوندی وی. د دے د پاره چه همیشه د دردناك عذاب مزه اوڅکی. ای اسباب الموت من كل جهة وهذا تفظیع لما یصیبه من الالام ای لو كان ثمة الموت لكان كل واحد منها مهلكا (مدارك ص ۱۹۸ ج ۲)

۲۱ دا د مشرکانو د نیکو عملونو مثال دے. د هغوی نیکئ ضائع او محض باطل دی. په آخرت کښے به هیڅ پکار نه راځی. ځکه چه شرك ټول عملونه باطلوی لکه چه ایرے پرتے وی. او د پورته نه پرے د هوا تیز طوفان راشی. نو هغه ټولے ایرے والوزوی. او هیڅ هم پرے نه پریږدی. د شرك د طوفان په وړاندے د مشرکانو د نیکو عملونو هم دا حال دے. اراد بالاعمال الاعمال التی عملوها فی الدنیا واشركوا فیها غیر الله فانها لا تنفعهم لانها صارت كالرماد الذی ذرته الریح وصار هباء لا ینتفع به الخ. (خازن ص ۳۸ ج ۴)

۲۲ دویم عقلی دلیل د توحید د پاره. بِالْحَقِّ کښے باء په معنی د لام سره ده. او مجرور مضاف محذوف دے. او د حق نه توحید مراد دے. ای لاظهار الحق. یا باء په خپل اصل

بانـدے دہ او د ملابست د پارہ دہ. یعنی اللہ تعالیٰ زمکہ او اسمان دا سے حکمت بالغہ سرہ پیدا کړیدی. چہ د کائناتو هر څیز د اللہ پہ کامل قدرت او د هغهٔ پہ توحید باندے د واضحہ دلیل او ښکارہ برهان کار ورکوی.

۲۳ دریم محل د واقعاتو ذکر. دا تخویفِ دُنیوی دے. یعنی کهٔ چرے اللہ تعالیٰ اُوغواړی نو تاسو بہ هلاک کړی. او ستاسو پہ ځائے بہ نوړ خلق پیدا کړی. اللہ تعالیٰ د پارہ دا څهٔ گران کار نهٔ دے. اللہ تعالیٰ تہ ټول کارونہ یو شان برابر دی. د هغهٔ قُدرتِ لامحدود بہ مخکښے د اسان او مُشکل هیڅ تقسیم نشتہ. یعنی ان الاشیاء تسهل فی القدرة لایصعب علی اللہ شئ وان جل وعظم (معالم ص۳۸ ج ۴)

۲۴ څلورم محل د واقعاتو ذِکر. دا تخویفِ اُخروی دے. پہ دے کښے د قیامت یو هیبت ناک منظر پیش کړے شویدے. د حشر پہ میدان کښے چہ کله مشرک رهنمایان او د هغوی تابعداران د اللہ پہ وړاندے حاضرږی. او ټولو تہ بہ خپل انجام پہ نظر راځی. چہ اوس بہ د جهنم پہ درد ناک عذاب کښے داخلولے شی. هغه وخت بہ کمزوری خلق یعنی هغه عوام چہ پہ دُنیا کښے د مُشرک مشرانو پہ غُلولو سرہ او د حکمرانانو مُشرکانو د ویرے نہ پہ شِرک کښے مبتلا شوی وُو. هغوی بہ د حشر پہ میدان کښے خپلو پیشوایانو او لیډرانو تہ اووائی چہ مونږ خو تاسو پسے تلو سرہ گمراہ شُو. او تاسو مونږ تہ څهٔ شنهٔ باغونہ او ښوُل او د شِرک پہ لارہ موروان کړو. او د اللہ د پیغمبرانو د منلو او د هغوی د تبلیغ اوریدو نہ مو منع کړو. نو ایا نن تاسو زمونږ څهٔ پکار راتلے شئ او د اللہ څهٔ عذاب زمونږ نہ منع کولے شئ؟ قَالُوْا لَوْ هَدٰىنَا اللّٰهُ الخ مشرکان سرداران او پیشوایان بہ جواب ورکړی. چہ مونږ خو پخپله گمراهان وُو بہ دے وجہ مونږ تاسو هُم پہ غلطہ لار روان کړئ. کهٔ چرے اللہ تعالیٰ پہ دُنیا کښے مونږ تہ د ایمان او توحید قبلولو توفیق راکړے وے نو مونږ بہ تاسو هُم پہ سمہ لار روان کړی وئ. پہ دے وجہ زمونږ او ستاسو د پارہ د صبر نہ سوا هیڅ نشتہ. کهٔ د اللہ پہ عذاب باندے فریاد او بے صبری ظاهروُ یا ئے پہ صبر سرہ برداشت کوُ. پہ دے سرہ هیڅ فرق نهٔ پریوځی. پہ هرحال کښے د عذاب نہ زمونږ خلاصے نشتہ. اَلَّذِيْنَ اسْتَكْبَرُوْا. هغه مذهبی مشران او قومی رهنمایان چاچہ د انبیاء علیهم السلام د خبرے اُوریدلو نہ او د اللہ تعالیٰ د توحید منلو نہ تکبر او غرور سرہ د حق نہ مخ واړولو. او خپل ماتحت او کمزوری خلق ئے د ایمان او توحید نہ منع کړل. استکبروا عن عبادة اللہ وحدہ لاشریک لہ وعن موافقة الرسل (ابن کثیر ص۵۲۸ ج ۲) وهم السادة والرؤساء الذین استغووهم وصدوهم عن الاستماع الی الانبیاء علیهم السلام واتباعهم (مدارک ص۱۹۹ ج ۹) حاصل دا چہ پہ دُنیا کښے کوم بہ خلق خپل مشران لار نبردو لکی جوړ کړل. پہ اخرت کښے د هغوی تابعداری هیڅ پکار راتلہ.

وَقَالَ الشَّيْطٰنُ لَمَّا قُضِيَ الْاَمْرُ اِنَّ اللّٰهَ وَعَدَكُمْ
او وبه وائي شيطان ﷺ هركله چه فيصله شي د تول كار بيشكه الله تاسو ته دركړے وه

وَعْدَ الْحَقِّ وَوَعَدْتُّكُمْ فَاَخْلَفْتُكُمْ ؕ وَمَا كَانَ لِيَ
رښتينے وعده او ما تاسو سره وعده اوكړه بيا مې دروغ كړه او نه وه ما ته تاسو څخه

عَلَيْكُمْ مِّنْ سُلْطٰنٍ اِلَّآ اَنْ دَعَوْتُكُمْ فَاسْتَجَبْتُمْ لِيْ ۚ
حكومت نه ؤ مګر دا چه ما راوبللئ تاسو پس تاسو ومنله زما خبره

فَلَا تَلُوْمُوْنِيْ وَلُوْمُوْٓا اَنْفُسَكُمْ ؕ مَآ اَنَا بِمُصْرِخِكُمْ وَمَآ اَنْتُمْ
پس مه ملامته كوئ ما او ملامته كوئ خپل ځانونه نه زه ستاسو فرياد ته رسيدے شم او نه تاسو

بِمُصْرِخِيَّ ؕ اِنِّيْ كَفَرْتُ بِمَآ اَشْرَكْتُمُوْنِ مِنْ قَبْلُ ؕ اِنَّ
زما فرياد ته رسيدے شئ زه منكر يم د هغې نه چه تاسو ما لره شريك جوړ كړے وؤ د دې نه وړاندې بيشكه

الظّٰلِمِيْنَ لَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۲۲﴾ وَاُدْخِلَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا
كوم چه ظالمان دي د دوی دپاره دے عذاب دردناك ﴿۲۲﴾ او داخل به كړے شي كوم خلق چه ايمان راوړے وؤ او

الصّٰلِحٰتِ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا
عملونه ئے كړي وؤ نيك ئے باغونو ته چه بهيږي به لاندے د هغې نه نهرونه هميشه به وي په دې كښے

بِاِذْنِ رَبِّهِمْ ؕ تَحِيَّتُهُمْ فِيْهَا سَلٰمٌ ﴿۲۳﴾ اَلَمْ تَرَ كَيْفَ ضَرَبَ اللّٰهُ
د خپل رب په حكم سره ملاقات به وي د دوی هلته په سلام سره ﴿۲۳﴾ ته نه ګورے چه څنګه بيان كړے الله يو

مَثَلًا كَلِمَةً طَيِّبَةً كَشَجَرَةٍ طَيِّبَةٍ اَصْلُهَا ثَابِتٌ وَّفَرْعُهَا فِي
مثال د خبرے پاكے نشان ئے د ونے پاكے د دے جرړے مضبوطے دي او ښاخونه ئے په

السَّمَآءِ ﴿۲۴﴾ لا تُؤْتِيْٓ اُكُلَهَا كُلَّ حِيْنٍۭ بِاِذْنِ رَبِّهَا ؕ وَيَضْرِبُ اللّٰهُ الْاَمْثَالَ
آسمان كښے دي ﴿۲۴﴾ راوړي ميوه خپله هر وخت د خپل رب په حكم سره او بيانوي الله مثالونه

لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُوْنَ ﴿۲۵﴾ وَمَثَلُ كَلِمَةٍ خَبِيْثَةٍ كَشَجَرَةٍ خَبِيْثَةِ اِجْتُثَّتْ
خلقو دپاره د دے دپاره چه دوی فكر اوكړي ﴿۲۵﴾ او مثال د ګنده خبرے نشان د ګنده ونے د دے چه راخكلے دي

مِنْ فَوْقِ الْاَرْضِ مَا لَهَا مِنْ قَرَارٍ ﴿۲۶﴾ يُثَبِّتُ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِالْقَوْلِ

د زمکې په سر هیڅ نه وي دې لره ځنې قرار ۲۶ مضبوطوي الله ایمان اوړو لره خبره په مضبوطه

الثَّابِتِ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَفِي الْاٰخِرَةِ ۚ وَيُضِلُّ اللّٰهُ الظّٰلِمِيْنَ ۙ وَيَفْعَلُ اللّٰهُ مَا يَشَآءُ ﴿۲۷﴾

خبره سره په ژوند د دنیا کښې او په آخرت کښې او بې لارې کوي الله ظالمانو لره او کوي الله ځنې چه خوارې وي د دې

**نکات:** ۱ بشارتِ اُخروی ۱۲ ۲ تمثیل د پاره د توحید هُم دا شان دلیلِ نقلی اجمالی دے ۱۲ ۳ تمثیل د پاره د شِرک ۱۲

**موضح قرآن** ف۱ د شیطان زور نشته په انسان باندے لیکن مشوره بده ورکوی - دهغې منل خپله گناه ده -

ف۲ په دُنیا کښې سلام دُعا ده د سلامتیا غوښتلو هلته سَلَامٌ وئیل مبارکباد دے د سلامتیا.

ف۳ د مسلمانانو دعوی صحیح ده چه دهغې دلیل صحیح دے او په زړهٔ کښې اثر کوی او ورځ په ورځ ترقی کوی او د کافرانو دعوی جرړه نه لری. لږ شان توجه کولو سره غلط معلومیږی او په زړهٔ کښې هیڅ رنړا نشته.

ف۴ په قبر کښې چه څوک مضبوطه خبره اوکړی. د اُوسیدو به ښه ځائ بیا مومی او چه څوک غلطه خبره اوکړی هغه به خراب شی.

**فتح الرحمن** ف۱ یعنی کوم وخت چه جنتیان جنت ته ننوځی او دوزخیان دوزخ ته ف۲ مترجم وائی چه حق شریعت په اسمانونو کښې ثابت دے او په دُنیا کښې هره ورځ نوے رواج مومی او خلق ترے فائده اخلی - او د جاهلیت مِلت په اسمانونو کښې استقرار نهٔ لری او بو څو ورځې په خلقو کښې خورشی بیا ختم شی. والله اعلم ۱۲

ف۳ یعنی د مرګ په وخت کښې د شهادت توفیق ورکوی - او د منکر نکیر د سوال په وخت په حق وینا کویا کیږی ۱۲

**تفسیر:** ۲۵ کافران او مشرکان چه کله په جهنم کښې اُوغورزولے شی. نو هغوی به په ابلیس باندے لعنت او ملامتیا وائی دغه وخت به ابلیس ټولو ته جواب ورکړی. چه الله تاسو ټولو سره رښتینے وعده کړے وه چه که چرے تاسو څما د پیغمبرانو تابعداری اوکړئ - او څما توحید اُومنئ. نو زهٔ به تاسو ته په آخرت کښې هیشه نعمتونه درکوم - او بوه دروغژن شان وعده ما هُم تاسو سره کړے وه چه ژوند هُم بس دا دے. دے نه روستو بل ژوند نشته او نه حساب کتاب شته. او که چرے وی نو هُم ستاسو دا باطل معبودان به ستاسو سفارش کوی او تاسو به خلاص کړی (روح) لیکن تاسو د الله په رښتینې وعده باندے اعتماد او نکړو او څما دروغ خبره مو اُومنله - حالانکه ما په تاسو باندے څهٔ زور زیاتے نهٔ وُو کړے. او په خپله دروغ خبره باندے څما سره څهٔ دلیل هُم نهٔ وُو صرف زبانی خبره وه چه هغه تاسو فوراً اُومنله. په دے وجه اوس په ما باندے لعنت او بد مه

وایئ او په ما الزام مه لګوئ بلکه خپل ځانونه مجرم اُوګرځوئ او ځانونه ملامته کړئ چه تاسو بغیر د سوچ او فکر نه ځما خبرے ولے منلے. نن نه زهٔ ستاسو فریادرسي کولے شم او نهٔ تاسو ما د الله د عذاب نه بچ کولے شئ. اِنِّيْ كَفَرْتُ الخ ظرف د اَشْرَكْتُمُوْنِ سره متعلق دے. (روح و مدارک) یعني په دُنیا کښے چه تاسو زهٔ په اعمالو او افعالو کښے د الله سره شریک جوړ کړلم او ځما د بے لارے کولو او ګمراه کولو نه مو شرک کولو. نن د پوره ذکر شوی بیان په رڼا کښے زهٔ د هغے نه بری یم. ومعنی کفره باشراکهم تبرؤه منه واستنکاره له (مدارک صفحه ج ۲)

۲۶ دا د ایمان والو او د نیک کارونو کونکو د پاره بشارتِ اُخروي دے. مخکښے د مُشرکانو د سردارانو او د هغوی د تابعدارانو، ابلیس او د هغهٔ د متبعینو دردناک انجام بیان کړے شو. دلته د توحید والو نیک انجام بیان کړے شو چه په اخرت کښے به د هغوی همیشه ځائ په جنت کښے وی او هغوی به په هر قسم سکون کښے وی او د ټولو آفتونو او مُصیبتونو نه به محفوظ وی. او د فرښتو د طرفنه به هغوی ته د سلام تحفه ملاویږی.

۲۷ دا په توحید باندے اولنے عقلي دلیل دے اجمالي د ټولو مؤمنانو او انبیاء علیهم السلام نه. د كلمے طيبے نه مراد توحید او کلمه خبیثه نه مراد شرک دے. توحید دیوے داسے وُنے پشان دے چه ډیره زیاته مضبوطه ده چه د هغے بیخ هم مضبوط دے او د هغے ښاخونه هم مضبوط او لیرے لیرے پورے خورے شوی دی. او په خپل خپل وخت کښے خلق د هغے د میوے نه فائده اخلی. دا شان توحید هم محکم دے چه په ټولو مخکینو دینونو کښے محکم پاتے شوی دے او ټول مخکني پیغمبرانو په خپل خپل وخت کښے د توحید تبلیغ کړلو او منونکو د هغے نه فائده اخستله. او شرک دیوے داسے کمزورے وُنے پشان دے چه د هغے جرړے ډیرے زیاتے کمزورے وی. او یوه معمولي شان جټکه هم هغه د بیخ نه راوباسی. او هغے د پاره قرار او ثبات نهٔ وی. د شرک کمزورے بوټے مُشرکانو اولګولو چه د الله پیغمبرانو هغه د بیخ نه اوویستلو.

۲۸ دا بشارتِ اُخروي او دُنیوي دے. د اَلْاٰخِرَةِ نه مراد عالَم برزخ دے یعني الله تعالیٰ د اخلاص والو مؤمنانو لره په دُنیا کښے او په قبر کښے د کلمهٔ توحید په برکت سره ثابتقدم لري. ای یثبتهم بالبقاء علی ذلک مدة حیاتهم تر ژوندهٔ پورے هغوی لره په ایمان باندے قائم ساتی. وفی الاٰخرة فلا یتلعثمون اذا سئلوا عن معتقدهم هناک و لا تدهشهم الاهوال (روح صفحه ج ۱۳) او په قبر کښے به په سوال جواب کښے نهٔ ویریږی. د دے تقریر مطابق دا آیت د قبر د عذاب په ثبوت دلیل دے. یا د دے نه قیامت مراد دے. په دے صورت کښے به د دے متعلق محذوف وی. ای یجزیهم یعني په اخرت کښے به هغوی ته ثواب ورکوی. دا شان به دا ترکیب د قبیلے د علفتها تبنا وماء باردا نه وی. وَيُضِلُّ اللّٰهُ الظّٰلِمِيْنَ او کافران او مُشرکان چه په خپله مرضئ او په خپلے ارادے سره ګمراهي اختیاروی

او د ضد او عناد په وجه سره په هغه نیستیت ولاړ دي. الله پاک هغوی هم په هغه حالت کښې
ساتي، د هغوی ته د هدایت توفیق نه ورکوي. او د برزخ په سوال او جواب کښې هغوی
ته استقامت نه ورکوي، او په آخرت کښې هغوی په سخت عذاب کښې مبتلا کوي (وَیُضِلُّ
اللّٰهُ الظّٰلِمِیْنَ) ای عن حجتهم فی قبورهم کما ضلوا فی الدنیا بکفرهم فلا یلقنهم کلمة الحق فاذا
سئلوا فی قبورهم قالوا لا ندری اه (قرطبی ص ۳۶۳ ج ۹) (وَیَفْعَلُ اللّٰهُ مَا یَشَآءُ) انابت کوونکو
ته هدایت توفیق ورکوي. او معاندین د هدایت نه محرومه کړي او د ګمراهۍ په دلدل
کښې ېې ورغورزوي. (وَیَفْعَلُ اللّٰهُ مَا یَشَآءُ) من تثبیت بعض و اضلال بعض آخرین
حسبما توجبه مشیئته التابعة للحکم البالغة المقتضیة لذلك (ابو السعود ص ۳۲۹ ج ۵)

أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِيْنَ بَدَّلُوْا نِعْمَتَ اللّٰهِ كُفْرًا وَّأَحَلُّوْا قَوْمَهُمْ

آیا تا اونه لیدل هغو لره چا چه بدل کړل د الله احسان په ناشکرۍ سره او کوز یې کړل خپل قوم لره

دَارَ الْبَوَارِ ﴿۲۸﴾ جَهَنَّمَ ۚ يَصْلَوْنَهَا ۖ وَبِئْسَ الْقَرَارُ ﴿۲۹﴾ وَجَعَلُوْا لِلّٰهِ

کور د تباهۍ ته چه دوزخ دے داخل به شي دے ته او ډیر بد ځائې د اوسیدو دے دا او ګرځولي یې دي

أَنْدَادًا لِّيُضِلُّوْا عَنْ سَبِيْلِهٖ ۗ قُلْ تَمَتَّعُوْا فَإِنَّ مَصِيْرَكُمْ

الله لره د هغه مقابل چه ګمراه کړي خلق د هغه د لارې نه ته او وایه چه نفع واخلئ بیا ستا سو واپسي ده

إِلَى النَّارِ ﴿۳۰﴾ قُلْ لِّعِبَادِيَ الَّذِيْنَ آمَنُوْا يُقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَ

اور ته ... او وایه ځما بندګانو ته کوم چه ایمان راوړیدے او قائم ساتي مونځ ... او

يُنْفِقُوْا مِمَّا رَزَقْنٰهُمْ سِرًّا وَّعَلَانِيَةً مِّنْ قَبْلِ أَنْ

ورکوي زمونږ د ورکړے شوي مال نه په پټه او په ښکاره وړاندے د دے نه ... چه

يَّأْتِيَ يَوْمٌ لَّا بَيْعٌ فِيْهِ وَلَا خِلٰلٌ ﴿۳۱﴾ اَللّٰهُ الَّذِيْ خَلَقَ

راشي هغه ورځ په کومه کښې چه نه سودا ده نه دوستي ده الله هغه دے چا چه جوړ کړیدي ته

السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضَ وَأَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَأَخْرَجَ

آسمانونه او زمکه او نازلوي د آسمان نه اوبه پس راوباسي په دے

بِهٖ مِنَ الثَّمَرٰتِ رِزْقًا لَّكُمْ ۚ وَسَخَّرَ لَكُمُ الْفُلْكَ لِتَجْرِيَ

سره رزق ستاسو میوے او په کار یې لګولي دي ستاسو کښتۍ چه ځي

فِى الْبَحْرِ بِاَمْرِهٖ ۚ وَسَخَّرَ لَكُمُ الْاَنْهٰرَ ﴿۳۲﴾ وَسَخَّرَ لَكُمُ

په دریاب کښې دده په حکم سره او په کار یې لګولې دی ستاسو نهرونه او په کار یې لګولې دي ستاسو

الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ دَآئِبَيْنِ ۚ وَسَخَّرَ لَكُمُ الَّيْلَ وَالنَّهَارَ ﴿۳۳﴾

نمر او سپوږمۍ په یوه طریقه برابره او په کار یې لګولې ده ستاسو شپه او ورځ

وَاٰتٰىكُمْ مِّنْ كُلِّ مَا سَاَلْتُمُوْهُ ۚ وَاِنْ تَعُدُّوْا نِعْمَتَ اللّٰهِ لَا

او درکړي یې دي تاسو ته (ځکه) د هر څیز نه کوم چه تاسو غوښتل او که چیرې شمیرئ احسان د الله

تُحْصُوْهَا ۗ اِنَّ الْاِنْسَانَ لَظَلُوْمٌ كَفَّارٌ ﴿۳۴﴾ ع ۱۷

پوره به یې نه کړے شئ بیشکه انسان ډیر بې انصافه ناشکره دے

**نکات:** - ۱ تخویف اُخروی دا پنځم حل ذکر د واقعاتو دے ۱۲ ۲ زجر ۱۲ ۳ دعذاب دفع کولو د پاره د دوؤ خبرو ذکر ۱۲ ۴ په توحید باندے دریم عقلی دلیل ۱۲

**موضح قرآن** ف۱ مکے سرداران مراد دی چه غریبانان یې ګمراه کړل۔ ف۲ یعنی نیک عمل نه خرڅیږی۔ او د دوستئ سره هیڅ رعایت نه کیږی۔

**فتح الرحمن** ف۱ مترجم وائی یعنی ناشکره یې اوکړه په بخل سره هغه نعمت ورک شو نو لکه چه نعمت یې ورکړو او کفر یې واخستهٔ والله اعلم ۱۲

**تفسیر:** - ۲۹ دا پنځم حل د واقعاتو ذکر دے۔ دا تخویف اُخروی دے هغه خلقو د پاره چاچه د الله تعالیٰ ورکړے شوی د توحید نعمت او د نورو بې شماره مادی نعمتونو ناشکری اُوکړه۔ پخپله یې شرک اوکړو او خپلو قومونو ته یې د شرک ترغیب ورکړو او د الله پیغمبران یې دروغ اُوګڼړل یا یې دا شان خپل قومونه د جهنم خښناک اُوکړځول۔ اَلَّذِیْنَ بَدَّلُوْا نه تیر شوی قومونه کافران او مشرکان او د هغوی پیشوایان مراد دی په دے صورت کښے به د اَلَمْ تَرَ نه رؤیت قلبی مراد وی۔ او که چیرے د دے نه د مکے کافران مراد وی څنګه چه د حضرت علیؓ او ابن عباسؓ نه نقل دی۔ نو د رؤیت نه به رؤیت بصری مراد وی۔ والمراد مشرکوا قریش وان الاية نزلت فيهم عن ابن عباسؓ وعلیؓ (قرطبی ص۳۶۴ ج ۹) د مکے مشرکانو ته الله تعالیٰ هر قسم مادی اسانتیا ورکړے وے او نبی علیه السلام یې هم په هغوی کښے راؤلیږلو او دا شرف یې فخور کړو لیکن هغوی د الله تعالیٰ د نعمتونو په ناشکری اوکفر او نافرمانئ سره مقابله اوکړه۔ اسکنهم الله حرمه و جعلهم قوام بيته واكرمهم بمحمد صلى الله عليه وسلم فكفروا نعمة الله الخ (بحر ص۴۲۴ ج ۵)

۳۰ دا زجر دے او لِیُضِلُّوْا کښے لام د عاقبت دے او دا په اَحَلُّوْا باندے معطوف

دے۔ هغوی د الله سره شریکان جوړ کړل چه هغه یې د الله نه سوا دعبادت او د راپلو حقدار اُوګرځول۔ ښه ده تو د دُنیا د څو ورځو ژوند نه فائده واخلئ آخر ستاسو د اوسیدو ځائ جهنم دے۔ په آخرت کښې به د استاسو جوړ کړے شوی معبودان تاسو د جهنم نه هرګز خلاص نۀ کړی۔

۳۱ دعذاب د دفع کولو د پاره یې د دوُ خبرو حکم اوکړو چه اوس وخت دے د شرک نه بچ شئ او د الله په بندګانو باندے په پټه او ښکاره طور باندے احسان اوکړئ که چرے داسے اوکړئ نو د اُخروی او دُنیوی عذاب نه به بچ شئ۔ مونځ هم چونکه د مُصیبتونو نه د خلاصی یوه ذریعه او امر مصلح دے۔ په دے وجه ددے ذکر هم اوکړے شو څنګه چه ارشاد دے۔ وَاسْتَعِيْنُوْا بِالصَّبْرِ وَالصَّلٰوةِ (بقره) يُقِيْمُوْا په اصل کښې لِيُقِيْمُوْا وو صیغه د امر غائب ده لام امر محذوف دے په قرینه د قُلْ۔ ځکه چه د اول امر قرینے سره د دویم امر نه حذف د لام جائز دے۔ کما فی الرضی۔ امام کسائیؒ او امام زجاج هم لام امر مقدر منلے دے۔ ذهب الکسائیُّ والزجاج وجماعة الی انه مقول القول وهو مجزوم بلام امر مقدرة ای لیقیموا وینفقوا الخ (روح ط ۲۲۲ ج ۱۳)

۳۲ دا په توحید باندے دریم عقلی دلیل دے۔ دا تفصیلی دلیل دے۔ په دیکښې الله تعالیٰ په تفصیل سره بیان کړیدے چه الله تعالیٰ د ټول عالم خالق دے۔ عالم علوی (اسمان، نمر، سپوږمئ) عالم سفلی (زمکه، دریابونه، سیندونه، غُرونه، کانړی، اُوچه لونده) او د اسمان په فضا کښې چه څۀ دی، وُریځ، باران وغیره په ټولو د الله قبضه ده او ټول کائنات د هغۀ په قبضه کښې دی او ټول کائنات د هغۀ په اختیار او تصرف کښې دی او د هغۀ د حکم منونکی دی۔ زمکه او اسمان هغۀ پیدا کړل باران هغه وروی۔ او میوے هم هغه پیدا کوی۔ په سمندرونو کښې بحری جهازونه د هغۀ په حکم چلیږی، دریابونه او نهرونه د هغۀ د فرمان تابع دی۔ نمر، سپوږمئ، شپه او ورځ زمونږ د فائدے د پاره دی۔ د هغۀ په حکم سره په خپل خپل کار کښې مشغول دی۔ نو آیا بیا د الله پاک نه سوا بل څوک کارساز او مالک او مختار شته دے؟ هرګز نشته۔ بدعت والا په دے آیت سره د اولیاء الله په متصرف کیدو او مختار کیدو باندے استدلال کوی هغوی وائی چه اُوګورئ الله تعالیٰ فرمائیلی دی چه ما دا ټول هر څۀ ستاسو تابع کړځولے دی۔ لیکن دا استدلال بالکل باطل دے۔ اول خو ځکه چه په لَكُمْ کښې ضمیر خطاب عام دے چه ټولو انسانانو ترد دے چه کافرانو ته هم شامل دے دویم په دے وجه چه د تسخیر نه دا مراد نۀ دے چه ټول هر څۀ د هغوی د حکم تابع کړځولے شویدی۔ بلکه مطلب دا دے چه الله تعالےٰ هر څیز په خپل حکم سره ستاسو د فائدے په کارونو کښې لګولے دے۔

۳۴ کوم څۀ چه مونږ د الله نه غواړو او کوم څۀ چه مونږ ته ملاویږی هغه مونږ ته الله راکوی یعنی زمونږ سره چه هر څومره نعمتونه دی هغه ټول د الله ورکړه ده

دا مطلب نه دے چه مونږ هرڅه اوغواړو نو هغه ټول مونږ ته راکوی څکه چه ورکول نه ورکول ټول د هغه په اختیار کښے دی او د هغه فعل په حکمت باندے مبنی دے هرڅه چه مونږ غواړو هغه ټول د الله ورکړه دی او دومره دی چه مونږ دیے شمیرنه شو لیکن د دے باوجود انسان ډیر ناشکره او احسان فراموش دے. نعمتونه الله ورکوی هغه دا د غیرالله طرفته منسوب کوی. مثلاً څوک فلانی پیر زوئے ورکړو. د فلانی برکت نه مونږ ته شفا اوشوه. او مصیبت د فلانی ولی الله د منځه ورکړو وغیره. دا شان د الله د نعمتونو شکر انسان د پاره د هغه د حکم مطابق اطاعت کښے ادا کول پکار وو لیکن هغه بالکل د الله نافرمان دے.

وَإِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ رَبِّ اجْعَلْ هَٰذَا الْبَلَدَ آمِنًا وَ

او څه وخت چه اوویل ابراهیم اے ربه! اوګرځوه ښار دا امن والا او

اجْنُبْنِي وَبَنِيَّ أَنْ نَعْبُدَ الْأَصْنَامَ ۝۳۵ رَبِّ إِنَّهُنَّ أَضْلَلْنَ

لرے اوساتے ما او زما اولاد ملا ددے نه چه عبادت اوکړو بتانو اے ربه دوی ګمراه کړی دی

كَثِيرًا مِنَ النَّاسِ ۖ فَمَنْ تَبِعَنِي فَإِنَّهُ مِنِّي ۖ وَمَنْ

ډیرو خلقو لره پس چا چه تابعداری اوکړه زما پس هغه زما دے او چا چه

عَصَانِي فَإِنَّكَ غَفُورٌ رَحِيمٌ ۝۳۶ رَبَّنَا إِنِّي أَسْكَنْتُ مِنْ

زما اونه منله پس ته بخښونکے والا مهربان یے اے ربه زما اوسولے دے ما ځنې

ذُرِّيَّتِي بِوَادٍ غَيْرِ ذِي زَرْعٍ عِنْدَ بَيْتِكَ الْمُحَرَّمِ رَبَّنَا

بو اولاد لره په میدان کښے چه هلته فصل نشته ستا د محترم کور په څوا کښے اے ربه زمونږه

لِيُقِيمُوا الصَّلَاةَ فَاجْعَلْ أَفْئِدَةً مِنَ النَّاسِ تَهْوِي

چه قائم اوساتی مونځ پس اوګرځوه زړونه د ځینو خلقو چه مائل وی

إِلَيْهِمْ وَارْزُقْهُمْ مِنَ الثَّمَرَاتِ لَعَلَّهُمْ يَشْكُرُونَ ۝۳۷ رَبَّنَا

دوی طرفته او رزق ورکړه دوی ته د میوو نه شاید دوی شکر اوکړی اے ربه زمونږه

إِنَّكَ تَعْلَمُ مَا نُخْفِي وَمَا نُعْلِنُ ۗ وَمَا يَخْفَىٰ عَلَى اللَّهِ

ته خبریږے په هغه چه مونږ کوو په پټه او هغه چه کوو ښکاره او پټ نه دی په الله

مِنْ شَيْءٍ فِي الْأَرْضِ وَلَا فِي السَّمَاءِ ﴿٣٨﴾ الْحَمْدُ لِلَّهِ
هیڅ شے په زمکه کښے او نه په اسمان کښے شکر دے د الله
الَّذِي وَهَبَ لِي عَلَى الْكِبَرِ إِسْمَاعِيلَ وَإِسْحَاقَ ۚ إِنَّ
چا چه بخښلو ماته په دومره لوئ عمر کښے فلے اسمٰعیل او اسحاق بیشکه
رَبِّي لَسَمِيعُ الدُّعَاءِ ﴿٣٩﴾ رَبِّ اجْعَلْنِي مُقِيمَ الصَّلَاةِ وَ
خدائے رب آوری دُعاء فل اے ربه خما اوګرځوے ما چه قائم او ساتم مونځ لره او
مِنْ ذُرِّيَّتِي ۚ رَبَّنَا وَتَقَبَّلْ دُعَاءِ ﴿٤٠﴾ رَبَّنَا اغْفِرْ لِي
څه د اولاد نه هم اے خما ربه! او قبوله کړے خما دُعا اے ربه زمونږ وُ بخښے ما
وَلِوَالِدَيَّ وَلِلْمُؤْمِنِينَ يَوْمَ يَقُومُ الْحِسَابُ ﴿٤١﴾ ع
او خما مور پلار ته او ټولو مؤمنانو لره په کومه ورځ چه قائم شي حساب ۔

**نکات:** ۔ ۱ دویم نقلي دلیل تفصیلي ۱۲ ۲ دا اسم اعظم دے ۱۲ ۳ ټول د کارسازئ صفات ۱۲

**موضح قرآن** ف۱ د ابراهیم علیه السلام کور په شام کښے ؤ د بي بي نه یے یو ځوئ اسمٰعیل۳ پیدا شو۔ هغه یے سره د مور را وستلو په هغه ځنګل کښے پریښودل او ترے لاړو۔ چرته چه د مکے ښار روستو آباد شو الله تعالیٰ د زمزم چینه جاری کړه په دے وجه هلته کلے جوړ شو او زمکه د فصل قابله نه وه نه د میوو۔ هغه ته نزدے یے د طائف زمکه برابره کړه چه د بهتر نه بهتر میوے هلته پیدا شوے او د مکے ښار ته به رسیدلے۔
ف۲ مونږ ه یے پتوُو او ښکاره کوُو په ظاهر کښے یے دُعا ټول اولاد د پاره اوکړه او په زړه کښے یے دُعا منظور وه د پیغمبر آخر الزمان د پاره ۱۲ منه

**فتح الرحمٰن،** ف۱ یعني بے واسطه ځامن ۱۲

**تفسیر** ۴۲ وَإِذْ قَالَ ... نه تر ... يَوْمَ يَقُومُ الْحِسَابُ۔ دویم نقلي دلیل تفصیلي د ابراهیم علیه السلام نه دے۔ د دلیل خُلاصه دا ده چه کورنئ ابراهیم علیه السلام هم د الله نه دُعا غوښتلے وه چه ما او خما اولاد د شرک نه محفوظ کړه۔ د هٰذَا الْبَلَدَ نه مکه مکرمه مراد ده۔ او اٰمِنًا نسبت د پاره دے۔ ای ذا امن یعني د مکے ښار د امن نه ډک کړه او د دے اوسیدونکو ته د مال او ځان سلامتیا او امن ورکړے۔ وَاجْنُبْنِي وَبَنِيَّ۔ ما او خما اولاد د شرک نه بچ کړے۔ یعني څنګه چه مونږ د اول نه په توحید او ملتِ اسلام باندے یو۔ دا شان مونږ په هغے باندے ثابت قدم اوساتے۔ ای اثبتنا علیٰ ما نحن علیه

من التوحید وملة الاسلام والبعد عن عبادة الاصنام فالانبیاء معصومون عن الکفر وعبادة غیر الله تعالیٰ. (روح ص ۲۳۲ ج ۱۳)

**۳۵** اِضْلَال یعنی د ګمراه کولو نسبت بُتانو طرفته ځکه اوکړے شو. چه هغه د ګمراهئ سبب دے ځکه چه د نیکوبندګانو د بُتانو سره چه کوم روایتونه متعلق دی د هغې په وجه سره د مُشرکانو په زړونو کښے د هغوی د عبادت جذبه پیدا شی. داشان د هغوی بُتان د ګمراهئ لپاره سبب دے. په دے وجه مجازاً د ګمراهئ نسبت هغوی طرفته کړے شوے دے. لما کانت سببًا للاضلال اضاف الفعل الیهن مجازا (قرطبی ص ۳۶۸ ج ۹) یا یے مطلب دا دے چه خلق د دغے بُتانو د عبادت په وجه په ګمراهئ او فتنه کښے مبتلا شویدی والمعنی انهم ضلوا بعبادتها کما تقول فتنتهم الدنیا ای افتتنوا بها واغتروا بسببها (بحر ص ۴۳۲ ج ۵)

**۳۶** لِیُقِیْمُوا. اَسْکَنْتُ سره متعلق دے. او د رَبَّنَا اعاده د بعد عهد د وجے نه ده. یعنی ما خپل اولاد دلته دے د پاره اباد کړیدے چه هغوی ستا د عزت والا کور سره مونځ ادا کړی او ستا کور اباد کړی. تَهْوِیْٓ اِلَیْهِمْ ای تمیل الیهم او د خلقو په زړونو کښے د دوی سره محبت او الفت پیدا کړی دے د پاره چه هغوی هم دلته را شی او د دوی سره اباد شی او د دوی نه ګیرچا پیره کلی اباد کړی چه د هغے خلق د مکے والو د پاره میوے زرغون کړی. وانما یکون المراد عمارة القری بالقرب منها تحصیل تلک الثمار منها الخ (کبیر ص ۳۶۳ ج ۵)

**۳۷** دا اسمِ اعظم دے. یعنی ته په هرڅه عالم یے. داشان اِنَّ رَبِّیْ لَسَمِیْعُ الدُّعَآءِ هم اسمِ اعظم دے ځکه چه په سورۂ بقره (ع ۱۵) کښے د ابراهیم علیه السلام په دُعا کښے دی. اِنَّكَ اَنْتَ السَّمِیْعُ الْعَلِیْمُ. یعنی صرف ته په هرڅه عالم او د هرڅه آوریدونکے یے. هر پیغمبر چه کوم کلماتو سره د خپل دعوتِ توحید اظهار کوی هغه اسمِ اعظم وی. هغے سره کله خو مخاطب ته د توحید دعوت ورکول مقصود وی او کله د خپل عِلم او عقیدے اظهار مقصود وی. دلته دویم مقصود د نظرو لاندے دے. وَمَا یَخْفٰی عَلَی اللهِ مِنْ شَیْءٍ الخ دا ادخالِ الٰهی دے یا د ابراهیم علیه السلام د کلام سره متصل دے.

**۳۸** توِل د کارسازئ صفتونه الله تعالیٰ پورے مخصوص دی. چا چه په بوډا والی کښے ماته دوه ځامن اسمعیل او اسحاق راکړل. رَبِّ اجْعَلْنِیْ مُقِیْمَ الصَّلٰوةِ. څما پروردګاره! ما هم د مانځه پابند اوګرځوے او په هره زمانه کښے څما د اولاد نه هم داسے خلق پیدا کړے چه د مانځه پابند وی، د دے نه د مانځه اهمیت معلومیږی. او په حقیقت کښے په عملونو کښے د الله د نزدیکت د حصولو نه لویه ذریعه مونځ دے.

**۳۹** انبیاء علیهم السلام به په بارګاهِ الٰهی کښے د ډیر زیات تقرب او نزدیکت په وجه خپل معمولی لغزشونه او خطاګانے هم ګناهونه ګڼړل. ابراهیم علیه السلام د داشان معمولی لغزشونو د پاره هم د الله نه معافی غواړی. د مور پلار نه آدم او حوا علیهما السلام مراد دی. او که چرے حقیقی مور پلار مراد وی نو دا دُعا به یے د هغوی د ایمان نه د نا امیدئ او د الله د منع کولو نه مخکښے کړے وی. ای آدم وحوا، او قاله قبل النهی والیاس عن ایمان

وَلَا تَحْسَبَنَّ اللّٰهَ غَافِلًا عَمَّا يَعْمَلُ الظّٰلِمُوْنَ ۬ؕ اِنَّمَا

او هرګز ګمان مه کوه چه الله بې خبره دے ګډه هغه د چه کوی ئے ظالمان دوی ته

يُؤَخِّرُهُمْ لِيَوْمٍ تَشْخَصُ فِيْهِ الْاَبْصَارُ ﴿۴۲﴾ مُهْطِعِيْنَ مُقْنِعِيْ

ځنډ ورکوی مهلت ورکړیدے د هغه ورځے دپاره چه پرانستے به پاتے شی په هغه کښے سترګے منډه به وهی پورته

رُءُوْسِهِمْ لَا يَرْتَدُّ اِلَيْهِمْ طَرْفُهُمْ ۚ وَاَفْـِٕدَتُهُمْ هَوَآءٌ ﴿۴۳﴾ وَ

کړی به ئے وی سرونه خپل نه به واپس کیږی دوی ته سترګے د دوی او د دوی زړونه به الوتے وی وی او

اَنْذِرِ النَّاسَ يَوْمَ يَاْتِيْهِمُ الْعَذَابُ فَيَقُوْلُ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا

او ویروه خلق د هغه ورځے نه چه رابه شی په هغوی عذاب نو وائی به ظالمان

رَبَّنَآ اَخِّرْنَآ اِلٰٓى اَجَلٍ قَرِيْبٍ ۙ نُّجِبْ دَعْوَتَكَ وَنَتَّبِعِ الرُّسُلَ ؕ

اے ربه زمونږه مهلت راکړے مونږ ته لږ شانته مودے پورے چه مونږ قبول کړو ستا بلل او تابعداری کړو

اَوَلَمْ تَكُوْنُوْٓا اَقْسَمْتُمْ مِّنْ قَبْلُ مَا لَكُمْ مِّنْ زَوَالٍ ﴿۴۴﴾

د رسولانو. ایا تاسو مخکښے قسمونه نه خوړل چه نشته تاسو لره د دنیا نه تلل

وَّسَكَنْتُمْ فِيْ مَسٰكِنِ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْٓا اَنْفُسَهُمْ وَتَبَيَّنَ

او آباد وئ تاسو ګډه په کلو کښے د هغه خلقو چا چه ظلم کړے وو په خپلو ځانونو او ښکاره

لَكُمْ كَيْفَ فَعَلْنَا بِهِمْ وَضَرَبْنَا لَكُمُ الْاَمْثَالَ ﴿۴۵﴾ وَقَدْ

شوی وو تاسو ته چه څه اوکړل مونږ د هغوی سره او بیان کړے مونږ تاسو ته قصے او دوی

مَكَرُوْا مَكْرَهُمْ وَعِنْدَ اللّٰهِ مَكْرُهُمْ ؕ وَاِنْ كَانَ مَكْرُهُمْ

جوړ کړے وے خپل چل ګډه او الله سره دے د دوی چل او نه دے د دوی چل چه

لِتَزُوْلَ مِنْهُ الْجِبَالُ ﴿۴۶﴾ فَلَا تَحْسَبَنَّ اللّٰهَ مُخْلِفَ وَعْدِهٖ

او خوزی به د ئے سره غرونه اوف نو خیال مه کوه ګډه چه الله به خلاف کړی خپله وعده

رُسُلَهٗ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَزِیۡزٌ ذُو انۡتِقَامٍ ﴿٤٧﴾ یَوۡمَ تُبَدَّلُ الۡاَرۡضُ

خپلو رسولانو سره بیشکه الله زبردست دے بدله اخستونکے په کومه ورځ چه بدله کړے شی لګه دا ځمکه

غَیۡرَ الۡاَرۡضِ وَ السَّمٰوٰتُ وَ بَرَزُوۡا لِلّٰهِ الۡوَاحِدِ الۡقَهَّارِ ﴿٤٨﴾ وَ

سره بله ځمکه او بدل شی اسمانونه او خلق به حاضر شی وړاندې د الله یو زبردست له او

تَرَی الۡمُجۡرِمِیۡنَ یَوۡمَئِذٍ مُّقَرَّنِیۡنَ فِی الۡاَصۡفَادِ ﴿٤٩﴾ سَرَابِیۡلُهُمۡ

وبه وینے ته مجرمان په دغه ورځ تړلے شوی په زنځیرونو کښے قمیصونه د دوی

مِّنۡ قَطِرَانٍ وَّ تَغۡشٰی وُجُوۡهَهُمُ النَّارُ ﴿٥٠﴾ لِیَجۡزِیَ اللّٰهُ کُلَّ

به د ګوګړو دی او پټوی به د دوی مخونو لره اور ف٢ چه بدله ورکړی الله هر یو

نَفۡسٍ مَّا کَسَبَتۡ ؕ اِنَّ اللّٰهَ سَرِیۡعُ الۡحِسَابِ ﴿٥١﴾ هٰذَا بَلٰغٌ

نفس ته د هغه د عمل بیشکه الله زر حساب کونکے دے داخبر رسول دی

لِّلنَّاسِ وَ لِیُنۡذَرُوۡا بِهٖ وَ لِیَعۡلَمُوۡۤا اَنَّمَا هُوَ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ وَّ

خلقو ته ف٣ د دے دپاره چه او ویریږی په دے سره او چه پوهه شی چه معبود دغه یو دے او

لِیَذَّکَّرَ اُولُوا الۡاَلۡبَابِ ﴿٥٢﴾ ع ١١ ١٩

د دے دپاره چه سوچ اوکړی د عقل والا

**نکات:** ١ تخویف اُخروی د واقعاتو شپږم ځل ذکر ١٢ س٢ تخویف اُخروی ١٢ ن٣ یعنی تول ذکر شوی دلائل او واقعات ١٢

**موضح قرآن** ف١ د قیامت په ورځ به د اسمانونو دروازے پرانستلے شی او فرشتے راکوزیدل به شروع شی او خلق به عذاب ورکولو د پاره نیسی. د دے هیبت او ویرے په وجه سره به سترګے په پورته لاړے شی او د خکته کتلو فرصت به نه وی. ١٢ منه رحمه الله تعالیٰ ف٢ د مکے خلقو ډیر تند بیرونه نبی علیه السلام ته جوړ کړی وو چه ټول به یے په شریکه قتل کړو یا به یے د خپل ملک نه اوباسو. د غه یے د لته فرمائیلی دی.

**فتح الرحمن** ف١ یعنی د دوی مکر کمزورے دے ١٢ ف٢ قطران یو تور غیز دے بدبویه چه په هغه کښے اُور ډیر زر اثر نه کوی ١٢ ف٣ یعنی د تبلیغ دپاره نازل کړے شوی دے ١٢

**تفسیر:** ٤٧ بیا په اخر کښے د اخرت واقعات ذکر کړے شوی دی ځکه چه دا د صورت

اصلي موضوع د واقعاتو بیان دے. دا شپږم ځل د واقعاتو ذکر دے. بیلیبے اُو فرمایل چه الله تعالیٰ د ظالمانو د ټولو عملونو نه خبر دے. دېنه روستو تخویفِ اُخروي بیان شو. اِنَّمَا يُؤَخِّرُهُمْ الخ هغه دوی لره ځکه نه نیسي چه هغه ئې قادر نه دے یا د هغوی د عملونو نه خبر نه دے بلکه په نیولو کښے تاخیر ځکه کوي. چه په آخرت کښے هغوی ته د هغوی عملونو پوره پوره سزا ورکړي. تَشْخَصُ الخ د قیامت په ورځ به د هغوی سترګے پرانستے پاتے شي. مُهْطِعِيْنَ په منډه منډه به د بلونکي طرفته روان وي. مُقْنِعِيْ رُءُوسِهِمْ خپل سرونه به یے پورته کړي وي. لَا يَرْتَدُّ اِلَيْهِمْ د هغوی نظرونه به هُم پورته اُوچت شوے وي او هغوی به خپل بانړه نه شي ښکته کولے. وَ اَفْئِدَتُهُمْ هَوَآءٌ د هغوی به زړونو باندے به ویره راغلے وي. او د ډیرے زیاتے ویرے او هیبت د وجے نه به د عقل او پوهے نه خالي وي.

۴۱ د عذاب نه دُنیوي عذاب مراد دے په قرینه د اَخِّرْنَآ اِلٰٓى اَجَلٍ الخ دا معاندین د هغه ورځے نه او ویروئ چه کومه په ټولو عنادګرو قومونو باندے راغلے ده. چه کله به هغوی باندے عذاب راتللو. نو هغوی به ډیر په زاریٔ او عاجزیٔ سره دُعاګانے غوښتلے. چه اے زمونږ پرورد ګاره! مونږ ته لږ شان مهلت راکړه او س به مونږ ستا توحید اُومنو او ستا د پیغمبرانو تابعداري به کوو. اَوَلَمْ تَكُوْنُوْٓا اَقْسَمْتُمْ الخ. هغوی ته به جواب ورکولے شي ولے تاسو قسمونه نه خوړل او تاسو به ویل چه په مونږ باندے به هرګز عذاب نه راځي. د زوال نه مراد عذاب دے یا د زوال نه مراد مرګ دے. په دے صورت کښے به مطلب دا وي چه مونږ به په یو وخت ټول نه مرو بلکه نمبر په نمبر به مرو.

۴۲ کوم ظالمانو چه د ضد او عناد په وجه د توحید نه انکار اوکړو او زمونږ پیغمبران یے دروغژن اُوګڼل کوم چه مونږ په عذاب سره هلاک کړل د هغوی د تباهئ نه روستو د هغوی په ښارونو او علاقو کښے تاسو آباد شوئ. او تاسو د هغوی د تباهئ د آثارو نه معلومه کړه. چه مونږ هغه مکذبینو (دروغژنو) سره څۀ اوکړل. او بیا مونږ بار بار مثالونو بیانولو سره د توحید په مسئله تاسو پوهه کړئ. لیکن د دے باوجود تاسو انکار اوکړو او د توحید د مسئلے منلو چه کومه موقعه مونږ درکړے وه د هغے نه تاسو فائده وانخستله. د دے وجے نه او س که چرے تاسوته دوباره مُهلت درکړے شي نو بیا به یے هُم تاسو نه منئ. یا مطلب دا دے چه مونږ ستاسو نه مخکښے د معاندینو قصے او واقعات بیانولو سره تاسوته تنبیه درکړه چه اُو ګورئ که چرے نه منئ نو د هلاک شوُو قومونو پشان به په تاسو باندے هُم هیبتناک عذاب لیږلے شي.

۴۳ مُشرکانو د اسلام ختمولو او کُفر او شرک ته د ترقئ ورکولو د پاره خپل پوره قوت سره ډیر لوئ پروګرام جوړ کړو. د هغوی خیال وُو چه هغوی به خپلو دے پروګرامونو او دے پټو تدبیرونو سره اسلام د دُنیا نه ختم کړي. قد مکروا فی ابطال الحق و تقریر الباطل مکرهم العظیم الذی استفرغوا فی عمله المجهود الخ (ابوالسعود ص۲۶۳ ج ۵) وَعِنْدَ اللّٰهِ مَكْرُهُمْ لیکن الله ته د دوي د پټو تدبیرونو او سازشونو پوره پوره علم دے. په دے وجه د دوي هیڅ

تدبیر کامیاب نه شو. وَاِنْ كَانَ مَكْرُهُمْ الخ اِنْ مخففه من المثقلة دے ای انه کان
حالانکه د مشرکانو د خپلې اندازې مطابق د هغوی سکیمونه او سازشونه داسې محکم او کلک
وُو چه هغې سره غرونه هم د خپل ځائ نه اُوخوزیږی. یا اِنْ نافیه دے. په دے صورت
کښې به د هغوی د مکر کمزوری بیانول مقصود وی. یعنی د هغوی تدبیر څه مضبوط
نه وُو چه هغې سره غرونه اُوخوزیږی.

۴۴ دا تخویفِ اُخروی دے. د دے ځائ نه واخله تر اِنَّ اللّٰهَ سَرِيْعُ الْحِسَابِ پورې
دقیامت هیبتناک منظرونه او د آخرت مختلف قسمه عذابونو ذکر کړے شوے دی. دالله
تعالیٰ خپلو پیغمبرانو سره وعده ده چه هغه به په دُنیا کښې د دوی مدد کوی او په
آخرت کښې به هغوی ته اُوچتې مرتبې ورکوی او د دوی د دُشمنانو نه به بدله اخلی او په
دُنیا او آخرت کښې به هغوی ذلیله او رُسوا کړی. په دے وجه څوك دِ دا گمان هم نه
کوی چه الله تعالیٰ به د خپلو پیغمبرانو سره د کړے شوے وعدے خلاف اوکړی. اِنَّ
اللّٰهَ عَزِيْزٌ ذُو انْتِقَامٍ دا د ماقبل دپاره عِلّت دے څکه چه الله تعالیٰ غالب دے او
د اسلام د دُشمنانو نه اِنتقام اَخستونکے دے.

۴۵ ظرف د مُخْلِفَ متعلق دے (روح) یعنی په کومه ورځ چه زمکه او آسمان بدل شی
او ټول مخلوق په یو صفا میدان کښې د الله تعالیٰ په مخکښې وی. هغه ورځ به الله تعالیٰ
د خپلې وعدے خلاف نه کوی. د زمکے او آسمان بدلیدلو نه مراد دا دے چه سمندر
به اُوچ شی. غرونه به ریزه ریزه کړی او زمکه به هواره کړے شی او د آسمان ټول ستوری
به پناه شی. عن ابن عباسؓ تذهب آکامها وجبالها و اودیتها و شجرها ومافیها وتمد مد
الادیم العکاظی و تصیر مستویة لا ترٰی فیها عوجًا ولا امتا وتبدل السمٰوٰت بذهاب شمسها
و قمرها و نجومها (روح ص۲۵۵ ج ۱۳)

۴۶ دا په تبدّل باندے معطوف دے. اَصْفَاد جمع د صفد ده یعنی د غاړے طوق او د
خپو زنځیر. د قیامت په ورځ به د مجرمانو په غاړو کښې طوق (اُوکئ) او په خپو کښې به بے
بیړئ وی. سَرَابِيْلُهُمْ. د سِربَال جمع ده یعنی قمیص. قَطِرَان یعنی د نختر و ونے نچوړ
شوے دا یو اُور اَخستونکے ماده ده چه په تیزئ سره اُور اَخلی (روح، مظهری) یعنی دا سے یو
اُور اَخستونکے ماده به وی چه د جهنمیانو په بدنونو پورے به لیو کړے شوے وی. دے
دپاره چه دا اُور اَخستونکے ماده اُور زر واخلی او هغوی ته زیات تکلیف اُورسیږی.
د دے نه علاوه به په دے ماده کښې تیزی وی چه په بدن کښې به سوزیدل پیدا کوی او
د خپلے بد بُوئئ د وجے نه به هغوی دپاره زیات د تکلیف سبب وی. وهو عصارة الابهل
... وهو اسود منتن لیشتعل فیه النار بسرعة یطلی به جلود اهل النار حتی یکون طلاوة
لهم کالقمیص یجتمع علیهم لدغ القطران و وحشة لونه ونتن ریحه مع اسراع النار (مظهری
ص۲۸۶ ج) یا د قطران نه کوکر مراد دے څکه چه دا هم یو اُور اَخستونکے ماده ده چه د
سوزیدو په وخت بد بوئ هم کوی. لِيَجْزِيَ اللّٰهُ الخ د دے متعلق محذوف دے ای یفعل

بهم ذلك يجزي الخ (روح) دا ټول هر څه به ددے د پاره کولے شي چه هغوي ته د هغوي د عملونو پوره پوره بدله ورکړے شي.

۵۲ په اخر کښے د سورت د مضامينو د خلاصے طرفته اشاره کړے شوېده. هٰذا سره ټولو ذکر شوو واقعاتو او دلائلو طرفته اشاره کړے شویده او وَلِيُنْذَرُوْا معطوف عليه مقدر دے. اي ليؤمنوا يعني دا ټول واقعات او دلائل دے د پاره ذکر کړے شول چه خلق ايمان راوړي او د مخکښنو قومونو واقعات اوريدلو سره هغوي او د بروُلے شي. او د واقعاتو او دلائلو د بيان سره يوه مسئله (يعني د توحيد مسئله) باندے پوهول مقصود دي. دے د پاره چه هغوي دا او وينې او د هغوي يقين راشي چه صرف الله تعالىٰ د ټول مخلوق کارساز او په ټولو کائناتو کښے خاص هم دے متصرف او مختار دے. او صرف هغه د بللو لائق دے. او دے د پاره چه د عقل او پوهے والا خلق په دے دلائلو او واقعاتو کښے غور او فکر اوکړي. او د دوي نه چه د چا په زړه کښے اخلاص او انابت وي هغه د دے نه نصيحت حاصل کړي او په صحيح لاره باندے راشي.

# په سُورۂ ابراهيم عليه السّلام کښے د توحيد اٰيتونه او د هغے خصوصيات

① كِتٰبٌ اَنْزَلْنٰهُ اِلَيْكَ لِتُخْرِجَ النَّاسَ مِنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ (۱۶) د سورت خصوصيت دے يعني مونږ دا کتاب نازل کړو دے د پاره چه تاسو ته د مخکښو اُمتونو واقعات واوروئ او د کفر او شرك د تيارو نه يے راوُباسئ او د اسلام او توحيد رنړا طرفته يے راولئ.

② اَللّٰهِ الَّذِيْ لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ (۱۶) نفي د شرك اعتقادي.

③ قَالَتْ لَهُمْ رُسُلُهُمْ .... نه تر.... فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُوْنَ (۲۶) د انبياء عليهم السّلام د بشريت اثبات او نفي د اختيار او تصرف د انبياء عليهم السلام نه.

④ وَمَا لَنَآ اَلَّا نَتَوَكَّلَ عَلَى اللّٰهِ. اِسم اعظم.

⑤ اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ بِالْحَقِّ (۳۶) نفي د شرك اعتقادي.

⑥ اِنْ يَّشَاْ يُذْهِبْكُمْ وَيَاْتِ بِخَلْقٍ جَدِيْدٍ (۳۶) ټول کائنات د الله پاك په اختيار او تصرف کښے دي او هيڅ شيز د هغه د اختيار نه بهر نه دے.

⑦ اَلَمْ تَرَ كَيْفَ ضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا كَلِمَةً طَيِّبَةً .... نه تر.... لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُوْنَ (۴۶) د توحيد مثال بيانول.

⑧ اَللّٰهُ الَّذِيْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ .... نه تر.... اِنَّ الْاِنْسَانَ لَظَلُوْمٌ

کفار ؟ (۶۵) نفی د شرک اعتقادی.

۹ وَإِذْ قَالَ إِبْرٰهِيمُ ... نه تر ... وَلَا فِي السَّمَآءِ (۶۶) ابراهیم علیه السلام هم د الله تعالیٰ نه دُعا اُوغوښتله چه الله هغه له او د هغه اولاد له د شرک نه محفوظ کړی. او رَبَّنَآ إِنَّكَ تَعْلَمُ مَا نُخْفِي وَمَا نُعْلِنُ په اسم اعظم سره یې د الله تعالیٰ د عالم الغیب والشهادة کیدو اعلان اوکړو.

❖ ❖ ❖ ❖

نن په تاریخ پنځم د ربیع الثانی ۱۳۸۶ھ
مطابق د ۲۴ جولائی ۱۹۶۶ء په ورځ د اتوار
یوه بجه ماسپخین د سورۀ ابراهیم علیه السلام
تفسیر ختم شو.

❖ ❖ ❖ ❖ ❖ ❖

فالحمد لله اولاً واٰخراً والصلوٰة والسلام
علیٰ رسوله دائماً ابداً.

❖ ❖ ❖

# سُورۃُ الحِجر

ربط: دنوم ربط د سورهٔ حجر د سورهٔ ابراهیم سره د نوم ربط دا دے چه په سورهٔ ابراهیم کښے دلائلو او د مخکینو اُمتونو د واقعاتو سره چه کومه مسئله بیان کړے شویده هغه اُومنئ کنی افسوس به کوئ ځنګه چه اصحاب الحجر د توحید د مسئلے تکذیب اوکړو نو هغوی په دردناک عذاب سره هلاک کړے شول دغسے به تاسو هم هلاک کړے شئ۔

معنوی ربط:۔ په سورهٔ ابراهیم کښے واقعاتو بیانولو سره اوویرولے شُود دے دپاره چه هغوی د توحید مسئله اُومنی۔ اوس په سورهٔ حجر کښے به دا بیان وی چه وشه منئ کنی د مخکینو اُمتونو پشان به په تاسو هم عذاب راشی نو افسوس به کوئ۔

**خُلاصه**

په سورهٔ حجر کښے په توحید باندے دوه عقلی دلیلونه پیش کړے شوی دی۔ یو مفصل او دویم مختصر او د تخویفِ دُنیوی پنځه نمونے ذکر کړے شوی دی۔ درے د مخکینو قومونو او دوه د مکے د کافرانو۔ او د نبی علیه السلام دپاره پنځه تسلئ ذکر شوی دی۔ الٓرٰ۔ تِلْكَ اٰیٰتُ الْكِتٰبِ الخ تمهید سره د ترغیب نه۔ رُبَمَا یَوَدُّ الَّذِیْنَ كَفَرُوْا دا د سورت مقصودی حصه ده۔ د مخکینو اُمتونو واقعات تاسو واوریدل۔ لهٰذا اوس یے اُومنئ کنی افسوس به کوئ د هغوی پشان، چه کله عذاب راشی نو وُبه وائی ارمان چه مونږ د توحید مسئله منلے وے۔ وَمَا اَهْلَكْنَا مِنْ قَرْیَةٍ هر قوم ته مهلت ورکړے شو او بیا د ضد او انکار د وجے نه د مقرر وخت نه مخکښے هغوی هلاک نه کړے شول۔ وَقَالُوْا یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْ الخ شکوی ده۔ مُشرکانو پیغمبر علیه السلام ته لیونے ویلو۔ او د فرشتو د نازلیدو مطالبه به یے کوله۔ مَا نُنَزِّلُ الْمَلٰٓئِكَةَ الخ جواب شکوی دے۔ فرشتے زمونږ د خاص پروګرام د لاندے راکوزیږی۔ د هر چا په مطالبه باندے نه راکوزیږی۔ اِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ۔ دا د تخویفِ دُنیوی دپاره تمهید دے۔ ځنګه چه مونږ په تاسو قرآن نازل کړیدے دا شان په مخکینو پیغمبرانو باندے مو هم کتابونه او صحیفے نازلے کړے۔ لیکن د هغوی قومونو تکذیب اوکړو او په عذاب کښے مبتلا شو۔ د مکے مُشرکان هم که چرے د قرآن په تکذیب باندے کلک پاتے شول نو د دوی انجام به هم هغه وی۔ وَاِنَّا لَهٗ لَحٰفِظُوْنَ۔ جُمله معترضه ده۔ وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا الخ تخویفِ دُنیوی دے تو قومونو سره د الله د پیغمبرانو سپکاوی کونکو دپاره۔ وَلَوْ فَتَحْنَا عَلَیْهِمْ بَابًا الخ زجر دے متعلق دے په شکوی پورے۔ د فرشتو راکوزیدو په ځائے که چرے په خپله دوی اسمانونو ته بوتلے شی او ټول هر څه اووینی بیا به یے هم اُونه منی۔

رومبے عقلی دلیل مفصل:۔ وَلَقَدْ جَعَلْنَا فِی السَّمَآءِ بُرُوْجًا ... نه تر ... مِنْ نَّارِ السَّمُوْمِ (۲۶) د زمکے نه واخله تر اسمانه پورے او د عرش نه واخله تر فرشه پورے ټوله کارخانه د عالم د الله پاک په تصرف او اختیار کښے ده او د دے ټولو کارخانو د

زمکے او اسمانونو جوړولے هم صرف هغه دے. هغه باران ورَوی او د زمکے نه قسما قسم غلے میوے پیدا کوی. د دے نه علاوه هغه ستاسو د پاره بیشماره د رزق وسائل پیدا کړیدی او د هرڅیز د کے خزانے د هغه سره دی. او س تاسو او وایئ چه د هغه نه سیوا بل څوک کارساز کیدے شی؟ وَلَقَدْ عَلِمْنَا الْمُسْتَقْدِمِينَ الخ د ټول ما کان او ما یکون عالم خو صرف زهٔ یم. بیا څما نه سِوا عالِم الغیب بل څوک کیدے شی؟ وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ الخ (۲۶) دا هم د اوّل دلیل سره متعلق دے. کوم الله چه ټول کائنات د انسان په معاش تیارولو باندے لګولے دی. هم هغه انسان د خاوره نه پیدا کړو کوم چه د انسان خالق او رازق دے. هغه د دهٔ کارساز او حاجت روا هم دے وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ الخ. په دیکښے د ابلیس د آدم علیه السلام سره د دشمنۍ ذکر دے. د دے د پاره چه د آدم علیه السلام اولاد د ابلیس د مکر او فریب نه خبردار شی. د دے نه پس په اٰئنده سورتونو کښے چه چرته هم دا قصه راځی د هغے نه به هم دا تنبیه مقصود وی. وَإِنَّ جَهَنَّمَ لَمَوْعِدُهُمْ الخ تخویفِ اُخروی دے. إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي جَنَّاتٍ الخ بشارتِ اُخروی دے. د دے نه پس د تخویفِ اُخروی پنځه نمونے ذکر شویدی.

وَنَبِّئْهُمْ عَنْ ضَيْفِ إِبْرَاهِيمَ (۲۶) دا د رومبۍ نمونے د پاره تمهید دے. قَالَ فَمَا خَطْبُكُمْ الخ دا د تخویفِ اُخروی رومبۍ نمونه ده. د لوط علیه السلام قوم د الله تعالیٰ پیغمبر لوط علیه السلام دروغژن اُوګنړلو. او د الله د احکامو یے ښکاره مخالفت اُوکړو نو الله تعالیٰ د هغوی کلے نسکور کړو او د پاسه یے پرے کانړی اُوروَل او په دے قسمه دردناک عذاب سره یے هغوی هلاک کړل.

دویمه نمونه:- وَإِنْ كَانَ أَصْحَابُ الْأَيْكَةِ الخ د دے نه مراد د مدین خلق دی. شعیب علیه السّلام هغوی ته د توحید پیغام سره اُولیږلے شو. لیکن هغوی اُونه منلو. په شرک او کُفر او نورو ګناهونو باندے همیشه ټلک پاتے شول. نو الله پاک په یو هیبتناک آواز سره هغوی هلاک کړل.

دریمه نمونه:- وَلَقَدْ كَذَّبَ أَصْحَابُ الْحِجْرِ الْمُرْسَلِينَ الخ (۲۶) دا د حضرت صالح علیه السلام قوم وُو. هغوی ورته د توحید دعوت ورکړو. او د الله تعالیٰ په حُکم سره یے هغوی ته د هغوی غوښتلے شوے معجزه ښکاره کړه. لیکن د دے ټولو سره هغوی د انکار او عناد نه منع نهٔ شول. او د توحید دعوت یے قبول نهٔ کړو. نو الله تعالیٰ په هغوی باندے د یو هیبتناک آواز په صورت کښے عذاب نازل کړو او هغوی یے ختم کړل. دا دریواړه نمونے د مخکینو قومونو نه پیش کړے شویدی. د دے نه پس د توحید دویم عقلی دلیل ذکر کړے شویدے.

دویم عقلی دلیل مختصر:- وَمَا خَلَقْنَا السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا إِلَّا بِالْحَقِّ (۶ع) د زمکے او اسمان او د دے په مینځ کښے ټول مخلوق مونږ د دے د پاره پیدا کړیدی چه د توحید مسئله واضحه کړو. د کائناتو ذره ذره زمونږ د توحید ګواه ده. وَإِنَّ

السَّاعَةَ لَاٰتِيَةٌ تخویفِ اُخروی دے. فَاصْفَحِ الصَّفْحَ الْجَمِيلَ. اول تسلی د نبی علیه السلام
دپاره. وَلَقَدْ اٰتَيْنٰكَ الخ دویمه تسلی. لَا تَمُدَّنَّ عَيْنَيْكَ. تعبره متعلق د دویمے تسلی
سره. وَلَا تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ وَاخْفِضْ جَنَاحَكَ لِلْمُؤْمِنِيْنَ دریمه تسلی. وَقُلْ اِنِّيْ
اَنَا النَّذِيْرُ الْمُبِيْنُ څلورمه د معجزو د راوړلو مطالبه کوی. حالانکه معجزه ښکاره کول په اختیار
کښے نه دی. زما ځو تل پریم ښما کارخو تبلیغ او انذار دے. وراندے د مکے مشرکانو ته
دوه نمونے د تخویفِ دُنیوی ذکر کړے شویدی.

د تخویفِ دُنیوی څلورمه نمونه:- كَمَآ اَنْزَلْنَا عَلَى الْمُقْتَسِمِيْنَ. مقتسمین
د مکے د مشرکانو نه تقریبًا دولس کسان وو چه د حج په موسم کښے به په مکه مکرمه کښے د
داخلیدو لارو په لارو کښے ناست وو او راتلونکو ته به یے وئیل (عیاذًا بالله) د دے
جادوګر نه ځان ساتئی چرته ستاسو ایمان خراب نه کړی. الله تعالیٰ د دوی نه بعضے
خلق په جنګِ بدر کښے او بعضے د دے نه مخکښے په آفتونو او مصیبتونو سره هلاک کړل.

د تخویفِ دُنیوی پنځمه نمونه:- اِنَّا كَفَيْنٰكَ الْمُسْتَهْزِءِيْنَ دا د مکے د مشرکانو
او د قریشو د سردارانو څو کسان وو چه نبی علیه السلام او قرآن پورے به یے لویے مسخرے کولے
الله تعالیٰ د هغوی د هلاکولو وعده اوکړه. په دیکښے د نبی علیه السلام دپاره تسلی هم ده.
وَلَقَدْ نَعْلَمُ پنځمه تسلی ده نبی علیه السلام د پاره. د سورت په آخر کښے فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ
سره اصل مقصد بیان کړے شو چه تاسو د دُشمنانو پرواه مه کوئ. دوی د پاره مونږ یو ځیله
کافی یو. تاسو شپے او ورځے د الله تعالیٰ د شرک نه تسبیح او تقدیس کوئ. د هغه په مخکښے
په سجده پریوځئ او تر آخره پورے د هغه په عبادت او راېللو کښے مشغول اوسیږئ.

مختصر خلاصه:- په سورة حجر کښے څلور اُمور ذکر کړے شویدی.
(۱) د سورت دعوی (۲) د توحید دلائل (۳) د تخویفِ دُنیوی پنځه نمونے (۴) نبی علیه الصلوٰة والسلام ته تسلی.
د سورة دعوی:- رُبَمَا يَوَدُّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا الخ اوس وخت دے چه منځ کښی د نورو کافرانو
پشان به افسوس کوئ. دے نه پس په وَمَآ اَهْلَكْنَا مِنْ قَرْيَةٍ کښے تخویفِ دُنیوی دے.
وَقَالُوْا يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْ نُزِّلَ عَلَيْهِ کښے شکوی ده. مَا نُنَزِّلُ الْمَلٰٓئِكَةَ کښے جواب شکوی
دے. او په وَلَوْ فَتَحْنَا عَلَيْهِمْ کښے زجر دے چه د ذکر شوے شکوے سره متعلق دے.

د توحید دلائل:- دوه عقلی دلیلونه ذکر شویدی. یو مفصل دویم مختصر.
دلیلِ عقلی مفصل. وَلَقَدْ جَعَلْنَا فِي السَّمَآءِ بُرُوْجًا الخ (۱۶) نه تر مِنْ نَّارِ السَّمُوْمِ (۲۶)
او دلیلِ عقلی مختصر وَمَا خَلَقْنَا السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَآ اِلَّا بِالْحَقِّ (۸۵)

د تخویفِ نمونے:- د تخویفِ دُنیوی پنځه نمونے ذکر کړے شویدی. درے د
مخکینو اُمتونو نه او دوه د مکے مشرکانو نه. د مخکینو اُمتونو درے نمونے دا دی. (۱) قَالَ
فَمَا خَطْبُكُمْ اَيُّهَا الْمُرْسَلُوْنَ (۵۷) د لوط علیه السلام د قوم د تباهئ نمونه (۲) وَاِنْ
كَانَ اَصْحٰبُ الْاَيْكَةِ لَظٰلِمِيْنَ (۷۸) د شعیب علیه السلام د هلاکت نمونه (۳) وَلَقَدْ
كَذَّبَ اَصْحٰبُ الْحِجْرِ الْمُرْسَلِيْنَ (۸۰) د صالح علیه السلام د قوم د بربادئ نمونه. د مکے

كَمَآ اَنْزَلْنَا عَلَى الْمُقْتَسِمِيْنَ (۶۶) د مکے د مشرکانو دوښ
د مشرکانو دوه نمونے دادی. (۱) کسانو چه د حج په موسم کښے به د مکے په لارو کښے کیناستل او د بهرنه راتلونکی خلق به
کسان چه د حج په موسم کښے به د مکے په لارو کښے کیناستل او د بهرنه راتلونکی خلق به
ئے د نبی علیه السلام سره د ملاقات او د هغوی د وعظ اوریدلو نه منع کول. (۲) اِنَّا
كَفَيْنٰكَ الْمُسْتَهْزِءِيْنَ. دا د مکے د مشرکانو پنځه کسان وُو چه په قران او نبی علیه السلام
پورے به ئے ټوقے کولے.

نبی علیه السلام د پاره تسلی :- په اخر کښے او وه ځله نبی علیه السلام ته تسلی ورکړے
شوه. (۱) فَاصْفَحِ الصَّفْحَ الْجَمِيْلَ (۲) وَلَقَدْ اٰتَيْنٰكَ سَبْعًا مِّنَ الْمَثَانِيْ الخ (۳) وَلَا تَمُدَّنَّ
عَيْنَيْكَ الخ (۴) وَلَا تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ (۵) وَاخْفِضْ جَنَاحَكَ لِلْمُؤْمِنِيْنَ (۶) اِنَّا كَفَيْنٰكَ
الْمُسْتَهْزِءِيْنَ (۷) وَلَقَدْ نَعْلَمُ اَنَّكَ يَضِيْقُ صَدْرُكَ. په اخر کښے د مقصودی مسئلے
بیان دے. فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَكُنْ مِّنَ السّٰجِدِيْنَ. بس د الله حمد او ثنا او د هغه پاکی
بیانوئ. هغه ته سجده کوئ. او هغه په حاجتونو کښے غائبانه رابلئ.

سُوْرَةُ الْحِجْرِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ تِسْعٌ وَّتِسْعُوْنَ اٰيَةً وَّسِتُّ رُكُوْعَاتٍ

سورة حجر مکی دے او په دے کښے یو کم سل (۹۹) ایتونه او شپږ رکوع گانے دی.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع د الله د نوم نه چه بیحده مهربانه ډیر زیات رحم والا دے

الٓرٰ تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ وَقُرْاٰنٍ مُّبِيْنٍ ﴿۱﴾

دا ایتونه دی د کتاب لله او د واضحه قران

رُبَمَا يَوَدُّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَوْ كَانُوْا مُسْلِمِيْنَ ﴿۲﴾

یو وخت به ارمان اوکړی دا خلق چه منکر دی کاشکے چه دوی به وے چه وے مسلمانان

ذَرْهُمْ يَاْكُلُوْا وَيَتَمَتَّعُوْا وَيُلْهِهِمُ الْاَمَلُ فَسَوْفَ

پریږدئ دوی لره چه خوری او نفع اخلی او غافله به کړی اُمیدونو کښے اُوسی پس ژر ده به

يَعْلَمُوْنَ ﴿۳﴾ وَمَآ اَهْلَكْنَا مِنْ قَرْيَةٍ اِلَّا وَلَهَا كِتَابٌ

پوهه شی او یو کلے مونږ نه دے هلاک کړے مگر د هغے وخت لیکلے

مَّعْلُوْمٌ ﴿۴﴾ مَا تَسْبِقُ مِنْ اُمَّةٍ اَجَلَهَا وَمَا يَسْتَاْخِرُوْنَ ﴿۵﴾

شوے وُو مقرر نه مخکښے کیږی یوه ډله د خپل وخت مقرر نه او نه روستو کیدے شی

د مشرکانو دوه نمونے دادی. (۱) كَمَآ اَنزَلنَا عَلَى الْمُقْتَسِمِيْنَ (۶۶) د مکے د مشرکانو دوه
کسان چه د حج په موسم کښے به د مکے په لارو کښے کیناستل او د بهرنه راتلونکی خلق به
یے د نبی علیه السلام سره د ملاقات او د هغوی د وعظ آوریدلو نه منع کول. (۲) اِنَّا
كَفَيْنٰكَ الْمُسْتَهْزِءِيْنَ. دا د مکے د مشرکانو پنځه کسان وو چه په قران او نبی علیه السلام
پورے به یے ټوقے کولے.

نبی علیه السلام د پاره تسلی:- په اخر کښے اووه خله نبی علیه السلام ته تسلی ورکړے
شوه. (۱) فَاصْفَحِ الصَّفْحَ الْجَمِيْلَ (۲) وَلَقَدْ اٰتَيْنٰكَ سَبْعًا مِّنَ الْمَثَانِي الخ (۳) وَلَا تَمُدَّنَّ
عَيْنَيْكَ الخ (۴) وَلَا تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ (۵) وَاخْفِضْ جَنَاحَكَ لِلْمُؤْمِنِيْنَ (۶) اِنَّا كَفَيْنٰكَ
الْمُسْتَهْزِءِيْنَ (۷) وَلَقَدْ نَعْلَمُ اَنَّكَ يَضِيْقُ صَدْرُكَ په اخر کښے د مقصودی مسئلے
بیان دے. فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَكُنْ مِّنَ السّٰجِدِيْنَ. پس د الله حمد او ثنا او د هغه پاکی
بیانوئ. هغه ته سجده کوئ. او هغه په حاجتونو کښے غائبانه رابلئ.

## سُوْرَةُ الْحِجْرِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ تِسْعٌ وَّتِسْعُوْنَ اٰيَةً وَّسِتُّ رُكُوْعَاتٍ

سورة حجر مکی دے او په دے کښے یو کم سل (۹۹) آیتونه او شپږ رکوع گانے دی.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع د الله د نوم نه چه بیحده مهربانه ډیر زیات رحم والا دے

الٓرٰ قف تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ وَقُرْاٰنٍ مُّبِيْنٍ ①

دا آیتونه دی د کتاب ټه او د واضحه قران

رُبَمَا يَوَدُّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَوْ كَانُوْا مُسْلِمِيْنَ ②

یو وخت به ارمان او کړی دا خلق چه منکر دی که څه به ښه وے چه وے مسلمانان

ذَرْهُمْ يَاْكُلُوْا وَيَتَمَتَّعُوْا وَيُلْهِهِمُ الْاَمَلُ فَسَوْفَ

پریږدئ دوی لره چه خوری او نفع اخلی او مشغولوی دوی لره امید نو زر به پوهه شی

يَعْلَمُوْنَ ③ وَمَآ اَهْلَكْنَا مِنْ قَرْيَةٍ اِلَّا وَلَهَا كِتَابٌ

پوهه شی او یو کلے مونږ نه دے هلاک کړے مگر د هغے وخت لیکلے

مَّعْلُوْمٌ ④ مَا تَسْبِقُ مِنْ اُمَّةٍ اَجَلَهَا وَمَا يَسْتَاْخِرُوْنَ ⑤

شوے وو مقرر نه مخکښے کیږی یوه ډله د خپل وخت مقرر نه او نه روستو کیدے شی

وَقَالُوا يَا أَيُّهَا الَّذِي نُزِّلَ عَلَيْهِ الذِّكْرُ إِنَّكَ لَمَجْنُونٌ ﴿٦﴾

او خلق وائی اے هغه څوک چه پرتا باندے نازل شویدے قرآن ته ته بیشکه لیونے یے

لَوْ مَا تَأْتِينَا بِالْمَلَائِكَةِ إِنْ كُنْتَ مِنَ الصَّادِقِينَ ﴿٧﴾

ولے نه راولے ته مونږ ته فرشتو لره که چرے ته ریښتینے یے

مَا نُنَزِّلُ الْمَلَائِكَةَ إِلَّا بِالْحَقِّ وَمَا كَانُوا إِذًا مُنْظَرِينَ ﴿٨﴾

مونږ نه نازلوو فرشتو لره مګر د کار پوره کولو دپاره او دغه وخت به نه ملاویږی دوی

إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ ﴿٩﴾ وَلَقَدْ

ته مهلت مونږ پخپله نازل کړیدے دا نصیحت او مونږ په خپله د دے حفاظت کوونکی یو او مونږ

أَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ فِي شِيَعِ الْأَوَّلِينَ ﴿١٠﴾ وَمَا يَأْتِيهِمْ

لیږلی دی رسولان ستا نه مخکښے په وړاندے فرقو کښے او نه راتلی دوی ته

مِنْ رَسُولٍ إِلَّا كَانُوا بِهِ يَسْتَهْزِئُونَ ﴿١١﴾ كَذَٰلِكَ نَسْلُكُهُ

یو رسول مګر دوی ورپورے ټوقے کوی دغه شان کینوو

فِي قُلُوبِ الْمُجْرِمِينَ ﴿١٢﴾ لَا يُؤْمِنُونَ بِهِ وَقَدْ خَلَتْ

مونږ دے لره په زړونو د ګنهګارانو کښے یقین نه کوی په دے او دا یو رسم دے

سُنَّةُ الْأَوَّلِينَ ﴿١٣﴾ وَلَوْ فَتَحْنَا عَلَيْهِمْ بَابًا مِنَ السَّمَاءِ

راروان دے د پرومبنو نه او که مونږ پرانزو په دوی دروازه د آسمان

فَظَلُّوا فِيهِ يَعْرُجُونَ ﴿١٤﴾ لَقَالُوا إِنَّمَا سُكِّرَتْ أَبْصَارُنَا

پس دوی پکښے تول ورځ خیژی نو هم به دا اُوائی چه زمونږ سترګے بندے کړے شویدی

ع ۱
بَلْ نَحْنُ قَوْمٌ مَسْحُورُونَ ﴿١٥﴾

دا سے نه ده بلکه یه مونږ جادو شوی یے

**نکات:-** ۱ تمهید سره د ترغیب ۱۲ ۲ ذکر د اصل مقصود ۱۲ ۳ زجر سره د تخویف دُنیوی ۱۲ ۴ تخویف دُنیوی ۱۲ ۵ شکوٰی ۱۲ ۶ جواب شکوٰی ۱۲ ۷ تخویف

ذکر شوے شکوے سره ۱۴
ډنیوی ۱۲ سے ۵ زجر متعلق د ذکر شوے

**موضح قرآن** ف هغے یعنی دا قرآن دچا زړه ؟ نه الله تعالی دا شان آوردی چه سره یو ځائی انکار هم ورځی. هدایت او ګمراهی د هغهٔ په اختیار کښے دی.

**تفسیر:** ۲ھ دا د اصل مقصد د پاره توطیه او تمهید دے. او دیکښے ترغیب ورکړے شوے دے چه په دے سورت کښے کوم بیان کیږی هغه به معمولی خبرے نه وی هغه به ډیر ضروری او اهم وی ددے وجے نه هغه په غور سره واوروئ. حضرت شیخ قدس سرهٔ اوفرمائیل. دکوم سورت په شروع کښے چه تِلْكَ اٰیٰتُ الْكِتٰبِ راغلے وی هلته به الکتاب په معنی د المکتوب سره وی. او مراد به هغه سورت وی یا قرآن. او که چرے د یو سورت په مینځ کښے راشی نو د هغے نه مراد به په قرینه د مقام سره تورات او انجیل یا نور اسمانی کتابونه یا قرآن وی. قاعده خو داده لیکن د سورهٔ حجر په شروع کښے د الکتاب سره قرآن هم راغلے دے. په دے وجه د الکتاب نه تورات او انجیل مراد دے او مطلب دادے چه ددے څخه بیانونه په مخکینو کتابونو کښے نازل شویدی. مثلاً د تخویفِ ډنیوی رومبئ درے نمونے او څخه خبرے دا سے دی دکوم ذِکر چه په مخکینو کتابونو کښے نه دے راغلے. او هغه صرف په قرآن کښے ذِکر شویدی. مثلاً د تخویفِ ډنیوی اخرنئ دوه نمونے. قال مجاهد وقتادة الکتاب هنا ما نزل من الکتب قبل القرآن الخ (روح ص ۱۲ ج ۵)

۳ھ د تمهید نه روستو د اصل مقصود ذِکر اوکړے شو. په سورهٔ ابراهیم کښے د مخکینو امتونو واقعات ذِکر کړے شویدی. دے د پاره چه تاسو د هغے نه عبرت حاصل کړئ. او د عذاب د ویرے نه مسئله اومنئ. په دے وجه اوس وخت دے د ضد او انکار نه منع شئ او مسئله قبوله کړئ. کنی افسوس به کوئ څنګه چه ډیر خلق دا سے شویدی. د مخکینو قومونو کافرانو او مشرکانو چه به کله لیدل چه د کفر او انکار او ضد او عناد په وجه سره په هغوی باندے د الله عذاب نازل شوے او د ایمان والا د هغے نه بچ شویدی. نو هغوی به په حسرت او افسوس سره دا وئیل ارمان چه مونږ هم د توحید مسئله منلے وے نو مونږ به هم نن د عذاب نه بچ پاتے شوے وے لیکن د هغه وخت افسوس سره به هیڅ فائده نه وی.

۴ھ د اصلی مقصود بیانولو نه روستو تر وَمَا یَسْتَاْخِرُوْنَ پورے د زجر او تخویف ډنیوی ذِکر اوکړے شو چه ددے تعلق د سورهٔ ابراهیم د دعوے سره دے یعنی ددی نه د مخکینو قومونو واوروه. دے د پاره چه هغوی په دے سره او ویریږی او د شرک نه توبه اوکړی. اوس تخویفِ ډنیوی واوروئ شو. چه بنه دا که چرے ددی واقعاتو نه عبرت نه اخلی او په ضد او عناد باندے ټینګ ولاړ وی. نو هغوی په خپل حال باندے پریږده. هغوی د دنیا ساز و سامان نه او د قسما قسم خوراکونو او څښاکونو

نه به فائده واخلی او په باطلو اُمیدونو کښې دوبېږی وسره د د حق نه غافل شی چې کله ناساپه زمونږ عذاب راشی، نو دوی ته به د حال حقیقت معلوم شی.

۵ دا تخویف دُنیوی دے. مونږ تراوسه پورے هیڅ یو قوم په عذاب کښې نه دے مُبتلا کړے ترڅو چې مونږ پیغمبر لیږلو سره په هغوی باندے حجت قائم کړے نه دے په دے وجه د هر قوم د هلاکت د پاره یو وخت مقرر کړے شو چې کله چرے هغوی ته زنده منی نو هغوی ته به مُهلت ورکړے شی. دے د پاره چې د سوچ فکر نه کار واخلی او په سمه لاره باندے راتلو موقع اُومومی شی. لیکن چې کله هغوی د مقرر نیټې پورے په انکار او عناد باندے ټینګ پاتے شو نو هغوی هلاک کړے شول. ترننه پورے هیڅ یو قوم د مقرر وخت نه مخکښے نه دے هلاک شوے او نه یو قوم ته د هغې نه روستو مُهلت ورکړے شو. یخبر تعالیٰ انه ما اهلك قرية الا بعد قيام الحجة عليها وانتهاء اجلها وانه لايؤخر امة حان هلاكهم عن ميقاتهم ولا يتقدمون عن مدتهم (ابن کثیر ص۵۴۷ ج۲)

دا د مکے والو د پاره تنبیه ده چې هغوی د انکار او عناد نه منع شی کنې دوی انجام به هم داشان وی. وهذا تنبيه لاهل مكة وارشاد لهم الى الاقلاع عماهم عليه من الشرك والعناد والالحاد الذي يستحقون به الهلاك (ایضاً)

۶ دا شکوی ده. مُشرکانو به د منلو په ځائ اَلټه نبی علیه السلام پورے ټوقے کولے. او نبی علیه السلام ته به یے د لیونتوب طعن ورکولو. او بیا د عناد په طور به یے د هغوی نه مطالبه کوله چې ستا د تصدیق د پاره دِ فرښتے راشی چې په اُوچت اواز سره ستا د رسالت او صداقت اعلان اوکړی. مَا نُنَزِّلُ الْمَلٰٓئِكَةَ دا د شکوے جواب دے د فرښتو نازلیدل زمونږ د حکمتِ بالغه د لاندے کیږی. او د فرښتو په نهٔ نازلیدلو کښے ستاسو خیر دے ځکه چې د فرښتو د راتللو نه روستو به هُم تاسو نه منئ. بیا به فوراً هلاک کړے شئ او هرګز به مُهلت نهٔ شی درکولے. ای لو تنزلت الملائكة تشهد لك فكفروا بعد ذلك لم ينظروا (قرطبی ص۶ ج۱۰)

۷ اِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا... ته تر... سُنَّةُ الْاَوَّلِيْنَ تخویفِ دُنیوی دے. دا اَلذِّكْرَ نه قرآن مجید مراد دے. د نَسْلُكُهٗ ضمیر منصوب استهزاء طرفته راجع دے چې د يَسْتَهْزِءُوْنَ په ضمن کښے ذکر شوی دے. دا قرآن مونږ نازل کړے دے او مونږ ترقیامته پورے د دے حفاظت د هر قسمه تبدیلئ او تحریف نه کوو. دا قرآن تاسو د خپل ځان نه نهٔ دے جوړ کړے. مُشرکان د دے د منلو په ځائ او ستاسو د تصدیق کولو په ځائ اَلټه تاسو ته لیونے وائ او تاسو پورے ټوقے مسخرے کوی. وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا الخ او دا کومه نوے خبره نهٔ ده. ستاسو نه مخکښے قومونو کښے هُم مونږ خپل پیغمبران لیږلی. او په هغوی باندے مونږ صحیفے او کتابونه نازل کړل. وَمَا يَاْتِيْهِمْ الخ او د هغه قومونو سرکش او ضدی خلقو داشان پیغمبرانو پورے ټوقے اُوکړے. كَذٰلِكَ نَسْلُكُهٗ الخ د پیغمبرانو په ذریعه د توحید مسئله واضح کیدل او زمونږ د حجت تمامیدلو نه روستو هُم چې کوم خلق د

فَهُمْ جَبَّارِيْت كړو او په زړونو باندے مونږ. دهغوی په زړونو باندے مونږ. فهرجبّاريت كړو او ضد او عناد په وجه انكار كوی د هغوی په زړونو باندے مونږ. مهر لګولے ده د ے وجے نه هغوی د ایمان په هغوی کښے كفر او شرك او تورتو مسخره ته ځائ ور كوو. د دے وجے نه هغوی د ایمان به هغوی کښے کفر او شرك او تورتو مسخرو ته ځائ ورکوو. او پیغمبرانو پورے تو قے کوی. وَقَدْ خَلَتْ سُنَّةُ الْاَوَّلِيْنَ. او د مخکينو ضدیانو په باره کښے زمونږ دستور نافذ شوی دے. هغوی په دُنیا کښے ډیر سخت عذاب سره ذلیله او رُسوا کُولو سره هلاك کړے شو چه هغوی په دُنیا کښے ډیر سخت عذاب سره ذلیله او رسوا کولو سره هلاك کړے شو او دا انکار نه منع نه شول د هغوی د دے وجے نه د مکے مُشرکان که چرے د ضد او عناد نه او دا انکار نه منع نه شول نو به هُم دا شان انجام سره مخامخ شی. مضت طريقتهم التى سنها الله فى اهلاكهم حين كذبوا رسله وهو وعيد لاهل مكة على تكذيبهم (مدارك ص۲۸ ج۲)

۵ دا زجر دے چه د ذکر شوے شکوے سره متعلق دے. په دیکښے د مُشرکانو د ډیر زیات عناد او الحاد ذکر کړے شوے دے. د مُشرکانو مطالبه وه. که چرے فرښتے د مُحمد صلى الله عليه وسلم د رسالت تصديق اوكړي نو مونږ به يے اُومنو. وے فرمائيل چه د فرښتو نازلول بے فائدے دی، ځکه چه د دے عناد كرو عناد دے حد ته رسیدلے دے چه فرښتے نازلول خو پریږده که چرے مونږ په اسمان کښے یوه دروازه پرانزو او دا مُشرکان په هغے کښے پورته اُوخیژی. او د اسمانونو د بادشاهئ مشاهده په خپلو سترګو اوکړی. هلته فرښتے اووینی او پوره حقیقت واضحه او روښانه د دوی مخے ته راشی. نو هُم داخل ایمان نه راوړی او د ډیر زیات تعصب او عناد د وجے نه به بیا هُم دا وائی چه زمونږ په سترګو باندے پردے پریوتی دی. بلکه په مونږ باندے جادو کړے شوے دے. مونږ ته دا ټول څیزونه په نظر راځی حالانکه په حقیقت کښے هیڅ نشته. لَقَالُوْا لفرط عنادهم وعلوهم فى المكابرة الخ (روح ص۲۰ ج۱۴) ځکه چه په سورة رعد (ع ۴) کښے یے د مُشرکانو عناد او مکابره بیانولو کښے اُوفرمائیل. وَلَوْ اَنَّ قُرْاٰنًا سُيِّرَتْ بِهِ الْجِبَالُ اَوْ قُطِّعَتْ بِهِ الْاَرْضُ اَوْ كُلِّمَ بِهِ الْمَوْتٰى اى لا يؤمنون.

ف حضرت شیخ قدس سرهٔ اُوفرمائیل. تسکیر نه مراد نظربندی ده یعنی په څه څیز باندے داسے اثر اچول چه هغے سره کتونکو ته هغه څیز د خپل حقیقت نه خلاف په نظر راځی مثلاً رسئ یا همسا چه د نظر بندُولو په وجه ټولو کتونکو ته مار په نظر راشی. او د جادو نه مراد دا دے چه مثلاً د یو سړی په سترګو باندے اثر اُوغورزولے شی چه هغے سره هغه سړی ته د مار په شان په نظر راشی. لیکن باقی خلقو ته په اصلی صورت کښے په نظر راشی نو مطلب دا شو چه زمونږ په سترګو باندے پردے اچولے شوی دی. بیا یے ترقی اوکړه او وے وئیل داسے نه ده بلکه خاص په مونږ جادو کړے شوے دے. یا د سُكِّرَتْ اَبْصَارُنَا نه په سترګو باندے جادو کول او د مَّسْحُوْرُوْنَ نه په عقل او پوهه باندے جادو کول مراد دے. یعنی نه صرف زمونږ په سترګو باندے بلکه زمونږ په عقلونو باندے هُم جادو کړے شوے دے چه (عَيَاذًا بِاللهِ) دا بے حقیقته څیزونه مونږ ته واقعی حقیقتونه ښکاری. ويجئ قوله بَلْ نَحْنُ قَوْمٌ مَّسْحُوْرُوْنَ انتقالا الى درجة

عطٰی من سحر العقل (بحر ص۴۹ ج ۵) او په اِنَّمَا سُکِّرَتْ کښې اِنَّمَا معنی مَا اِلَّا نه ده بلکه دا
د مطلق تحقیق او تاکید د پاره دے ځکه چه که چرے د حصر د پاره او منلے شی نو مطلب به
بے وی ماسکرت الا ابصارنا حالانکه دا مطلب صحیح نه دے ځکه چه د اَبْصَارُنَا مقابله
کښې بل یو صحیح احتمال موجود نه دے په دے وجه حصر بے فائدے گرځی.

وَلَقَدْ جَعَلْنَا فِي السَّمَآءِ بُرُوجًا وَّزَيَّنّٰهَا لِلنّٰظِرِيْنَ ﴿١٦﴾

او مونږ جوړ کړی دی په آسمان کښې بُرجونه ﴿۱۷﴾ او ښائسته ورکړیدے مونږ دیته دپاره د کتونکو ﴿۱۸﴾

وَحَفِظْنٰهَا مِنْ كُلِّ شَيْطٰنٍ رَّجِيْمٍ ﴿١٧﴾ اِلَّا مَنِ اسْتَرَقَ

او محفوظ کړیدے مونږ دے لره د هر شیطان مردود نه مگر هغه چه غلا او کړی د

السَّمْعَ فَاَتْبَعَهٗ شِهَابٌ مُّبِيْنٌ ﴿١٨﴾ وَالْاَرْضَ مَدَدْنٰهَا

اوریدو پس په ده پسے شی سکروټه پرقیده ولگے ﴿۱۹﴾ او زمکه مونږ خوره کړه

وَاَلْقَيْنَا فِيْهَا رَوَاسِيَ وَاَنْۢبَتْنَا فِيْهَا مِنْ كُلِّ شَيْءٍ مَّوْزُوْنٍ ﴿١٩﴾ وَجَعَلْنَا

او کیښودل مونږ په دے غرونه او زرغون کړو مونږ په دیکښے هر شے په اندازے سره ﴿۲۰﴾ او جوړ کړل مونږ

لَكُمْ فِيْهَا مَعَايِشَ وَمَنْ لَّسْتُمْ لَهٗ بِرٰزِقِيْنَ ﴿٢٠﴾ وَاِنْ مِّنْ

په دیکښے د ژوند سامان او هغه څیزونه چه تاسو ورله روزی نه ورکوئ ﴿۲۱﴾ او د هر

شَيْءٍ اِلَّا عِنْدَنَا خَزَآئِنُهٗ وَمَا نُنَزِّلُهٗٓ اِلَّا بِقَدَرٍ

شی مونږ سره خزانے دی ﴿۲۲﴾ او نازلوو مونږ ه په اندازه معلوم

مَّعْلُوْمٍ ﴿٢١﴾ وَاَرْسَلْنَا الرِّيٰحَ لَوَاقِحَ فَاَنْزَلْنَا مِنَ

او چلوو مونږ هواگانے داوبو ډکے بیا نازلے کړے مونږ د

السَّمَآءِ مَآءً فَاَسْقَيْنٰكُمُوْهُ وَمَآ اَنْتُمْ لَهٗ بِخٰزِنِيْنَ ﴿٢٢﴾

آسمان نه اوبه بیا مونږ تاسو ته و څښنولے او تاسو سره نشته د دے خزانے ﴿۲۳﴾

وَاِنَّا لَنَحْنُ نُحْيٖ وَنُمِيْتُ وَنَحْنُ الْوٰرِثُوْنَ ﴿٢٣﴾ وَلَقَدْ

او مونږ یو ژوندی کونکی او مړه کونکی او مونږ یو روستو پاتے کیدونکی ﴿۲۴﴾ او مونږ

عَلِمْنَا الْمُسْتَقْدِمِيْنَ مِنْكُمْ وَلَقَدْ عَلِمْنَا الْمُسْتَاْخِرِيْنَ ﴿۲۴﴾

معلوم کړي دي وړاندې کیدونکي ستاسو نه او مونږ معلوم کړي دي روستو پاتې کیدونکي

وَاِنَّ رَبَّكَ هُوَ يَحْشُرُهُمْ ۭ اِنَّهٗ حَكِيْمٌ عَلِيْمٌ ﴿۲۵﴾

او ستا رب به دوی لره راجمع کړي بیشکه هغه دے حکمتونو والا خبردار۔

**نکات:** ـله په توحید باندې دلیلِ عقلی تفصیلی ۲ دویمه دعوی ۱۱

**موضح قرآن** **ف۱** الله تعالیٰ بند یکا نو نه هغه خطاب کوی چه په نجیل عرف کښې هغوی په دې پوهه شي۔ اسمان د مشرق نه تر مغرب پورې او د مغرب نه تر مشرقه پورې دولس ټکرې دے۔ لکه خربوزه هُم دا دولس برجونه دي۔ او نمر د کال په ورځو کښې ټول منزل پوره کوی۔ د گرمۍ او یخنۍ موسم دې سره بدلیږي۔ او گرمۍ سره باران راځي او باران سره دُنیا آبادیږي او ستوري د اسمان ښائست دے۔

**ف۲** د فرښتو مشوره آوریدو د پاره شیطان پیدا ر اوسی۔ اسمان ته نزدې د پورته نه د اُور سکروټې راپریوځي چاچه څه واوریدل هغې په منډه راوړل، او دُنیا ته یې ظاهره کړه۔ یو رښتیا سره یې سل دروغ یوځائ کړل۔ یو خبره خلقو رښتیا اُولیدل له۔ یقین یې اوکړو سل دروغ یې اُولیدل په هغې ځان ناخبره کړو۔

**ف۳** یعنی د حیوانانو روزی۔ **ف۴** یعنی د مخکښې کال د پاره د دُنیا گرد او بخارات بره جمع کیږي چه کله پرې هوا کانې اُوچلیږي۔ نو د اُوبو نه دکې وُریځې جوړې شي۔

**ف۵** یعنی هر څوک مري او د هغه ګټه د الله په لاس کښې پاتې وي۔

**فتح الرحمن** **ف۱** یعنی هر یو قسم د پاره یو صورت او یو صفت دے چه د هغه ځائ نه تجاوز نه کوی ۱۲۔ **ف۲** یعنی غلامان او حیوانات ۱۲

**تفسیر:** **ـله** وَلَقَدْ جَعَلْنَا ... نه تر ... مِنْ نَّارِ السَّمُوْمِ په توحید باندې مفصّل دلیلِ عقلی دے۔ اِلَّا مَنِ اسْتَرَقَ السَّمْعَ مستثنیٰ منقطع ده۔ دے دلیل سره دوه دعوې ثابتې شوې۔ اول دا چه د هر څه کولو والا او په ټولو کائناتو کښې متصرّف او مختار صرف الله تعالیٰ دے۔ دا دلیل د شروع نه تر وَ نَحْنُ الْوٰرِثُوْنَ پورې ذکر شویدې۔ دې فرمائیل پورته مونږ اسمان پیدا کړو او د ملأ اعلیٰ (فرښتو) راز نه یې د شیطانانو نه محفوظ کړل۔ حکمته یې زمکه پیدا کړه په هغې کښې یې غرونه پیدا کړل۔ او په هغې کښې یې هر څیز په اندازه سره پیدا کړو۔ او په د یکښې یې د ټولو انسانانو د پاره د رزق بیشماره وسائل پیدا کړل۔ وَمَنْ لَّسْتُمْ لَهٗ بِرٰزِقِيْنَ۔ هغه معلوم خلق غلامان، بال بچ او حیوانات مراد دي۔ دے ټولو ته رزق تاسو نه ورکوئ۔ بلکه ټولو ته صرف الله روزی ورکوی۔

**الا** حرف نفي او حرف استثناء مفيد د حصر دے يعني د هر څيز خزانے او ذخيرے صرف زمونږ په علم او زمونږ په اختيار او تصرف کښے دي. باران، رزق، صحت، دولت، اولاد، آرام او راحت غرض دا چه هر څيز زمونږ په تصرف کښے دے او د دے خزانو نه مونږ د خپل کامل حکمت مطابق څومره غواړو او چاته غواړو نازلوو په دیکښے د بل هیچا هیڅ دخل نشته. وَاَرْسَلْنَا الرِّيٰحَ الخ مونږ هوا ګانے الوځوو چه په خپله خپله کښے د اوبو نه ډکے وريځے راپورته کړي وي. د هغے نه باران اوورو او مونږ تاسو او ستاسو څاروي او ستاسو زمکے خړوب کړو. وارسلنا الريح حوامل بالسحاب لانها تحمل السحاب في جوفها (مدارک ص۲۰۱ ج ۲)، وَمَآ اَنْتُمْ الخ خطاب جنس مخلوق ته دے يعني اے انسانانو، فرښتو او پيريانو ستاسو نه هيڅوک هم د اوبو خازن او د هغے نازلولو کے نشته. وَاِنَّا لَنَحْنُ نُحْيِيْ پيدا کول او وژل زمونږ په اختيار کښے دي او چه کله ټول مخلوق ختم شي هغه وخت به صرف يو د خدائ ذات باقي وي. په دے ايت کښے نَحْنُ ضمير فصل د حصر فائده ورکوي. د دے پورته ذکر شوو ټولو خبرو نه معلومه شوه چه هر څه کولو والا صرف الله تعالیٰ دے بل څوک نه دے.

**ﷲ** دا دويمه دعوي ده يعني په هر څه عالم صرف الله تعالیٰ دے بل څوک نه دے څکه چه المستقدمين او المستاخرين جميع ما کان وما يکون نه کنايه ده. په دے کښے به هم حصر وي. څکه چه د دليل په اولنو حصتو کښے حصر دے. وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ الخ دا هم د دليل حصر حصه ده. اے انسانه! لږ شان خپل حقيقت ته خو اوګوره چه ته مونږ د يو بد بوئيه خټے نه پيدا کړے. او د ټولو ظاهري او باطني انعاماتو بلان هم په تا اوکړو. ليکن بيا هم ته سرکشي کوے. د توحيد نه مخ اړوے او د پيغمبرانو نه انکار کوے او د کومو شيطانانو ګمراه کولو سره چه ته شرک کوے او توحيد نه منے د هغوي پيدائش ته هم اوګوره چه دا ټول پيريان دي او د سوزونکي اور نه پيدا شويدي. دا شيطانان د ابليس اولاد دے چه ستاسو څخوانے او دنيکه دشمن دے په دے وجه د دوي تابعداري مه کوئ. تاسو ته مونږ د عقل او فکر په شان نعمتونه درکړي دي او هر قسمه دلائل مو بيان کړيدي. د دے وجے نه لږ شان غور خو اوکړئ ستاسو په پوهه کښے به راشي چه د الله د توحيد يوه حقه مسئله ده. نَارِ السَّمُوْمِ کښے اضافت بيانيه دے. السَّمُوْمُ هغه اور چه ډير زيات ګرم وي چه د هغے ګرموالے د بدن مساماتو (دوبښتو سوړو) نه فورًا ننوځي. من نار الحر الشديد النافذ في المسام الخ (ابوالسعود ص۲۹۲ ج ۵) يا اضافت د موصوف دے صفت ته يعني اور سوزونکے.

وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ مِنْ صَلْصَالٍ مِّنْ حَمَاٍ

او جوړ کړو مونږ | بنيادم لره | د | کړنګيدونکے خميره | شوے

مَّسْنُوْنٍ ﴿٢٦﴾ وَالْجَآنَّ خَلَقْنٰهُ مِنْ قَبْلُ مِنْ نَّارِ

د تبې د منځکښې د دے نه
خټې نه ف۱ او پیرې مو جوړ کړو

السَّمُوْمِ ﴿٢٧﴾ وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلٰٓئِكَةِ إِنِّيْ خَالِقٌ بَشَرًا

زۀ جوړوونکے یم بشر فرښتو ته
اُور نه ف۲ او هر کله چه اووئیل ستا رب

مِّنْ صَلْصَالٍ مِّنْ حَمَاٍ مَّسْنُوْنٍ ﴿٢٨﴾ فَإِذَا سَوَّيْتُهٗ وَ

بیا چه کله برابر کړم دے او ف۳ نه خټې شوے خمیره
د کړنګېدونکې

نَفَخْتُ فِيْهِ مِنْ رُّوْحِيْ فَقَعُوْا لَهٗ سٰجِدِيْنَ ﴿٢٩﴾ فَسَجَدَ

نو پرېوځئ ده ته سجده کوونکي ف۴ پس سجده
پوکړم په ده کښې د خپل روح نه

الْمَلٰٓئِكَةُ كُلُّهُمْ أَجْمَعُوْنَ ﴿٣٠﴾ إِلَّآ إِبْلِيْسَ أَبٰٓى أَنْ

اُو نه منله چه شي ابلیس مګر
اوکړه دے فرښتو ټولو په جمع سره ف۵

يَّكُوْنَ مَعَ السّٰجِدِيْنَ ﴿٣١﴾ قَالَ يٰٓإِبْلِيْسُ مَا لَكَ أَلَّا تَكُوْنَ

اُوفرمائیل اے ابلیسه! څه او شو تا لره چه نه شوے د
سجده کوونکو سره

مَعَ السّٰجِدِيْنَ ﴿٣٢﴾ قَالَ لَمْ أَكُنْ لِّأَسْجُدَ لِبَشَرٍ خَلَقْتَهٗ

وے وئیل چه زۀ هغه نه یم چه سجده اوکړم یو بشر ته ف۶ کوم چه تا
سجده کوونکو سره

مِنْ صَلْصَالٍ مِّنْ حَمَاٍ مَّسْنُوْنٍ ﴿٣٣﴾ قَالَ فَاخْرُجْ مِنْهَا

وے فرمائیل نو اُوځه د دے ځائ نه
جوړ کړو د کړنګېدونکې خمیره شوے خټې نه

فَإِنَّكَ رَجِيْمٌ ﴿٣٤﴾ وَّإِنَّ عَلَيْكَ اللَّعْنَةَ إِلٰى يَوْمِ الدِّيْنِ ﴿٣٥﴾

ته رټلے شوے یې ف۷ او په تا باندے لعنت دے
تر ورځې د انصاف پورے

قَالَ رَبِّ فَأَنْظِرْنِيْٓ إِلٰى يَوْمِ يُبْعَثُوْنَ ﴿٣٦﴾ قَالَ فَإِنَّكَ

وے وئیل اے ربه! ما ته مهلت راکړے تر هغه ورځې پورے چه مړي ژوندي شي. وے فرمائیل پس

مِنَ الْمُنْظَرِيْنَ ﴿٣٧﴾ إِلٰى يَوْمِ الْوَقْتِ الْمَعْلُوْمِ ﴿٣٨﴾

تا ته مهلت درکړے شو.
تر مقرر وخت د ورځې پورے

قَالَ رَبِّ بِمَآ اَغْوَيْتَنِىْ لَاُزَيِّنَنَّ لَهُمْ فِى الْاَرْضِ

وے وئیل اے ربه خُنگه چه تا زهٔ بے لارے کړم زهٔ به هُم دوئ ټولو ته ښهارونه ښایم په زمکه کښې

وَلَاُغْوِيَنَّهُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿۳۹﴾ اِلَّا عِبَادَكَ مِنْهُمُ الْمُخْلَصِيْنَ ﴿۴۰﴾

او بے لارے کوم به دوئ ټولو له مګر چه کوم ستا مخلص بندګان دی

قَالَ هٰذَا صِرَاطٌ عَلَىَّ مُسْتَقِيْمٌ ﴿۴۱﴾ اِنَّ عِبَادِىْ لَيْسَ

وے فرمائیل دا لاره ده ماته برابره سیده ف کوم چه زما بندګان دی ستا به

لَكَ عَلَيْهِمْ سُلْطٰنٌ اِلَّا مَنِ اتَّبَعَكَ مِنَ الْغٰوِيْنَ ﴿۴۲﴾

هغوی باندے څهٔ زور/ نشته مګر کوم چه ستا تابعداری وکړی بے لارے شوو نه

وَاِنَّ جَهَنَّمَ لَمَوْعِدُهُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿۴۳﴾ لَهَا سَبْعَةُ

او دوزخ ځائے د وعدے دے د دوئ ټولو د دے او وهٔ

اَبْوَابٍ لِكُلِّ بَابٍ مِّنْهُمْ جُزْءٌ مَّقْسُوْمٌ ﴿۴۴﴾ ع

دروازے دی هرے دروازے دپاره به دوی کښے یوه فرقه ده تقسیم شوے وی

**نکات:** - سا تخویف اُخروی ۱۲

**موضح قرآن**

ف۱ خاوره بے په اوبو لوند کړه او خمیره بے جوړه کړه چه ټنګاریے کولو هُم دا د انسان بدن شو- د دے خاصیتونه به ده کښے پاتے شول سختی او بوجه (درونـد والے) دا شان د ګرمے هوا خاصیتت د پیریانو به بیں الش کښے پاتے شو-

ف۲ یعنی نرم اُور او هوا سره ګډ شوی نه پیدا شو ابلیس هُم د دے قسم نه دے

ف۳ بشر هغه دے چه بدن لری چه په لاس سره اُونیولے شی او روح پکښے وی. تیر شوے مخلوق یا حیوان وُو چه عقل پکښے نه وُو یا جن وُو چه د هغوی بدن نه شو نیولے ۱۲ منه

ف۴ خپل روح یعنی په خاص کښے نمونه ده د الله د صفاتو د علم او تدبیر او هغه یادونکے دے او د خصوصی لطافت په سبب د الله سره تعلق لرونکے دے ۱۲ منه

ف۵ شاید چه هُم دا مراد وی چه د اُور په لمبه ویشتلے شی- او د زمکے نه یے اوویستهٔ چه انسانان پکښے آباد شی ۱۲ منه

ف۶ یعنی بندګی د الله تعالیٰ برابره لاره ده او شیطان په دوی غلبه نهٔ مُوندی ۱۲ منه رحمه الله

**ف** ځکه چه د جنت آته دروازے دی په نیکو عملونو کوُنکو باندے تقسیم کړے شوے. داشان د دوزخ اووه دروازے دی په بدو عملونو کوُنکو باندے تقسیم کړے شوے. شاید چه د جنت یوه دروازه زیاتی هغه ده چه ځینے خلق به په فضل د الله سره ځی بغیر د عمل نه په باقی عمل کښے دروازے برابر دی.

**تفسیر:- ۲۸** دے قصے سره د ادم اود اولاد د ادم علیه السلام او د ابلیس او د هغه د اولاد تر منځ دُشمنی بیانول مقصود دی. دے د پاره چه د ادم اولاد هغه دُشمنان اُوګنړی او د هغه په دهوکه کولو او غُلولو کښے رانشی. دا قصه چه مخکښے هم چرته ذکر شوی د هغے نه به هم دا مقصود وی. الله تعالیٰ فرشتو ته اُوفرمائیل چه زهٔ ادمؑ د خاؤرے نه پیدا کوُنکے یم چه کله زهٔ د هغهٔ جسمانی نقشه او اندامونه مکمل کړم اوزهٔ په هغهٔ کښے روح واچوم، نو تاسو ټول د هغهٔ په مخکښے په سجده پریوځئ. روح د الله تعالیٰ مخلوق دے چه دیدن د ژوند عادی سبب دے. د روح اضافت الله تعالیٰ طرفته د اظهارِ شرافت د پاره دے. والروح جسم لطیف اجری الله العادة بان یخلق الحیوة فی البدن مع ذلك الجسم وحقیقته اضافة خلق الی خالق فالروح خلق من خلقه اضافه الی نفسه تشریفًا وتکریمًا (قرطبی ص۲۳ ج۱۰)

**۳۰** ټولو فرشتو ادمؑ ته سجده اوکړه. لیکن ابلیس د سجدے کولو نه انکار اوکړو په دے وجه د ادمؑ سره د هغهٔ دُشمنی ظاهره ده. اِلَّآ اِبْلِيْسَ مستثنیٰ منقطع ده ځکه چه ابلیس فرشته نهٔ وه بلکه پیرے وُو ځکه چه په سورهٔ کهف (ع۷) کښے دی. كَانَ مِنَ الْجِنِّ فَفَسَقَ عَنْ اَمْرِ رَبِّهٖ. په دے باندے اعتراض راځی چه کهٔ چرے ابلیس فرشته نهٔ وه نو سجده نهٔ کولو سره ولے نافرمانه اُوګرځولے شو. ځکه چه د سجدے حُکم خو فرشتو ته ورکړے شوے وُو. نو د دے جواب دا دے چه ابلیس چونکه فرشتو سره اُوسیدهٔ او د ژُهد او عبادت په وجه سره په مرتبه کښے د فرشتو نه هم اُوچت وُو. په دے وجه تغلیبًا هغه هُم په فرشتو کښے شمار کړے شو. دا شان فرشتو سره هغهٔ ته هُم حُکم وُو. کان جنیًا مفردًا مغمورًا بالوف من الملائکة فعدمنهم تغلیبًا (روح ص۲۶ ج۱۴) حضرت شیخؒ فرمائی. چه ابلیس ته هُم باقاعده د سجدے حکم شوے وُو. ځکه چه د الله تعالیٰ ارشاد دے. يٰٓاِبْلِيْسُ مَا مَنَعَكَ اَنْ لَّا تَسْجُدَ اِذْ اَمَرْتُكَ (اعراف ع۲) لیکن دلته په تعبیر کښے د هغهٔ ذکر پرینسودے شو. لکه چه یو واعظ اووائی چه ما د فلانی ښار والو ته د توحید مسئله بیان کړه نو هغوی اُومنله لیکن د فلانی ښار خلقو اُونهٔ منله. دلته هغهٔ د دویم ښار والو ته د وعظ کولو ذکر حذف کړو دا شان دلته هُم ابلیس ته د سجدے کولو حُکم په تعبیر کښے حذف کړے شویدے.

**۳۳** ابلیس جواب ورکړو چه کوم بشر تا د خاؤرے نه پیدا کړیدے هغهٔ ته سجده کول خما د شان سره مناسب نهٔ وُو ځکه چه تا زهٔ د اُور نه پیدا کړے یم او اُود په

هر حال کښې د خاورې نه بهتر او اعلیٰ دے. اراد ابلیس انه افضل من ادم لان ادم طینی الاصل و ابلیس ناری الاصل والنار افضل من الطین (خازن ص۹۶ ج۴) او دے نه معلومه شوه چه ابلیس د ټولو نه رومبے کس دے چا چه بشر ته په سپک نظر سره اوکتل دے نه پس په هره زمانه کښې هغه مشرکانو ټے لاس کړل او د بشر د حقیر کید و خیال یے د هغوی په زړونو کښے واچولو. الله تعالیٰ ابلیس ته د نافرمانئ او د بشر د تحقیر کولو دا سزا ورکړه چه د هغه نوم یے د فرښتو د فهرست نه بهر کړو. تر قیامته پورے یے ملعون او غضب کړے شوے اوګرځولو.

۱۶ه بِمَا اَغْوَيْتَنِي کښے ما مصدریه دے. ابلیس اوویل څما پروردګاره! تا خوزه د خپل بارګاه نه اوشړلم. اوس به زهٔ هم ستا د بندګانو په ګمراه کولو کښے هیڅ کمے نهٔ کوم. اوخراب او د بیحیایئ او ناجائز کارونه به هغوی ته ډیر زیات خائسته کړم او هغوی ته به یے پیش کړم چه هغوی به پخپله د هغے طرفته مائل شي. اِلَّا عِبَادَكَ الخ لیکن ستا هغه مخلص بندګان به ګمراه نه کړے شم. څوک چه تا د خپل خالص عبادت او اطاعت د پاره غوره کړل. په یو قرأت کښے الْمُخْلِصِيْنَ په صیغه د اسم فاعل سره دے یعني څوک چه خالص ستا د رضا طلب کولو د پاره نیک کار کوي او د هغوی عملونه د ښکاره او پټ شرك نه پاك وي. ای الذین اخلصوا العمل لك ولم یشرکوا معك فیه احدًا (روح ص۵۰ ج۱۴)

۱۷ه هٰذَا سره اخلاص طرفته اشاره ده چه د الْمُخْلَصِيْنَ صیغه د اسم فاعل په ضمن کښے ذکر شوے دے یعني په عبادت او عمل کښے اخلاص او د شرك او ریا کارئ نه تبرّی هغه سمه لاره ده چه ما ته پورے رسیدلے شي. او د ابلیس او د هغه اولاد د ګمراه کولو نه څما بندګان به حفاظت کښے ساتلے شي. په دے صورت کښے به عَلَيَّ په معنیٰ د اِلَيَّ وي. وقال الحسن معنی علیّ الیّ (بحر ص۴۵۳ ج۵) قال الحسن معناه هذا صراط الیّ مستقیم (خازن ص۶۷ ج۳) والمعنی ان الاخلاص طریق ویؤدی الی کرامتي ورضواني (ایضًا) هٰذَا سره ذکر شوي مضمون طرفته اشاره ده. یعني دا څما دستور دے چه زهٔ به د هغے رعایت کوم چه ته به څما مخلص بندګان ګمراه نه کړے شے. او تا ته به په هغوی باندے غلبه نصیب نهٔ شي. دا معنیٰ به په اول قرأة یعني المخلَصین د اسم مفعول صیغے په صورت کښے وي. والاشارة الی ما تضمنه الاستثناء وهو تخلیص المخلصین من اغوائه (ابوالسعود ص۶۱۲ ج۵)

۱۸ه دا تخویف اُخروي دے. ابلیس او د هغه اولاد او د آدمؑ د اولاد نه چه څوك د هغه تابعداري کوي. د هغوی ټولو ځائ به په جهنم کښے وي. یعني ابلیس ومن تبعه (قرطبی ص۳۰ ج۱۰)

٭ ٭ ٭

إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي جَنّٰتٍ وَّعُيُونٍ ﴿٤٥﴾ اُدْخُلُوهَا بِسَلٰمٍ
بیشکه پرهیزګاران په باغونو او چینو کښے دی (ویلے به شی دوی ته) داخل شئ دغه

اٰمِنِينَ ﴿٤٦﴾ وَنَزَعْنَا مَا فِي صُدُورِهِمْ مِّنْ غِلٍّ
په سلامتی په خاطر جمعئ سره او اوویستل مونږ هغه چه د دوی په سینو کښے ؤ د خفګان

إِخْوَانًا عَلٰى سُرُرٍ مُّتَقٰبِلِينَ ﴿٤٧﴾ لَا يَمَسُّهُمْ فِيهَا
رونړه شول به تختونو ناست یو بل ته مخامخ وی او به نه رسی دوی ته هلته

نَصَبٌ وَّمَا هُمْ مِّنْهَا بِمُخْرَجِينَ ﴿٤٨﴾ نَبِّئْ عِبَادِيْ
څه تکلیف او نه به د هغه ځای نه اوویستلے شی خبر واوروه ځما بندګانو ته

أَنِّيْ أَنَا الْغَفُورُ الرَّحِيمُ ﴿٤٩﴾ وَأَنَّ عَذَابِيْ هُوَ
چه زه یم اصلی بخښنے والا مهربانه ذات او دا هم چه ځما عذاب هغه

الْعَذَابُ الْأَلِيمُ ﴿٥٠﴾ وَنَبِّئْهُمْ عَنْ ضَيْفِ إِبْرٰهِيمَ ﴿٥١﴾
عذاب دردناک دے وی او حال واوروه دوی ته د ابراهیمؑ د میلمنو له

إِذْ دَخَلُوا عَلَيْهِ فَقَالُوا سَلٰمًا قَالَ إِنَّا مِنْكُمْ وَجِلُونَ ﴿٥٢﴾
چه کله راغلل دده کورته او وے ویل سلام هغه او ویل مونږ ته ستاسو نه ویره ده وی

قَالُوا لَا تَوْجَلْ إِنَّا نُبَشِّرُكَ بِغُلٰمٍ عَلِيمٍ ﴿٥٣﴾ قَالَ
وے ویل ویریږه مه مونږ تاله زیرے درکوو د یو هوښیار هلک وے ویل

أَبَشَّرْتُمُونِيْ عَلٰى أَنْ مَّسَّنِيَ الْكِبَرُ فَبِمَ تُبَشِّرُونَ ﴿٥٤﴾
آیا زیرے راکوئ ما ته په داسے حال کښے چه ورسیدو ما ته بوډاوالے پس د څه زیرے راکوئ

قَالُوا بَشَّرْنٰكَ بِالْحَقِّ فَلَا تَكُنْ مِّنَ الْقٰنِطِينَ ﴿٥٥﴾
وے ویل مونږ تا ته زیرے درکوو په حقه سره پس ته مه کیږه د نا امیدو نه

قَالَ وَمَنْ يَّقْنَطُ مِنْ رَّحْمَةِ رَبِّهٖٓ إِلَّا الضَّآلُّونَ ﴿٥٦﴾
وے ویل او نه نا امیده کیږی د رحمت د رب خپل نه مګر هغه څوک چه ګمراهان دی وی

قَالَ فَمَا خَطْبُكُمْ اَيُّهَا الْمُرْسَلُوْنَ ﴿۵۷﴾ قَالُوْٓا اِنَّآ اَرْسِلْنَآ
وے وئیل بیا نخهٔ مهم دے ستاسو اے دالله رالیږلے شوؤ وئے وئیل مونږ رالیږلے شوی یو
اِلٰى قَوْمٍ مُّجْرِمِيْنَ ﴿۵۸﴾ اِلَّآ اٰلَ لُوْطٍ ؕ اِنَّا لَمُنَجُّوْهُمْ
یو قوم گنهگار ته مگر د لوط کور والا مونږ به هغوی بچ کړو
اَجْمَعِيْنَ ﴿۵۹﴾ اِلَّا امْرَاَتَهٗ قَدَّرْنَآ ۙ اِنَّهَا لَمِنَ الْغٰبِرِيْنَ ﴿۶۰﴾
ټولو سره مگر بوره دهغهٔ بی بی مقرر کړې ده مونږ هغه ده په پاتے کیدونکو کښے ۵ف

**نکات:** ۱ بشارتِ اُخروی ۲ دتخویفِ دُنیوی دیخو نمونو نه اوله نمونه ۱۲

**موضح قرآن** ف۱ په سلامتیا سره یعنی هیڅ قسمه بے آرامی به نهٔ وی یا په سَلَامٌ عَلَيْكَ سره چه فرشتے به ئے هغوی ته وائی ۱۲ منه

ف۲ یعنی په دُنیا کښے چه کوم کینه، خفگان په خپل مینځ کښے وُو زړونه ئے بیوس نه صفا شول. دینه معلومه شوه چه هرکله د دوؤکسانو په مینځ کښے خفگان راشی شی او دواړه جنتیان دی لکه د نبی علیه السلام صحابه.

ف۳ مخکښے ئے قصه بیان کړه چه یو ځل فرښتے راغلے یو ځائ کښے ئے زیرے ورکولو او بل ځائ کښے ئے کانړی ورول دے دپاره چه دواړه صفتونه پوره دی او بنده دِ نه زړهٔ ور کیږی او نهٔ دِ نا اُمیده کیږی

ف۴ په ظاهر کښے د ویرے څهٔ سبب نهٔ وو او دے سره چه د ادب کوم حکم وُو. د ابراهیم علیه السلام په زړهٔ باندے دهغے اثر پریوت. د زړهٔ په صفائی سره دا کیږی

ف۵ معلومه شوه چه کامل هم په ظاهری اسبابو خبره کوی. ف۶ دعذاب نه بے ویرے کیدل او د فضل نه نا اُمیدی دواړه دکُفرخبرے دی. یعنی د مخکښے خبر الله نه دے. په بره خبره باندے دعوی کول او دا ئے یقین لرل چه نه کیږی دا د کُفرخبره ده. لیکن د زړهٔ په خیال باندے هیڅ نیول نشته چه کله په ځله دعوی اوکړی نو گنهگار کیږی.

ف۷ هغه ښځه په زړهٔ کښے منافقه وه. لیکن الله تعالیٰ بغیر د ظاهری گناه نه عذاب نهٔ ورکوی. یو حُکم ئے داسے راؤلیږلو چه هغے نه پوره نهٔ شو هغه دا چه شا ته په نه کوری بیا ئے په دے گناه باندے عذاب ورکړو.

**تفسیر:** **قوله** دا د شِرک او بیحیائی نه ځان ساتونکو دپاره زیرے دے اُدْخُلُوْهَا د دے نه مخکښے یقال لهم محذوف دے. یعنی هغوی ته به وئیلے شی چه جنتونو ته په سلامتیا او امن سره داخل شئ. وَنَزَعْنَا الخ د مؤمنانو به مینځ کښے په دُنیا کښے چه کومے جگړے شوے دی او دهغے په وجه چه د هغوی په زړونو کښے د ټیوبل

په جنتونو کښې به زړونه دواړې سره د بغض او ناراضتیا کوم چه بات پیدا شوی دی. په جنتونو کښې به زړونه دواړې سره د بغض او ناراضتیا نه پاك صفا کړې شي- او د دوی زړونو پریشان تولو چه باتونه او د بغض او دُ ښمنیٔ نه پاك صفا کولے شي. لَا يَمَسُّهُمْ الخ دُنیا د مؤمن به یو بل ته مخامخ کیني- او د مینې محبت خبرې به کوی. لَا يَمَسُّهُمْ الخ دُنیا د مؤمن د پاره د محنت او مشقت او د امتحان او ازمائښت ځائ دے. لیکن هغه د پاره به جنت تول د آرام او راحت او تهول د عیش مقام وی- او هلته به هیڅ یو تکالیف هغه ته نزدے هم نه راځی او هغه به په دیکښې همیشه اوسی. او هغه هیڅکله د د ته نه شي ویستلے.

**۲۰ه** خما بندګان خبر کړه چه هغوی نا اُمیده نه شي ځکه چه زهٔ معاف کوونکے او مهربان یم لیکن هغوی ته دا هم اووایه چه هغوی نا اُمیده نه شي او د مغفرت پیش نظر خما په نافرمانو باندے زړور نه شي ځکه چه زهٔ عذاب هم ورکولے شم او خما عذاب به ډیر زیات سخت وی.

**۲۱ه** دا د سورت د شروع سره متعلق دے د سورت په شروع کښې یې اُوفرمائیل چه مسئله اُومنئ کنی خما عذاب به راشي او د مخکینو معاندینو اُمتونو پشان به افسوس کوئ. او س دلته د تخویفِ دُنیوی پنځه نمونے بیانولے شی- درے د مخکینو اُمتونو نه او دوه د ملے د مشرکانو- دا د رومبئ نمونے تمهید دے. قَالَ اِنَّا مِنْكُمْ وَجِلُوْنَ نه مخکښې ادماج دے. یعنی فرښتو د راتلو سره سلام واچولو حضرت ابراهیم علیه السّلام د سلام جواب ورکړو- او فورًا یا سیدل د ننه کور ته لاړل- او میلمنو د پاره یې غوښے حلال کړو او وُریت کړے یې راوړلو چه کله یې اُولیدل چه هغوی خوراك ته لاس نهٔ وړی نو وے فرمائیل. مونږ خوستاسو نه ویریږو- والی لکه ځنګه چه مسلسل قصه په سورهٔ هود او ذاریات وغیره کښې ذکر شوی ده- مختصر دا چه فرښتو ابراهیم علیه السلام ته د ځوئ زیرے ورکړو په هغې باندے ابراهیمؑ د تعجب اظهار اوکړو چه په دے بوډا والی کښې ځوئ؟ قَالُوْا بَشَّرْنٰكَ بِالْحَقِّ الخ فرښتو اووئیل چه مونږ تا ته د یقینی خبرے زیرے درکړو. او دا شان به ضرور کیږی.

**۲۲ه** قَالَ فَمَا خَطْبُكُمْ ... نه تر ... اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لِّلْمُؤْمِنِيْنَ (۵۶) دا د تخویفِ دُنیوی اوله نمونه ده- د لوط علیه السّلام قصه خپل واقعی ترتیب سره په سورهٔ هود کښې ذکر شوې ده- دلته د قصے په مختلفو حصو کښې مخکښې ولے روستو والے دے. فَلَمَّا جَآءَ اٰلَ لُوْطِ ِالْمُرْسَلُوْنَ دا د قصے رومبئ حصه ده. قَالُوْا بَلْ جِئْنٰكَ الخ نه مخکښې حذف دے- ای ماجئناك لضرك یعنی مونږ تا له څهٔ قسم نقصان رسولو د پاره نهٔ یو راغلی. بلکه مونږ ستا سرکش قوم ته هغه عذاب ورکولو د پاره راغلی یو- د کوم نه چه تا هغوی ویرول- او د کوم په راتلو کښې چه هغوی شك کولو. فَاَسْرِ بِاَهْلِكَ. لِهٰذَا نه خپل بال بچ او مؤمنان ځان سره کړه او د شپې د بار نه اُوځه. ځکه چه صبا ختلو سره به دا سرکشه قوم هلاك کړے شي. د فرښتو دا جواب او

کلام د قصے په ترتیب کښے روستو دے. ځکه چه فرشتو د دے خبر سره اظهار د قوم د
زیارت نه روستو کړے وو. وَقَضَیْنَآ اِلَیْهِ الخ دا ادخال الهی دے.

فَلَمَّا جَآءَ اٰلَ لُوْطِ ِالْمُرْسَلُوْنَ ﴿۶۱﴾ قَالَ اِنَّكُمْ قَوْمٌ

بیا چه کله اورسیدل د لوط کور ته هغه لیږلے شوی وے وئیل تاسو خلق یئی

مُّنْكَرُوْنَ ﴿۶۲﴾ قَالُوْا بَلْ جِئْنٰكَ بِمَا كَانُوْا فِیْهِ یَمْتَرُوْنَ ﴿۶۳﴾

نا اشنا وے وئیل دا سے نه ده بلکه راوړی دی مونږ تا ته هغه شے چه دوی پکښے جګړه کوله

وَاٰتَیْنٰكَ بِالْحَقِّ وَاِنَّا لَصٰدِقُوْنَ ﴿۶۴﴾ فَاَسْرِ بِاَهْلِكَ

او مونږ راوړی دی تا ته پخه خبره او مونږ رښتیا وایو پس بوځه خپل کور والا

بِقِطْعٍ مِّنَ الَّیْلِ وَاتَّبِعْ اَدْبَارَهُمْ وَلَا یَلْتَفِتْ مِنْكُمْ

په یوه حصه د شپے کښے او ته ځه دوی پسے روستو او پښا دِ نه ګوری ستاسو نه

اَحَدٌ وَّامْضُوْا حَیْثُ تُؤْمَرُوْنَ ﴿۶۵﴾ وَقَضَیْنَآ اِلَیْهِ ذٰلِكَ

هیڅوك او ځئی کوم ځای ته چه در ته حکم شوے دے او مقرر کړه مونږ ده ته دا

الْاَمْرَ اَنَّ دَابِرَ هٰٓؤُلَآءِ مَقْطُوْعٌ مُّصْبِحِیْنَ ﴿۶۶﴾ وَجَآءَ

خبره چه د دوی جرړه به پریکړے شی په وخت د صبا کیدو کښے او راغلل

اَهْلُ الْمَدِیْنَةِ یَسْتَبْشِرُوْنَ ﴿۶۷﴾ قَالَ اِنَّ هٰٓؤُلَآءِ ضَیْفِیْ

د ښار خلق خوشحالی کونکی کله لوط او وئیل دا خلق زما میلمانه دی.

فَلَا تَفْضَحُوْنِ ﴿۶۸﴾ وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَلَا تُخْزُوْنِ ﴿۶۹﴾ قَالُوْٓا

پس ما مه رسوا کوئ او ویره اوکړئ د الله نه او ما مه شرمنده کوئ وے وئیل

اَوَلَمْ نَنْهَكَ عَنِ الْعٰلَمِیْنَ ﴿۷۰﴾ قَالَ هٰٓؤُلَآءِ بَنٰتِیْٓ اِنْ

آیا مونږ ته نه یے منع کړے د دنیا د خلقو د حمایت نه. وے وئیل دا حاضرے دی زما لونړه

كُنْتُمْ فٰعِلِیْنَ ﴿۷۱﴾ لَعَمْرُكَ اِنَّهُمْ لَفِیْ سَكْرَتِهِمْ یَعْمَهُوْنَ ﴿۷۲﴾

که چیرے تاسو ځه کول غواړئ هله قسم دے ستا د ځان کله چه دوی په خپله مستئ کښے بیهوشه دی وه

فَاَخَذَتْهُمُ الصَّيْحَةُ مُشْرِقِيْنَ ﴿۷۳﴾ فَجَعَلْنَا عَالِيَهَا سَافِلَهَا

پس ونیوله دوی لره چغې په وخت د نمر ختلو کښې ۱ بیا کړو موږ دغه کلي پورته ښکته

وَاَمْطَرْنَا عَلَيْهِمْ حِجَارَةً مِّنْ سِجِّيْلٍ ﴿۷۴﴾ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ

او اووروَل موږ په هغوی باندې کاڼړي د قرزط ف۲ بیشکه په دغه

لَاٰيٰتٍ لِّلْمُتَوَسِّمِيْنَ ﴿۷۵﴾ وَاِنَّهَا لَبِسَبِيْلٍ مُّقِيْمٍ ﴿۷۶﴾ اِنَّ فِيْ

کې نښې دي د فکر کوونکو د پاره او دغه کلي واقع دی په نیغه لاره کې بیشکه په

ذٰلِكَ لَاٰيَةً لِّلْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۷۷﴾ وَاِنْ كَانَ اَصْحٰبُ الْاَيْكَةِ

دغه کښې نښه دي د ایماندارو د پاره ف۳ او په تحقیق سره د بڼ اوسیدونکي ف۴

لَظٰلِمِيْنَ ﴿۷۸﴾ فَانْتَقَمْنَا مِنْهُمْ وَاِنَّهُمَا لَبِاِمَامٍ مُّبِيْنٍ ﴿۷۹﴾ ع

ظالمان ګنهګار پس موږ بدله واخستله د دوی نه او دا دواړه کلي واقع دي په ښکاره لاره ف

نکات:- ۱ واؤ د پاره د مطلق جمع ۱۲ ۲ ادخال الهی ۱۲ ۳ د تخویف دنیوی دویم نمونه ۱۲

**موضح قرآن**

ف۱ یعنی موږ انسانان نه یو فرښتې یو قوم ته موعود عذاب راوړی دی
ف۲ د لته الله تعالیٰ نبی علیه السلام ته فرمایلي دي قسم دی ستا په عمر هغه قوم لوط پڅپله بیهوشئ کښې د هغه خبره نه مني.
ف۳ د مکې نه چه شام ته ځي نو هغه کلي په لاره کښې په نظره راځي.
ف۴ د ځنګل اوسیدونکي یعنی د شعیب علیه السلام قوم په مدین کښې اوسیدل او د غه کلي سره د ونو ځنګل وو هلته هم اوسیدل.

**فتح الرحمٰن**

ف۱ مترجم وائي یعنی که چرې د شهوت پوره کول غواړئ نو خپلو د لوڼرو نکاح ډیره مناسب ده والله اعلم ۱۲
ف۲ مترجم وائي چه دا کلمه د لوط علیه السلام د قصې په مینځ کښې زیاته کړې شوې ده د پاره چه تنبیه شي د پاره د تطبیق د حال د مشرکانو په حال د قوم لوط او د دوی پشان د نورو قومونو والله اعلم ۱۲
ف۳ مترجم وائي پخه شوې خټه چه کاڼړي پشان شوې وي والله اعلم ۱۲

**تفسیر:** ۲۳ کله واؤ د مطلق جمع د پاره دی. د دې ځائي نه تر يَعْمَهُوْنَ پورې دا قصه په ترتیب کښې قَالُوْا بَلْ جِئْنٰكَ الخ نه مخکښې دی. اَوَلَمْ نَنْهَكَ عَنِ الْعٰلَمِيْنَ چه کله چې فرښتې د خاښته ځوانانو په شکل کښې اولیدې نو د قوم بد معاش خلق ...

نیت سره دهغوی طرفته سارروان شول. نو لُوط علیه السلام اُوفرمائیل دا الله نه اوویریږئ اوشرم اوکړئ دا څما میلمانهٔ دی. او ما میلمنو کښے مهٔ رُسوا کوئ نو دهغهٔ په جواب کښے دوی اوویٔیل ولے تهٔ مونږ نه ئے منع کړے چه تهٔ خلقو ته پناه ورکولو سره زمونږ نه دهغوی د بچ کولو کوشش مهٔ کوه. لهٰذا د دوی حمایت مهٔ کوه او زمونږ د لاسے نه لرے شه. ای عن اجارة احدمنهم وحیلولتك بیننا وبینهم الخ (روح ملخصاً ۱۴)

٧٢ لَعَمْرُكَ دا ادخالِ الٰهی دے. جمله قسمیه ده. لَعَمْرُكَ مبتدا دے او قسمی دده خبر وجوبًا محذوف دے. په دیکښے الله تعالیٰ د نبی علیه السلام په ژوند باندے قسم کړیدے. ابن عباس رض فرمائی چه الله تعالیٰ په خپل ټول مخلوق کښے د نبی علیه السلام نه زیات مکرم او محترم شخصیت نهٔ دے پیدا کړے. او د نبی علیه السلام نه علاوه ئے د بل چا په عُمر قسم نهٔ دے خوړلے. ماخلق الله تعالیٰ وماذرأ وما برأ نفسًا اکرم علیه من محمد صلی الله علیه وسلم وما سمعت سبحانه اقسم بحیاة احد غیره (روح) څما پیغمبره! ستا په عُمر څما قسم دے هغوی په خپله گُمراهئ کښے نشه او حیران سرگردان دی. یا دا د فرشتو قول دے او لُوط علیه السلام ته خطاب دے.

حضرت شیخ قدس سرهٔ اُوفرمائیل. مقسم به یعنی په کوم څیز چه قسم اُوخوړلے شی دهغے په اعتبار سره ددے څلور قسمونه دی. ① دا چه مقسم به عالم الغیب او قادر او متصرف گنړلو سره په هغے قسم اُوکړے شی. او دا عقیده ئے وی چه هغه څما د حال نه خبر دے. کهٔ چرے ما دا قسم مات کړو. نو هغه ما ته په ضرر او نقصان رسولو باندے قادر دے. د الله نه بغیر په دے نیت سره قسم کول شرك دے. نبی علیه السلام د غیرالله دا قسمه قسم شرك گرځولے دے. من حلف بغیر الله فقد اشرك.

② هغه قسم چه په هغے کښے مقسم به په طور د دلیل او شاهد پیش کول مقصود وی. د قرآن کریم اکثر قسمونه دا قسم دی. مثلاً وَالْعَصْرِ اِنَّ الْاِنْسَانَ لَفِیْ خُسْرٍ په لاندینئ مصرع کښے هم دا قسمه قسم دے. ع

قسم بلب مے گون تو وزلف شبگون تو که تو محبوب دلربائی. دا قسم د غیرالله جائز دے.

③ دا چه مثلاً دا سے اووائی چه کهٔ چرے زهٔ دروغ اووایم نو الله تعالیٰ دِ څما نه فلانے نعمت واخلی. لکه چه حسان بن ثابت رض د مُشرکانو په مقابله کښے ویٔلی وُو.

ثکلت بنیتی ان لم تروها ۞ تثیر النقع من طرفی کدائی

ترجمه:- څما لُور دِ مړه شی کهٔ چرے تهٔ دے (زمونږ آسونو لره) د کداء غر طرفته گرد اُوچتونکی (د مکے فتح کولو دپاره په مکه باندے حمله کونکی) اُونهٔ وینئ!

نو نبی علیه السلام د فتح مکے په ورځ اُوفرمائیل چه د اسلام فوج دِ د کداء غر د طرف نه مکے ته داخل شی دے دپاره چه د حسان قسم پوره شی دے نه معلومه شوه چه "ثکلت بنیتی" قسم گرځولے دے.

④ داچه قسم نه دُعا مقصود وی مثلاً یو سړے د خپل محبوب په اعتماد کښے د

اخستلو د پاره ددے وښيلو به ځائ چه که چرے زۀ دروغ اووايم نو الله تعالیٰ دِ ځما نه ستا پشان دلربا (محبوب) واخلي دا شان قسم اوکړی چه ځما دِ قسم وی ستا په ژوند بانديے زۀ رښتيا وايم يعني الله دِ اوکړی چه ته ژوندے پاتے شے او ستا ژوند ما نه ډير محبوب دے. لَعَمْرُكَ هم ددے قِسمه قسم دے.

**۲۵** د قِصے په ترتیب کښے دا د مَقْطُوْعٌ مُّصْبِحِيْنَ نه روستو دے. مُشْرِقِيْنَ دا د اَخَذَتْهُمْ ضمير مفعول نه حال دے. يعني عذاب هغوی د نمر رَنړا کيدو په وخت کښے قبضه کښے واخستل. د عذاب شروع د صبحِ صادق نه اوشوه او د نمر راختلو په وخت يے د هغوی کار تمام کړو. قيل اول العذاب كان عند الصبح وامتدالی شروق الشمس فكان تمام الهلاك عند ذلك (قرطبی ص ۴۲ ج ۱۰) اَلْمُتَوَسِّمِيْنَ ای المتفكرين يعني سوچ کونکی او غور او فکر کونکی په اصل کښے ددے معنیٰ ده الناظرين الی سمة الشیٔ دلته د سوچ فکر نه کنايه ده. سَبِيْلٍ مُّقِيْمٍ لويه لاره عام سړک قائم. او ثابت لاره چه تر ننه پورے موجوده ده او خلق پرے تلل راتلل کوی او د لُوط عليه السلام د قوم د هلاکت آثار وينی (لَبِسَبِيْلٍ مُّقِيْمٍ) ثابت يسلكه الناس لم يندرس بعد وهم يبصرون تلك الآثار وهو تنبيه لقريش الخ (مدارک ص ۲۱۳ ج ۲) اے مکے والو! اوګورئ د لوط عليه السلام قوم زمونږ پيغام اونه منلو. د هغوی انجام څۀ شو تاسو د هغوی په کلی تيريږئ د هغوی د تباهئ آثار په خپلو سترګو وينئ د هغوی د انجام نه عبرت حاصل کړئ. او د عناد او الحاد نه منع شئ.

**۲۶** دا د تخويفِ دُنيوی دريم نمونه ده. اَصْحٰبُ الْاَيْكَةِ د شُعيب عليه السلام قوم الايکة د ونو ښَر ته وائی. دوی د ونو په ښَر کښے آباد وُو ځکه په دے نوم سره مشهور شول. اَصْحٰبُ الْاَيْكَةِ هم قوم شعيب عليه السلام (كبير ص ۱۲ ج ۵) دے خلقو هم د توحيد د پيغام تکذيب اوکړو او هلاک کړے شول. دا د واړه آبادئ (يعني قومِ لوط او قوم شُعيب) په لويه لاره کښے واقع دی. تاسو په خپلو سفرونو کښے په هغوی تيريږئ نو بيا عبرت ولے نه حاصلوئ.

وَلَقَدْ كَذَّبَ اَصْحٰبُ الْحِجْرِ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿۸۰﴾ وَاٰتَيْنٰهُمْ

او بيشکه دروغژن کړل حِجر والو ۲۷ پيغمبرانو لره ف او ورکړی موږ دوی

اٰيٰتِنَا فَكَانُوْا عَنْهَا مُعْرِضِيْنَ ﴿۸۱﴾ وَكَانُوْا يَنْحِتُوْنَ مِنَ

ته خپلے نښے پس شو دوی ددے نه مخ اړونکی او وو دوی چه تراشل به يے ۲۸

الْجِبَالِ بُيُوْتًا اٰمِنِيْنَ ﴿۸۲﴾ فَاَخَذَتْهُمُ الصَّيْحَةُ مُصْبِحِيْنَ ﴿۸۳﴾

غرونو کښے کورونه په اطمينان سره بيا ونيول دوی لره چغے د صبا کيدو سره

فَمَآ اَغْنٰى عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴿٨٤﴾ وَمَا خَلَقْنَا السَّمٰوٰتِ

بیا بچ نه کړ له دوی نه هغه څه چه دوی کړی ؤ او مونږ نه دی پیدا کړی آسمانونه

وَالْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَآ اِلَّا بِالْحَقِّ ۭ وَاِنَّ السَّاعَةَ لَاٰتِيَةٌ

او زمکه او هغه چه د دوی په مینځ کښې دی بغیر د حکمت نه او قیامت بیشکه راتلونکې دے

فَاصْفَحِ الصَّفْحَ الْجَمِيْلَ ﴿٨٥﴾ اِنَّ رَبَّكَ هُوَ الْخَلّٰقُ الْعَلِيْمُ ﴿٨٦﴾

پس ورته اوګرځه په غوره ډول سره ښه ستا رب چه دے هغه دے پیدا کونکے خبردار

وَلَقَدْ اٰتَيْنٰكَ سَبْعًا مِّنَ الْمَثَانِيْ وَالْقُرْاٰنَ الْعَظِيْمَ ﴿٨٧﴾

او مونږ درکړې دی تا ته ځکه اووه آیتونه وظیفه او قرآن د لوئ درجے والا

لَا تَمُدَّنَّ عَيْنَيْكَ اِلٰى مَا مَتَّعْنَا بِهٖٓ اَزْوَاجًا مِّنْهُمْ وَ

مه غوړوه خپلې سترګې په هغه څیزونو کوم چه د استعمال د پاره ورکړي دي مونږ په دوی کښې

لَا تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ وَاخْفِضْ جَنَاحَكَ لِلْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٨٨﴾

څو قسمه خلقو ته. او مه غم کوه ځکه په دوی او ښکته کوه خپلې مټې ځکه د ایماندارو د پاره

وَقُلْ اِنِّيْٓ اَنَا النَّذِيْرُ الْمُبِيْنُ ﴿٨٩﴾ كَمَآ اَنْزَلْنَا عَلَى

او او وایه چه زه یم هغه ښکاره ډیروونکے والا لکه څنګه چه مونږ لیږلې دی په دغو

الْمُقْتَسِمِيْنَ ﴿٩٠﴾ الَّذِيْنَ جَعَلُوا الْقُرْاٰنَ عِضِيْنَ ﴿٩١﴾

تقسیم کونکو ځکه کومو چه کړیدے ځکه قرآن لره حصے حصے والا

فَوَرَبِّكَ لَنَسْـَٔلَنَّهُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿٩٢﴾ عَمَّا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿٩٣﴾

پس قسم دے ستا په رب چه مونږ به تپوس کوو د دے ټولو هغه چه دوی کول والا

فَاصْدَعْ بِمَا تُؤْمَرُ وَاَعْرِضْ عَنِ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿٩٤﴾

پس واوروه ښکاره هغه چه تا ته حکم اوشو او پرواه مه کوه د مشرکانو

اِنَّا كَفَيْنٰكَ الْمُسْتَهْزِءِيْنَ ﴿٩٥﴾ الَّذِيْنَ يَجْعَلُوْنَ مَعَ

مونږ بوره یو ستا د طرفه مسخره کونکو لره کوم چه مقرر کوی د الله

اللّٰهِ اِلٰـهًا اٰخَرَ ۚ فَسَوْفَ يَعْلَمُوْنَ ﴿۹۶﴾ وَلَقَدْ نَعْلَمُ اَنَّكَ

سره د نورو بندګي | پس ژر دی زر به پوهه شي | او مونږ پوهیږو چه ستا د

يَضِيْقُ صَدْرُكَ بِمَا يَقُوْلُوْنَ ﴿۹۷﴾ فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ

زړه تنګیږي | د دوی په خبرو سره | پس ته یادوه خوبئ د خپل رب

وَكُنْ مِّنَ السّٰجِدِيْنَ ﴿۹۸﴾ وَاعْبُدْ رَبَّكَ حَتّٰى يَاْتِيَكَ الْيَقِيْنُ ﴿۹۹﴾ ع ۶

او شه د سجده کوونکو نه | او بندګي کوه د خپل رب تر هغې چه راشي تا ته یقیني خبره حق

**نکات**: ۱ د تخویف دنیوی دریمه نمونه ۱۲ ۲ شرک او خبیث عملونه ۱۲ ۳ دویم عقلي دلیل مختصر ۱۲ ۴ اوله تسلي د پاره د نبي علیه السلام ۱۲ ۵ دویمه تسلي ۱۲ ۶ زجر متعلق بماقبل ۱۲ ۷ دریمه تسلي ۱۲ ۸ د تخویف دنیوی څلورمه نمونه د مکے والو ته ۱۲ ۹ څلورمه تسلي او د تخویف دنیوی پنځمه نمونه ۱۲ ۱۰ پنځمه تسلي ۱۲

**موضح قرآن**: ف۱ ثمود یا نو ته یے حجر والا اووئیل د دوی د ملک نوم حجر دو. ف۲ د مخکینو امتونو حال یے واورولو او وے فرمائیل چه دا جهان خالي نهٔ دے د ده په سر پورے برشته دهر څیز تدارک کونکے دے او د مکمل او اخري تدارک نوم قیامت دے. او د څنګ کولو حکم یے اوفرمائیلو چه کله حکم اورسولے شي. او کافران ضد او عناد اوکړي نو هغه وخت حکم دے چه د جګړے فائده نشته د وعدے لارے ته ګوره.

ف۳ یعني ستا کار زړه آزول نهٔ دي څکه چه دا کار د الله دے څوک چه ایمان نهٔ راوړي نو ته غم مهٔ کوه. ف۴ کافرانو چه به د سورتونو نومونه واوریدل نو به یے ټوکے به یے په توقوسره تفسیمول چا به وئیل زهٔ به بقره اخلم یا مائده او تا ته به عنکبوت درکوم. ف۵ یعني مرګ چه بیشکه دے.

**فتح الرحمٰن**: ف۱ مترجم وائي یعني په اهلِ کتابو یا نے دے چه په څینو ایتونو باندے به یے عمل کولو او په څینو به یے نهٔ کولو. والله اعلم ۱۲

**تفسیر**: ۷۵ دا د تخویف دنیوی دریمه نمونه ده. اَلْحِجْر دیوے وادئ نوم دے چه په هغې کښے د صالح علیه السلام قوم ثمود اباد وُو وقال المفسرون الحجر اسم واد کان یسکنه ثمود (کبیر) قوم ثمود ته هم مونږ خپل پیغام لیږلے وُو لیکن هغوی د منلو په ځائ د هغے نه اعراض اوکړو. هغوی به غرونه تراشل او یکښے به یے د اوسید و دپاره کورونه جوړول او د پیر د امن او سکون ژوند به یے تیرولو لیکن د توحید د مسئلے نه یے انکار اوکړو او د الله د غضب او عذاب مستحق اوګرځیدل.

۷۶ مَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ نه شرک او مشرکانه عملونه (باطل معبودان رایلل وغیره)

اوخبیث افعال مراد دی. مَا کَانُوا یَکْسِبُونَ من الشرک والاعمال الخبیثة (معالم وخازن ص۲۳ ج۴) یعنی چه کله زمونږ عذاب راشی نو د غیر الله را بللو سره هغوی ته هیڅ فائده اونه رسوله اونه هغوی خیالی کارسازو د هغوی لاس امداد اوکړو. اے د مکے مشرکانو! ستاسو انجام به هم دا شان وی. اوکوم چه تاسو د خدائی نه سوا کارساز او متصرف نیولے دی به مشکل وخت کښے به د هغوی نه څوک هم ستاسو بکار نه راځی هم دا مضمون به قرآن کښے به ډیرو ځایونو کښے ذکرشوے دے. مثلاً فَمَآ اَغْنَتْ عَنْهُمْ اٰلِهَتُهُمُ الَّتِیْ یَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ الخ (هود ع ۹) او بل ځائی ارشاد دے وَلَوْلَا نَصَرَهُمُ الَّذِیْنَ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ قُرْبَانًا اٰلِهَةً (الاحقاف ع ۴)

۲۹ تخویف دُنیوی د دریو نمونو بیانولو نه روستو کوم چه د مخکینو اُمتونو سره متعلق دی دیو مختصر عقلی دلیل ذکرئے اُوفرمائیلو. یعنی مونږ زمکه او آسمان د اظهارِ حق او اثباتِ توحید د پاره پیدا کړی دی د پاره چه د کائناتو ذره ذره زمونږ په قدرتِ کامله باندے شهادت اوکړی. وَاِنَّ السَّاعَةَ الخ دا تخویفِ اُخروی دے. فَاصْفَحِ الصَّفْحَ الْجَمِیْلَ دا د نبی علیه السلام د پاره اوله تسلّی ده. چه معاندین استهزاء کوی نو تاسو ورته عفوه اوکړئ. د استهزاء بدله به مونږ د وی نه ورکوو. هُوَ الْخَلّٰقُ الْعَلِیْمُ. الخلاق د مبالغے صیغه ده یعنی د ټولو کائناتو پیدا کول هغه ته څه ګران نه دی. هغه ته ډیر آسان دی. ټول کائنات پیدا کول او یو نفس پیدا کول الله ته یو شان دی څنګه ئے چه اُوفرمائیل مَا خَلْقُکُمْ وَلَا بَعْثُکُمْ اِلَّا کَنَفْسٍ وَّاحِدَةٍ (لقمان ع ۳)

۳۰ دویمه تسلّی ده سَبْعًا مِّنَ الْمَثَانِیْ نه سورة فاتحه مراد ده. او اَلْقُرْاٰنَ الْعَظِیْمَ عطف تفسیری دے. او د دے نه هم سورة فاتحه مراد ده څنګه چه په یو مرفوع حدیث کښے دی. قال رسول الله صلی الله علیه وسلم الحمد لله رب العٰلمین هی سبع من المثانی والقرآن العظیم الذی اوتیتنه - اخرجه البخاری. (روح ص۷۹ ج۱۴) یعنی مونږ په تا باندے د سورة فاتحے په شان عظیم الشان انعام کړیدے. په دے وجه تاسو د کافرانو دُنیاوی شان او شوکت ته توجه مه ورکوی. یا د عطفِ تفسیری د پاره ده. او د القرآن العظیم نه قرآن مجید مراد دے. لَا تَمُدَّنَّ عَیْنَیْکَ دا زجر دے متعلق د ماقبل سره. اَزْوَاجًا ای اصنافًا من الکفار کالیهود والنصٰری والمجوس (مدارک ص۲۳۱ ج۲) یعنی مونږ تا ته سورة فاتحه او قرآن دا دے لوئی نعمت درکړیدے د دے وجے نه د کافرانو مختلفو ډلو ته چه مونږ کوم دُنیاوی دولت او مالداری ورکړیده هغه طرفته تاسو په پوره نظر هم مه ګورئ ځکه چه دا دُنیاوی ساز و سامان محض غرور دے. قد اغنیتک بالقرآن عما فی ایدی الناس. (قرطبی ص۵۶ ج۱۰) څنګه چه ئے بل ځائی اُوفرمائیل لَا یَغُرَّنَّکَ تَقَلُّبُ الَّذِیْنَ کَفَرُوْا فِی الْبِلَادِ (اٰل عمران ع ۲۰)

۳۱ دا دریمه تسلّی ده د ډیر رحمت او شفقت د وجے نه به د نبی علیه السلام خواهش

وُوچه تول مشرکان ایمان راؤړي او د دوزخ نه بچ شي. په دے وجه د تسلیٔ په طریقه نبي علیه السلام ته اُوفرمایئل چه تاسو د مُشرکانو پرله پسے انکار او د مسلسل عناد په وجه سره هُم مه خفه کیږئ. ځکه چه ستاسو کار د تبلیغ رسول دي. چه هغه تا په ښه طریقه سره سرته اُورسؤلو. که هغوي یے نه مني نو دا د هغوي بدبختي ده. وَلَا تَحۡزَنۡ عَلَيۡهِمۡ حیث انهم لم یؤمنوا وکان صلی الله علیه وسلم یود ان یؤمنوا کل من بعث الیه ویشق علیه علیه السلام لمزید شفقته بقاء الکفرة علی کفرهم (روح ص۷۸ ج ۱۴)

۴۲ نه خو چه تاسو د کافرانو ظاهري شان او شوکت او دُنیاوي مال او دولت طرفته اُوګورئ او نه د هغوي په ایمان نه راؤړلو باندے غم وکړئ. بلکه خپله توجه مؤمنانو طرفته اُوساتئ او هغوي سره د نرمئ معامله اوکړئ. او کوم معاندین چه معجزات غواړي هغوي ته صفا صفا اووایه چه معجزے د الله په اختیار کښے دي. ځما په قبضه کښے نه دي. زه خو ښکاره په ښکاره ویرؤنکے یم. او نه منونکو لره د الله د عذاب نه خبرؤنکے یم. چه که چرے وے نه مني نو هلاک به کړے شي.

۴۳ د تخویفِ دُنیوي خلورمه نمونه ده. چه په د یکښے د مکے د مُشرکانو دیو جماعت د هلاکت ذکر دے. اَلۡمُقۡتَسِمِيۡنَ (تقسیمونکي) دا د مُشرکانو د مکے شپاړس کسان وُو چه د حج په موسم کښے به یے د مکے مکرمے دروازے تقسیم کړے او په هغے کښے به ناست وُو د بهرنه راتلونکي خلق به یے د نبي علیه السلام نه متنفر اوین ځکه نه کوؤل دے د پاره چه هغوي نبي علیه السلام سره ملاؤ نه شي. او د هغه نه قرآن وانه ورئ. د هغوي نومونه دا دي. حنظله بن ابی سفیان، عتبه بن ربیعه، شیبه بن ربیعه، ولید بن مغیره، ابوجهل عاص بن هشام، ابوقیس بن الولید، قیس بن الفاکه، زهیر بن اُمیه، هلال بن عبد الاسود، سائب بن صیفي، نضر بن حارث، ابوالبختري بن هشام، زمعه بن حجاج، اُمیه بن خلف او اوس بن مغیره. (روح ص۷۷ ج ۱۴) د دوي مشر ولید بن مغیره وُو چه دا تول به یے د مکے مکرمے په جُدا جُدا لارو کښے مقرر وُل. او په خپله به یے هم یوه مورچه سنبالوله. دوي به هر راتلونکي باندے په نبي علیه السلام باندے د شاعر، جادوګر، مجنون وغیرو بهتان لګؤلو سره د متنفر کؤلو کوشش کؤلو. قال مقاتل والفراء هم ستة عشر رجلا بعثهم الولید بن مغیرة ایام الموسم فاقتسموا اعقاب مکة وانقابها وفجاجها یقولون لمن سلکها لا تغتروا بهذا الخارج فینا یدعي النبوة فانه مجنون وربما قالوا ساحر وربما قالوا شاعر وربما قالوا کاهن. (قرطبي ص۵۸ ج ۱۰) دا معاندین الله تعالیٰ په جنګِ بدر کښے او د دینه مخکښے په مصیبتونو سره یے هلاک کړل.

۴۴ دا د اَلۡمُقۡتَسِمِيۡنَ صفت کاشفه دے هغوي د قرآن مجید حصے هُم تقسیم کړے وے کله به یے وئیل دا جادو دے کله به یے ورته شاعري وئیله او کله به یے ورته د مخکنو خلقو قصے وئیل. فَوَرَبِّكَ لَنَسۡـَٔلَنَّهُمۡ دا د هغوي د پاره تخویفِ اُخروي دے. فَاصۡدَعۡ بِمَا تُؤۡمَرُ صدع په معنیٰ د اظهار دے. یعني د کوم څیز چه تا ته حُکم درکړے شویدے تاسو

د هغې علانیه او ښکاره بیان اوکړې او د مشرکانو او کافرانو د توقو او مسخرو پرواه مه کوئ یا دا د صدع الزجاجة نه اخستلے شوے دے. یعنی څنګه چه شیشه ماته کړے شی او د هغې حصے جُدا جُدا کړلے شی. تاسو د توحید مسئله دا شان واضحه بیان کړئ چه حق او باطل جُدا جُدا شی. (روح)

۹۵ دا نبی علیه السلام ته په څلورم ځل تسلّی ده. او تخویف دُنیوی پنځمه نمونه ده. اَلْمُسْتَهْزِءِيْنَ د دے نه د مکے د مشرکانو هغه پنځه یا کم و زیات سړی مراد دی. چه هر وخت به یے نبی علیه السلام پورے د توقو مسخرو نوی نوی صورتونه راویستل او د هغه هره خبره پورے به یے توقے کولے. د هغوی نومونه دا دی. ولید بن مغیره، عاص بن وائل، اسود بن مطلب، ابو زمعه، اسود بن عبد یغوث (بحر ص۴۹۹ ج ۵)

د مقتسمین او مستهزءین د تعداد او د دوی د نومونو د تعداد په باره کښے روایتونه مختلف دی. خلقو به په مختلفو طریقو سره نبی علیه السلام ته تکلیف رسولو او هغوی پورے به یے مسخرے کولے. کله به یے په لاره کښے ازغی اچول. کله به یے پرے ګندګی غورځوله کله به یے عین د مانځه په حالت کښے ګندګی پرے اچوله. الله تعالیٰ د دے خبیثانو د هلاکولو وعده اوکړه. چه تاسو خپل کار کوئ. د دوی هیڅ پرواه مه کوئ زه به یے خپله دوی ته سزا ورکړم. نو هغوی یے په مختلفو تکلیفونو کښے مبتلا کولو سره هلاک کړل. اَلَّذِيْنَ يَجْعَلُوْنَ. دا د اَلْمُسْتَهْزِءِيْنَ د پاره صفتِ کاشفه دے. دے بدبختو صرف په استهزاء باندے اکتفاء اونکړه. بلکه د الله تعالیٰ سره شرک هم کوی. انهم لم يقتصروا على الاستهزاء به صلى الله عليه وسلم بل اجترءوا على العظيمة التي هي الاشراك به سبحانه (روح ص۸۶ ج ۱۴)

۹۶ دا نبی علیه السلام د پاره پنځمه تسلّی ده. په دے تعبیر کښے ډیره خوږه محبت اظهار دے. اے محمد پیغمبره! مونږ ته ښه معلومه ده. د دے مشرکانو مشرکانه کلماتو او د دوی استهزاء سره تاسو ته تکلیف رسیږی او زړه مو تنګیږی. لیکن تاسو د دوی خبرے زړه ته مه راوړئ او په دے باندے مه خفه کیږئ. زه به دوی سره پخپله حساب کوم. فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ الخ تاسو خپله معامله خُدائ ته اوسپارئ. شپه او ورځ د شرک نه د هغه پاکی بیانوئ او په حمد و ثنا کښے مشغول اوسئ او هم هغه ته خکته کیږئ. هر قسم عبادت (د ژبے، بدن او د مال) هم هغه د پاره کوئ. حاجتونو او مشکلاتو کښے هغه ته اواز کوئ. رکوع او سجده هم هغه ته کوئ. نذر او منتے هم د هغه په نوم او د هغه د رضا کولو د پاره ورکوئ. حَتّٰى يَاْتِيَكَ الْيَقِيْنُ نه مراد مرګ دے. یعنی تاسو تر اخری وخته پورے په دے عقیده او عمل باندے قائم اوسیږئ. المراد منه واعبد ربك في زمان حياتك ولا تخل لحظة من لحظات الحياة عن هذه العبادة (کبیر ص۲۳۰ ج ۵)

په دے اخری دوو ایتونو کښے مقصودی مسئله په اختصار سره ذکر کړے شوے ده.

⁂ ⁂ ⁂ ⁂ ⁂

⁂ ⁂ ⁂ ⁂ ⁂

# په سورة الحجر کښې د توحید آیتونه او دده خصوصیات

① رُبَمَا يَوَدُّ الَّذِينَ كَفَرُوا لَوْ كَانُوا مُسْلِمِينَ (۲ ع ۱) د سورت خصوصیت، د مخکینو اُمتونو نه عبرت حاصل کړئ او مسئله اُومنئ کنې افسوس به کوئ.
② وَلَقَدْ جَعَلْنَا فِي السَّمَاءِ بُرُوجًا ... نه تر ... مِن نَّارِ السَّمُومِ (۳ ع ۲) نفي د شرك في التصرف او نفي د شرك في العلم.
③ إِنَّا مِنكُمْ وَجِلُونَ (۴ ع ۴) نفي د علم غيب د ابراهيم عليه السلام نه.
④ إِلَّا امْرَأَتَهُ قَدَّرْنَا إِنَّهَا لَمِنَ الْغَابِرِينَ (۴ ع ۴) نفي د تصرّف او اختيار د لوط عليه السلام نه.
⑤ قَالَ إِنَّكُمْ قَوْمٌ مُّنكَرُونَ (۵ ع ۴) نفي د علم غيب د لوط عليه السلام نه.
⑥ فَمَا أَغْنَىٰ عَنْهُم مَّا كَانُوا يَكْسِبُونَ (۶ ع ۶) نفي د اختيار او تصرف د باطلو معبودانو نه.
⑦ وَمَا خَلَقْنَا السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ إِلَّا بِالْحَقِّ (۶ ع ۶) د کائنات ذره ذره د الله په توحيد او د هغه په کامل قدرت باندې ګواه ده.
⑧ فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَكُن مِّنَ السَّاجِدِينَ ۝ وَاعْبُدْ رَبَّكَ حَتَّىٰ يَأْتِيَكَ الْيَقِينُ (۶ ع ۶) نفي د استحقاق د عبادت د غير الله دُعا، سجده، نذر منّت نه تول د عبادت قسمونه صرف الله تعالیٰ پورې خاص دي.
⑨ په دې سورت کښې د تخويف دُنيوي پنځه نمونه بيان کړې شوې دي. دې د مخکينو اُمتونو نه او دوه د مکې د مشرکانو نه.
⑩ نبي عليه السلام ته پنځو طريقو سره تسلّي ورکړې شوې ده.

---

نن په تاريخ لسم ربيع الثاني ۱۳۸۶ھ مطابق د ۲۹ جولائي ۱۹۶۶ء په ورځ د جُمعې سحر نهه نيمې بجې د سورة حجر تفسير ختم شو. فالحمد لله اولاً و اٰخرا والصلوٰة والسلام على رسوله و اٰله وصحبه دائما ابدا

# سُورَةُ النَّحل

ربط: د سُورة نحل سُورة حجر سره اسمي ربط دا دے د اصحاب حجر او د قوم ثمود حال تاسو وا اورید و چه د ضد، عناد او د تکذیب او د انکار د وجے نه هغوی په دُنیا کښ درد ناك عذاب سره هلاك کړے شو. تاسو له د دے نه عبرت حاصِلول پکار دی کچرے د اصحاب حجر د واقعے نه عبرت نه اخلئ نو را اشئ د نحل (شاتو د مچئ) حال ته اوګورئ کید ے شی چه هغه ستاسو د پاره عبرتناك ثابت شی دا کمزورے مچئ څنګه مختلفو ګلونو او میوو نه رَس نچوړ کړی او راټ وړی. او د شاتو پشان بے مثله څیز تیار کړی او د خپل کبین لاره نه هیرَوی. دا معمولی شان حیوان چه د ومره لوئ اهم کار سرته رَسوی. دا د الله پاك د قدرت او صفت یو معمولی شان نمونه ده. د دینه عبرت حاصل کړئ او د توحید مسئله اُومنئ.

**معنوی ربط:** په سُورة ابراهیم کښے د تیرشوُو قومونو واقعات ذِکر کولو نه روستو په سُورهٔ حجر کښے بیان اُوکړے شو چه اُوس وخت دے خبره اُومنئ ګنی افسوس به کوئ چه کله د الله عذاب راغے نو د هغے نه به هرګز بچ نۀ کړے شئ. اُوس په سُورهٔ نحل کښے بیان کړے شی چه که چرے تاسو د توحید دعوی نۀ منئ او د ضد او عناد نه عذاب غواړئ، نو واخلئ د الله عذاب راغلے اُوګنړئ اُوس جلتی مۀ کوئ.

**خلاصه:** اَتٰٓی اَمۡرُ اللّٰهِ الخ په شروع کښے یے د سُورهٔ حجر تعلق او ربط بیان کړو د تهول هرڅهٔ اُوریدلو او پیژندلو نه روستو یے هُم نه منئ نو تیار شئ د الله عذاب راغلے دے اُوس جلتی مۀ کوئ نو د دے نه روستو فوراً اهلِ مکه په سخت قحط کښے مبتلا شول. لکه چه اخِر کښے د دے بیان دے. وَضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا قَرۡیَةً الخ (ع ۱۵) د مضمون په اعتبار سره د سُورة دوه حِصّے دی اوله حِصّه د سُورة د شروع نه تر بِمَا كَانُوۡا یَصۡنَعُوۡنَ پورے (ع ۱۵) ده. او دویمه حِصّه وَلَقَدۡ جَآءَهُمۡ رَسُوۡلٌ مِّنۡهُمۡ نه تر لَغَفُوۡرٌ رَّحِیۡمٌ (ع ۱۵) پورے ده.

## اَوّله حِصّه: نفی د شِرك اعتقادی (شرک فی التصرف)

په اوله حصّه کښے درے ځله د توحید د دعوے ذِکر دے چه د هغے د منلو په وجه سره په منکرینو باندے عذاب راغے او توحید (نفی شِرك فی التصرف) باندے شپږ عقلی دلیلونه، یو نقلی دلیل او یو دلیلِ وحی قائم کړے شوید ے. د دے حصه کښے ضمناً د زجر په طور دوه ځله د شِرك فعلی نفی هُم راغلے ده. او د توحید د مسئلے په خاطر د هجرت کولو فضیلت هُم ذِکر کړد ے. یُنَزِّلُ الۡمَلٰٓئِکَةَ بِالرُّوۡحِ ـ تا ـ لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنَا فَاتَّقُوۡنِ. کښے اوّل ځل د توحید د دعوے ذِکر د ے. یعنی د الله نه سِوا هیڅوك کارساز، متصرف او مختار

نشته. لهذا په مُصیبتونو او مُشکلاتو کښې صرف هغهٔ ته ځان ښانه او ان کوئ. خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ الخ دا په توحید باندې اول څلورم عقلی دلیل دے. او د دے نه مقصود نفی د شرك فی التصرف دے. الله تعالیٰ زمکه او آسمان د توحید د مسئلې په خاطر پیدا کړل. او انسان یې هم د دے د پاره پیدا کړو بیا د انسانانو د آرام او راحت د پاره یې قسما قسم ساز و سامان پیدا کړو. څاروی یې پیدا کړل چه په هغې کښې د انسانانو د پاره بے شماره فائدے دی. بعضې څاروی داسے دی چه د وړی د هغوی غوښې خوری او پئی یې څکی او د وړی نه یې گرمے کپړے جوړوی. او بعضې څاروی داسے دی چه د سورلئی او بوج اُوړلو د پاره دی. کوم الله چه د دے ټولو څیزونو خالق دے هغه د ټولو مالك او مختار دے او کارساز دے.

هُوَ الَّذِیٓ اَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ (ع ۲) توحید یعنی د شرك فی التصرف په نفی باندے دویم عقلی دلیل. باران وروَل او قسما قِسم غلے، میوے پیدا کول صرف د الله پاك کار دے، ورځ او شپه نمر، سپوږمئ او ستوری هغهٔ په خپل حُکم سره د انسانانو په خدمت کښې لگولی دی، هغهٔ دریاب او سمندرونه پیدا کړل چه د هغې نه انسانانو ته بیشماره فائدے حاصلیږی اَفَمَنْ یَّخْلُقُ كَمَنْ لَّا یَخْلُقُ الخ دا د دوارو ذکرشوو دلیلونو ثمره ده. یعنی هرکله چه معلومه شوه چه د عرش نه واخله تر فرشه پورے د هر څیز خالق الله تعالیٰ دے بل څوك نهٔ دے. ستاسو خیالی معبودانو د کائناتو یوه ذره هم نهٔ ده پیدا کړے نو اُوس تاسو اووایئ چه خالق او مخلوق برابر کیدے شی. بالکل نهٔ شی. څوك چه د ټولو کائناتو خالق دے هغه متصرف او مختار دے او کوم چه مخلوق دے هغه عاجز او بے وسه دے وَاللّٰهُ یَعْلَمُ مَا یُسِرُّوْنَ الخ (۲۶) په توحید باندے دریم عقلی دلیل دے او د دے نه د شرك فی العلم نفی مقصود ده یعنی هر ښکاره او پټه خبره باندے پوهه الله تعالیٰ دے بل څوك نهٔ دے. کله چه عالم الغیب صرف هغه دے نو کارساز او متصرف هم هغه دے ځکه چه متصرف او مختار هغه څوك کیدے شی چه عالم الغیب وی. وَالَّذِیْنَ یَدْعُوْنَ ..... نه تر یُبْعَثُوْنَ پورے. دا ثمره په دریوارو دلیلونو باندے متفرع ده. لَا یَخْلُقُوْنَ شَیْئًا وَّهُمْ یُخْلَقُوْنَ. په اولنو دوو دلیلونو باندے متفرع دے، او اَمْوَاتٌ غَیْرُ اَحْیَآءٍ وَمَا یَشْعُرُوْنَ اَیَّانَ یُبْعَثُوْنَ په دریم دلیل باندے متفرع دے. یعنی د ټول هرڅهٔ پیدا کوونکے خو الله تعالیٰ دے او دا مُشرکان چه د الله نه علاوه څوك رابللی هغوی هیڅ هم نهٔ شی کولے بلکه په خپله مخلوق دی او په هرڅهٔ خبردار صرف الله تعالیٰ دے. او د مُشرکانو خیالی معبودان (د خدائی بزرگان) خو فوت شویدی او هغوی ته خو د خپلو ځانونو په باره کښې هم عِلم نشته چه هغوی به دوباره کله (د قبرونو) پاسولے شی نو د راتلونکو حالاتو نه به هغوی څنګه خبر شی؟ اِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ الخ دا په پورته ذکرشوے ثمره باندے متفرع دے او د اصل دعوے اعاده ده. هرکله چه د هرڅهٔ کوُلو والا او په هرڅهٔ پوهیدلو والا صرف الله تعالیٰ دے نو د ټولو کارساز هم

هغه دے او په حاجتونو کښے غائبانه د را ابللو لائق هُم هغه دے. وَإِذَا قِيلَ لَهُم دا شکوی ده. منکرینو به د عناد او سرکشئ په وجه قرآن ته چه ټول هدایت دے، د قِصو کتاب ویلے. لِيَحْمِلُوا أَوْزَارَهُمْ الخ لام د عاقبت دے او په دے کښے تخویفِ اُخروی دے. قَدْ مَكَرَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ الخ (۲۶) دا الله د دینِ توحید خلاف سازشونه کوونکو دپاره تخویفِ دُنیوی دے. ثُمَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ... نه تر ... فَلَبِئْسَ مَثْوَى الْمُتَكَبِّرِينَ. دا د هغوی دپاره تخویفِ اُخروی دے. وَقِيلَ لِلَّذِينَ اتَّقَوْا ... نه تر ... بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ. د شرک نه ځان ساتونکو او د الله تعالیٰ پیغام قبلوونکو دپاره بشارتِ اُخروی دے. هَلْ يَنظُرُونَ الخ تخویفِ دُنیوی دے د تیرشوو اُمتونو منکرینو د ضد او عناد نه د عذاب مطالبه کړے وه. نو هغوی په عذاب سره هلاک کړے شول د مکے مُشرکان هُم که چرے دا غواړی نو هغوی ته به په دُنیا کښے د دردناک عذاب مزه اُوڅکولے شی. وَقَالَ الَّذِينَ أَشْرَكُوا الخ (۵۶) دا د منکرینو بے ځایه حجت نیولو باندے شکوی ده. مُشرکانو به وئیل که چرے الله ته منظور وے نو مونږ او زمونږ پلارانو نیکونو به هیڅ قسمه شرک نه کولے نهٔ شرکِ اعتقادی او نهٔ شرکِ فعلی. كَذَٰلِكَ فَعَلَ الَّذِينَ الخ جواب شکوی ده. دا کومه نوے خبره نهٔ ده. تیرشوو مُشرکانو به هُم دا شان وئیل. وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ الخ دا په ټولو تیرشوو نبیانو سره په توحید باندے دلیلِ نقلی اجمالی دے. ستاسو نه مخکښے چه څومره پیغمبران مونږ لیږلی دی هغوی ته هُم مونږ دا پیغام ورکړے وو چه خپلو اُمتونو ته حُکم ورکړئ چه صرف د یو خُدائے بندګی بجا راوړئ او د هغهٔ نه سِوا هیڅوک کارساز او حاجت روا مهٔ ګنړئ او د هر غیر الله د عبادت او رابللو نه ځان اُوساتئ. فَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ الخ دا تخویفِ دُنیوی طرف ته اشاره ده. وَأَقْسَمُوا بِاللَّهِ جَهْدَ أَيْمَانِهِمْ الخ مُشرکانو باندے شکوی ده چه هغوی حشر نشر هُم نهٔ مني. لِيُبَيِّنَ لَهُمُ الخ دا د حشر نشر حکمت دے. إِنَّمَا قَوْلُنَا لِشَيْءٍ الخ دا د شکوے جواب دے. مُشرکان حشر او نشر د وے د عقل نه لرے او مُشکل ګنړی زمونږ قُدرت دومره کامل او حاوی دے چه کله مونږ د یو کار د کولو اراده اوکړو نو هغه کار فوراً کیږی نو قیامت قائمول او مړی دوباره ژوندی کول زمونږ دپاره څه ګران کار نهٔ دے. وَالَّذِينَ هَاجَرُوا فِي اللَّهِ الخ (۴۶) دا په مینځ کښے د مهاجرینو دپاره دُنیوی او اُخروی بشارت دے چا چه صرف د توحید د مسئلے په خاطر خپل وطن پرېښودهٔ او هجرت یے اوکړو.

وَمَا أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ الخ (۴۶) د مقدر سوال جواب دے. مونږ به دا توحید منلے وے که چرے فرښتے راغلے وے او مونږ ته یے دا پیغام راکړے وے. نو د دے جواب یے ورکړو. چه زمونږ روانه طریقه هُم دا ده چه مونږ پیغمبران د انسانانو نه جوړ کړل او انسانانو ته مو لیږلی دی، که چرے تاسو ته د دے علم نهٔ وی نو د اهلِ کتابو د عالمانو نه تپوس اُوکړئ او تسلی اوکړئ. وَأَنزَلْنَا إِلَيْكَ الذِّكْرَ الخ ترغیب الی القرآن دے.

اَفَاَمِنَ الَّذِیۡنَ مَکَرُوۡا ... نه تر ... فَاِنَّ رَبَّکُمۡ لَرَءُوۡفٌ رَّحِیۡمٌ ه تخویفِ دُنیوی دے.

اَوَلَمۡ یَرَوۡا اِلٰی مَا خَلَقَ اللّٰهُ الخ (۴۸) په توحید باندے څلورم عقلی دلیل دے د ځمکې او آسمان هرڅیز د الله تعالیٰ د تکوینی احکامو پابند او مطیع دے او هرذی روح مخلوق او فرښتے هُم د الله په مخکښے سجده کوی او د الله تعالیٰ د عبادت نه غرور نه کوی او هروخت د هغهٔ نه ویریږ ونکی او لرزیدونکی وی او د هغهٔ پوره خشوع منونکی وی. وَقَالَ اللّٰهُ لَا تَتَّخِذُوۡۤا اِلٰـهَیۡنِ اثۡنَیۡنِ (۵۱) دا د توحید د دعوے دویم ځل ذکر کول دی. دا شان د ذکرشوی دلیل ثمره ده. چه کله ټول کائنات د الله تعالیٰ په تکوینی نظام کښے تړلے شوی دے، او د کائناتو ذره ذره د هغهٔ د احکامو تابعدار او منونکی دی. حیوانات او فرښتے هُم د هغهٔ په تسبیح او پاکی بیانولو کښے مصروف دی. نو اے بنیادمه! تا د الله سره سره نور و لره والے کارساز جوړ کړیدی. ته هُم صرف یو الله ته اوان کوه ځکه چه د عبادت او رابللو لائق صرف هُم هغه یو دے. وَلَهٗ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ الخ دا د ذکرشوی دلیل سره متعلق دے.

وَ مَا بِکُمۡ مِّنۡ نِّعۡمَةٍ الخ دا زجر دے دا ټول نعمتونه الله تعالیٰ درکړیدی، مُصیبتونه هُم هغه لرے کوی لیکن چه کله الله پاک مُصیبتونه لرے کړی نو تاسو د الله پاک سره شرک کول شروع کړئ او د الله نعمتونه د غیر طرفته منسوب کول شروع کړئ. وَ یَجۡعَلُوۡنَ لِمَا لَا یَعۡلَمُوۡنَ ه دا هُم زجر دے. او په دیکښے مُشرکانو ته په شرکِ فعلی باندے زجر ورکړے شو چه هغه ظالمان د غیرالله نذرونه ورکوی. وَ یَجۡعَلُوۡنَ لِلّٰهِ الۡبَنٰتِ الخ دا هُم زجر دے هغوی فرښتو ته د الله لونړه وائی. حالانکه چه کله د هغوی په کورونو کښے لونړه پیدا شی نو هغوی دا ډیره ذلت او رُسوائی ګنړی. وَلَوۡ یُؤَاخِذُ اللّٰهُ الخ (۶۱) تخویفِ دُنیوی دے. الله تعالیٰ مجرمان فوراً نهٔ نیسی بلکه هغوی ته مُهلت ورکوی او د هغوی د نیولو د هغهٔ په علم کښے یو وخت وی د هغے نه مخکښے دوی نهٔ نیسی او نهٔ د هغے نه روستو زیات مُهلت ورکوی. وَ یَجۡعَلُوۡنَ لِلّٰهِ مَا یَکۡرَهُوۡنَ. دا دویم زجر دوباره ذکرکول دی. لَا جَرَمَ اَنَّ لَهُمُ النَّارَ. تخویفِ اُخروی دے. تَاللّٰهِ لَقَدۡ اَرۡسَلۡنَاۤ اِلٰۤی اُمَمٍ الخ زجر سره د تخویفِ اُخروی نه او تسلّی دپاره د نبی علیه السلام. تیرو شوو خلقو کښے مونږ پیغمبران اُولیږل خلقو د شیطان دهوکه کولو سره د هغوی تکذیب اوکړو او د توحید د مسئلے نه یے انکار اوکړو چه د هغے په وجه هغوی د عذاب حقدار اُوګرځیدل. اوس تاسو ته آخری هدایت نامه دراُولیږلے شوه. تاسو د توحید مسئله په وضاحت سره بیان کړئ او د دے خبرے پرواه مهٔ کوئ چه مُشرکان د شیطان تابعداری کوی او د توحید د مسئلے نه انکار کوی. وَاللّٰهُ اَنۡزَلَ مِنَ السَّمَآءِ (۶۵) ... نه تر ... اِنَّ اللّٰهَ عَلِیۡمٌ قَدِیۡرٌ (۷۰) په توحید باندے پنځم عقلی دلیل دے. الله باران سره مړه ځمکه ژوندئ کړی او د کږ

قابله اوشنه یه کړي. د خاروُ په خیټه کښے د شوتو او د وینے د مینځ نه خالص پئ راوباسي چه د هریو د پاره خوندناك او مزیدار وي. د شاتو مچئ ته اُوګورئ مونږ د هغے په زړهٔ کښے دا خبره اچولے ده چه هغه د مختلفو ګلونو او میوو نه رَس نچوړ کړي او شات تیار کړي چه په هغے کښے خلقو د پاره شِفاء ده. دا ټول د الله د قدرت نخے دي چه د دے نه ثابتیږي چه په ټول عالَم کښے متصرّف او مختار خو صرف الله تعالیٰ دے. وَاللّٰهُ خَلَقَكُمْ الخ مرګ او ژوند د الله تعالیٰ په قبضه کښے دے. وَاللّٰهُ فَضَّلَ بَعْضَكُمْ الخ مثال د پاره د معبودِ حق د معبودیت او د معبودان باطله د بطلان د پاره. چه کله تاسو خپلو غلامانو ته دا اختیار نهٔ ورکوئ چه هغوی ستاسو په شان تصرّف اُوکړي. نو الله پاك خپل بندګان څنګه په خپل اختیار او تصرف کښے شریکولے شي. وَاللّٰهُ جَعَلَ لَكُمْ الخ. ستاسو د جنس نه ستاسو بیبیانے هغهٔ پیدا کړے او تاسو ته خامن او نمسي هُم هغهٔ درکړل او تاسو ته یے پاك رِزق درکړو. لیکن ستاسو د ځان نه جوړ کړے شوي معبودان په دے کارونو کښے یو کار هُم نشي کولے. وَيَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ الخ (ع ۱۰) زجر په طور د تمره یعني ټول هرڅهٔ پیدا کوُنکے او هرڅهٔ ورکوُنکے خو صرف الله تعالیٰ دے. لهٰذا کارساز هُم هغه دے لیکن ناپوهه مُشرکان د الله تعالیٰ دا بے عاجز مخلوق کارساز ګنړي چه هغوی ته هیڅ نهٔ شي ورکولے. فَلَا تَضْرِبُوْا لِلّٰهِ الْاَمْثَالَ یعني فرښتے د لوئے وپشان ګنړلو سره د خُدائے سره سفارشي مهٔ جوړوئ دا مثال غلط دے صحیح مثالونه دا دي. دے نه پس یے د باطل معبودانو دوه مثالونه بیان کړل دے د پاره چه مسئله ښه واضحه شي.

ضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا عَبْدًا مَّمْلُوْكًا لَّا يَقْدِرُ الخ (ع ۱۰) د باطل معبودانو مثال د مملوك مریٔ په شان دے چه د هیڅ څیز مالک نهٔ دے او معبودِ حق مالک او مختار دے. ضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا رَّجُلَيْنِ. د باطلو معبودانو مثال د یو ګونګی او عاجز انسان دے چه په نورو باندے بوج دے. لیکن معبودِ حق قادر او قیّوم دے. او د ټول عالَم نظام د هغهٔ په لاس کښے دے. وَلِلّٰهِ غَيْبُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ (ع ۱۱) دا د دعوے دویم جُزدے یعني ټول هرڅه کوُنکے او په هرڅهٔ باندے عالِم الله تعالیٰ دے. با واؤ تعلیلیه دے او د ماقبل علّت دے. یعني کارساز صرف هغه دے څکه چه په غیبو پوهیږ ونکے صرف هغه دے وَمَآ اَمْرُ السَّاعَةِ الخ تخویفِ اُخروی دے.

وَاللّٰهُ اَخْرَجَكُمْ مِّنْۢ بُطُوْنِ اُمَّهٰتِكُمْ الخ په توحید باندے شپږم دلیل دے الله پاك تاسو پیدا کړئ او تاسو ته یے د اوریدلو، لیدلو او د سوچ کولو قوتونه درکړل. اَوَلَمْ يَرَوْا اِلَى الطَّيْرِ الخ دا الله په قُدرت سره مرغان په هوا کښے الوزي. وَاللّٰهُ جَعَلَ لَكُمْ تخاروی سے ستاسو د قسما قسم فائدو د پاره پیدا کړل دا ټول نعمتونه هغهٔ دے د پاره تاسو ته درکړل. لَعَلَّكُمْ تُسْلِمُوْنَ، چه تاسو د هغهٔ حُکم اُومنئ او د هغهٔ شُکر ادا کړئ. فَاِنْ تَوَلَّوْا دا د ذکرشوو ټولو دلائلو سره متعلق دے او د دے جزاء محذوف ده یعني

که څرګند دی دلیلونو باوجود هُم اُونهٔ منی نو په دوی لعنت دے. وَيَوْمَ نَبْعَثُ مِنْ
كُلِّ اُمَّةٍ ... نه تر ... بِمَا كَانُوْا يُفْسِدُوْنَ پورے. تخویفِ اُخروی دے. په دیکښے د
قیامت ځینے هیبتناک منظرونه ذِکر شویدی. وَيَوْمَ نَبْعَثُ مِنْ كُلِّ اُمَّةٍ الخ اعاده
د روستو عهد د پاره ده. یعنی دد وارو څیزونو بیانولو د پاره اعاده اُوکړے شوه اول دا
چه د دوی انډامونه به ګواه وی دویم دا چه نبی علیه السلام به هُم په دوی ګواهی ورکړی.
وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْكِتٰبَ الخ دعقلی دلیلونو نه پس په اٰخر کښے د دلیلِ وحی ذِکر اُوکړے
شو یعنی د توحید مسئله تاسو ته د خپل طرفه نهٔ بیانوی بلکه د وحی په ذریعه په
تاسو کتاب نازل شویدے چه هغے کښے د توحید د مسئلے د بیانولو حُکم تا ته درکړے
شویدے. اِنَّ اللّٰهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالْاِحْسَانِ الخ دعذاب نازلولو نه مخکښے دعذاب
دفع کولو د پاره یے د دریو اُمورو تکمیل اُوکړو. اول یے توحید دلائلو سره بیان کړو. او
دوه خبرے دلته ذِکر کړے شوے یعنی په چا باندے ظُلم مهٔ کوئ او په خلقو باندے
احسان اوکړئ. دعهد نه مراد یاد توحید عهد دے یاد ټولو احکامو د شریعت په ځائی
راوړلو عهد دے. تفصیل مخکښے راغی. وَلَا تَكُوْنُوْا كَالَّتِیْ نَقَضَتْ الخ د وعدے
ماتولو مثال دے. وَلَا تَتَّخِذُوْٓا اَيْمَانَكُمْ الخ د تاکید او اهتمام د پاره یے د ایفائے
عهد د حُکم اعاده کړیده. مَا عِنْدَكُمْ يَنْفَدُ الخ تزهید فی الدنیا و ترغیب فی الاٰخرة.
وَلَنَجْزِيَنَّ الَّذِيْنَ صَبَرُوْٓا. بشارتِ اُخروی دے. فَاِذَا قَرَاْتَ الْقُرْاٰنَ الخ متعلق دے
د دلیل وحی سره چه کله ته خلقو ته اسمانی کتاب واورَوے. نو شیطان به د وسوسو
اچولو کوشش کوی. د دے وجے نه اول د شیطان نه په الله سره پناه اُوغواړه.
وَاِذَا بَدَّلْنَا الخ (۱۰۱) دلیل وحی پورے متعلق شکوی ده. مُشرکان په قُراٰن کښے د
شبهاتو پیدا کولو کوشش کوی چه دا څنګه قراٰن دے چه یو ایت راځی او بیا د هغے
په ځائی بل ایت راځی. قَالُوْٓا اِنَّمَآ اَنْتَ مُفْتَرٍ. نو د دے نه معلومه شوه چه معاذ
الله دا د الله کلام نهٔ دے بلکه د محمد (صلی الله علیه وسلم) د ځان نه جوړ کړے شوے کلام دے.
قُلْ نَزَّلَهٗ رُوْحُ الْقُدُسِ الخ دا د شُبے جواب دے چه الله تعالٰی د ضرورت او مصلحت
مطابق کوم څهٔ غواړی هغه نازلوی. وَلَقَدْ نَعْلَمُ اَنَّهُمْ الخ دا دویمه شُبه ده مُشرکان
وائی چه فلانکے سړے راغلے او محمد (صلی الله علیه وسلم) ته دا کلام زده کوی او دا د الله کلام
نهٔ دے. لِسَانُ الَّذِیْ يُلْحِدُوْنَ اِلَيْهِ الخ دا د دریمے شُبے جواب دے. یعنی د کوم کس
د طرفه د نبودلو نسبت کوی د هغهٔ ژبه عجمی ده او دا قراٰن صفا او خالص عربی کښے دے.
اِنَّ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ ... نه تر ... فِی الْاٰخِرَةِ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ (۱۰۹) تخویفِ اُخروی
دے. ثُمَّ اِنَّ رَبَّكَ لِلَّذِيْنَ هَاجَرُوْا د مهاجرینو د پاره بشارتِ اُخروی دے. وَضَرَبَ
اللّٰهُ مَثَلًا قَرْيَةً الخ (۱۱۲) دا د سُورت د ابتداء سره متعلق دے په شروع کښے
یے اُوفرمائیل چه جلتی مهٔ کوئ د الله عذاب راتلونکے دے. دلته یے مکے والو
باندے دعذاب د واقع کیدو ذِکر اوکړو. د مکے مشرکان څو کالو پورے په سخت قحط

کښې مبتلا شول. وَلَقَدْ جَآءَهُمْ رَسُوْلٌ الخ د عذاب راتللو وجه دا وه چه هغوی ته د الله رسول راغے نو هغوی پے تکذیب اوکړو په دے وجه په هغوی د الله عذاب راغے.

## دویمه حصه. د شرکِ فعلی نفی

دویمه حصه د فَكُلُوْا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللّٰهُ نه واخله تر لَغَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ (۱۱۹) پورے ده. په د یکښې د شرکِ فعلی د دوو شقونو رد کړے شویدے. تحریمات د غیر الله او نذر د غیر الله. فَكُلُوْا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللّٰهُ الخ د مشرکانو د تحریماتو رد دے الله تعالی چه کوم حلال څیزونه ستاسو د پاره پیدا کړیدی هغه خورئ او بیرته هغے کښے د خپل طرفنه څه څیز حرام مه ګرځوئ مثلاً بحیره، سائبه وغیره. اِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةَ الخ د غیر الله د نذر نفی ده. مشرکان چه د خپل باطل خدایانو د خوشحالولو د پاره کوم نذر او منتے ورکوی هغه حرام دی هغه حلال مه ګڼړئ او هغه مه خورئ. وَلَا تَقُوْلُوْا لِمَا تَصِفُ اَلْسِنَتُكُمُ الْكَذِبَ. دا په پورتنو دواړو حکمونو باندے متفرع دے په طریقه د لف او نشر غیر مرتب یعنی نذر د غیر الله حرام دے هغے ته حلال مه وایئ. او تحریمات د غیر الله باطل دی. لهٰذا بحیره، سائبه وغیره حرام مه ګڼړئ. اِنَّ الَّذِيْنَ يَفْتَرُوْنَ عَلَى اللّٰهِ الخ زجر دے سره د تخویفِ اُخروی نه. وَعَلَى الَّذِيْنَ هَادُوْا الخ دا د سوال مقدر جواب دے. سوال دا دے که چرے دا څیزونه حلال دی نو په یهودیانو باندے ولے حرام کړے شو. جواب ورکړے شو. بیشکه د حلال څناورو د ځان نه حرامول باطل دی. د حلالو ښکارونو څخه حقتو ته یهودیان حرام والي هغه د دوی د سرکشئ په نتیجه کښے مونږ په خپله په دوی حرام کړی وو. ثُمَّ اِنَّ رَبَّكَ الخ بشارتِ اُخروی دے.

**خاتمه** : اِنَّ اِبْرٰهِيْمَ كَانَ اُمَّةً ... نه تر ... وَاِنَّهٗ فِى الْاٰخِرَةِ لَمِنَ الصّٰلِحِيْنَ (۱۲۲) دواړو حصو کښے نفی د شرک فی التصرف او نفی د شرکِ فعلی واضح کولو نه روستو په آخر کښے په دواړو مضمونونو باندے په ابراهیم علیه السلام سره دلیلِ نقلی پیش کړے شویدے. وَلَمْ يَكُ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ یعنی د هیڅ قسمه شرک کونکو نه نه وو. د شرکِ اعتقادی او شرکِ فعلی دواړو نفی ده. ثُمَّ اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ الخ دلیلِ وحی په دواړو دعوو باندے یعنی ما ته الله پاک د وحی په ذریعه حکم راکړیدے چه زه د ابراهیم علیه السلام د ملت اتباع اوکړم چه د ټولو باطلو من هبونو نه بیزاره او د هر قسم شرک (شرکِ اعتقادی او شرکِ فعلی) نه پاک وو. اِنَّمَا جُعِلَ السَّبْتُ. دا د یو شبے جواب دے. مشرکانو اووئیل که چرے واقعی محمد (صلی الله علیه وسلم) د ملتِ ابراهیمی تابع دے نو هغه له د جمعے په ځائے د سبت (خالی د ورځے) تعظیم پکار دے ځکه چه ابراهیم علیه السلام به د خالی د ورځے تعظیم کولو دلته د هغے جواب ورکړے شو. چه د ابراهیم علیه السلام طرف ته د خالی د ورځے د تعظیم نسبت بالکل غلط دے. د خالی د ورځے تعظیم خو د موسی علیه السلام

په قوم باندے فرض کړے شوے وُوچه د ابراهیم علیه السلام نه په سوتو کانه وسند
وُو. اُدۡعُ إِلَىٰ سَبِيلِ رَبِّكَ الخ په آخر کښے د تبلیغ د طریقے تعلیم دے یعنی عقلی نقلی
او وحی دلائلو سره د توحید مسئله واضحه پیش کړه اود ویناَ په انداز کښے د نرمی
او ښهٔ اخلاقو نه کار واخله. که چرے د مخالفینو د طرفنه د شوو زیاتو بدله هغوی
نه اخستل غواړئ نو په هغے کښے د حد نه تجاوز مهٔ کوئ او هغوی ته هغومره تکلیف
اُورسوئ څومره تکلیف چه تاسو ته د هغوی په لاسونو رسیدلے دے. لیکن که چرے
صبر اوکړئ او د معافئ نه کار واخلئ نو په د یکښے ډیره زیاته بهتری ده. وَاصۡبِرۡ وَمَا
صَبۡرُكَ الخ دا نبی علیه السّلام ته تسلی ده. وے فرمائیل تاسو د مشرکانو په شرارتونو باندے
صبر کوئ او د هغوی د پرله پسے انکار په وجه مهٔ غمژن کیږئ او نه د هغوی د مکروفریب
په وجه د بے آرامئ اظهار کوئ. إِنَّ اللَّهَ مَعَ الَّذِينَ اتَّقَوا الخ جمله ماقبل د پاره علت
دے ځکه چه الله پاك د خپل پرهیزګار او مخلصو بندګانو حامی او مدد ګار دے هغه
به د مشرکانو د شرنه تاسو محفوظ ساتی او په هره موقعه به ستا سو حمایت او مدد کوی.

## مختصر خلاصه

د مضمون په اعتبار سره د دے سورة دوه حصے دی اوله
حصه د سورة د شروع نه تر بِمَا كَانُوا يَصۡنَعُونَ پورے
ده د دے حصے په شروع کښے أَتَىٰٓ أَمۡرُ ٱللَّهِ فَلَا تَسۡتَعۡجِلُوهُ سره مشرکانو ته د
هغوی د غوښتلے شوی عذاب د راتللو خبر ورکړے شوے دے. د دے حصه کښے د رد
ځله د توحید د دعوے صراحت کړے شوے دے. او د توحید د مسئلے یوآرخ یعنی نفی د
شرك فی التصرف باندے شپږ عقلی دلیلونه، یو نقلی دلیل او یو وحی دلیل ذکر کړے
شوے دے. په دے حصه کښے دوه ځله د شرك فعلی نفی هم ذکر شوے ده.
د توحید د دعوے اول ځل ذکر يُنَزِّلُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةَ بِٱلرُّوحِ ... نه تر... لَآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنَا۠
فَٱتَّقُونِ ۝ پورے، یعنی ځما نه سِوا څوك کارساز او متصرف نشته، او د رابللو لائق نشته
دویم ځل ذکر د دعوے إِلَٰهُكُمۡ إِلَٰهٞ وَٰحِدٞ (ع ۳) دریم ځل د توحید د دعوے ذکر
وَقَالَ ٱللَّهُ لَا تَتَّخِذُوٓاْ إِلَٰهَيۡنِ الخ (ع ۷) د الله تعالیٰ نه سِوا بل هیڅوك د کارسازئ په
صفتونو سره موصوف مهٔ ګنړئ او په حاجتونو کښے د هغه نه سِوا مافوق الاسباب
چاته آواز مهٔ کوئ.

## عقلی دلیلونه

### ړومبے عقلی دلیل

خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ الخ (ع ۱) څوك چه د انسان، اسمان او
زمکے خالق دے او چا چه د انسان د فائدے د پاره بیل
څناور پیدا کړل هغه د ټولو کارساز دے.

### دویم عقلی دلیل

هُوَ ٱلَّذِيٓ أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ الخ (ع ۲) اسمان باران ورولو سره
په مړه زمکه کښے شنهٔ تازه فصلونه او باغونه راز رغول. د

د الله تعالیٰ کار دے. نمر، سپوږمئ، ورځ، شپه، دریابونه او اوچه هر څیز د الله پاک د فرمان تابع دے. لهٰذا مختار او کارساز صرف هُم هغه دے. د هغے نه روستو اَفَمَنۡ یَّخۡلُقُ کَمَنۡ لَّا یَخۡلُقُ سره د دلیل ثمره بیان کړے شوے ده.

دریم عقلی دلیل :- وَاللّٰهُ یَعۡلَمُ مَا تُسِرُّوۡنَ الخ (۳۶) دے نه د شرك فی العلم نفی مقصود ده. وَالَّذِیۡنَ یَدۡعُوۡنَ مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ ... تر... اَیَّانَ یُبۡعَثُوۡنَ پورے دا په پورتنو دریواړو دلیلونو باندے متفرع دے. یعنی باطلو خدایانو په تهولو کائناتو کښے یوه ذره هم نه ده پیدا کړے او هغوی په غیبو باندے هم خبر نه دی. اِلٰهُکُمۡ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ دا په پورته ذکر شوے ثمره باندے متفرع دے او د اصل دعوے اعاده ده.

څلورم عقلی دلیل :- اَوَلَمۡ یَرَوۡا اِلٰی مَا خَلَقَ اللّٰهُ الخ (۶۴) تهول کائنات د الله پاك د تکوینی احکامو تابعدار او منونکی دی. لهٰذا په تهول عالم کښے صرف هغه متصرف او مختار دے. وَلَا تَتَّخِذُوۡا الخ د توحید د دعوے اعاده ده او د ذکر شوی دلیل ثمره ده.

پنځم عقلی دلیل :- وَاللّٰهُ اَنۡزَلَ مِنَ السَّمَآءِ (۸۶) ... تر ... اِنَّ اللّٰهَ عَلِیۡمٌ قَدِیۡرٌ (۹۶) پورے. د کائناتو دا تهول نظام د الله په حُکم سره چلیږی په دے وجه هُم هغه د تهولو کارساز او په تهول عالَم کښے متصرف او مختار دے. وَاللّٰهُ جَعَلَ لَکُمۡ الخ متعلق دے د ما قبل سره. دا تهول کارونه الله تعالیٰ کوی، ستاسو باطل معبودانو کښے هیڅوك دا کار نشی کولے. وَیَعۡبُدُوۡنَ مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ الخ زجر په طور، د ثمره دے.

شپږم عقلی دلیل :- وَاللّٰهُ اَخۡرَجَکُمۡ مِّنۡ بُطُوۡنِ اُمَّهٰتِکُمۡ (۱۱۶) .. تر ... لَعَلَّکُمۡ تُسۡلِمُوۡنَ (۱۰۶) تاسو په پیدائین کښے غور اُوکړئ او په اطرافو کښے نظر اُوزغلوئ او اُوبایئ چه په دے کارونو کښے د الله تعالیٰ نه سوا دلیل اختیار شته؟ بیا ولے غیرُ الله کارساز جوړوئ. فَاِنۡ تَوَلَّوۡا الخ دا د ذکر شوُ تولو دلیلونو سره متعلق دے.

## دلیل نقلی

وَلَقَدۡ بَعَثۡنَا فِیۡ کُلِّ اُمَّةٍ رَّسُوۡلًا الخ (۵۶) د دریم او څلورم عقلی دلیلونو په مینځ کښے دلیل نقلی ذکر کړے شو یعنی په هر قوم کښے مونږ رسول لیږلے او هر رسول ته مونږ دا پیغام ورکړو او دُم لیږل چه صرف الله ته اواز کوئ او د باطل خدایانو نه دا اواز کولو نه ځان اُوساتئ.

## دلیل وحی

وَنَزَّلۡنَا عَلَیۡكَ الۡکِتٰبَ تِبۡیَانًا لِّکُلِّ شَیۡءٍ الخ (۱۲۶) ستا طرفته مونږ د قرآن وحی اُولیږله چه په هغے کښے د توحید مسئله او باقی بنیادی عقائد او اصولی احکام مونږ بیان کړل. پورته ذکر شوُ دلائلو دوران کښے د موقع مناسب د زجر، شکوی، تخویف او بشارت وغیره ذِکر هُم کړے شوے دے. د دلائلو نه روستو د عذاب دفع کولو د پاره حُکم ورکړے شو چه احسان کوئ او ظلم مه کوئ او د توحید وعده پوره کړئ او دا مه ماتوئ. دے نه پس به وَلَا تَکُوۡنُوۡا کَالَّتِیۡ نَقَضَتۡ الخ (۱۳۶) سره یو مثال بیان کړو او د وعدے ماتولو قباحت او بدی یے واضح کړه. وَضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا قَرۡیَةً الخ (۱۵۶) په اخر کښے په مکے والؤ باندے د عذاب د

نازلیدو ذکر دے.

**دویمه حصّه**

دویمه حصّه فَكُلُوا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللّٰهُ نه تر لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ پورے دیکښے د شرك فعلی د دوؤ شقونو رد دے. فَكُلُوا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللّٰهُ حَلٰلًا طَيِّبًا کښے د مشرکانو د تحریماتو او په اِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةَ الخ کښے د نذر لغیر الله نفی کړے شوے ده. وَلَا تَقُولُوا لِمَا تَصِفُ اَلْسِنَتُكُمُ. دا په ذکر شوے دواړو شقونو باندے د لف او نشر غیر مرتب په طور باندے متفرع دے. هٰذَا حَلٰلٌ سره نذر لغیر الله او هٰذَا حَرَامٌ سره تحریمات لغیر الله.

**خاتمه**

اِنَّ اِبْرٰهِيمَ كَانَ اُمَّةً الخ (۱۶۶) په اخر کښے د شرك فی التصرف او د شرك فعلی په نفی باندے ابراهیم علیه السلام سره دلیلِ نقلی ذکر کړے شوے دے. ثُمَّ اَوْحَيْنَا اِلَيْكَ اَنِ اتَّبِعْ الخ دا د دواړه قسمه شرك په نفی باندے دلیلِ وحی دے. اُدْعُ اِلٰى سَبِيلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ الخ د تبلیغ د طریقے ذکر دے. وَاصْبِرْ وَمَا صَبْرُكَ اِلَّا بِاللّٰهِ الخ د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم د پاره تسلی ده.

سُورَةُ النَّحْلِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ مِائَةٌ وَّثَمَانٌ وَّعِشْرُونَ اٰيَةً وَّسِتَّ عَشَرَ رُكُوعًا

سورة نحل په مکه کښے نازل شوے ده یو سل اته ویشت ایتونه او شپاړس رکوع لرونکے دی.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ ○

شروع د الله د نوم نه چه ډیر زیات مهربان ډیر رحم کوونکے دے.

اَتٰى اَمْرُ اللّٰهِ فَلَا تَسْتَعْجِلُوهُ ط سُبْحٰنَهُ وَ

راورسیده حکم د الله نو د هغے جلتی مه کوئ هغه پاك دے او

تَعٰلٰى عَمَّا يُشْرِكُونَ ① يُنَزِّلُ الْمَلٰٓئِكَةَ بِالرُّوحِ

لوئ دے د هغوی د شریکانو نه نازلوی فرشتے پیتو رازونو سره

مِنْ اَمْرِهِ عَلٰى مَنْ يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖٓ اَنْ اَنْذِرُوٓا

په خپل حکم سره په چا چه اوغواړی د خپلو بندګانو نه چه خبر ورکړئ

اَنَّهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنَا فَاتَّقُونِ ② خَلَقَ السَّمٰوٰتِ

چه د هیچا بندګی نشته سوا زما نه نو زما نه اووېرېږئ ده پیدا کړی دی اسمانونه

وَالْأَرْضَ بِالْحَقِّ ۚ تَعَالَىٰ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿٣﴾ خَلَقَ

او زمکه برابر برابر هغه لوئی دے د دوی د شریک بیانولو نه۔ پیدا ئے کړو

الْإِنسَانَ مِن نُّطْفَةٍ فَإِذَا هُوَ خَصِيمٌ مُّبِينٌ ﴿٤﴾

انسان څه د یو څاڅکی نه بیا هغه شو جګړه کوونکے خبرے کوونکی

وَالْأَنْعَامَ خَلَقَهَا ۗ لَكُمْ فِيهَا دِفْءٌ وَمَنَافِعُ وَمِنْهَا

او څاروی ئے پیدا کړل ستاسو د پاره په هغے کښے اسباب د ګرمولو دی او نور دے

تَأْكُلُونَ ﴿٥﴾ وَلَكُمْ فِيهَا جَمَالٌ حِينَ تُرِيحُونَ وَ

ډیرے فائدے او څینے خوری شه او ستاسو د پاره په هغے کښے عزت دے چه کله ئے ماښام د څرن

حِينَ تَسْرَحُونَ ﴿٦﴾ وَتَحْمِلُ أَثْقَالَكُمْ إِلَىٰ بَلَدٍ لَّمْ

نه راولئ او چه کله ئے څرن د پاره بیایئ شه او وړی درانه بارونه ستاسو هغه ښارونو ته چه

تَكُونُوا بَالِغِيهِ إِلَّا بِشِقِّ الْأَنفُسِ ۚ إِنَّ رَبَّكُمْ

تاسو هغے ته نه رسیږئ لیکن د نفسونو په مشقت سره بیشکه ستاسو رب

لَرَءُوفٌ رَّحِيمٌ ﴿٧﴾ وَالْخَيْلَ وَالْبِغَالَ وَالْحَمِيرَ

ډیر شفقت کوونکے مهربان دے۔ او آسونه ئے پیدا کړل او قچرے، او خره چه

لِتَرْكَبُوهَا وَزِينَةً ۚ وَيَخْلُقُ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴿٨﴾ وَعَلَى

په هغے سوریږئ او د ښائست د پاره، او پیدا کوی هغه چه تاسو ئے نه پیژنئ۔ او

اللَّهِ قَصْدُ السَّبِيلِ وَمِنْهَا جَائِرٌ ۚ وَلَوْ شَاءَ

الله ته رسی نیغه لاره نله او څینے لارے کږے دی او که چرے هغه اوغواړی

لَهَدَاكُمْ أَجْمَعِينَ ﴿٩﴾

ع ١

نو نیغه لاره به درکړی تاسو ټولو ته ف۱

نکات: ف۱ بیانول د مقصود د سورت ۱۲ ف۲ د توحید د دعوے ذکر ۱۲ ف۳ یعنی د توحید مسئله ۱۲ ف۴ د روح تفسیر ۱۲ ف۵ د شرک فی التصرف په نفی اولنے عقلی دلیل۔

**موضح قرآن**

ف۱ یعنی د الله حُکم راشی د قیامت د قائمیدو یا په کافرانو باندے د عذاب راتللو. دا د تفسیرِ حسینی نه اولیکل شو. ف۲ یعنی دومره ډیر دی رتونه لیږلو سره صفا معلومیږی دهغه صفتونه او دچا چه عقل برابر نه دے هغه گمراه کیږی۔

**فتح الرحمٰن**

ف۱ یعنی د دینِ اسلام غلبه او د کافرانو عذابول یقینًا کید ونکی دی. جلتی ولے کوئ ۱۲

**تفسیر : حصهٔ اول : نفی د شرک فی التصرف :** ۲ے دا د سُورة مقصود ذکر کړل دی. یعنی تاسو د توحید د دعوت نه انکار او د پیغمبرِ خُدا صلی الله علیه وسلم تکذیب کوئ او عذاب غواړئ. نو تیار شئ د الله عذاب راتلونکے دے. اَمْرُ اللّٰہِ یعنی د الله عذاب. وامر الله عقابه لمن اقام علی الشرك وتكذيب رسوله (قرطبی ص۶۵ ج۱۰)

۳ے الله تعالیٰ د شریکانو نه پاك اُوگڼړئ او هغهٔ سره شریکان مهٔ جوړوئ ځکه چه دا شِرك د عذاب سبب دے. په عَمَّا یُشْرِکُوْنَ کښے د مَا نه باطل معبودان مراد دی. او د دے نه روستو فَلَا تُشْرِکُوْا بِہٖٓ اَحَدًا محذوف دے. یعنی الله پاك د هر شریک نه پاك دے. لهٰذا هیڅوك د هغهٔ سره شریك مهٔ جوړوئ۔

۴ے دا د توحید د دعوے ذکر دے د کوم انکار په وجه چه عذاب راځی. اَلرُّوْحُ یعنی وحی، دلته د دے نه د توحید مسئله مراد ده. ځنکه چه اَنْ اَنْذِرُوْٓا سره د دے تفسیر کړے شویدے. هُم دا مضمون یو بل آیت کښے ذکر شویدے. یُلْقِی الرُّوْحَ عَلٰی مَنْ یَّشَآءُ مِنْ عِبَادِہٖ (مؤمن ۲۶) وحی ته روح د دے د پاره او وئیلے شو چه د دے سره همیشه مړه زړونو ته ژوند ورن حاصلیږی. دا شان توحید د ټولو شرعی احکامو او د نیکو عملونو روح دے او د توحید نه بغیر ټول نیک عملونه ضائع او ټول عبادتونه بیکاره او محض باطل دی.

۵ے دا د الرّوح نه بدل دے یا د هغے تفسیر دے یعنی ځنکه چه روح یعنی وحی سره الله پاك فرښتے رالیږی هغه دا دے (روح) او انذار په معنیٰ د اعلام دے والمعنی اعلموا الناس قولی لا الٰه الا انا فاتقون (مدارك ص۲۱۶ ج۲) یعنی خلقو ته خبره اُوښایئ چه ځما نه سِوا څوك متصرّف او کارساز نشته او د نذرونیاز حقدار نشته. د دے وجے نه ځما د عذاب نه اوویریږئ او شِرك مهٔ کوئ چونکه د الله د عذاب وخت نزدے وُو. د دے وجے نه عقلی، نقلی او وحی دلائلو سره د توحید مسئله ښه واضحه کړے شوه اوله دعویٰ د دویمے دعوے د پاره په منزله د علت ده د دے وجے نمبے اول په دے دلائل پیش کړل.

۶ے دا د شِرك فی التصرف په نفی باندے اُولنے عقلی دلیل دے. په دے کښے د کومو اُمورو وجه ذکر شوی دے. هغه ټول د غیر الله د قدرت او طاقت نه بهر دی او د دے ټولو اُمورو خالق او فاعل صرف الله پاك دے لهٰذا هُم هغه

متصرف او کارساز دے او د کارسازئ په صفاتو کښے وحده لا شریک دے. بِالْحَقِّ
داټول کائنات هغهٔ پیدا کړیدی دے د پاره چه هغه دده وحدانیت او په کمال
قدرت بانده دلالت اوکړی. او د هغهٔ بندګان په د یکښے غور او فکر اوکړی پوهه
شی چه معبودِ برحق صرف الله تعالیٰ دے. بالحق ای للدلالة علی قدرته وان له ان
یتعبد العباد بالطاعة وان یحیی الخلق بعد الموت (قرطبی ص۶۷ ج۱۰) تَعٰلٰى عَمَّا يُشْرِكُوْنَ.
دے دلیل نه معلومه شوه چه الله پاک سره هیڅوک شریک نشته. هغه یواز متصرف او مختار دے.

۷ د انسان پیدائش هم د الله د قدرت ډیره لویه کارنامه ده لیکن انسان
دا سے لوئ جګړه کونکے او ناشکره واقع شوے دے چه هغه دا سوچ نه کوی
چه الله تعالیٰ هغه د یو بیکاره او سپکے نطفے نه پیدا کړو خو مره شرافت یے ورکړو
بلکه اُلټه د الله په توحید او حشر نشر کښے جګړه کوی.

۸ دا څاروی هم الله تعالیٰ پیدا کړیدی. چه د هغوی د وړئ او ویښتو نه تاسو
ګرمے کپړے جوړوئ. د هغے د غرمنو او پیئو نه فائدے اخلئ او د هغے غوښے خورئ
د څاروؤ پیدائش یو طرفته د الله پاک د کامل قدرت واضح دلیل دے او بل طرفته
د الله تعالیٰ په استحقاقِ عبادت کښے په وحدهٔ لاشریک کیدو بانده روښانه دلیل
دے هر کله چه متصرف او قادر هم هغه دے او محسن او منعم هم هغه دے نو
شکر هم د هغهٔ لازم دے لهٰذا د هر قِسم عبادت حقدار هم هغه دے. او کارساز
هم هغه دے.

۹ پورته ذکر شوو فائدو نه علاوه څاروی ستاسو د زینت او عزت نښے دی.
چه کله د اُوښانو رمے د غرو چیلو رمے او د غواګانو میښو رمے د سحر په وخت
کښے د څرن د پاره بهر میدان ته وځی او ماښام واپس راځی نو هغے سره ستاسو دُنیوی
شان او شوکت ښکاره کیږی. حِيْنَ تُرِيْحُوْنَ چه کله یے ماښام د څرن نه راولئ
وَحِيْنَ تَسْرَحُوْنَ. چه کله یے د څرن د پاره بوځئ. وَتَحْمِلُ اَثْقَالَكُمْ. په دے
څاروؤ کښے یوه ډیره لویه فائده دا هم ده چه تاسو ترے د بارو وړلو کار هم اخلئ.
دا هم د الله تعالیٰ احسان دے چه هغهٔ دا ټول څیزونه ستاسو د فائدے د پاره
پیدا کړیدی. وَالْخَيْلَ وَالْبِغَالَ وَالْحَمِيْرَ الخ آسونه، قچرے او خرونه یے ستاسو
د سورلئ او زینت او څائست د پاره پیدا کړل. وَزِيْنَةً دا مفعول لهٗ دے. او د
لِتَرْكَبُوْهَا په محل بانده معطوف دے (مدارک) یا دا د فعل مقدر مفعول به دے
ای وجعلها زینة. یا د فعلِ مقدر مفعول مطلق دے ای ولیتزینوا بها زینة (روح)

۱۰ قَصْدُ په معنی د قاصدٌ دے یعنی نیغه او برابره. یعنی د توحید لاره چه
دلائلو سره مُدلل او واضح کړے شویده دا هغه لاره ده چه الله تعالیٰ ته رسیږی.
والمعنی ان قصد السبیل ومستقیمه موصل الیه تعالیٰ ومار علیه سبحانه (روح ص۱۰۳ ج۱۴)
وَمِنْهَا جَآئِرٌ نیغه لاره چه الله تعالیٰ ته رسیږی هغه صرف د توحید لاره ده دے نه

سوا باقي ښوسله کړے لارے دي. وَلَوْ شَآءَ لَهَدٰىكُمْ الخ یعنی که چرے هغهٔ غوښتې
نو جبرًا به یے ټول په هدایت جمع کړے وے لیکن دے سره به د ابتلاء حکمت
ختم شوے وو څنګه چه فرمائیلے یے دي. وَلٰكِنْ لِّيَبْلُوَكُمْ فِيْمَآ اٰتٰىكُمْ الخ بیک
الله پاک دلائلو سره حق واضحه کړو دے دپاره چه څوک هم ایمان راوړی د سوچ
فکر نه پس ایمان راوړی. داشان د تابعدار، نافرمان او د مؤمن او معاند په مینځ
کښے فرق قائم کړے شی.

هُوَ الَّذِيْٓ اَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً لَّكُمْ مِّنْهُ شَرَابٌ

(الله) هغه دے چه نازل یے کړے له اسمان نه ستاسو دپاره اوبه د هغے نه څکښی

وَّمِنْهُ شَجَرٌ فِيْهِ تُسِيْمُوْنَ ﴿١٠﴾ يُنْۢبِتُ لَكُمْ بِهِ الزَّرْعَ

او د هغے نه ونے کیږی چه هغے کښے (څاروی) څروئی. زرغونوی ستاسو دپاره په هغے سره

وَالزَّيْتُوْنَ وَالنَّخِيْلَ وَالْاَعْنَابَ وَمِنْ كُلِّ الثَّمَرٰتِ

فصلونه او خونه　او کجورے　او انګور　او هر قسم میوے.

اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لِّقَوْمٍ يَّتَفَكَّرُوْنَ ﴿١١﴾ وَسَخَّرَ لَكُمُ

بیشکه د یکښے دلائل دي هغه خلقو دپاره چه غور کوی　او ستاسو په کار کښے یے ولګول

الَّيْلَ وَالنَّهَارَ ۙ وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ ۭ وَالنُّجُوْمُ مُسَخَّرٰتٌۢ

شپه او ورځ　او نمر　او سپوږمئ تله او ستوری په کار کښے لګیا دي

بِاَمْرِهٖ ۭ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّعْقِلُوْنَ ﴿١٢﴾ وَمَا

د هغهٔ په حکم سره. بیشکه د یکښے دلائل دی هغه خلقو دپاره څوک چه عقل لری او کوم

ذَرَاَ لَكُمْ فِي الْاَرْضِ مُخْتَلِفًا اَلْوَانُهٗ ۭ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ

څیزونه یے چه خوارهٔ کړیدی ستاسو دپاره په زمکه کښے رنګ په رنګ په هغے کښے دلائل دي

لَاٰيَةً لِّقَوْمٍ يَّذَّكَّرُوْنَ ﴿١٣﴾ وَهُوَ الَّذِيْ سَخَّرَ الْبَحْرَ

هغه خلقو دپاره چه سوچ کوی وی　او هم هغه دے چه په کار لګولے دے دریاب

لِتَأْكُلُوا مِنْهُ لَحْمًا طَرِيًّا وَتَسْتَخْرِجُوا مِنْهُ حِلْيَةً

چه خورئ د دے نه غوښه ګله تازه او أوباسئ د دے نه کالی چه

تَلْبَسُونَهَا ۚ وَتَرَى الْفُلْكَ مَوَاخِرَ فِيهِ وَلِتَبْتَغُوا مِنْ

یے آغوندی او وینے ته کشتئ لره چه چلیږی اُوبو شلولو سره او د دے د پاره

فَضْلِهِ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿۱۴﴾

چه تلاش کړئ د هغهٔ د فضل نه او د دے د پاره چه احسان اُومنئ۔

**نکات:** ۱۲ دویم عقلی دلیل ۱۲

**موضح قرآن**

ف۱ د خلورو خیزونو سره د بنیاٰ دم کارونه تعلق لری په ښکاره دول لیکن د نورو ستورو سره په ظاهره کښے د دوی تعلق دومره ښکاره نه دے د دے وجے نه یے هغه جُدا د بل عنوان لاندے ذکر کړل۔

ف۲ شاید چه د دے نه مراد څناور دی۔

**تفسیر:** ۱۱ دویم دلیل عقلی په اول دلیل کښے د انسان، زمکے او اسمانونو او د چارپایانو د پیدائش ذکر ؤ، اُوس دویم دلیل کښے د باران، زمکے او د رزق د قسمونو د پیدائش ذکر د دے او د نمر د نظام مسخر کولو ذکر کړے شوے دے۔ الله تعالیٰ د اسمان نه باران أوورولو چه ستاسو د څکلو په کار راځی د اشان هغے سره د زمکے نه وابښهٔ اُوګیاه راټوکیږی چه هغے کښے تاسو خپل څاروی څروئ۔ یُنْبِتُ لَکُمْ بِهِ الخ د دے نه علاوه باران سره څلے میوے پیدا کیږی۔ اِنَّ فِیْ ذٰلِکَ لَاٰیَةً الخ دا تنبیه ده د دے د پاره چه آورین وتکی په دے کارونو کښے غور وفکر اُوکړی د دے سره د الله تعالیٰ قدرت او وحدانیت باندے استدلال اُوکړی۔ یعنی علامة دالة علی قدرتنا و وحدانیتنا (خازن ص ج ۴)

۱۲ د نمر تهول نظام هم د الله تعالیٰ په اختیار او تصرف کښے دے۔ چه الله پاک هغه په خپل حُکم سره د بنیادم په خدمت کښے لګولے دی د نمر په نظام کښے د غور وفکر کوونکو د پاره د دلائلو ذخیره موجود ده چه د الله تعالیٰ په توحید باندے دلالت کوی۔ وَمَا ذَرَاَ لَکُمْ الخ په زمکه کښے الله تعالیٰ چه کوم څهٔ پیدا کړل مثلاً انسان، حیوان، حجر او شجر وغیره د دیولو رنګونه مختلف دی۔ خواص یے جُدا جُدا دی۔ حالانکه د هر خیز پیدائش د خاورے او اُوبو نه دے دا هم د الله تعالیٰ د وحدانیت او کمالِ قدرت دلیل دے۔ لیکن د هغه خلقو د پاره چه د کائناتو د ژورے مطالعے نه عبرت حاصلولو کوشش اوکړی۔ ای یتعظون

و یعلمون ان فی تسخیر هذه المکونات لعلامات علی وحدانیة الله تعالیٰ وانه لا یقدر علی ذلك احد غیره (قرطبی ص۹۵ ج۱۰)

ف۱۲ سمندر هم د الله تعالیٰ د حکم ماتحت دے او دے نه تاسو قسما قسم فائدے حاصلوئ، د مهی تازه غوښه ددے نه حاصلوئ د سمندر نه قیمتي جواهرات راوباسئ او د بدن ښائست پرے کوئ. د سفر د سهولتونو د پاره په سمندر کښے جهازونه چلوئ او د تجارت په غرض په لرے لرے ملکونو کښے د سمندر په لار و خپل مالونه اوړئ او د نورو ملکونو مصنوعات (جو ړ شوی څیزونه) ځان ته راغواړئ. وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ دا په معطوف علیه مقدر باندے معطوف دے. ای لتعتبروا ولعلكم تشكرون یعنی دا ټول هر څه یے دے د پاره پیدا کړل چه دے سره تاسو د الله تعالیٰ په قدرت او د هغه په توحید باندے استدلال اوکړئ او د هغه د توحید او اطاعت سره د نعمتونو د شکر ادا کولو حق ادا کړئ. تقومون بحق نعمة الله تعالیٰ بالطاعة والتوحيد (روح ص۱۱۳ ج۱۴)

وَاَلْقٰى فِى الْاَرْضِ رَوَاسِىَ اَنْ تَمِيْدَ بِكُمْ وَاَنْهٰرًا

او کیخودل په زمکه باندے ف۱۳ وزن لرونکی (غرونه) چه اُونه خوزیږی په تاسو او پیدا

وَّسُبُلًا لَّعَلَّكُمْ تَهْتَدُوْنَ ﴿۱۵﴾ وَعَلٰمٰتٍ ؕ وَبِالنَّجْمِ هُمْ

یے کړل نهرونه او لارے دے د پاره چه تاسو لار بیا مومئ ﴿۱۵﴾ او پیدا یے کړے علامے او ستورو سره

يَهْتَدُوْنَ ﴿۱۶﴾ اَفَمَنْ يَّخْلُقُ كَمَنْ لَّا يَخْلُقُ ؕ اَفَلَا

خلق لار بیا مومئ ﴿۱۶﴾ آیا هغه څوک چه پیدا کوی برابر دے د هغه چا سره چه هیڅ شی پیدا کولے

تَذَكَّرُوْنَ ﴿۱۷﴾ وَاِنْ تَعُدُّوْا نِعْمَةَ اللّٰهِ لَا تُحْصُوْهَا ؕ

آیا تاسو سوچ نه کوئ ف۱۵ او که چرے شمار کړئ د الله نعمتونه نو پوره به اُونه شمارئ

اِنَّ اللّٰهَ لَغَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۸﴾ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ مَا تُسِرُّوْنَ وَمَا

هغه بیشکه الله بخښونکے ف۱۶ مهربان دے. او الله ته معلوم دی کوم څه چه تاسو پټوئ او

تُعْلِنُوْنَ ﴿۱۹﴾ وَالَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ لَا

کوم څه چه ظاهروی ﴿۱۹﴾ ف۱۷ او چاته چه اوازونه کوی د الله نه سوا ف۱۸ هیڅ نه شی

يَخْلُقُوْنَ شَيْـًٔا وَّهُمْ يُخْلَقُوْنَ ﴿۲۰﴾ اَمْوَاتٌ غَيْرُ اَحْيَآءٍ ۚ

پیدا کولے او هغوی په خپله پیدا کړے شوی دی. مړه دی چه روح پکښے نشته

وَمَا يَشْعُرُونَ أَيَّانَ يُبْعَثُونَ ﴿٢١﴾

او نه پوهیږي چه کله به پاسولے شي ف ۳

**نکات:** ۵ په ذکر شوو دوارو دلیلونو باندے متفرع او د هغې ثمره ده ۱۲ ۵ دریم عقلي دلیل ۱۲ ۳ د ذکر شوو دلائلو ثمره ۱۲

**موضح قرآن** ف۱ یعنی د یو مُلک نه بل مُلک ته لاړلے شئ. ف۲ یعني په لاره کښے بے نښے کیښودلے چه هیر نشئ. ف۳ شاید د لته یے دا خبره دے د پاره ذکر کړه چه څوک کس په خبره کښے لاجوابه شي. بیا هُم په زړه کښے خبره نهٔ کیني نو الله تعالیٰ په زړهٔ باندے نیول کوي. ف۴ شاید چه دا یے هغه ځاے ته اوفرمائیل څوک چه د مړو بزرګانو عبادت کوي.

**تفسیر:** ۵ په زمکه کښے یے غرونه کیښودل دے د پاره چه په زمکه کښے حرکت او اضطراب پیدا نهٔ شي او دریابُونه او لارے یے جوړے کړے دے د پاره چه تاسو په دے سره لاره بیا مومئ. لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ. که ځرے صرف د سُبُلاً مناسبت سره ویلے شوے وي او مطلب واضح دے او که ځرے د غرونو او دریابونو سره هُم متعلق اُومنلے شي نو هُم صحیح دهٔ. ځکه چه غرونه او دریابُونه هُم مختلف مُلکونه او علاقے د یو بل نه جُدا کوُلو کښے زمونږ رهنمائي کوي. یا مطلب دا دے چه دا څیزونه د شرک په ابطال کښے زمونږ رهنمائي کوي. و یجوزان یکون تعلیلاً بالنظر الی جمیع ما تقدم لان تلك الأثار العظام تدل علی بطلان الشرك (روح ص ۱۱۸ ج ۱۴) لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ ای مقاصدکم او الی توحید ربکم (مدارک ص ۲۱۱ ج ۲) وَعَلَامَاتٍ دا هُم په رَوَاسِيَ باندے معطوف دے یعني د لارو علامات چه په هغې سره د منزل مقصود صحیح لاره متعین کړے شي. وَبِالنَّجْمِ هُمْ يَهْتَدُونَ. او د شپے چه کله هر طرف ته توره تیارهٔ وي او د مسافرنه لاره ورکه شي نو چه ستورو ته اوګوري نو هغه د خپل منزل لاره متعین کوُلے شي.

۵ دا په مخکښنو دوارو عقلي دلیلونو باندے متفرع او د هغې نتیجه دهٔ. د ذکر شوو دوارو دلیلونو د تفصیلا تو نه معلومه شوه چه ټول هرڅهٔ الله پاک پیدا کړیدي او د مُشرکانو خیالي معبودانو هیڅ هُم نهٔ دي پیدا کړي. نو آیا د عقل له مخے دا ممکن دهٔ چه چا هرڅهٔ پیدا کړي وي او چا چه هیڅ هُم نهٔ وي پیدا کړي هغه دوار برابر کیدے شي او دواړه به متصرف او مختار او د الوهیت حقدار وي؟ نهٔ، نه بالکل دا سے نهٔ شي کیدے ځکه چه ټولو کائنا تو خالق دے هُم هغه متصرف او کارساز او د الوهیت حقدار کیدے شي. أَفَلَا تَذَكَّرُونَ. دا خبره خومره ډیره واضحه دهٔ. لیکن تاسو خلق د دومره واضحه بیان نه روستو هُم د پوهیدلو او نصیحت حاصلولو کوشش نهٔ کوئ.

نعمتونو ګڼې کړه چې په صرف په یو ځیلے غور او فکر
ف۱۶ د الله تعالیٰ بیشماره نعمتونو کښے که چیرے صرف په یو ځیلے غور او فکر
اوکړے شي نو دا حقیقت واضحه کیږي چې الله تعالیٰ په قدرت او صفت کښے او
د عبادت په استحقاق کښے یوازې او ځان له دے. په ټول جهان کښے نه د هغه نه
سوا څوک کارساز او متصرف شته نه د عبادت او د ایللو لائق. بیا دا چې د هغه
نعمتونه بیحده، بیحسابه او د شمار نه بهر دی او بیا هغه دا سے رحیم او کریم او
غفور او حلیم دے چې د بندګانو په ناشکرئ باندے فوراً نیول نه کوي او
کوتاهئ معاف کوي او د بندګانو د کُفرانِ نعمت د وجے نه د انعام او احسان
دروازه نه بندوي۔
ف۱۷ دا په توحید باندے دریم عقلي دلیل دے. او د دے سره د شرک في العلم
نفي مقصود ده یعني د پټ او ښکاره ټول هرڅه پیژندونکے والا صرف الله تعالیٰ دے
بل هیڅوک نه دے۔
ف۱۸ په دوارو دعوو باندے د دریو دلیلونو ذکر کولو نه روستو بیے د هغے ثمره
بیان کړه لَا یَخۡلُقُوۡنَ شَیۡـًٔا وَّ ھُمۡ یُخۡلَقُوۡنَ. دا په اولنو دوه دلیلونو باندے متفرع
دے د دے دلیلونو نه معلومه شوه چې د هرڅه کولو والا صرف الله پاک دے او
مشرکان چې کوم د الله بندګان په خپل ګمان کښے متصرف او مختار ګڼړلو سره
رابللي د کائناتو په پیدائش کښے د هغوي هیڅ دخل نشته بلکه هغوي په خپله یو
عاجز مخلوق دے. اَمۡوَاتٌ غَیۡرُ اَحۡیَآءٍ دا په دریم دلیل باندے متفرع دے
یعني د هرڅه پیژندونکے خو الله تعالیٰ دے. او د مُشرکانو خیالي معبودان خو
فوت شویدي هغوي د دوي د دُعا او رابللو نه ناخبره دي. او هغوي ته دا هُم
معلومه نه ده چې هغوي به د قبرونو نه کله پاسولے شي. اَلَّذِیۡنَ یَدۡعُوۡنَ
مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ نه د عموم مجاز په طور باندے د مُشرکانو ټول معبودان مراد دي
خواه هغه ذوي العقول وي یا جماد دي. وجوزان یکون المراد من المخبر عنه بما ذکر ما
یتناول جمیع معبوداتهم من ذوي العقول و غیرهم فیرتکب في (اموات) عموم المجاز لیشمل
ما کان له حیاة ثم مات کعزیر او سیموت کعیسیٰ والملائکة علیهم الصلوٰة والسلام و
مالیس من شانه الحیاة اصلا کالاصنام (روح ص۱۲۳ ج۱۴) شاه عبدالقادر دهلوي په
موضح قرآن کښے د دے آیت د لاندے لیکلي دي "شاید دا بیے هغه چا ته اُوفرمائیل
څوک چې د مړو بزرګانو عبادت کوي"، علامه شبیر احمد عثماني فرمائي یعني د کومو
څیزونو چې د الله نه علاوه عبادت کوي ټول بے ساه (مړه) دي خواه دواماً (همیشه)
مثلاً بت یا في الحال مثلاً کوم بزرګان چې مړه دي او د هغوي عبادت کولے شي، یا
د انجام او د راتلونکي وخت په اعتبار سره مړه دي. مثلاً حضرت مسیح، روح القدس
او ملائکة الله د کوم چې ځینے فرقے عبادت کوي الخ (تفسیر عثماني) لهٰذا چې کله د هرڅه کولو
والا او په هرڅه عالِم الله دے نو بیا په حاجتونو کښے صرف هغه ته آواز کوئ او غیر الله

نه ادا راسره کوی.

اِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ۚ فَالَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ

معبود ستاسو ټوله معبود دے یو لخ نو د چا چه نه یقین نشته د آخرت په زړونو

قُلُوْبُهُمْ مُّنْكِرَةٌ وَّهُمْ مُّسْتَكْبِرُوْنَ ﴿۲۲﴾ لَا جَرَمَ اَنَّ

دهغوی زړونه یې نه منی او هغوی تکبر کوونکی دی نه ټهیک خبره ده چه

اللّٰهَ يَعْلَمُ مَا يُسِرُّوْنَ وَمَا يُعْلِنُوْنَ ۚ اِنَّهٗ لَا يُحِبُّ

الله ته معلوم دی کوم څه چه پټوی او کوم څه چه ښکاره کوی بیشکه هغه نه خوښوی

الْمُسْتَكْبِرِيْنَ ﴿۲۳﴾ وَاِذَا قِيْلَ لَهُمْ مَّاذَآ اَنْزَلَ رَبُّكُمْ

تکبر کوونکی او کله چه او وئیلے شی هغوی ته چه څه څیز نازل کړے دے رب

قَالُوْٓا اَسَاطِيْرُ الْاَوَّلِيْنَ ﴿۲۴﴾ لِيَحْمِلُوْٓا اَوْزَارَهُمْ كَامِلَةً

ستاسو نو وائی قیصے دی د مخکینو دے دپاره چه اوچت کړی خپل بارونه پوره د

يَّوْمَ الْقِيٰمَةِ ۙ وَمِنْ اَوْزَارِ الَّذِيْنَ يُضِلُّوْنَهُمْ

د قیامت په ورځ او څه بارونه دهغه خلقو چه بے لارے کوی

بِغَيْرِ عِلْمٍ ۗ اَلَا سَآءَ مَا يَزِرُوْنَ ﴿۲۵﴾ ع

بغیر د تحقیق نه واورئ بد دے بار چه دوی بار وی.

**نکات:** ۱ د اصل دعوے اعاده ۲ شکوی ۳ تخویفِ اُخروی

**تفسیر:** ۱ دا د اصل دعوے دوباره ذکر دے او په مخکینو دلائلو بانندے متفرع دے یعنی چه کله ثابته شوه چه د ټولو کائناتو خالق او هر څه کوونکے او په هر څه پوهیدونکے الا صرف الله تعالیٰ دے. نو دے نه دا خبره واضح شوه چه ستاسو د ټولو په حقه معبود او کارساز صرف یو الله تعالیٰ دے او د دعا او د بللو لائق هم صرف هغه دے. (اِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ) لایشارکه شیئ فی شیئ وهو تصریح بالمدعی وتخلیصٌ للنتیجة عقب اقامة الحجة (ابوالسعود ص ۲۲ ج ۵)

۲ فَالَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ ... نه تر ... اِنَّهٗ لَا يُحِبُّ الْمُسْتَكْبِرِيْنَ. زجر سره د تخویفِ اُخروی کوم خلق چه د توحید مسئله نه منی او سرکشی کوی الله پاک هغوی له به پیژنی

دے عقلي دلیلونو او د هغے د متعلق تو بیا نو

۲۱ په توحید باندے د دے منکرینو باندے شکوی او کړے شوه. هغوی قرآن ته د کلام الٰهی منسوبیدو نه په منکرینو باندے شکوی او کړے شوه. هغوی قرآن ته د کلام الٰهی منسوبیدو نه دے ته د تیرو شوو خلقو قیصے وائی لِیَحْمِلُوْٓا اَوْزَارَهُمْ الخ لام عاقبت دپاره دے دے او دا د هغه معاندینو دپاره تخویف اُخروی دے. هغوی قرآن ته د تیرو شوو خلقو قیصے وائی. بنه نو د دے باطل قول عاقبت او انجام به په آخرت کښے دا وی چه هغوی به خپل او چه نورو خلقو له یې په دے باطل قول سره ګمراه کړیدی د هغوی ګناهونو بوجونه به په شا ګانو اوچت کړے وی او نیغ به جهنم ته ځی.

قَدْ مَكَرَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ فَاَتَى اللّٰهُ بُنْيَانَهُمْ

بیشکه تدبیر کړیدے ۲۲ هغه چا چه د دوی نه مخکښے وو بیا راغے هغوی ته حکم د الله

مِّنَ الْقَوَاعِدِ فَخَرَّ عَلَيْهِمُ السَّقْفُ مِنْ فَوْقِهِمْ

د هغوی په عمارتونو باندے د بنیادونو نه بیا راپریوتل په هغوی باندے چتونه د پاسه نه

وَاَتٰىهُمُ الْعَذَابُ مِنْ حَيْثُ لَا يَشْعُرُوْنَ ۝٢٦ ثُمَّ يَوْمَ

او راغے په هغوی باندے عذاب له هغه طرفه چه هغوی ته خبر نه وو. بیا د قیامت

الْقِيٰمَةِ يُخْزِيْهِمْ وَيَقُوْلُ اَيْنَ شُرَكَآءِيَ الَّذِيْنَ

په ورځ به رسوا کړی دوی ۲۳ او وائی به چرته دی زما شریکان چه د هغوی په باره کښے

كُنْتُمْ تُشَآقُّوْنَ فِيْهِمْ ۚ قَالَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ اِنَّ

تاسو ویړ مخالفت کولو. وائی به هغه خلق چه خبر ورکړے شوے شوے دے هغوی ته

الْخِزْيَ الْيَوْمَ وَالسُّوْٓءَ عَلَى الْكٰفِرِيْنَ ۝٢٧ الَّذِيْنَ

بیشکه رسوائی نن ورځ او بدی په انکار کوونکو دے. د چا چه ۲۴

تَتَوَفّٰىهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ ظَالِمِيْٓ اَنْفُسِهِمْ ۠ فَاَلْقَوُا السَّلَمَ

روحونه اُوباسی فرښتے او هغوی ظلم کوونکی وی په خپل حق کښے نو هغه وخت به ظاهر

مَا كُنَّا نَعْمَلُ مِنْ سُوْٓءٍ ۭ بَلٰٓى اِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌۢ بِمَا

کړی تابعداری چه مونږ خو نه کوله هیڅ بدی ولے نه ده. الله ښه پوهیږی کوم چه

كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿۲۸﴾ فَادْخُلُوٓا اَبْوَابَ جَهَنَّمَ خٰلِدِيْنَ

چه تاسو کول. نو داخل شئ دروازو ته د دوزخ او سیږئ همیشه په

فِيهَا ؕ فَلَبِئْسَ مَثْوَى الْمُتَكَبِّرِيْنَ ﴿۲۹﴾

دے کښے نو خامخا بد ځای دے د اوسیدلو د تکبر کونکو

**نکات:** ۲۲ تخویفِ دُنیوی ۲۳ ۲۴ ادخالِ الٰهی ۱۲

**موضح قرآن**

ف دیوالونه چتونه سره د بیخه راپریوتل یعنی د هغوی فریب او مکرپے د بیخ نه اوویستل۔

**فتح الرحمٰن**

ف دا مثال بیانول دی د دوی د مکر فاسدولو د پاره په ډیره بلیغ طریقه سره ۱۲

**تفسیر:** ۲۲ دا تخویفِ دُنیوی دے د مکے د مُشرکانو نه مخکښے سرکش قومونو د انبیاء علیهم السلام خلاف سازشونه کړی وُو. لیکن د هغوی سازشونه پخپله د هغوی د هلاکت ذریعه جوړه شوه. فَاَتَى اللّٰهُ بُنْيَانَهُمْ الخ دا د تیروشوو قومونو د تباهئ او هلاکت د پاره مثال دے یعنی د دوی مثال د هغه خلقو پشان دے چه په ستنو باندے یو عمارت جوړکړی او د هغه چت په ستنو باندے راپریوځی او جوړونکے دخپل جوړکړے شوی چت دلاندے کیږشی او مړشی. لحال قوم بنوا بنیانًا و عمدوه بالاساطین فاتی البنیان من الاساطین بان ضعضعت فسقط علیهم السقف وماتوا وهلکوا الخ (مدارک ص۲۱۷ ج۲) د دے وجے نه اے مشرکانو! تاسو ځما پیغمبر علیه الصلوٰة والسلام د مخالفت نه منع شئ کنی نو ستاسو هره منصوبه او سازش به ستاسو د تباهئ باعث ثابت شی۔

۲۳ تخویفِ اُخروی دے یعنی په دُنیا کښے هُم هغوی ته د حق خلاف د منصوبو جوړولو سزا ورکړے شوه. او په آخرت کښے به هُم هغوی د حشر په میدان کښے ذلیل او رُسوا کړے شی. په اخِرت کښے به الله پاك د مُشرکانو رُسوا کولو او د دوی د معبودانو د عاجزئ او بے وسئ ظاهرولو د پاره د دوی نه سوال اوکړی چه نن ځما هغه شریکان چرته دی چه د هغوی په وجه سره تاسو ځما د پیغمبرانو سره جګړے کولے. قَالَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ الخ د اهلِ علم نه انبیاء علیهم السلام او مؤمنان مراد دی چه په دُنیا کښے به یے مُشرکانو ته د توحید دعوت ورکولو (روح) یعنی نن به په اخرت کښے صرف هغه خلق رسوا وی چا چه په دُنیا کښے د توحید دعوت رد کولو او غیرالله به یے کارساز او د الله په نزد شفیع غالب ګنړلو۔

۲۴ دا د الکافرین صفت دے او د دے ځای نه تر فَلَبِئْسَ مَثْوَى الْمُتَكَبِّرِيْنَ پورے ادخال الٰهی دے یعنی الله تعالیٰ د خپل طرفنه بیان فرمائیلے دے چه د ظالمانو

يعنې د مشرکانو به دا حال وي. ظَالِمِيْٓ اَنْفُسِهِمْ دا د تَتَوَفّٰهُمُ ضمير منصوب نه حال دے
يعنې دا مشرکان د شرك په وجه سره په خپلو ځانونو باندې ظلم کوي او تر مرګه
پورې په شرك باندې قائم پاتې شول. د تَتَوَفّٰهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ نه معلومه شوه چې په
روح قبض کولو باندې صرف يوه ملائکه (عزرائيلؑ) مقرر نه ده. بلکه په دې کار باندې
ډيرې ملائکې مامور دي چې د عزرائيل عليه السلام د لاندې کار کوي. په دې سره د ...
والو دا استدلال باطل شو چې يوه فرشته (عزرائيلؑ) په يو وخت کښې په زرګونو ځايونو
کښې حاضريږي او د خلقو روحونه قبض کوي نو بيا نبي عليه السلام هم هر ځائي کښې حاضر
او ناظر کيدے شي. فَادْخُلُوْٓا اَبْوَابَ جَهَنَّمَ الخ تخويف اُخروي دے.

وَقِيْلَ لِلَّذِيْنَ اتَّقَوْا مَاذَآ اَنْزَلَ رَبُّكُمْ ؕ قَالُوْا خَيْرًا ؕ

او ويل به شي ۲۵ له پرهيزګارانو ته څه نازل کړو ستاسو رب وائي به ښه خبره.

لِلَّذِيْنَ اَحْسَنُوْا فِيْ هٰذِهِ الدُّنْيَا حَسَنَةٌ ؕ وَلَدَارُ

چا چه نيکي اوکړه دے دنيا کښې هغوی د پاره نيکه بدله ده او د اخرت

الْاٰخِرَةِ خَيْرٌ ؕ وَلَنِعْمَ دَارُ الْمُتَّقِيْنَ ﴿۳۰﴾ جَنّٰتُ عَدْنٍ

کور بهتر دے او څه ښه کور دے د پرهيزګارانو باغونه دي د هميشه

يَّدْخُلُوْنَهَا تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ لَهُمْ فِيْهَا

او سيد و چه هغې ته به دوی ورځي. بهيږي د هغې نه لاندې نهرونه د دوی د پاره هلته دي

مَا يَشَآءُوْنَ ؕ كَذٰلِكَ يَجْزِي اللّٰهُ الْمُتَّقِيْنَ ﴿۳۱﴾ الَّذِيْنَ

څه چه دوی غواړي دا شان بدله به ورکړي الله پرهيزګارانو ته. چه د هغوی

تَتَوَفّٰهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ طَيِّبِيْنَ ۙ يَقُوْلُوْنَ سَلٰمٌ عَلَيْكُمُ ۙ

روحونه قبض کوي فرښتې او هغوی پاك دي وائي فرښتې سلامتيا دې وي په تاسو

ادْخُلُوا الْجَنَّةَ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۳۲﴾ هَلْ يَنْظُرُوْنَ

ننوځئ جنت ته بدله د هغې چه تاسو کول هل ۲ يا کافران او س دد ے

اِلَّآ اَنْ تَاْتِيَهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ اَوْ يَاْتِيَ اَمْرُ رَبِّكَ ؕ كَذٰلِكَ

انتظار کوي چه راشي دوی ته فرښتې ۲۶ له يا راورسي دوی ته حکم د رب ستا دغه شان

فَعَلَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ ۚ وَمَا ظَلَمَهُمُ اللَّهُ وَلَٰكِنْ

کړی وُو دوی نه مخکښې خلقو او الله ظلم او نه کړو په دوی باندې

كَانُوا أَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ ﴿٣٣﴾ فَأَصَابَهُمْ سَيِّئَاتُ مَا عَمِلُوا

لیکن د خپل ځان سره به کول بیا پریوت د دوی په سر د دوی بد کار

وَحَاقَ بِهِمْ مَا كَانُوا بِهِ يَسْتَهْزِئُونَ ﴿٣٤﴾

او چاپیره شو په دوی باندې هغه په کوم پورې چه دوی توقې کولې.

**نکات:** ۱ بشارتِ دُنیوی او اُخروی ۲ تخویفِ دُنیوی۔

**فتح الرحمٰن**

ف۱ مترجم وائی چه الله پاك دا د دوه سورتونه د نیکبختانو او بد بختانو د بحث مباحثے، او حال مآل بیانولو د پاره نازل کړل والله اعلم ۱۲ ف۲ یعنی د هغه عذاب ۱۲

**تفسیر:** ۲۵ د کافرانو حال او هغوی د پاره د تخویفِ اُخروی ذکر کولو نه روستو اُوس د مؤمنانو حال او هغوی د پاره د بشارتِ دُنیوی او اُخروی ذکر کولے شی چه کله د مؤمنانو نه د قرآن په باره کښې تپوس کولے شی نو هغوی دا تمول خیر او برکت گنړی۔ لِلَّذِينَ أَحْسَنُوا۔ خبر مقدم۔ حَسَنَةٌ مبتداء مؤخر دے۔ دا بشارتِ دُنیوی دے۔ وَلَدَارُ الْآخِرَةِ دا بشارتِ اُخروی دے۔ الَّذِينَ تَتَوَفَّاهُمُ الخ دا ادخالِ الٰهی دے۔ طَيِّبِينَ دا د ضمیرِ مفعول نه حال دے یعنی په داسے حال کښې چه هغوی د شرك د پلیتئ نه پاك وُو۔

۲۶ تخویفِ دُنیوی دے د توحید مسئله داسے قوی عقلی دلیلونو سره واضح او ثابته کړے شوے ده۔ لیکن د دے باوجود دا ضدیان هغه نه منی۔ بلکه عذاب غواړی چه مونږ نه منو د کوم عذاب نه چه ته مونږ ویروے بیشکه هغه عذاب راوله۔ كَذَٰلِكَ فَعَلَ الخ مخکینو سرکشو او ضدیانو قومونو هم دا شان اُوکړل نو الله پاك په هغوی عذاب نازل کړو او هلاك یے کړل او دا د هغوی د خپلو عملونو سزا وه۔ فَأَصَابَهُمْ الخ هغوی د انبیاء علیهم السلام نه انکار کولو، د توحید دعوت یے نه منلو او د توقو او مسخرو په طور به یے د هغوی نه د عذاب مطالبه کوله نو الله تعالیٰ په هغوی باندے عذاب مسلط کړو هغوی ته یے د هغوی د شرکی عملونو او د توقو مسخرو سزا په دُنیا کښې اُوڅکوله د مکے مُشرکان هم که چرے دا غواړی نو جلتی دِ نه کوی که چرے هغوی په خپل موجوده طریقه او عادت باندے قائم پاتے شول نو زمونږ عذاب را غلے اُوگنړی۔

وَقَالَ الَّذِيْنَ اَشْرَكُوْا لَوْ شَآءَ اللّٰهُ مَا عَبَدْنَا مِنْ

او وائی شرك كوونكی شوه كه چرسته غوښتلے هسه الله نو موږ به عبادت نه

دُوْنِهٖ مِنْ شَيْءٍ نَّحْنُ وَلَآ اٰبَآؤُنَا وَلَا حَرَّمْنَا

كولے دهغه نه سوا دهيڅ څيز او نه زموږ پلارانو او نه به حرام كړے وو

مِنْ دُوْنِهٖ مِنْ شَيْءٍ ؕ كَذٰلِكَ فَعَلَ الَّذِيْنَ مِنْ

موږ بغير دحكم دهغه نه هيڅ څيز ولا داشان اوكړل د دوی نه

قَبْلِهِمْ ۚ فَهَلْ عَلَى الرُّسُلِ اِلَّا الْبَلٰغُ الْمُبِيْنُ ﴿٣٥﴾

مخكينو نو د رسولانو په ذمه نشته مگر رسول صفا صفا ول

وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِيْ كُلِّ اُمَّةٍ رَّسُوْلًا اَنِ اعْبُدُوا اللّٰهَ

او موږ ليږلی دی شله په هر اُمت كښے رسولان چه بندگی كوئ د الله

وَاجْتَنِبُوا الطَّاغُوْتَ ۚ فَمِنْهُمْ مَّنْ هَدَى اللّٰهُ وَ

او ځان اوساتئ د باطل معبودانو نو شكه بيا څنو ته هدايت اوكړو الله د دوی نه او

مِنْهُمْ مَّنْ حَقَّتْ عَلَيْهِ الضَّلٰلَةُ ؕ فَسِيْرُوْا فِي الْاَرْضِ

په څنو باندے ثابت شوه گمراهی نو اوگرځئ په مُلكونو كښے

فَانْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُكَذِّبِيْنَ ﴿٣٦﴾ اِنْ تَحْرِصْ

بيا اوگورئ څه انجام شو د دروغژن گنړونكو له كه چرسته ته طمع اوكړے

عَلٰى هُدٰىهُمْ فَاِنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِيْ مَنْ يُّضِلُّ وَمَا

د دوی په لاره د راتللو نو الله پاك لاره نه ښائی هغه چاته څوك چه گمراه كيږی او

لَهُمْ مِّنْ نّٰصِرِيْنَ ﴿٣٧﴾ وَاَقْسَمُوْا بِاللّٰهِ جَهْدَ اَيْمَانِهِمْ ۙ

هيڅوك نشته د دوی مددگار او قسمونه خوری په الله سخت قسمونه لكه

لَا يَبْعَثُ اللّٰهُ مَنْ يَّمُوْتُ ؕ بَلٰى وَعْدًا عَلَيْهِ حَقًّا وَّ

چه را پا به نه څوی الله څوك چه مړ شی ولے نه وعده شوے ده په دے څخه

لٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۳۸﴾ لِيُبَيِّنَ لَهُمُ الَّذِيْ

لیکن اکثر خلق نهٔ پوهیږي
پوره به بیان کړي چه بښکاره تشي دوي

يَخْتَلِفُوْنَ فِيْهِ وَلِيَعْلَمَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْۤا اَنَّهُمْ كَانُوْا

ته هغه خبره چه دوي پکښې جګړه کوله او چه معلوم کړي کافران چه دوي دو

كٰذِبِيْنَ ﴿۳۹﴾ اِنَّمَا قَوْلُنَا لِشَيْءٍ اِذَاۤ اَرَدْنٰهُ اَنْ نَّقُوْلَ

دروغژن وه زموږ وینا یوځیز ته چه کله یې موږ کول او غواړو دا دا چه

لَهٗ كُنْ فَيَكُوْنُ ﴿۴۰﴾

او وایو هغه ته چه شه نو هغه وشي وه

**نکات:** ۱. شکوی ۱۲ ۲. د شکوے جواب او دلیل نقلي اجمالي ۱۲ ۳. تخویف دنیوی ۱۲ ۴. شکوی ۱۲ ۵. ۷ دیه قول د مشرکانو ۱۲ ۶. رد په قول د مشرکانو ۱۲

**موضح قرآن**

ف۱ دا د نا پوهه خلقو کلام دے چه الله تعالیٰ دا کار نه خوښولو نو ولے یې زموږ نه دا کار واخستو. آخره هرے چلے په نزد ځنې کارونه خراب دي نو بیا هغه ولے کیږي دلته یې مجمل جواب ورکړو چه رسولان هیشه منع کونکي راغلي دي دا یا قسمت کښې چه هدایت وُو بیا یې مونده او څوک چه ګمراه کیدل وُو هغه ګمراه شو الله ته هم دا منظور وه ۱۲

ف۲ شریران هغه دي چه نلحقه د سردارۍ دعوی او کړي هیڅ سند نه لري دا سے خلقو ته طاغوت وائي بُت، شیطان او زبردست ظالم تول هم دا دي.

ف۳ یعني په دے دُنیا کښې یې په ډیرو خبرو کښې شک وُو او چا الله اُومنلو څوک منکر شو نو دویم جهان کیدل لازمي دي چه د اختلاف (جګړے) تحقیق اوشي رشتیا او دروغ جُدا شي او مطیع او منکر د خپلو کړو بدله بیا مومي.

ف۴ یعني مړي ژوندي کول زموږ د پاره ګران نهٔ دي.

**فتح الرحمٰن**

ف۱ یعني زموږ اسلافو اجماع کړیده او هغه د الله پاک د رضا نه بغیر نهٔ منعقد کیږي ۱۲

**تفسیر:** ۲۷ دَ قَالَ الَّذِيْنَ اَشْرَكُوْا ... نه تر ... اِلَّا الْبَلٰغُ الْمُبِيْنُ پورے شکوه ده. یعني موږ دومره ډیرو دلیلونو سره ثابته کړه چه د غیر الله عبادت مه کوئ. او په حاجتونو او مشکلاتو کښې ما فوق الاسباب غیر الله مه ۷ ابلئ. لیکن دا بے وقوفان د دے قطعي دلیلونو په مقابله کښې وائي چه که چرے الله ته منظور وے نو موږ به یې د غیر الله عبادت او د غیر الله تحریما تو ته نهٔ وے پریښود لے. د دے نه

مخکښې د شرک فی التصرف په نفی باندې دلیلونه ذکر کړې شو اوس دلته د هغه دو د شرک فعلی د نفی ذکر هم اوکړې شو. كَذٰلِكَ فَعَلَ الخ د شکوې جواب دے یعنی داهیڅ نوې خبره نه ده د دوی نه مخکښې مشرکانو هم د ټوقو په طور هم دا شان وئیل.

**۳۵** دا په توحید باندې دلیل نقلی اجمالی دے دا شان د شکوې جواب هم دے نه مخکښې هر اُمت ته رسُول لیږلے دے او هر رسول ته مونږ هم دا وحی لیږلے وه چه صرف د الله عبادت کوئ او د غیر الله د عبادت او رابللو نه ځان ساتئ. کله چه مونږ هر پیغمبر ته د دے مضمون وحی اُولیږله چه د الله نه سوا د هیچا عبادت مه کوئ نو ستاسو دا وئیل غلط ثابت شُو چه که چرے د الله خوښه وے نو مونږ به د هغه نه سوا د بل چا عبادت نه کولے ځکه چه بیشکه د الله مرضی هم دا وه چه د هغه نه سوا د بل چا عبادت دِ اُونکړے شي او نه دِ د هغه نه سوا د بل چا د پاره تحریمات اُوکړے شي.

**۳۶** طاغوت هر هغه معبود دے چه د الله نه سوا د هغه عبادت اُوکړے شي الطاغوت وهو اسم کل معبود من دون الله (خازن ومعالم ص۱۱۹ ج ۴) المراد به اجتنبوا عبادة ما تعبدون من دون الله فسمی الکل طاغوتا (کبیر ص۲۵ ج ۵) یا د طاغوت نه مراد شیطان او د گمراهی هر داعی دے. الطاغوت هو الشیطان وکل من یدعوا الی الضلالة (ابوالسعود ص۱۱۲ ج ۵)

**۳۰** تخویفِ دُنیوی دے یعنی د دروغژن کُونکو حال اُوگورئ ستاسو انجام به هم داوی. اِنْ تَحْرِصْ نبی علیه السلام ته تسلی ده. وے فرمائیل چه د دوی په زړونو باندے د هغوی د مسلسل ضد او عناد په وجه سره د جباریت مهر لګیدلے دے د دے وجے نه اُوس تاسو د دوی د ایمان راوړلو هیڅ اُمید مه ساتئ.

**۳۱** دا هم شکوه ده یعنی دا مشرکان یو طرفته شرک کوی او غیر الله متصرف او کارساز گنړی غائبانه یے رابلی او دے سره دیره مختی سره د حشر او نشر نه هم انکار کوی. بَلٰى وَعْدًا عَلَيْهِ الخ دا د مشرکانو د قول رد دے وے فرمائیل ولے نه د مرګ نه روستو د دوباره ژوندی کولو وعده یے کړے ده چه هغه به ضرور پوره کوی لِيُبَيِّنَ لَهُمُ الخ په دے کښے د حشر او نشر او بعثتِ اُخروی حکمت بیان کړے شوی دے چه حشر او نشر به د دے د پاره وی چه د حق او باطل د اختلاف آخری او قطعی فیصله اُوکړے شي چه کله حق والا جنت ته او شرک والا دوزخ ته داخل کړے شي نو هغه وخت به د توحید په حق کیدو او د شرک په باطل کیدو کښے د مشرکانو هم اختلاف پاتے نه شي. دا شان د قیامت په ورځ به په دے وجه هم قائمیږی چه مشرکانو ته واضحه شي چه هغوی د توحید نه انکار او د حشر نه په انکار کښے دروغژن وو. د دے کښے کافرانو د پاره تخویفِ اُخروی هم دے.

**۳۲** دا د مشرکانو د قول لَا يَبْعَثُ اللّٰهُ مَنْ يَّمُوْتُ الخ رد دے یعنی زمونږ د پاره د

انسانانو دوباره ژوندی کول غه ګران کار نه دے نهکه چه کله مونږ د غه کار کولو
اراده کوو نو هغه کار کیږی۔ اعلمهم سهولة الخلق علیه ای اذا اردنا ان نبعثه من
یموت فلا تعب علینا ولا نصب فی احیائهم ولا فی غیر ذلك مما نحدثه (قرطبی صفحه ١٠٢)

وَالَّذِينَ هَاجَرُوا فِي اللَّهِ مِنْ بَعْدِ مَا ظُلِمُوا

او چا چه کور پریښود د الله د پاره ٣٣ پس د هغے چه ظلم پرے اوشو

لَنُبَوِّئَنَّهُمْ فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً ۖ وَلَأَجْرُ الْآخِرَةِ أَكْبَرُ ۚ

خامخا به مونږ ورکړو دوی له ځائے په دُنیا کښے ښه او ثواب د آخرت خو ډیر لوئی دے

لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ ﴿٤١﴾ الَّذِينَ صَبَرُوا وَعَلَىٰ رَبِّهِمْ

که چیرے دوی پوهیدے کوم خلق چه ثابت قدم پاتے شول او په رب خپل باندے

يَتَوَكَّلُونَ ﴿٤٢﴾ وَمَا أَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ إِلَّا رِجَالًا نُوحِي

توکل اوکړو هغه او ستا نه وړاندے هم مونږ ٣٤ هغه سړی لیږلی وُو چه حکم

إِلَيْهِمْ ۚ فَاسْأَلُوا أَهْلَ الذِّكْرِ إِنْ كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُونَ ﴿٤٣﴾

لیږلو مونږ دوی ته پس تپوس اوکړئ د یاد ساتونکو نه که تاسو ته معلومه نه وی هغه

بِالْبَيِّنَاتِ وَالزُّبُرِ ۗ وَأَنْزَلْنَا إِلَيْكَ الذِّكْرَ لِتُبَيِّنَ

نښو او پاڼرو سره مونږ لیږلی وُو او نازل کړیدے مونږ ستا ته د یاد داشت چه ته ښکاره کړے

لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ إِلَيْهِمْ وَلَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ ﴿٤٤﴾

خلقو ته هغه شے چه نازل شویدے د دوی د پاره چه دوی غور اوکړی

أَفَأَمِنَ الَّذِينَ مَكَرُوا السَّيِّئَاتِ أَنْ يَخْسِفَ اللَّهُ

پس آیا بے ویرے شول هغه خلق کوم چه ناکاره فریبونه کوی د دے نه چه ډوب کړی الله

بِهِمُ الْأَرْضَ أَوْ يَأْتِيَهُمُ الْعَذَابُ مِنْ حَيْثُ لَا

دوی لره په زمکه کښے یا راشی په دوی عذاب د داسے ځائ نه چه دوی تره

يَشْعُرُونَ ﴿٤٥﴾ أَوْ يَأْخُذَهُمْ فِي تَقَلُّبِهِمْ فَمَا هُم

خبر نه دی یا ونیسي دوی لره په ګرځیدو کښې پس دوی نه دي

بِمُعْجِزِينَ ﴿٤٦﴾ أَوْ يَأْخُذَهُمْ عَلَىٰ تَخَوُّفٍ فَإِنَّ رَبَّكُمْ

عاجزه کونکي یا ونیسي دوی لره د ویرولو نه پس ف۳ پس تاسو رب

لَرَءُوفٌ رَّحِيمٌ ﴿٤٧﴾ أَوَلَمْ يَرَوْا إِلَىٰ مَا خَلَقَ اللَّهُ مِن

ډیر مشفق مهربان دے. ایا نه ګوري ف۳۶ هغوی ته کوم چه پیدا کړیدي الله څه

شَيْءٍ يَتَفَيَّأُ ظِلَالُهُ عَنِ الْيَمِينِ وَالشَّمَائِلِ سُجَّدًا لِّلَّهِ

شے چه اوړي سورے د دهٔ ښي طرف او ګس طرف ته سجده کونکي

وَهُمْ دَاخِرُونَ ﴿٤٨﴾ وَلِلَّهِ يَسْجُدُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا

الله ته او دوی عاجزي کوي ف۲ او الله ته سجده کوي څه چه په اسمانونو کښې دي او

فِي الْأَرْضِ مِن دَابَّةٍ وَالْمَلَائِكَةُ وَهُمْ لَا يَسْتَكْبِرُونَ ﴿٤٩﴾

څه چه په زمکه کښې دي د ښکاروو نه او فرښتې او هغوی تکبر نه کوي ف۳

يَخَافُونَ رَبَّهُم مِّن فَوْقِهِمْ وَيَفْعَلُونَ مَا يُؤْمَرُونَ ﴿٥٠﴾ السجدة

ویریږي د خپل رب نه د پورته نه او کوي څه چه ورته حکم کیږي ف۱

**نکات:** ۱ مهاجرینو د پاره دنیوي او اخروي بشارت ۱۲ ۲ جواب د سوال مقدر ۱۲ ۳ ترغیب الی القرآن ۱۲ ۴ په توحید باندے څلورم عقلي دلیل ۱۲

**موضح قرآن**

ف۱ یادلرونکي یعني اهل کتاب چه تیرشوي حالات ئے پیژندل ۱۲

ف۲ هرڅیز په غرمه کښې برابر ولاړ وي د هغې سورے هم ولاړ وي کله چه ورځ په کمیدو شي او نمروا وړي نو سورے هم ورسره واوړي. بیا اوږد ید لو ته او درکوع نه سجدے ته دا شان هرڅیز په خپله ولاړ دے نه رکوع کوي په هر څنګ کښې او په هر موسم کښې ښي طرفته اوږد دیږي او کله ګس طرفته

ف۳ مخکښې د ولاړو څیزونو سجده بیان شوه. دا د ځناورو او د فرښتو سجده بیان دے مغرورو خلقو ته سر په زمکه کیښودل ګران او مشکل ښکاري او نه پوهیږي

چه د بنده لوئی صرف په دے سجده کښے ده.

ف ی د هر بنده په زړه کښے ده چه څما د پاسه د الله دے ځان خکته کنړی دا سجده د فرښتو هُم ده او د ټول مخلوق هُم.

**فتح الرحمن** ف۱ او دا وعده پوره شوه چه مهاجرينو ته يے په مدينه کښے ځائ ورکړو ۱۲ ف۲ يعني تيرشوی پيغمبران انسانان وُو فرښتے نه وُو ۱۲ ف۳ يعني د پيغمبرانو او مؤمنانو په حق کښے ۱۲ ف۴ يعني د قرآن قائمين لو د هلاکت نه روستو ۱۲

**تفسير:** ۳۳ مهاجرينو د پاره د دُنيوی او اُخروی بشارت دے، دے نه صحابه مهاجرين مراد دی کوم چه د مکے مُشرکانو خالص د توحيد په وجه سره د ظلم او زياتی نښه گرځولی وُو او حبشے او مدينے ته يے هجرت کړے وُو. هم رسول الله و اصحابه ظلمهم اهل مكة ففروا بدينهم الى الله منهم من هاجر الى الحبشة ثم الى المدينة فجمع بين الهجرتين ومنهم من هاجر الى المدينة (مدارک ص۲۲ ج ۲) الله تعالیٰ مهاجرينو رضی الله عنهم ته په دنيا کښے هُم د عزت والا او د رُعب نه ډک ژوند ورکړو او د آخرت اجر و ثواب خو به د دے نه ډير زيات وی. اَلَّذِيۡنَ صَبَرُوۡا الخ دا د اَلَّذِيۡنَ هَاجَرُوۡا صفت دے. دا گويا د من كور الصدر اجر و ثواب سبب دے يعني هغوی د مُشرکانو ټول ظلمونه او مُصيبتونه په رونړ تندی برداشت کړل او دينِ اسلام يے پريے نخودهٔ او د الله تعالیٰ په مدد او نصرت يے بهروسه اوکړه.

۳۴ دا ديوے شبهے يا د سوال مقدر جواب دے. مُشرکانو اووئيل چه مونږ د توحيد دعوی ځکه نه منُو چه د دے دعوے راوړونکے انسان او بشر دے. نبوّت او رسالت خو ډير لوئی اعزاز دے چه بشر ته نه شی ملاويدے په دے وجه که چرے فرښته راتللے نو مونږ به د هغے خبره منلے. وے فرمائيل چه د دهٔ نه مخکښے مونږ څومره پيغمبران ليږلی دی او کتابونه او صحيفے مو ورکړيدی هغه ټول انسانان او بشر وُو. د اهلِ کتابو د عالمانو نه تپوس اوکړئ او تسلی اوکړی. هغوی به يے هُم درته اووائی چه نبيان عليهم السلام بشر او انسان وُو. قال الزجاج فَاسۡـَٔلُوۡۤا اَهۡلَ الكتاب الذين يعرفون معانی كتب الله تعالىٰ فانهم يعرفون ان الانبياء عليهم السلام كلهم بشر (كبير ص۳۶ ج ۵)

۳۵ ترغيب الی القرآن دے يعني مونږ په تا قرآن نازل کړيدے دے د پاره چه تاسو هغوی ته د توحيد مسئله صفاصفا بيان کړئ او هغوی بنهٔ پوهه کړئ. اَفَاَمِنَ الَّذِيۡنَ مَكَرُوا الخ د شبهے د ازالے او ترغيب نه روستو يے عنادياتو ته د آخرت تخويف واوروَلو يعني کوم خلق چه اسلام ختمولو ليے لگيدلی دی او نوی نوی پروگرامونه او منصوبے جوړوی هغوی د زمونږ د عذاب نه بے ويرے او مطمئن نهٔ شی. هغوی له ويريدل پکار دی هسے نهٔ په زمکه کښے هغوی ننوستلے شی. ناساپه د يو

اسماني آفت راپریوځي. یا به یو سفر کښې بې د الله عذاب
طرفنه په هغوی شي. یا هغوی ته د مال او څارو او د زراعت په تباهئ نقصان اورسي. فَإِنَّ رَبَّكُمْ لَرَءُوفٌ
رَّحِيمٌ. الله تعالی ډیر مهربان دے چه مجرمان فوراً نه نیسي بلکه هغوی ته مهلت
ورکوي چه شاید هغوی سمے لارے ته راشي.

۳۶ په توحید باندے څلورم عقلي دلیل دے. الله تعالی چه څه څیزونه پیدا
کړیدي د هغې سورے د الله د تکویني قانون د لاندے کمیږي او زیاتیږي. د
کائناتو هر څیز د الله تعالی د تکویني احکامو مطیع او فرمانبردار دے. عَنِ الْيَمِينِ
وَالشَّمَائِلِ الخ لفظ د ما صورةً مفرد دے د دے وجے نه د دے رعایت سره یمین مفرد
راوړلے شویدے. او ما معنیً جمع دے ځکه چه د دے نه ټول سوري لرونکي مخلوق مراد
دے. په دے وجه د دے رعایت کولو سره شمائل جمع استعمال کړے شویدے. وَهُمْ
دَاخِرُونَ. هم نه ذوي العقول او غیر ذوي العقول ټول مراد دي لیکن تغلیباً
ضمیر د عقلاء استعمال شویدے. وَلِلَّهِ يَسْجُدُ الخ د زمکے او اسمان هر ساه
لرونکے مخلوق او فرښتے ټولے د الله په وړاندے سجده کوي. يَخَافُونَ رَبَّهُمْ
فرښتے د دے قرب او مرتبے باوجود د الله پاک نه ویریږي. او د الله تعالی پوره
تابعدارے دي. غرض دا چه د کائناتو هر څیز او ټول مخلوق د الله تعالی په
مخکښے عاجز، مطیع او تابعدار دے. لهٰذا په دوي کښے څوک هم د معبود کیدو
لائق نه دے. مِن شَيْءٍ تعبیر مفید استغراق دے.

وَقَالَ اللَّهُ لَا تَتَّخِذُوا إِلَٰهَيْنِ اثْنَيْنِ ۖ إِنَّمَا هُوَ

او وئیلي دي الله تعالی مه نیسئ معبودان دوه د غه معبود

إِلَٰهٌ وَاحِدٌ ۖ فَإِيَّايَ فَارْهَبُونِ ﴿٥١﴾ وَلَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ

یو دے پس ځما نه او ویریږئ او خاص د هغه دي څه چه په

وَالْأَرْضِ وَلَهُ الدِّينُ وَاصِبًا ۚ أَفَغَيْرَ اللَّهِ تَتَّقُونَ ﴿٥٢﴾

اسمانونو کښے دي او په زمکه کښے دي او د هغه عبادت دے همیشه. پس آیا بغیر د الله نه د چا نه ویره کوئ

وَمَا بِكُم مِّن نِّعْمَةٍ فَمِنَ اللَّهِ ۖ ثُمَّ إِذَا مَسَّكُمُ الضُّرُّ

او څه چه تاسو سره دے نعمت شته پس د الله د طرفنه بیا کله چه تاسو ته رسي سختي

فَإِلَيْهِ تَجْأَرُونَ ﴿٥٣﴾ ثُمَّ إِذَا كَشَفَ الضُّرَّ عَنكُمْ إِذَا فَرِيقٌ

نو هغه ته چیغے وهئ. بیا چه کله لرے کړي سختي تاسو نه د غه وخت یو فریق

مِّنكُم بِرَبِّهِمْ يُشْرِكُونَ ﴿٥٤﴾ لِيَكْفُرُوا بِمَا آتَيْنَاهُمْ

په تاسو کښې دخپل رب سره شریک جوړوي دے دپاره چه منکر شي ستله دهغه شي نه کوم

فَتَمَتَّعُوا ۖ فَسَوْفَ تَعْلَمُونَ ﴿٥٥﴾ وَيَجْعَلُونَ لِمَا لَا

چه مونږ دوی له ورکړے دے پس مزه واخلئ ډیر زر به پوهه شئ . او ګرځوي هغه خلقو دپاره چه خبر

يَعْلَمُونَ نَصِيبًا مِّمَّا رَزَقْنَاهُمْ ۗ تَاللَّهِ لَتُسْأَلُنَّ

ورته نشته ئے برخه حصه زمونږ د ورکړي رزق نه . قسم په الله تاسو نه به تپوس وشي

عَمَّا كُنتُمْ تَفْتَرُونَ ﴿٥٦﴾ وَيَجْعَلُونَ لِلَّهِ الْبَنَاتِ

د هغې چه تاسو دروغ جوړول . او ګرځوي الله دپاره ئے لونړه

سُبْحَانَهُ ۙ وَلَهُم مَّا يَشْتَهُونَ ﴿٥٧﴾ وَإِذَا بُشِّرَ أَحَدُهُم

هغه د دے نه پاک دے او دخان دپاره ئے چه خه زړه غواړي هغه . او چه کله زیرے ملاوشي

بِالْأُنثَىٰ ظَلَّ وَجْهُهُ مُسْوَدًّا وَهُوَ كَظِيمٌ ﴿٥٨﴾ يَتَوَارَىٰ

په دوی کښې یوته په لور نو تول ورځ شي تور دهغه مخ تور او هغه زړه خوري . پټ ګرځي د خلقو

مِنَ الْقَوْمِ مِن سُوءِ مَا بُشِّرَ بِهِ ۚ أَيُمْسِكُهُ عَلَىٰ

نه د . هغې د بدوالي د دے زیري چه ورکړے شوے دے آیا ؤساتي هغه سره

هُونٍ أَمْ يَدُسُّهُ فِي التُّرَابِ ۗ أَلَا سَاءَ مَا يَحْكُمُونَ ﴿٥٩﴾

دسپکوالي یا ئے ښخه کړي په خاؤره کښې خبردار! بد فیصله کوي.

لِلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ مَثَلُ السَّوْءِ ۖ وَلِلَّهِ

کوم خلق چه نه مني ئے آخرت دهغوی مثال بد دے او د الله

ع ۷ ۱۴ الْمَثَلُ الْأَعْلَىٰ ۚ وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴿٦٠﴾ ع

مثال د ټولو نه اوچت دے او هغه غالب او حکمت والا دے

**نکات:** -ك د توحید د دعوے دوباره اعاده او د ذکرشوی دلیل ثمره ده ۱۲ ك۲ احسان کول په طور د زجر ۱۲ ك۳ اشاره ده تخویف اُخروی ته ۱۲ ك۴ زجر او دریم محل نفی د شرك فعلی ذکر کول ۱۲

**موضح قرآن** ف۱ دا یے هغه چاته اُوفرمائیل چه په فصلونو او خاروؤ کښے، تجارت کښے د الله نه سوا د چا نذر او منښته کوی. ټول مال د الله دے د بل چا حق نه دے لیکن د الله په لاره کښے چه ورکری د خپل ځان ثواب دپاره بیا خپله بدله کښے ثواب بل چاته اُو بخښی نو هغه بیله خبره ده ۱۲

ف۲ یعنی ځان دپاره محامن غواړی۔

**فتح الرحمٰن:** ف۱ یعنی محامنولره ۱۲

**تفسیر:** ۳۷ دا د توحید د دعوے دویم محل اعاده ده او د ماقبل دلائلو حاصل او ثمره ده. یعنی چه کله ټول کائنات د الله تعالیٰ په مخکښے تکوینی طور بانده عاجز او بے وسه او د هغه د تصرف او اختیار د لاندے دی نو بیا د الله تعالیٰ نه سوا بل څوك اِلٰه معه جوړوئ اِلٰه یعنی کارساز او مالك او مختار صرف هغه یو الله دے د هغه نه او وړیږئ او په مُصیبتونو او آفتونو کښے صرف هغهٔ ته اواز کوئ. دِاِلٰهَیْنِ نه روستو یے اِثْنَیْنِ ځکه اُوفرمائیلو چه د جنس اِلٰه نفی مقصود نه ده بلکه د اِلهٰو تعدد نفی مقصود ده. وَلَهٗ مَا فِی السَّمٰوٰتِ الخ دا د څلورم دلیل سره متعلق دے او د هغے حصه ده. وَاصِبًا اَیْ دَائِمًا (قرطبی) د ربیع بن انس نه نقل دی وَاصِبًا ای خالِصًا (روح) او د اَلدِّیْنُ معنیٰ عبادت ده. حضرت عکرمه فرمائی اَلدِّیْنُ نه د توحید شهادت او ټول شرعی حدود او د فرائضو اقامت مراد دے. قال ابن جبیر العبادة وقال عکرمة شهادة ان لا اِلٰه الا الله واقامة الحدود والفرائض (بحر محیط) یعنی د الله سره بل هیڅوك په الوهیت کښے معه شریکوئ د هغهٔ نه علاوه هیڅوك د الوهیت لائق نشته ځکه چه د ټولو کائناتو مالك صرف هغه دے. لهٰذا هغه د ټولو کارساز دے او د همیشه نه هغه د عبادت او اواز مستحق دے. لهٰذا خاص د هغهٔ عبادت کوئ په مُشکلاتو کښے صرف هغهٔ ته اواز کوئ او د هغهٔ د ټولو فرائضو او حدودو په پوره اخلاص سره پابندی کوئ. اَفَغَیْرَ اللّٰهِ تَتَّقُوْنَ دا زجر دے. وے فرمائیل تاسو له ویره خو د الله نه پکار ده چه د ټول جهان مالك او د ټولو کارساز دے. لیکن تاسو د غیر الله نه ویریږئ او تاسو غیر الله کارساز او حاجت روا جوړ کړیدی.

۳۸ دا په طور د زجر احسان یادول دی. پکار خو دا وه چه ستاسو اُمید نه او ستاسو ویره د الله تعالیٰ سره تړلے شویدی. ځکه چه د دلائلو نه ثابته شوه چه ټول هر څهٔ کولو والا او هر څهٔ ورکولو والا الله تعالیٰ دے. تاسو خوراك کړئ، تاسو سره چه څومره نعمتونه دی هغه ټول د الله پاك ورکړے شویدی او چه

کله به تاسو باندے څۀ مصیبت راشی نو بیا په زارئی او عاجزئی سره الله ته اوازن کوئ. ۳۸ اِذَا کَشَفَ الخ بیا چه کله هغه خپلے مهربانئی ستاسو مشکلات اسان او ستاسو تکلیفونه لرے کړی. نو ستاسو نه ډیر خلق د الله تعالیٰ نا شکری کوی او د الله پاک انعامونه د غیر الله طرفته منسوب کوی. که چرے الله تعالیٰ خوئی ورکړو نو وائی د فلانی بزرګ نذر مِ منلے وو څکه مِ خوئی اوشو یا د فلانی بزرګ د زیارت خاوره مِ راوړه او په مریض مِ اوځکوله نو هغه بالکل صحتمند شو وغیره. والفریق هناهم المشرکون المعتقدون حالة الرجاء ان الهتهم تنفع وتضر وتشفی (بحر ص۵۰۳ ج ۵) سید محمود الوسی حنفیؒ فرمائی چه د دے ایت نه معلومیږی چه کوم خلق نن صبا په خپلو حاجتونو او مصیبتونو کښے د غیر الله پناه لټوی د هغوی ګمراهی د مخکینو ګمراهانو نه هم زیاته ناکاره ده. وفی الایة ما یدل علی ان صنیع اکثر العوام الیوم من الجوار الی غیره تعالیٰ ممن لا یملک لهم بل ولا لنفسه نفعًا ولا ضرًا عند اصابة الضر لهم واعراضهم عن دعائه تعالیٰ عند ذلک بالکلیة سفه عظیم وضلال جدید لکنه اشد من الضلال القدیم (روح ص۱۶۶ ج ۱۴).

۳۹ لام عاقبت دپاره دے یعنی د دوی د دے رویے انجام د الله د نعمتونو ناشکری ده. فَتَمَتَّعُوْا الخ دا تخویفِ اُخروی طرفته اشاره ده. یعنی زمونږ د نعمتونو نه فائده واخلئ او ناشکری کوئ. ترڅو به دا سے کوئ اخر به د خپل ټول بد عملونو انجام په خپلو سترګو اووینئ او خپله غلطی به معلومه کړئ.

۴۰ دا زجر دے او په دے کښے دویم حُل د شِرکِ فعلی د نفی ذکر دے یعنی تاسو غیر الله متصرف او کارساز ګنړئ او د هغه نذرونه ورکوئ او تحریمات کوئ. او کوم نعمتونه چه مونږ تاسو ته درکړیدی په هغے کښے د غیر الله حصے راوباسئ. شاه عبد القادرؒ لیکی "دا یے هغه چا ته اوفرمائیل چه په خپل فصل کښے، خاروِ کښے، تجارت کښے د الله نه سوا د بل چا نذر منی. بټول مال د الله دے د بل هیچا حق نشته. لیکن د الله په لاره کښے چه ورکړے خپل ثواب دپاره بیا د خپل ځان په بدله کښے ثواب بل چا ته اوبخښے." المراد من هذا النصیب البحیرة والسائبة والوصیلة والحام وهو قول الحسن (کبیر ص۴۰۲ ج ۵)

۴۱ دا تخویفِ اُخروی طرفته اشاره ده. یعنی د دے شرکِ فعلی په باره کښے به ستاسو نه ضرور تپوس کیږی.

۴۲ دا زجر دے. د مشرکانو څنو قبائلو (خزاعه او کنانه) به فرشتو ته د الله لونړه وئیلے. لیکن د هغوی خپل حال دا وُو چه په خپله به یے لونړه نه خوښولے سُبْحٰنَهٗ. دا د مشرکانو د باطل قول رد دے چه الله پاک خو بے نیازه او د اولاد نه پاک دے. مشرکانو به فرښتے د الله صُلبی لونړه نه منلے بلکه د هغوی عقیده وه چه څنګه لونړه پلار ته ډیرے ګرانے وی او پلار د هغوی کومه خبره نه

رد کوي داشان فرښتې هم الله تعالٰی ته ډیرې ګرانې دي او الله پاک د هغوی سفارش ضرور مني او نه یې رد کوي خکه چه د وَيَجْعَلُونَ لِلَّهِ الْبَنَاتِ تعبیر بنائي. یعنی الله د پاره هغوی لونړه ګرځوي. د دې نه علاوه په سورة زخرف کښې د مشرکانو قول داشان بیان شوید ے. اَمِ اتَّخَذَ مِمَّا يَخْلُقُ بَنٰتٍ وَّ اَصْفٰكُمْ بِالْبَنِيْنَ (۲۶) د اتخاذ بنات یعنی د لونړو ګرځولو تعبیر بیانوي چه هغوي فرښتې صلبي (حقیقي) لونړه نه بلکه د لونړو پشان ګنړلې.

۴۳ دا د مشرکانو د پورته ذکرشوي قول الزامي جواب دے چه د هغوی خپل حال خو دا دے چه که چرے د چا په کور کښې جینۍ پیدا شي د غم خفګان د وجې نه د هغه مخ تور شي. يَتَوَارٰى مِنَ الْقَوْمِ او ډیرے ورځے هغه د خلقو نه پټ اوسیږي او د شرم د وجې نه چا ته مخ نه ښائي. او بیا سوچ کوي چه آیا ذلت او رسوائي برداشت کړلو سره هغه ژوندۍ پریږدم یا یې ژوندۍ په زمکه کښې ښخه کړم. اَلَا سَآءَ مَا يَحْكُمُوْنَ o دا څومره بده او د شرم خبره ده چه کوم څیز هغوي پخپله نه خوښوي هغه الله د پاره ثابتوي.

۴۴ دا د ماقبل سره متعلق دے او د یکښې د مشرکانو د ذکر شوي قول شفاعت طرفته اشاره ده. دا مشرکان چه په آخرت باندے یې ایمان نشته او د چا په زړونو کښې چه د آخرت د جواب ورکولو ویره نشته هغوي د ډیر خراب صفتونو مالکان دي. مثلاً هلکان خوښوُل او د جینکو نه نفرت کوُل او د شرم او فقیرۍ د ویرے نه هغه ژوندۍ ښخوُل. لیکن الله تعالٰی د اوچتو صفتونو مالک دے. او د دے کمزورو صفتونو نه پاک دے. صفة السوء وهی الحاجة الی الاولاد الذکور وکراهة الاناث ووأدهن نحشیة الاملاق (وَلِلّٰهِ الْمَثَلُ الْاَعْلٰى) وهو الغني عن العالمین والنزاهة عن صفات المخلوقین (مدارک ص ۲۲۳ ج ۲) الله پاک د مخلوق د صفاتو نه پاک او د اولاد نه مستغني دے. د هغه نه یو نائب او معاون نه حاجت شته او نه هغه د چا د سفارش تابع دے. اَلْعَزِيْزُ في الاخذ وَالْحَكِيْمُ في التاخیر. یعنی هغه په نیولو کښې زبردست دے. او په مهلت ورکولو کښې هم د هغه څه حکمت وي.

وَلَوْ يُؤَاخِذُ اللّٰهُ النَّاسَ بِظُلْمِهِمْ مَّا تَرَكَ عَلَيْهَا

او که ونیسي څکه الله خلقو لره د دوی په بے انصافۍ باندے پاتے به نه کړي په

مِنْ دَآبَّةٍ وَّلٰكِنْ يُّؤَخِّرُهُمْ اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى ۚ فَاِذَا

زمکه باندے یو تلونکے لیکن مهلت ورکوي دوی ته تر یو وخت مقرر پورے. بیا چه کله

جَآءَ اَجَلُهُمْ لَا يَسْتَاْخِرُوْنَ سَاعَةً وَّلَا يَسْتَقْدِمُوْنَ ﴿۶۱﴾

راشی د دوی وعده نه به وایس وُخوزی یو ساعت او نه به وړاندے وُخوزی ف

وَيَجْعَلُوْنَ لِلّٰهِ مَا يَكْرَهُوْنَ وَتَصِفُ اَلْسِنَتُهُمُ الْكَذِبَ

او گرځوی الله د پاره هغه چه دوی ئی بدگڼی نه غواړی فلشته او بیانوی د دوی ژبے دروغ

اَنَّ لَهُمُ الْحُسْنٰى ؕ لَا جَرَمَ اَنَّ لَهُمُ النَّارَ وَاَنَّهُمْ

چه د دوی د پاره نیکی ده شک بیشکه ثابته ده چه د دوی د پاره اور دے او دوی به

مُّفْرَطُوْنَ ﴿۶۲﴾ تَاللّٰهِ لَقَدْ اَرْسَلْنَآ اِلٰٓى اُمَمٍ مِّنْ قَبْلِكَ

وړاندے کړے شی۔ قسم دے په الله چه موږ رسولان لیږلی دی تا نه مختلفو فرقو ته مخکښ

فَزَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطٰنُ اَعْمَالَهُمْ فَهُوَ وَلِيُّهُمُ الْيَوْمَ وَ

وړاندے بیا ښائسته کړل دوی ته شیطان د دوی کارونه پس هغه ملگرے د دوی دے نن او

لَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۶۳﴾ وَمَآ اَنْزَلْنَا عَلَيْكَ الْكِتٰبَ اِلَّا

د دوی د پاره عذاب درد ناک دے۔ او موږ نه دے نازل کړے په تا کتاب دا دے د پاره

لِتُبَيِّنَ لَهُمُ الَّذِى اخْتَلَفُوْا فِيْهِ ۙ وَهُدًى وَّرَحْمَةً

چه ښکاره بیان کړے ته دوی ته هغه شے په کوم کښے چه دوی جگړه کوله او د هدایت او رحمت د پاره

لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿۶۴﴾ وَاللّٰهُ اَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَاَحْيَا

او رحمت د پاره د ایماندارو۔ او الله نازل کړے د اسمان نه اوبه نو ژوندۍ کړه بیا په هغے مړه

بِهِ الْاَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ؕ اِنَّ فِىْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لِّقَوْمٍ يَّسْمَعُوْنَ ﴿۶۵﴾

ژوندۍ کړه زمکه پس د مرګ د هغے نه۔ په دیکښے نښے دی د هغه خلقو د پاره چه اوری۔ ف

وَاِنَّ لَكُمْ فِى الْاَنْعَامِ لَعِبْرَةً ؕ نُسْقِيْكُمْ مِّمَّا فِىْ بُطُوْنِهٖ

او ستاسو د پاره په څارو کښے د سوچ ځای دے څښوو موږ تاسو ته هغه چه د دوی د

مِنْۢ بَيْنِ فَرْثٍ وَّدَمٍ لَّبَنًا خَالِصًا سَآئِغًا لِّلشّٰرِبِيْنَ ﴿۶۶﴾

گیډے د نجیز د ینو نه د ښوتو او وینے د مینځ نه یئ شو چه خوند ناک څکونکو د پاره۔

**نکات:** ۱ تخویفِ دُنیوی ۱۲ ۲ اعاده په وجه د ډیروالی د زمانے ۱۲ ۳ تخویفِ اُخروی ۱۲ ۴ پنځم عقلی دلیل ۱۲

**موضح قرآن:** ف۱ یعنی خلقو ته سزا ورکړی نو باران بند کړی چه په هغے کښے خاروی هم مړه شی۔ ف۲ داپیے هغه چا ته اُو فرمائیل چه الله په نوم ورکوی او په دے یقین لری چه مونږ ته به جنت ملاویږی او خیزونه د الله په نوم ورکوی او په دے یقین لری چه مونږ ته به جنت ملاویږی او هغوی ورځ په ورځ دوزخ ته نزدے کیږی۔

ف۳ یعنی داشان به په قرآن سره جاهلان عالمان کړی که چرے په زړه سره یے واوری۔

**فتح الرحمٰن:** ف۱ یعنی لونړه ۱۲

**تفسیر:** ۴۵ دا تخویفِ دُنیوی دے مشرکان په کُفر او افتراء کښے انتها ته رسیدلی دی لیکن الله تعالیٰ په نیولو کښے د جلتیٔ نه کار نهٔ اخلی که چرے هغه خلق د هغوی په ګناهونو باندے فوراً نیولے نو تر اُوسه به په زمکه باندے یو ځیان هم ژوندے نهٔ وُو پاتے شوے او ټول به هلاک شوے وے او زمکه به د ژوندو نه خالی شوے وے ځکه چه معصوم خو صرف نبیان علیهم السلام دی باقی ټول خلق (مؤمنان، کافران) په څهٔ نه څهٔ درجه کښے ظالمان او خطا کار دی چه کله ټول ظالمان او خطا کار خلق هلاک کړے شول نو اُوس معصوم نبیانو ته په زمکه باندے دیرلو هیڅ ضرورت نهٔ پاتے کیږی چه کله زمکه د ټولو نیکو او بدو انسانانو نه خالی شوه نو بیا به د نورو حیواناتو په زمکه باندے د ساتلو هیڅ فائده نهٔ وی۔ ووجه الملازمة انه تعالیٰ لو اخذهم بما کسبوا من کفر و معصیة لعجل هلاکهم وحینئذ لا یبقی لهم نسل ومن المعلوم ان لا احدا الا وفی ابائه من یستحق العقاب واذا هلکوا جمیعا وبطل نسلهم لا یبقی احد من الناس وحینئذ یهلك الدواب لانها مخلوقة لمنافع العباد ومصالحهم الخ (روح ص۱۷۱ ج۱۴) حضرت شیخ قدس سرهٗ فرمائی مَا تَرَكَ عَلَىٰ ظَهْرِهَا مِن دَآبَّةٍ دا کنایه ده یعنی که چرے الله تعالیٰ خلق د هغوی د ګناهونو په وجه اُونیسی نو هیڅوك د هغهٔ د ګرفت نه نشی بچ کیدے او نهٔ چرته تښتیدے شی۔ دا مطلب نهٔ دے چه هغه به یو ځناور هم ژوندے نهٔ پریږدی۔

۴۶ الله تعالیٰ د مُجرمانو په نیولو کښے جلتی نهٔ کوی بلکه یو مقرر وخته پورے هغوی ته مُهلت ورکوی دے د پاره چه هغوی ته د حال د اصلاح موقعه ملاوشی لیکن چه کله د عذاب مقرر شوے وخت راشی نو هغوی په عذاب سره هلاك کړے شی۔ عذاب د مقرر وخت نه نهٔ مخکښے راتلے شی نهٔ په هغے کښے روستو والے کیدے شی۔ فَإِذَا د پاره جزاء محذوف ده۔ ای فاذا جاء اجلهم یعذبون او لَا يَسْتَأْخِرُونَ مستقل جُمله ده چه د ماقبل تفسیر کوی۔ قاله الشیخ قدس سرهٗ۔ د دے تفسیر مخکښے

تیرشوي دي د سورة یونس تفسیر حاشیه نمبر ۲ اوګورئ۔

۴۶ وَيَجْعَلُونَ لِلّٰهِ الْبَنَاتِ الخ اعاده د پاره د بعد عهد ده. د مشرکانو دروغو دعوے د بدئ او خرابئ واضح کولو د پاره د هغوی پوره ذکر شوے شرک دوباره بیان کړے شو یو طرفته خو د الله تعالٰے پاک ذات باندے هغوی دومره لوئ بهتان تړی چه د الله تعالٰے د پاره لونړه دی حالانکه په خپل لونړه نه خوښوی یا مطلب دادے چه د الله تعالٰے په الوهیت کښے باطل معبودان شریکوی حالانکه په خپل دائره اقتدار کښے د هیڅ شرکت نه برداشت کوی. مَا يَكْرَهُونَ لِاَنْفُسِهِمْ من البنات ومن شرکاء فی ریاستهم الخ (مدارک ص۲۲۳ ج۲) او بل طرفته دا د دروغو دعوی کوی چه هغوی به د جنت وارثان وی. که چرے بالفرض قیامت راهم شي نو هغوی ته به په اٰخرت کښے هم جنت ملاویږی ځکه چه په دُنیا کښے هم هغوی ته د جنت پشان عیش حاصل دے. اَنَّ لَهُمُ الْحُسْنٰى عندالله وهی الجنة ان کان البعث حقا (مدارک) انکار علیهم فی دعواهم مع ذلك ان لهم الحسنٰی فی الدنیا وان کان ثم معاد ففیه ایضا لهم الحسنٰی (ابن کثیر ص۵۷۵ ج۲)

۴۸ دا په تَصِفُ اَلْسِنَتُهُمُ الْكَذِبَ کښے د الکذب بیان دے. لَاجَرَمَ الخ دا تخویف اُخروی دے او د مشرکانو د باطل دعوے رد دے یعنی هغوی د پاره جنت نشته بلکه خامخا به هغوی دوزخ ته ځی. وَاَنَّهُمْ مُّفْرَطُوْنَ او هغوی به د ټولو نه ړومبے دوزخ کښے داخلولے شي او هغوی به په هغے کښے همیشه اوسیږی. یعجل بهم یوم القیامة الی النار وینسون فیها ای یخلدون (ابن کثیر ص۵۷۵ ج۲)

۴۹ زجر سره د تخویف اُخروی نه ستا نه مخکښے مونږ تیرشوو اُمتونو ته ډیر نبیان د توحید پیغام ورکولو د پاره لیږلی وُو. خو څنګه چه ستا قوم د شیطان په غلطو لوسره ستا تکذیب کوی دا شان تیرشوی قومونه هم شیطان ګمراه او بے لارے کړل او مشرکانه عملونه یے هغوی ته خائسته کولو سره پیش کړل او هغوی یے د نبیانو علیهم السلام د تکذیب د پاره تیار کړل. لهٰذا د قیامت په ورځ به د دوی ټولو حامی شیطان وی لیکن هغه به د دوی یو ذره هم حمایت اونکړے شي او هغوی به ټول په دردناک عذاب کښے مُبتلا کولے شي. وَمَآ اَنْزَلْنَا عَلَيْكَ الخ دا د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم د پاره تسلی ده. مونږ تا ته کتاب درکړو ومولیږلے دے د پاره چه د توحید مسئله او حشر نشر وغیره ښکاره او واضح خلقوته اُورسوی او د هغے ښه تبلیغ او اشاعت اوکړی. که چرے څوک یے نه منی د هغے هیڅ پرواه مه کوئ۔

ع ایچی ما را باقبولے کار نیست ؛ زمونږ قبلولو سره هیڅ کار نشته؛

۵۰ دا په توحید باندے پنځم عقلی دلیل دے. الله تعالٰے باران اوورَوی او مړه او بیکاره زمکه تروتازه او اباده کړی. د عقل والو د پاره په د یکښے هم د الله پاک دیو والی ډیر لوئ دلیل دے. وَاِنَّ لَكُمْ فِي الْاَنْعَامِ په څارو کښے هم ستا سو

د پاره د عبرت سامان موجود دے د هغوی په خیټو کښے د شوتو او وینے د مینځ نه هغه پاک او خالص پئ راوباسو چه د دے دوارو پلیتو څیزونو ذکرون نه بالکل پاک دی او هر سړی د پاره مزیدار وی. پئ ور کوږ کی تحاروی چه واښه یا خوراک کوی. د معدے هضم کولو نه روستو څیگر د هغے د کار څیزونه خپل ځان طرفته جذب کوی او شوته په معده کښے پاتے شی. څیگر هغه ځید ویکے ماده د زیات ټنګولو نه روستو د وینے اجزاء جُدا کړی او زړهٔ طرفته یے اُولیږی او د پیُو اجزاء جُدا کړی او د پیُو د نالو په ذریعه یے تیُونو ته راژسوی. دا څیز د الله په کامل قدرت او د هغه په وحدانیت باندے دلالت کوی. لَعِبۡرَةً. ای دلالة علی قدرة الله و وحدانیته و عظمته (قرطبی ص۱۲۳ ج۱۰)

وَمِنۡ ثَمَرٰتِ النَّخِيۡلِ وَالۡاَعۡنَابِ تَتَّخِذُوۡنَ مِنۡهُ

او د میوو نه، د کهجورو او د انگورو نه تاسو جوړوئ د دے نه

سَكَرًا وَّرِزۡقًا حَسَنًا ؕ اِنَّ فِىۡ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لِّقَوۡمٍ

نشه او رزق کافی دے کښے نښے دی هغه خلقو د پاره چه

يَّعۡقِلُوۡنَ ﴿٦٧﴾ وَاَوۡحٰى رَبُّكَ اِلَى النَّحۡلِ اَنِ اتَّخِذِىۡ

پوهیږی. او حکم ورکړو ستا رب ۵۲ د شاتو مچئ ته چه جوړه کړه

مِنَ الۡجِبَالِ بُيُوۡتًا وَّمِنَ الشَّجَرِ وَمِمَّا يَعۡرِشُوۡنَ ﴿٦٨﴾

غرونو کښے کورونه او په ونو کښے او چرته چه چتونه جوړوی دا

ثُمَّ كُلِىۡ مِنۡ كُلِّ الثَّمَرٰتِ فَاسۡلُكِىۡ سُبُلَ رَبِّكِ

بیا خوره د هر قسم میوو نه بیا ځه په لارو د خپل رب کښے چه

ذُلُلًا ؕ يَخۡرُجُ مِنۡ بُطُوۡنِهَا شَرَابٌ مُّخۡتَلِفٌ اَلۡوَانُهٗ

صفا پرتے دی. ۵۳ راوځی د دوی د گیډو نه د څښلو څیز چه د هغے مختلف رنگونه

فِيۡهِ شِفَآءٌ لِّلنَّاسِ ؕ اِنَّ فِىۡ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لِّقَوۡمٍ

دی په دے مرضونه بنۀ کیږی د خلقو. په دیکښے نښے دی هغه خلقو د پاره څوک

يَتَفَكَّرُوْنَ ﴿۶۹﴾ وَاللّٰهُ خَلَقَكُمْ ثُمَّ يَتَوَفّٰىكُمْ ۛ وَمِنْكُمْ

فکر کوي ف۳ او الله تاسو پيدا کړي ستئ بيا تاسو وژني او ځينې ستاسو نه

مَّنْ يُّرَدُّ اِلٰٓى اَرْذَلِ الْعُمُرِ لِكَيْ لَا يَعْلَمَ بَعْدَ

رسيږي بے کاره عمر ته چه د پوهے نه پس اوس

عِلْمٍ شَيْـًٔا ۭ اِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌ قَدِيْرٌ ﴿۷۰﴾

هيڅ نه پيژني الله تعالے خبردار دے قدرت والا دے

## موضحِ قرآن

ف۱ يعني دانګورو دخيسو خيژولو دپاره. ف۲ يعني هغه لارے صفا دي او فتح الرحمن او تفسير حسيني کښے يے دا سے ترجمه کړيده او ځئ په لارو باندے دخپل رب حکم منلو سره.

ف۳ درے نښے الله اوښودلے دخرابو څيزونو نه د ښو څيزونو د راوتلو. دغاړو ډکيدے نه پئ او د نشے د مادے انګور او کجورو نه پاکه روزي. او د مچو کيدے نه شات يعني په دے قرآن سره به د جاهلانو د اولاد نه عالمان راوځي. دنبي عليه السلام په وخت کښے هم دا سے اوشو د کافرانو اولاد کاملان شول.

ف۴ يعني دے امت کښے به کاملان پيدا کيږي او بيا به پکښے نقصان پيدا کيږي.

**تفسير:** ۵۱ د کهجورو او انګورو نه تاسو شراب جوړوئ چه ستاسو ډير د مينے او زړه ته خوښ مشروب دے. او د دے نه علاوه تاسو د دے ميوونه دخوراک څکاک غوره او ښه څيزونه هم تيارَوئ مثلاً شربت، نبيذ او سرکه وغيره. دا سورت مکي دے چه کله دا ايت نازل شو تر هغے پورے د شرابو حرمت نه وُو نازل شوے. مدينه منوره کښے چه کله د شرابو د حرامولي اعلان اوشو نو بيا هيڅ يو مسلمان شرابو ته لاس ورنه وړلو. د سَكَرًا نه روستو د حَسَنًا ذکر کول د دے خبرے دليل دے چه شراب رِزْقِ حَسَن نه دے يعني د الله تعالے په نزد غوره مشروب نه دے الاٰية سابقة علی تحريم الخمر فتکون منسوخة (مدارک ج۲)

۵۲ د شاتو مچو ته د وحي کولو نه مراد دا دے چه الله تعالے دا خبره د هغے په زړه کښے واچوله چه هغه په غرونو او وُنو کښے خپل کُبين جوړ کړي او د هر قسم ګلونو او ميوو نه رَس نچوړ کړي او شات تيار کړي. ذُلُلًا د ذَلُول جمع ده يعني تابع او حکم منونکي. او دا د سُبُلَ رَبِّكِ نه حال دے. د شاتو مچئ چه کله د ګشت نه واپس کيږي نو بغير د لارے نه ورکولو نه خپل کُبين ته راځي لکه چه ټولے لارے د هغے تابعداري دي هغه چه په کومه لاره اوغواړي برابر خپل ځائي ته رارسيږي.

وائی چه کله د شاتو مچئ د ګلونو او میوو نه رَس ښچوړ کړی نو نیغه پورته ...
او بیا د خپل ګیبین طرف ته په خطِ مُستقیم کښے اَلوُزی او خپل ګیبین ...
مُختَلِفٌ اَلوَانُهٗ د شاتو رنګ د موسمی میوو په وجه مختلف وی ...
او سُور وغیره. فِیۡهِ شِفَآءٌ لِّلنَّاسِ. په شاتو کښے خلقو د پاره د بیمارو نه شفا ...
ده نه دِ دا اُو نه ګنړلے شی چه شات څنګه استعمالول غواړی نو استعمال ...
کړی. دیکښے شِفا ده او ضرر پکښے نشته. د شاتو د خوراک انداز د بیمار ...
او د مرض نوعیت ته کتل پکار دی هغه شان استعمال پکار دے د شاتو په شفا ...
کیدو باندے ټکنی او روستنی ټول طبیبان متفق دی. هُم دا وجه ده چه اکثر
مرکبات طبیه وُ کښے شات ملاوُلے شی. دا ټول د الله د کامل قدرت علامات
دی دا ټول د هغهٔ انعامات دی دا قسما قسم رزقونه او قسم قسم مشروبات د
هغهٔ ورکړه ده. ددے وجے نه د هغه قادر او حکیم او منعم او رحیم سره تو تخلیق
د کارسازئ په صفاتو کښے شریکول او د غیر الله عبادت کول د عقل او پوهے نه
بالکل خلاف دی. چه کله خالق او مالک او متصرف او کارساز فقط هغه دے نو
ددے نه معلومه شوه چه د څاروُ او شاتو نه نذرونیاز هم صرف د هغهٔ په
نوم ورکوئ او په دے څیزونو کښے د غیر الله د پاره حصه مه مقرروئ.

۵۳ مرګ او ژوند هم د الله تعالٰے په اختیار کښے دے. هم هغهٔ تاسو ټولو ته د
ژوند جامے درکړے. مرګ هم د هغهٔ په قبضه کښے دے. څوک په ماشوم والی کښے
وژنی او څوک په ځوانئ کښے څوک په بُوډا والی کښے. اِنَّ اللّٰهَ عَلِیۡمٌ قَدِیۡرٌ هغه
په هرڅهٔ باندے پوهیدونکے او د لوئ قدرت والا دے. څنګه چه هغه دے ما
نطفے نه واخله تر د انسان بُوډا والی پورے په ټولو مینځنی انقلاباتو باندے قادر
دے. دا شان هغه د مړو په دوباره ژوندی کولو باندے هم قادر دے. دا د
قیامت نه انکار کونکو باندے حجت قائمول دی.

وَاللّٰهُ فَضَّلَ بَعۡضَكُمۡ عَلٰى بَعۡضٍ فِى الرِّزۡقِ ۚ فَمَا

او الله غوره والے درکړو تاسو ته یو ته په بل باندے په رزق کښے ۵۵ پس نه

الَّذِيۡنَ فُضِّلُوۡا بِرَآدِّىۡ رِزۡقِهِمۡ عَلٰى مَا مَلَكَتۡ

کومو ته چه غوره والے درکړو هغوی نه دی رسونکی د خپل رزق هغوی ته چه مالکان شوی دی

اَيۡمَانُهُمۡ فَهُمۡ فِيۡهِ سَوَآءٌ ؕ اَفَبِنِعۡمَةِ اللّٰهِ يَجۡحَدُوۡنَ

د دوی لاسونه چه دوی ټول پکښے برابر شی آیا د الله د نعمت نه انکار کوی ۵۶ او د

وَاللّٰهُ جَعَلَ لَكُمْ مِّنْ اَنْفُسِكُمْ اَزْوَاجًا وَّجَعَلَ لَكُمْ
او الله پيدا کړل ستاسو د پاره ستاسو د جنسه ښځې او در کړي يې تاسو ته
مِّنْ اَزْوَاجِكُمْ بَنِيْنَ وَحَفَدَةً وَّرَزَقَكُمْ مِّنَ الطَّيِّبٰتِ
ستاسو ښځو نه ځامن او نمسي او خوراک د پاره يې درکړل تاسو ته پاک څیزونه
اَفَبِالْبَاطِلِ يُؤْمِنُوْنَ وَبِنِعْمَتِ اللّٰهِ هُمْ يَكْفُرُوْنَ ﴿٧٢﴾
نو آیا دروغ خبرې مني او د الله فضل نه مني ف۱
وَيَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا لَا يَمْلِكُ لَهُمْ رِزْقًا
او عبادت کوي شي د الله نه سوا د هغو چه اختیار نه لري د دوی د رزق
مِّنَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ شَيْـًٔا وَّلَا يَسْتَطِيْعُوْنَ ﴿٧٣﴾ فَلَا
د آسمان او زمکې نه هیڅ هم او نه قدرت لري ف۲ نو مه
تَضْرِبُوْا لِلّٰهِ الْاَمْثَالَ اِنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ وَاَنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿٧٤﴾
جوړوئ په الله پورې هیڅ مثالونه، بیشکه الله پوهیږي او تاسو نه پوهیږئ ف۳

نکات: ف۱ د ذکرشوی دلیل په طور د زجر ۱۲

موضح قرآن
ف۱ رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلي دي چه کله د چا غلام (یا نوکر) هغه له خوراک پوخ کړي ګرمي او لوګي په خپله برداشت کړي او د مال تحفه هغه ته راوړسوي نو لازم ده چه هغه د ځان سره خوراک ته کینوي. او که داسې نه شي کولې نو یو دوه نوړۍ دې ورته په لاس کښې کیږدي.
ف۲ یعني د بُتانو احسان مني چه د بیمارۍ نه یې بنه کړم یا یې څوئ راکړو یا یې رزق راکړو او دا ټول دروغ دي څوک چه رښتونی ورکوونکې دے د هغه شکر نه ادا کوي.
ف۳ یعني نه د آسمان باران وروړلے شي او نه د زمکې نه غله راټوکولے شي.
ف۴ مشرکان وائي الله مالک دے بیا د اخلق د هغه په حکومت کښې اختیار لري په دے وجه د دوی عبادت کوئ نو دا غلط مثال دے الله هر څیز پخپله کوي چا ته یې نه دی سپارلی. او که چرې صحیح مثال غواړئ نو وړاندې یې دوه مثالونه بیان کړل.

فتح الرحمن
ف۱ یعني هیڅوک نه غواړي چه خپل مملوک (غلام، نوکر) ځان سره برابر کړي ۱۲

تفسیر: ۷۵ شه دا د حق معبود او د باطل معبود مثال دے قال مجاهد هذا مثل

الالهة الباطلة (ابن کثیر) الله تعالیٰ په رزق او په دُنیوي دولت کښے ځینو خلقو ته په ځینو باندے فضیلت ورکړیدے. ځینے خلق ډیر دولتمند او مالداره دي او ځینے عاجزان د هغوي نوکران او مزدوران دي کوم خلقو ته چه الله تعالیٰ ډیر دولت ورکړیدے او هغوي ته یے په نورو باندے اوچتوالے ورکړیدے هغوي دا بالکل نه برداشت کوي چه خپل دولت په خپلو نوکرانو او غلامانو باندے تقسیم کړي دے دپاره چه د هغوي نوکران او غلامان په دولت او اختیاراتو کښے د هغوي سره برابر شي. دغه شان الله تعالیٰ هم داخبره نه خوښوي چه هغه خپل د الوهیت په صفاتو کښے او په خپلو اختیاراتو. علم، قدرت او ملک وتصرف کښے خپلو مقربو بندګانو ته څه حصه ورکړي او هغوي ځان سره شریک کړي. په دے وجه څنګه چه هغه په مجازي مالک او مملوک کښے د دولت او اختیاراتو د کمي زیاتي فرق قائم ساتلے دے. دا شان هغه د کارسازئ د خپلو صفاتو نه خپلو بندګانو ته هیڅ هم ورنکړل او د معبود او د عابد فرق یے قائم کړو. قال تعالیٰ منکرا علیهم (ای علی المشرکین) انتم لا ترضون ان تساووا عبیدکم فیما رزقنکم فکیف یرضی هو تعالیٰ بمساواة عبید له فی الالوهیة والتعظیم (ابن کثیر ص ۵۷۵ ج ۲) فَهُمْ فِيهِ سَوَآءٌ دا په معنی بندے متفرع دے یعني مالک خپل مملوک ته دومره ورکړه نه کوي دخپل دولت نه چه هغه د ده سره برابر شي. فی موضع جواب النفی کانه فیستووا (قرطبی ص ۱۴۱ ج ۱۰)

۵۵ دا تول پورته ذکرشوي انعامات خو الله پاک ورکړل لیکن د خلق د الله تعالیٰ د نعمتونو شکر نه ادا کوي بلکه د الله تعالیٰ د ورکړے شوو څارو او د هغه د پیدا کړے شوو فصلونو نه د غیر الله نذر و نیاز ورکوي او د نعمت ناشکري کوي.

۵۶ دا دلیل د ماقبل سره متعلق دے د الله تعالیٰ دا احسان دے چه هغه ستاسو د جنس نه ستاسو د آرام او سکون په خاطر ستاسو دپاره ښځے پیدا کړے بیا یے د هغے نه بچي او نمسي پیدا کړل او په دُنیا کښے یے ستاسو نسل ته بقاء نصیب کړه او بیا یے د هرقسم پاک روزئ سامان تاسو ته درکړو. اَفَبِالْبَاطِلِ يُؤْمِنُوْنَ. لیکن دا ناشکره انسان الله تعالیٰ هیروي او د هغه ورکړے شوي نعمتونه د ځان نه جوړ شوو خپلو معبودانو ته منسوب کوي. یسترون نعمة الله علیهم ویضیفونها الی غیره (ابن کثیر) روزي هغه ورکوي مُصیبتونه هغه لرے کوي اولاد هغه ورکوي لیکن هغوي دا د پیر فقیرانو او د بزرګانو ورکړه ګنړي څنګه چه د هغوي د مُشرکانه نومونو نه معلومیږي. مثلاً عطا محمد، محمد بخش، احمد بخش، رسول بخش، حسین بخش، علي بخش، میران بخش، پیران دته، ګوران دته وغیره. شاه عبدالقادر فرمائي "یعني دبُتانو احسان مني چه د بیمارئ نه یے بچ کړم یا یے ځوئ راکړو یا یے رزق راکړو" او دا تول دروغ دي کوم چه رښتونے ورکونکے دے د هغه شکر نه ادا کوي. د نبي علیه السلام ارشاد دے چه الله پاک اوفرمائیل چه څما او د انسانانو

او پیریانو هم عجیبه معامله ده چه زهٔ د هغوی خالق یم مګر عبادت د غیرو کوی. او د هغوی رازق زهٔ یم لیکن هغوی شکر د بل چا ادا کوی. قال رسول الله صلی الله علیه وسلم قال الله تعالیٰ انی والجن والانس فی نبأ عظیم اخلق ویعبد غیری وارزق ویشکر غیری (مظهری ص۳۵ ج ۵)

۵۵ دا په طور د زجر د ذکرشوی دلیل ثمره ده. د پورته ذکرشوی بیان نه واضح شوه چه قادر مطلق، مالک الملک او د ټولو رازق الله تعالیٰ دے او صرف هغه د بندګئ او رابللو حقدار دے. لیکن دا مشرکان د دغه قادر او محسن سره په بندګئ او رابللو کښې د هغه عاجزه او بے وسه بندګان شریکوی چه د ذکرشوو کارونو نه هیڅ هم نشی کولے. نهٔ د اسمان نه باران ورولے شی نهٔ د زمکے نه روزی پیدا کولے شی په دے کارونو کښې د هغوی په اختیار کښې هیڅ هم نشته.

۵۶ دا د وَيَجْعَلُونَ لِلّٰهِ الْبَنٰتِ سره متعلق دے. مشرکانو به وئیل چه ملائکے د لونړو پشان الله ته خوښے دی او هغه د دوی یوه خبره هم نهٔ رد کوی په دے وجه مونږ ملائکے د الله په نزد سفارشی ګڼړو. دا شان مشرکانو به وئیل چه په اصل کښې مالک او مختار او متصرف علی الاطلاق خو واقعی چه الله تعالیٰ دے لیکن د الله خوښ او نیک بندګان د الله په بادشاهئ کښې مختار بالاذن یعنی د الله په حکم اختیار لرونکی دی. په دے وجه مونږ هغوی د الله سره سفارشیان ګڼړو او عبادت یے کوو. نو الله پاک اوفرمائیل چه الله د پاره داسے مثالونه مهٔ بیانوئ چه د هغے نه د شرک لاره راوځی. یا مطلب دا دے چه الله د پاره شریک او نظیر مهٔ جوړوئ یعنی خپل باطل معبودان د الله سره شریکان مهٔ ګرځوئ. حضرت ابن عباسؓ فرمائی یقول سبحٰنه لا تجعلوا معی الٰهًا غیری فانه لا اله غیری (روح ص۱۹۳ ج ۱۴) شاه عبدالقادرؒ فرمائی ,,چه مشرکان وائی چه مالک خو صرف الله دے بیا د اخلق د الله په بادشاهئ کښې مختار دی. په دے وجه د هغوی بندګی کوو نو دا مثال غلط دے الله تعالیٰ هرڅهٔ پخپله کوی چا ته یے نهٔ دی سپارلی او که صحیح مثال غواړئ نو په اننده کښې یے دوه مثالونه بیان کړل''

ضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا عَبْدًا مَّمْلُوْكًا لَّا يَقْدِرُ عَلٰى

الله تعالیٰ اوښودلو یو مثال قصه یو بنده غلام قدرت نهٔ لری په

شَيْءٍ وَّمَنْ رَّزَقْنٰهُ مِنَّا رِزْقًا حَسَنًا فَهُوَ يُنْفِقُ

هیڅ څیز باندے او یو هغه چه ورکړے دے مونږ رزق د خپل طرفه خاص رزق پس هغه خرچ کوی

مِنْهُ سِرًّا وَّجَهْرًا ۭ هَلْ يَسْتَوٗنَ ۭ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ ۭ بَلْ

دهغې نه په پټه او په ښکاره چرته برابر کیدے شی ټول تعریفونه الله لره دی لیکن

اَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ۝۷۵ وَضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا رَّجُلَيْنِ

ډیر خلق نه پوهیږی۔ ف ۱ او بیان کړیدے الله یو بل مثال ددوه سړی دی

اَحَدُهُمَآ اَبْكَمُ لَا يَقْدِرُ عَلٰى شَيْءٍ وَّهُوَ كَلٌّ عَلٰى

یو ګونګا چه هیڅ کار نه شی کولے او هغه بوج دے په خپل

مَوْلٰىهُ ۙ اَيْنَمَا يُوَجِّهْهُّ لَا يَاْتِ بِخَيْرٍ ۭ هَلْ يَسْتَوِيْ

مولا باندے کوم طرفته یے چه دے لیږی نو نه راوړی څه خیر آیا برابر دے

ع ۱۰ هُوَ ۙ وَمَنْ يَّاْمُرُ بِالْعَدْلِ ۙ وَهُوَ عَلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ۝۷۶

دغه او یو هغه سړے چه حکم کوی په انصاف سره۔ او دے په نیغه لاره باندے ف ۲ ف ۱

نکات: ف ۱ دوهمے مثال ۱۲ ف ۲ دویم مثال ۱۲

**موضح قرآن** ف ۱ یعنی الله مالک د هر خیز دے چاته چه اوغواړی نو ورکړی او بتان مالکان نه دی د څه خیز بلکه د بل مال دے۔

ف ۲ یعنی د الله دوه بندګان یو ډیر بیکاره نه خوزیږی نه شی تللے شی لکه ګونګ غلام۔ دوېم رسول چه د الله لاره ښائی زرګونو خلقو ته او پخپله بندګئ باندے قائم وی د هغه تابع کیدل بهتر دی یا دده۔

**فتح الرحمٰن** ف ۱ مترجم وائی چه ددے دوه مثالونو حاصل دادے هغه خوک چه په عالم کښے تصرّف نه لری د خدائی سره برابر نه دے لکه څنګه چه مملوک او عاجز د خپل مالک طاقتور سره برابر نه دے او څنګه چه ګونګا بے تمیزه د هدایت صاحب او د اهتداء صاحب سره برابر نه دے ۱۲

**تفسیر:** ۵۹ تاسو خپلو معبودانو دپاره چه کوم مثال بیان کړیدے هغه صحیح نه دے۔ ستاسو د ځان نه جوړ کړے شوو معبودانو صحیح مثالونه دادی:

اول مثال: یو غلام وی چه د بل سړی ملکیت وی هغه د خپل مالک په رحم او کرم باندے وی۔ او هغه ته محتاج وی او هغه سره څه اختیار هم نه وی ددے په عکس یو بل هغه سړے دے چه آزاد دے او مونږ د حلالے ګټے نه هغه ته ډیر دولت ورکړے وی چه هغه خپل اختیار سره د هغے نه چه کله غواړی او چرته غواړی خرچ کوی۔ اوس تاسو پخپله او وایئ آیا دا دواړه برابر کیدے شی؟ استفهام

انکاری دے یعنی دواړه نه شی برابرکیدے۔ الحمد لله ټول د کارسازئ صفتونه الله تعالیٰ پورے خاص دی څنګه چه یو عاجزه او کمزورے غلام او یو اختیارمند او طاقتور مالک برابر نه دی۔ دا شان الله تعالیٰ چه د ټولو صفتونو مالک او ستاسو د ټولو معبودانو آقا او مالک دے ستاسو معبودان چه د هغهٔ مملوک او محکوم دی او هیڅ قدرت نه لری د هغهٔ برابر نه دی. لیکن دا خبره د دومره واضح کیدو او ظاهرکیدو باوجود د اکثرو خلقو په پوهه کښے نه راځی۔

**۷۶** دا دویم مثال دے۔ دوه سړی وی چه هغو کښے یو سړے هغه دے چه په هغهٔ کښے داخلور صفتونه وی (۱) ګونګا، ګونګ، مملوک وی۔ (۲) د هغهٔ په اختیار کښے هیڅ هم نه وی۔ (۳) هغه اُلټه په خپل مالک بوج وی۔ (۴) او مالک چه هغه چرته هم اُولیږی هغه هیڅ کار هم پوره نکړے شی. او دویم هغه سړے چاته چه الله د خبرو کولو طاقت هم ورکړے وی او هغه د عدل او انصاف تلقین هم کوی او په خپل اختیار سره نیغ روان دے دا شان د هغهٔ قول او عمل دواړه ټول خیر او برکت دے دا دواړه سړی هرګز برابر نه دی۔ څنګه چه دوے دواړو په مینځ کښے د زمکے او آسمان فرق دے دا شان د معبودِ برحق او ستاسو باطلو معبودانو کښے فرق دے۔ معبودِ حق مالک او مختار او د خیر او برکت سرچشمه ده لیکن ستاسو معبودان محض عاجز او بے وسه دی او د هغوی د عبادت او اداټ کولو نه د څهٔ خیر او نفع امکان نشته. وَمَنْ يَّأْمُرُ بِالْعَدْلِ. د اَبْكَمُ په مقابله کښے دے. او وَهُوَ عَلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ د لَا يَقْدِرُ عَلٰى شَيْءٍ الخ یعنی د باقی دریواړو صفتونو په مقابله کښے دے۔

وَلِلّٰهِ غَيْبُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ وَمَآ اَمْرُ السَّاعَةِ

او د الله تعالیٰ سره دی غیب د آسمانونو او د زمکے او د قیامت کار خو داسے دے

اِلَّا كَلَمْحِ الْبَصَرِ اَوْ هُوَ اَقْرَبُ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ

لکه د سترګو رپیدل یا د دے نه هم زیات نزدے او الله په هر څیز باندے

شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۷۷﴾ وَاللّٰهُ اَخْرَجَكُمْ مِّنْۢ بُطُوْنِ اُمَّهٰتِكُمْ

قادر دے۔ او الله پاک تاسو راوویستلئ ستاسو د میندو د ګیډو نه

لَا تَعْلَمُوْنَ شَيْـًٔا ۙ وَّجَعَلَ لَكُمُ السَّمْعَ وَالْاَبْصَارَ وَ

چه نه پوهیدلئ په هیڅ شی او ورله یې کړل تاسو ته غوږونه او سترګے او

الْاَفْـِٕدَةَ ۙ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿٧٨﴾ اَلَمْ يَرَوْا اِلَى الطَّيْرِ

زړونه دے د پاره چه تاسو احسان اومنئ آیا نه گوری مارغانو ته

مُسَخَّرٰتٍ فِيْ جَوِّ السَّمَآءِ ۭ مَا يُمْسِكُهُنَّ اِلَّا اللّٰهُ ۭ اِنَّ

چه تړلے شوی په حکم سره په هوا کښے د اسمان . نه دی تهینګ کړی د دی لره مګر الله . په

فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿٧٩﴾ وَاللّٰهُ جَعَلَ لَكُمْ

دیکښے نښے دی د هغو خلقو د پاره کوم چه یقین کوی او الله جوړ کړی دی تاسو

مِّنْۢ بُيُوْتِكُمْ سَكَنًا وَّجَعَلَ لَكُمْ مِّنْ جُلُوْدِ الْاَنْعَامِ

لره ستاسو کورونه د اوسیدو ځایونه او جوړ کړی یے دی تاسو لره د څارو د څرمنو نه

بُيُوْتًا تَسْتَخِفُّوْنَهَا يَوْمَ ظَعْنِكُمْ وَيَوْمَ اِقَامَتِكُمْ ۙ وَمِنْ

کورونه چه سپک دی په تاسو په ورځ د سفر ستاسو او په ورځ د کور پاتے کیدو او د

اَصْوَافِهَا وَاَوْبَارِهَا وَاَشْعَارِهَآ اَثَاثًا وَّمَتَاعًا اِلٰى

ګډو د وړو نه او د اوښانو د وبښتو نه او د چیلو د ویښتو نه څو مره اسباب دی او د استعمال څیزونه

حِيْنٍ ﴿٨٠﴾ وَاللّٰهُ جَعَلَ لَكُمْ مِّمَّا خَلَقَ ظِلٰلًا وَّجَعَلَ

د مقرر وخته پورے دے او الله جوړ کړی یے تاسو د پاره د خپل جوړ کړے شوو څیزونو نه سوری او پیدا کړی

لَكُمْ مِّنَ الْجِبَالِ اَكْنَانًا وَّجَعَلَ لَكُمْ سَرَابِيْلَ تَقِيْكُمُ

یے دی ستاسو د پاره په غرونو کښے د پټیدو ځایونه او جوړ کړی یے دی تاسو لره قمیصونه چه

الْحَرَّ وَسَرَابِيْلَ تَقِيْكُمْ بَاْسَكُمْ ۭ كَذٰلِكَ يُتِمُّ نِعْمَتَهٗ

ساتی تاسو د ګرمئ نه دے او قمیصونه چه بچاؤ دے په جنګ کښے داشان پوره کوی خپل احسان تاسو

عَلَيْكُمْ لَعَلَّكُمْ تُسْلِمُوْنَ ﴿٨١﴾ فَاِنْ تَوَلَّوْا فَاِنَّمَا عَلَيْكَ

تاسو دے د پاره چه تاسو حکم اومنئ دے بیا که بیرته واپس شی نو ستا کار خو صرف

الْبَلٰغُ الْمُبِيْنُ ﴿٨٢﴾ يَعْرِفُوْنَ نِعْمَتَ اللّٰهِ ثُمَّ يُنْكِرُوْنَهَا

دا دے ښکاره ببانول پیژنی د الله پاک احسان بیا ترے انکار کوی

# وَاَكْثَرُهُمُ الْكٰفِرُوْنَ ﴿۸۳﴾ ع

او ډیر په دوی کښې ناشکره دی۔

**نکات:** سلہ علت د پاره د ماقبل ۱۲ سلہ شپږم عقلی دلیل ۱۲ سلہ متعلق دے د مذکوره دلائلو سره ۱۲

**موضح قرآن** ف۱ یعنی څنګه خلق په ایمان راوړلو کښې د معاش د فکر د وجې نه اِنکار نو دے فرمائیل چه د مور د خیټې نه څوک څان سره هیڅ نه راوړی د ګټے اسباب، سترګے غوږونه، زړه الله ورکوی او آلوتونکی مارغان د زمکے او اسمان په مینځ کښې د چا په بهروسه اُوسیږی۔ ف۲ د کړو وړی او د اُوښانو وینښته۔

ف۳ په کوموقمیصونو کښې چه د ګرمئ نه بچاؤ دے د یخنئ نه پرے هُم بچاؤ دے څو په هغه مُلک کښې ګرمی زیاته وه په دے وجې د هغې ذِکر اوکړو او د جنګ نه بچاؤ په زغره کښې دے۔

**فتح الرحمن:** ف۱ او د یخنئ نه هُم ۱۲

**تفسیر** سلہ واؤ تعلیلیه دے او په دې کښې د توحید د ذکر شوے دعوے علت بیان شوید ے یعنی د هرڅه کولو والا صرف الله دے ځکه چه هغه په غیبو باندے عالِم دے۔ که چرے واؤ استینافیه وی نو دا به د دویمے دعوے بیان وی یعنی څنګه چه هرڅه کولو والا صرف الله تعالیٰ دے دا شان په په هرڅه عالِم هُم الله تعالیٰ دے۔ وَمَآ اَمْرُ السَّاعَةِ اِلَّا الخ دا تخویفِ اُخروی دے قیامت قائمول د الله د پاره څه ګران کار نه دے ځکه کله د هغې مقرر وخت راشی نو هغه به په یو ساعت کښې ټوله دُنیا لاندے باندے کړی ځکه چه هغه په هرڅه قادر دے۔

سلہ دا په توحید باندے شپږم عقلی دلیل دے چه کله الله پاک تاسو پیدا کړئ هغه وخت تاسو هیڅ نه پیژندل بیا هغه تاسو ته د آوریدلو، لیدلو، سوچ کولو او دپوهے قوتونه درکړل دے د پاره چه تاسو د هغه شُکر آدا کړئ او د هغه سره شِرک اُونکړئ او غیرُ الله ته په غائبانه خاجتونو کښې آواز مه کوئ او د هغه درکړے شوی قوتونه د علمِ دین او د الله د معرفت په حاصلولو کښې صَرف کړئ۔ اجتلاب العلم والعلم به من شکر المنعم وعبادته والقیام بحقوقه (مدارک ص۲۲۵ ج۲)

سلہ دا هُم د الله تعالیٰ د کامل قُدرت یو واضح دلیل دے چه هغه انسانانو ته څنګه مختلف قوتونه ورکړیدی۔ د غه شان هغه مرغانو ته هُم د آلوتلو طاقت ورکړے دے او هغوئ د ده په قُدرت سره د اسمان په فضا کښې آلوزی او د الله تعالیٰ د تکوینی احکامو تابع دی۔

سلہ دا هُم د الله تعالیٰ انعام دے چه هغه انسان د اسمان پشان هر وخت حرکت کونکے او د غرونو پشان هر وخت ساکن پیدا نه کړو بلکه د حرکت نه روستو د سکون

تقاضا سره د هغه د فطرت لازمه او کړ څوله او کورونه یې د آرام او راحت ځایونه او ګرځول د دوی هم د الله نعمتونه دي. د دوی نه انسان خومره کارونه اخلي د دوی د څرمنو نه کوروته یعنی خیمې او سایبانونه جوړوي چه سپک وي په سفر او حضر کښې د دغه په پورته کولو او لګولو کښې څه تکلیف نه پیښیږي. د عربو خانه بدوشو قبائلو به د دې خیمو نه فائده اخسته. د اوښانو، ګډو او چیلو د وېښتو نه مختلف قسمونه شیان مثلاً کمبل، ګدۍ، قالین او کوټ وغیره تیارېږي.

ف٥ الله تعالی د ونو او ځنګلونو د پاره سوري پیدا کړل په غرونو کښې غارونه یې کړل چه وخت په وخت د باران، طوفان، باد، ګرمۍ او یخنۍ نه د بچ کیدلو د پاره استعمالولی شی. وړۍ او مالوچ وغیره یې پیدا کړل چه د هغې نه د یخنۍ او ګرمۍ نه د بچ کیدو د پاره کپړې تیارولی شی. صرف د ګرمۍ ذکر یې اوکړو حالانکه دا کپړې د یخنۍ نه حفاظت کوي ځکه چه په عربو کښې په سخته ګرمۍ وه چه د هغې نه د بچ کیدو د پاره د هغوی د ونو سورو، د غرونو غارونو او مختلف قسم کپړو ته ضرورت وو. یخنۍ هلته دومره لږه وه چه د زیات اهتمام نه بغیر هم برداشت کیدی شي. تَقِيكُمْ بَأْسَكُمْ. د اوسپنې زغرې دي چه په جنګ کښې اچولی شي د دې د پاره چه په بدن باندې توره یا غشي اثر اونکړي شي. كَذَٰلِكَ يُتِمُّ نِعْمَتَهُ. په دا ټول نعمتونه یې تاسو ته د دې د پاره درکړل چه نعمت ورکونکي اوپېژنئ او د هغه شکر اوکړئ د هغه پوره پوره حکم اومنئ او د هغه سره شرک اونکړئ او هغه منعم حقیقي او هغه متصرف و کارساز اوګڼئ او په حاجتونو کښې راوبلئ. لعلکم تسلمون ای لعلکم یا اهل مکة تخلصون لله الوحدانية والالوهية والعبادة والطاعة وتعلمون انه لا يقدر على هذه النعمات الا الله (خازن ص ۱۲۳ ج ۴)

ف٦ دا د تولو ذکر شوو دلائلو سره متعلق دی. او دا جزا محذوفه ده ای فان تولوا بعد هذه الدلائل الواضحة والبينات القاهرة فلا ضير عليك. یعنی دغه دومره څرګند دلیلونو او بیناتونه پس هم د توحید مسئله نه مني نو تاته څه غم نشته د دوی په عقلونو باندې که چیرې هغوی یې نه مني نو په دې کښې ستا هیڅ قصور نشته ځکه چه ستاسو فرض تبلیغ دی چه هغه تاسو په ښه شان سره اورسولو. د مدارک صاحب فلا تبعة عليك جزاء مقدر بمعنى فلا تبعة عليك في ذلك لان الذي عليك هو التبليغ الظاهر وقد بلغت (مدارک ص ۲۳۳ ج ۲)

ف٧ هغوی د الله تعالی نعمتونه ښه پېژني او هغوی ته ښه معلومه ده چه دا ټول نعمتونه د الله تعالی د طرفنه وي لیکن د وسره په وجود هم هغوی چه د الله نه سوا د نورو عبادت کوي او د عطاو او سرکښۍ په وجه دا نعمتونه باطلو معبودانو ته منسوب کوي. ای یعرفون ان الله هو المنعم ...

هو المتفضل به علیهم ومع هذا ینكرون ذلك ویعبدون معه غیره ویسندون النصر والرزق الی غیره (ابن کثیر ص۵۸۰ ج ۲) د دوی په زړونو باندے د جبّاریت مُهر لګیدلے دے په دے وجه په هغوی باندے د دلیلونو هیڅ اثر نه کیږی نه د احساناتو.

وَيَوْمَ نَبْعَثُ مِنْ كُلِّ أُمَّةٍ شَهِيدًا ثُمَّ لَا يُؤْذَنُ

او په هغه ورځ چه اودروُ مونږ په هره فرقه کښے ۸۱ یو ګواه بیا حکم ملاؤ نه شی

لِلَّذِينَ كَفَرُوا وَلَا هُمْ يُسْتَعْتَبُونَ ﴿۸۴﴾ وَإِذَا رَأَى الَّذِينَ

انکار کوُنکو ته ۸۲ او نه به د هغوی توبه قبوله شی ۸۳ او کله چه اووینی

ظَلَمُوا الْعَذَابَ فَلَا يُخَفَّفُ عَنْهُمْ وَلَا هُمْ يُنْظَرُونَ ﴿۸۵﴾

ظالمان عذاب بیا به سپک نه شی د هغوی نه او نه به هغوی ته مهلت ورکړے شی

وَإِذَا رَأَى الَّذِينَ أَشْرَكُوا شُرَكَاءَهُمْ قَالُوا رَبَّنَا هَؤُلَاءِ

او چه کله اووینی مشرکان ۸۴ خپل شریکان ۸۵ وُ به وائی اے ربه! دا زمونږ

شُرَكَاؤُنَا الَّذِينَ كُنَّا نَدْعُوا مِنْ دُونِكَ ج فَأَلْقَوْا

شریکان دی کوم چه مونږ رابلل ستا نه سیوا پس وُ به غورزوی

إِلَيْهِمُ الْقَوْلَ إِنَّكُمْ لَكَاذِبُونَ ﴿۸۶﴾ وَأَلْقَوْا إِلَى اللَّهِ يَوْمَئِذٍ

دوی ته خبره چه تاسو دروغژن یئ ۸۶ او وُ به غورزیږی په دغه ورځ د الله په مخکښے

السَّلَمَ وَضَلَّ عَنْهُمْ مَا كَانُوا يَفْتَرُونَ ﴿۸۷﴾ الَّذِينَ كَفَرُوا

په عاجزئ سره او هیر به شی ترے کوم دروغ چه دوی جوړول کوم خلق چه منکر

وَصَدُّوا عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ زِدْنَاهُمْ عَذَابًا فَوْقَ

شوی دی او خلق به یے منع کول د الله د لارے نه هغوی ته به مونږ زیات کړو عذاب د پاسه

الْعَذَابِ بِمَا كَانُوا يُفْسِدُونَ ﴿۸۸﴾ وَيَوْمَ نَبْعَثُ فِي

د عذاب بدله د هغے چه شرارت به یے کولو او کومه ورځ چه مونږ پاسوُو

كُلِّ اُمَّةٍ شَهِيْدًا عَلَيْهِمْ مِّنْ اَنْفُسِهِمْ وَجِئْنَا بِكَ

په هر اُمت کښے ئے گواه به هغوی باندے د هغوی نه وي او تا به راولو

شَهِيْدًا عَلٰى هٰٓؤُلَآءِ ؕ وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْكِتٰبَ تِبْيَانًا

گواه په دغه خلقو. او نازل کړيدے مونږ په تا کتاب څه واضحه بيان

لِّكُلِّ شَيْءٍ وَّهُدًى وَّرَحْمَةً وَّبُشْرٰى لِلْمُسْلِمِيْنَ ﴿٨٩﴾ ع

د هر شي او هدايت او رحمت او زيرے د حُکم منونکو د پاره

**نکات:** ۱ تخويفِ اُخروي ۲ اعاده د زملنے دليے والي د وجے نه، ۳ دليل وحي د شرک في التصرف د نفي د پاره ۲

**موضح قرآن** ف۱ حُکم ملاؤنه شو د ويلو. ف۲ کوم خلق چه د بزرگانو عبادت کوي هغه بزرگان بے گناه دي يو شيطان خپل هغه نوم کيدي او خپل ځان معبود جوړ کړي هغه ته به دوي اووائي چه ته دروغژن يے.

**فتح الرحمٰن** ف۱ دغه به د هغه قوم نبي وي ۲ ف۲ يعني د دے د پاره چه خپل عُذر پيش کړي ۲ ف۳ يعني خپل باطل معبودانو لره ۲ ف۴ او هغه به د هغه قوم نبي وي ۲

**تفسير:** ۸۴ تخويفِ اخروي دے دا د ماقبل سره متعلق دے يعني په دُنيا کښے منلو ته تيار نه دي د قيامت په ورځ چه کله ټول اُمتونه د احکم الحاکمين په عدالت کښے حاضر شي نو د هر اُمت رسول به په طور د گواه پيش شي او د خپل اُمت د نيک او بد په باره کښے به بيان وکړي چه هغه د حق دعوت سره څه قِسمه سلوک اوکړو په دغه ورځ به د دے منکرينو ته د خپلے صفائيٰ د پاره د خبرو کولو اجازت نه وي او نه به د هغوي نه توبه قبلولے شي. وَاِذَا رَاَ الَّذِيْنَ الخ د انبيا نو عليهم السلام د گواهئ نه روستو به مُشرکان په جهنم کښے اُوغورزولے شي بيا به نۀ هغوي په عذاب کښے څه سپکوالے اُوشي. او نۀ به هغوي ته په عذاب کښے د داخلولو نه مخکښے څۀ مهلت ورکړے شي.

۸۶ د قيامت په ورځ چه کله مُشرکان دا د خُدائ خاص بندګان او وينى نو فوراً به اووائي چه زمونږ پروردگاره! دا زمونږ حمايتيان او سفارشيان دي چه مونږ به دُنيا کښے ستا نه سوا د خلقو ته اوازونه کولو. شاه عبد القادر دهلویؒ فرمائي چه کوم خلق د بزرگانو عبادت کوي هغه بزرگان بے گناه دي يو شيطان هغه خپل نوم کيدي او خپل ځان معبود جوړ کړي هغه به دوي ته اووائي چه تاسو دروغژن يئ؛ فَاَلْقَوْا الخ يعني هغه بزرگان به مُشرکانو ته اووائي چه تاسو دروغژن يئ چه مونږ ته د خدائ شريکان وائي

نه؛ خو مونږ تاسو ته کله وئیلی وُو چه زمونږ عبادت کوئ او که چرے تاسو خپلے بد بختئ نه داسے کړے وی هم نو خدائ ګواه دے چه مونږ خو ستاسو عبادت او رابللو نه خبر هم نهٔ وُو. فَكَفٰى بِاللّٰهِ شَهِيْدًاۢ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ اِنْ كُنَّا عَنْ عِبَادَتِكُمْ الخ (سورة یونس)

د قیامت په ورځ به مُشرکان شرمنده او سرخکته دی او عذاب د پاره به تیاروی او کوم خود ساخته حمایتیانو او سفارشیانو سره یے چه اُمیدونه تړلی وُو هغوی ټول به غائب شی او هیڅوک به یے هم پکار را نشی. اَلَّذِيْنَ كَفَرُوْا الخ دا تخویفِ اُخروی دے هغه کافران چه چا نهٔ یخپله منلو او نهٔ یے نور منلو ته پرېښودل هغوی ته به دوچند عذاب ورکولے شی ځکه چه هغوی خو یخپله ګمراه وُو دے سره هغوی د خدائ مخلوق هم ګمراه کړو. او هغوی یے جهنم ته اُوغورزول. ای عذابًا بکفرهم وعذابًا بصدهم عن سبیل الله (مدارک صفحه ۲۲۹ ج ۲)

اعاده په وجه د بُعد عهد د پاره د بیان د امرِ ثانی. مِنْ اَنْفُسِهِمْ یعنی د قیامت په ورځ به مونږ د هر اُمّت نه ګواه اُودرؤو. مراد د هر اُمت رسول دے. یا دے نه مراد د هر انسان لاسونه خپے دی چه د قیامت په ورځ به د انسان په نیک او بد عمل ګواهی ورکوی. وَجِئْنَا بِكَ الخ او تا به مونږ په دے مُشرکانو بانده په طور د ګواه د قیامت په ورځ په خپل عدالت کښے حاضر کړو. د قیامت په ورځ به نبی کریم صلی الله علیه وسلم د خپلے زمانے د نیک او بدو خلقو په باره کښے ګواهی ورکوی او د ټولو په باره کښے به بیان اوکړی چه هغوی د دهٔ د دعوت سره کوم قسم سُلوک اوکړو ځنګه چه په صحیح مسلم کښے دی. نبی علیه السلام اُوفرمائیل اقول کما قال العبد الصالح الخ زهٔ به هم هغه جواب ورکړم کوم به چه د الله نیک بنده حضرت عیسٰی علیه السلام ورکوی یعنی وَكُنْتُ عَلَيْهِمْ شَهِيْدًا مَّا دُمْتُ فِيْهِمْ فَلَمَّا تَوَفَّيْتَنِيْ كُنْتَ اَنْتَ الرَّقِيْبَ عَلَيْهِمْ الاٰية. یعنی ترڅو پورے چه زهٔ په هغوی کښے موجود وُم تر هغے پورے خو ماته د هغوی حال معلوم وُو لیکن روستو ماته د هغوی علم نشته. چه هغوی څهٔ کړل. د لفظ شَهِيْدًا پوره تحقیق د سورۂ بقره په تفسیر کښے تیر شوے دے. حاشیه نمبر ۲۷۳ صفحه ۲۲۳ تا صفحه ۲۲۶ اوګورئ.

په اوله حصه کښے د شرک فی التصرف په نفی بانده شپږ عقلی دلیلونه او د یو نقلی دلیل نه روستو دا دلیلِ وحی دے. یعنی یو طرفته د عقل سلیم واضح ګواهیانے دی چه د هغے نه ثابتیږی چه د الله تعالٰی نه سوا هیڅوک عالم الغیب، متصرف او مختار او کارساز نشته. او ټول نبیان علیهم السلام هم دے د پاره لیږل شوی دی او دا مسئله په ذریعه د وحی په تا بانده نازل کړے شویده تاسو د خپل ځان نه خبره نهٔ کوئ مونږ په تا یو داسے جامع کتاب نازل کړیدے چه په هغے کښے د عقائدو نه واخله تر عملونو پورے او د اخلاقو نه واخله تر معاملاتو پورے د ټولو ضروری او بُنیادی احکامو بیان

کړے شویدے۔ بدعت والا ددے آیت نه د نبي علیه السلام د پاره د علمِ غیب کلی ثابتولو
کوشش کوی۔ د هغوی دعوی دا چه په قرآن کښے هرڅیز بیان کړے شویدے یعنی ما
کان او مایکون او نبی علیه السلام په قرآن مجید باندے کماحقه پوهیدهٔ۔ لهٰذا ددے نه ثابته
شوه چه نبی علیه السلام ته د ما کان او ما یکون کلی او تفصیلی علم وو۔ لیکن دا استدلال
صحیح نه دے ځکه چه د هغوی استدلال په دے باندے مبنی دے چه دلته لفظ د
کلّ د استغراق حقیقی د پاره وی۔ او دا دعوی باطل ده۔ ځکه چه تِبْيَانًا لِّكُلِّ شَيْءٍ
کښے کُلّ د استغراق حقیقی د پاره نه دے۔ بلکه استغراقِ اضافی د پاره دے۔ او ددے
نه د دین بنیادی او ضروری احکام مراد دی څنګه چه مفسرینو ددے صراحت
کړیدے۔ تِبْيَانًا لِّكُلِّ شَيْءٍ من امور الدین (مدارک صفحه ۲۲۹ ج ۲) قال مجاهد تبیانا
للحلال والحرام (قرطبی صفحه ۱۶۴ ج ۱۰) لکل شیء یحتاج الیه من الامر والنهی والحلال والحرام و
الحدود والاحکام (معالم صفحه ۱۱ ج ۴) تِبْيَانًا لِّكُلِّ شَيْءٍ یعنی من امور الدین (خازن) والمراد من
کل شیء علی ما ذهب الیه جمیع ما یتعلق بامور الدین (روح صفحه ۲۱۴ ج ۱۴) (تِبْيَانًا) بیانا بلیغا
(لکل شیء) یتعلق بامور الدین (ابو السعود صفحه ۵۰۵ ج ۵) قال الزمخشری المعنی انه بین کل شیء من
امور الدین الخ (بحر صفحه ۵۲۷ ج ۹) (تبیانا) بیانا بلیغا (لکلِ شیءٍ) یحتاجون الیه من امور الدین
(جامع البیان صفحه ۲۳۴) ددے حوالو نه معلومه شوه چه مفسرینو کرامو (شکر الله مساعیهم)
دلته لفظ د کُلّ استغراق اضافی باندے محمول کړیدے۔ او استغراقِ حقیقی هیڅ
هم مراد کړے نه دے۔ لهٰذا د مبتدعینو استدلال باطل دے۔ او ددے آیت نه د
نبی علیه السلام د پاره علمِ غیب کلی نهٔ ثابتیږی۔ حضرت شیخ رحمه الله اُوفرمائیل چه د قرآن مجید
د ټولو دینی احکامو بیانولو نه مراد دا دے چه ځنے احکام په قرآن کښے صراحةً ذکر
شویدی او ځنے په حواله د رسول الله صلی الله علیه وسلم۔ څنګه چه اُوفرمائیل مَآ اٰتٰىكُمُ الرَّسُوْلُ
فَخُذُوْهُ وَمَا نَهٰىكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوْا۔

اِنَّ اللّٰهَ يَاْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالْاِحْسَانِ وَاِيْتَآئِ ذِي
الله حکم کوی د انصاف کولو او د ښیګړے کولو ۱۶۳ او خپلوانو ته د
الْقُرْبٰى وَيَنْهٰى عَنِ الْفَحْشَآءِ وَالْمُنْكَرِ وَالْبَغْيِ
ورکولو او منع کوی د بے حیایئ نه او د بدو کارونو نه او د سرکشئ نه
يَعِظُكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُوْنَ ﴿۹۰﴾ وَاَوْفُوْا بِعَهْدِ اللّٰهِ
تاسو پوهوی دے د پاره چه تاسو یاد اُوساتئ ۱۶۴ او پوره کړئ وعده د الله ۱۶۵

إِذَا عَاهَدتُّمْ وَلَا تَنقُضُوا الْأَيْمَانَ بَعْدَ تَوْكِيدِهَا

چه کله په خپل مینځ کښے وعده اوکړئ او مه ماتوئ قسمونه پس د مضبوطولو نه

وَقَدْ جَعَلْتُمُ اللَّهَ عَلَيْكُمْ كَفِيلًا ۚ إِنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ مَا

او تاسو ګرځولے دے الله خپل ضامن هغه الله پوهیږی په هغه

تَفْعَلُونَ ﴿٩١﴾ وَلَا تَكُونُوا كَالَّتِي نَقَضَتْ غَزْلَهَا مِن

چه تاسو یے کوئ او مه کیږئ شان د هغه ښځے چه پریکړل هغے خپل سینړسی

بَعْدِ قُوَّةٍ أَنكَاثًا تَتَّخِذُونَ أَيْمَانَكُمْ دَخَلًا بَيْنَكُمْ

پس د محنت کولو نه ټکړے ټکړے چه نیسئ خپل قسمونه د دخل ورکولو بهانه یئ

أَن تَكُونَ أُمَّةٌ هِيَ أَرْبَىٰ مِنْ أُمَّةٍ ۚ إِنَّمَا يَبْلُوكُمُ

مینځ کښے، دے د پاره چه یوه ډله وی اوچته د بلے ډلے نه هغه داخو ازمیښت کوی

اللَّهُ بِهِ ۚ وَلَيُبَيِّنَنَّ لَكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مَا كُنتُمْ

ستاسو لره په دے سره او البته ښکاره کړی تاسو ته الله د قیامت په ورځ په کومه خبره

فِيهِ تَخْتَلِفُونَ ﴿٩٢﴾ وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ لَجَعَلَكُمْ أُمَّةً

کښے چه تاسو اختلاف کولو هغه او که الله غوښتلے شه نو ستاسو د ټولو به یے

وَاحِدَةً وَلَٰكِن يُضِلُّ مَن يَشَاءُ وَيَهْدِي مَن

یوه فرقه جوړه کړے وے لیکن ګمراه کوی چا له چه اوغواړی او لار ښائی چا ته چه

يَشَاءُ ۚ وَلَتُسْأَلُنَّ عَمَّا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٩٣﴾ وَلَا تَتَّخِذُوا

اوغواړی. او تاسو نه به تپوس کیږی کوم کار ونه چه تاسو کول هغه او مه ګرځوئ شه

أَيْمَانَكُمْ دَخَلًا بَيْنَكُمْ فَتَزِلَّ قَدَمٌ بَعْدَ ثُبُوتِهَا وَ

خپل قسمونه دهوکه په خپل مینځ کښے چه ونه خوځیږی قدمونه د چا پس د کلکیدو نه

تَذُوقُوا السُّوءَ بِمَا صَدَدتُّمْ عَن سَبِيلِ اللَّهِ

او تاسو اوڅکئ سزا په دے خبره چه منع کړی مو و د الله د لارے نه

# وَلَكُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿۹۴﴾

او تاسو له به لوئ عذاب وي ق ف

**نکات:** ۱ـ د عذاب نه د بچکیدو د پاره د أمور ثلاثه بیان ۱۲ ۲ـ وعده ماتول کوم یاره مثال ۱۔

**موضح قرآن** ف۱ د غیر په مقدمه کښے انصاف پکار دے یعني برابري کول او د خپل طرفه ښیګړه۔

ف۲ مخبے خلق وعدے کولو سره دهوکه ورکوي چه طاقتور راخکته کړي او کمزورے اُوچت کړي۔ دا خو الله پاك ازمینبت د پاره داسے کړیدي د چا په بدلولو سره نه بدلیږي کمزوري ته که طاقت ورکوي نو هغه یے ورکوي او د وعدے خلافئ خیال هغه وخت راځي چه کله کمزوري راتلونکي وي بل کمزورے کړي یا نه اول ځخپله کمزورے کیږي خپل ساز کار وُراتوي لکه چه یوه بیوئي ښځه ده مالداره تول کال یمیے سپنږسي تیاروُل چه خپلوانو ته یه کړے کپړے ورکوي لیکن چه کله به ژمے شروع شو نو سپنږسي به یے ټکړے ټکړے کړل او ټول به یے تقسیم کړل۔

ف۳ د دے نه معلومه شوه چه کافر به هم په دهوکے سره نشي وتلے کُفر دے خبرو سره نه ختمیږي او په خپل ځان عذاب راځي۔

ف۴ یعني مُسلماني مه بدنامويُ چه یقین کونکي به شک کښے پریوځي او په تاسو باندے د ګناه بار شي۔

**فتح الرحمن** ف۱ یعني د هغه نوم به یے په قسم کښے ذکر کونو ۱۲ ف۲ یعني د دُنیا د فائدے د پاره چه مال دولت زیات حاصل کړي ۱۲

ف۳ مترجم وائي چه مراد د یمین غموس حرامولے دے۔ او د مثال حاصل دادے چه خپل عملونه نه ضائع کوي شنګه چه دے ښځے خپل عمل تباه کړو۔ والله اعلم. کویا چه دلته اشاره ده دے خبرے ته چه یمین غموس عملونه برباد وي۔ والله اعلم ۱۲

ف۴ مترجم وائي چه په جهاد کښے د وعدے او قسم خیانت کول او دهوکه کول دا د دے سبب کرځي چه کافران به د دے نه روستو د مُسلمانانو په قول اعتبار نه کوي او د دوي سره به مجلس کښے نه کیني بلکه مسلمانان به په شک کښے پریوځي ۱۲۔

**تفسیر:** ۹۰ـ د توحید د دلائلو او د دُنیوي او اُخروي تخویفاتو نه روستو د عذاب نه د بچکیدو د پاره یے علاج اُوښودلو۔ چه شرك مه کوئ انصاف د خپل ژوند دستور جوړ کړئ د ظلم او زیاتي نه ځان اُوساتئ۔ داحسان او ښیګړے نه کار واخلئ۔ د بے حیایئ او بد کارونو نه منع شئ که چرے تاسو په دے کارونو باندے عمل اُوکړي نو ستاسو په زړونو کښے به د نیکئ سره محبت او د بدئ نه نفرت پیدا شي چه آخر به ستاسو د استقامت سبب شي۔ د اَلْعَدْلِ نه مراد توحید دے۔ العدل التوحید قاله ابن عباسؓ۔ د قرآن مجید دا ایت دومره جامع دے چه په دے کښے ټول د نیکئ بابونه

او د ټولو د شر بابونه جمع کړے شویدی. قال ابن مسعود هذه اجمع اٰیة فی القراٰن لخیر یمتثل ولشر یجتنب (قرطبی ص١٦٥ ج١٠) په قراٰن مجید کښے چه چرته د عذاب ورکولو ذکر وی هلته د عذاب دفع کولو د پاره درے اُمور بیانولے شی. یعنی شرک مه کوئ احسان کوئ او ظلم مه کوئ. په دے سورت کښے د مکے والو د پاره د عذاب نه ویرولو په دے وجه یے درے اُمور ذکر کړل.

لکه دلته د عهد نه د ایمان او اسلام عهد مراد دے چه هرکس یے د اسلام قبلولو په وخت یا د بالغ کیدو په وخت د الله تعالیٰ سره کوی. یا په ایمان باندے په مضبوطتیا سره قائمیدل. او د اسلام د ټولو احکامو او حدودو پابندی کول. دا اٰیت هغه وخت نازل شو چه کله صحابه کرامو د نبی علیه السلام په لاس مبارک باندے په دینِ اسلام باندے د قائم پاتے کیدو بیعت کړے وو په هغه کښے مسلمانانو ته په دے عهدِ بیعت باندے د قائم پاتے کیدو تاکید اوکړے شو. عهد الله هی البیعة لرسول الله صلی الله علیه السلام علی الاسلام لقوله اِنَّ الَّذِیْنَ یُبَایِعُوْنَكَ اِنَّمَا یُبَایِعُوْنَ اللّٰهَ الخ (کبیر ص٤٣٣ ج٢) بَعْدَ تَوْكِیْدِهَا الخ یعنی د خپلے وعدے مضبوطولو او پخولو نه روستو مه ماتوئ ځکه چه تاسو د الله نوم اخستلو سره وعده کړیده او په هغے مو الله ګواه جوړ کړیدے.

هغه دا د وعدے ماتونکو د پاره مثال بیانول دی. واقی چه په مکه کښے یوه ښځه وه چه په دِماغو کښے یے نقص وو. هغے به تارونه جوړول لیکن د جوړولو نه روستو به یے پریکړل (ابن کثیر) وے فرمائیل چه د وعدے ماتول بالکل داسے دی ځنګه چه هغے بے عقله ښځے به تارونه جوړ کړل بیا به یے مات کړل. اَنْكَاثًا ټکړے ټکړے. غَزْلَهَا نه حال دے. تَتَّخِذُوْنَ، د لَا تَكُوْنُوْا فاعل نه حال دے. د دَخَلًا نه مراد دهوکه او خیانت دے او دا د تَتَّخِذُوْنَ د پاره مفعول ثانی دے (روح) اَنْ تَكُوْنَ ای بسبب ان تکون (مدارک) اُمَّةٌ اول نه د مشرکانو جماعت او د اُمَّةٍ ثانی نه د مؤمنانو جماعت مراد دے. اَرْبٰی په شمیر او مال دولت کښے زیات. ازید عددًا و اوفر مالًا (مدارک ص٢٣ ج٢) یعنی د مشرکانو د زیات شمیر او د مال او زر د زیاتوالی د وجے نه خپل عهد او میثاق د خپلو رونړو سره د دهوکے او د خیانت ذریعه نه جوړول. المعنی لا تغدروا بجماعة بسبب ان تکون جماعة اخرٰی اکثر منها واعز بل علیکم الوفاء بالایمان. (روح ص٢٢٣ ج١٤).

لکه کافرانو ته د زیات مال ورکولو حکمت یے بیان کړو د یو قوم د شمیر او دولت ډیروالے د ستاسو د پاره د وعدے ماتولو باعث اُونه ګرځی ځکه چه دا یو ازمینت دے چه هغے سره ستاسو امتحان مقصود دے چه څوک په خپله وعده قائم پاتے کیږی او څوک وعده ماتوی. وَلَیُبَیِّنَنَّ لَكُمْ الخ د قیامت په ورځ به تاسو ته بنه واضحه شی چه وعده ماتولو سره تاسو ډیر لوئ جُرم کړیدے.

۷۴ که الله خوښتلے نو تول به یے یو اُمت ګرځولے وے دوی کښے به هیڅ اختلاف نهٔ وے او تول به د الله په عهد باندے قائم وے لیکن الله پاک د هر سړی امتحان اخستل غواړی چه په دوی کښے څوک ضد کوی او څوک الله طرفته رجوع کوی. وَیُضِلُّ مَنۡ یَّشَآءُ نو چه کوم خلق د عقل او فکر نه کار نهٔ اخلی او خالص د ضد او عناد د وجے نه انکار کوی هغوی ته هدایت توفیق نه ملا وړی. وَیَهۡدِیۡ مَنۡ یَّشَآءُ او کوم خلق چه په نیک نیتۍ سره د حق طلب کوی الله تعالٰی د هغوی دستګیری کوی او هغوی ته د حق قبلولو توفیق ورکوی.

۷۵ دیو زیاتی کار مرتب کولو د پاره د مذکوره مضمون اعاده په صورت د نهی او کړے شوه د اشان د اعادے نه مقصود تاکید دے چه خپل قسمونه او خپلے وعدے د خیانت او دهوکے ذریعه مهٔ جوړوئ کنی د هغے نتیجه به داوی چه ستاسو قدمونه به د اسلام د لارے نه اُوخوځیږی، او به تاسو کښے چه کوم خلق د بیعت عهد مات کړی او دوباره کفر ته لاړ شی د هغوی داعمل به د نورو د پاره هم د اسلام د بیعت ماتولو او د اسلام نه د وتلو سبب اُوګرځی- په دے وجه تاسو به د دے عهد ماتولو د ډیر سخت عذاب برداشت کوئ دے نه معلومه شوه چه دلته د عهد او ایمان نه مراد عام نهٔ دے بلکه د اسلام بیعت ترے مراد دے. ځکه چه دومره سخت وعید د اسلام په پریښودو باندے کیدے شی. او د دے نه روستو مَنۡ کَفَرَ بِاللّٰهِ مِنۡۢ بَعۡدِ اِیۡمَانِهٖۤ الخ نه معلومیږی چه د عهد نه د اسلام عهد مراد دے.

وَلَا تَشۡتَرُوۡا بِعَهۡدِ اللّٰهِ ثَمَنًا قَلِیۡلًا ؕ اِنَّمَا عِنۡدَ اللّٰهِ

او مهٔ اخلئ تاسو د الله په عهد باندے قیمت لږ بیشکه څهٔ چه د الله سره دی

هُوَ خَیۡرٌ لَّکُمۡ اِنۡ کُنۡتُمۡ تَعۡلَمُوۡنَ ﴿۹۵﴾ مَا عِنۡدَکُمۡ یَنۡفَدُ

هغه غوره دی تاسو د پاره که چرے تاسو پوهیږئ وا څهٔ چه تاسو سره دی هغه

وَمَا عِنۡدَ اللّٰهِ بَاقٍ ؕ وَلَنَجۡزِیَنَّ الَّذِیۡنَ صَبَرُوۡۤا اَجۡرَهُمۡ

ختم شی او څهٔ چه الله سره دی چرے نه ختمیږی او مونږ به بدله ورکړو صبر کوونکو ته د دوی حق

بِاَحۡسَنِ مَا کَانُوۡا یَعۡمَلُوۡنَ ﴿۹۶﴾ مَنۡ عَمِلَ صَالِحًا مِّنۡ

په ښهٔ کارونو باندے کوم چه دوی کول چا چه اوکړو نیک کار لهٔ سړے

ذَکَرٍ اَوۡ اُنۡثٰی وَهُوَ مُؤۡمِنٌ فَلَنُحۡیِیَنَّهٗ حَیٰوةً طَیِّبَةً ۚ وَ

وی او که ښځه او دے مؤمن دی نو ژوند به ورکړو مونږ هغه ته ښهٔ ژوند لهٔ او

لَنَجْزِيَنَّهُمْ أَجْرَهُمْ بِأَحْسَنِ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿٩٧﴾ فَإِذَا

او خامخا به ورکړو دوی ته حق د دوی په ښو کارونو چه دوی کول. کله چه

قَرَأْتَ الْقُرْآنَ فَاسْتَعِذْ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ ﴿٩٨﴾

ته قرآن لوستلے شے نو پناه غواړه د الله د شیطان رټلي شوي نه

إِنَّهُ لَيْسَ لَهُ سُلْطَانٌ عَلَى الَّذِينَ آمَنُوا وَعَلَى

دهغه زور نه چلیږي په هغو بندګانو چه ایمان لري او په خپل

رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ ﴿٩٩﴾ إِنَّمَا سُلْطَانُهُ عَلَى الَّذِينَ

رب باندے بهروسه کوي دهغه زور خو په هغه خلقو دے چه

يَتَوَلَّوْنَهُ وَالَّذِينَ هُمْ بِهِ مُشْرِكُونَ ﴿١٠٠﴾ ع ۱۲

دے ملګرے ګڼړي او کوم چه هغه لره شریک مني ۳۵

**نکات:** ۳۵ د وحی دلیل سره متعلق دے ۱۲

**موضح قرآن** ف۱ مخکښے ذکراوشو په خپل مینځ کښے د وعدے ماتولو او س د الله د وعدے د ماتولو ذکر دے. یعنی د مال د طمع په وجه سره د شرعي حکم خلاف مه کوئ هغه مال به وبال جوړیږي. کوم چه د شریعت موافق په لاس راشي دغه ستاسو د پاره بهتر دے.

ف۲ بنه ژوند اخرت به یے روښانه کړو یا به په دُنیا کښے د الله د محبت خوند او لذت.

ف۳ په دُنیا کښے که یو انسان ته شیطان یعني پیرے تکلیف رسول شروع کړي نو هغه ته رجوع مه کوه هغه نو رهُم سر ته خیژي یکه د الله پناه واخلئ چه هغه د الله کلام او د هغه نومونه دي نو هغے سره به خلاصے بیا مومي.

**فتح الرحمٰن:** ف۱ یعنی په دُنیا کښے به نعمت ورکړم ۱۲

**تفسیر** ۹۶ د اسلام قبلولو نه روستو د مشرکانو ظاهري شان او شوکت، مال او دولت او د افراد ډیروالي ته کتلو سره د اسلام عهد مه ماتوئ ځکه چه دا د دُنیا ټول ساز و سامان او مال، و دولت د اخرت په مقابله کښے ډیر سپک دے. په اسلام باندے د قائم پاتے کیدو په صورت کښے د الله تعالیٰ په نزد چه ستاسو کوم قدر او مرتبه ده او ستاسو د پاره چه کوم اجر او ثواب دے هغه د دے دُنیوي مال، سامان او عیش نه ډیر بهتر دے.

۹۶ د دُنیا سپکا دے بیا نول مقصود دے یعنی د دُنیا ساز و سامان ته توجه مه

ورکوئ بلکه د اخرت فکر اوکړئ ځکه چه د دُنیا هر څیز فانی دے اوختمیدونکے دے لیکن د الله تعالٰے سره چه د منکرینو د پاره چه کوم عذاب دے اومؤمنانو د پاره چه کوم ثواب دے هغه هیڅ کله هم نه ختمیږی. کوم خلق چه په دُنیا کښے د اسلام په وعده باندے قائم اوسیږی او د الله تعالٰے د احکامو او حدودو پابندی کوی په اخرت کښے به هغوی ته د هغوی د عملونو پوره پوره اجر او ثواب ملاویږی. حضرت شیخ فرمائی چرته چه د دُنیا دولت نه په دهوکه کښے د راتلونه ویرولے شی هلته عام طور باندے درے خبرے ذکر کیږی. (۱) د دُنیا دولت حقیر دے (۲) د دے په وجه په دُنیا کښے عذاب راځی (۳) په اخرت کښے به هم عذاب وی. امر اول مَا عِنْدَكُمْ يَنْفَدُ نه امر دویم وَتَذُوقُوا السُّوٓءَ سره او دریمه خبره وَلَكُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ سره ذکر کړے شوے ده.

۸۱ کوم سړے او ښځے چه په دُنیا کښے نیک کار اوکړو په دے شرط چه هغه مؤمن وی نو د هغوی د دُنیا ژوند به هم پاك صفا او خوندور وی ځکه چه مؤمن موحد ته د الله بندګی، اطاعت او صبر قناعت کښے چه کوم لطف او د زړه اطمینان حاصلیږی هغه د دُنیا بادشاهانو ته په تخت او تاج او د عیش عشرت په ډیرو سامانو کښے هم نه نصیب کیږی. او په اخرت کښے به هم د خپلو عملونو پوره پوره جزا بیا مومی. بعضو مُفسرینو د حَيٰوةً طَيِّبَةً نه اُخروی ژوند مراد اخستے دے. چه د هغے پاکوالے او خوندور کیدل د کوم تشریح او توضیح محتاج نه دے. والمراد بالحیاة الطیبة الحیاة التی تکون فی الجنة اذ هناك حیاة بلا موت وغنی بلا فقر وصحة بلا سقم وملك بلا هلك وسعادة بلا شقاوة (روح ص۲۲۳ ج ۱۴)

۸۲ دا د دلیل وحی یعنی وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْكِتٰبَ الخ سره متعلق دے یعنی مونږ په تاسو باندے یو داسے جامع کتاب نازل کړیدے چه په هغے کښے ټول د دین ضروریات په پوره تفصیل سره موجود دی. او په هغے کښے د مذکوره الصدر مخکښے ذکر شوو د دریو امورو ذکر دے. یعنی شرك مه کوئ، احسان کوئ او ظُلم مه کوئ نو چه کله تاسو د دے تلاوت کوئ نو په شروع کښے شیطان نه پناه ضرور غواړئ ځکه چه هغه د تلاوت په وخت کښے د وسوسے اچولو او د خلقو په زړونو کښے د شبها تو پیدا کولو کوشش کوی. اګرچه په تاسو باندے د هغه د وسوسے د مکر او فریب هیڅ اثر نه شی کیدے ځکه چه مؤمنین صادقین کوم چه په الله باندے یقین او بهروسه لری. په هغوی باندے د شیطان زور نه چلیږی لیکن د هغه د دهوکه کولو او د وسوسے اچولو اثر په هغه خلقو کیږی کوم چه په وسوسو عمل کوی او د هغه په ګمراه کولو سره الله سره شرك کوی. به کښے باء سببیه ده. والمعنی بسببه ..... ای من اجله ومن اجل حمله ایاهم علی الشرك بالله صاروا مشرکین (کبیر ص۱۰۹ ج ۵) د قرآن د تلاوت نه مخکښے د استعاذے مشهور الفاظ چه په احادیثو کښے راغلی دی دا دی. اَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ.

وَإِذَا بَدَّلْنَآ ءَايَةً مَّكَانَ ءَايَةٍ ۙ وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا يُنَزِّلُ

او چه کله موږ بدلوو شه د یو ایت په ځای بل ایت هل او الله ته ښه معلوم دی هغه چه نازلوی

قَالُوٓا إِنَّمَآ أَنتَ مُفْتَرٍۭ ۚ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿١٠١﴾ قُلْ

نو دوی وائی چه ته خو جوړه کړیدلا دا نوے خبره بلکه اکثر په دے نه پوهیږی ول ته او وایه

نَزَّلَهُۥ رُوحُ الْقُدُسِ مِن رَّبِّكَ بِالْحَقِّ لِيُثَبِّتَ

دا نازل کړیدے پاک فرښته شه ستا د رب د طرفنه په حقه سره چه مضبوط کړی

الَّذِينَ ءَامَنُوا وَهُدًى وَبُشْرَىٰ لِلْمُسْلِمِينَ ﴿١٠٢﴾ وَلَقَدْ

ایمان اړو لړه او هدایت او خوشخبری د مسلمانانو د پاره ول او موږ ته ښه

نَعْلَمُ أَنَّهُمْ يَقُولُونَ إِنَّمَا يُعَلِّمُهُۥ بَشَرٌ ۗ لِّسَانُ الَّذِى

معلومه ده چه دوی وائی لشه دا ښائی یو سړے د کوم سړی طرفته چه بے

يُلْحِدُونَ إِلَيْهِ أَعْجَمِىٌّ وَهَٰذَا لِسَانٌ عَرَبِىٌّ مُّبِينٌ ﴿١٠٣﴾

دوی نسبت کوی، د هغه ژبه عجمی ده او دا قرآن په عربی ژبه کښے دے صفاف

إِنَّ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِـَٔايَٰتِ اللَّهِ ۙ لَا يَهْدِيهِمُ اللَّهُ

هغه خلق کوم چه د الله تعالے په خبرو یقین نه کوی۔ دوی ته الله لاره نه ښائی

وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿١٠٤﴾ إِنَّمَا يَفْتَرِى الْكَذِبَ الَّذِينَ لَا

او دوی د پاره عذاب دردناک دے وی دروغ خو هغه خلق جوړه دی د کوموچه

يُؤْمِنُونَ بِـَٔايَٰتِ اللَّهِ ۖ وَأُولَٰٓئِكَ هُمُ الْكَٰذِبُونَ ﴿١٠٥﴾

یقین نشته د الله په خبرو او دغه خلق دروغژن دی

مَن كَفَرَ بِاللَّهِ مِنۢ بَعْدِ إِيمَٰنِهِۦٓ إِلَّا مَنْ أُكْرِهَ وَ

څوک چه منکر شو د الله نه پس د یقین کولو نه مګر هغه نه په چاچه زبردستی اوشوه

قَلْبُهُۥ مُطْمَئِنٌّۢ بِالْإِيمَٰنِ وَلَٰكِن مَّن شَرَحَ بِالْكُفْرِ

او زړه د هغه برقرار دی په ایمان مګر چه څوک په ښکاره زړه منکر شو۔

صَدْرًا فَعَلَيْهِمْ غَضَبٌ مِّنَ اللّٰهِ ۚ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ﴿١٠٦﴾

پس په دوی غضب دے د الله تعالٰے او دوی لره لوئی عذاب دے ف

ذٰلِكَ بِاَنَّهُمُ اسْتَحَبُّوا الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا عَلَى الْاٰخِرَةِ ۙ وَاَنَّ

دا دے وجے نه چه دوی غوره کړو د دُنیا ژوندون د اٰخرت نه او الله

اللّٰهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْكٰفِرِيْنَ ﴿١٠٧﴾ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ طَبَعَ

لاره نه ښائی منکرانو خلقو ته ف دا هغه دی چه مُهر وهلے دے

اللّٰهُ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ وَسَمْعِهِمْ وَاَبْصَارِهِمْ ۚ وَاُولٰٓئِكَ

الله په زړونو د دوی او په غوږونو د دوی او په سترګو د دوی او دا دی

هُمُ الْغٰفِلُوْنَ ﴿١٠٨﴾ لَا جَرَمَ اَنَّهُمْ فِي الْاٰخِرَةِ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴿١٠٩﴾

بے هوشه په خپله ظاهره ده چه دا خلق په اٰخرت کښے خراب دی

ثُمَّ اِنَّ رَبَّكَ لِلَّذِيْنَ هَاجَرُوْا مِنْۢ بَعْدِ مَا فُتِنُوْا ثُمَّ

بیا خبره دا ده چه ستا رب په هغه خلقو چه دوی وطن پریښے دے پس د مصیبت اوچتولو نه بیا یے

جٰهَدُوْا وَصَبَرُوْٓا ۙ اِنَّ رَبَّكَ مِنْۢ بَعْدِهَا لَغَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿١١٠﴾ ع

جهاد کړیدو او قائم پاتے شو بیشکه ستا رب د دے خبرو نه پس بخښونکے مهربان دے ف

**نکات:** سا شکوی، ۲ سـ جواب شکوی، ۲ سـ۳ د مُشرکانو دویمه شکوی (طعن) سـ۴ د دویمے شکوے جواب ۱۲ سـ۵ تخویف اُخروی ۱۲ سـ۶ تخویف اُخروی ۱۲ سـ۷ ثُمَّ د پاره د تعقیب ذِکری ۱۲

**موضح قرآن** ف۱ دے کلام (قرآن) کښے الله پاک اکثر نسخ کړیدے نو کافران شک کوی د دے جواب یے ورکړو یعنی هر وخت یے د هغه موافق حُکم راولیږلو نو د یقین لرونکو زړونه نور هم قوی شی چه زمونږ رب د هر حال نه خبردار دے. ف۲ یعنی په هر حال کښے د هغه موافق لاره اُوښائی او په هر کار باندے د هغه شان زیرے درکړی.

ف۳ په مکه کښے دیو سړی رومی نصرانی غلام اُوسیده. نبی علیه السلام سره به کیناسته د محبت سره به یے د الله کلام او د پیغمبرانو حالات اوریدل. کافرانو به وئیل چه هغه دهٔ ته قرآن ښائی.

ف۴ یعنی هر څو مره یے چه پوهه کړی هغوی نه پوهیږی یے یقین سړے محروم دی.

ف۵ مخکښے د کافرانو د شبهاتو ذکر اُوشو. اُوس یے اُوفرمائیل چه څوک شبهات واوری د ایمان نه اُوګرځی د هغه حال دا دے لیکن که چرے ظالم په زبردستئ سره په چا باندے

باندې کلمه (لفظ) د کُفر اوواﺋي او په زړهٔ کښې ایمان قرار، نیولے وي نو په هغهٔ باندې څهٔ نشته لیکن که چرې مړهٔ قبول کړي اولفظ هُم اُونهٔ واﺋي په څلهٔ باندې نولوئ شهید دے.

ف۶ اوخوله چه د ایمان نه د دُنیا د پاره کرځیدلے دے. د مړهٔ د ویرې نه یا دخپلو د وجے نه یا د مال د لالچ په وجه حالچه دُنیا عزتمنه دهٔ اُوګڼله هغهٔ د پاره آخرت چرته دے که چرې د مړهٔ د ویرې په وجه د کُفر کلمه اوواﺋي نو پکار دهٔ چه کله د ویرې وخت تیر شي بیا توبه او استغفار اوکړي او په ایمان باندې کلک شي.

ف۷ په مکه کښې څخه خلق د کافرانو د ظلم نه بچ شوي وُو یا یے زباني لفظ ویلے وُو او د هغې نه روستو یے چه کله د وصره کاروته اوکړل د ایمان هغه کښے پوره کړے شو تقصیر اُو بخښلے شو. یو بزرګ وُو عمار د هغهٔ پلار یاسر او مور سُمیه ظلم یے برداشت کړو او مړهٔ شول او د کُفر لفظ یے اُونهٔ وئیلو خو یے د مړهٔ د ویرې لفظ د کُفر اووئیلو بیا یے ژړل او نبي علیه السلام ته راغے هغه وخت دا آیتونه نازل شوُ.

**فتح الرحمٰن:** ف۱ یعني یو آیت په بل آیت باندې نسخ کړم.

**تفسیر**

۱۲۳ دا په مُشرکانو باندې شکوئ دهٔ چه په قرآن مجید باندې به یے شیطاني وسوسو سره بے ځایه شُبهات کوُل دا د هغوي اولنئ شبهه دهٔ چه د لیل وحي سره متعلق دهٔ. په قرآن مجید کښې چه کوم احکام په شروع کښې د وقتي مصلحتونو په وجه نازل شوي وُو چه کله د هغې ضرورت پاتې نه شو نو هغه منسوخ کړے شول په دے باندې مُشرکانو اعتراض شروع کړو چه دا څنګه کیدے شي چه الله پاك یوه خبره اُوکړي او هغه بیا واپس واخلي دے نه معلومیږي چه (معاذ بالله) دا قرآن د الله تعالیٰ کلام نهٔ دے بلکه دا د محمد (صلی الله علیه وسلم) کلام دے چه هغه یے غلط طور سره د الله طرفته منسوب کوي مُشرکان دا دے ظالمان او بیباك وُو چه نبي علیه السلام به یے مخاطب کوُلو او پوره وثوق او باور سره به یے وئیل إِنَّمَا أَنْتَ مُفْتَرٍ. اے محمده! (صلی الله علیه وسلم) خبره صرف دومره دهٔ چه ته په الله باندې افتراء کوے یعني دا کلام الله نهٔ دے نازل کړے. (إِنَّمَا أَنْتَ مُفْتَرٍ) متقول علی الله تعالیٰ تأمر بشيء ثم یبدو لك فتنهیٰ عنه (روح ص۲۳۳ ج ۱۴)

۱۲۴ دا په مینځ کښې جمله معترضه دهٔ چه په دیکښې د نسخ د حکمت طرفته اشاره شوې ده. یعني الله تعالیٰ چه کوم شے نازلوي د هغې مصلحتونه او موا قع هغه ښهٔ پیژني. دا چه زهٔ یے راندهٔ دي صرف د ناپوهئ په وجه اعتراض کوي.

۱۲۵ دا جواب شکوئ دهٔ او د اولے شُبهے رد دے یعني دا قرآن څما افتراء نهٔ دهٔ بلکه د الله د طرفنه په ما باندې نازل کړے شوید ے دے د پاره چه د نسخ په ذریعه د مؤمنانو امتحان اوکړي نو چه کله یو آیت منسوخ کوُلے شي نو د مؤمنانو ایمان نور هُم مضبوط شي هغوي پوهیږي چه اُوس د منسوخ په ځای ناسخ زمونږ په حق

کښې زیات فائده مند دے او د یکښې د الله حکمت دے. لیبلوهم بالنسخ حتی اذا قالوا فیه هُوَ الْحَقُّ مِن رَّبِّنَا والحکمة لانه حکیم لا یفعل الا ما هو حکمة وصواب حکم لهم بثبات القدم وصحة الیقین وطمانیة القلب (مدارک ص۲۳۱ ج ۲)

**۸۷** دا د مشرکانو دویم طعن دے په مکه مکرمه کښې یو رومي غلام بلعام نومے اوسیده ځ ده اسلام راوړے وو. د نبي علیه السلام نه به یې اسلامي احکام زده کول. لیکن مشرکانو دا مشهوره کړه چه هغه رومي غلام محمد (صلی الله علیه وسلم) ته دا قرآن زده کوي. لِسَانُ الَّذِیْنَ یُلْحِدُوْنَ اِلَیْهِ الخ دا د هغه طعن جواب دے مشرکان د خپل باطني خباثت په وجه د قرآن د تعلیم نسبت چه د کوم سړي طرفته کوي د هغه ژبه خو عجمي ده او دا قرآن خو صفا او عام فهم لسانه عربئ ژبه کښې دے. په دے وجه دا د هغه عجمي ژبه څنګه کیدے شي د مشرکانو دا طعن په کوم دلیل مبني نه وو. خاص د عناد په وجه وو لیکن جواب د یر معقول ورکړے شو.

**۸۸** دا معاندینو د پاره تخویف اُخروي دے یعني کوم خلق چه محض د ضد او عناد د وجے نه د الله په ایتونو باندے ایمان نه راوړي الله پاک هغوی ته د هدایت توفیق نه ورکوي او په اخرت کښې هغوی د پاره دردناک عذاب دے. اِنَّمَا یَفْتَرِی الخ دا ظالمان خما پیغمبر علیه السلام باندے افتراء او بهتان لګوي حالانکه مفتریان دوی پخپله دي. ځکه چه افتراء هغه سړے کوي کوم چه د الله په ایتونو باندے ایمان نه راوړي او په پیغمبر علیه السلام باندے د قرآن د ځان نه جوړولو افتراء کوي.

**۸۹** دا د فَاِذَا قَرَأْتَ الْقُرْاٰنَ سره متعلق دے. د قرآن مجید ایتونو سره د ایمان والو ایمان تازه کیږي د هغوی ټول شبهات لرے کیږي او هغوی ته د ثبات او د استقامت دولت نصیب کیږي. لیکن کوم خلق چه د ایمان ↗ اوړلو نه روستو د شبهاتو نه متأثره شي او د ایمان نه اوګرځي په هغوی باندے به د الله غضب وي او هغوی به په د یر زیات سخت عذاب کښې وي. او دا د اَوْفُوْا بِعَهْدِ اللهِ سره هم متعلق دے او د وعدے ماتوونکو د پاره تخویف اُخروي دے. کفر بعد الاسلام ته د اسلام وعده ماتول مراد دي داشان دا هم قرینه ده چه هلته د عهد نه د ایمان او اسلام عهد مراد دے عام مراد نه دے. مَنْ کَفَرَ الخ شرط دے او فَعَلَیْهِمْ غَضَبٌ الخ د دهٔ جزاء مقدره ده چه د هغې په تقدیر باندے مَنْ شَرَحَ لِلْ الخ جواب دال دے. (مدارک، روح، بحر) یعني کوم سړي چه د ایمان راوړلو نه روستو د اسلام وعده ماته کړه او په خلهٔ یې د کفر کلمه او ویله په هغهٔ باندے د الله غضب دے لیکن چا ته چه د قتل ویره ورکړے شوه او په هغهٔ باندے کفر کلمه او ویلے شوه. لیکن د هغهٔ زړهٔ په ایمان مطمئن وُو نو هغه د خدائ د غضب نه مستثنی دے. لیکن چا چه د زړهٔ نه اقرار اوکړو او کفر یې صحیح اوګڼلو په هغهٔ باندے به د الله غضب وي او هغهٔ د پاره ډیر سخت عذاب دے.

**۹۰** شرح صدر سره کفر قبلولو باندے دا سزا ځکه ورکولے شي چه هغهٔ د دنیا

اوعناد په وجه سره دُنیا ته په اٰخرت باندے ترجیح ورکړه او د عناد په وجه
به هغوئ ته هدایت هُم نهٔ نصیب کیږی. اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ الخ هغوی ته الله پاك
د سوچ کولو د پاره زړهٔ، د آوریدو د پاره غوږونه او کتلو د پاره سترګے ورکړے
ددے نه کار وانخستلو او په ضد باندے ټینګ اُودریدل نو الله پاك د هغوی په زړونو
غوږونو او سترګو باندے د جباریت مهر اُولګولو او د هغوی نه یے د هدایت توفیق
واخستلو. دا خلق د علم وسائل نه استعمالولو په وجه د حق نه بالکل غافله دی او په
اٰخرت کښے به هغوی د پاره ډیر زیات تاوان وی.

يَوْمَ تَأْتِىْ كُلُّ نَفْسٍ تُجَادِلُ عَنْ نَّفْسِهَا وَتُوَفّٰى

په کومه ورځ چه راشی ټول هر نفس سوال جواب کوونکے دخپل طرفنه او پوره به ملاوشی

كُلُّ نَفْسٍ مَّا عَمِلَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ﴿۱۱۱﴾ وَضَرَبَ اللّٰهُ

هر چا ته نتیجه چه دهٔ کړی وی او په دوی به ظلم نهٔ وی ول او بیان کړے دے الله

مَثَلًا قَرْيَةً كَانَتْ اٰمِنَةً مُّطْمَئِنَّةً يَّاْتِيْهَا رِزْقُهَا

یو مثال یو کلے وو په آرام امن سره راتللو دهٔ ته رزق ددهٔ

رَغَدًا مِّنْ كُلِّ مَكَانٍ فَكَفَرَتْ بِاَنْعُمِ اللّٰهِ فَاَذَاقَهَا

په فراغت سره د هر ځائ نه بیا یے ناشکری اوکړه د الله د احسانونو بیا اُوڅکوله

اللّٰهُ لِبَاسَ الْجُوْعِ وَالْخَوْفِ بِمَا كَانُوْا يَصْنَعُوْنَ ﴿۱۱۲﴾

دوی ته الله مزه چه ددوی د تن کپړے شوے لوږه او ویره په بدله د هغے کښے چه دوی کول ول

وَلَقَدْ جَآءَهُمْ رَسُوْلٌ مِّنْهُمْ فَكَذَّبُوْهُ فَاَخَذَهُمُ

او دوی ته اُورسیدهٔ رسول ددوی نه بیا یے دهٔ لره دروغژن کړو بیا ونیول دوی

الْعَذَابُ وَهُمْ ظٰلِمُوْنَ ﴿۱۱۳﴾ فَكُلُوْا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللّٰهُ

لره عذاب او هغوی ګنهګار دُو ول پس خورئ ځینے کوم چه رزق درکړے دے تاسو ته

حَلٰلًا طَيِّبًا وَّاشْكُرُوْا نِعْمَتَ اللّٰهِ اِنْ كُنْتُمْ اِيَّاهُ

الله حلال او پاك. او شکر کوئ د الله تعالٰی د احسان که تاسو د هغهٔ

تَعۡبُدُوۡنَ ﴿۱۱٤﴾ اِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيۡكُمُ الۡمَيۡتَةَ وَالدَّمَ وَلَحۡمَ

عبادت کوئ (۳) الله خو حرام کړیدی په تاسو مُردار ۹٤ او وینه او د سور

الۡخِنۡزِيۡرِ وَمَاۤ اُهِلَّ لِغَيۡرِ اللّٰهِ بِهٖ ۚ فَمَنِ اضۡطُرَّ غَيۡرَ

غوښه او هغه کوم چه نوم واخستے شي د الله نه سوا د بل چا. بیا چه څوک ناچاره شي نه

بَاغٍ وَّلَا عَادٍ فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوۡرٌ رَّحِيۡمٌ ﴿۱۱٥﴾ وَلَا تَقُوۡلُوۡا لِمَا

بغاوت کوی او نه زیاتے کوی نو الله بخښونکے والا مهربان دے او مه وایئ ۹٥ په خپلو

تَصِفُ اَلۡسِنَتُكُمُ الۡكَذِبَ هٰذَا حَلٰلٌ وَّهٰذَا حَرَامٌ

ژبو هغه چه جوړوی ژبے ستاسو دروغ چه دا حلال او دا حرام دی

لِّتَفۡتَرُوۡا عَلَى اللّٰهِ الۡكَذِبَ ؕ اِنَّ الَّذِيۡنَ يَفۡتَرُوۡنَ

چه الله باندے بهتان اوتړئ بیشکه څوک چه بهتان تړی ۹٦ په

عَلَى اللّٰهِ الۡكَذِبَ لَا يُفۡلِحُوۡنَ ﴿۱۱٦﴾ مَتَاعٌ قَلِيۡلٌ وَّ

الله باندے د دوی خیر نشته لږه شان فائده ده او

لَهُمۡ عَذَابٌ اَلِيۡمٌ ﴿۱۱۷﴾ وَعَلَى الَّذِيۡنَ هَادُوۡا حَرَّمۡنَا

دوی د پاره عذاب دردناک دے او کوم خلق چه ۹۷ یهودیان دی په هغوی حرام کړی وو

مَا قَصَصۡنَا عَلَيۡكَ مِنۡ قَبۡلُ ۚ وَمَا ظَلَمۡنٰهُمۡ وَلٰكِنۡ كَانُوۡۤا

موږ هغه چه تا ته وړاندے اورولے شویدی. او موږ په دوی ظلم نه وو کړے لیکن دوی په خپله

اَنۡفُسَهُمۡ يَظۡلِمُوۡنَ ﴿۱۱۸﴾ ثُمَّ اِنَّ رَبَّكَ لِلَّذِيۡنَ عَمِلُوا السُّوۡٓءَ بِجَهَالَةٍ

په ځانونو ظلم کولو ۹۸ بیا خبره داده چه ستا رب ۹۹ په هغه خلقو باندے کوم چه بدی اوکړه په ناپوهئ

ثُمَّ تَابُوۡا مِنۡۢ بَعۡدِ ذٰلِكَ وَاَصۡلَحُوۡۤا ۙ اِنَّ رَبَّكَ مِنۡۢ بَعۡدِهَا لَغَفُوۡرٌ رَّحِيۡمٌ ﴿۱۱۹﴾ ع ۱۸

بیا توبه وکړی د هغه نه پس او خپله اصلاح اوکړی بیشکه ستا رب د هغه نه پس بخښونکے مهربان دے

نکات: ۔ سلا دوه یم حصے شروع ۱ سلا د غیرالله د تحریماتو نفی ۱۲ سلا تخویف اُخروی ۲

ے جواب د سوال مقدر ۱۲ ے تعقیب ذکری ۱۲

**موضح قرآن**

ف یعنی د هیڅا د پاره به هم خوله خیره نه کوی په دغه ورځ به ظلم نه شي کیدے۔ ف۲ دا ئے بناروته د بیروی بیا یے دا احوال اُوفرمائیل د مکے چه کیږے دلوږے او ویرے۔ یعنی سم ست دلوږے او ویرے نه خالی نه اُوسیدل۔ ف۳ یعنی ایمان راوړئ او حلال مه حراموئ خپل عمل سره۔ ف۴ په سورۂ انعام کښے ذکر شوے دے۔

ف۵ یعنی په حلال او حراموکښے بے دروغ جوړ کړی وُو چه کله مُسلمانان شول نو بخښنه ورته اُوشوه۔

**فتح الرحمٰن**

ف۱ دا قصه اجمالاً د ډیرو قِصو نه راویستل شوی ده او منطبق ده په بیشماره واقعات او دغے وجے نه یے نوم مثال کیښودے شوے دے او په عبارت کښے دوه تشبیهات جمع کړے شوی دی په یو سیاق کښے ۱۲

**تفسیر:۔** ۱۱۰ ثُمَّ تعقیب ذکری د پاره دے او دا مهاجرینو او مجاهدینو د پاره بشارتِ اُخروی دے یعنی دغے نه روستو دا هم واورئ چه کومو خلقو خالص د دِینِ حق په خاطر تکلیفونه برداشت کړل او د وطن نه بے وطنه شول د الله په لاره کښے یے جهاد اُوکړو او په هر اَزمائش کښے ثابت قدم پاتے شول الله تعالیٰ د دوی په حق کښے ډیر مهربان دے او معاف کوُنکے دے۔

۱۱۱ دا ظرف دغَفُوۡرٌ رَّحِیۡمٌ سره متعلق دے۔ نصب علی الظرفیة برحیم (روح ملخصاً) او د یَوۡمَ نه دقیامت ورځ مراد ده۔ یعنی د قیامت په ورځ چه کله سړے دخپل نجات د پاره کوشش کوی او په خپله دِفاع کښے مشغول وی او په کومه ورځ چه هر یو ته دهغهٔ د اعمالو پوره پوره جزا او سزا ورکولے شی او په هیڅا به ظلم نه کیږی په هغه ورځ به الله تعالیٰ مهاجرینو او په مجاهدین فی سبیل الله باندے ډیر مهربان وی۔

۱۱۲ په قرآن مجید کښے لفظ مثل په څلورو معنو کښے استعمال شوے دے۔ قصه، صفت، عجیبه شئ او عبرت دلته اُخری معنیٰ مراد ده۔ په لغت کښے صرف دوه مخکینو معانو کښے استعمال شویدے۔ ضَرَبَ په معنیٰ د جَعَلَ، قَرۡیَةً سره د صفت نه مفعول اول مؤخر د جعل، مثلاً مفعول ثانی مقدم یعنی اُوګرځوله الله تعالیٰ مکه د عبرت ځائ چه د هغے اهل ډیر مالدار او خوشحاله وُو بیا د شرک په وجه سره په هغوی قحط راغے او رزق یے تنګ شو دے ځائ نه تر وَهُمۡ لَا یُظۡلَمُوۡنَ پورے د سورت د ابتداء یعنی اَتٰۤی اَمۡرُ اللّٰهِ فَلَا تَسۡتَعۡجِلُوۡهُ سره متعلق دے۔ د سورة په شروع کښے یے د مکے مُشرکانو ته اُوفرمائیل چه جلتی مه کوئ بس ګما عذاب راغلے او ګڼړئ، دلته یے اُوفرمائیل چه موږ د مکے والو باندے عذاب راوستلو۔ د قریة نه مکه مکرمه مراد ده۔ اول مکے والو د امن او سکون ژوند تیرولو د هر طرف نه میوے دانے او

دخوراك شیزونه ډیر رارسیدل لیکن هغوی د الله تعالی د نعمتونو ناشکری اوکړه او د الله پیغمبر چه توحید د پیغام سره هغوی ته راغے د هغه تکذیب یے اوکړو. د الله پیغمبر هغوی د غیر الله کارساز او حاجت روا ګنړلو سره په مُشکلاتو کښے د رابللو نه منع کړل لیکن هغوی منع نهٔ شول. نو الله تعالی هغوی ته د دے جُرم سزا ورکړه چه په هغوی باندے یے قحط مسلط کړو چه اووهٔ کاله ؤو. په دغه دوران کښے مشرکان دے حد ته اُورسیدل چه کهٔ چرے هغوی ته د سپی مُرداره او سوځے ملا ویدے نو هغه به یے هم د مزیدار خوراك پشان ښځے. لما ابتلوا بالجوع سبع سنین وقطع العرب عنهم المیرة بامر النبی صلی الله علیه وسلم اکلوا العظام المحرقة والجیفة والکلاب المیتة والجلود والوبر یعالج بالدم (قرطبی ص۱۹۵ ج۱۰) د بعضے روایتونو نه معلومیږی چه نبی علیه السلام د قریشو مُشرکانو ته خیرے کړے وے چه اے الله! په دوی باندے خپل ګرفت سخت کړے او د مصر د قحط پشان په دوی باندے قحط مسلط کړے. اللهم اشدد وطئتك علی مضر واجعلها سنین کسنی یوسف (روح ص۲۴۴ ج۱۴) د مکے مُشرکان چه کله دیے بسی او عاجزی انتها ته اُورسیدل نو ابوسفیان د نبی علیه السلام په خدمت کښے حاضر شو او د صله رحمیٔ او خپلولیٔ واسطه یے پیش کړه چه د صله رحمیٔ او عفو درګذر تلقین کویٔ او ستاسو دا قوم خوهلاکیږی. په دے باندے نبی علیه السلام د شفقت او رحمت د وجے نه دے ظالمانو د پاره دُعا اُوکړه او خلقو تهٔ یے هغوی ته د غلے ورکولو اجازت هم ورکړو (قرطبی) په مکه کښے د قحط راتللو واقعه د هجرت نه پس راپیښه شوه. دے ځائی پورے د سُورة اوله حصه ختمه شوه.

## دویمه حِصّه. دشرك فعلی نفی

په دے حصه کښے د شرك فعلی د دوؤ شقونو رد کړے شوے دے. تحریمات د غیر الله او نذر د غیر الله.

۹۳ د مکے په مُشرکانو باندے عذاب حُکه رالیږلے شو چه هغوی به غیر الله کارساز ګنړلو سره رابللو. او د غیر الله منتیے به یے ورکولے لهذا فکلوا سره یے اُوفرمائیل چه تاسو د غیر الله رابلل هم پریږدئ او غیر الله د پاره د تحریماتو کولو او د نذر کولو نه هم منع شئ. په د بعضے د تحریمات غیر الله نفی کړے شوے ده. یعنی چه کوم حلال او پاك رزق الله تاسو ته درکړے دے هغه خورئ او د الله د حلال کړے شوی شیزونو نه څهٔ شیز د خپل طرفنه په ځان باندے مهٔ حراموئ. یعنی بحیره، سائبه وغیره مهٔ جوړوئ. د دے تفصیل په سورة مائده کښے تیر شوے دے حاشیه ۱۲۹ اُوګورئ. دا د ضَرَبَ اللهُ مَثَلًا الخ سره متعلق دے د مکے په مُشرکانو باندے عذاب ځکه نازل کړے شو چه هغوی د الله د نعمتونو ناشکری اوکړه او د الله پیغمبر یے دروغژن اُوګنړلو د توحید پیغام یے رد کړو او غیر الله یے کارساز ګنړلو سره راوُبللو. د

باطلو خدایانو تحریمات یې شروع کړل او منښتې یې منلې. حالانکه هغوی له یکار وو چه د منعم شکریې په ځائې راوړے وے. صرف الله تعالیٰ تہ یې اوان کړلے صرف د هغهٔ منښتې یې کړلے او د هغهٔ ورکړے شوی حلال او پاک څیزونه یې خوړلے او هغې دځان نه نهٔ حراموَلے.

۹۴ په دیکښې د نذر غیرالله نفی کړے شوې ده یعنې کوم څیزونه مثلاً بحیره، سائبه وغیره تاسو حرام ګڼړئ الله خو دا حرام کړی نهٔ دی هغه خو حلال دی. ددے وجے نه هغه خورئ. الله خو دا څیزونه حرام کړیدی، مُرداره، ویني وګړه، (کوم چه د حلالولو په وخت بهیږی) خنزیر او نذر د غیرالله دا حرام دی دا مه خورئ. ددے تفسیر تیر شویدے. سورة بقره حاشیه ۳۱۲ صفحه نمبر ۲۷۷ باندے اوګورئ

۹۵ دا په ماقبل متفرع دے په طریقه د لف نشر غیر مرتب. هٰذَا حَلٰلٌ دا په نذر غیرالله باندے او هٰذَا حَرَامٌ په تحریمات غیرالله باندے متفرع دے یعنې دا چه تاسو د خپل طرفنه تحریم او تحلیل کوی دا محض ستاسو د دروغو بیان او په الله باندے افتراء ده ځکه چه د تحلیل او تحریم اختیار خو صرف الله تعالیٰ ته دے بل چاته نشته. ان التحلیل والتحریم انما هو لله عزوجل ولیس لاحد ان یقول او یصرح بهذا فی عین من الاعیان الا ان یکون الباری تعالیٰ یخبر بذلک عنه (قرطبی ص۱۹۶ ج۱۰) لهٰذا څوک چه یو څیز حلال یا حرام بنائی ګویا هغه دا وائی چه الله تعالیٰ دا حلال یا حرام کړیدے.

مُشرکانو د خپل طرفنه په محرماتو او محللاتو کښې اضافه کړے وه په دے باندے الله پاک سخت انکار اوکړو. انهم کانوا یحرمون البحیرة والسائبة والوصیلة والحام وکانوا یقولون مَا فِیْ بُطُوْنِ هٰذِهِ الْاَنْعَامِ خَالِصَةٌ لِّذُكُوْرِنَا وَمُحَرَّمٌ عَلٰٓى اَزْوَاجِنَا فقد زادوا فی المحرمات وزادوا ایضاً فی المحللات وذلک لانهم حللوا المیتة والدم ولحم الخنزیر وما اهل به لغیرالله تعالیٰ فالله تعالیٰ بین ان المحرمات هی هذه الاربعة وبین ان الاشیاء التی یقولون ان هذا حلال وهذا حرام کذب وافتراء علی (کبیر ص۵۳۱ ج۵)

۹۶ اِنَّ الَّذِيْنَ يَفْتَرُوْنَ... نه تر... عَذَابٌ اَلِيْمٌ پورے. هغه خلقو د پاره تخویف اُخروی دے. کوم چه په الله باندے افتراء کوی او د نفس خواهش سره یې د خپل ځان نه تحریمات کړل دوی به په آخرت کښې خلاصے نهٔ مومی. او دوی ته به په آخرت کښې دردناک عذاب ورکولے شی.

۹۷ دا د سوال مقدر جواب دے. سوال دا دو چه که چرے دا څیزونه حلال دی نو بیا په یهودیانو باندے ولے حرام کړے شو په یهودیانو باندے د اوښ غوښه حرام وه او دا بحیره، سائبه، او وصیله او حام ټول د اوښانو قسمونه دی. نو ددے جواب ورکړے شو چه دا څیزونه په اصل کښې حلال وو لیکن مونږ د یهودیانو د سرکشئ سزا ورکولو د پاره دا څیزونه په هغوی حرام کړل. مَا قَصَصْنَا

عَلَيْكَ مِنْ قَبْلُ سره د سُورۂ انعام دے آیت طرفته اشاره ده. وَعَلَى الَّذِيْنَ
هَادُوْا حَرَّمْنَا كُلَّ ذِيْ ظُفُرٍ الاية (انعام ع ۱۸) وَمَا ظَلَمْنٰهُمْ الخ او دا حلال څیزونه مونږ
په هغوی باندے حرام کړل مونږ په هغوی باندے ظلم اُونکړو بلکه دا د هغوی د
سرکشئ او بغاوت سزا ده څنګه چه د سُورۂ انعام ذکر شوی آیت په آخر کښے ے
اُو فرمائیل : ذٰلِكَ جَزَيْنٰهُمْ بِبَغْيِهِمْ وَاِنَّا لَصٰدِقُوْنَ. او په سُورۂ نساء (۲۲۶)
کښے یے اُو فرمائیل : فَبِظُلْمٍ مِّنَ الَّذِيْنَ هَادُوْا حَرَّمْنَا عَلَيْهِمْ طَيِّبٰتٍ اُحِلَّتْ لَهُمْ
وَبِصَدِّهِمْ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ.

**ف ۵۸** ثُمَّ تعقیب ذکری د پاره دے یعنی بیا دا خبره هم واورئ او دا هم د ضَرَبَ
اللّٰهُ مَثَلًا سره متعلق دے. دا هم د الله احسان وُو چه هغه د مکے مُشرکان په
عذاب سره بیخی هلاک نکړل بلکه هغوی ته یے د سوچ کولو، پوهیدلو او د عبرت
حاصلولو د پاره زیات مهلت ورکړو. د دے وجے نه کوم خلق چه په ناپوهئ سره
کُفر او شرک کوی که چرے هغوی اُوس هم یعنی د قحط عذاب اُوچتیدلو نه پس هم
د زړهٔ په صدق سره توبه اوکړی او دینِ اسلام قبول کړی د کُفر او شرک نه منع شی
او نیک عملونه اوکړی نو الله تعالٰے دا سے مهربان دے چه د هغوی ټول مخکنی ګناهونه
به معاف کړی. د اَلسُّوْءُ نه مراد شرک دے څنګه د عبد الله بن عباسؓ نه نقل دی.
السوء الشرك قاله ابن عباسؓ (قرطبی ص ۱۹۶ ج ۱۰)

اِنَّ اِبْرٰهِيْمَ كَانَ اُمَّةً قَانِتًا لِّلّٰهِ حَنِيْفًا ط وَلَمْ يَكُ
په اصل کښے ابراهیم خو وُو یو پیشوا فرمانبردار د الله د ټولو نه یو طرفته او نه وُو د
مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿۱۲۰﴾ شَاكِرًا لِّاَنْعُمِهٖ ط اِجْتَبٰهُ وَهَدٰىهُ
شرک والو نه ف ۵۹ حق منونکے د هغهٔ د احسانونو هغه الله غوره کړو او هدایت یے
اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿۱۲۱﴾ وَاٰتَيْنٰهُ فِى الدُّنْيَا حَسَنَةً ط وَ
ورته اوکړو د نیغے لارے او ورکړه مونږ ده ته په دُنیا کښے خوبی او
اِنَّهٗ فِى الْاٰخِرَةِ لَمِنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿۱۲۲﴾ ثُمَّ اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ
دے په آخرت کښے د نیکانو نه دے ف ۶۰ بیا حُکم اوکړو مونږ تا ته
اَنِ اتَّبِعْ مِلَّةَ اِبْرٰهِيْمَ حَنِيْفًا ط وَمَا كَانَ مِنَ
چه تابعداری کوه د دین د ابراهیم چه د یو طرف وُو او نه وُو د

الْمُشْرِكِيْنَ ﴿۱۲۳﴾ إِنَّمَا جُعِلَ السَّبْتُ عَلَى الَّذِيْنَ اخْتَلَفُوْا

د شرك والو نه ؤ ۔ د هفتې (خالي) ورځ چه مقرر شوې وه لره پس په هغو باندې چه د يکبنې

فِيْهِ ؕ وَإِنَّ رَبَّكَ لَيَحْكُمُ بَيْنَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ فِيْمَا كَانُوْا

اختلاف کولو او ستا رب به حکم اوکړي په دوی کښې د قيامت په ورځ په کومه خبره کښې

فِيْهِ يَخْتَلِفُوْنَ ﴿۱۲۴﴾ اُدْعُ إِلٰى سَبِيْلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ

چه دوی اختلاف کولو ؤ ۔ بلل کوه د خپل رب لارې ته لره په محکمه خبره

وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ وَجَادِلْهُمْ بِالَّتِيْ هِيَ أَحْسَنُ ؕ

او نصيحت ورته اوکړه په ښه طريقه او بحث کوه دوی سره څنګه چه بهتر دی پوهولو سره

إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ بِمَنْ ضَلَّ عَنْ سَبِيْلِهٖ وَهُوَ أَعْلَمُ

ستا رب ښه پيژني هغه څوك چه بې لارې شي د هغه د لارې نه او هغه ښه پيژني

بِالْمُهْتَدِيْنَ ﴿۱۲۵﴾ وَإِنْ عَاقَبْتُمْ فَعَاقِبُوْا بِمِثْلِ مَا

هغو لره چه په لاره وی ؤ ۔ او که چرې تاسو بدله اخلئ نو بدله واخله هغومره څومره

عُوْقِبْتُمْ بِهٖ ؕ وَلَئِنْ صَبَرْتُمْ لَهُوَ خَيْرٌ لِّلصّٰبِرِيْنَ ﴿۱۲۶﴾

بې چه تاسو ته تکليف رسولې دې او که صبر اوکړئ نو دا بهتره ده صبر کونکو د پاره ؤ ۔

وَاصْبِرْ وَمَا صَبْرُكَ إِلَّا بِاللّٰهِ وَلَا تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ وَ

او صبر کوه او صبر به ته د الله په توفيق سره کوې او په دوی مه غمژن کيږه او

لَا تَكُ فِيْ ضَيْقٍ مِّمَّا يَمْكُرُوْنَ ﴿۱۲۷﴾ إِنَّ اللّٰهَ مَعَ الَّذِيْنَ

مه تنګيږه په دوی د فريب باندې الله ملګرې دې د هغو چه

۱۶ ع ۹ ۲۳

اتَّقَوْا وَّالَّذِيْنَ هُمْ مُّحْسِنُوْنَ ﴿۱۲۸﴾ ع

پرهيزګار دی او کوم چه نيکي کونکي دی ۔

**نکات:** ۱ خاتمه ۱۲ ۲ دليل نقلي ابراهيم عليه السلام سره د پاره د نفي د شرك في التصرف او نفي د شرك فعلي ۱۲ ۳ دليل وحي د پاره د نفي د شرك اعتقادي او شرك فعلي ۱۲

سے جواب د مشرکانو د سوال ۱۲ سے د تبلیغ د طریقے ښودنه ۱۲ سے د نبی علیه السلام د پاره تسلی ۱۲

## موضح قرآن

**ف ۱** یعنی په حرام او حلالو کښے اصل ملت ابراهیم دے او عرب خلق چه ځان ته حنیف وائی او شرک کوی د هغهٔ په لاره نه دی.

**ف ۲** په دُنیا کښے اسودګی او د آرام ژوند او قبول والے په ټول جهان کښے. **ف ۳** یعنی په مینځ کښے یهود او نصارٰو ته مخصوص احکام د هغوی د حال سره ورکړے شوی دی په آخر کښے پیغمبر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم بیا په هغه دین راغے. **ف ۴** یعنی په اصلی ملت ابراهیمی کښے د خالی د ورځے هیڅ حُکم نه وُو په دے اُمت باندے هم نشته.

**ف ۵** الزام ورکړه څنګه چه بهتر وی یعنی چه جګړه پیدا نه شی. **ف ۶** مخکښے یے چه کوم اُوفرمائیل چه پوهه یے کړه په ښه طریقه، په هغے کښے یے رخصت ورکړو چه د بدئ بدله په بدئ سره ورکول بد نه خبره نه ده خو صبر نو ره هم بهتره دے.

## فتح الرحمٰن

**ف ۱** مترجم وائی چه حنیف هغه چاته وائی چه حج خَتنه (سُنت) او د جنابت غسل یے کړے وی. والله اعلم ۱۲

**ف ۲** مترجم وائی یعنی یهودیانو به د خالی د ورځے په باره کښے بحث کولو. یو دے پہلے به وئیل چه الله پاک د خالی په ورځ د مخلوق پیدا کولو نه فارغ شوے نو د خالی په ورځ عبادت کول پکار دی او یوه ډله خاموش وه. الله تعالٰے د خالی د ورځے تعظیم په دے وجه په دوی باندے واجب اُوګرځولو. والله اعلم ۱۲

## تفسیر

**خاتمه: ۹۹** چه کله په دوارو حصو کښے د شرکِ اعتقادی یعنی شرک فی التصرف او د شرکِ فعلی نفی مفصّل طریقے سره بیان شوه. او په دے باندے عقلی دلائل او دلیلِ وحی هم ذکر شو. نو په آخر کښے یے په دوارو مضمونو باندے ابراهیم علیه السلام سره دلیلِ نقلی ذکر کړو. اُمَّة په وزن د فُعْلَة په معنیٰ د مفعول سره دے. ای ماموما او تاء د مبالغے د پاره ده یعنی د ټولونه لوئ پیشوا یا اُمّة په معنیٰ د جماعت سره دے. او په ابراهیم علیه السلام باندے د دے اطلاق ځکه اُوشو چه د هغهٔ په ذات کښے دومره خیر او برکت وُو څومره چه په یو لوئ جماعت کښے وی. قال ابن عباسؓ ای کان عنده علیه السلام من الخیر ما کان عند اُمة وهی الجماعة الکثیرة ... وقیل الامة هنا فعلة بمعنی مفعول کالرحلة بمعنی المرحول الیه. (روح ص ۲۴۹ ج ۱۴) یعنی ابراهیم علیه السلام په خپله زمانه کښے د ټولونه لوئ پیشوا وُو د دین، او د خیر او صلاح جامع وُو. قَانِتًا لِّلّٰهِ. د الله تعالٰے منونکے وُو. حَنِیْفًا د ټولو باطلو دینونو نه یو طرفته وُو او صرف د توحید د دین منونکے وُو. وَلَمْ یَكُ مِنَ الْمُشْرِكِیْنَ او د هر قِسم شرک یعنی شرک فی التصرف او شرکِ فعلی کونکو نه بیزاره او لرے وُو. شَاكِرًا لِّاَنْعُمِهٖ د الله د نعمتونو شکر ادا کولو والا په حاجتونو کښے الله ته اُواز کولو والا، او صرف د الله په نوم نذرانو منتیں کولو والا. اِجْتَبٰهُ الله هغه غوره کړے وُو او صراط مستقیم (د توحید لاره) طرفته یے د هغهٔ رهنمائی کړے وه. وَاٰتَیْنٰهُ الخ په دُنیا کښے مونږ هغهٔ ته دا اُوچته مرتبه ورکړے وه چه قیامته

پورے راتلونکی ټول خلق خواه د هر ملت سره تعلق لری هغه به خپل پیشوا منی. او په آخرت کښے به هغه د صالحانو په اوچتو درجو کښے وی.

**۲۰۰** دلیل نقلی نه روستو په دا ورد مضمونونو باندے د دلیل وحی ذکر اوکړے شو. چه اے پیغمبر صلی الله علیه وسلم اوس تاسو ته حکم درکولے شی چه تاسو د ملت ابراهیمی تابعداری اوکړئ چه د هر قسم شرک نه بیزاره دی. اے د مکے مشرکانو! بنه واورئ! ابراهیم علیه السلام چه تاسو هغه خپل پیشوا (امام) منئ هغه د شرک فی التصرف او شرک فعلی نه بیزاره وو. او ما ته حکم شویدے چه د ملت ابراهیمی تابعداری اوکړم دده وجے نه ستاسو دا دعوی باطل او صحیح او حقه ده دا اومنئ غیرالله ته اوان کول هم پریږدئ او د غیرالله په نوم نذرونه او منتے هم مه ورکوئ.

**۲۰۱** دا د مشرکانو د یو سوال جواب دے چه که چرے محمد صلی الله علیه وسلم د ملت ابراهیمی تابع وے نو د جمعے په ځائی به یے د خالی د ورځے تعظیم کولے ځکه چه ابراهیم علیه السلام به د خالی د ورځے تعظیم کولو نو جواب ورکړے شو چه ابراهیم علیه السلام د خالی د ورځے نه بلکه د جمعے د ورځے تعظیم کولو او بیا موسی علیه السلام ته هم د جمعے د ورځے د تعظیم کولو حکم ورکړے شو لیکن قوم د هغه نه روستو د خپل یو پیغمبر سره جګړه شروع کړه چه مونږ به د جمعے نه بلکه د خالی د ورځے تعظیم کوو. نو مونږ په هغوی باندے د خالی د ورځے تعظیم فرض کړو. او اخرالزمان پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته موهم د هغه ورځے د تعظیم حکم ورکړو د کومے ورځے تعظیم چه به ابراهیم علیه السلام کولو یعنی د جمعے ورځ. اختلفوا فیه علی نبیهم حیث امرهم بالجمعة فاختاروا السبت وهم الیهود (روح صـ۲۵۲ ج ۱۴) حضرت شیخ فرمائی فیه کښے فی په معنی د لام اجلیه دے. ای اختلفوا لاجل تعظیم السبت یعنی د موسی علیه السلام په قوم کښے اختلاف د خالی د ورځے په وجه پیدا شو.

**۲۰۲** د شرک فی التصرف او شرک فعلی نفی د عقلی، نقلی او وحی دلائلو سره مدلل کولو نه روستو د تبلیغ طریقه بیان کړے شوه. اَلْحِکْمَةُ واضح دلائل او براهین قاطعه او محکم چه هغے سره دعوی ښه واضحه شی، او ټول شبهات لرے شی. اَلْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ، د خیر خواهئ او شفقت جذبے سره. یا مطلب دا دے چه تخویف او انذار سره ترغیب او تبشیر (رغبت پیدا کول او زیرے ورکول) هم وی. اَلَّتِیْ هِیَ اَحْسَنُ. یعنی د خبرو کولو د ټولو نه ښه طریقه اختیار کړه چه په هغے کښے نرمی هم وی او مهذب هم وی (روح ومدارک) تاسو دلائلو سره د خیرخواهئ او شفقت جذبے دلاندے، په نرمه لهجه او د خبرو اترو په ښائسته انداز سره د توحید دعوت پیش کوئ. که څوک یے منی یا نه د هغے پرواه مه کوئ د دوی د کفر او انکار، ضد او عناد د وجے نه مه غمژن کیږئ. اِنَّ رَبَّكَ هُوَ اَعْلَمُ الخ منونکی او نه منونکی ټول الله ته معلوم دی هغه به هر یو ته د هغه د عملونو مطابق جزا او سزا ورکوی عنی انما علیك یا محمد تبلیغ ما ارسلت به الیهم ودعائهم بهذه الطرق الثلاثة وهو اعلم بالفریقین الضال والمهتدی فیجازی کل عامل بعمله (خازن صـ۱۲۵ ج ۴).

۱۰۳ په ؏ که چرتے په مشرکانو باندے تاسو ته غلبه حاصله شي او هغوی ستاسو په قبضه کښے راشي نو هغوی باندے ظلم او زیاتے بالکل مه کوئ۔ لیکن چه څومره هغوی تاسو ته تکلیف درکړیدے د هغے مطابق د بدلے اخستلو اجازت دے او که چرتے تاسو بدله وانخلئ بلکه صبر اوکړئ او معافی اوکړئ نو دا ستاسو د پاره ډیره ښه ده د هغے بدله به د بیحسابه اجر و ثواب په شکل کښے تاسو ته الله سره هلته بیامومئ۔

۱۰۴ په ؏ دا نبی علیه السلام د پاره په ډیرے طریقو سره تسلّی ده۔ یعنی تاسو صبر نه کار واخلئ۔ او د مشرکانو ایمان نه راوړلو باندے او د هغوی په ضد او عناد باندے دقائم پاتے کیدو نه مه خفه کیږئ۔ او نه د دوی په مکر او فریب باندے پریشانه شئ۔ اِنَّ اللّٰهَ مَعَ الَّذِیْنَ اتَّقَوْا الخ جمله د ماقبل د پاره تعلیل دے ځکه چه الله تعالیٰ همیشه د هغه خلقو سره دے او د هغه چا مدد کوی چه د ټولو بدو کارونو نه ځان اوساتی او نیک عملونه اوکړی۔ یا د مُحْسِنِیْن نه مخلصین مراد دی یعنی د هغوی هر کار د نیت اخلاص سره وی او د هغوی د ژوند ټول کوشش خالص د الله د رضا د پاره وی۔ ای هو ولی الذین اجتنبوا السیئات وولی العاملین بالطاعات قیل من اتقی فی افعاله واحسن فی اعماله کان الله معه فی احواله ومعینه نصرته فی المامور وعصمته فی المحظور (مدارک ص۲۳۶ ج ۲) او په دیکښے شک نشته چه تاسو کښے په پوره توګه دا صفتونه او خوبیانے موجود دی۔ او ستاسو ملګرو کښے هم علیٰ حسب المراتب دا صفتونه موجود دی۔ په دے وجه به خامخا د الله تعالیٰ تائید او نصرت او امداد او اعانت ستاسو سره شامل حال وی۔ لهٰذا تاسو استقامت سره د توحید په اشاعت او پیغام الٰهی په رسولو کښے مشغول اوسیږئ۔

وَاٰخِرُ دَعْوٰنَآ اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ۔ رَبَّنَا
تَقَبَّلْ مِنَّآ اِنَّكَ اَنْتَ السَّمِیْعُ الْعَلِیْمُ۔ وَتُبْ
عَلَیْنَآ اِنَّكَ اَنْتَ التَّوَّابُ الرَّحِیْمُ ٥

# په سورهٔ نحل کښے د توحید اٰیتونه او د هغے خصوصیات

① یُنَزِّلُ الْمَلٰٓئِكَةَ بِالرُّوْحِ ... نه تر ... لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنَا فَاتَّقُوْنِ ٥ د توحید مسئله د اعمالو د پاره په منزله د روح ده۔

② خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ ... نه تر ... وَیَخْلُقُ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ٥ نفی د شرک فی التصرف

③ وَهُوَ الَّذِیْٓ اَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ ... نه تر ... وَبِالنَّجْمِ هُمْ یَهْتَدُوْنَ ٥ (ع ۲) نفی د شرک فی التصرف۔

④ وَاللّٰهُ یَعْلَمُ مَا تُسِرُّوْنَ وَمَا تُعْلِنُوْنَ ٥ (ع ۲)
⑤ لَا جَرَمَ اَنَّ اللّٰهَ یَعْلَمُ مَا یُسِرُّوْنَ وَمَا یُعْلِنُوْنَ ٥ (ع ۳)
} نفی د شرک فی العلم

(۶) وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ اُمَّةٍ رَّسُوْلًا مِّنْهُمْ اَنِ اعْبُدُوا اللّٰهَ وَاجْتَنِبُوا الطَّاغُوْتَ
د توحید مسئله د ټولو پیغمبرانو علیهم السلام اجماعي دعوت دے۔
(۷) اَوَلَمْ يَرَوْا اِلٰى مَا خَلَقَ اللّٰهُ (ع ۶)... ته تر... اَفَغَيْرَ اللّٰهِ تَتَّقُوْنَ ۝ (ع ۵) نفي د شرك في التصرف۔
(۸) وَيَجْعَلُوْنَ لِمَا يَعْلَمُوْنَ نَصِيْبًا مِّمَّا رَزَقْنٰهُمْ. نفي د شرك فعلي۔ ورکړه الله کوی لیکن د الله د ورکړے نه نذرونه د غیرالله ورکوی۔
(۹) وَاللّٰهُ اَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً (ع ۸)... ته تر... وَيَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا لَا يَمْلِكُ لَهُمْ رِزْقًا مِّنَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ شَيْئًا وَّلَا يَسْتَطِيْعُوْنَ ۝ (ع ۱۰) نفي د شرك في التصرف۔
(۱۰) ضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا عَبْدًا... ته تر... وَهُوَ عَلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ۝ تمثيل د پاره د باطلو معبودانو او د حق معبود۔
(۱۱) وَلِلّٰهِ غَيْبُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ... ته تر... اِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ (ع ۱۱) نفي د شرك في العلم او د شرك في التصرف۔
(۱۲) وَاللّٰهُ اَخْرَجَكُمْ مِّنْ بُطُوْنِ اُمَّهٰتِكُمْ... ته تر... كَذٰلِكَ يُتِمُّ نِعْمَتَهٗ عَلَيْكُمْ لَعَلَّكُمْ تُسْلِمُوْنَ ۝ نفي د شرك في التصرف۔
(۱۳) وَاِذَا رَاَ الَّذِيْنَ اَشْرَكُوْا شُرَكَآءَهُمْ... ته تر... ضَلَّ عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ (ع ۱۲) نفي د شرك في التصرف والاختيار۔ خيالي سفارشيان به د قيامت په ورځ پكاره راځي۔
(۱۴) فَكُلُوْا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللّٰهُ... ته تر... وَمَآ اُهِلَّ لِغَيْرِ اللّٰهِ بِهٖ (ع ۱۵) نفي د شرك فعلي۔
(۱۵) اِنَّ اِبْرٰهِيْمَ كَانَ اُمَّةً لِّلّٰهِ... ته تر... وَلَمْ يَكُ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ (ع ۱۶) نفي د شرك في التصرف او شرك فعلي۔
(۱۶) د توحيد د مسئلے د نه منلو په وجه سره د مكے مشركانو ته دنيوي تخويف واوزلے شو دے وجے نه په دے سورت كښے د توحيد دعوىٰ بيا بيا مكرر كړے شوه او عقلي نقلي او وحي دلائل ذكر كولو سره واضحه كړے شوه۔
(۱۷) د عذاب د دفع كولو د پاره درے امور ذكر كړے شويدي۔

نن په تاريخ د ۷ جمادى الأخرى ۱۳۸۶ھ مطابق د ۲۳ ستمبر ۱۹۶۶ء د جمعے د ماښام نه روستو بخويشت منټه او درے بجے بانديے د سورة نحل تفسير ختم شو. فالحمد لله الذى بنعمته تتم الصالحات والصلوٰة والسلام على رسوله سيد السادات وعلى اٰله وصحبه ما دامت الارض والسمٰوٰت۔

# سُورة بني اسرائيل ۱۷

**ربط :-** د سُورة بني اسرائيل د سُورة نحل سره اسمي ربط دا دے چه نحل يعني د شاتو مچئ چه څنګه الهام الٰهي سره شات جوړوي د دے نه د الله تعالیٰ دقادر او متصرف او د کارساز کيدو پته لګيږي. په دے وجه تاسو دا خبره اُومنئ ليکن که چرے نه يے منئ بلکه د بني اسرائيلو په شان شرک کوئ او په زمکه کښے فساد کوئ نو الله تعالیٰ په عذاب سره به هلاک شئ.

**معنوي ربط :-** په سُورة نحل کښے د مُشرکانو د عذاب د مطالبے پوره کولو ذِکر وُو. مُشرکانو به د عناد او استهزاء په وجه سره نبي عليه السلام ته وئيل چه د کوم عذاب نه ته مونږ ويروے په هغے کښے روستو ولے وړے راځي. په دے باندے الله تعالیٰ د مکے مُشرکان په ډير سخت قحط کښے مبتلا کړل چه دهغے ذکر د سُورة نحل په دے ايت کښے شوے دے. وَضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا قَرْيَةً كَانَتْ اٰمِنَةً مُّطْمَئِنَّةً الخ (ع ۱۵) ليکن هغه عذاب دا سے وُو چه هغوي دغه عذاب سره هلاک نه کړے شول بلکه هغوي په تکليف کښے واچولے شول، دے د پاره چه هغوي ته د مُشرکانه عملونو احساس اُوشي او هغوي د دے نه عبرت حاصل کړي د دينه روستو د هغوي نه د قحط عذاب پورته کړے شو. هغوي ته زيات مُهلت ورکړے شو چه هغوي د دے نعمت شکر ادا کړي او د شرک نه منع شي. ليکن هغه ظالمانو نه د عذاب نه عبرت حاصل کړو او نه د عذاب پورته کولو سره هغوي نرم شو بلکه ضد عناد او انکار باندے قائم پاتے شول. او يو بل نوے مطالبه يے پيش کړه. چه مونږ ته يو معجزه ښکاره کړئ چه زمونږ د مُحمّد ﷺ په صداقت باندے يقين وُشي نو مونږ به د توحيد مسئله اُومنو. وَيَقُوْلُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَوْلَآ اُنْزِلَ عَلَيْهِ اٰيَةٌ مِّنْ رَّبِّهٖ (رعد ع ۱)

اُوس په بني اسرائيل کښے يے اُوفرمائيل چه مونږ تاسو ته د اسراء معجزه ښودلے ده. که چرے دا عظيم الشان معجزه هُم اُووينئ او بيا هُم د توحيد مسئله اُونه منئ نو هلا کولے به شئ ځکه چه معجزے د ويرولو د پاره ښودلے شي او دا زمونږ سنت جاريه دی چه کله يو قوم د معجزے ليدلو نه روستو هُم خبره نه مني نو هغوي به هلاکولے شي. څنګه چه د ثمود قوم د اُوښے معجزه ليدلو نه روستو هُم مسئله اُونه منله نو هغوي هلاک کړے شول. او د فرعون قوم د عصا او يدِ بيضاء او نورے معجزے اُوليدے بيا يے هُم اُونه منل نو هغوي غرق کړے شول.

**خلاصه :-** په دے سورة کښے د اسراء د معجزے ذکر شوے دے دا سراء معجزه چونکه د توحيد د مسئلے په خاطر ښودلے شوے وه په دے وجه په دے سورة کښے د ۱۶

قسمه ایتونه نازل کړے شول. یوه هغه مسئله کومه چه د توحید سره متعلق ده چه د هغې په خاطر دا معجزه اُوښودلے شوه. دویمه هغه چه هغې کښې د معجزو ذِکر دے چه د هغې نه مقصود تخویف دے یعنی که څوک دے معجزے نه رو ستوهُم د توحید مسئله اُو نه منی نو هلا کولے به شی. د سورة دعوٰی او مرکزی مضمون چه د هغې د صداقت د اظهار د اسراء معجزه اُوښودلے شوه. د هغې تفصیل د سُورت په آخر کښې ورکړے شوے دے. قُلِ ادْعُوا اللّٰهَ اَوِ ادْعُوا الرَّحْمٰنَ ... نه تر.... وَكَبِّرْهُ تَكْبِيْرًا (۲۶) یعنی الله تعالیٰ نه خواه الله وئیلو سره یا رحمٰن وئیلو سره آواز کوئ. لیکن آواز صرف هغهٔ ته کوئ دهغهٔ نه سِوا یے بل چا ته مهٔ کوئ. فَلَهُ الْاَسْمَآءُ الْحُسْنٰى. فاء تعلیلیه ده ځکه چه د هغهٔ ډیر ښهٔ نُومونه دی. وَلَا تَجْهَرْ بِصَلَاتِكَ الخ کښې د آواز کولو د طریقے تعلیم ورکړے شویدے. نهٔ ډیر اُوچت آواز چه مشرکان درپسے ښکنځل اُونکړی او نهٔ ډیر خکته آواز دے د پاره چه صحابو ته تعلیم ورکړے شی. وَقُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ الخ دا د قُلِ ادْعُوا اللّٰهَ الخ دلیل دے یعنی صرف الله ته آواز کوئ، ځکه چه د کارسازئ د ټولو صفتونو مالک صرف هغه دے. د هغهٔ څوک نائب نشته نهٔ د هغهٔ څوک شریک او مدد گار شته، په دے سورت کښې د توحید لس آیتونه او د معجزو پنځه آیتونه دی.

# د توحید آیتونه

## ٭ یو دلیلِ وحی ـــــ درے دلائلِ نقلیه ـــــ شپږ دلائلِ عقلیه

**دلیلِ وحی** سُبْحٰنَ الَّذِیْٓ اَسْرٰی بِعَبْدِهٖ الخ دا د امرِ محذوف مفعول مطلق دے. ای سبحوا سبحانًا الله تعالیٰ د وحی په ذریعه خپل پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته حکم ورکړیدے چه ځما بندګانو ته اُووایه چه الله تعالیٰ د هر قسم شرک نه پاک اُوګنړئ. او په حاجتونو او مُشکلاتو کښې غائبانه صرف هغهٔ ته آواز کوئ الله تعالیٰ د وحی په ذریعه اُوفرمائیل چه ما د هر شریک نه پاک وګنړئ په تورات کښې هُم دا حُکم ورکړو چه د الله نه سِوا هیڅوک کارساز مهٔ جوړوئ او د عقلِ سلیم فیصله هُم دا ده چه الله تعالیٰ د هر شریک نه پاک دے.

**دلائلِ نقلیه** ① په شروع کښې موسیٰ علیه السلام سره. وَاٰتَیْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ.... نه تر.... اَلَّا تَتَّخِذُوْا مِنْ دُوْنِیْ وَكِیْلًا (ع۱) په موسیٰ علیه السلام باندے مونږ کتاب (تورات) نازل کړو چه هغه مونږ د ټولو بنی اسرائیلو د پاره د هدایت دستور اُوګرځولو. په دیکښے خاص طور باندے بنی اسرائیلو ته حُکم ورکړے شو چه ځما نه سِوا بل څوک کارساز مهٔ جوړوئ او ځما نه سِوا په حاجتونو کښې بل چا ته آواز مهٔ کوئ.

② دلیل نقلی انبیاء علیهم السلام او ملائکو سره. قُلِ ادْعُوا الَّذِیْنَ زَعَمْتُمْ.... نه تر.... كَانَ مَحْذُوْرًا (ع۶) کوم انبیاء او ملائکے علیهم السلام چه تاسو د الله نه سِوا

کارساز او متصرف ګڼلې دی هغوی نه موجود دي مصیبت لرې کوونکي ښي او نه را توونکي
منع کوونکي ښي بلکه هغوی خو خپله هر وخت د الله پاک د رضا لټولو په کوشش کښې
او د هغه د عذاب نه لرزيدونکي او ویریدونکي وي.

③ د اهل کتابو غلبه او سره إِنَّ الَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ مِن قَبْلِهِ إِذَا يُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ
... نه تر.... وَيَزِيدُهُمْ خُشُوعًا (۱۰۹) اے د مکې مشرکانو تاسو قرآن نه منئ یا یې نه
منئ په اهل کتابو کښې چه کوم خلق انصاف خوښونکي دی او د الله نه ویریدونکي دي.
هغوی قرآن مجید منلے او د توحید په مسئله یې ایمان راوړیدے هغوی د الله تعالی
په مخکښې سجده کوي او د هغه په وړاندے عاجزي کوي نو دا هم د قرآن د توحید د
مسئلے او د محمد د نبوت د حق کیدو یو زبردسته نقلي ګواهي ده.

## دلائلِ عقلیه

① إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ الله د شریک نه پاک او ګڼرني او په
حاجتونو کښې صرف هغه ته او از کوئ ماته هم دا وحي د الله
نه راغلے ده او د عقل تقاضا هم دا ده چه د ټولو هر څه پیژندونکے او ټول
هر څه لیدونکے صرف هغه دے

② وَجَعَلْنَا اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ ... نه تر.... وَكُلَّ شَيْءٍ فَصَّلْنَاهُ تَفْصِيلًا (۱۲)
دا په توحید باری تعالی باندے دویم عقلي دلیل دے. ټول نظام شمسي چه هغے
سره شپه او ورځ په وجود کښې راځي. او په کوم سره چه د میاشتو او کلونو حساب
کوولے شي دا ټول د الله په تصرف کښې دي دا ټول نظام هغه په داسے تسلسل او
باقاعدګۍ سره چلوي چه ترننه پورے په دیکښې د څه قسمه خلل او نقصان نه دے
پیدا شوے او نه د شپے او ورځے په تلو راتلو کښې څه نقصان پیدا شویدے هغه
قادر او مدبر د ټولو کارساز دے. او د هر قسم عبادت او او از کولو لائق هم هغه دے.

③ إِنَّ رَبَّكَ يَبْسُطُ الرِّزْقَ ... نه تر.... خَبِيرًا بَصِيرًا (۳۰) په توحید باندے دریم
دلیلِ عقلي، رزق د الله تعالی په اختیار کښې دے. د زمکے او اسمان نه د رزق اسباب
هغه پیدا کوي او د رزق ټول قسمونه هغه پیدا کوي د رزق کمے زیاتے هم د هغه په
اختیار کښې دے او بیا خبیر او بصیر یعني په هر څه باندے خبردار او لیدونکے هم
صرف هغه دے. لهٰذا د هغه د ورکړے شوي رزق نه د هغه په نوم خیرات کوئ او
د هغه د رضا لټولو د پاره نذر او منتے ورکوئ او په حاجتونو او مصیبتونو کښې
صرف هغه رابللئ.

④ وَرَبُّكَ أَعْلَمُ بِمَن فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ (۵۵) په توحید باندے څلورم
عقلي دلیل. د زمکے او اسمان د ټول مخلوق نه الله خبر دے. الله انبیاؤ علیهم
السلام او خپلو نیکو بندګانو ته بیشکه لوئ فضیلت ورکړیدے لیکن د هر څه نه
خبریدل د مخلوق د ټولو حالاتو نه خبریدل، د مخلوق نه مصیبتونه او تکلیفونه لرے
کول او د هغوی حاجتونه پوره کول او په مشکلاتو کښې په کار راتلل د هغوی په

اختیار کښې نه دی دا د کارسازئ صفات دی چه د الله د ذات سره خاص دی.

⑤ رَبُّكُمُ الَّذِي يُزْجِي ..... نه تر ... كَانَ بِكُمْ رَحِيمًا (۶۷) د دریابونو او سمندرونو خوفناکو چپو کښې کشتئ او جهازونه صحیح سلامت پورې ستل او غاړې ته رسول د الله تعالٰی کار دې او د هغهٔ د کامل قدرت او شامل رحمت واضح دلیل دې. لهٰذا ددې قادر او رحیم نه سِوا څوك كارساز او حاجت روا نشته.

⑥ قُلْ لَوْ اَنْتُمْ تَمْلِكُوْنَ ... نه تر ... وَكَانَ الْاِنْسَانُ قَتُوْرًا (۱۰۰) (۶۱۸) په دې ایت کښې خطاب ټول مخلوق ته دې خواه انسان وی یا فرښتې یا پیریان، اې انسانانو، پیریانو او فرشتو! که چرې د الله د رحمت خزانې ستاسو په قبضه او اختیار کښې درکړې شي نو تاسو به د بخل نه کار اخستل شروع کړئ او د الله مخلوق ته به پوره پوره فائده اُو نهٔ رسَوِلې شئ په دې وجه د الله نه سِوا هیڅوك ورکوونکې او کارساز نشته دې.

# د مُعجزې اَیتُونه یا د تخویف اَیتُونه

ددې نه مقصود دا دې چه که چرې معجزې لیدو سره هُم ایمان رانهٔ وړئ نو هلاك کولې به شئ، د معجزې ایتونه پنځه دی:

① سُبْحٰنَ الَّذِيْٓ اَسْرٰى الخ (۱۶) د إسراء معجزه د الله تعالٰی د قُدرت ډیرلوئ اعجاز دې. یعنی الله پاك د توحید بیانوونکې خپل خاص بنده یا ندې د مسجدِ حرام نه مسجدِ اقصٰی پورې او د هلته نه اسمانونو پورې د شپې په لږه شان حصه کښې سیل اوکړو. د مکې مُشرکان که چرې اوس دا معجزه اُووینی او بیا هُم د توحید مسئله نهٔ مني نو هغوی به هلا کولې شي.

② إِنَّ هٰذَا الْقُرْاٰنَ يَهْدِيْ الخ د اِسراء د معجزې پشان قرآن مجید هُم یوه معجزه ده.- او دا قرآن هُم دغه د توحید مسئله بیانوی چه د هغې د تائید دپاره د اِسراء معجزه ظاهره کړې شوه

③ وَمَا مَنَعَنَآ اَنْ نُّرْسِلَ الخ مونږ د معاندینو غوښتلې شوې معجزې څکه نهٔ ښکاره کوُو چه د غوښتلې شوُو معجزو لیدلو نه روستو مهلت نشي ورکولې بلکه فوراً عذاب سره منکرین هلاکولې شي. څنګه چه قوم ثمود ته د هغوی غوښتلې شوې معجزه ورکړې شوه لیکن بیا هُم هغوی د توحید مسئله اُو نهٔ منله او سمدستي هلاك کړې شول. وَمَا جَعَلْنَا الرُّءْيَا الَّتِيْٓ اَرَيْنٰكَ الخ د معراج دا معجزه هُم یوازمائش وُو دې دپاره چه ظاهره شي چه څوك یې مني او څوك یې نهٔ مني.

④ وَاِنْ كَادُوْا لَيَفْتِنُوْنَكَ الخ د مُشرکانو خواهش وُو چه نبی علیه السلام لږ شان نرمي اختیار کړی او د هغوی باطلو معبودانو ته بد نهٔ وائي. که چرې نبی علیه السلام دا شان کړې نو هغوی نبی علیه السلام د زړهٔ نه دوست جوړ ولو. مشرکانو خود سمې لارې نه د لرې

کوْلو پوره کوشش اوکړو لیکن مونږ ته ثابت قدم اُوساتلے او دهغوی باطلو ارزوګانو طرفته مو یوذره هُم خکته نهٔ کړې. وَاِنْ كَادُوْا لَيَسْتَفِزُّوْنَكَ دمکے مشرکان د اسراء معجزه لیدلو نه روستو دایمان راوړلو په ځائ دمکے نه ستاسو ویستلو پسے لګیدلی دی. لیکن یادساتئ ستاسو دمکے نه وتلو نه پس به هغوی هُم زیاته زمانه په مکه کښے نهٔ اُوسیږی. مونږ به دوی کښے هُم خپل زاړهٔ سُنت جاری کړو. سُنَّةَ مَنْ قَدْ اَرْسَلْنَا په تیروشوو نبیانو علیهم السلام کښے هُم زمونږ دا سُنت جاری پاتے شوید ی. چه سرکشه او معاند قومونو کله هُم هغوی دخپلو ښارونو نه په ویستلو باندے هغوی مجبور کړل نو دهغوی قومونو ته هُم هلته پاتے کیدل نصیب نهٔ شول. او هغوی فورًا هلاك کړے شول.

⑤ وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسٰى الخ (ع ۱۲) څنګه چه تیر شوُو قومونو ته نبیان علیهم السلام د معجزو سره راغلل لیکن هغوی واضحه معجزے لیدلو نه پس هُم د پیغمبرانو تصدیق اونکړو او د توحید مسئله یے اُونهٔ منله نو هغوی هلاك کړے شول. دغه شان موسیٰ علیه السلام مو هُم د معجزو سره د فرعون قوم ته اُولیږهٔ. د فرعون قوم د معجزو لیدلو نه روستو هُم د موسیٰ علیه السلام پیش کړے شوے د توحید پیغام اُونهٔ منلو نو هغوی غرق کړے شول. اوس د اِسراء معجزے نه روستو هُم که چرے دمکے مُشرکانو د نبی علیه السلام راوړلے شوے د توحید پیغام اُونهٔ منلو نو هغوی به هُم هلاك کړے شی

د اِسراء د معجزے لیدلو نه روستو هُم د توحید مسئله نهٔ منلو باندے چونکه د عذاب تخویف واوروله شو په دے وجه په رکوع ۳ او ۴ کښے د عذاب د فتح کولو دپاره دریے اُمور ذکر کړے شول. یعنی شِرك مهٔ کوئ ، اِحسان کوئ او ظُلم مهٔ کوئ. اول اَمر وَقَضٰى رَبُّكَ اَلَّا تَعْبُدُوْٓا اِلَّآ اِيَّاهُ کښے ذکر کړے شو. وَبِالْوَالِدَيْنِ اِحْسَانًا ... نه تر ... فَتَقْعُدَ مَلُوْمًا مَّحْسُوْرًا ه کښے د دوېم امر ذکر اوکړے شو. او وَلَا تَقْتُلُوْٓا اَوْلَادَكُمْ ... نه تر... عِنْدَ رَبِّكَ مَكْرُوْهًا ه کښے د دریم امر ذکر اُوکړے شو. د توحید د مسئلے اهمیت ظاهرولو دپاره د دریو اُمورو په شروع کښے او بیا په آخر کښے دیرے سختئ سره د شِرك نه منع اُوکړے شوه. د اُمورِ ثلاثو په شروع کښے یے اُوفرمائیل. لَا تَجْعَلْ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ فَتَقْعُدَ مَذْمُوْمًا مَّخْذُوْلًا ه او په آخر کښے یے اُوفرمائیل: وَلَا تَجْعَلْ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ فَتُلْقٰى فِىْ جَهَنَّمَ مَلُوْمًا مَّدْحُوْرًا ه په مینځ کښے یے د تبلیغ د طریقے تعلیم اُوفرمائیلو چه په تبلیغ کښے نرمی اختیار کړه او سخت کلامی مهٔ کوه ځکه چه شیطان معمولی خبرو سره خلق تیز کړی او د هغوی په زړونو کښے نفرت او دُشمنی پیدا کوی. وَقُلْ لِّعِبَادِیْ يَقُوْلُوا الَّتِىْ هِىَ اَحْسَنُ. شیطان چونکه د انسان زوړ دُشمن دے په دے وجه وَاِذْ قُلْنَا لِلْمَلٰٓئِكَةِ اسْجُدُوْا الخ کښے یے د آدم ع او د ابلیس قِصه بیان کړه او بنیادم یے دهغه د مکر و فریب نه خبر کړے شو. د اِسراء معجزه دے دپاره ظاهره کړے شوه چه دے ته

او اوري او د توحید مسئله اُومني لیکن کورنۍ د شیطان نه هوښیار اُوسئ هسے نه هغه په مکروفریب سره ستاسو په زړونو کښے شبهات واچوي او تاسو سره توحید د مسئلے نه متنفر کړي.

د اسراء د معجزے نه روستو به د مکے مشرکانو د ایمان راوړلو په ځاې تاسو د مکے نه اوباسي. د دے وجے نه په أَقِمِ الصَّلَوٰةَ لِدُلُوكِ الشَّمْسِ الخ کښے یے د امرِ مصلح ذکر اوکړو دے د پاره چه په مصیبتونو باندے د صبر او استقامت صفت پیدا شي ځکه چه مانځه سره صبر او استقامت او د رجوع الی الله صفتونه پیدا کیږي. دا شان د شپے په وخت د قرآن مجید تلاوت کوئ چه زړونه هم مطمئن وي او د هجرت کولو په وخت دا دعا هم ورسره وایئ او د مکے نه اُوځئ. رَّبِّ أَدْخِلْنِي مُدْخَلَ صِدْقٍ الخ د دے نه علاوه په سورة کښے د موقعو موافق بشارتونه، تخویفونه، زجرونه او شکوے ذکر شوي دي.

## مختصر خلاصه

د قحط عذاب موثر پوره کړیدے او اوس ستاسو د مطالبے مطابق یوه ډیره لویه معجزه یعني د اسراء معجزه ظاهر کړے شویده. اوس که څوک د دے معجزے نه روستو هم نه مني نو هلاک کولے به شي. د اسراء معجزه چونکه د توحید د مسئلے په خاطر ظاهر کړے شوه. ځکه د دے سورت ایتونه دوه قسمه دي. اول د توحید ایتونه دویم د معجزو ایتونه، د سورت دعوی چه د هغے د پاره د اسراء معجزه ظاهر کړے شوه هغه په اخر کښے تفصیل سره ذکر ده. قُلِ ادْعُوا اللَّهَ أَوِ ادْعُوا الرَّحْمَٰنَ الخ یعني په حاجتونو کښے چه کله هم آواز کوئ نو صرف الله ته آواز کوئ. خواه د هغه په هر صفت سره ورته آواز کوئ ځکه چه هغه د پاره ډیر ښه صفتونه دي. وَلَا تَجْهَرْ بِصَلَاتِكَ الخ. د آواز کولو طریقه یے بیان کړه چه نه په زیات اُوچت آواز یے رابلئ او نه بالکل پټ خفته آواز سره بلکه میانه روی اختیار کړئ. وَقُلِ الْحَمْدُ لِلَّهِ الخ دلیل د ما قبل یعني صرف الله ته د دے د پاره آواز کوئ چه هغه د کارسازئ د ټولو صفاتو مالک دے او د هغه هیڅوک نائب نشته.

د توحید ایتونه:- یو دلیل وحی سُبْحَانَ الَّذِي أَسْرَىٰ بِعَبْدِهِ سره ذکر کړے شو.

## نقلي دلیلونه

نقلي دلیلونه درے دي. اول په شروع کښے موسٰی علیه السلام سره وَآتَيْنَا مُوسَى الْكِتَابَ الخ دویم په مینځ کښے انبیاء علیهم السلام او فرشتو سره قُلِ ادْعُوا الَّذِينَ زَعَمْتُم الخ دریم په اخر کښے د اهلِ کتابو عالمانو سره إِنَّ الَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ الخ (ع ۱۲)

## عقلي دلیلونه

عقلي دلیلونه شپږ دي. ① إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ. الله تعالی سره شریك هم څوک نشته ځکه چه د هر څه آوریدونکے او لیدونکے صرف هغه دے. ② وَجَعَلْنَا اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ ټول د نمر نظام د الله په تصرف کښے دے

لهٰذا کارساز هم صرف هغه دے. ③ اِنَّ رَبَّكَ يَبْسُطُ الرِّزْقَ الخ دټولو رازق چونکه هغه دے ددے وجے نه هغه متصرف، مختار او کارساز دے. ④ وَرَبُّكَ اَعْلَمُ بِمَنْ فِى السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ (ع ٦) عالم الغیب صرف الله تعالىٰ دے. لهٰذا صرف هغه کارساز دے. ⑤ رَبُّكُمُ الَّذِىْ يُزْجِىْ (ع ٧) سمندرونو او دریابونو کښے د الله تعالىٰ تکوینی احکام جاری دی. لهٰذا په وچه کښے هم صرف هغه حاکم او متصرف دے. ⑥ قُلْ لَّوْ اَنْتُمْ تَمْلِكُوْنَ الخ (ع ١١) دټولو کائناتو رب او مالک الله تعالىٰ دے لهٰذا هغه د ټولو کارساز هم دے.

# دمُعجزے ایتُونه

① سُبْحٰنَ الَّذِىْٓ اَسْرٰى الخ دتوحید د مسئلے په خاطر د اسراء معجزه پیغمبر علیه السلام ته ورکړے شوه ددے نه روستو هم که چرے ایمان نهٔ راوړئ نو هلاک به کړے شئ. ② اِنَّ هٰذَا الْقُرْاٰنَ الخ د اِسراء د معجزے پشان قرآنِ پاک هم یوه معجزه ده او په د یکښے هغه مسئله بیان شوے ده کوم د پاره چه د اِسراء معجزه اُوښودلے شوه.

③ وَمَا مَنَعَنَآ اَنْ نُّرْسِلَ الخ (ع ٦) غوښتلے شوے معجزه مونږ ځکه نهٔ ښایو چه د هغے نه روستو به نهٔ منلو باندے فوراً عذاب راځی او مُهلت به نشی ورکولے.

④ وَاِنْ كَادُوْا لَيَفْتِنُوْنَكَ الخ مُشرکانو ډیر کوشش کړے وُو چه تاسو دخپلو معبودانو په باره کښے څهٔ نرم کړی. لیکن الله تعالىٰ تاسو ثابتقدم وُساتلئ او تاسو کښے یے د هغوی طرفته معمولی شان میلان هم پیدا نهٔ کړو. وَاِنْ كَادُوْا لَيَسْتَفِزُّوْنَكَ د مکے مُشرکان د اِسراء معجزے نه روستو د ایمان راوړلو په ځائ تاسو له د مکے نه ویستلو پسے لګیدلے دی لیکن ستاسو نه روستو به هغوی هم په مکه کښے نهٔ اُوسیږی ځکه چه زمونږ راروانه طریقه دا ده چه زمونږ پیغمبر له د ښار نه ویستونکی بخپله هم هلته نهٔ شی اُوسید لے.

⑤ وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسٰى الخ (ع ١٢) د مخکینو نبیانو علیهم السلام پشان موسیٰ علیه السلام ته هم مونږ معجزے ورکړے او وُمولیږلو. قوم یے انکار اوکړو نو هغوی غرق کړے شو د اِسراء د معجزے نه روستو د مکے مُشرکانو هم انکار اوکړو نو د هغوی انجام به هم داوی. وَقَضٰى رَبُّكَ اَلَّا تَعْبُدُوْٓا اِلَّآ اِيَّاهُ (ع ٣) ... نه تر ... عِنْدَ رَبِّكَ مَكْرُوْهًا (ع ٥) په د یکښے د عذاب د دفع کولو د پاره د دریو اُمورو ذکر اوکړے شو. یعنی شرک مهٔ کوی، احسان کوئ او ظلم مهٔ کوئ. د توحید د مسئلے اهمیت ښکاره کولو د پاره د دریو اُمورو بیانولو نه مخکښے او په اخر کښے صراحةً د شرک نه منع اوکړے شوه. وَقُلْ لِّعِبَادِىْ يَقُوْلُوا الَّتِىْ هِىَ اَحْسَنُ (ع ٦) کښے د تبلیغ د طریقے تعلیم ورکړے شو چه نرمئ سره د توحید دعوت پیش کړئ او د سختئ نه کار مهٔ اخلئ. بیا وَاِذْ قُلْنَا لِلْمَلٰٓئِكَةِ اسْجُدُوْا (ع ٨) سره یے د ادم او ابلیس قصه بیانولو سره خبردار اوکړے

شو چه شیطان ستاسو پخوانے دُشمن دے. دإسراء د معجزے نه روستو به هُم دوی تاسو د توحید نه د منع کولو کوشش کوی. ددے وجے نه د دوی د فریب خبردار اُوسئ. اَقِمِ الصَّلٰوةَ لِدُلُوۡكِ الشَّمۡسِ الخ (ع ۸) دا امر مصلح موٓخۂ ذکر اوکړے شو ځکه چه د إسراء د معجزے نه روستو به هُم دوی ستاسو د توحید نه د منع کولو کوشش کوی په دے وجه تاسو د صبر او استقامت د پاره موٓخۂ قائم کړئ او د قرآن مجید تلاوت کوئ او د هجرت په وخت دا دُعا لولئ. رَبِّ اَدۡخِلۡنِیۡ مُدۡخَلَ صِدۡقٍ الخ.

## سُوۡرَةُ بَنِیۡۤ اِسۡرَآءِیۡلَ مَکِّیَّةٌ وَّهِیَ مِائَةٌ وَّاِحۡدٰی عَشۡرَةَ اٰیَةً وَّاثۡنَا عَشَرَ رُکُوۡعًا

له سورة بنی اسرائیل په مکه کښے نازل شوا و دد ے یو سل یولس ایتونه دی او دولس رکوع دی.

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ۝

شروع دالله د نوم سره چه ډیر مهربانه ډیر رحم کوونکے دے

سُبۡحٰنَ الَّذِیۡۤ اَسۡرٰی بِعَبۡدِهٖ لَیۡلًا مِّنَ الۡمَسۡجِدِ

پاک ذات دے چا چه ے بوتلو خپل بنده ے له شپه په شپه د مسجد حرام نه

الۡحَرَامِ اِلَی الۡمَسۡجِدِ الۡاَقۡصَا الَّذِیۡ بٰرَکۡنَا حَوۡلَهٗ

د مسجد اقصٰی پورے چه هغه راګیر کړیدے زمونږ برکت

لِنُرِیَهٗ مِنۡ اٰیٰتِنَا ؕ اِنَّهٗ هُوَ السَّمِیۡعُ الۡبَصِیۡرُ ۝۱ وَ

دے د پاره ے له چه وُښایو هغه ته دخپل قدرت نمونے هغه دے اوریدونکے لیدونکے ده ے له

اٰتَیۡنَا مُوۡسَی الۡکِتٰبَ وَجَعَلۡنٰهُ هُدًی لِّبَنِیۡۤ اِسۡرَآءِیۡلَ

او ورکړو مونږ موسٰی ته ے له کتاب او هغه مو وګرځولو هدایت د بنی اسرائیلو د پاره

اَلَّا تَتَّخِذُوۡا مِنۡ دُوۡنِیۡ وَکِیۡلًا ۝۲ ذُرِّیَّةَ مَنۡ حَمَلۡنَا

چه مه مقرروئ ځما نه سوا کار ساز تاسو اولاد یئ د هغه خلقو چه خوره ے له

مَعَ نُوۡحٍ ؕ اِنَّهٗ کَانَ عَبۡدًا شَکُوۡرًا ۝۳ وَقَضَیۡنَاۤ اِلٰی

چه مونږ اُوخیژول د نوح سره بیشکه هغه وُو بنده ډیر حق منونکے او صفا موواضح کړل

بَنِيٓ إِسْرَآءِيلَ فِي الْكِتٰبِ لَتُفْسِدُنَّ فِي الْأَرْضِ

بنی اسرائیلو ته په کتاب کښې چه تاسو به خامخا فساد کوئ په ملک کښې

مَرَّتَيْنِ وَلَتَعْلُنَّ عُلُوًّا كَبِيرًا ﴿٤﴾ فَإِذَا جَآءَ وَعْدُ أُولٰىهُمَا

دوه ځله او سرکشي به کوئ لویه سرکشي بیا چه کله راغله نیټه د ومبي وعده

بَعَثْنَا عَلَيْكُمْ عِبَادًا لَّنَآ أُولِي بَأْسٍ شَدِيدٍ فَجَاسُوا

او لیږل موږ په تاسو خپل بندګان سخت جنګ کوونکي بیا ګرځیدل

خِلٰلَ الدِّيَارِ ۚ وَكَانَ وَعْدًا مَّفْعُولًا ﴿٥﴾ ثُمَّ رَدَدْنَا

د ښارونو په منځ کښې او وه دا وعده کیدونکې بیا موږ واپس

لَكُمُ الْكَرَّةَ عَلَيْهِمْ وَأَمْدَدْنٰكُم بِأَمْوٰلٍ وَبَنِينَ

درکړه تاسو ته غلبه په هغوی باندې او قوت مو درکړو تاسو ته په مال سره او په ځامنو

وَجَعَلْنٰكُمْ أَكْثَرَ نَفِيرًا ﴿٦﴾ إِنْ أَحْسَنتُمْ أَحْسَنتُمْ

او په دې سره مو زیات کړې ستاسو لښکر که چیرې نیکي اوکړه تاسو نو فائده مو

لِأَنفُسِكُمْ ۖ وَإِنْ أَسَأْتُمْ فَلَهَا ۚ فَإِذَا جَآءَ وَعْدُ الْآخِرَةِ

خپله اوکړه او که بدي مو اوکړه نو خپل نقصان دی بیا چه کله راورسیده نیټه د دویمې وعدې

لِيَسُۥٓـُٔوا وُجُوهَكُمْ وَلِيَدْخُلُوا الْمَسْجِدَ كَمَا دَخَلُوهُ

راغلو بیا موږ بندګان چه خفه کړي ستاسو مخونه او ننوځي جمات ته لکه چه ننوتي وو

أَوَّلَ مَرَّةٍ وَلِيُتَبِّرُوا مَا عَلَوْا تَتْبِيرًا ﴿٧﴾ عَسٰى رَبُّكُمْ

ومبي ځل او خراب کړي هغه شی چه غالب وي پوره خرابي نزدې ده

أَن يَرْحَمَكُمْ ۚ وَإِنْ عُدتُّمْ عُدْنَا ۘ وَجَعَلْنَا جَهَنَّمَ

ربه ستاسو چه رحم اوکړي په تاسو باندې او که هغه فساد بیا کوئ نو موږ به هغه عذاب بیا کوو او ګرځولې مو

لِلْكٰفِرِينَ حَصِيرًا ﴿٨﴾ إِنَّ هٰذَا الْقُرْءَانَ يَهْدِي لِلَّتِي

ده موږ دوزخ د کافرانو د پاره قید خانه بیشکه دا قرآن ښائي هغه لاره چه

هِيَ أَقْوَمُ وَيُبَشِّرُ الْمُؤْمِنِينَ الَّذِينَ يَعْمَلُونَ
تولونه نیغه لاره ده او زیرے ورکوی مؤمنانو ته چه عمل کوی

الصّٰلِحٰتِ أَنَّ لَهُمْ أَجْرًا كَبِيرًا ﴿٩﴾ وَأَنَّ الَّذِينَ لَا
نیک چه هغوی دپاره دے ثواب لوئ او دا چه څوک نه

يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ أَعْتَدْنَا لَهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا ﴿١٠﴾ ع
منی آخرت هغوی دپاره تیار کړیدے مونږ عذاب دردناک

**نکات:** ۱ د دعوٰۍ توحید ذکر اول ځل او دلیل وحی د توحید دپاره او رومبے ایت د معجزے ۱۲ ۲ لام عاقبت دپاره دے ۱۲ ۳ یعنی د مشرکانو هلاکول د معراج د معجزے نه روستو ۱۲ ۴ رد مبے عقلی دلیل ۱۲ ۵ رومبے نقلی دلیل ۱۲ ۶ د شکر اداکولو ثمره ۱۲ ۷ د تخویف دُنیوی نمونه ۱۲ ۸ دویم ایت د معجزے ۱۲ ۹ اُخروی بشارت ۱۲ ۱۰ تخویف اُخروی ۱۲

**موضح قرآن** ف ۱ الله پاک نبی پیغمبر معراج ته بوتلو د شپے په څه حصه کښے د مکے نه بیت المقدس ته په بُراق باندے او وُرانه بے بوتلو اسمانونو ته دلته د مره ذکر دے باقی په سُورة نجم کښے دے۔

ف ۲ په تورات کښے ویلے شوی وُو چه بنی اسرائیل به دوه ځله شرارت کوی دهغے په جزا کښے به دُشمن د هغوی په مُلک غالب کیږی هُم دغه شان اوشوه۔ یو ځل جالوت غالب شو بیا هغه الله پاک د داؤد علیه السلام په لاس هلاک کړو۔ روستو بے بنی اسرائیلو ته نور هُم قوت ورکړو د سلیمان علیه السلام په سلطنت کښے دویم ځل په فارسی خلقو کښے بخت نصر غالب شو۔ دے نه روستو د بنی اسرائیلو یو حکومت هُم قوت اُو نه مونده۔ اُوس بے اوفرمائیل چه الله تعالیٰ په مهربانئ راغلے دے۔ که څوک د دے نبی تابع شی نو هُم هغه سلطنت او غلبه به بیا واپس ورکړی۔ او که څوک بیا هغه شرارت کوئ نو مونږ به هُم درسره بیا هغه شان اوکړو یعنی مُسلمانان به په تاسو غالب کړو۔ او په اخرت کښے دوزخ تیار دے۔

**فتح الرحمٰن** ف ۱ یعنی الله تعالیٰ د معراج په شپه اسمان ته د ختلو نه مخکښے نبی علیه السلام د بیت المقدس جمات ته اُورسولو ۱۲

ف ۲ او دا وعده موجود شوه په تسلط د جالوت چه د عمالقه بادشاه وُو ۱۲ ف ۳ او دا معنی د داؤد علیه السلام په خلافت کښے ظاهره شوه ۱۲ ف ۴ او دا وعده ثابته شوه چه کله یے یحیٰی علیه السلام قتل کړو نو بخت نصر یے پرمسلط کړو ۱۲ ف ۵ او هغوی فساد ته واپس شول په تکذیب کولو سره د محمد پیغمبر او هغه سره یے جنګ اوکړو نو الله تعالیٰ واپسی اوکړه

دهغوی په ښتنل سره او په فیدا او جزیے سره ۱۲

**تفسیر:** ۲ په دے آیت کښے د اسراء د معجزے ذکر دے۔ د اسراء یعنی معراج د معجزے په باره کښے اختلاف دے چه هغه روحانی وه یا جسمانی۔ د بعضے صحابو او د بعضو تابعینو نه نقل دی چه معراج روحانی وو۔ یعنی په نبی علیه السلام باندے د اسیل په خوب کښے اُوکړے شو۔ او ټول ملکوت یے په خوب کښے اُولیدل۔ لیکن د جمهورو صحابو او د جمهور اُمت متفقه فیصله دا ده چه د نبی علیه السلام معراج عنصری جسد سره وو۔ او د بیدارئ په حالت کښے وو۔ د مسجدِ حرام نه تر مسجدِ اقصٰی پورے او بیا د هغه ځائی نه د اُوؤ آسمانونو نه پورته کوم ځائی پورے چه الله غوښتل په هغوی باندے د ملکوت عجائبات په عنصری جسد سره د بیدارئ په حالت کښے د سر په سترګو اُوکتل۔ وذهب معظم السلف والمسلمین الی انه کان اسراء بالجسد وفی الیقظة الخ (قرطبی ص۲۰۵ ج۱۰) والاصح بل الصحیح ان الاسراء فی الیقظة بعد البعثة مرة واحدة الخ (جامع البیان ص۲۳۳) د معراج دوه حصے دی یوه د مسجدِ حرام نه تر مسجدِ اقصٰی پورے۔ دویمه د مسجدِ اقصٰی نه واخله تر مَا شَاءَ اللهُ (څو مره چه د الله خوښه وه) پورے۔ د معراج اوله حصه دلته ذکر شویده او دویمه حصه په سُورة النجم او صحیح حدیثونو کښے ذکر شویده۔ د بعضے خلقو خیال دے چه د معراج دواړه حصے په یو وخت کښے واقع شوی نه دی بلکه اول ځل د مسجدِ حرام نه تر مسجدِ اقصٰی پورے اُوشوه۔ دویم ځل په بل وخت کښے د مکے نه تر آسمانونو پورے اُوشوه۔ لیکن د جمهورو قول دا دے چه د مسجدِ حرام نه واخله تر آسمانونو پورے ټوله واقعه پرله پسے په یو وخت کښے اُوشوه۔ وانه رکب البراق بمکة ووصل الی بیت المقدس وصلی فیه ثم اسری بجسده الخ (قرطبی) د معراج واقعه د دپاره ذکر کړے شوه چه د مکے مُشرکانو به د نبی علیه السلام نه د ټوقو په طور د عذاب مطالبه کوله نو الله تعالٰی په هغوی باندے قحط سالی مسلط کړه چه څو کاله جاری پاتے شوه۔ څنګه چه په سُورة نحل کښے ذکر شویدی۔ لیکن دے عذاب لیدلو سره هم هغوی ایمان را نه وړلو۔ بلکه د معجزے طلب یے اوکړو۔ نو الله پاک د معراج واقعه ظاهره کړه چه که چیرے د دے نه روستو هم نه منی نو هلاکولے به شی۔ په جنګِ بدر کښے هغه سرداران قتل کړے شول۔ سُبْحٰنَ الَّذِیْٓ اَسْرٰی الخ سُبْحَانًا تَسْبِیْحًا په معنی سره دے او هغه د فعل مقدر مفعول مطلق دے۔ ای سبحوا سبحانًا الذی الخ یعنی د هر عیب نه یے پاک اُوګڼئ څنګه چه د پاک ګڼلو حق دے د دغه پاک ذات چا چه په خپل توحید بیانونکی خاص بنده باندے سیل اوکړو۔ د تسبیح معنی د هر عیب او بدئ نه پاک ده۔ ومعناه التنزیه والبراءة لله عز وجل من کل نقص الخ (قرطبی ص۲۰۴ ج۱۰) شِرک یو د پیرلوئ عیب دے چه د الله د ذات سره لائق نه دے او د هغه ذات د دے نه پاک دے څنګه یے چه اُوفرمائیل سُبْحٰنَ اللهِ عَمَّا یُشْرِکُوْنَ۔ او سُبْحٰنَهٗ وَتَعٰلٰی عَمَّا یُشْرِکُوْنَ ۝ دا شان په دیکښې د سُورة دعوی ذکر ده چه د الله سره هیڅوک شریک مه ګرځوئ او هغه د هر شریک نه پاک اُوګڼئ

دا شان دا دلیل دوحی دے یعنی زهٔ تاسو ته د الله وحی آورَوم چه الله د شرک نه پاک اوګڼرئ. دا رومبے ابت معجزه هُم ده چه هغه کښے د معراج د معجزے ذکر کړے شویدے د معجزو نه مقصود تخویف دے یعنی که چرے دا معجزه اووینئ او بیا هُم د توحید مسئله اُونهٔ منئ نو د الله عذاب به راشی.

ﷺ د عَبْد نه مراد نبی اکرم ﷺ دے. د معراج واقعه د نبی علیه السّلام د پاره ډیر لوئ شرف دے چه بل کوم پیغمبر ته نهٔ دے نصیب شوے. په دے موقعه باندے الله تعالے نبی علیه السلام په دا سے نوم یعنی عبد سره یاد کړو. کوم چه هغهٔ ته د ټولو نه زیات خوښ وُو. قال العلماء لوکان للنبی صلی الله علیه وسلم اسم اشرف منه لسماه به فی تلک الحالة العلیة (قرطبی ص۲۰۵ ج۱۰) دا شان د نبی علیه السّلام اُمت ته د تواضع سبق یادول وُو او دا ښودل وُو چه نبی علیه السلام سره د دے شرف او اعزاز نه د الله تعالے بنده دے او د بنده ګئ صفت د هغهٔ نه په هیڅ حالت کښے نشی جُدا کیدے. دلیلاً تنکیر تقلیل د پاره دے یعنی مونږ د شپے په لږه حصه کښے په خپل بنده سیل اوکړو.

ﷺ لام عاقبت د پاره دے او د مِنْ اٰیٰتِنَا نه د قدرت عجائب مراد دی کوم چه نبی علیه السّلام ته د سیل په دوران کښے اُوښودے شو. من عجائب قدرتنا وقد رای هناک الانبیاء والاٰیات الکبرٰی (معالم ص۱۲۸ ج۴) حضرت شیخؒ فرمائی چه د مِنْ اٰیٰتِنَا نه مراد د مُشرکانو هلاکت دے یعنی مونږ دا لویه معجزه د معراج خپل خاص بنده ته د دے د پاره اُوښوده چه د دے نه روستو که چرے د مکے مُشرکان د توحید د مسئلے نه انکار اوکړی نو مونږ به د دے معاندینو په هلاکت کښے تاسو ته د خپل قدرت یو عظیم او حیرانونکے نشان اُوښایو. چه کله مُشرکانو د اسراء د معجزے نه روستو هُم د توحید مسئله اُونهٔ منله نو الله تعالیٰ د بدر په جنګ کښے د بے سازوسامانه یو موټی مسلمانانو په لاس د مشرکانو مسلح (وسله بند) او خوچنده زیات لښکر ته په ذِلّت او رُسوائئ سره په معجزانه طور باندے شکست ورکړو. څنګه یے چه د مُوسیٰ علیه السّلام په باره کښے یے اُوفرمائیل. لِنُرِیَکَ مِنْ اٰیٰتِنَا الْکُبْرٰی (طٰهٰ ع۲) دے نه مخکښے مُوسیٰ علیه السّلام ته د توحید پیغام ورکړو. اِنَّنِیْٓ اَنَا اللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنَا فَاعْبُدْنِیْ دے نه پس یے د توحید د مسئلے په خاطر د عصا معجزه او د ید بیضاء معجزه ورکړه چه د فرعون په وړاندے د توحید مسئله پیش کړه. د خپل صداقت او د توحید د مسئلے حقانیت ظاهرولو د پاره دا معجزے ښکاره کړه. که چرے هغوی د دے معجزو نه پس هُم مسئله اُونهٔ منله نو مونږ به فرعون او د هغهٔ قوم ستاسو په مخکښے دا سے هلاک کړو چه د هغوی هلاکت به هُم زمونږ د قدرت یوه عجیبه کارنامه او اعجاز وی نو د فرعون قوم یے د سمندر په وچو لارو کښے داخل کړو چه د بنی اسرائیلو د سلامتیا د پاره معجزانه طور باندے جوړے کړے شوے وے او هلاک یے کړے شو. چه کله نبی علیه السلام سحر پاځیدهٔ او د معراج د واقعے رومبئ حصه یے د مُشرکانو په مخکښے بیان کړه چه زهٔ نن د بیت المقدس نه

راغلے يم نو تولو تعجب اوکړو او وے نه منله - د مشرکانو نه يو کس په منډه ابوبکر صديق رضي الله عنه له راغے او وے وئيل اے ابوبکر! وليٰ اوس به هم محمد (ﷺ) تصديق کوے؟ هغه او وئيل محمد (ﷺ) وائي چه ما نن شپه د بيت المقدس سيل کړے راغلے يم. نو ابوبکرؓ اوفرمائيل چه د يکښے د تعجب څۀ خبره ده هغوي رښتيا وئيلے دي مونږ خو د هغۀ د آسمان والا خبرے منو نو د مکے والا خبرے به ولے نه منو.
مشرکانو د آزميښت او امتحان د پاره د نبي عليه السّلام نه د بيت المقدس د ستنو تپوس نه اوکړل. په دے باندے نبي عليه السلام ډير غمژن شو ځکه چه د بيت المقدس د ستنو با دُولو د پاره خو هلته نه وو تلے. کوم خلق چه په يو ځائي کښے په کلونو کلونو اوسيږي د هغه ځائي ټول نښے خو هغوي ته هم نه وي معلومے ليکن الله تعالیٰ د بيت المقدس نقشه د هغوي مخے ته حاضره کړه او د هغوي غم يے لرے کړو نو چه مشرکانو به د کومے خبرے تپوس کولو نبي عليه السّلام به صحيح جواب ورکولو. په لاره کښے چه ورسره کومه قافله يو ځائي شوے وه د هغے په باره کښے چه نبي عليه السلام کوم څۀ وئيلي وُو هغه بالکل صحيح ثابت شول (خازن ومعالم ص ۱۳۷، ۱۳۸ ج ۴) ليکن د دے ټولو خبرو باوجود د مکے مشرکانو دے د قدرت اعجاز ته جادو اووئيلو او وے نه منلو آخر د بدر په جنګ کښے د قتل په عذاب سره هلاک کړے شول.
۵ه اِنَّهٗ هُوَ السَّمِيْعُ الْبَصِيْرُ ؕ دا په توحيد باندے دريم عقلي دليل دے. هُوَ ضمير د فصل او د خبر معرفه کيدل د حصر فائده ورکولو د پاره دے. يعني بيشکه خاص هغه د ټول هر څۀ آوريدونکے او د هر څۀ ليدونکے دے. د هغۀ نه سوا هيڅوک د هر څۀ آوريدونکے او ليدونکے نشته. لهٰذا په عبادت کښے، دُعا او ګيلو کښے هغۀ سره هيڅوک هم شريک نشته. انه هو السميع لاقوال جميع خلقه البصير بافعالهم (خازن ص ۱۳۶ ج ۴)
۶ه په توحيد باندے دريم عقلي دليل: د يکښے د توحيد په دعویٰ باندے د موسیٰ عليه السلام کتاب تورات نه نقلي دليل پيش کړے شوے دے. وے فرمائيل چه مونږ موسیٰ عليه السّلام ته کتاب ورکړو او هغه کتاب مونږ بني اسرائيلو د پاره د هدايت دستور مقرر کړو په هغے کښے مونږ هغوي ته حکم ورکړو چه د الله نه سوا بل هيڅوک کارساز مۀ جوړوئ. او د الله نه سوا هيڅوک په حاجتونو کښے غائبانه مۀ رابلئ. وَكِيْلًا کارساز په ټولو کارونو کښے په چا چه تکيه اوکړے شي او خپل معاملات چه چاته اوسپارلے شي. اي وبا تكلون اليه اموركم (مدارک ص ۲۳۰ ج ۲) ربّا يتوکلون عليه في امورهم (قرطبي ص ۲۱۳ ج ۱۰) وقال الشيخ روح الله روحه اي لا تعبدون الا الله ولا تدعوا غيره في الحوائج غائبًا دے نه معلومه شوه چه د تورات د تعليم خلاصه دا وه چه د الله نه سوا هيڅوک کارساز مۀ جوړوئ نو د دے نه د سورت د دعوے صداقت واضح او ثابت شو.
۷ه دا منادیٰ ده او د دينه مخکښے حرف نداء محذوف دے اي يا ذرية او دا ذرية مقصود بالنداء محذوف دے اي اشكروا يعني اے د نوح اولاده شکرګذار جوړ شئ. او

الله سره شرك مه كوئ. نوح عليه السّلام د الله ډیر زیات شُکر گذار بنده وُو. هغهٔ شرك نه كولو چاچه تهه نیم سوه کاله خلقوته د الله توحید بیان کړو. او د توحید په خاطر يې تکلیفونه برداشت کړل نوح عليه السلام او د هغهٔ ملګری د طوفان نه څکه بچ کړے شُو چه هغوی د الله شُکر ګذار او توحید منُونکی وُو. او چه څوك ناشُکره او مُشرکان وُو هغه غرق کړے شُو. نو تاسو هُم اے د عربو مُشرکانو! د نوح عليه السّلام پشان شکر ګذار او مؤحد جوړ شئ د الله د عذاب نه به بچ کړے شئ. او که چرے ناشکری کوئ نو د نوح عليه السلام د قوم پشان به هلاك کړے شئ. فكانه قيل كونوا مؤحدين شاكرين لنعم الله مقتدين بنوح الذی انتم ذرية من حمل معه (بحر ص ج ۲) تردے ځائ پورے درے واړه آیتونه په ظاهره غیر مربوط معلومیږی. په دے وجه ددے ظاهر کتلو ته ډیرو مفسرینو ته په تطبیق کښے سخت اشکال راپیښ شو. څکه چه اوله واقعه د معراج ذکر دے. د هغے نه پس وَ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ کښے موسٰی عليه السّلام ته د کتاب د ورکولو ذکر دے. بیا ددے نه روستو ذُرِّيَّةَ مَنْ حَمَلْنَا مَعَ نُوْحٍ. کښے دیوے نوے خبرے ذکر دے لیکن زمونږ د پورته ذکر شوی تقریر سره دا آیتُونه بالکل یو بل سره پخپلو کښے مربوط ګرځی او دے ربطُ هیڅ اشکال نهٔ پاتے کیږی چه د هغے حاصل دا دے چه سُبْحٰنَ الَّذِيْٓ الخ کښے اُوفرمائیل چه هغه الله د شرك نه پاك اُوګنړئ چاچه د توحید مسئله منلو دپاره د إسراء معجزه ښکاره کړه. ددے نه علاوه د عقلِ سلیم تقاضا هُم دا ده چه الله د هر شِرك نه پاك دے. څکه چه هغه ټول هرڅهٔ لیدونکے او اوریدونکے دے او دے سره د تیرو شوُو کتابونو مثلاً د تورات تعلیم هُم دا دے. لهٰذا اے د مکے اُوسیدُونکو! مونږ تاسو ته حُکم درکوُو چه دا مسئله اُومنئ څکه چه دا په دلیلِ وحی او عقلی او نقلی دلیلونو سره ثابته ده.

ڡ۸ د تخویفِ دُنیوی یوه نمونه ده. بنی اسرائیلو ته مونږ په تورات کښے بیان کړے وُو چه تاسو به دوه ځله په زمکه کښے فساد کوئ اول ځل به په تاسو باندے یو سخت او جابر قوم مسلط کړو چه تاسو به ذلیل او خوار کړی. دے نه روستو به په تاسو انعام اوکړو. د هغے نه روستو که چرے تاسو بیا فساد اوکړو نو په دُنیا او آخرت کښے به سخت عذاب درکړو. اے د مکے مشرکانو! دا شان مونږ په تاسو باندے اول قحط مسلط کړو. بیا مونږ قحط پورته کړو او په تاسو باندے مو مهربانی اوکړه. لیکن تاسو د شِرك نه منع نهٔ شوئ. نو بیا مونږ د معراج معجزه ښکاره کړه دے وجے نه که چرے اُوس هُم د شرك نه منع نهٔ شوئ او د توحید نه منع وګرځوئ نو په دُنیا او آخرت کښے به رُسوا کوُنکی عذاب کښے مبتلا شئ. لَتُفْسِدُنَّ فِي الْاَرْضِ الخ فساد فی الارض نه د تورات د احکامو نه مخالفت مراد دے. يريد المعاصی وخلاف احکام التوراة (کبیر ص ۵۲۳ ج ۵)

ڡ۹ اول ځل چه کله بنی اسرائیلو د تورات د احکامو مخالفت اوکړ او توحید یې

پر ینبود ۹ او شر لیے شروع کړو. محرمات یے حلال اُوګرځول او نبیان علیهم السلام یے قتل کړل نو الله تعالیٰ په هغوی باندے بخت نصر مجوسي بادشاه مسلط کړو چه هغهٔ څلویښت یا اویا زره اسرائیلیان قتل کړل. باقی یے ځان سره بوتلل او بیت المقدس یے اُونړلو او وران یے کړو. فَجَاسُوْا یعنی د بخت نصر لښکر د اسرائیلیانو کورونو ته ننوتلو او ډیر یے قتل کړل. (بحر) ثُمَّ رَدَدْنَا لَكُمُ الْكَرَّةَ الخ دے نه روستو د داؤد علیه السلام په زمانه کښے مونږ تاسو ته غلبه درکړه او په مال او دولت کښے مو برکت درکړو او ستاسو په شمیر کښے مو بشهٔ زیاتوالے اوکړو. اِنْ اَحْسَنْتُمْ الخ اُوس که چرے نیک کار کوئ نو د هغے فائده به تاسو ته رسیږی او که بد کار کوئ د هغے سزا به هم تاسو برداشت کوئ. فلها ای فعلیها اساءتها (خازن)

ن۱ دویم ځل چه کله بني اسرائیلو شر او فساد شروع کړو او زکریا او یحیٰي علیهما السلام یے قتل کړل. نو الله تعالیٰ فردوس د بابل ښار بادشاه په دوی باندے مسلط کړو چه هغهٔ لښکر اُولیږلو او د بخت نصر پشان یے په بني اسرائیلو کښے یے قتل اُوکړو وینے یے توئ کړے. (قرطبی) لِیَسُوْءُ، مقدر سره متعلق دے. ای بعثنا علیکم عباداً لنا لیسوء الخ.

ن۱۱ د دینه پس که چرے تاسو په نیخه لاره باندے روان یئ. نو الله تعالیٰ به تاسو باندے مهربانی کوی. او تاسو ته به په دُنیا کښے اقتدار او غلبه درکوی لیکن که چرے بیا تاسو د فساد لاره اختیار کړه. نو بیا به په دُنیا کښے هغه شان عذاب درکوی او په اخرت کښے به په جهنم کښے قید کولے شئ. دا یهودیان کله منع کیدل. نو هغوی د دے نه روستو حضرت محمد ﷺ تکذیب اوکړو د هغوی د قتل منصوبه یے تیاره کړه. په نبي علیه السلام باندے یے دجادو کولو کوشش اُوکړو. او په خوراک کښے یے ورته زهر ورکړل. نو په دُنیا کښے ورته دا سزا ملاؤ شوه چه څه خو د مُسلمانانو په لاس قتل کړے شول. او باقی پاتے په ذلت سره جزیه ورکول قبوله کړه. وعاد بنو قریظة وبنو النضیر واشباههم فارادوا قتل النبي صلی الله علیه وسلم وسحروه وجعلوا السم في طعامه وحاربوه فعاد الله علیهم بالانتقام فقتل بني قریظة واجلی بني النضیر وضرب علیهم الجزیة یؤدونها عن ید وهم صاغرون. (مظهری ص۴۱۸ ج ۵)

ن۱۲ دا د معجزے دویم اَیت دے. د اسراء د معجزے پشان دا قران هم یوه معجزه ده چه نبي علیه السلام ته ورکړے شوه. او په دیکښے هم هغه د توحید مسئله صفا بیان کړے شوه دکومے په خاطر چه د اسراء معجزه ښودلے شوے وه. لهٰذا اُوس د توحید په مسئله چه ایمان نه راوړئ نو په ډیر سخت عذاب کښے به گرفتار ولے شئ او که چرے ومے منئ او د هغے مطابق عمل هم اوکړئ. نو الله پاک به تاسو ته د هغے ډیر لوئ اجر درکړی. دا شان دا اَیت د توحید دعوی منونکو د پاره اُخروی زیرے او د توحید د دعوے نه انکار کونکو د پاره تخویف اُخروی دے. وَيُبَشِّرُ الْمُؤْمِنِيْنَ زیرے او

وَاَنَّ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ الخ تخویف دے۔

وَيَدْعُ الْاِنْسَانُ بِالشَّرِّ دُعَآءَهٗ بِالْخَيْرِ ؕ وَكَانَ
او غواړی انسان ۱۳ بدی ښکه چه غواړی نیکی او دے

الْاِنْسَانُ عَجُوْلًا ﴿۱۱﴾ وَجَعَلْنَا الَّيْلَ وَالنَّهَارَ اٰيَتَيْنِ
انسان جلتی کوونکے او مونږ او ګرځول شپه او ورځ ۱۴ دوه نمونے

فَمَحَوْنَآ اٰيَةَ الَّيْلِ وَجَعَلْنَآ اٰيَةَ النَّهَارِ مُبْصِرَةً
بیا مونږ لرے کړه د شپے نمونه او مونږ اوګرځوله د ورځے نمونه کتلو د پاره

لِّتَبْتَغُوْا فَضْلًا مِّنْ رَّبِّكُمْ وَلِتَعْلَمُوْا عَدَدَ السِّنِيْنَ
دے د پاره چه تلاش کړئ فضل د خپل رب او دے د پاره چه معلوم کړئ شمار د کلونو

وَالْحِسَابَ ؕ وَكُلَّ شَيْءٍ فَصَّلْنٰهُ تَفْصِيْلًا ﴿۱۲﴾ وَكُلَّ
او حساب او ټول څیزونه مونږ واضح بیان کړل دی او هر څومره

اِنْسَانٍ اَلْزَمْنٰهُ طٰٓئِرَهٗ فِيْ عُنُقِهٖ ؕ وَنُخْرِجُ لَهٗ يَوْمَ
انسانان چه دی ۱۵ لګولے دے مونږ د هغه بد قسمت د هغه د ځټ سره او را بنکاره به کړو هغه ته

الْقِيٰمَةِ كِتٰبًا يَّلْقٰىهُ مَنْشُوْرًا ﴿۱۳﴾ اِقْرَاْ كِتٰبَكَ ؕ كَفٰى
د قیامت په ورځ یو کتاب چه ویه وینی هغه غوړیدلے وی اولوله کتاب خپل ته کافی یے

بِنَفْسِكَ الْيَوْمَ عَلَيْكَ حَسِيْبًا ﴿۱۴﴾ مَنِ اهْتَدٰى
نن ورځ خپل ځان سره حساب کوونکے څوک چه په سمه لاره راغے

فَاِنَّمَا يَهْتَدِيْ لِنَفْسِهٖ ۚ وَمَنْ ضَلَّ فَاِنَّمَا يَضِلُّ
نو راغلے د خپلے فائدے د پاره او چه څوک بے لارے شو نو د خپل ضرر د پاره

عَلَيْهَا ؕ وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِّزْرَ اُخْرٰى ؕ وَمَا كُنَّا
بے لارے شو او به هیڅ نه پریوځی بار د ګناه د بل چا او مونږ نه اچوو

مُعَذِّبِيْنَ حَتّٰى نَبْعَثَ رَسُوْلًا ﴿۱۵﴾ وَ اِذَآ اَرَدْنَآ اَنْ

مُصیبت ملله لز نه وو چه اونه لیږو یو رسول ته او چه کله مونږ غله اوغواړو

نُّهْلِكَ قَرْيَةً اَمَرْنَا مُتْرَفِيْهَا فَفَسَقُوْا فِيْهَا فَحَقَّ

چه هلاک کړو یو کلے حُکم اُولیږو د هغې عیش کوونکو ته بیا هغوی نافرمانی اوکړه هغې کښې نو

عَلَيْهَا الْقَوْلُ فَدَمَّرْنٰهَا تَدْمِيْرًا ﴿۱۶﴾ وَكَمْ اَهْلَكْنَا

ثابته شوه په هغوی باندے خبره بیا مونږ هغوی هلاک کړل په سخت هلاکولو سره - او ډیر هلاک کړل

مِنَ الْقُرُوْنِ مِنْۢ بَعْدِ نُوْحٍ ؕ وَكَفٰى بِرَبِّكَ بِذُنُوْبِ

مونږه د نوح (علیه السلام) د زمانے نه روستو او کافی دے رب ستا د خپلو بندګانو

عِبَادِهٖ خَبِيْرًاۢ بَصِيْرًا ﴿۱۷﴾ مَنْ كَانَ يُرِيْدُ الْعَاجِلَةَ

په ګناه باندے خبردار لیدونکے څوک چه غواړی حلله ړومبے کور

عَجَّلْنَا لَهٗ فِيْهَا مَا نَشَآءُ لِمَنْ نُّرِيْدُ ثُمَّ جَعَلْنَا لَهٗ

زر به ورکړو مونږ هغه ته هم دغه کښے څومره چه مونږ چاته اوغواړو بیا مونږ ګرځولے دے هغه

جَهَنَّمَ ۚ يَصْلٰىهَا مَذْمُوْمًا مَّدْحُوْرًا ﴿۱۸﴾ وَمَنْ اَرَادَ

د پاره دوزخ داخلیږی به هغې ته ښکیلے بدئ آورېدلو سره شړلے شوے او چاچه اوغوښتلو

الْاٰخِرَةَ وَسَعٰى لَهَا سَعْيَهَا وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَاُولٰٓئِكَ كَانَ

روستنے کور او کوشش یې اوکړو هغې د پاره د هغې مناسب کوشش او هغه یقین لری نو دا دے

سَعْيُهُمْ مَّشْكُوْرًا ﴿۱۹﴾ كُلًّا نُّمِدُّ هٰٓؤُلَآءِ وَهٰٓؤُلَآءِ مِنْ

خلقو کوشش قبول شوی دے هر یو مونږ رسوو د دوی نه او د هغوی نه هله ستا د

عَطَآءِ رَبِّكَ ؕ وَمَا كَانَ عَطَآءُ رَبِّكَ مَحْظُوْرًا ﴿۲۰﴾

رب ورکړے نه او ستا د رب ورکړه د هیچا نه نه ده منع کړے شوے

اُنْظُرْ كَيْفَ فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلٰى بَعْضٍ ؕ وَلَلْاٰخِرَةُ

اوګوره څنګه زیات کړل شله مونږه یو په بل باندے او په روستنی کور کښے

اَكْبَرُ دَرَجٰتٍ وَّ اَكْبَرُ تَفْضِيْلًا ﴿۲۱﴾ لَا تَجْعَلْ مَعَ
خو ډیرې لوئی درجې دی او لوئی فضیلت
اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ فَتَقْعُدَ مَذْمُوْمًا مَّخْذُوْلًا ﴿۲۲﴾
مه گرځوه سره د الله تعالیٰ بل حاکم بیا به ته ناست ملامته کړے شوے بے کسه

**نکات:** ۱ سه شکوی ۲ سه دویم عقلی دلیل ۳ سه تخویف اُخروی ۴ سه تخویف دُنیوی ۵ سه د مشرکانو دیو شبهے جواب ۶ سه ترغیب الی الآخرة ۷ سه د توحید د دعوے اعاده ۱۲

**موضح قرآن** ف۱ یعني او ویریږي چه ځما دُعا په جلتیٔ سره وشي قبوله نه شوه. او د هغهٔ دُعا ځنے وخت د هغهٔ په حق کښے بده وی که چرے قبوله شي نو انسان خرابیږي نو په هر شان الله بندهٔ پوهیږي. پکار ده چه د هغهٔ په رضا شاکر اوسیږي. ف۲ دویرین لو فائده نشته د هر څیز وخت او اندازه مقرر ده لکه شپه او ورځ د چاویرین لو او دُعا سره شپه نه کمیږي. په خپل وخت ځپله صبا کیږي. او دواړه د هغهٔ د قدرت نمونه ده.
ف۳ یعني دیر قسمت سره بد عملونه دی چه د هغے نه نشي خلاصیدے هغه به ورته په نظر راشي د قیامت په ورځ. ف۴ یعني بد عمل آفت راولی بیا الله تعالیٰ بغیره پوهولو نیول نه کوی د دے وجے پیغمبران رالیږی.

**فتح الرحمن** ف۱ یعني د زړه تنګیدلو په وخت خپل ځان او خپل اولاد ته خیرے کوی ۱۲

**تفسیر** ۳۱ سه شکوی ده. د اسراء معجزه اُونبودلے شوه. دے د پاره چه مُشرکان د توحید مسئله اُومنی کنی د الله عذاب به راشي لیکن هغوی څومره بیوقوف او جلتی خوښونکی دی چه د مسئلے منلو په ځائی اُلټه وائی چه راوړه هغه عذاب نه کافر انسان مراد دے چه هغه په ناپوهئی سره د الله عذاب داسے غواړی څنګه په هغے کښے روستو والے وکیږي. دعاءه منصوب بنزع الخافض ای کدعائه. د انسان چه د الله رحمت غوښتل پکار دی. څنګه چه د نضر بن حارث په باره کښے د ابن عباس رض نه نقل دی. هغهٔ وئیلی وو چه اے الله! که چرے دا قران مجید، او د توحید مسئله او مُحمد ﷺ رښتونی دی نو په مونږ باندے عذاب راوله او هلاک مو کړه. عن ابن عباس رضی الله عنهما هو النضر بن الحارث قال اَللّٰهُمَّ اِنْ كَانَ هٰذَا هُوَ الْحَقَّ مِنْ عِنْدِكَ الاٰیة فاجیب فضربت عنقه صبرا (مدارک ص۳۱۸ ج۲) انسان څومره جلتی کوونکے دے چه د عذاب راتلو مطالبه په جلتیٔ سره کوی. حالانکه عذاب خو به ضرور راځی لیکن په خپل مقرره وخت باندے.

۴۱ سه دا په توحید باندے دویم عقلی دلیل دے، مونږ شپه او ورځ د خپل وحدانیت او

کمال قدرت د پاره دلیل او ګرځولو - شپه او ورځ موږ د یو بل نه دا سے جدا کړل چه په شپه کښ نمرنه وی او د ورځے نمر رڼا کوی دے د پاره چه تاسو د ورځے په رڼا کښ خپل کاروبار جاری اوساتئ او د شپے ورځے تلو راتلو سره د کلونو شمار او کړئ او د خپلو معاملاتو حساب کتاب یاد اوساتئ - دا د شپے ورځے نظام خصوصاً پخپله قبضه کښ دے چه زموږ د کامل قدرت او وحدانیت بکاره دلیل دے - ای علامتین علی وحدانیتنا و وجودنا و کمال علمنا و قدرتنا (قرطبی ج ۱۰ ص ۲۲۷) دا نول خیزونه موږ ستاسو د فائدے د پاره پیدا کړی دی - زموږ نه سوا بل هیڅوک خالق نشته. هَلْ مِنْ خَالِقٍ غَيْرُ اللّٰهِ - نو بیا نور ولے کارساز ګڼړئ ، او په حاجتونو کښ ئے ولے رابلئ ؟

۱۵ دا تخویف اُخروی دے . طٰٓئِرَهٗ - اعمالنامه، د قیامت په ورځ به هر انسان خپله اعمالنامه پخپله لولی او په خپله به د خپلو نیکو او بدو حساب کوی. مَنِ اهْتَدٰى الخ څوک چه په دنیا کښ د هدایت لاره اختیار کړی د هغے فائده به ورته رسیږی او چا چه ګمراهی اختیار کړه د هغے وبال او نقصان به هم په هغه باندے وی - بل څوک به د هغه په جرم کښ نشی نیولے -

۱۶ دا تخویف دنیوی دے - د الله تعالیٰ طریقه همیشه دا ده چه ترڅو پورے بندګانو باندے خپل پیغمبر رالیږلو سره خپل حجت قائم نکړی تر هغے وخته پورے ورته په دنیا کښ عذاب نه ورکوی. کله چه د الله رسول راشی هغه خلقو ته د الله تعالیٰ پیغام واوری او دلائلو سره په هغوی باندے حجت قائم کړی لیکن بیا هم هغوی تکذیب او کړی نو د الله عذاب ورباندے راشی - د دینه معلومه شوه چه د شریعت په احکامو کښ یواځے عقل کافی نه دے او د وحی نه بغیر صرف عقل سره حجت خداوندی نه قائمیږی - رحتی نبعث رسولًا) لاقامة الحجة وقطعًا للعذر وفيه دليل على انما وجب بالسمع لا بالعقل (خازن و معالم ج ۴ ص ۱۵۳)

۱۷ دا ماقبل سره متعلق دے یعنی چه کله موږ په یو قوم کښ خپل پیغمبر لیږو او زموږ رسول د توحید مسئله او نور احکام هغوی ته رسوی او واضحه دلیلونو سره ، خائسته نصیحتونو سره هغوی بنه پوهه کړی او د الله تعالیٰ حجت په هغوی باندے قائم کړی خو هغوی په خپله سرکشئ ، انکار او نافرمانئ کښ بیهوشه پراته وی او هدایت ته نه راځی نو موږ ورته مهلت ورکوو د پاره د دے چه هغوی تر مقرر وخته پورے بنه په کهلاؤ زړه سره فسق او فجور او کړی. بیا په مقرر وخت باندے هغوی تباه او برباد کړے شی - اَمَرْنَا مُتْرَفِيْهَا الخ یعنی موږ په هر زمانه کښ د خپلو پیغمبرانو په ذریعه د هر کلی دولتمندے طبقے ته د نیکو کارونو حکم ورکړو لیکن هغوی د پیغمبرانو تبلیغ باندے غوږ او نه ګرزولو (قبول ئے نکړو) او په کفر او نافرمانئ کښ ورننوتل - ای امرناهم بالطاعة اعذارًا وانذارًا وتخويفًا ووعيدًا

فَفَسَقُوْا اى فخرجوا عن الطاعة عاصين لنا" (قرطبی ج ۱۰ ص ۲۳۳) اوګورئ د نوح علیه السلام نه راواخله تر اوسه پورې څومره سرکش او نافرمان قومونه مونږ هلاک کړیدی چاچه د الله تعالیٰ پیغمبران دروغژن اوګڼړل، د توحید مسئله ئې او نه منله او د هغوی د معجزاتو نه ئې انکار اوکړو۔ اے د مکے مشرکانو! کچرے تاسو د اښکاره معجزو او غالب معجزات اولیدل او بیا هم د توحید مسئله او نه منله نو د تیرو شوو قومونو انجام ته تیار شئ۔

**۱۸ٹ** دا د مشرکانو د یوے شُبهے جواب دے۔ شُبه دا وه چه که دا د توحید مسئله حق وے نو په دُنیا کښ به الله تعالیٰ مونږ ته مال دولت او د اقسام قسم رزق ولے را کړے حال دا دے چه مونږ د هغه سخت مخالفت کړو۔ جواب کښ ئے اوفرمائیل چه مونږ په دُنیا کښ د ورکړے او بخشش دروازه په هیچا نه بندو ګو۔ دنیا کښ روزی ټولوته ورکوو خواه حکم منی یا نه منی البته کوم سړے آخرت با ندے دنیا ته ترجیح ورکړی او د دنیا طالب او خواهش لرونکے وی نو مونږ هغه ته دے دنیا کښ دولت ورکوو لیکن په آخرت کښ به هغه د پاره د ذلت او د الله تعالیٰ د رحمت نه محرومی او د دوزخ د عذاب نه سوا هیڅ هم نه وی۔ وَمَنْ اَرَادَ الْاٰخِرَةَ بشارت اُخروی دے۔ لیکن څوک چه د آخرت طلبګار وی او د آخرت تلاش کولو د ریښتونے جذبے لاندے نیک کارونه کوی او د آخرت د پاره کوشش هم کوی او د الله تعالیٰ په توحید او د دین په نورو ضروریاتو باندے ایمان هم لری نو د هغوی کوشش کامیاب او فائده مند دے۔ وَسَعٰی لَهَا سَعْیَهَا۔ هغے د پاره ئے کما حقه کوشش اوکړو یعنی د الله پاك اوامر ئے په ځائے راوړل او د منهیاتو نه منعه شول او په دین حق کښ د اختراع او احداث نه ئے ځان اوساتلو۔ اى السعى اللائق بها وهو الاتيان بما امر والانتهاء عما نهى لا التقرب بما يخترعون بآرائهم (ابوالسعود ج ۵ ص ۵۶۵)

**۱۹ٹ** د دُنیا طالبان وی یا د آخرت طالبان د الله د رزق نه به ټول خپله خپله حصه بیا مومی دنیا کښ به د رزق نه څوک هم نشی محروم کولے۔

**۲۰ٹ** دا د آخرت ترغیب دے۔ د جواب د شبهے نه روستو آخرت د پاره د کوشش کولو ترغیب ئے اوفرمائیلو۔ دنیا کښ د مؤمن او کافر مینځ کښ د مال او دولت په اعتبار سره ډیر تفاوت او زیاتوالے دے لیکن دے له څه اعتبار نشته، د اصلی فضیلت مدار خو د آخرت په درجاتو باندے دے او د آخرت درجات په اعمال صالحه پورے متعلق دی۔ نو د اعمال صالحه په ذریعه د آخرت د درجاتو حاصلولو کوشش اوکړئ۔ په دنیا کښ کافران اګرچه د اکثرو مؤمنانو نه زیات دولتمند وی خو د آخرت درجات مؤمنانو پورے خاص دی او کافران به د هغے نه محرومه وی۔ المراد ان الأخرة اعظم و اشرف من الدنيا والمعنى ان المؤمنين يدخلون الجنة و الكافرين يدخلون النار فيظهر فضل المؤمنين على الكافرين (كبير ج ۵ ص ۵۶۸)

۲۱ دَ جواب شبه او ترغیب الی الاخرة نه پس د توحید دَ دعوے اعاده اوکړے شوه خطاب نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته دے او مراد ټول مخلوق دے یا خطاب هر سامع ته دے په قاعده د خطاب خاص او مراد عام - قرآن مجید کښ ډیرو ځایونو کښ داسے شوی دی - والخطاب فی لا تجعل غیر الرسول وقال الطبری وغیره الخطاب لمحمد صلی الله علیه وسلم والمراد لجمیع الخلق (بحر - ج ۶ ص ۲۲) فَتَقْعُدَ مَذْمُوْمًا مَّخْذُوْلًا - تخویف دنیوی یا اُخروی دے او دا هم د نهی جواب دے یعنی کچرے ته د الله تعالیٰ نه سوا بل څوک کارساز او حاجت روا اوګرځوے نو په دنیا کښ به ذلت سره بے یار او مدد ګاره ژوند تیروے او څوک چه تا مدد ګار ګڼړلے دے هغه به ستا امداد اونکړی (کشاف) یا دا مطلب چه په آخرت کښ به ذلیله او خوار او بے یار و مدد ګار یے - ای لا ناصر لک ولا ولیا (قرطبی ج ۱۰ ص ۲۳۶) من اشرک بالله کان مذموما مخذولا ..... لانه لما اثبت شریکا لله تعالیٰ استحق ان یفوض امره الی ذلک الشریک فلما کان ذلک الشریک معدوما بقی فلا ناصر ولا حافظ ولا معین وذلک عین الخذلان -
(کبیر - ج ۵ ص ۵۶۸)

وَقَضٰى رَبُّكَ اَلَّا تَعْبُدُوْٓا اِلَّآ اِيَّاهُ وَبِالْوَالِدَيْنِ
او حکم اوکړو ستا رب چه عبادت مکوئ تاسو د هغه نه سوا او مور پلار سره

اِحْسَانًا ؕ اِمَّا يَبْلُغَنَّ عِنْدَكَ الْكِبَرَ اَحَدُهُمَآ اَوْ كِلٰهُمَا فَلَا
نیکي کوئ تاسو که چرے اورسیږی ستا سره زړښت ته یو د دوی نه یا دواړه

تَقُلْ لَّهُمَآ اُفٍّ وَّلَا تَنْهَرْهُمَا وَقُلْ لَّهُمَا قَوْلًا كَرِيْمًا ﴿۲۳﴾
نو مه وایه دوی ته (کلمه) د اُف او مه رټه هغوی او وایه هغوی ته خبره د ادب -

وَاخْفِضْ لَهُمَا جَنَاحَ الذُّلِّ مِنَ الرَّحْمَةِ وَقُلْ رَّبِّ
او خکته کړه د هغوی د پاره اوګے عاجزی کولو سره د مهربانئ او وایه اے ربه!

ارْحَمْهُمَا كَمَا رَبَّيٰنِيْ صَغِيْرًا ﴿۲۴﴾ؕ رَبُّكُمْ اَعْلَمُ بِمَا فِيْ
په دوی رحم اوکړه څنګه چه دوی زه پاللے وم ماشوم - ستاسو رب ښه پوهیږی په هغې چه ستاسو

نُفُوْسِكُمْ ؕ اِنْ تَكُوْنُوْا صٰلِحِيْنَ فَاِنَّهٗ كَانَ لِلْاَوَّابِيْنَ
زړونو کښ دی که چرے تاسو نیک یئ نو هغه رجوع کوونکی

غَفُوْرًا ﴿۲۵﴾ وَاٰتِ ذَا الْقُرْبٰى حَقَّهٗ وَالْمِسْكِيْنَ وَابْنَ السَّبِيْلِ
بخښونکی - او ورکړه رشته دار ته ده حق او محتاج ته او مسافر ته
وَلَا تُبَذِّرْ تَبْذِيْرًا ﴿۲۶﴾ اِنَّ الْمُبَذِّرِيْنَ كَانُوْٓا اِخْوَانَ
او مه خرچ کوه بے ځایه ف۱ بیشکه بے ځایه خرچ کوونکی رونړه دی ف۲
الشَّيٰطِيْنِ ؕ وَكَانَ الشَّيْطٰنُ لِرَبِّهٖ كَفُوْرًا ﴿۲۷﴾ وَاِمَّا تُعْرِضَنَّ
د شیطانانو او شیطان دے ناشکره د خپل رب ف۳ او که چیرته ته مخ اوګرځوے
عَنْهُمُ ابْتِغَآءَ رَحْمَةٍ مِّنْ رَّبِّكَ تَرْجُوْهَا فَقُلْ لَّهُمْ
د دوی نه چه انتظار کوے د خپل رب د مهربانئ چه ته د هغې امید لرے نو او وایه هغوی ته
قَوْلًا مَّيْسُوْرًا ﴿۲۸﴾ وَلَا تَجْعَلْ يَدَكَ مَغْلُوْلَةً اِلٰى عُنُقِكَ
خبره نرمه خوږه که شله ف۴ او مه ګرځوه خپل لاس تړلے شوے خپل څټ سره که
وَلَا تَبْسُطْهَا كُلَّ الْبَسْطِ فَتَقْعُدَ مَلُوْمًا مَّحْسُوْرًا ﴿۲۹﴾ اِنَّ
او مه ئے خوروه پیره پوره خورولو سره ګله بیا به ته ناست ملامت کړے شوے او پښیمانه شوے ف۵ -
رَبَّكَ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَّشَآءُ وَيَقْدِرُ ؕ اِنَّهٗ كَانَ
ستا رب فراخه کوی روزی چا د پاره چه اوغواړی او هغه تنګوی هم لکه بس هغه دے
بِعِبَادِهٖ خَبِيْرًۢا بَصِيْرًا ﴿۳۰﴾ ع ۳
په خپلو بندګانو خبردار لیدونکے -

**نکات:** ۱ دعذاب دفع کولو د پاره د امور ثلاثه بیان: امر اول یعنی شرک مکوئی - دا د تیرو شوو د لائلو ثمره هم ده - ۲ دویم امر یعنی د الله مخلوق سره احسان کوی - ۳ توحید بانی دریم دلیل -

**موضح قرآن** ف۱ یعنی کله چه زړه کښ راشی چه د بودا امور پلار سره د اقسم معامله سرته رسول خو ګران دی نو وے فرمائیل چه د چا نیت نیک وی که چیرے هغوی خفه کړی او بیا توبه اوباسی نو الله پاک بخښونکے دے - ف۲ یعنی بے ځایه خرچ کولو سره مال مه خرابوئ ف۳ یعنی د الله پاک لوئے نعمت دے چه دے سره پوره اطمینان او تسلئ سره عبادت

کیدے شی او جنت کښې لوړے درجے دی. مال بے ځایه خرچ کول نا شکری ده.

ف :- یعنی خوك چه همیشه سخاوت کوی او بیوخت کښې ورسره څه نه وی نو د الله پاك په نزد اُمید لرونکی نا امیده نښل بنده نه ښکاری د هغه محتاج قسمت الله تعالیٰ سخی نو نه رسوی نو که په بیوخت کښې ته څه شے ورنکړے شے نو په خوږه او پسته ژبه ترے معافی اُغواره چه چرته محکښې بدلے او ثوابونه برباد نشی. ف یعنی بتول به دِ ملامته کړی چه دومره زیاته ورکړه دِ ولے کوله چه ته محتاج پاتے شوے ف یعنی د محتاج لیدلو سره مه وارخطا کیږه د هغه حاجت پوره کول ستا په ذمه نه دی، د الله تعالیٰ په ذمه دی لیکن داخبرے نبی علیه السلام ته اوفرمائیلے چه ډیر زیات سخی وو. باقی د چا د زړه نه چه مال نه وځی هغه ته ئے حکم فرمائیلے دے چه هغه دِ خامخا خه اوکړی. حکیم هم گرمی والا ته یخه دوائی او یخنی والا ته گرمه دوائی ورکوی.

فتح الرحمٰن

ف ۱ یعنی د بخل په صورت کښې.

ف ۲ یعنی د اسراف په صورت کښې.

تفسیر:- ۲۲ وَقَضٰى رَبُّكَ - تا - عِنْدَ رَبِّكَ مَكْرُوْهًا (ع ۴) چونکه د معراج د معجزے نه پس د توحید نه انکار کوونکو سره عذاب راتلونکے وو، په دے وجه د دغه عذاب د دفع کولو د پاره دریے امور وذکر کړے شو یعنی شرك مکوئ، احسان کوئ او ظلم مکوئ. وَقَضٰى رَبُّكَ اَلَّا تَعْبُدُوْۤا اِلَّاۤ اِيَّاهُ کښې د امر اول ذکر دے یعنی الله تعالیٰ حکم کړیدے چه په عبادت او رابللو کښې هغه سره بل څوك شریك مه کړئ. دا دلائل د ماقبل ثمره هم ده یعنی د پورتنو دلائلو عقلیه او نقلیه او وحی نه دا ثابته شوه چه کارساز او متصرف او مختار صرف الله تعالیٰ دے لهٰذا د هغه نه سوا د یو لیږلے شوے پیغمبر، د یو مقرب فرښتے او د یو کامل ولی هیڅ قسمه عبادت مکوئ او د هغه نه سوا په حاجتونو او مصیبتونو کښې مافوق الاسباب هیچا ته اواز مکوئ که د الله تعالیٰ د عذاب نه بچکیدل غواړئ نو د ټولو نه اول هغه سره څوك شریك مه جوړوی.

۲۳ وَبِالْوَالِدَيْنِ اِحْسَانًا. دا دویم امر دے یعنی د الله د عذاب نه بچکیدلو د پاره دویم کار دا اوکړئ چه د الله تعالیٰ مخلوق سره احسان کوئ. څلور ډلے د احسان په سلسله کښې ذکر کړے شوی دی. اوّل والدین، دوئیم باقی ټول رشته دار، دریم مسکینان او غریبانان، څلورم بے وطنه مسافر. دے څلورو کښې تقریباً ټول راغی د مور پلار حق چونکه په ټولو زیات او مقدم دے ځکه ئے د دوی ذکر مقدم کړو او د ارشتے د دوی حقوق او آداب لږ په تفصیل سره ذکر کړے شول. اِحْسَانًا د فعل مقدر د پاره مفعول مطلق دے: ای احسنوا بالوالدین احسانًا. (مدارك ج ۲ ص ۲۳۰) یعنی والدینو سره کماحقه احسان کوئ، هغوی سره حسن سلوك او ادب احترام

سره ضم کیږي - دلته الله تعالیٰ توحید سره متصل بلا فصل د مور پلار سره د حسن سلوك حکم ورکړو او د هغوی حقوق ئې بیان کړل او په سورة لقمان ع ۲ کښې ئې د خپل شکر سره د والدینو د شکر ادا کولو حکم ورکړی دے - أَنِ اشْكُرْ لِي وَلِوَالِدَيْكَ إِلَيَّ الْمَصِيرُ - دینه معلومه شوه چه د مور پلار حقونه او هغوی سره حسن معاشرت ربنا تسته روستو تیرول خومره ضروري او اهم دي -

۲۴ د والدینو د حقونو او آدابو پوره تفصیل دے - وے فرمائیل که چرے ستاسو په ژوند کښې مور یا پلار یا دواړه بوډا الکان شي نو اوس هغوی ستا د ډیر ښه او نرم سلوك مستحق دي - دے عمر کښې په لږه لږه خبره د هغوی زړه خفه کیږي او دردمند کیږي - دے د پاره په بوډا والي کښې ورسره د خبرو کولو په وخت د ډیرے نرمئي او محبت نه کار اخستل پکار دي - فَلَا تَقُلْ لَّهُمَا أُفٍّ یعني دا سے څه خبره ورسره مکوه چه په هغے کښې معمولي شان تکلیف هم وي او د تکلیف ورکولو کوم اړخ هم را وتلے شي د پاره دده چه بوډا والي کښې هغوی ته څه تکلیف او نه رسیږي وَلَا تَنْهَرْهُمَا - او هغوی ته رټنه او سخته خبره هم مکوه - وَقُلْ لَّهُمَا قَوْلًا كَرِيمًا بلکه ډیره نرمئي او ادب احترام سره ورسره خبرے کوه - وَاخْفِضْ لَهُمَا الخ دا د شفقت او مهربانئي نه کنایه ده - هذا استعارة فی الشفقة والرحمة بهما (قرطبی ج ۱۰ ص ۲۴۳) او مور پلار سره بالکل دا شان شفقت او مهربانئي سره پیش راځئ څنګه چه درسره هغوی ماشوموالي کښې شفقت او مهرباني کوله - وَقُلْ رَّبِّ ارْحَمْهُمَا كَمَا کښې کاف تشبیه د پاره دے یا تعلیل د پاره او مور پلار د پاره د الله تعالیٰ نه دعا غواړه چه اے الله! زما مور پلار باندے رحمت او مهرباني اوکړه څنګه چه ئې ما شوموالي کښې زما تربیت کړے وو او زه اوس د هغوی د شفقت د شکر ادا کولو په طور هغوی د پاره دعا غواړم -

۲۵ الله تعالیٰ ستاسو د زړونو په پټو رازونو باندے خبردار دے - څوك چه نیك نیتئ سره د مور پلار حقونه ادا کوي هغه په دے هم عالِم دے او څوك چه محض د ریاکارئ د پاره یا د څه دنیوي غرض په خاطر دا رنګے کوي د ده د نیت هم د الله نه پټ نه دے - که چرے تاسو نیك نیتئ سره او د زړه د محبت او احترام سره مور پلار سره ښه سلوك کوئ نو الله تعالیٰ د دا سے نیك نیته خلقو او الله پاك طرفته رجوع کوونکو او په هر کار کښې د هغه د رضا طلب کوونکو د تقصیراتو او غیر ارادي خطاګانو او لغزشونو معاف کوونکے دے - که چرے غلطئ او ناپوهئ سره د هغه په حقونو ادا کولو کښې څه کوتاهي اوشوه نو الله تعالیٰ به ئې معاف کړي - غفورٌ لما وقع منهم من نوع تقصیر او اذیة فعلیة او قولیة (ابو السعود - ج ۵ ص ۱۶۷) مور پلار خواه مسلمانان وي یا کافران د دعا نه علاوه باقي په ټولو ذکر شوو حقونو کښې برابر شان دي. د کافر مور پلار سره حسن سلوك فرض دے لیکن که هغوی د زړه نه د شرك کولو والي نو د امنل ئې

جائز نه دی.

۳۶ د مور پلار نه علاوه په باقی ټولو رشته دارانو باندې هم احسان کوه صله رحمي کوه. که چرې هغه محتاج وي نو مالي امداد ئې کوه، په غریبانانو او مسکینانو باندې صدقه کوه. که څوك مسافر د سفر په حالت کښې ستا د امداد مستحق وي نو هغه سره همدردي کوه او د هغه ضرورت پوره کوه. وَلَا تُبَذِّرْ تَبْذِيرًا - او فضول بې ځایه خرچ مکوه بلکه جائز مصارفو کښې خرچ کوه. دې سره به درته اجر ملاویږي او په ناجائز مصارفو کښې خرچ کولو سره به عذاب وي. تبذیر دا دې چه مال داسې مصرف کښې خرچ کړې شي چرته چه خرچ کول شرعًا جائز نه وي مثلًا د شرك او بدعت په اشاعت کښې، په جوارئ کانو بجانو، شراب نوشئ او عیاشئ، سینما کتلو کښې، داسې کارونو کښې خرچ کول تبذیر کښې داخل دی. سئل عن ابن مسعود عن التبذیر فقال انفاق مال فی غیر حقه. (مظهری ج ۵ ص ۴۳۳)

۲۷ ځکه چه مال دولت په ناجائز او خلاف شرع کارونو کښې خرچ کوونکې شیطان دې ځکه چه د شیطان کار دې شر او فساد خورول، د اشان مبذرین هم شرك، بې حیائي او منکرات عام کولو سره ملك کښې شر او فساد پیدا کوي - اذا المبذر ساع فی افساد کالشیاطین. (قرطبی ج ۱۰ ص ۲۳۸) شیطان د الله تعالی دیر زیات احسان هیروونکې او ناشکره دې. نو د هغه تابعداري مکوئ هغه به تاسو ته د کفر او سرکشئ لاره ښائي.

۲۸ که چرې د انسان مالي حالت کمزورې وي او هغه رشته دارانو او نورو مستحقینو سره د مالي امداد کولو نه قاصر وي او هغه د الله د رحمت امیدوار او د رزق د فراخئ په انتظار کښې وي (دا خبره تقریبًا هرچا کښې موندلې شي) نو هغه له پکار دي چه مستحقینو ته سختئ او بد اخلاقئ سره جواب ورنکړي بلکه نرمه او پسته خبره او کړي او بنه طریقه باندې خپل عذر پیش کړي - القول المیسور هو الرد بالطریق الاحسن (کبیر ج ۵ ص ۲۷۷) قولًا میسورًا سهلًا لینًا وعدهم وعدًا جمیلًا من یسر الامر. (ابوالسعود ج ۵ ص ۱۶۶)

۲۹ د خرچ کولو طریقه بیان کړې شوې ده چه دومره کنجوس او بخیل هم مه جوړیږه چه د غریبانانو، محتاجو او ضرورتمند و رشته دارانو په حالت درته بالکل رحم نه راځي او معمولي څیز هم په هغوی باندې نه خرچ کوې او مه دومره فراخئ او کهلاؤ زړه سره خرچ کوه چه ټول هرڅه والوزوې او خپل ځان او بنځې بچو باندې خرچ کولو د پاره هیڅ هم باقي پرینږدې او په اخره کښې خالي لاس خپیمانه او افسوس کوونکې لاس و نمروړې او ناست یې، بالکل د خَيْرُ الْاُمُوْرِ اَوْسَطُهَا مطابق د دواړو حدونو په مینځ کښې یعنې د افراط او تفریط په مینځ کښې اوسیږه.

۳۰ دا د توحید دریم عقلي دلیل دې - د رزق تنګي او فراخي د الله تعالی په اختیار کښې ده، هیڅوك د خپل عقل، پوهې او محنت په زور دولتمند نشي جوړیدې، الله تعالی چه د خپلو بندګانو نه پوره پوره خبردار دې او د هغوی اعمال او افعال ټول وینې هغه

د خپل حکمت بالغه مطابق بندګانو کښې رزق تقسيموي. الله تعالی چه د ټولو رازق او مالک دے او بيا په ټولو هر څه خبردار او ليدونکے دے هغه د ټولو کارساز دے لهذا د هغه عبادت کوئ، د هغه مخلوق اونڅه ونه کوئ او په خپلو حاجتونو کښې صرف هغه رابلئ ❊

وَلَا تَقْتُلُوْٓا اَوْلَادَكُمْ خَشْيَةَ اِمْلَاقٍ ۭ نَحْنُ نَرْزُقُهُمْ
او مه وژنئ خپل اولاد د ويرے د فقر نه موږ رزق ورکوو هغوي ته
وَاِيَّاكُمْ ۭ اِنَّ قَتْلَهُمْ كَانَ خِطْاً كَبِيْرًا ﴿۳۱﴾ وَلَا تَقْرَبُوا
او تاسو ته هم بيشکه د هغوي وژل لويه ګناه ده ف او مه نزدے کيږئ
الزِّنٰٓى اِنَّهٗ كَانَ فَاحِشَةً ۭ وَسَاۗءَ سَبِيْلًا ﴿۳۲﴾ وَلَا تَقْتُلُوا
زنا ته هم هغه ده بے حيائي او خرابه لاره ده ف او مه وژنئ
النَّفْسَ الَّتِيْ حَرَّمَ اللّٰهُ اِلَّا بِالْحَقِّ ۭ وَمَنْ قُتِلَ مَظْلُوْمًا
هغه ځان چه منع کړے دے الله هم ليکن په حقه سره او څوک چه قتل شو ظلم سره
فَقَدْ جَعَلْنَا لِوَلِيِّهٖ سُلْطٰنًا فَلَا يُسْرِفْ فِّي الْقَتْلِ ۭ اِنَّهٗ
نو ورکړے دے موږ د هغه وارث ته زور نو د حد نه دې نه وځي په قتل کولو کښې؛ هغه ته به
كَانَ مَنْصُوْرًا ﴿۳۳﴾ وَلَا تَقْرَبُوْا مَالَ الْيَتِيْمِ اِلَّا بِالَّتِيْ
امداد ملاويږي ف او مه نزدے کيږئ د يتيم مال ته هم ليکن په هغه طريقه
هِيَ اَحْسَنُ حَتّٰى يَبْلُغَ اَشُدَّهٗ ۠ وَاَوْفُوْا بِالْعَهْدِ ۠ اِنَّ
کومه چه بهتره وي تردے چه هغه ورسيږي ځوانئ ته او پوره کړئ وعده بيشکه
الْعَهْدَ كَانَ مَسْــُٔــوْلًا ﴿۳۴﴾ وَاَوْفُوا الْكَيْلَ اِذَا كِلْتُمْ
د وعدے تپوس به کيږي ف او پوره کړئ پيمانه کله چه پيمانش کوئ
وَزِنُوْا بِالْقِسْطَاسِ الْمُسْتَقِيْمِ ۭ ذٰلِكَ خَيْرٌ وَّاَحْسَنُ
او تول کوئ برابر تلے سره ف ۳۵ دا بهتره ده او ښه دے

تَأْوِيلًا ﴿۳۵﴾ وَلَا تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهٖ عِلْمٌ ؕ إِنَّ السَّمْعَ
ډیر غوره دے انجام ئے وٌ. او مکوه تابعداری د هغه څیز چه خبر نه دے تا ته پرے بیشکه غوږ

وَالْبَصَرَ وَالْفُؤَادَ كُلُّ أُولٰٓئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْئُولًا ﴿۳۶﴾
او سترګه او زړه ټول د دے د هغه نه پوښتنه کیږی وٌ

وَلَا تَمْشِ فِى الْأَرْضِ مَرَحًا ۚ إِنَّكَ لَنْ تَخْرِقَ الْأَرْضَ
او مه ګرځه په زمکه باندی تکبر سره ګله ته به او نه شلوے زمکه

وَلَنْ تَبْلُغَ الْجِبَالَ طُولًا ﴿۳۷﴾ كُلُّ ذٰلِكَ كَانَ سَيِّئُهٗ عِنْدَ
او نه به او رسیږے غرونو ته او ږدوالی سره. دا ټول هر څیزونه چه دی بد ئے په نزد د

رَبِّكَ مَكْرُوهًا ﴿۳۸﴾ ذٰلِكَ مِمَّآ أَوْحٰٓى إِلَيْكَ رَبُّكَ مِنَ
ستا د رب بیزاری شه وٌ دا هغه خبرے دی چه وحی اولیږله ستا رب ستا طرفته د عقل

الْحِكْمَةِ ۗ وَلَا تَجْعَلْ مَعَ اللّٰهِ إِلٰهًا آخَرَ فَتُلْقٰى فِى
د کارونو نه وٌ او مه مقرروه د الله نه سوا بل بندګی بیا به پریوزے ته په

جَهَنَّمَ مَلُومًا مَّدْحُورًا ﴿۳۹﴾ أَفَأَصْفٰىكُمْ رَبُّكُمْ بِالْبَنِيْنَ
دوزخ کښی ملامت کړے شوے دیکه کړے شوے. آیا تاسو غوره کړی ستاسو رب په ځامنو سره

ع وَاتَّخَذَ مِنَ الْمَلٰٓئِكَةِ إِنَاثًا ۚ إِنَّكُمْ لَتَقُولُونَ قَوْلًا عَظِيمًا ﴿۴۰﴾
او ځان د پاره ئے فرښتے لونړه وګرځولے ته تاسو وایئ ډیر نه خبره ده.

**نکات**: ۱ د عذاب دفع کولو د پاره دریم امر یعنی ظلم مکوئ. دا د ظلم
دشپږو کارونو نه آولنے ظلم دے. ۲ دویم ظلم ۳ دریم ظلم ۴ څلورم ظلم
۵ پنځم ظلم ۶ دریم حل د دعوای توحید ذکر ۷ زجر.

**موضح قرآن** وٌ کافرانو به لونړه وژلے چه د دوی خرچه به د چرته نه راوباسو. وٌ یعنی که د الله جوړه شی نو بیو به د بل بنځے
ته کوری او هغه به د دهٔ بنځے ته کوری. وٌ یعنی په هر چا لازمه ده چه په قصاص
اخستلو کښی ورسره امداد اوکړی نه چه البته د قاتل حمایت اوکړی او وارث له هم
پکار دی چه دیوبل له کښی دوه مړه نه کړی یا قاتل ته لاس او نه رسی نو څوک

یا زور ورله مړنکړي - ف۴ لیکن کومه طریقه چه غوره وي یعني که د هغه د مال حفاظت او ساتنه اوکړي نو هیڅ تنګي نشته - او د اقرار او صلح کولو نه پس وعده ماتول خامخا ګناه ده د هغې وبال به خامخا په وعده ماتوونکي باندې پریوځي - ف۵ برابر تلل سره یعني د تول په وخت د تلې دواړه د ځېژ طرفونه کږول او کم تلل یعني دهوکه لږ وخت چلیږي بیا چه خلق پرې خبر شي نو معاملات ورسره نه کوي او پوره ۍ حق ورکولو نه د هر چا خوښ وي د هغه تجارت ښه چلیږي ف۶ یعني د کومې خبرې حقیقت چه معلوم نه وي د هغې دعوی مکوه او مه وایه چه هغه داسې ده او هغه شان ګواهي ورکول ف۷ یعني کومې خبرې چه ئې منع کړې هغه د رب بیزاري ده او د کوم چه ئې حکم اوکړو د هغې نه کول بیزاري ده -

**فتح الرحمٰن** | ف۱ یعني حق د قصاص ۱۲

**تفسیر:** ۳۱ د عذاب دفع کولو دپاره د دریم امر ذکر یعني د الله تعالیٰ په مخلوق باندې ظلم مکوئ - دلته د ظلم شپږ امور ذکر شویدي - دا اولنی ظلم دے یعني د فقیرئ او د رزق د تنګئ د ویرې نه خپل اولاد مه وژنئ - د اولاد وژل لویه ګناه ده آخر تاسو هم رزق خورلو سره ژوند تیروئ تاسو ته رزق څوک درکوي؟ هرکله چه څنګه تاسو ته رزق درکوم نو هغوی ته به ئې هم ورکوم - نو د رزق د تنګئ ویره مکوئ - د عربو خلقو به لونړه ژوندئ په قبرونو کښې ښخولې ځکه چه د هغوی دا خیال وو چه ښځې چونکه روزي نشي ګټلې او مورپلار باندې د هغې پالنه بوجه جوړیږي - په دے وجه به ئې د اول نه هغوی ختمولې نو الله تعالیٰ د دے ظالمانه حرکت نه منع کړل - خاندانی منصوبه بندي هم په یوه معنیٰ سره قتل اولاد کښې داخله ده - په دے وجه د آیت هغې ته هم شامل دے او دا هم ظلم دے، علیٰ هذا ځنګه چه د اولاد جسماني قتل ظلم دے داسې ئې روحاني قتل هم ظلم دے - خپل هلکان او جینکئ په موجوده سکولونو او کالجونو کښې داخلول او تعلیم ورکول او د اسلامي علومو او فنونو نه محرومه ساتل او غیر اسلامي فنون او غیر اسلامي تهذیب ورته ښودل او د بیحیائئ او فواحشو تعلیم ورکول د اولاد روحاني قتل دے چه ډیر لوئے ظلم دے -

۳۲ دا دویم ظلم دے - دا هم ظلم دے ځکه چه وَلَدُ الزِّنَا خو به یا اُووژلے شي یا دا چه د مورپلار د مشفقانه پرورش نه به محرومه پاتے شي - وَلَا تَقْرَبُوا الزِّنٰى - (زنا ته نزدے هم مه ورځئ) تعبیر کښې د لَا تَزْنُوْا (زنا مکوئ) په نسبت زیاته مبالغه ده ځکه چه د دے مطلب دا دے چه د داسې ټولو کارونو نه لرے اوسئ چه د زنا بنیاد جوړیږي مثلاً د غیر محرم ښځو سره آزادانه تعلقات، بے تکلفه خبرے، بد نظر وغیره - ای لا تاتوا بدواعیها من العزم علیه او علیٰ بعض

مقد ماتها فضلًا ان تباشروها - (مظهری ج ۵ ص ۳۳۶)

**۳۳ے** دا دریم ظلم دے، خوك ناحقه مه وژنئ. وَمَنْ قُتِلَ مَظْلُوْمًا الخ دمقتول قصاص اخستلو کښ دمقتول وارثانو ته هدایت اوکړے شو چه په قصاص اخستلو کښ دشرعی حد نه تجاوز اونکړی مثلاً دیو په ځائے دوه قتل نکړی او نهٔ مقتول بے عزته بے حُرمته کړی لکه چه دجاهلیت دزمانے رواج وُو۔

**۳۴ے** دا څلورم ظلم دے، دیتیمانو مال په ناحقه او ناجائزه طریقه باندې مه خورئ څوکهٔ خوك دیتیم په مال کښ تجارت اوکړی یا دهغهٔ په زمکه کښ فصل اوکړی او دخپل محنت حق دهغے نه وصول کړی نو دا جائز دی لیکن بلاوجه دیتیم مال غصب کول او په ناحقه برے قبضه کول بنکاره ظلم دے۔ وَاَوْفُوْا بِالْعَهْدِ - او خپله وعده پوره کړئ چه تاسو په حیثیت دیو مسلمان دالله تعالیٰ سره کړیده یعنی دهغهٔ داوامرو تابعداری اوکړئ او دمنع کړے شوو کارونو نه ځان بچ کړئ۔ وَاوفوا بالعهد باوامر الله ونواهیه (مدارك ج ۲ ص ۲۴۲)

**۳۵ے** دا پنځم ظلم دے، د تجارتی معاملاتو په وخت په پیمانه او تول کښ کمے زیاتے مکوئ او دخلقو حقونه مه وهئ دا هم ظلم دے بلکه پوره پوره تول کوئ او صحیح پیمانه کوئ۔ دا په دُنیا او اخرت کښ تاسو دپاره بهتره ده۔ دنیا کښ به ددے فائده دا وی چه ستاسو روزی دحرامو دشبُے نه پاکه وی او په کاروبار کښ به مو برکت وی او ددیانت او امانت په وجه به دربانديں دخلقو اعتماد وی او په اخرت کښ به ئے الله تعالیٰ سره اجر بیاموم‌ئ۔

**۳۶ے** دا شپږم ظلم دے۔ دکوم څیز باره کښ چه پوره علم نهٔ وی په هغے کښ صرف گمان او اټکل باندې عمل مکوه او بغیر دتحقیق نه یو مسلمان ته تکلیف مه ورکوه او محض بے بنیاده خبرو باندې اعتماد کولو سره خوك دظلم نښه مه گرځوه۔ وقال القتبی لا تتبع الحدس والظنون (قرطبی ج ۱۰ ص ۲۵۷) لکه چه بل ځائے ارشاد دے اِجْتَنِبُوْا كَثِيْرًا مِّنَ الظَّنِّ اِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ اِثْمٌ (الحجرات - ع ۲) انسان له پکار دی چه بغیر دتحقیق نه څه خبره اونکړی، الله تعالیٰ زړهٔ او دماغ، سترگے او غوږونه ورکړی دی، ددے نه کار اخستل پکار دی۔ دسوچ او فکر نه پس څهٔ قدم اوچتول پکار دی۔ غیر یقینی او نالیدلے خبرے یقینی او لیدلے شوے خبرے گنړل، دکوم چه ورته علم نهٔ وی دهغے دعلم دعوی کول دا ټول ددے ایت دلاندے منع دی اِنَّ السَّمْعَ وَالْبَصَرَ الخ ځکه چه الله تعالیٰ مونږ ته دفکر کولو او پوهے دپاره او لیدلو او ید لو دپاره حواس راکړیدی۔ ددے باره کښ به زمونږ نه تپوس کولے شی چه ددے نه مو څهٔ کار اخستے دے او دا خو مو چرته بے موقعے نهٔ دی استعمال کړی؟

**۳۷ے** کله چه دُدنیوی مال او دولت او دجاه او مرتبے دوجے نه انسان کښ غرور او تکبر پیدا شی نو بیا هغه هر قسم ظلم زیاتی، نا فرمانئ او سرکشئ ته

تیار وی. نو خکه ئې د غرور او تکبر نه منع اوفرمائیله چه خپل حقیقت ته اوګوره د بې وسه او عاجزه انسان نه سوا نور هیڅ هم نه یې. نه خو ته زمکه د غلو سره شلولے شې او نه غټو اوچتو لو او سینه و یستلو او نیغولو سره د غرونو برابر کیدے شې. د دے د پاره ته د وسره عاجزئ او فقیرئ باوجود ایغ نیغ او سینه ویستلو سره د تللو څه فائده؟

**۳۸ ف** د پورته ذکر شوو کارونو نه چه د کومو د کولو حکم ورکړے شوے دے د هغې په نه کولو کښې د الله تعالیٰ ناراضتیا ده او د کومو چه د نه کولو حکم ورکړے شوے دے د هغې په کولو کښې د هغه ناراضتیا ده. د پورته ذکر شوے ګناهونو ذکر کولو نه پس ئې اوفرمائیل چه دا ټول ګناهونه دی د دے نه پوره په پوره ځان اوساتئ او دینه نزدے هم مه ورځئ.

**۳۹ ف** پورته ذکر شوو احکامو طرفته اشاره ده یعنی ذکر شوے احکام ټول په حکمتِ الٰهي بانډے مبنی دی او د دے په تابعدارئ کښې د انسانانو خیر او ښیګړه ده. وَلَا تَجْعَلْ مَعَ اللّٰهِ الخ د عذاب دفع کولو د پاره ئې د دے امورو ذکر کولو نه وړاندے هم د توحید د دعوے ذکر اوکړو: لَا تَجْعَلْ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ فَتَقْعُدَ مَذْمُوْمًا مَّخْذُوْلًا ○ او بیا د امورِ ثلاثه نه پس هم د توحید د دعوے اعاده اوکړے شوه. د دے سره دا ښودل مقصود دی چه د دے ټولو تکلیفونو نه اصل مقصود او اصلی مدعا توحید دے. د الله په مخلوق بانډے احسان کول ډیر بنه کار دے او د الله په مخلوق بانډے ظلم ډیر خراب کار دے لیکن د ټولو نیکو کارونو بنیاد توحید دے او د ټولو عملونو شر نه شرک بد ترین او ډیر زیات خراب شر دے. کرر ه لان المقصود والتوحید را س کل حکمة (جامع البیان ص ۲۴۵) انه تعالیٰ بدء فی هذه التکالیف بالامر بالتوحید والنهی عن الشرك وختمها بعین هذا المعنی والمقصود منه التنبیه علی ان اول کل عمل وقول وفکر وذکر یجب ان یکون ذکر التوحید تنبیها علی ان المقصود من جمیع التکالیف هو معرفة التوحید والاستغراق فیه الخ (کبیر ج ۵ ص ۵۹۳)

**۴۰ ف** د دے حصے نه واخله تر دے: فَلَا يَسْتَطِيْعُوْنَ سَبِيْلًا ○ پورے زجر ونه دی. هغه مشرکانو بانډے چه فرښتو ته به ئې د خدائ لونړه وئیلے او خپل خود ساخته معبودان به ئې د الله تعالیٰ په نزد شفیع غالب ګنړل. مشرکانو به بچیله دلونړو نه نفرت کولو لیکن د ډیرے سرکشئ او عنا د په وجه به ئې د الله پاك طرفته دلونړو نسبت کولو. هغوی به فرښتے د الله تعالیٰ په نزد شفیع غالب ګنړلے. د هغوی خیال ؤ چه څنګه لونړه پلار ته ډیرے محبوبے وی د غه شان فرښتے هم الله تعالیٰ ته محبوبے دی او د هغوی سفارش نه رد کوی. وے فرمائیل اے مشرکانو! تاسو ډیره بده خبره کوئ.

وَلَقَدْ صَرَّفْنَا فِيْ هٰذَا الْقُرْاٰنِ لِيَذَّكَّرُوْا ۭ وَمَا يَزِيْدُهُمْ
او مونږ بیا بیا پوهه کړې ده قرآن کښ هغوی چه سوچ او کړی او د هغوی تختیدل نور هم
اِلَّا نُفُوْرًا ﴿۴۱﴾ قُلْ لَّوْ كَانَ مَعَهٗٓ اٰلِهَةٌ كَمَا يَقُوْلُوْنَ
زیاتیږی لگه ته او وایه که چرې وې هغه سره بل حاکم لکه چه دوی ئې بیانوی نو
اِذًا لَّابْتَغَوْا اِلٰى ذِي الْعَرْشِ سَبِيْلًا ﴿۴۲﴾ سُبْحٰنَهٗ وَتَعٰلٰى
ویستلې به ئې وې د عرش مالک طرفته لاره لگه هغه پاک دې لگه او اوچت دې
عَمَّا يَقُوْلُوْنَ عُلُوًّا كَبِيْرًا ﴿۴۳﴾ تُسَبِّحُ لَهُ السَّمٰوٰتُ السَّبْعُ
د دوی د خبرو نه بے انتها. د هغه پاکی بیانوی او وه آسمانونه
وَالْاَرْضُ وَمَنْ فِيْهِنَّ ۭ وَاِنْ مِّنْ شَيْءٍ اِلَّا يُسَبِّحُ
او زمکه او څه چه په دوی کښ دی او هیڅ څیز نشته چه نه وائی د هغه ثنا
بِحَمْدِهٖ وَلٰكِنْ لَّا تَفْقَهُوْنَ تَسْبِيْحَهُمْ ۭ اِنَّهٗ كَانَ
لیکن تاسو نه پوهیږئ د هغوی په وئینا بیشکه هغه دے
حَلِيْمًا غَفُوْرًا ﴿۴۴﴾ وَاِذَا قَرَاْتَ الْقُرْاٰنَ جَعَلْنَا بَيْنَكَ وَ
صبر والا بخښونکے لگه او کله چه ته لولې قرآن کرځو مونږ ستا او د هغه خلقو په
بَيْنَ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ حِجَابًا مَّسْتُوْرًا ﴿۴۵﴾ ۙ
مینځ کښ لگه چه نه منی آخرت یو کاپرده پټه کړے شوے ف
وَّجَعَلْنَا عَلٰي قُلُوْبِهِمْ اَكِنَّةً اَنْ يَّفْقَهُوْهُ وَفِيْٓ اٰذَانِهِمْ
او مونږ اچوو د هغوی په زړونو باندې پردې چه هغوی پرې پوهه نشي او د هغوی په غوږونو کښ
وَقْرًا ۭ وَاِذَا ذَكَرْتَ رَبَّكَ فِي الْقُرْاٰنِ وَحْدَهٗ
درونوالے دے او کله چه ذکر کوې ته په قرآن کښ د خپل رب خالص نو
وَلَّوْا عَلٰٓي اَدْبَارِهِمْ نُفُوْرًا ﴿۴۶﴾ نَحْنُ اَعْلَمُ بِمَا يَسْتَمِعُوْنَ
تښتی په شا بیرته نفرت کونکی وی لگه مونږ ښه پوهیږو لگه څه دپاره چه هغوی اوری

بِهٖۤ اِذْ يَسْتَمِعُوْنَ اِلَيْكَ وَ اِذْ هُمْ نَجْوٰۤى اِذْ يَقُوْلُ

کله چه هغوی غوږ ایږدی ستا طرفته او کله چه دوی مشوره کوی کله چه وائی

الظّٰلِمُوْنَ اِنْ تَتَّبِعُوْنَ اِلَّا رَجُلًا مَّسْحُوْرًا ﴿۴۷﴾ اُنْظُرْ كَيْفَ

دا بے انصافه چه پیروی نه کوئ تاسو تلل کوئ هغه سړی پسې چه جادو کړے شوے دے . اوګوره څرنګه

ضَرَبُوْا لَكَ الْاَمْثَالَ فَضَلُّوْا فَلَا يَسْتَطِيْعُوْنَ سَبِيْلًا ﴿۴۸﴾

لګوی تا باندې مثالونه نو ګمراهان ګرځی نو لاره نشی موندے .

وَ قَالُوْۤا ءَاِذَا كُنَّا عِظَامًا وَّ رُفَاتًا ءَاِنَّا لَمَبْعُوْثُوْنَ خَلْقًا

او وائی ایا چه کله شو مونږ هډوکی او میده خاوره نو بیا به پاسولی شو نوی پیدائش

جَدِيْدًا ﴿۴۹﴾ قُلْ كُوْنُوْا حِجَارَةً اَوْ حَدِيْدًا ﴿۵۰﴾ اَوْ خَلْقًا

سره - ته اووایه تاسو شئ کانړی یا اوسپنه یا بل کوم قسم مخلوق

مِّمَّا يَكْبُرُ فِيْ صُدُوْرِكُمْ فَسَيَقُوْلُوْنَ مَنْ يُّعِيْدُنَا

چه تاسو ئے ګران ګڼړئ په خپلو نفسونو کښې نو اوس به زر او وائی چه څوک به واپس راولی مونږه

قُلِ الَّذِيْ فَطَرَكُمْ اَوَّلَ مَرَّةٍ فَسَيُنْغِضُوْنَ اِلَيْكَ

اووایه چا چه پیدا کړی یئ تاسو اول ځل نو زر به اوخوزوی تا ته

رُءُوْسَهُمْ وَ يَقُوْلُوْنَ مَتٰى هُوَ قُلْ عَسٰۤى اَنْ يَّكُوْنَ

خپل سرونه هم او وائی کله به وی دا ؟ ته اووایه شاید چه نزدے

قَرِيْبًا ﴿۵۱﴾ يَوْمَ يَدْعُوْكُمْ فَتَسْتَجِيْبُوْنَ بِحَمْدِهٖ وَ تَظُنُّوْنَ

به وی - په کومه ورځ چه تاسو ته اواز اوکړی نو بیا به حاضر شئ د هغه تعریف کوئ سره او ګمان به کوئ چه

ع ۵ ۱۴

اِنْ لَّبِثْتُمْ اِلَّا قَلِيْلًا ﴿۵۲﴾

وخت تیر نکړو تاسو مګر لږ -

**نکات:- ۱ شکوه ۴۸ ۲ جواب شکوه ۱۲ ۳ تخویف اُخروی ؛**

## موضح قرآن

ف یعنی د بل ځا محکوم او سیدل به نۀ وي لیکن ته به بادشاه وي او تخت به دې پس له دې نه غورځولے شي. ف۲ یعنی دا ډیر بد وخت بانډې به تاسو په تلوار نۀ نیسي او چه توبه کړئ نو بخښي به مو هم ف۳ یعنی دے قرآن کښې یو داسے قوي اثر دے لیکن په کافرانو چه اثر نکوي وجه دا ده چه هغوي پرده کښې دي. نو سره د دنیا رڼا ده او چا چه د ځه طرفته شا کړے ده او پټ شوے دے هغه د یاره هیڅ رڼا نشته. ف۴ یعنی اوس خو جلتي کوي هغه وخت به پوهه شي چه په دنیا کښې خو مونږ هیڅ وخت هم نۀ ؤو تیر کړے، پښتو ښتنه کاله به دغه نارکونو کلونو په وړاندې ځه معلوم شي ۱۲

## فتح الرحمن

ف۱ مترجم وائي دواړه ایتونه کنایه ده د دوي د نفع اخستلو نه قرآن سره او نصیحتونو سره. والله اعلم ف۲ یعنی د نوقو او عیب لټولو د پاره ف۳ یعنی ملزم به کړي ۱۲

**تفسیر:** ۴۱ زجر دے د توحید مسئله او د شرك نفي مونږ په قرآن کښې په مختلف انداز کښې بیان کړي ده د پاره د دے چه هغوي ترینه نصیحت واخلي لیکن اُلټه د هغوي نفرت زیات شو ځکه چه د ضد او عناد په وجه هغوي قرآن ته جادو شعر، کهانت ویلو. په دے وجه د قرآن تعلیمات د هغوي زړونو ته کوز نشول. وذلك لانهم اعتقدوا في القرآن انه حيلة وسحر وكهانة وشعر (قرطبي ج ۱۰ ص ۲۶۵) نو ځکه کله د هغوي په وړاندې د توحید د مسئلے ایتونه لوستلے شي په کوم کښې چه حکم دے چه د الله نه سوا هیڅوك کارساز او شفیع غالب مه ګڼړئ او د الله نه سوا هیڅوك په حاجتونو کښې مه رابلئ نو هغوي د دینه لرے تختي.

۴۲ وَلَا تَجْعَلْ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ سره متعلق دے او د مشرکانو رد دے. هذا متصل بقوله تعالى: وَلَا تَجْعَلْ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ الخ (قرطبي) حضرت شیخ رحمه الله او فرمائیل د ایت مطلب دا دے چه لکه څنګه د مشرکانو خیال دے چه د دوي خیالي معبودان د اُلوهیت او کارسازئ په کارونو کښې الله تعالی سره شریك دي او د الله تعالی په نزد د دوي سفارشیان دي نو هغوي به د الله تعالی سره نزدیکت حاصل کړي او د خپل عبادت کوونکو کار رد اوکړي او د دوي عبادت کوونکي به په خپلو حاجتونو او مشکلاتو کښې هغوي بانډې سفارش اوکړي، په الله پاك د خپل ټول کارونه د خپلے مرضئ مطابق اوکړي. حال دا دے چه دا سے هیڅکله او نشوه چه د هغوي ټول حاجتونه پوره کړے شو. وقيل معناه لطلبوا الى ذى العرش سبيلا بالتقرب اليه (معالم) عن مجاهد وقتادة ان المعنى اذا الطلبوا الزلفى اليه تعالى والتقرب الخ (روح - ج ۱۵ ص ۷۷)

۴۳ د مشرکانو د باطلو خبرو نه د الله تعالی ذات پاك او منزه دے، د هغه هیڅوك شریك نشته او نه د هغه په مخکښې څوك شفیع غالب شته. تُسَبِّحُ لَهُ السَّمٰوٰتُ الخ

د ځمکې او اسمان ټول مخلوق او د کائنات ذره ذره زبان حال سره یا زبان قال سره د الله تعالیٰ
په تسبیح او پاکی بیانولو کښې مشغول دي او د شرك نه د الله تعالیٰ پاکی بیانوي. هر کله
چه ټول کائنات د الله تعالیٰ وحدانیت ګواهي ورکوي نو بیا هغه د پاره لونړه تجویز
کول او شریك جوړول ډیره بده خبره ده او شرمناکه بے ادبي ده. د جماداتو د تسبیح
باره کښې دوه قوله دي. د حنو خیال دے چه حیوانات او جمادات هم زبان قال سره
تسبیح وائي لیکن مونږ د هغوي په ژبه د پوهیدلو نه قاصر یو. قالت فرقة المراد به
تسبیح الدلالة وکل محدث یشهد علی نفسه بان الله عزوجل خالق قادر وقالت
طائفة هذا التسبیح حقیقة و کل شیء علی العموم یسبح تسبیحًا لایسمعه البشر
ولا یفقهه الخ (قرطبی ج ۱۰ ص ۲۶۶)

۴۴ الله تعالیٰ داسے حلیم او معاف کوونکے دے چه ټول مخلوق د هغه پاکی بیانوي او
مشرکان هغه د پاره شریکان او سفارشیان تجویز کوي. په داسے لویه ګستاخئ باندې
هم هغه دوي په جلتئ سره نه هلاکوي بلکه مهلت ورکوي او که توبه او باسي نو
معاف کوي ئے هم.

۴۵ دا د مشرکانو حق لره د نه منلو او د توحید د مسئلے نه د انکار کولو علت دے.
کله چه ته د قران کریم ایتونه تلاوت کوے نو ستا د دوي په مینځ کښې مونږ پرده زورنده
کړو چه د هغې په وجه هغوي قران نه اوري. د پردے نه مراد د ضد او عناد معنوي
پرده ده. مشرکانو به محض د ضد او عناد او حسد او تعصب په وجه نبي علیه السلام بنه نه ګڼړلو
او د دوي نه به لرے او سیدل او نفرت به ئے کولو. هم دا معنوي پرده به مینځ کښې
واقع شوه چه هغوي ئے نبي علیه السلام ته نزدے راتللو ته نه پریښودل. وَجَعَلْنَا عَلٰی
قُلُوْبِهِمْ اَكِنَّةً الخ د ضد او انکار د وجے نه د هغوي په زړونو باندې د جباریت
مهر لګیدلے دے او د هغوي نه د پوهے صلاحیت ختم شوے دے. د دے وجے نه
د اهل زبان کیدلو باوجود هم په قران باندې نه پوهیږي. اَنْ یَّفْقَهُوْهُ ای کراهة
ان یفقهوه (قرطبی)، وَ اِذَا ذَكَرْتَ رَبَّكَ الخ کله چه په قران کښې د الله تعالیٰ د
توحید ذکر راځي او تاسو هغوي ته د توحید ایتونه لوستلو سره اورو ئې نو هغوي د
نفرت په وجه لرے تښتي. دوي غواړي چه الله تعالیٰ سره د دوي د باطل معبودانو
ذکر هم اوشي. ای یحبون ان تذکر معه الهتهم لانهم مشرکون فاذا
سمعوا بالتوحید نفروا (مدارك ج ۲ ص ۲۴۴) لکه څنګه چه بل ځائے د الله تعالیٰ
ارشاد دے: وَاِذَا ذُكِرَ اللّٰهُ وَحْدَهُ اشْمَاَزَّتْ قُلُوْبُ الَّذِیْنَ لَا یُؤْمِنُوْنَ
بِالْاٰخِرَةِ ۚ وَاِذَا ذُكِرَ الَّذِیْنَ مِنْ دُوْنِهٖۤ اِذَا هُمْ یَسْتَبْشِرُوْنَ ○ (زمر ع ۵)

۴۶ مشرکانو به ځنے وختنه د نبي علیه السلام خبرے غوږ سره اوریدے د پاره د د دے
چه د هغې نه قابل اعتراض او د طعن او تشنیع اړخ راوباسي. د نبي علیه السلام خبرے
به ئے واوریدے بیا به ئے خپل مینځ کښې مشوره کوله چه دے باندې کوم اعتراض

اُوکړو۔ او کوم طعن ورباندې اولګولو۔ آخر ئې فیصله اوکړه چه دا سړے مسحور دے یعنې چا پرے جادو کړے دے چه د هغې په وجه ئې دماغ پخپل ځائے صحیح نه دی پاتے شوی اوکړې وړې خبرے کوی (العیاذ بالله) الله تعالی اوفرمائیل څه د توټل هر څه نه خبریم، ځمانه هیڅ څیز پټ نشته۔ کوم نیت اوکوم مقصد سره چه دوی د نبی علیه السلام خبرے آوری او د طعن جوړولو د پاره چه کوم مشورے کوی هغه ټولے ما ته معلومے دی او دوی ته به د خپلو ټولو شرارتونو پوره سزا ورکولے شی۔

۴۷ تا سو ته کله جادوګر او شاعر وائی او کله در ته مجنون او مسحور وائی۔ د دوی دا رویه هم د تعجب قابله ده چه تا سو باندې طعن او تشنیع (بد رد ویلو) د پاره بوه لاره نه متعین کوی۔ دوی په خپل هر یو طعن کښې ګمراه او د صراط مستقیم نه لرے دی۔ مختلف طعنونه ئې دوی د خلقو د ګمراه کولو کوشش کوی لیکن یوه خبره باندې د نه ټینګیدو په وجه د خلقو په ګمراه کولو کښې نشی کامیابیدے۔ فَلَا يَسْتَطِيعُونَ سَبِيلًا ای حیلة فی الناس عنك (قرطبی ج ۱۰ ص ۲۷۳)

۴۸ دا شکوی ده تا سو ته ساحر او شاعر، مجنون او مسحور ویل او ستا سو راوړلے شوے پیغام توحید نه انکارکول او شرک کول خو قابل تعجب وو۔ دا خلق خو د حشر او نشر نه هم انکار کوی او دوباره ژوندی کیدلو باندې د تعجب اظهار کوی او وائی چه کله مړه شو او خاوره وسره یو ځائے خاورے شو نو آیا بیا به هم دوباره پیدا کولے شو؟ دا خو بیخی ناممکنه خبره ده۔ قُلْ كُونُوا حِجَارَةً الخ د شکوی جواب دے یعنی د مړګ نه روستو که چرے تا سو کانړے یا اوسپنه هم جوړ شئ یا د دینه هم څه سخت څیز جوړ شئ چه په هغې کښې روح اچول تا سو ته ډیر مشکل ښکاری نو هم الله تعالی به تا سو دوباره ژوندی کړی، هغه د پاره دا کار هیڅ مشکل او ګران نه دے۔ چا چه تا سو اول ځل پیدا کړی یئ هغه ته دوباره پیدا کول کوم ګران کار دے؟

۴۹ تعجب سره به سوال کوی چه یو ځل د خاورے کیدلو او نیست ونابود کیدلو نه پس به مونږ څوك دوباره ژوندی کړی؟ تا سو ورته اُووایئ چا چه تا سو اول ځل پیدا کړی یئ هر کله چه تا سو بیخی هیڅ هم نه وئ۔ نو چه اول ځل مو پیدا کولے شی هغه دوباره پیدا کولو باندې هم قادر دے۔ فمن قدر علی الانشاء قدر علی الاعادة۔ (خازن و معالم ج ۴ ص ۱۶۳) فَسَيُنْغِضُونَ إِلَيْكَ رُءُوسَهُمْ الخ۔ دے سره به هغوی د ټوقو مسخرو او استهزاء په طور او وائی۔ ښه دا ووایه! نو هغه به کله وی؟ قُلْ عَسَىٰ أَنْ يَكُونَ قَرِيبًا۔ د دوباره ژوندی کیدلو وخت پوره الله پاك ته معلوم دے لیکن ویلے شی چه هغه وخت نزدے هم دے۔

۵۰ دا تخویف اُخروی دے یعنی کوم وخت چه د الله پاك له طرفه اواز اوکړے شی نو ټول مړی به ژوندی شی د زمکے نه به بهر ته راوځی او هغه وخت به هر انسان

د الله تعالیٰ مطیع او تابعدار وي او دهر یو په ژبه به د الله تعالیٰ حمد او ثنا جاري وي او کله
چه پاسیږي نو په زړګونو کاله زمانه به ډیر کمه لږه اوګڼري ❊

وَقُلْ لِّعِبَادِيْ يَقُوْلُوا الَّتِيْ هِيَ اَحْسَنُ ۭ اِنَّ الشَّيْطٰنَ
او اُووایه ماپندګانو ته چه هغه خبرګوي کومه چه ښه تره وي لسهٔ بیشکه شیطان
يَنْزَغُ بَيْنَهُمْ ۭ اِنَّ الشَّيْطٰنَ كَانَ لِلْاِنْسَانِ عَدُوًّا مُّبِيْنًا ﴿۵۳﴾
دشمنی اچوی د دوی په مینځ کښې شیطان دے د انسان دشمن ښکاره ف
رَبُّكُمْ اَعْلَمُ بِكُمْ ۭ اِنْ يَّشَاْ يَرْحَمْكُمْ اَوْ اِنْ يَّشَاْ يُعَذِّبْكُمْ ۭ
ستاسو رب تاسو پیژني ښه که او غواړي نو تاسو باندې به رحم اوکړي او که اوغواړي نو عذاب به درکړي
وَمَا اَرْسَلْنٰكَ عَلَيْهِمْ وَكِيْلًا ﴿۵۴﴾ وَرَبُّكَ اَعْلَمُ بِمَنْ
او ته مونږ نه یې لیږلے دوی باندې ذمه وار ف او ستا رب ښهٔ پیژني هغه څهٔ چه
فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۭ وَلَقَدْ فَضَّلْنَا بَعْضَ النَّبِيّٖنَ
په اسمانونو کښې دي او په زمکه کښې ښه او مونږ غوره کړیدی ځنے پیغمبران
عَلٰى بَعْضٍ وَّاٰتَيْنَا دَاوٗدَ زَبُوْرًا ﴿۵۵﴾ قُلِ ادْعُوا الَّذِيْنَ
په ځنے نورو باندې او ورکړو مونږ داؤد ته زبور ف او وایه اواز اوکړئ ښه هغوته کوم چه
زَعَمْتُمْ مِّنْ دُوْنِهٖ فَلَا يَمْلِكُوْنَ كَشْفَ الضُّرِّ عَنْكُمْ
تاسو ګڼړئ (خدایان) سوا د هغه نه نو دوی اختیار نه لري چه لرے کړي ستاسو نه تکلیف
وَلَا تَحْوِيْلًا ﴿۵۶﴾ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ يَبْتَغُوْنَ اِلٰى
او نه یې بدلولے شي- هغه خلق کوم چه دوی رابلي هغوی طلب کوي خپل
رَبِّهِمُ الْوَسِيْلَةَ اَيُّهُمْ اَقْرَبُ وَيَرْجُوْنَ رَحْمَتَهٗ وَ
رب ته وسیله چه کوم یو بنده ډیر نږدے دے او امید لري د هغه د مهرباني او
يَخَافُوْنَ عَذَابَهٗ ۭ اِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ كَانَ مَحْذُوْرًا ﴿۵۷﴾
ویریږي د هغه د عذاب نه، بیشکه ستا د رب عذاب د ویرے څیز دے ف

وَاِنْ مِّنْ قَرْيَةٍ اِلَّا نَحْنُ مُهْلِكُوْهَا قَبْلَ يَوْمِ الْقِيٰمَةِ اَوْ

او هیڅ یو کلے نشته ۵۸ چه موږ هغه خراب نکړو د قیامت نه وړاندے یا

مُعَذِّبُوْهَا عَذَابًا شَدِيْدًا ؕ كَانَ ذٰلِكَ فِى الْكِتٰبِ

عذاب ورباندې راولو عذاب سخت ، دا دے په کتاب کښ

مَسْطُوْرًا ﴿۵۸﴾

لیکلے شوے ۵۸

**نکات** ۱ طریقه د تبلیغ ۲ په توحید باندې څلورم دلیل عقلي ۳ د مذکوره دلیل ثمره ۴ تخویف دنیوی۔

**موضح قرآن** ف۱ یعنی په خبرو اترو کښ سخته خبره مکوئ ځکه چه شیطان دشمنی اچوی چه کله جنګ شروع شی نو که مخاطب پوهوے هم خو هغه ځان نه پوهوی۔ ف۲ په مذاکراتو کښ حق والا غصه کیږی چه مقابل لے صریح حق نه مننی نو وے فرمائیل چه په تا باندې د هغه ذمه داری نشته، الله تعالیٰ بنه پوهیږی چا ته چه هدایت او غواړی نو لاره به ورته اوښائی ف۳ یعنی څخے نبیان وُو چه په قهر او غصه شول، ستا سو حوصله مونږ د هغوی نه زیاته کړیده او د داؤد ذکر ئے اوکړو چه د واړه خبرے ئے لرلے جهاد هم او زبور هم۔ د پوهولو د پاره دلته هم دا دوه خبرے شته۔ ف۴ یعنی چه ستا نرئے په بل چا باندے واچوی۔ ف۵ یعنی کافران چه د چا عبادت کوی هغوی پخپله د الله تعالیٰ په حضور کښ وسیله لټوی چه کوم بنده ډیر نزدے دے چه د هغه وسیله اونیسی او وسیله د ټولو پیغمبر دے په آخرت کښ به هغوی سره شفاعت کوُلے شی۔ ف۶ یعنی په تقدیر کښ لیکلی شویدی۔ د هر بنار خلق د یو مشر خدمت کوی چه مونږ د هغه رعیت یُو او د هغه پناه کښ یُو نو چه کله وخت راشی نو هیڅوک به چا ته پناه نشی ورکولے۔

**فتح الرحمٰن** ف۱ او دا کلمه د جهاد نه مخکښ وه۔ ف۲ یعنی عیسیٰ او عُزیر علیهما السلام او ملائک۔

**تفسیر**:- ۵۸ شکوی او جواب شکوی او د تخویف اُخروی نه پس د تبلیغ د طریقے تعلیم ورکړے شو چه که څوک مشرکان د سختئ او بد زبانئ سلوک اوکړی نو بیا هم تاسو نرمی اختیار کړئ ځکه چه شیطان د بنی آدم علانیه او ښکاره دشمن دے هغه په معمولی خبرو سره فسادونه پیدا کوی نو دا به د تبلیغ په اشاعت کښ مانع اوګرځی۔ دے د پاره د توحید مسئله او حشر نشر دلائلو سره دوا ضح کولو په وخت

دَ خبرو انداز نرم او ناصحانه اختیار کړه - اذا اردتم ایراد الحجة علی المخالفین فاذکروا تلك الدلائل بالطریق الاحسن وهو ان لایکون ذکر الحجة مخلوطاً بالشتم والسب۔ (کبیر ج ۵ ص ۶۰۳)

۵۲ف دا په توحید بانې ځلورم دلیل عقلی دے - د زمکے او آسمان ټول څیزونه صرف الله تعالیٰ ته معلوم دی چه کله هغه عالم الغیب دے نو په مصیبتونو او حاجتونو کښې صرف هغه رابلئ۔ مونږ پیغمبرانوته عزت ورکړو او ځنوته مو په ځنو بانو غوره والے ورکړو۔ وَاٰتَیْنَا دَاوٗدَ زَبُوْرًا - داؤد علیه السلام ته مو زبور ورکړو چه په هغے کښې د الله تعالیٰ د حمد او ثنا او دُعا او رابللو ذکر ؤو۔ الزبور کتاب لیس فیها حلال ولاحرام ولاحدود وانما هو دعاء وتحمید وتمجید۔ (قرطبی ج ۱۰ ص ۲۷۸) د بعض انبیاء علیهم السلام په بعضو نورو بانـدِ د غوره کولو سلسله کښې ئے خصوصیت سره دَ زبور ذکر ځکه اوکړو چه په زبور کښې د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د خاتم النبیین کیدلو ذکر ؤو۔ وخصّ داؤد بالذکر هنا لانه تعالیٰ ذکر فی الزبور ان محمدًا خاتم الانبیاء وان امته خیر الامم۔ (بحر ج ۲ ص ۵۰)

۵۳ف دا دَ دلیل مذکور ثمره ده چه په ټول هرڅه بانې عالم الله تعالیٰ دے نو د هغه نه سوا هیڅوک ته په حاجتونو او مشکلاتو کښې چغه مه وهئ۔ که اطمینان مو نه کیږی نو چه تاسو کوم د الله تعالیٰ نه سوا حاجت روا او کارساز ګنړلی دی دَ هغوی نه هیڅوک هم ستاسو د موجوده مصیبتونو لرے کولو او د راتلونکو تکلیفونو دلرے کولو هرګز اختیار نه لری۔ کوم انبیاء علیهم السلام او اولیاء او ملائکے چه تاسو کارساز، مختار او متصرف ګنړلی دی د هغوی خپل حال خو دا دے چه د هغوی نه څوک هرڅومره چه د الله تعالیٰ زیات مقرب دی هغومره الله تعالیٰ ته دَ زیات نه زیات نزدیکت تلاش کوی۔ هغوی هر وخت د الله تعالیٰ د رحمت امیدوارا و دَ هغهٔ د عذاب نه ویریدونکی او لړزیدونکی دی۔ اَیُّهُمْ کښې اَیٌّ موصوله دے او د یَبْتَغُوْنَ د ضمیر فاعل نه بدل البعض دے او د اُولٰٓئِكَ الَّذِیْنَ نه مراد هغه انبیاء او ملائکه علیهم السلام دی چاته چه په مشرکانو آوازکولو او رابلل به ئے۔ ای اولئك الذین ای المعبودون یطلب من هو اقرب منهم الوسیلة الی الله تعالیٰ بطاعته فکیف الابعد الخ (روح ج ۲ ص ۹۲) دا آیت د حضرت عُزیر او حضرت عیسیٰ علیهما السلام او ملائکو باره کښې نازل شو۔ یهودیانو به حضرت عُزیرؑ او عیسایانو به حضرت عیسیٰؑ او حضرت مریمؑ او مشرکانو به فرشتے او نور بزرګان کارساز ګنړل۔ د دوی په رد کښې دا آیت نازل شو۔ وهم الملائکة وعیسیٰ وعزیر الخ (مدارك ج ۲ ص ۲۴۵) ای دعوا الذین تعبدون من دون الله وزعمتم انهم الهة وقال الحسن الملائکة وعیسیٰ وعزیرا (قرطبی ج ۱۰ ص ۲۷۹) قال ابن عباسؓ فی عزیر والمسیح وامه ...... والمعنی ادعوهم فلا یستطیعون ان

یکشفوا عنکم الضر من مرض او فقر او عذاب ولا ان یحولوه من واحد الی واحد اخر او یبدلوه الخ (روح ج ۶ ص ۱۵)

# تحقیق دَ لفظِ وَسیله

وَسِیْلَةٌ په وزن د فعیلة نه مراد نیك اعمال او طاعت خداوندی دے که سره چه د الله تعالیٰ نزدیکت حاصل وی. امام الوسی او ابوالسعود فرمائی: (الوسیلة) القربة بالطاعة والعبادة (روح - ج ۵ ص ۹۸، ابوالسعود ج ۵ ص ۵۰۱) - د حضرت قتادةؒ نه هم دا منقول دی. والوسیلة هی القربة کما قال قتادة (ابن کثیر ج ۳ ص ۴۷) قال قتادة ای تقربوا الیه بطاعته والعمل بما یرضیه (ایضًا ج ۲ ص ۵۲) علامه الوسیؒ بل ځائے کښ فرمائی - هی فعیلة بمعنی ما یتوسل به ویتقرب الی الله عزوجل من فعل الطاعات وترک المعاصی من رسل الی کذا ای تقرب الیه بشیء الخ (روح - ج ۶ ص ۱۲۴)

د قرآن مجید د نصوصو نه هم حقیقت واضح دے چه ایمان بالله، ایمان بالرسول او اتباع رسول ﷺ د قرب خداوندی وسیله ده. ارشاد دے - رَبَّنَآ اِنَّنَا سَمِعْنَا مُنَادِيًا يُّنَادِيْ لِلْاِيْمَانِ - تا - فَاغْفِرْ لَنَا ذُنُوْبَنَا وَكَفِّرْ عَنَّا سَيِّاٰتِنَا الاٰية (آل عمران ع ۲۰) بل ځائے ارشاد دے: اِنَّهٗ كَانَ فَرِيْقٌ مِّنْ عِبَادِيْ يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَآ اٰمَنَّا فَاغْفِرْ لَنَا وَارْحَمْنَا وَاَنْتَ خَيْرُ الرّٰحِمِيْنَ ۝ (مؤمنون ع ۶) دے دوارو آیتونو کښ د ایمان والو د دُعا ذکر دے چه دغوی ایمان بالله وسیله اوګرځوله - د الله تعالیٰ نه د بخښنے دُعا غواړی - بل ځائے ارشاد دے: رَبَّنَآ اٰمَنَّا بِمَآ اَنْزَلْتَ وَاتَّبَعْنَا الرَّسُوْلَ فَاكْتُبْنَا مَعَ الشّٰهِدِيْنَ ۝ (آل عمران ع ۵) دے ایت کښ د حضرت عیسیٰ علیه السلام حواریون د ایمان بالکتاب او اتباع رسول وسیلے سره دُعا غوښتلے ده -

حدیث شریف کښ راغلی چه تیره شوے زمانه کښ درے کسانو سفر کولو چه باران شروع شو نو د ځان بچ کولو دپاره یو غار ته ننوتل - یو درون غټ کمر راوغورځیدو د غار خله ئے بنده کړه نو درے وارو د اعمال صالحه په وسیله دُعا اوکړه نو الله تعالیٰ هغه کمر بنکته اوغورځولو د غار خله ئے کهلاؤ کړه - ومن هذا الباب حدیث الثلاثة الذین اصابتهم المطر فاووا الی الغار وانطبقت علیهم الصخرة ثم دعوا الله باعمالهم الصالحة ففرج عنهم - دا حدیث په کتب صحاح کښ موجود دے.

دا رنګے که یو څوک وندی بزرګانو ته د دُعا درخواست اوکړی نو دا هم یو قسم وسیله ده او جائز ده لیکن که چرے بزرګان وفات شوے وی یا چرته لرے موجود وی نو

هغه ته غائبانه دَدُعا درخواست کول په دے خيال سره چه هغه يې اوريدي، دا جائز نه دی۔ الاستعانة بمخلوق وجعله وسيلة بمعنى طلب الدعاء منه لا شك في جوازه ان كان المطلوب منه حيا ..... واما اذا كان المطلوب منه ميتا او غائبا فلا يستريب عالم انه غير جائز وانه من البدع التي لم يفعلها احد من السلف .... ولم يرو عن احد من الصحابة رضي الله تعالىٰ عنهم - واحرص الناس على كل خير - انه طلب من ميت شيئا الخ (روح ج ٦ ص ١٢٥)

أحاديثو کښې راغلي دي چه خلق به د نبي كريم ﷺ په خدمت کښې حاضريدل او دَدُعا درخواست به ئے کولو ليکن د نبي عليه السلام دَ وفات نه پس د هيڅ يو صحابي نه هم صحيح سند سره ثابت نه دي چه هغه د نبي عليه السلام قبر له راغلے دے او ددُعا درخواست ئے کړے دے۔ د قرآن مجيد آيت ، وَلَوْ اَنَّهُمْ اِذْ ظَّلَمُوْٓا اَنْفُسَهُمْ جَآءُوْكَ فَاسْتَغْفَرُوا اللّٰهَ وَاسْتَغْفَرَ لَهُمُ الرَّسُوْلُ الآية نه يه ژوند کښې دَدُعا غوښتل مقصود دي۔ بدعتيانو دے آيت سره استدلال کړے دے چه د نبي كريم ﷺ او اولياء كرامو قبرونو له ورتلل او هغوی مخاطب کول، او دَدُعا درخواست ورته کول او وسيله جوړول جائز دي۔ که چرے دغه شان قبر ته ورتللو سره وسيله نيول جائز وے نو حضرت عُمر رضي الله عنه به دَ حضرت عباس رضي الله عنه دُعا وسيله نه نيولے بلکه د نبي عليه السلام قبر مبارك ته به ورتللے هغوی ته به ئے درخواست کولے. صحيح بخاري کښې دي چه کله به باران نه کيدل و نو حضرت عمر رضي الله عنه به حضرت عباس رضي الله عنه بهر ته راوويستلو نور مسلمانان به هم ورسره وُو نو حضرت عمر رض به الله تعالىٰ ته درخواست او عاجزی کوله : اَللّٰهُمَّ اِنَّا كنا نتوسل اليك بنبيك صلى الله عليه وسلم فتسقينا وانا نتوسل اليك بعم نبيك فاسقنا فيسقون ـ "اے الله! اول به مونږ ستا دَ پيغمبر صلى الله عليه وسلم په توسّل سره باران غوښتلو نو تا به باران اُوروَلو ـ اوس مونږ ستا د پيغمبر ﷺ د تره په توسّل سره د باران دُعا غواړو۔" دينه معلومه شوه چه د نبي عليه السلام دَ دُعا توسل پس د وفات نه جائز وے نو صحابه كرامو رض به دا اعلىٰ توسل پريښودلو سره د حضرت عباس رض په توسل دُعا نه غوښتلے۔ لو كان التوسل به عليه الصلوة والسلام بعد انتقاله من هذه الدار لما عدلوا الى غيره الخ (روح ج ٦ ص ١٢٦) حضرت عباس رض سره د توسل نه مطلب دا دے چه هغه به دُعا کوله او نورو به پرے آمين ويلو۔ ان العباس كان يدعو وهم يؤمنون لدعائه حتى سقوا۔ (روح۔ ج ٦ ص ١٢٧)

دغه شان "بحق فلان" دُعا غوښتل هم مکروه تحريمي ده حکه چه په الله پاك د چا هيڅ حق نشته ليکن دا سے ويل جائز دي اَللّٰهُمَّ اني اسئلك بمحبتي له وباتباعي اياه۔ دا رنگے توسل بالذات هم جائز نه دے۔ وانت تعلم ان الادعية

الماثورة عن اهل البیت الطاهرین وغیرهم من الائمة لیس فیها التوسل بالذات المکرمة صلی الله علیه وسلم (روح - ج ۶ ص ۱۲۶) توسّل بالاموات باندې ځینې احادیثو سره دلیل نیولے شی، د هغې حقیقت هم اوګورئ:

**رُومبے حدیث** جاء اعرابی الی قبر النبی صلی الله علیه وسلم فرمی بنفسه الی قبر النبی صلی الله علیه وسلم فقال جئت لتستغفر لی فنودی من القبر انه قد غفر لك - دا روایت صحیح نه دے بلکه موضوع دے. د دې راوی هیثم بن عدی دے چه هغه ته محدثینو کذاب او وضّاع ویلے دے - کان کذابا یضع الحدیث علی الثقات. (تهذیب التهذیب) یحیی بن معین ددهٔ باره کښې کوفی لیس بثقة کان یکذب - امام ابوداؤد کذاب، امام ابوحاتم، رازی نسائی او ازدی ورته متروك الحدیث او حاکم ابو احمد ورته ذاهب الحدیث ویلے دے - (الصارم المنکی ص ۳۱۰)

ابن عبد الهادی په خپل کتاب الصارم المنکی کښې لیکلی دی چه کذاب راویانو یو موضوع حدیث بیان کړے دے چه یو سړے د نبی علیه السلام قبر ته راغے ډکناهونو د بخښنې دپاره، نبی علیه السلام ئے مخاطب کولو سره وسیله جوړ کړو - دے روایت کښې ابو الجوزاء د حضرت عائشه رض نه روایت کوی - لیکن د ابو الجوزاء سماع د حضرت عائشه رض نه ثابته نه ده - قال ابن عبد البر فی التمهید ابو الجوزاء لم یسمع من عائشة شیئا.

**دویم حدیث** طبرانی روایت کړے دے چه عروة بن زبیر د حضرت صفیه رضی الله عنها نه روایت کوی چه هغوی د نبی علیه السلام د وفات نه پس ویلی وُو: "الا یا رسول الله کنت رجاءنا". د دے جواب دا دے چه د عروه سماع د حضرت صفیه رض نه ثابته نه ده ځکه چه دهغه پیدا ئش د حضرت صفیه رض د وفات نه پس شوے دے - دویمه خبره دا ده چه خطاب په یاء سره همیشه حاضر ناظر ته نه کیږی - ددے مثالونه ډیر دی مثلاً هر مانځه کښې ویلے شی اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ اَيُّهَا النَّبِيُّ - دا رنګے مقبرے ته تللو سره ویلے شی یا اهل الدیار من المؤمنین - کله چه د نبی علیه السلام صاحبزاده ابراهیم رض وفات شو نو نبی علیه السلام اوفرمائیل: انا بفراقك یا ابراهیم لمحزونون. حضرت عمر رض حجر اسود ته مخاطب کیدلو سره اوفرمائیل: انی لاعلم انك حجر الخ - یو انصاری زنانه د حضرت عثمان بن مظعون رض په وفات ویلے وُو: رحمة الله علیك یا ابا السائب - حضرت شعیب علیه السلام د خپل قوم د هلاکت نه پس اوفرمائیل: يٰقَوْمِ لَقَدْ اَبْلَغْتُكُمْ رِسٰلٰتِ رَبِّيْ - حضرت صالح علیه السلام د خپل قوم د تباهئ نه پس هغوی ته مخاطب کیدلو سره اوفرمائیل لَقَدْ اَبْلَغْتُكُمْ رِسَالَةَ رَبِّيْ الخ - علی هذا دا خطابات دی: یا ظبیات القاع قلن لنا - یا ایها اللیل الطویل - یا قبر معن -

کیف واریت جودہ. ځکه چه دوی خطابا تو نه مقصود خطاب نه دی دغه شان د حضرت صفیه رض نبی علیه السلام لره مخاطب کول سره هغوئ ته آورول هم مقصود نه وو.

## دریم حدیث

مستدرك حاکم کتاب الدعاء صفحه ۵۱۹ کښ د حضرت عثمان بن حنیف نه روایت کړی شوی دی. ان رجلا ضریر البصر اتی النبی صلی الله علیه وسلم فقال ادع الله ان یعافینی ---- اللهم انی اسئلك واتوجه الیك بنبیك صلی الله علیه وسلم نبی الرحمة الحدیث. ص ۵۲۶ باندې حاکم د دې حدیث متابعات ذکر کړی دی. دا حدیث په مسند احمد (ج ۴ ص ۱۳۸) کښ هم شته. حاکم دې حدیث ته صحیح علی شرط الشیخین ویلی دی. د دې احادیثو کښ د نبی علیه السلام د ژوند واقعه ذکر شوې ده. لیکن بیهقی او طبرانی په معجم کبیر کښ دا روایت داسې نقل کړی دی چه یو کس به حضرت عثمان بن عفان رض ته راتللو لیکن هغه به توجه نه ورکوله. آخر هغه سړی حضرت عثمان بن حنیف سره ملاو شو او خپل حال ئې بیان کړو نو هغه دا ته هغه دُعا اوښودله کومه چه نبی علیه السلام روند ته ښودلې وه. د دې دُعا کښ نبی علیه السلام سره خطاب شوی دی او وسیله کړی شوې ده حال دا دی چه دا واقعه د نبی علیه السلام د وفات نه پس ده.

د دې جواب دا دی چه د دې روایت په هر یو طریقه کښ ابو جعفر مدائنی واقع دی. د دې وجې نه امام ترمذی لیکلی دی: هذا الحدیث لا نعرفه الا من هذا الوجه من حدیث ابی جعفر وهو غیر الخطمی (ج ۲ ص ۲۰۲) امام مسلم بن حجاج، ابو جعفر مدائنی لره د ځانه حدیث جوړونکو کښ شماری. کعبد الله بن مسور ابی جعفر المدائنی وغیره ممن اتهم بوضع الاحادیث و تولید الاخبار. (خطبه صحیح مسلم ص ۵) دارنګې په صفحه ۱۶ فرمائی: ان ابا جعفر الهاشمی المدنی. کان یضع احادیث کلام حق ولیست من احادیث النبی صلی الله علیه وسلم کان یرویها عن النبی صلی الله تعالی علیه وسلم. امام نووی رح فرمائی، ابو جعفر مدینی د هغه ضعیف راویانو نه دی کوم چه د دروغو احادیث جوړوی: اما ابو جعفر هذا هو عبد الله بن مسور المدائنی ابو جعفر المدنی تقدم فی اول الکتاب فی الضعفاء الواضعین (شرح صحیح مسلم ج ۲ ص ۱۷)

امام ذهبی رح د ده متعلق لیکی چه دی په روایت کښ ثقه نه دی. امام احمد بن حنبل رح فرمائی چه د ده احادیث موضوعی دی. هغه د ده نه روایت کول پریښی دی او عبد الرحمن بن مهدی به موتبر ته د عبد الله بن مسور حدیث نه بیانولو. امام نسائی او دارقطنی ویلی دی چه عبد الله بن مسور متروك الحدیث دی. امام رقبه وائی چه هغه په نبی علیه السلام باندې ډیر احادیث د ځانه جوړ کړی دی. عبد الله بن مسور بن عون بن جعفر بن ابی طالب ابو جعفر المدائنی لیس بثقة، عن رقبة ان عبد الله بن مسور المدائنی

وضع احادیث علی رسول الله صلی الله علیه وسلم ، قال احمد ترکت احادیثه و ابن مهدی لا یحدث عنه وقال النسائی والدارقطنی متروك (میزان الاعتدال ج ۲ ص ۵۰۴) امام نووی رح په شرح مسلم کښې (ج ۲ ص ۱۷) بانډې لیکي : اما ابوجعفر هذا فهو عبد الله بن مسور المدائنی ابوجعفر المدائنی تقدم فی اول الکتاب فی الضعفاء الواضعین۔ امام بخاری رح فرمائي : هو عبد الله بن مسور بن جعفر بن ابی طالب ابوجعفر القرشی الهاشمی (تاریخ کبیر) ددے حوالو نه معلومه شوه چه د جرحے او تعدیل اماماننو ابوجعفر لره کذاب او وَضّاع گرځولے دے۔ لهذا د حاکم دے حدیث ته صحیح ویل غلط او دده د مشهور تساهل نه ناشناسی ده۔

امام ابن تیمیه فرمائي : د نبی علیه السلام په ژوند اندې کښې نبی علیه السلام لره شفیع گرځولو سره هغوئ ته د دُعا درخواست کولو په جواز کښې هیڅ اختلاف نشته۔ او د طبرانی کوم روایت چه په عموم استشفاع بانډې هغې سره استدلال کوی نو هغه ضعیف دے۔ بل دا چه هغه د عثمان بن حنیف رض رائے ده د نبی علیه السلام حکم نه دے او عثمان بن حنیف رض هم د نبی علیه السلام الفاظو سره د تبرك په طور د دے دُعا تلقین کړے وو نه چه په طور د استغاثے۔

در صواعق الهیه است از ابن تیمیه در جواز استشفاع از آنحضرت صلی الله علیه وسلم در حالت حیات نزاع نیست۔ و در روایت طبرانی که عموم حکم استعمال این دُعا از آنکه بیان کنند ضعیف است از جهت ضعف روح (نام راوی) و مع هذا آن رائے عثمان بن حنیف است بدون امر نبی صلی الله علیه وسلم و آنکه نیز به قصد تبرك الفاظ نبی صلی الله علیه وآله وسلم نه بقصد استغاثه۔

ددے نه علاوه حرف نداء سره هر ځائے خطاب او منادی ته رسیدل چه (وا ن کولے شي) اوریدل مقصود نه وی بلکه اکثر داسے کیږی چه منادی غائب د نصب العین په طور بانډې یعنی حاضر فرض کولو سره حرف نداء استعمالولے شي۔ لکه د دویم حدیث په جواب کښې ددے بے شماره مثالونه ذکر شوی دی۔ بعض وخت د حکایت په طور حرف نداء استعمالولے شي لکه چه په التحیات کښې ویلے شي : اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ اَيُّهَا النَّبِيُّ الخ۔ حضرت عثمان بن حنیف رض هم ړوند ته د حکایت په طور یا د نصب العین په طور د دے دُعا تلقین کړے وو۔ دا ټول بحث په هغه صورت کښې دے چه کله دا روایت صحیح او و منلے شي لیکن علامه الوسی رح صفا لیکي چه د نبی علیه السلام د وفات نه پس د حضرت عثمان بن حنیف رض ړوند ته تلقین د دُعا واقعه بیخي موضوع ده۔

**څلورم حدیث** تَوَسَّلَ اٰدَمُ بِعَلِیٍّ وَفَاطِمَةَ وَالْحَسَنِ وَالْحُسَیْنِ رضی الله عنهم (مجمع الزوائد) یعنی حضرت آدم علیه السلام د حضرت علی، فاطمے، حسن او حسین رضی الله عنهم په وسیله سره دُعا غوښتے ده۔

**جواب** :- ددے روایت تخریج دارقطنی کړے دے۔ د دے کښې عمرو بن ثابت بن

هرمز منفرد دے چه چیر لوئے لښکر د کوفې شیعه او کذاب او وضاع وو. تفرّد بها عمرو بن ثابت بن هرمز وهو من الشیعة الغلاة الکذابین الوضاعین امام عبد الله بن مبارک فرمائی: لا تحدثوا عن عمرو بن ثابت فانه کان یسب السلف. یحیی بن معین وائی: هو غیر ثقة. امام بخاری فرمائی: لیس بالقوی امام ابو داؤد فرمائی: رافضی خبیث کان من شرار الناس. امام نسائی فرمائی: متروك لیس بثقة ولا مامون. (تهذیب التهذیب)

**پنځم حدیث**

اصابهم قحط فی زمن عمر فجاء رجل الی قبر النبی صلی الله علیه وسلم فقال یارسول الله استسق للامة فاتاه رسول الله صلی الله علیه وسلم فقال له ائت عمر فقل له ان الناس یسقون (بیهقی، ابن ابی شیبة)

**جواب:-** اول خو دا معلومه نه ده چه قبر له ورتلونکے څوك دے. هغه مجهول الحال والاسم دے. معلومه نه ده چه ثقه دے یا غیر ثقه.

دویم دا که چرته دا واقعه صحیح وے او د نبی علیه السلام په قبر باندې دغه شان استشفاع جائز وے نو حضرت عمر به د نبی علیه السلام د وفات نه پس حضرت عباس بهر ته نه بوتلو او د باران کیدلو د پاره به ئے هغه ته د دعا درخواست او په هغه سره توسل نه کولو او نه به ئے دا وئیل چه نبی علیه السلام په مونږ کښې موجود نه دے نو ځکه مونږ د هغوی تره حضرت عباس سره توسل کوو.

**دریم:-** د دے روایت په سند کښې سیف بن عمرو ضبی دے چه د محدثینو په اتفاق ضعیف او متهم دے په زندقه سره هغه به دروغ حدیثونه جوړول. امام ذهبی وائی: هو کالواقدی. امام ابو داؤد وئیلے دی: لیس بشیئ. ابو حاتم رازی وئیلے دی: متروك. ابن حبان وائی: اتهم بالزندقة. ابن عدی وائی: عامة حدیثه منکرا. امام ابن نمیر وائی: کان سیف یضع الحدیث وقد اتهم بالزندقة. (میزان الاعتدال)

حافظ ابن تیمیه فرمائی چه د وفات نه پس د نبی علیه السلام مزار ته ورتللو سره استشفاع جائز نه ده. دا کار په سلفو کښې هیچا هم نه دے کړے. اما دعاء الرسول وطلب الحوائج منه صلی الله علیه وسلم وطلب شفاعته عند قبره بعد موته فهو مالم یفعله احد من السلف. (القاعدة الجلیلة ص ۵۶)

د بعض صحابه او تابعینو نه نقل دی: اللهم انی اسئلك بنبیك محمد. د دے نه مراد بایمان نبیك محمد یعنی څه ایمان بالرسول وسیله گرځوم لکه چه مخکښې تیر شویدی.

**شپږم حدیث**

اذا اعیتکم الامور فعلیکم باهل القبور فاستعینوا باهل القبور. کله چه تاسو د مشکلاتو نه عاجزه شئ نو اهل قبور

سره استمداد کوئي -

**جواب** :- دا حدیث موضوع دے او حضرت پیغمبر صلی الله علیه وسلم باندې افتراء ده. دَ حدیث په یو معتبر کتاب کښې د ده نام ونشان نشته - هو حدیث مفتری علی رسول الله صلی الله علیه وسلم باجماع العارفین بحدیثه لم یروه احد من العلماء ولا یوجد فی شئ من کتب الحدیث المعتمدة (روح - ج ۶ ص ۱۲۸)-

لیکن بحرمت فلان (د فلانکی په حرمت) دُعا غوښتلو کښې هیڅ کلام نشته - دا د تپولو په نزد جائز دے خو دیکښې هم تفصیل شته کوم چه لاندے لیکلے شوے دے -

که چرے د "بحرمة فلان" ویونکی عقیده داوی چه اولیاء کرام او انبیاء علیهم السلام اوازونه آوری او حاجت روائي کولے شي نو دے عقیدے والا دا ویل شرک دے جائز نه دے او که عقیده ئے شرکیه نه وی او د هغه تپول کتابونه د شرک او بدعت د تردید نه ډک وی او د هغه په یو کتاب کښې دا کلمات راغلے وی نو د هغے توجیه د کتاب الله او سنت رسول صلی الله علیه وسلم مطابق کول ضروری دی. بعض خلق دا توجیه کوی چه اے الله! ځکه گنهګاریم فلانے ولی یا نبی ستا مقرب او محبوب دے د هغه په وجه ما معاف کړه - دا بالکل بے معنے خبره ده ځکه چه فلانے پیغمبر یا ولی خو د الله محبوب دے نو د الله مجرم ولے معاف کړي. دا داسے ده لکه چه یو قاتل سیشن جج (قاضی) ته اووائی چه زه مجرم یم او دا ستاسو خوږ خوئے دے، تاسو ما معاف کړئ - دا توجیه بالکل غلطه ده. دَ دے صحیح توجیه دا ده چه اے الله! ځما د فلانی ولی یا پیغمبر سره محبت دے او ځه د هغه تابعداری کوم - دا محبت فعل قلبی دے او تابعداری فعل دَ جوارحو دے گویا چه دخپل زړه فعل یا د اندامونو فعل د الله تعالی په وړاندے د وسیلے په شکل پیش کول دخپلو اعمال صالحه ؤ وسیله کیدل دَ قرآن مجید او صحیح احادیثونه صفا ثابته ده. سورة آل عمران کښې وَاتَّبَعْنَا الرَّسُوْلَ فَاكْتُبْنَا مَعَ الشّٰهِدِيْنَ ۝ او په سورة انعام کښې او ومه پاره اوله صفحه باندې دی: يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَآ اٰمَنَّا فَاكْتُبْنَا مَعَ الشّٰهِدِيْنَ ۝ دے دواړو ایتونو کښې اتباع او ایمان وسیله گرځولے شوے ده - معلومه شوه چه د پیغمبر اتباع وسیله ده او دارنګے د غار والا حدیث نه د اعمال صالحه وسیله نیول معلومیږی لیکن دا ضروری ده چه قائل په توحید او سُنت باندې پوخ وی، د شرک او بدعت نه بیزاره وی - لکه چه شاه ولی الله او مولانا اسماعیل شهید او مجدد الف ثانی رحمهم الله وغیرهم - نو دداسے بزرګان دین نه چه دا قسم کلمات نقل شوی دی د هغے توجیه کړے شوے ده -

لهٰذا دے بزرګانو باندې چه څوك طعن لګوی چه دائے ولے لیکلی دی بالکل غلط ئے لیکلی دی هر کلمه چه ددے عبارت توجیه د قرآن او سنت مطابق کیدے شي

نو طعن لګول بې معنے دی لیکن ضروری دا چه عوام الناس ته د دے قِسم سبق ورکول بهتر نه وی ځکه چه د دے زمانه کښې شرک او بدعت عام دے ، د دے نه خلق غلطه فائده اخلی - دا رنګے د قرآن مجید تو لے دُعا ګانے او د صحیحو احادیثو دُعا ګانے د دا سے عبارت نه خالی دی - (عن افادات شیخ القرآن مولانا حسین علی مرحوم)

**ف ۵۵** دا تخویف دنیوی دے - دا فیصله بالکل قطعی ده او لوح محفوظ کښې لیکلې شوې چه د قیامت نه مخکښې به مونږ هر یو کلے تباه کړو یا به ئے په ډیر سخت عذاب کښې مبتلا کړو ، د پاره د دے چه مشرکانو ته معلومه شی او د مؤمنانو شرح صدر اوشی او اطمینان حاصل شی چه د الله نه سوا هیڅوک پناه ورکونکے او د مصیبتونو نه ساتونکے نشته - او مشرکان چه څوک د خپلو کلو ربانو او نورو محافظ او پناه ورکونکی ګنړی هغوی عاجزه دی - حضرت شاه عبد القادر دهلوی رح فرمائی " د هر ښار خلق د یو مشر خدمت کوی چه مونږ د هغهٔ رعیت یُو او د هغهٔ په پناه کښې یُو خو چه کله وخت راشی نو هیڅ ته به څوک پناه ورنکړے شی - لَا عَاصِمَ الْيَوْمَ مِنْ اَمْرِ اللّٰهِ اِلَّا مَنْ رَّحِمَ ط ؞

وَمَا مَنَعَنَآ اَنْ نُّرْسِلَ بِالْاٰيٰتِ اِلَّآ اَنْ كَذَّبَ بِهَا

او مونږ نه ده منع کړے وجے نه بند کړے معجزے رالیږل چه مخکښو دروغ

الْاَوَّلُوْنَ ط وَاٰتَيْنَا ثَمُوْدَ النَّاقَةَ مُبْصِرَةً فَظَلَمُوْا بِهَا ط

اوګنړلے او مونږ ورکړه ثمود ته اوښه ده هغوی د پوهولو د پاره بیا ئے ظلم اوکړو هغے باندے

وَمَا نُرْسِلُ بِالْاٰيٰتِ اِلَّا تَخْوِيْفًا ﴿۵۹﴾ وَاِذْ قُلْنَا لَكَ

او معجزے چه مونږ رالیږو ف۵۶ نو د ویرولو د پاره ف او کله چه او وئیل مونږ تا ته ف۵۸

اِنَّ رَبَّكَ اَحَاطَ بِالنَّاسِ ط وَمَا جَعَلْنَا الرُّءْيَا الَّتِيْٓ

چه ستا رب بیشکه ګیره کړے ده د خلقو نه او هغه ښودنه چه مونږ تا ته اوښودله

اَرَيْنٰكَ اِلَّا فِتْنَةً لِّلنَّاسِ وَالشَّجَرَةَ الْمَلْعُوْنَةَ فِي

نو د امتحان د پاره د خلقو او همدا رنګے هغه وُنه چه هغے باندے لعنت دے په

ع ۶ / ۸ الْقُرْاٰنِ ط وَنُخَوِّفُهُمْ فَمَا يَزِيْدُهُمْ اِلَّا طُغْيَانًا كَبِيْرًا ﴿۶۰﴾ ع

قرآن کښې او مونږ ویروو نو د هغوی سرکشی نوره هم زیاتیږی ف۵۹

وَإِذْ قُلْنَا لِلْمَلٰٓئِكَةِ اسْجُدُوْا لِاٰدَمَ فَسَجَدُوْٓا اِلَّآ اِبْلِيْسَ ط

او هر کله چه مونږ اُووئیل فرشتو ته چه سجده اوکړئ ادم ته نو په سجده پریوتلے خو ابلیس ،

قَالَ ءَاَسْجُدُ لِمَنْ خَلَقْتَ طِيْنًا ﴿٦١﴾ قَالَ اَرَءَيْتَكَ هٰذَا

وے وئیل ایا څه سجده اوکړم هغه چاته چه تا پیدا کړو د خټے نه ۔ بیا وئیل ښه دے نو ته گوره دا کس

الَّذِيْ كَرَّمْتَ عَلَيَّ لَئِنْ اَخَّرْتَنِ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ

کوم چه تا څما نه بهتر کړو ، که چرے ته ما ته وخت راکړے تر د قیامت د ورځے پورے

لَاَحْتَنِكَنَّ ذُرِّيَّتَهٗٓ اِلَّا قَلِيْلًا ﴿٦٢﴾

نو څه به ئے د هغه اولاد تباه کړم خو لږ شان ۔

**نکات:-** په دریم ایت د معجزے ۱۲

**موضح قرآن**

**ف۱** یعنی هدایت معجزے پورے موقوف نه دے **ف۲** یعنی کله چه ئے دا اُووئیل چه رب خلقو لره په خپله گیره کښے راوستی دی نو اخر خلق به ټول مسلمانان شی نو بیا معجزے ولے غواړی او هغه بنودنه د معراج وه چه خلق پرے اُزمائیلے شو ۔ ډیښتونو او منل او دروغژنو دروغ اُوگنړل ۔ او ونه لعنتی د زقوم ونه د ۔ په قرآن کښے ئے اُوفرمائیل چه دوزخیان به ئے خوری ۔ ایمان والاؤ یقین اوکړو او منکرینو اُووئیل چه په اُور کښے شنه ونه څنګه کیدے شی ۔ دا هم امتحان او ازمائش وو **ف۳** یعنی د الله تعالٰی په حکم کښے د کافرانو شیطے راوبستل چه د کافرانو بوعادت دے دا هم د شیطان طریقه ده ۔ **ف۴** یعنی د خپل ځان تابع به ئے کړم لکه چه آس ته واړے اچولے شوے وی ۔

**تفسیر:-** **۵۶** وَمَا مَنَعَنَآ اَنْ نُّرْسِلَ الخ دا دریم ایت دے د معجزے او تخویف دے او سُبْحٰنَ الَّذِيْٓ اَسْرٰى بِعَبْدِهٖ سره متعلق دے ۔ مشرکان به بیا بیا معجزے طلب کوی لیکن مونږ معجزے ځکه نه ښکاره کوو چه د معجزے لیدلو سره هم دوی انکار اوکړی نو هلاک کولے به شی لکه څنګه چه مخکنو قومونو د معجزاتو نه پس هم انکار اوکړو د توحید نه نو هغوی هلاک کړے شول ۔ لکه قوم ثمود د صالح علیه السلام نه مطالبه اوکړه چه که چرے د فلانی گټ نه اُوښه راوباسے نو مونږ به تا سو باندے ایمان راوړو ۔ الله تعالٰی د گټ نه اُوښه راوویستله لیکن هغوی خپله فرمائشی معجزه لیدلو سره هم ایمان راونړلو نو هغوی سمدستی هلاک کړے شول ۔ اے د مکے مشرکانو ! اُوس مونږ د اسراء معجزه ښکاره کړیده که د دے پس ئے هم

نه مني نو هلاک به کړے شي - فان لم یؤمن قومک بعد ارسال الأیت اهلکنٰهم لان من سنتنا في الامم اذا سألوا الأیت ثم لم یؤمنوا بعد اتیانها ان نهلکهم ولا نمهلهم الخ (خازن - ج ۳ ص ۱۷۵)

**ف ۵۷** د اَلْاٰیٰتِ نه معجزات مراد دي یعني معجزے د ویرولو دپاره ظاهروُلے شي دے دپاره چه د خلق د ایمان نه راوړلو په صورت کښ د عذاب نه اُویرېږي شي -

**ف ۵۸** مونږ تا سوته اُووئیل چه اوس په مشرکانو باندې عذاب راتلونکے دے حکه چه هغوی یوه عظیم الشانه معجزه د اسراء اُولیدله اوبیا هم ایمان راوړلو ته تیار نشول . نو اُوس د دوی د هلاکت وخت نزدے دے - اَلرُّءْیَا نه د معراج واقعه مراد ده - د معراج واقعه چونکه د عالَمِ بالاسره تعلق لري چه هغه د دے عالَمِ دنیا په اعتبار سره خوب دے نو حکه رُؤیا اُوویلے شو - لهٰذا د دے نه دا گنړل نه دي پکار چه معراج جسماني نه وُو بلکه رُوحاني وُو - د عربو په محاوره کښ د دے استعمال موجود دے چه کوم څه بیدارئ کښ په سترګو اولیدلے شي په هغې باندے د رُؤیا اطلاق کولے شي - عن ابن عباس رض قال هي رؤیا عین اریها رسول الله صلی الله علیه وسلم لیلة اسري به بیت المقدس (قرطبی - ج ۱۰ ص ۲۸۲) والعرب تقول رأیت بعیني رؤیة ورؤیا - (خازن) والمراد بالرؤیا ما عاینه علیه الصلوٰة و السلام لیلة المعراج من عجائب الارض والسماء حسبما ذکر في فاتحة السورة الکریمة والتعبیر عن ذلک بالرؤیا اما لانه لا فرق بینها وبین الرؤیة او لانها وقعت باللیل الخ (ابو السعود - ج ۵ ص ۲۰۷)

یعني د معراج معجزه یو ازمائش وُو دپاره د دے چه ظاهره کړے شي چه څوک مني او څوک نه مني - اَلشَّجَرَةَ الْمَلْعُوْنَةَ یعني د زقوم وُنه چه د هغې ذکر په قرآن مجید کښ بل ځائے موجود دے - اِنَّ شَجَرَتَ الزَّقُّوْمِ طَعَامُ الْاَثِیْمِ کَالْمُهْلِ یَغْلِیْ فِي الْبُطُوْنِ (رکوع ۲) هغه هم د خلقو دپاره یو ازمائش دے - مؤمنان د هغې په موجودوالي ایمان لري او کافران عنادیان وائي چه په دوزخ کښ وُنه څنګه پیدا کیدے شي حکه چه محمد صلی الله علیه وسلم پخپله وائي چه د دوزخ اور به کاڼي هم سوزوي - جعلوها سخریة وقالوا ان محمدا یزعم ان الجحیم تحرق الحجارة ثم یقول تنبت فیه الشجرة - (مدارک ج ۳ ص ۲۴۷)

**ف ۵۹** د آدم او ابلیس قصه ئے ذکر کړه دے بنودل چه شیطان ستاسو دشمن دے د هغه د مکر او فریب نه خبردار شئ ، د هغه تابعداري کولو سره که په شرک کښ ګرفتار نشئ - د اسراء معجزه دے دپاره بنکاره کړے شوه چه تاسو د توحید مسئله اومنئ لیکن ګورئ د شیطان نه هوښیار اُوسئ هسے نه چه هغه ستاسو په زړونو کښ وسوسے او شبهات اچولو سره تاسو د توحید د لارے نه اُوخویوي - ف اَرَءَیْتَکَ الخ دینه د آدم علیه السلام او د هغه د اولاد سره د شیطان دشمني ظاهرېږي -

شیطان الله تعالیٰ ته اُووئیل: اے الله! که چرے ته ما ته تر قیامته پورے مهلت راکړے نو حتمًا به د دے آدم چه تا ورته ما باندے غوړ والے او عزت ورکړ بیدے اولاد گمراه کړم او دهغوی بیخ بنیاد به اُوباسم او ډیرکم خلق به څما د مکر او فریب نه بچ پاتے شی. لَاَحْتَنِكَنَّ - لأستأصلنهم با غوائهم (مدارک) یعنی گمراه به ئے کړم او تباه به ئے کړم.

قَالَ اذْهَبْ فَمَنْ تَبِعَكَ مِنْهُمْ فَإِنَّ جَهَنَّمَ جَزَآؤُكُمْ

وے فرمائیل لاړشه نو بیا چه څوک ستا تابعداری وکړی د هغوی نه نو دوزخ د ے ستاسو بدله

جَزَآءً مَّوْفُوْرًا ﴿۶۳﴾ وَاسْتَفْزِزْ مَنِ اسْتَطَعْتَ مِنْهُمْ

پوره بدله. او راگیر کړه د هغوی نه څوک مره چه ته راگیر ولے شے

بِصَوْتِكَ وَأَجْلِبْ عَلَيْهِمْ بِخَيْلِكَ وَرَجِلِكَ وَ

خپل آواز (رابللو) سره او راولے په دوی باندے خپل سوارۀ او پیاده او

شَارِكْهُمْ فِي الْأَمْوَالِ وَالْأَوْلَادِ وَعِدْهُمْ ۚ وَمَا

شریک شه دوی سره په مال او اولاد کښ او وعده ورسره او کړه او هیڅ

يَعِدُهُمُ الشَّيْطٰنُ إِلَّا غُرُوْرًا ﴿۶۴﴾ إِنَّ عِبَادِيْ لَيْسَ

وعده نکوی دوی سره شیطان مګر دهوکه. هغه چه څما بندګان دی نشته

لَكَ عَلَيْهِمْ سُلْطٰنٌ ۚ وَكَفٰى بِرَبِّكَ وَكِيْلًا ﴿۶۵﴾ رَبُّكُمُ

هغوی باندے ستا حکومت لله او ستا رب کافی دے کارساز. ستاسو رب

الَّذِيْ يُزْجِيْ لَكُمُ الْفُلْكَ فِي الْبَحْرِ لِتَبْتَغُوْا مِنْ

هغه دے چه چلوی تاسو دپاره کشتئ لره په دریاب کښ دپاره د دے چه تلاش کړی د هغه

فَضْلِهٖ ۚ إِنَّهٗ كَانَ بِكُمْ رَحِيْمًا ﴿۶۶﴾ وَإِذَا مَسَّكُمُ الضُّرُّ

فضل، بیشکه هغه دے په تاسو مهربانه لے او کله چه راشی تاسو باندے آفت

فِي الْبَحْرِ ضَلَّ مَنْ تَدْعُوْنَ إِلَّا إِيَّاهُ ۚ فَلَمَّا نَجّٰىكُمْ

په دریاب کښ هیریږی هغه څوک چه تاسو رابلئ د الله نه سوا بیا کله چه تاسو ته خلاصے درکړی

إِلَى الْبَرِّ أَعْرَضْتُمْ ۚ وَكَانَ الْإِنسَانُ كَفُورًا ﴿٦٧﴾

په وچه کښې نو څنګ کوئ، او دے انسان ډیر ناشکره۔

**نکات:** ۱ے توحید بانډې پنځم عقلی دلیل۔

**موضح قرآن**

**ف۱** په مال کښې شریک دا چه د بتانو منښته نذر نخپل مال کښې فرض کنړی او په اولاد کښې دا چه اُووائی چه دا ئیو فلانی رانخښلے دے او دا بل فلانی راکړیدے۔ **ف۲** د هغه فضل یعنی رزق۔ رزق ته اکثر په قرآن کښې فضل ویلے شوے دے۔ د فضل معنی ده زیاتوالے۔ نو د مسلمان عبادت دے د آخرت دپاره او دُنیا ملاویږی زیاتی۔ نو کشتئ شړلے شی یعنے په دریاب کښې، خپل زور نه چلیږی بانس یا چپو (سنګا ونړ) وهلو سره لیکن هوا د هغه په اختیار کښې ده۔

**تفسیر:** ۔ **۶۲** الله تعالی اوفرمائیل: زه تا ته مهلت دے لیکن ستا او ستا د تابعدارو جزاء دوزخ دے۔ وَاسْتَفْزِزْ مَنِ اسْتَطَعْتَ الخ لاړشه د هغوی هرے طریقے سره د ګمراه کولو کوشش اوکړه۔ بِصَوْتِكَ، ډول، سُرنا او نور د لهو ولعب آلاتو سره۔ مجاهد الغناء والمزامیر واللهو۔ (الضحاك) صوت المزمار۔ (قرطبی ۔ ج ۱۰ ص ۲۸۸) دے شیطانی آوازونو سره هغوی اوغلوه۔ وَأَجْلِبْ عَلَيْهِم بِخَيْلِكَ وَرَجِلِكَ الخ او خپل پیاده او سورو سره دوی بانډې حمله اوکړه یعنی دوی لره د حق لارے نه ګمراه کولو دپاره هر هغه مکر او فریب استعمال کړه کوم چه کولے شے۔ فالمعنی اجمع علیهم کل ما تقدر علیه من مکایدك (قرطبی) وَشَارِكْهُمْ الخ او د دوی په مال او اولاد کښې خپله حصه مقرره کړه۔ هغوی لره په شرك بانډې آماده کولو دپاره کوشش اوکړه۔ په مال کښې د شرك نه د غیر الله نذرونه او منختے او د غیر الله په نوم تحریمات ټول مراد دی او په اولاد کښې شرکت دا دے چه د اولاد ورکړه غیر الله طرفته منسوب کړے شی۔ دا ټول چونکه شیطانی اغواء دی، په دے وجه ئے د شیطان حصه اوګرځوله۔ حضرت شاه عبدالقادر صاحبؒ فرمائی چه په مال کښې شریك حصه دار دا دے چه د بتانو منختے په خپل مال کښې فرض کنړی او په اولاد کښې دا چه دیو باره کښې وائی چه دا د فلانی بخشش دے او د بل باره کښې وائی دا د فلانی بخشش دے۔ د حضرت ابن عباسؓ، قتادهؒ او عطاءؒ نه نقل شویدی چه: شارکهم فی الاموال هو ما کان المشرکون یحرمونه من الانعام کالبحیرة والسائبة والوصیلة والحام وقال الضحاك وما کانوا یذبحونه لألهتهم (مظهری ۔ ج ۵ ص ۴۶۶، وقرطبی) او په اولاد کښې د شرك باره کښې حضرت ابن عباسؓ فرمائی: هو تسمیة الاولاد عبد الحارث وعبد الشمس وعبد العزی وعبد الدار ونحوها۔ (مظهری) وَعِدْهُمْ۔

دوهغوی ته قسم قسم شنه باغونه اوښایه او د دروغ ارزوګانو او د بے بنیاده تمناګانو
په چکر کښ ئے واچوه - مثلاً دا د دین بزرګان چه تاسو ئے عبادت کوئ او دهغوی
نذرونه نیازونه ورکوئ، د قیامت په ورځ به دا ستاسو بکار راځی او د عذاب نه به مو
خلاصوی وغیره وغیره - وَمَا يَعِدُهُمُ الشَّيْطٰنُ - دا ادخال الٰهی دے - الله تعالیٰ
د شیطانی وعدو حقیقت ظاهر کړو چه هغه ټول لکه د ځنګے یا خاورے پشان بے حقیقته
دی او مکر وفریب دے - اے د آدم اولادو! دے بانړ چه بهروسه او اعتما د
اونه کړئ -

۶۵ اے ابلیسه! ته د آدم اولاد ګمراه کولو او شرک کښ د مبتلا کولو دپاره خپلے
ټولے دهوکے استعمال کړه او د مکر او فریب ټول جالونه خوارهٔ کړه لیکن یاد لره
ځما مخلص بندګانو بانړ ستا هیڅ زور نهٔ چلیږی، ځکه د خپلو بندګانو دپاره کافی
کارساز یم - ځما بندګان کوم چه ما باندے بهروسه کوی او ستا د مکر او فریب نه
پناه لټوی ځکه به هغوی ستا د دهوکے او فریب د جال نه بچ ساتم -

۶۶ دا په توحید باندے پنځم عقلی دلیل دے - په سمندرونو او دریابونو
کښ ستاسو کشتۍ الله تعالیٰ خالص په خپل رحمت سره چلوی او د طوفان نه
بچ کولو سره ئے غاړے ته رسوی نو هغه په هر حال کښ تاسو باندے مهربانه دے
او په سمندرونو دریابونو کښ هم هغه کارساز دے نو په وچه کښ هم صرف
هغه کارساز دے - بیا د هغهٔ نه سوا نورو ولے رابلئ؟ وَاِذَا مَسَّكُمُ الضُّرُّ - دا
زجر دے کله چه په دریابونو کښ تاسو طوفانونو سره مخ شئ نو خپل خیالی
معبودان پریږدئ او خالص الله تعالیٰ ته چغه وهئ لیکن کله چه الله تعالیٰ تاسو
لره صحیح سلامت غاړے ته اورسوی نو بیا شرک کوئ او باطل معبودان
کارساز ګڼړل شروع کړئ - دا څومره لویه ناشکری ده -

اَفَاَمِنْتُمْ اَنْ يَّخْسِفَ بِكُمْ جَانِبَ الْبَرِّ اَوْ يُرْسِلَ

نو ایا تاسو بے ویرې شوی یئ ددے نه چه ننه باسی تاسو په زمکه اوچه کښ (د دریاب په غاړه) یا راولیږی

عَلَيْكُمْ حَاصِبًا ثُمَّ لَا تَجِدُوْا لَكُمْ وَكِيْلًا ﴿۶۸﴾ اَمْ اَمِنْتُمْ

تاسو باندے سخت باد وړوکی د ګانړو بیا به نهٔ مومئ تاسو خپل نګهبان - یا بے ویرے شوی یئ ددے

اَنْ يُّعِيْدَكُمْ فِيْهِ تَارَةً اُخْرٰى فَيُرْسِلَ عَلَيْكُمْ

نه چه بیا روان کړی تاسو په دریاب کښ په دویم ځل بیا د دریاب راولیږی

قَاصِفًا مِّنَ الرِّيحِ فَيُغْرِقَكُم بِمَا كَفَرْتُمْ ثُمَّ لَا تَجِدُوا

سخته تیزه هوا بیا ډوب کړی تاسو په بدله د ناشکرئ ستاسو بیا به تاسو ونه مومئ

لَكُمْ عَلَيْنَا بِهِ تَبِيعًا ﴿٦٩﴾ وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدَمَ وَحَمَلْنَاهُمْ

د خپل طرف موږ باندې هغه تپوس کوونکے لپاره او موږ عزت ورکړے دے د آدم اولاد ته او سواره کړی موږ

فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَرَزَقْنَاهُم مِّنَ الطَّيِّبَاتِ وَفَضَّلْنَاهُمْ

هغوی په اوچه او دریاب کښې او روزی مو ورته ورکړه د پاکو څیزونو نه او غوره مو کړل هغوی

ع عَلَىٰ كَثِيرٍ مِّمَّنْ خَلَقْنَا تَفْضِيلًا ﴿٧٠﴾ يَوْمَ نَدْعُوا كُلَّ

د ډیرو نه کوم چه موږ پیدا کړل غوره کول لوئ سره . کومه ورځ چه موږ راوبلو هر یو

أُنَاسٍ بِإِمَامِهِمْ ۖ فَمَنْ أُوتِيَ كِتَابَهُ بِيَمِينِهِ فَأُولَٰئِكَ

ډله ډلے د هغوی د سردارانو سره نو چاته چه ورکړے شوه د هغه عملنامه په ښی لاس نو هغه خلق به

يَقْرَءُونَ كِتَابَهُمْ وَلَا يُظْلَمُونَ فَتِيلًا ﴿٧١﴾ وَمَن كَانَ

لولی خپله عملنامه او ظلم به نه کیږی دوی باندې د یو تار او کوم چه ړوند وی په دې کښې وی او څوک

فِي هَٰذِهِ أَعْمَىٰ فَهُوَ فِي الْآخِرَةِ أَعْمَىٰ وَأَضَلُّ سَبِيلًا ﴿٧٢﴾

چه دے دنیا کښې ړوند پاتے شو نو هغه به آخرت کښې هم ړوند وی او ډیر لرے پریوتے د لارے نه

وَإِن كَادُوا لَيَفْتِنُونَكَ عَنِ الَّذِي أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ

او هغه خلقو غوښتل چه واړوی تا لره د هغه څیز نه کوم چه وحی اولیږلے موږ ستا طرف ته

لِتَفْتَرِيَ عَلَيْنَا غَيْرَهُ ۖ وَإِذًا لَّاتَّخَذُوكَ خَلِيلًا ﴿٧٣﴾

د پاره د دے چه دروغ جوړ کړی موږ باندې د وحی نه سوا او هغه وخت به دے ته نیولے دوست وی

**نکات:-** ۱ تخویف دنیوی ۲ بشارت او تخویف اُخروی ۳ د معجزے خلورم آیت .

**موضح فرقان**

**ف۱** حیوانا تو د پاره سورلی نشته نه په زمکه کښې او نه په اسمان کښې او پاک رزق دا چه د میوو نه پوستکی لرے کړل او د غلے نه بوس لرے کړل او اغیزل پخول او جوړول ئے ورته اوښودل. **ف۲** په دغه ورځ به د عمل

کاغذ والورکړے شي نيکانوته به د راښي د ښي طرفه او بدانوته د کس طرفه او د شا کا نوته. د اعلامات ته چه او ويی نونيکان به ډیر خوشالئي سره او لولي. **ف ۳۵** يعني د هدايت نه ړوند پاتے شو هغه ار تکه به په اخرت کښي د جنت د لارے نه ړوند او لار ے به ډير يوحتے وی. **ف ۳۶** کافرانو به وئيل چه د دے کلام کښي د نصيحت ښے خبرے شته ليکن هرځائے تے په شرک عيب لګولے دے. دا بدل کړی نوموږ به نے واورو.

**تفسیر ۶۳** د تخويف دنيوی دے. تاسو داخيال کوئ چه به وچه کښي تاسو د مصيبتونو او آفتونو نه محفوظ او د خپل ځانه د جوړ کړے شوو کارسازانو په پناه کښي يئ ليکن يا دلرئ چه که الله تعالى او غواړی نو زمکه به ولاندے نه او چوی او تاسو به پکښي ختم کړي يا به د ربا نديا سه نه د کانړو باران ووروی او نيست او نابود به مو کړي نو په دغه وخت کښي به ستاسو هيڅ يو خود ساخته کارساز ستاسو مدد او نکړے شي. أَمْ أَمِنتُمْ أَنْ يُعِيدَكُمْ هغه دا هم کولے شي چه تاسو د خپلو ضرورتونو د لاندے د دریاب په سفر باندے روان کړي او عين د سمندر په مينځ کښي يو هيبتناک طوفان او باد راپورته کړي او تاسو غرق کړي، د غه وخت به هم څوک خپل غمخوار او مددګار بيا نه مومئ. يعني لا تجدوا ناصرا ينصركم ويصونكم من عذاب الله ...... ولا تجدوا من يتبعنا بانكار ما نزل بكم بان يصرفه عنكم (كبير ج ۵ ص ۲۱۶)

**ف ۶۴** دا د توحيد قبلولو ترغيب دے. د آدم عليه السلام اولاد ته ئے د خپلو نعمتونو يادا شت اوکړو او د توحيد مسئله منلو ترغيب ئے ورکړو. اے د آدم اولاده! ما تاسو ته په ټولو مخلوق باندے فضيلت او غوره والے درکړو. په اوچه او لوند کښي مې درته حکومت او اقتدار درکړو او د پاک رزق بے شماره وسائل مې تاسو ته درکړل. او تاسو باندے فرض دي چه زما احسان اومنئ او زما د احسانونو شکريه ادا کړئ، ماسره هيڅوک مه شريکوئ، او زما نه سوا هيڅوک د عبادت او رابللو لائق مه ګڼرئ.

**ف ۶۵** بشارت او تخويف اُخروی دے. د قيامت په ورځ به هره يوه ډله د خپل پيشوا او مشر سره د حشر په ميدان کښي حاضره وی. د هر امت موحد او نيک مومنان به د خپلو پيغمبرانو سره حاضر وی او د هر اُمت بدکاران به د خپلو مشر کانو پيشوايانو سره حاضروی. فَمَنْ أُوتِيَ كِتَابَهُ الخ دا د اصحاب اليمين ذکر دے يعني مومنانوته به عملنامه په ښي لاس کښي ورکړے شي هغوی به ئے اولولي او خوشال به شي او ورته به د خپلو ټولو نيکو عملونو پوره پوره بدله ورکولے شي. اى ولا ينقصون من ثواب اعمالهم ادنى شيء (خازن ج ۴ ص ۱۷۱) وَمَنْ كَانَ فِي هَٰذِهِ أَعْمَىٰ الخ دا د اصحاب اليمين په مقابله کښي

د اَصحاب الشمال ذکر دے. او څوک چه په دُنیا کښې ړُوند پاتے شو او د توحید لاره ئے او نه لیدله هغه به په آخرت کښې د جنت د لارے نه ړُوند وی او د هغې نه به ډیر لرے وی ځکه چه دنیا کښې د هغه نیغ لارے ته د راتلو امکان وُو لیکن په آخرت کښې به د دے امکان هم ختم شي۔

۷۴ وَاِنْ كَادُوْا ـ تا ـ وَلَا تَجِدُ لِسُنَّتِنَا تَحْوِيْلًا ـ دا د معجزے څلورم ایت دے او سُبْحٰنَ الَّذِيْ سره متعلق دے او دیکښې درے امور ذکر شویدی. اول امر شکوی، وَاِنْ كَادُوْا لَيَفْتِنُوْنَكَ ـ نزدے وه چه مشرکانو خپل د فریب نه ډکو او د چاپلوسئ خبرو سره تا سو د نیغ لارے او ځمونږ د توحید نه لرے ښان اړولے وی لیکن مونږ تا سو ته د توحید په لاره باندے مضبوطوالے درکړو. د مشرکانو خواهش ؤ چه تاسو د هغوی د باطلو او خود ساخته معبودانو په باره کښې د نرمئ نه کار واخلئ د هغوی بد نه بیانوئ او کم نه کم دا اُووایئ چه هر یو دین صحیح دے څوک چه په کوم دین باندے وی هغه صحیح دے. که چرے تاسو دا سے اوکړئ نو هغوی به مو یا څه دوستان جوړ شي لکه چه بل ځائے ارشاد دے : وَدُّوْا لَوْ تُدْهِنُ فَيُدْهِنُوْنَ ٥ (القلم ـ ع ۱) لیکن دا قول ځما په ذات باندے افتراء ده. چه هر دین صحیح دے ځکه چه دین صحیح گرځول صرف ځما کار دے. نو څوک چه هر دین ته صحیح وائی هغه ما باندے دروغ جوړ وی. ما صرف دا د توحید والا دین اسلام صحیح او رښتونے گرځولے دے ❊

وَلَوْلَآ اَنْ ثَبَّتْنٰكَ لَقَدْ كِدْتَّ تَرْكَنُ اِلَيْهِمْ

او که چرے مونږ تا نه وے ټینګ کړے نو ته به د دوی طرف ته مائل شوے وے ۷۴

شَيْـًٔا قَلِيْلًا ﴿۷۴﴾ اِذًا لَّاَذَقْنٰكَ ضِعْفَ الْحَيٰوةِ وَضِعْفَ

لږ شان. نو هغه وخت به ئے ضرور څکولے وُو تا ته دوچنده مزه په ژوند کښې او دوچنده په

الْمَمَاتِ ثُمَّ لَا تَجِدُ لَكَ عَلَيْنَا نَصِيْرًا ﴿۷۵﴾ وَاِنْ كَادُوْا

مرګ کښې بیا به نه موندلے تا ځان د پاره مونږ باندے امداد گر څوک. او دوی خو غوښتل

لَيَسْتَفِزُّوْنَكَ مِنَ الْاَرْضِ لِيُخْرِجُوْكَ مِنْهَا وَاِذًا

چه اوبیروی تا لره ۷۶ د دے زمکے نه د پاره د دے چه راؤباسی تا د دے ځائے نه او هغه وخت

لَّا يَلْبَثُوْنَ خِلٰفَكَ اِلَّا قَلِيْلًا ﴿۷۶﴾ سُنَّةَ مَنْ قَدْ

به هغوی هم ایسار نشی ستا نه روستو مګر لږ شان. دا طریقه چلیږی ۷۷ د هغه رسولانو نه

ع
أَرْسَلْنَا قَبْلَكَ مِنْ رُّسُلِنَا وَلَا تَجِدُ لِسُنَّتِنَا تَحْوِيلًا ﴿٧٧﴾ ع

کوم چه ستا نه مخکښې لیږلی دی خپل پیغمبران او ته به بیا نه مومې زمونږ په طریقه کښې بدلون.

أَقِمِ الصَّلٰوةَ لِدُلُوْكِ الشَّمْسِ اِلٰى غَسَقِ الَّيْلِ وَقُرْاٰنَ

قائم کړه مونځ د نمر زائل کیدلو نه پس څخه تر د شپې تیاره کیدلو پورې او قران لوستل

الْفَجْرِ ۭ اِنَّ قُرْاٰنَ الْفَجْرِ كَانَ مَشْهُوْدًا ﴿٧٨﴾ وَمِنَ

د صبا بیشکه قران لوستل د صبا دی حاضر کړے شوی. او څه

الَّيْلِ فَتَهَجَّدْ بِهٖ نَافِلَةً لَّكَ ق عَسٰٓى اَنْ يَّبْعَثَكَ

شپه څخه بیدار اوسیږه په قران سره دا زیاتی (عبادت) دے ستا دپاره نزدے ده چه اودروی تا لره

رَبُّكَ مَقَامًا مَّحْمُوْدًا ﴿٧٩﴾ وَقُلْ رَّبِّ اَدْخِلْنِيْ

ستا رب په مقام محمود کښې ف۱ . او اووایه اے ربه څه داخل کړه ما لره

مُدْخَلَ صِدْقٍ وَّاَخْرِجْنِيْ مُخْرَجَ صِدْقٍ وَّ

په ښه داخلولو او وباسه ما لره په ښه ویستلو سره او

اجْعَلْ لِّيْ مِنْ لَّدُنْكَ سُلْطٰنًا نَّصِيْرًا ﴿٨٠﴾

راکړه ما ته د خپل طرفه د حکومت امداد ف۲ .

**نکات:** ـ سلـ امر مصلح ۱۲

**موضح قرآن** ف۱ یعنی د خوب نه پاسه او لوله. دا حکم د بتولو نه زیات تاته درکړے شوے دے ځکه چه مونږ تاته لویه مرتبه درکوو چه هغه د تعریف مقام دے او مقام د شفاعت دے څۀ وخت چه به یو پیغمبر هم څۀ نشي ویلے هغه وخت به نبی اکرم صلى الله عليه وسلم عرض اوکړي او خلق به د تکلیف نه خلاص شي. ف۲ د دے ښار نه م اوباسه عزت سره او په بل یو ښار کښې م کینوه عزت سره. هغوئ لره الله تعالیٰ په مدینه منوره کښې استوګنه ورکړه او د هغه ځائے خلق لئے ورله فرمانبردار جوړ کړل چه هغوی سره د دین امداد اوکړے شو.

**تفسیر** ۷۶ یعنی که مونږ تاسو ثابت قدم نه وی کړځولے نو نزدے وه چه تاسو هم لږ شان د هغوی طرفته مائل شوی وئ نو مونږ به

تاسو ته په دُنیا او اٰخرت کښې د عذاب مزه څکولے وے او هیڅ به ستاسو امداد نشوے کولے. دا امر ثانی دے او نبی کریم ﷺ ته دَ زجر په طور خطاب دے.

۶۸ دا امر ثالث دے. د معراج معجزه ظاهره کړے شوه لیکن د مکے مشرکان دے باوجود دَ توحید منلو ته تیار نهٔ شول بلکه اُوس به دوی ستاسو دَ مکے نه دَ ویستلو منصوبے جوړوی خو ستاسو نه پس به هغوی هم ډیر وخت پاتے نشی. ځکه چه زمونږ راروانه طریقه داده چه کله سرکشه قومونو پیغمبرانو ته تکلیفونه اُورسول او د وطن نه بے اُو ویستل نو پخپله ئے په خپلو ملکونو کښې په آرام سره استوګنه اونکړه بلکه ډیر زر هلاک کړے شول. د مکے والو سره به هم اوس دا معامله کولے شی لکه چه د هجرت نه پس دوه کاله لانهٔ وُو تیر شوی چه د بدر په جنګ کښې د کفر سرداران او د شرک ستنے مردار کړے شول. وَلَقَدْ اٰتَیْنَا مُوْسٰی تِسْعَ اٰیٰتٍ الخ (ع۱۲) د دے یو مثال راروان دے.

۶۹ سُنَّةَ منصوب دے او سَنَّ مقدر د پاره مفعول مطلق دے. یعنی د مکے مشرکانو سره به هم الله تعالیٰ هم هغه معامله اُوکړی کومه چه ئے د مخکنو امتونو سره کړے وه. ای سَنَّ اللہُ سُنَّةً والمعنی ان کل قوم اخرجوا رسولهم من بین اظهرهم فسنة الله ان یهلکهم بعد اخراجه ویستأصلهم ولا یقیمون بعده الا قلیلا. (بحر ـ ج ۶ ص ۶۷).

۷۰ دا جمله معترضه ده او دے کښې د امر مصلح د مانځهٔ او دَ قرآن د تلاوت ذکر دے. د اسراء د معجزے نه پس به مشرکان د توحید د مسئلے منلو په ځائے تاسو د مکے نه اُوباسی. نو تاسو مونځ قائم کړئ او خاصکر د قرآن مجید تلاوت کوئ او د تهجد و د مونځ اهتمام اوکړئ ځکه چه دا اُمور په صبر او استقامت کښې معاون دی. دے سره په مصیبتونو او آزمائښتونو کښې آسانی پیدا کیږی. لِدُلُوْكِ الشَّمْسِ الخ یعنی د زوال آفتاب او نمر زائل کیدلو نه روستو د شپے تیارهٔ خوریدلو پورے مونځ کوئ. د دے دراوړو وختونو مینځ کښې چه څومره مونځونه دی هغه پخپل وختونو کښې قائم کړئ. دیکښې د څلورو مونځونو ذکر دے. ماسپخین، ماځیګر، ماښام او ماسخوتن. د قرآن الفجر یعنی د صبا مونځ هم قائم کړه. مَشْهُوْدًا یعنی د صبا مانځهٔ کښې د شپے او د وُرځے فرشتے شریکیږی. یشهده ملائکة اللیل وملائکة النهار. (ابوالسعود ـ ج ۵ ص ۶۳۶)

۷۱ نَافِلَةً لَّكَ سره استدلال کړے شوے دے چه د تهجد و مونځ دَ پنځو مونځونو نه علاوه د امت په نسبت نبی علیه السلام باندے زیاتی فرض کړے شو چه په اُمت باندے فرض نهٔ دے: ای نافلة لك ای زیادة لك یرید فریضة زائدة علی سائر الفرائض اللتی فرضها الله علیك الخ (خازن ج ۵ ص ۱۷۳) د ځنے مفسرینو خیال دے چه د تهجد و دَ مانځهٔ وجوب نبی علیه السلام باندے

منسوخ کړے شو او د اُمت پشان ئے هغوی پاندې هم نفلي حیثیت باقي پاتې شو.
(خازن). مقام محمود د شفاعت لوئې مقام دے. (قرطبي ومنتخب) ورځ چه کله وخت
تول انبیاء علیهم السلام د ګنهګارانو د شفاعت کولو نه عذر وړاندې کړي نو حضرت
محمد صلی الله علیه وسلم به د الله تعالی په وړاندې سر په سجده کیږدي او د الله تعالی بے انتها
حمد او ثناء به اُووائي او ډیره عاجزي به اوکړي او د شفاعت اجازت به طلب
کړي. آخر به ورته د شفاعت کولو اذن ملاؤ شي. یا محمد ارفع رأسك اشفع
تشفع. دې نه پس به نبي علیه السلام الله تعالی ته عرض اوکړي چه مخلوق ته د عذاب
نه خلاصے ورکړے. دغه وخت به هر انسان د هغوی تعریف او ثناء سره تر به
لوند د (رطب اللسان) وي او الله تعالی به هم د هغوی تعریف اوکړي ګویا چه د
شان محمدي پوره پوره اظهار به دغه وخت اوکړے شي. همدا هغه مقام
دے چه یکښې به لواء الحمد (د الله تعالی د حمد جهنډه) د نبي کریم صلی الله علیه وسلم
په لاس مبارک کښې وي. (مدارك، کبیر وغیره)

**۲۷** دا امر ثالث دے. وَاِنْ كَادُوْا لَیَسْتَفِزُّوْنَكَ الخ سره متعلق دے. مشرکان
تا سولړه د مکے نه اُوباسي نو تا سوغم مکوئ او د مکے نه د تلو په وخت دا دُعا
وایئ: رَّبِّ اَدْخِلْنِیْ مُدْخَلَ صِدْقٍ الخ. څه به ستاسو د مکے نه وتل
او مدینے ته داخلیدل د دین اسلام او مسلمانانو د پاره ډیر د برکت ذریعه
اوګرځوم او تاسو به بیا غلبه او شان و شوکت (عزت) سره مکے ته واپس راولم ـــ

یوسف ګم ګشته باز آید بکنعان غم مخور
کلبهٔ احزان شود روزي ګلستان غم مخور

وَقُلْ جَآءَ الْحَقُّ وَزَهَقَ الْبَاطِلُ ۚ اِنَّ الْبَاطِلَ
او اووایه ته راغلو رښتیا او دروغ اوتختیدل بیشکه دروغ دي
كَانَ زَهُوْقًا ﴿۸۱﴾ وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْاٰنِ مَا هُوَ شِفَآءٌ
تختیدونکي ملا او مونږ نازلوو د قرآن نه هغه چه هغې سره بیماري ختمیږي
وَّرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِیْنَ ۙ وَلَا یَزِیْدُ الظّٰلِمِیْنَ اِلَّا خَسَارًا ﴿۸۲﴾
او رحمت دے مؤمنانو د پاره او د ګنهګارانو د پاره نه دے سره صرف نقصان زیاتیږي ملا
وَاِذَآ اَنْعَمْنَا عَلَی الْاِنْسَانِ اَعْرَضَ وَنَاٰ بِجَانِبِهٖ ۚ
او کله چه مونږ آرام اولیږو انسان باندې نو مخ اوګرځوي او لرې شي اړخ بیا ندے

وَاِذَا مَسَّهُ الشَّرُّ كَانَ يَـُٔوْسًا ﴿۸۳﴾ قُلْ كُلٌّ يَّعْمَلُ عَلٰى

او کله چه اورسی هغه ته بدی نو شی نا امیده ق. ته او وایه هر یو کار کوی په خپله

شَاكِلَتِهٖ ۭ فَرَبُّكُمْ اَعْلَمُ بِمَنْ هُوَ اَهْدٰى سَبِيْلًا ﴿۸۴﴾ ع

طریقه باندې. نو ستا رب ښه پوهیږی په هغه چا چه وی موندلې لار.

وَيَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ الرُّوْحِ ۭ قُلِ الرُّوْحُ مِنْ اَمْرِ رَبِّيْ

او ستانه تپوس کوی د روح نه او وایه روح دی څخه د رب له حکم نه

وَمَآ اُوْتِيْتُمْ مِّنَ الْعِلْمِ اِلَّا قَلِيْلًا ﴿۸۵﴾ وَلَىِٕنْ شِئْنَا

او تاسو ته درکړے شوی دے علم لږ شان ق. او که چرے مونږ اوغواړو مے

لَنَذْهَبَنَّ بِالَّذِيْٓ اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ ثُمَّ لَا تَجِدُ لَكَ

نو بوبه سو هغه څیز چه مونږ نے تا ته وحی کړے دے بیا به ته نه مومے خپل څان دپاره

بِهٖ عَلَيْنَا وَكِيْلًا ﴿۸۶﴾ اِلَّا رَحْمَةً مِّنْ رَّبِّكَ ۭ اِنَّ فَضْلَهٗ

په مونږ باندې څوک ذمه دار د بیا راوړلو لیکن مهربانی ده ستا د رب، د هغه بخښش

كَانَ عَلَيْكَ كَبِيْرًا ﴿۸۷﴾

په تا باندې ډیر دے.

**نکات:** ب۔ زجر ت شکوی۔

**موضح قرآن** ف۱ یعنی د دین غلبه راغله او کفر په تختته لاړ و د مکے نه او د بتول غربونه. ف۲ یعنی بیمار صحت مند شی د زړه شکونه او شبهات ختم شی او د دۀ په برکت سره د بدن بیماری هم لرے شی. ف۳: غاړه آړوی یعنی د بند ګئی نه څان اوباسی ف۴ د نبی کریم ﷺ د آزمائیلو دپاره یهودیانو تپوس اوکړو نو الله تعالیٰ هغوی ته اونه ښودل څکه چه هغوی د دے د پوهیدو حوصله نۀ لرله. څخکنو انبیاؤ علیهم السلام هم خلقو سره بار یکے خبرے نۀ دی کړے دو مره پوهیدل کافی دی چه د الله تعالیٰ په حکم سره یو څیز په بدن کښ واچولے شو هغه ژوندے شو او کله چه هغه د بدن نه اوویستلو نو انسان مړ شو۔

**تفسیر** ۸۲ دا د اسلام د غلبے پیشګوئی او خوشخبری ده چه الله تعالیٰ د مکے فتح کولو سره پوره کړه۔

۷۴ د امؤمنانو دپاره خوشخبري ده او منکرینو دپاره زجر دے. قرآن کریم په حقیقت کښې د الله تعالی رحمت او دټولو روحاني بیمارو دپاره دشفا پیغام دے لیکن دمنکرینو دپاره ټول دنقصان اوتاوان ذریعه ده ځکه چه د انکار او ضد په وجه هغوی خپل عاقبت خرابوی.

۷۵ دا زجر دے مشرك انسان ته، د هغه حال هم عجیبه دے کله چه مونږ هغه ته انعام او اکرام اوکړو نو هغه زمونږ دحکومت نه انکار کوی او مخ اړوی او دا ټول نعمتونه دخپل خود ساخته معبودانو طرفته منسوب کوی او کله چه په مصیبتونو او تکلیفونو کښې راګیر شي نو د هغه کارسازانو نه نا اُمیده شي او د حقیقي معبود په وړاندې زاری او عاجزی کول شروع کړی. ددے دپوره تفسیر دپاره دسورة هود حاشیه ۱۲ اوګورئ.
قُلْ كُلٌّ يَعْمَلُ الخ هر سړے دخپل دین مطابق عمل کوی او هر څوك خپل دین حق ګڼړی لیکن فیصله به دخلقو په خیالاتو باندې نه وی الله تعالی دین اسلام لره حق دین ګرځولے دے. څوك چه دے باندې قائم وی هغه به هدایت یافته وی الله تعالی ته معلومه ده چه څوك دتوحید په نیغه لاره باندې روان دے او څوك دشرك او ګمراهئ په ځنګلونو کښې ارتخطے دے.

۷۶ شکوی ده. د امشرکان ستاسو نه د رُوح دحقیقت تپوس کوی. ددے څه ضرورت دے ستاسو د صداقت او رښتونی ثابتولو او واضح کولو دپاره ایا د اسراء معجزه کافی نه ده؟ اوبیا قرآن کریم پخپله په خپل ځائے دټولو نه لویه معجزه ده چه د نبی کریم ﷺ د صداقت دټولو نه لوئے دلیل دے. قرآن یوه داسے بے مثاله معجزه ده چه که چرے ټول پیریان او انسانان یو ځائے شي نو هم ددے مقابله نشي کولے او ددے مثل نشي پیش کولے. دا سوال د یهودیانو په ښودنه د مکے مشرکانو اوکړو. قُلِ الرُّوحُ مِنْ أَمْرِ رَبِّي الخ ورته فرمائیل په جواب کښې صرف دا اُووایه چه رُوح یو امرِ ربّی دے چه د الله حکم سره ظاهریږی. یا مطلب دا دے چه دا یو داسے څیز دے چه علم ئے الله پورے خاص دے او د الله تعالی نه سوا هیڅوك ددے حقیقت نه پیژنی. ای من الامر الذی لا یعلمه الا الله (قرطبی ج ۱۰ ص ۳۲۵) من امر الله مما استأثر بعلمه (مدارك. ج ۲ ص ۲۵۱) د رُوح د حقیقت باره کښې دپخوا زمانے نه د بحث او تفتیش سلسله جاری ده لیکن ددے حقیقت ترننه پورے هیچا هم بیانه موندلو او نه ئے موندلے شي. پخپله نبی علیه السلام ته هم د رُوح حقیقت معلوم نه وُو لکه چه د حضرت ابوهریره رضی الله عنه نه نقل شوے دے: مضی النبی صلی الله علیه وسلم وما یعلم الروح (مدارك) علامه ابو السعود رح لیکی چه د روح دحقیقت علم الله تعالی پورے خاص دے. ای هو من جنس ما استأثر الله بعلمه من الاسرار الخفیة التی لا یکاد یحوم حولها عقول البشر (ابوالسعود. ج ۵ ص ۲۳۵)

علامه خازن لیکی: والقول الاصح هو ان الله عزوجل استاثر بعلم الروح (خازن ج ۴ ص ۱۸۲)۔

**۱۴۷** دا زجر دے دمکے مشرکانو بہ عناد او عیب لټولو په وجه نبی علیه السلام با ندې مختلف قسم سوالونه کول. دهغے نه د روح بارہ کښې دهغوی سوال وو. نبی علیه السلام د ډیر زیات شفقت په بنا باندې ددے خبرے ارزو کولو چه مشرکانو ته کچرے دهغوی مطلوب معجزه او ښودلے شی نو کیدے شی چه هغوی ایمان راوړی. الله تعالی د ډیر لطف په انداز کښې د دینه منع او فرمائیله چه ستاسو د صداقت ثابتولو دپاره د معجراج معجزه کافی ده او بله دتولو نه لویه معجزه قرآن دے چه کچرے ټول دنیا پیریان او انسانان راجمع شی نو بیا هم دهغے مثل نشی راوړے۔ دا قرآن هم زمونږ معجزه ده۔ داخو تاسو نه دے جوړ کړے. که مونږ دا قرآن ستاسو د سینے نه پورته کړو نو تاسو هغه واپس نشی راوړلے او نه دے معامله کښې څوک ستاسو امداد کولو سره دا تاسو ته واپس در کولے شی ۔

اِلَّا رَحۡمَةً مِّنۡ رَّبِّكَ الخ مستثنیٰ منقطع ده یعنی په تاسو دومره زیات مهربانه یُوچه دا رنګے به نه کوو. یعنی لکن لا نشاء ذلك رحمة من ربك (قرطبی ج ۱۰ ص ۳۲۵) تاسو باندې دا الله تعالی ډیر لوئے فضل دے۔ الله پاك تاسولره د اولاد آدم سردار او ګرځولئ او تاسو ته ئے مقام محمود، معراج شریف او قرآن شریف ذکر و.

قُلۡ لَّئِنِ اجۡتَمَعَتِ الۡاِنۡسُ وَالۡجِنُّ عَلٰٓی اَنۡ یَّاۡتُوۡا

اووایه که چرے جمع شی انسانان او پیریان په دے چه راوړی

بِمِثۡلِ هٰذَا الۡقُرۡاٰنِ لَا یَاۡتُوۡنَ بِمِثۡلِهٖ وَلَوۡ کَانَ

دا سے قرآن هرګز به را نه وړی دا سے قرآن او اګر که شی

بَعۡضُهُمۡ لِبَعۡضٍ ظَهِیۡرًا ﴿۸۸﴾ وَلَقَدۡ صَرَّفۡنَا لِلنَّاسِ فِیۡ

ډیو بل سره امداد کوونکی ۔ او مونږ بیا بیا بیان کړے دے خلقو ته په

هٰذَا الۡقُرۡاٰنِ مِنۡ کُلِّ مَثَلٍ ۫ فَاَبٰۤی اَکۡثَرُ النَّاسِ اِلَّا

دے قرآن کښې لیکه هر مثال نو نه کړے ډیر خلق سوا د

کُفُوۡرًا ﴿۸۹﴾ وَقَالُوۡا لَنۡ نُّؤۡمِنَ لَکَ حَتّٰی تَفۡجُرَ لَنَا مِنَ

ناشکرئ نه. او وائی چه مونږ نه منو ستا خبره ترڅو چه ته روان نکړے مونږ دپاره د

الْاَرْضِ يَنْۢبُوْعًا ﴿٩٠﴾ اَوْ تَكُوْنَ لَكَ جَنَّةٌ مِّنْ نَّخِيْلٍ
زمکې نه چینه ، یا شي ستا د پاره یو باغ د کهجورو

وَّعِنَبٍ فَتُفَجِّرَ الْاَنْهٰرَ خِلٰلَهَا تَفْجِيْرًا ﴿٩١﴾ اَوْ تُسْقِطَ السَّمَآءَ
او د انګورو بیا موږ روانې کړې ډېرې په مینځ کښې ویالې روانول موږه ، یا راوغورځوه په مونږ آسمان

كَمَا زَعَمْتَ عَلَيْنَا كِسَفًا اَوْ تَاْتِيَ بِاللّٰهِ وَالْمَلٰٓئِكَةِ
څنګه چه ته وایې ټکړې ټکړې یا راولې الله او فرښتې

قَبِيْلًا ﴿٩٢﴾ اَوْ يَكُوْنَ لَكَ بَيْتٌ مِّنْ زُخْرُفٍ اَوْ تَرْقٰى
مخامخ یا شي ستا د پاره یو کور د سرو زرو یا اوخیژې ته

فِي السَّمَآءِ ؕ وَلَنْ نُّؤْمِنَ لِرُقِيِّكَ حَتّٰى تُنَزِّلَ عَلَيْنَا
آسمان ته ، او مونږ نه منو ستا ختل تر څو چه نازل نکړې مونږ باندې

كِتٰبًا نَّقْرَؤُهٗ ؕ قُلْ سُبْحٰنَ رَبِّيْ هَلْ كُنْتُ اِلَّا
یو کتاب چه مونږ یې اولولو، ته او وایه سبحان الله! الله څه څوک یم خو

بَشَرًا رَّسُوْلًا ﴿٩٣﴾ ع
یو انسان یم لیږلے شوے۔

**نکات:** ۔۔ شکوی ۲

**موضح قرآن** ف فتح الرحمٰن کښې دا رنګې ترجمه ده: اګرچه وی یو د دوی نه د بل امداد کوونکے۔

**تفسیر:** ۔۔ تا سو دے معاند ینو ته اووایه! ایا د قرآن معجزه تاسو د پاره کافی نه ده؟ دا خو یوه داسے بے مثله معجزه ده چه ټول پیریان او انسانان که چرے را جمع شی او خپل مینځ کښې صلاح او مشوره اوکړی نو هم د دے د مثل پیش کولو نه عاجزه دی. قرآن مجید په خپل فصاحت او بلاغت، حسن او جمال، نظم او تالیف، اخبار بالمغیبات او د دلائلو او براهین کښې داسے بے مثله دے چه د دے نظیر جوړول محال او د غیر الله د طاقت نه بهر دی. ای لو تظاهروا علی ان یاتوا بمثل هذا القرآن فی بلاغته و حسن نظمه و تالیفه لعجزوا عن الاتیان بمثله۔ (مدارک ج ۲ ص ۲۵۲)۔

**فک۹** دا زجر دے چه د راتلونکی شکو مبدأ ده. مونږ په قرآن کښې ټول هرڅه بيان
کړيدی هيڅ يو مشکل مونږ بغير دَحل کولو نه دے پريښے - د توحيد مسئله،
دَشرک رد، حشر نشر، رسالت او نبوت، ترغيب او ترهيب، اوامر او نواهی،
امثال او واقعات غرض دا چه د هر يو تلاش کونکی دپاره مونږ هغه ټول امور
واضح او صفا په قرآن کښې بيان کړيدی چه دکومو دحق کتلو ضرورت دے
ليکن ددے باوجود معاندين په کفر او انکار باندې ټينګ ولاړ دی. په دے وجه
ددوی سوالات او مطالبات خالص په ضد او عناد باندې مبنی او د نه منلو
دپاره حيلے او بهانے دی.

**۸۰** دا شکوه ده يعنی مونږ دحق يو هڅولو دپاره خو هيڅ يوه خبره پرينخودله
ټول هرڅه موږ په قرآن کښې بيا بيا ذکر کړيدی ليکن دا معاندين د نه منلو په
ځائے خالص دَ ضد او عيب لټولو حيلے بهانے جوړوی - وقال كفار مكة تعنتا و
اقتراحا بعد ما لزمتهم بيان اعجاز القران وانضمام غيره من المعجزات
لن نؤمن لك الخ (مظهری ج ۵ ص ۴۹۵) دمشرکانو دمطالباتو ذکر دلته
اوکړے شو - هغوی به وخت په وخت ددے ذکر بيا بيا کولو - ددے نه دځنو
تفصيلی جواب هم په نورو ځايونو کښې ذکر کړے شوے دے - مشرکانو اوويل
اے محمد! ترڅو چه ته زمونږ ددے لاندينو مطالباتو نه يوه مطالبه پوره
نکړے تر هغے وخته پورے مونږ تا باندې ايمان نه راوړو: (۱) تَفْجُرَ لَنَا
مِنَ الْأَرْضِ ستا په حکم سره د مکے د زمکے نه يوه داسے چينه روانه شی چه د
هغے اوبه خوږے وی او هيڅکله هم هغه نه بنديږی - (۲) أَوْ تَكُونَ لَكَ جَنَّةٌ الخ
يا خو ستا دپاره د کهجورو او انګورو باغ وی چه په کښې د اوبو نهرونه جاری وی.
(۳) أَوْ تُسْقِطَ السَّمَاءَ الخ يا زمونږ د سرکشئ او انکار په وجه آسمان ټکړے ټکړے
کولو سره مونږ باندې د پاسه راوغورځوے.
(۴) أَوْ تَأْتِيَ بِاللَّهِ وَالْمَلَائِكَةِ الخ يا الله تعالیٰ په فرشتے خپل صداقت باندے
دګواهئ ورکولو دپاره راولے. (۵) أَوْ يَكُونَ لَكَ بَيْتٌ الخ يا ستا کور د سرو
زرو وی- (۶) أَوْ تَرْقَىٰ فِي السَّمَاءِ - يا څو مونږ د کتلو سره آسمان نه وخيژے.
(۷) ليکن مونږ به صرف ستا آسمان ته ختلو سره ايمان نه راوړو ترڅو پورے چه
ته د آسمان نه زمونږ په نوم د الله تعالیٰ د طرفنه يو کتاب راونه وړے چه هغے کښې
د الله پاک له طرفه مونږ ته حکم وی چه مونږ تا سو اومنو - اى كتابا من الله
تعالى الى كل رجل منا كما قال الله تعالى بَلْ يُرِيدُ كُلُّ امْرِئٍ مِّنْهُمْ
أَن يُؤْتَىٰ صُحُفًا مُّنَشَّرَةً (قرطبی ج ۱۰ ص ۳۳۱) ددے جواب په سورة انعام کښې
ورکړے شوے دے - وَلَوْ نَزَّلْنَا عَلَيْكَ كِتَابًا فِي قِرْطَاسٍ الآية - يعنی که چرے
د هغوی د مرضئ مطابق ليکلے شوے کتاب هم مونږ نازل کړو نو بيا به نے هم نه منی

او وائی به چه دا خو ښکاره جادو دے.

۱۱۵ دا د شکوے جواب دے یعنی الله تعالیٰ خو د عجز نه پاک دے هغه د دے ټولو کارونو کولو قدرت لری لیکن هیڅ کښې هغه بانډې د زبردستئ کولو طاقت نشته هغه هر کار په خپله مرضئ کوی. هَلْ كُنْتُ اِلَّا بَشَرًا رَّسُوْلًا. او زه خو یو انسان یم او د کومو خبرو چه تاسو مطالبه کړیده هغه ټولے د انسانی او بشری طاقت نه بهر دی. لیس ما سألتم فی طوق البشر بل لو اراد الله ان ینزل ما طلبوا لفعل (مظهری ج ۵ ص ۴۹۳) نو دے د پاره ما کښې د دے د پوره کولو طاقت نشته. او بل دا چه د دے مطالبا تو پوره کول خما په فرائضو کښې داخل هم نه دی ځکه چه زه د الله تعالیٰ د وحی پابند یم او د هغه د احکامو پابند یم صرف هغه څیز ظاهرؤم د کوم د ظاهرولو چه را ته الله پاک حکم کړیے. ای انا رسول کسائر الرسل بشر مثلهم و کان الرسل لا یاتون قومهم الا بما یظهره الله علیهم من الایات فلیس امر الایات الی انما هو الی الله.

(مدارک ج ۲ ص ۲۵۳) ❖

وَمَا مَنَعَ النَّاسَ اَنْ يُّؤْمِنُوْٓا اِذْ جَآءَهُمُ الْهُدٰٓى

او خلق ئے منع نه کړل څه د ایمان راوړلو نه کله چه هغوی ته راغے هدایت

اِلَّآ اَنْ قَالُوْٓا اَبَعَثَ اللّٰهُ بَشَرًا رَّسُوْلًا ﴿۹۴﴾ قُلْ لَّوْ كَانَ

لیکن دے خبرے چه وے ویل آیا او لیږلو الله انسان پیغمبر. او وایه که چرے وے

فِى الْاَرْضِ مَلٰٓئِكَةٌ يَّمْشُوْنَ مُطْمَئِنِّيْنَ لَنَزَّلْنَا

په زمکه کښې فرښتے گرځیدونکے او سیدونکے نو مونږ به نازلولے

عَلَيْهِمْ مِّنَ السَّمَآءِ مَلَكًا رَّسُوْلًا ﴿۹۵﴾ قُلْ كَفٰى بِاللّٰهِ

هغوی بانډې د اسمان نه یوه فرښته پیغام راوړونکے. او وایه الله کافی دے

شَهِيْدًاۢ بَيْنِىْ وَبَيْنَكُمْ ۚ اِنَّهٗ كَانَ بِعِبَادِهٖ خَبِيْرًاۢ بَصِيْرًا ﴿۹۶﴾

حق ثابتونکے خما او ستا سو په مینځ کښې، هغه دے خبر دار د خپلو بندګانو نه او لیدونکے ۹۳

وَمَنْ يَّهْدِ اللّٰهُ فَهُوَ الْمُهْتَدِ ۚ وَمَنْ يُّضْلِلْ فَلَنْ تَجِدَ

او چا ته چه الله لاره وښائی نو هغه دے لاره موندونکے او څوک چه بے لارے کړی بیا به نه مومے

لَهُمْ اَوْلِيَآءَ مِنْ دُوْنِهٖ ؕ وَنَحْشُرُهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ

هغوی دپاره ملګري سوا د الله نه او را به پورته به کړو مونږ هغوی لره د قیامت په ورځ چه

عَلٰى وُجُوْهِهِمْ عُمْيًا وَّبُكْمًا وَّصُمًّا ؕ مَاْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ ؕ

روان به وی پر مخے ړانده او ګانړه او ګونګیان، د دوی ځائے دوزخ دے

كُلَّمَا خَبَتْ زِدْنٰهُمْ سَعِيْرًا ﴿۹۷﴾ ذٰلِكَ جَزَآؤُهُمْ بِاَنَّهُمْ

کله چه په مړ کیدو شی نو مونږ به ئے زیات کړو دوی باندې - دا د دوی سزا ده دغه لحاظه چه دوی

كَفَرُوْا بِاٰيٰتِنَا وَقَالُوْٓا ءَاِذَا كُنَّا عِظَامًا وَّرُفَاتًا

منکر شول زمونږ د ایتونو نه او وئیل آیا کله چه مونږ شو هډوکی او خاورے رژیدلے

ءَاِنَّا لَمَبْعُوْثُوْنَ خَلْقًا جَدِيْدًا ﴿۹۸﴾

آیا مونږ به پاسولی شو نوی پیدائش سره -

**نکات:-** ۱ شکوی ۲ جواب شکوی ۳ تخویف اُخروی ۱۲

**تفسیر** **۸۲** دا هم شکوی ده، د اول شکوے په جواب کښې اُوویلے شوه - هَلْ كُنْتُ اِلَّا بَشَرًا رَّسُوْلًا ، نو مشرکانو اُوویل مونږ د بشر په رسالت باندې ایمان نه راوړو - یو فرشته د پیغمبر راولیږلے شی نو مونږ به ئے اُومنو - قُلْ لَّوْ كَانَ فِى الْاَرْضِ الخ - دا جواب شکوی ده - که چرے په زمکه باندې فرشتے اُوسیدلے نو مونږ به د هغوی د هدایت دپاره فرشته پیغمبر رالیږلے وے لیکن په زمکه باندې چونکه انسانان اباد دی نو د هغوی د هدایت دپاره انسان پیغمبر رالیږل د عقل تقاضا او مصلحت دے -

**۸۳** که تاسو نه منئ نو مه منئ الله تعالیٰ ځما او ستاسو په مینځ کښې ګواه دے - هغه ته معلومه ده چه ما د هغه پیغام تاسو ته پوره پوره در رسولے دے او هغه ته دا هم معلومه ده چه تاسو محض د ضد او عناد په وجه د هغه پیغام نه دے منلے - هغه د خپلو بندګانو د ټولو عملونو نه ښه خبردے او هر یو ته به د هغه د عملونو جزا او سزا ورکوی -

**۸۴** دا تخویف اُخروی دے - الله پاک طرفته رجوع کونکو او رښتونے جذبه لرونکو او حق تلاش کونکو ته الله تعالیٰ نیغه لاره ښائی او د معاندینو په زړه باندې د جباریت مُهر لګیدلے دے، د دے وجے نه هغوی لره هیڅوک سمے لارے ته نشی راوستلے - د قیامت په ورځ به هغوی په اُور کښې پر مخے راښکلے شی او هغوی

رانده ګونګیان او کانړه وی. دنیا کښې هغوی دَ حق لیدلو، ویلو او آوریدلو نه رانده ګونګیان او کانړه وُو، په اخرت کښې به هغوی د ارام او راحت لیدلو نه محروم وی او نه به څه داسے خبره د خلے نه به وړته د راحت څه خبره آوریدل نصیب شی چه هغه قبوله شی. لا یبصرون ما یقر اعینهم ولا ینطقون ما یقبل منهم ولا یسمعون ما یلذ ساعهم لما قد کانوا فی الدنیا لا یستبصرون بالآیات والعبر ولا ینطقون بالحق ولا یسمعونه. (ابوالسعود ج ۵ ص ۴۵۴) ذٰلِكَ جَزَآؤُهُم دا دجهنم عذاب به هغوی ته ځکه ورکولے شی چه هغوی د توحید د دلائلو نه صفا انکار کړیدے. او د شرک نه منع نه شول. داشان هغوی د حشر نشر نه انکار کوی. حالانکه ددے دلیل بالکل ښکاره او واضحه دے. اَوَلَمْ يَرَوْا الخ د قیامت په ثبوت باندے عقلی دلیل دے. کوم پاک ذات او قادر او قیوم چه آسمانونه او زمکے پیدا کړل هغه د انسانانو په دوباره پیدا کولو باندے قادر نه دے؟ د ټولو دوباره ژوندی کولو دپاره الله تعالیٰ یوه نیټه مقرر کړیده چه د هغے په حق کیدو کښے هیڅ شک نشته. ددے غالب او ظاهر دلیل باوجود دے ظالمانو د الله د توحید او د حشر نشر نه انکار او کړو او منلو ته تیار نه شول. (اِلَّا كُفُوْرًا) جحودا لما اتی به الصادق من توحید الله وافراده بالعبادة وبعثهم یوم القیامة للجزاء (بحر ص ۸۳ ج ۶)

اَوَلَمْ يَرَوْا اَنَّ اللّٰهَ الَّذِيْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ

ایا نه ګوری چه کوم الله پیدا کړی آسمانونه او زمکه

قَادِرٌ عَلٰٓى اَنْ يَّخْلُقَ مِثْلَهُمْ وَجَعَلَ لَهُمْ اَجَلًا لَّا رَيْبَ

هغه جوړولے شی ددے پشان او مقرر کړیدے د دوی دپاره یو وخت بے شُبه

فِيْهِ ؕ فَاَبَى الظّٰلِمُوْنَ اِلَّا كُفُوْرًا ﴿۹۹﴾ قُلْ لَّوْ اَنْتُمْ تَمْلِكُوْنَ

نو منع نه شول بے انصافه لیکن د ناشکرئ نه او وایه که چیرے تاسو یئے

خَزَآئِنَ رَحْمَةِ رَبِّيْٓ اِذًا لَّاَمْسَكْتُمْ خَشْيَةَ الْاِنْفَاقِ ؕ

لاس کښے وے خزانے د رحمت د رب ما نو ضرور به بند کړے وے تاسو د دے ویرے نه چه خرچ

وَكَانَ الْاِنْسَانُ قَتُوْرًا ﴿۱۰۰﴾ وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسٰى تِسْعَ اٰيٰتٍۢ

نه شی او دے انسان زړه تنګے او مونږ ورکړل کله موسیٰ ته نهه نشانے

بَيِّنٰتٍ فَسْـَٔلْ بَنِیْٓ اِسْرَآءِیْلَ اِذْ جَآءَهُمْ فَقَالَ لَهٗ

ښکاره بیا تپوس اوکړه د بنی اسرائیلو نه چه کله راغے هغوی ته نو اووئیل هغه ته

فِرْعَوْنُ اِنِّیْ لَاَظُنُّكَ یٰمُوْسٰی مَسْحُوْرًا ﴿۱۰۱﴾ قَالَ لَقَدْ

فرعون ځما په خیال کښے خو موسٰی په تا باندے جادو شوے دے وئیل نه

عَلِمْتَ مَآ اَنْزَلَ هٰٓؤُلَآءِ اِلَّا رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ

معلومه دې شه چه دا څیزونه هیڅوک نه دی نازل کړی بیګن د اسمان او زمکے مالک د

بَصَآئِرَ ۚ وَاِنِّیْ لَاَظُنُّكَ یٰفِرْعَوْنُ مَثْبُوْرًا ﴿۱۰۲﴾ فَاَرَادَ

پوهولو د پاره او ځما په خیال کښے خو اے فرعون ته هلاکیدل غواړے بیا یے اوغوښتل

اَنْ یَّسْتَفِزَّهُمْ مِّنَ الْاَرْضِ فَاَغْرَقْنٰهُ وَمَنْ مَّعَهٗ

چه بنی اسرائیل په ارام پرے نږدی په هغه زمکه کښے بیا مونږ دوب کړو هغه او د هغه ملګری

جَمِیْعًا ﴿۱۰۳﴾ وَّقُلْنَا مِنْۢ بَعْدِهٖ لِبَنِیْٓ اِسْرَآءِیْلَ اسْكُنُوا

ټول او اووئیل مونږ د هغه روستو بنی اسرائیلو ته اباد اوسیږئ

الْاَرْضَ فَاِذَا جَآءَ وَعْدُ الْاٰخِرَةِ جِئْنَا بِكُمْ لَفِیْفًا ﴿۱۰۴﴾

تاسو په زمکه کښے بیا چه کله راشی وعده د اخرت را به ولو مونږ تاسو ټول یو ځائی

**نکات:** ۱ دلیل عقلی په حشر باندے ۱۲ ۲ شپږم دلیل عقلی په توحید باندے ۱۲
۳ پنځم ایت د معجزے ۱۲

**موضح قرآن** ف۱ شاید نهه نښانے نهه معجزے وی کوم چه الله د فرعون په مقابله کښے اولیږلے او کیدے شی چه نهه حکمونه وی چه د تورات د سر کښے (اول) لیکلے شوے وی هغه هم د دغه کبیره ګناهونو نه منع وه۔

**تفسیر: ۸۶** دا په توحید باندے شپږم عقلی دلیل دے. اَنْتُمْ خطاب عام دے پیریانو، انسانانو او فرښتو ته شامل دے. حاصل دا دے چه متصرف او مختار او د ټولو خزانو مالک الله تعالٰی دے. که چرے د رزق خزانے ستاسو په لاس کښے ورکړے شی نو تاسو به بخل اوکړئ او چا ته به هیڅ ورنه کړئ چه چرته خزانے ختم نه شی. په دے وجه به تاسو کښے څوک هم د دے حق نه لری چه د عالم د دے کارخانے کښے د تصرف اختیار ورکړے شی. قَتُوْرًا بخیل او کنجوس.

۸۴ دا پنځم ایت دے د معجزے. مونږ موسٰی علیه السلام ته نهه واضحه معجزے ورکړے. د بنی اسرائیلو د علماؤ نه تپوس اوکړه. هغوی به ددے خبرے تصدیق اوکړی لیکن په ځای ددے چه فرعون او د هغهٔ قوم ددے واضحه معجزو لیدو سره په هغے باندے ایمان راوړے وے. هغوی دے معجزو ته جادو او موسٰی علیه السلام ته جادوګر اوویل او د الله د توحید نه یې انکار اوکړو. د هغے نتیجه دا شوه. چه فرعونیان غرق کړے شول. اوس اے مشرکانو د مکے! که څرے تاسو هم د قران معجزه، د معراج معجزه او د نورو معجزو لیدو نه روستو د توحید مسئله اُونهٔ منله. نو هلاك به کړے شئ. دا شان دا ایت به د سورت د ابتداء سره متعلق وی. یا دا ایت د سُنَّةَ مَنْ قَدْ اَرْسَلْنَا سره متعلق دے. یعنی څنګه چه فرعون بنی اسرائیل او موسٰی علیه السلام د مُلک نه اوویستل. بخپله هم هلته اُونهٔ اُوسیدل. دا شان د مکے مُشرکان به هم د نبی علیه السلام مکے نه د وبیستلو نه روستو زیاته زمانه هلته اُونهٔ اُوسیږی. زمونږ جاری سُنت هم دا دی. مَسْحُوْرًا اسم مفعول په معنی د اسم فاعل دے. ای ساحرًا بغرائب افعالك (قرطبی ص۳۳۶ ج ۱۰) د نهه معجزو نه د ابن عباس او ضحاك مطابق لاندینئ معجزے مراد دی. عصا، ید بیضا، د ژبے لکنت (تتولے) لرے کیدل، د سمندر شلیدل (لارے جوړیدل) طوفان، مُلخان، چینډخان او وینه (خازن و قرطبی وغیره)

۸۵ د فرعون په جواب کښے موسٰی علیه السلام اُوفرمائیل چه دا جادو نه دے. بلکه معجزے دی. چه د اسمان او زمکے مالک دخپل قدرت وحدانیت او خما په صداقت باندے په طور د دلائلو ظاهر کړیدی. اے فرعون! واوره خما یقین دے چه ته به تباه او برباد شے څکه چه تا معجزو ته جادو اوویلے. د الله د توحید نه تا انکار اوکړو او خما تکذیب دِ اوکړو. فَاَرَادَ اَنْ يَّسْتَفِزَّهُمْ الخ دے نه روستو فرعون موسٰی علیه السلام او بنی اسرائیل د مصر د مُلک نه اوویستل. نو مونږ هغه سره دخپل لوئ لښکر نه غرق کړو. او بنی اسرائیلو ته مو اوویل چه تاسو د شام په مُلک کښے اُوسیږئ او خما په هدایاتو باندے عمل کوئ. قیامت کښے به زهٔ تاسو ټول دحساب د پاره یو ځای کوم.

وَبِالْحَقِّ اَنْزَلْنٰهُ وَبِالْحَقِّ نَزَلَ ۭ وَمَآ اَرْسَلْنٰكَ اِلَّا

او رښتیاؤ سره ۸۶ نازل کړو مونږ قرآن او رښتیاؤ سره نازل شو او مونږ چه ته اُولیږلے نو

مُبَشِّرًا وَّنَذِيْرًا ۝۱۰۵ وَقُرْاٰنًا فَرَقْنٰهُ لِتَقْرَاَهٗ عَلَى النَّاسِ

زیرے ورکونکے او ویروُنکے مو اُولیږلے ف او د لوستلو وظیفه اوکړه مونږ قران جُدا جُدا کولو سره ۸۷

عَلٰی مُکۡثٍ وَّ نَزَّلۡنٰهُ تَنۡزِیۡلًا ﴿۱۰۶﴾ قُلۡ اٰمِنُوۡا بِهٖۤ اَوۡ لَا

چه ولولے ئے هغه په خلقو باندے په آرام سره او مونږ دا قرآن لږ لږ نازل کړے دے ځ. اووایه تاسو دا منئ یا ئے

تُؤۡمِنُوۡا ؕ اِنَّ الَّذِیۡنَ اُوۡتُوا الۡعِلۡمَ مِنۡ قَبۡلِهٖۤ اِذَا یُتۡلٰی

نه منئ ځ. چاته چه علم ورکړے شوے دے ځ ددے نه مخکښے کله چه دهغوی په مخکښے

عَلَیۡهِمۡ یَخِرُّوۡنَ لِلۡاَذۡقَانِ سُجَّدًا ﴿۱۰۷﴾ وَّ یَقُوۡلُوۡنَ سُبۡحٰنَ

دا اولوستلے شی پریوځی په زنو باندے په سجده. او وائی پاک دے زمونږ

رَبِّنَاۤ اِنۡ کَانَ وَعۡدُ رَبِّنَا لَمَفۡعُوۡلًا ﴿۱۰۸﴾ وَ یَخِرُّوۡنَ لِلۡاَذۡقَانِ

رب بیشکه زمونږ د رب وعده به وی پوره کیدونکے ځ. او پریوځی ځ په زنو باندے

یَبۡکُوۡنَ وَ یَزِیۡدُهُمۡ خُشُوۡعًا ﴿۱۰۹﴾ السجدة قُلِ ادۡعُوا اللّٰهَ اَوِ

چه ژاړی او زیاتیږی دهغوی عاجزی ځ. اووایه په الله وئیلو سره رابلئ ځ یا

ادۡعُوا الرَّحۡمٰنَ ؕ اَیًّا مَّا تَدۡعُوۡا فَلَهُ الۡاَسۡمَآءُ الۡحُسۡنٰی ۚ

په رحمٰن وئیلو سره رابلئ په هرڅه سره ئے چه رابلئ پس هم دهغه دپاره دی دا ټول نومونه دی خاص

وَ لَا تَجۡهَرۡ بِصَلَاتِکَ وَ لَا تُخَافِتۡ بِهَا وَ ابۡتَغِ بَیۡنَ

او په زوره مه وایه قرأت په خپل مانځه کښے ځ او مه ئے پټ وایه او طلب کړه ددے په مینځ کښے

ذٰلِکَ سَبِیۡلًا ﴿۱۱۰﴾ وَ قُلِ الۡحَمۡدُ لِلّٰهِ الَّذِیۡ لَمۡ یَتَّخِذۡ

لاره ځ. او اووایه ټوله ثناء ده الله لره چه نه لری

وَلَدًا وَّ لَمۡ یَکُنۡ لَّهٗ شَرِیۡکٌ فِی الۡمُلۡکِ وَ لَمۡ یَکُنۡ لَّهٗ

اولاد او نه دهغه څوک شریک شته په ملک کښے او نه د هغه څوک

۱۲ ع ۱۲ وَلِیٌّ مِّنَ الذُّلِّ وَ کَبِّرۡهُ تَکۡبِیۡرًا ﴿۱۱۱﴾ ع

مددګار شته د ذلت په وخت او دهغه لوئی بیان کړه لوئی ګڼلو سره ځ.

نکات: ۱ په توحید باندے دریم نقلی دلیل ۱۲ ۲ د سورت خلاصه ۱۲

## موضح قرآن

ف۱ په رښتیا ؤ سره نازل شو یعني په مینځ کښې بدل شوې نه دے۔
ف۲ د نُخښې کتاب نه مطلب صرف معنیٰ پیژندل دي۔ او ددے (قرآن) لفظ هم مقصود دے چه نور او برکت ورسره نازلیږي۔ ددے د پاره یې سورتونه او آیتونه جُدا جُدا کړل۔ او لږ لږ یې نازل۔ د وخت موافق حُکم یې راولیږه۔

ف۳ یعني په تیر شوو کلامونو باندے پوهیدونکي په دے پوهیږي او کومه وعده چه شوے وه چه په آخري زمانه کښې به یو کلام نازلیږي هغه صحیح مومي۔

ف۴ په مانځه کښې سجده دوه ځله کیږي ددے وجې نه یې دوه ځله ؤفرمایل اول ځل ددے کلام تاثیر سره تعجب راځي او دویم ځل سره عاجزي۔

ف۵ د عربو خلقو به د الله نوم رحمٰن نه پیژندلو۔ په دے باندے یې داؤفرمایل چه نومونه ډیر دي الله صرف یو دے۔ او په مانځه کښې ډیرے چغے وهل هم نشته او ډیره خکته آواز هم نشته۔ ددے په مینځ کښې لوستل بهتر دي۔

ف۶ هیڅوک مدد ګار نشته د ذلت په وخت، یعني په هغه باندے هیڅ کله ذلت نشته چه مدد ګار اوغواړي۔ د بادشاهانو په دربار کښې امیران ځکه اوچتے مرتبے لري۔ چه په بد وخت کښې د هغوی مکرتیا او مدد ته ضرورت راځي۔ هلته داقصے نشته۔

**تفسیر:** ۸۹ دے ځائ نه مکے والو طرفته التفات دے۔ د قرآن مجید د نازلولو طریقه داوه چه هغه په یو داسے رسول باندے نازل کړے شي چه بشر او عبد وي او د هغے ټول مضامین حق وي۔ وَبِالْحَقِّ نَزَلَ الخ یعني د قرآن مجید ټول مضامین او مسائل حق دي۔ په دیکښے د باطل هیڅ ګډون نشته۔ د قرآن نازلولو نه زمونږ مقصد د حق واضحه کول او ثابتول وو۔ ځکه چه زمونږ اراده وه هم هغه شان هغه نازل شو۔ انما اردنا بانزال القرآن الا تقریره للحق فلما اردنا هذا المعنی فکذلک وقع وحصل (خازن ص۱۸۹ ج۴) او مونږ ته بشیر او نذیر (زیرے ورکونکے او ویروُنکے) اُولیږلے۔ ددے د پاره چه تاسو منونکو ته خوشخبري ورکړې او نه منونکي زمونږ د عذاب نه اوویروې، په خلقو منل دا ستا کار نه دے۔

۹۰ قرآن مجید مونږ لږ لږ نازل کړو دے د پاره چه تاسو یې خلقو ته په آرام آرام سره واوروئ۔ ځکه چه مونږ دا لږ لږ دے د پاره نازل کړیدے چه خلق په مزه مزه په آسانئ سره دا حِفظ کړي او په دے باندے عمل اوکړي۔ انما فرقناه لیکون حفظه اسهل ولیکون الاحاطة والوقوف علی دقائقه وحقائقه اسهل (کبیر ص۶۶۸ ج۵)

۹۱ تاسو مُشرکانو ته اووایئ چه دا قرآن ټول حق او د الله رښتونے کتاب دے چه ټول احکام د شریعت دلائلو سره واضح او ثابت وي۔ حق واضح شویدے۔ او د توحید مسئله مدلل شوے ده۔ اوس یې تاسو منئ یا نه، ستا سو خوښه ده۔ د اهلِ کتابو مؤمنانو خو په دے قرآن او ددے په ټولو مضامینو باندے ایمان راؤړیدے۔

۹۲ دا په توحید باندے دریم نقلي دلیل دے۔ د اهل کتابو علماؤ سره۔ اَلَّذِیْنَ

اُوْتُوا الْعِلْمَ نه د یهودیانو او نصاراؤ هغه عالمان مراد دی چا چه اسلام قبول کړے وُو. وهم مؤمنوا اهل الکتب (قرطبی ص ۳۴۰ ج ۱۰) یعنی د هغوی حال خو دا دے چه کله هغوی د قرآن اٰیتونه اوری نو په سجده باندے پریوځی د الله تسبیح او تقدیس بیانوی او اقرار کوی چه اے الله! تا چه په تورات او انجیل کښے د آخری رسول لیږلو کومه وعده کړے وه هغه پوره شوه. یعنی ما وعد الله تعالیٰ فی الکتب المنزلة وبشر به بعثة محمد صلی الله علیه وسلم وانزال القرآن علیه کان منجزا (مظهری ص ۸۵ ج ۵)

**۹۳** زیاتی صفت. یعنی یَبْکُوْنَ وَیَزِیْدُهُمْ خُشُوْعًا بیانولو د پاره د بعد عهد په وجه سره د اول صفت اعاده اوکړے شوه.

**۹۴** په آخر کښے د پوره سورت خلاصه او نچوړ دے. یعنی الله تعالیٰ ته چه په کوم یو نوم سره آواز کوئ او غواړئ په هغے سره یے رابللی شئ ځکه چه ټول صفتونه د کارسازئ او ښۀ نومونه صرف هغۀ پورے خاص دی. فله الاسماء الحسنیٰ الخ فاء تعلیلیه ده او دا د ماقبل علت دے ځکه چه په سورة اعراف ع ۲۲ کښے یے اُو فرمائیل فَلَهُ الْاَسْمَآءُ الْحُسْنٰی فَادْعُوْهُ بِهَا. دلته فاء فصیحه ده. چونکه ټول اسماء حسنیٰ او د کارسازئ صفات الله تعالیٰ پورے خاص دی. په دے وجه د هغۀ نومونو سره صرف هم هغۀ ته آواز کوئ.

**۹۵** قُلِ ادْعُوا اللّٰهَ سره متعلق دے. او په دے کښے د آواز کولو طریقه بیان کړے شویده چه اے رسول! (صلی الله علیه وسلم) چه نه خو الله ته په زوره آواز اوکړے چه تاسو پورے مشرکان ټوقے اوکړی او نه بالکل په رو. بلکه د مینځ لاره اختیار کړه. دے د پاره چه صحابۀ ته تعلیم ورکړے شی. د عائشے رضی الله عنها نه نقل دی چه دا اٰیت د دُعا په باره کښے نازل شوے دے لکه چه په صحیح مُسلم کښے دی. رواه مسلم ایضا عن عائشة فی قوله عزوجل وَلَا تَجْهَرْ بِصَلَاتِكَ وَلَا تُخَافِتْ بِهَا، قالت انزل هذا فی الدعاء (قرطبی ص ۳۴۳ ج ۱۰) کذا فی المظهری والمعالم وغیرهما) دا د ابن عباس رض او مجاهد نه هم نقل دی. واخرج نحوه ابن ابی شیبة عن مجاهد وروی ذلك ابن عباس ایضا ابن جریر الخ (روح ص ۱۹۱ ج ۱۵) دے نه علاوه د اٰیت سیاق او سباق هم قرینه ده چه د صلوٰة نه دُعا مراد ده. اول قُلِ ادْعُوا اللّٰهَ کښے خالصة الله ته د آواز کولو حکم ورکړے شو. او په آخر کښے وَقُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ سره خالصة الله ته د آواز کولو دلیل او علت بیان کړے شو. په دے وجه قرین قیاس او د سیاق او سباق موافق هم دا ده چه مینځنئ والاحصه هم د دُعا سره متعلق کړے شی. اَیًّا حرف شرط دے. او فَهُوَ اَحْسَنُ دے جزا محذوف ده. او فله الاسماء الحسنیٰ د جزاء قائم مقام دے چه په حقیقت کښے د شرط علت بیانوی. وجملة فله الاسماء الحسنیٰ واقعة موقع جواب الشرط وهی فی الحقیقة تعلیل له وکان اصل الکلام ایّاما تدعوه به فهو حسن لانه سبحانه الاسماء الحسنی اللاتی منها هذان (روح ص ۱۹۱ ج ۵) د دے اٰیت په تفسیر کښے یو قول دا دے چه د صلوٰة نه پمانځه

کښې د قرآن قرأت مراد دے. نبی علیه السلام چه کله په مکه کښې په دار ارقم کښې په پټه د صحابو سره مونځ کولو نو د قرآن تلاوت به یې په اوچت آواز سره کولو چه مشرکانو به اوریدلو نو بد زباني به یې کوله. په دے باندے دا آیت نازل شو چه نه خو دومره په اوچت آواز سره تلاوت کوئ چه مشرکان دغه په اوریدو کنځل شروع کړي او نه دومره پخکته آواز چه صحابه یې وا نه وري او مطلب ترے وا نخستلے شي. بلکه د دواړو په مینځ کښې متوسطه لاره اختیار کړئ.

# په سورۃ بنی اسرائیل کښے د توحید آیتونه او د دے خصوصیات

① سُبْحٰنَ الَّذِیْٓ اَسْرٰی ... نه تر ... اِنَّهٗ هُوَ السَّمِیْعُ الْبَصِیْرُ ه د شرك في التصرف په نفی باندے دلیل وحی. ② وَاٰتَیْنَا مُوْسَی الْکِتٰبَ ... نه تر ... اَلَّا تَتَّخِذُوْا مِنْ دُوْنِیْ وَکِیْلًا ه د شرك في التصرف په نفی باندے دلیل نقلی موسٰی علیه السلام سره.

③ وَجَعَلْنَا الَّیْلَ وَالنَّهَارَ ... نه تر ... فَصَّلْنٰهُ تَفْصِیْلًا ه (ع۲) نفی د شرك اعتقادی. ④ وَلَا تَجْعَلْ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ الخ نفی د شرك في التصرف. ⑤ وَقَضٰی رَبُّكَ اَلَّا تَعْبُدُوْٓا اِلَّآ اِیَّاهُ. د عذاب دفع کولو د پاره د امور ثلاثه بیان.

⑥ اِنَّ رَبَّكَ یَبْسُطُ الرِّزْقَ ... نه تر ... خَبِیْرًا بَصِیْرًا (ع۳) نفی د شرك في التصرف او شرك في العلم. ⑦ قُلْ لَّوْ كَانَ مَعَهٗٓ اٰلِهَةٌ ... نه تر ... اِنَّهٗ كَانَ حَلِیْمًا غَفُوْرًا (ع۵) نفی د شرك في التصرف. ⑧ وَرَبُّكَ اَعْلَمُ بِمَنْ فِی السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ... نه تر ... اِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ كَانَ مَحْذُوْرًا (ع۶) نفی د شرك في العلم او شرك في التصرف.

⑨ وَشَارِكْهُمْ فِی الْاَمْوَالِ وَالْاَوْلَادِ وَعِدْهُمْ (ع۷) نفی د شرك فعلی ⑩ رَبُّكُمُ الَّذِیْ یُزْجِیْ ... نه تر ... وَكَانَ الْاِنْسَانُ كَفُوْرًا نفی د شرك في التصرف. ⑪ وَاِنْ كَادُوْا لَیَفْتِنُوْنَكَ عَنِ الَّذِیْٓ اَوْحَیْنَآ اِلَیْكَ ... نه تر ... ثُمَّ لَا تَجِدُ لَكَ عَلَیْنَا نَصِیْرًا (ع۸) نفی د تصرف او اختیار د نبی علیه السلام نه.

⑫ وَلَئِنْ شِئْنَا لَنَذْهَبَنَّ بِالَّذِیْ ... نه تر ... عَلَیْنَا وَكِیْلًا (ع۱۰) نفی د تصرف او اختیار د نبی علیه السلام نه.

⑬ قُلِ ادْعُوا اللّٰهَ اَوِ ادْعُوا الرَّحْمٰنَ ... نه تر ... وَكَبِّرْهُ تَكْبِیْرًا (ع۱۲) نفی د شرك في الدعاء او شرك في التصرف.

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

# سُورهٔ کهف ۱۸

**نوم** : په دے سورت کښے د اصحاب کهف واقعه بیان شوے ده په دے وجه د دے سورة نوم کهف کیښودلے شوے دے.

**شانِ نزول** د مکے مشرکانو نضر بن حارث او عقبه بن ابی معیط د یهودیانو عالمانو ته اُولیږل او هغوی ته یے اوویل چه لاړ شئ او هغوی د محمد صلی الله علیه وسلم د حالاتو نه خبر کړئ. او د دهٔ په باره کښے د هغوی نه تپوس اوکړئ چه آیا په رشتیا هغه د الله پیغمبر دے ځکه چه هغوی اهلِ کتاب دی او هغوی ته د نبیانو معلومات شته. هغوی مدینے ته د یهودو علماؤ ته اُورسیدل. او د نبی علیه السلام د ځینے احوالو او اقوالو نه یے هغوی خبر کړل. د یهودو عالمانو ورته اوویل چه تاسو واپس لاړ شئ او د هغهٔ نه د دریو خبرو تپوس اوکړئ که صحیح جواب یے درکړو نو هغه پیغمبر دے او که چرے صحیح جواب یے درنکړے شو نو دروغژن دے.

اول د هغهٔ نه تپوس اوکړئ چه په تیره شوے زمانه کښے کوم ځوانان چه ورک شوی وُو د هغوی قِصه څهٔ وه؟ دویم د هغهٔ نه د هغه کس د حال تپوس اوکړئ چه په تیره شوے زمانه کښے د زمکے مشرق او مغرب ته رسیدلے وُو. دریم د هغهٔ نه د روح حقیقت تپوس اوکړئ. نضر او عقبه مکے ته واپس اُورسیدل. او قریشو ته یے ټول حال بیان کړو چه کله هغوی نبی علیه السلام ته راغلل او د یهودو د علماؤ ښودلے شوی دریواړه سوالونه یے د نبی علیه السلام په مخکښے پیش کړل. نبی علیه السلام اوفرمائیل چه ستاسو د سوالونو جواب به زهٔ صبا له درکوم. لیکن نبی علیه السّلام نه اِنشاء الله هیر شو. مُشرکان واپس لاړل د نبی علیه السلام په الله تعالٰی پوره اعتماد او کامل یقین وُو. او د هغوی یقین وُو چه تر صبا پورے به د دے باره کښے د وحی په ذریعه اطلاع ملاؤ شی. په دے وجه یے د صبا وعده اوکړه. لیکن متواتر پنځلس ورځے وحی نازله نهٔ شوه. چه د دے سره نبی علیه السّلام ډیر پریشانه شو او د مشرکانو غلط او بے بنیاده خبرو او د یهودیانو د بے فائدے خبرو نه هغوی ته ډیر تکلیف اُورسیدهٔ. آخر د پنځلسو ورځو نه روستو سورهٔ کهف نازل شو. چه هغے کښے د مُشرکانو د سوالونو جواب ذکر شوے دے. او ورسره نبی علیه السلام ته یے د وعدے کولو سره " انشاء الله " نهٔ ویلو باندے تنبیه ورکړه. من القرطبی باختصار.

**ربط** : د سورة کهف د ماقبل سره څو قسمه ربط دے. اوّل : د سورة فاتحے په تفسیر کښے ذکر شوی دی چه د مضامینو په اعتبار سره ټول قرآن مجید په شپږو حصو کښے تقسیم دے. او هره حصه د اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ نه شروع کیږی. اوله حصه د سورة فاتحے نه واخله تر سورة مائدے آخره پورے ده. په د یکښے زیات تر د خالقیت بیان دے

دویمه حصه د سورة انعام نه د
يعني د ټولو کائناتو پيدا کوونکے او خالق الله تعالیٰ دے۔ دويمه حصه د سورة انعام نه د
يعني د ټولو کائناتو پيدا کوونکے او خالق الله تعالیٰ دے۔ دا الله تعالیٰ د ربوبيت بيان دے
سورة بنی اسرائيل آخره پورے ده۔ په دے حصه کښې د الله تعالیٰ د ربوبيت بيان دے
يعني د ټولو کائناتو پيدا کولو نه روستو د هر څيز تربيت کوونکے او هر څيز ته مزه مزه د
کمال حد ته رسوونکے او د ټولو مخلوقاتو ضرورتونه پوره کوونکے الله تعالیٰ دے او دهغهٔ
نه سوابل هيڅوک نشته۔ د سورة کهف نه د قرآن شريف دريمه حصه شروع کيږي۔ د الله
تعالیٰ د خالقيت او ربوبيت نه روستو په دے حصه کښې دهغهٔ د حاکميت بيان دے۔
يعني د ټولو کائناتو حاکم او مالک الله تعالیٰ دے۔ ټول تصرفات او اختيارات دهغهٔ
په قبضه کښې دی۔ او هغهٔ د خپلو اختياراتو نه هيڅ اختيار خپل پيغمبرته يا يو ولی يا يو
پيری ته نهٔ دے ورکړے۔ هغه قادر مطلق دے او قيوم برحق دے او هم هغه د برکاتو
سرچينه ده او هم هغه برکت ورکوونکے دے۔

دويم ربط: مشرکانو به د توحيد د مسئلے نه انکار کولو سره د نبی عليه السلام نه مخکښې
دوه مطالبے هم پيش کولے۔ اوله فَأْتِنَا بِمَا تَعِدُنَا إِنْ كُنْتَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ يعنی د
کوم عذاب نه چه ته مونږ ويروے۔ که چرے رښتينے يے۔ نو هغه عذاب په مونږ باندې
راؤله۔ دهغوی دويمه مطالبه دا وه چه د خپل صداقت يوه نښه يا معجزه مونږ ته
اوښايه۔ څنګه چه الله تعالیٰ دهغوی قول نقل کړے دے۔ وَقَالُوْا لَوْلَا يَأْتِيْنَا
بِاٰيَةٍ مِّنْ رَّبِّهٖ (او هغوی اووئيل چه هغه پيغمبر مونږ ته د خپل رب د طرفه د خپل
صداقت يوه نښه ولے نهٔ راوړی۔ الله تعالیٰ د اولے مطالبے په جواب کښې د سورة
نحل په شروع کښې اوفرمائيل اَتٰٓى اَمْرُ اللّٰهِ فَلَا تَسْتَعْجِلُوْهُ۔ د الله عذاب به خامخا
راځي۔ تاسو د هغې د راتلو مطالبه په جلتئ سره مهٔ کوئ۔ دے سره الله تعالیٰ دا هم واضحه
کړه چه تاسو کومه مسئله د توحيد نهٔ منئ هغه دومره زياته ضروری او مهتم بالشان ده
چه ټول نبيان عليهم السلام د هغې په خاطر دُنيا ته راليږلے شوی دی۔ يُنَزِّلُ الْمَلٰٓئِكَةَ
بِالرُّوْحِ مِنْ اَمْرِهٖ عَلٰى مَنْ يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖٓ اَنْ اَنْذِرُوْٓا اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنَا فَاتَّقُوْنِ
په دے آيت کښې د روح نه مراد د توحيد مسئله ده څنګه چه د آيت په آخری حصه کښې
انه لا اله الا انا سره وضاحت کړے شوے دے۔ د مکے د مشرکانو د عذاب مطالبه
الله تعالیٰ په هغوی باندے قحط مسلط کولو سره پوره کړه څنګه چه د سورة نحل په رکوع
۱۵ کښې يے ارشاد اوفرمائيۀ۔ فَاَذَاقَهَا اللّٰهُ لِبَاسَ الْجُوْعِ وَالْخَوْفِ بِمَا كَانُوْا يَصْنَعُوْنَ
بيا د مشرکانو د دويمے مطالبے په جواب کښې يے د سورة بنی اسرائيل په شروع کښې اوفرمائيل
سُبْحٰنَ الَّذِيْٓ اَسْرٰى بِعَبْدِهٖ لَيْلًا مِّنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ اِلَى الْمَسْجِدِ الْاَقْصٰى
دا خوځما د پيغمبر صلی الله عليه وسلم د صداقت آسمانی نښه هم اوګورئ ما په خپل بنده
(محمد صلی الله عليه وسلم) د شپے په لږه شان حصه کښې د مسجد حرام نه مسجد اقصیٰ پورے
(او د مسجد اقصیٰ نه تر کوم ځائ پورے چه ما غوښتل) سيل اوکړو۔ د منکرينو عذاب او
د معراج د دے معجزے نه روستو هم که چرے تاسو ايمان رانهٔ وړو۔ نو تاسو به سخت عذاب

سره هلاک کړے شي. خنګه چه په جنګ بدر کښے اوشو. لیکن الله تعالیٰ د دے منکرینو د مکمل تباهئ او هلاکت نه مخکښے صرف په خپله مهربانئ او رحمت سره هغوی ته د خان د اصلاح کولو یو بل موقعه هم ورکړه. او سورۂ کهف یے نازل کړو او د هغوی د شبهاتو جواب یے ورکړو د کوم په وجه چه هغوی په شرک کښے مبتلا وُو. ګویا چه په سورۂ کهف کښے د مشرکانو د شبهاتو جواب ورکړے شوے دے.

دریم ربط: د توحید د مسئلے چه کوم تعبیر د سورۂ نحل په شروع کښے شوے دے د سورۂ بنی اسرائیل په آخر کښے هغه په یو بل عنوان سره بیان کړے شو. قُلِ ادْعُوا اللّٰهَ اَوِ ادْعُوا الرَّحْمٰنَ اَيًّا مَّا تَدْعُوْا فَلَهُ الْاَسْمَآءُ الْحُسْنٰى. یعنی د الله تعالیٰ ډیر اعلیٰ صفتونه دی. تاسو خواه په هر صفت سره هغه ته اواز کوئ تاسو ته اختیار دے لیکن اواز صرف هغه ته کوئ بل چاته اواز مه کوئ. د هغے نه روستو یے اوفرمائیل وَقُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ لَمْ يَتَّخِذْ وَلَدًا الخ دا په ماقبل متفرع دے او د هغے د پاره په منزله د دلیل دے. یعنی ټول صفتونه د کارسازئ الله پورے خاص دی. چه د هغه څوک نائب او شریک نشته. او نه د هغه څوک مددګار شته. بیا یے د سورۂ کهف په شروع کښے اوفرمائیل اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ اَنْزَلَ عَلٰى عَبْدِهِ الْكِتٰبَ وَلَمْ يَجْعَلْ لَّهٗ عِوَجًا. د دیکښے اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ دعوی ده. یعنی د کارسازئ ټول صفتونه الله پاک سره خاص دی. د دے مابعد د دے دعوے دلائل ذکر دی.

(۱) الله پاک په خپل بنده باندے داسے کتاب نازل کړو چه هغے کښے هیڅ کوږوالے نشته او په هغے سره د منکرینو ټول شکونه او شبهات ختمیږی. دا خبره د الله تعالیٰ د کمالِ علم دلیل دے. (۲) د دے نه روستو یے د کتاب (قرآن) نازلولو حکمت او علت بیان کړو یعنی نه منونکو ته یے د آخرت د سخت عذاب ویره او منونکو ته یے د آخرت د همیشه نعمتونو زیرے ورکړو. دا خبره هم د الله د کمالِ قدرت دلیل دے.

د قرآن د نازلولو غرض بیانولو په وخت یے د اول شق ذکر د اشان اوکړو. لِيُنْذِرَ بَاْسًا شَدِيْدًا. او د دویم شق ذکر یے د اشان اوکړو. وَيُبَشِّرَ الْمُؤْمِنِيْنَ الخ په اول شق کښے د سخت عذاب ذکر کړے شوے دے کوم چه به هغوی ته ملاویږی. په سورت کښے چونکه د هغه مشرکانو د شبهاتو ازاله مقصود ده کوم چه د الله د پاره ولد او نائب تجویز کوی. د دے وجے نه د بعد عهد په وجه یے وَيُنْذِرَ دوباره ذکر کړو. او په تفصیل سره یے د منکرینو ذکر اوکړو. الَّذِيْنَ قَالُوا اتَّخَذَ اللّٰهُ وَلَدًا. یعنی دا سورت د هغه منکرینو د سخت عذاب نه د خبردارولو د پاره نازل کړے شوے دے کوم چه د الله پاک نیک بندګان د هغه ولد او نائب ګنړی. د دے نه روستو یے د هغوی د دے باطل قول بدی بیان کړه. او بیا یے په ټول سورت کښے د هغوی د شبهاتو جواب ورکړو. سورۂ مریم هم د سورۂ کهف تتمه ده. او په هغے کښے هم د منکرینو د باقی شبهاتو جواب ورکړے شوے دے. په دے وجه د سورۂ مریم په آخر کښے یے د ددی د پوره ذکر شوے

دعوے څه قدرے تفصیل سره ذکر اوکړو. وَقَالُوا اتَّخَذَ الرَّحْمٰنُ وَلَدًا ۝ لَقَدْ جِئْتُمْ شَيْئًا إِدًّا الخ (مریم ۶۶) او په آخر کښے یې د سورة ماحصل دا شان بیان کړو. فَإِنَّمَا يَسَّرْنٰهُ بِلِسَانِكَ لِتُبَشِّرَ بِهِ الْمُتَّقِيْنَ وَتُنْذِرَ بِهٖ قَوْمًا لُّدًّا ۝ د سورة کهف په شروع کښے یې چه د کومو دوه جماعتونو المؤمنین او اَلَّذِيْنَ قَالُوا اتَّخَذَ اللّٰهُ وَلَدًا سره تعبیر کړے وُو د سورة مریم په آخر کښے یې په طور د لف نشر مرتب سره المتقین (پرهیزګار او د شرك نه ځان ساتونکي) او قَوْمًا لُّدًّا (جهګړه کونکے قوم) سره تعبیر اوکړو.

**خلاصه**: د انبیاؤ علیهم السلام او اولیاء کرامو او پېریانو په باره کښے مشرکان په څلورو شبهاتو کښے مبتلا وُو. چه د هغے د وجے نه هغوی دوی لره عالم الغیب، مالک مختار، متصرف او کارساز ګڼړل. په دے سورت کښے د مشرکانو د څلورو شبهاتو ازاله کړے شوې ده.

**اوله شبه**:- اصحاب کهف چه اووه ځوانان وُو او د سردارانو ځامن وُو د دریو سوو نه زیاتے زمانے پورے په غار کښے صحیح سلامت پراته وُو. دومره اوږده زمانه کښے هغوی ته څه قسمه تکلیف اونه رسیدلو. تر دے چه دے دومره وخت کښے به هغوی بانده نمر هم اونه لګیدلو. مشرکانو ته دا شبه اوشوه چه هغوی د الله پاك درکړے نه مافوق الاسباب قدرت او طاقت مالکان او متصرف وُو په دے وجه هغوی د اصحاب کهف نذر او منتونه ورکول شروع کړل. نو هغوی او وه ددوئ د اصحاب کهف په نوم او اتمه د دوئ د هغوی د سپي په نوم ورکول شروع کړل.

**دویمه شبه**:- څینے خلقو به بعضے حالاتو کښے د پېریانو نه مدد غوښتلو او هغوی ته به یې آوازونه کول. د هغوی کارونه به د الله تعالی د تکویني قانون د لاندے د خپلو اسبابو موافق سرته رسیدل. لیکن هغه خلقو به دا خیال کولو چه د هغوی کارونه شیطانانو سرته رسولی دي. څنګه چه الله تعالی فرمائي وَأَنَّهٗ كَانَ رِجَالٌ مِّنَ الْإِنْسِ يَعُوْذُوْنَ بِرِجَالٍ مِّنَ الْجِنِّ الخ (جن)

**دریمه شبه**:- د موسی او خضر علیهما السلام د واقعے نه معلومیږي چه موسی علیه السلام اګرچه په غیب عالم نه وُو. لیکن خضر علیه السلام په غیب عالم وُو ځکه چه هغه موسی علیه السلام ته ډیر غیبي امور بیان کړل.

**څلورمه شبه**:- په یهودو کښے د ذوالقرنین په باره کښے مشهوره وه چه هغه ته الله تعالی ډیر طاقت او قدرت ورکړے وُو او هغه کارساز او متصرف وُو.

نو په وَيُنْذِرَ الَّذِيْنَ قَالُوا اتَّخَذَ اللّٰهُ وَلَدًا کښے څلورو واړو شبهاتو طرف ته اشاره ده. یعنی د دے مشرکانو خیال وُو چه اصحاب کهف، پېریان، حضرت خضر او ذوالقرنین د الله تعالی نائب متصرف دي. او الله تعالی د خپلو اختیاراتو نه ډیر اختیارات هغوی ته حواله کړیدي. د سورة په آخر کښے یې د انبیاؤ، اولیاؤ او ملائکو علیهم السلام په باره کښے د شبهاتو جواب ورکړو او د هغے ذکر یې دوباره

اوکړو۔ وَ قَالُوا اتَّخَذَ اللّٰهُ وَلَدًا۔

## د اولے شبهے جواب

اول په اَمْ حَسِبْتَ اَنَّ اَصْحٰبَ الْكَهْفِ ... نه تر... اَحْصٰی لِمَا لَبِثُوْا اَمَدًا (ع ۱۶) کښے داولے شبهے په اختصار سره جواب ورکړے شوے دے۔ یعنی د اصحاب کهف واقعه زمونږ د قدرت د نښونه ده۔ په دے کښے د اصحاب کهفو د تصرف او اختیار هیڅ دخل نشته۔ د مشرک بادشاه نه اوتښتیدل په یو غار کښے پټ شول او خپل ځان یے بچ کړو او هلته چه اورسیدل نو هغوی د الله تعالیٰ نه د رحمت او د معاملے د صحیح والی دعا اوغوښتله۔ مونږ هغوی په غار کښے ډیرے زمانے پورے اوده کړل او د ډیرے مودے نه پس مو هغوی بیدار کړل د اتولے خبرے د احقیقت واضحه کوی چه اصحاب کهف متصرف او کارساز نه وو۔ بلکه د الله عاجز او موحد بندګان وو۔

دد ے نه روستو نَحْنُ نَقُصُّ عَلَيْكَ ... نه تر... وَكَذٰلِكَ اَعْثَرْنَا عَلَيْهِمْ (ع ۲) کښے داولے شبهے جواب په تفصیل سره ورکړے شویدے۔ دے نه روستو د اصحاب کهفو څنے متعلقات ذکر شویدی او په اخر کښے د هغے ثمره (فائده) او شپږ امور متفرعه ذکر شویدی دے نه پس د منکرینو د اصلاح د پاره امورِ ثلاثه ذکر کړے شول۔

اول امر وَاضْرِبْ لَهُمْ مَّثَلًا ... نه تر... هُوَ خَيْرٌ ثَوَابًا وَّخَيْرٌ عُقْبًا (ع ۵) یعنی چه په کومه دنیا باندے تاسو مغرور یئ او د الله د توحید او د هغه د احکامو نه مخ اړوئ هغه فانی ده او تاسو نه به په زوره واخستلے شی او په دنیا کښے به د هغے په وجه عذاب بیا مومئ۔

دویم امر وَاضْرِبْ لَهُمْ مَّثَلَ الْحَيٰوةِ ... نه تر... خَيْرٌ عِنْدَ رَبِّكَ ثَوَابًا وَّخَيْرٌ اَمَلًا (ع ۶)۔ په کومه دنیا چه تاسو نازیږئ هغه ډیره سپکه ده او دے لائقه نه ده چه دے ته په اخرت باندے ترجیح ورکړے شی۔

دریم امر وَيَوْمَ نُسَيِّرُ الْجِبَالَ ... نه تر... وَلَا يَظْلِمُ رَبُّكَ اَحَدًا (ع ۶) کومے سپکے او فانی دنیا ته چه تاسو اخرت باندے ترجیح ورکوئ هم دا به په اخرت کښے ستاسو د عذاب سبب وی۔

## د دویمے شبهے جواب

وَاِذْ قُلْنَا لِلْمَلٰٓئِكَةِ اسْجُدُوْا لِاٰدَمَ ... نه تر... وَلَمْ يَجِدُوْا عَنْهَا مَصْرِفًا (ع ۷) خولا چه اولیاء الله متصرف او مختار ګنړی او هغوی ته په حاجتونو او مشکلاتو کښے اوازونه کوی د هغوی نذرانے ورکوی او د هغوی د مقبرو نه ډولے او داښتے نه پریکوی د دے ویرے نه چه هغوی به نقصان راورسوی۔ په اصل کښے د اخلق پیریانو ته اواز کوی حالانکه شیطان او پیریان د انسان د اولے ورځے نه دشمنان دی۔ بیا هغوی څنګه

دوستان او کارساز جوړ ېږي شي. دغه نه روستو وَلَقَدْ صَرَّفْنَا فِيْ هٰذَا الْقُرْاٰنِ ... نه تر ... وَجَعَلْنَا لِمَهْلِكِهِمْ مَّوْعِدًا (ع ۸) کښې زجر او تخویفونه دي.

# د دریم شُبهې جواب

وَاِذْ قَالَ مُوْسٰى لِفَتٰىهُ سره د موسٰی او خضر علیهما السلام واقعه بیان کړے شوه. او په اخر کښې وَمَا فَعَلْتُهٗ عَنْ اَمْرِيْ (ع ۱۰) سره د شُبهې جواب ورکړے شو چه خضر علیه السلام په غیبو پوهېدونکے او متصرف نه وُو هغه چه څه هُم کړي وُو هغه ټول یې د الله په حُکم سره موسٰی علیه السلام ته ښودلي وُو او د هغه په ښود نه یې بیان کړي وُو.

# د څلورمې شُبهې جواب

وَيَسْـَٔلُوْنَكَ عَنْ ذِي الْقَرْنَيْنِ ... نه تر ... وَكَانَ وَعْدُ رَبِّيْ حَقًّا (ع ۱۱) ذوالقرنین ته اګرچه په قدر د ضرورت ظاهري اسباب ورکړے شوي وُو. لیکن د مافوق الاسباب امورو نه په هیڅ کار بانده هُم هغه ته قدرت نه وُو ورکړے شوے. او بیا د ظاهري اسبابو په اعتبار سره هُم هغه هر قسم عاجز پاتے شوے وُو په مشرق کښې د ګرمۍ د وجې نه او په مغرب کښې د ختبو (چقړو) د وجې نه او په شمال کښې د یاجوج ماجوج د وجې نه.

د څلورو وارو شُبهو جواب ورکولو نه روستو د اخري رکوع ایتونه د لف و نشر مرتب په طریقه بانده په څلورو وارو جوابونو بانده تفریع کړے شویدي. اَفَحَسِبَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا ... نه تر ... لَا يَبْغُوْنَ عَنْهَا حِوَلًا (ع ۱۲) په اول جواب بانده بالذات او په دویم بانده بالتبع متفرع دے. یعني د الله تعالٰی نیک بندګان غیب دان او کارساز نه دي نو په پیریانو کښې دا صفتونه څنګه موندلے شي. قُلْ لَّوْ كَانَ الْبَحْرُ الخ په دریم جواب بانده بالذات او په څلورم بانده بالتبع متفرع دے. یعني صرف الله تعالٰی غیب دان دے. هر کله چه د هغه نه سِوا هیڅوک غیب دان نشته نو متصرف في الامور هُم څوک نشته. په اخر کښې قُلْ اِنَّمَآ اَنَا بَشَرٌ الخ سره نبي علیه السلام ته حکم ورکړے شو چه تاسو د خپل ځان متعلق هُم اعلان اوکړئ چه زهٔ هُم غیب دان او کارساز نهٔ یم بلکه د الله تعالٰی رسول یم او ما ته وحي کیږي. د هغې په ذریعه دا مضمون رالیږلے شویدے چه په غیبو عالِم، کارساز، متصرف، حاجت روا او مشکل کشا صرف الله تعالٰی دے بل څوک نه دے. د سورت په اخري جمله فَمَنْ كَانَ يَرْجُوْا لِقَآءَ رَبِّهٖ الخ کښې یې د ټول سورت خلاصه بیان کړه چه څوک په اخرت کښې د الله د ملاقات او د رحمت اُمید وار دے. په هغهٔ لازم دي چه نیک عمل اوکړي لیکن دے سره د الله توحید دُمني اصحاب کهف، حضرت خضرؑ، فرښتے او پیریان کارساز ګنړلو سره ورته اواز اُو نکړي او د شرک جلي او خفي نه لرے اُوسیږي.

## تمهید

مخکښې د ربط بیانولو په سلسله کښې تیر شویدي. چه د سورة کهف نه د قرآن دریمه حصه شروع کیږي. دا سلسله د سورة احزاب اخره پورې چلیدلې ده. او د باقي حصو پشان دا حصه هم د اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ نه شروع شویده. په دے حصه کښې هم دا مضمون زیات بیان شویدے چه د ټول جهان مالک او دنیا په دے کارخانه کښې متصرف او مختار صرف الله تعالیٰ دے. او هغه هیڅ اختیار چا ته حواله کړے نه دے. د دے نه علاوه په دے حصه کښې نور هم څو مضمونونه ذکر شویدي لیکن هغه به بالتبع راځي.

سُوْرَةُ الْكَهْفِ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ مِائَةٌ وَعَشْرُ اٰيَاتٍ وَاثْنَا عَشَرَ رُكُوْعًا

سورة کهف ده په مکه کښې نازل شو او د دے یو سل لس (۱۱۰) ایتونه دي او دولس رکوع ده

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○

شروع د الله د نوم نه چه بے حده مهربانه ډیر رحم کوونکے دے.

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْٓ اَنْزَلَ عَلٰى عَبْدِهِ الْكِتٰبَ وَلَمْ

ټول تعریفونه الله لره دي هغه چا چه نازل کړو په خپل بنده باندے کتاب او نه دے

يَجْعَلْ لَّهٗ عِوَجًا ۝١ قَيِّمًا لِّيُنْذِرَ بَاْسًا شَدِيْدًا مِّنْ

ګرځولے په دے کښے څه کوږوالے برابر ئے نازل کړو دے د پاره چه او ویروي ئے د یو سخت عذاب

لَّدُنْهُ وَيُبَشِّرَ الْمُؤْمِنِيْنَ الَّذِيْنَ يَعْمَلُوْنَ

د الله د طرفنه او زیرے ورکړي مؤمنانو ته هغوئ چه کوي نیک کارونه

الصّٰلِحٰتِ اَنَّ لَهُمْ اَجْرًا حَسَنًا ۝٢ مَّاكِثِيْنَ فِيْهِ

چه هغوئ د پاره ښه بدله ده چه هغې کښے به اوسیږي

اَبَدًا ۝٣ وَّيُنْذِرَ الَّذِيْنَ قَالُوا اتَّخَذَ اللّٰهُ وَلَدًا ۝٤ مَا

همیشه او او ویروي هغه خلق هغوئ چه وائي الله لري اولاد هیڅ

لَهُمْ بِهٖ مِنْ عِلْمٍ وَّلَا لِاٰبَآئِهِمْ كَبُرَتْ كَلِمَةً تَخْرُجُ

خبر نشته هغوئ ته د دے خبرے نه او نه د هغوئ پلارانو نیکونو ته څومره لویه خبره ده که اوځي

مِنْ اَفْوَاهِهِمْ ۭ اِنْ يَّقُوْلُوْنَ اِلَّا كَذِبًا ﴿۵﴾ فَلَعَلَّكَ بَاخِعٌ نَّفْسَكَ

د هغوی خلو نه. نه وائی دوی مګر دروغ. نو ښایی چه ته به هلاک کړې ځان خپل ستا د دوی

عَلٰٓى اٰثَارِهِمْ اِنْ لَّمْ يُؤْمِنُوْا بِهٰذَا الْحَدِيْثِ اَسَفًا ﴿۶﴾ اِنَّا جَعَلْنَا مَا

په روستو شه که چرته اونه منی هغوی دا خبره په افسوس کولو سره بیشکه مونږ پیدا کړی دی هغه چه

عَلَى الْاَرْضِ زِيْنَةً لَّهَا لِنَبْلُوَهُمْ اَيُّهُمْ اَحْسَنُ عَمَلًا ﴿۷﴾

په زمکه کښې دی ف۱ دا د ښائست دپاره دے دپاره د چه آزمیښت اوکړو مونږ د خلقو چه کوم یو دوی ښه کار کوی

**نکات:** ۱۔ تمهید ۲۔ علت د ماقبل دپاره ۳۔ تخویف ۴۔ اشاره خلوه شبهاتو ته ۵۔ تسلی دپاره د نبی علیه السلام

**موضح قرآن** ف۱ یعنی د هغې رونق طرفته مه ګوره هغه یا هغه پریږدی او اخرت اخلی.

**تفسیر:** ۱۔ سه په سورة کهف کښې د مشرکانو د خلورو شبهاتو جواب ورکړے شوید او په تمهید کښې دوه خبرے ذکر شوی دی. (۱) د قرآن مجید د نازلولو غرض او مقصد د سورة د شروع نه تر اِنْ يَّقُوْلُوْنَ اِلَّا كَذِبًا پورے یعنی د مشرکانو د شبهاتو ازاله کول چه الله تعالیٰ خپل محبوب بندګانو ته ځنې اختیارات ورکولو سره خپل نائبان جوړ کړی دی. (۲) د مشرکانو په انکار باندے د نبی علیه السلام پریشانی او غم باندے هغوی ته تسلی ورکړے شوه. فَلَعَلَّكَ بَاخِعٌ نَّفْسَكَ ... نه تر ... مَا عَلَيْهَا صَعِيْدًا جُرُزًا.

سه اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ. د سورة فاتحې په تفسیر کښې تیر شوی دی. چه په قرآن مجید کښې چرته هم چه د الحمد لله جمله راغلی ده. هلته د حمد (تعریف) نه د الله تعالیٰ د الوهیت صفات یا په نورو الفاظو کښې د کارسازئ صفات مراد دی. مثلاً خالق، مالک او رازق کیدل، عالم الغیب، کارساز، متصرف او مختار کیدل. ما فوق الاسباب حاجت روا او مشکل کشا کیدل وغیره. نو د دے جملې حاصل دا دے چه ټول صفات د کارسازئ د الله تعالیٰ د ذات مفیض برکاتو سره خاص دی. او د هغې نه هیڅ یو صفت هم د الله په ټول مخلوق کښې په هیڅ کښې هم نه موندل کیږی. او مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ (په اسمان کښې اوسیدونکو، په زمکه کښې اوسیدونکو او د خاورو لاندے اوسیدونکو) نه هیڅوک هم په دے صفتونو کښې د هغه شریک نشته. په الحمد لله کښې چه کومه دعوی شوی ده د هغې ماحصل په دوؤ جملو کښې دا دے چه صرف الله تعالیٰ عالم الغیب او خاص د هغه متصرف او مختار دے.

سه اَلَّذِیْ موصول سره د صلې نه ماقبل دپاره علت دے یعنی د صلې په صورت کښې چه کومه خبره ذکر شوی ده. هغه د الله تعالیٰ د حمد مستحق کیدو دلیل دے. وفی وصفه

تعالی بالموصول اشعارٌ بعلیة ما فی حیز الصلة لاستحقاق الحمد (روح ص ۲۰۳ ج ۱۵) دده اجمال تفصیل دا دے چه په صله کښے دا خبره ذکر شویده چه الله تعالی په خپل بنده محمد ﷺ باندے یو داسے کتاب نازل کړیدے چه په هغے کښے دوه صفتونه دی. (۱) په هغے کښے کوږ والے نشته دهغے بیان بالکل واضح او صفا دے د هغے الفاظ او معنو کښے دفصاحت او بلاغت د اصولو او دحق د دعوت نه دیوے ذرے برابر خلاف هم نشته. ای شیئامن العوج باختلال اللفظ من جهة الاعراب ومخالفة الفصاحة وتناقض المعنی و کونه مشتملا علی ما لیس بحق اوداعیا لغیر الله تعالی (روح ص ۲۰۵ ج ۱۵) (۲) دده کتاب مضامین پاخه او هر لحاظ سره جامع او مکمل دی. ځکه چه دے سره دمنکرینو ټول شبهات هم لرے کیږی. قَيِّمًا ای مستقیما کما اخرجه ابن المنذر عن الضحاك. وروی ایضا عن ابن عباس (روح) ددے صفتونو والا کتاب نازلول صرف دهغه ذات نه ممکن کیدے شی چه دهغه علم په هرڅه احاطه کړے وی. او هغه عالم الغیب وی. دے سره د ذکر شوو دعوو یوه حصه ثابته شوه. دے نه روستو یے دقرآن نازلولو غرض او مقصد بیان کړو. لِّيُنذِرَ بَأْسًا شَدِيدًا قرآن یے دے دپاره نازل کړو چه منکرین د اخرت د دردناك عذاب نه اوویروی. او مومنانو ته په اخرت کښے دملاوید ونکو انعاماتو زیرے ورکړی. دے نه د الله تعالی د کامل قدرت او تصرف پته لګیږی. دا د دعوے د دویم جزء دلیل دے.

هغه دا د منکرینو دپاره تخویف اُخروی دے. لِّيُنذِرَ بَأْسًا شَدِيدًا الخ کښے لام اَنزَلَ سره متعلق دے. دقرآن مجید نازلولو دلته دوه مقصده بیان شویدی اول تخویف او انذار (ویرول) دویم تبشیر (زیرے ورکول) اول د لِّيُنذِرَ سره تخویف بیا يُبَشِّرَ سره بشارت دے نه پس بیا وَيُنذِرَ سره تخویف ذکر کړے شویدے. په اول تخویف کښے د مفعول (منکرینو) ذکر اونکړے شو او د عذاب شدید ذکر کړے شوے دے. د بشارت په سلسله کښے مفعول (المؤمنين) او اجر دواړه ذکر شویدی. په دے سورت کښے چونکه مقصود د منکرینو د شبهاتو لرے کول دی. ددے وجے نه دبعض عهد ردو یروخت تیریدلو) دوجے نه یے وَيُنذِرَ دوباره ذکر سره دمنکرینو ذکر اوکړے شو. او ورسره یے دا هم بیان کړل چه هغه کوم منکرین دی چه دلته دهغوی ویرول مقصود دی او د هغوی د شبهاتو ازاله کول دی. وے فرمائیل اَلَّذِينَ قَالُوا اتَّخَذَ اللَّهُ وَلَدًا ٥ د هغه خلقو ویرول مقصود دی څوك چه د الله دپاره ولد مقرروی. په قرآن مجید کښے د مشرکانو ددے قول نه په اتخاذ ولد سره تعبیر کړے شویدے. چه معنیٰ یے خوئ دے یعنی د متبنّٰی (خوئ نیولو) دے. په عربئ محاوراتو کښے دا ترکیب هم په دے معنیٰ کښے استعمالیږی. څنګه چه اسیهٰ د فرعون ښځے د موسیٰ علیه السلام په باره کښے او عزیز مصر د یوسف علیه السلام متعلق وئیلی وو. عَسَىٰٓ أَن يَنفَعَنَآ أَوْ نَتَّخِذَهُۥ وَلَدًا (قصص ع ۱، یوسف ع ۱) دے نه معلومه

شوه چه مشرکانو الله د پاره حقیقي ځوئ نه مقرر ولو. نفي اتخاذ الولد ظاهر في التبني. (روح ص ۱۹۵ ج ۱۵) بلکه د هغوی مطلب دا وو چه الله تعالیٰ خپل خوښ بندیګان (انبیاء علیهم السلام، اولیاء کرام او ملائکے) خپل متبنیٰ او نائبان مقرر کړیدي. او دوی ته یے ځنے ما فوق الاسباب امورو کښے تصرف او اختیار ورکړیدے. څنګه چه پلار خپلو ځامنو ته ځنے اختیارات سپاري. دا شان ولد، ولد نه د خپل حقیقي ځوئ په معنیٰ کښے نه دے بلکه د نائب او متصرف په معنیٰ کښے استعمال شوید ے. شاه ولي الله دهلوی فرمائي. ومنهم من اعتقد ان الله هو السید وهو المدبر لکنه قد یخلع علی بعض عبیده لباس الشرف والتأله ویجعله متصرفا في بعض الامور الخاصة ویقبل شفاعته في عباده بمنزلة ملك الملوك یبعث علی کل قطر ملکا یقلد تدبیر تلك المملکة فیما عدا الامور العظام فیتلجلج لسانه ان یسمیهم عباد الله فیسویهم وغیرهم فعدل عن ذلك الی تسمیتهم ابناء الله ومحبوبي الله (حجة الله البالغة ص ۶۱ ج ۱) او څه مشرکان داسے دي چه د هغوی عقیده دا ده چه الله تعالیٰ د ټولو نه لوئ دے او هم هغه مدبر د عالم دے. لیکن هغه کله خپل ځنے مقرب بندیګانو ته د بزرګئ او الوهیت کپړے واچوي او هغوی په ځنے خاص امورو کښے متصرف جوړوي. او د نورو په حق کښے د هغوی شفاعت قبلوي. څنګه چه د دُنیا یو بادشاه په هره علاقه کښے یو وړوکے بادشاه مقرر کړي او د هغے انتظام هغه ته سپاري سوا د لویو لویو کارونو نه. اوس د هغوی ژبے د ے مقربینو ته د الله بندګان وئیلو نه په رچیدو دي (یعني د الله بندیګان یے په ژبه نه راځي) ځکه چه دا شان به د مقربینو او عوامو په مینځ کښے هیڅ فرق پاتے نه شي. په دے وجه هغوی به دوی ته د الله تعالیٰ د بندیګانو په ځائ د الله ځامن او د هغه محبوبان وئیل. نو د دینه معلومه شوه چه د مشرکانو د الله نیک بندیګانو ته ابناء الله (د الله ځامن) وئیلو نه مطلب دا نه وو چه هغوی د الله تعالیٰ حقیقي ځامن دي. د هغوی مطلب دا وو چه هغوی د الله محبوب او د هغه خوښ دي. او الله تعالیٰ هغوی ته په ځنے کارونو کښے تصرف او اختیار ورکړیدے.

۶ دا د هغوی د باطل قول رد دے. په کښے ضمیر مجرور د دوی د مذکوره قول طرفته راجع دے. یعني د دوی قول ټول د جهالت نه راپیدا شوید ے. په دے باندي هغوی سره هیڅ دلیل نشته. نه د هغوی پلارانو او نیکونو سره په دے دعوی باندے څه دلیل وو. چه د هغے نه دے مشرکانو دا غلطه خبره زده کړه. او د چا په تقلید کښے چه هغوی هم په الله تعالیٰ باندے داسے ناپاکه افتراء (دروغ) جوړ کړل. وذکر الآباء لان تلك المقالة قد اخذوها عنهم وتلقوها منهم (بحر ص ۹۶ ج ۶) آباء (پلار نیکه) نه مراد عام دے. خواه جسماني وي یا روحاني. دا شان دا لفظ به هغه غلط کاره عالمانو او پیرانو ته هم شامل شي چا چه هغوی د دے ګمراهئ او شرك په لاره روان کړل. و لا لآبائهم ای اسلافهم (قرطبي ص ۳۵۳ ج ۱۰، ابن کثیر ص ۷۲ ج ۳)

**۷** کبرت کلمة الخ کلمةً منصوب دے او د کبرت د ضمیر نه تمیز دے. الله پاک
د پاره ولد او نائب متصرف تجویز کول ډیره سخته خبره ده. او د کفر او افتراء په
اعتبار سره ډیره لویه ده. عجیبه خبره ده چه دا سے خرابه او ناپاکه خبره ددوی په
ژبه څنګه راځی. اِنْ یَّقُوْلُوْنَ اِلَّا كَذِبًا. دا جمله د ما قبل تاکید او د مذکوره
قول د زیات قباحت او خرابئ بیانولو د پاره راوړلے شوے ده. یعنی د هغوی قول
صریح دروغ او د حقیقت خلاف دے. او په دیکښے د رښتیا او حقیقت بوئ هم نشته
ای ما یقولون فی ذلك الشان الا قولا كذبًا لا يكاد يدخل تحت امكان الصدق اصلًا.
(روح ص۲۰۳ ج ۱۵، ابو السعود ص۶۲۶ ج ۵)

**۸** دا د نبی علیه السلام د پاره تسلّی ده. لَعَلَّ دلته ترجّی د پاره نه دے بلکه د
اشفاق د پاره دے ځکه چه لَعَلَّ د محبوب شیز سره د ترجّی د پاره وی. او د محذور
(یعنی د کوم شیز نه چه مخاطب ویرول او منع کول منظور وی) سره د اظهارِ شفقت د
پاره دلته د ویم شق دے. الله تعالی نبی علیه السلام کافرانو پسے دخان دوژلو
نه منع کړے دے. (بحر ص۹۶ ج ۶) د ایت ترجمه به داسے وی چه چرته ته د دوی پسے خپل ځان
هلاك نه کړے. اَسَفًا دا د بَاخِعٌ مفعول له دے. د اَسَفْ معنی سخت غم ده. د نبی
علیه السلام خواهش وو چه مشرکان د کفر او انکار نه منع شی او ایمان راوړی او
د توحید مسئله اُومنی. لیکن د نبی علیه السلام د ډیرو کوششونو او د دعوت او تبلیغ
د ډیر ناصحانه او مؤثر انداز باوجود د کفر او انکار او د نبی علیه السلام په مخالفت
کښے نور هم مخکښے لاړل. په دے باندے نبی علیه السلام محض د شفقت په وجه سره
ډیر زیات غمژن او خفه شو. تر دے چه هغوی به هر وخت فکرمند او غمژن
اُوسیدل. په دے باندے الله تعالی د هغوی د تسلّئ د پاره دا ایتونه نازل کړل.
او تسلّی یے ورکړه چه تاسو د تبلیغ فریضه او د انذار او تبشیر حق ادا کړو او تما
د توحید پیغام د په ډیره ښکلے طریقه باندے مشرکانو ته اُورسولو. اوس که چرے
هغوی ایمان نه راوړی نو تاسو غم مه کوئ ځکه چه د ایمان د دولت نه هغوی ته
حصه ورکول دا نه ستا فریضه ده او نه ستا په اختیار او قدرت کښے دی. المقصود ان
یقال للرسول لا یعظم حزنك و اسفك بسبب كفرهم فانا بعثتك منذرًا ومبشرًا فاما
تحصیل الایمان فی قلوبهم فلا قدرة لك علیه والغرض تسلیة الرسول صلی الله علیه
وسلم عنه (کبیر ص۶۶ ج ۵)

**۹** اِنَّا جَعَلْنَا الخ مشرکان یے ولے نه منی؟ صرف په دے وجه چه د دوی سره
دولت دے باغونه او محلونه دی. نو د دوی له په دُنیوی شان او شوکت باندے مغرور
کیدل پکار نه دی. په زمکه باندے چه موږ کوم څه پیدا کړی دی، سره زر، سپین
زر، جواهر، د حیواناتو قسمونه، تروتازه فصلونه، قسما قسم ګلونه او میوے دا ټول د
زمکے د پاره ښکلے بنائست دے او ټول هر څه خالص د بنیادم د ازمائش او امتحا

دپاره موږ پیدا کړېدي. چه څوك د دُنیا دا ساز و سامان دخالق د معرفت او د شریعت د حقونو د ادا کولو ذریعه جوړوي. او څوك دا د نفساني شهوتونو او د فاسد و غرضونو په پوره کولو کښې صرف کوي. (من الروح ص۲۰۶ ج۱۵) حضرت شیخ اُوفرمائیل چه په زِیْنَةً کښې تنوین د تقلیل او تحقیر د پاره دے. یعني دا زینت څو ورځے او فاني دے.

وَاِنَّا لَجٰعِلُوْنَ مَا عَلَيْهَا صَعِيْدًا جُرُزًا ﴿۸﴾ اَمْ حَسِبْتَ

او موږ گرځونکي یو دغه کوم څه چه په دے باندے دي میدان صفاف آیا ته خیال کوے دغه

اَنَّ اَصْحٰبَ الْكَهْفِ وَالرَّقِيْمِ كَانُوْا مِنْ اٰيٰتِنَا

چه د غار او تختۍ والا زموږ په قدرتونو کښې ډیر

عَجَبًا ﴿۹﴾ اِذْ اَوَى الْفِتْيَةُ اِلَى الْكَهْفِ فَقَالُوْا رَبَّنَآ اٰتِنَا

عجیبه وو. چه کله لاړل هغه ځوانان د غر په غار کښې بیا یې او وئیل اے ربه! راکړے

مِنْ لَّدُنْكَ رَحْمَةً وَّهَيِّئْ لَنَا مِنْ اَمْرِنَا رَشَدًا ﴿۱۰﴾

موږ ته د خپل طرفه رحمت او پوره کړے زموږ کار د هدایت

فَضَرَبْنَا عَلٰٓى اٰذَانِهِمْ فِى الْكَهْفِ سِنِيْنَ عَدَدًا ﴿۱۱﴾ ثُمَّ

بیا موږ اُوډُ کړل د هغوی غوږونه په هغه غار کښې څو کاله په شمار بیا

بَعَثْنٰهُمْ لِنَعْلَمَ اَيُّ الْحِزْبَيْنِ اَحْصٰى لِمَا لَبِثُوْٓا

موږ راپاسول هغوی لره چه معلوم کړو د دوو ډلو نه چه کوم یو یاد ساتلے دے څومره وخت

اَمَدًا ﴿۱۲﴾ نَحْنُ نَقُصُّ عَلَيْكَ نَبَاَهُمْ بِالْحَقِّ اِنَّهُمْ

چه هغوی تیر کړیدے وو. موږ واوروُ تا ته ستا د هغوی حال ربښتیا هغوی څو

فِتْيَةٌ اٰمَنُوْا بِرَبِّهِمْ وَزِدْنٰهُمْ هُدًى ﴿۱۳﴾ وَّرَبَطْنَا

ځوانان وو کله چه یقین یې اوکړو په خپل رب باندے او زیات کړه موږ د هغوی هدایت او مضبوط

عَلٰى قُلُوْبِهِمْ اِذْ قَامُوْا فَقَالُوْا رَبُّنَا رَبُّ السَّمٰوٰتِ

کړل موږ د هغوی زړونه چه کله اودریدل بیا یې او وئیل زموږ رب دے رب د اسمانونو

وَالْاَرْضِ لَنْ نَّدْعُوَاۡ مِنْ دُوْنِهٖۤ اِلٰـهًا لَّقَدْ قُلْنَاۤ اِذًا شَطَطًا ﴿۱۴﴾

او د ځمکې نه به را بلو موږ د هغهٔ نه سوا هيڅوک معبود کنې نو موږ به ويلې وې په هغه وخت خبره د عقل نه لرې

هٰۤؤُلَاۤءِ قَوْمُنَا اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِهٖۤ اٰلِهَةً ؕ لَوْلَا

دا زموږ قوم دے کړځولے يې دي د الله نه سوا نور معبودان ولے نهٔ

يَاْتُوْنَ عَلَيْهِمْ بِسُلْطٰنٍۭ بَيِّنٍ ؕ فَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنِ

راوړي دوي باندے څهٔ ښکاره دليل بيا د هغهٔ نه لوئ ګنهګار څوک دے

افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا ﴿۱۵﴾

چه جوړ يې کړل په الله باندے دروغ

**نکات:** ۱ د اولے شبهے اجمالي جواب ۲ د اولے شبهے تفصيلي رد ۲

**موضح قرآن**

**ف ۱** يعني واښهٔ او ونے به را ټول کړے شي. **ف ۲** د دوه ډلے يا په تاريخ ليکونکو کښے دي. چه يوه ډله څو کلونه ليکي او بله ډله څو کلونه ليکي. يا هغه اصحاب کهف چه را پاڅيدل څښو او وئيل چه موږ يوه ورځ اوده شوي يو، او څښو او وئيل چه ددے نه کم. **ف ۳** يعني د ايمان زيات درجه ورکړے شوه، اولياء م اوګرځول.

**ف ۴** ديو ښار بادشاه ظالم وو چا به چه د هغهٔ د بُت عبادت نهٔ کولو نو هغه به يې په عذاب سره وژلو يا به يې په هغهٔ د بُت عبادت کولو. دا څو ځوانان د هغهٔ د نوکرانو ځامن وو څوک د نانبايانو او څوک د باورچيانو. دا شان چا د دوي سي ږي اوکړه، هغه ځائے حاضر کړل تپوس يې ترے اوکړو. هغه وخت الله تعالىٰ د هغوي زړونه ټينګ کړل يعني مضبوط يے کړل او خپله خبره يې صفا اوکړه. هغه وخت بادشاه خبره موقوف کړه چه د بل ښار نه واپس راشم نو په دوي به د بُت عبادت قبلوم يا به عذاب ورکوم. هغه بل ښار ته لاړو او دوي په پټه د ښار نه اووتل.

**تفسير: ۸ له** صَعِيْدًا خاوره. جُرُزًا داسے ميدان چه په هغے کښے هيڅ شينکي نهٔ وي. يعني د ځمکے دا رونق او ښائست به هميشه نهٔ وي دا به يوه ورځ (د قيامت په ورځ) موږ تباه کړو. او ځمکه به صفا هوار ميدان اوګرځي. په دے وجه دا د اعتبار خيز نهٔ دے نهٔ په دے باندے د ومره مغروره کيدل پکار دي. دے ځائے پورے تمهيد ختم شو، دے نه روستو د څلورو شبهاتو جواب ورکړے شوے دے.

## د ړومبئ شبهے جواب

۱۱ دا دے ځائ ته واخله تر لِمَا لَبِثُوْٓا اَمَدًا پورے د دوهمې شبهې اجمالي رد دے شبه دا وه چه اصحاب کهف ډیره زمانه په غار کښے اوده وُو. په دے دوران کښے هغوي ته هیڅ تکلیف اُونه رسیدهٔ تر دے چه ډیرے مودے پورے په هغوي باندے نمر هم اُونه لګیدهٔ. نمر به چه کله د غار څخه ته راختلو نو ځخه به یے بدلوله. دینه معلومیږي چه هغوي متصرف في الامور او مختار وُو. په دے وجه خلقو هغوي له کارساز او په غیبو عالمان ګنړلو سره رابلل. او د هغوي په نوم باندے یے نذرا او منتونه ورکول شروع کړل. نو هغوي به اووهٔ پیدا دي د دوي په نوم او یوه پیدا د دسپي په نوم ورکوله. په دے ایتونو کښے په نحو طریقو سره د ذکر شوے شبهے جواب ورکړے شوے دے اول او دوهم کَانُوْا مِنْ اٰیٰتِنَا عَجَبًا. اَمْ حَسِبْتَ کښے استفهام انکار د پاره دے او مطلب دا دے چه تاسو دا خیال کوئ چه د اصحاب کهفو واقعه زمونږ د قدرت د نښو نه ډیره عجیبه ده. دا دے ریج نه چه کافرانو دا واقعه ستاسو د صداقت معیار ګرځولے ده. دا سے نه ده بلکه زمونږ د قدرت ډیرے نښے د دے نه زیاتے عجیبه دي. قال الطبري تقریر له علیه السلام علی حسبانه ان اصحٰب الکهف کانوا عجبا بمعنی انکار ذلک علیه ان لا یعظم ذلک بحسب ما عظم علیك لسائلون من الکفرة فان سائر اٰیٰت الله اعظم من قصتهم (بحر ص۱۰۱ ج ۶) د استفهام انکاري نه معلومه شوه چه د الله تعالیٰ د قدرت ډیرے نښے خود اصحاب کهف د قصے نه ډیرے زیاتے عجیبه دي. او عظیم الشان دي. نا پوهه خلقو چه دا واقعه اُولیدله نو اصحاب کهف یے غیب دان او کارساز اُوګنړل. د دے نه معلومه شوه چه د اصحاب کهفو واقعه د الله د قدرت یوه نښه ده. د هغوي په غار کښے په سوونو کلونه اُوده کیدل خیر او عافیت سره پاتے کیدل د نمر اثر په هغوي نه کیدل او بیا د ډیرے زمانے نه روستو د هغوي رابیدارېدل دا ټول خالص د الله په قدرت او د هغهٔ په تصرف سره شوي وُو. دیکښے د اصحاب کهفو هیڅ دخل او اختیار نه وُو.

درییم: اِذْ اَوَی الْفِتْیَةُ الخ چه کله اصحاب کهفو خپل دین او ایمان بچ کړو د ښارنه اُوتښتیدل او په یو غار کښے یے پناه واخستله دا د هغوي د عاجزئ او بے وسئ واضحه دلیل دے. که چرے هغوي متصرف او کارساز وے نو هغوي ته د تښتیدلو او په غار کښے د پناه اخستلو څهٔ ضرورت وُو. څلورم: فَقَالُوْا رَبَّنَآ اٰتِنَا الخ چه کله هغوي په غار کښے پناه واخستله نو د الله تعالیٰ نه یے ډیر په عاجزئ او زارئ سره سوال اوکړو. رَبَّنَآ اٰتِنَا مِنْ لَّدُنْكَ رَحْمَةً. رحمةً کښے تنوین د تعظیم د پاره دے. اے زمونږ پروردګاره! مونږ ته د خپل طرفه خپل خاص رحمت راکړے. د رحمت نه مراد عام دے یعني د حق معرفت، په توحید او رسالت باندے ثبات، او استقلال، رزق او د دشمنانو نه حفاظت وغیره. وهي الهدایة بالمعرفة والصبر والرزق والامن من الاعداء (کبیر ص۸۱ ج ۵) وَهَيِّئْ لَنَا مِنْ اَمْرِنَا رَشَدًا او زمونږ

د دے هجرت په معامله کښے صحیح رهنمائی اوکړے. اصحاب کهف خو پخپله الله تعالی لره عالم الغیب، متصرف، کارساز او د رحمت د خزانو مالک گڼړی او د هغه نه دُعا غواړی. او د هغه په مخکښے د خپلے کمزورئ او بے وسئ اظهار کوی. نو بیا هغوی څنګه إله (معبود) کیدے شی.

پنځم: فَضَرَبْنَا عَلٰٓى اٰذَانِهِمْ الخ چه کله هغوی غارته ننوتل او د آرام کولو د پاره سملاستل نو مونږ په هغوی باندے خوب راوستلو او هغوی مو په سونو کاله هم په دغه حالت کښے پریخودل. د اصحاب کهفو د اسبابو طرفته خیال قدرے هم نه وو چه هغوی ته دا سے عجیبه او نا آشنا واقعه مخکښے راتلونکے ده. او هغوی به د دے سوه کاله په خوب اُوده وی. د دے نه هم د هغوی د کارساز کیدو نفی کیږی.

شپږم: ثُمَّ بَعَثْنٰهُمْ الخ د ډیرے مودے نه پس مونږ هغوی بیدار کړل. هغوی ته د بیداریدو اختیار نه وو. او ووم. لِنَعْلَمَ اَىُّ الْحِزْبَيْنِ الخ د الله تعالی علم چونکه په هر څه محیط دے. (ماضی، حال او مستقبل) هیڅ تمیز د هغه نه پټ نه دے نو په دے وجه د علم نه دلته اظهار مراد دے. تسمیة للسبب باسم المسبب. اَلْحِزْبَيْنِ نه د اصحاب کهفو دوه جماعتونه مراد دی. یو هغه چا چه وئیلی وُو چه مونږ خود یو ورځ نه هم کم اُوده شوی وُو. دویم هغه چا چه وئیلی وُو چه الله تعالی ته علم دے چه مونږ څومره زمانه اُوده وُو. وهم القائلون لبثنا یومًا اوبعض یوم والقائلون (رَبُّكُمْ اَعْلَمُ بِمَا لَبِثْتُمْ) (روح ص۲۱۳ ج ۵) مونږ څو سوه کاله پس هغوی بیدار کړل د دے د پاره چه مونږ ظاهر کړو چه په دوی کښے چا ته د ایساریدو صحیح موده یاده ده. اصحاب کهف خود خپل حال نه بے خبره وُو او هغوی ته د خوب د حالت صحیح موده هم معلومه نه وه نو هغوی څنګه په غیبو پوهیدے شی.

سلله اَصْحٰبَ الْكَهْفِ وَالرَّقِيْمِ کهف په غره کښے هغه غار ته وئیلے شی چه فراخ وی. الکهف النقب المتسع فی الجبل (قرطبی ص۳۵٦ ج ۱) اَلرَّقِيْمِ کښے د مفسرینو اقوال ډیر مختلف دی. دوه قوله زیات مشهور دی. یو دا چه دالرَّقیم نه مراد د کانړی هغه تختئ ده چه د دوی په غار باندے او درولے شوے وه چه په هغے باندے د دوی نومونه لیکلے شوی وُو. قیل نسبوا الی حجر رقم فیه اسماءهم (مفردات راغب ص۲۰) قال الفراء الرقیم لوح کان فیه اسماءهم وصفاتهم (بحر ص۱۰۳ ج ۵) په دے صورت کښے به الرقیم په معنی د المرقوم فیه وی. بل دا چه الرقیم د اصحاب کهفو د کلی نوم وُو. زعم کعب انها قریة خرجوا منها (قرطبی) د عیسٰی علیه السلام نه روستو یو مُشرک بادشاه وُو چه نوم یے دقیانوس وُو. په خپله هم بت پرست وُو او رعیت به یے هم په بُت پرستئ باندے مجبورولو. د اصحاب کهفو واقعه د هغه په دور کښے را پیښه شوه. څو ځوانان چه د خوشحاله او مالداره کورونو نه وُو. انهم اولاد عظماء تلك المدینة (قرطبی ص۳٦۵) بلکه د د دقیانوس د درباریانو او د خاصو امیرانو اولاد وُو. وكانوا من خواص دقیانوس (مدارک ص۳ ج ۳).

الله تعالیٰ هغوی ته نور بصیرت ورکړو او هغوی د شرک نه بېزاره شول او صرف د یو خدای عبادت یې شروع کړو۔ اګرچه هغوی د حال پټولو نه کار واخستلو لیکن بیا هم په څه طریقه خلقو ته د هغوی حال معلوم شو۔ او هغوی بادشاه ته د دوی شکایت اوکړو۔ بادشاه د دغه موحدین ځوانان دربار ته راوغوښتل او حکم یې ورکړو چه د دغه دین اتباع اوکړئ۔ د دغه د معبودانو عبادت اوکړئ۔ او د هغوی په نوم باندے نذر او منتونه ورکوئ۔ او ورسره یې هغوی ته دهمکي ورکړه۔ چه که چرته هغوی د دۀ د دین نه سرکشي اوکړه نو هغوی به قتلولے شي۔ لیکن الله تعالیٰ د دغه ځوانانو ته د استقامت دولت ورکړو۔ او هغوی د بادشاه په دربار کښې اووئیل رَبُّنَا رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ الاٰیة زمونږ رب او معبود خو هم هغه دے کوم چه د زمکے او آسمانونو مالک او خالق دے مونږ به د هغه نه سوا بل هیچا ته آواز اونه کړو۔ دے اوریدو سره بادشاه د دغه ځوانانو ته مهلت ورکړو او وے وئیل چه اوس ستاسو عقل کچه دے۔ په دے وجه په خپله معامله کښې غور او فکر اوکړئ۔ ځوانانو دا مهلت غنیمت اوګڼړلو او د خپل دین او ایمان بچ کولو دپاره د ښار نه اووتل چرته لاړل په لاره کښې ورته یو شپونکے ملاؤ شو چه د دوی په شان موحد وو۔ هغه هم د دوی سره شو د شپونکي سپے هم د دوی پسے روستو روان شو۔ تر دے چه هغوی په یو غار کښې پناه واخستله چه کله هغوی په غار کښې د آرام کولو دپاره سملاستل نو الله تعالیٰ د ډیرے مودے پورے په هغوی باندے خوب مسلط کړو۔ خو سوه کاله پس هغوی ویښ شول نو یو ملګرے یې د ډوډئ راوړلو دپاره بازار ته اولیږلو چه کله هغه دکاندار ته روپئ ورکړے نو هغه چه پخوانئ سکه اولیده نو حیران شو او په خپله د دے سړی شکل او صورت هم ناآشنا معلومیدۀ نو هغه یې د وخت بادشاه بیدروس په مخکښې پیش کړو چه مؤمن او مؤحد وو۔ چه کله د دے ځوان بندولو سره بادشاه ته معلومه شوه چه دا د هغه ځوانانو نه دے کوم چه د دقیانوس په زمانه کښې پټ شوی وو۔ نو هغه ډیر زیات خوشحاله شو او د ښار ډیر اوسیدونکی یې ځان سره کړل او د دغه ځوان سره غار ته اورسیدۀ او د باقي ځوانانو سره یې ملاقات اوکړو۔ چه کله ځوانانو ته معلومه شوه چه بادشاه او د رعیت ډیرو خلقو توحید قبول کړیدے نو ډیر خوشحاله شول۔ دے نه روستو اصحاب کهف د دغه غار کښې ځان له شول او هم هلته مړه شول۔ (من القرطبي وغیره)

۱۳ اوس د دے ځائ نه د اصحاب کهفو واقعه تفصیل سره شروع کیږي۔ اول د دوی تنبیهې اجمالي جواب ذکر کړے شو۔ او دلته د هغے تفصیل ذکر کړے شویدے۔ شروع فی تفصیل ما اجمل فیما سلف ای نحن نخبرك بتفصیل خبرهم الذی له شان وخطر (روح ص ۲۱۶ ج ۱۵ ابوالسعود ص ۴۶۸ ج ۵)

۱۴ مخکښې په اجمالي ذکر کښې د اصحاب کهفو د مؤمن او مؤحد کیدو طرفته اشاره وه۔ دلته د هغوی په ایمان او توحید باندے د استقامت او د شرک نه د هغوی

د بیزارئ په تفصیل سره بیان کړے شویدے۔ په دے تفصیل کښے څلور خیزونه ذکر شوی دی۔ ۱۔ اٰمَنُوْا بِرَبِّهِمْ هغوی د الله په توحید باندے ایمان راوړو۔ (۲) وَزِدْنٰهُمْ هُدًی۔ هغوی ته مونږ د ایمان مطابق د عمل کولو توفیق ورکړو هغوی ته په هدایت کښے مونږ نوره ترقی هم ورکړه۔ (۳) وَرَبَطْنَا عَلٰی قُلُوْبِهِمْ اِذْ قَامُوْا ظرف د رَبَطْنَا سره متعلق دے۔ چه کله د ظالم او جابر مشرک بادشاه په طلب باندے هغوی د هغه په دربار کښے د هغه په مخکښے اودریدل۔ او بادشاه هغوی ته د دینِ توحید پریښودلو او د بُت پرستئ اختیارولو حُکم ورکړو۔ او په بل صورت کښے یے هغوی ته د قتل دهمکی ورکړه د هغه وخت الله تعالٰی د هغوی زړونه مضبوط او مطمئن کړل او هغوی ته یے په خپل دین باندے ثابتقدمی او استقامت ورکړو۔ اذ قاموا بین یدی الجبار وهو دقیانوس نو هغوئ په دربار کښ د ډیرو خلقو په موجودګئ کښ د توحید اعلان اوکړو او د شرک نه یے د بیزارئ اظهار اوکړو او صفائے اُوئیل رَبُّنَا رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ۔ زمونږ پروردګار او مالک هغه دے کوم چه د اسمانونو او د زمکے مالک او خالق دے۔ لَنْ نَّدْعُوَا مِنْ دُوْنِهٖۤ اِلٰهًا۔ څوک چه د اسمانونو او د زمکے مالک وی هغه د ټول کائنات خالق او مالک کیدے شی او هم هغه د عبادت او رابللو حقدار کیدے شی۔ په دے وجه مونږ د الله نه سیوا د خود ساخته معبودانو او بُتانو رابللو ته بالکل تیار نه یو۔ لَقَدْ قُلْنَآ اِذًا شَطَطًا څکه چه که چرے مونږ داسے اوکړو نو دا به ډیرے ځایه او د حد نه وتلے خبره وی۔ (۴) هٰۤؤُلَآءِ قَوْمُنَا الخ زمونږ د قوم دے مشرکانو خپلو لاسو جوړکړی بتان د الله نه سیوا معبودان ګرځولی دی۔ که چرے دوئ سره څه ښکاره ثبوت وے نو ولے یے نه پیش کولو۔ فَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرٰی عَلَی اللّٰهِ کَذِبًا۔ لیکن د شرک په شان خراب او قبیح لپاره خبرے په حق کښ څه ثبوت پیش کیدے شی۔ په دے وجه څوک چه د الله سره شریک جوړوی هغه په الله باندے دروغ جوړوی او هغه د ټولو نه لوئے ظالم دے څکه چه شرک ډیر لوئے ظُلم دے۔ د اصحاب کهفو د ایمان او اعتقاد د دے تفصیل نه معلومه شوه چه هغوئ یخپله الله تعالٰی مالک او کارساز ګنړلو او د هغهٔ عبادت یے کولو او د هغهٔ په نوم باندے یے نذرونه او منتونه ورکول او هُم هغهٔ ته یے اواز کولو هغوئ د شرک او د غیرالله د عبادت او رابللو نه سخت بیزار وو هغوئ په دے خپل ایمان باندے دومره مضبوط وو چه د یو ظالِم او جابر بادشاه په مخکښ هم هغوئ د دے اعلان اُوکړو۔ نو چه د چا په خپله دا حال وی۔ بیا د هغوئ عبادت کول هغوئ رابلل او د هغوئ په نوم نذرونه او منتونه ورکول ټول بے وقوف توب او د عقل خلاف دی۔

وَاِذِ اعْتَزَلْتُمُوْهُمْ وَمَا یَعْبُدُوْنَ اِلَّا اللّٰهَ

او چه کله تاسو ډډه اُوکړئ د هغوئ نه او د کوم چه هغوئ عبادت کوی د الله نه سیوا

فَاْوٗۤا اِلَی الْكَهْفِ یَنْشُرْ لَكُمْ رَبُّكُمْ

نو اُوس کینئ په دے غار کښ خورہ به کړی په تاسو رب ستاسو

مِّنْ رَّحْمَتِهٖ وَيُهَيِّئْ لَكُمْ مِّنْ اَمْرِكُمْ مِّرْفَقًا ﴿۱۶﴾ وَ

خپل د خپل رحمت نه او جوړ کړی ستاسو دپاره ستاسو په کار کښې آرام ف۱ او

تَرَى الشَّمْسَ اِذَا طَلَعَتْ تَّزٰوَرُ عَنْ كَهْفِهِمْ ذَاتَ

ته وینې لمر چه کله راخیژی نو چپ ځی د دوی د غار نه ښی

الْيَمِيْنِ وَاِذَا غَرَبَتْ تَّقْرِضُهُمْ ذَاتَ الشِّمَالِ وَ

طرفته او چه کله پریوځی نو پریږدی دوی کس طرف ته او

هُمْ فِيْ فَجْوَةٍ مِّنْهُ ؕ ذٰلِكَ مِنْ اٰيٰتِ اللّٰهِ ؕ مَنْ يَّهْدِ

هغوی په میدان کښې دی له غاره. دا دی د الله د قدرتونو نه چا ته چه لاره ورښائی

اللّٰهُ فَهُوَ الْمُهْتَدِ ۚ وَمَنْ يُّضْلِلْ فَلَنْ تَجِدَ لَهٗ وَلِيًّا مُّرْشِدًا ﴿۱۷﴾ ع

الله د هغه لاره بیا موندی هغه او چه خوک هغه ته لارے کړی بیا به ته اونه مومے هیڅوک ملګرے په لاره راوستونکے

نکات: ۱۲ تفصیل د پاره د اِذْ اَوَى الْفِتْيَةُ ۱۲

موضح قرآن

ف۱ د دے بنار نه او وتل نزدے غرونو کښې یو غار وو په خپل مینځ کښې په مشوره اوکړه او هلته لاړل. خوب پرے غالب شو او اُوده شو چا ته پته نه وه د هغه وخت نه تر دے وخته پورے اُوده دی په مینځ کښې یو ځل الله تعالی راویښ کړی وُو چه خلق پرے خبر شول نو بیا اُوده شو.

ف۲ د الله په قدرت سره ته په هغه ځائی کښې په دوی باندے نمر لګی نه باران، نه واوره او فراخه ځائی دے تنګ او پټ نه دے.

فتح الرحمن [illegible]

**تفسیر:** ۱۵ دا د "اِذْ اَوَى الْفِتْيَةُ" تفصيل دے. د اصحاب کهفؒ سردار يمليخا يا مکسلمينا هغوى ته اووئيل چه کله تاسو د دے مشرکانو نه او د دوى د بتانو نه جدا شئ د کوم عبادت چه دوى د الله نه سوا کوى نو يو غار ته ننوځئ. هومن قول رئيسهم يمليخا فيما ذکر ابن عطية وقال الغزنوى رئيسهم مکسلمينا (قرطبى ص۳۶۷ ج۱۰) ينشر لکم ربکم من رحمته دا د "رَبَّنَآ اٰتِنَا مِنْ لَّدُنْكَ رَحْمَةً" سره متعلق دے نو الله تعالىٰ به تاسو ته په دے کار کښے د ارام او اسانئ اسباب پيدا کړى. مِرْفَقًا په وزن د مِفْعَلًا مصدر دے چه د دے معنیٰ نرمى او اسانى ده. قال ابوزيد هو مصدر کالرفق على مِفْعَل (بحر ص۱۰۳ ج۲) د دے تفصيل نه معلومه شوه چه اصحاب کهف په خپله د باطل معبودانو او د هغوى د عبادت کونکو نه د تښتيدلو ډير سوچ کوى. ليکن د دے باوجود نا پوهه خلقو هغه معبودان گرځولى دى. او بيا اصحاب کهف د هغه ځائ نه اوتښتيدل او په غار کښے د پناه اخستلو يخه اراده يے کړيده او د الله د رحمت او توفيق او ارام او فراخئ اميدوار او ارزولرونکى دى. چه د دے نه د هغوى خپله عاجزى او حاجتمندى ظاهريږى. نو چه څوک پخپله عاجز او محتاج وى هغه به د نورو حاجت پوره کونکے او کارساز څنګه جوړ شى.

۱۶ د دے ځائ نه واخله تر "ذٰلِكَ مِنْ اٰيٰتِ اللّٰهِ" پورے د "كَانُوْا مِنْ اٰيٰتِنَا عَجَبًا" تفصيل دے. وَتَرَى سره خطاب هر مخاطب ته دے. تَزٰوَرُ په اصل کښے تَتَزٰوَرُ وو يوه تاء تخفيفًا حذف کړے شوه. تَزٰوَرُ اى تَمِيْلُ يو طرف ته کيږى تَقْرِضُهُمْ اى تعدل عنهم يعنى د غار د خلے نه په څنډه يو طرف ته تيريږى. فَجْوَة اى متسع من الکهف. د غار د ننه فراخه ځائ. د دواړو جملو حاصل دا دے چه غار څه داشان واقع وو چه په غار کښے د ننه خوب کونکو باندے د ورځے په هيڅ وخت کښے هم نمر نه لګيده. ليکن تازه هوا به هر وخت رسيدلے شوه. نو په غار کښے ډيره زمانه اوده پاتے کيدل او د هر قسمه تکليف او ضرر نه محفوظ کيدل نو د دے چه په دے موده کښے په هغوى باندے د نمر پلوشے هم پرے نه وتلے. په دے کښے د اصحاب کهفو د قدرت او د هغوى د اختيار او تصرف هيڅ دخل نه وو. بلکه دا ټول هر څه د الله تعالىٰ د کامل قدرت واضحه ښے دى.

۱۷ الله تعالىٰ د توحيد دلائل واضح کړيدى. اوس د هدايت او ايمان توفيق صرف هغه چاته ملاويږى څوک چه ريښتينى طلب سره د هدايت دلارے طلب کونکے وى او څوک چه قصدًا عنادًا ګمراهى اختيار کړى هغه ته څوک هدايت نشى کولے.

وَتَحْسَبُهُمْ اَيْقَاظًا وَّهُمْ رُقُوْدٌ ۖ وَّنُقَلِّبُهُمْ ذَاتَ

او ته به ګنړے چه هغوى ويښ دى ۱۸ او هغوى اوده دى او اړوو مونږ دوى لره

الْيَمِيْنِ وَذَاتَ الشِّمَالِ ۖ وَكَلْبُهُمْ بَاسِطٌ ذِرَاعَيْهِ

ښي او کس طرفته او سپی دد دوی خوروشه کړی دی مټې خپلې

بِالْوَصِيْدِ ۭ لَوِ اطَّلَعْتَ عَلَيْهِمْ لَوَلَّيْتَ مِنْهُمْ فِرَارًا

په درشله که ته را ښکاره شې دوی ته نو په شا به اوګرځې ددوی نه

وَّلَمُلِئْتَ مِنْهُمْ رُعْبًا ﴿١٨﴾ وَكَذٰلِكَ بَعَثْنٰهُمْ لِيَتَسَآءَلُوْا

او رعب به دربانډې غالب شي ددوی او دغه شان دوی لره ویښ کړل موږ چه د یو بل نه

بَيْنَهُمْ ۭ قَالَ قَآئِلٌ مِّنْهُمْ كَمْ لَبِثْتُمْ ۭ قَالُوْا لَبِثْنَا

تپوس اوکړي ډله یو کس او وئیل په دوی کښې څومره وخت تېر کړو تاسو دې وئیل وخت تېر کړو

يَوْمًا اَوْ بَعْضَ يَوْمٍ ۭ قَالُوْا رَبُّكُمْ اَعْلَمُ بِمَا لَبِثْتُمْ ۭ

موږ یوه ورځ یا د ورځې نه کم دې وئیل چه ستاسو رب ښه پوهېږي چه څومره وخت تاسو پاتې شوی

فَابْعَثُوْٓا اَحَدَكُمْ بِوَرِقِكُمْ هٰذِهٖٓ اِلَى الْمَدِيْنَةِ فَلْيَنْظُرْ

یئ ۔ اوس اولېږئ ته ځان یو کس په دې خپلو روپو سره دې ښار ته بیا د اوګوري چه

اَيُّهَآ اَزْكٰى طَعَامًا فَلْيَاْتِكُمْ بِرِزْقٍ مِّنْهُ وَلْيَتَلَطَّفْ

کوم خوراک پاک دې پس راد وړي تاسو ته دوې نه خوراک او نرمي د کوي

وَلَا يُشْعِرَنَّ بِكُمْ اَحَدًا ﴿١٩﴾ اِنَّهُمْ اِنْ يَّظْهَرُوْا عَلَيْكُمْ

او پته اونه لګي ستاسو د خبر هېڅ ته دغه خلق که خبر شي په تاسو یاندې

يَرْجُمُوْكُمْ اَوْ يُعِيْدُوْكُمْ فِيْ مِلَّتِهِمْ وَلَنْ تُفْلِحُوْٓا اِذًا

په کانړو به مړه کړي تاسو او یا به واپس کړي تاسو خپل دین ته او فلاح به بیا نه مومئ تاسو

اَبَدًا ﴿٢٠﴾ وَكَذٰلِكَ اَعْثَرْنَا عَلَيْهِمْ لِيَعْلَمُوْٓا اَنَّ وَعْدَ اللّٰهِ

هېڅ کله او دغه شان خبر ښکاره کړو موږ ددوی چه خلق پوه شي چه د الله وعده

حَقٌّ وَّاَنَّ السَّاعَةَ لَا رَيْبَ فِيْهَا ۚ اِذْ يَتَنَازَعُوْنَ بَيْنَهُمْ

حقه ده او د قیامت په راتلو کښې شک نشته هر کله چه دوی جګړه کوله په خپل مینځ کښې

أَمْرَهُمْ فَقَالُوا ابْنُوا عَلَيْهِم بُنْيَانًا ۖ رَّبُّهُمْ أَعْلَمُ بِهِمْ ۚ

په خپله خبره بانده بیا یې او ویل چه جوړه کړئ په دوی بانده یوه ابادی ۳۳ د دوی رب ښه پوه دے د دوی

قَالَ الَّذِينَ غَلَبُوا عَلَىٰ أَمْرِهِمْ لَنَتَّخِذَنَّ عَلَيْهِم

په حال ، او ویل هغه خلقو د کوم کار چه غالب وو ۳۴ موږ به جوړ کړو د دوی په ځائی بانده

مَّسْجِدًا ﴿٢١﴾ سَيَقُولُونَ ثَلَاثَةٌ رَّابِعُهُمْ كَلْبُهُمْ

عبادت خانه ۳۵ اوس به دوی وائی چه هغه درې دی کله څلورم یې سپے دے

وَيَقُولُونَ خَمْسَةٌ سَادِسُهُمْ كَلْبُهُمْ رَجْمًا بِالْغَيْبِ ۖ

او دا به هم اووائی چه هغوی پنځه دی کله شپږم یې سپے دے په نا لیدلے نښه کښې ولی

وَيَقُولُونَ سَبْعَةٌ وَثَامِنُهُمْ كَلْبُهُمْ ۚ قُل رَّبِّي أَعْلَمُ

او دا به هم اووائی چه هغه اووه دی او اتم یې سپے دے ته او وایه چه زما رب ښه پوهه دے

بِعِدَّتِهِم مَّا يَعْلَمُهُمْ إِلَّا قَلِيلٌ ۗ فَلَا تُمَارِ فِيهِمْ إِلَّا

د دوی په شمیر خبر نه لري د دوی نه مګر لږ خلق پس جګړه مه کوه د دوی په خبره کښې لا

مِرَاءً ظَاهِرًا وَلَا تَسْتَفْتِ فِيهِم مِّنْهُمْ أَحَدًا ﴿٢٢﴾

مګر سرسري جګړه او تحقیق مه کوه د هغوی د حال په دوی کښې د هیچا نه ۵

ع ۵ ۱۵

**لغات :** ۱ کاف د بیان د کمال د پاره دے ۱۲

**موضح قرآن**

ف ۱ دائی په خوب کښې د هغوی سترګے پرانستے دی هلته چه څوک ورشي نو تښتي او وینی یې کنړی او الله پاک په هغه ځائی کښې رعب اچولے دے دے د پاره چه څوک تماشه جوړه نه کړی چه هغوی یے آرامه شي . هغوی سره یو سپے هم روان شوے وُو هغه هم ژوندے پاتے شو . اګر سپے ساتل ښه نه دی لیکن په ښکهولو کښې یو ښه هم دی . ف ۲ په سوونو کاله پاتے کیدل هغوی ته یوه ورځ معلومه شوه . مرے او اُوده برابر دے .

ف ۳ په دوی کښې یو کس روپئ واخستلے او ښار ته لاړو . هلته یې هر څیز نا آشنا او عجیبه اولید؟ - دے دوران کښې خو قرن (پیړئ) تیرے شوے وے . خلقو چه دا روپئ اوسکه اولیده حیران شول چه د کوم بادشاه نوم دے او د چا زمانه ده . پوهه شول چه دے سړی د پخوانئ زمانے پټه شوے مال موندلے دے . آخر دغه خبره د بادشاه غوږ ته اُورسیده هغه ته

ددوی دمذهب نو خلق بے تپوس اوکړو او ټول حالات یې معلوم کړل. او دغه وخت په ښار کښې ددوی دمذهب نو خلق ؤو یو قسم د اٰخرت د ژوند قائل ؤو او بل قسم منکر. جګړه شروع وه. بادشاه منصف ؤو غوښتل یې چه دکوم یو طرفه سند او دلیل په لاس راشی نو بل به یوه کړی. الله دا سند په لاس کښې ورکړو. بادشاه پخپله لاړو او په غار کښې یې ټول اُولیدل او راغے. هر یو حال آورېدلو او لیدلو سره راغلل هغه وخت ددغه ښار خلقو په اٰخرت یقین اوکړو چه داقصه هُم ددویم ژوند نه څه کمه نه ده۔

**ف۴** د اصحابِ کهفو دِین او مذهب الله ته معلوم دے چه فقط په دِینِ توحید باندې قائم ؤو او دکوم نبی شریعت یې نه ؤو نیولے. لیکن کوم خلقو چه ددوی خبر بیا موندهٔ نو هغوی ددوی معتقد شول او هغوی باندې د زیارت مکان جوړولو بیان نصارٰؤ اوکړو۔ اصحاب کهفو ټول خلق رخصت کړل بیا اُوده شول۔

**ف۵** یعنی دے خبرو کښې دجګړے کولو نه څه نه حاصلیږی. ابن عباسؓ فرمائی چه هغه اَوَّدهٔ ؤو څکه چه الله تعالٰے اول دوه خبرو ته نښه اووئیله او دیته یې اُونه وئیله۔

**فتح الرحمٰن:** ف۱. نو د اُوده کیدو علامه هُم دهغوی دپاره نه ده ګرځولے ۱۲

**تفسیر** **۱۸** داد فَضَرَبْنَا عَلٰٓى اٰذَانِهِمْ سره متعلق دے. په دے ایت کښې داصحاب کهفو په غار کښې داُوده کیدو کیفیت او دغار د تنه دهیبتناک منظر نقشه پیش کړے شویده چه کله هغوی په غار کښې اُوده شوی ؤو که څوک هغه وخت هغوی ته کتلے وے. نو دخوب ظاهری اثرات نه لیدلو سره به یې هغوی ویښ ګڼړلے. حالانکه په هغوی باندے خوب راغلے ؤو. او که څوک چا به غار ته سر ښکاره کړو نو د هغوی د رُعب او جلال طاقت به یې اُونه لرلو او واپس به راتښتیدهٔ. چه کله هغوی اُوده ؤو. نو هغه وخت ورله الله تعالٰی اړخونه بدلول رابدلول دے دپاره چه د بدن لوټو حصو باندے هوا لګی او هغوی د نقصان نه بچ شی. لیکن دے دوران کښې داصحاب کهفو خپل حال دا ؤو چه هغوی دخپل حال او ماحول نه بالکل ناخبره او د دُنیا او مافیها نه کلیةً غافل پراته ؤو. نو هغوی څنګه دمعبود جوړیدو او دعبادت اوراېللو لائق کیدے شی۔

**ف۱۹** داد ثُمَّ بَعَثْنٰهُمُ الخ دپاره تفصیل دے. حضرت شیخ رحمه الله اُوفرمائیل کَذٰلِکَ کښے کاف تشبیه دپاره نه دے بلکه دکمالِ بیان دپاره دے. یعنی دد ومره اُوږدے زمانے نه روستو هُم داشان مونږ هغوی راویښ کړل. دا زمونږ دقدرت کمال ؤو دیکښے دهغوی اختیار او تصرف ته هیڅ دخل نه ؤو. لِیَتَسَآءَلُوْا کښے لام بَعَثْنٰا سره متعلق دے. یعنی مونږ هغوی د دومره مودے نه روستو بیدار کړل دے دپاره چه هغوی د یو بل نه تپوس اوکړی چه د هغوی داُوده کیدو موده څومره ده. نو چه کله هغوی بیدار شول نو سردار یې اووئیل کَمْ لَبِثْتُمْ باقی کسانو اووئیل چه الله ښه پوهیږی چه تاسو څومره موده اُوده وئ. ددے سوال جواب نه معلومه شوه چه اصحاب کهفو ته د

دخپل خوب مُوده حتمي طور باندې هیڅ معلومه نه وه - هر کله چه دهغوی دخپلو حالاتو په باره کښې د لاعلمۍ دا حال وُو نو هغوی د نورو اوازونه او فریادونه څنګه اوریدی شي -

**نکته:** حبر الأمة ترجمان القرآن عبد الله بن عباس رضی الله عنهما د دې ایت نه استدلال کړیدې چه اصحاب کهف اووه کسان وُو. هغه فرمائي چه د قَالَ كَمْ لَبِثْتُمْ نه معلومه شوه چه په هغوی کښې یو کس سوال اوکړو. قَالُوْا لَبِثْنَا الخ دې نه پته اولګیده چه چا اول جواب ورکړے وُو هغوی کم نه کم درې کسان وُو ځکه چه قَالُوْا جمع ده او د عربئ جمع کمه درجه درې ده- قَالُوْا رَبُّكُمْ اَعْلَمُ د لته هُم قَالُوْا جمع ده. د دې نه معلومه شوه چه دویم جواب ورکوونکي هُم درې کسان وُو. (مدارک ص۶۱۵ ج ۳)

**۲۲** دا هُم د ماقبل سره متعلق دې - د ما تبل نه د اصحاب کهفو د غیب دان کیدو نفي اوکړے شوه. دلته هغې سره د دوی د مختار او متصرف کیدو نفي هُم کړے شویده. چه راویښ شول نو هغوی یو ملګرے بناز ته دخوراک راوړلو د پاره اولیږو- معلومه شوه چه هغوی بخپله د خوراک څکاک محتاج دي. د نورو حاجتونو به څنګه پوره کړي. فَلْيَنْظُرْ اَيُّهَا اَزْكٰى طَعَامًا هغوی خپل ملګري ته هدایت اوکړو چه خوراک اخستلو کښې خیال اوکړو چه چرته د مشرک د لاس حلال کړے شوے لا نه وُړې ځکه چه هغوی به دخپلو بُتانو په نوم باندې ذبحه کوله. عن ابن عباس فی قوله ازکی طعاما قال احل ذبیحة" وکانوا یذبحون للطواغیت (الدر المنثور ص۲۱۶ ج ۴) اصحاب کهف به د غیر الله د ذبحو نه لرې تښتیدل. نو هغوی دخپل ځان د پاره څنګه نذر او منتونه خوښولے. دا شان که چرې بازار ته تلونکے ځوان په غیب باندې عالم وے نو لیږونکو ته به دا خطره هیڅ کله نه وې چه هغه به حرامه غوښه راوړي. وَلْيَتَلَطَّفْ وَلَا يُشْعِرَنَّ بِكُمْ اَحَدًا. هغې ته یې دا هدایت هُم اوکړو چه هغه اخستلو خرڅولو کښې د کاندارسره د نرمۍ سلوک اوکړي چرته د جګړې صورت پیدا کولو سره زمونږ راز ښکاره نه شي. که چرې خُدائ مه کړه دهغه راز ښکاره شي نو د نورو حال د چاته نه بیانوي. اِنَّهُمْ اِنْ يَّظْهَرُوْا عَلَيْكُمْ دلته اِنَّ تعلیلیه دې. ځکه چه که چرې خلقو ته ستاسو معلومات اوشي نو هغوی به تاسو مړه کړي یا به تاسو دوباره خپل شرکي دین ته واپس کړي. د اصحاب کهفو دا ویره د هغوی د عجز واضح دلیل دې. په دې وجه هغوی د کارساز جوړیدو لائق نه دی-

**۲۳** دا کاف د بیان کمال د پاره دې. یعنې مونږ په دې زمانه کښې به اصحاب کهفو باندې د خوا وُشا خلق خبر کړل دې د پاره چه هغوی ته معلومه شي، چه قیامت به ضرور رائي د هغې په راتلو کښې هیڅ شک نشته. څه وخت چه اصحاب کهف بیدار شول. د هغه زمانې خلق په یوه مسئله باندې دوه ډلې شوې وُو. د

هغه وخت باد شاه مؤمن موحد وُو. هغه او د هغهٔ طرفدارو وئیل چه قیامت به ضرور راځي. لیکن مشرکان د قیامت نه منکر وُو. د اصحاب کهفو سُونو کاله اُوده کیدو نه پس د بیدار یدلو واقعه راپیښه شوه چه هغې سره باد شاه او د هغهٔ هم خیال خلق ډیر خوشحاله شول ځکه هغوی ته په خپله دعوی باندې یو دلیل د مشاهدې په لاس راغې. دې سره یو طرفته د هغوی خپل ایمان او یقین کښې قوت او مضبوطي پیدا شوه. بل طرفته هغوی مشرکان لاجوابه کړل.

۲۲ دا ایت د اصحاب کهفو دوباره غار ته تللو او په عبادت او ریاضت کښې د مصروف کیدو نه پس سره متعلق دې. قرآن مجید چونکه قصې خالص د قصو په حیثیت سره نهٔ ذکر کوي. بلکه د استشهاد د پاره یې ذکر کوي. په دې وجه د قرآن دا دستور دې. چه هغه د قصو اصلي مسئلې سره غیر متعلق حصې حذف کوي. نو چه کله اصحاب کهف دوباره غار ته لاړل. دې نه پس په هغوی باندې څهٔ تیر شول قرآن د هغې ذکر نهٔ دې کړې. چه کله اصحاب کهف دوباره غار ته لاړل او په عبادت او د الله په یاد کښې مشغول شول. نو په خلقو کښې د دوی په غار باندې یادګار جوړولو کښې اختلاف پیدا شو. چه کوم قسم عمارت جوړ کړې شي او په څهٔ طریقه د هغوی یادګار قائم کړې شي. نو په دې مسئله کښې د خلقو دوه رائې شوې. مُشرکانو وئیل چه اصحاب کهف اول زمونږ په مذهب باندې وُو. په دې وجه به مونږ په غار باندې د هغوی مندر یا د هغوی یادګار سرائې جوړوُو. ان الکفار قالوا انهم کانوا علیٰ دیننا فنتخذ علیهم بنیانا (کبیر ص۱۰۳ ج ۵) وروی ان طائفة کافرة قالت نبني بیعة او مضیفا (قرطبی ص۳۷۹ ج ۱۰) لیکن مُسلمانان چه په خپل منځ کښې غالب شوي وُو وې وئیل چه مونږ به په غار باندې جُمات جوړوُو. په هغې کښې به د الله عبادت کوُو. اصحاب کهف او د هغوی ځائې سره به تبرک حاصلوُو. او د دې په ذریعه به د هغوی د اثارو او نشانانو یادګار جوړوُو. یصلي فیه المسلمون و یتبرکون بهم (مظهری ص۲۳ ج ۶) یصلي فیه المسلمون ویتبرکون بمکانهم (مدارک ص۱۰ ج ۳) لنتخذن علیهم مسجدا نعبدالله فیه ونستبقي اثار اصحاب الکهف بسبب ذلك المسجد (کبیر ص۱۰۳ ج ۵) په مزه مزه نوبت دې ته اُورسیدهٔ چه هلته شرك شروع شو. خلقو د اصحاب کهفو عبادت شروع کړو. د هغوی د نومونو نذرانې او منتونې یې ورکول شروع کړې. او هغوی یې کارساز، متصرف اُوګڼړل او غائبانه یې رابلل.

۲۳ دینه مراد د هغه وخت مسلمانان دي. ای من المسلمین وملکهم (مدارك

۲۴ سین د استقبال د پاره دې. او دیقولون ضمیر د نبي علیه السلام د زمانې یهودیانو طرفته راجع دې. دینه د اصحاب کهفو په شمیر کښې د یهودو د عالمانو د اختلاف ذکر مقصود دې. دې د پاره چه واضحه شي چه کومه واقعه هغوی د امتحان په طور پیش کړیږه. د هغې د پوره حقیقت نه هغوی په خپله هم خبر نه

دی. الضمیر فیه و فی الفعلین بعده کما اختاره ابن عطیة و بعض المحققین للیهود المعاصرین له صلی الله علیه وسلم الخائضین فی قصة اصحاب الکهف (روح ص۲۴۰ ج ۱۵) یعنی حضرت کله تا سو د اصحابِ کهفو واقعه بیان کړئ نو د یهودو ځینې عالمان به د هغوی تعداد د سپی نه علاوه درې بیانوی.

۲۵ د یه سیقولون باندې عطف دې او ځینې به د هغوی نه د اصحابِ کهفو شمیر د سپی نه علاوه پنځه بیانوی. رَجۡمًۢا بِالۡغَيۡبِ. لیکن دا قول د تیاره غشی دی. د صحیح خبرې علم په دوی کښې هیچا نشته. وَ يَقُوۡلُوۡنَ سَبۡعَةٌ الخ او ځینې خلق به د هغوی شمیر اووه بیانوی. د سپی نه علاوه د دې یقولون فاعل یا خو د یهودو د عالمانو یوه ډله ده. یا د دې نه مراد مسلمانان دی. یعنی د نبی علیه السلام په اطلاع سره به مسلمانان دا شمیر بیانوی. قُلۡ رَّبِّيۡۤ اَعۡلَمُ بِعِدَّتِهِمۡ. تا سو او وایئ چه د دوی صحیح شمیر الله تعالیٰ ته ښه معلوم دې. مَا يَعۡلَمُهُمۡ اِلَّا قَلِيۡلٌ. د هغوی صحیح صحیح شمیر ډیرو لږو خلقو ته معلوم دې. عبد الله بن عباس رض فرمائی چه زه هم د هغه لږو خلقو نه یم چه د هغوی صحیح صحیح شمیر ما ته معلوم دې. هغوی اووه وو او اتم یې سپې وو. قال ابن عباس رض حین وقعت الواو انقطعت العدة ای لم یبق بعدها عدة عاد یلتفت الیها وثبت انهم سبعة و ثامنهم کلبهم علی القطع والبتات (روح ص۲۴۳ ج ۱۵) د دریم قول د صحت یو دلیل دا هم دې چه د اولنو دوارو قولونو نه روستو یې رَجۡمًۢا بِالۡغَيۡبِ اوفرمائیلو. او دریم قول یې د هغې نه پس ذکر کړو. نو د دې نه معلومه شوه. چه اولنی دواړه قولونه د تیاره غشی دی. او صرف په ګمان او اټکل باندې مبنی دی. او دریم قول یقینی او د شک شبهې نه خالی دې. (کبیر ص۳۰۰ ج ۵)

۲۶ تا سو د اصحابِ کهف په تعداد او د هغوی په واقعه کښې د اهلِ کتابو سره د سرسری بحث نه سوا زیات بحث او تحقیق مه کوئ. بس صرف د وحی مطابق پوره واقعه بیان کړئ. د دې سره به تخیله د غلطو اقوالو تردید اوشی. وَلَا تَسۡتَفۡتِ فِيۡهِمۡ الخ او د اصحابِ کهفو په باره کښې د اهلِ کتابو د هیڅ قسمه سوال مه کوئ. ځکه چه د وحی په ذریعه مونږ د هغوی متعلق ټول ضروری خبرې بیان کړې دی.

وَلَا تَقُوۡلَنَّ لِشَاۡىۡءٍ اِنِّىۡ فَاعِلٌ ذٰلِكَ غَدًا ۝۲۳ اِلَّاۤ

او مه وایه د یو کار د پاره ځکه | چه زه به یې صبا اوکړم | مګر

اَنۡ يَّشَآءَ اللّٰهُ وَاذۡكُرۡ رَّبَّكَ اِذَا نَسِيۡتَ وَقُلۡ

دا چه الله تعالیٰ یې اوغواړی او یادوه خپل رب لره | هر کله چه د هیر شی ملا او دا یه

عَسٰٓى اَنْ يَّهْدِيَنِ رَبِّىْ لِاَقْرَبَ مِنْ هٰذَا رَشَدًا ﴿٢٤﴾

اُمید دے چه ځمارب ما ته اوښائي ... ددے نه زیاته نزدے لاره د نیکئي ف

وَلَبِثُوْا فِىْ كَهْفِهِمْ ثَلٰثَ مِائَةٍ سِنِيْنَ وَازْدَادُوْا

او وخت تیر کړو دوی په غار خپل کښے ته درے سوه کاله او په دے دیاسه

تِسْعًا ﴿٢٥﴾ قُلِ اللّٰهُ اَعْلَمُ بِمَا لَبِثُوْا لَهٗ غَيْبُ السَّمٰوٰتِ

نهه ته اووایه چه الله ته ښه علم دے چه څومره په دوی تیره شوه دهغه سره دی پټ

وَالْاَرْضِ اَبْصِرْ بِهٖ وَاَسْمِعْ مَا لَهُمْ مِّنْ دُوْنِهٖ مِنْ

رازونه لګه د اسمانونو او د زمکے. څه عجیبه وینی او اوری نشته بندیګانو لره بیوا د هغه نه څوک

وَّلِىٍّ وَّلَا يُشْرِكُ فِىْ حُكْمِهٖٓ اَحَدًا ﴿٢٦﴾ وَاتْلُ مَآ اُوْحِىَ

مختار ګے او نه شریکوی په خپل حکم کښے هیچا لره ف او ولوله کوم چه وحی کیږی ګئے

اِلَيْكَ مِنْ كِتَابِ رَبِّكَ لَا مُبَدِّلَ لِكَلِمٰتِهٖ وَلَنْ

تا ته ستا د رب د کتاب نه هیڅ بدلیدل نشته د هغه د خبرو ګے او چرته

تَجِدَ مِنْ دُوْنِهٖ مُلْتَحَدًا ﴿٢٧﴾ وَاصْبِرْ نَفْسَكَ مَعَ

به اُونه مومے ته د هغه نه سوا د پټیدو ځائ او بند سا ته خپل ځان د هغو

الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ رَبَّهُمْ بِالْغَدٰوةِ وَالْعَشِىِّ يُرِيْدُوْنَ

سره چه بلی خپل رب لره ګے سحر او د ماښام طلب کوی د هغه

وَجْهَهٗ وَلَا تَعْدُ عَيْنٰكَ عَنْهُمْ تُرِيْدُ زِيْنَةَ الْحَيٰوةِ

د رضا او نه دِ اوړی ستا سترګے د دوی نه چه تلاش کرے ښائست د ژوند

الدُّنْيَا وَلَا تُطِعْ مَنْ اَغْفَلْنَا قَلْبَهٗ عَنْ ذِكْرِنَا

د دُنیا ګئے او مه منه خبره د هغو چه غافله کړی دی مونږ زړونه د هغوی د خپل یاد نه

وَاتَّبَعَ هَوٰىهُ وَكَانَ اَمْرُهٗ فُرُطًا ﴿٢٨﴾ وَقُلِ الْحَقُّ مِنْ

او ورپسے دی په خپلو خواهشاتو او د هغوی کار دے د حد نه تجاوز ف او اووایه چه حق ستا د ګئے

رَبِّكُمْ ۚ فَمَنْ شَآءَ فَلْيُؤْمِنْ وَّمَنْ شَآءَ فَلْيَكْفُرْ ۚ إِنَّآ

درب د طرفه دے بیا چه څوک غواړی نو دِ منی او چه څوک غواړی نه دِ منی۔ مونږ

أَعْتَدْنَا لِلظّٰلِمِيْنَ نَارًا ۙ أَحَاطَ بِهِمْ سُرَادِقُهَا ۚ وَإِنْ يَّسْتَغِيْثُوْا

تیار کړی دے څه ګناهګارو دپاره اور چه ګیر به کړی دوی لره دهغه پردے او که فریاد اوکړی

يُغَاثُوْا بِمَآءٍ كَالْمُهْلِ يَشْوِى الْوُجُوْهَ ۚ بِئْسَ الشَّرَابُ ۚ وَ

نو ملاوېږی به اوبه پشان د زو چه وریتوی به ورله مخونه لعنه ناکاره څښکل دی او

سَآءَتْ مُرْتَفَقًا ﴿۲۹﴾

څه ناکاره ارام دے

## نکات :-

سلا جمله معترضه ۱۲ سلا رومبے متفرع امر ۱۲ سلا د قصے ثمره ۱۲ سلا دویم متفرع امر او دلیل وحی ۱۲ سه دریم متفرع امر ۱۲ سلا څلورم متفرع امر ۱۲ سک پنځم متفرع امر ۱۲ سه شپږم متفرع امر ۱۲ سه تخویف اخروی ۱۲

## موضح قرآن

ف۱ د اصحاب کهف قصه د تاریخ په کتابونو کښے د عجائباتو نه لیکلے وه۔ هر چا ته د هغے خبر چرته کیدے شو۔ کافرانو د یهودیانو په بنودنه د نبی علیه السلام نه تپوس کړے وو۔ نبی علیه السلام وعده اوکړه چه صبا له به یے تاسو ته بیان کړم۔ په دے بهروسه چه جبرئیل علیه السلام به راشی نو تپوس به تر اوکړم۔ جبرئیل علیه السلام اتلس ورځے رانغے۔ نبی علیه السلام د ډیر غمژن شو اخر یے دا قصه راوړه او وانغے۔ او روستویے دا نصیحت اوکړو چه اینده د پاره د خبرے وعده د انشاء الله نه بغیر مه کوه۔ که چرے څه وخت درته هیر شی نو بیا یے یاد کړه او وے وایه۔ او وے فرمائیل امید سا ته چه الله تعالے به ستا درجه دے سره زیاته کړی یعنی هیڅ کله به یے نه هیروې۔

ف۲ څو مره موده چه هغوی اوده وو او بیا راویښ شوی وو۔ تاریخ والا هغه مختلفو طریقو سره بیانوی۔ د ټولو نه صحیح هغه دے کوم چه الله بیان کړو۔ تر دے ځائ پورے قصه اوشوه۔

ف۳ یو کافر نبی علیه السلام ته اووئیل چه خپل ځان سره دا کمزوری غریبانان مسلمانان مه کینوه چه سرداران نا سره کینی۔ غریبانانو مسلمانانو ته یے رذیلان وئیل او دولتمند وکافرانو ته یے سرداران وئیل په دے باندے دا ایت نازل شو۔

## فتح الرحمن

فلا یعنی اووایه چه کول غواړم ان شاء الله ۱۲ فلا یعنی بیا به تنبیه ته ضرورت نه وی ۱۲

## تفسیر :

شلا۔ دا جمله معترضه ده۔ د هر واعظ او ناصح حکیم دا طریقه ده چه که چرے د وعظ په دوران کښے د وعظ په کومه حصه باندے یوه داسے ضروری خبره متفرع

شي چه د آوریدو ونکو سره متعلق وي نو هغه د وعظ سلسله بنده کړي آوریدونکي د هغه ضروري خبرې طرفته متوجه کوي. دے د پاره چه هغه بنه یاده اوساتلے شي. دلته هم داشان ده. د اصحاب کهفو واقعه بیانولو نه روستو یې نبي علیه السلام ته خطاب اوکړو او وے فرمایل. چه کوم کار صباله کول وي هغه همیشه د الله تعالے مشیت سره متعلق کوئ او هغے سره انشاء الله ضرور وایئ. چونکه د نبي علیه السلام نه دا هیره شوے وه. چه کله مشرکانو د امتحان په طور باندے د هغوئ نه د دریو خبرو تپوس اوکړو نو هغوئ صباله د جواب ورکولو وعده اوکړه او ان شاء الله یې اونه وئیلو. په دے باندے الله پاک د اصحاب کهفو واقعه بیانولو نه روستو یاد گیرنه ورکړه. چه انسان په خپل زړه کښے دیو خیز اراده کوي. لیکن کیږي هغه کوم څه چه الله ته منظور وي. او کوم څه چه کیږي. خالص د الله په اراده او د هغه په مشیت سره کیږي. څنګه چه اصحاب کهف غار ته داخل شول نو د هغوي اراده دا وه چه لږ شان آرام به اوکړي بیا به پاڅي. لیکن د هغوي د ارادے خلاف الله تعالے درے سوه نهه (۳۰۹) کاله اوده اوساتل. دا شان هغوي خپل ملګرے دے ارادے سره ښار ته اولیږلو چه هغه دوي له طعام راوړي لیکن د هغوي د ارادے نه خلاف بل څه ظاهر شول. علیٰ هذا د نبي علیه السلام اراده دا وه. چه زن باصباله د وحي په ذریعه د قریشو د سوالونو جوابونه ملاؤ شي نو صباله به یې هغوي ته بیان کړم. لیکن د هغے خلاف اوشو. چه د پنځلسو ورځو پورے وحي رانغله. په دے وجه تاسو هره معامله د الله مشیت ته سپارئ.

۲۸ دلته یې د نسیان حکم بیان کړو چه که چرے کله "ان شاء الله" وئیل هیر شي نو دے نه روستو که چرے یاد شي هغه وخت یې اووایئ خواه هر څو مره موده روستو چه را یاد شي. دے سره به د الله د نوم سره د تبرک حاصلولو پرینبودلو تدارک خو اوشي. باقي باتے د حکم بدلولو د پاره ان شاء الله وئیل نو د هغے سره اتصال ضروري دے. وهذا محمول علی تدارک التبرک بالاستثناء فاما الاستثناء المغیر للحکم فلا یصح الا متصلاً (مدارک ص ج ۳)

۲۹ په اننده زمانه کښے تجویز شوے هر کار د الله ارادے او د هغه مشیت پورے معلق کوئ. او ورسره دا هم وایئ چه کوم کار زه اننده کول غواړم کیدے شي د هغے نه زیات بهتر په بیره ما ته اوښائي او په هغے کښے ما ته پوره کامیابي راکړي. یا مطلب دا دے چه نبي علیه السلام ته دے وئیلو حکم ورکړے شویدے. چه کیدے شي. الله تعالے ما ته دا سے معجزے او دلائل راکړي. چه د اصحاب کهفو د واقعے نه زیات حیرانونکي او حما د نبوت او رسالت د پاره حجت قاطعه وي. (کبیر ص ج ۵)

۳۰ دا د متفرع امر ذکر کولو نه روستو اصل واقعے طرفته رجوع ده کوم خبره یې چه مخکښے فَضَرَبْنَا عَلَىٰ اٰذَانِهِمْ فِي الْكَهْفِ سِنِيْنَ عَدَدًا کښے بالاجمال ذکر کړے وه دلته یې د هغے تفصیل ذکر کړو یعنې اصحاب کهف د خوب په حالت کښے په غار کښے درے سوه نهه کاله پاتے شو. قال مجاهد هو بیان لمجمل قوله تعالیٰ فَضَرَبْنَا عَلَىٰ اٰذَانِهِمْ فِي الْكَهْفِ سِنِيْنَ عَدَدًا (البحر ص ج ۶)

دخینو خلقو خیال دے چه لَبِثُوْا هُم د یَقُوْلُوْنَ دلاندے داخل دے او دے سره هُم د ځینو خلقو د قول نقل کول مقصود دی لیکن دا خیال ټول غلط دے د قرآن د نظم طرز دے تائید نه کوی ځکه چه د دواړو مضمونو په مینځ کښے د دوه دیے مختلفو مضمونو فاصله حائل ده. قُلِ اللّٰهُ اَعْلَمُ بِمَا لَبِثُوْا الخ د شُبهے زائل کولو نه روستو د اصحاب کهفو واقعه بانده شپږ امور متفرع کړے شو. دا اول متفرع امر دے. تاسو اووایئ چه د اصحاب کهفو د اوده پاتے کیدو صحیح موده علم صرف الله تعالیٰ دے. په دے وجه صحیح موده هم هغه ده کومه چه الله تعالیٰ فرمائیلے ده یعنی دریے سوه نهه (۳۰۹) کاله. ای هو اعلم من الذین اختلفوا فیهم بمدة لبثهم والحق ما اخبرك به (مدارك ص ۹ ج ۳) داصحاب کهفو قصه دلته ختم شوه. ددے آخری جمله د قصے نتیجه ده. یعنی اصحاب کهف په غار کښے څومره زمانه اوده وو د هغے علم صرف الله تعالیٰ ته دے. پخپله اصحاب کهفو ته هم ددے مودے علم نشته. نو کوم خلق چه دخپل حال نه هم ناخبره دی نو هغه د نورو کارساز او حاجت روا څنګه کیدے شی.

## دواقعے ثمره (نتیجه)

۱۳ د اصحاب کهفو د واقعے نه مُشرکانو ته دهغوی د عالم الغیب او مختار کیدو شُبه پیدا شوے وه. الله تعالیٰ واقعه بیان کړه او دهغے هر اړخ سره یے د مُشرکانو د شُبهے رد اوکړو. اوس په آخر کښے یے د ټولے واقعے ثمره او نتیجه صراحت سره بیان کړه چه ددے واقعے د تفصیل نه ثابته شوه چه اصحاب کهف نه په غیبو عالمان وُو او نه مالک او مختار، عالم الغیب هُم صرف الله تعالیٰ دے او مالک او مختار هُم هغه دے. لَهٗ خبر یے مقدم کړو او حصر سره یے دعوی اوکړه چه د آسمانونو او زمکے د پټو خیزونو علم صرف الله ته دے بل هیچا ته نشته. اَبْصِرْ بِهٖ وَ اَسْمِعْ دا دواړه د فعل تعجب صیغے دی یعنی هغه دا سے لیدونکے او داسے آوریدونکے دے چه د آسمانونو او زمکے هیڅ خیز او هیڅ خبره دهغهٔ د علم نه بهر او پټ نه دی. تر دے ځائ پورے د نتیجے یو جزء بیان شو چه په غیبو باندے خبر صرف الله تعالیٰ دے اصحاب کهف په غیبو خبر نه دی.

۱۴ حضرت شاه عبد القادرؒ دولیؒ ترجمه لفظ مختار سره کوی. دا د نتیجے دویم جزء بیان دے. یعنی د ټول مخلوق د الله تعالیٰ نه سوا څوك کارساز او مختار نشته. الله تعالیٰ د ټولو مددګار او کارساز دے. او هغهٔ هیڅوك مختار نه دے ګرځولے نه اصحاب کهف نه بل څوك. څنګه چه مُشرکانو ګمان کړے وُو. ولا یشرك فی حکمه احدا. الله تعالیٰ په خپل اختیار او تصرف او په خپل حُکم او قضا کښے یو اځے دے او شریك نه لری او هیڅوك دهغهٔ سره شریك نشته. نه څوك ولی نه نبی نه فرښته یا پیرے او نه اصحاب کهف. انه تعالیٰ هو الذی له الخلق والامر الذی لا معقب لحکمه ولیس له وزیر ولا نصیر ولا شریك ولا مشیر تعالیٰ وتقدس (ابن کثیر ص ۸ ج ۳) ځینو مفسرینو د حکم نه

علم غیب مراد اخستے دے۔ یعنی الله پاک خپل علم غیب کښے څوک نه شریکوی۔ وقیل الحکم ههنا بمعنی علم الغیب ای لا یشرك فی علم غیبه احدا (مظهری ص۴۸ ج۶) په دے صورت کښے دا ایت د علم عطائی په نفی باندے دلیل دے۔ او د دینه معلومیږی چه الله تعالی خپل ذات پورے خاص کړے علم غیب یعنی د ما کان وما یکون کلی تفصیلی علم هیچا ته نه دے ورکړے۔

## دلیل وحی

۳۳ د اصحاب کهف واقعه بیانولو نه پس یے د هغے نتیجه بیان کړه چه په هغے کښے دوه خبرے واضحه کړے شوے۔ اول دا چه د الله نه سوا څوک عالم الغیب او حاضر ناظر نشته۔ دویم دا چه د الله نه سوا څوک مختار او متصرف نشته۔ نو دا یوه دعوی ده چه په دوه شقونو مشتمل ده۔ او س دے ځائی نه په دے باندے دلیل وحی پیش کړے شویدے۔ اُتْلُ امر د ایجاد فعل دپاره نه دے بلکه د بقاء فعل دپاره دے دا مطلب نه دے چه تاسو د الله تعالی د وحی سره د توحید دلائل اورول شروع کړئ۔ بلکه مطلب دا دے چه د الله تعالی وحی او کتاب نه چه څنګه تاسو مخکښے د توحید مسئله بیانوله دا شان اوس هم کوئ۔ او دا سلسله جاری اوساتئ۔ ای الازم تلاوة ذلك علی اصحابك (روح ص۲۵۵ ج۱۵) امره علیه السلام بالمداومة علی دراسته (ابو السعود ص۶۰۰ ج۵)

۳۴ د الله تعالی کلمات او د هغهٔ په ایتونو کښے د توحید کومه مسئله چه بیان شویده هغه قطعی او محکم ده۔ او هغه هیڅوک نه شی بدلولے۔ وَلَنْ تَجِدَ مِنْ دُوْنِهٖ مُلْتَحَدًا۔ واؤ تعلیلیه دپاره دے۔ او دا جمله د ماقبل دپاره علت دے۔ یعنی چه کله د الله تعالی نه سوا د پناه کوم ځائی نشته۔ او د هغهٔ نه سوا څوک مختار او متصرف نشته۔ نو د هغهٔ د ایتونو هم څوک بدلولو والا نشته۔ د مُلْتَحَدًا معنی د پناه ځائی او ماوی او ملجا ده۔ یعنی که چرے بالفرض تاسو یا بل څوک د الله تعالی په کلماتو کښے د بدلون او تغیر اراده اوکړی نو هغهٔ دپاره به د الله نه سوا د الله د عذاب نه چرته هم پناه نه ملاویږی۔ ای ملجأ تعدل الیه ان هممت بذالك (مدارك ص۹ ج۳)

۳۵ دا دریم متفرع امر دے۔ دا نبی علیه السلام دپاره تسلی ده۔ یعنی صبر او استقامت سره د توحید مسئله خوروئ۔ او کومو خلقو چه د توحید مسئله منلے ده۔ او خالص د الله د رضا طلبګار دی۔ صبا بیګا په حاجتونو او مشکلاتو کښے صرف الله ته اواز کوی۔ او هیڅوک هغهٔ سره نه شریکوی۔ تاسو د هغوی ملګرتیا مهٔ پریږدئ۔ حاصل دا چه تاسو په خپله دعوی باندے قائم اوسیږئ او د هغه خلقو سره مجلس کوئ چه څوک خالص د الله عبادت کوی او صرف هغهٔ ته اواز کوی۔ او شرك نه کوی۔ اَلَّذِیْنَ یَدْعُوْنَ رَبَّهُمْ کښے حصر دے یعنی هغوی صرف الله ته اواز کوی او هغهٔ سره بل

هیڅوک نهٔ رابللی. دلته اګرچه د حصر کلمه موجوده نهٔ ده. لیکن د حصر مفهوم د پاره د کلماتو حصر موجود ولے ضروري نهٔ دے. ځکه چه د نحو عالمانو وضاحت کړیدے بلکه ځینے وخت د قرائن او د سیاق او سباق نه هم د حصر مفهوم پیدا کیږی. ځکه چه دلته په حصر باندے قرینه موجود ده. او هغه دا چه د الله د رابللو نه مشرکان هم منکر نهٔ وُو. بلکه هغوی هم په خپلو حاجتونو کښے الله ته اوازونه کول لیکن هغوی د الله په رابللو کښے نور هم شریکول. او صرف الله یے نهٔ رابللو. په دے وجه په دے ایت کښے نبی علیه السلام ته د هغه خلقو د منکر تیا حکم ورکولے شی چا به چه صرف الله ته اوازونه کولو او د هغهٔ په رابللو کښے به یے بل هیڅوک نهٔ شریکول.

۳۶ دا څلورم متفرع امر دے. تُرِیْدُ جمله د عَیْنٰكَ د "كَ" نه حال دے. والجملة علی القرأة المتواترة حال من كاف عینك وجازت الحال منه لانه جزاء المضاف الخ (روح ص۲۶۳ ج ۱۵) مطلب دا دے چه د دُنیوی نفعو په خاطر د توحید منونکو نه تاسو خپلے سترگے هرگز مهٔ اړوئ. وَلَا تُطِعْ مَنْ اَغْفَلْنَا دا پنځم متفرع امر دے او د کوموخلقو زړونه چه د الله د توحید نه خالی دی او د هغهٔ د یاد نه غافل دی. او څوک چه د الله د عبادت په ځائے د دُنیا د دولت جمع کولو کښے مشغول دی. تاسو د هغوی تابعداری مهٔ کوئ. ای شغل عن الدین وعبادة ربه بالدنیا (ابن کثیر ص۸۱ ج ۳) په دے ایتونو کښے نبی علیه السلام ته خطاب شوید ے. لیکن په حقیقت کښے دا اُمّت ته تعلیم دے.

۳۷ دا شپږم متفرع امر دے. اَلْحَقُّ خبر دے او د دے مبتدا محذوف ده. په اصل کښے وُو هُوَ الْحَقُّ او د دے نه مراد په قول د امام ضحاك د توحید مسئله ده. امام مقاتل فرمائی د دے نه مراد قرآن دے. قال الضحاك هو التوحید وقال مقاتل هو القرآن (بحر ص۱۲۰ ج ۶) یعنی تاسو اعلان اوکړئ چه دا د توحید مسئله او د الله تعالیٰ کلمات او ایتونه په کوم کښے چه د توحید مسئله او نور احکام بیان شویدی ټول حق دی او د الله د طرفنه نازل شویدی. فَمَنْ شَآءَ فَلْیُؤْمِنْ الخ دا تهدید دے. او د شانِ استغناء اظهار دے. مطلب دا چه مونږ د توحید مسئله د خپل پیغمبر په ذریعه واضحه کړیدے. او د هغے په صداقت مو عقلی او نقلی دلائل هم قائم کړیدی. د چا زړهٔ چه غواړی، هغه دِ قبول کړی او د چا زړهٔ چه غواړی د هغے نه دِ انکار اوکړی. او په شرك دِ کلك پاتے شی. څوك یے چه اُومنی زمونږ فائده یے او نکړه فائده د هغهٔ خپله ده او چه څوك انکار اوکړی نو هغه به مونږ ته هیڅ نقصان را نکړی. بلکه خپل اخرت به خراب کړی. وفیه من التهدید والاستغناء عن متابعتهم (روح ص۲۶۶ ج ۱۵)

۳۸ دا تخویفِ اُخروی دے د توحید د مسئلے نه د انکار کونکو د پاره. سُرَادِقُ (پردے) ځکه چه پردو د خلقو نه چاپیره گیره اچولے وی. د غسے د جهنم د اُور لمبے به هم د جهنمیانو نه گیرچاپیره شوے وی. اَلْمُهْلِ (د تیلو خیرے) په جهنم کښے چه کله هغوی تږی

شي او هغوى اُوبه غوارى نو هغوى ته به داسې اُوبه وركولې شي چه د تېلو د خيرى پشان
به ګنده وى. او د ډمره ګرمه به وى چه د هغوى مخونه به ووريت كړى.

إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ إِنَّا لَا نُضِيعُ

بیشکه کوم خلق چه یقین اوکړی ئې او اوکړی نیکئ مونږ نه ضائع کوو

أَجْرَ مَنْ أَحْسَنَ عَمَلًا ﴿٣٠﴾ أُولَٰئِكَ لَهُمْ جَنَّاتُ عَدْنٍ

بدله د هغه چا چه نیک کار اوکړی دداسې خلقو دپاره باغونه دی د اوسیدو

تَجْرِي مِنْ تَحْتِهِمُ الْأَنْهَارُ يُحَلَّوْنَ فِيهَا مِنْ أَسَاوِرَ

بهیږی به د هغې نه لاندې نهرونه اغوستلې به شی دوی ته هلته باهو کان

مِنْ ذَهَبٍ وَيَلْبَسُونَ ثِيَابًا خُضْرًا مِنْ سُنْدُسٍ

د سرو زرو او اغوندی به کپړې شنې باریکې

وَإِسْتَبْرَقٍ مُتَّكِئِينَ فِيهَا عَلَى الْأَرَائِكِ ۚ نِعْمَ

او د غټو ریښمو تکیې ته به بې ډډه وهلې وي په دیکښې په تختونو باندې ښه بنه

ع الثَّوَابُ ۚ وَحَسُنَتْ مُرْتَفَقًا ﴿٣١﴾ وَاضْرِبْ لَهُمْ مَثَلًا

بدله ده او ښه بنه آرام دے ف او بیان کړه دوی ته مثال ئه د

رَجُلَيْنِ جَعَلْنَا لِأَحَدِهِمَا جَنَّتَيْنِ مِنْ أَعْنَابٍ وَ

دوو سړو چه یو له ګرځولی مونږ دوه باغونه کړی وو ئه د انګورو او

حَفَفْنَاهُمَا بِنَخْلٍ وَجَعَلْنَا بَيْنَهُمَا زَرْعًا ﴿٣٢﴾ كِلْتَا

او چاپیره د هغې نه تجورې او کړې وو مونږ د دواړو په مینځ کښې فصل ف دواړه

الْجَنَّتَيْنِ آتَتْ أُكُلَهَا وَلَمْ تَظْلِمْ مِنْهُ شَيْئًا ۚ وَ

باغونو راوړه خپله میوه او نه ئې کمول په دیکښې څه شے ئه او

فَجَّرْنَا خِلَالَهُمَا نَهَرًا ﴿٣٣﴾ وَكَانَ لَهُ ثَمَرٌ فَقَالَ لِصَاحِبِهِ

جاری کړې وو مونږه د دواړو په مینځ کښې نهرونه او ملاؤ شوه ده ته میوه پس اوویل ده خپل ملګری ته ئه

وَهُوَ يُحَاوِرُهٗٓ اَنَا اَكْثَرُ مِنْكَ مَالًا وَّ اَعَزُّ نَفَرًا ﴿۳۴﴾ وَ

چه کله یې ورسره خبرې کولې ما سره زیات دی ستا نه مال او عزتمند خاوند تګه او

دَخَلَ جَنَّتَهٗ وَهُوَ ظَالِمٌ لِّنَفْسِهٖ ۚ قَالَ مَآ اَظُنُّ اَنْ

داخل شو خپل باغ ته او هغه بد کول دځان سره وې ویل چه ګمان نه کوم چه

تَبِيْدَ هٰذِهٖٓ اَبَدًا ﴿۳۵﴾ وَّمَآ اَظُنُّ السَّاعَةَ قَآئِمَةً ۙ وَّ

خراب شي دا باغ چرته او خیال نه کوم زه چه قیامت قائمیدونکې دی او

لَئِنْ رُّدِدْتُّ اِلٰى رَبِّيْ لَاَجِدَنَّ خَيْرًا مِّنْهَا مُنْقَلَبًا ﴿۳۶﴾

که چرې واپس شوم زه خپل رب ته بیا به مومم بهتر ددې نه هلته په رسیدو ځای

قَالَ لَهٗ صَاحِبُهٗ وَهُوَ يُحَاوِرُهٗٓ اَكَفَرْتَ بِالَّذِيْ خَلَقَكَ

او وئیل ده ته ملګري ده چه خبرې یې ورسره کولې آیا ته منکر شوې د هغه نه چه پیدا یې

مِنْ تُرَابٍ ثُمَّ مِنْ نُّطْفَةٍ ثُمَّ سَوّٰىكَ رَجُلًا ﴿۳۷﴾ لٰكِنَّا۠

کړې ته د خاورو نه بیا د څاڅکي نه بیا یې برابر کړې ته سړی بیا زه خو دا

هُوَ اللّٰهُ رَبِّيْ وَلَآ اُشْرِكُ بِرَبِّيْٓ اَحَدًا ﴿۳۸﴾ وَلَوْلَآ اِذْ

وایم چه هغه الله دی زما رب او نه شریک نیسم خپل رب لره زه هیڅوک او هر کله چه ته

دَخَلْتَ جَنَّتَكَ قُلْتَ مَا شَآءَ اللّٰهُ ۙ لَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ ۚ

راغلې خپل باغ ته ولې دې نه وئیل چه څه غواړي الله طاقت نشته مګر کوم چه ورکړي

اِنْ تَرَنِ اَنَا اَقَلَّ مِنْكَ مَالًا وَّوَلَدًا ﴿۳۹﴾ فَعَسٰى رَبِّيْٓ

الله اګر چه ته وینې ما لره چه کم یم ستا نه ګڼه په مال او اولاد کښې نو امید دی چه زما رب

اَنْ يُّؤْتِيَنِ خَيْرًا مِّنْ جَنَّتِكَ وَيُرْسِلَ عَلَيْهَا حُسْبَانًا

راکړي ما ته ستا د باغ نه غوره او ولیږي په دې باندې یو ګرمه هوا

مِّنَ السَّمَآءِ فَتُصْبِحَ صَعِيْدًا زَلَقًا ﴿۴۰﴾ اَوْ يُصْبِحَ مَآؤُهَا

د اسمان نه بیا پاتې شي سحر میدان صفا یا سحر له شي د ده اوبه

غَوْرًا فَلَنْ تَسْتَطِيعَ لَهٗ طَلَبًا ﴿۴۱﴾ وَأُحِيطَ بِثَمَرِهٖ فَأَصْبَحَ

اُوبه یې ښکته لاړې شي بیا به یې ته په تلاش سره پیدا نه کړې شې وله　اوراګیر کړې شوه د هغه توله میوه (ټول باغ) نو بیا شو هغه

يُقَلِّبُ كَفَّيْهِ عَلٰى مَا أَنْفَقَ فِيهَا وَهِيَ خَاوِيَةٌ عَلٰى

په لاسونه مروړل　په هغه مال باندې چه یې پرې لګولي وو　او هغه پریوتي وو　په خپلو

عُرُوشِهَا وَيَقُولُ يٰلَيْتَنِي لَمْ أُشْرِكْ بِرَبِّي أَحَدًا ﴿۴۲﴾ وَ

چتونو　او وئیل یې چه څه به ښه وې که ما شریک نه جوړولې د خپل رب هیڅوک وت او

لَمْ تَكُنْ لَهٗ فِئَةٌ يَنْصُرُونَهٗ مِنْ دُونِ اللّٰهِ وَمَا كَانَ

نه شوه د ده دله چه د ده مدد یې کړې وې څه د الله نه بغیر　او نه شو بخپله

مُنْتَصِرًا ﴿۴۳﴾ هُنَالِكَ الْوَلَايَةُ لِلّٰهِ الْحَقِّ هُوَ خَيْرٌ ثَوَابًا

چه بخپله بدله واخلي.　دلته ټول اختیار د الله دې　په حقه د هغه انعام غوره دې

وَخَيْرٌ عُقْبًا ﴿۴۴﴾　ع ۵ / ۱۷

او ښه دی د هغه ورکړې شوې بدله

**نکات:** ۔ ۱ بشارتِ اُخروی ۱۲ ۲ د دُنیادارو خلقو د اصلاح د پاره اوله طریقه ۲

**موضح قرآن** ف۱ نبي علیه السلام اُوفرمائیل سره زر او د ریښمو کپړه به ملاویږي سړو ته په جنت کښې څوک چه دا څیزونه دلته اغوندي هلته به یې نه اغوندي.

ف۲ څه کښې زمانه کښې یو ما لداره سړې مړ شو د ده څلور زامن یې پاتې شول مال یې برابر تقسیم کړو. یو زمکه واخستله د وارو طرفونو ته یې باغونه اُولګول په مینځ کښې فصلونه او د اُوبو د پاره وَله جوړه کړه چه باران نه وي نو هم به ورته نقصان نه رسي او په یو بنګله کورنئ کښې یې واده هم اُوکړو. بچي یې پیدا شول او نوکران یې وُنیول د دُنیا تدبیرې یې برابر کړو او د آرام ژوند یې تیرولو. دویم ټول مال د الله په لاره کښې خرچ کړو. او بخپله یې قناعت سره ژوند تیرولو. ف۳ مال خو د الله نعمت وو بیا فخر او کُفر کولو سره عذاب راغې.

ف۴ منکر او کافر خلق خیال کوي چه څنګه د دُنیا په ژوند کښې عیش کوو دګناهونو سره نو په آخرت کښې به هم دا شان وي نو هرګز داسې نه شي کیدې.

ف۵ نبي علیه السلام اُوفرمائیل چه کله انسان ته په خپل کور کښې آسودګي او فراخي په نظر راشي نو دا کلمات د اُووائي ما شاء الله لا قوة الا بالله چه د نظر نه شي.

ف۶ آخر د هغه په باغ باندې هم هغه څه اُوشو څنګه چه د ده نیک سړي د ښې نه وتلي وو.

د شپې پرِ د اسمان نه اوُر اولګیږ ۷۹ او اوسوزیږ ۸۰ د ایرې ډهیرے شو مال یې خرچ کړو د
بنګے (راس المال) زیا تو لو د پاره او اصل هم برباد شو.

**تفسیر: ۳۹** دا د مؤمنانو د پاره د اخرت زیری دے. د مشرکانو د شبهاتو مثل
سره د کولو نه پس د منکرینو د پاره تخویفِ اُخروی او مؤمنانو د پاره بشارتِ اُخروی نازل
شو. واعلم انه تعالٰی لما وصف الکفر والایمان والباطل والحق اتبعه بذکر الوعید علی الکفر
والاعمال الباطلة و بذکر الوعد علی الایمان والعمل الصالح (کبیر ص۱۱۶ ج ۵) السندس الرقیق
من الدیباج والاستبرق الغلیظ منه (مفردات ص۲۴۲)

**۴۰** کوم خلق چه د دُنیوی شان او شوکت او په مال دولت باندے مغرور شو او حق
او توحید نه منی او د زر او جواهراتو په خزانو باندے د فخر او تکبر اظهار کوی هغوی
ته الله د حکمتِ بالغه او کمالِ رحمت دلاندے په درے طریقو سره نصیحت کوی.
دے د پاره چه هغوی په سمه لاره راشی. اول یې د دولت په دُنیا کښے د عذاب سبب
گرځید و اظهار اوکړو. دویم یې د دُنیوی مال او دولت د قلت او حقارت بیان اوکړو.
دریم یې په آخرت کښے هم د دُنیا دولت د عذاب سبب گرځیدل بیان کړل. په دے ایتونو
کښے الله تعالٰی د اسرائیلیانو دوه رونړو قطروس مشرك او یهودا مؤمن قصه بیان کړه.
او د اوُلے طریقے مطابق یې پند او نصیحت فرمائیلے دے. دا واقعه د دُنیوی مال او
سامان د بے ثباتئ او د دُنیا په دولت باندے مغرورو کیدو سره د الله د توحید د
پریښودلو بد انجام واضحه ثبوت او شاهد دے. چه قطروس مشرك په خپلو باغونو
مال او اولاد او په خپل خاندان باندے دومره مغرور وو چه د الله توحید یې
شاته اُغورزولو. اخر چه الله تعالٰی عذاب راولیږلو او د هغهٔ باغونه یې تباه او
برباد کړل او د کومو بزرګانو او پیرانو په نصرت او مدد کولو او په کوم خاندانی طاقت
باندے چه د هغهٔ بهروسه وه. په هغه کښے یو هم د هغهٔ بکار را نغے. المقصود من
هذا ان الکفار افتخروا باموالهم وانصارهم علی فقراء المسلمین فبین الله تعالٰی ان
ذلك مما لایوجب الافتخار لاحتمال ان یصیر الفقیر غنیا والغنی فقیرًا اما الذی یجب
حصول المفاخرة به فطاعة الله وعبادته (کبیر ص۱۱۶ ج ۵)

**۴۱** د دے دوارو رونړو نه یو (قطروس مشرك) د انګورو دوه باغونه وو چه د هغے
نه گیرچاپیره د کهجورو ونے وے. او کومه زمکه چه د دواړو باغونو په مینځ کښے وه. په
هغه کښے د غلے او سبزیانو فصلونه وو. حاصل دا چه د هغهٔ زمکه د هر قسمه میوو
او سبزو او غلو د پاره ډیره مناسب او د اعلٰی درجے زرخیزه وه. او بیا د باغونو
او فصلونو ترتیب ډیر ښهٔ او ښائسته وو. جعلناها ارضا جامعة للاقوات والفواکه
ووصف العمارة بانها متواصلة متشابکة لم یتوسطها ما یقطعها مع الشکل الحسن
والترتیب الانیق (مدارک ص۹ ج ۳)

**۴۲** دلته د ظُلم معنٰی کموالے دے. وَلَمْ تَظْلِمْ مِّنْهُ شَیْئًا ای لم تنقص (مفردات ص۳۱۸)

ددے باغونو معامله د نورو باغونو نه بالکل جُدا وه - عام طور باندے میوه دار بوټی یو کال میوه زیاته کوی او یو کال کم. لیکن د قطروس د باغونو ونو او بوټو به هر کال ډیرے میوے کولے - (روح ص ۲۷۲ ج ۱۵)

۴۳ه د باغونو او پټو محل وقوع، حُسن ترتیب او د زمکے تروتازګئی بیانولو نه پس یے د هغے د مالک غرور او تکبر بیان کړو. چه هغه څنګه د خپلو باغونو او فصلونو په تروتازګئی باندے او په خپلو ځامنو او منځو غرور کولو. او خپل مؤمن او غریب رور یے خوړمره ذلیله او سپک ګنړلو. اَنَا اَکۡثَرُ مِنۡكَ الخ قطروس مشرك فخر او غرور سره او وئیل چه ما سره ستانه مال او دولت هُم زیات دے - او ځما من د کار هُم طاقتو دی. ظَالِمٌ لِّنَفۡسِهٖ - هغه شرك او غرور اوکړو - او په خپل ځان باندے یے ظلم کولو.

۴۴ه چه کله هغه خپل باغ ته داخل شو او د هغے تروتازګی او بشاشت او د هغے د میوو زیاتوالے یے اُولیدهٔ نو هغه د دُنیا په محبت او د حرص او لالچ په خیالاتو کښے ورك شو او وے وئیل چه تر څو پورے زهٔ ژوندے یم تر هغے پورے به دا باغ نهٔ تباه کیږی - او همیشه به دے تازګئی، شینکئی او بشاشت سره په خپل حال وی. او ځما رورچه د کوم قیامت نه ما ویروی - او د اٰخرت کوم ارام او راحت دپاره چه ما ته د توحید او د نیکو عملونو تلقین کوی - اول خو هغه قیامت را تلونکے نهٔ دے. وَّ لَئِنۡ رُّدِدۡتُّ او که چرے بالفرض قیامت راهُم شی نو په اٰخرت کښے به هُم ځما انجام ښهٔ وی او هلته به هُم ما ته مال او اولاد او د عیش او عشرت ژوند نصیب شی. هغه په دے شبه کښے مبتلا وو چه د الله په نزد د هغهٔ ډیر قدر او مرتبه ده. په دے وجه الله تعالیٰ هغهٔ ته په دے دُنیا کښے مال او دولت، عزت او مرتبه او شان او شوکت ژوند ورکړیدے او هغه ددے انعاماتو حقدار دے. په دے وجه په اٰخرت کښے به هُم د الله په نزد د هغهٔ دا قدر او مرتبه او ددے استحقاق باقی وی - او هغهٔ ته به هلته هُم دا نټول نعمتونه حاصل وی. (کبیر ص ۱۲۹ ج ۵)

حضرت شیخ فرمائی چه هغه مشرك وو څنګه چه هغهٔ به اٰخر کښے پخپله د پښیمانتیا داظهار په طور وئیلی وو چه اَرمان! ما خپل پروردګار سره څوك شریك نهٔ جوړ ولے. هغهٔ بزرګان حاجت روا، مُشکل کشا او منع کونکی او ورکونکی ګنړل. د هغهٔ عقیده وه چه د کومو بزرګانو په طفیل (وسیله) په دُنیا کښے هغهٔ ته مال، دولت او شان او شوکت حاصل دے. د هغوی سفارش به په اٰخرت کښے هم کار ورکړی او هلته به هُم هغهٔ ته هر قسمه عیش حاصل وی. لعل ذلك الکافر مع کونه منکرا للبعث کان عابد صنم الخ (بحر ص ۱۲۶ ج ۵).

۴۵ه د قطروس مشرك په جواب کښے د هغهٔ مؤمن رور یهوذا هغهٔ ته وعظ او نصیحت کولو - اَکَفَرۡتَ بِالَّذِیۡ الخ دلته د کفر نه مراد د الله د ذات نه انکار نهٔ دے. ځکه چه قطروس د الله نه منکر نهٔ وو. څنګه چه په وَلَئِنۡ رُّدِدۡتُّ اِلٰی رَبِّیۡ کښے د هغهٔ

اقرار تیر شوی دے. بلکه د الله د وجود قائل او معترف وو. د کفرنه مراد دلته شرك او د الله د توحید نه انکار دے. د هغهٔ د مشرك کیدو اعتراف ځکښے راځی. الظاهرانه کان مشرکا کما یدل علیه قول صاحبه تعریضًا به (وَلَآ اُشْرِكُ بِرَبِّیْٓ اَحَدًا) وقوله (یٰلَیْتَنِیْ لَمْ اُشْرِكْ بِرَبِّیْٓ اَحَدًا) ...... فالمراد بقوله (اَكَفَرْتَ) اَاَشْرَكْتَ (روح ص۲۷۳ ج۱۵)

۳٦ لٰكِنَّا په اصل کښے لٰكِنْ اَنَا وو. همزه سره د حرکت نه علیٰ خلاف القیاس حذف کړے شوه. دوه نونه جمع کړے شو. اول ساکن او دویم متحرك. اول په دویم کښے ادغام کړے شو نو لٰكِنَّا شو. دے نه معلومه شوه چه دا د واحد متکلم صیغه ده جمع نه ده (روح) د دے جملے ترکیب به دا شان وی. اَنَا مبتداء اول هُوَ ضمیر شان مبتداء ثانی، اَللّٰهُ مبتداء ثالث، رَبِّیْ د هغے خبر. مبتداء او خبر سره یو ځائ د مبتداء ثانی خبر شو. مبتداء ثانی سره د خپل خبر نه د مبتداء اول خبر شو. (بحر ص۱۲۸ ج۶) حضرت شیخ فرمائی د اَنَا نه پس اَقُوْلُ محذوف دے. په اصل کښے وو لٰكِنْ اَنَا اَقُوْلُ هُوَ اللّٰهُ رَبِّیْ (بحر) وَلَآ اُشْرِكُ الخ په دیکښے د دویم رور د مشرك کیدو طرفته باریکه اشاره او تعریض دے. تعریض باشراك صاحبه (بحر) یعنی تا خو د الله سره شرك اوکړو او غیر الله دِ کارساز اوګڼلو. لیکن زهٔ د دے اعلان کوم چه صرف الله ځما مالك او کارساز او پروردګار دے او زهٔ به بالکل هم د هغهٔ سره شریك نه ګرځوم.

۳۷ قطروس چه کله باغ ته داخل شو هغه د دولت په نشه کښے داسے بیهوشه وو. چه الله ئے هم هیر وو او د قیامت نه ئے هم انکار اوکړو. او په خپل دولت باندے ئے فخر شروع کړو. په دے باندے هغهٔ ته د هغهٔ رور نصیحت شروع کړو چه کله ته باغ ته داخل شوے وے نو تا له د الله شکر ادا کول پکار وو. چا چه تا ته دا ټول نعمتونه درکړیدی. مَا شَآءَ اللّٰهُ. او کوم څهٔ چه په دے باغ کښے دی. ټول د الله په مهربانئ او د هغهٔ په مشیت سره دی او دا ټول هر څهٔ د هغهٔ په قبضه او تصرف کښے دی. که اوغواړی نو اباد به ئے کړی او که اوغواړی نو برباد به ئے کړی. کل ما فیها انما حصل بمشیئة الله وان امرها بیده ان شاء ترکها عامرة وان شاء خربها (مدارك ص۱۱ ج۳) شاید قطروس په مشیت کښے د الله سره خپل کوم معبود شریك کړے وی. ځنګه چه نن صبا هم جاهلان خلق وائی. "ځنګه چه الله او د هغهٔ رسول اوغوښتل"، حالانکه دا کلمه د شرك ده. د نبی علیه السلام په ځکښے دیوکس دا ئے نه اووئیل. کما شآء الله ورسوله. په دے باندے نبی علیه السلام هغهٔ ته تنبیه اوکړه او وے فرمائیل قولوا ماشاء الله وحده. دا شان وائی ځنګه چه الله اوغوښتل لَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ. د نعمت ورکولو نه روستو د اخستلو طاقت او قوت صرف الله سره دے. کوم بزرګان چه تا د الله تعالیٰ سره شریکان جوړ کړیدی هغوی سره هیڅ نشته کوم الله چه تا ته باغونه درکړیدی. او دا د عیش عشرت سامان ئے درکړیدے. هغه د دے د اخستلو او په بوساعت کښے د دے د تباه کولو طاقت هم لری.

**۴۸** دا د دیهوذا کلام دے۔ حُسْبَانًا نه د الله عذاب مراد دے۔ صَعِیْدًا زَلَقًا. هوار میدان چه په هغې کښې هیڅ زرغونه نه وی. دحضا لا نبات فیه (مفردات ص۲۱۳) یعنی که چرے ته د مال او اولاد په کثرت باندے فخر کوے او د دے څیزونو د کمی د وجې نه ما سپک ګڼړے. نو واوره چه مال او اولاد د دُنیا د دے څو ورځو فانی او ختمیدونکے زینت دے دا د فخر او لوئی څیز نه دے. که چرے نن ته په زرو او جواهراتو کښې لوبے کوے او په خپلو باغونو ناز او فخر کوے. او زهٔ ستا نه په مال او اولاد کښې کم یم. نو د بلندئ او پستئ کوم خدائ چه تا ته دولت درکړو او ما ته یے رانکړو. هغه دا هم کولے شی چه کوم څهٔ هغهٔ تا ته درکړیدی ما ته د دے نه زیات راکړی. او ستا باغ په باد او باران سره تباه او برباد کړی. یا د زمکے اُوبهٔ اُوچے کړی او ستا باغونه او تر و تازه فصلونه برباد شی۔

**۴۹** مؤمن چه د کوم خیال اظهار کړے وو الله تعالیٰ هم هغه شان اوکړل. او د شپے په وخت کښې یے دا سے عذاب راوُلیږلو چه هغې سره د هغهٔ باغونه او نور مالونه تباه او برباد شول. اهلك امواله المعهودة من جنتیه ومافیهما (ابوالسعود ص۶۹ ج۵) فَاَصْبَحَ یُقَلِّبُ كَفَّیْهِ الخ چه کله یے صباله د باغونو د تباهئ منظر اُولیدهٔ نو کوم څهٔ یے چه د باغونو په حفاظت او سنبهالو لو خرچ کړی وُو. په هغې باندے یے افسوس کولو او لاسونه یے مروړل. وَیَقُوْلُ یٰلَیْتَنِیْ الخ اُوس هغهٔ ته د رور نصیحت ورپاد شو. او سخت پښیمانه شو. وے ویل ارمان! چه ما د خپل مالک او پروردګار سره شرک نه وے کړے۔ دا په دے قرینه دهٔ چه هغه مشرك وُو او غیرالله یے کارساز او حافظ او ناصر ګڼړلو۔

**۵۰** چه کله د الله تعالیٰ عذاب راغے نو په کوم خاندانی طاقت او قوت باندے چه هغهٔ فخر کولو او کوم معبودان چه هغهٔ د الله نه سِوا کارساز او متصرف ګڼړل او د هغوی نه په دے مشکل وخت کښې یو هم د هغهٔ پکار رانغے. او نهٔ خو یے د خپلو مټو په طاقت سره د الله د عذاب نه خپل باغونه بچ کړل. هُنَالِكَ الْوَلَایَةُ لِلّٰهِ الْحَقِّ۔ د دے واقعے نه معلومه شوه چه ټول اختیارات د الله په قبضه کښې دی او هغهٔ هیڅ اختیار چا ته حواله کړے نهٔ دے۔

وَاضْرِبْ لَهُمْ مَّثَلَ الْحَیٰوةِ الدُّنْیَا كَمَآءٍ اَنْزَلْنٰهُ

او بیان کړه درئ ته مثال د دُنیا د ژوند لکه اُوبهٔ چه نازلے کړے مونږ

مِنَ السَّمَآءِ فَاخْتَلَطَ بِهٖ نَبَاتُ الْاَرْضِ فَاَصْبَحَ

د آسمان نه پس د دے په خلط کیں و سره د زمکے نه شینکی راوختیږی پس صباله شی

هَشِيمًا تَذْرُوهُ الرِّيٰحُ ۗ وَكَانَ اللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ

اُوچه خس خس په هوا کښې الوتے . او الله دے په هر څه باندے قدرت

مُّقْتَدِرًا ﴿۴۵﴾ اَلْمَالُ وَالْبَنُوْنَ زِيْنَةُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۚ

لرونکے دے . مال او ځامن ښائست دے د دُنیا په ژوند کښې

وَالْبٰقِيٰتُ الصّٰلِحٰتُ خَيْرٌ عِنْدَ رَبِّكَ ثَوَابًا وَّخَيْرٌ

او د باقي پاتے کیدونکو نیکو غوره دي ستا د رب په نزد بانړے په بدله او غوره دي

اَمَلًا ﴿۴۶﴾ وَيَوْمَ نُسَيِّرُ الْجِبَالَ وَتَرَى الْاَرْضَ بَارِزَةً ۙ

دے اُمید دے . او په کومه ورځ چه روان کړو مونږ غرونه او ته به اووینې زمکه ډاګه میدان

وَّحَشَرْنٰهُمْ فَلَمْ نُغَادِرْ مِنْهُمْ اَحَدًا ﴿۴۷﴾ۚ وَعُرِضُوْا عَلٰى

او راټول کړو مونږ دوی لره بیا به پاتے نه کړو په دوی کښې یو کس او مخامخ به شي ستا

رَبِّكَ صَفًّا ۗ لَقَدْ جِئْتُمُوْنَا كَمَا خَلَقْنٰكُمْ اَوَّلَ مَرَّةٍ ۢ بَلْ

رب ته په صفونو را ورسیدئ تاسو مونږ ته څنګه چه پیدا کړي وئ مونږ تاسو په اول ځل داسے

زَعَمْتُمْ اَلَّنْ نَّجْعَلَ لَكُمْ مَّوْعِدًا ﴿۴۸﴾ وَوُضِعَ الْكِتٰبُ

نه ده تاسو خو به ویل چه مقرر به نه کړو مونږ ستاسو د پاره څه وعده دے . او کیښودلے به شي د حساب

فَتَرَى الْمُجْرِمِيْنَ مُشْفِقِيْنَ مِمَّا فِيْهِ وَيَقُوْلُوْنَ

کاغذ بیا به ته اووینې ګنهګارو لره چه ویریږي به د هغې نه کوم یے چه په کښې لیکلي دي او وائي به

يٰوَيْلَتَنَا مَالِ هٰذَا الْكِتٰبِ لَا يُغَادِرُ صَغِيْرَةً وَّلَا كَبِيْرَةً

هائے خرابي ده څنګه دے دا کاغذ نه ده پاتے شوے د دے نه وړه خبره او نه لويه خبره

اِلَّآ اَحْصٰىهَا ۚ وَوَجَدُوْا مَا عَمِلُوْا حَاضِرًا ۗ وَلَا يَظْلِمُ رَبُّكَ اَحَدًا ﴿۴۹﴾

چه په دیکښې نه ده راغلې او بیا به مومي څښتې چه کړي دي مخامخ او ستا رب ظلم نه کوي په هیچا باندے یو

**نکات:** ۱ د منکرینو د اصلاح دویمه طریقه ۲ د منکرینو د اصلاح دریمه طریقه

## موضح قرآن

**ف۱** یعنی هر کله چه اوغواړی نو بیا به یے ژوندی کړی. باقی پاتے کیدو ځکه نیکئ دا دی چه چا ته علم اوښائی چه جاری پاتے وی یا یوه نیکه طریقه جاری کړی. یا جُمات، کوهے، سرائے، باغ یا زمکه وقف کړے شی. یا اولاد ته نیک تربیت اوکړی او ځان نه روستو دغه نیک اولاد پریږدی او مړ شی.

**ف۲** دا به الله تعالیٰ هغوی ته تنبیه د پاره اوفرمائی. او څنګه یے چه پیدا کړے وُو اول ځل، دا هم پکښے داخل دی چه په بدن کښے به یے څه زخم او نقصان نه وی. سُنت کړے شوے به هُم نوی.

**ف۳** رب چه هر څه کوی نو هغه ظُلم نه دے تول د هغه مال دے بیا چه په ظاهر کښے کوم ظُلم په نظر راځی هغه هُم نه کوی بے ګناه څوک دوزخ کښے نه اچوی او نیکی نه ضائع کوی. او څوک چه وائی زمونږ په ګناه کښے څه اختیار دے نو دا سے نه ده د خپل زړه نه تپوس اوکړی چه کله ګناه کوی نو خپل قصد سره یے کوی. او څوک چه وائی قصد اراده هُم هغه ورکړیده نو قصد دواړو طرفو سره متعلق کیدے شی. او څوک چه وائی هُم هغه یو طرفته اولګولو نو د بنده د تحقیق نه بهر دے. د بنده سره معامله کیږی د هغه په عقل او پوهه باندے بنده به هُم په دے رانیسی چه سره د عقل نه ګناه کوی دا نه شی وئیلے چه د هغه څه قصور دے الله پرے اوکړه.

**تفسیر:- ۱۵** دا دے ځائی نه د منکرینو د اصلاح دریمه طریقه شروع کیږی دلته یے اوفرمائیل چه دا مال اولاد او دا دُنیوی شان او شوکت ډیر حقیر څیز دے او فانی دے. د دے په خاطر تاسو د حق نه مخ اړولو سره خپل همیشه ژوند او د آخرت ژوند ولے برباد وئ. اعلم ان المقصود اضرب مثلاً آخر یدل علی حقارة الدنیا وقلة بقائها. (کبیر ص۲۲ ج ۵)

**۲۵** دا د منکرینو د اصلاح دریمه طریقه ده. یعنی د دُنیا په خاطر دین پریږدئ، هُم دا دُنیا به هغوی د پاره د عذاب سبب ګرځی او په آخرت کښے به د دے په وجه سره په سخت عذاب کښے پریوتل وی. نُسَیِّرُ الْجِبَالَ الخ د غرونو روانولو نه مراد دا دے چه د قیامت په ورځ به غرونه د خپلو ځایونو نه اوچت کړے شی او هغه به د وریځو په شان د آسمان په فضا کښے والوزولے شی. څنګه چه بل ځائی کښے ارشاد دے. وَتَرَى الْجِبَالَ تَحْسَبُهَا جَامِدَةً وَّهِيَ تَمُرُّ مَرَّ السَّحَابِ- بَارِزَةً ظاهر او په نظر راتلونکی د زمکے حصه چه په غرونو کښے پټه ده اوس به هغه بربنډه شی او صفا به په نظر راشی. لَا يُغَادِرُ الخ مجرمان چه کله خپله عملنامه اووینی نو ډیر زیات به حیران شی او وائی به چه دا څنګه کتاب دے؟ د ځونه وړه خبره پریښے ده او نه لویه. د یکښے خو زمونږ هره یوه بدی لیکلے شوے ده. لَا يُغَادِرُ ای لا یترك.

وَاِذْ قُلْنَا لِلْمَلٰٓئِكَةِ اسْجُدُوْا لِاٰدَمَ فَسَجَدُوْٓا اِلَّآ

او چه کله مونږ اوویل ٥٣ فرشتو ته سجده اوکړئ آدم ته نو سجده کښے پریوتل مګر

اِبْلِيْسَ ؕ كَانَ مِنَ الْجِنِّ فَفَسَقَ عَنْ اَمْرِ رَبِّهٖ ؕ

ابلیس (سجده اُونکړه) دَو د پیریانو د قسم نه ٥٤ پس اووتلو د خپل رب د حُکم نه

اَفَتَتَّخِذُوْنَهٗ وَذُرِّيَّتَهٗٓ اَوْلِيَآءَ مِنْ دُوْنِيْ وَهُمْ

پس ایا تاسو اوس نیسئ دغه لره او دده اولاد لره ملګري ځما نه سوا او هغوی

لَكُمْ عَدُوٌّ ؕ بِئْسَ لِلظّٰلِمِيْنَ بَدَلًا ﴿۵۰﴾ مَآ اَشْهَدْتُّهُمْ

ستاسو دُشمنان دی ناکاره په لاس ورغلل بے انصافو ته په بدله کښے ٥٥ نه دَو حاضر کړی ما

خَلْقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَلَا خَلْقَ اَنْفُسِهِمْ ۪ وَ

دوی لره ٥٦ پیدائش د اسمانونو او زمکے ته او نه پیدائش ځپله د دوی ته او

مَا كُنْتُ مُتَّخِذَ الْمُضِلِّيْنَ عَضُدًا ﴿۵۱﴾ وَيَوْمَ يَقُوْلُ

زه هغه نه یم چه جوړ کړم ګمراه کونکو لره خپل مددګار او په کومه ورځ چه اووائی

نَادُوْا شُرَكَآءِيَ الَّذِيْنَ زَعَمْتُمْ فَدَعَوْهُمْ فَلَمْ

راوبلئ ٥٧ ځما شریکانو لره کوم چه تاسو منل نو راوبه بلی پس هغوی

يَسْتَجِيْبُوْا لَهُمْ وَجَعَلْنَا بَيْنَهُمْ مَّوْبِقًا ﴿۵۲﴾ وَرَاَ

به جواب ورنه کړی دوی ته او جوړ به کړو مونږ د دوی په مینځ کښے د مرګ ځائ ٥٨ او

الْمُجْرِمُوْنَ النَّارَ فَظَنُّوْٓا اَنَّهُمْ مُّوَاقِعُوْهَا وَلَمْ

وبه وینی ګنهګاران اُور ٥٩ پس پوه به شی چه دوی پکښے پریوتونکی دی او نشی

ع ۶ ۱۹ يَجِدُوْا عَنْهَا مَصْرِفًا ﴿۵۳﴾ ع

بدلیدے د دوی نه لار

نکات: ٥٣ ددویم شُبهے جواب ۱۲

٥٨ زجر دے ۱۲

**موضح قرآن** ف۱ یعنې د الله په بدله کښې شیطان نیسی په دوستۍ سره او د ځوره بُتانو عبادت چه کوی هغه د ده اولاد دے۔

ف۲ یعنې خندق د اُور نه ډک شو۔

**فتح الرحمن** ف۱ یعنې یوه کنده د دوزخ ډکه او نه دے دپاره چه پری بل ته رسیدل اونکړے شی۔

**تفسیر:- ۵۳** دویمے شُبهے جواب :- دا دویمے شُبهے جواب دے۔ شُبه دا وه چه د اولیاء الله د خانقاهونو او په قبرونو باندے د ولاړو ونو بُوټو پریکولو سره نقصان رسیږی۔ دے نه معلومیږی چه هغوی په غیبو عالمان او په کارونو کښے تصرف کونکی دی۔ دد دے جواب یے ورکړو چه اولیاء الله ته خو دد دے علم هُم نه وی چه د هغوی په قبرونو باندے مُشرکان خلق څه څه شرکی عملونه کوی ځکه چه په قرآن کریم کښے راغلی دی چه هغوی به د قیامت په ورځ به الله قسمونه خوری او وائی به چه مونږ ته د دے خلقو د شرک علم نه وو۔ فَكَفٰى بِاللّٰهِ شَهِيْدًۢا بَيْنَنَا وَ بَيْنَكُمْ اِنْ كُنَّا عَنْ عِبَادَتِكُمْ لَغٰفِلِيْنَ (سورة یونس رکوع ۳) او په سُورة فاطر رکوع کښے دی۔ وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ يَكْفُرُوْنَ بِشِرْكِكُمْ۔ دے وجے نه دا ټول د شیطانانو شرارت دے۔ هغوی د خلقو په زړونو کښے وسوسے او شُبهات اچوی او ګمراه کوی یے۔ او هغوی مُشرکان ګرځوی۔ او تعجب دے چه شیطان چه د بنیآدم د ازل د ورځے نه لوئ دُشمن دے۔ خلق د هغه په وسوسه کښے راتلو سره ځنګه د هغه طاعت کوی۔

**۵۴** دا د انسانانو سره د شیطانانو د پخوانئ دُشمنئ بیان دے دا هغه شیطان دے چاچه د ټولو انسانانو جدِ اعلیٰ حضرت آدم علیه السّلام ته په سپک نظر کتلی وو۔ او د الله د حُکم باوجود د هغه په مخکښے یے د سجدے کولو نه انکار کړے وو۔ دد دے آیت نه معلومه شوه چه ابلیس په اصل کښے د پیریانو نه وو۔ لیکن د ډیر عبادت د وجے نه به ملائکو کښے شامل وو۔ اَفَتَتَّخِذُوْنَهٗ وَذُرِّيَّتَهٗۤ اَوْلِيَآءَ الخ۔ همزه استفهام د انکار او تعجب دپاره ده۔ الهمزة للانکار والتعجب (روح ص۲۹۳ ج ۱۵)۔ یعنې تعجب دے چه د دا سے پخوانئ دُشمنئ باوجود تاسو هغه سره دوستی کوی او د هغه تابعداری کوئ۔ بِئْسَ لِلظّٰلِمِيْنَ بَدَلًا۔ ظالمانو او مُشرکانو د الله د عبادت په ځائ او حُکم منلو په ځائ د ابلیس او د هغه د اولاد حُکم منل او عبادت غوره کړیے چه د الله د اطاعت ډیر بد بدل دے۔ یعنې بِئْسَ مَا استبدلوا طاعة ابلیس و ذریته بعبادة ربهم وطاعته (خازن ص۱۷۶ ج ۴)

**۵۵** دا د ماقبل دلیل او علت دے یعنې ابلیس او د هغه اولاد چه تاسو هغوی ځما په عبادت او اطاعت کښے شریک ګرځوئ۔ آیا د زمکے او د آسمانو د پیدائښ په وخت کښے یا ځپله د دوی د پیدائښ په وخت کښے ما هغوی شریک کړی وو؟ یاد دے

په باره کښې ما د هغوی سره څنګه مشوره کړې وه؟ هرګز داسې نه ده ما داسې نه ده کړې. اول خو ځما کوم مشوره کوونکی او مدد کوونکی ته ضرورت نشته. او که بالفرض وې هم نو دا پلیت شیطانان چه د دوی کار ځما مخلوق د صحیح لارې نه بې لارې کول دي. ما به هیڅ کله خپل مددګار نه وو جوړ کړي. چه کله دا شیطانان ځما په کارونو او ځما په اختیاراتو او تصرفاتو کښې ځما سره شریک نه دي نو ځما په عبادت او اطاعت کښې ځما سره څنګه شریک کیدې شي؟ بلکه چه څنګه تاسو ځما عاجز او کمزورې مخلوق یئ. داشان هغوی هم ځما عاجز او کمزورې مخلوق دي. او د هغوی په اختیار کښې هیڅ نشته. هؤلاء الذین اتخذتموهم اولیاء من دونی عبید امثالکم. (ابن کثیر ص۹۰ ج۳)

۵۶ف د الله په اطاعت کښې ابلیس او د هغه اولاد شریکوونکو د پاره تخویف اُخروی دې داخلق د شیطان په وسوسو کښې راغلل د غیر الله عبادت او رابلل یې شروع کړل. د الله نیک بندګان یې کارساز او متصرف او مختار اُګڼل په حاجتونو او مشکلاتو کښې یې غائبانه طور باندې رابلل شروع کړل. او هغوی یې د الله په نزد شفیع غالب اُګڼل. د قیامت په ورځ به الله تعالیٰ د دوی د لاجوابه کولو او رټلو د پاره اُوفرمائي چه په دُنیا کښې خو لک تاسو ځما سره شریک کړځولي وو. او هغوی تاسو سفارشیان ګڼل نن هغوی ته اواز اوکړئ چه هغوی تاسو ځما د عذاب نه خلاص کړي. په دې باندې به مشرکین د خپل زوړ عادت مطابق خپل معبودان د مدد د پاره رابولي. لیکن د هیڅ ځائې نه به ورته اواز نه راځي. ادعوهم الیوم ینقذونکم مما انتم فیه (ابن کثیر ص۹۰ ج۳) هؤلاء المشرکین الذین اتخذوا من دون الله اٰلهة کالملٰئکة وعیسٰی دعوا هؤلاء فلم یستجیبوا لهم (کبیر ص۳۰۷ ج۵) وَجَعَلْنَا بَيْنَهُمْ مَّوْبِقًا. موبق وبوق په معنیٰ د هلاکت. اسم ظرف دې یعنی د هلاکت ځائې او دینه مراد جهنم دې. بَيْنَهُمْ کښې ضمیر د مشرکانو او هغه معبودینو طرفته راجع دې. څوک چه په خپل عبادت باندې راضي وو لکه شیطانان او دروغژن ګده نشین پیران. مطلب دا دې چه دواړه ډلې به د جهنم په عذاب کښې شریک وي. ای مهلکا یشترکون فیه وهو النار (روح ص۲۹۸ ج۱۵) د ځینو مفسرینو قول دې چه مَّوْبِقًا په جهنم کښې د یوې کندې نوم دې. او مطلب دا دې چه د مشرکینو او معبودینو (کوم چه په خپل عبادت باندې راضي نه وو. مثلاً ملائکې، انبیاء علیهم السلام او اولیاء کرام) په مینځ کښې به د جهنم وادي حائل او پرده شي. او مشرکان به په هغې کښې اُغورزولې شي. وحصل بین اولئک الکفار وبین الملٰئکة وعیسٰی علیه السلام هذا الموبق وهو ذالک الوادی فی جهنم. (کبیر ص۳۰۷ ج۵)

۵۷ف چه کله مشرکان د خپلو سفارشیانو نه نا اُمیده شي نو اُوس به د هغوی په مخ کښې د جهنم اُور وي. چه د هغې لېدلو سره به ورته یقین اُوشي چه هغوی په دې کښې غورزیدونکي دي او اوس د اُور نه د بچکېدو هیڅ یوه لاره نشته.

وَلَقَدْ صَرَّفْنَا فِي هٰذَا الْقُرْاٰنِ لِلنَّاسِ مِنْ كُلِّ

او بیشکه بیا بیا پوهول مونږ په دے قرآن کښے خلقو لره په هر یو

مَثَلٍ ۚ وَكَانَ الْإِنْسَانُ أَكْثَرَ شَيْءٍ جَدَلًا ﴿٥٤﴾ وَمَا مَنَعَ

مثال سره او دے انسان د هر شي نه زیات جګړه کوونکے او خلقو لره چه کوم

النَّاسَ أَنْ يُؤْمِنُوا إِذْ جَاءَهُمُ الْهُدٰى وَيَسْتَغْفِرُوا

منع کړیدي د دے خبرے نه چه یقین اوکړي هر کله چه راغے دوي ته هدایت او بخښنه اوغواړي

رَبَّهُمْ إِلَّا أَنْ تَأْتِيَهُمْ سُنَّةُ الْأَوَّلِينَ أَوْ يَأْتِيَهُمُ

د خپل رب نه پس د دے انتظار چه اوشي د دوي سره کار د پخوانو یا راشي دوي ته

الْعَذَابُ قُبُلًا ﴿٥٥﴾ وَمَا نُرْسِلُ الْمُرْسَلِينَ إِلَّا مُبَشِّرِينَ

عذاب مخامخ وړاندے او مونږ چه کوم رسولان لیږو نه پس زیرے ورکوونکي

وَمُنْذِرِينَ ۚ وَيُجَادِلُ الَّذِينَ كَفَرُوا بِالْبَاطِلِ لِيُدْحِضُوا

او ویروونکي او جګړه کوي کافران له دروغو جګړه چه ورانه کړي

بِهِ الْحَقَّ وَاتَّخَذُوا اٰيٰتِي وَمَا أُنْذِرُوا هُزُوًا ﴿٥٦﴾ وَمَنْ

په دے سره حقه خبره او نیولے دے دوي زما کلام او چه کومه ویره ورته واوروله شي ټوقه. او د هغه

أَظْلَمُ مِمَّنْ ذُكِّرَ بِاٰيٰتِ رَبِّهِ فَأَعْرَضَ عَنْهَا وَنَسِيَ

نه زیات ظالم څوک دے کوم چه پوه کړل د هغوي رب په کلام سره بیا تر هغے نه واړوي او هیر یې

مَا قَدَّمَتْ يَدَاهُ ۚ إِنَّا جَعَلْنَا عَلٰى قُلُوبِهِمْ أَكِنَّةً

کړي کوم چه وړاندے لیږلي وي د ده لاسونه مونږ اچولي دي د دوي په زړونو پردے چه

أَنْ يَفْقَهُوهُ وَفِي اٰذَانِهِمْ وَقْرًا ۖ وَإِنْ تَدْعُهُمْ إِلَى

پوهه پرے نه شي او د دوي په غوږونو کښے درنوالے دے او که ته دوي راوبلے

الْهُدٰى فَلَنْ يَهْتَدُوا إِذًا أَبَدًا ﴿٥٧﴾ وَرَبُّكَ الْغَفُورُ ذُو

لارے ته نو هرګز نه راځي لارے د غه وخت چرے او ستا رب ډیر بخښونکے والا دے

الرَّحْمَةِ ؕ لَوْ يُؤَاخِذُهُمْ بِمَا كَسَبُوْا لَعَجَّلَ لَهُمُ الْعَذَابَ ؕ

رحمت والا کهٔ دوی له ونیسی دوی په عمل نو زر به وغورځیږی په دوی عذاب

بَلْ لَّهُمْ مَّوْعِدٌ لَّنْ يَّجِدُوْا مِنْ دُوْنِهٖ مَوْئِلًا ﴿۵۸﴾ وَتِلْكَ

بلکه دوی دپاره یوه وعده ده د دوی له چیرته به بیا نه مومی دهغې نه خلاصي په خنګ کیدو او دا تول

الْقُرٰٓى اَهْلَكْنٰهُمْ لَمَّا ظَلَمُوْا وَجَعَلْنَا لِمَهْلِكِهِمْ مَّوْعِدًا ﴿۵۹﴾ ع

کلي دی کوم چه مونږ هلاک کړل چه کله هغوی ظالمان شول او مقرر کړے وه مونږ د دوی هلاکت دپاره وعده

نکات: ۱- سر زجر دے ۲ سر زجر سره د تخويف اخروی ۳ سر جواب د مقدر سوال ۴ زجر ۳ سر ۵ زجر ۴

**موضح قرآن** ف یعنی نور هیڅ انتظار نشته لیکن دا چه د تیرو شوو خلقو پشان هلاک شي یا د قیامت عذاب په سترګو اووینی۔

ف۲ مخکښې ذکر شوی وُو چه کافران پخپله دُنیا باندے مغرور وُو فقیران مسلمانان بے سپک ګڼړل۔ او دنبی علیه السلام نه یے غوښتل چه هغوی د ځان سره نه کینوی۔ نو مونږ به ورسره کینو۔ په دے باندے یے د دوو رو نړو قصه بیان کړه۔ او د ابلیس خرابیدل خپل غرور سره۔ او س یے د موسیٰ او خضر علیهما السلام قصه بیان کړه چه د الله والا خلق کهٔ بهتر وی نو خپل ځان ته بهتر نه وائی۔ نبی علیه السلام اُو فرمائیل چه موسیٰ علیه السلام خپل قوم ته نصیحت کولو یو سړی تپوس اوکړو چه اے موسیٰ! ستا نه زیات هم دچا علم شته۔ وئے وئیل ما ته معلومه نه ده۔ دا خبره حقیقت وه لیکن بیا هم الله په دے خبره نیو خوشحاله وُو چه د اے یے ویلے وے چه د الله بند یکان علم نه وی ردی۔ د تبولو علم صرف هغه ته دے نو وحی راغله چه زمونږ یو بنده دے چه د دوو دریابونو یو ځائی کیدو سره دے هغه ته ستا نه زیات علم حاصل دے۔ موسیٰ علیه السلام دُعا اُو غوښتله چه ما ته د هغه سره ملاقات نصیب شی۔ حکم ورته اُوشو چه یو مهے وریت کړه ځان سره یے واخله چرته چه مهے ورک شو هغه به هلته ملاویږی۔

**تفسیر:** ۵۸ دا زجر دے مونږ خو د ټولو انسانانو د مصلحت او د هغوی د فائدے دپاره واضح او ښکاره مثالونه بیا بیا بیان کړو۔ لیکن انسان د هغې نه فائده نه اخلی او فضول خبرے او جګړے کوی او د هدایت نه نور هم لرے وځی۔

۵۹ دا زجر دے سره د تخويف اخروی۔ د الناس نه د قريشو مشرکان مراد دی۔ المراد بهم کفار قريش (روح ص ج ۱۵) اَنْ يُّؤْمِنُوْا دا دے نه مخکښې مِنْ مقدر دے او دا ن مصدریه دے۔ ای من ایمانهم۔ اِذْ منع سره متعلق دے او الْهُدٰى نه قرآن مجید یا نبی علیه السلام مراد دے۔ او د هُدٰى اطلاق په دواړو باندے په طور د مبالغه کیږی یعنی هغه قبول

هدایت دے. وَيَسْتَغْفِرُوا رَبَّهُمْ. دا په يُؤْمِنُوا باندے معطوف دے. اِلَّآ اَنْ تَاْتِيَهُمْ
دے نه مخکښے مستثنیٰ منه محذوف ای شئ. قُبُلًا د قبیل جمع ده. او مراد د عذاب
مختلف قِسمونه دی. دا د العذاب نه حال واقع شوې دے. دا یت مطلب به دا وی چه کله
مُشرکانو ته د الله د طرفنه هدایت راغے. نو د الله په توحید باندے د ایمان راوړلو او
د شِرک پرېښودلو او د خپلو تیرو شوؤ گناهونو نه د معافئ غوښتلو نه هغوی لره د دوؤ
څیزونو نه علاوه بل کوم څیز منع کړی نه دی. هغوی په دے انتظار کښے دی چه یا خو
هغوی سره هغه سلوك اُوکړے شی کوم چه د مخکښے زمانے مُشرکانو او د پیغمبرانو نه انکار
کوونکو سره اُوشو. یعنی هغوی هلاك کړے شی او د هغوی جرړے اُوخی. دسُنَّةُ الْاَوَّلِيْنَ
نه مراد هُم دا دے. المراد بها اهلاك بعذاب الاستیصال (روح) یا دا چه هغوی تول هلاك
نه کړے شی بلکه په ژوند کښے د الله عذاب په مختلفو صورتونو کښے په هغوی نازلیږی.
والمعنی انهم لا یقدمون علی الایمان الا عند نزول عذاب الاستیصال فیهلکوا او ان یتواصل
انواع العذاب والبلآء حال بقائهم فی الحیٰوة الدنیا (کبیر ص۴۳۱ ج ۵)

٦٠ دا د مقدر سوال جواب دے. مشرکانو اِدوئیل چه کله بے مونږ نه منو نو
بیا ولے مونږ سمدستی عذاب سره نه هلاك کیږو. نو وے فرمائیل چه مونږ رسُولان دے
د پاره رالیږو چه هغوی زمونږ د احکامو تبلیغ اوکړی. مسُونکو ته زیرے ورکړی او مُنکرین
د عذاب نه اووېروی دے د پاره چه په هغوی باندے زمونږ حجت قائم شی د دے نه
روستو بیے چه هُم اُونه منی نو بیا به عذاب راشی.

٦١ دا جګړه کوونکو کافرانو باندے زجر دے. بِالْبَاطِلِ کښے باء سببیه ده او د
باطل نه مراد بیهوده شُبهات او باطل شکونه او د ځان نه جوړے شوے قِصّے دی. یعنی
دا خلق باطلے شُبهے پیش کوَلو سره د حق د خکنه کوَلو کوشش کوی. دا خلق ځما د اٰیتونو او
ځما د طرفه د عذاب او عقاب د همکیلے خالص د توقو او مسخرو نشانه جوړوی. وَمَآ
اُنْذِرُوْا کښے واو په معنی د مَعَ دے او عائد محذوف دے یعنی بِهٖ او مَآ اُنْذِرُوْا بِهٖ نه مراد
عذاب دے یا قرآن دے. په دے صورت کښے به د اٰیتونو نه مراد معجزے وی.

٦٢ دا هُم زجر دے. وَرَبُّكَ الْغَفُوْرُ ذُوالرَّحْمَةِ الخ یعنی الله تعالیٰ غفور او ذو
الرحمة هم دے. لیکن که چرے د خلقو په بد عملونو باندے هغوی اُونیسی نو د هغه د
عذاب نه هُم هغوی لره هیڅوك نه شی خلاصولے.

٦٣ دا د دُنیا عذاب خو معمولی عذاب دے د اٰخرت عذاب به ډیر سخت وی او د
هغے نه د بچکیدو هُم هیڅ صورت نه وی. مَوْئِلًا د پناه ځائ او د تښتید و ځائ. وَتِلْكَ
الْقُرٰى الخ سره اشاره محسوس مبصر طرفته نه ده بلکه معهود فی الذهن طرفته ده. او د
القرٰی نه مخکښے مضاف مقدر دے. ای اهل القرٰی او د دے نه مراد عاد او ثمود او د
لوط علیه السلام قوم دے. د دے قومونو د تباهئ قِصّے په عربو کښے مشهورے او معلومے
وے. په دے وجه هغه یے د محسوس په منزله اُوگرځول او په تلك سره یے هغے طرفته

اشاره اوکړه. والاشارة لتنزیلهم لعلمهم بهم منزلة المحسوس (روح ص ۱۵) اهل بدعت ما تقول فی هذا الرجل الخ نه د نبی علیه السلام په قبر کښے حاضر ناظر کیدو باندې استدلال کوی. په مذکوره آیت سره د هغوی استدلال باطلیږی. ځکه چه مشار الیه د پاره محسوس، مبصر کیدل ضروری نه دی. څنګه چه په تلك القرٰی کښے معهود فی الذهن کلو ته اشاره ده. دا شان په هذا الرجل کښے هم معهود فی الذهن طرفته اشاره ده. موعدًا یعنی مقرر وخت. مطلب دا دے چه دے قومونو کله ظلم اوکړو د کفر او شرك او بد عملئ نه منع نه شول نو مونږ په یو معین وخت کښے کوم چه د هغوی د هلاکت د پاره مقدر وو هغوی لره هلاك کړل. او زمونږ عذاب د مقرر وخت نه یو قدم هم نه مخکښے او نه روستو شو.

وَإِذْ قَالَ مُوسٰى لِفَتٰـهُ لَآ أَبْرَحُ حَتّٰىٓ أَبْلُغَ مَجْمَعَ

او هر کله چه اوویل موسیٰ خپل ځوان ته تلله زۀ نه واپس کیږم تر هغے چه اورسم هغه ځائ ته چه

الْبَحْرَيْنِ أَوْ أَمْضِىَ حُقُبًا ﴿٦٠﴾ فَلَمَّا بَلَغَا مَجْمَعَ بَيْنِهِمَا

چرته یو ځائ کیږی دوه دریابونه یا لاړشم په ډیرو زمانو تلو بیا چه کله ورسیدل ګډه دواړه د دریابونو ملاویدو ته

نَسِيَا حُوتَهُمَا فَاتَّخَذَ سَبِيلَهُ فِى الْبَحْرِ سَرَبًا ﴿٦١﴾ فَلَمَّا جَاوَزَا

هیر یے کړو خپل ماهی بیا هغه خپل لاره ونیوه په دریاب کښے سرنګ کوونکے وه بیا چه کله وړاندې لاړل

قَالَ لِفَتٰـهُ اٰتِنَا غَدَآءَنَا لَقَدْ لَقِيْنَا مِنْ سَفَرِنَا

تلله اوویل موسیٰ خپل ځوان ته راوړه مونږ ته زمونږ خوراك مونږ بیا مومو ګړ په خپل دے سفر کښے

هٰذَا نَصَبًا ﴿٦٢﴾ قَالَ أَرَءَيْتَ إِذْ أَوَيْنَآ إِلَى الصَّخْرَةِ

تکلیف ده اوویل هغه ایا اولیدو تا چه کله مونږ ځائ ونیوه د کاڼی په خوا کښے

فَإِنِّى نَسِيْتُ الْحُوْتَ وَمَآ أَنْسٰنِيْهُ إِلَّا الشَّيْطٰنُ أَنْ

نو ما هیر کړو ماهی او دا ما نه هیر کړو شیطان چه د

أَذْكُرَهُ ۚ وَاتَّخَذَ سَبِيلَهُ فِى الْبَحْرِ ۖ عَجَبًا ﴿٦٣﴾ قَالَ ذٰلِكَ

هغه ذکر اوکړم او هغه ونیوه خپله لاره په دریاب کښے عجیبه شان وے وئیل دا دے

مَا كُنَّا نَبْغِ ۖ فَارْتَدَّا عَلٰٓى اٰثَارِهِمَا قَصَصًا ﴿٦٤﴾ فَوَجَدَا

کوم چه مونږ غوښتلو بیا واپس شو دخپلو خپو په نښو معلومولو باندې بیا یې بیا موند یو

عَبْدًا مِّنْ عِبَادِنَآ اٰتَيْنٰهُ رَحْمَةً مِّنْ عِنْدِنَا وَ

بنده زمونږ د بندګانو نه چه کوم ته ورکړې وه مونږ رحمت د خپل طرفه او

عَلَّمْنٰهُ مِنْ لَّدُنَّا عِلْمًا ﴿٦٥﴾

ښودلې وو ورته مونږ د خپل طرف نه یو علم وه

**نکات:** ـ ۲ د دریمې شبهې جواب ۱۲

**موضح قرآن** ف ۱ دا ځوان یوشع علیه السلام د موسٰی علیه السلام خاص خادم وو، د هغه په موجودګۍ کښې نبي او بیا روستو خلیفه شو.

ف ۲ هلته چه اُورسیدل موسٰی علیه السلام اُوده شو. او یوشع علیه السلام په دریاب کښې اُودس شروع کړو هغه وُریت شوې مَحې ژوندې شو او دریاب ته لاړې او په اُوبو کښې کینا ستلو. هلته سُرنګ شان جوړ شو. یوشع علیه السلام د دې حالاتو لیدلو سره حیران شو. غوښتل یې چه موسٰی علیه السلام ویښ شي هغه وخت به یې هغه ته اووائي. چه ویښ شو نو دواړه مخکښې لاړل او وئیل یې هیر شول.

ف ۳ موسٰی علیه السلام اول ستړې نه وُو خو چه کله ترې مطلوب (مَحې) خلاص شو نو هلته په تلو کښې ورته ستوماني محسوس شوه.

ف ۴ هغه بنده خضر وُو. چه هغه سره ملاؤ شو او د راتلو د سبب تپوس یې اوکړو موسٰی علیه السلام هغه ته بیان اوکړو. خضر علیه السلام او وئیل چه تا ته الله تربیت درکړې. لیکن خبره دا ده چه الله پاک ما ته یو علم راکړیدې هغه یې تا ته نه دې درکړې. او تا سره چه کوم علم دې هغه یې ما ته نه دې راکړې. یوه مرغۍ یې هغه ته اُوښودله چه د دریاب نه یې اُوبه څکلې. دې وئیل د ټول مخلوق ټول علم د الله د علم نه دا سې دې څومره اُوبه چه د دریاب نه د مرغۍ په خُله کښې دي.

**فتح الرحمٰن:** ف ۱ یعنی خضر علیه السلام یې بیا موند یو ۱۲

**تفسیر** ۶۴ د دریمې شبهې جواب: ـ دا د دریمې شبهې جواب دې. شبهه دا وه چه موسٰی او خضر علیهما السلام د واقعې نه معلومیږي چه موسٰی علیه السلام اګرچه په غیبو عالِم نه وُو لیکن خضر علیه السلام خو په غیبو عالِم وُو ځکه چه هغه موسٰی علیه السلام ته د غیبو اُمور بیان کړي وُو. د دې شبهې جواب یې د واقعې په آخر کښې ورکړیدې چه خضر علیه السلام په خپله اقرار کړې وُو چه د دې اُمورو هغه ته هیڅ علم نه وُو. هغه ته د دې خبرو علم د الله تعالٰی په ښودنه حاصل شوې وُو

او هغهٔ چه څهٔ هُم کړی وُو هغه یې د الله په حُکم کړی وُو. وَمَا فَعَلْتُهُ عَنْ اَمْرِیْ ـ لِفَتٰىهُ
فتی (ځوان) نه مراد یوشع بن نون دے چه د موسیٰ علیه السلام خادم وُو او د هغهٔ نه یې
عِلم حاصلولو. په دے سفر کښے هغه ورسره ملګرے وُو. مجمع البحرین د دوُو دریابونو د
ملاویدو ځائ. د دوُو دریابونو نه بحیرهٔ روم او بحیرهٔ فارس مراد دی. ځنګه چه د مجاهد
او قتادة نه نقل دی. و مجمع البحرین قال مجاهد و قتادة هو مجتمع بحر فارس و بحر الروم (بحر ج ۲ ص ۱۴۲)
قرطبی ص۱ ج ۹، روح ص۳۱۲ ج ۱۵) حُقُبًا. اسم مفرد دے. د دے جمع اَحْقُبٌ او اَحْقَابٌ دے
د ابن عباسؓ او د ډیرو مفسرینو نه نقل شویدی چه د حقب معنیٰ د مطلق زمانے ده یعنی
مبهم زمانه او غیر محدود چه مراد ترے اُوږده زمانه ده یعنی مدتہا والمعنی حتی یقع امابلوغی
المجمع او مضی حقبا ای سیږی زمانا طویلاً یعنی یا خو به زهٔ مجمع البحرین ته اُورسیږم یا به
په مودو مودو روان یم.

د موسیٰ علیه السلام د دے سفر باعث دا شو ځنګه چه مفسرینو د ابن عباسؓ نه نقل
کړیدے چه یوه ورځ موسیٰ علیه السلام د الله نه سوال اوکړو چه کوم یو بنده تا ته زیات
خوښ دے؟ وے فرمائیل چه څوک هر وخت ما یادوی او کله م هُم نهٔ هیروی. بیا یې
عرض اوکړو چه ستا په بندو کښے د ټولو نه زیات بنهٔ قاضی څوک دے؟ وے فرمائیل
چه څوک صحیح فیصله کوی او د نفس د خواهش تابعداری نهٔ کوی. بیا یې عرض اوکړو،
چه ستا په بندو کښے د ټولو نه لوئ عالم څوک دے؟ وے فرمائیل چه د خلقو نه د
هغوی عِلم حاصل کړی او په خپل علم کښے اضافه کوی. په دے خیال سره چه هغهٔ ته
څهٔ داسے خبره ملاؤ شی چه هغے سره هغه رهنمائی حاصل کړی. یا هغه خپل ځان هلاکت
نه بچ کړی. په دے باندے موسیٰ علیه السلام الله نه خواست اوکړو چه اے الله! که چرے
ستا په بندو کښے کوم یو بنده ځما نه زیات عالِم وی نو ما ته د هغهٔ پته راکړه. الله
تعالیٰ اُوفرمائیل چه ستا نه زیات عالِم زمونږ بنده خضر دے چه په مجمع البحرین کښے
اُوسیږی. ته یو مَهے وُریت کړه او په خپل توښه دان کښے یې کیږده. او مجمع البحرین طرفته
روان شه. چه مَهے ورک شی نو پوهه شه چه زمونږ بنده هُم دلته اُوسیږی. (کبیر ص۱۴۵ ج ۵)
(روح ص۳۱۳ ج ۱۵)

**۶۵** چه کله موسیٰ علیه السلام او د هغهٔ ملګرے یوشع بن نون د دواړو دریابونو د ملاویدو
ځائ ته اُورسیدل. نو هلته د یو ګټ د سوری د لاندے د آرام کولو د پاره ایسار شول. موسیٰ
علیه السلام اُوده شو او یوشع ویښ وُو. د دے دوران کښے هغهٔ اُولیدل چه مَهے په توښه دان
کښے حرکت کوی. تر دے چه د هغے نه اووتلو او دریاب ته داخل شو. یوشع سوچ اوکړو چه هغه
دا وخت موسیٰ علیه السلام د خوب نه بیدارنهٔ کړی چه کله هغه پخپله راویښ شی نو هغه
به د حال د حقیقت نه خبر کړم. فِی الْبَحْرِ سَرَبًا. مَهی په دریاب کښے خپله لاره جوړه کړه او
په هغے ننوتلو. موسیٰ علیه السلام ته د مَهی په باره کښے تپوس کول یاد نهٔ شول د دے نه معلوم
شوه چه هغه په غیبو عالِم نهٔ وُو.

**۶۲** چه کله دوا ړه د مجمع البحرین نه اووتل او مخکښې لاړل نو موسٰی علیه السلام خپل ملګری ته اوویل چه دے سفر سره خو په رستړے شوی یُو اوس نهورالهٔ را وړه. نَصَبًا تعبًا یعنی ستړے والے او تکلیف. قَالَ اَرَءَيْتَ الخ ملګری ته اوس د ماهی واقعه وریاد شوه. او هغهٔ په جواب کښے اوویل چه کله مونږ د کاڼړی په سوری کښے آرام کړے وُو هغه وخت هغه ماهی عجیبه معجزانه طور باندے ژوندے شو او د توښه دان نه اووتلو او دریاب ته داخل شوے وُو. لیکن تاسوته د هغے حال بیانول ځما نه هیر شول. قَالَ ذٰلِكَ الخ موسٰی علیه السلام اُوفرمائیل چه زمونږ د منزل مقصود علامه هُم دغه وه نو د هغه ځائ نه بیا واپس شول. قَصَصًا. دا مصدر دے او د محذوف فعل د پاره مفعول مطلق دے. ای یقصان قصصا. یا مصدر په معنٰی د اسم فاعل د ارْتَدَّا فاعل نه حال دے. یعنی د خپلو خپو نښو ته پے کتل او واپس شول چرته چه ماهی دریاب ته داخل شوے وُو. چه کله هلته اُورسیدل نو هلته نزدے په یوه جزیره کښے خضر علیه السلام سره ملاقات اُوشو. دے نه معلومه شوه چه موسٰی علیه السلام په غیبو عالِم نهٔ وُو که چرے عالم وے نو هغهٔ ته به د خضر علیه السلام ځائ معلوم وے او د هغه ځائ نه به مخکښے نهٔ وے تللے.

**۶۵** د دے بنده نه د مختار قول مطابق خضر علیه السلام مراد دے. هغهٔ ته الله تعالٰی د تکوینیاتو علم ورکړے وُو کوم چه موسٰی علیه السلام سره نهٔ وُو. ځکه چه موسٰی علیه السلام ته د شرائع علم حاصل وُو کوم چه خضر علیه السلام سره نهٔ وُو نو چه کله د دواړو ملاقات اُوشو. نو خضر علیه السلام اُوفرمائیل. یٰموسٰی انا علی علم علمنی الله لا تعلمه انت وانت علی علم علمك الله لا اعلمه انا. (کبیر ص۴۳۲ ج ۵) د خضرؑ په باره کښے ځنو لیکلی دی چه هغه فرښته وه ځنو لیکلی دی چه هغه ولی وُو. لیکن د جمهورو مسلک دا دے چه هغه نبی وُو د خضر علیه السلام په نبوت باندے قرآن پخپله ګواه دے. اول دا چه الله پاک اُوفرمائیل: اٰتَيْنٰهُ رَحْمَةً مِّنْ عِنْدِنَا د رحمت نه مراد وحی او نبوت دے. او دا تعبیر د انبیا و علیهم السلام په باره کښے اختیار کړے شوے دے ځکه چه په بل ځائ کښے ارشاد دے چه نوح علیه السلام خپل قوم ته اُوفرمائیل يٰقَوْمِ اَرَءَيْتُمْ اِنْ كُنْتُ عَلٰى بَيِّنَةٍ مِّنْ رَّبِّيْ وَاٰتٰىنِيْ رَحْمَةً مِّنْ عِنْدِهٖ (سورهٔ هود رکوع ۳) او په بل ځائ کښے یے د صالح علیه السلام قول نقل کړو او وے فرمائیل يٰقَوْمِ اَرَءَيْتُمْ اِنْ كُنْتُ عَلٰى بَيِّنَةٍ مِّنْ رَّبِّيْ وَاٰتٰىنِيْ مِنْهُ رَحْمَةً (سورهٔ هود ع ۶) په دے آیتونو کښے د رَحْمَةً نه مراد وحی او نبوت دے. والجمهور علٰی انها الوحی والنبوة وقد اطلقت علٰی ذلك فی مواضع من القرآن (روح ص۳۲۰ ج ۱۵)

دویم دا چه د معصوم بچی د وژلو واقعه هُم شاهد ده چه هغه نبی وُو ځکه چه د ولی کید و په صورت کښے د بچی د وژلو اشاره زیات نه زیات د کشف او الهام په ذریعه کیدے شی. او د ولی کشف او الهام ظنی څیز دے. دے سره د قطع او یقین درجه نشی حاصلیدے

دے وجه نه د کشف یا الهام اشارے سره دیو معصوم ېچی قتل جائز کیدے نه شی. دے
نه معلومه شوه چه هغه نبی وُو او هغه نه د ماشوم د وژلو حُکم د وحی په ذریعه معلوم
شوے وُو یا د کشف او الهام په ذریعه ځکه چه د انبیاء علیهم السلام کشف او الهام
هم د وحی په شان قطعی وی.

# دخضر علیه السّلام ژوند

په دے باره کښے د عُلماء اختلاف دے چه خضر علیه السلام ژوندے دے یا وفات شوے
دے. د څینو عالمانو او صوفیانو خیال دے چه هغه ژوندے دے لیکن د اُمت د جمهورو
عُلماؤ او دِ ملت د محققینو صوفیانو تحقیق دا دے چه خضر علیه السلام فوت شوے دے
د هغه په وفات باندے د ټولو نه لوئ دلیل دا دے چه الله تعالیٰ د ټولو انبیاؤ نه ځانله
ځانله دا وعده اخستے وه چه هغه به د ځان نه روستو راتلونکی د هر نبی تصدیق کوی او
که چرے د هغه زمانه بیا مُومی نو د هغه امداد به کوی او د هغه مکرتیا به کوی. څنګه
چه ارشاد دے. وَاِذْ اَخَذَ اللّٰهُ مِيْثَاقَ النَّبِيّٖنَ لَمَآ اٰتَيْتُكُمْ مِّنْ كِتٰبٍ وَّحِكْمَةٍ
ثُمَّ جَآءَكُمْ رَسُوْلٌ مُّصَدِّقٌ لِّمَا مَعَكُمْ لَتُؤْمِنُنَّ بِهٖ وَلَتَنْصُرُنَّهٗ. که چرے
خضر علیه السلام ژوندے وے نو په هغه فرض وُو چه د نبی علیه السلام خدمت کښے حاضر
شوے وے او په هغه یے ایمان راوړے وے. او د جنګ په هر میدان کښے ورسره شریک
وے د نبی علیه السلام په اقتداء کښے یے مُونځ ادا کړے وے. په جُمعه کښے ورسره شریک
وے. لیکن په یو مانځه کښے یا د جهاد په یو میدان کښے د هغه د حاضریدو هیڅ ذکر
نشته. دے نه معلومیږی چه هغه خپله د نبی علیه السلام په زمانه کښے هم موجود نه وُو.

د امام بخاری رحمه الله نه چا د خضر او الیاس علیهما السلام په باره کښے تپوس
وکړو چه آیا هغوی ژوندی دی؟ نو هغوی جواب ورکړو چه هغه څنګه ژوندے کیدے شی
حالانکه نبی علیه السلام د خپل وفات نه لږ شان مخکښے فرمائیلی وُو. لا یبقی علی رأس المائة
ممن هو الیوم علی ظهر الارض احدٌ یعنی دا وخت چه کوم انسانان د زمکے په مخ باندے دی
تر سلو کالو پورے به په دوی کښے یو هم ژوندے نه پاتے کیږی.

امام ابن تیمیه فرمائی چه که چرے خضر علیه السلام ژوندے وے نو په هغوی فرض
وُو چه د نبی علیه السلام خدمت کښے حاضر شوے وے او د قرآن علم یے تر ے حاصل کړے
وے او جهاد کښے ورسره شریک وے. د غه شان امام ابراهیم بن اسحاق حربی، امام
شرف الدین محمد بن ابی الفضل مرسی، امام علی بن موسیٰ رضا او ابو الحسین بن المنادی
رحمهم الله تعالیٰ نه نقل دی چه خضر علیه السلام وفات شوے دے (روح المعانی ص ۳۲۰ ج ۱۵)

باقی شوه دا خبره چه د ډیرو اولیاء الله د خضر علیه السلام سره د بیدارئ په حالت
کښے زیارت نصیب شویدے د دینه معلومیږی چه هغه ژوندے دے. نو د دے جواب
دا دے چه د دے نه د هغوی په ژوند استدلال صحیح نه دے. ځکه چه څنګه څنو کا ملینو

او محققینو صوفیانو فرمائیلی دی چه د خضر علیه السلام زیارت د عالم دُنیا خیزنه د ښه
بلکه د دے تعلق د عالم مثال سره دے یعنی د خضر علیه السلام مثالی صورت خپلے کاملینو
ته د بیدارئ په حالت کښے په نظر راځی. ښکنګه چه شیخ صدر الدین اسحاق قونوی په خپل
کتاب "تبصرة المبتدی و تذکرة المنتهی" کښے فرمائی. ان وجود الخضر علیه السلام فی عالم
المثال (روح ص ۳۲۶ ج ۱۵)

قَالَ لَهٗ مُوْسٰى هَلْ اَتَّبِعُكَ عَلٰۤى اَنْ تُعَلِّمَنِ مِمَّا عُلِّمْتَ

او وئیل ده ته موسیٰ ایا زه تاسره پاتے شم په دے خبره چه ما ته وښائے څه چه تا ته ښودلے

رُشْدًا ﴿٦٦﴾ قَالَ اِنَّكَ لَنْ تَسْتَطِیْعَ مَعِیَ صَبْرًا ﴿٦٧﴾ وَ كَیْفَ

شویدی نیکه لاره وے وئیل ته صبر نه شے کولے ماسره او ښکنګه به

تَصْبِرُ عَلٰى مَا لَمْ تُحِطْ بِهٖ خُبْرًا ﴿٦٨﴾ قَالَ سَتَجِدُنِیْۤ

صبر اوکړے ته په دا سے شی چه ستا په قابو کښے نه وی د هغے پوهه. وے وئیل ته به اومومے مالره

اِنْ شَآءَ اللّٰهُ صَابِرًا وَّ لَاۤ اَعْصِیْ لَكَ اَمْرًا ﴿٦٩﴾ قَالَ

که د الله خوښه شی صبر کونکے او نافرمانی به نه کوم ستا د یو حکم وے وئیل

فَاِنِ اتَّبَعْتَنِیْ فَلَا تَسْـَٔلْنِیْ عَنْ شَیْءٍ حَتّٰۤى

پس که ما سره پاتے کیږے نو تپوس مه کوه ما نه د څه شی ترڅو چه زه

ع اُحْدِثَ لَكَ مِنْهُ ذِكْرًا ﴿٧٠﴾ فَانْطَلَقَا ٚ حَتّٰۤى اِذَا رَكِبَا

شروع نه کړم ستا په وړاندے د هغے ذِکر بیا دواړه روان شول ترڅو چه وُختل

فِی السَّفِیْنَةِ خَرَقَهَا ؕ قَالَ اَخَرَقْتَهَا لِتُغْرِقَ اَهْلَهَا ۚ

کشتئ ته نو هغه یے څیرے کړه موسیٰ او وئیل ایا تا دے لره څیرے کړه چه ډوب شی د دے خلق

لَقَدْ جِئْتَ شَیْـًٔا اِمْرًا ﴿٧١﴾ قَالَ اَلَمْ اَقُلْ اِنَّكَ لَنْ

خامخا تا اوکړو یو شے دروند وے وئیل ما نه وو وئیلی چه ته ما سره

تَسْتَطِیْعَ مَعِیَ صَبْرًا ﴿٧٢﴾ قَالَ لَا تُؤَاخِذْنِیْ بِمَا نَسِیْتُ

صبر نه شے کولے وے وئیل چه ته ما مه نیسه ځما په هیره

وَلَا تُرْهِقْنِي مِنْ أَمْرِي عُسْرًا ﴿٧٣﴾ فَانْطَلَقَا حَتَّىٰ

او مه غورزوه په ما څما په کار کښې گرانوالے ف بيا دواړه روان شول ترد بے چه

إِذَا لَقِيَا غُلَامًا فَقَتَلَهُ قَالَ أَقَتَلْتَ نَفْسًا زَكِيَّةً

کله ملاؤ شول يو هلک سره نو هغه يې مړ کړو. موسیٰ اووئيل آيا تا مړ کړو يو نفس پاک

بِغَيْرِ نَفْسٍ لَقَدْ جِئْتَ شَيْئًا نُكْرًا ﴿٧٤﴾

بغير د بدلے د نفس نه بيشکه تا يو شے نامعقوله اوکړو

**نکات:** ۱- ۲- دريمې واقعه ۲ دويمه واقعه ۲

**موضح قرآن**

ف چه کله کشتئ ته ختل نو کشتئ والا خضر اُو پيژندو او مفت يې اُو خيژول د دے احسان په بدله کښے دا نقصان نو دم د تعجب بنکاره شو. ليکن چه غاړے ته نزدے اُو رسيدل نو ماته يې کړه خلق ډوب نه شول او دا يې ماته کړه چه تختنه يې تړ اوو يستله.

ف۲ دا اول ځل ته يوس موسیٰ عليه السلام په هيره اوکړو. او دريم ته يوس رخصت د پاره. او دويم يې دا قرار کولو سره. ف۳ پاک يعنې بې ګناه ترڅو چه هلک بالغ نه وی په هغه هيڅ ګناه نه وی. يو کلي سره نزدے هلکانو لوبے کولے يو هلک يې مړ کړو او روان شول.

**تفسير:** ۷۳ چه کله موسیٰ عليه السلام خضر عليه السلام ته د هغه نه د مخصوص علم حاصلولو د پاره هغه سره د اُو سيدو درخواست اوکړو. نو هغوی اووئيل چه ځما د علم تعلق تکوينياتو سره دے. چه په هغے باندے ته حاوی نه يې په دے وجه تا سو ځما سره اُو سيدلو سره ځما کارونه صبر او ضبط سره نشي ليدلے. موسیٰ عليه السلام د صبر او ضبط نه د کار اخستلو او په هر امر کښے د فرمانبردارئ کولو وعده اوکړه نو خضر عليه السلام اُو فرمائيل که چرے ما سره اُو سيدل غواړے نو ځما په هيڅ يو کار باندے اعتراض نه کوے ترڅو پورے چه د هغے حقيقت زه پخپله بيان نه کړم. د دے نه هم د موسیٰ عليه السلام وغيره پيغمبرانو نفي کيږی. د دے نه معلوميږی چه د پيرو خيزونو علم هغوی ته نه وو. موسیٰ عليه السلام ته خضر عليه السلام سره د دے واقعات مخے ته راغلل د دريوارو نه دا خبره معلوميږی.

۷۴ دا اوله واقعه ده د سفر په دوران کښے هغوی په کشتئ کښے سواره شول. خضر عليه السلام د کشتئ يوه تختنه او ويستله چه هغے سره په هغے کښے سورے جوړ شو. شرعی طور باندے په ظاهر کښے دا حرکت جائز نه وو. په دے وجه موسیٰ عليه السلام صبر اُو نکړے شو او وئيل دا تا کوم ناجائز حرکت اوکړو. په دے خبره خضر عليه السلام اُو فرمائيل چه ما خو تا ته وئيلي وو چه ته به د صبر او برداشت نه کار وا نخستلے شے. موسیٰ عليه السلام د هيرے عذر پيش کړو او وے وئيل چه د هيرے په باره کښے په ما باندے تنګي مه کوه.

**ځکه** دا دوېمه واقعه ده. چه کله د کشتۍ نه خکته شول او مخکښې لاړل نو يو هلک ورته ملاؤ شو. خضر علیه السلام هغه مړ کړو. موسٰی علیه السلام بيا او وئیل چه تا خو يو معصوم او بې ګناه هلک قتل کړو ډير بد کار دې اوکړو. په دې خبره باندې خضر علیه السلام بيا هغه ته مخکنۍ وعده وریاده کړه. موسٰی علیه السلام په جواب کښې او وئیل. اوس که چرې زه بيا په تاسو اعتراض اوکړم. نو بیشکه تا سو ما د ځان سره مه پريږدئ ځکه چه تاسو سره به ځما د جُدا کولو معقول عُذر وی. ځينې مُفسرينو ليکلی دی. چه قتل شوې معصوم هلک نه وُو بلکه ځوان سړې وُو او د غُلامٌ معنٰی د ځوان هم راځی. وقيل کان بالغا شابا (روح ص۳۳۸ ج ۱۵) وقيل کان رجلاً (خازن ص۱۸۲ ج ۴)

---

دريم جلد تن په تاريخ ۱۴۲۷ھ ۹ نومبر باندې ختم شو